بسم الله الرحمن الرحيم

قَالَ اللهُ تَعَالی:

إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنْكُمْ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا

((خداے بس دا غواړي چې اے د رسول اهلبېتو له تاسو نه د هر ډول پليدي لرې وساتي او تاسو داسې پاک او پاکيزه ولري لکه څنګه چې د پاکۍ حق دے)) (سورهٔ احزاب ۳۳ آيت)

قَالَ رَسُولُ اللهِ صلی الله علیه وآله وسلم :

**إني تاركٌ فيكُمُ الثَقلين: كتاب الله، وعترتي أهلَ بيتي، ما إن تمسكتُم بهما لن تضلوا أبداً وأنَّهُما لَن يَفترِقا حتّى يردا عَليَّ الحوضَ.**

رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم وفرمايل:

«زۀ تاسو ته دوه درانۀ او ارزښتناک څيزونه پرېږدم: يو د خدا ے کتاب (قرآن) او بل زما اهلبيت علیهم السلام، که چرې په دې دوو مو منګولې ولګولې نو هيڅ کله به له ما وروسته بې لارې نۀ شئ، او دا دواړه به يو له بله جدا کيږي نه تر دې چې د حوض (کوثر) په غاړه ما ته راورسيږي».

(صحيح مسلم، ۷ ټوک، ۱۲۲ مخ، سنن دارمـي، ۲ ټوک، ۴۳۲ مخ، مسند احمد، ۳ ټوک، ۱۴، ۱۷، ۲۶او ۵۹ مخونه، ۴ ټوک، ۳۶۶ او ۳۷۱ مخونه، ۵ ټوک، ۱۸۲ مخ، مستدرك حـــاكم، ۳ ټوک، ۱۰۹، ۱۴۸ او ۵۳۳ مخونه، او داسې نور كتابونه....)

# نهج البلاغه

(د حضرت امام علي عليه السلام وېناوې)

پښتو ترجمه: ډاکټر عبدالرحيم درانے

اهلبيت ؑ اکېډيمي پاکستان

## د کتاب پېژندګلي


د کتاب نوم: نهج البلاغه (د امام علي عليه‌السلام وېناوې)

راټولوونکی: علامه سيد رضيؒ

ژباړه او کمپوز: ډاکټر عبدالرحيم درانی

تصحيح: ډاکټر علي کمېل قزلباش او انور شاهين خانخېل

بيا کتنه: سرفراز علي مهدي ایم اے عربي

د چاپ کال: ۱۴۰۲ هجري نمريز ، ۲۰۲۳ ميلادي

د چاپ وار: اول ځل

شمېر: ۱۰۰۰

چاپ خانه:

خپروونکې اداره: اهلبيت ع اکېډيمي پاکستان پېښور



واټس ایپ رابطه: ۰۳۰۵۱۹۹۷۶۷۹

ايمېل: askhankhel@gmail.com

# د اکېډیمۍ څو خبرې

هغه ارزښتمن میراث چې د خدای ګران رسول خاتم الانبیاء حضرت محمد مصطفیﷺ او د هغه حضرت پاکو اهلبیتوعلیهم‌السلام مونږ ته پرېښی او لارویانو یې د ختمیدو او ورکېدو له خطره خوندي ساتلی دی د یو هر اړخیز مکتب بشپړ او کامله بېلګه او نمونه ده.دغه مکتب د اسلامي معرفت رنګارنګ ګلونه په لمن کښې رانغښتي دي او ډېر شخصیتونه یې له دغه خوټیدونکې چینې د خړوبېدو لپاره روزلي دي. اسلامي امت ته د دغه مکتب ډالۍ هغه عالمان او پوهان دي چې د اهلبیتوعلیهم‌السلام په پیروۍ سره یې له اسلامي ټولنې بهر او دننه د مختلفو مذهبونو او فکري بهیرونو لخوا وړاندې شویو شبهو او اعتراضونو ته په پرله پسې پېړیو کښې کلک ځوابونه ورکړي دي.

اهلبیتعلیهم‌السلام اکېډیمي پاکستان خپلې ورپه غاړه دندې ته په پام سره د رسالت او د هغۀ د عقیدتي تعلیماتو د حقانیت دفاع ته ملاتړلې ده؛ هغه حقائق چې بیلا بیلې اسلام مخالفه فرقې، مذهبونه او بهیرونه یې تل تربګنۍ ته راپاڅیدلې دي. دا ټولنه ځان په دغه سپیڅلې لاره کښې د اهلبیتوعلیهم‌السلام د مکتب د رښتینو شاګردانو لارویان ګڼي د هغو لویو شخصیتونو چې همېشه د دغو تورونو ردولو ته تیار وو او کوشش یې کړے دے چې د هرې زمانې او وخت له غوښتنو سره سم د دغه قلمي او سوشل مېډیائي مبارزې په وړومبۍ لیکه کښې سرلوړې پاتې شي.هغه تجربې چې په دې برخه کښې د اهلبیتوعلیهم‌السلام د مکتب په کتابونو کښې زېرمه شوې بې سارې او بې مثاله دي ځکه چې دغه تجربې د داسې علم له ملاتړه برخمنې دي چې د استدلال او عقل په واکمنۍ او له هر ډول هوا او هوس او ړانده تعصبه لرې دي. او هغو عالمانو، پوهانو او متخصصانو ته مخاطب دي چې سلیم عقل او پاک انساني فطرت یې د دغه علم منلو ته چمتو وي.اهلبیتعلیهم‌السلام اکېډیمي پاکستان کوشش کړے دے چې په هر وخت کښې د اهلبیتوعلیهم‌السلام دغه بې پایانه علم د نن زمانې د حقیقت ترږو ته وړاندې کړي. د حقیقت هغو لټوُنکو ته چې د سائنس او ټیکنالوجۍ په دې زمانه کښې چې د انسان د معنویت د هډونو غړ د ماډرنې ټیکنالوجۍ د پوچې دنیا تر بوج لاندې اوربدل کېږي له مادي نړۍ د تېښتې او د خپلې معنوي ورکې د موندنې لپاره لاس پښې وهي.

دې ټولنې د خپلو دغو کوششونو په لړ کښې تر اوسه له اهلبیتوعلیهم‌السلام سره اړوند مختلفو موضوعاتو باندې تالیف، تصنیف او ترجمه شوي کتابونه او نور کلتوري او ادبي مواد خپلو پښتنو ورونړو خوئندو ته وړاندې کړي دي او اوس یې فېصله وکړه چې د اسلام د لوی او عظیم الشان کتاب قرآن نه وروسته د اسلامي نړۍ د لوې پانګې او د فصاحت او بلاغت د سمندر، یعنې د امام المتقین او د سلوني قبل ان تفقدوني د څښتن علي بن ابیطالبعلیه‌السلام د کتاب نهج البلاغې پښتو ژباړه وړاندې کړي. چې د پښتنو لویه ټولنه هم د حضرت امام عليعلیه‌السلام د حکمتونو او پندونو د سمندر او د فصاحت او بلاغت له دریابه د ملغلرو د ښکار له قافلې شاته پاتې نۀ شي. د خدای په فضل ګران ورور ډاکټرعبدالرحیم دراني د دغې لوې دندې ترسره کولو ته ملا اوتړله او د دوي په هڅې او زیار سره د نهج البلاغې ژباړه ستاسو په لاس کښې ده. د من لم یشکر الخالق لم یشکر المخلوق په توګه بده به نه وي چې په دې ځای کښې له دوي او له هغو ټولو کسانو چې د دغه کتاب په برابرولو کښې یې لاس کړے دے مننه وکړوو. اهلبیتعلیهم‌السلام اکېډیمي د دې ارزښتناک کتاب په لا صېقلولو کښې ستاسو قدرمنو لوستونکو نظرونو، کره کتنو، وړاندیزونو او همدا رنګ د خاتم الانبیاء حضرت محمد مصطفیﷺ او د هغه حضرتﷺ د آلعلیهم‌السلام د تعلیماتو د خپرولو لپاره ستاسو تعاون او مرستو ته سترګې په لاره ده.

اهلبیتؑ اکېډیمي پاکستان پېښور

# د مترجم سریزه

«که دغه ستر سړے او پیژنئ او که وي نهٔ پیژنئ تاریخ گواه دے چې هغه د سترتوب بې پایانه سمندر، د شهیدانو سرخېل، د انساني عدل غر او د ختیځ تل پاتے شخصیت دے، د انسانیت په تاریخ کښې د بابا آدم او بي بي حوا په زوزات کښې هیڅا د علي(علیه‌السلام) په شان د حق په لاره پل نهٔ دے اېښے د علي(علیه‌السلام) له زړهٔ اسلام د جوشانه چینې په شان خوټېدهٔ، د هغه وخت هر یو مسلمان د اسلام له راوړلو مخکې د قرېشو بتان نمانځل او د هغو پرستش یې کوهٔ خو د علي(علیه‌السلام) وړومبنے نمونځ د حضرت محمد (صلی الله علیه وآله) په وړاندې وُ. علي(علیه‌السلام) د غر په شان د حق په لاره کښې اودرېدهٔ او په پاک انساني فطرت او د ایمان او عقل په مټ یې د اشرافیت،پانگه پالنې (سرمایه داری) او د فاسدو طاقتونو په وړاندې سینه اوټپوله. هغه یو ځپانده دریاب دے چې ټوله هستي یې راخېستې ده خو د یو یتیم له سترگو د یوې اوښکې په توئېدو طوفاني کیږي.اے نړۍ څه به شوي وو که خپل ټول توان او ځواک دې کارولے وې او په هره زمانه کښې دې د علي(علیه‌السلام) په شان یو کس هماغه عقل،هماغه زړهٔ، هماغه ژبه او هماغه تُوره پېدا کړې وې».

دا هغه ویناوې دي چې د لبنان مسیحي دانشور او عالم جارج جرداق د حضرت امام علي‌علیه‌السلام د عظمت په وړاندې ویلې دي.هغه شخصیت چې وائي تر اوسه مې دوه سوه ځله نهج البلاغه لوستې خو هر ځل مې پکښې نوي نوي ټکي موندلي دي.

د اسلام د دغه بې سارې شخصیت په کتاب د سریزې د لیکلو لپاره مې له خپل ځانه داسې څه اونهٔ موندل چې د هغهٔ له دروند شخصیت سره اوښائي له ناچارۍ مې د جارج جرداق خبرو ته پناه یوړه. ځکه چې د مسلمانانو د دغه لوے امام او لاربنود شان دومره هسک دے چې زما په شان کس لنډ فکرونه او ټیټ پروازونه د هغوي هسکې او د عظمت لمنې ته نهٔ شي رسیدلې. غوره ده چې امام علي‌علیه‌السلام په خپله د هغه حضرت له خولې په یو څو ټکیو کښې اوپیژنوو.

امام المتقین علي‌علیه‌السلام له رسول الله مبارک‌صلی‌الله‌علیه‌وآله سره د خپل نزدې تعلق په حقله فرمائي:

«تاسو د خدا ے له رسول‌صلی‌الله‌علیه‌وآله سره په نزدې خپلوۍ او مقام او منزلت کښې زما له موقعیته خبر یئ ...... زهٔ همېشه له رسول الله مبارک‌صلی‌الله‌علیه‌وآله سره وم د یو بچي په شان چې له خپلې مور سره وي، پېغمبراکرم‌صلی‌الله‌علیه‌وآله به هره ورځ ماته د ښو اخلاقو یوه نوې بېلگه او نمونه ښکاره کوله او ماته به یې امر کوهٔ چې اقتدا یې وکړم، پېغمبراکرم‌صلی‌الله‌علیه‌وآله به د کال څو میاشتې هر کال په حرا ځمځې (غار) کښې تېرولې یوازې ما به لیدهٔ او بې له ما به بل چا نهٔ لیدهٔ.په هغو ورځو کښې اسلام هیڅ کور ته لاره اونهٔ مونده بې د خدا ے د گران رسول‌صلی‌الله‌علیه‌وآله له کوره چې بي بي خدیجه‌علیهاالسلام هم پکښې وه او زهٔ یې دریم وم، ما به د وحي او رسالت رڼا لیدله او د نبوت بوئې به مې راکاږهٔ. کله به چې په پېغمبر اکرم‌صلی‌الله‌علیه‌وآله وحي کېدله، ما به د شېطان زگیروي (زېږگي) او فریادونه اورېدل، اومې ویل: اے د خدا ے رسوله! دا فریادونه د چا دي؟ وې فرمایل: د شېطان دي چې له خپل پرستشه ناهیلے او ناامیده شوے دے او وې وفرمایل: اے علي! تهٔ هغه څه چې زهٔ یې اورم اورې، او هغه څه چې زهٔ یې وینم وینې، بې له دې چې تهٔ پېغمبر نه یې بلکه زما وزیر یې او همېشه د خېر او نیکۍ په لاره یې» ( نهج البلاغه، ۱۹۳ خطبه )

د امام علي‌علیه‌السلام ټول فضیلتونه او عظمت د خدا ے له بې پایانه علمه سرچینه اخلي هغه د عمل او پوهې د هغې خزانې لرونکے دے چې د رسول الله مبارک‌صلی‌الله‌علیه‌وآله له مکتبه یې حاصله کړې ده ځکه چې رسول الله مبارک‌صلی‌الله‌علیه‌وآله فرمائي: «زهٔ د علم ښار یم او علي یې دروازه ده.»

او حضرت علي‌علیه‌السلام فرمائي: د علم سېلاب زما د وجود له غرهٔ روان دے د فکر لوړ الوته مارغان زما د لوړاوي اوج ته نهٔ

رسيږي. (دريمه خطبه) په يو بل ځاے کښې فرمائي:
«د خداے رسولﷺ ماته د علم زر دروازې پرانېستلې چې له هرې دروازې بيا په زرګونو ورونه پرانېستل کيږي.»
هغه حضرت خپل صحابي کمېل بن زياد ته فرمائي:
«پوه شه چې په دې سينه کښې پريمانه علمونه پټ دي کاش چې د عمل او حکمت دغه خزانې لره زدکوونکي وې» بيا هغو خلقو ته چې په دنيا کښې غرق شوي وو يادونه کوي چې: «مخکې له دې چې ما له لاسه ورکړئ هره پوښتنه چې لرئ وې پوښتئ ځکه چې ماته د آسمانونو لارې د زمکې له لارو زياتې ښې معلومې دي.»
د اميرالمومنين علي عليه السلام شخصيت دومره هر اړخيز او د کمالونو لرونکے دے چې که په هر اړخ يې انسان رڼا اچول غواړي کتابونه ترې ډکيږي او د دې لنډې سريزې لمنه تر دې تنګه ده چې د هغه ژور سمندر ټول لعلونه پکښې راغونډ شي بس د رسول الله مبارکﷺ په دې وينا به بسنه وکړوو چې فرمائي: «حق له علي ؑ سره دے او علي ؑ له حق سره»
امام علي عليه السلام د ځلانده څراغ په شان د حق او راستۍ په لور د انسانانو لارښوونکے دے او په خپله هم د خپل حق خبره کوي او وائي: په هغه خداے مې قسم چې بې له هغهٔ بل خداے نشته زهٔ په نېغه لار روان يم او دښمنان مې د باطل په لار. او بيا امت ته فرمائي: په تاسو کښې زما مثال په تيرو کښې د ځلانده مشال په شان دے چې هر څوک يې لور ته ورشي رڼا ترې اخلي» (۱۸۷ خطبه) او بيا يادونه کوي چې: «اے خلقو کله چې تاسو په جهل او تيرو کښې وئ زما په وسيله نېغې لارې ته هدايت شوئ او د مشرۍ په لوړ کوب کښيناستئ ستاسو د نېکمرغۍ سحر زمونږ (اهلبيتو عليهم السلام) په نمر اوځليدهٔ» (څلورمه خطبه)
د اسلام د دغه لوے شخصيت، د لدني علم وارث، په نړۍ کښې د الجبرا په شمول د څو علمونو پلار، د عرفان د لارويانو سررشته او د بلاغت او فصاحت د سمندر په کتاب نهج البلاغه يو څه ليکل او په خپلو ټکيو کښې د هغه معرفي کول نمر ته ډيوه ښودل دي. هغه کتاب چې په اسلامي نړۍ کښې له قرآنه وروسته تر ټولو لوے او مهم کتاب ګڼل کيږي.او کلام يې د فصاحت، بلاغت، علم،معنا، بديع او بيان او نورو هنرونو اوج دے د داسې يو کتاب ژباړل يوه ډېره درنه او سخته دنده او ذمه واري ده چې که له انسان سره د خداے مرسته نهٔ وي او په هره هره لحظه کښې پرې د امام المتقين عليه السلام دکرم نظر نهٔ وي نو هره شېبه ممکنه ده دانسان ملا د دغه عظيمې دندې تر بوج لاندې ماته شي.
د امام علي عليه السلام د قدرمن نمسي او د امام حسين عليه السلام د عزتمن زوے امام زين العابدين عليه السلام د ارزښتمن کتاب «صحيفه سجاديه» له ژباړلو وروسته مې ډېر زړهٔ ؤ چې د اميرالمومنين عليه السلام نهج البلاغه هم په روانه ژبه پښتو ته راواړوم خو د کتاب او صاحب کتاب عظمت به دا احساس راکوهٔ چې د دغه دندې له ترسره کولو ډېر وړوکے يم نو څو څو ځله مې اراده پخه شوه خو آخر د ځينو دوستانو په هڅولو او د اهلبيت ؑ اکېډيمۍ لخوا د کتاب د چاپ لپاره د چمتووالي له ښودلو وروسته مې دغه لوے کار ته ملا اوتړله. او د خداے په لوے کرم دغه چاره تقريبا يو نيم کال کښې سرته اورسيدله.
که څه هم له دې مخکې د پښتو د ستر عارف، شاعر، ليکوال او محقق او د غزل بابا حضرت امير حمزه خان شينواري (رح) لخوا په پښتو ژبه د نهج البلاغې ژباړه د «سپېځلې وېناوې» په نامه شوې او د ښاغلي پروفېسر ډاکټر علي کمېل په زيار په چاپ رسېدل شوې وه خو دې ته په پام سره چې هم دغه ژباړه يوازې د نهج البلاغې د يوې برخې يعنې خطبو ژباړه وه او بله دا چې له اردو ژباړې پښتو ته راړول شوې وه د بابا ژباړې، سره د هغه ټول فضيلت او عظمت او ملغلرو چې له خپل قلمه د «زهٔ وايم» په ښه دوړيدلې وې او د هغوي خپل علم او نظر هم پکښې ځلا موندلې وه خو هغه خوند يې نهٔ ؤ چې د نهج البلاغې له ترجمې سره ښائي بله دا چې ډېرې ټاپيي غلطۍ هم لري او په اکثرو ځايونو کښې په عربي اصطلاحاتو ، حتى په اردو او پښتو اصطلاحاتو چې کمپوزر نهٔ دے رسېدلے نو څه بل بل څه يې ليکلي دي او د هغې مسودې بيا کتنه او پروف

ریډیانګ هم په صحیح توګه نۀ دے شوے چې دغه غلطۍ یې اصلاح کړې وې او داسې ښکاري چې د بابا دغه ترجمه کړې شوے کتاب په ډېرې بیړې او هنګامي حالاتو کښې چاپ کړے شوے دے.. له دې امله په پښتو ژبه د نهج البلاغې چې د نړۍ په تقریباً ټولو ژوندیو ژبو ژباړل شوې ده د کره ترجمې ځاے خالي ؤ. دا وه چې ما دغه ترجمې ته ملا وتړله یوې داسې ژباړې ته چې هم د نهج البلاغې د درې واړو برخو یعنې خطبو، لیکونو (خطونو) او لنډو وېناؤ ترجمه کامله وي. بله دا چې که څه هم په اوله کښې ما دا ژباړه د ستر دانشور ښاغلي محمد دشتي د فارسۍ له ژباړې پېل کړې وه خو د یو دوو خطبو له ژباړلو وروسته مې اولیدل چې له ژباړې ژباړه هم خوند نۀ کوي هم اوږدیږي او هم یې حق نۀ ادا کیږي نو د نهج البلاغې د عربۍ اصل متن مې مخې ته کېښودۀ او له هغې مې ترجمه وکړه او په کومو ځایونو کښې چې د عربۍ په متن کښې له مشکل سره مخامخ کېدم د فارسۍ او اردو له مختلفو ژباړو مې استفاده کوله. او د دې لپاره چې د حمزه باباؒ له کلامه مې هم یو څو ګلونه شوکولي وي د ځینو خطبو په آخر کښې مې د هغوي ځینې مطالب راوړل چې بابا یې خطبې ته په پام سره ضرورت محسوس کړې ؤ چې دغه خطبه واضحه شي او د «زۀ وایم» په عنوان یې ځینې مطالب د خطبو په آخر کښې لیکلې وو.

د نهج البلاغې د هر اړخیزوالي په اړه به دومره ووایم چې په دغه کتاب کښې مختلف عمومي او تخصصي مفاهیم راغلې دي منجلمه کلامي، فلسفي، اعتقادي، اقتصادي، سیاسي، مدیریتي، فوځي، جنګي او صلح ایزې زده کړې، نفسیات پیژندنه، پند و نصیحت، قیامت، مرګ، ژوند او تاریخ وغېره، غرض دا یو داسې بې پایانه سمندر دے چې هر څومره یې تل ته ځې انسان یې په معرفت کښې نور نور ورډوبیږي. نهج البلاغه په څلورمې هجري پېړۍ کښې د اسلام نومیالي شخصیت علامه سید رضيؒ راټوله کړې ده (نور تفصیل په خپله د هغوي په سریزه کښې وګورئ چې په راتلونکو مخونو کښې به راشي) نهج البلاغه په دریو برخو مشتمله ده وړومبۍ برخه یې هغه خطبې دي چې امام علي علیه السلام په مختلفو ځایونو او وختونو کښې ورکړې دي. دویمه برخه یې هغه لیکونه دي چې امام خپلو مختلفو چارواکو، چاروالو یا د معاویه په شان مخالفینو ته یا په نورو موقعو لیکلې دي او دریمه برخه حکمتونه یا لنډې شان وېناوې دي چې هره وېنا یې یوه یا څو جملې کیږي. د امام علي علیه السلام د کلام او قلم زور ته په پام سره په اصل متن کښې ډېر ژور او تخصصي مطالب راغلې دي چې ښائي د ډېرو لوستوالو لپاره د لازمې پوهې وړ نۀ وي له دې امله ما په پښتو ژباړه کښې هڅه کړې ده چې هم یې مطالب روان او آسان وي او هم یو څه آهنګ او سجع ولري او هم داسې نۀ شي چې له اصلي متنه ډېر لرې شي. همدارنګ د هرې خطبې، لیک او حکمت په سر کښې مې د هغې عنوان او نوم هم راوړے دے چې لوستوال ته د موضوع په پېدا کولو کښې آساني وي. د امام علي علیه السلام حکمتونو ته مې د شکرو ملغلرو نوم ورکړے دے چې که څوک غواړي یوازې لنډې لنډې وېناوې یې زده کړي نو په آسانه یې د موضوع په بنیاد زده کولي شي. هڅه مې کړې چې یوه داسې ترجمه وړاندې شي چې د ټولنې عام وګړي پرې پوه شي او استفاده ترې وکړي شي او یوازې د خواصو لپاره نۀ وي. او له بلې خوا د اصلي متن د امانت هم خیال وساتل شي او بالراي ترجمه نۀ شي.همدارنګ مې له ترجمې سره مخامخ د نهج البلاغې اصلي د عربۍ متن هم راوړے دے چې د اصلي متن لیوال له دغه ځانګړنې بې برخې نۀ شي.

یادونه کوم چې د امام علي علیه السلام په خطبو کښې ځینې ټکي متشابهات دي او که د نهج البلاغې اصلي متن ولوستے شي نو نابلده لوستوال ټکني کوي. ما په پښتو ژباړې کښې هڅه کړې ده چې د مختلفو ترجمو او شرحو په مرسته دغو متشابهاتو ته داسې معنې پېدا کړم چې د ټولو د منلو وړ وي او له عقل، قرآن او حدیث سره هم په ټکر کښې نۀ وي. او دې هم نه، ځکه چې زمونږ عقیده ده چې د اهلبېتو علیهم السلام علم ټول له یوۀ ځایه سرچینه اخلي او ممکنه نۀ ده چې د هغوي په کلام او په قرآن کښې ټکر پېدا شي.

په آخر کښې زۀ د هغو ټولو کسانو چې د دغه ترجمې په برابرولو بیا کتنې او اوډنې کښې یې له ما سره مرسته کړې ده په تېرهٔ بیا د ښاغلي ډاکټر علي کمیل قزلباش، ښاغلي انور شاهین خانخیل او سرفرازعلي مهدي ایم اے عربي ډېره مننه کوم چې خپل قیمتي وخت یې دغه کار ته بېل کړ.

یوه غوښتنه له قدرمنو لوستوالو هم لرم او هغه دا چې هغه ذات چې هیڅ عېب نۀ لري یوازې د خدائے ذات دے او زمونږ غوندې د عامو انسانانو خو هم ذات او هم کار له عیبونو ډک وي. حتما به دا ژباړه هم نیمګړتیاوې لري ګران لوستوال په تېره بیا د علم او پوهې او قلم خاوندان که د لوستلو په وخت هغه په ګوته کړي نو د هغوي هر ډول وړاندیزونه، نظرونه او کره کتنې په ورین تندي منم. دا کار ضرور وکړئ چې په راتلونکي چاپ کښې دا کتاب نور هم صېقل شي. د ستر حمزه بابا په دغو پیرزوینو سره خپلې خبرې د بابا په دې څو شعرونو سره ختموم.

په دعا کښې د آدمؑ اثر عليؑ دے — په لېمۀ کښې د یعقوبؑ نظر عليؑ دے
د اذا تلها څه نور یې تفسیر شته — نمر د علم محمدؐ قمر عليؑ دے
الف لام که مبتدا میم یې خبر دے — میم د هر څه مبتدا خبر عليؑ دے
چې یې سترګې د نبيؐ په مخ پرانښتې — په تیرو د ضلالت سحر عليؑ دے
ستا باطن ظاهر به دواړه حمزه ښۀ شي — ښنوا په خوئي نبيؐ په بر عليؑ دے

په درناوي
عبدالرحیم درانے
١٣٩٠ نمریز کال د کب د میاشتې ٢٠ نیټه.

# د سيد رضيؒ سريزه

ستائنه له هغه خدا ے پاکﷻ سره ښائي چې حمد و ثنا يې د نعمتونو بيه، له بلاګانو پناه، تل پاتے جنت، لورينو او نعمتونو ته د رسيدو وسيله او د خپل کرم او احسان د زياتوالي ذريعه وګرځوله. درود دې وي په رحمت اللعالمين، د پيغمبرانوؑ په سردار او خاتم او د امت په ځلانده څراغ حضرت محمد مصطفیﷺ چې د وجود جرړې يې کرامت داري او د اصل او نسب ونه يې ميوه داره ده. او درود په پاکو اهلبيتوؑ چې د تيرو بلې ډيوې د امتونو د ژغورنې وسيلې، د دين روښانه نښې او د فضيلت او سترتوب د ثقل مرکزونه دي. په ټولو دې درود وي داسې درود چې د هغوي له فضل او لوړوالي سره وښائي او د عملونو بدله يې شي. داسې بدله چې د اصل او څانګو له پاکۍ سره يې برابره وي، سلام دې وي په هغوي تر هغه وخته چې د سحر څرک د شپې ګريوانونه څيري او ستوري ختل او پريوتل کوي.

## د نهج البلاغه پيدا کيدل

د ځوانۍ په شروع کښې او د ژوند په تاندوالي کښې مې د امامانوؑ د ځانګړتياؤ او خصوصيتونو په حقله د يو کتاب ليکلو ته ملا اوتړله چې د هغوي لوړې وېناوې او په زړهٔ پورې خبرې يې رانغاړلې. د کتاب په سر کښې مې د دې کار انګېزه اوليکله. د اميرالمومنين عليؑ د ځانګړتياؤ او خصوصيتونو له ټولولو وروسته د زمانې څپېړو د کتاب بشپړولو ته پرې نښودم،کتاب مې څپرکي څپرکي کړے ؤ او په آخر کښې مې يو څپرکے راوړهٔ چې په موعظو، حکمتونو او مثالونو کښې يې د امام عليؑ لنډې وېناوې او خبرې لرلې « نهٔ لوې خطبې او اوږدهٔ ليکونه»
ځينو دوستانو هغه له مختلفو اړخونو په زړهٔ پورې او حېرانوونکے کار اوبلهٔ او له ما يې وغوښتل چې يو داسې کتاب اوليکم چې د خطبو، ليکونو، موعظو او ادب په شمول په مختلفو ډګرونو او فنونو کښې د اميرالمومنينؑ غوره وېناوې راونغاړي، دوي ته پته وه چې دا کتاب به د بلاغت هيښنتياوې، د فصاحت ښېلګې، د عربو د ملغلرو نمونې او په ديني او دنياوي وېناؤ کښې د هغه حضرت داسې ځلانده نکتې او شکرې ولري چې په هيڅ کتاب کښې نهٔ دي راغونډې شوې او هيڅ کتاب يې په ټولو اړخونو رښا نهٔ ده اچولې، ځکه چې د مومنانو مولا، د فصاحت سرچينه او د بلاغت منبع او جوړوونکے دے، د بلاغت توکي هغوي ښکاره کړي او آرونه او قوانين يې له هغه حضرته اخښستل شوې دي، د نړۍ ټولو برلاسي خطيبانو او وېناوال د هغوي لمن رانيولې او ټولو بليغو واعظانو د هغوي له خبرو مرسته غوښتې ده.خو سره له هر څه اميرالمومنينؑ بيا هم سرخېل دے او نور يې لارويان، هغه مقدم دے او دوي موخر، ځکه چې د هغهٔ خبرې داسې کلام دے چې د الهي علم نښې او د پېغمبراکرمﷺ د وېناو خوشبوئي لري. نو د دوستانو غږ ته مې هو وکړه او متې مې راونغاړلې، حال دا چې ډاډه وم چې معنوي ګټه يې زياته ده او ډېر زر به يې رڼا هر لوري ته خپره شي او اجر به يې د آخرت توښه وي.

غرض دا ؤ چې په نورو بې شمېره ښيګړو سربېره د اميرالمومنينؑ د ونې لوړوا ے او عظمت او د شخصيت سترتوب له دې اړخه روښانه کړم چې: امام عليؑ يوازينے مېړهٔ دے چې په تېرو ټولو ميړنيو کښې چې ورځينې کلام پاتے دے د فصاحت او بلاغت آخري څوکې ته رسيدلے او وېناوې يې بې پايانه درياب دے چې د هيڅ بليغ خبره يې حد ته نهٔ رسيږي.

غواړم په امام باندې په وياړ کولو کښې د نامتو شاعر «فرزدق» د شعر لمنه راونيسم چې د «جرير» په نامه يو کس ته په خپلو پلار نيکونو د وياړنې په وخت وائي:

أُولَئِكَ آبَائي، فَجِئْني بِمِثْلِهِمْ إذا جَمَعَتْنا يا جَرِيرُ المَجَامِعُ

(اے جريره! دا زما پلار نيکونه دي نو که تکړه يې هغه وخت چې ټول راغونډ يوو د هغوي په شان کسان د ځان لپاره وشمېره)

د اميرالمومنين (ع خبرې په دريو محورونو او چورليزونو چورلي:

وړومبے: خطبې او امرونه

دويم: ليکونه او خطونه

دريم: له حکمته ډکې خبرې، نصيحتونه او موعظې (شکرې ملغلرې)

فېصله مې وکړه چې اول خطبې بيا ليکونه او ورپسې د هغه حضرت له حکمته ډکې خبرې او لنډې وېناوې راغونډې کړم. بيا مې هرې يوې ته يو ځپرکے بيل کړ او ځينې مخونه مې ورته سپين پرېښودل چې يوه سريزه وي د هغه څه د راغونډولو لپاره چې لا مې ورته لاسرسي نۀ دہ شوې او ښائي وروسته لاسته راشي. په هرځاے کښې چې مې د امام علي؈ کومه خبره يا مناظره يا پوښتنه او ځواب يا بل څه تر ګوتو شول له دغو دريو برخو بهر نۀ وو. نو په مناسب ځاے کښې مې ورځاے کړل. که په دغو راغونډو شويو مطالبو کښې ځينې نامنظمه ځپرکي او نامرتبه وېناوې وي نو له دې امله دي چې زۀ يوازې د هغه حضرت ځلانده جملې او نکتې راغونډوم او مقصد مې د ټولو پيوندونو او د کلامي ربطونو ساتل نۀ دي.

د امام له هيښنتياؤ چې په دې برخه کښې يې شمله تر هر چا هسکه ده او سيال نۀ لري دا دي چې: که څوک د زهد او موعظو په باب د هغوي خبرو ته ځېر شي او دې ته پام ونۀ کړي چې ګني دا خبرې د يو ستر او نافذ الامره ستې دي چې ټولو ورته د تسليم سرونه ټيټ کړي؛ هيڅ شک به ورپاتې نۀ شي چې د دغه خبرې ويناند داسې کس دے چې بې د زهد او پاکۍ له وادۍ بل چرته نۀ دے تللے او بې له عبادته يې بل کار نۀ دے کړے او يقين به ورحاصل شي چې دا خبره د هغه چا ده چې د کور په يو ګوټ کښې ځانله او له ټولنې لرې او يا د غار په کونج کښې ناست دے چې بې له ځانه د بل چا غږ نۀ اوري او بل څوک نۀ ويني او تل په عبادت لګيا وي. د انسان هيڅ کله باور نۀ کيږي چې دا خبره د داسې يو کس ده چې د جنګ په وخت د دښمن د لښکرو په درياب ورګډېدۀ او پياوړي جنګيالي او متور پهلوانان يې پرځول، او له دې سره په يو وخت يو داسې کس ؤ چې په زهد، پاکۍ او پرهېزګارۍ کښې يې هم سيال نۀ لرۀ.

دا هغه عجيبه او هيښنده فضائل او لطيفې ځانګړنې او خصوصيتونه دي چې په يو وګړي کښې د متضادو صفتونو د غونډېدو ښودنه کوي. په دې اړه له دوستانو سره ډېر غږېدلے يم هغوي به هم د امام؈ په دغه ځانګړتيا ګوته په غاښ پاتې کېدل، او رښتيا دا په خپله د عبرت ځاے او د فکر او سوچ مقام دے.

که د انتخاب شويو خبرو په مېنځ کښې چرته مردد او شکمن ټکي راغلي يا تکراري معنا تر سترګو کيږي زما عذر په دې حقله دا دے چې د امام علي؈ د وېناو او روايتونو په اړه اختلاف دے؛ کله مې په يو روايت کښې د هغوي يوه خبره موندلې او کټ مټ مې رانقل کړې او بيا مې په يو بل ځاے کښې په همدې موضوع يو روايت ترګوتو شوے چې له تېر سره يو شان نۀ ؤ. خو له دې امله چې زيات مطالب يې لرل يا يې ځينې توري جالب وو لازمه وه چې هغه هم راوړم. البته ممکنه ده چې د سهوې او تيروتنې له مخې، نه عمداً، هم تکرار شوې وي. بيا هم زۀ ادعا نۀ کوم چې د امام د خبرو ټولو اړخونو ته مې لاسرسي شوې ده چې ګوندې هيڅ خبره يې راځينې نۀ ده پاتې بلکه لرې ګڼم چې څه مې نۀ دي موندلې تر موندلو مطالبو زيات وي او څه چې لرم تر نۀ لرلو کم وي.

خو زما دنده د دغه ورکې د پېدا کولو لپاره له هڅې او هانده بغېر بل څه نۀ ده او له خدایه غواړم چې لاس مې اونیسي، د کتاب له ختمېدو وروسته مې فکر وکړ چې نوم پرې «نهج البلاغه» کیږدم ځکه چې دا کتاب لوستوال ته د بلاغت ورونه پرانیزي او غوښتنې یې ورنزدې کوي. دا کتاب هم د پوه او عالم کس په درد خوري او هم یې محصل او زده کوُنکي محتاج دي. او هم پکې د بلیغو او زاهدو کسانو د طبعې سامان شته. د امام په کلماتو کښې د توحید، عدل، او له مخلوق سره له شباهته د خالق د سپېڅلتیا په باب هېښوونکې وېناوې شته چې تږي خړوبوي او د شبهاتو له تیرو پردې هسکوي.
لاس په دعا یم چې لوے پالونکے ذات مې له تېروتنو اوساتي، په دې لار کښې مې ګامونه ټینګ کړي او مرسته مې وکړي،د ژبې له خطا مخکې د فکر له خطا او د ګام له خطا مخکې د خبرې له خطا هغۀ ته پناه وړم هغه زما لپاره بس او تر ټولو ښۀ ساتونکے او مرستیال دے.

۴۰۰ هجري قمري کال
الشريف الرضي
«ابو الحسن محمد بن حسين الطاهر ذو المناقب»

# ۱

بَابُ المخْتُارِ مِنْ خُطَبِ مولاَنَا أَمِيرِ الْمُؤْمِنينَ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ عَلَيْهِ السَّلاَمُ وَأَمْرِهِ وَنَوَاهِيهِ، وكَلاَمه الْجَارِي مَجْرَى الْخُطَبِ وَالْمَوَاعِظِ فِي الْمَقَامَاتِ الْمَحْضُورَةِ وَالْمَوَاقِفِ الْمَذْكُورَةِ وَالْخُطُوبِ الْوَارِدَةِ

# ۱

د حضرت اميرالمومنين علي بن ابی طالب عليه‌السلام خطبې د هغه حضرت حُکمونه او د خطبو په څېر وېناوې او په مختلفو ځايونو کښې د هغه حضرت نصيحتونه

[۱]

## مِنْ خُطْبَةٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ يَذْكُرُ فيهَا ابْتِداءَ خَلْقِ السَّمَاءِ والأَرْضِ، وَخَلْقَ آدَمَ عَلَيْهِ السَّلَامُ، وَفيهَا ذِكْرُ الْحَجِّ وَخَلْقُ الْمَلائِكَةِ، وَاخْتِيَارُ الأَنْبِيَاءِ وَالأَحْكَامُ الشَّرْعِيَّةُ

### ۱. عَجْزُ الإنْسَانِ عَنْ مَعْرِفَةِ اللهِ

الحَمْدُ للهِ الَّذَي لاَ يَبْلُغُ مِدْحَتَهُ القَائِلُونَ، وَلاَ يُحْصِي نَعْمَاءَهُ العَادُّونَ، وَلاَ يُؤَدِّي حَقَّهُ الْمُجْتَهِدُونَ، الَّذِي لاَ يُدْرِكُهُ بُعْدُ الهِمَمِ، وَلاَ يَنَالُهُ غَوْصُ الفِطَنِ، الَّذِي لَيْسَ لِصِفَتِهِ حَدٌّ مَحْدُودٌ، وَلاَ نَعْتٌ مَوْجُودٌ، وَلا وَقْتٌ مَعْدُودٌ، وَلا أَجَلٌ مَمْدُودٌ. فَطَرَ الخَلائِقَ بِقُدْرَتِهِ، وَنَشَرَ الرِّيَاحَ بِرَحْمَتِهِ، وَوَتَّدَ بِالصُّخُورِ مَيَدَانَ أَرْضِهِ.

### ۲. الدِّينُ وَمَعْرِفَةُ اللهِ

أَوَّلُ الدِّينِ مَعْرِفَتُهُ، وَكَمَالُ مَعْرِفَتِهِ التَّصْدِيقُ بِهِ، وَكَمَالُ التَّصْدِيقِ بِهِ تَوْحِيدُهُ، وَكَمَالُ تَوْحِيدِهِ الاِخْلاصُ لَهُ، وَكَمَالُ الاِخْلاصِ لَهُ نَفْيُ الصِّفَاتِ عَنْهُ، لِشَهَادَةِ كُلِّ صِفَةٍ أَنَّهَا غَيْرُ المَوْصُوفِ، وَشَهَادَةِ كُلِّ مَوْصُوفٍ أَنَّهُ غَيْرُ الصِّفَةِ، فَمَنْ وَصَفَ اللهَ سُبْحَانَهُ فَقَدْ قَرَنَهُ، وَمَنْ قَرَنَهُ فَقَدْ ثَنَّاهُ، وَمَنْ ثَنَّاهُ فَقَدْ جَزَّأَهُ، وَمَنْ جَزَّأَهُ فَقَدْ جَهِلَهُ، وَمَنْ جَهِلَهُ فَقَدْ أَشَارَ إِلَيْهِ، وَمَنْ أَشَارَ إِلَيْهِ فَقَدْ حَدَّهُ، وَمَنْ حَدَّهُ فَقَدْ عَدَّهُ، وَمَنْ قَالَ: «فِيمَ» فَقَدْ ضَمَّنَهُ، وَمَنْ قَالَ: «عَلامَ؟» فَقَدْ أَخْلَى مِنْهُ. كَائِنٌ لاَ عَنْ حَدَثٍ، مَوْجُودٌ لاَ عَنْ عَدَمٍ مَعَ كُلِّ شَيْءٍ لاَ بِمُقَارَنَةٍ، وَغَيْرُ كُلِّ شَيءٍ لا بِمُزَايَلَةٍ، فَاعِلٌ لا بِمَعْنَى الْحَرَكَاتِ وَالآلَةِ، بَصِيرٌ إِذْ لاَ مَنْظُورَ إِلَيْهِ مِنْ خَلْقِهِ، مُتَوَحِّدٌ إِذْ لاَ سَكَنَ يَسْتَأْنِسُ بِهِ وَلاَ يَسْتَوْحِشُ لِفَقْدِهِ.

## ﴿ ورومبۍ خطبه ﴾

(په دې خطبه کښې امام علي علیه السلام د ځمکې، آسمانونو او انسان د پنځون (خلقت) د پیل، د آدم او حوا علیهما السلام او د بیت الله او داسې نورو خبرو یادونه کړې ده)

### ۱- د خدای پاک له پېژندلو څخه د انسان ناتواني[۱]

ستائنه هغه خدای لره ده چې وینا وال او سخنوران د هغهٔ له ستائلو عاجز دي او شمېرونکي يې د نعمتونو له شمېرلو بې وسه دي او د ډېر زيار باوجود د هغهٔ حق نهٔ شي ادا کولې، هغه خدای چې [دچا] ژور افکار او لوړ همتونه يې ذات نهٔ شي درک کولې او لامبوزن يې د علم د سمندر تل ته نهٔ شي رسېدلې، نهٔ يې د صفتونو کومې ټاکلې پولې شته او نهٔ يې توري (الفاظ) بشپړ تعريف کولې شي، او نهٔ د هغه ذات لپاره ټاکلې وخت او پای شته، هغهٔ ټول مخلوقات په خپل قدرت پنځولي (خلق کړي) او په خپل رحمت سره يې بادونه خوځولي دي. او د غرونو په مېخونو سره يې د ځمکې لړزا په قرارۍ بدله کړې ده.

### ۲- د ين او د خدای پاک پېژندل[۲]

د دين پيل د هغهٔ معرفت دی او د پېژندلو کمال يې، په هغهٔ باور لرل او د باور لرلو کمال، د هغهٔ په يووالي ګواهي ورکول دي او د توحيد کمال، اخلاص او د اخلاص کمال د مخلوق له صفتونو د هغهٔ ذات سپېڅلی ګڼل دي، ځکه چې هر صفت ګواه دی چې هغه له موصوفه جدا دی او هر موصوف چغې وهي چې له صفته جدا څيز دی. نو څوک چې خدای د مخلوق په صفتونو سره اوستائي مطلب دا دی چې هغه يې يو څيز ته نزدې ګڼلی دی (يعنې د خدای لپاره يې يو شريک ګرځولی دی ځکه چې د مخلوق صفت او موصوف دوه جدا څيزونه دي) او کله چې يې خدای دوه اوګڼهٔ يعنې د هغهٔ لپاره يې د اجزاؤ تصور وکړ او د خدای لپاره د اجزاؤ د تصور مطلب دا دی چې هغه يې نهٔ دی پېژندلی. او څوک چې خدای اونهٔ پېژني هغه ته اشاره کوي او څوک چې اشاره کوي يعنې خدای يې محدود کړی او شمېرلی دی او څوک چې ووائي «خدای په څه کښې دی؟» هغه يې په بل څه کښې انګېرلی دی او څوک چې پوښتنه وکړي چې «خدای د څه د پاسه قائم دی؟» نو په تحقيق سره يو ځای يې له هغهٔ خالي ګڼلی دی، حال دا چې خدای همېشه ؤ او له کوم څيزه نهٔ دی پېدا شوی، له هر څه سره دی خو داسې نه چې د هغو همنشين او ورسره يو ځای وي او له هر څه سره توپير او فرق لري خو داسې نه چې له هغو جدا او پردی وي. هغه د هر څه کؤنکی دی خو د آلاتو او حرکاتو په وسيله نه، بينا دی حتي هغه وخت چې هيڅ مخلوق نهٔ ؤ، موجود ؤ، يوازې او واحد ذات دی، ځکه داسې کوم ملګری نهٔ لري چې ورسره انس واخلي او يا يې په جدائۍ

۳. الطُّرُقُ الَى مَعْرفَة الله: الأَوَّلُ: خَلْقُ الْعَالَم

أَنْشَأَ الخَلْقَ إنْشَاءً، وَابْتَدَأَهُ ابْتِدَاءً، بِلاَ رَوِيَّةٍ أَجَالَهَا، وَلاَ تَجْرِبَةٍ اسْتَفَادَهَا، وَلاَ حَرَكَةٍ أَحْدَثَهَا، وَلاَ هَمَامَةِ نَفْسٍ اضْطَرَبَ فِيهَا. أَحَالَ الأَشْيَاءَ لأَوْقَاتِهَا، وَلاَمَ بَيْنَ مُخْتَلِفَاتِهَا، وَغَرَّزَ غَرَائِزَهَا، وَأَلْزَمَهَا أَشْبَاحَهَا، عَالِماً بِهَا قَبْلَ ابْتِدَائِهَا، مُحِيطاً بِحُدُودِهَا وَانْتِهَائِهَا، عَارِفاً بِقَرَائِنِهَا وَ أَحْنَائِهَا. ثُمَّ أَنْشَأَ سُبْحَانَهُ فَتْقَ الأَجْوَاءِ، وَشَقَّ الأَرْجَاءِ، وَسَكَائِكَ الهَوَاءِ، فَأَجَازَ فِيهَا مَاءً مُتَلاطِماً تَيَّارُهُ، مُتَرَاكِماً زَخَّارُهُ، حَمَلَهُ عَلَى مَتْنِ الرِّيحِ الْعَاصِفَةِ، وَالزَّعْزَعِ الْقَاصِفَةِ، فَأَمَرَهَا بِرَدِّهِ، وَسَلَّطَهَا عَلَى شَدِّهِ، وَقَرَنَهَا إِلَى حَدِّهِ، الهَوَاءُ مِنْ تَحْتِهَا فَتِيقٌ، وَالمَاءُ مِنْ فَوْقِهَا دَفِيقٌ. ثُمَّ أَنْشَأَ سُبْحَانَهُ رِيحاً اعْتَقَمَ مَهَبَّهَا وَأَدَامَ مُرَبَّهَا، وَأَعْصَفَ مَجْرَاهَا، وَأَبْعَدَ مَنْشَاهَا، فَأَمَرَهَا بِتَصْفِيقِ المَاءِ الزَّخَّارِ، وَإِثَارَةِ مَوْجِ البِحَارِ، فَمَخَضَتْهُ مَخْضَ السِّقَاءِ، وَعَصَفَتْ بِهِ عَصْفَهَا بِالفَضَاءِ، تَرُدُّ أَوَّلَهُ عَلَى آخِرِهِ، وَسَاجِيَهُ عَلَى مَائِرِهِ، حَتَّى عَبَّ عُبَابُهُ، وَرَمَى بِالزَّبَدِ رُكَامُهُ، فَرَفَعَهُ فِي هَوَاءٍ مُنْفَتِقٍ، وَجَوٍّ مُنْفَهِقٍ، فَسَوَّى مِنْهُ سَبْعَ سَمواتٍ، جَعَلَ سُفْلاَهُنَّ مَوْجاً مَكْفُوفاً، وَعُلْيَاهُنَّ سَقْفاً مَحْفُوظاً، وَسَمْكاً مَرْفُوعاً، بِغَيْرِ عَمَدٍ يَدْعَمُهَا وَلاَ دِسَارٍ يَنْظِمُهَا. ثُمَّ زَيَّنَهَا بِزِينَةِ الكَوَاكِبِ، وَضِيَاءِ الثَّوَاقِبِ، وَأَجْرَى فِيهَا سِرَاجاً مُسْتَطِيراً، وَقَمَراً مُنِيراً: فِي فَلَكٍ دَائِرٍ، وَسَقْفٍ سَائِرٍ، وَرَقِيمٍ مَائِرٍ.

الثَّاني: خَلْقَةُ الْمَلائكَة

ثُمَّ فَتَقَ مَا بَيْنَ السَّموَاتِ العُلاَ، فَمَلأَهُنَّ أَطْوَاراً مِنْ مَلاَئِكَتِهِ: مِنْهُمْ سُجُودٌ لاَ يَرْكَعُونَ، وَرُكُوعٌ لاَ يَنْتَصِبُونَ وَ صَافُّونَ لاَ يَتَزَايَلُونَ وَمُسَبِّحُونَ لاَ يَسْأَمُونَ، لاَ يَغْشَاهُمْ نَوْمُ العُيُونِ، وَلاَ سَهْوُ العُقُولِ، وَلاَ فَتْرَةُ الأَبْدَانِ، وَلاَ غَفْلَةُ

اندېښمن شي.

## ۳ ـ د خدا ے پاک پېژندنې لارې

### وړومبی: د پنځون پېل

هغه مخلوقات اوپنځول او د پنځون (خلقت) پېل یې وکړ بې له دې چې فکر او سوچ ته اړتیا ولري یا له کومې تجربې استفاده وکړي یا کوم خوځښت وکړي یا کومه اندېښمنۍنکې فېصله هغه وځوروي. ټول ځیزونه یې د هغو مناسبو وختونو ته وسپارل او بیا یې ډول ډول مخلوقات غرمله کړل او هر یو ته یې خپله خاصه غریزه (طبیعت) ورکړه او هغوي ته یې شکلونه ورکړل. دا ټول جزئیات هغهٔ ته له جوړولو مخکې معلوم وو. او د هغوي له پایښلو او پولو خبرؤ او له هغوي سره له لګېدونکو او خواوشا ځیزونو یا پټو او ښکاره ؤ آګاه ؤ. له دې وروسته هغهٔ د فضا پراختیاوې او د هغې خواوشا او د هواګانو پوړونه جوړ کړل او په هغو کښې یې هغه اوبهٔ اوبهیولې چې په ځپو کښې یې تلاطم ؤ او ځپې یې د یو بل لپاسه او پوړ په پوړ وې. او د تُندو هواګانو په اوږو یې سپرې کړې او بیا یې هوا ته د اوبو د ستنولو امر وکړ او د اوبو په ساتلو یې واکمنه کړه، او د هغو پولې یې ښې وټاکلې فضا تر تُندو بادونو لاندې او اوبهٔ د هغه لپاسه په حرکت کښې وې. بیا یې یوه بله هوا وپنځوله چې شنډه وه او هغه یې په مرکز اودروله او د هغې چپې یې تېزې کړې او ډګر یې ورپلن کړ او بیا یې امر وروکړ چې د دریابونو ځپې راولاړې کړي او په یو بل یې وځپي او دغې هوا ټولې اوبهٔ د ژی په شان وشاربلې او په پراخې فضا کښې یې له ځان سره داسې یوړې چې اولې یې په آخرو ووهلې او طمعې یې په سرکښو ځپو وراړولې او د دې په نتیجه کښې د اوبو سویه د غرونو د ځپو په شان لوړه شوه او د ځګونو استر پرې جوړ شو بیا یې دا ځګونه په پراخې او پرانېستې فضا کښې لوړ کړل او له هغو یې اوهٔ آسمانونه وپنځول چې لاندېنۍ سطحه یې د تم شوې ځپې او باندېنۍ سطحه یې د خوندي بام او لوړې ودانۍ په شان وه، نهٔ یې کومه ستنه وه چې دا پرې ولاړ وي. او نهٔ کوم مېخونه وو چې دا پرې ټینګ وي. بیا یې دا آسمانونه په ستورو ښکلي کړل او د ځلاندو ستورو په رڼا یې اوځلول او پکښې یې رڼا بخښونکے څراغ او روښانه سپوږمۍ روانه کړه چې په فلکي مدار کښې، خوځېدونکي چت او نهٔ تمېدونکي تختې کښې یې خوځښت کوۀ.

### دویمه: د فرښتو پنځول

بیا یې لوړ آسمانونه پرانېستل او له ډول ډول فرښتو یې ډک کړل چې ځینې یې تل په سجدو وي او رکوع ته یې وار نهٔ رسېږي او ځینې یې تل په رکوع وي او سر نهٔ اوچتوي او ځینې یې په صفونو کښې ولاړې وي او له ځایه نه خوځی، ځینی یی په تسبیح او ثنا مشغولی وي او ستړې کېږي

النِّسْيَانِ. وَمِنْهُمْ أُمَنَاءُ عَلَى وَحْيِهِ، وَأَلْسِنَةٌ إِلَى رُسُلِهِ وَمُخْتَلِفُونَ بِقَضَائِهِ وَأَمْرِهِ. وَمِنْهُمُ الْحَفَظَةُ لِعِبَادِهِ، وَالسَّدَنَةُ لِأَبْوَابِ جِنَانِهِ. وَمِنْهُمُ الثَّابِتَةُ فِي الْأَرَضِينَ السُّفْلَى أَقْدَامُهُمْ، وَالْمَارِقَةُ مِنَ السَّمَاءِ الْعُلْيَا أَعْنَاقُهُمْ، وَالْخَارِجَةُ مِنَ الْأَقْطَارِ أَرْكَانُهُمْ، وَالْمُنَاسِبَةُ لِقَوَائِمِ الْعَرْشِ أَكْتَافُهُمْ، نَاكِسَةٌ دُونَهُ أَبْصَارُهُمْ، مُتَلَفِّعُونَ تَحْتَهُ بِأَجْنِحَتِهِمْ، مَضْرُوبَةٌ بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ مَنْ دُونَهُمْ حُجُبُ الْعِزَّةِ، وَأَسْتَارُ الْقُدْرَةِ، لَا يَتَوَهَّمُونَ رَبَّهُمْ بِالتَّصْوِيرِ، وَلَا يُجْرُونَ عَلَيْهِ صِفَاتِ الْمَصْنُوعِينَ، وَلَا يَحُدُّونَهُ بِالْأَمَاكِنِ، وَلَا يُشِيرُونَ إِلَيْهِ بِالنَّظَائِرِ.

الثَّالِثُ: صِفَةُ خَلْقِ آدَمَ عَلَيْهِ السَّلَامُ

ثُمَّ جَمَعَ سُبْحَانَهُ مِنْ حَزْنِ الْأَرْضِ وَسَهْلِهَا، وَعَذْبِهَا وَسَبَخِهَا، تُرْبَةً سَنَّهَا بِالْمَاءِ حَتَّى خَلَصَتْ، وَلَاطَهَا بِالْبَلَّةِ حَتَّى لَزَبَتْ، فَجَبَلَ مِنْهَا صُورَةً ذَاتَ أَحْنَاءٍ وَوُصُولٍ، وَأَعْضَاءٍ وَفُصُولٍ: أَجْمَدَهَا حَتَّى اسْتَمْسَكَتْ، وَأَصْلَدَهَا حَتَّى صَلْصَلَتْ، لِوَقْتٍ مَعْدُودٍ، وَأَجَلٍ مَعْلُومٍ. ثُمَّ نَفَخَ فِيهَا مِنْ رُوحِهِ فَمَثُلَتْ إِنْسَاناً ذَا أَذْهَانٍ يُجِيلُهَا، وَفِكَرٍ يَتَصَرَّفُ بِهَا، وَجَوَارِحَ يَخْتَدِمُهَا، وَأَدَوَاتٍ يُقَلِّبُهَا، وَمَعْرِفَةٍ يَفْرُقُ بِهَا بَيْنَ الْحَقِّ وَالْبَاطِلِ، وَالْأَذْوَاقِ وَالْمَشَامِّ، وَالْأَلْوَانِ وَالْأَجْنَاسِ. مَعْجُوناً بِطِينَةِ الْأَلْوَانِ الْمُخْتَلِفَةِ، وَالْأَشْبَاهِ الْمُؤْتَلِفَةِ، وَالْأَضْدَادِ الْمُتَعَادِيَةِ، وَالْأَخْلَاطِ الْمُتَبَايِنَةِ، مِنَ الْحَرِّ وَالْبَرْدِ، وَالْبَلَّةِ وَالْجُمُودِ، وَالْمَسَاءَةِ وَالسُّرُورِ. وَاسْتَأْدَى اللهُ سُبْحَانَهُ الْمَلَائِكَةَ وَدِيعَتَهُ لَدَيْهِمْ وَعَهْدَ وَصِيَّتِهِ إِلَيْهِمْ، فِي الْإِذْعَانِ بِالسُّجُودِ لَهُ، وَالْخُنُوعِ لِتَكْرِمَتِهِ، فَقَالَ عَزَّ مِنْ قَائِلٍ: ﴿اسْجُدُوا لِآدَمَ فَسَجَدُوا إِلَّا إِبْلِيسَ﴾ وَقَبِيلَهُ، اعْتَرَتْهُمُ الْحَمِيَّةُ، وَغَلَبَتْ عَلَيْهِمُ الشِّقْوَةُ، وَتَعَزَّزُوا بِخِلْقَةِ النَّارِ، وَاسْتَوْهَنُوا خَلْقَ الصَّلْصَالِ، فَأَعْطَاهُ اللهُ تَعَالَى النَّظِرَةَ اسْتِحْقَاقاً لِلسُّخْطَةِ، وَاسْتِتْمَاماً لِلْبَلِيَّةِ، وَإِنْجَازاً لِلْعِدَةِ، فَقَالَ: إِنَّكَ مِنَ الْمُنْظَرِينَ إِلَى يَوْمِ الْوَقْتِ

نه او هيڅکله يې سترګې خوب نۀ وړي او عقلونه يې نۀ تېروځي،نۀ يې په بدن لټي واکمنيږي او نۀ يې په مازغو غفلت. په دوي کښې ځينې د وحي اميني او د استازو (رسولانو) په لور د خدای ژبې دي چې پرله پسې امرونه په ځای کوي او ځينې د هغۀ د بندګانو ساتونکې او د جنت د ورونو څوکيدارې دي. او ځينې داسې دي چې ګامونه يې د ځمکې په ژورو پوړو کښې ښخ دي او سرونه يې تر لوړو آسمانونو وتلې دي. او د وجود غړي يې د نړۍ تر خواوشا وتلي، او په اوږو يې عرش ټينګ دے د هغوي سترګې د خدای د عرش په وړاندې ټيټې وي او تر هغه لاندې يې وزرې راټولې کړې دي.د هغوي او د نورو مخلوقاتو په مېنځ کښې د عزت حجابونه او د قدرت پردې دي هغوي د خپل پالونکي په حقله د شکل او تصوير خيال قدرې هم نۀ کوي او هغه د مخلوقاتو په صفتونو نۀ ستائي. هغوي نۀ خپل رب په مکان کښې محدودوي او نۀ هغۀ ته د ساري په راوړلو سره اشاره کوي.

دريمه: د حضرت آدمؑ خلقت

بيا لوے خدای د ځمکې د سختې نرمې،تروې او خوږې خاورې ځينې برخې راغونډې کړې او بيا يې په کړه تر دې چې متينه خته ترې جوړه شوه او په اوبو کښې يې دومره ولړله چې چسبناکه (نښلېدونکې) شوه او بيا يې ترې داسې صورتونه جوړ کړل چې هم پکښې کږلېچونه وو او هم جوړونه، هم غړي وو او هم بندونه،بيا يې دومره اوچه کړه چې کلکه شوه او دومره يې سخته کړه چې کړنګېدلې شوه او تر يوې ټاکلې مودې او ځانګړې وخته يې داسې وساتله،هله يې خپل روح وروپوکۀ او داسې انسان يې ترې جوړ کړ چې هم يې شنونکے ذهن لرۀ او هم روان فکر او هم کارکوونکي غړي، او خوځېدونکي الات او اوزار، او هم داسې پوهه چې حق پرې له باطله اوپېژني، هغۀ ته يې د څښلو، بويولو او په رنګ او روغن کښې د فرق کولو صلاحيت ورکړ، هغه يې له بېلا بېلو خټو جوړ کړ چې هم پکښې غړمله اجزا وو او هم متضاد او ناغړمله توکي او د تودوخې، سوړوالي، لوندوالي او اوچوالي په شان حالتونه.

بيا لوے خدای له فرښتو وغوښتل چې د هغۀ امانت ورستون کړي او د هغۀ په ژمن شوې وصيت عمل وکړي يعنې دغه مخلوق (آدمؑ) ته سجده وکړي او عزت او لوړاوے يې اومني، «بيا يې په ډاګه وغوښتل چې آدمؑ ته سجده وکړي نو ټولو سجده وکړه بې له ابليسه» هغه په کبر او ځان منني اخته شو - بدمرغي پرې واکمنه شوه او له اوره په پيدا کېدو په ځان اوياړېدۀ او له خاورې د انسان په پيدا ښېت يې هغه سپک اوګڼۀ

الْمَعْلُومِ.

الرَّابِعُ: آدَمُ عَلَيْهِ السَّلَامُ وَالْجَنَّةُ

ثُمَّ أَسْكَنَ سُبْحَانَهُ آدَمَ دَاراً أَرْغَدَ فِيهَا عَيْشَهُ، وَآمَنَ فِيهَا مَحَلَّتَهُ، وَحَذَّرَهُ إِبْلِيسَ وَعَدَاوَتَهُ، فَاغْتَرَّهُ عَدُوُّهُ نَفَاسَةً عَلَيْهِ بِدَارِ الْمُقَامِ، وَمُرَافَقَةِ الْأَبْرَارِ، فَبَاعَ الْيَقِينَ بِشَكِّهِ، وَالْعَزِيمَةَ بِوَهْنِهِ، وَاسْتَبْدَلَ بِالْجَذَلِ وَجَلاً، وَبِالاغْتِرَارِ نَدَماً. ثُمَّ بَسَطَ اللهُ سُبْحَانَهُ لَهُ فِي تَوْبَتِهِ، وَلَقَّاهُ كَلِمَةَ رَحْمَتِهِ، وَوَعَدَهُ الْمَرَدَّ إِلَى جَنَّتِهِ، فَأَهْبَطَهُ إِلَى دَارِ الْبَلِيَّةِ، وَتَنَاسُلِ الذُّرِّيَّةِ.

٤. الْغَايَةُ مِنْ إِرْسَالِ الْأَنْبِيَاءِ

وَاصْطَفَى سُبْحَانَهُ مِنْ وَلَدِهِ أَنْبِيَاءَ أَخَذَ عَلَى الْوَحْيِ مِيثَاقَهُمْ وَعَلَى تَبْلِيغِ الرِّسَالَةِ أَمَانَتَهُمْ، لَمَّا بَدَّلَ أَكْثَرُ خَلْقِهِ عَهْدَ اللهِ إِلَيْهِمْ، فَجَهِلُوا حَقَّهُ، وَاتَّخَذُوا الْأَنْدَادَ مَعَهُ، وَاجْتَالَتْهُمُ الشَّيَاطِينُ عَنْ مَعْرِفَتِهِ، وَاقْتَطَعَتْهُمْ عَنْ عِبَادَتِهِ. فَبَعَثَ فِيهِمْ رُسُلَهُ، وَوَاتَرَ إِلَيْهِمْ أَنْبِيَاءَهُ، لِيَسْتَأْدُوهُمْ مِيثَاقَ فِطْرَتِهِ، وَيُذَكِّرُوهُمْ مَنْسِيَّ نِعْمَتِهِ وَيَحْتَجُّوا عَلَيْهِمْ بِالتَّبْلِيغِ، وَيُثِيرُوا لَهُمْ دَفَائِنَ الْعُقُولِ، وَيُرُوهُمْ آيَاتِ الْمَقْدِرَةِ: مِنْ سَقْفٍ فَوْقَهُمْ مَرْفُوعٍ، وَمِهَادٍ تَحْتَهُمْ مَوْضُوعٍ، وَمَعَايِشَ تُحْيِيهِمْ، وَآجَالٍ تُفْنِيهِمْ، وَ أَوْصَابٍ تُهْرِمُهُمْ، وَأَحْدَاثٍ تَتَابَعُ عَلَيْهِمْ. وَلَمْ يُخْلِ اللهُ سُبْحَانَهُ خَلْقَهُ مِنْ نَبِيٍّ مُرْسَلٍ أَوْ كِتَابٍ مُنْزَلٍ أَوْ حُجَّةٍ لَازِمَةٍ أَوْ مَحَجَّةٍ قَائِمَةٍ. رُسُلٌ لَا تُقَصِّرُ بِهِمْ قِلَّةُ عَدَدِهِمْ، وَلَا كَثْرَةُ الْمُكَذِّبِينَ لَهُمْ: مِنْ سَابِقٍ سُمِّيَ لَهُ مَنْ بَعْدَهُ، أَوْ غَابِرٍ عَرَّفَهُ مَنْ قَبْلَهُ. عَلَى ذٰلِكَ نَسَلَتِ الْقُرُونُ، وَمَضَتِ الدُّهُورُ، وَسَلَفَتِ الْآبَاءُ، وَخَلَفَتِ الْأَبْنَاءُ.

٥. فَلْسَفَةُ مَبْعَثِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِه

إِلَى أَنْ بَعَثَ اللهُ سُبْحَانَهُ مُحَمَّداً صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ لِإِنْجَازِ عِدَتِهِ وَتَمَامِ نُبُوَّتِهِ، مَأْخُوذاً عَلَى النَّبِيِّينَ مِيثَاقُهُ، مَشْهُورَةً سِمَاتُهُ، كَرِيماً مِيلَادُهُ. وَأَهْلُ الْأَرْضِ يَوْمَئِذٍ مِلَلٌ مُتَفَرِّقَةٌ، وَأَهْوَاءٌ مُنْتَشِرَةٌ،

خو خدا ے تعالي هغهٔ ته د عذاب د پوره کېدو، د ازمېښت د بشپړېدو او د خپلې وعدې د پوره کېدو لپاره مهلت ورکړ چې«تا ته د قيامت تر ورځې مهلت درکړے شو»

**څلورمه: د حضرت آدمؑ او د جنت قصه**

بيا خدا ے تعالى آدم په يو داسې کور کښې استوګن کړ چې ژوند پکښې خوږ ؤ او خوندي او د قرار ځا ے ؤ، او له ابليس او د هغهٔ له تربګنۍ يې خبردار کړ خو دښمن د هغهٔ د جنت له استوګنې او د نېکانو له ملګرتيا اوسوزېد او هغه يې وغولوهٔ، نو هغهٔ خپل يقين په شک خرڅ کړ او هوډ يې په کمزورۍ، او د خوښۍ په ځا ے يې ترهه واخېسته، او د ابليس په لمسه يې پښېماني د ځان په برخه کړه، هله الله تعالى د هغهٔ لپاره د توبې لاره هواره کړه او د رحمت کلمات يې ورزده کړل، او له هغهٔ سره د جنت په وعدې سره يې هغه د ازمېښت نړۍ ته راکوز کړ چرته چې د هغهٔ له نسله د انسانانو لړۍ جوړېدونکې وه.

**٤: د پېغمبرانوؑ د راستولو موخه او هدف:**

(عام نبوت) خدا ے له پېغمبرانوؑ د وحي ژمنه واخېسته چې خلقو ته د رسالت امانت اورسوي هغه وخت چې د جاهليت په پېر کښې اکثرو خلقو د خدا ے په ژمنې سترګې پټې کړې او د خپل پالونکي حق يې اونهٔ پيژندهٔ. او په وړاندې يې دروغجن خدايان جوړ کړل او شېطان خلق د خدا ے له معرفته وګرول او له عبادته يې لرې کړل. نو خدا ے پکښې خپل پېغمبرانؑ مبعوث کړل او د انسانانو له اړتياؤ سره سم يې پړاو په پړاو استازي ورولېږل چې د خپل فطرت په ژمنې وفادارۍ ورځنې وغواړي او هېر کړي نعمتونه وریاد کاندي او د الهي احکامو په رسولو سره ورباندې غاړه خلاصه کړي او د عقل پټې وړتياوې ورښکاره کړي . او د الهي قدرت نښې وروپيژني. لکه د پاسه پرې ولاړ آسمان او ورلاندې ترې ويړه ځمکه او د ژوند اسباب او وسيلې او د مرګ او مړينې لارې چارې او د انسان زړونکې ستونزې او پرله پسې پېښې چې همېشه ورپېښې وي. خدا ے هيڅ کله خپل مخلوق بې له استازي، يا آسماني کتابه، يا غوڅ برهانه، يا نېغې لارې نهٔ دے پرېښے. هغه استازي چې که څه هم ملګري يې لږ او منکران يې ډېر وو خو هيڅ کله يې په خپله دنده کښې کوتاهي اونهٔ کړه. ځينو يې د راتلونکو پېغمبرانوؑ زيرې ورکړل او ځينو يې تېر پېغمبرانؑ خلقو ته وروپېژندل. په دې شکل پېړۍ واوړېدې او وختونه تېر شول پلاران لاړل او بچيان يې په ځا ے راغلل.

**٥: د پېغمبراکرمﷺ د راستولو فلسفه**

تردې چې سبحان خدا ے په خپلې وعدې عمل وکړ او د نبوت د بشپړولو لپاره يې حضرت محمدﷺ مبعوث کړ هغه پېغمبر چې له ټولو پېغمبرانوؑ يې د هغهٔ د نبوت د منلو تړون اخېستے ؤ. نښې يې

وَطَرَائِقَ مُتَشَتِّتَةٌ، بَيْنَ مُشَبِّهٍ لله بِخَلْقِه، أَوْ مُلْحِدٍ فِي اسْمِه، أَوْ مُشِيرٍ إِلَى غَيْرِه، فَهَدَاهُمْ بِه مِنَ الضَّلَالَةِ، وأَنْقَذَهُمْ بِمَكَانِه مِنَ الْجَهَالَةِ. ثُمَّ اخْتَارَ سُبْحَانَه لِمُحَمَّدٍ صلى الله عليه لِقَاءَه، ورَضِيَ لَه مَا عِنْدَه، فَأَكْرَمَه عَنْ دَارِالدُّنْيَا، ورَغِبَ بِه عَنْ مُقَارَنَةِ الْبَلْوَى، فَقَبَضَه إِلَيْه كَرِيماً.

٦. ضَرورةُ الإمامة

وخَلَّفَ فِيكُمْ مَا خَلَّفَتِ الأَنْبِيَاءُ فِي أُمَمِهَا، إِذْ لَمْ يَتْرُكُوهُمْ هَمَلًا، بِغَيْرِ طَرِيقٍ وَاضِحٍ، ولَا عَلَمٍ قَائِمٍ.

٧. الْقُرآنُ وَالأَحْكامُ الشَّرْعيَّةُ

كِتَابَ رَبِّكُمْ [فيكُمْ:] مُبَيِّناً حَلَالَه وحَرَامَه، وفَرَائِضَه وفَضَائِلَه، ونَاسِخَه ومَنْسُوخَه، ورُخَصَه وعَزَائِمَه، وخَاصَّه وعَامَّه، وعِبَرَه وأَمْثَالَه، ومُرْسَلَه ومَحْدُودَه، ومُحْكَمَه ومُتَشَابِهَه، مُفَسِّراً جُمَلَه، ومُبَيِّناً غَوَامِضَه. بَيْنَ مَأْخُوذٍ مِيثَاقُ عِلْمِه، ومُوَسَّعٍ عَلَى الْعِبَادِ فِي جَهْلِه، وبَيْنَ مُثْبَتٍ فِي الْكِتَابِ فَرْضُه، ومَعْلُومٍ فِي السُّنَّةِ نَسْخُه، ووَاجِبٍ فِي السُّنَّةِ أَخْذُه، ومُرَخَّصٍ فِي الْكِتَابِ تَرْكُه، وبَيْنَ وَاجِبٍ بِوَقْتِه، وزَائِلٍ فِي مُسْتَقْبَلِه، ومُبَايَنٌ بَيْنَ مَحَارِمِه، مِنْ كَبِيرٍ أَوْعَدَ عَلَيْه نِيرَانَه، أَوْ صَغِيرٍ أَرْصَدَ لَه غُفْرَانَه، وبَيْنَ مَقْبُولٍ فِي أَدْنَاه، ومُوَسَّعٍ فِي أَقْصَاه.

٨ فَلْسَفَةُ الْحَجّ

وفَرَضَ عَلَيْكُمْ حَجَّ بَيْتِه الْحَرَامِ،الَّذِي جَعَلَه قِبْلَةً لِلأَنَامِ، يَرِدُونَه وُرُودَ الأَنْعَامِ، ويَأْلَهُونَ إِلَيْه وُلُوه الْحَمَامِ. جَعَلَه سُبْحَانَه عَلَامَةً لِتَوَاضُعِهِمْ لِعَظَمَتِه، وإِذْعَانِهِمْ لِعِزَّتِه. واخْتَارَ مِنْ خَلْقِه سُمَّاعاً أَجَابُوا إِلَيْه دَعْوَتَه، وصَدَّقُوا كَلِمَتَه، ووَقَفُوا مَوَاقِفَ أَنْبِيَائِه، وتَشَبَّهُوا بِمَلَائِكَتِه الْمُطِيفِينَ بِعَرْشِه، يُحْرِزُونَ الأَرْبَاحَ فِي مَتْجَرِ عِبَادَتِه، ويَتَبَادَرُونَ عِنْدَه مَوْعِدَ مَغْفِرَتِه. جَعَلَه سُبْحَانَه لِلإِسْلَامِ عَلَماً، ولِلْعَائِذِينَ حَرَماً، فَرَضَ حَجَّه، وأَوْجَبَ حَقَّه، وكَتَبَ عَلَيْكُمْ وِفَادَتَه، فَقَالَ سُبْحَانَه:﴿وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلاً وَمَنْ كَفَرَ فَإِنَّ اللهَ غَنِيٌّ عَنِ الْعَالَمِينَ﴾

مشهورې او زوکړه يې مبارکه وه په هغه زمانه کښې د ځمکې خاوندان خوارۀ وارۀ ولسونه وو چې مختلفې غوښتنې يې لرلې او تيت و پرکې رودې يې خپلې کړې وې ځينو يې خداے پاک د انسانانو په شان ګڼۀ او ځينو يې له نامې انکار کوۀ او بل چاته به يې اشاره کوله. نو خداے پاک د حضرت محمدﷺ په وسيله له ګمراهۍ هدايت کړل او له ناپوهۍ يې اوژغورل. بيا يې د حضرت محمدﷺ لپاره خپل ملاقات غوره کړ او څه چې يې له ځان سره لرل هغۀ ته يې خوښ کړل او له دنيا څخه په بوتللو سره يې عزتمن کړ او له ستونځو او بلاګانو يې اوژغورۀ، او په عزت سره يې ترې روح واخيست.

## ٦: له پېغمبرانوعليهم السلام وروسته د امامت ضرورت

د اسلام ګران پېغمبرﷺ ستاسو په مېنځ کښې ځاے ناستي پرېښودل هماغه شان چې تېرو نبيانو خپلو امتونو ته پرېښودل ځکه چې هغوي هيڅکله انسانان لالهانده او سرګردانه پرې نۀ ښودل او بې د روښانه لارې او پياوړو نښو له معرفې کولو له دنيا لا نۀ ړل.[۳]

## ۷: قرآن مجيد او شرعي احکام

په تاسو کښې ستاسو د پالونکي ذات کتاب موجود دے چې د حلالو او حرامو، واجبو او مستحبو، ناسخ او منسوخ مباح او ممنوع،خاص و عام،عبرتونو او مثالونو، مطلق او مقيّد او محکمو او متشابهو بيانونکے دے. خپل مجمل عبارتونه سپړي او پېچلې ټکي روښانوي. مثلا هغه واجبات (فرائض) چې د هغۀ د پېژندلو ژمنه يې واخيستنه او هغه مستحبات چې پوهېدل پرې لازم نۀ دي، په قرآن کښې د دين ځينې احکام فرض اوپېژندل شول چې ناسخ يې د پېغمبراکرمﷺ په سنت کښې راغلې دي[۴] او ځينې يې د پېغمبراکرمﷺ په سنت کښې فرض شول چې د خداے په کتاب کښې يې پرېښودل روا وو؛ ځينو فرائضو محدود وخت لرۀ چې په راتلونکي وخت کښې ختم شول.[۵] الهي محرمات له يوۀ بله جدا دي؛ ځينې يې لوئې ګناهانې دي چې د اور وعده پرې ورکړې شوې ده او ځينې يې وړې چې د بخشش وعده لري. او ځينې يې داسې عملونه دي چې لږ يې قبول او په ډېرو کښې يې انسان آزاد دے.

## ۸: د حج فلسفه

او په تاسو يې د خپل عزتمن کور حج فرض کړ هماغه کور چې د انسانانو قبله يې ټاکلې ده چې د تږو په شان په هغې ورماتېږي او د کوترو په شان پناه وروړي. خداے تعالي کعبه د خپل سترتوب په وړاندې د بندګانو د تواضع او په خپل عزت او قدرت د هغوي د داده کېدو نښه وګرځوله. او داسې اورېدونکي انسانان يې پېداکړل چې د هغۀ بلنې ته هو وائي او خبره يې تصديقوي او د انبياؤعليهم السلام په پلونو اودرېږي. د هغو فرښتو په شان چې د خداے پاک د عرش طواف کوي او په دغه عبادت ځاے او د زائرانو په تجارت خانه کښې پرېمانه ګټه ترلاسه کوي.او د الهي بخښنې وعده ګاه ته ځغلي. سبحان خداے کعبه د اسلام بېرغ او د پناه غوښتونکو لپاره د امن کور وګرځوۀ.د حق ادا کول يې فرض کړل او حج يې فرض کړ او په تاسو ټولو باندي يې هغۀ ته

[ ٢ ]

وَمِنْ خُطْبَة لَهُ عَلَيْه السَّلاَمُ بَعْدَ انْصرافه منْ صفِّين وَفيها حَالُ النَّاسِ قَبْلَ الْبِعْثَة وَصفَةُ آلِ النَّبِيِّ ثُمَّ صِفَةُ قَوْمٍ آخَرِينَ

١. فَلْسَفَةُ الْحَمْد

أَحْمَدُهُ اسْتِتْماماً لنعْمَته، وَاسْتسْلاَماً لعزَّته، واسْتعْصَاماً منْ مَعْصيَته، وَأَسْتَعينُهُ فَاقَةً إلى كفَايَته، إنَّهُ لاَ يَضلُّ مَنْ هَدَاهُ، ولا يَئِلُ مَنْ عَادَاهُ، ولا يَفْتَقرُ مَنْ كَفَاهُ؛ فَإنَّهُ أَرْجَحُ ما وُزِنَ، وَأَفْضَلُ ما خُزِنَ. وَأَشْهَدُ أَنْ لاَ إلهَ إلاَّ اللهُ، شَهَادَةً مُمْتَحَناً إخْلاَصُهَا، مُعْتَقَداً مُصَاصُهَا، نَتَمَسَّكُ بها أَبَداً ما أَبْقَانَا، وَنَدَّخِرُهَا لأَهَاوِيلِ مَا يَلْقَانَا، فَإنَّهَا عَزِيمَةُ الايمَان، وَفَاتحَةُ الاحْسَان، ومَرْضَاةُ الرَّحْمن، وَمَدْحَرَةُ الشَّيْطَان.

٢. خَصَائِصُ رَسُول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْه وآله

وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّداً عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، أَرْسَلَهُ بالدِّين المشْهُور، وَالعَلَم المأْثُور، وَالكتَاب المسْطُور، وَالنُّور السَّاطِع، وَالضِّيَاء اللاَّمع، وَالاَمْر الصَّادع، إزاحَةً للشُّبُهَات، وَاحْتجَاجاً بالبَيِّنَات، وَتَحْذيراً بالآيَات، وَتَخْويفاً بالمَثُلاَت.

٣. وَصْفُ الْجَاهليَّة

وَالنَّاس في فتَن انْجَذَمَ فيها حَبْلُ الدِّين، وَتَزَعْزَعَتْ سَوَارِي اليَقين، وَاخْتَلَفَ النَّجْرُ، وَتَشَتَّتَ الأَمْرُ، وَضَاقَ الْمَخْرَجُ، وَعَميَ المَصْدَرُ، فَالْهُدَى خَاملٌ، وَالعَمَى شَاملٌ. عُصيَ الرَّحْمنُ، وَنُصرَ الشَّيْطَانُ، وَخُذلَ الأيمَانُ، فَانْهَارَتْ دعَائمُهُ، وَتَنكَّرَتْ مَعَالمُهُ، وَدَرَسَتْ سُبُلُهُ، وَعَفَتْ شُرُكُهُ. أَطَاعُوا الشَّيْطَانَ فَسَلَكُوا مَسَالكَهُ، وَوَرَدُوا مَنَاهلَهُ، بهمْ سَارَتْ أَعْلاَمُهُ، وَقَامَ لوَاؤُهُ، في فتَن دَاسَتْهُمْ بأَخْفَافهَا، وَوَطِئَتْهُمْ بأَظْلاَفهَا، وَقَامَتْ عَلَى سَنَابكهَا، فَهُمْ فيهَا تَائهُونَ حَائرُونَ جَاهلُونَ مَفْتُونُونَ، فى خَيْر دَار، وَشَرِّ

تلل وټاکل او وې فرمايل: «هغه څوک چې د خدای کور ته د تللو وس لري حج پرې فرض دی او څوک چې انکار وکړي نو خدای تعالی له ټولو مخلوقاتو بې نيازه دی»

## دويمه خطبه

(له صفين څخه[٢] له راستنېدو وروسته د هجرت په اوۀ دېرشم کال يې دا خطبه وکړه)

### ١: د حمد فلسفه

ستائنه کوم د خدای پاک، د هغۀ د نعمتونو په بشپړتيا او د هغۀ د سترتوب په وړاندې په تسليمېدو سره او د هغۀ له نافرمانۍ د خونديوالي په غوښتنې سره مرسته غواړم له هغۀ د اړتياؤ په پوره کولو کښې ځکه چې څوک خدای هدايت کړي هغه نۀ بې لارې کېږي او له چا سره چې هغه دښمن شي نو نۀ ژغورل کېږي او څوک چې خدای بدايه (شتمن) کړي نۀ اړمنېږي. نو د خدای ستائنه تر ټولو درونده خيز او د زېرمه کولو لپاره تر ټولو غوره خزانه ده. او ګواهي ورکوم چې بې له يوازيني (واحد) خدای بل معبود نشته داسې ګواهي چې اخلاص يې ازمويل شوی او په پاکۍ او سوچه والي مو يې باور کړی دی. او تر څو چې ژوندي يوو په هم دې باور به پاتې يوو. او هغه د قيامت د بوږنوونکو ورځو لپاره زېرمه کوو. ځکه چې د وحده لاشريک ګواهي د ايمان د پياوړتيا نښه، د احسان د ورونو پرانستونکې، د رحمان د خوشحالۍ ذريعه او د شېطان د شر ژغوونکې ده.

### ٢: د رسول الله مبارکﷺ ځانګړتياوې

او ګواهي ورکوم چې حضرت محمدﷺ د هغۀ بنده او استازی دی خدای تعالی هغه له ښکاره دين، ټينګو نښو، ليکلي کتاب، ځيرېدونکې رڼا، ځلانده ځراغ او ځرګند امر سره راواستوۀ. چې شک او شبهې لرې کړي او په روښانه آيتونو سره استدلال وکړي. او په الهي آيتونو سره خلق خبردار او (د تېروقامونو) په مثالونو سره يې ووېروي.

### ٣: د جاهليت د وخت پېژندل

(خدای تعالی خپل رسول مبارکﷺ په داسې حال کښې راولېږۀ چې) خلق په فتنو کښې ښکېل وو، د دين مزي يې شليدلي وو او د ايمان او يقين ستنې يې سستې شوې وې. او په اصولو کښې يې اختلاف لرۀ، او په چارو کښې يې انتشار، د ژغورنې لار يې سخته او د پناه ځای يې نۀ ؤ، د هدايت مشال بې نوره ؤ او هر لور ته تورتم ؤ. له رحمان (خدای) سرغړونه او د شېطان مرسته کېده، ايمان بې ياره پاتې ؤ، ستنې يې نړېدلې وې، له نښو نښانو يې انکار کېدۀ، لارې يې ورکې شوې وې او پلونه يې وران شوي وو. جاهلو خلقو به د شېطان پېروي کوله او د هغۀ په لاره به تلل او د هغۀ له سرچينې به خړوبېدل، د جاهليت د خلقو په لاس د شېطان نښې ښکاره او د هغۀ بېرغ رپول شوی ؤ، فتنو خلق دَل کړي وو او په خپلو سُمونو سره يې چخنې کړې وو او فتنه په خپلو پنجو

جيرَان، نَوْمُهُمْ سُهُودٌ، وَكُحْلُهُمْ دُمُوعٌ، بِأَرْضٍ عَالِمُهَا مُلْجَمٌ، وَجَاهِلُهَا مُكْرَمٌ.

٤. فَضَائِلُ عِتْرَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِه

هُمْ مَوْضِعُ سِرِّهِ، وَلَجَأُ أَمْرِهِ، وَعَيْبَةُ عِلْمِهِ، وَمَوْئِلُ حُكْمِهِ، وَكُهُوفُ كُتُبِهِ، وَجِبَالُ دِينِهِ، بِهِمْ أَقَامَ انْحِنَاءَ ظَهْرِهِ، وَأَذْهَبَ ارْتِعَادَ فَرَائِصِهِ.

٥. أَعْمَالُ الْمُنْحَرِفِينَ

زَرَعُوا الْفُجُورَ، وَسَقَوْهُ الْغُرُورَ، وَحَصَدُوا الثُّبُورَ.

٦. مَنْزِلَةُ آلِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِه وَسَلَّمَ

لا يُقَاسُ بِآلِ مُحَمَّدٍ عَلَيْهِمُ السَّلامُ مِنْ هٰذِهِ الأُمَّةِ أَحَدٌ، وَلا يُسَوَّى بِهِمْ مَنْ جَرَتْ نِعْمَتُهُمْ عَلَيْهِ أَبَداً. هُمْ أَسَاسُ الدِّينِ، وَعِمَادُ الْيَقِينِ، إِلَيْهِمْ يَفِيءُ الْغَالِي، وَبِهِمْ يُلْحَقُ التَّالِي، وَلَهُمْ خَصَائِصُ حَقِّ الْوِلايَةِ، وَفِيهِمُ الْوَصِيَّةُ وَالْوِرَاثَةُ، الآنَ إِذْ رَجَعَ الْحَقُّ إِلَى أَهْلِهِ، وَنُقِلَ إِلَى مُنْتَقَلِهِ.

[ ٣ ]

وَمِنْ خُطْبَةٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلامُ، الْمَعْرُوفَةِ بِالشِّقْشِقِيَّةِ

١. الشَّكْوَى مِنِ ابْنِ أَبِي قُحَافَةَ

أَمَا وَاللهِ لَقَدْ تَقَمَّصَهَا فُلانٌ، وَإِنَّهُ لَيَعْلَمُ أَنَّ مَحَلِّيَ مِنْهَا مَحَلُّ الْقُطْبِ مِنَ الرَّحَا، يَنْحَدِرُ عَنِّي السَّيْلُ، وَلا يَرْقَى إِلَيَّ الطَّيْرُ. فَسَدَلْتُ دُونَهَا ثَوْباً، وَطَوَيْتُ عَنْهَا كَشْحاً، وَطَفِقْتُ أَرْتَئِي بَيْنَ أَنْ أَصُولَ بِيَدٍ جَذَّاءَ، أَوْ أَصْبِرَ عَلَى طَخْيَةٍ عَمْيَاءَ، يَهْرَمُ فِيهَا الْكَبِيرُ، وَيَشِيبُ فِيهَا الصَّغِيرُ، وَيَكْدَحُ فِيهَا مُؤْمِنٌ حَتَّى يَلْقَى رَبَّهُ. فَرَأَيْتُ أَنَّ الصَّبْرَ عَلَى هَاتَا أَحْجَى، فَصَبَرْتُ وَفِي الْعَيْنِ قَذًى، وَفِي الْحَلْقِ

كلكه ولاړه وه، نو خلق په فتنو كښې حيرانه، لالهانده، بې خبره او غولېدلې، تر ټولو د غوره كور (كعبې) په څنګ كښې د ډېرو بدو كسانو (بت پرستو) ګاونډيان وو، خوب يې بې خوبي او رانجهٔ يې اوښكې وې، هغه ځمكه چې د عالمانو ژبې پكښې بندې او جاهلان پكښې عزتمن وو.

۴: د نبي اكرمﷺ د آلؑ فضيلت او درښنت

د رسول الله مبارکﷺ عترت (آلؑ) د خداے د رازونو منزل، د الهي اوامرو پناه ځاے، د خداے د علم خزانې، د اسلامي احكامو مرجع، د آسماني كتابونو ساتندوي، او د هغهٔ د دين مضبوط غرونه دي. خداے د رسول اكرمﷺ د اهلبيتوؑ په وسيله د دين كږه ملا نېغه كړه او د هغهٔ د اندامونو لړزا يې ختمه كړه.

۵: بې لارې خلق

دغو خلقو د ګناه تخم اوشيندهٔ او د كبر او دوكې په اوبو يې پښه كړو او فصل يې چې يوازې د خداے عذاب دے اوربېهٔ،

۶: د حضر محمدﷺ د آلؑ مقام او منزلت

په دې امت كښې د خداے د رسولﷺ له آلؑ سره هيڅوک نۀ شي پرتله (موازنه) كېدې، او هغه كسان چې د اهلبيتوؑ د هدايت او نعمت روزل شوې دي له دوي سره هيڅكله نۀ شي برابرېدې، ځكه چې اهلبيتؑ د دين بنيادونه او د يقين پياوړي ستنې دي، مخكې تللي همدوي ته راستنېږي او شاته پاتې هم دوي ته ځان رسوي، او د حق د ولايت ځانګړتياوې له همدوي سره مخصوصې دي. او هم په دوي كښې د پيغمبراكرمﷺ وصيت او وراثت دے. (اوس) چې خلافت مو ماته اوسپارهٔ (حق حقدار ته ستون شو او) خپل اصلي مقام ته اولېږل شو.

## ﴿ دريمه خطبه[7] ﴾

(دا خطبه په شقشقيه مشهورده چې پكښې امام عليؑ د سقيفې د قيصې او د خلافت د غصبېدو په حقله د زړهٔ درد بيان كړے دے[8]

۱: له ابن ابوقحافه (وړومبي خليفه) څخه ګيله:

خبر اوسئ! په خداے قسم فلانكي (ابوبكر) د خلافت جامه په زوره واغوسته، حال دا چې پوهېدهٔ چې د اسلامي حكومت لپاره زما حيثيت د مېچنې لپاره د تبرک په شان ؤ، له كوم نه چې مېچنه تاوېږي،(هغه پوهېدهٔ چې) د علمونو درياب له ما سرچينه اخلي او د فكر د لوړ الوت مارغان د علم او فكر په الوت كښې ماته نۀ شي رسېدلې، نو ما د خلافت ځادر پرېښود او لمن مې راټوله كړه او ځان مې ترې اوساتهٔ او په دې فكر كښې شوم چې آيا په يوازې سر او تش لاس د خپل حق د اخېستلو لپاره پاځېږم يا د دغه ساډوبې په هغه فضا او د ګور په هغه تيارهٔ كښې د صبر لمن اونيسم چې بوډاګان وراستهٔ اوځوانان زړوي او ايمانداره مېړونه له خپل رب سره د ملاقات تر وخته پورې غمجن ساتي.

شَجاً، أرى تُراثي نَهْباً، حَتَّى مَضَى الاوَّلُ لِسَبيله، فَأَدْلَى بهاإلَى فلان بَعْدَه.

۲. أَبُو بَكْرٍ وَالتَّلاعُبُ بِالْخلافَة

ثُمَّ تَمَثَّلَ بِقَوْلِ الأَعْشَى:

شَتَّانَ مَا يَوْمِي عَلَى كُورِهَا وَيَوْمُ حَيَّانَ أَخِي جَابِرِ

فَيَا عَجَباً!! بَيْنَا هُوَ يَسْتَقيلُها فِي حَيَاتِه إِذْ عَقَدَهَا لآخَرَ بَعْدَ وَفَاته ـ لَشَدَّ مَا تَشَطَّرَا ضَرْعَيْهَا ! ـ

۳. اَلشَّكْوَى مِنْ عُمَرَ

فَصَيَّرَهَا في حَوْزَةٍ خَشْنَاءَ، يَغْلُظُ كَلْمُهَا، وَيَخْشُنُ مَسُّهَا، وَيَكْثُرُ العِثَارُ[فيهَا] وَالْاعْتِذَارُ مِنْهَا، فَصَاحِبُهَا كَرَاكِبِ الصَّعْبَةِ، إِنْ أَشْنَقَ لَهَا خَرَمَ، وَ إِنْ أَسْلَسَ لَهَا تَقَحَّمَ، فَمُنِيَ النَّاسُ لَعَمْرُ اللهِ ـ بِخَبْطٍ وَ شِمَاسٍ، وَ تَلَوُّنٍ وَ اعْتِرَاضٍ. فَصَبَرْتُ عَلَى طُولِ الْمُدَّةِ، وَشِدَّةِ المِحْنَةِ، حَتَّى إِذا مَضَى لِسَبِيلِه

٤. الشَّكْوَى مِنْ شُورَى عُمَرَ

جَعَلَهَا فِي جَمَاعَةٍ زَعَمَ أَنِّي أَحَدُهُمْ. فَيَاللهِ وَلِلشُّورَى! مَتَى اعْتَرَضَ الرَّيْبُ فِيَّ مَعَ الاوَّلِ مِنْهُمْ، حَتَّى صِرْتُ أُقْرَنُ إِلَى هذه النَّظَائِرِ! لكِنِّي أَسْفَفْتُ إِذْ أَسَفُّوا، وَطِرْتُ إِذْ طَارُوا، فَصَغَا رَجُلٌ مِنْهُمْ لِضِغْنِه، وَمَالَ الْآخَرُ لِصِهْرِه، مَعَ هَنٍ وَهَنٍ.

٥. الشَّكْوَى مِنْ عُثْمَانَ

إِلَى أَنْ قَامَ ثَالِثُ القَوْمِ، نَافِجاً حِضْنَيْه بَيْنَ نَثِيلِه وَمُعْتَلَفِه، وَقَامَ مَعَهُ بَنُو أَبِيه يَخْضَمُونَ مَالَ اللهِ خَضْمَ الابِلِ نِبْتَةَ الرَّبِيعِ، إِلَى أَنِ انْتَكَثَ عَلَيْه فَتْلُهُ، وَأَجْهَزَ عَلَيْه عَمَلُهُ، وَكَبَتْ بِه بِطْنَتُه.

٦. وَصْفُ يَوْمِ الْبَيْعَة

نو ومې ليدل چې په دې حالت صبر كول غوره دي. نو صبر مې وكړ خو په داسې حال كښې چې تۀ به وائې په سترګو كښې مې ازغے او په مرۍ كښې مې هډوكے نښتے وي. او په خپلو سترګو مې د خپل ميراث د لوټېدو او تالا كېدو تماشه كوله، تردې چې وړومبے خليفه په خپله لار لاړ او خلافت يې پلانكي (عمر) ته پرېښود.

## ۲: له خلافت سره د حضرت ابوبكرؓ چلند

بيا امام د اعشي شاعر يو شعر ووايۀ چې ژباړه يې دا ده:

زما او د جابر د ورور په خپلو كښې څه شباهت كېدې شي؟

ما ټوله ورځ په سوزؤنكي نمر كښې په كار تېره كړه او هغه ښه راحته او په آرام سره كور كښې ناست ؤ.

څومره د حېرانۍ خبره ده هغۀ (ابوبكر) په خپل ژوند كښې له خلقو غوښتل چې عذر يې اومني[9] او د مرګ په وخت يې د خلافت ناوې بل چاته ورپه نكاح كړه- دواړو د خلافت لنګه غوا ښه اولوشله او ښۀ يې پرې څانونه ماړۀ كړل.

## ۳: له حضرت عمرؓ څخه ګيله

نو هغۀ (حضرت ابوبكر) خلافت داسې مقام (عمر) ته وسپارۀ چې د تاوتريخوالي سختۍ كولو، تېروتنې او بخښنه غوښتنې مجموعه وه، واكمن د هغه چا په شان دے چې په يو سركښ اوښ سپور وي كه واګې يې سختې راكاږي نو د اوښ پوزه شلېږي او كه سستې يې پرېږدي نو خپل سپور په ګړنګ كښې غورځوي. په خدا ے مې دې قسم وي ! خلق د دويم په خلافت كښې په ډېر كړاو او مصيبت اخته شوي وو او له منافقتونو او ګمراهيو سره مخامخ شوي وو. او ما په دغه اوږد مصيبت صبر وكړ او د زغم لمن مې اونيوله. تر دې چې د عمر پړاو هم تېر شو.[10]

## ۴: د حضرت عمرؓ له شورا څخه ګيله

بيا هغۀ (حضرت عمر) خلافت يوې داسې شورا ته وسپارۀ چې فكر يې كوۀ چې زۀ هم د هغوي برابر يم! خدا ے پاک ته پناه وړم له دغه شورا څخه! (زما له دغه شورا سره څويمه ده) په ما كښې په وړومبۍ ورځ كوم عېب ؤ چې نن مې د دغه شورا له غړيو سره برابروي؟ او په هغوي كښې مې شاملوي- بيا هم ما ټيټه يوړه او له هغوي سره مې يو شان الوت وكړ خو بيا هم په هغوي كښې يو كس د خپلې كينې له امله له ما مخ واړوۀ[11] او بل كس[12] (زوم) ته يې په حق باندې ترجيح وركړه او دوه نور كسان وو چې د نامو راوړل يې هم سپک دي.[13]

## ۵:له حضرت عثمانؓ څخه ګيله

تردې چې دريم په ګدۍ كښېناست،دواړه اڼډونه يې له پرخورۍ پړسېدلي وو او د خېټې او ټټۍ په مېنځ كښې سرګردان ؤ او ورسره پلرني خپلوان (بني اميه) هم پاڅېدل او په ګډه يې بيتالمال اونغرۀ لكه نهر اوښ چې د سپرلي په وښو وروځغلي. دومره يې اوخوړۀ (زياتے يې وكړ) چې غړلے پړے يې پرانېستل شو او د خپلو بدو چارو په وجه پرې خلق ورو پارېدل او خېټې پالنې (زياتي خورۍ) پړ مخې راوغورځوۀ.

فَمَا رَاعَنِي إلاَّ وَالنَّاسُ إلَيَّ كَعُرْفِ الضَّبُعِ، يَنْثَالُونَ عَلَيَّ مِنْ كُلِّ جَانِب، حَتَّى لَقَدْ وُطِىءَ الحَسَنَانِ، وَشُقَّ عِطْفَايَ، مُجْتَمِعِينَ حَوْلِي كَرَبِيضَةِ الغَنَمِ. فَلَمَّا نَهَضْتُ بِالأَمْرِ نَكَثَتْ طَائِفَةٌ، وَمَرَقَتْ أُخْرَى، وَفَسَقَ [وقسط] آخَرُونَ كَأَنَّهُمْ لَمْ يَسْمَعُوا اللهَ سُبْحَانَهُ يَقُولُ: ﴿تِلْكَ الدَّارُ الاخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِينَ لاَ يُرِيدُونَ عُلُوّاً فِي الاَرْضِ وَلاَ فَسَاداً وَالعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ﴾، بَلَى! وَاللهِ لَقَدْ سَمِعُوهَا وَوَعَوْهَا، وَلكِنَّهُمْ حَلِيَتِ الدُّنْيَا فِي أَعْيُنِهِمْ، وَرَاقَهُمْ زِبْرِجُهَا!

٧. اَلْمَسْؤولِيَّاتُ الإِجْتِمَاعِيَّةُ

أَمَا وَالَّذِي فَلَقَ الْحَبَّةَ، وَبَرَأَ النَّسَمَةَ، لَوْلاَ حُضُورُ الْحَاضِرِ، وَقِيَامُ الْحُجَّةِ بِوُجُودِ النَّاصِرِ، وَمَا أَخَذَ اللهُ عَلَى العُلَمَاءِ أَلاَّ يُقَارُّوا عَلَى كِظَّةِ ظَالِم، وَلا سَغَبِ مَظْلُوم، لاَلقَيْتُ حَبْلَهَا عَلَى غَارِبِهَا، وَلَسَقَيْتُ آخِرَهَا بِكَأْسِ أَوَّلِهَا، وَلاَلفَيْتُمْ دُنْيَاكُمْ هذِهِ أَزْهَدَ عِنْدِي مِنْ عَفْطَةِ عَنْز!

قَالُوا: وَقَامَ إِلَيْهِ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ السَّوَادِ عِنْدَ بُلُوغِهِ إِلَى هذَا الْمَوْضِعِ مِنْ خُطْبَتِهِ، فَنَاوَلَهُ كِتَاباً، فَأَقْبَلَ يَنْظُرُ فِيهِ، فَلَمَّا فَرِغَ مِنْ قِرَاءَتِهِ قَالَ لَهُ ابْنُ عَبَّاس: يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ، لَوِ اطَّرَدَتْ مَقَالَتَكَ مِنْ حَيْثُ أَفْضَيْتَ! فَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

هَيْهَاتَ يَابْنَ عَبَّاس! تِلْكَ شِقْشِقَةٌ هَدَرَتْ ثُمَّ قَرَّتْ!

قَالَ ابْنُ عَبَّاس: فَوَاللهِ مَا أَسَفْتُ عَلَى كَلاَم قَطُّ كَأَسَفِي عَلَى ذلِكَ الْكَلاَمِ أَلاَّ يَكُونَ أَمِيرُ الْمُؤْمِنِينَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ بَلَغَ مِنْهُ حَيْثُ أَرَادَ.

٦: له حضرت علي عليه السلام سره د خلقو بيعت

د بيعت په ورځ هغه څه چې زهٔ يې ډېر اندېښمن کړم دا وو چې خلق د بجو (يو ځناور دے چې په څټ يې ډېر وېښتهٔ وي) د څټ د وېښتو په شان په ما باندې له هر اړخه رامات شول تر دې چې نږدې وه حسن او حسين عليهم السلام په ګڼه ګوڼه کښې تر پښو لاندې شي او زما څادر له دوو لورو اوشلېدهٔ خلق د ګډو د رمې په شان له ما چاپېره شول خو کله چې زهٔ پاڅېدم او دنده مې په غاړه واخېسته نو يو شمېر کسانو بيعت مات کړ[14] او ځينې زما له اطاعته ووتل او له دين څخه بهر شول[15]. او ځينو له اطاعته سر اوغړوهٔ[16] ته به وائې نه يې وو اورېدلي چې خدا ے تعالى فرمائي: د آخرت کور مې د هغو کسانو لپاره خوښ کړ چې په ځمکه کښې د فساد او سرغړونې غوښونکي نهٔ دي او راتلونکے (عاقبت) د پرهېزګارو دے» هو په خدا ے قسم دا يې ښه اورېدلي او ياد کړي وو خو دنيا د هغوي سترګو ته ښکلې شوه او زر او زيور يې سترګې وروبرېښولې.

٧: ټولنېزې دندې (اجتماعي ذمه وارى)

په هغه خدا ے قسم چې دانه يې څيرلې او ژوندي ځاروي يې پېدا کړي دي که بيعت کؤنکو راسره په يو هېر بېعت نهٔ وې کړے او د ملګرو حجت په ما باندې نهٔ وې تمام شوے او که خدا ے پاک له عالمانو ژمنه نهٔ وه اخېستې چې د ظالمانو په شکم پُرى او د مظلومانو په لوږه باندې به غلي نهٔ کښېني نو د خلافت د اوښ جلب به مې د هغهٔ په قوب باندې وراچولے وې او په خپله مخه به مې پرېښے وې او د خلافت آخر به مې د هغهٔ د اول په کاسه باندې خړوب کړے وې، بيا به تاسو ليدلې وه چې ستاسو دنيا ما ته د بزې تر اتروشي هم کم ارزښته ده.

وائي چې په دغه وخت کښې يو عراقي پاڅېد او امام ته يې يو ليک ورکړ او امام اولوستهٔ [ويل کېږي چې په هغه ليک کښې داسې خبرې وې چې بايد ځواب يې ورکړے شوے وې] کله چې د ليک لوستل ختم شول ابن عباس وويل: اے اميرالمومنين! څومره به ښه وي چې خبره له هماغه ځايه چې غوځه شوې وه شروع کړې! امام وفرمايل: هيڅکله نه اے ابن عباسه! دا خو يوه شقشقه[17] وه چې راووتله او بيا دننه شوه (ابن عباس وائي چې په خدا ے قسم په هيڅ يوه وينا دومره نه وم خفه شوے څومره چې د امام د خبرې په غوځېدو غمجن شوم چې امام اونه توانېدهٔ چی خپله خبره جاري اوساتي.

[ ٤ ]

وَمِنْ خُطْبَةٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ، وَهِيَ مِنْ أَفْصَحِ كَلاَمِهِ، وَفِيهَا يَعِظُ النَّاسَ

١: خَصَائِصُ أَهْلِ الْبَيْتِ عَلَيْهِمُ السَّلاَمُ

بِنَا اهْتَدَيْتُمْ فِي الظَّلْمَاءِ، وَتَسَنَّمْتُمُ العَلْيَاءَ، وَبِنَا انْفَجَرْتُم

﴿ څلورمه خطبه ﴾

(ويل کېږي چې د بصرې له فتحې وروسته د هجرت په شپږ دېرشم کال يې د طلحه او زبير له وژل کېدو وورسته دا خطبه ورکړه)

١: د اهلبېتو عليهم السلام ځانګړتياوې او خصوصيتونه

تاسو زمونږ (اهلبېتو عليهم السلام) په وسيله د جهالت له تيرو راووتئ او هدايت

عَنِ السِّرَارِ، وَقُرَ سَمْعٌ لَمْ يَفْقَهِ الوَاعِيَةَ، كَيْفَ يُرَاعِي النَّبْأَةَ مَنْ أَصَمَّتْهُ الصَّيْحَةُ؟ رُبِطَ جَنَانٌ لَمْ يُفَارِقْهُ الخَفَقَانُ. مَا زِلْتُ أَنْتَظِرُ بِكُمْ عَوَاقِبَ الغَدْرِ، وَأَتَوَسَّمُكُمْ بِحِلْيَةِ المُغْتَرِّينَ، سَتَرَنِي عَنْكُمْ جِلْبَابُ الدِّينِ، وَبَصَّرَنِيكُمْ صِدْقُ النِّيَّةِ.

۲: خَصَائِصُ الإِمَامِ عَلِيٍّ عَلَيْهِ السَّلَامُ

أَقَمْتُ لَكُمْ عَلَى سَنَنِ الحَقِّ فِي جَوَادِّ المَضَلَّةِ، حَيْثُ تَلْتَقُونَ وَلَا دَلِيلَ، وَتَحْتَفِرُونَ وَلَا تُمِيهُونَ. اليَوْمَ أُنْطِقُ لَكُمُ العَجْمَاءَ ذَاتَ البَيَانِ! عَزَبَ رَأْيُ امْرِىءٍ تَخَلَّفَ عَنِّي، مَا شَكَكْتُ فِي الحَقِّ مُذْ أُرِيتُهُ! لَمْ يُوجِسْ مُوسَى خِيفَةً عَلَى نَفْسِهِ، أَشْفَقَ مِنْ غَلَبَةِ الجُهَّالِ وَدُوَلِ الضُّلَّالِ! اليَوْمَ تَوَاقَفْنَا عَلَى سَبِيلِ الحَقِّ وَالبَاطِلِ، مَنْ وَثِقَ بِمَاءٍ لَمْ يَظْمَأْ!

[ ٥ ]

لَمَّا قُبِضَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَخَاطَبَهُ الْعَبَّاسُ وَأَبُو سُفْيَانَ فِي أَنْ يُبَايِعَا لَهُ بِالْخِلَافَةِ [وَذَلِكَ بَعْدَ أَنْ تَمَّتِ الْبَيْعَةُ لِأَبِي بَكْرٍ فِي السَّقِيفَةِ، وَفِيهَا يَنْهَى عَنِ الْفِتْنَةِ]

۱. طُرُقُ الْوِقَايَةِ مِنَ الْفِتَنِ

أَيُّهَا النَّاسُ، شُقُّوا أَمْوَاجَ الفِتَنِ بِسُفُنِ النَّجَاةِ، وَعَرِّجُوا عَنْ طَرِيقِ المُنَافَرَةِ، وَضَعُوا تِيجَانَ المُفَاخَرَةِ. أَفْلَحَ مَنْ نَهَضَ بِجَنَاحٍ، أَوِ اسْتَسْلَمَ فَأَرَاحَ، مَاءٌ آجِنٌ، وَلُقْمَةٌ يَغَصُّ بِهَا آكِلُهَا، وَمُجْتَنِي الثَّمَرَةِ لِغَيْرِ وَقْتِ إِينَاعِهَا كَالزَّارِعِ بِغَيْرِ أَرْضِهِ.

۲. حِكْمَةُ السُّكُوتِ

فَإِنْ أَقُلْ يَقُولُوا: حَرَصَ عَلَى المُلْكِ، وَإِنْ أَسْكُتْ يَقُولُوا: جَزِعَ مِنَ المَوْتِ! هَيْهَاتَ بَعْدَ اللَّتَيَّا وَالَّتِي! وَاللهِ لَابْنُ أَبِي طَالِبٍ آنَسُ بِالمَوْتِ مِنَ الطِّفْلِ بِثَدْيِ أُمِّهِ، بَلِ انْدَمَجْتُ عَلَى مَكْنُونِ عِلْمٍ لَوْ بُحْتُ بِهِ لَاضْطَرَبْتُمُ اضْطِرَابَ الأ□رْشِيَةِ فِي الطَّوِيِّ البَعِيدَةِ.

شوئ او زمونږ په مرسته مو د پرمختګ څوکې کچ کړې او د نېکمرغۍ سحر مو زمونږ په رڼا اوځلېدۀ. کوڼ دې هغه غوږ چې د نصیحت اوچت غږ نۀ اوري او کوم غوږونه چې په لوړه چغه کاڼۀ شوي وي د حقیقت ورو خبره کله اورېدې شي. کوم زړۀ چې د خدای پاک له ویرې لړزان وي تل ډاډه او پائېدار وي. او زۀ خو تل ستاسو (د بصرې خلقو) د فرېب او خیانت انجام ته په طمعه وم او د غولېدلو نښې مې په تاسو کښې لیدلې. په دینداری ستاسو تظاهر (ریاکاري) زمونږ په مېنځ کښې پرده راکښلې وه خو زما صفا او روڼ باطن ستاسو حقیقت ماته برسېره کړ.

۲: د امام علي عليه‌السلام ځانګړتیاوې او خصوصیتونه

زۀ د حق په لیکو چې په ګمراه کوُنکو لارو کښې ورکې وې ستاسو د راوستلو لپاره پاڅېدم په داسې حال کښې چې لالهانده وئ او رو ګودر مو نۀ موندۀ، تږې وئ او هر څومره کیندنه مو چې کوله څاڅکې اوبۀ مو نه موندلې، نن درته بنده خوله راسپړم، د هغه کس رایه به څه رایه وي چې ورسره مخالفت وکړي! له هغه ورځې چې حق رابښودل شوې دې یوه شبهه مې هم پکښې شک نۀ دې کړې، زما چپتیا د موسي عليه‌السلام د چپتیا په شان ده، موسي عليه‌السلام (د جادوګرانو په وړاندې) په ځان نۀ ویرېدۀ بلکه په دې ویرېدۀ چې داسې نۀ وي ناپوهان بریالي شي او د بې لارو حکومت واکمن شي. نن مونږ او تاسو د حق او باطل په دوه لارې ولاړ یوو. هغه کس چې د اوبو په شتون ډاډه وي تږی نۀ پاتې کېږي.

﴿ پینځمه خطبه ﴾

(د رسول الله مبارک صلی الله علیه وآله وسلم له رحلت او د سقیفې له قیصې وروسته حضرت عباس او ابو سفیان د خلافت وړاندیز وکړ او وې ویل چې مونږ ستا بیعت ته تیار یوو)

۱: له فتنو نه د ډډه کولو لارې

اې خلقو! د فتنو څپې د نجات په کشتیو[18] سره څیرې کړئ او د اختلاف او تیت پرکوالي له لارو اوغړېږئ، او د کبر او غرور شملې له سرونو کوزې کړئ، کامیاب شو هغه کس چې له ملګرو سره پاڅېد، یا څنډې ته شو او خلق یې راحته پرېښودل. دا ډول واکمني[19] سخا اوبۀ دي او په مری کښې نښتونکې نوړی ده، او څوک چې کچه او شنه مېوه وشوکوي د هغه کروندګر په شان دې چې د بل چا په ځمکه کښې کر وکړي.

۲: د چپتیا فلسفه

(په داسې حالاتو کښې راګېر یم چې) که خبره وکړم وائي به چې د حکومت اوږې دې او که غلې پاتې کېږم وائي چې له مرګه اویرېدۀ! هیڅکله نه، زۀ او له مرګه ویره! هغه هم له دومره جنګونو او ترخو پېښو وروسته! په خدای قسم د ابوطالب زوی له مرګ سره تر هغې زیاته مینه لري څومره چې یو ماشوم د مور له تې سره لرلې شي. دا چې چپتیا مې غوره کړه له داسې پېښنو او پټو خبرو خبر یم چې که راوې سپړم

[ ٦ ]

وَمِنْ كَلاَمٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ لَمَّا أُشِيرَ عَلَيْهِ بِأَلاَّ يَتْبَعَ طَلْحَةَ وَالزُّبَيْرَ وَلاَ يُرْصِدَ لَهُمَا الْقِتَالَ [وَفِيهِ يُبَيِّنُ عَنْ صِفَتِهِ بِأَنَّهُ لاَ يُخْدَعُ]

**وَاللهِ لاَ أَكُونُ كَالضَّبُعِ: تَنَامُ عَلَى طُولِ اللَّدْمِ، حَتَّى يَصِلَ إِلَيْهَا طَالِبُهَا، وَيَخْتِلَهَا رَاصِدُهَا، وَلكِنِّي أَضْرِبُ بِالْمُقْبِلِ إِلَى الْحَقِّ الْمُدْبِرَ عَنْهُ، وَبِالسَّامِعِ الْمُطِيعِ الْعَاصِيَ الْمُرِيبَ أَبَداً، حَتَّى يَأْتِيَ عَلَيَّ يَوْمِي. فَوَاللهِ مَا زِلْتُ مَدْفُوعاً عَنْ حَقِّي، مُسْتَأْثَراً عَلَيَّ، مُنْذُ قَبَضَ اللهُ تَعَالَى نَبِيَّهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ حَتَّى يَوْمِ النَّاسِ هذَا.**

[ ٧ ]

وَمِنْ خُطْبَةٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ يَذُمُّ أَتْبَاعَ الشَّيْطَانِ

**اتَّخَذُوا الشَّيْطَانَ لأَمْرِهِمْ مِلاَكاً، وَاتَّخَذَهُمْ لَهُ أَشْرَاكاً، فَبَاضَ وَفَرَّخَ فِي صُدُورِهِمْ، وَدَبَّ وَدَرَجَ فِي حُجُورِهِمْ، فَنَظَرَ بِأَعْيُنِهِمْ، وَنَطَقَ بِأَلْسِنَتِهِمْ، فَرَكِبَ بِهِمُ الزَّلَلَ، وَزَيَّنَ لَهُمُ الْخَطَلَ، فِعْلَ مَنْ قَدْ شَرِكَهُ الشَّيْطَانُ فِي سُلْطَانِهِ، وَنَطَقَ بِالْبَاطِلِ عَلَى لِسَانِهِ!**

[ ٨ ]

وَمِنْ كَلاَمٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ يَعْنِي بِهِ الزُّبَيْرَ فِي حَالٍ اقْتَضَتْ ذلِكَ
[وَيَدْعُوهُ لِلدُّخُولِ فِي الْبَيْعَةِ ثَانِيَةً]

**يَزْعُمُ أَنَّهُ قَدْ بَايَعَ بِيَدِهِ، وَلَمْ يُبَايِعْ بِقَلْبِهِ، فَقَدْ أَقَرَّ بِالْبَيْعَةِ، وَادَّعَى الْوَلِيجَةَ، فَلْيَأْتِ عَلَيْهَا بِأَمْرٍ يُعْرَفُ، وَإِلاَّ فَلْيَدْخُلْ فِيمَا خَرَجَ مِنْهُ.**

[ ٩ ]

وَمِنْ كَلاَمٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ فِي صِفَتِهِ وَصِفَةِ خُصُومِهِ وَيُقَالُ إِنَّهَا فِي

داسې به راوبوړنبړئ او راولړزبږئ لکه په ژور کوهي کښې رسۍ لړزيږي!

## ﴿ شپږمه خطبه ﴾

(د هجرت په شپږ دېرشم کال په مدينه کښې هغه وخت چې له امامه وغوښتل شو چې طلحه او زبير تعقيب نۀ کړي)

### د امام علم او مظلوميت

په خدا ے قسم! د بجو غوندې نه يم[20] (ناخبره او بې اطلاع نه يم او له هر څه خبر يم) او څوک مې نۀ شي راګېرولې چې ګوندې دښمنان مې ناڅاپه کلابند (محاصره) کړي او په چل ول سره مې اونيسي. زۀ هميشه د حق منونکو په مرسته له حقه سرغړونکي څپم او د مطيع فرمان وړونکي په مټ شکمن نافرمانه راپرځوم تر هغې ورځې چې زما آخري ورځ راورسېږي.نو په خدا ے قسم! زۀ هميشه له خپل حقه بې برخې پاتې شوے يم، او د رسول الله مبارکﷺ له وفاته وروسته تر ننه يې زما حق سپمولے او نورو ته يې ورکړے دے.

## ﴿ اومه خطبه ﴾

### د شيطان پيروکاران

(بې لارو) شيطان د خپل کار معيار ګرځولے او شيطان هم هغوي خپل ګوډاګيان ګرځولي دي او د هغوي په سينو کښې هګۍ اچوي او بچي راوړي. او خپل بچوړي يې د هغوي په لمن کښې ورزول د هغوي په سترګو يې کتل او د هغوي په ژبو غږېدل. شيطان هغوي د ګمراهۍ په سورلۍ کښېنولي او د هغوي بد کړۀ يې ورته ښائسته ښکاره کړي دي کټ مټ د هغه کس په شان چې شيطان يې په واک کښې شريک دے او شيطان خپله خبره د هم هغوي له خولې اوباسي.

## ﴿ اتمه خطبه ﴾

(په دغو ارزښتمنو خبرو کښې د هجرت په شپږ دېرشم کال د زبير بيعت ته اشاره شوې ده)

### د زبير لخوا د ژمنې او لوظ ماتول

زبير انګيري او ګمان کوي چې بيعت يې په لاس کړے دے نۀ په زړۀ سره[21]، نو له ما سره يې د بيعت اقرار وکړ خو ادعا يې وکړه چې له زړۀ يې نۀ دے کړے. هغه بايد د دغه ادعا لپاره دليل راوړي ګني خپل بيعت ته دې راستون شي.

## ﴿ نهمه خطبه ﴾

أَصْحَابَ الْجَمَلِ

وقَدْ أَرْعَدُوا وَأَبْرَقُوا، وَمَعَ هذَيْنِ الأَمْرَيْنِ الفَشَلُ، وَلَسْنَا نُرْعِدُ حَتَّى نُوقِعَ، وَلا نُسِيلُ حَتَّى نُمْطِرَ.

[ ١٠ ]

[يُرِيدُ الشَّيْطَانَ أَوْ يُكَنِّي بِهِ عَنْ قَوْمٍ]

أَلاَ وَإِنَّ الشَّيْطَانَ قَدْ جَمَعَ حِزْبَهُ وَاسْتَجْلَبَ خَيْلَهُ وَرَجِلَهُ، وَإِنَّ مَعِي لَبَصِيرَتِي. مَا لَبَّسْتُ عَلَى نَفْسِي، وَلاَ لُبِّسَ عَلَيَّ. وَايْمُ اللهِ لأُفْرِطَنَّ لَهُمْ حَوْضاً أَنَا مَاتِحُهُ! لاَ يَصْدُرُونَ عَنْهُ، وَلاَ يَعُودُونَ إِلَيْهِ.

[ ١١ ]

وَمِنْ كَلاَمٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ لابْنِهِ مُحَمَّدِ بْنِ الْحَنَفِيَّةِ
لَمَّا أَعْطَاهُ الرَّايَةَ يَوْمَ الْجَمَلِ

تَزُولُ الجِبَالُ وَلاَ تَزُلْ! عَضَّ عَلَى نَاجِذِكَ، أَعِرِ اللهَ جُمْجُمَتَكَ، تِدْ فِي الأَرْضِ قَدَمَكَ، ارْمِ بِبَصَرِكَ أَقْصَى القَوْمِ، وَغُضَّ بَصَرَكَ، وَاعْلَمْ أَنَّ النَّصْرَ مِنْ عِنْدِ اللهِ سُبْحَانَهُ.

[ ١٢ ]

وَمِنْ كَلاَمٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ لَمَّا أَظْفَرَهُ اللهُ تَعَالَى بِأَصْحَابِ الْجَمَلِ

وَقَدْ قَالَ لَهُ بَعْضُ أَصْحَابِهِ: وَدِدْتُ أَنَّ أَخِي فُلاَناً مَعَكَ شَاهِداً لِيَرَى مَا نَصَرَكَ اللهُ بِهِ عَلَى أَعْدَائِكَ. فَقَالَ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ: أَهَوَى أَخِيكَ مَعَنَا؟ قَالَ: نَعَمْ. قَالَ: فَقَدْ شَهِدَنَا، وَلَقَدْ شَهِدَنَا فِي عَسْكَرِنَا هذَا أَقْوَامٌ فِي أَصْلاَبِ الرِّجَالِ، وَأَرْحَامِ النِّسَاءِ، سَيَرْعَفُ بِهِمُ الزَّمَانُ، وَيَقْوَى بِهِمُ الإيمَانُ.

د طلحه او زبیر او (د جمل د اصحابو پېژندل)

د تندر په شان اوغرېدل او د برېښنا په شان اوبرېښېدل خو سست شول او څه يې اونۀ کړې شول؛ خو مونږ نۀ غورېږو او نۀ برېښېږو مګر دا چې عمل ورسره وي او تر څو چې اونه ورېږو سېلاب نۀ راولو.

## ﴿لسمه خطبه﴾

### د جمل د اصحابو پېژندنه.

خبر شئ چې شېطان[22] خپل ګوند راغونډ کړے او خپل پلي سپارۀ سپاهیان يې راغوښتي دي؛ خو زۀ کافي پوهه او بصيرت لرم نۀ مې حق پټ کړے او نۀ حق په ما پټ شوے دے. په خداے قسم! دا سې جبه به ورله جوړه کړم چې بې له ما به يې بل څوک چاره اونۀ کړې شي. څوک چې پکښې بوخت شي هيڅکله به راونۀ وزي او څوک چې ترې اوتښتي د ستنېدلو خيال به اونۀ کاندي.

## ﴿يولسمه خطبه﴾

(د جمل په جنګ کښې يې د هجرت په شپږ دېرشم کال د څلورمې خور په پينځلسمه د زيارت په ورځ خپل زوے محمد حنفيه[23] ته د بېرغ د ورکولو په وخت وفرمايل)

### فوځي زدکړې

غرونه به خوځي خو تۀ اونۀ خوځې غاښونه دې کلک چيچه، کپرۍ دې خداے ته په پور ورکړه پښه دې په ځمکه ټينګه کړه د دښمن د لښکر آخرو ليکو ته ګوره، د دښمن د شمېر په پرېمانۍ (زياتوالي) سترګې پټې کړه او پوه شه چې برے د پاک خداے له لوري دے.

## ﴿دولسمه خطبه﴾

(د هجرت په شپږ دېرشم کال د بصرې د جنګ له کاميابۍ وروسته د امام يو ملګري وويل ډېر زړۀ مې غوښتل چې ورور مې هم دلته وې او ليدلې يې وې چې خداے پاک څرنګه تاسو ته په دښمنانو باندې برے درکړې)

### په ثواب کښې د غائبانو شامېلېدل «چې څه نيت هغه يې مراد»

امام له هغه سړي وپوښتل آيا ستا د ورور فکر او زړۀ له مونږ سره وو، وې ويل: هو، امام وفرمايل: نو هغه هم په دغه جنګ کښې له مونږ سره شريک دے بلکه زمونږ تر څنګه جنګېدلے دے هغه کسان چې اوس دلته نشته، او د پلرونو په ملا او د مېندو په خېټو کښې دي خو له مونږ سره هم خياله دي ډېر زر به وزېږېږي او ايمان به د هغوي په وسيله ټينګ شي.

[ ١٣ ]

وَمِنْ كَلاَمٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ فِي ذَمِّ الْبَصْرَةِ وَأَهْلِهَا [بَعْدَ وَقْعَةِ الْجَمَلِ]

كُنْتُمْ جُنْدَ الْمَرْأَةِ، وَأَتْبَاعَ الْبَهِيمَةِ، رَغَا فَأَجَبْتُم، وَعُقِرَ فَهَرَبْتُمْ. أَخْلاَقُكُمْ دِقَاقٌ، وَعَهْدُكُمْ شِقَاقٌ، وَدِينُكُمْ نِفَاقٌ، وَمَاؤُكُمْ زُعَاقٌ. الْمُقِيمُ بَيْنَ أَظْهُرِكُمْ مُرْتَهَنٌ بِذَنْبِهِ، وَالشَّاخِصُ عَنْكُمْ مُتَدَارَكٌ بِرَحْمَةٍ مِنْ رَبِّهِ. كَأَنِّي بِمَسْجِدِكُمْ كَجُؤْجُؤِ سَفِينَةٍ، قَدْ بَعَثَ اللهُ عَلَيْهَا الْعَذَابَ مِنْ فَوْقِهَا وَمِنْ تَحْتِهَا، وَغَرِقَ مَنْ فِي ضِمْنِهَا. وَفِي رِوَايَةٍ: وَأَيْمُ اللهِ لَتَغْرَقَنَّ بَلْدَتُكُمْ حَتَّى كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى مَسْجِدِهَا كَجُؤْجُؤِ سَفِينَةٍ، أَوْ نَعَامَةٍ جَاثِمَةٍ. وَفِي رِوَايَةٍ أُخْرَى: كَجُؤْجُؤِ طَيْرٍ فِي لُجَّةِ بَحْرٍ. وَفِي رِوَايَةٍ أُخْرَى: بِلاَدُكُمْ أَنْتَنُ بِلاَدِ اللهِ تُرْبَةً: أَقْرَبُهَا مِنَ الْمَاءِ، وَأَبْعَدُهَا مِنَ السَّمَاءِ، وَبِهَا تِسْعَةُ أَعْشَارِ الشَّرِّ، الْمُحْتَبَسُ فِيهَا بِذَنْبِهِ، وَالْخَارِجُ بِعَفْوِ اللهِ، كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى قَرْيَتِكُمْ هذِهِ قَدْ طَبَّقَهَا الْمَاءُ، حَتَّى مَا يُرَى مِنْهَا إِلاَّ شُرَفُ الْمَسْجِدِ، كَأَنَّهُ جُؤْجُؤُ طَيْرٍ فِي لُجَّةِ بَحْرٍ!

## ﴿ دیارلسمه خطبه ﴾

(د هجرت په شپږ دېرشم کال د جمعې په ورځ د جنګ له ختمېدو وروسته یې د ښار په جامع جومات کښې د بصرې د خلقو په غندنه کښې وفرمایل)

### د ټولنې د پرېوتو لاملونه او اسباب

تاسو د یوې ښځې[24] سپاهیان او د یو څاروي (د بي بي عائشې د اوښې) لارویان وئ. تر څو چې اوښه برړیده، جنګېدئ خو چې لاس او پښې یې غوڅ شول اوتښتېدئ.[25] اخلاق مو پرېوتي او تړون مو شلیدلی او دین مو دوه رنګه او اوبهٔ مو تروې او بې خونده دي. په تاسو کښې پاتېدونکي د ګناه په سزا اخته کېږي او له تاسو تلونکي د خدای رحمت مومي. ماته داسې ښکاري چې ستاسو جومات وینم چې د هغې کیشتۍ د سینې په شان ډوبېدونکی دی چې د خدای عذاب له کوز او بره راګیره کړې وي او سورلۍ یې ټولې غرقې شي. «په یو بل روایت کښې دي» په خدای قسم ستاسو ښار به اوبهٔ ډوبوي داسې ښکاري چې ستاسو جومات وینم چې د کیشتۍ د سینې یا د شتر مرغ په شان چې په سینه د اوبو د پاسه ناست وي[26] «په یو بل روایت کښې راغلي دي» د دریاب د اوبو د پاسه د چرګې د سینې په شان. «او په یو بل روایت کښې دي چې» ستاسو د ښار خاوره تر ټولو بد بارنه ده له هر ځایه زیاته اوبو ته نژدې او له آسمانه لرې او په لسو کښې نهه برخې شر پکښې دي. څوک چې ستاسو په ښار کښې وي په ګناه اخته کېږي او څوک چې ترې اوځي د خدای پاک د عفوې په پناه کښې به وي ګواکې ستاسو ښار ته ګورم چې غرق شوی دی او اوبو رانیولی او څه ترې نهٔ لیدل کېږي. مګر د جومات کنګرې لکه د دریاب د پاسه د چرګې سینه.

[ ١٤ ]

فِي مِثْلِ ذَلِكَ

أَرْضُكُمْ قَرِيبَةٌ مِنَ الْمَاءِ، بَعِيدَةٌ مِنَ السَّمَاءِ، خَفَّتْ عُقُولُكُمْ، وَسَفِهَتْ حُلُومُكُمْ، فَأَنْتُمْ غَرَضٌ لِنَابِلٍ، وَأُكْلَةٌ لآكِلٍ، وَفَرِيسَةٌ لِصَائِدٍ.

## ﴿ څوارلسمه خطبه ﴾

(د جمل جنګ له شروع کېدو مخکې او د بصرې د خلقو او ټاټوبي په غندنه کښې)

### په انسان باندې د ژواک د چاپېریال اغېزې او اثرات

ستاسو ټاټوبی اوبو ته نژدې او له آسمانه لرې دی[27] عقلونه مو سست او فکرونه مو لیوني دي نو د غشي ویشتونکي نښه، د خوړونکي خوراک او د ښکاري ښکار یئ.

[ ١٥ ]

وَمِنْ كَلاَمٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ فِي مَا رَدَّهُ عَلَى الْمُسْلِمِينَ مِنْ قَطَائِعِ عُثْمَانَ

وَاللهِ لَوْ وَجَدْتُهُ قَدْ تُزُوِّجَ بِهِ النِّسَاءُ، وَمُلِكَ بِهِ الإِمَاءُ،

## ﴿ پنځلسمه خطبه ﴾

(د بیت المال د پرېمانه مالونو په حقله ده چې حضرت عثمان خپلو خپلوانو ته ورکړي وو ابن عباس وائي امام علي(ع) د هجرت په ۳۵م کال د خلافت په دویمه ورځ دا وېنا وکړه)

### د امام اقتصادي سیاست

لَرَدَدْتُه؛ فَإنَّ فِي العَدْلِ سَعَةً، وَمَنْ ضَاقَ عَلَيْهِ العَدْلُ، فَالجَوْرُ عَلَيْهِ أَضيَقُ!

په خداے قسم! لوټ شوے بیت المال چې هر ځاے ووینم اصلي خاوندانو ته به یې ستون کړم که څه هم په هغۀ یې ودونه کړي وي یا یې پرې وینځې اخبستې وي.ځکه چې عدل (انصاف) د عوامو لپاره پراختیا ده او څوک چې عدل نۀ شي زغملے د ظلم زغمل ورته لا سخت دي.

«د دې خطبې په حقله د پښتو تکړه شاعر او عارف حمزه شینواري د نهج البلاغې په پښتو ژباړې او سپړنې کښې چې د سپیڅلې ویناوې په نامه د هغۀ په قلم چاپ شوې ده په ۶۹ مخ د زۀ وایم تر عنوان لاندې لیکي:»

## زۀ وائم

د جاګیرونو واپس کول هم ځینې خلق په حضرت علي؈ یو اعتراض ګڼي چې ګوندې د خانداني دښمنۍ په وجه یې واپس کړل خو دا خبره بېخي صحیح نۀ ده. د حضرت عمرؓ د خلافت په زمانه کښې هم حضرت علي؈ دا وېنا حضرت عمرؓ ته کړې وه چې تا کوم جاګیرونه خلقو ته ورکړي دي د دې نتیجه به دا وي چې ټوله سرمایه به هم دغو جاګیردارانو ته راغونډه شي او عوام به غریبان شي، ځکه چې د جاګیردارانو خرچ د آمدن په مقابله کښې ډېر کم دے نو له هغوي څخه به ورځ په ورځ سرمایه جمع کیږي، او بیا به په دغه سرمایه نور جائېدادونه اخلي خو حضرت عمرؓ وویل چې دغو خلقو په مختلفو غزاګانو کښې ډېر کړاؤ او قربانۍ کړې دي زۀ ترې دا جاګیرونه څرنګه واخلم خو څه موده پس هم هغه وشول چې حضرت علي؈ ویلي وو، سرمایه کمو کسانو ته راغونډه شوه او په عوامو کښې مفلسي خوره شوه. حضرت عمرؓ حضرت علي؈ ته وویل چې ستا خیال صحیح ؤ زۀ عنقریب له خلقو نه جاګیرونه واپس کوونکے یم خو خداے ته منظوره نه وه حضرت عمرؓ عنه ډېر زر له دنیا لاړ او جاګیرونه هم هغو خلقو سره پاتې شول. بیا چې حضرت عثمانؓ د خلافت واګې په لاس کښې واخستې نو هغوي د دې د پاسه نور جائېدادونه هم ورکړل چې زیات تعداد یکښې د بني امیو ؤ.

[ ١٦ ]

﴿ شپاړسمه خطبه ﴾

لَمَّا بُويِعَ بِالْمَدِينَةِ، وَفيهَا يُخبِرُ النَّاسَ بِعلْمِه بِمَا تَؤُولُ إِلَيْه أَحْوَالُهُمْ

(له امام سره د مدینې د خلقو له بیعته وروسته دا وړومبۍ وېنا وه چې د هجرت په ۳۵م کال یې وکړه)

١. سِيَاسَةُ النّظَامِ

ذِمَّتي بِمَا أَقُولُ رَهِينَةٌ وَأَنَا بِهِ زَعِيمٌ: إنَّ مَنْ صَرَّحَتْ لَهُ العِبرُ عَمَّا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ المَثُلاتِ،حَجَزَه التَّقْوَى عَنْ تَقَحُّمِ الشُّبُهَاتِ. أَلاَ وَإِنَّ بَلِيَّتَكُمْ قَدْ عَادَتْ كَهَيْئَتِهَا يَوْمَ بَعَثَ اللهُ نَبِيَّهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِه وَالَّذي بَعَثَهُ بِالحَقِّ لَتُبَلْبَلُنَّ بَلْبَلَةً، وَلَتُغَرْبَلُنَّ غَرْبَلَةً، وَلَتُسَاطُنَّ سَوْطَ القِدْرِ، حَتَّى يَعُودَ أَسْفَلُكُمْ أَعْلاَكُمْ، وَأَعْلاَكُمْ أَسْفَلَكُمْ، وَلَيَسْبِقَنَّ سَابِقُونَ كَانُوا قَصَّرُوا، وَلَيُقَصِّرَنَّ سَبَّاقُونَ كَانُوا سَبَقُوا.

### ١: د امام حکومتي سیاستونه

څه چې وایم ذمه واري یې اخلم، او په خپله پرې پابند پاتے کېږم. چاته چې د تېرو عبرتونه څرګند شي او له عذابه یې پند واخلي تقوا او زغم به یې د شبهو په ګړنګ کښې له پرېوتو اوساتي.خبر اوسئ په تاسو یو ځل بیا د رسول الله مبارکﷺ د بعثت د وخت سختیو ګېرو او د ازمېښت ورځو بیا تاسو ته مخه کړې ده. په هغه خداے مې قسم چې خپل نبيﷺ یې وګمارۀ،تاسو به سخت اوزمایل شئ او په غلبیل کښې د دانو په شان به ښکته پورته کړې شئ او په دېګچې کښې د خوړو په شان به اولړل او لاندې باندې کړې شئ هغه کسان به چې په اسلام کښې یې مخینه لړله خو تر اوسه شاته کړي شوي وو رامخکې او هغه کسان چې په ناحقه راوړاندې شوي وو شاته کړې شي.

حمزه بابا په سپیڅلې وینا کښې په یو اویایم مخ د دې خطبې لاندې لیکي:

## زۀ وایم

په دې خطبه کښې چې حضرت علي؈ فرمایلي دي چې مصیبت او بلا بیا د هغې ورځ په شېر راغلي دي لکه څرنګه چې ستاسو نبيﷺ ته د رسالت ذمه واري سپارلې شوې وه. دا ډېره اهمه خبره ده او په دې کښې امیرالمومنین د هغه وخت د مسلمانانو اخلاقي او مذهبي پرېوتي حېثیت ته اشاره کړې ده. حقیقت دا دے چې د حضرت علي؈ په وخت کښې د اکثرو مسلمانانو دا حال ؤ چې هغوي له دین نه زیاته دنیا غوره ګڼله بیا چې د حضرت عمرؓ او حضرت عثمانؓ د خلافت په زمانه کښې کوم مسلمانان د جهاد په سلسله کښې خارج ته لاړل نو له ځان سره یې نوي نوي خیالات او نوي نوي فلسفې راوړې. په هغو کښې هغه مسلمانان خال خال پاتې وو کومو چې د رسول کریمﷺ د صحبت شرف حاصل کړے ؤ. هم له دې ویرې احساس وۀ

چې حضرت عمرؓ په خپله زمانه کښې د رسول کریمﷺ اصحابو ته دا اجازه نۀ ورکوله چې خارج ته لاړ شي. بیا د حضرت عثمانؓ د نرم خوي په وجه چې بني امیوکومه فضا پیدا کړې وه په هغې کښې دین اوچتول ببخي داسې وو لکه چې په ابتداء کښې د رسول کریمﷺ تبلیغ. او هم دې ته حضرت عليؑ اشاره کړې ده. خو افسوس په هغوخلقو دے چې حضرت عليؑ د نظم او ضبط په حقله کمزورے ګڼي او د حضرت عمرد خلافت د زمانې په هغو شاندارو کامیابو بې سترګې بربنبدلي دي، حالانکې د دې جواب حضرت عليؑ معترضاتو ته په خپله هم داسې ورکړے ؤ چې: «د هغوي وزیر (مشوره ورکوونکے) زۀ وم او زما وزیران تاسو یئ.»

بې شکه د حضرت عمر په زمانه کښې ډېر فتوحات شوي وو خو د حضرت عمرؓ دې ته فکر نۀ ؤ چې د دغو فتوحاتو په ډډ کښې د مسلمانانو ضمېر ته د خارج الحاد او دنیا پرستي هم راروانه ده.

٢. إِسْتِقَامَةُ الإِمَامِ عَلَيْهِ السَّلامُ وَصِدْقُهُ

**وَاللهِ مَا كَتَمْتُ وَشْمَةً، وَلا كَذَبْتُ كِذْبَةً، وَلَقَدْ نُبِّئْتُ بِهذَا المَقَامِ وَهذَا اليَوْمِ. أَلاَ وَإِنَّ الخَطَايَا خَيْلٌ شُمُسٌ حُمِلَ عَلَيْهَا أَهْلُهَا، وَخُلِعَتْ لُجُمُهَا، فَتَقَحَّمَتْ بِهِمْ فِي النَّارِ. أَلاَ وَإِنَّ التَّقْوَى مَطَايَا ذُلُلٌ، حُمِلَ عَلَيْهَا أَهْلُهَا، وَأُعْطُوا أَزِمَّتَهَا، فَأَوْرَدَتْهُمُ الجَنَّةَ. حَقٌّ وَبَاطِلٌ، وَلِكُلٍّ أَهْلٌ، فَلَئِنْ أَمِرَ البَاطِلُ لَقَدِيماً فَعَلَ، وَلَئِنْ قَلَّ الحَقُّ لَرُبَّمَا وَلَعَلَّ، وَلَقَلَّمَا أَدْبَرَ شَيءٌ فَأَقْبَلَ!**

### ٢: د امام اخلاقي فضائل

په خدا ے قسم د حق یوه خبره مې هم نۀ ده پټه کړې او هیڅکله مې دروغ نه دي ویلي، له وړومبې ورځې څخه د خلافت له دغه مقام او دغې ورځې خبر راکړے شوے ؤ. خبر اوسئ چې ګناهانې د هغه اړې مارې سورلۍ په شان دي چې جلب یې شلیدلے وي او خپل سپارۀ د دوزخ په ګړنګ کښې غورځوي او خبر اوسئ چې تقوا د هغې رامې سورلۍ په شان ده چې خپل سوارۀ جلب او واګې په لاس جنت ته ننباسي. حق او باطل تل په ډغره دي، که باطل لاسبرے شو د حیرانۍ خبره نۀ ده څکه چې له پخوا همداسې شوي دي او که د حق پلویان کم دي ښائي یوه ورځ به زیات او لاسبري شي خو څه چې تېر شي هغه ډېر کم بېرته جاراوځي.

«سید رضي وائي د حق او باطل په حقله د امام خبرې دومره ښکلې او بامعنا دي چې د هیڅ وېناوال خبره ورته نۀ شي وررسېدې، او تر دې زیات چې مونږ حیرانه کړي پخپله تعجب ورته لاس په نامه دے. په دې کلام کښې امام د فصاحت داسې نرو ټکو ته نغوته کړې ده چې نۀ یې ژبه د بیان وس لري او نۀ یې کوم انسان ژورتیاو ته رسېدې شي. او په دې حقیقت یوازې هغه کس پوهېدلے شي چې د فصاحت وادۍ یې کچ کړې وي او د فصاحت د علم عالمان وي.

او د دې خطبې یوه بله برخه ده چې فرمائي:

٣. حَقِيقَةُ الضَّلاَلِ وَضَرُورَةُ التَّقْوَى

**...شُغِلَ مَنِ الجَنَّةُ وَالنَّارُ أَمَامَهُ! سَاعٍ سَرِيعٌ نَجَا، وَطَالِبٌ بَطِيءٌ رَجَا، وَمُقَصِّرٌ فِي النَّارِ هَوَى. اليَمِينُ وَالشِّمَالُ مَضَلَّةٌ، وَالطَّرِيقُ الوُسْطَى هِيَ الجَادَّةُ، عَلَيْهَا بَاقِي الكِتَابِ وَآثَارُ النُّبُوَّةِ، وَمِنْهَا مَنْفَذُ السُّنَّةِ، وَإِلَيْهَا مَصِيرُ العَاقِبَةِ. هَلَكَ مَنِ ادَّعَى، وَخَابَ مَنِ افْتَرَى، مَنْ أَبْدَى صَفْحَتَهُ لِلْحَقِّ هَلَكَ، وَكَفَى بِالْمَرْءِ جَهْلاً أَلاَّ يَعْرِفَ قَدْرَهُ، لاَ يَهْلِكُ عَلَى التَّقْوَى سِنْخُ أَصْلٍ، وَلاَ يَظْمَأُ عَلَيْهَا زَرْعُ قَوْمٍ. فَاسْتَتِرُوا بِبُيُوتِكُمْ، وَأَصْلِحُوا ذَاتَ بَيْنِكُمْ، وَالتَّوْبَةُ مِنْ وَرَائِكُمْ، وَلاَ يَحْمَدْ حَامِدٌ إِلاَّ رَبَّهُ، وَلاَ يَلُمْ لاَئِمٌ إِلاَّ نَفْسَهُ.**

### ٣: د بې لارۍ حقیقت او د تقوا ضرورت

د چا چې جنت او دوزخ مخې ته دي هڅه کوي، ځینې د حق په لور ورځغلي چې ژغورېدونکي دي او ځینې ګرندي روان دي چې هیله مند دي او ځینې یې کوتاهي کوي چې د دوزخ په اور کښې ښکېل دي. ښې او کیڼ ته ګمراهي ده او د مینځ لار د خدا ے نېغه لار ده چې قرآن او د نبوت آثار یې سپارښتنه کوي. او د سنتو روده ده. او د ټولو جاروتل همدغه لور ته دي[٢٨]. د باطل ادعا کوونکي هلاک شول او دروغجن تاواني شول، څوک چې له حق سره ښکېل شول تباه شول او د انسان د ناپوهۍ لپاره هم دومره بس ده چې د ځان قدر اونۀ پېژني. کوم بنسټ او بنیاد چې په اصل کښېنودل شو نړېدل نۀ لري او چا چې ځان د تقوا په اوبو خړوب کړ تږي کېدل نۀ لري. اے خلقو! خپلو کورونو ته مخه کړئ او خپل مینځي چارې سمې کړئ له بدو کړو وروسته توبه او جاروتل شته دے. بې له خپل پالونکي د چا ستائنه مه کوئ او بې له خپله ځانه د چا غندنه مه کوئ.

[ ١٧ ]

## ﴿ اولسمه خطبه ﴾

(په دې خطبه کښې د قضاوت هغه مدعیان راپېژني چې د دې مقام وړ نۀ

فِي صِفَةِ مَنْ يَتَصَدَّى لِلْحُكْمِ بَيْنَ الأُمَّةِ وَلَيْسَ لِذَلِكَ بِأَهْلٍ

۱. مَعْرِفَةُ أَشْقَى النَّاس

**إِنَّ أَبْغَضَ الخَلائِقِ إِلَى اللهِ تعالى رَجُلانِ: رَجُلٌ وَكَلَهُ اللهُ إِلَى نَفْسِهِ، فَهُوَ جَائِرٌ عَنْ قَصْدِ السَّبِيلِ، مَشْغُوفٌ بِكَلامِ بِدْعَةٍ، وَدُعَاءِ ضَلالَةٍ، فَهُوَ فِتْنَةٌ لِمَنِ افْتَتَنَ بِهِ، ضَالٌّ عَنْ هَدْيِ مَنْ كَانَ قَبْلَهُ، مُضِلٌّ لِمَنِ اقْتَدَى بِهِ فِي حَيَاتِهِ وَبَعْدَ وَفَاتِهِ، حَمَّالٌ خَطَايَا غَيْرِهِ، رَهْنٌ بِخَطِيئَتِهِ. وَرَجُلٌ قَمَشَ جَهْلاً، مُوضِعٌ فِي جُهَّالِ الأُمَّةِ، غَادِرٍ فِي أَغْبَاشِ الفِتْنَةِ، عَمٍ بِمَا فِي عَقْدِ الهُدْنَةِ، قَدْ سَمَّاهُ أَشْبَاهُ النَّاسِ عَالِماً وَلَيْسَ بِهِ، بَكَّرَ فَاسْتَكْثَرَ مِنْ جَمْعٍ، مَا قَلَّ مِنْهُ خَيْرٌ مِمَّا كَثُرَ، حَتَّى إِذَا ارْتَوَى مِنْ مَاءٍ آجِنٍ، وَأَكْثَرَ مِنْ غَيْرِ طَائِلٍ،**

۲. نَفْسِيَّةُ أَدْعِيَاءِ الْقَضَاءِ

**جَلَسَ بَيْنَ النَّاسِ قَاضِياً ضَامِناً لِتَخْلِيصِ مَا الْتَبَسَ عَلَى غَيْرِهِ، فَإِنْ نَزَلَتْ بِهِ إِحْدَى المُبْهَمَاتِ هَيَّأَ لَهَا حَشْواً رَثّاً مِنْ رَأْيِهِ، ثُمَّ قَطَعَ بِهِ، فَهُوَ مِنْ لَبْسِ الشُّبُهَاتِ فِي مِثْلِ نَسْجِ العَنْكَبُوتِ: لا يَدْرِي أَصَابَ أَمْ أَخْطَأَ، إِنْ أَصَابَ خَافَ أَنْ يَكُونَ قَدْ أَخْطَأَ، وَإِنْ أَخْطَأَ رَجَا أَنْ يَكُونَ قَدْ أَصَابَ. جَاهِلٌ خَبَّاطُ جَهَلاتٍ، عَاشٍ رَكَّابُ عَشَوَاتٍ، لَمْ يَعَضَّ عَلَى العِلْمِ بِضِرْسٍ قَاطِعٍ، يُذْرِي الرِّوَايَاتِ إِذْرَاءَ الرِّيحِ الهَشِيمَ،**

**اَ مَلِيٌّ ـ وَاللهِ ـ بِإِصْدَارِ مَا وَرَدَ عَلَيْهِ، وَلا هُوَ أَهْلٌ لِمَا فُوِّضَ إِلَيْهِ، لا يَحْسَبُ العِلْمَ فِي شَيْءٍ مِمَّا أَنْكَرَهُ، وَلا يَرَى أَنَّ مِنْ وَرَاءِ مَا بَلَغَ مِنْهُ مَذْهَباً لِغَيْرِهِ، وَإِنْ أَظْلَمَ عَلَيْهِ أَمْرٌ اكْتَتَمَ بِهِ لِمَا يَعْلَمُ مِنْ جَهْلِ نَفْسِهِ، تَصْرُخُ مِنْ جَوْرِ قَضَائِهِ الدِّمَاءُ، وَتَعَجُّ مِنْهُ المَوَارِيثُ. إِلَى اللهِ أَشْكُو مِنْ مَعْشَرٍ يَعِيشُونَ جُهَّالاً، وَيَمُوتُونَ ضُلَّالاً، لَيْسَ فِيهِمْ سِلْعَةٌ أَبْوَرُ مِنَ الكِتَابِ إِذَا تُلِيَ حَقَّ تِلاوَتِهِ، وَلا سِلْعَةٌ أَنْفَقُ بَيْعاً وَلا أَغْلَى ثَمَناً مِنَ الكِتَابِ إِذَا حُرِّفَ عَنْ مَوَاضِعِهِ، وَلا عِنْدَهُمْ أَنْكَرُ مِنَ المَعْرُوفِ، وَلا أَعْرَفُ مِنَ المُنْكَرِ!**

دي)

۱: د بدبختو کسانو پېژندل.

د خداے په نزد تر ټولو بد کسان دوه دي يو قسم هغه سړے چې خداے پاک خپلې مخې ته پرې اېښے دے او له نيغې لارې غړېدلے دے. د داسې کس زړۀ په بدعتونو مئين دے، خلق بې لارې کوي او فتنو ته يې کاږي،دۀ د تېرو کسانو د هدايت لاره ورکه کړې او خپل لارويان او راتلونکي گمراه کوي هم د نورو د گناهونو پېټي په غاړه لري او هم په خپلو بديو گرو دے، او بل هغه سړے چې مجهولات او چټيات يې اوبدلي او د امت په ناپوهو خلقو کښې يې ځانته مقام او ځاے جوړ کړے دے، داسې کس د فتنې په تيرو کښې پټ دے او سترگې يې د مينې او صلحې له ليدلو ړندې دي، انسان وزمه کسان ورته عالم وائي خو عالم نۀ دے او داسې څيز ډېر راجمع کوي چې لږ يې تر ډېره ښه دي.تر دې چې په گنده اوبو خړوب شي او چټي معلومات او علم راغونډ کړي.

۲: او بيا په خلقو کښې له ځانه قاضي جوړ کړي او د نورو د مشکلاتو هوارې په غاړه واخلي، نو که څه ستونځه پېدا شي په پوچو او چټي خبرو او دروغو نظرونو سره يې د لرې کولو هڅه کوي، او بيا په خپلو پوچو خبرو باور پېدا کړي، داسې سړے د هغه غڼې (جولا) په شان دے چې په خپلو شبهو او اوبدلو کښې يې ځان رانغښتے وي او نۀ پوهېږي چې په سمه دے که په خطا. او که په سمه هم وي وېرېږي چې خطا يې نۀ وې کړې، هيله مند وي چې رايه يې سمه وي.دا هغه ناپوهه دے چې د جهالت لاره وهي، او هغه ړوند دے چې په تيارۀ کښې خپله ورکه لټوي، د علم او يقين له مخې خبره نۀ کوي؛روايتونه په ناخبرۍ او ناپوهۍ سره روايتوي د هغه زول په شان چې اوچ واښۀ شوکوي روايتونه اړوي را اړوي خو نتيجه ترې نۀ شي اخستلې. په خداے قسم نۀ د مشکلاتو او ستونځو د حکم په ورکولو پوهېږي او نۀ د قضاوت د منصب وړتيا لري، د څه شي چې انکار کوي هغه ته علم نۀ وائي او بې له خپل دود او دستور هيڅ مذهب حق نۀ گڼي؛ که په يو حکم نۀ پوهېږي هغه پټوي چې ناپوهي يې نورو ته ښکاره نۀ شي؛د هغۀ د ظالمانه حکم له امله د بېگناهانو وينه فرياد کوي او د تباه شويو ميراثونه چغې وهي. خداے پاک ته شکايت کوم د هغو خلقو چې په جهل او ناپوهۍ کښې ژوند کوي او په گمراهۍ کښې مري، هغوي ته که قرآن سم ولوستل شي نو تر قرآنه زيات خوار او بې ارزښته څيز د هغوي په نزد بل څه نۀ وي او که قرآن ورته په غلطه او تحريف شوې معنا ولوستل شي نو بيا تر قرآنه زيات ارزښتناک او قيمتي څيز بل نۀ گڼي، او د هغوي په نزد له معروف يعني ښۀ کاره بد څيز او له منکره ښۀ بل څه نشته.

حمزه بابا د سپيڅلي ويناوې په ۷۵م او ۷۶ م مخ د دغه خطبې په حقله د زۀ وايم تر عنوان لاندې ليکي:

### زۀ وايم

د اميرالمومنين په دې خطبه کښې چې کومو خلقو ته اشارې شوې دي کېدې شي چې چا پرې څه ليکلي وي بيا په تېره په قرآن حکيم کښې د تحريف خبرې. ځکه چې داسې ښکاري چې په هغه وخت کښې د تحريف ګنګوسې ضرور وې ګنې اميرالمومنين به هيچرې دا نۀ وو فرمايلي. د جمع القرآن په حقله چې په امت کښې کوم اختلاف دے تر اوسه يې څه فېصله نۀ ده شوې . په دې حقله په شيعو کښې دوه ډلې دي چې يوه د تحريف قائله ده او دويمه نه، کومه چې د تحريف قائله ده د هغوي تعداد ډېر کم دے اوکومه چې قائله نۀ ده د هغې تعداد زيات دے. البته د ترتيب په حقله خو د اهلسنتو هم دا عقيده ده چې د نزول په مطابق نۀ دے، خو دا هم وائي چې دا موجوده ترتيب د رسول کريمﷺ په حکم شوے دے. خو د دې په خلاف هم ډېر روايات دي لکه چې د بخاري هغه اوږد روايت دے چې راوي يې حضرت عمرؓ دے چې د ډېرو حافظانو د شهادت په وجه له هغوي سره وېره پېدا شوې وه چې چرته قرآن زمونږ نه لاړ نۀ شي او حضرت ابوبکرؓ ته يې د جمع کولو راې ورکړې وه او هغوي ويلي وو چې کوم کار رسول اللهﷺ نۀ دے کړے هغه زۀ څرنګه وکړم. بيا اهلسنت د څو داسې آيتونو هم قائل دي چې متروک التلاوت ورته وائي چې په قرآن کښې شامل نۀ دي خو حکم يې باقي دے. او دا هم وائي چې حضرت عثمانؓ عنه چې قرآن له نوي سر نه جمع کړ نو باقي نسخې يې تلف کړې، دا اتلاف هم دا خبره ثابتوي چې په هغو نسخو کښې څه نقصان موجود ؤ . په اتقان کښې يې ليکلي دي چې حضرت علي؈ هم د خپل جمع کړي قرآن نسخه حضرت ابوبکرؓ ته وړاندې کړې وه خو هغوي منظوره نۀ کړه. ابن مسعودؓ هم خپل جمع کړے قرآن حضرت عثمانؓ ته ورکولو نوهن تر دې چې دومره يې وواهۀ چې له هغو وهلو نه يې فتق وشو. اهل سنت دا هم وائي چې هر کال به جبرائيل؈ د رسول کريمﷺ سره د قرآن ګردان کولو. دا روايت خو ما ته بېخي پوچ ښکاري ځکه چې له دې نه خو دا ثابتيږي چې ګويا رسول کريمﷺ د قرآن حافظ نۀ ؤ، او نعوذ بالله د خداے دا فرمان غلط دے چې: «اے نبي د قرآن په حفظ کښې تندي مۀ کوه، دا درباندې زۀ نازلوم او ستا په زړۀ کښې د دې جمع کول هم زما کار دے. دا مسئله ډېر وخت غواړي، دلته ما سره دومره وخت نشته او نۀ د هغو کتابونو انتظام شته له کومو نه چې په دې مسئله پوره پوره رڼا پرېوزي.

### [ ۱۸ ]

في ذَمِّ اخْتِلاَفِ الْعُلَمَاءِ فِي الْفُتْيَا [ذَمُّ أَهْلِ الرَّأْيِ]

۱. نَقْدُ مَسْلَكِ أَهْلِ الرَّأْيِ

تَرِدُ عَلَى أَحَدِهِمُ الْقَضِيَّةُ فِي حُكْمٍ مِنَ الْأَحْكَامِ فَيَحْكُمُ فِيهَا بِرَأْيِهِ، ثُمَّ تَرِدُ تِلْكَ الْقَضِيَّةُ بِعَيْنِهَا عَلَى غَيْرِهِ فَيَحْكُمُ فِيهَا بِخِلاَفِ قَوْلِهِ، ثُمَّ يَجْتَمِعُ الْقُضَاةُ بِذٰلِكَ عِنْدَ إِمَامِهِمُ الَّذِي اسْتَقْضَاهُمْ، فَيُصَوِّبُ آرَاءَهُمْ جَمِيعاً، وَإِلٰهُهُمْ وَاحِدٌ! وَنَبِيُّهُمْ وَاحِدٌ! وَكِتَابُهُمْ وَاحِدٌ! أَفَأَمَرَهُمُ اللهُ ـ سُبْحَانَهُ ـ بِالْاخْتِلاَفِ فَأَطَاعُوهُ! أَمْ نَهَاهُمْ عَنْهُ فَعَصَوْهُ! أَمْ أَنْزَلَ اللهُ سُبْحَانَهُ دِيناً نَاقِصاً فَاسْتَعَانَ بِهِمْ عَلَى إِتْمَامِهِ! أَمْ كَانُوا شُرَكَاءَ لَهُ فَلَهُمْ أَنْ يَقُولُوا وَعَلَيْهِ أَنْ يَرْضَى؟

۲. كَمَالُ الدِّينِ

أَمْ أَنْزَلَ اللهُ سُبْحَانَهُ دِيناً تَامّاً فَقَصَّرَ الرَّسُولُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ عَنْ تَبْلِيغِهِ وَأَدَائِهِ؟ وَاللهُ سُبْحَانَهُ يَقُولُ: ﴿مَا فَرَّطْنَا فِي الْكِتَابِ مِنْ شَيْءٍ﴾ وَفِيهِ تِبْيَانٌ لِكُلِّ شَيْءٍ،

### ﴿ اتلسمه خطبه ﴾

(د اسلام په يقيني احکامو کښې د علماو د اختلاف راې غندنه)

#### ۱: په قضاوت کښې د ځان خوښې غندنه

د فتوو ورکوُنکو حال نن سبا دا دے چې په هغوي کښې که يو کس ته د شرعي مسئلې د حکم لپاره ورشي نو په خپله خوښه حکم ورکوي. او بيا که هم دا مسّله بل ته ورورېې نو کټ مټ د ورومبي کس په اپوټه حکم ورکوي. بيا ټول قاضيان خپل مشر ته چې هغوي په قضاوت ټاکلے دے ورغونډيږي او هغه د دې ټولو رايه برحقه ګڼي،[۲۹] حال دا چې خداے پاک يې يو، پېغمبرﷺ يې يو او کتاب يې يو دے، آيا پاک خداے هغوي ته د اختلاف امر کړے دے چې هغوي منلے دے؟ او که نه خداے هغوي له اختلافه منعې کړي دي خو هغوي سرغړونه کړې ده؟

#### ۲: د اسلامي امت د وحدت بنسټونه.

آيا پاک خداے نيمګړے دين رالېږلے دے او په کاملولو کښې يې له هغوي مرسته غوښتې ده. او که نه هغوي د خداے شريکان دي چې هر څه وغواړي په دين کښې ووائي او خداے پرې راضي شي؟[۳۰]

آيا خداے تعالي دين بشپړ رالېږلے خو پېغمبرﷺ يې په رسولو کښې کوتاهي کړې ده؟ حال دا چې پاک خداے فرمائي: «مونږ په قرآن کښې هيڅ له بيانه نۀ دي پرې ايښې» او وې فرمايل په قرآن کښې د هر څه بيان دے او يادونه يې وکړه چې «ځينې قرآن په ځينې نور ګواه او

وَذَكَرَ أَنَّ الكِتَابَ يُصَدِّقُ بَعْضاً، وأَنَّهُ لاَ اخْتِلاَفَ فِيهِ، فَقَالَ سُبْحَانَهُ: ﴿وَلَوْ كَانَ مِنْ عِنْدِ غَيرِ اللهِ لَوَجَدُوا فِيهِ اخْتِلافاً كَثِيراً.﴾ وإِنَّ القُرآنَ ظَاهِرُهُ أَنِيقٌ، وبَاطِنُهُ عَمِيقٌ، لاَ تَفْنَى عَجَائِبُهُ، وَلاَتَنْقَضِي غَرَائِبُهُ، ولاَ تُكْشَفُ الظُّلُمَاتُ إِلاَّ بِهِ.

تصديقوونکي دي او اختلاف پکښې نشته» بيا خداے پاک وفرمايل:«که قرآن بې له خدايه د بل چا له لورې نازل شوے وې ډېر اختلاف به پکښې موجود ؤ» بې له شکه د قرآن ظاهر ښکلے او باطن يې ژور او پټ دے، حېرانونکي مطالب يې پاې نۀ لري او پټ رازونه يې نۀ ختمېږي، او تيرې به بې له قرآنه لرې نۀ شي.

«حمزه شينواري بابا په سپيځلې ويناوی کښې په ۷۸م او ۷۹م مخونو د دغه خطبې په باب د زۀ وايم تر عنوان لاندې ليکي:»

## زۀ وايم

که دا خطبه په رښتيا سره د اميرالمومنين وي نو مونږ د دې خطبې له پردې نه د هغوي د زمانې د لا مرکزيت او پرېشانۍ اندازه کولې شوو. ګويا کې په خيرالقرون کښې دا حال ؤ چې چا يو څو تور ټکي لوستي وو نو ځان يې د فتوو ورکولو جوګه ګڼلو او په دې سلسله کښې هغه علماء خو خود شامل دي کوم چې په قول د طبري د يزيد فوځ نه په مدينه کښې په حرامه طريقه پېدا شوي وو، ځکه چې يزيدي جرنېل د ښار ښځې په فوځ مباح کړې وې او هغو دريو سوو حراميانو بچو پرورش بيا بني اميو کړے ؤ. د حضرت امام حسين‌ؑ په خلاف هم د دې ډول علماؤ فتوا ورکړې وه. او د دې خطبې اکر بکر دا ښئ چې د خلفائے راشدين په زمانه کښې هډو دا اختلاف پېدا شوے ؤ، ګنې هيڅ وجه نۀ شي کېدې چې د هغوي نه پس ته ډېر زر داسې اختلافاتو سر راپورته کړې وې. د حضرت عثمانؓ د شهادت واقعه د حضرت زبير او طلحه د حضرت عائشې په ملګرتيا کښې له حضرت عليؑ سره جنګ کول او د خوارجو خروج او داسې نور واقعات که د شديد اختلاف په وجه نۀ وو نو اخېر نور څه وو، او که هغه وخت مختلفې ډلې نۀ وې نو اوس به په کوم بنياد جوړېدې؟ خو زمونږ علماء ته خداے دا توفيق خو ورکړے نۀ دے چې په يخه سينه په صحيح واقعاتو غور وکړي، د دې عظيم اختلاف بنياد ولټوي او د هغې غلطۍ له بيا بيا کولو نه ځان او عوام بچ کړي، اپوټه په هم هغه اختلاف قائم دي. په اهل سنتو کښې اکثر فرقې نن د بني اميو په اسلام او د هغوي په اسوه قائمې دي. په (ځينو) شيعه حضراتو کښې هم دا حال دے چې د محمد او آل محمد د اولاد په پرده کښې نور مسلمانان له اسلام نه خارج ګڼي. اهل حديث چې د کوم توحيد دعوا کوي هغه د ابليس له توحيد نه زيات هيڅرې نۀ دے، او د نن زمانې متصوفين چې کوم تعلق د نبيﷺ او اولياء سره ظاهروي هغه د شرک په څنډه کګړ دے. اوس غشے له ليندې نه وتے دے. د دې اختلاف هيڅ علاج نشته، البته که د لوے خداے د رحمت درياب په څپو شو او چرته داسې مصلح يې پېدا کړو لکه چې د امام مهديؑ پېش ګويانې دي نو کېدې شي چې د يو عظيم تحريک چپې دا اختلاف ختم يا ډېر کم کړي. زما خپل خيال دا دے چې که امت په ابتداء کښې د خلافت واګې اهل بېتو ته سپارلې وې او د دين په معامله کښې يې هغوي حَکَم ګڼلے وې نو دا اختلاف به نۀ ؤ پېدا، د خادم محمد اکبر دې خداے ګور په نور کړي په سوات کښې مې ترې هم په دې حقله تپوس کړے ؤ نو هغوي رانه اول دا وعده اخېستې وه چې ملايانو ته به حال نۀ وائې او بيا يې ويلي وو چې که مسلمانانو په ابتداء کښې د خلافت واګې حضرت عليؑ ته ورکړې وې نو دا اختلاف به نۀ ؤ پېدا.

[ ۱۹ ]

وَمِنْ كَلاَمٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ قَالَهُ لِلأَشْعَثِ بْنِ قَيْسٍ وَهُوَ عَلَى مِنْبَرِ الْكُوفَةِ يَخْطُبُ فَمَضَى فِي بَعْضِ كَلاَمِهِ شَيْءٌ اعْتَرَضَهُ الأَشْعَثُ، فَقَالَ: يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ، هذِهِ عَلَيْكَ لاَ لَكَ. فَخَفَضَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ إِلَيْهِ بَصَرَهُ ثُمَّ قَالَ:

سَوَابِقُ الأَشْعَثِ بْنِ قَيْسٍ:

وَمَا يُدْرِيكَ مَا عَلَيَّ مِمَّا لِي؟ عَلَيْكَ لَعْنَةُ اللهِ وَلَعْنَةُ اللاَّعِنِينَ! حَائِكٌ ابْنُ حَائِكٍ! مُنَافِقٌ ابْنُ كَافِرٍ! وَاللهِ لَقَدْ أَسَرَكَ الْكُفْرُ مَرَّةً وَالاِسْلاَمُ أُخْرَى! فَمَا فَدَاكَ مِنْ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا مَالُكَ وَلاَ حَسَبُكَ!

## ﴿نولسمه خطبه﴾

(امام د هجرت په اته دېرشم کال د کوفې په جومات کښې وينا کوله، اشعث بن قيس د امام په يوې خبرې اعتراض وکړ او وې ويل: دا خبره ستاسو په تاوان ده نه په ګټه، امام هغۀ ته ځير شو او وې فرمايل)

### د اشعث بن قيس تاريخي مخينه

تۀ له کومه خبر شوې چې څه زما په تاوان دي او څه زما په ګټه؟! په تا دې د خداے او د لعنت کوُنکو لعنت وي، لوپړي ماره (د لويو دورغو ويؤنکے) او د کبرجن لوپړي مار[۳۱] بچيه، د کافر زوے منافقه،په خداے قسم،(ستا بې عقلۍ ته خو) هم دومره بس ده چې دوه ځله اسير شوې: يو

وَإنَّ امْرَأً دَلَّ عَلَى قَوْمه السَّيْفَ، وَسَاقَ إِلَيْهِمُ الحَتْفَ، لَحَرِيٌّ أَنْ يَمقُتَهُ الاَقْرَب، وَلاَ يَأْمَنَهُ الاَبْعَدُ!

ځل چي کافر وي او بل ځل په مسلمانۍ کښې،او مال او ټبر دې هم خلاص نۀ کړې شوې. هو، څوک چې د دښمن لپاره جاسوسي وکړي او خپله کورنۍ د مرګ ستونې ته واچوي د خپلوانو د خوابښينۍ او د پرديو د بې باورۍ سبب کېږي.

(سيد رضي وائي: د اشعث له اشارته د امام مطلب دا دے چې هغه يو ځل د کفر په حالت کښې اسير شوے ؤ او يو ځل د اسلام په حالت کښې ، او دا چې امام فرمائي چې: دل على قومه السيف، مطلب يې په يمامه ښار کښې د اشعث جاسوسي او درغلي ده چې خالد بن وليد ته يې اطلاعات ورکړل او خپله قبيله يې وغولوله چې خالد پرې يرغل وکړي او وې وژني، له دې وروسته به هغه ته د قبيلې خلقو «عرف النار» يعنې دهوکه مار ويل.

[ ۲۰ ]

## ﴿ شلمه خطبه ﴾

وَمِنْ خُطْبَة وَفيهَا يُنَفِّرُ مِنَ الْغَفْلَة وَيُنَبِّهُ إِلَى الْفِرَار لله

### له غفلته بېدار شئ

فَإنَّكُمْ لَوْ عَايَنْتُمْ مَا قَدْ عَايَنَ مَنْ مَاتَ مِنْكُمْ لَجَزِعْتُمْ وَوَهِلْتُمْ، وَسَمِعْتُمْ وَأَطَعْتُمْ، وَلكِنْ مَحْجُوبٌ عَنْكُمْ مَا عَايَنُوا، وَقَرِيبٌ مَا يُطْرَحُ الحِجَابُ! وَلَقَدْ بُصِّرْتُمْ إنْ أَبْصَرْتُمْ، وَأُسْمِعْتُمْ إنْ سَمِعْتُمْ، وهُدِيتُمْ إن اهْتَدَيْتُمْ،وبِحَقٍّ أَقُولُ لَكُمْ: لَقَدْ جَاهَرَتْكُمُ العِبَرُ، وَزُجِرْتُمْ بِمَا فِيهِ مُزْدَجَرٌ، وَمَا يُبَلِّغُ عَنِ اللهِ بَعْدَ رُسُلِ السَّماءِ إلاَّ الْبَشَرُ.

اے تاسو ته وايم! که تاسو هغه څه ليدلي وې چې مړۀ شوي کسانو ليدلي دي نو بې صبره به وئ او ويرېدئ به، خبره به مو اورېدله او منله به مو،خو څه چې هغوي اوليدل له تاسو نه پټ دي او نزدې ده چې پردې لرې شي که څه هم حقيقت تاسو ته ښودل شوے دے که سم وګورئ، او د حق غږ دررسول شوے دے که سم واورئ، او سمه لاره يې درښودلې ده که لاړ شئ پرې، ربښتيا وايم عبرتونه مو په جار اوليدل او له حرامو منع کړې شوئ او له آسماني فرښتو وروسته بې له انسانه هيڅوک د خداے امر نۀ رسوي.

[ ۲۱ ]

## ﴿ يويشتمه خطبه ﴾

وَمِنْ خُطْبَة لَهُ عَلَيْه السَّلاَمُ وهِيَ كَلِمَةٌ جَامِعَةٌ لِلْعِظَة وَالْحِكْمَة:

(دا خطبه د ۱۶۷ خطبې يوه برخه ده چې د هجرت په ۳۵م کال يې د خلافت په پېل کښې ورکړې وه)

طَرِيقُ الْفَلاَحِ

### د ژغورنې لاره

فَإِنَّ الغَايَةَ أَمَامَكُمْ، وَإِنَّ وَرَاءَكُمُ السَّاعَةَ تَحْدُوكُمْ، تَخَفَّفُوا تَلْحَقُوا، فَإِنَّمَا يُنْتَظَرُ بِأَوَّلِكُمْ آخِرُكُمْ.

قيامت مو مخې ته دے او مرګ درپسې دے او چوکه کوي مو، نو پېتې مو سپک کړئ چې اورسېږئ، بې شکه څوک چې اورسېدل تاسو ته سترګې په لاره دي.

(سيد رضي وائي: دا خطبه د خداے پاک او پيغمبراکرم (ص) له خبرو وروسته که د هر چا له وېنا سره پرتله کړو ترې لوړه ده، او دا چې وائي ځانونه سپک کړئ چې اورسېږئ تر دې وړه او له محتوا ډکه خبره ما نه ده اورېدلې څومره ژوره او اوچته او څومره له حکمت او معنا ډکه جمله ده چې ترې د حکمت په اوبو خړوبې مونږ په خپل کتاب «خصائص» کښې د دغې جملې عظمت بيان کړے دے.)

[ ۲۲ ]

## ﴿ دويشتمه خطبه ﴾

حِينَ بَلَغَهُ خَبَرُ النَّاكِثِينَ بِبَيْعَتِه

(د هجرت په شپږ دېرشم کال د طلحه او زبير له لوري د امام د استازو له ستنېدو وروسته يې دا وېنا په ذي قار سيمه کښې وکړه)

### د ناکثينو (د جمل د اصحابو) پېژندنه

أَلاَ وَإنَّ الشَّيْطَانَ قَدْ ذَمَّرَ حِزْبَهُ، وَاسْتَجْلَبَ جَلَبَهُ، لِيَعُودَ الجَوْرُ إِلَى أَوْطَانِهِ، وَيَرْجِعَ البَاطِلُ إِلَى نِصَابِه. وَاللهِ مَا أَنْكَرُوا عَلَيَّ مُنْكَراً، وَلاَ جَعَلُوا بَيْنِي وَبَيْنَهُمْ نَصِفاً. وَإِنَّهُمْ لَيَطْلُبُونَ حَقّاً هُمْ تَرَكُوهُ، وَدَماً هُمْ سَفَكُوهُ، فَلَئِنْ كُنْتُ

خبر اوسئ شيطان خپله ډله ټپله چمتو کړې او له هر لوري يې خپل سپاهيان تيار کړي دي چې ظلم يو ځل بيا خپل ځاے ته اورسوي او باطل په چوکۍ کښينوي، په خداے قسم! ناکسينو له ما هيڅ ګناه نۀ ده ليدلې او زما او ځان تر منيځ يې انصاف نۀ دے کړے. دوي هغه حق

شَرِيكَهُمْ فِيهِ فَإِنَّ لَهُمْ لَنَصِيبَهُمْ مِنْهُ، وَلَئِنْ كَانُوا وَلُوهُ دُونِي، فَمَا التَّبِعَةُ إِلاَّ عِنْدَهُمْ، وَإِنَّ أَعْظَمَ حُجَّتِهِمْ لَعَلَى أَنْفُسِهِمْ، يَرْتَضِعُونَ أُمّاً قَدْ فَطَمَتْ، وَيُحْيُونَ بِدْعَةً قَدْ أُمِيتَتْ. يَا خَيْبَةَ الدَّاعِي! مَنْ دَعَا! وَإِلاَمَ أُجِيبَ! وَإِنِّي لَرَاضٍ بِحُجَّةِ اللهِ عَلَيْهِمْ وَعِلْمِهِ فِيهِمْ. فَإِنْ أَبَوْا أَعْطَيْتُهُمْ حَدَّ السَّيْفِ، وَكَفَى بِهِ شَافِياً مِنَ البَاطِلِ، وَنَاصِراً لِلْحَقِّ! وَمِنَ العَجَبِ بَعْثُهُمْ إِلَيَّ أَنْ أَبْرُزَ لِلطِّعَانِ! وَأَنْ أَصْبِرَ لِلْجِلادِ!

هَبِلَتْهُمُ الهَبُولُ! لَقَدْ كُنْتُ وَمَا أُهَدَّدُ بِالحَرْبِ، وَلاَ أُرَهَّبُ بِالضَّرْبِ! وَإِنِّي لَعَلَى يَقِينٍ مِنْ رَبِّي، وَغَيْرِ شُبْهَةٍ مِنْ دِينِي.

غواړي چې په خپله يې پرېښې دے او د هغې وينې غچ (انتقام) غواړي چې په لوے لاس يې توې کړې ده، که (بالفرض) زۀ د هغوي شريک وم نو هغوي هم په دغه وينه بهيولو کښې له ما سره شريک دي، او که دوي يواځې د عثمان وينه توې کړې وي نو سزا هم له دوي سره ښائي، د دوي لوے دليل په خپله د هم دوي په خلاف دے، دوي له داسې تي شودې (پي) روي چې اوچ شوي دي؛ او داسې بدعت ژوندے کول غواړي چې کلونه وشو مړ دے، واه څومره عجيبه بلونکي دي؟![۳۲] او تر هغې عجيبه بي منونکي دي. او زۀ په دې راضي يم چې ناکسينو ته د خداے فرمان ورکوم، خو که سر ترې وغړوي زما ځواب به هم توره وي چې د باطل د درملنې (علاج) او د حق د مرستې لپاره بس ده. د حېرانۍ خبره ده!ماته يې وويل چې د جنګ ډګر ته راشم او د دوي نېزو ته ځان اونيسم، او د تورو ګوزارونه يې وزغمم، ژړېدونکي دې په دوي باندې وژاړي. (مېندې يې بورې شه) آيا تر اوسه چا له جنګه وېرولے يم؟ او د توري له ګوزاره يې ډرولي يم؟ زۀ په خپل پالونکي يقين لرم او په خپل دين کښې شک او دوه زړۀ توب نۀ لرم.

## [ ۲۳ ]

[تَشْتَمِلُ عَلَى تَهْذِيبِ الْفُقَرَاءِ بِالزُّهْدِ وَتَأْدِيبِ الأَغْنِيَاءِ بِالشَّفَقَةِ]

۱. تَنَاسُبُ النِّعَمِ مَعَ الْقَابِلِيَّاتِ

أَمَّا بَعْدُ، فَإِنَّ الأَمْرَ يَنْزِلُ مِنَ السَّمَاءِ إِلَى الأَرْضِ كَقَطْرِ المَطَرِ إِلَى كُلِّ نَفْسٍ بِمَا قُسِمَ لَهَا مِنْ زِيَادَةٍ أَوْ نُقْصَانٍ. فَإِذَا رَأَى أَحَدُكُمْ لأَخِيهِ غَفِيرَةً فِي أَهْلٍ أَوْ مَالٍ أَوْ نَفْسٍ فَلا تَكُونَنَّ لَهُ فِتْنَةً، فَإِنَّ المَرْءَ المُسْلِمَ مَا لَمْ يَغْشَ دَنَاءَةً تَظْهَرُ فَيَخْشَعُ لَهَا إِذَا ذُكِرَتْ، وَيُغْرَى بِهَا لِئَامُ النَّاسِ، كَانَ كَالفَالِجِ اليَاسِرِ الَّذِي يَنْتَظِرُ أَوَّلَ فَوْزَةٍ مِنْ قِدَاحِهِ تُوجِبُ لَهُ المَغْنَمَ، وَيُرْفَعُ بِهَا عَنْهُ المَغْرَمُ. وَكَذلِكَ المَرْءُ المُسْلِمُ البَرِيءُ مِنَ الخِيَانَةِ يَنْتَظِرُ مِنَ اللهِ إِحْدَى الحُسْنَيَيْنِ: إِمَّا دَاعِيَ اللهِ فَمَا عِنْدَ اللهِ خَيْرٌ لَهُ، وَإِمَّا رِزْقَ اللهِ فَإِذَا هُوَ ذُو أَهْلٍ وَمَالٍ، وَمَعَهُ دِينُهُ وَحَسَبُهُ. إِنَّ المَالَ وَالبَنِينَ حَرْثُ الدُّنْيَا، وَالعَمَلَ الصَّالِحَ حَرْثُ الآخِرَةِ، وَقَدْ يَجْمَعُهُمَا اللهُ لأَقْوَامٍ، فَاحْذَرُوا مِنَ اللهِ مَا حَذَّرَكُمْ مِنْ نَفْسِهِ، وَاخْشَوْهُ خَشْيَةً لَيْسَتْ بِتَعْذِيرٍ، وَاعْمَلُوا فِي غَيْرِ رِيَاءٍ وَلاَ سُمْعَةٍ؛

## ﴿ درويشتمه خطبه ﴾

### د ډېرو ډېره د لږو لږه

۱: د خداے له ستائنې وروسته پوه شئ چې برخليکونه د باران د څاڅکو په شان له آسمانه په انسانانو ورېږي او هر چاته خپله برخه کمه يا زياته رسېږي، نو که په تاسو کښې يو کس اوليدل چې بل ورور ورځينې په مال، ميرمن يا بدني ځواک کښې زيات دے نو پام چې دهوکه نه شي او حسد ونه کړي، ځکه چې مسلمان (تر هغه وخته چې يو سپک کار بې نه وي کړے چې په ښکاره کېدو يې وشرمېږي، او سپک خلق يې اوغندي) د هغه سيالي کوُنکي په شان دے چې غواړي د سيالۍ په هم هغه پېل کې مقابله وګټي، چې ګټه وکړي او تاوان اونۀ کاندي.هم دا رنګ هغه مسلمان چې خيانت يې نۀ وي کړے هيله لري چې په دوو کښې يې يوه ښېګړه په نصيب شي، يا د حق بلنې ته لبيک ووائي او په دې حال کښې له دنيا لاړ شي «چې هغه څه چې له خداے سره دي هغه ته غوره دي» يا دا چې خداے پرېمانه روزي ورکړي او د ښځې مال او بچيانو څښتن شي او خپل دين او شخصيت هم خوندي کړي، خبر اوسئ چې مال او اولاد د دنيا محصول او فاني دي او نېک عمل د آخرت کر دے، که څه هم کله کله خداے پاک ځينو قامونو ته دواړه ورکوي، نو په هغه څه کښې چې خداے پاک يې د خطر اعلان کړے دے ځان اوساتئ او له

فَإنَّهُ مَنْ يَعْمَلْ لغَيْر اللهِ يَكلْـهُ اللهُ إلَـى مَـنْ عَمـلَ لَـهُ. نَسْـأَلُ اللهَ مَنازلَ الشُّهَداء، وَمُعَايَشَةَ السُّعَدَاء، وَمُرَافَقَةَ الأنْبياء.

خدايه داسې اوېرېږئ چې عذر غوښتلو ته اړتيا اونۀ لرئ، نېک کارونه کوئ خو ريا او ځان ښودنه ونۀ کړئ ځکه چې څوک چې بې له خدايه د بل چا لپاره کار وکړي خداے پاک يې هم هغه ته ورسپاري. له خدايه د شهيدانو درجې،د نېکمرغانو ژوند ، او د پېغمبرانو ملګرتيا غواړو.

٢. ضَرُورَةُ التَّعاوُن بَيْنَ الأَقْرباء

٢: د خپلوانو مرسته.

أيُّها النّـاس، إنَّـهُ لاَ يَسْـتَغْني الرَّجُـلُ ـ وَإنْ كَـانَ ذَا مَـال ـ عَنْ عَشيرَته، وَدفَاعهمْ عَنْـهُ بأَيْـديهمْ وَأَلسـنَتهمْ، وَهُـمْ أَعْظَـمُ النَّـاس حَيْطَـةً مِـنْ وَرائـه وَأَلَمُّهُـمْ لشَـعَثه، وَأَعْطَفُهُـمْ عَلَيْـه عنْدَ نَازلَة إنْ نَزَلَـتْ بِـه. وَلسَـانُ الصِّـدْق يَجْعَلُـهُ اللهُ للْمَـرْء في النَّاس خَيْرٌ لَهُ منَ المَال: يُورِّثُهُ غَيرَهُ.

اے خلقو انسان چې هر څومره شتمن شي بيا هم له خپلوانو بې نيازه نۀ دے چې په لاس او ژبه د هغۀ دفاع وکړي. د انسان خپلوان تر ټولو لويه ډله ده چې د بنيادم دفاع کوي او غم او ويره ترې لرې کوي، او د مصيبتونو په وخت تر ټولو مهربانه خلق دي، د انسان لپاره هغه نېک نوم چې خداے پاک يې له هغه پرېږدي له هغه ماله غوره دے چې نور يې يوسي.

منْهَا: أَلاَ لاَيَعْدلَنَّ أَحَـدُكُمْ عَـن القَرَابَـة يَـرَى بهَـا الخَصَاصَـةَ أنْ يَسُـدَّهَا بالَّـذي لاَيَزيـدُهُ إنْ أَمْسَـكَهُ وَلاَ يَنْقُصُـهُ إنْ أَهْلَكَهُ، وَمَنْ يَقْـبضْ يَـدَهُ عَـنْ عَشـيرَته، فَإنَّمَـا تُقْـبَضُ منْـهُ عَنْهُمْ يَدٌ وَاحدَةٌ، وَتُقْبَضُ مـنْهُمْ عَنْـهُ أَيْـد كَثيـرَةٌ؛ وَمَـنْ تَلـنْ حَاشيَتُهُ يَسْتَدمْ منْ قَوْمه المَوَدَّةَ.

خبر اوسئ، پام چې له خپلو بېوزلو او غريبانو خپلوانو مخ وانۀړوئ او څه ترې منعې نۀ کړئ، ځکه چې د دنيا د مال ساتل هيڅ څه نۀ زياتوي او له لاسه تلل يې هيڅ څه نۀ کموي، څوک چې له خپلوانو ورکؤنکے لاس وسپموي نو له هغوي يې يو لاس سپمولے دے خو له ځانه يې ګڼ لاسونه لرې کړي دي. او څوک چې د مينې وزرې وغوړوي د خپلوانو دوستي به يې دائمه او قائمه وي.

( سيد رضي وائي:د غفيره مطلب دلته د مال پرېمانتيا ده، لکه څرنګه چې ډېرو خلقو ته هم جم غفير وائي، او نقل شوې ده چې د «الغفير» په ځاے به عفوة من اهل او مال استعماليدۀ، او دا چې د عفوه معنا ده،د يو مال يا څيز ښه نمونه، لکه يو کس ووائي چې اکلت عفوة من الطعام يعنې د ډوډۍ ښه برخه مې وخوړله، او بيا څومره ښکلې ده هغه معنا چې امام له «و من يقبض يده عن عشيرته» تر آخره اخېستې ده ځکه چې څوک له خپلو خپلوانو خپل خېر او ښېکې منعې کړي يوازې خپله ګټه يې له هغوي سپمولې ده خو که سخت اړمن شي نو ټول خپلوان به ترې لرې لرې تښتي او څوک به يې مرسته نۀ کوي نو ځان به يې له ډېرې ګټې محرومه کړے وي).

[ ٢٤ ]

مِنْ خُطْبَة لَهُ عَلَيْه السَّلاَمُ فِيهَا تَسْوِيغُ قِتَال الْمُخَالف، وَالدَّعْوَةُ إلَى طَاعَة الله

﴿ خلوريشتمه خطبه ﴾

( په کوفه کښې د امام د خطبې يوه برخه)

وَلَعَمْري مَا عَلَيَّ منْ قتَال مَـنْ خَـالَفَ الحَـقَّ، وَخَـابَطَ الغَـيَّ، منْ إدْهَان وَلاَ إيهَان.

## د جهاد لپاره تياري

په خپل ځان مې قسم چې د حق له مخالفانو او له هغو کسانو سره به په مبارزه کښې چې په فساد او ګمراهۍ کښې ډوب دي يوه شيبه هم سستي او نرمي ونۀ کړم،

فَـاتَّقُوا اللهَ عبَـادَ الله، وَفـرُّوا إلَـى الله مِـنَ الله، وَامْضُـوا فِـي الَّذي نَهَجَهُ لَكُـمْ، وَقُومُـوا بمَـا عَصَبَـهُ بكُـمْ، فَعَلـيٌّ ضَـامنٌ لفَلْجكُمْ آجلاً، إنْ لَمْ تُمنَحُوهُ عَاجلاً.

نو اے د خداے بندګانو! له خدايه اوېرېږئ او له خدايه و خداے ته تېښته وکړئ، او له هغه لارې چې درته پرانېستې يې ده لاړ شئ. کومې دندې چې يې درسپارلې دي تر سره يې کړئ.او که داسې شئ نو علي مو په مستقبل کښې د برې ضامن دے . که څه هم اوس برے لاسته رانۀ

وړئ.

«حمزه بابا د سپېڅلې وېناوې په يو سل پينځم او يو سل اوم مخ د دې خطبې ترڅنګه داسې ليکي:

## زۀ وايم

د حديبيې د صلحې د ليکلو په وخت چې حضرت علي؈ د رسول لفظ له ورانولو نه انکار کړے ؤ نو ځينې نواصب دا د حضرت علي؈ نافرماني ګڼي او په دې حقله ډېر فضول سوالونه کوي خو دې ته هڅو فکر نۀ کوي چې حضرت علي؈ د لفظ رسول د نۀ ورانولو پخپله کوم عذر کړے ؤ، هغوي ويلي وو چې کوم وخت ما رسول لفظ وليکلو نو اوس بې په خپل لاس څرنګه وران کړم. بيا که مونږ دا نافرماني وګڼو يعنې دا چې علي؈ د رسولﷺ نافرماني وکړه نو که دا نافرماني وي نو عياذابالله رسول کريمﷺ د خداے (خاورې مې په خوله) نافرماني وکړه چې خداے خو هغه رسول کړے ؤ او هغوي په خپل لاس مبارک هغه منصب وران کړو کوم چې خداے ورکړے ؤ. حقيقت دا دے چې د حديبيې واقعات له سخت امتحان نه ډک دي. حضرت عمرؓ چې اوکتل چې رسول اللهﷺ د کفارو هر شرط قبلوي نو رسول اللهﷺ ته يې عرض وکړو چې يا رسول الله تۀ د خداے رسول نۀ يې؟ رسول اللهﷺ ځواب ورکړ چې ولې نۀ يم، حضرت عمرؓ بيا هم دا تپوس وکړو او رسول الل ﷺه بيا هغه ځواب ورکړو، ګويا د حضرت عمرؓ شک پېدا شوے ؤ. حضرت ابوبکرؓ سخت ټوک ورکړو او ورته يې وويل چې توبه اوباسه حضرت عمرؓ وائي چې ما څو ورځې پرله پسې روژې وساتلې نو ايله مې هغه د شک تياره لرې شوه.

ځينې خلق وائي چې د خطبې سبب ايت بلغ ما انزل اليک ؤ چې ځينې خلق دا آيت د دې خطبې علت ځکه نۀ مني چې بيا خو خطبه بېخي د حضرت علي؈ په نيابت او خلافت باندې يو روڼ ثبوت جوړېږي. (او دا چې ځينې خلق د غدير د خطبې سبب رسول اللهﷺ ته د حضرت علي؈ په باره کښې د څو کسانو شکايت ګڼي نو) د څو کسانو په معمولي شکايت زرګونه خلق رابلل د کجاو منبر جوړول او په هغۀ د حضرت علي؈ اودرول او خلقو ته دا فرمايل چې اے خلقو! اے ستاسو په نزد ستاسو د ځانونو نه اولې نۀ يم؟ او خلقو ځواب ورکړې چې هو، يا رسول الله او ورپسې بې دا و فرمايل چې «من کنت مولاه فهذا علي مولاه» يعنې د چا چې زۀ مولا يم د هغۀ علي هم مولا دے. او بيا د حضرت عمرؓ مبارکي ورکول او دا ويل چې نن تۀ د ټولو مومنانو سرو او ښځو مولا شوې حېراني پېدا کوي چې صرف د يو معمولي شکايت د پاره دومره انتظام کېدۀ.

(ځېنې وائي) چې د رسول اللهﷺ د وفات په موقع په سقيفه بني ساعده کښې د خلافت او امامت جګړه جوړه شوه او انديښنه وه چې د رسول اللهﷺ د تدفين نه اګاهو فتنه او فساد پېدا نۀ شي.

(داسې ځکه وائي) چې حضرت ابوبکرؓ، حضرت عمرؓ او ابو عبيده بن الجراحؓ د رسول اللهﷺ د تدفين نه اګاهو بني ساعده ته ورسېدل، او حال دا چې هلته انصارو په سعد بن عبادهؓ د خلافت اتفاق کړے ؤ او په هغوي کښې هيڅ اختلاف او جګړه نۀ وه پېدا. البته د دغو دريو حضراتو له رسېدو نه پس سخته جګړه او اختلاف پېدا شو چې ما يې وروستو ذکر کړے دے. مترجم (رئيس احمد جعفري) د خلافت معامله ډېره اهمه ګڼي. خو د هغۀ په خيال کښې حضرت علي؈ د رسول اللهﷺ د تدفين کار له دې نه هم اهم ګڼلو. ګويا د اسلام او مسلمانانو د ښېګړې په حقله د راشدو خلفاؤ په مېنځ کښې هم اختلاف ؤ او په دې کښې هيڅ شک نشته چې دا اختلاف د رسول اللهﷺ په ژوند کښې هم موجود ؤ خو د هغوي په وجه چا دې اختلاف ته هوا نۀ شوه ورکولې او د هغوي له وفات نه پس دا سوال پاتې نۀ شو.

## [ ۲۵ ]

وَمِنْ خُطْبَةٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ، وَقَدْ تَوَاتَرَتْ عَلَيْهِ الأَخْبَارُ بِاسْتِيلاَءِ أَصْحَابِ مُعَاوِيَةَ عَلَى الْبِلاَدِ، وَقَدِمَ عَلَيْهِ عَامِلاَهُ عَلَى الْيَمَنِ ـ وَهُمَا عُبَيْدُاللهِ بْنُ الْعَبَّاسِ وَسَعِيدُ بْنُ نِمْرَانَ ـ لَمَّا غَلَبَ عَلَيْهِمَا بُسْرُ بْنُ أَبِي أَرْطَاةَ، فَقَامَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ إِلَى الْمِنْبَرِ ضَجِراً بِتَثَاقُلِ أَصْحَابِهِ عَنِ الْجِهَادِ، وَمُخَالَفَتِهِمْ لَهُ فِي الرَّأْيِ، وَقَالَ:

۱. أَسْبَابُ هَزِيمَةِ أَهْلِ الْكُوفَةِ

**مَا هِيَ إِلاَّ الْكُوفَةُ، أَقْبِضُهَا وَأَبْسُطُهَا إِنْ لَمْ تَكُونِي إِلاَّ**

## ﴿ پنځويشتمه خطبه ﴾

(دا خطبه يې د هجرت په څلوېښتم کال هغه وخت ورکړه چې د امام د ملګرو د ماتې پرله پسې خبرونه له کوفې رارسېدل او په يمن کښې د امام ګورنرانو عبيدالله بن عباس او سعيد بن نمران، له بسر بن ابي ارطا نه ماته خوړلې وه او کوفې ته ستانۀ شوي وو او امام په جهاد کښې د خپلو ملګرو د لټتوب او غړندوالي او د خپل امام له اوامرو نه د مخ اړولو په غندنه کښې دا خطبه ورکړه چې د امام وروستۍ وېنا ګڼل کېږي)

۱: د اولسونو د ماتې لاملونه او اسباب

اوس بې د کوفې له ښاره بل څه زما په لاس کښې نه دي پاتې چې وې

أَنْتَ، تَهُبُّ أَعَاصِيرُكَ، فَقَبَّحَكَ اللهُ!
وَتَمَثَّلَ:
لَعَمْرُ أَبِيكَ الخَيْرِ يَا عَمْرُو إِنَّنِي
عَلَى وَضَرٍ ـ مِنْ ذَا الانَاء ـ قَلِيل

ثُمَّ قَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ: أُنْبِئْتُ بُسْراً قَدِ اطَّلَعَ اليَمَنَ وَإِنِّي وَاللهِ لاَظُنُّ هؤُلاَءِ القَوْمَ سَيُدَالُونَ مِنْكُمْ بِاجْتِمَاعِهِمْ عَلَى بَاطِلِهِمْ وَتَفَرُّقِكُمْ عَنْ حَقِّكُمْ وَبِمَعْصِيَتِكُمْ إمَامَكُمْ فِي الحَقِّ وَطَاعَتِهِمْ إِمَامَهُمْ فِي البَاطِلِ، وَبِأَدَائِهِمُ الامَانَةَ إِلَى صَاحِبِهِمْ وَخِيَانَتِكُمْ، وَبِصَلاَحِهِمْ فِي بِلاَدِهِمْ وَفَسَادِكُمْ، فَلَو ائْتَمَنْتُ أَحَدَكُمْ عَلَى قَعْبٍ لَخَشِيتُ أَنْ يَذْهَبَ بِعِلاَقَتِهِ.

۲. سُحْقاً للأُمَّةِ الْغَادِرَةِ!

اللَّهُمَّ إِنِّي قَدْ مَلِلْتُهُمْ وَمَلُّونِي، وَسَئِمْتُهُمْ وَسَئِمُونِي، فَأَبْدِلْنِي بِهِمْ خَيْراً مِنْهُمْ،وَأَبْدِلْهُمْ بِي شَرّاً مِنِّي، اللَّهُمَّ مِثْ قُلُوبَهُمْ كَمَا يُمَاثُ الْمِلْحُ فِي الْمَاءِ، أَمَاوَاللهِ لَوَدِدْتُ أَنَّ لِي بِكُمْ أَلْفَ فَارِسٍ مِنْ بَنِي فِرَاسِ بْنِ غَنْمٍ:
هُنَالِكَ، لَوْ دَعَوْتَ، أَتَاكَ مِنْهُمْ
فَوَارِسُ مِثْلُ أَرْمِيَةِ الحَمِيمِ

ثُمَّ نَزَلَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ مِنَ الْمِنْبَرِ.

ترم يا يې پرانېزم، اے کوفې که يوازې تۀ زما په لاس کښې پاتې شې هغه هم له دومره مصيبتونو او طوفانونو سره نو مخ دې تور شه! «بيا يې د شاعر له خولې دا مثال راوړۀ: په پلار دې قسم وي اے عمرو، د پيمانې ډېره کمه برخه مې په نصيب شوه» بيا يې زياته کړه: ماته يې خبر راوړے چې بسر بن ارطاة[۳۳]په يمن باندې واکمن شوے دے، په خدا ے قسم ماته پته وه چې شاميان به ډېر زر په تاسو باندې لاسبرې شي ځکه چې هغوي د باطل په مرسته کښې يو موټے دي او تاسو د حق په مرسته کې تيت و پرک يئ، تاسو په حق کښې د خپل امام نافرماني کوئ او هغوي په باطل کښې د خپل امام منونکي دي. هغوي د خپل مشر امانتدار او تاسو خيانتکار يئ، هغوي د خپلو ښارونو په ودانولو لګيا دي او تاسو يې په ورانولو،‹دومره سپک خلق يئ چې› که زۀ په تاسو کښې يو کس ته لرګينه کاسه په امانت درکړم ويرېږم چې بند به ورځيني پټ کړئ.

## ۲: خائن امت ته ښېرې

اے خدايه! ما دا خلق په بيا بيا نصحيتونو ستړې کړل او هغوي هم زۀ ستومانه کړم، هغوي له ما پوزې ته راغلي او زۀ له هغوي، زړۀ مې مات شوے دے، د هغوي په ځاے ماته ښه کسان راکړه او زما په ځاے په دوي باندې بد کسان واکمن کړه، اے خدايه! د هغوي زړونه داسې اوبه کړه لکه مالګه چې په اوبو کښې ويلې کېږي، زړۀ مې غواړي چې ستاسو کوفيانو په ځاے مې د بني فراس بن غنم[۳۴]زر سپارۀ له ځان سره لرلې،«چې کله هغوي راوبلې نو داسې سپارۀ باتوران دې مرستې ته راځي چې جنګيالي او تورزنان وي لکه د اورې وريځې» بيا امام له منبره راکوز شو.

« سيد رضي وائي:آرميه د رمي جمع ده چې معنا يې ده اوريځې او حميم د اورې ګرمۍ ته وائي، شاعر د اورې د ګرمۍ وريځ ځکه ياده کړې ده چې سپکه او زر تېرېدونکې ده او باران نۀ لري، ځکه چې درنې اوريځې د ډکوالي او اوبو له امله سست حرکت کوي او داسې اوريځې زياتره په ژمي کښې وي دلته شاعر د قبيلې سپارۀ سپاهيان د بلنې په وخت غږ ته د لبيک په ويلو کښې د بېړې په وجه د اورې د اوريځو په شان بللي دي .هلته چې وائي: هنالک لو دعوت اتاک منهم»

«حمزه بابا د سپيځلې ويناوې په ۱۰۷م او ۱۰۸م مخونو د دغه خطبې ترځنګه ليکي:»

## زۀ وايم

حېراني دا ده چې د دې زمانې په حقله يو حديث شريف بيانولے شي چې ‹‹خيرالقرون قرني ثم يلون يم يلون›› انسان فکر واخلي چې د نبيﷺ د مبارکې خولې نه وتلي دا الفاظ ولې د واقعاتو مطابق ثابت نۀ شول په دې کښې خو شک نشته چې که دا حديث صحيح وي که موضوعي د دې وروميې برخه خو ضرور صحيح ده ځکه چې د رسول اللهﷺ تر ژونده په ظاهره کښې هيڅ اختلاف نۀ ؤ خو چې د دې حديث نورې برخې ته فکر وکړوو نو دا پيش ګوئي له حالاتو او واقعاتو سره سمون نۀ خوري ځکه چې د رسول اللهﷺ له وفات سره سم اختلاف شروع شو، خو بيا هم د حضرت عثمانؓ د خلافت تر زمانې دې اختلاف شديد صورت نۀ ؤ اختيار کړے.د حضرت عثمان په وخت کښې دې اختلاف د فتنې صورت اختيار کړ خو يو نقاد او مفکر مجبوروي چې هغه دې د چا له ويرې مرعوب نۀ شي او په جهر ووائي چې د حضرت عثمان د زمانې فتنه د صحرا د برېوکۍ غوندې د ناڅاپي هوا نه پېدا شوې نۀ وه بلکه د هغې اسباب د خيرالقرون په وروميۍ برخه کښې پېدا شوي وو، او بيا د شېخينو په عهد کښې له مکمل

متحد کېدو نه پس په دريم خلافت کښې د فتنې په شکل کښې ځرګند شول. د دې بنيادي وجوهات چې هر څه وي د هر چا خپل خپل خيال دے. زما خيال دا دے چې د رسو ل اللهﷺ په وخت کښې که څه هم زرګونه خلق مسلمانان شوي وو خو زياتره د حالاتو د مجبورۍ او د وخت د مصلحت په وجه وو. هغه مسلمانان ډېر کم وو کوم چې د اسلام په روح پوهه شوي وو او ايمان يې راوړے ؤ، هم د رسول کريمﷺ له وفات نه پس ضرورت د دې خبرې ؤ چې خلافت داسې لاسونو ته منتقل شوے وې کوم چې د رسولﷺ د ظاهر او باطن کامل وارث وې، بوازې په ملکي فتوحاتو د اسلام رڼا هيڅرې نۀ شوه زياتېدې بلکه د حضرت عمرؓ په زمانه کښې چې مسلمانان د فتوحاتو په سلسله کښې بهرنيو وطنونو ته لاړل نو د نوو تهذيبونو، تمدنونو او خيالاتو نه خبر شول. پخپله د دغو فاتحانو مسلمانانو په ذهن کښې د اسلام کامله خاکه خو نۀ وه چې د هغوي خيالات نۀ بدلېدې. نتيجه دا شوه چې خيالات يې په کچه کچه کښې بدل شول، هم له دې ويرې نه حضرت عمرؓ لوے صحابه له مدينې نه بهر نۀ پرېښودل. پکار دا وه چې په اول کښې د فتوحاتو ډېر خيال نۀ وې ساتل شوے بلکه د نفوسو تزکيه شوې وې او په خلقو کښې د اسلام پوره پوره روح پو وهلے شوے وې خو وشول دا چې زياته توجه فتوحاتو ته ورکړې شوه چې هيڅرې هم مناسبه نۀ وه. او که غېر مسلمانان مورخان اسلام ته د تورې حاصل وائي نو په يو حقله ښۀ هم وائي ځکه چې له رسولﷺ نه پس اکثرو مسلمانانو حاکمانو ملک ګيرۍ ته زياته توجه ورکړې وه او حال دا چې اسلام هيڅرې بغېر له مدافعانه جنګ نه د جارحانه جنګ اجازه نۀ ورکوي.

د حضرت عليعليه السلام زمانه په داسې وخت کښې وه چې په هغه وخت کښې صحيح مسلمانان لا خو مړۀ او لا ډېر کم وو. ډېر داسې وو چې هغوي په ګوښه کښې ناست وو اکثريت د داسې مسلمانانو ؤ کوم چې دنيا پرست وو، چرته به چې عېش او آرام ؤ هلته به تلل، هغوي د حضرت عليعليه السلام ملګرتيا ځرنګه کولې شوه. هلته خو په منهاج نبوت د خلافت کار چلېدو او په داسې خلافت کښې د دنيا پرستو د پاره د راحت څۀ انتظام نۀ ؤ. اوس هم چې کوم خلق په حضرت عليعليه السلام د انتظام د فقدان اعتراض کوي هغوي دې په ګرېوان کښې سرښکته کړې فکر دې وکړي چې هغوي هم د معاويه او د هغۀ په شان د نورو دنيا پرستو په لار روان دي که نه. هغوي اسلام صرف د معاويه او د هغۀ په شان د نورو دنيا پرستو په چشمو ګوري، خو که چرې د کتاب او سنت چشمې واچوي نو وبه ګوري چې حضرت عليعليه السلام هغه ؤ چې که هغه .او د هغۀ اهل بېت هم د وخت په چپو کښې بهېدلي وې نو نن به د اسلام دا ګډوډ شکل هم نۀ ؤ پاتې.

[ ٢٦ ]

[وَفِيهَا يَصِفُ الْعَرَبَ قَبْلَ الْبِعْثَةِ ثُمَّ يَصِفُ حَالَهُ قَبْلَ الْبَيْعَةِ لَهُ]

۱. الْوَضْعُ الْجَاهِلِيُّ

**إِنَّ اللهَ سُبحانَه بعَثَ مُحَمَّداً نَذيراً لِلْعَالَمينَ، وَأَميناً عَلَى التَّنْزِيلِ، وأَنْتُمْ مَعْشَرَ العرَبِ عَلَى شَرِّ دِينٍ، وَفِي شَرِّ دَارٍ، مُنِيخُونَ بَيْنَ حِجارَةٍ خُشْنٍ، وَحَيَّاتٍ صُمٍّ، تَشْرَبُونَ الكَدِرَ، وَتَأْكُلُونَ الجَشِبَ، وَتَسْفِكُونَ دِمَاءَكُمْ، وَتَقْطَعُونَ أَرْحَامَكُمْ، الأَصْنَامُ فِيكُمْ مَنْصُوبَةٌ، وَالآثَامُ بِكُمْ مَعْصُوبَةٌ.**

۲. مَظْلُومِيَّةُ الإِمَامِ عَلِيٍّ عَلَيْهِ السَّلَامُ

**مِنْهَا: نَظَرْتُ فَإِذَا لَيْسَ لِي مُعِينٌ إِلاَّ أَهْلُ بَيْتِي، فَضَنِنْتُ بِهِمْ عَنِ المَوْتِ، وَأَغْضَيْتُ عَلَى القَذَى، وَشَرِبْتُ عَلَى الشَّجَا، وَصَبَرْتُ عَلَى أَخْذِ الكَظَمِ وَعَلَى أَمَرَّ مِنْ طَعْمِ العَلْقَمِ.**

۳. التَّعْرِيفُ بِعَمْرِو بْنِ الْعَاصِ

## ﴿ شپږويشتمه خطبه ﴾

(د هجرت په اتۀ دېرشم کال په مصر کښې د محمد بن ابي بکر له وژل کېدو وروسته امام دا وېنا په کوفې کښې وکړه، سيد رضي د دغه خطبې ځينې برخې راوړې دي)

### ۱: جاهلي دودونه او پېژندګلوي

خداے تعالی حضرت محمدﷺ د نړيوالو لپاره زېرے ورکوونکے وګمارۀ، چې د خداے پاک د وحي ساتندوے وي، هغه وخت چې تاسو عربو ډېر بد دين لرۀ او په ډېرو ناوړو کورنو کښې مو ژوند کوۀ، په ځمځو او زيږو کاڼو او زهرجنو خطرناکو مارانو کښې، غوړېدونه مو کاڼۀ وو او ناولې اوبۀ مو ښکناک او تراخۀ خوارۀ مو خوراک ؤ.د يو بل وينې مو تويولې او خپلوۍ مو غوځولې، د بتانو پرستش مو کوۀ او ګناهانو راښکېل کړي وۀ.

### ۲: د امام عليعليه السلام مظلوميت

د پېغمبراکرمﷺ له وصال او د ملګرو له بې وفائۍ وروسته مې خپل يوخوا بل خوا وکتل بې له اهلبېتو مې بل ملګرے اونه موندۀ «چې که زما مرسته يې کړې وې وژل شوي به وو» نو مرګ ته مې زړۀ نۀ شول، نو په سترګو کښې مې چې کوم ازغے ؤ په هغۀ مې سترې پټې کړې او په هغه مرۍ مې چې مات هډوکے پکې نښتے ؤ د پېښو تراخۀ ګوټونه تېر کړل، او خپله غصه مې اوښله، او د خنظل د بوټي د ترخو جامونو په ښلو مې صبر وکړ (په سختو مصيبتونو مې صبر وکړ)

وَمِنْهَا: وَلَمْ يُبَايِعْ حَتَّى شَرَطَ أَنْ يُؤْتِيَهُ عَلَى الْبَيْعَةِ ثَمَناً، فَلَا ظَفِرَتْ يَدُ الْمُبَايِعِ، وَخَزِيَتْ أَمَانَةُ الْمُبْتَاعِ، فَخُذُوا لِلْحَرْبِ أُهْبَتَهَا، وَأَعِدُّوا لَهَا عُدَّتَهَا، فَقَدْ شَبَّ لَظَاهَا، وَعَلَا سَنَاهَا، وَاسْتَشْعِرُوا الصَّبْرَ، فَإِنَّهُ أَحْزَمُ لِلنَّصْرِ.

۳: د عمرو عاص چمتووالے (د خطبې يوه بله برخه)

عمرو عاص له معاويه سره بيعت اونۀ کړ مګر دا چې شرط يې کېښود چې د مصر حکومت به ورکوي. په دغه سپېره معامله کښې د پلورونکي لاس هيڅکله نه کاميابيږي، او د پيرودونکي پانګه هم رسوا کېږي، اے د کوفې خلقو! جنګ ته تيار شئ او د جنګ سامان چمتو کړئ، ځکه چې د جنګ اور غرغنده شوے او لمبې يې پورته شوې دي. صبر او ټينګتيا خپل شعار وګرځوئ چې کاميابي راوړئ.

«حمزه بابا د سپيڅلي ويناوې په ۱۰۹م او ۱۱۰م مخونو د دغې خطبې په ترځ کښې ليکي:»

## زۀ وايم

په دې خطبه کښې د نهج البلاغه غونډونکي هغه الفاظ پرې ايښي دي کوم چې اميرالمومنينؑ د رسول کريمﷺ له وفات نه پس په راتلونکو واقعاتو فرمائيلي وو او کوم يې چې ليکلي دي هغه دا دي چې: ما چې اوکتل نو د خپلو اهلبېتو نه سېوا مې هيڅوک مرستيال اونۀ ليدۀ ما دا خوښه نۀ کړه چې هغوي په چا مړۀ کړم.

دلته فکر پکار دے چې د رسول اللهﷺ له وفات نه پس د عليؑ مطالبه څه وه. ښکاره خبره ده چې هغوي خپل ځان د خلافت حقدار ګڼلو او د دې اظهار يې د هر خلافت د جوړېدو په وخت کړے دے خو چا منلے نۀ دے او حالات دې حد ته رسېدلي دي چې د عليؑ دا يقين شوے دے چې که خبره يې زياته کړه نو د دې نه به يقيناً جنګ جوړ شي او د جنګ په نتيجه کښې کېدې شي چې د هغۀ اهلبيت قتل شي ځکه چې بل يې هيڅوک مرستيال نۀ وو، او بيا دا غم چې هغوي به کوم شان زغملے دے د هغوي له الفاظو نه صفا صفا معلومېږي.

دلته اوس دا سوال پېدا کيږي چې هغه ټول په حقه وو که ځان ته حضرت عليؑ په حقه ؤ. عقل خو دا وائي چې د هغوي ټولو په مقابله کښې به ځان ته عليؑ په حقه نۀ ؤ يا څه داسې سازش جوړ شوے ؤ چې عوام يې د حضرت عليؑ په مرتبه، قابليت او نورو خبرو کښې په شک کښې اچولي وو. که مونږ حضرت عليؑ په ناحقه اوګڼو نو بيا بله سخته مرحله مخې ته راځي او هغه دا چې نعوذ بالله رسول کريمﷺ د عليؑ د فطرت او شخصيت غلطه اندازه کړې وه. څنګه چې هغوي خلقو ته د حضرت عليؑ فطرت ورپېژندلے ؤ عليؑ هغه شان نۀ ؤ. او بيا لويه خبره دا چې رسول کريمﷺ له وفات نه اګاهو د خلافت د پاره څه وصيت هم نۀ ؤ کړے، ځکه چې که د غدير خم خطبه د عليؑ د خلافت لپاره وې نو زرګونو مسلمانانو ولې په هغې عمل ونۀ کړ، او که خلافت د رسول کريمﷺ نه پس څه ديني اهميت نۀ لرلو نو بيا دا يو بادشاهي شوه او له دين سره هيڅ تعلق نۀ لري. د عوامو منتخب کړے شوے خليفه هيچرې د خدائے او د رسولﷺ خليفه نۀ شي کېدې. ځينې خلق په مرض الموت کښې د رسول اللهﷺ له خوا د حضرت ابوبکرؓ مقررول (د نمونځ) د امامت لپاره د هغوي د خلافت په حق کښې يو دليل ګڼي خو حېراني دا ده چې که د مَنْ كُنْتُ مَوْلَاهُ فَعَلِي مَوْلَاه صريح الفاظ د عليؑ په خلافت نۀ شي دليل کېدې نو بيا صرف دا الفاظ څرنګه دليل کېدې شي چې ابوبکرؓ دې (د نمونځ) امامت وکړي. بيا عجيبه خبره دا ده چې اخبر انصارو ته دا فکر څرنګه ورغلو چې خليفه دې زمونږ وي، او هغوي په سعد بن عبادهؓ باندې اتفاق هم کړے ؤ کوم چې حضرت ابوبکرؓ عمرؓ او ابو عبيده بن الجراح په يو ساعت کښې ختم کړو او د الائمه من القريش حديث يې په خپل دليل کښې وړاندې کړو او حضرت عمرؓ د دې حديث په منلو دومره زور ورکړو چې اخبر يې انصار مجبور کړل چې د خلافت خيال له زړۀ نه وباسي او حال دا چې ډېرې لږې ورځې اګاهو حضرت عمرؓ د رسول اللهﷺ د وصيت کولو خواهش په دې رد کړے ؤ چې زمونږ لپاره د خدائے کتاب کافي دے.

د دغو واقعاتو په رڼا کښې زۀ د تردېد له ويرې نه بې پروا عرض کوم چې د رسول کريمﷺ تر ژونده مسلمانان خو ټول وو خو مومنان پکښې ډېر کم وو او په ډېر لږ تحريص سره له سمې لارې نه اوړېدلې شول. زما ضمير هيچرې دا نۀ شي منلې چې هغه عليؑ چې پېدا شوے مسلمان ؤ پېدا شوے څه چې د مور په ګېډه کښې هم هادي ؤ لکه چې د هغوي مور بي بي وائي چې کوم وخت به ما اراده وکړه چې بت ته سر ښکته کړم عليؑ به زما په ګېډه کښې پښې اوړدې کړې او زۀ به يې سر ښکته کېدو ته نۀ پرېښودم. بيا يې په ماشومتوب کښې رسول کريمﷺ تربيت کړے دے، د هغوي د مبارک سيورې د لاندې يې د ځوانۍ په سرحد کښې قدم ايښے دے. د هيچا په نسبت رسو ل کريمﷺ دا نۀ دي فرمايلي سېوا له عليؑ نه چې زما باور دے چې عليؑ به هيڅ چرې شرک او کبيره ګناه ونکړي. بيا چې د اسلام او مسلمانانو په حفاظت او مدافعت کښې د عليؑ ذوالفقار کوم کارونه سر ته رسولي دي هر چا ته معلوم دي . د هغۀ له ذات نه دا اميد کول چې هغوي به په ناحقه خلافت خپل حق ګڼلو په هيڅ فکر کښې نۀ شي راتلې. پاتې شوه دا خبره چې هغه نور هم اصحاب وو او د اسلام لپاره يې ډېرې قربانۍ ورکړې وې، نو له دې نه هم انکار نۀ شي کېدې خو دومره

خبره خو یقیناً ښکاره ده چې هغوي حضرت علي‌علیه‌السلام داسې نۀ ګڼلو څرنګه به چې رسول الله‌صلی‌الله‌علیه‌وآله بیانولو او په دې ترڅ کښې هغوي که د علي‌علیه‌السلام له اولیت او استحقاق نه انکار کړے وي نو ناشونې نۀ وه.

[ ۲۷ ]

وَمِنْ خُطْبَة لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ وَقَدْ قَالَهَا يَسْتَنْهِضُ بِهَا النَّاسَ حِينَ وَرَدَ خَبَرُ غَزْوِ الْأَنْبَارِ بِجَيْشِ مُعَاوِيَةَ فَلَمْ يَنْهَضُوا

۱. فَضْلُ الْجِهَادِ

أَمَّا بَعْدُ، فَإِنَّ الْجِهَادَ بَابٌ مِنْ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ، فَتَحَهُ اللهُ لِخَاصَّةِ أَوْلِيَائِهِ، وَهُوَ لِبَاسُ التَّقْوَى، وَدِرْعُ اللهِ الْحَصِينَةُ، وَجُنَّتُهُ الْوَثِيقَةُ، فَمَنْ تَرَكَهُ رَغْبَةً عَنْهُ أَلْبَسَهُ اللهُ ثَوْبَ الذُّلِّ، وَشَمِلَهُ الْبَلاَءُ، وَدُيِّثَ بِالصَّغَارِ وَالْقَمَاءَةِ، وَضُرِبَ عَلَى قَلْبِهِ بِالْإِسْهَابِ، وَأُدِيلَ الْحَقُّ مِنْهُ بِتَضْيِيعِ الْجِهَادِ، وَسِيمَ الْخَسْفَ، وَمُنِعَ النَّصَفَ.

۲. الدَّعْوَةُ إِلَى الْجِهَادِ

أَلاَ وَإِنِّي قَدْ دَعَوْتُكُمْ إِلَى قِتَالِ هؤُلاَءِ الْقَوْمِ لَيْلاً وَنَهَاراً، وَسِرّاً وَإِعْلاَناً، وَقُلْتُ لَكُمُ: اغْزُوهُمْ قَبْلَ أَنْ يَغْزُوكُمْ، فَوَاللهِ مَا غُزِيَ قَوْمٌ قَطُّ فِي عُقْرِ دَارِهِمْ إِلاَّ ذَلُّوا، فَتَوَاكَلْتُمْ وَتَخَاذَلْتُمْ حَتَّى شُنَّتْ عَلَيْكُمُ الْغَارَاتُ، وَمُلِكَتْ عَلَيْكُمُ الْأَوْطَانُ. وَهذَا أَخُو غَامِدٍ قَدْ وَرَدَتْ خَيْلُهُ الْأَنْبَارَ، وَقَدْ قَتَلَ حَسَّانَ بْنَ حَسَّانَ الْبَكْرِيَّ، وَأَزَالَ خَيْلَكُمْ عَنْ مَسَالِحِهَا. وَلَقَدْ بَلَغَنِي أَنَّ الرَّجُلَ مِنْهُمْ كَانَ يَدْخُلُ عَلَى الْمَرْأَةِ الْمُسْلِمَةِ، وَالْأُخْرَى الْمُعَاهَدَةِ، فَيَنْتَزِعُ حِجْلَهَا وَقُلْبَهَا وَقَلاَئِدَهَا، وَرِعَاثَهَا، مَا تَمْتَنِعُ مِنْهُ إِلاَّ بِالاسْتِرْجَاعِ وَالاسْتِرْحَامِ، ثُمَّ انْصَرَفُوا وَافِرِينَ، مَا نَالَ رَجُلاً مِنْهُمْ كَلْمٌ، وَلاَ أُرِيقَ لَهُمْ دَمٌ، فَلَوْ أَنَّ امْرَأً مُسْلِماً مَاتَ مِنْ بَعْدِ هذَا أَسَفاً مَا كَانَ بِهِ مَلُوماً، بَلْ كَانَ بِهِ عِنْدِي جَدِيراً. فَيَا عَجَباً! عَجَباً ـ وَاللهِ ـ يُمِيتُ الْقَلْبَ وَيَجْلِبُ الْهَمَّ مِنِ اجْتِمَاعِ هؤُلاَءِ الْقَوْمِ عَلَى بَاطِلِهِمْ، وَتَفَرُّقِكُمْ عَنْ حَقِّكُمْ! فَقُبْحاً لَكُمْ وَتَرَحاً، حِينَ صِرْتُمْ غَرَضاً يُرْمَى: يُغَارُ عَلَيْكُمْ وَلاَ تُغِيرُونَ، وَتُغْزَوْنَ وَلاَ تَغْزُونَ، وَيُعْصَى اللهُ وَتَرْضَوْنَ! فَإِذَا أَمَرْتُكُمْ بِالسَّيْرِ إِلَيْهِمْ فِي أَيَّامِ الْحَرِّ قُلْتُمْ: هذِهِ حَمَارَّةُ الْقَيْظِ أَمْهِلْنَا يُسَبَّخْ عَنَّا الْحَرُّ، وَإِذَا أَمَرْتُكُمْ

﴿ اویشتمه خطبه ﴾

‹د هجرت په اتۀ دېرشم کال هغه وخت چې په انبار[۳۵] ښار بې د معاویه د لښکر د یرغل او د خلقو د لټې او سستۍ خبر امام ته راوړۀ›

۱: د جهاد فضیلت

د پالونکي له ستائنې وروسته؛ بې شکه چې جهاد د جنت یوه دروازه ده چې خداے خپلو خاصو او ځانګړو دوستانو ته پرانښستې ده. جهاد د تقوا جامه، د خداے پاک کلکه زغره او ډاډمن ډال دے،څوک چې جهاد خوښ نۀ کړي او پرې یې ږدي خداے پاک ورته د ذلت او سپکاوي جامه وراغوندوي، او په مصیبتونو یې اخته کړي، او سپک او ذلیل شي، زړۀ یې د ګمراهۍ په پرده کښې پاتې شي او حق ورنه مخ واړوي، او د جهاد د پرېښودلو له امله خوار او له انصافه بې برخې شي.

۲: جهاد ته بلنه

خبر اوسئ! ما شپه او ورځ پټ او ښکاره تاسو له شامیانو سره جنګ ته راوبللئ او ومې ویل مخکې له دې چې هغوي له تاسو سره اوجنګېږي تاسو ورسره اوجنګېږئ، په خداے قسم! په کوم ولس چې په خپل کور کښې یرغل اوشو خوار او ذلیل شو، خو تاسو سستي وکړه او خواري او سپکه مو ومنله،تردې چې دښمن پرله پسې یرغلونه وکړل او ستاسو ځمکې یې وترولې، او اوس د غامدي قبیلې[۳۶]کس د معاویه کوماندان له خپل لښکر سره انبار ښار ته ننوتے او زما ګورنر«حسان بن حسان بکري» یې وژلے او ستاسو عسکر یې له پولو شړلي دي، ماته خبر رارسېدلے دے چې د شام د لښکر یو کس د یوې مسلمانې ښځې او د یوې غیر مسلمانې ښځې چې د اسلامي حکومت په پناه کښې وه کور ته ننوتلي او د هغوي پازیب، بنګړي، امیل او والۍ یې چور کړې دي او هغوي بې له ژړا او فریاده د ځان د دفاع لپاره هیڅ څه نۀ لرل. د شام لښکریان له پریمانه ولجو سره لاړل او د یو کس له پوزې یې وینه قدرې اونۀ بهیده، که د دغه ترخې پېښې له غمه یو مسلمان مړ شي ملامته به نه وي، او زما په خیال د دې مستحق دے! افسوس، افسوس، په خداے قسم، دا پېښه د انسان زړۀ وژني او په ویر او غم یې اخته کوي چې شامیان په باطله راغونډ دي او تاسو په حق کښې خوارۀ وارۀ. مخونه مو تور شه، له غمونوخلاص مه شئ، چې د بلاګانو او مصیبتونو ښښې وګرځئ؛ په تاسو برید او حملې کوي خو تاسو حمله نۀ کوئ؟! له تاسو سره جنګېږي خو تاسو نه جنګېږئ؟! د خداے نافرماني او ګناه کېږي خو

بِالسَّيْرِ إِلَيْهِمْ فِي الشِّتَاءِ قُلْتُمْ: هذِهِ صَبَارَّةُ القُرِّ، أَمْهِلْنَا يَنْسَلِخْ عَنَّا البَرْدُ، كُلُّ هذا فِراراً مِنَ الحَرِّ وَالقُرِّ؛ فَإِذَا كُنْتُمْ مِنَ الحَرِّ وَالقُرِّ تَفِرُّونَ فَأَنْتُمْ وَاللهِ مِنَ السَّيْفِ أَفَرُّ!

۳. مَظْلُومِيَّةُ الإِمَامِ وَأَسْبَابُ هَزِيمَةِ الْكُوفِيِّينَ

يَا أَشْبَاهَ الرِّجَالِ وَلاَ رِجَالَ! حُلُومُ الأَطْفَالِ، وَعُقُولُ رَبَّاتِ الحِجَالِ، لَوَدِدْتُ أَنِّي لَمْ أَرَكُمْ وَلَمْ أَعْرِفْكُمْ مَعْرِفَةً ـ وَاللهِ ـ جَرَّتْ نَدَماً، وَأَعْقَبَتْ سَدَماً. قَاتَلَكُمُ اللهُ! لَقَدْ مَلأْتُمْ قَلْبِي قَيْحاً، وَشَحَنْتُمْ صَدْرِي غَيْظاً، وَجَرَّعْتُمُونِي نُغَبَ التَّهْمَامِ أَنْفَاساً، وَأَفْسَدْتُمْ عَلَيَّ رَأْيِي بِالعِصْيَانِ وَالخِذْلاَنِ، حَتَّى قَالَتْ قُرَيْشٌ: إِنَّ ابْنَ أَبِي طَالِبٍ رَجُلٌ شُجَاعٌ، وَلكِنْ لاَ عِلْمَ لَهُ بِالحَرْبِ. للهِ أَبُوهُمْ! وَهَلْ أَحَدٌ مِنْهُمْ أَشَدُّ لَهَا مِرَاساً، وَأَقْدَمُ فِيهَا مَقَاماً مِنِّي؟! لَقَدْ نَهَضْتُ فِيهَا وَمَا بَلَغْتُ العِشْرِينَ، وَهَا أَنَاذَا قَدْ ذَرَّفْتُ عَلَى السِّتِّينَ! وَلكِنْ لاَ رَأْيَ لِمَنْ لاَ يُطَاعُ!

تاسو پرې راضي يئ، کله چې په اوړي کښې د دښمن په لور د حرکت امر وکړم وائئ چې ګرمي ده صبر وکړه چې اوړے تېر شي، او کله چې په ژمي کښې د جهاد حکم کوم وائئ چې ساړۀ دے پرېږده چې ژمي تېر شي. دا ټولې له ګرمۍ او ساړۀ نه د تېښتې پلمې او بهانې دي، نو تاسو چې له ګرمۍ او يخنۍ تښتئ نو په خدائے قسم چې له تورې خو به لا تښتئ!

۳: د امام مظلوميت او د کوفيانو د ماتې اسباب.

اے د نرانو په شان نامردانو! اے د ماشومانو د خويونو او د ناويو په شان د کمو عقلونو خاوندانو! دريغه چې ما تاسو هډو ليدلې او پېژندلې نۀ وې، «په خدائے قسم» ستاسو پېژندګلو بې له پښېمانۍ بل څه نۀ دي راوړلي کړي او يوازې غم او خفګان يې راکړے دے، خدائے دې تاسو مړۀ کړي چې زما زړۀ مو ژوبل ژوبل کړے او سينه مې له خفګانه ډکه ده. د غم پيالې مو ګوټ ګوټ په ما اوڅښلې او په نافرمانۍ او ذلت قبلونې سره مو زما راې او تدبيرونه لولپه کړل، تر دې چې قرېشو زما په حقله وويل: «د ابو طالب زوے ډېر زړۀ ور دے خو د جنګ له فنه نۀ دے خبر» خدائے دې يې پلارانو ته بدله ورکړي، آيا په دوي کښې يو کس هم زما په شان د سختو جنګونو تجربه لري؟ په دوي کښې يو هم په جنګ کښې تر ما مخکې شوے دے؟ زۀ خو لا د شلو کالو نۀ وم چې په جنګ کښې حاضر وم تر ننه چې دا دي له شپېتو اوړم خو دريغه دريغه چې د چا حکم اونۀ منل شي د هغۀ راې نۀ وي.

[ ۲۸ ]

فَصْلٌ مِنَ الْخُطْبَةِ الَّتِي أَوَّلُهَا: «اَلْحَمْدُ لِلَّهِ غَيْرِ مَقْنُوطٍ مِنْ رَحْمَتِهِ» وَفِيهِ أَحَدَ عَشَرَ تَنْبِيهاً:

أَمَّا بَعْدُ، فَإِنَّ الدُّنْيَا قَدْ أَدْبَرَتْ، وَآذَنَتْ بِوَدَاعٍ، وَإِنَّ الآخِرَةَ قَدْ أَقْبَلَتْ، وَأَشْرَفَتْ بِاطِّلاَعٍ، أَلاَ وَإِنَّ الْيَوْمَ المِضْمَارَ، وَغَداً السِّبَاقَ، وَالسَّبَقَةُ الجَنَّةُ، وَالغَايَةُ النَّارُ؛ أَفَلاَ تَائِبٌ مِنْ خَطِيئَتِهِ قَبْلَ مَنِيَّتِهِ! أَلاَ عَامِلٌ لِنَفْسِهِ قَبْلَ يَوْمِ بُؤْسِهِ! أَلاَ وَإِنَّكُمْ فِي أَيَّامِ أَمَلٍ مِنْ وَرَائِهِ أَجَلٌ، فَمَنْ عَمِلَ فِي أَيَّامِ أَمَلِهِ قَبْلَ حُضُورِ أَجَلِهِ فَقَدْ نَفَعَهُ عَمَلُهُ، وَلَمْ يَضْرُرْهُ أَجَلُهُ؛ وَمَنْ قَصَّرَ فِي أَيَّامِ أَمَلِهِ قَبْلَ حُضُورِ أَجَلِهِ، فَقَدْ خَسِرَ عَمَلَهُ، وَضَرَّهُ أَجَلُهُ، أَلاَ فَاعْمَلُوا فِي الرَّغْبَةِ كَمَا تَعْمَلُونَ فِي الرَّهْبَةِ . أَلاَوَإِنِّي لَمْ أَرَ كَالجَنَّةِ نَامَ طَالِبُهَا، وَلاَ كَالنَّارِ نَامَ هَارِبُهَا، أَلاَ وَإِنَّهُ مَنْ لاَيَنْفَعُهُ الحَقُّ يَضْرُرْهُ

## ﴿ اتويشتمه خطبه ﴾

(دا خطبه يې د وړوکي اختر په ورځ ورکړې ده)

دنيا پېژندنه.

اما بعد، پوه شئ چې دنيا مخ اړولے او د خدائے په امانۍ غږ يې کړے دے، او آخرت مخ رااړولے او د لښکر مخ کښان يې څرګند شوي دي. خبر اوسئ! نن د مشق او چمتوالي او سبا د سيالۍ ورځ ده د ګټونکو انعام جنت او د بائيلونکو پائيله دوزخ دے. آيا څوک شته دے چې له مرګه مخکې توبه وکړي؟ څوک شته دے چې د قيامت د سختې ورځې له رارسېدو مخکې نيکې چارې ترسره کړي؟ خبر اوسئ نن د هيلو (اميدونو) ورځ ده خو شاته ورپسې د اجل ورځ راروانه ده نو څوک چې د هيلو په ورځ او د اجل تر رسېدو مخکې نېک عمل وکړي، نېک عمل به ګټه وررسولې وي او تاوان به يې نۀ وي کړے، او څوک چې د اميدونو په دنياګۍ کښې د مرينې تر رسېدو مخکې غفلت وکړي نو عمل يې په خسران او اجل يې په تاوان کښې دے. نو څرنګه چې د وېرې او سختۍ په ګړيو کښې د خدائے لپاره کار کوئ همداسې په خوشحالۍ او راحت کښې وکړئ ما د جنت په شان بل يو څيز هم نۀ دے ليدلے چې لټوال يې د غفلت په خوب اودۀ وي او د دوزخ په شان بل څيز مې نۀ دے ليدلے چې

الْبَاطِلُ، وَمَنْ لا يستقم بِهِ الهُدَى يَجُرُّ بِهِ الضَّلَالُ إِلَى الرَّدَى. أَلاَ وَإِنَّكُمْ قَدْ أُمِرْتُمْ بِالظَّعْنِ، وَدُلِلْتُمْ عَلَى الزَّادِ. وَإِنَّ أَخْوَفَ مَا أَخَافُ عَلَيْكُمْ: اتِّبَاعُ الهَوَى، وَطُولُ الأَمَلِ، تَزَوَّدُوا فِي الدُّنْيَا مِنَ الدُّنْيَا مَا تَحُوزُونَ بِهِ أَنْفُسَكُمْ غَداً.

تښتېدونکي ترې د غفلت په ټالونو ځانګي.خبر اوسئ! چاته چې حق فائده اونۀ رسوي باطل به تاوان وررسوي او د چا چې هدايت لاربنود نۀ وي ګمراهي به يې ګړنګونو ته اوغورځوي. نو خبر اوسئ! د کوچېدو امر درته وشو او د آخرت د توښې د غونډولو غږ درباندې وشو. ستاسو په حق کښې هغه څه چې ډېر بوږنوونکي دي او زۀ يې اندېښنه لرم د نفساني خواهشاتو او اوږدو هيلو او اميدونو پېروي ده نو له دې دنيا توښه واخلئ چې سبا پرې ځان اوساتئ.

سيد رضي وائي: که يوه خبره وي چې خلق زهد ته وبلي او د آخرت لپاره عمل ته يې اوهڅوي همدا خبره ده چې له هيلو او اميدونو د انسان طمعه لنډولې او په زړۀ کښې د بېدارئ رڼا او له بدو عملونو کرکه پېدا کولې شي. په دغو کښې يوه ډېره حېرانوونکې دا جمله ده چې وې فرمايل:» خبر اوسئ نن د مشق او تيارئ او سبا د مقابلې او سيالئ ورځ ده د ګټونکو انعام جنت او د بائېلونکو پايله او انجام اور دے.» ځکه سره له دې چې په دغه کلام کې الفاظ لوے تمثيل صحيح او تشبيه حقيقي ده يو عجيبه راز او لطيفه معنا هم پکښې پټه ده او هغه د «والسبقة الجنة و الغاية النار» ده امام په دغو دوو لفظونو کښې د معنا د اختلاف په وجه جدائي راوستې ده نۀ يې دي ويلي چې السبقة النار، لکه څرنګه چې وائي السبقة الجنة، ځکه چې سبقت کول او مخکې کېدل په هغو څيزونو کښې وي چې د انسان خوښ وي او دا د جنت يو صفت دے او دا معنا په دوزخ کښې چې خدا ے ته ترې پناه وروړوو نه ده موجوده . يعنې امام نۀ دي ويلي چې « السبقة النار» بلکه ويلي يې دي چې الغاية النار،ځکه چې غايت يعنې پاي او انجام يوه لويه معنا ده چې هم په خوښېدونکو او هم په نا خوښو چارو کښې استعمالېږي او په حقيقت کښې د «مصير او مال» مرادفه ده. چې د انجام او پائېلې په معنا راځي، هلته چې لوے خدا ے فرمائي: «قل تمتعوا فان مصيركم الي النار» يعنې او کافرانو ته ووايه چې په دې دنيا کښې خوندونه واخلئ خو انجام مو د دوزخ په لور دے. نو په دې خطبې کښې ځېرتيا پکار ده چې څومره هېښوونکې محتوا لري.د امام نورې خبرې هم داسې دي او د دغه خطبې په ځينو نسخو کښې السبقة د سين په ضمې او پېښ سره راغلې ده دا هغه انعام ته ويل کېږي چې ګټونکو ته ورکول کېږي که هغه نغد انعام وي او که بل څه او د دواړو معنې سره نژدې دي ځکه چې بدله او انعام تقريبا يو څيز دے.

## [ ۲۹ ]

بَعْدَ غَارَةِ الضَّحَّاكِ بْنِ قَيْسٍ صَاحِبِ مُعَاوِيَةَ عَلَى الْحَاجِّ
بَعْدَ قِصَّةِ الْحَكَمَيْنِ

أَسْبَابُ هَزِيمَةِ أَهْلِ الْكُوفَةِ

أَيُّهَا النَّاسُ، الْمُجْتَمِعَةُ أَبْدَانُهُمْ، الْمُخْتَلِفَةُ أَهْوَاؤُهُمْ، كَلامُكُمْ يُوهِي الصُّمَّ الصِّلابَ، وَفِعْلُكُمْ يُطْمِعُ فِيكُمُ الأَعْدَاءَ! تَقُولُونَ فِي الْمَجَالِسِ: كَيْتَ وَكَيْتَ، فَإِذَا جَاءَ الْقِتَالُ قُلْتُمْ: حِيدِي حَيَادِ! مَا عَزَّتْ دَعْوَةُ مَنْ دَعَاكُمْ، وَلاَ اسْتَرَاحَ قَلْبُ مَنْ قَاسَاكُمْ، أَعَالِيلُ بِأَضَالِيلَ، دِفَاعَ ذِي الدَّيْنِ الْمَطُولِ، لاَ يَمْنَعُ الضَّيْمَ الذَّلِيلُ! وَلاَ يُدْرَكُ الْحَقُّ إِلاَّ بِالْجِدِّ! أَيَّ دَارٍ بَعْدَ دَارِكُمْ تَمْنَعُونَ، وَمَعَ أَيِّ إِمَامٍ بَعْدِي تُقَاتِلُونَ؟ الْمَغْرُورُ وَاللهِ مَنْ غَرَرْتُمُوهُ، وَمَنْ فَازَ بِكُمْ فَازَ بِالسَّهْمِ الأَخْيَبِ، وَمَنْ رَمَى بِكُمْ فَقَدْ رَمَى بِأَفْوَقَ نَاصِلٍ. أَصْبَحْتُ وَاللهِ لا أُصَدِّقُ قَوْلَكُمْ، وَلاَ أَطْمَعُ فِي

## ﴿نهويشتمه خطبه﴾

‹دا خطبه يې هغه وخت ورکړه چې ضحاک بن قېس د معاويه له لورې د هجرت په اته دېرشم کال د بيت الله د حاجيانو په قافلې بريد وکړ او سامان يې ورچور کړ امام وفرمايل:›

### د کوفيانو د ماتې لاملونه او اسباب

اے د کوفې خلقو! ستاسو بدنونه د يو بل په څنګ کښې خو فکرونه مو له يو بله لرې دي، ګفتار مو سخت کاڼي ماتوي خو کردار مو دښمن هيله مندوي. په کورونو کښې ناست يئ او لوې لوې خبرې کوئ خو چې د جنګ ورځ راشي نو وائئ: اے جنګه درې درې، او تښتئ. څوک چې له تاسو مرسته وغواړي خواروئ يې، او څوک چې په مېدان پرېږدئ زړۀ يې قرار نۀ لري. او داسې چټې پلمې او بهانې جوړوئ لکه پوروړي چې نور نور مهلت غواړي له ما مهلت غواړئ او په جنګ کښې لټان يئ. پوه شئ چې کمزوري خلق هيڅکله ظلم نۀ شي غړولے او حق بې زياره لاسته نۀ راځي،تاسو چې د خپل کور دفاع نۀ کوئ د بل چا د کور به يې څه وکړئ! او له ما وروسته به د کوم امام په څنګ کښې جنګېږئ .په خدا ے قسم! څوک چې ستاسو په خبره ډاډه شي غولېدلي دي او څوک چې ستاسو په طمعه د جنګ ډګر ته راشي په ډېرې پڅې نېزې يې جنګ ته دانګلې دي. او څوک چې وغواړي په تاسو باندې دښمن ووهي په مات غشي سره يې ګزار کړے دے. قسم په خدا ے ! سحر مې کړ په داسې حال کښې چې ستاسو په خبرو مې باور نۀ کوۀ او ستاسو مرستې ته مې

نَصْرِكُمْ، وَلاَ أُوعِدُ العَدُوَّ بِكُمْ. مَا بَالُكُمْ؟ مَا دَوَاؤُكُمْ؟ مَا طِبُّكُمْ؟ القَوْمُ رِجَالٌ أَمْثَالُكُمْ، أَقَوْلاً بِغَيْرِ عِلْمٍ! وَغَفْلَةً مِنْ غَيْرِ وَرَعٍ! وَطَمَعاً فِي غَيْرِ حَقٍّ؟!

هیله نهٔ وه. او ستاسو په وسیله دښمن نهٔ ګواښم، رښتیا دا چې په تاسو څه شوي دي؟ درمل مو څه دي او درمان موڅه دے؟ آیا د شام خلق هم ستاسو په شان دي؟ آیا دا درسره ښائي چې شعار (تشې خبرې) ورکړئ خو عمل اونهٔ کړئ غفلت وکړئ او له خدایه اونهٔ ویرېږئ او بې له خدایه بل چاته طمعه ولرئ؟

[ ۳۰ ]

وَمِنْ كَلاَمٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ فِي مَعْنَى قَتْلِ عُثْمَانَ

﴿ دېرشمه خطبه ﴾

(د هجرت په پینځه دېرشم کال د حضرت عثمان په قتل کېدو د امام د لاس لرلو د اوازو له خپرېدو وروسته یې دا خطبه ورکړه)

الرَّدُّ عَلَى إِشَاعَاتِ الْخُصُومِ

د دښمن اوازو ته ځواب

لَوْ أَمَرْتُ بِهِ لَكُنْتُ قَاتِلاً، أَوْ نَهَيْتُ عَنْهُ لَكُنْتُ نَاصِراً، غَيْرَ أَنَّ مَنْ نَصَرَهُ لاَ يَسْتَطِيعُ أَنْ يَقُولَ: خَذَلَهُ مَنْ أَنَا خَيْرٌ مِنْهُ، وَمَنْ خَذَلَهُ لاَ يَسْتَطِيعُ أَنْ يَقُولَ: نَصَرَهُ مَنْ هُوَ خَيْرٌ مِنِّي. وَأَنَا جَامِعٌ لَكُمْ أَمْرَهُ، اسْتَأْثَرَ فَأَسَاءَ الأَثَرَةَ، وَجَزِعْتُمْ فَأَسَأْتُمُ الجَزَعَ، وَلِلّٰهِ حُكْمٌ وَاقِعٌ فِي الْمُسْتَأْثِرِ وَالجَازِعِ.

که د عثمان د قتل امر مې کړے وې، قاتل به وم او که مخه مې یې نیولې وې نو د عثمان مرستندوے به وم، سره له دې چا[۳۷] چې د هغهٔ مرسته وکړه نهٔ شي ویلې چې تر هغو کسانو غوره دے چې له مرستې یې لاس واخېست. او چا چې یې له مرستې لاس واخېست،نهٔ شي ویلې چې ملګري یې له مونږ غوره دي. زهٔ به درته د عثمان قتل په یوه جمله کښې رالنډ کړم. عثمان ظلم او خپل سري وکړه او تاسو بېړه او بې صبري وکړه. او له حده تېر شوئ، او خداے هم د ظلم او خپل سرۍ او هم د بې تابۍ او تندۍ لپاره حکم لري[۳۸] چې په ځاے به شي.

«حمزه بابا د سپېڅلي ویناوې په ۱۱۹م او ۱۲۰م مخونو د دغه خطبې ترځنګه لیکي:»

زهٔ وایم

مونږ د رسول کریمﷺ د ملګرو بې حده احترام کوو او خداے دې نهٔ کړي چې مونږ د پرې جنبې لپاره د هغوي په قول او فعل تنقید وکړوو خو باید چې مونږ اصحاب له انسانانو نه اوچت ونهٔ ګڼو او د هغوي له ذات نه هم دغه شان خطا او غلطۍ د صادر کېدو قائل شوو څرنګه چې له نورو انسانانو نه صادرېږي، البته دومره ده چې د هغوي نه به د تعصب له کبله ډېرې کمې غلطۍ کېدې هغوي د یو نبي په څېر له خطا نه معصوم نهٔ وو خو زمونږ د مسلمانو عوامو خوښه کوې چې علماء هم اصحابو ته دومره درجه ورکړې ده چې مونږ مجبور یوو چې افراط ورته ووایو، بیا زمونږ هغو ورونو کوم چې له شیعه مذهب سره اتفاق نهٔ لري. شیعه خو له خپلو اصولو نه مجبور دي ځکه چې هغوي ائمه معصومان ګڼي نو هغوي که د حضرت عليؑ په ظاهره غلطۍ هم غلطي ونهٔ ګڼي نو معذوره دي، زهٔ حېران سواد اعظم ته یم چې هغوي ولې د معقولیت له حد نه تجاوز کوي چې هغوي د انصاف په ټکي ګوتې نږدې نو دومره فکر خو دې وکړي چې اخېر د حضرت عثمانؓ په خلاف دومره اجماع ولې کېده؟ ولې لوے لوے اصحابان لکه عبدالله بن مسعودؓ، طلحهؓ، زبېرؓ، ابوذرؓ او ان چې حضرت عائشهؓ هم د هغهٔ مخالفه وه، اخېر څه خو به وو کنه. تاسو چې د رسولﷺ اصحابو ته دومره اوچته درجه ورکوئ نو اخېر دا مخالفان یې څوک وو؟ دا خو هم د رسولﷺ اصحاب وو، او په دغو کښې عشره مبشره هم وو، اوکه دا صحیح وي چې اتباع د سواد اعظم پکار ده نو په هغه وخت کښې بغېر له یو څو بني امیو نه ټول عوام او خواص د حضرت عثمانؓ مخالف وو او د هغهٔ په نصب العېن راضي نهٔ وو. هم د دې بې ځایه احترام نتیجه دا شوه چې د اسلام تاریخ په غلط رنګ کښې دنیا ته وړاندې کړے شو.

اهل سنت والجماعت چې خلفاء راشدین د رسول اللهﷺ نائبان ګڼل نو په دغو خلفاو کښې د څلورم خلیفه مخالفان حضرت طلحهؓ، زبېرؓ او حضرت عائشهؓ او داسې نور چې مېنځ ته راتلل نو مشکله شوه چې اوس به دې ته څه وایوو؟ نو فېصله یې دا وکړه چې هم یې حضرت عليؑ راشد خلیفه او د رسول نائب وګڼلو او هم یې دا مخالف حضرات په حقه وګڼل، څه چلېږه دا هم حق او هغه هم حق، او کهٔ څوک ترې تپوس وکړي چې وروره د عشره مبشره او د عائشې صدیقې په مقابله کښې ستا د رائې څه اهمیت دے. هغوي خو حضرت عليؑ که د عثمان قاتل نهٔ ګڼي نو دا خو یې دعوی ده چې د هغه حضرت په اشاره دا کار شوے دے نو دا تا خو په خپله د ډېرو اصحابو په شمول د حضرت عائشېؓ راې ونهٔ منله او که بل څوک هم د احقاق حق لپاره داسې حقائق ښکاره کړي نو تاسو خفه کېږئ او وائئ چې دا بدبخت د رسولﷺ په اصحابو اعتراض کوي. په دې خطبه کښې حضرت عليؑ د حضرت عثمانؓ په قتل کښې د شمولیت نه انکار کوي او تاسو هم د دې قائل شئ چې د حضرت عليؑ لمن د دې وینو له داغ نه پاکه ده،

خو بلې ډډې ته هم لوے لوے اصحاب دا وائي چې حضرت علي په دې ګناه کښې شامل دے، نو چې تاسو د هغو نورو دا دعوا نۀ تسليموئ نو صفا معلومه شوه چې تاسو هغوي په غلطۍ ګڼئ او حضرت علي ؑ په حقه ګڼئ. په غبر شعوري ډول لګيا يئ تنقيد کوئ او په اصحابو د تنقيد کولو ممانعت هم کوئ. نو د خداے لپاره د احترام په دائره کښې دننه دننه سپېڅلے تنقيد وکړئ او مسلمانان نور په تيارۀ کښې مۀ ساتئ.

[ ۳۱ ]

لَمَّا أَنْفَذَ عَبْدَاللهِ بْنَ الْعَبَّاسِ رَحِمَهُ اللهُ إِلَى الزُّبَيْرِ قَبْلَ وُقُوعِ الْحَرْبِ يَوْمَ الْجَمَلِ لِيَسْتَفِيئَهُ إِلَى طَاعَتِهِ، قَالَ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

نَفْسِيَّةُ طَلْحَةَ وَالزُّبَيْرِ

**لاَتَلْقَيَنَّ طَلْحَةَ، فَإِنَّكَ إِنْ تَلْقَهُ تَجِدْهُ كَالثَّوْرِ عَاقِصاً قَرْنَهُ، يَرْكَبُ الصَّعْبَ وَيَقُولُ: هُوَ الذَّلُولُ، وَلكِنِ الْقَ الزُّبَيْرَ، فَإِنَّهُ أَلْيَنُ عَرِيكَةً، فَقُلْ لَهُ: يَقُولُ لَكَ ابْنُ خَالِكَ: عَرَفْتَنِي بِالْحِجَازِ وَأَنْكَرْتَنِي بِالْعِرَاقِ، فَمَا عَدَا مِمَّا بَدَا؟**

## ﴿ يو دېرشمه خطبه ﴾

(د جمل د جنګ په پېل کښې د هجرت په شپږ دېرشم کال يې ابن عباس[39] د نصيحت لپاره زبېر ته ولېږۀ)

### د طلحه او زبېر نفسيات[40]

له طلحه سره مۀ ګوره ځکه چې په ملاقات کښې به پوه شې چې هغه د سرکښۀ غوئي په شان دے چې ښکر يې تاو کړي نو ډغرې ته تيار دے. هغه په سرکښه سورلۍ سپرېږي او وائي چې دا خو رام ده. بلکه له زبېر سره وګوره چې هغه نرم خويه دے. هغۀ ته ووايه، د ماما زوے دې وائي چې: په حجاز کښې دې زۀ اوپېژندلم او په عراق کښې مې نۀ پېژنې، ولې له خپل لوظه ستون شوې؟

(سيد رضي وائي: د «فما عدا مما بدا» يعنې څه اوشو چې له پيمانه ستون شوې، داجمله په اول ځل له امام علي ؑ نه اورېدلې شوې ده له دې مخکې چا نۀ ده استعمال کړې.

[ ۳۲ ]

وَفِيهَا يَصِفُ زَمَانَهُ بِالْجَوْرِ، وَيُقَسِّمُ النَّاسَ فِيهِ خَمْسَةَ أَصْنَافٍ، ثُمَّ يُزَهِّدُ فِي الدُّنْيَا:

۱. الْعَدُّ التَّنَازُلِيُّ لِلأُمَّةِ الإِسْلاَمِيَّةِ

**أَيُّهَا النَّاسُ، إِنَّا قَدْ أَصْبَحْنَا فِي دَهْرٍ عَنُودٍ، وَزَمَنٍ كَنُودٍ، يُعَدُّ فِيهِ الْمُحْسِنُ مُسِيئاً، وَيَزْدَادُ الظَّالِمُ فِيهِ عُتُوّاً، لاَ نَنْتَفِعُ بِمَا عَلِمْنَا، وَلاَ نَسْأَلُ عَمَّا جَهِلْنَا، وَلاَ نَتَخَوَّفُ قَارِعَةً حَتَّى تَحُلَّ بِنَا.**

۲. طَبَقَاتُ النَّاسِ بَعْدَ رِحْلَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ

**فَالنَّاسُ عَلَى أَرْبَعَةِ أَصْنَافٍ: مِنْهُمْ مَنْ لاَ يَمْنَعُهُ الْفَسَادَ فِي الأَرْضِ إِلاَّ مَهَانَةُ نَفْسِهِ، وَكَلاَلَةُ حَدِّهِ، وَنَضِيضُ وَفْرِهِ. وَمِنْهُمُ الْمُصْلِتُ لِسَيْفِهِ، وَالْمُعْلِنُ بِشَرِّهِ، وَالْمُجْلِبُ بِخَيْلِهِ وَرَجِلِهِ، قَدْ أَشْرَطَ نَفْسَهُ، وَأَوْبَقَ دِينَهُ لِحُطَامٍ يَنْتَهِزُهُ، أَوْ مِقْنَبٍ يَقُودُهُ، أَوْ مِنْبَرٍ يَفْرَعُهُ. وَلَبِئْسَ الْمَتْجَرُ أَنْ تَرَى الدُّنْيَا لِنَفْسِكَ ثَمَناً، وَمِمَّا لَكَ عِنْدَ اللهِ عِوَضاً! وَمِنْهُمْ مَنْ يَطْلُبُ الدُّنْيَا بِعَمَلِ الآخِرَةِ، وَلاَ يَطْلُبُ الآخِرَةَ بِعَمَلِ الدُّنْيَا، قَدْ طَامَنَ مِنْ شَخْصِهِ، وَقَارَبَ مِنْ خَطْوِهِ، وَشَمَّرَ مِنْ ثَوْبِهِ، وَزَخْرَفَ مِنْ نَفْسِهِ لِلأَمَانَةِ، وَاتَّخَذَ سِتْرَ اللهِ ذَرِيعَةً إِلَى**

## ﴿ دوه دېرشمه خطبه ﴾

(د هجرت په اوۀ دېرشم کال د کوفې په جومات کښې د رسول الله مبارک ﷺ له زمانې د وروسته وخت د خلقو په پېژندلو کښې يې دا خطبه بيان کړه)

### ۱: د اسلامي امت په شاتګ

اے خلقو! په داسې کينه کښې او ناشکره زمانه کښې مو سترګې رڼې کړې چې نېکان، بدان ګڼل کېږي او ظالم پکښې نور نور ظلم کوي. نۀ له خبرو او ځيزونو ګټه اخلو او نۀ په ناخبرو د پوهېدو لپاره له چا پوښتنه کوو او نۀ له کومې لوې پېښې چې تر څو مو په سر رانۀ شي وېرېږو.

### ۲: له پېغمبر اکرم ﷺ نه وروسته د خلقو نفسيات

په دې زمانه کښې خلق څلور ډوله دي، که ځينې کسان په فساد لاس نۀ پورې کوي وجه يې دا ده چې اروا يې ناتوانه، توره يې پڅه او پېسه ورسره کمه ده. بل ډول هغه کسان دي چې تورې يې وکښلې او شر او فساد يې ښکاره کړے دے، پلي او سپاره لښکرې يې چمتو کړې او د نورو د وينو څښلو ته تيار دي. خپل دين يې د دنيا د مال لپاره تباه کړ چې يا د ځينو کسانو مشر او کوماندان شي او يا په منبر اوخيژي او خطبه ووائي، دا څومره بده سودا ده چې انسان دنيا د خپل ځان په بيه اوګڼي او په هغه څه يې بدله کړي چې له خداے سره دي. بل ډول کسان هغه دي چې د آخرت په عملونو دنيا اخلي او د دنيا په عملونو د آخرت په طلب کښې نۀ دي. ځانونه واړۀ او متواضع ښيي، ګامونه په ريا سره واړۀ واړۀ اخلي، لمنه يې راغونډه کړي او ځانونه يې د حقيقي مومنانو

الْمَعْصِيَةِ. وَمِنْهُمْ مَنْ أَقْعَدَهُ عَنْ طَلَبِ الْمُلْكِ ضُؤُولَةُ نَفْسِه، وَانْقِطَاعُ سَبَبِه، فَقَصَرَتْهُ الْحَالُ عَلَى حَالِه، فَتَحَلَّى بِاسْمِ الْقَنَاعَةِ، وَتَزَيَّنَ بِلِبَاسِ أَهْلِ الزَّهَادَةِ، وَلَيْسَ مِنْ ذَلِكَ فِي مَرَاحٍ وَلَا مَغْدًى.

پ‌ه شان پسولي، او الهي جامه د نفاق، او د دنيا طلبۍ وسيله ګرځوي، بله ډله د هغو کسانو ده چې په پستۍ ذلت او د وسائلو د نيشتوالي په وجه د طاقت له لاسته راوړلو څخه محرومه شوې دي نو ځکه يې د قناعت ګاڼې اچولي او د زاهدانو جامې يې اغوستې دي، دوي په هيڅ وخت کې رښتيني زاهدان نۀ وو.

٣. حَالَةُ الْأَتْقِيَاءِ فِي الْمُجْتَمَعِ الْمَمْسُوخِ

وَبَقِيَ رِجَالٌ غَضَّ أَبْصَارَهُمْ ذِكْرُ الْمَرْجِعِ، وَأَرَاقَ دُمُوعَهُمْ خَوْفُ الْمَحْشَرِ، فَهُمْ بَيْنَ شَرِيدٍ نَادٍّ، وَخَائِفٍ مَقْمُوعٍ، وَسَاكِتٍ مَكْعُومٍ، وَدَاعٍ مُخْلِصٍ، وَثَكْلَانَ مُوجَعٍ، قَدْ أَخْمَلَتْهُمُ التَّقِيَّةُ، وَشَمِلَتْهُمُ الذِّلَّةُ، فَهُمْ فِي بَحْرٍ أُجَاجٍ، أَفْوَاهُهُمْ ضَامِزَةٌ، وَقُلُوبُهُمْ قَرِحَةٌ، قَدْ وَعَظُوا حَتَّى مَلُّوا، وَقُهِرُوا حَتَّى ذَلُّوا، وَقُتِلُوا حَتَّى قَلُّوا.

۳: په مسخ شوې ټولنه کښې د پرهېزګارو حال

نو په دې مينځ کښې داسې ګوته په شمېر کسان پاتې کېږي چې د قيامت ياد يې سترګې له هر څه پټې کړې او د لوې ورځې ويرې يې له سترګو اوښکې روانې کړې دي، ځينې يې له ټولنې شړل شوې او يوازې اوسېږي، او ځينې نور ترهېدلي،ځپل شوې يا يې خولې ګنډلې دي، ځينې پکې په اخلاص سره هماغه رنګ خلق د خداے پاک لورې ته رابلي او ځينې نور بيا ژړغوني او درد من دي چې تقيې او صبر د خلقو له سترګو غورځولې او بې وسې يې په وجود خپره شوې ده. ته به وائې د مالګې په درياب کښې ښخ دي خولې يې تړلې او زړونه يې پرژلې دي، دوي دومره نصيحت وکړ چې ستړي شول، دومره وځپل شول چې له برمه پرېوتول او دومره ووژل شول چې ګوته په شمېر پاتې شول.

٤. أُسْلُوبُ الْمُوَاجِهَةِ مَعَ الدُّنْيَا

فَلْتَكُنِ الدُّنْيَا أَصْغَرَ فِي أَعْيُنِكُمْ مِنْ حُثَالَةِ الْقَرَظِ، وَقُرَاضَةِ الْجَلَمِ، وَاتَّعِظُوا بِمَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ قَبْلَ أَنْ يَتَّعِظَ بِكُمْ مَنْ بَعْدَكُمْ؛ وَارْفُضُوهَا ذَمِيمَةً، فَإِنَّهَا قَدْ رَفَضَتْ مَنْ كَانَ أَشْغَفَ بِهَا مِنْكُمْ.

٤: له دنيا سره چلن

نو د دې دنيا ارزښت درته (د سلم ونې) تر وچو بوسو او تر غوڅو شويو وژغنو او وړيو هم کم پکار دے. له تېرو خلقو عبرت واخلئ مخکې له دې چې راتلونکي له تاسو عبرت واخلي، دا فاسده او غندلې دنيا پرېږدئ ځکه چې له هغو کسانو سره يې هم وفا اونۀ کړه چې تر تاسو پرې زيات مئين وو.

سيد رضي وائي: ځينو ناپوهو کسانو دا خطبه د معاويه ګڼلې ده، خو بې له شکه دا د اميرالمومنين خطبه ده. سرۀ چرته او خاورې خشاک چرته. خوږې او رښې اوبۀ چرته او تروې او تروشې اوبۀ چرته.د دې خبرې دليل د «عمرو بن بحر جاحظ» خبره ده چې د ادبياتو ماهر او سترګور کره کتونکے دے، هغۀ دا خطبه په «البيان و التبيين» کتاب کښې راوړې او ويلي يې دي دا ځينو کسانو د معاويه خطبه ګڼلې ده، خو بيا يې زياته کړې چې دا خطبه د امام؏ وېنا او د خلقو په تقسيم کښې د هغوې وېشلو ته زياته نزدې ده او دا امام علي؏ دے چې د برلاسۍ، تقيې، ويرې او داسې نورو ډلو د خلقو په حال ښه خبر ۇ، بيا وائي: تر اوسه چا ليدلې ده چې معاويه دې په خپلو خبرو کښې د زهد او تقوا خبره کړې وي او د خداے د بندګانو لار او روده يې غوره کړې وي.

[ ٣٣ ]

عِنْدَ خُرُوجِه لِقِتَالِ أَهْلِ الْبَصْرَةِ

﴿ درې د پرشمه خطبه ﴾

(د هجرت په شپږ دېرشم کال له ناکثينو سره د جنګ لپاره بصرې ته د تګ په وخت يې په ذي قار[41] سيمه کښې دا وېنا وکړه)

قَالَ عَبْدُاللهِ بْنُ عَبَّاسٍ رَحِمَهُ اللهُ: دَخَلْتُ عَلَى أَمِيرِ الْمُؤْمِنِينَ صَلَوَاتُ اللهِ عَلَيْهِ بِذِي قَارٍ وَهُوَ يَخْصِفُ نَعْلَهُ، فَقَالَ لِي: مَا قِيمَةُ هَذَا النَّعْلِ؟ فَقُلْتُ: لَا قِيمَةَ لَهَا! قَالَ: وَاللهِ لَهِيَ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ إِمْرَتِكُمْ، إِلَّا أَنْ

«ابن عباس؄ وائي: په ذي قار سيمه کښې اميرالمومنين؏ ته ورغلم هغه د کڼاؤ په ګنډلو لګيا ۇ چې زۀ يې اوليدم، وې وې فرمايل: د دې پېزار قيمت به څومره وي؟ اومې ويل هيڅ څه، وې فرمايل: په خداے قسم دا بې ارزښته کڼاوې ماته په تاسو باندې له حکومت کولو زياتې خوښې

أُقِيمَ حَقّاً، أَوْ أَدْفَعَ بَاطِلاً. ثُمَّ خَرَجَ عَلَيْهِ السَّلَامُ فَخَطَبَ النَّاسَ فَقَالَ:

دي مګر دا چې په دغه حکومت سره يوکوم حق په ځاے کړم يا باطل ختم کړم، بيا له خيمې راووت او خلقو ته يې دا خطبه وفرمايله:»

۱. الْغَايَةُ مِنْ إِرْسَالِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِه

## ۱: د نبي ﷺ د رالېږلو مقصد

إِنَّ اللهَ سُبحانَه بَعَثَ مُحَمَّداً صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وآلِه، ولَيْسَ أَحَدٌ مِنَ الْعَرَب يَقْرأُ كتاباً، ولاَ يَدَّعِي نُبُوَّةً، فَسَاقَ النَّاسَ حَتَّى بَوَّأَهُمْ مَحَلَّتَهُمْ، وبَلَّغَهُمْ مَنْجَاتَهم، فَاسْتَقَامَتْ قَنَاتُهمْ، وَاطْمَأَنَّتْ صفَاتُهمْ.

بې له شکه خداے پاک هغه وخت حضرت محمد ﷺ مبعوث کړ چې په عربو کښې د هيچا د کتاب لوستل نۀ وو زده او هيچا د نبوت ادعا نۀ کوله، پېغمبراکرم ﷺ دغه جاهل خلق د انساني عزت مقام ته اوچت کړل او کامياب يې کړل،داسې چې نېزې يې پخې نۀ شوې او بريالي شول او ټولنه يې پياوړې شوه.

۲. خَصَائِصُ الإمَامِ عَلِيٍّ عَلَيْهِ السَّلَامُ الْعَسْكَرِيَّةُ

## ۲: د امام علي ؑ فوځي او اخلاقي ځانګړتيا او خصوصيت

أَمَا وَاللهِ إنْ كُنْتُ لَفِي سَاقَتِهَا حَتَّى تَوَلَّتْ بِحَذَافِيرهَا، مَا عَجَزْتُ،وَلاَ جَبُنْتُ، وَإِنَّ مَسِيرِي هذَا لِمِثْلِهَا، فَلاَنْقُبَنَّ الْبَاطِلَ حَتَّى يَخْرُجَ الْحَقُّ مِنْ جَنْبِه.

په خداے قسم! زۀ د اسلامي لښکر له مخ کښانو وم تر دې چې د کفر او شرک لښکرې مې تار و مار کړې، نه خو زۀ چرته کمزورے او پړ شوم او نه وويرېدم، اوس هم په هغه لار روان يم، د باطل هغه پردې ځيرم چې حق يې له خنګه بهر راووځي.

۳. الشَّكْوَى مِنْ قُرَيْشٍ

## ۳: د قريشو د فتنه پالنې ګيله

مَالِي وَلِقُرَيْشٍ! وَاللهِ لَقَدْ قَاتَلْتُهُمْ كَافِرِينَ وَلأُقَاتِلَنَّهُمْ مَفْتُونِينَ، وَإِنِّي لَصَاحِبُهُمْ بِالاَمْسِ كَمَا أَنَا صَاحِبُهُمُ الْيَوْمَ! وَاللهِ مَا تَنْقِمُ مِنَّا قُرَيْشٌ إِلاَّ أَنَّ اللهَ اخْتَارَنَا عَلَيْهِمْ فَأَدْخَلْنَاهُمْ فِي حَيِّزِنَا، فَكَانُوا كَمَا قَالَ الاَوَّلُ:

أَدَمْتَ لَعَمْرِي شُرْبَكَ الْمَحْضَ صَابِحاً
وَأَكْلَكَ بِالزُّبْدِ الْمُقَشَّرَةَ الْبُجْرَا
وَنَحْنُ وَهَبْنَاكَ الْعَلاَءَ وَلَمْ تَكُنْ
عَلِيّاً وَحُطْنَا حَوْلَكَ الْجُرْدَ وَالسُّمْرَا

او زما له قريشو سره څه غرض دے، په خداے قسم کله چې کافران وو ورسره اوجنګېدم او اوس هم چې غولېدلي او په فتنه اخته شوي دي جنګېږم، پرون له هغوي سره اوسېدم او نن ترې هم نۀ يم خلاص، په خداے قسم قريش له مونږ غچ او انتقام نۀ اخلي مګر په دې وجه چې خداے پاک مونږ تر هغوي غوره او خوښ کړو او عزت يې راکړ، مونږ هم هغوي په خپل ژوند کښې اومنل، نو داسې وو لکه شاعر چې وائي:

« په ځان مې قسم هر سحر دې خوږې شودې اوڅښلې او پېروے او بې زړې کجورې دې وريسې ووهلې، مونږ تاته دا مقام او لوړاوے درکړ که څه هم تۀ يې وړ نه وې، او ستا چاپېره مو تر سحره څوکيداري وکړه او تۀ مو وساتلې»

حمزه بابا د دغه خطبې ترځنګه د سپيځلي ويناوې په ۱۲۵م او ۱۲۶م مخونو کښې ليکي:»

## زۀ وايم

په دې خطبه کښې اميرالمومنين فرمايلي دي چې: «نه زۀ چرې چا ته کمزورے شوے يم او نۀ له چا نه ويرېدلے يم» دا يوه داسې دعوا ده چې که چرې مونږ دا صحيح وګڼو او حقيقت دا دے چې صحيح ده نوبيا ضرور دا سوال پېدا کېږي چې په ټول عرب کښې يوازې اميرالمومنين څرنګه داسې فرد ؤ چې په ټول عمر کښې نۀ چا مغلوب کړو او نۀ له چا اويرېدۀ؟ ځرګنده خبره ده چې هغه لوے ځښتن د اسلام د نصرت او تائيد لپاره پېدا کړے ؤ او چې لوئے ځښتن له ازل نه د هغوي وجود د اسلام د مرستې لپاره غوره کړے ؤ نو شخصيت يې هم داسې ورکړے ؤ چې هغه هيڅرې ماتې ونۀ خوري او نۀ له چا نه اويرېږي.که چرې د هغوي په شخصيت کښې يوه کمزوري هم داسې وې چې د هغوي د فرائضو لپاره د کمزورۍ سبب کېدې نو بيا هغه فرائض ترې نۀ شول پوره کېدې د کومو لپاره چې لوے خداے د هغوي وجود جوړ کړے ؤ. د هغوي هم دغه فوق الفطرت شخصيت ؤ چې ډېر خلق يې د شخصيت د تصور په افراط کښې د کفر سرحد ته اورسېدل او ډېر يې په تفريط کښې له اسلام نه لاس په سر شول، ډېرو خلقو ورته مظهرالعجائب وويل او ډېر اوس هم داسې شته چې هغوي ته د الوهيت نسبت کوي، خو د دغو ټولو اختلافاتو نه بغير دومره خو ضرور معلومېږي چې د کوم کار لپاره هغوي خداے پېدا کړي وو او څرنګه شخصيت يې چې ورکړے ؤ نو بيا که څوک هغوي ته د طاهر او معصوم نسبت وکړي نو ګرم به نۀ وي. د دې خبرې تائيد يو حديث هم کوي چې په نورالابصار کښې زما له نظره تېر دے، او هغه دا چې رسول کريم ﷺ فرمايلي دي چې زما يقين دے چې علي ؑ به هيڅرې کبيره ګناه ونکړي.

په دې خطبه کښې د اميرالمومنين دريم ارشاد دا دے چې: ((زما دا سفر هم هغه شان دے چې د رسالت په زمانه کښې به کېدۀ)) ګويا اميرالمومنين د هغې خبرې تکرار کړے دے کومه چې هغۀ په يوه بله خطبه کښې فرمايلې ده، او د هغې مطلب دا ؤ چې زۀ داسې حالاتو سره مخامخ يم لکه چې رسول اللهﷺ په ابتداء کښې ورسره مخامخ ؤ او څرنګه چې رسول اللهﷺ د کفر او فتنې استيصال خپل فرض ګڼلو دغسې زۀ هم د موجوده فتنه بازو او په باطله روانو خلقو وهل فرض ګڼم. بيا د اميرالمومنين دا ارشاد چې قريش ځکه ما سره جنګ کوي چې ما په هغه وخت کښې ورسره جنګونه کړي دي (يعنې د هغوي مشران مې قتل کړي دي) کوم وخت چې هغه کافر وو. صفا معلوميږي چې د امير معاويه او د هغۀ د عزيزانو جنګ هم د هغې پخوانۍ دښمنۍ نتيجه وه. د هغوي په زړۀ کښې اسلام هيڅ اغېزه نۀ وه کړې، مسلمانان شوي وو او د وخت او موقعې منتظر وو.

[ ٣٤ ]

فِي اسْتِنْفَارِ النَّاسِ إِلَى الشَّامِ [بَعْدَ فَرَاغِهِ مِنْ أَمْرِ الْخَوَارِجِ]

۱. تَوْبِيخُ أَهْلِ الْكُوفَة

**أُفٍّ لَكُمْ! لَقَدْ سَئِمْتُ عِتَابَكُمْ! أَرَضِيتُمْ بِالْحَيَاةِ الدُّنْيَا مِنَ الآخِرَةِ عِوَضاً؟ وَبِالذُّلِّ مِنَ الْعِزِّ خَلَفاً؟ إِذَا دَعَوْتُكُمْ إِلَى جِهَادِ عَدُوِّكُمْ دَارَتْ أَعْيُنُكُمْ، كَأَنَّكُمْ مِنَ الْمَوْتِ فِي غَمْرَةٍ، وَمِنَ الذُّهُولِ فِي سَكْرَةٍ، يُرْتَجُ عَلَيْكُمْ حَوَارِي فَتَعْمَهُونَ، فَكَأَنَّ قُلُوبَكُمْ مَأْلُوسَةٌ، فَأَنْتُمْ لاَ تَعْقِلُونَ. مَا أَنْتُمْ لِي بِثِقَةٍ سَجِيسَ اللَّيَالِي، وَمَا أَنْتُمْ بِرُكْنٍ يُمَالُ بِكُمْ، وَلاَ زَوَافِرُ عِزٍّ يُفْتَقَرُ إِلَيْكُمْ. مَا أَنْتُمْ إِلاَّ كَإِبِلٍ ضَلَّ رُعَاتُهَا، فَكُلَّمَا جُمِعَتْ مِنْ جَانِبٍ انْتَشَرَتْ مِنْ آخَرَ،**

۲. عِلَلُ سُقُوطِ الْكُوفِيِّينَ

**لَبِئْسَ ـ لَعَمْرُ اللهِ ـ سُعْرُ نَارِ الْحَرْبِ أَنْتُمْ! تُكَادُونَ وَلاَ تَكِيدُونَ، وَتُنْتَقَصُ أَطْرَافُكُمْ فَلاَ تَمْتَعِضُونَ؛ لاَ يُنَامُ عَنْكُمْ وَأَنْتُمْ فِي غَفْلَةٍ سَاهُونَ، غُلِبَ وَاللهِ الْمُتَخَاذِلُونَ! وَأَيْمُ اللهِ إِنِّي لَأَظُنُّ بِكُمْ أَنْ لَوْ حَمِسَ الْوَغَى، وَاسْتَحَرَّ الْمَوْتُ، قَدِ انْفَرَجْتُمْ عَنِ ابْنِ أَبِي طَالِبٍ انْفِرَاجَ الرَّأْسِ. وَاللهِ إِنَّ امْرَأً يُمَكِّنُ عَدُوَّهُ مِنْ نَفْسِهِ يَعْرُقُ لَحْمَهُ، وَيَهْشِمُ عَظْمَهُ، وَيَفْرِي جِلْدَهُ، لَعَظِيمٌ عَجْزُهُ، ضَعِيفٌ مَا ضُمَّتْ عَلَيْهِ جَوَانِحُ صَدْرِهِ. أَنْتَ فَكُنْ ذَاكَ إِنْ شِئْتَ، فَأَمَّا أَنَا فَوَاللهِ دُونَ أَنْ أُعْطِيَ ذلِكَ ضَرْبٌ بِالْمَشْرَفِيَّةِ تَطِيرُ مِنْهُ فَرَاشُ الْهَامِ، وَتَطِيحُ السَّوَاعِدُ وَالأَقْدَامُ، وَيَفْعَلُ اللهُ بَعْدَ ذلِكَ مَا يَشَاءُ.**

۳. الْحُقُوقُ الْمُتَبَادَلَةُ بَيْنَ الإِمَامِ وَالأُمَّة

## ﴿ څلوردېرشمه خطبه ﴾

((دا خطبه يې د هجرت په اتۀ دېرشم کال د خوارجو بلوه ګرو له ماتې وروسته له شاميانو سره د مقابلې لپاره د خلقو د تيارولو په غرض د کوفې په نخيله کښې ورکړه))

۱: د کوفيانو د لټۍ او سستۍ غندنه

افسوس دې وي په تاسو باندې اے کوفيانو! په ډېروغندلو مو ستړې شوم، آيا تاسو د قيامت د تل پاتې ژوند په بدل کښې په دې تېرېدونکي ژوند خوشحاله يئ. او د عزت او سرلوړۍ په ځاے مو ذلت او بد مرغي غوره کړې ده؟ کله مو هم چې له دښمنانو سره جهاد ته وغواړم نو سترګې مو داسې کاواکې شي لکه د ځنکندن ويرې چې مو عقل اخښستې وي يا نشه او حېرانه لالهانده يئ.او لکه عقل مو چې تللے وي او ليونې شوي يئ. نور نو تر قيامته درباندې باور نۀ کوم او درباندې د ملا تړلو جوګه نه يئ. تاسو عزتمن ملګري نۀ يئ چې څوک لاس دراوږد کړي او د بې ځاروانه اوښانو په شان يئ چې له يو لوري مو راغونډوم له بلې لوري خوريږئ.

۲: د کوفيانو د شاته پاتې والي سبب

په خداے قسم! تاسو د اور بد سونګ او خشاک يئ تاسو غولول کوئ خو د غولولو په چل نۀ پوهېږئ. ځمکې مو درنه پرله پسې تروړي خو پروا قدرې يې نۀ کوئ. دښمن ته ستاسو له غمه خوب نه ورځي خو تاسو هډو د غفلت له خوبه راوينبيږئ نه. په خداے قسم ماته هغه څوک نصيب دي چې د يو بل ملګرتيا نه کوي. . په خداے قسم! که جنګ زور واخېست او د وهلو وژلو اور تود شو د ابوطالب د زوے له خواو شا به داسې اوتښتئ لکه سر چې له تنه جدا کېږي.په خداے قسم څوک چې دښمن په ځان باندې واکمن کړي چې غوښه يې وخوري، هډونه يې مات کړي او پوستکي يې وشوکوي، د داسې کس عاجزي او ناتواني ډېره لويه او زړۀ يې ډېر وړوکے او کمزورے وي.تۀ که غواړې داسې شه خو په خداے قسم! زۀ په قرار نۀ کښېنم، او مخکې له دې چې دښمن په ما باندې غالب شي د تېرې تورې داسې ګوزار به پرې وکړم چې د سر ريز مريز هډونه يې خوارۀ وارۀ شي او لاسونه پښې يې جدا شي بيا نو چې د خداے څه رضا وي هغه به کېږي.

أَيُّهَا النَّاسُ! إِنَّ لِي عَلَيْكُمْ حَقّاً، وَلَكُمْ عَلَيَّ حَقٌّ: فَأَمَّا حَقُّكُمْ عَلَيَّ: فَالنَّصِيحَةُ لَكُمْ، وَتَوْفِيرُ فَيْئِكُمْ عَلَيْكُمْ، وَتَعْلِيمُكُمْ كَيْلا تَجْهَلُوا، وَتَأْدِيبُكُمْ كَيْمَا تَعْلَمُوا. وَأَمَّا حَقِّي عَلَيْكُمْ: فَالوَفَاءُ بِالبَيْعَةِ، وَالنَّصِيحَةُ فِي الْمَشْهَدِ وَالْمَغِيبِ وَالاجَابَةُ حِينَ أَدْعُوكُمْ، وَالطَّاعَةُ حِينَ آمُرُكُمْ.

۳: د امام او امت په یو بل باندې حقوق

اے خلقو! زهٔ په تاسو او تاسو په ما باندې حقونه لرئ په ما باندې ستاسو حق دا دے چې له خېرخواهۍ مو ډډه ونه کړم او بیت المال مو په مینځ کښې په انصاف وویشم او تاسو ته تعلیم درکړم چې ناپوهه پاتې نه شئ او وموروزم چې د ژوند لارې چارې زده کړئ. خو په تاسو باندې زما حق دا دے چې زما له بیعت سره وفاداره او په پټه او ښکاره مې خېرخواه اوسئ. کله مو چې وبلم ځواب راکړئ او کله چې امر درکړم وې منئ.

## [ ۳۵ ]

## بَعْدَ التَّحْكِيمِ

## ﴿ پینځهٔ دېرشمه خطبه ﴾

«د حکمیت او د عمرو عاص له دهوکې وروسته چې ابوموسی اشعري بې وغولوهٔ او په هغو شرطونو چې د حکمیت لپاره منل شوې وو عمل ونه شو نو امام دا خطبه د هجرت په اته دېرشم کال وکړه»

۱. ضَرُورَةُ الْحَمْدِ

الْحَمْدُ للهِ وَإِنْ أَتَى الدَّهْرُ بِالْخَطْبِ الْفَادِحِ، وَالْحَدَثِ الْجَلِيلِ، وَأَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلهَ إِلاَّ اللهُ، لَيْسَ مَعَهُ إِلهٌ غَيْرُهُ، وَأَنَّ مُحَمَّداً عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

۱: د حمد او ثنا ضرورت

ثنا خدا ے پاک لره ده! که څه هم زمانې پرېمانه سختۍ او لوې پېښې راوستلې. ګواهي ورکوم چې بې له یو واحد خدایه بل خدا ے نیشته، شریک نهٔ لري او بې له هغه بل معبود نیشته.او حضرت محمد ﷺ د خدا ے بنده او استازے دے.

۲. أَسْبَابُ هَزِيمَةِ الْكُوفِيِّينَ

أَمَّا بَعْدُ، فَإِنَّ مَعْصِيَةَ النَّاصِحِ الشَّفِيقِ الْعَالِمِ الْمُجَرِّبِ تُورِثُ الْحَسْرَةَ، وَتُعْقِبُ النَّدَامَةَ، وَقَدْ كُنْتُ أَمَرْتُكُمْ فِي هذِهِ الْحُكُومَةِ أَمْرِي، وَنَخَلْتُ لَكُمْ مَخْزُونَ رَأْيِي، لَوْ كَانَ يُطَاعُ لِقَصِيرٍ أَمْرٌ! فَأَبَيْتُمْ عَلَيَّ إِبَاءَ الْمُخَالِفِينَ الْجُفَاةِ، وَالْمُنَابِذِينَ الْعُصَاةِ، حَتَّى ارْتَابَ النَّاصِحُ بِنُصْحِهِ، وَضَنَّ الزَّنْدُ بِقَدْحِهِ، فَكُنْتُ وَإِيَّاكُمْ كَمَا قَالَ أَخُو هَوَازِنَ:

أَمَرْتُكُمْ أَمْرِي بِمُنْعَرَجِ اللِّوَى
فَلَمْ تَسْتَبِينُوا النُّصْحَ إِلاَّ ضُحَى الْغَدِ

۲: د کوفیانو د ماتې لاملونه او اسباب

د خدا ے له حمد او ثنا وروسته؛ پوه شئ چې د پوه مهربان او تجربه کار نصیحت کوونکي له امره نافرماني د افسوس او لالهاندۍ او آخر د پښېمانۍ سبب کېږي. ما د حکمیت په حقله خپله رایه او نظر تاسو ته ووایهٔ، او تاسو مې له خپل مخلصانه نظره خبر کړئ» کاش چې د سعد د زوی قصیر[۴۲] خبره منل شوې وې» خو تاسو د ظالم مخالف او د نافرمانه تړون ماتوئنکو په شان هغه ونهٔ منله تر دې چې نصیحت کوئنکي په نصحیت کولو کښې په شک کښې شول. او له پنده یې لاس واخیست. زما او ستاسو قصه هماغه شان ده چې د بنو هوازن شاعر[۴۳] ویلې دي:«په منعرج ټاټوبي کښې مې ضروري خبره درته وکړه خو مو نه منله او سبا مو د خپلې نافرمانۍ خپېړه وخوړه»

«حمزه بابا د سپېځلې ویناوې په ۱۴۰م او ۱۴۱ م مخونو ددغه خطبې ترڅنګه لیکي:»

زهٔ وایم

زهٔ د خپلو معلوماتو په بنا هیچرې د چا لحاظ نهٔ شم کولے او په دې سلسله کښې زهٔ پخپل عمر کښې له ډېر کړاو او تکلیف سره مخامخ شوے یم، ان تردې چې د کفر د فتوو ښکار شوے یم او د وطن ملایانو زما د کلي د سېزلو هڅه هم کړې ده. د حق په لار کښې بدنامي او تکلیف زغمل عبادت دے، تاسو ته معلومه ده چې عمرو بن العاص مشهور صحابي ؤ لېکن عمل ته یې وګورئ چې د دنیا د خوشحالۍ لپاره یې له حق نه غاړه وغړوله، په خپله یې امیر معاویه ته مخامخ د حضرت علي﵇ د فضیلت اقرار هم وکړ بیا یې هغه اوېرولو او پوهه یې کړو چې خلق به د علي په مقابله کښې تا ته هیڅ فوقیت درنه کړي او زهٔ به درسره ولې مرسته کوم؟ او چې امیرمعاویه ترې د مطلب تپوس وکړ نو د علي﵇ د مخالفت کولو په بدل کښې یې ترې د مصر حکومت وغوښت. او سره د دې زمونږ ځینې ورونړه اصحاب ټول عدول ګڼي. بیا واخله عبدالله بن عمر چې برناحقه یې یو نوے پارسي مسلمان قتل کړے ؤ او د هغهٔ قصاص لا ورته پاتے ؤ چې حضرت علي﵇ خلیفه شو نو د قصاص له ویرې نه معاویه ته وروتښتېدو. ښکاره خبره ده چې حضرت عثمان؄ د پارسي مسلمان خون بها ادا کړې وه او ابن عمر د هغهٔ په خلافت کښې بې غمه ؤ خو چې د حضرت علي﵇ خلافت

راغلو نو پوهه شو چې په حق قائم علي‌ﷺ به هیڅرې د هغهٔ رعایت ونهٔ کړي له دې نه صفا معلومیږي چې حضرت عثمانؓ هم دهغهٔ په مرسته ؤ او د عثمانؓ شهادت چې د کومو الزامونو نتیجه وه معلومیږي داسې چې هغه ټول غلط نهٔ وو، پاتې شو مغیره بن شعبه او زیاد بن ابیه چې دا دواړه په اول کښې د حضرت علي‌ﷺ ملګري وو او بیا له امیرمعاویه سره شامل شول، نو دا خو ښکاره خبره ده چې د دنیا محبت هغوي له حق نه وګرځول. خو په دې دواړو کښې چې امیر معاویه زیاد بن ابیه په کومه طریقه ځان ته راااړولےؤ، قصه داسې وه چې د زیاد مور د ښهٔ چلن ښځه نهٔ وه او هر چا ته معلومه وه چې د هغې اخلاق څرنګه وو. زیاد هم پوهېدو چې قصه هم داسې ده او د زیاد د اصلي پلار علم هم چا ته نهٔ ؤ نو امیر معاویه له دې نه فائده واخیسته. هغهٔ ته معلومه وه چې د زیاد د مور د هغهٔ له پلار ابو سفیان سره ناجائز تعلقات وو نو بس زیاد یې راوبللو او هغهٔ ته یې په قسم سره دا تسله ورکړه چې تهٔ زما ورور یې، تهٔ زیاد بن ابیه نه بلکې زیاد بن ابوسفیان یې. زیاد په دې ډېر خوشحال شو او له امیر معاویه سره یې د کمک ملا وتړله. پسته چې په کربلا او کوفه کښې هم د دې زیاد زوے عبیدالله کوم رول ادا کړے دے هغه له چا نه پټ نهٔ دے.

باید چې لوستونکي لږ له پرې جنبې نه اوچت شي او فکر وکړي چې د رسول کریمﷺ داسې اصحاب چې ډېر عمر یې له رسول اللهﷺ سره یو ځاے تېر کړےؤ، د دنیا محبت داسې په بلو بلو سر کړل نو له هغو نورو نه به خو هډو څه وایو نه کوم چې له اسلامي فتوحاتو نه متاثر کېدو په وجه رسماً مسلمانان شوي وو. مونږ دا نهٔ وایو چې ګوندې په حضرت علي‌ﷺ اعتراض او نکته چیني نهٔ شي کېدې. اخبر هغه هم انسان ؤ خو تر څو چې د دین او مذهب حدود دي مونږ په دعوې سره وایوو چې په دې سلسله کښې د امیرالمومنین ذات له هرې کمزورۍ نه اوچت دے. هغوي هم که د امیرمعاویه غوندې خلقو ته رشوتونه ورکولې نو هیڅرې به ترې داسې معتبر مدبران تللي نهٔ وې. زیاد بن ابیه، مغیره بن شعبه چې په اول کښې د امیرالمومنین ملګري وو څکه ترې مخالف شول چې امیرالمومنین په سرو سپینو د هغوي تنده نهٔ شوه ماتولې. بیا له ټولو نه لویه خبره دا ده چې د تحکیم په موقع حضرت علي‌ﷺ خپلو ملګرو ته وائي چې زمونږ له خوا دې حکم عبدالله بن عباس یا مالکاشتر نخعي مقرر شي، لیکن ملګري مخالفت کوي. د اطاعت امیر چې کومه ډنډوره زمونږ ځنې ورونه هر وخت وهي دې ته دې لږ فکر وکړي چې په هغه وخت کښې د مسلمانانو د اکثریت د اطاعت امیر په حقله څه ذهنیت ؤ؟ صفا معلومه شوه چې اکثریت صرف مسلمانان وو مومن نهٔ وو، او نهٔ د اسلام په روح پوهېدلي وو.

علامه اقبال مرحوم په خپلو خطباتو کښې لیکي چې: «د تقدیر دا موجوده مسئله بني امیو جوړه کړې ده چې د کربلا په واقعاتو پرده واچوي او د امیر معاویه د بغاوت په وجه چې هغوي ته کوم نعمتونه په ګوتو ورغلي دي چې له هغو نه له زیاتې نه زیاته فائده واخلي.»

خو نن چې ګورې د مسلمانانو اکثریت ببخي د بني امیو مطابعت کوي د بني امیو د رسمي مسلمانۍ روح تر اوسه د تناسخ په ډول په مسلمانانو کښې راروان دے. هغوي د اسلام مطالعه هم د بني امیو د ژوند په طرز کښې کوي. د امیرمعاویه او یزید په حمایت کښې کتابونه لیکي. او که څوک په دغو بني امیو اعتراض وکړي نو هغهٔ ته رافضي او څه څه نهٔ وائي، او بیا سره له دې دا چغې هم وهي چې مسلمانان بې اتفاقه دي. مسلمانانو اسلام ته شا ګرځولې ده، مسلمانان ملحدان او مرتدان شول.

زهٔ به دې ورونړو ته ووایم چې ولې نو ستاسو اوس هم لا دا امید شته چې مسلمانان به یو مرکز ته راغونډ شي؟ دا څه د هاتهي په غوږ کښې اودهٔ یئ، د اسلام مرکزیت خو هلته لا تلے ؤ چې بني امیو د آل محمدﷺ د ختملو لپاره قدم پورته کړےؤ. بیا دې ته نهٔ ګورې چې یوه اسلامي فرقه هم بله اسلامي فرقه مسلمانه نهٔ ګڼي، اختلاف یې دې حد ته رسېدلے دےچې لرې کېدل یې هیڅ امکان نهٔ لري نو بیا د مرکزیت مرکزیت نعرې وهل څه معني لري؟ او کوم وخت چې د یو روښانه خیال مسلمان دې اختلاف ته اوګوري نو چې مرتد او ملحد نهٔ شي نو څه به کوي. یو غېر مسلم که چرته د اسلام په حقله تپوس وکړي نو هر مسلمان به ورته د خپلې فرقې اسلام وړاندې کړي او چې کوم وخت هغه مسلمان د اسلام په شلونو تعبیرونه واوري نو هډو له اسلام نه به په تورو پښو اوتښتي، دا د خداے عذاب دے چې د آل محمدﷺ د قتل کولو په وجه پرې نازل شوے دے او تر قیامته به مسلمانان مرکزیت پیدا نهٔ کړي، د غلامۍ په عذاب به اخته وي تر څو چې یې حق ته غاړه نهٔ وي ایښې.

## [ ۳٦ ]

## فِي تَخْوِيفِ أَهْلِ النَّهْرَوَانِ

الاِجْتِهَادُ فِي هِدَايَةِ الأَعْدَاءِ

**فَأَنَا نَذِيرٌ لَكُمْ أَنْ تُصْبِحُوا صَرْعَى بِأَثْنَاءِ هذَا النَّهَرِ، وَبِأَهْضَامِ هذَا الْغَائِطِ، عَلَى غَيْرِ بَيِّنَة مِنْ رَبِّكُمْ، وَلاَ سُلْطَان مُبِين مَعَكُمْ، قَدْ طَوَّحَتْ بِكُمُ الدَّارُ، وَاحْتَبَلَكُمُ الْمِقْدَارُ، وَقَدْ كُنْتُ نَهَيْتُكُمْ**

## ﴿ شپږ د ېرشمه خطبه ﴾

«د نهروان د خوارجو د نصحیت او خبرداري او هغوي ته د غلطیو د وریادولو لپاره یې د هجرت د اته دېرشم کال د صفرې په میاشته کې دا خطبه ورکړه»

### د دښمن د لارښوونې هڅه

تاسو له دې وېروم چې داسې نه وي سحر راپاڅئ او مړي مو د نهروان[۴۴] سېند په خواوشا او ټېټو هسکو ځمکو پراتهٔ وي. بې له دې چې له خپل ربه روښانه دلیل او پرېکنده حجت ولرئ، له کورونو بې کوره شوي یئ او د قضا په دام کښی ګېر شوي یئ،ما تاسو له دغه

عَنْ هذه الْحُكُومَة فَأَبَيْتُمْ عَلَيَّ إِبَاءَ المخالفين، حَتَّى صَرَفْتُ رَأْيِي إِلَىٰ هَوَاكُمْ، وَأَنْتُمْ مَعَاشِرُ أَخِفَّاءُ الْهَامِ، سُفَهَاءُ الاَحْلاَمِ، وَلَمْ آتِ ــ لاَ أَبَا لَكُمْ ــ بُجْراً، وَلاَ أَرَدْتُ لَكُمْ ضُرّاً.

[ ۳۷ ]

مِنْ كَلاَمٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ يَجْرِي مَجْرَى الْخُطْبَة

۱. خَصَائِصُ الإِمَامِ عَلِيٍّ عَلَيْهِ السَّلاَمُ

فَقُمْتُ بِالاَمْرِ حِينَ فَشِلُوا، وَتَطَلَّعْتُ حِينَ تَعْتَعُوا، وَمَضَيْتُ بِنُورِ اللهِ حِينَ وَقَفُوا، وَكُنْتُ أَخْفَضَهُمْ صَوْتاً، وَأَعْلاَهُمْ فَوْتاً، فَطِرْتُ بِعِنَانِهَا، وَاسْتَبْدَدْتُ بِرِهَانِهَا، كَالْجَبَلِ لاَ تُحَرِّكُهُ الْقَوَاصِفُ، وَلاَ تُزِيلُهُ الْعَوَاصِفُ. لَمْ يَكُنْ لاَحَدٍ فِيَّ مَهْمَزٌ، وَلاَ لِقَائِلٍ فِيَّ مَغْمَزٌ. الذَّلِيلُ عِنْدِي عَزِيزٌ حَتَّى آخُذَ الْحَقَّ لَهُ، وَالْقَوِيُّ عِنْدِي ضَعِيفٌ حَتَّى آخُذَ الْحَقَّ مِنْهُ.

۲. عِلَّةُ السُّكُوت

رَضِينَا عَنِ اللهِ قَضَاءَهُ، وَسَلَّمْنَا لَهُ أَمْرَهُ. أَتَرَانِي أَكْذِبُ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِه؟ وَاللهِ لاَنَا أَوَّلُ مَنْ صَدَّقَهُ فَلاَ أَكُونُ أَوَّلَ مَنْ كَذَبَ عَلَيْهِ. فَنَظَرْتُ فِي أَمْرِي، فَإِذَا طَاعَتِي قَدْ سَبَقَتْ بَيْعَتِي، وَإِذَا الْمِيثَاقُ فِي عُنُقِي لِغَيْرِي.

[ ۳۸ ]

[وَفِيهَا عِلَّةُ تَسْمِيَةِ الشُّبْهَةِ شُبْهَةً]

ضَرُورَةُ مَعْرِفَةِ الشُّبُهَات

وَإِنَّمَا سُمِّيَتِ الشُّبْهَةُ شُبْهَةً لاَنَّهَا تُشْبِهُ الْحَقَّ، فَأَمَّا أَوْلِيَاءُ اللهِ فَضِيَاؤُهُمْ فِيهَا الْيَقِينُ، وَدَلِيلُهُمْ سَمْتُ الْهُدَى، وَأَمَّا أَعْدَاءُ اللهِ فَدُعَاؤُهُمُ الضَّلاَلُ، وَدَلِيلُهُمُ الْعَمَى، فَمَا يَنْجُو مِنَ الْمَوْتِ مَنْ خَافَهُ، وَلاَ يُعْطَى الْبَقَاءَ مَنْ أَحَبَّهُ.

حکميته منع کړئ، خو تاسو سخت مخالفت وکړ تر دې چې ستاسو خوښې ته تسليم شوم، نو تاسو اے کم عقلو او بې عقلو کسانو، اے تړون ماتؤنکو او بې پلارانو، ما خو دا غميزه نه ده رامنځته کړې او ما خو هيڅکله ستاسو زيان نه غوښتۀ؛

## ﴿ اوۀ دېرشمه خطبه ﴾

‹د هجرت په اته دېرشم کال د نهروان د بلوا له غلي کولو وروسته يې دا خبرې په کوفې کښې وکړې چې د يوې خطبې په شان دي›

### ۱: د امام علي عليه السلام ځانګړتياوې او خصوصيتونه

زۀ هغه وخت د دين مرستې ته پاڅېدم چې تول سست شول او اوغړېدل،او کله چې تول پټ شول زۀ په جار مېدان ته راوتم، او هغه وخت چې تولو چپتيا غوره کړه ما خوله پرانېسته، او کله چې تول تم شول زۀ د خداے په رڼا روان شوم، د خبرې او شعار په موقع مې غږ تر تولو ورو خو د عمل په وخت تر تولو مخکې وم، د چارو واګې مې په لاس کښې واخستې او تر تولو مخکې مې الوت وکړ، او په فضيلتونو کښې تر سيالانو وړاندې شوم، د هغه غر غوندې چې زولونه يې نه شي خوځولے او طوفانونه يې له ځايه نه شي ړکولے په ما کښې چا عيب نه شو راوبستلے، او چغل خورو په ما کښې نيمګړتيا نۀ شوه پېدا کولې،تر تولو سپک او ظلم ځپلي کسان زما په نزد عزتمن دي تر دې چې حق يې له نورو واخلم او پياوړي او مضبوط ظالمان زما په نزد سپک او ناتوانه دي تر دې چې حق ترې واخلم.

### ۲: د چپتيا علت

د خداے په قضا او رضا راضي يم او د هغۀ امر ته تسليم،تاسو انګيرئ چې زۀ به په رسول الله مبارک ﷺ پورې دروغ وتړم؟ په خداے قسم ! زۀ وړومبے کس وم چې هغه مې تصديق کړ، او هيڅکله به وړومبے کس نه شم چې په هغه حضرت دروغ وتړم، نو خپلې چارې ته ځير شوم ومې ليدل چې په ما باندې د رسول الله مبارک ﷺ اطاعت تر خپل بيعته مخکې واجب شوے دے چې له ما يې له نورو سره په امن او قرارۍ د اوسېدو اقرار اخېستے دے.[۴۵]

## ﴿ اتۀ دېرشمه خطبه ﴾

‹د هجرت په اوۀ دېرشم کال يې د صفين له جنګ او د حکميت له پېښې وروسته د شبهې په تعريف کښې وفرمايل›

### د شبهې پېژندل

شبهې ته يې ځکه شبهه ويلې ده چې له حق سره شباهت او يوشان والے لري، نو د خداے پاک دوستان د شبهاتو په وخت د خپل يقين په رڼا سره تګ کوي، او د هغوي لارښود د خداے پاک لاره ده.خو څوک چې د خداے دښمنان دي نو په شبهو کښې يې لمسؤنکي ګمراهي دي او لارښوونکي يې ړندوالے او لالهاندي ده، څوک چې له مرګه اويرېږي خلاصے يې نشته او څوک چې له ژوند سره مينه کوي تل به ژوندي نۀ وي.[۴۶]

## [ ۳۹ ]

[خَطَبَهَا عِنْدَ عِلْمه بغَزْوَةِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ صَاحِبِ مُعَاوِيَةَ لِعَيْنِ التَّمْرِ]

۱. تَوْبِيخُ أَهْلِ الْكُوفَةِ

**مُنِيتُ بِمَنْ لاَ يُطِيعُ إِذَا أَمَرْتُ وَلاَ يُجِيبُ إِذَا دَعَوْتُ، لاَ أَبَا لَكُمْ! مَا تَنْتَظِرُونَ بِنَصْرِكُمْ رَبَّكُمْ؟ أَمَا دِينٌ يَجْمَعُكُمْ، وَلاَ حَمِيَّةَ تُحْمِشُكُمْ؟!**

۲. عِلَلُ سُكُوتِ الْكُوفِيِّينَ

**أَقُومُ فِيكُمْ مُسْتَصْرِخاً، وَأُنَادِيكُمْ مُتَغَوِّثاً، فَلاَ تَسْمَعُونَ لِي قَوْلاً، وَلاَ تُطِيعُونَ لِي أَمْراً، حَتَّى تَكَشَّفَ الأُمُورُ عَنْ عَوَاقِبِ الْمَسَاءَةِ، فَمَا يُدْرَكُ بِكُمْ ثَارٌ، وَلاَ يُبْلَغُ بِكُمْ مَرَامٌ، دَعَوْتُكُمْ إِلَى نَصْرِ إِخْوَانِكُمْ فَجَرْجَرْتُمْ جَرْجَرَةَ الْجَمَلِ الاَسَرِّ، وَتَثَاقَلْتُمْ تَثَاقُلَ النِّضْوِ الاَدْبَرِ، ثُمَّ خَرَجَ إِلَيَّ مِنْكُمْ جُنَيْدٌ مُتَذَائِبٌ ضَعِيفٌ ﴿كَأَنَّمَا يُسَاقُونَ إِلَى الْمَوْتِ وَهُمْ يَنْظُرُونَ﴾.**

## ﴿ نهۀ دېرشمه خطبه ﴾

(د فرات په لوېديځه غاړه کښې د عين التمر[47] په سيمه د معاويه د يو قومندان نعمان بن بشير له يرغل او د کوفيانو له کوتاهۍ وروسته يې د هجرت په نهۀ دېرشم کال وفرمايل)

### ۱: د کوفيانو ملامتول

په داسې کسانو اوړېدلے يم چې امر ورکوم نۀ يې مني او چې رابلم يې نۀ راځي، اے بې پلاره (بې اصله) خلقو! د خپل پالونکي د مرستې لپاره د څه په طمعه يئ؟ ستاسو دين نيشته چې راغونډ مو کړي او غيرت نۀ لرئ چې غصه مو کړي؟

### ۲: د کوفيانو د ماتې لاملونه او سببونه

په تاسو کښې ولاړ يم چغې وهم، او په فرياد له تاسو مرسته غواړم خو خبرې ته مې غوږ نۀ ږدئ او امر مې نۀ منئ. تر دې چې بدې پايلې او نتيجې ښکاره شوې، نۀ خو سرے په تاسو د ويني غچ او بدله اخيستې شي او نۀ مقصد ته رسيدې شي. تاسو د خپلو ورونړو مرستې ته رابولم خو تاسو د هغه اوښ په شان چې د نوم په غوټه يې درد وي ژړا انګولا شروع کړئ او د هغه اوښ په شان چې ملا يې ژوبل وي ړک نۀ وهئ، يوازې ګوته په شمېر کسان ماته راغلل چې هغه هم ناتوان او پرېشانه وو، «تۀ به وائې څوک يې مرګ ته راکاږي او مرګ په خپلو سترګو ويني»

(سيد رضي وائي: متذائب يعني مضطرب او پرېشان لکه چې وائي: «تذاءبت الريح» يعني ډول ډول او مضطرب بادونه راوالوتل، او ليوۀ ته هم «ذئب» وائي ځکه چې په تګ کښې اضطراب لري)

## [ ٤٠ ]

فِي الْخَوَارِجِ لَمَّا سَمِعَ قَوْلَهُمْ: «لاَ حُكْمَ إِلاَّ لِلهِ» قَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

ضَرُورَةُ وُجُودِ الْحُكُومَةِ

**كَلِمَةُ حَقٍّ يُرَادُ بِهَا بَاطِلٌ! نَعَمْ إِنَّهُ لاَ حُكْمَ إِلاَّ لِلهِ، وَلكِنَّ هؤُلاَءِ يَقُولُونَ: لاَ إِمْرَةَ، فَإِنَّهُ لاَبُدَّ لِلنَّاسِ مِنْ أَمِيرٍ بَرٍّ أَوْ فَاجِرٍ، يَعْمَلُ فِي إِمْرَتِهِ الْمُؤْمِنُ، وَيَسْتَمْتِعُ فِيهَا الْكَافِرُ، وَيُبَلِّغُ اللهُ فِيهَا الاَجَلَ، وَيُجْمَعُ بِهِ الْفَيءُ، وَيُقَاتَلُ بِهِ الْعَدُوُّ، وَتَأْمَنُ بِهِ السُّبُلُ، وَيُؤْخَذُ بِهِ لِلضَّعِيفِ مِنَ الْقَوِيِّ، حَتَّى يَسْتَرِيحَ بَرٌّ، وَيُسْتَرَاحَ مِنْ فَاجِرٍ.**

وَفِي رِوَايَةٍ أُخْرَى أَنَّهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ لَمَّا سَمِعَ تَحْكِيمَهُمْ قَالَ:

**حُكْمَ اللهِ أَنْتَظِرُ فِيكُمْ.**

وَقَالَ: **أَمَّا الاِمْرَةُ الْبَرَّةُ فَيَعْمَلُ فِيهَا التَّقِيُّ، وَأَمَّا الاِمْرَةُ الْفَاجِرَةُ فَيَتَمَتَّعُ فِيهَا الشَّقِيُّ، إِلَى أَنْ تَنْقَطِعَ مُدَّتُهُ، وَتُدْرِكَهُ مَنِيَّتُهُ.**

## ﴿ څلوېښتمه خطبه ﴾

(د هجرت په اتۀ دېرشم کال يې کله چې د خوارجو د «لاَ حُكْمَ إِلاَّ لِلهِ» نعره او شعار واورېدۀ نو د کوفې په جومات کښې يې وفرمايل)

د حکومت ضرورت

(د هغوي دا خبره) حق ده خو اراده ترې د باطل شوې ده! هو د دوي دا خبره سمه ده چې حکم يوازې خداے لره دے، خو دوي وائي چې حکومت کول هم يې له خدايه د بل چا حق نۀ دے، حال دا چې خلق نېک يا بد چارواک ته اړتيا لري، چې مومنان د حکومت په سيوري کښې خپل کارونه وکړي اوکافران هم خپله برخه ومومي، او خلق د حکومت په سيوري کښې ژوند وکړي، حکومت بيت المال راغونډوي او د حکومت په وسيله له دښمنانو سره مقابله کېدې شي. هم د حکومت په سيوري کښې د لارو امنيت ټينګېږي او له زورورو د کمزورو حق اخېستل کيږي، نېکان په هوساينه او قرار کښې او د بد چارو له لاسه په امان کښې وي. «په يو بل روايت کښې راغلي دي کله يې چې د حکميت په حقله د هغوي خبره واورېده نو وې فرمايل:» ستاسو په حقله د خداے حکم ته سترګې په لاره يم، «او همدارنګ يې وفرمايل» د نېکانو او پاکانو په حکومت کښې پرهېزګار خپل ښۀ عمل کوي (او قدر يې وي) خو د بدانو په حکومت کښې ناپاکه او بد چارې خلق مزې کوي تر دې

چې مرګ یې را ورسېږي.

[ ٤١ ]

[فِيهَا يَنْهَى عَنِ الْغَدْرِ وَيُحَذِّرُ مِنْهُ]

مَمْنُوعِيَّةُ الْغَدْرِ

أَيُّهَا النَّاسُ! إِنَّ الْوَفَاءَ تَوْأَمُ الصِّدْقِ، وَلاَ أَعْلَمُ جُنَّةً أَوْقَى مِنْهُ، وَمَا يَغْدِرُ مَنْ عَلِمَ كَيْفَ الْمَرْجِعُ، وَلَقَدْ أَصْبَحْنَا فِي زَمَانٍ اتَّخَذَ أَكْثَرُ أَهْلِهِ الْغَدْرَ كَيْساً، وَنَسَبَهُمْ أَهْلُ الْجَهْلِ فِيهِ إِلَى حُسْنِ الْحِيلَةِ، مَا لَهُمْ! قَاتَلَهُمُ اللهُ! قَدْ يَرَى الْحُوَّلُ الْقُلَّبُ وَجْهَ الْحِيلَةِ وَدُونَهَا مَانِعٌ مِنْ أَمْرِ اللهِ وَنَهْيِهِ، فَيَدَعُهَا رَأْيَ عَيْنٍ بَعْدَ الْقُدْرَةِ عَلَيْهَا، وَيَنْتَهِزُ فُرْصَتَهَا مَنْ لاَ حَرِيجَةَ لَهُ فِي الدِّينِ.

﴿ یو څلو یښتمه خطبه ﴾

«د صفین له جنګه وروسته یې د هجرت په اوۀ دېرشم کال په کوفه کښې وفرمایل»

## د چل او دهوکې بندیځ

اے خلقو! وفا د رښتیا ملګرې ده، چې تر دې پیاوړې ډال مې نۀ دے لیدلے څوک چې قیامت ته له خپلې ستنېدنې خبر وي خیانت او چل ول نۀ کوي. خو نن مونږ په داسې زمانه کښې ژوند کوو چې ډېر خلق پکښې چل ول او دهوکه،هوښیاري ګڼي، او جاهل کسان هغوي ته هوښیاران او باتدبیره وائي،دوي څنګه فکر کوي؟ خداے دې دوي مړۀ کړي. هوښیار سړے له ټولو راتلونکو پېښو خبر وي او د مکر او چل ول ښۀ چل ورځې خو ځکه یې نۀ کوي چې خداے پاک دا کار منعې کړے دے، او سره له دې چې مکر او دهوکه کولې شي خو بیا یې هم پرېږدي خو کوم کس چې د خداے د معصیت، ګناه او د دین د مخالفت پروا نۀ لري نو له لاسته راغلیو موقعو نه د چل او دهوکې لپاره فائده اخلي. ۴۸

«حمزه بابا د سپیڅلی وېناوې په ۱۵۳ م او ۱۵۴ م مخونو د دغه خطبې په ترځ کې فرمایي:»

زۀ وایم

اهل سنت والجماعت حضرت علي‌ؑ هم په خلفائے راشدینو کښې شامل ګڼي او د هغوي دا عقیده ده چې دا څلور واړه د رسول کریم‌ﷺ نائبان دي. د هغوي مخالفت د رسول‌ﷺ مخالفت دے لکه چې ډېرو خلقو حضرت ابوبکر ته زکات نۀ ورکولو خو نۀ ورکول د اکثرو مسلمانانو د غلط فهمۍ په وجه وو، د هغوي داعقیده نۀ وه چې د زکات مالونه خلیفه ته ورکولې شي، بلکې د هغوي دا خیال ؤ چې د قرآن حکم سره سم دې صدقات خپلو خپلوانو، مسافرانو، مسکینانو او نورو محتاجانو ته ورکولې شي، خو بیا هم چې کوم د زکات مانعان د نۀ ورکولو په سلسله کښې قتل شول د هغوي مرګ د جهالت مرګ ګڼلے کیږي. دغه شان د حضرت عمرؓ او حضرت عثمانؓ په زمانه کښې هم مسلمانانو هغوي د رسول‌ﷺ نائبان ګڼل او د هغو مخالفت یې د رسول الله‌ﷺ مخالفت ګڼلو خو چې په کوم وخت د معاویه، عمرو بن العاص او د داسې نورو کسانو په حقله خبره راشي نو زمونږ ځنې صاحبان وائي چې نه، نه په دې کښې به خبرې نۀ کوو.

معاویه د حضرت یار ؤ
د حضـرت یـار کبار ؤ
دې کاتب ؤ د قـــرآن
دین په دۀ ؤ ښۀ روښان (رشیدالبیان)

بیا چې خبره زیاته شي نو ووائي: د معاویه صاحب دا خیال ؤ چې حضرت علي‌ؑ د حضرت عثمانؓ په قتل کښې شامل ؤ. داسې ښکاره خو نۀ وائي چې مونږ دا وایوو چې حضرت علي‌ؑ د حضرت عثمانؓ په قتل کښې شریک ؤ، خو عقیده یې همدغه وي او حضرت علي‌ؑ له خلفائے راشدینو نه هم نۀ شي وېستے، خو هر کله چې د اطاعت امیر مسئله راشي او څوک ووائي چې: ((الائمه من القریش)) حدیث دے او د دې حدیث په روي سره غیر قریش امیر نۀ شي کېدې او حال دا چې له بني امیه او بني هاشم نه پس ځنې غیرو قریشو ته حکومت راغے نو تاسو ولې د هغۀ اطاعت واجب ګڼئ نو ځواب یې دا وي چې رسول الله‌ﷺ دا هم فرمایلي دي کنه چې که په تاسو کښې یو حبشي غلام هم حاکم شي د هغۀ اطاعت کوئ، خو افسوس دے چې د یو حبشي غلام اطاعت خو واجب ګڼي لیکن معاویه له دې نه مستثنی ګڼي، ګویا د هغوي په نزد حضرت علي‌ؑ د یو حبشي غلام په مقابله کښې هم د اطاعت قابل نۀ ؤ.

هم دغو غلطو او بې ځایه عقائدو کوم چې د بني امیو چې د مصلحت لپاره مسلمانان شوي وو له خوا خوارۀ شوي وو مسلمانان یې له اسلام نه دومره لرې ووېستل چې تر قیامته به هم رانژدې نۀ شي. نن مسلمانان د مرکزیت مرکزیت چغې وهي. هره فرقه د اسلام تعبیر د خپلې عقیدې په روي کوي، هره فرقه بلې فرقې ته نامسلمانه وائي، خداے خو ورته مسلمان او مومن نوم غوره کړے ؤ خو هغوي دا نومونه خوښ نۀ کړل، شیعه، سني،

اهل حديث، معتزله او خداے زده چې څه څه شول. هيڅ شک نشته چې دا ټول د اسلامي مرکزيت په حق کښې دي خو هره فرقه د خپل اعتقاد د لاندې مرکزيت غواړي. د مرض احساس خو ټولو سره شته خو تشخيص يو هم نۀ شي کولې، ترڅو چې پوره تشخيص ونۀ شي د مرض مغلوب کول هيڅ امکان نۀ لري. په دوې کښې يو حکيم داسې حکيم نشته چې د مرض ابتدائي ماده معلومه کړي او په دې ځان پوهه کړي چې د مرض ابتداء له کومې مادې نه شوې ده او له دې تشخيص نه پس د هغې فاسدې مادې علاج وکړي له کومې نه چې دا موذي مرض پيدا شوے دے چې مسلمان ملت يې عملاً د ګور غاړې ته رسولے دے. زما په خيال خو د مرض ابتداء له دې نه شوې ده چې د رسول کريم ﷺ دا رضا وه چې خلافت د هغوي په کورنۍ کښې پاتې شي خو خلقو د رسول الله ﷺ مرضۍ ته اهميت ورنه کړ او په خپله خوښه يې د حکومت بنيادونه کېښودل او امر بينهم شورا دې په دليل کښې وړاندې کوي حالانکه دا د تاليف قلوب لپاره ؤ. او که چرې د دې حکم په مقابله کښې دې حکم چې الائمه من القريش (دا جمله هم داسې ده خو غلط ده) کوم چې ورته په سقيفه بنو ساعده کښې حضرت ابوبکرؓ او حضرت عمرؓ وړاندې کړے ؤ د سعد بن عباده خلافت مات کړے نۀ وې او نۀ به يې د حضرت ابوبکرؓ نه بيعت کړے وې. انصارو امر بينهم شوراي په دليل کښې وړاندې کولے شو او د خپل اکثريت په زور کښې يې خپل خلافت قائمولے شو خو چې هغوي د رسول ﷺ د حديث په مقابله کښې خپله شورى ترکه کړه، د رسول ﷺ حکم له هرې شورى نه اولى دے بيا په قريشو کښې هم د رسول ﷺ خاندان زيات حق لرلو چې خلافت هغوي ته وړاندې کړے شوے وې خو چې هغوي خبرېدل نو هډو کار ختم شوے ؤ. اوس که زمونږ ورونه د دې لپاره ډېر دلائل جوړ کړي خو دا هيچرې نۀ شي ثابتولې چې حضرت علي عليه السلام په دې خفه نۀ ؤ او د هر خلافت په موقع يې د خپل حق ياد ګيرنه نۀ وي کړې.

[ ٤٢ ]

وَمِنْ خُطْبَةٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ

[وَفِيهَا يُحَذِّرُ مِنَ اتِّبَاعِ الْهَوَى وَطُولِ الأَمَلِ فِي الدُّنْيَا]

أَيُّهَا النَّاسُ! إِنَّ أَخْوَفَ مَا أَخَافُ عَلَيْكُمُ اثْنَانِ: اتِّبَاعُ الْهَوَى، وَطُولُ الامَلِ؛ فَأَمَّا اتِّبَاعُ الْهَوَى فَيَصُدُّ عَنِ الْحَقِّ، وَأَمَّا طُولُ الاَمَلِ فَيُنْسِي الأخرَةَ. أَلاَ وَإِنَّ الدُّنْيَا قَدْ وَلَّتْ حَذَّاءَ، فَلَمْ يَبْقَ مِنْهَا إِلاَّ صُبَابَةٌ كَصُبَابَةِ الأِنَاءِ اصْطَبَّهَا صَابُّهَا، أَلاَ وَإِنَّ الأخرَةَ قَدْ أَقْبَلَتْ، وَلِكُلٍّ مِنْهُمَا بَنُونَ، فَكُونُوا مِنْ أَبْنَاءِ الأخرَةِ، وَلاَ تَكُونُوا مِنْ أَبْنَاءِ الدُّنْيَا، فَإِنَّ كُلَّ وَلَدٍ سَيُلْحَقُ بِأُمِّهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَإِنَّ الْيَوْمَ عَمَلٌ وَلاَ حِسَابَ، وَغَداً حِسَابٌ وَلاَ عَمَلَ.

﴿ دوه څلويښتمه خطبه ﴾

(دهجرت په شپږ ديرشم کال د رجب په اولسمه د جمل جنګ له ختمېدو وروسته کله چې امام کوفې ته ننوت خلق يې هرکلي ته راغلل، امام جامع جومات ته ننوت دوه رکعته نمونځ يې وکړ او اوږده خطبه يې ورکړه چې ځينې برخې يې دا دي)

اوږدې هيلې، اميدونه او نفساني خواهشات

اے خلقو! زۀ ستاسو لپاره په دوو څيزونو ډېر وېرېږم، يو د نفس منل او بل اوږدې اوږدې هيلې او اميدونه، نو د نفساني خواهشاتو پېروي انسان له حقه ګرځوي، او اوږدۀ ارمانونه ورځنې قيامت هېروي، خبر اوسئ! دنيا په تېزۍ سره مخ اړولے او اوس د هغۀ په اړولي لوښي کښې يې له خيري بل څه نۀ دي پاتې،خبر اوسئ چې آخرت رانږدې شوے دے، دنيا او آخرت دواړه خپل خپل بچي لري نو پام چې د آخرت بچي شئ،نه د دنيا ، ځکه چې هر بچي د قيامت په ورځ له خپلې مور او پلار سره يو ځاے کېږي. نن د عمل ورځ ده نۀ د حساب او سبا به د حساب ورځ وي نۀ د عمل.

(سيد رضي وائي: د حذاء مطلب دے، په بيړه، او د جذاء مطلب دے له نيک او بده جدا شوے، ځينو دا کلمه راوړې ده)

«حمزه بابا د سپېڅلې وېناوې په ۱۵۵ م او ۱۵۶ م مخونو کښې د دغې خطبې ترڅنګه ليکي»

## زۀ وايم

په دې خطبه کښې چې اميرالمومنين عليه السلام د کومو لوړو ادبي حقائقو اظهار کړے دے مونږ يې د نن د ترقي يافته ذهن لپاره هم د رڼا مشعل ګڼلے شو. د نفس د خواهش په حقله فرمائي: چې څوک د نفس په لمسه ژوند تېروي هغه له حق نه پاتې راځي او چې بې ځايه اميدونه کوي آخرت يې هېر شي. دا هغه نفسياتي نکتې دي چې په دې ترقي يافته دور کښې هم د نفسياتو پوهان د دې په رڼا کښې نوې لارې جوړوي، او انسان ته د کامياب ژوند مشعل بلولے شي. ښکاره خبره ده چې نفس همېشه د حېواني خواهش د پوره کولو نغوته کوي. حېوانيت د انساني نفس بنيادي وصف دے او هم دغه څيز دے چې انسانيت سترګې غړولو ته نۀ پرېږدي. هم دې ته قرآن حکيم «إِنَّ النَّفْسَ لَأَمَّارَةٌ بِالسُّوءِ» وائي او هم د دې د مغلوب کولو لپاره يې د «وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوَى فَإِنَّ الْجَنَّةَ هِيَ الْمَأْوَى» فرمان رالېږلے دے. څومره چې يو انسان د نفس له غلبې نه خلاص وي هومره به د هغه انسانيت اوچت او ذهن روښانه وي. دا ځکه چې کوم علوم لوے خداے د انسان لپاره متعين کړي دي هغه په حېواني غلبه کښې انساني ذهن ته نۀ شي راتلې.

ځکه چې په ذهن د حېوانيت د غلبې ګرد پروت وي او تر څو چې حېواني ګرد لرې نۀ شي نۀ خو انسان حقيقي او مثبت علوم حاصلولے شي او نۀ په نړۍ کښې د امن او امان رڼا پېدا کېدې شي.

دويم کوم نفسياتي حقيقت چې اميرالمومنينؑ بيان کړے دے هغه طول رمل او بې ځايه لوے لوے اميدونه دي. د دې ډول اميدونه د اماره نفس دام دے چې انسان او بيا په تېره د روښانه ذهن انسان داسې د دنيا په حصول کښې مشغول کړي چې د خپل راتلونکي مستقبل نه بې غافل کړي ځکه چې د داسې انسان رجحان اکثره د حق طرف ته وي او که نفس بې داسې مشغول نۀ کړي نو کېدې شي چې هغه د انسانيت په مرسته د اماره نفس مرۍ خفه کړي او حېوانيت د خپلې آزادۍ نه لاس وويٖنځي. تاسو به ځينې د کېميا شوقين ليدلي وي چې په خيال کښې د سرو زرو انبارونه جوړوي او بيا د خپل عمارت او بډائۍ خوبونه ويني او تردې چې آخر وخت بې راشي او هغوي ناکام او نامراد ګورته لاړ شي. همدغه شان نور داسې رنګين رنګين اميدونه د انسان قيمتي وخت ضائع کړي او انسان ټول عمر د حېوانيت په لمسه د انسانيت له رڼا نه ړوند پاتے شي. خو که څوک د اميرالمومنينؑ په دې هدايا تو عمل وکړي نو هيڅ شک نشته چې نۀ يوازې له هغۀ نه يو فعال او کامياب انسان جوړېدې شي بلکې د هغۀ له کبله به نور هم د انسانيت معراج حاصل کړي.

## [ ۴۳ ]

وَمِنْ كَلَامٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ وَقَدْ أَشَارَ عَلَيْهِ أَصْحَابُهُ بِالاسْتِعْدَادِ لِحَرْبِ أَهْلِ الشَّامِ بَعْدَ إِرْسَالِهِ جَرِيرَ بْنَ عَبْدِاللهِ الْبَجَلِيَّ إِلَى مُعَاوِيَةَ:

۱. أُسْلُوبُ مُوَاجَهَةِ الأَعْدَاءِ

**إِنَّ اسْتِعْدَادِي لِحَرْبِ أَهْلِ الشَّامِ وَجَرِيرٌ عِنْدَهُمْ، إِغْلَاقٌ لِلشَّامِ، وَصَرْفٌ لأَهْلِهِ عَنْ خَيْرٍ إِنْ أَرَادُوهُ، وَلكِنْ قَدْ وَقَّتُّ لِجَرِيرٍ وَقْتاً لَا يُقِيمُ بَعْدَهُ إِلاَّ مَخْدُوعاً أَوْ عَاصِياً، وَالرَّأْيُ مَعَ الأَنَاةِ، فَأَرْوِدُوا، وَلَا أَكْرَهُ لَكُمُ الإِعْدَادَ.**

۲. جِهَادُ أَهْلِ الشَّامِ

**وَلَقَدْ ضَرَبْتُ أَنْفَ هذَا الأَمْرِ وَعَيْنَهُ، وَقَلَّبْتُ ظَهْرَهُ وَبَطْنَهُ، فَلَمْ أَرَ لِي إِلاَّ الْقِتَالَ أَوِ الْكُفْرَ. إِنَّهُ قَدْ كَانَ عَلَى الأُمَّةِ وَالٍ أَحْدَثَ أَحْدَاثاً، وَأَوْجَدَ النَّاسَ مَقَالاً، فَقَالُوا، ثُمَّ نَقَمُوا فَغَيَّرُوا.**

## ﴿ درې څلوېښتمه خطبه ﴾

‹د هجرت په شپږ دېرشم کال هغه وخت چې معاويه ته بې خپل استازے جرير[۴۹] ‹بن عبدالله› لېږلے ؤ او معاويه صفا ځواب نۀ ورکوۀ نو د امام ځينو ملګرو وويل چې د جنګ تياري وکړئ چې روان شو امام وفرمايل›

### له دښمن سره په چلن کښې واقع بيني او حقيقت پسندي

په دغو حالاتو کښې چې جرير مې د خپل استازي په توګه شاميانو ته لېږلے دے که د جنګ تياري وکړم دا به په شاميانو د صلحې د لارې بندول او د خېر له لارې د هغوي ګرول وي البته که هغوي د خېر لاره غوره کړي ما په شام کښې د جرير لپاره خاص وخت ټاکلے دے چې که تر هغې وځنډېږي نو يا به بې غولولے وي يا به زما له اطاعته وتلے وي. زما خيال دا دے چې صبر وکړوو او له هغوي سره نرمي وکړوو که څه هم د جنګ لپاره د تيارۍ مخالف هم نۀ يم.

### ۲: له شاميانو سره جهاد

ما له معاويه سره په جنګېدو ښه غور کړے او د هغۀ پټ او ښکاره اړخونه مې سنجولي دي نو بله لار راته نۀ ښکاري بې له دې چې يا جنګ وکړم يا په هغه څه کافر شم چې حضرت محمدﷺ راوړي دي. ځکه چې له د ې مخکې داسې کس په خلقو حکومت کوۀ چې کارونه بې د ځينو پېښېنو سبب شول او ډېرې ګډوډۍ او بدعتونه بې رامنځته کړل، نو خلقو اعتراض وکړ او هغه بې بدل کړ.[۵۰]

«حمزه بابا د دغه خطبې ترځنګه د سپېځلي ويناوې په ۱۵۸ م مخ ليکي:»

### زۀ وايم

کوم مسلمانان چې اسلام يوازې د ملکي فتوحاتو نوم ګڼي د هغوي په خيال او وهم حضرت عليؑ د عثمانؓ په قتل کښې شامل ؤ. دا ځکه چې د حضرت عليؑ په وخت کښې د کورنو جنګونو په وجه ملکي فتوحات اونۀ شول، د غنيمت مالونه رانغلل، وينځې غلامان په ګوتو رانغلل، د نورو دوو خلافتونو غوندې مسلمانان له عېش او دولت نه پاتې شول.

افسوس دے چې مسلمانان اکثريت اوس هم اسلام صرف د عسکري غلبې او حکومت نوم ګڼي. او عنايت الله خان مشرقي خو تردې پورې وائي چې: ‹‹وَأَنتُمُ الأَعْلَوْنَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ›› خو په دې کښې مومنيت اول شرط دے. اسلام له هر څه نه اګاهو د مومنيت قائمولو مطالبه کوي او چې دا وشي غلبه په خپله پېدا کيږي. مسلمان ته دا حکم هيچرې خداے نۀ دے ورکړے چې تاسو جارحانه جنګونه کوئ او د خلقو آزادۍ سلب کوئ بلکې د دفاعي جنګ اجازه ورکوي او هغه هم له حد نه زياته نه. يعنې له دفاع کولو نه پس دې جارحيت نۀ کوي. د خلافت په وروميې دور کښې له دفاعي نه

علاوه ډېر جارحانه جنګونه هم شوي دي او د هغو نتيجه دا شوه چې عامل مسلمانان د غنيمت په مالونو او وينځو غلامانو داسې مشغول شول چې د مومنيت تکميل يې اونۀ شو. د ايمان حال دا شو چې هغوي اسلام صرف د فتوحاتو نوم وګڼلو او د دې په نتيجه کښې يو داسې وخت هم راغے چې د هغوي حکومت ختم شو ځکه چې اوس د مومنيت د نيشت په وجه خداے د أَنتُمُ الْأَعْلَوْنَ وعده نۀ پوره کوله.

لوستونکي دې فکر وکړي چې حضرت عليؑ په داسې وخت کښې څه کړي وې. او ولې به يې کول چې هغو دا صفا صفا ليدل چې د هغوي په مخکې اوس هغه بني آدم دے څرنګه چې د رسالت په ابتداء کښې د رسول کريمﷺ په مخکښې ؤ، ګنې حضرت علي عليؑ به هم د معاويه غوندې خلقو ته رشوتونه ورکولې او هر شان چې کېدې شوې خپل حکومت به يې قائم کړے ؤ. خو افسوس دے چې دا خيال نۀ يواځې غلط بلکه ګمراه کؤنکے هم دے. اسلام هيڅرې دنياوي غلبه خپل بنيادي اصول نۀ دے ګڼلے او تر څو چې مسلمانانو د دې اهمې نکتې لحاظ نۀ وي ساتلے نو نۀ خو به په هغوي کښې ترقيامته يو مرکز جوړ شي او نۀ به هغوي غلبه پيدا کړي. په دې خطبه کښې چې حضرت عليؑ د حضرت عثمانؓ ځينې نورو کارونو ته اشاره کړې ده صفا ښکاره ده چې هغه کارونه د اسلام له روح سره سم نۀ وو. او له هم هغه وخت نه د مسلمانانو په مرکزيت او غلبه کښې رچ پيدا شو. او بيا چې معاويه شهنشاهيت قائم کړو نو بيا خو هډو د اسلامي حکومت سوال نۀ شو پيدا کېدې.

[ ٤٤ ]

لَمَّا هَرَبَ مَصْقَلَةُ بْنُ هُبَيْرَةَ الشَّيْبَانِيُّ إِلَى مُعَاوِيَةَ، وَكَانَ قَدِ ابْتَاعَ سَبْيَ بَنِي نَاجِيَةَ مِنْ عَامِلِ أَمِيرِ الْمُؤْمِنِينَ عَلَيْهِ السَّلَامُ وَأَعْتَقَهُمْ، فَلَمَّا طَالَبَهُ بِالْمَالِ خَاسَ بِهِ وَهَرَبَ إِلَى الشَّامِ، فَقَالَ:

التَّأَسُّفُ عَلَى فِرَارِ مَصْقَلَةَ

**قَبَّحَ اللهُ مَصْقَلَةَ! فَعَلَ فِعْلَ السَّادَةِ، وَفَرَّ فِرَارَ الْعَبِيدِ! فَمَا أَنْطَقَ مَادِحَهُ حَتَّى أَسْكَتَهُ، وَلَا صَدَّقَ وَاصِفَهُ حَتَّى بَكَّتَهُ، وَلَوْ أَقَامَ لَأَخَذْنَا مَيْسُورَهُ، وَانْتَظَرْنَا بِمَالِهِ وُفُورَهُ.**

## ﴿څلور څلوېښتمه خطبه﴾

(د هجرت په اته دېرشم کال د مصقله بن هبيره په نامه، د امام يو ګورنر د بني ناجيه اسيران د لښکر له کومندانه واخېستل او آزاد يې کړل خو کله يې چې له هغۀ پېسې وغوښتې نو ور يې نۀ کړې د معاويه لور ته وتښېده)

### د مصقله په تېښته خواښيني

خداے دې د مصقله مخ تور کړي، د ننګيالو مشرانو کار يې وکړ خو د مريانو په شان وتښېدو، لا ستايونکو د هغۀ د ستائنې لپاره خولې نه وې پرانېستې چې غلي يې کړل، لا د هغۀ د ستايونکي خبره سر ته نۀ وه رسېدلې چې وې رټۀ، خو که په نره ولاړ وې نو څومره (پېسې) يې چې لرلې له هغه به مې منلې وې او دومره انتظار به مې کړے ؤ چې هغه شتمن شوے وې.

[ ٤٥ ]

بَعْضُ خُطْبَةٍ طَوِيلَةٍ خَطَبَهَا يَوْمَ الْفِطْرِ

١. لُزُومُ الشُّكْرِ لِلْبَارِي تَعَالَى

**الْحَمْدُ للهِ غَيْرَ مَقْنُوطٍ مِنْ رَحْمَتِهِ، وَلَا مَخْلُوٍّ مِنْ نِعْمَتِهِ، وَلَا مَأْيُوسٍ مِنْ مَغْفِرَتِهِ، وَلَا مُسْتَنْكَفٍ عَنْ عِبَادَتِهِ، الَّذِي لَا تَبْرَحُ مِنْهُ رَحْمَةٌ، وَلَا تُفْقَدُ لَهُ نِعْمَةٌ.**

٢. أُسْلُوبُ مُوَاجَهَةِ الدُّنْيَا

**وَالدُّنْيَا دَارٌ مُنِيَ لَهَا الْفَنَاءُ، وَلِأَهْلِهَا مِنْهَا الْجَلَاءُ، وَهِيَ حُلْوَةٌ خَضِرَةٌ، قَدْ عَجِلَتْ لِلطَّالِبِ، وَالْتَبَسَتْ بِقَلْبِ النَّاظِرِ؛ فَارْتَحِلُوا مِنْهَا بِأَحْسَنِ مَا بِحَضْرَتِكُمْ مِنَ الزَّادِ، وَلَا تَسْأَلُوا فِيهَا فَوْقَ الْكَفَافِ، وَلَا تَطْلُبُوا مِنْهَا أَكْثَرَ مِنَ الْبَلَاغِ.**

## ﴿پينځۀ څلوېښتمه خطبه﴾

(په کوفه د وړوکي اختر په ورځ د يوې وړکړې خطبې ځينې برخې)

### ١: د خداے پاک شکر پکار دے

ستائنه له هغه خداے پاک سره ښائي چې څوک يې له رحمته نۀ نااميده کېږي او څوک يې له نعمته نۀ ابستل کيږي، له بخښنې يې څوک نۀ نااميده کېږي او له عبادته يې سرغړونه نۀ ده پکار، هغه خداے چې رحمت يې نۀ غوځېږي او نعمت يې نۀ ختمېږي.

### ٢: پام چې دنيافاني ده

دنيا د ارمانونو او د فنا کېدو کور دے، او کوچ ترې حتمي دے، دنيا خوږه، ښېرازه او شنه ده چې غوښتونکي ته په بيړه ورځي او لېدونکي غولوي، نو هڅه وکړئ چې په ښې توښې ترې وکوچېږئ او تر خپل ضرورت زيات ترې مۀ غواړئ او تر توښې زيات ترې مۀ طلب کوئ.

[ ٤٦ ]

## ﴿شپږ څلوېښتمه خطبه﴾

عِنْدَ عَزْمِهِ عَلَى الْمَسِيرِ إِلَى الشَّامِ

دُعَاءُ السَّفَرِ

**اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ وَعْثَاءِ السَّفَرِ وَكَآبَةِ الْمُنْقَلَبِ، وَسُوءِ الْمَنظَرِ فِي الأَهْلِ وَالْمَالِ وَالْوَلَدِ. اللَّهُمَّ أَنْتَ الصَّاحِبُ فِي السَّفَرِ، وَأَنْتَ الْخَلِيفَةُ فِي الأَهْلِ، وَلاَ يَجْمَعُهُمَا غَيْرُكَ، لأَنَّ الْمُسْتَخْلَفَ لاَ يَكُونُ مُسْتَصْحَباً، وَالْمُسْتَصْحَبُ لاَ يَكُونُ مُسْتَخْلَفاً.**

(دهجرت په اوۀ دېرشم کال شام ته د سفر د شروع په وخت يې کله چې په رکاب کښې پښه کېښودله دا دعا يې وکړه)

**د سفر دعا**

اے خدايه! تا ته پناه وړم د سفر له سختيو،د ستنېدو له غمونو او په مال، کورنۍ او بچيانو کښې د بدو نظارو له ليدلو،اے پالونکيه! هم تۀ په سفر کښې زمونږ مل او زمونږ د کورنۍ ساتونکے يې او دا دواړه کاره په يو وخت بې له تا هيڅوک نه شي کولي ځکه څوک چې د کورنۍ ساتونکے شي هغه د سفر ملګرے نۀ شي کېدي او څوک چې د سفر ملګرے شی هغه د کورنۍ ساتندوے نۀ شی جوړېدے.

(وړومبنۍ څو جملې د رسول الله مبارک ﷺ دي چې امام علي ؑ په خپلو جملو سره ختمې کړې دي)

## [ ٤٧ ]

وَمِنْ كَلاَمٍ لَهُ فِي ذِكْرِ الْكُوفَةِ

**كَأَنِّي بِكِ يَاكُوفَةُ تُمَدِّينَ مَدَّ الأَدِيمِ الْعُكَاظِيِّ، تُعْرَكِينَ بِالنَّوَازِلِ، وَتُرْكَبِينَ بِالزَّلاَزِلِ، وَإِنِّي لاَعْلَمُ أَنَّهُ مَاأَرَادَ بِكِ جَبَّارٌ سُوءاً إِلاَّ ابْتَلاَهُ اللهُ بِشَاغِلٍ، وَرَمَاهُ بِقَاتِلٍ!**

## ﴿ اوۀ څلو ېښتمه خطبه ﴾

د کوفې په هکله

اے کوفې تا وينم چې ګواکې د عکاظ[٥١] د بازار د څرمنو په شان راکښل کېږې، د پېښو تر پښو لاندې چخنې کېږې او ډول ډول غميزې درسپرېږي، زۀ ښه پوهېږم چې هيڅ ظالم به ستاسو په لور بده اراده ونۀ کړي مګر دا چې خداے به يې په بلا اخته کړي يا به پرې قاتل واکمن کړي.

## [ ٤٨ ]

وَمِنْ خُطْبَةٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ عِنْدَ الْمَسِيرِ إِلَى الشَّامِ

[قِيلَ: إِنَّهُ خَطَبَ بِهَا وَهُوَ بِالنُّخَيْلَةِ خَارِجاً مِنَ الْكُوفَةِ إِلَى صِفِّينَ]

**الْحَمْدُ للهِ كُلَّمَا وَقَبَ لَيْلٌ وَغَسَقَ، وَالْحَمْدُ للهِ كُلَّمَا لاَحَ نَجْمٌ وَخَفَقَ، وَالْحَمْدُ للهِ غَيْرَ مَفْقُودِ الاِنْعَامِ، وَلاَ مُكَافَإِ الاِفْضَالِ. أَمَّا بَعْدُ، فَقَدْ بَعَثْتُ مُقَدِّمَتِي، وَأَمَرْتُهُمْ بِلُزُومِ هذَا الْمِلْطَاطِ، حَتَّى يَأْتِيَهُمْ أَمْرِي، وَقَدْ رَأَيْتُ أَنْ أَقْطَعَ هذِهِ النُّطْفَةَ إِلَى شِرْذِمَةٍ مِنْكُمْ، مُوطِّنِينَ أَكْنَافَ دِجْلَةَ، فَأُنْهِضَهُمْ مَعَكُمْ إِلَى عَدُوِّكُمْ، وَأَجْعَلَهُمْ مِنْ أَمْدَادِ الْقُوَّةِ لَكُمْ.**

## ﴿ اتۀ څلو ېښتمه خطبه ﴾

(شام ته د جنګ لپاره د حرکت په وخت يې د کوفې په نخيلې کښې د هجرت په اوۀ دېرشم کال د شوال په پينځويشتمه نېټه دا خطبه ورکړه)

ستائنه له خداے پاک سره ښائي هر کله چې شپه راورسېږي او د تيارې پرده خوره شي.او ستائنه له خداے پاک سره ښائي کله چې يو ستورے راوخېژي او ولوېږي. ستائنه له خداے پاک سره ښايي چې لورينې او نعمتونه يې پاې او خاتمه نۀ لري او ښيندنې يې جبرانېدې او تلافي کېدې نۀ شي. د خداے پاک له ثنا وروسته. د لښکر مخکښان مې مخکې لېږلي دي او امر مې ورته کړے چې د فرات په خوا کښې تم شي تردې چې زما حکم وررورسي.ځکه چې اراده لرم له فراته واوړم او ستاسو هغو ورونړو ته اورسېږم چې د دجلې په خوا وشا کښې پراتۀ دي او هغوي له تاسو سره يو ځاے او چمتو کړم او ترې نه ستاسو د پياوړتيا لپاره مرسته وغواړم.

(سيد رضي وائي: له ملطاطه مراد هغه ځاے دے چې امام د تم کېدو امر وکړ يعنې د فرات په څنډه کښې ځکه چې د درياب يا فرات غاړې ته ملطاط هم وائي او امام د نطفې له کلمې نه د فرات اوبۀ اراده کړې دي چې دا هم يوه حيرانوونکې خبره ده.)

## [ ٤٩ ]

**الْحَمْدُ للهِ الَّذِي بَطَنَ خَفِيَّاتِ الاُمُورِ، وَدَلَّتْ عَلَيْهِ أَعْلاَمُ الظُّهُورِ، وَامْتَنَعَ عَلَى عَيْنِ الْبَصِيرِ؛ فَلاَ عَيْنُ مَنْ لَمْ يَرَهُ تُنْكِرُهُ، وَلاَ قَلْبُ مَنْ أَثْبَتَهُ يُبْصِرُهُ، سَبَقَ فِي الْعُلُوِّ فَلاَ**

## ﴿ نهۀ څلو ېښتمه خطبه ﴾

ثنا هغه خداے لره ده چې له پټو رازونو او چارو خبر دے. او په درسته هستۍ کښې ښکاره نښې نښانې د هغۀ په موجوديت باندې شاهدي ورکوي.هيڅکله د لېدونکو سترګو ته نۀ ظاهرېږي، نۀ يې هغه سترګې چې نۀ يې دے ليدلے انکار کولے شي او نۀ يې هغه زړۀ چې پېژندلے دے

شَيءَ أَعْلَى مِنْهُ، وَقَرُبَ فِي الدُّنُوِّ فَلاَ شَيْءَ أَقْرَبُ مِنْهُ، فَلاَ اسْتِعْلاَؤُهُ بَاعَدَهُ عَنْ شَيْءٍ مِنْ خَلْقِهِ، وَلاَ قُرْبُهُ سَاوَاهُمْ فِي المَكَانِ بِهِ، لَمْ يُطْلِعِ الْعُقُولَ عَلَى تَحْدِيدِ صِفَتِهِ، وَلَمْ يَحْجُبْهَا عَنْ وَاجِبِ مَعْرِفَتِهِ، فَهُوَ الَّذِي تَشْهَدُ لَهُ أَعْلاَمُ الْوُجُودِ، عَلَى إِقْرَارِ قَلْبِ ذِي الْجُحُودِ، تَعَالَى اللهُ عَمَّا يَقُولُ الْمُشَبِّهُونَ بِهِ وَالْجَاحِدُونَ لَهُ عُلُوّاً كَبِيراً!

درک کولے شي. په عظمت او اوچتوالي کښې تر ټولو مخکې دے نو هيڅ شے تر هغهٔ اوچت نيشته. او مخلوقاتو ته دومره نزدے دے چې تر هغه زيات نزدے څوک نهٔ شي کېدې. خو د هغهٔ اوچتوالي هغه له مخلوقاتو نه لرې کړے نهٔ دے او د هغهٔ نزدېکت هغه له نورو څيزونو سره برابر کړے نهٔ دے. عقلونه يې د خپل ذات له حقيقته نهٔ دي خبر کړي خو خپل لازم معرفت او پېژندنه يې هم نهٔ ده پټه کړې. نو بس هغه دے چې د هستۍ ټولې نښې نښانې يې په شتون ګواهي ورکوي او د منکرانو زړونه د هغهٔ د شتون او موجوديت په اقرار مجبوروي. هغه خدا ے پاک چې د شباهت ورکوونکو له خبرو سپېځلے او د منکرانو له خيالاتو اوچت او بالاتر دے.

## [ ۵۰ ]

فِيهَا بَيَانٌ لِمَا يُخْرِبُ الْعَالَمَ بِهِ مِنَ الْفِتَنِ

## ﴿ پنځوسمه خطبه ﴾

(د هجرت په اتهٔ دېرشم کال د صفين او حکميت د مسئلې له ختمېدو وروسته يې دا خطبه په کوفه کښې ورکړه)

### د فتنو د پېدا کېدو لاملونه او اسباب

إِنَّمَا بَدْءُ وُقُوعِ الْفِتَنِ أَهْوَاءٌ تُتَّبَعُ، وَأَحْكَامٌ تُبْتَدَعُ، يُخَالَفُ فِيهَا كِتَابُ اللهِ، وَيَتَوَلَّى عَلَيْهَا رِجَالٌ رِجَالاً، عَلَى غَيْرِ دِينِ اللهِ، فَلَوْ أَنَّ الْبَاطِلَ خَلَصَ مِنْ مِزَاجِ الْحَقِّ لَمْ يَخْفَ عَلَى الْمُرْتَادِينَ، وَلَوْ أَنَّ الْحَقَّ خَلَصَ مِنْ لَبْسِ البَاطِلِ انْقَطَعَتْ عَنْهُ أَلْسُنُ الْمُعَانِدِينَ؛ وَلكِنْ يُؤْخَذُ مِنْ هذَا ضِغْثٌ، وَمِنْ هذَا ضِغْثٌ، فَيُمْزَجَانِ! فَهُنَالِكَ يَسْتَوْلِي الشَّيْطَانُ عَلَى أَوْلِيَائِهِ، وَيَنْجُو الَّذِينَ سَبَقَتْ لَهُمْ مِنَ اللهِ الْحُسْنَى.

بې شکه چې فتنې د هوا او هوس له منلو او په آسماني احکامو کښې د بدعتونو له جوړولو پيدا کېږي. دا سې بدعتونه چې قرآن يې مخالف دے او بوه ډله «د دغو دوو انحرافونو په مټ» په بلې ډلې باندې تسلط پيدا کړي چې د خدا ے پاک د دين په خلاف وي. نو که حق له باطل سره نهٔ وي ګډ کړي شوے نو د حق له غوښتونکو نه به پټ نهٔ پاتې کېدهٔ. او که حق له باطله جدا او خالص شوے وي نو د دښمنانو ژبې به غوڅې شوې وې. خو دوې د حق او باطل ځيني برخې واخلي او له يو بل سره يې ګډې کړي نو دغلته بيا شيطان په خپلو دوستانو لاسبرے کېږي او يواځې هغه کسان ژغورل کېږي چې«د خدا ے پاک رحمت او لطف پرې شوے وي»

«حمزه بابا د دې خطبې ترڅنګه د نهج البلاغې په ترجمې سپيڅلی ويناوې کښې ليکي:»

### زهٔ وايم

د وينا اکر بکر دا ښئ چې د حضرت علي(ع) اشاره د حضرت عثمان(رض) خلافت ته ده ځکه چې فتنې او فسادونه د هغوي په عهدکښې پيدا شوي وو نوکه دا صحيح وي نو د اميرالمومنين(ع) په خيال د هغهٔ حکومت شرعي نهٔ ؤ او هغوي د کتاب الله په ځا ے د خپل نفس له خواهش سره سم حکومت کولو. او له تاريخ نه دا هم معلوميږي چې مسلمانانو چې په هغوي کوم الزامونه لګولي وو هغه ټول غلط نهٔ وو او څو څو کرته حضرت علي(ع) هم نصيحت کړے ؤ.

زهٔ په دې خبره ډېر حېران شم چې مسلمانان د خلفاء په ځينو غلطيو لا خو پرده اچوي او لا يې دا سې تاويلونه کوي چې هغه تاويل يې د ((عذر گناه بدتر از گناه)) ښکاري. که يو سړے په ديانت او انصاف سره د رسول الله(ص) په يو صحابي تنقيد کوي نو دا کوم جرم دے؟ آخر له نبي نه پس به بل څوک وي چې د هغهٔ په قول او فعل باندې نيونه ونهٔ کړې شي، بيا په تېره هغه خلق چې په دين کښې د صحابي قول سند هم نهٔ ګڼي. هم دا خبرې دي چې اسلام يې په ډېرو ډلو کښې تقسيم کړے دے او د مرکزيت يې هيڅ اميد نهٔ شي کېدې.

## [ ۵۱ ]

لَمَّا غَلَبَ أَصْحَابُ مُعَاوِيَةَ أَصْحَابَهُ عَلَى شَرِيعَةِ الْفُرَاتِ بِصِفِّينَ وَمَنَعُوهُمُ الْمَاءَ:

## ﴿ يو پنځوسمه خطبه ﴾

(دهجرت په اوهٔ دېرشم کال صفين دښتې ته له ننوتلو وروسته يې د فرات د اوبو د لاسته راوړلو لپاره خپلو عسکرو ته وفرمايل)

قَدِ اسْتَطْعَمُوكُمُ الْقِتَالَ، فَأَقِرُّوا عَلَى مَذَلَّةٍ، وَتَأْخِيرِ مَحَلَّةٍ،

(شاميان) تاسو ته د جنګ ښېر وهي[۵۲] او اوس تاسو په دوه لارې ولاړ يئ

أَوْ رَوُّوا السُّيُوفَ مِنَ الدِّمَاءِ تَرْوَوْا مِنَ الْمَاءِ، فَالمَوْتُ فِي حَيَاتِكُمْ مَقْهُورِينَ، وَالْحَيَاةُ فِي مَوْتِكُمْ قَاهِرِينَ. أَلاَ وَإِنَّ مُعَاوِيَةَ قَادَ لُمَةً مِنَ الْغُوَاةِ وَعَمَّسَ عَلَيْهِمُ الْخَبَرَ، حَتَّى جَعَلُوا نُحُورَهُمْ أَغْرَاضَ الْمَنِيَّةِ

[ ٥٢ ]

تَقَدَّمَ مُخْتَارُهَا بِرِوَايَةٍ، وَنَذْكُرُهَا هَاهُنَا بِرِوَايَةٍ أُخْرَى لِتَغَايُرِ الرِّوَايَتَيْنِ

أَلاَ وَإِنَّ الدُّنْيَا قَدْ تَصَرَّمَتْ، وَآذَنَتْ بِانْقِضَاءٍ، وَتَنَكَّرَ مَعْرُوفُهَا، وَأَدْبَرَتْ حَذَّاءَ، فَهِيَ تَحْفِزُ بِالْفَنَاءِ سُكَّانَهَا، وَتَحْدُو بِالْمَوْتِ جِيرَانَهَا، وَقَدْ أَمَرَّ مِنْهَا مَا كَانَ حُلْواً، وَكَدِرَ مِنْهَا مَا كَانَ صَفْواً، فَلَمْ يَبْقَ مِنْهَا إِلاَّ سَمَلَةٌ كَسَمَلَةِ الادَاوَةِ، أَوْ جُرْعَةٌ كَجُرْعَةِ الْمَقْلَةِ، لَوْ تَمَزَّزَهَا الصَّدْيَانُ لَمْ يَنْقَعْ، فَأَزْمِعُوا عِبَادَ اللهِ الرَّحِيلَ عَنْ هذهِ الدَّارِ الْمَقْدُورِ عَلَى أَهْلِهَا الزَّوَالُ، وَلاَ يَغْلِبَنَّكُمْ فِيهَا الأَمَلُ، وَلاَ يَطُولَنَّ عَلَيْكُمُ الأَمَدُ.

عِظَمُ النَّعِيمِ الأُخْرَوِيِّ

فَوَاللهِ لَوْ حَنَنْتُمْ حَنِينَ الْوُلَّهِ الْعِجَالِ وَدَعَوْتُمْ بِهَدِيلِ الْحَمَامِ، وَجَأَرْتُمْ جُؤَارَ مُتَبَتِّلِي الرُّهْبَانِ، وَخَرَجْتُمْ إِلَى اللهِ مِنَ الأَمْوَالِ وَالأَوْلاَدِ، الْتِمَاسَ الْقُرْبَةِ إِلَيْهِ فِي ارْتِفَاعِ دَرَجَةٍ عِنْدَهُ، أَوْغُفْرَانِ سَيِّئَةٍ أَحْصَتْهَا كُتُبُهُ، وَحَفِظَتْهَا رُسُلُهُ، لَكَانَ قَلِيلاً فِيمَا أَرْجُو لَكُمْ مِنْ ثَوَابِهِ، وَأَخَافُ عَلَيْكُمْ مِنْ عِقَابِهِ. وَتَاللهِ لَوِ انْمَاثَتْ قُلُوبُكُمُ انْمِيَاثاً، وَسَالَتْ عُيُونُكُمْ مِنْ رَغْبَةٍ إِلَيْهِ وَرَهْبَةٍ مِنْهُ دَماً، ثُمَّ عُمِّرْتُمْ فِي الدُّنْيَا، مَا الدُّنْيَا بَاقِيَةٌ، مَا جَزَتْ أَعْمَالُكُمْ [عَنْكُمْ] ـ وَلَوْ لَمْ تُبْقُوا شَيْئاً مِنْ جُهْدِكُمْ ـ أَنْعُمَهُ عَلَيْكُمُ الْعِظَامَ، وَهُدَاهُ إِيَّاكُمْ لِلايمَانِ.

[ ٥٣ ]

یا په ذلت سره په خپل ځای کښینئ او یا مو توري د هغوي په وینو سېرابې کړئ چې په اوبو خړوب شئ. نو پوه شئ چې د بائلات او ماتې په صورت کښې که ژوندي هم پاتې شئ مړه يئ او که د برې په حال کښې مړۀ هم شئ ژوندي يئ. خبر اوسئ! معاويه يو شمېر داسې ګمراهان له ځان سره راوستي او حقيقت يې ترې نه پټ کړے دے چې مرګ يې د غشو او تورو په نښه کړي.

## ﴿دوه پنځوسمه خطبه﴾

(د لوے اختر په ورځ يې دا خطبه ورکړې ده او زيات شارحان وائي چې دوه پنځوسمه او درې پنځوسمه خطبه يوه ده)

خبر اوسئ ګواکې دنيا پاې ته رسېدلې او خداے پۀ امانې يې کړې ده ښېګړې يې ورکې شوې او په تېزۍ سره يې شا کړې ده، خپل استوګن تباهۍ ته کاږي او ګاونډيان مرګ ته بوځي. د دنيا خواږۀ تراخۀ شوي او رانۀ يې خړ شوي دي او د لوښي په بيخ کښې تر پاتو اوبو زياته نۀ ده پاتې يا يو ګوټ اوبۀ چې دنيا د تږو تنده نۀ شي ماتولې. اے د خداے بندګانو! له دغه سرايه وکوچېږئ چې پائله او نتيجه يې لو لپه کېدل دي. پام چې ارمانونه درباندې لاسبرې نۀ شي او ګمان ونۀ کړئ چې اوږد عمر به لرئ

### د آخرت نعمتونه لوې دي

په خداے قسم که د هغو اوښانو په شان فريادونه وکړئ چې جونګي (بچي) يې مړۀ شوي وي يا د کونترو په څېر ويرونه وکړئ او يا د راهبانو په شان زارۍ وکاندئ، او حق ته د نږدېکت، معنوي درجو ته د رسېدلو او د ملائکو له خوا د ليکل شويو ګناهونو د بخښلو لپاره له خپلو مالونو او اولادونو لاس واخلئ، دا به درته ښه وي ځکه چې دا د هغه ثواب په بدله کښې چې تاسو ته يې هيله لرم او د هغه عذاب په وړاندې چې تاسو ته يې اندېښنه لرم، کمه ده. په خداے قسم! که زړونه مو د خداے پاک له وېرې ويلې شي او له سترګو مو د هغۀ د ديدار په شوق او يا د هغۀ له وېرې وينې اوبهېږي او که د دنيا تر آخره ژوندي پاتې شئ او تر خپله وسه د حق د فرمان د منلو هڅه وکړئ دا هر څه د پالونکي د لويو نعمتونو، په تېره بيا د ايمان د نعمت په وړاندې هيڅ دي.

## ﴿درې پنځوسمه خطبه﴾

وَمِنْ خُطْبَة لَهُ عَلَيْه السَّلاَمُ في ذكْرِ يَوْمِ النَّحْرِ وَصفَة الأُضْحيَة

**وَمِنْ تَمَامِ الاُضْحِيَة اسْتشْرَافُ أُذُنِهَا، وَسَلاَمَةُ عَيْنِهَا، فَإِذَا سَلِمَت الاُذُنُ وَالْعَيْنُ سَلِمَت الاُضْحِيَةُ وَتَمَّتْ، وَلَوْ كَانَتْ عَضْبَاءَ الْقَرْنِ تَجُرُّ رِجْلَهَا إِلَى الْمَنْسَكِ.**

### د قربانۍ د څاروي ځانګړنې او خصوصيات

د قربانۍ د څاروي کمال او بشپړتيا په دې کښې ده چې غوږونه او سترګې يې روغې وي، نو که غوږونه او سترګې يې روغې وي نو قرباني روغه او پوره ده.که څه هم ښکر يې مات وي او په ګوډه پښه قربانګاه ته راشي.

## [ ٥٤ ]

وَمِنْ كَلاَمٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ

فَتَدَاكُّوا عَلَيَّ تَدَاكَّ الإِبِلِ الْهِيمِ يَوْمَ وِرْدِهَا، قَدْ أَرْسَلَهَا رَاعِيهَا، وَخُلِعَتْ مَثَانِيهَا، حَتَّى ظَنَنْتُ أَنَّهُمْ قَاتِلِيَّ، أَوْ بَعْضُهُمْ قَاتِلُ بَعْضٍ لَدَيَّ، وَقَدْ قَلَّبْتُ هَذَا الأَمْرَ بَطْنَهُ وَظَهْرَهُ حَتَّى مَنَعَنِي النَّوْمَ، فَمَا وَجَدْتُنِي يَسَعُنِي إِلاَّ قِتَالُهُمْ أَوِ الْجُحُودُ بِمَا جَاءَ بِهِ مُحَمَّدٌ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ، فَكَانَتْ مُعَالَجَةُ الْقِتَالِ أَهْوَنَ عَلَيَّ مِنْ مُعَالَجَةِ الْعِقَابِ، وَمَوْتَاتُ الدُّنْيَا أَهْوَنَ عَلَيَّ مِنْ مَوْتَاتِ الأخِرَةِ.

## [ ٥٥ ]

وَقَد اسْتَبْطَأَ أَصْحَابُهُ إِذْنَهُ لَهُمْ فِي الْقِتَالِ بِصِفِّينَ

أَمَّا قَوْلُكُمْ: أَكُلَّ ذلِكَ كَرَاهِيَةَ الْمَوْتِ؟ فَوَاللهِ مَا أُبَالِي دَخَلْتُ إِلَى الْمَوْتِ أَوْ خَرَجَ الْمَوْتُ إِلَيَّ. وَأَمَّا قَوْلُكُمْ: شَكّاً فِي أَهْلِ الشَّامِ! فَوَاللهِ مَا دَفَعْتُ الْحَرْبَ يَوْماً إِلاَّ وَأَنَا أَطْمَعُ أَنْ تَلْحَقَ بِي طَائِفَةٌ فَتَهْتَدِيَ بِي، وَتَعْشُوَ إِلَى ضَوْئِي، فَهُوَ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ أَقْتُلَهَا عَلَى ضَلاَلِهَا، وَإِنْ كَانَتْ تَبُوءُ بِآثَامِهَا.

## [ ٥٦ ]

[يَصِفُ أَصْحَابَ رَسُولِ اللهِ]

وَلَقَدْ كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِه، نَقْتُلُ آبَاءَنَا وَأَبْنَاءَنَا وَإِخْوَانَنَا وَأَعْمَامَنَا، مَا يَزِيدُنَا ذلِكَ إِلاَّ إِيمَاناً وَتَسْلِيماً، وَمُضِيّاً عَلَى اللَّقَمِ، وَصَبْراً عَلَى مَضَضِ الأَلَمِ، وَجِدّاً عَلَى جِهَادِ الْعَدُوِّ، وَلَقَدْ كَانَ الرَّجُلُ مِنَّا وَالآخَرُ مِنْ عَدُوِّنَا يَتَصَاوَلاَنِ تَصَاوُلَ الْفَحْلَيْنِ، يَتَخَالَسَانِ أَنْفُسَهُمَا، أَيُّهُمَا يَسْقِي صَاحِبَهُ كَأْسَ الْمَنُونِ، فَمَرَّةً لَنَا مِنْ عَدُوِّنَا، وَمَرَّةً لِعَدُوِّنَا مِنَّا، فَلَمَّا رَأَى اللهُ صِدْقَنَا أَنْزَلَ

## ﴿ څلور پنځوسمه خطبه ﴾

«د هجرت په اوۀ دېرشم کال د صفين د جنګ د شروع کېدو په وخت يې دا وينا وکړه»

خلق په ما باندې داسې رامات شول لکه تږې اوښان چې څاروان پرېښي وي او پښه بند يې ورپرانېستے وي او په اوبو ورمات شي. يو بل يې ديکه کول او راوړاندې کېدل تر دې چې ګمان مې وکړ يا به ما ووژني او يا به يو بل تر پښو لاندې کړي او وبه يې وژني. د خلقو له بيعته وروسته مې له معاويه سره د جنګ په مسئله غور وکړ ټول اړخونه مې يې وجاجول دومره چې خوبونه مې لاړل. نو له ښه فکره وروسته مې يواځې دوه لارې ذهن ته راغلې، يا دا چې له هغوي سره وجنګېږم يا د هغه څه چې رسول الله مبارک حضرت محمدﷺ راوړي انکار وکړم، نو دې نتيجې ته اورسېدم چې جنګ کول د خداے تر نافرمانۍ کولو او سزا آسان دي. او د دنيا بائلل د آخرت تر برېښودلو زيات آسان دي.

## ﴿ پينځۀ پنځوسمه خطبه ﴾

«دهجرت په اووۀ دېرشم کال د صفين د جنګ په درشل کښې ځينو کسانو چې په جنګ باندې ډېر ټينګ وو چې کله اوليدل چې امام د جنګ په معامله کښې نرم دے نو له امامه يې د سبب پوښتنه وکړه نو امام ورته وفرمايل»

دا چې وايئ چې په جنګ کې ځنډ مې د مرګ له وېرې دے، په خداے قسم! ماته هيڅ پروا نۀکوي چې زۀ په مرګ پسې ورشم او که مرګ په ما پسې راشي او که تاسو دا خيال کوئ چې له شاميانو سره په جنګ کښې زړۀ بې زړۀ يم په خداے قسم!هره ورځ چې جنګ ځنډوم د دې لپاره ده چې هيله لرم له هغوي يو شمېر کسان له مونږ سره يو ځاے شي او هدايت شي. او په تيرو کښې زما د رڼا په ليدلو سره راودرومي، ځکه چې دا زما لپاره د ګمراهۍ په حال کښې د هغوي تر وژلو غوره ده .که څه هم له وژل کېدو وروسته هم هغوي ته د خپلو کړو سزا ورکېدو نکې ده.

## ﴿ شپږ پنځوسمه خطبه ﴾

«ځينې کسان وائي چې دا خطبه د هجرت په اووۀ دېرشم کال په بصره کښې د معاويه د خوځښتونو په حقله ده او ځينې وائي چې د صفين په يوه ورځ يې ورکړې ده»

مونږ به د رسول الله مبارکﷺ په ملګرتيا کښې له خپلو پلرونو، زامنو، ورونو او ترونو سره جنګېدوو، او دغه جنګ به زمونږ ايمان نور هم تازه کوۀ، او د سختيو په وړاندې زمونږ صبر او له دښمن سره جهاد او هوډ به يې نور هم زياتوۀ. کله کله به يو کس له مونږ او بل له دښمنانو څخه د دوو پهلوانانو په شان جنګېدو او هر يو به د بل د پرزولو هڅه کوله چې سيال ته د مرګ تراخۀ وروڅکي، کله به مونږ په غليمانو لاسبري شوو او کله به هغوي. نو کله چې خداے تعالی زمونږ راستي او اخلاص وليدۀ نو د دښمن په برخه يې ذلت او زمونږ په برخه يې برے وټاکۀ. تر دې چې

بعدُوِّنَا الْكَبْتَ، وَأَنْزَلَ عَلَيْنَا النَّصرَ، حَتَّى اسْتَقَرَّ الاسْلاَمُ مُلْقِياً جِرَانَهُ وَمُتَبَوِّئاً أَوْطَانَه، وَلَعَمْرِي لَوْ كُنَّا نَأْتِي مَا أَتَيْتُمْ، مَا قَامَ لِلدِّينِ عَمُودٌ، وَلاَ اخْضَرَّ لِلايمانِ عُودٌ، وَأَيْمُ اللهِ لَتَحْتَلِبُنَّهَا دَماً، وَلَتُتْبِعُنَّهَا نَدَماً!

اسلام پیاوړے او خپور شو او په پراخو ټاټوبو کښې اوغځید. په خپل ځان مې قسم! که مونږ په جنګ کښې ستاسو په شان وې نو نۀ به د دین کومه ستنه ټینګه شوې وه او نۀ به د ایمان د ونې کومه ښاخګه زرغونه شوې وه. په خداے قسم تاسو اوس د اوښ له تې وینه لشئ او ستاسو انجام صرف پښېماني ده.

[ ٥٧ ]

وَمِنْ كَلاَمٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ قَالَ لأَصْحَابِه

الإِخْبَارُ عَنِ الْحُكُومَةِ الْجَائِرَة

أَما إِنَّهُ سَيَظْهَرُ عَلَيْكُمْ بَعْدِي رَجُلٌ رَحْبُ الْبُلْعُومِ، مُنْدَحِقُ الْبَطْنِ، يَأْكُلُ مَا يَجِدُ، وَيَطْلُبُ مَا لاَ يَجِدُ، فَاقْتُلُوهُ، وَلَنْ تَقْتُلُوهُ! أَلاَ وَإِنَّهُ سَيَأْمُرُكُمْ بِسَبِّي وَالْبَرَاءَةِ مِنِّي؛ فَأَمَّا السَّبُّ فَسُبُّونِي، فَإِنَّهُ لِي زَكَاةٌ،وَلَكُمْ نَجَاةٌ؛ وَأَمَّا الْبَرَاءَةُ فَلاَ تَتَبَرَّأُوا مِنِّي، فَإِنِّي وُلِدْتُ عَلَى الْفِطْرَةِ، وَسَبَقْتُ إِلَى الأيمَانِ وَالْهِجْرَةِ.

﴿ اوۀ پنځوسمه خطبه ﴾

(دهجرت په څلوېښتم کال یې د عمر په وروستیو وختونو کښې د کوفیانو په غندنه کښې وفرمایل):

د ظالم واکمن د راتلو وړاندې وینه (پېشګوئي)

خبر اوسئ! له ما وروسته به د ارتې مرئ او یو لوي خېټې سړے[53] به په تاسو واکمن شي، چې هر څه مومي خوري به یې، او چې څه نه مومي د هغۀ د لاسته راوړلو هڅه به کوي.هغه ووژنئ خو تاسو هغه هیڅکله نه شئ وژلې. خبر اوسئ، ډېر زر به هغه (معاویه) تاسو مجبوره کړي چې په ماپسې بدې ردې (کنځلې) ووایئ[54] او له ما بیزاري ښکاره کړئ. که دښمن مو مجبوره کړي نو خبر دے بدې ردې ووایئ ځکه چې دا کار زما پاکي زیاتوي او (له مرګه) ستاسو د نجات سبب کیږي، خو تبرا (بیزاري ښکاره کول)، نوهیڅکله (په زړۀ کښې) له ما بیزاري مۀ کوئ ځکه چې زۀ د توحید په فطرت پېدا شوے یم او په ایمان او هجرت کښې تر هر چا مخکې وم.

«حمزه بابا د دې خطبې ترځنګه د سپیځلی وېناوې په ۱۷۸م او م۱۷۹مخونو کښې لیکي:»

زۀ وایم

(په دې خطبه کښې چې حضرت‌ؑ له ځان نه وروسته د ځان په حقله د بدو ردو او رواجېدو ته کومه اشاره کړې ده دا واقعاً چې د معاویه له وخت نه په منبرونو باندې واجب کړې شوې وه چې په علي‌ؑ او د هغۀ په اولاد باندې لعنت وویلې شي او بدې ردې وویلې شي چې دا سلسله د بني امیو په ټولو دورونو کښې جاري وه او د بني امیو آخري خلیفه عمر بن عبدالعزیز دا سلسله بنده کړه.

(چې حمزه بابا دلته د عمر بن عبدالعزیز یوې بلې کارنامې ته هم اشاره کړې او لیکي:)

په دې کښې هیڅ شک نشته چې عمر بن عبدالعزیز یو سپېڅلے انسان ؤ خو هغۀ یو بل لوے کار هم کړے ؤ او هغه دا چې هغۀ د فدک جائېداد هم اهل بېتو ته واپس کړے ؤ کوم چې حضرت ابوبکر ضبط کړے ؤ او له خپلې ډډې یې دا خبره ثابته کړې وه چې حضرت ابوبکرؓ په دې سلسله کښې غلطي کړې وه. له دې نه یوه خبره بله هم ثابتیږي او هغه دا چې د عمر بن عبدالعزیز په عقیده کښې د خلفائے راشدینو په سنت عمل کول ضروري نۀ دي او هم دغه خبره وه چې عبدالرحمن بن عوف حضرت علي‌ؑ ته له خلیفه کېدو نه اګاهو په طور د اصولو وړاندې کړې وه او حضرت علي‌ؑ د شیخینو د سنت له اتباع نه انکار کړے ؤ او که غور وکړے شي نو معلومه به شي چې دا څومره پوچ او فضول شرط ؤ. حضرت علي‌ؑ چې په علم او فضل کښې له ټولو اصحابو نه اوچت ؤ او په خپله خلفاء د هغوي د علم او فضل قائل وو هغۀ څرنګه دا شرط منلے شو. او بیا که په علم او فضل کښې له هغوي نه اوچت نۀ هم وې نو د خداے او رسول‌ﷺ له قول نه بغېر د بل چا قول او فعل په کوم دلیل حجت کېدې شي. په خپله عبدالرحمن بن عوف او نورو اصحابو کله د خلفاؤ په هره خبره امنا و صدقنا ویلي دي؟ د ابن عوف دا یقین ؤ چې علي‌ؑ به هیڅرې دا شرط ونۀ مني، ځکه یې د عمرو بن العاص په مشوره ورته دا شرط وړاندې کړو. له دې نه صفا دا معلومیږي چې په اصحابو کښې هم داسې خلق وو چې تحت الشعور یې لا د پخواني شرک او فتنې او سازشونو نه خالي شوے نۀ ؤ چې له کامیابۍ نه پس څه دنیاوي فائده حاصله کړي. او د دې ثبوت دا دے چې کوم وخت طلحه او زبېر بهر وو ورغلل او خبر شول چې په هغه شپږ کسه جرګه کښې هغوي دواړه هم شامل وو کومو چې حضرت عثمانؓ خلیفه کړو نو حضرت

عثمان ته يې وويل چې تهٔ چا خليفه کړے يې، مونږ دا فېصله هډو منو نه نو حضرت عثمان دواړو ته شپږ لکه درهمه ورکړل او خواست يې ورته وکړ چې خوله بنده اوساتي. (الفتنه الکبري طه حسېن مصري)

[ ۵۸ ]

كَلَّمَ بِهِ الْخَوارِجَ

الإخْبَارُ عَنْ مُسْتَقْبَلِ الْخَوَارِجِ

**أَصَابَكُمْ حَاصِبٌ، وَلاَ بَقِيَ مِنْكُمْ آبِرٌ، أَبَعْدَ إِيمَانِي بِاللهِ وَجِهَادِي مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ أَشْهَدُ عَلَى نَفْسِي بِالْكُفْرِ! لَقَدْ ضَلَلْتُ إِذاً وَمَا أَنَا مِنَ الْمُهْتَدِينَ! فَأُوبُوا شَرَّ مَآبٍ، وَارْجِعُوا عَلَى أَثَرِ الاَعْقَابِ، أَمَا إِنَّكُمْ سَتَلْقَوْنَ بَعْدِي ذُلاًّ شَامِلاً، وَسَيْفاً قَاطِعاً، وَأَثَرَةً يَتَّخِذُهَاالظَّالِمُونَ فِيكُمْ سُنَّةً.**

## ﴿ اتۀ پنځوسمه خطبه ﴾

(د هجرت په اتۀ دېرشم کال د حَکَميت له پېښې او د يو لړ آوازو له اوربدلو وروسته يې د خوارجو په غندنه کښې وفرمايل)

### د خوارجو سپېرۀ مستقبل

په تاسو دې د بلا او مصيبت کاڼي اورېږي چې هډو نښه نښانه مو پاتې نه شي!آيا په خدا ے باندې له ايمانه او د رسول الله مبارک ﷺ په رکاب کې له جهاده وروسته د ځان په کفر ګواهي ورکړم؟ که داسې مې وکړل بې لارې شوے به وم او له هدايت موندونکو به نه وم. نو ډېر بد ځاے ته لاړ شئ او د تېرو(کفر) لارې ته ستانۀ شئ. خبر اوسئ! ډېر زر به له ما وروسته خوار او ذليل شئ او له تورې به تېر کړې شئ او په داسې ظالمانو به واوړئ چې ستاسو مالونه به ځان ته کړي.

(سيد رضي وائي: دا چې امام وفرمايل «ولا يبقي منکم آبر» دا درې ډوله روايت شوے دے يوه آبر،يعنې د خرماؤ د ونې د ځانګو وهل او هغه سمول، او بله «آثر» يعنې د خبرې او حديث نقلوونکې چې دا معنا يې غوره ده يعنې امام دلته دا ويل غواړي چې ستاسو خبر ورکوونکې قدرې به هم پاتې نه شي. او دريم هم « آبز» يعنې هلاکېدو نکي.

[ ۵۹ ]

لَمَّا عَزَمَ عَلَى حَرْبِ الْخَوَارِجِ،

وَقِيلَ لَهُ: إِنَّ الْقَوْمَ قَدْ عَبَرُوا جِسْرَ النَّهْرَوَانِ

الإخْبَارُ عَنْ مَقْتَلِ الْخَوَارِجِ

**مَصَارِعُهُمْ دُونَ النُّطْفَةِ، وَاللهِ لاَ يُفْلِتُ مِنْهُمْ عَشَرَةٌ، وَلاَ يَهْلِكُ مِنْكُمْ عَشَرَةٌ.**

## ﴿ نهۀ پنځوسمه خطبه ﴾

(د هجرت په اتۀ دېرشم کال يو صحابي وويل چې خوارج د نهروان له پُله تېر شول، امام وفرمايل)

### د خوارجو وژنتون (قتلګاه)

(نه هغوي نۀ دي تېر شوي) د خوراجو وژنتون او قتلګاه له نهره دې پلو ته ده، په خدا ے قسم ! له هغوي به تر لسو زيات کسان پاتې نۀ شي او له تاسو به تر لسو زيات ونۀ وژل شي.

«له نطفې نه د امام مطلب د نهر اوبۀ دي دا د اوبو لپاره ډېره فصيحه کنايه ده که څه هم دغه اوبۀ زياتې ولې نۀ وي»

[۶۰]

لَمَّا قُتِلَ الْخَوَارِجُ فَقِيلَ لَهُ: يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ، هَلَكَ الْقَوْمُ بِأَجْمَعِهِمْ.

فَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

الإخْبَارُ عَنِ اسْتِمْرَارِ إنْحِرَافِ الْخَوَارِجِ

**كَلاَّ وَاللهِ، إِنَّهُمْ نُطَفٌ فِي أَصْلاَبِ الرِّجَالِ، وَقَرَارَاتِ النِّسَاءِ، كُلَّمَا نَجَمَ مِنْهُمْ قَرْنٌ قُطِعَ، حَتَّى يَكُونَ آخِرُهُمْ لُصُوصاً سَلاَّبِينَ.**

## ﴿ شپېتمه خطبه ﴾

(له خوارجو سره له جنګه وروسته يو کس وويل: اے اميرالمومنين! خوارج ټول ختم شول؟ امام وفرمايل)

### د خوارجو فکر به جاري وي

نه په خدا ے قسم هيڅکله نه! لا خو دا خلق د پلرونو د ملاګانو په نطفو او د مېندو په خېټو کښې موجود دي، په هره زمانه کښې به چې د دوي ښکر ښکاره شي غوڅ به کړې شي تر دې چې د دوي آخري ډله به د داړه مارو او غلونو وي. ۵۵

[ ۶۱ ]

وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ فِيهِمْ

**لاَ تَقْتُلُوا الْخَوَارِجَ بَعْدِي، فَلَيْسَ مَنْ طَلَبَ الْحَقَّ فَأَخْطَأَهُ، كَمَنْ طَلَبَ الْبَاطِلَ فَأَدْرَكَهُ.**

## ﴿ يو شپېتمه خطبه ﴾

(د هجرت په اتۀ دېرشم کال يې د نهروان له جنګه وروسته د خوارجو د راتلونکې (مستقبل) په حقله وفرمايل)

له ما وروسته له خوارجو سره جنګ مۀ کوئ ځکه څوک چې د حق په لټه کښې وي او په دغه لټون کښې خطا وکړي د هغه چا په شان نۀ دي چې د باطل په لټه کښې وي او باطل يې موندلے وي.

(له دغو کسانو د امام مطلب معاویه او ملګري یې دي)

[ ٦٢ ]

وَمِنْ كَلاَمٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ لَمَّا خُوِّفَ مِنَ الْغِيلَةِ

وَإِنَّ عَلَيَّ مِنَ اللهِ جُنَّةً حَصِينَةً، فَإِذَا جَاءَ يَوْمِي انْفَرَجَتْ عَنِّي وَأَسْلَمَتْنِي؛ فَحِينَئِذ لاَ يَطِيشُ السَّهْمُ، وَلاَ يَبْرَأُ الْكَلْمُ.

[ ٦٣ ]

وَمِنْ خُطْبَة لَهُ [يُحَذِّرُ مِنْ فِتْنَة الدُّنْيَا]

أَلاَ وَإِنَّ الدُّنْيَا دَارٌ لاَ يُسْلَمُ مِنْهَا إِلاَّ فِيهَا، وَلاَ يُنْجَى بِشَيْء كَانَ لَهَا. ابْتُلِيَ النَّاسُ بِهَا فِتْنَةً، فَمَا أَخَذُوهُ مِنْهَا لَهَا أُخْرِجُوا مِنْهُ وَحُوسِبُوا عَلَيْهِ، وَمَا أَخَذُوهُ مِنْهَا لِغَيْرِهَا قَدِمُوا عَلَيْهِ وَأَقَامُوا فِيهِ؛ فَإِنَّهَا عِنْدَ ذَوِي الْعُقُولِ كَفَيْءِ الظِّلِّ، بَيْنَا تَرَاهُ سَابِغاً حَتَّى قَلَصَ، وَزَائِداً حَتَّى نَقَصَ.

[ ٦٤ ]

[فِي الْمُبَادَرَة إِلَى صَالِحِ الأَعْمَال]

فَاتَّقُوا اللهَ عِبَادَ اللهِ، وَبَادِرُوا آجَالَكُمْ بِأَعْمَالِكُمْ، وَابْتَاعُوا مَا يَبْقَى لَكُمْ بِمَا يَزُولُ عَنْكُمْ، وَتَرَحَّلُوا فَقَدْ جُدَّ بِكُمْ وَاسْتَعِدُّوا لِلْمَوْتِ فَقَدْ أَظَلَّكُمْ وَكُونُوا قَوْماً صِيحَ بِهِمْ فَانْتَبَهُوا، وَعَلِمُوا أَنَّ الدُّنْيَا لَيْسَتْ لَهُمْ بِدَار فَاسْتَبْدَلُوا؛ فَإِنَّ اللهَ لَمْ يَخْلُقْكُمْ عَبَثاً، وَلَمْ يَتْرُكْكُمْ سُدىً، وَمَا بَيْنَ أَحَدِكُمْ وَبَيْنَ الْجَنَّةِ أَوِ النَّارِ إِلاَّ الْمَوْتُ أَنْ يَنْزِلَ بِهِ.وَإِنَّ غَايَةً تَنْقُصُهَا اللَّحْظَةُ، وَتَهْدِمُهَا السَّاعَةُ، لَجَدِيرَةٌ بِقِصَرِ الْمُدَّةِ، وَإِنَّ غَائِباً يَحْدُوهُ الْجَدِيدَانِ: اللَّيْلُ وَالنَّهَارُ، لَحَرِيٌّ بِسُرْعَةِ الأَوْبَةِ، وَإِنَّ قَادِماً يَقْدُمُ بِالْفَوْزِ أَوالشِّقْوَةِ لَمُسْتَحِقٌّ لأَفْضَلِ الْعُدَّةِ، فَتَزَوَّدُوا فِي الدُّنْيَا مِنَ الدُّنْيَا مَا تَحْرُزُونَ بِهِ نُفُوسَكُمْ غَداً. فَاتَّقَى عَبْدٌ رَبَّهُ، نَصَحَ نَفْسَهُ، قَدَّمَ تَوْبَتَهُ، غَلَبَ شَهْوَتَهُ، فَإِنَّ أَجَلَهُ مَسْتُورٌ عَنْهُ، وَأَمَلَهُ خَادِعٌ لَهُ، وَالشَّيْطَانُ مُوَكَّلٌ بِهِ، يُزَيِّنُ لَهُ الْمَعْصِيَةَ لِيَرْكَبَهَا، وَيُمَنِّيهِ التَّوْبَةَ لِيُسَوِّفَهَا، حَتَّى

## ﴿دوه شپېتمه خطبه﴾

(د هجرت په څلوېښتم کال کله چې خلقو امام ته وویل چې د ځان خیال ساته ځکه چې خطره موجوده ده او کېدي شي څوک دې ناڅاپه (په دهشتګردۍ سره) شهید کړي امام په ځواب کښې وفرمایل)

او خداے زما لپاره ساتونکے ډال جوړ کړے دے چې زما ساتنه کوي، کله مې چې د مرګ نېټه راورسېږي دا ډال به راځینې جدا شي او ما به مرګ ته وسپاري او هغه ورځ به نۀ غشے خطا ځي او نۀ به زخم رغېږي.[٥٢]

## ﴿دري شپېتمه خطبه﴾

### له دنیا سره چلن

خبر اوسئ! دنیا داسې کور دے چې هیڅوک پکې سلامت نۀ پاتې کېږي مګر هغه کسان چې له همدې ځخه د آخرت لپاره توښه غونډه کړي او د دنیا له کارونو خلاصون نیشته. خلق په همدې دنیا ازمویل کېږي نو هر څه یې چې له دنیا نه د دنیا لپاره اخېستي دي هر څه باید پرېږدي او حساب کتاب به یې کېږي، او څه چې یې له دنیا نه د آخرت لپاره چمتوکړي دي هغو ته به ورسېږي او له هغو سره به پاتې شي دنیا د هوښیارانو په نزد د هغه سیورې په شان ده چې لا اوږد شوے نۀ وي چې لنډ شي او لا لوے شوے نۀ وي چې وړوکے شي.

## ﴿څلورشپېتمه خطبه﴾

### نیک عملونه

اے د خداے بندګانو! تقوا ته مخه کړئ او په نېکو عملونو سره د اجل هرکلي ته لاړ شئ د دنیا په فاني څیزونو تل پاتې څیزونه وپېرئ، کډې مو بار کړئ ځکه چې د کوچ لپاره راغلي یئ، مرګ ته تیار اوسئ چې سیورے یې همېشه ستاسو په سر دے. د هغو خلقو په څېر شئ چې ورغږ کړے شو نو ویښ شول او پوه شول چې دنیا تل پاتې کور نۀ دے او هغه یې په آخرت بدله کړه. پاک خداے تاسو چټي نۀ یئ پنځولي او په خپل حال یې نۀ یئ پرېښي. د دوزخ او ستاسو واټن (فاصله) یواځې یو مرګ دے.او یو لنډ عمر چې هره شیبه یې کموي او مرګ یې تباه کوي نو خومره ښه ده چې کم وګڼل شي او پرې ونۀ غولېدل شي. دا ژوند چې شپې او ورځې یې په مخ بیائي ورسره ښائي چې ډېر زر خپل اصلي وطن ته ورسېږي. او دا مسافر چې آخر یې هم ستنبدل دي که کامیاب وي که ناکام، ښائي چې ډېره ښه توښه له ځانه سره واخلي. نو له دې دنیا توښه واخلئ چې سبا مو په آخرت کښې په کار راشي. د خداے بنده باید له خپل پالونکي اوېرېږي ځان ته نصیحت وکړي او توبه له ځانه مخکې ولېږي.او په شهوتونو لاسبرے شي ځکه چې د مرګ وخت نۀ دے ورمعلوم، ارمانونه یې غولوي او شیطان ورته په لاره ناست دے ګناهانې ورته ښکلې وربرېښوي چې ورباندې ککړ یې کړي د توبې

تَهْجُم مَنِيَّتُهُ عَلَيْه أَغْفَل مَا يَكُونُ عَنْهَا.فَيَالَهَا حَسْرَةً عَلَى كُلِّ ذي غَفْلَة أَنْ يَكُونَ عُمُرُهُ عَلَيْه حُجَّةً، وَأَنْ تُؤَدِّيَهُ أَيَّامُهُ إِلَى الشِّقْوَة! نَسْأَلُ اللهَ سُبْحَانَهُ أَنْ يَجْعَلَنَا وَإِيَّاكُمْ مِمَّنْ نَسْأَلُ اللهَ سُبْحَانَهُ أَنْ يَجْعَلَنَا وَإِيَّاكُمْ مِمَّنْ لاَ تُبْطِرُهُ نِعْمَةٌ، وَلاَ تُقَصِّرُ بِه عَنْ طَاعَةِ رَبِّه غَايَةٌ، وَلاَ تَحُلُّ بِه بَعْدَ الْمَوْتِ نَدَامَةٌ وَلاَ كَآبَةٌ.

[ ٦٥ ]

وَمِنْ خُطْبَة لَهُ عَلَيْه السَّلاَمُ [وَفِيهَا مَبَاحِثُ لَطِيفَةٌ مِنَ الْعِلْمِ الإِلَهِيِّ]

مَعْرِفَةُ الله

[الْحَمْدُ للهِ] الَّذي لَمْ تَسْبِقْ لَهُ حَالٌ حَالاً، فَيَكُونَ أَوَّلاً قَبْلَ أَنْ يَكُونَ آخِراً، وَيَكُونَ ظَاهِراً قَبْلَ أَنْ يَكُونَ بَاطِناً.كُلُّ مُسَمّىً بِالْوَحْدَةِ غَيْرَهُ قَلِيلٌ، وَكُلُّ عَزِيز غَيْرَهُ ذَلِيلٌ، وَكُلُّ قَوِيٍّ غَيْرَهُ ضَعِيفٌ، وَكُلُّ مَالِك غَيْرَهُ مَمْلُوكٌ، وَكُلُّ عَالِم غَيْرَهُ مُتَعَلِّمٌ، وَكُلُّ قَادِر غَيْرَهُ يَقْدِرُ وَيَعْجَزُ، وَكُلُّ سَمِيع غَيْرَهُ يَصَمُّ عَنْ لَطِيفِ الاَصْوَاتِ، وَيُصِمُّهُ كَبِيرُهَا، وَيَذْهَبُ عَنْهُ مَا بَعُدَ مِنْهَا، وَكُلُّ بَصِير غَيْرَهُ يَعْمَى عَنْ خَفِيِّ الاَلْوَانِ وَلَطِيفِ الاَجْسَامِ، وَكُلُّ ظَاهِر غَيْرَهُ غَيْرُ بَاطِن، وَكُلُّ بَاطِن غَيْرَهُ غَيْرُ ظَاهِر. لَمْ يَخْلُقْ مَا خَلَقَهُ لِتَشْدِيدِ سُلْطَان، وَلاَ تَخَوُّف مِنْ عَوَاقِبِ زَمَان، وَلاَ اسْتِعَانَة عَلَى نِدٍّ مُثَاوِر، وَلاَ شَرِيك مُكَاثِر، وَلاَ ضِدٍّ مُنَافِر؛ وَلكِنْ خَلاَئِقُ مَرْبُوبُونَ، وَعِبَادٌ دَاخِرُونَ، لَمْ يَحْلُلْ فِي الاَشْيَاءِ فَيُقَالَ: هُوَ فِيهَا كَائِنٌ، وَلَمْ يَنْأَ عَنْهَا فَيُقَالَ: هُوَ مِنْهَا بَائِنٌ. لَمْ يَؤُدْهُ خَلْقُ مَا ابْتَدَأَ، وَلاَ تَدْبِيرُ مَا ذَرَأَ، وَلاَ وَقَفَ بِه عَجْزٌ عَمَّا خَلَقَ، وَلاَ وَلَجَتْ عَلَيْه شُبْهَةٌ فِيمَا قَضَى وَقَدَّرَ، بَلْ قَضَاءٌ مُتْقَنٌ، وَعِلْمٌ مُحْكَمٌ، وَأَمْرٌ مُبْرَمٌ. الْمَأْمُولُ مَعَ النِّقَمِ، الْمَرْهُوبُ مَعَ النِّعَمِ!

[ ٦٦ ]

في تَعْلِيمِ الْحَرْبِ وَالْمُقَاتَلَة فِي بَعْضِ أَيَّامِ صِفِّينَ

تَعَالِيمُ عَسْكَرِيَّةٌ هَامَّةٌ

طمعه ورکوي او هغه ورځینې ځنډوي چې د مرګ تر شیبې ترې غافله پاتې شي. نو افسوس دې وي په هغه غافله انسان چې عمر یې وربانديې ګواهي ورکړي او زمانه یې بدبخته کړي. له خدایه غواړوو چې مونږ او تاسو له هغو کسانو وګرځوي چې نعمتونه یې فاسد نهٔ کړي او هیڅه یې د خپل پالونکي له اطاعته ونهٔ غړوي. او د مرګ له رسېدلو وروسته پښېمانه نهٔ شي.

## ﴿ پنځهٔ شپېتمه خطبه ﴾

(دهجرت په اتهٔ دېرشم کال یې د کوفې په جومات کښې وفرمایل)

### خدا ے پېژندنه

ثنا او صفت له هغه خدا ے پاک سره ښائي چې هیڅ صفت یې له بل صفته مخکې نهٔ دے چې وویل شي، مخکې تر دې چې آخر وي اول دے او مخکې له دې چې باطن وي ظاهر دے. بې له هغهٔ چې هر څه یو والے او وحدانیت ولري کم (ناسم) دے (ځکه چې وحدانیت یوازے له خدا ے سره ښائي) بې له هغهٔ هر عزتمن ذلیل او هر پیاوړے کمزورے دے. بې له هغهٔ هر څښتن مرئے او هر عالم زده کؤنکے دے. له هغهٔ نه بغېر هر سیال کله توانمند او کله کمزورے دے. او بې له هغهٔ هر اورېدونکے د لطیفو غږونو له اورېدلو کوڼ او د لوړو غږونو له اورېدلو ناتوان دے او لرې غږونه نه شي اورېدلي، بې له خدایه هر لېدونکے د نامعلومو رنګونو او د ډېرو وړو مخلوقاتو له لیدلو ناتوانه دے.[57] د هغهٔ نه سوا چې څه ظاهر دي هغه د باطن غیر دي او کوم چې باطن دي هغه د ظاهر غیر (نقیض) دي. [58] هغهٔ مخلوقات د خپلې واکمنۍ د مضبوطولو ،طاقت ښودلو یا د زمانې له پېښو د وېرې یا په شریکانو او سیالانو د لوئۍ ښودلو یا له مخالفانو سره د مقابلې په خاطر نهٔ دي پېدا کړي بلکه ټول د هغهٔ مخلوقات دي چې د هغهٔ د پالنې په سیوري کښې د هغهٔ بندګان او او فرمانبرداران دي. خدا ے تعالی په یو څیز کښې حلول نهٔ دے کړے، چې ووایو هغه پکې دے، او له مخلوقاتو لرې هم نهٔ دے چې ووایو هغه ترې جدا دے. د مخلوقاتو وړومبي پنځون او خلقت هغه ستړے کړے نهٔ دے او نهٔ وړومبي خلقت هغه کمزورے کړے دے چې ووایو قدرت او توان یې ختم شوے یا کم شوے دے او څه چې هغه مقرر کړل او برخلیک یې وټاکهٔ په هغو کښې ورته څه شبهه نیشته.بلکه د هغه تقدیر ټینګ، علم یې محکم، او کار یې مضبوط دے. هغه خدا ے پاک چې مونږ ټول د سختیو په وخت هغهٔ ته هیله لرو او د هغهٔ په نعمتونو او مهربانیو کښې د هغهٔ له عذابه هم نهٔ غافله کېږوو .

## ﴿ شپږشپېتمه خطبه ﴾

(د صفین په ځینو ورځو کښې یې خپلو اصحابو ته وفرمایل)

### فوځي ټاکتیکونه

مَعَاشرَ الْمُسْلمين: اسْتَشْعرُوا الْخَشْيَةَ، وَتَجَلْبَبُوا السَّكينة، وَعَضُّوا عَلَى النَّوَاجذ، فَإنَّهُ أَنْبَى للْسُّيُوف عَن الْهَام، وَأَكْملُوا اللأْمَةَ، وَقَلْقلُوا السُّيُوفَ في أَغْمَادهَا قَبْلَ سَلِّهَا، وَالْحظُوا الْخَزْرَ، وَاطْعَنُوا الشَّزْرَ، وَنَافحُوا بالظُّبَا، وَصلُوا السُّيُوفَ بَالْخطَا، وَاعْلَمُوا أَنَّكُمْ بعَيْن الله، وَمعَ ابْن عَمِّ رَسُول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْه وَآله، فَعَاوِدُوا الْكَرَّ، وَاسْتَحْيُوا من الْفَرِّ، فَإنَّهُ عَارٌ في الأعْقَاب، وَنَارٌ يَوْمَ الْحسَاب، وَطيبُوا عَنْ أَنْفُسكُمْ نَفْساً، وَامْشُوا إلَى الْمَوْت مَشْياً سُجُحاً، وَعَلَيْكُمْ بهذَا السَّوَاد الأعْظَم، وَالرِّوَاق الْمُطَنَّب، فَاضْربُوا ثَبَجَهُ، فَإنَّ الشَّيْطَانَ كَامنٌ في كسْره، قَدْ قَدَّمَ للْوَثْبَة يَداً، وَأَخَّرَ للنُّكُوص رجْلاً؛ فَصَمْداً صَمْداً! حَتَّى يَنْجَلي لَكُمْ عَمُودُ الْحَقِّ ﴿وَأَنْتُمُ الأعْلَوْنَ وَاللهُ مَعَكُمْ وَلَنْ يَتِرَكُمْ أَعْمَالَكُمْ﴾.

اے مسلمانانو! له خدایه وېره مو د زړۀ او قرار او وقار مو د بدن جامه وګرځوئ، غاښونه کلک چیچئ چې د دښمن د تورو په وړاندې مو زور زیات شي. زغره مو پوره واغوندئ او تورې مو له تیکي راوباسئ او بېا یې وپړکوئ، دښمن ته په غصه په ترخ ګورئ او ګزار له ښي او کیڼ اړخه کوئ او تیزه تېره توره وهئ که تورې مولنډې وي ګامونه غړمله کړئ او دښمن ته وروړاندې چې وررسېږي او پوه شئ چې خدا ے پاک مو مرستندو ے د ے او د پیغمبر ﷺ د ترۀ د زو ے په څنګ کښې جنګېږئ، پرله پسې ورخیژئ او له تېښتې شرم کوئ ځکه چې له جنګه تېښته مو راتلونکي نسلونه شرموي او په قیامت کښې به مو په اور سوځوي. په شهادت خوشحاله کېږئ او په ورین تندي یې هر کلے کوئ. او په هغې لوې ګڼې، پر تکلفه او ځونډو والا خیمې (د معاویه په خیمې) سخت برید وکړئ او په کښې دننه ورننوځئ ځکه چې شېطان په هغې کښې ځاله کړې ده چې له یوه پلوه برید کوي او له بل پلوه تېښته، نو هوډ مو کلک کړئ او په اصلي ټکي ورټینګ شئ چې د حق ستن دربنکاره شي (بیرغ ورپیېږي) «تاسو سرلوړ یئ، خدا ے پاک له تاسو سره د ے او ستاسو د عمل بدله نۀ کموي»

## [ ٦٧ ]

## فِي مَعْنَى الأنْصَار

قَالُوا: لَمَّا انْتَهَتْ إلَى أَميرِ الْمُؤْمنينَ عَلَيْه السَّلامُ أَنْبَاءُ السَّقيفَة بَعْدَ وَفَاة رَسُول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْه وَآله، قَالَ عَلَيْه السَّلامُ: مَا قَالَت الأنْصَارُ؟ قَالُوا: قَالَتْ: منَّا أَميرٌ وَمنْكُمْ أَميرٌ. قَالَ عَلَيْه السَّلامُ: فَهَلاَّ احْتَجَجْتُمْ عَلَيْهمْ بأَنَّ رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْه وَآله وَصَّى بأَنْ يُحْسَنَ إلَى مُحْسنهمْ، وَيُتَجَاوَزَ عَنْ مُسيئهمْ؟ قَالُوا: وَمَا في هَذَا منَ الْحُجَّة عَلَيْهمْ؟ فَقَالَ: لَوْ كَانَت الإمَارَةُ فيهمْ لَمْ تَكُن الْوَصيَّةُ بهمْ. ثُمَّ قَالَ: فَمَاذَا قَالَتْ قُرَيْشٌ؟ قَالُوا: إحْتَجَّتْ بأَنَّهَا شَجَرَةُ الرَّسُول صَلَّى اللهُ عَلَيْه وَآله. فَقَالَ عَلَيْه السَّلامُ: إحْتَجُّوا بالشَّجَرَة، وَأَضَاعُوا الثَّمَرَةَ.

## ﴿ اوۀ شپېتمه خطبه ﴾

(د هجرت په اتویشتم کال یې امام ته د سقیفه[59] د قیصې خبر راوړۀ امام پوښتنه وکړه چې انصارو څه وویل: ځواب یې ورکړ چې انصارو وویل: یو امیر دې ستاسو د قرېشو وي او بل دې له مونږ انصارو وي، امام وفرمایل)

### په سقیفه کښې د خلافت لپاره د قرېشو او انصارو د استدلال ردول

تاسو له هغوي سره د رسول الله مبارک ﷺ په دې خبره ولې استدلال ونۀ کړ چې د انصارو په حقله یې سپارښتنه وکړه: د هغوي له نېکو کسانو سره ښۀ سلوک کوئ او له بدانو یې تېر شئ (وې بخښئ) «له امامه پوښتنه وشوه چې په دې خبره کښې څه دلیل د ے چې انصار خلیفه نۀ شي جوړېدلے؟ امام وفرمایل:» که حکومت (خلافت) په هغوي کښې راتلونکے ؤ نو رسول الله مبارک ﷺ به د هغوي په حقله داسې وصیت ولې کوۀ. « بیا یې وپوښتل: قرېشو په سقیفه کښې څه وویل؟ ځواب یې ورکړ قرېشو وویل چې مونږ د رسالت له ونې یوو، امام وفرمایل: د رسالت په ونه باندې استدلال کوي خو میوه یې ضائع کوي![60]

«د دې خطبې ترڅنګه حمزه بابا د سپیڅلی ویناوې په ۱۸۹م، ۱۹۰م او ۱۹۱م مخونو لیکي:»

### زۀ وایم

د مسلمانانو د افتراق او پرېشانۍ وجه هم دغه وه چې هغوي د رسول الله ﷺ له وفات سره سم پخپلو کښې اختلاف شروع کړو او بیا چې څومره زمانه تېرېده دا اختلاف له حجاز نه ورو په ورو بهر ووتو او د دنیا په مسلمانانو کښې خپرېدو ان تردې چې نن حالت دا د ے چې مسلمانان خو له شپېتو کروړو نه سوا دي (دا شمېر حمزه باباتقریباً پنځوس (اوس تقریبا شپېتو نه زیات) کاله مخکښې ښودلے د ے اوس خو ډېر زیات د ے.) خو اسلام هیچرته نشته. زمونږ ځینې مسلمان لیکوال په دې ویاړ کوي چې د حضرت عمر په زمانه کښې اسلام تر ډېره لرې پورې خپور شو ے ؤ او د

بني اميه په زمانه کښې سپين او چين ته رسېدلې ؤ، خو زۀ به عرض وکړم چې دا محض خوش فهمي ده، هو دا ويل صحيح دي چې مسلمانان تر ډېره لرې رسېدلي وو. زۀ د ترديد له ويرې نه بغېر په جهر سره دا وايم چې د رسول اللهﷺ نه پس چې کوم حالات څرګند شول له هغو نه دا چې لا خو مسلمانان د اسلام په روح نۀ وو پوهه شوي او که پوهه وو نو تزکيه يې لا ناقصه وه او تربيت ته يې لا ضرورت ؤ، خو افسوس دے چې زمونږ ليکوال که شيعه دي که سني يا که له بلې فرقې سره تعلق لري تر اوسه د اسلام په مفهوم کښې مختلف دي، د دې بنياد هم هغه د مسلمانانو ابتدائي اختلاف دے چې د رسول اللهﷺ له وفات نه پس پېدا شو. په حقيقي واقعاتو لا خو پرده اچوي او لا ترې له سره انکار کوي. په اصحابو باندې تنقيد کول کفر ګڼي، د رسولﷺ اصحاب عدول ګڼي خو چې يو لوے صحابي يوه دعوا وکړي نو هغه نۀ مني. مثلاً دلته حضرت علي‌ؑ دا دعوی کوي چې د خلافت حقدار هغه ؤ، دې نه چې پسته دوه خلافتونه نور جوړ شول نو په هغو کښې يې هم دا دعوی په جهر کړې وه، نو معلومه شوه چې هغو نورو د دۀ دعوی صحيح نۀ منله، نو که نۀ وي نو حضرت علي‌ؑ په عدول صحابه کښې خو هيڅرې نۀ شي راتلې بلکه تردې حده وئيلې کېدې شي چې هغه پرله پسې شل پنځويشت کاله په ناحقه او د دروغو په وعده ټينګ ولاړ ؤ، خو په شريعت کښې چې د دروغجن کومه سزا ده هغه ورله په يو خلافت کښې هم ورنکړې شوه. يا خو دې ليکوال ورونه د اصحابو د احترام دا بت مات کړي چې ټولې خبرې صفا صفا مېدان ته راووزي او د تنقيد په رڼا کښې د هر صحابي حېثيت ښکاره کړي.

که صحابه د اسلام په روح پوه وې نو هيڅرې به په کښې داسې اختلاف نۀ راتلو. معلومه شوه چې ټول صحابه د اسلام له روح نه واقف نۀ وو ليکن کومو چې د اسلام کوم روح ګڼلو په هغه کښې هم اختلاف ؤ. د حضرت علي‌ؑ دا عقيده وه چې په اسلام کښې امام يا خليفه منصوص وي (يعنې د خداے او رسول لخوا ټاکل کيږي) عوام يې نۀ شي مقرر کولې او د هغو نورو دا عقيده وه چې دا د عوام کار دے چې څوک خليفه کړي. چونکه دا دويمه عقيده د عوامو پوهې ته نزدې وه نو ځکه هم دغه کامياب شوه، خو په مسلمانانو کښې يې تر اخېره د اختلاف تخم وکرلو ځکه چې اوس زۀ هم دا حق لرم چې ووايم چې کوم سړے عوام منتخب کړي هغه د خداے يا د رسولﷺ له خوا خليفه نۀ شي ګڼل کېدې، خو له دې سره هم هغه ورونه چې د دې قسم خلافت قائل دي خلفاؤ ته د رسول اللهﷺ جانشينان او نائبان وائي او دا خبره په هيڅ ډول صحيح نۀ شي کېدې چې رسول اللهﷺ د چا لپاره وصيت ونکړي هغه به څرنګه د هغۀ نائب شي؟ په دې سلسله کښې دا حديث پېش کېږي چې الائمه من القريش خو دا ځکه موضوعي دے چې حضرت ابوبکرؓ او حضرت عمرؓ هغه وخت انصارو ته وړاندې کړے ؤ کوم وخت چې هغوي په حضرت سعد بن عبادهؓ د خلافت اتفاق کړے ؤ، د دې بل راوي هم نشته له دې ورځې نه اګاهو هيچا نۀ دے بيا ن کړے بيا د خليفه د تقرر دا طريقه خو هډو په عقل کښې نۀ شي راتلې چې د وفات په وخت ټول قام جانشين کړي، وصيت خو د يو سړي په حق کښې کيږي. او چې دا ټول بحثونه ختم شي نو په اخبر کښې ووائي رسول اللهﷺ هيڅ وصيت نۀ ؤ کړے. چې نۀ يې ؤ کړے خلفاء ټول د عوامو منتخب شوي حاکمان دي په هغوي د هر قسمه تنقيد جائز دے او دا تنقيد څه کفر او ګناه نۀ ده.

[ ۶۸ ]

لَمَّا قَلَّدَ مُحَمَّدَ بْنَ أَبِي بَكْرٍ مِصْرَ فَمُلِكَتْ عَلَيْهِ وَقُتِلَ:

خَصَائِصُ هَاشِمِ بْنِ عُتْبَةَ

**وَقدْ أَرَدْتُ تَوْلِيَةَ مِصْرَ هَاشِمَ بْنَ عُتْبَةَ، وَلَوْ وَلَّيْتُهُ إِيَّاهَا لَمَا خَلَّى لَهُمُ الْعَرْصَةَ، وَلاَ أَنْهَزَهُمُ الْفُرْصَةَ، بِلاَ ذَمٍّ لِمُحَمَّدِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ، فَلَقَدْ كَانَ إِلَيَّ حَبِيباً، وَكَانَ لِي رَبِيباً.**

## ﴿ اتۀ شپېتمه خطبه ﴾

(په مصر کښې د هجرت په اتۀ دېرشم کال د محمد بن ابي بکرؓ له شهادته وروسته يې وفرمايل)

### د ګورنرۍ لپاره د هاشم بن عتبه ستائل

او ما غوښتل چې هاشم بن عتبه د مصر والي کړم، که هغه مې ټاکلے وې ميدان به يې دښمنانو ته نۀ وې خالي کړي او عمرو عاص او لښکر ته به يې فرصت نه ؤ ورکړے. البته نه غواړم چې دلته محمد بن ابي بکر ملامته کړم ځکه چې هغه په ما ګران ؤ او زما په لمنه کښې روزل شوے ؤ.

[ ۶۹ ]

مِنْ كَلاَمٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ فِي ذَمِّ أَصْحَابِهِ

لَوْمُ أَهْلِ الْكُوفَةِ

**كَمْ أُدَارِيكُمْ كَمَا تُدَارَى الْبِكَارُ الْعَمِدَةُ وَالثِّيَابُ الْمُتَدَاعِيَةُ! كُلَّمَا**

## ﴿ نهۀ شپېتمه خطبه ﴾

(د هجرت په نهۀ دېرشم کال په عين التمر کښې د معاويه د کوماندانانو د چور تالان د خبرونو له اورېدلو وروسته يې وفرمايل)

### د کوفيانو غندنه

له تاسو کوفيانو سره به تر کومه نرمي کوم! لکه څوک چې له کوب ژوبل شوي اوښ سره نرمي کوي يا له هغه وروستي ګنډلې جامې سره احتياط

حيصَتْ مِنْ جَانب تَهَتَّكَتْ مِنْ آخَرَ، كُلَّما أَطَلَّ عَلَـيْكُمْ مَنْسـرٌ مِنْ مَنَاسر أَهْلِ الشَّامِ أَغْلَـقَ كُـلُّ رَجُـل مِـنْكُمْ بَابَـهُ وَانْجَحَـرَ انْجِحَارَ الضَّبَّةِ فِي جُحْرِهَا، وَالضَّبُعِ فِـي وِجَارِهَـا. الـذَّلِيلُ وَاللهِ مَنْ نَصَرْتُمُوهُ! وَمَنْ رُمِيَ بِكُمْ فَقَدْ رُمِيَ بِأَفْوَقَ نَاصِـل. إِنَّكُـمْ ـ وَاللهِ ـ لَكَثِيرٌ فِي الْبَاحَاتِ، قَلِيلٌ تَحْتَ الرَّايَاتِ، وَإِنِّي لَعَالِمٌ بِمَـا يُصْلِحُكُمْ، وَيُقِيمُ أَوَدَكُمْ، وَلكِنِّي واللهِ لاَ أَرَى إِصْلاَحَكُمْ بِإِفْسَادِ نَفْسِي. أَضْرَعَ اللهُ خُدُودَكُمْ، وَأَتْعَسَ جُدُودَكُمْ! لاَ تَعْرِفُونَ الْحَقَّ كَمَعْرِفَتِكُمُ الْبَاطِلَ،وَلاَ تُبْطِلُونَ الْبَاطِلَ كَإِبطَالِكُمُ الْحَقَّ!

کوي چې له يوې خوا يې ګنډې بل لوري ته شليږي. کله هم چې د شاميانو ډله په تاسو بريد وکړي نو تاسو په کورونو ورمات شئ او ورونه په ځان پسې پورې کړئ، او د چرمښکې په شان په سوړه کښې خوځيږئ. او يا د کوړ په شان خپله څمڅه کښې ننوځئ. په خدا ے قسم هغه سړے خوار دے چې په جنګ کښې ستاسو په شان ملګري ولري ځوک چې ستاسو په مټ غشي اولي داسې دي لکه بې سوکې او پڅ غشي اولي. په خدا ے قسم تاسو په کورونو کښې پرېمانه او د جنګ په ډګر کښې ګوته په شمېر يئ. او زۀ پوهېږم چې څرنګه تاسو سم او کوږ والے مو نيغ کړم. خو د خپل روح په فاسدولو سره ستاسو اصلاح نۀ غواړم. خدا ے مو په تنديو د ذلت داغونه ووهه،تاسو چې څومره باطل پېژنئ حق دومره نۀ پېژنئ. او څنګه چې د حق د تباهۍ کوشش کوئ د باطل د ختمولو هڅه نه کوئ.

[ ۷۰ ]

فِي سُحْرَةِ الْيَوْمِ الَّذِي ضُرِبَ فِيهِ

الشَّكَايَةُ إِلَى رَسُولِ الله

مَلَكَتْنِي عَيْنِي وَأَنَا جَـالِسٌ، فَسَـنَحَ لِـي رَسُـولُ اللهِ صَـلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِه: يَـا رَسُـولَ اللهِ، مَـاذَا لَقِيـتُ مِـنْ أُمَّتِـكَ مِـنَ الاوَدِ وَاللَّدَدِ؟ فَقَالَ: ادْعُ عَلَيْهِمْ، فَقُلْتُ: أَبْـدَلَنِي اللهُ بِهِـمْ خَيْـراً لِـي مِنْهُمْ وَأَبْدَلَهُمْ بِي شَرّاً لَهُمْ مِنِّي.

## ﴿اويايمه خطبه﴾

(د هجرت په څلوېښتم کال يې د روژې په نولسمه د ابن ملجم له ضربته مخکې دا خبرې وکړې)

### رسول الله مبارکﷺ ته شکايت

زه ناست وم چې خوب يوړم، رسول الله مبارکﷺ مې په خوب وليدۀ، ورته عرض مې وکړ چې اے د خدا ے رسوله! ستا له امته مې څومره دښمنۍ او کړليچونه وليدل! رسول الله مبارکﷺ وفرمايل: هغوي ته ښېرې وکړه، ومې ويل: خدا ے دې ماته تر دوي ښه کسان راکړي او دوي ته دې تر ما بد واکمنان ورکاندي.

(د «اود» معني ده کوږ والے او انحراف، او د «لدد» معنا ده دښمني او تربګني، امام دلته ډېر فصيح کلمات استعمال کړي دي)

[ ۷۱ ]

وَفِيهَا يُوَبِّخُ أَهْلَ الْعِرَاقِ عَلَى تَرْكِ الْقِتَالِ وَالنَّصْرُ يَكَادُ يَتِمُّ ثُمَّ تَكْذِيبُهُمْ لَهُ:

لَوْمُ أَهْلِ الْعِرَاقِ

أَمَّـا بَعْـدُ يَـا أَهْـلَ الْعِـرَاقِ، فَإِنَّمَـا أَنْـتُمْ كَـالْمَرْأَةِ الْحَامِـلِ، حَمَلَتْ فَلَمَّا أَتَمَّتْ أَمْلَصَـتْ، وَمَـاتَ قَيِّمُهَـا، وَطَـالَ تَأَيُّمُهَـا، وَوَرِثَهَا أَبْعَدُهَا. أَمَـا وَاللهِ مَـا أَتَيْـتُكُمُ اخْتِيَـاراً، وَلكِـنْ جِئْـتُ إِلَيْكُمْ سَوْقاً، وَ لَقَـدْ بَلَغَنِـي أَنَّكُـمْ تَقُولُـونَ: [عَلِـيٌّ] يَكْـذِبُ، قَـاتَلَكُمُ اللهُ! فَعَلَـى مَـنْ أَكْـذِبُ؟ أَعَلَـى اللهِ؟ فَأَنَـا أَوَّلُ مَـنْ

## ﴿يواويايمه خطبه﴾

(د هجرت په اته دېرشم کال يې کله چې کوفيانو له عمرو عاص او معاويه دهوکه وخوړه نو امام خبرداري ورکړ)

### د عراقيانو د غندنې سبب

د پالونکي له ستائينې وروسته، اے عراقيانو! تاسو د هغې بلاربې ښځې په شان يئ[۲۱] چې د حمل په وروستيو ورځو کښې مړ بچے وزيږوي او مېړۀ يې هم مړ شي،کندتون يې اوږد شي او ميراث يې هم لرې خپلوان وشوکوي. خبر اوسئ! زۀ په خپل اختيار ستاسو لوري ته نۀ يم درغلے بلکه ستاسو لوري ته کشول شوے يم (له ناچارۍ راغلے يم) ماته معلومه شوې ده چې تاسو وائئ علي دروغ وائي! خدا ے دې تاسو مړۀ کړي ما په چا پورې دروغ تړلي دي؟ آيا په خدا ے پورې مې دورغ تړلي دي ؟ حال

**آمَـنَ بِـهِ! أَمْ عَلَى نَبِيِّهِ؟ فَأَنَا أَوَّلُ مَنْ صَدَّقَهُ! كَلاَّ وَاللهِ، ولكِنَّهَا لَهْجَةٌ غِبْتُمْ عَنْهَا، وَلَمْ تَكُونُوا مِنْ أَهْلِهَا، وَيْلُ امِّهِ، كَيْلاً بِغَيْرِ ثَمَنٍ! لَوْ كَانَ لَهُ وِعَاءٌ، ﴿وَلَتَعْلَمُنَّ نَبَأَهُ بَعْدَ حِينٍ﴾.**

دا چې زهٔ ورومبے کس وم چې په خدا ے مې ایمان راوړهٔ.[۲۲] آیا په پېغمبر اکرمﷺ مې دروغ ویلي دي ؟ حال دا چې زهٔ ورومبے کس وم چې د هغهٔ تصدیق مې وکړ! نه، په خدا ے قسم داسې نهٔ ده؛ بلکه ما چې څه ویل هغه حقیقت دے چې تاسو یې له پوهېدلو لرې یئ او په هغو د پوهېدو وړتیا نهٔ لرئ، مېندې درباندې بورې شه، «مېندې درباندې وژاړه» د عمل پېمانه مې وړیا درکړه که تاسو یې وړتیا (ظرفیت) ولرئ. او ډېر زر به زما په راستۍ پوه شئ.

[ ۷۲ ]

عَلَّمَ فيهَا النَّاسَ الصَّلاَةَ عَلَى رَسُول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْه وَآله وَفيهَا بَيَانُ صِفَات الله سُبْحَانَهُ وَصِفَةُ النَّبيّ وَالدُّعَاءُ لَهُ

صفَةُ النَّبيّ

**اللَّهُمَّ دَاحيَ الْمَدْحُوَّات، وَدَاعمَ الْمَسْمُوكَات، وَجَابلَ الْقُلُوبعَلَى فطْرَتهَا: شَقيِّهَا وَسَعيدهَا. اجْعَلْ شَرَائفَ صَلَوَاتكَ، وَنَوَاميَ بَرَكَاتكَ، عَلَى مُحَمَّد عَبْدكَ وَرَسُولكَ، الْخَاتم لمَا سَبَقَ، وَالْفَاتح لمَا انْغَلَقَ، وَالْمُعْلن الْحَقَّ بالْحَقِّ، وَالدَّافع جَيْشَات الأَبَاطيل، وَالدَّامغ صَوْلاَت الاَضَاليل، كَمَا حُمِّلَ فَاضْطَلَعَ، قَائماً بأَمْركَ، مُسْتَوْفزاً في مَرْضَاتكَ، غَيْرَ نَاكل عَنْ قُدُم، وَلاَ وَاه في عَزْم، وَاعياً لوَحْيكَ، حَافظاً لعَهْدكَ، مَاضياً عَلَى نَفَاذ أَمْركَ؛ حَتَّى أَوْرَى قَبَسَ الْقَابس، وَأَضَاءَ الطَّريقَ للْخَابط، وَهُديَتْ به الْقُلُوبُ بَعْدَ خَوْضَات الْفتَن، وَأَقَامَ مُوضحَات الأَعْلاَم، وَنَيِّرَات الاَحْكَام، فَهُوَ أَمينُكَ الْمَأْمُونُ، وَخَازنُ علْمكَ الْمَخْزُون، وَشَهيدُكَ يَوْمَ الدِّين، وَبَعيثُكَ بالْحَقِّ، وَرَسُولُكَ إلَى الْخَلْق.**

الدُّعَاءُ للرَّسُول

**اللَّهُمَّ افْسَحْ لَهُ مَفْسَحاً في ظلِّكَ، وَاجْزه مُضَاعَفَات الْخَيْر منْ فَضْلكَ. اللَّهُمَّ أَعْل عَلَى بنَاء الْبَانينَ بنَاءَهُ، وَأَكْرمْ لَدَيْكَ مَنْزلَتَهُ، وَأَتْممْ لَهُ نُورَهُ، وَاجْزه منَ ابْتعَاثكَ لَهُ مَقْبُولَ الشَّهَادَة، مَرْضيَّ الْمَقَالَة، ذَا مَنْطق عَدْل، وَخُطَّة فَصْل. اللَّهُمَّ اجْمَعْ بَيْنَنَا وَبَيْنَهُ في بَرْد الْعَيْش، وَقَرَار النِّعْمَة، وَمُنَى الشَّهَوَات، وَأَهْوَاء اللَّذَّات، وَرَخَاء الدَّعَة وَمُنْتَهَى الطُّمَأْنينَة، وَتُحَف الْكَرَامَة.**

## ﴿دوه اويايمه خطبه﴾

(په دي خطبه کښې يې خلقو ته په پېغمبراکرمﷺ د درود ويلو طريقه وښودله)

### د پېغمبراکرمﷺ ځانګړني (خصوصيتونه)

اے خدايه! اے د هر ويړ شوي ځيز ويړوُنکيه! اے د آسمانونو ساتونکيه! او اے د فطرت مطابق د بدمرغو زړونو او نېکمرغو زړونو پنځوُنکيه! په خپل بنده محمدﷺ دي تر ټولو عزتمن صلواتونه او تر ټولو زيات برکتونه ولېږه،چي د تېرو پيغمبرانو خاتم، د بندو ورونو پرانستونکے او په حق سره د حق ښکاره کوُنکے دے.هغه پيغمبر چي د باطل د لښکرو تمبوُنکے او د بي لارو د برم ماتوُنکے دے.هغهٔ د رسالت دروند پېټے پورته کړ، ستا په امر پاڅېد او ستا د خوښۍ په لاره کښې يې چټک ګامونه واخېستل. داسې کلک ګامونه چي نهٔ خو يو قدم وروسته شو او نه يې هوډ (اراده) کمزورے شو. هغه د وحي په منلو او اخېستلو کښې پياوړے ؤ، او ستا د عهد او ژمنې ساتندوے. هغهٔ ستا د امر د پلي کولو هڅه وکړه ان تر دې چي د حق رڼا څرګنده شوه او ناپوهانو ته يې لاره وځلوله، او په فتنې او ګناهونو کښې ډوب زړونه هدايت شول. هغهٔ د حق ښېرغونه ورپول او نوراني احکام يې په ځاے کړل. نو هغه ستا امين او باوري استازي، او ستا د پټو علمونو خزانه دار، د قيامت د ورځې شاهد، په حقه ګمارل شوے او د خلقو په لوري ستا استازے دے.

### د پيغمبراکرمﷺ لپاره دعا

اے زما پالونکيه! خپل پيغمبرﷺ ته د رحمت په سيوري کښې پراخ مقام ورکړې او له خپل فضل و کرمه يې بدله پر بمانه کړې. اے خدايه! د هغهٔ د دين ماڼۍ تر هرې ودانۍ لوړه او مقام يې په خپل نزد عزتمن وګرځوې. او رڼا يې بشپړه کړې. او د هغهٔ د رسالت اجر د هغهٔ د ګواهۍ او شفاعت او خبرې منل وګرځوې.ځکه چي د عادلانه منطق خاوند او له باطله د حق د لارې جدا کوُنکے ؤ. اے لويه خدايه! مونږ او هغهٔ سره يوځاے کړې په تل پاتې نعمتونو، خوږ ژوند، پوره شويو ارمانونو،ترسره شويو غوښتنو او په ډېر ډاډ او قرار او ارزښتناکو ډاليو او لورينو(نعمتونو) کښې!

[ ۷۳ ]

قَالَهُ لمَرْوَانَ بْن الْحَكَم بالْبَصْرَة:

قَالُوا: أُخذَ مَرْوَانُ بْنُ الْحَكَم أَسيراً يَوْمَ الْجَمَل، فَاسْتَشْفَعَ

## ﴿دري اويايمه خطبه﴾

(دا خطبه يې په بصرې کښې د مروان بن حکم په باره کښې ورکړې ده)

«کله چي د هجرت په شپږ دېرشم کال د عثمان زوم مروان بن حکم په جنګ جمل کښې اسير شو، امام حسن او امام حسينؑ خپل پلار امام عليؑ ته د هغهٔ عذر او شفاعت وکړ او امام هغه خوشے کړ، هغوي

الْحَسَنُ وَالْحُسَيْنُ عَلَيْهِمَا السَّلاَمُ إِلَى أَمِيرِ الْمُؤْمِنينَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ فَكَلَّمَاهُ فِيهِ، فَخَلَّى سَبِيلَهُ، فَقَالاَ لَهُ: يُبَايِعُكَ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ؟ فَقَالَ:

**أَفَلَمْ يُبَايِعْني بَعْدَ قَتْلِ عُثْمانَ؟ لاَ حَاجَةَ لِي فِي بَيْعَتِهِ! إِنَّهَا كَفٌّ يَهُودِيَّةٌ، لَوْ بَايَعَني بِيَدِهِ لَغَدَرَ بِسَبَّتِهِ. أَمَا إِنَّ لَهُ إِمْرَةً كَلَعْقَةِ الْكَلْبِ أَنْفَهُ، وَهُوَ أَبُو الاَكْبُشِ الاَرْبَعَةِ، وَسَتَلْقَى الاُمَّةُ مِنْهُ وَمِنْ وَلَدِهِ يَوْماً أَحْمَرَ!**

[ ٧٤ ]

لَمَّا عَزَمُوا عَلَى بَيْعَةِ عُثْمَانَ

خَصَائِصُ الإِمَامِ عَلِيٍّ عَلَيْهِ السَّلاَمُ

**لَقَدْ عَلِمْتُمْ أَنِّي أَحَقُّ بِهَا مِنْ غَيْرِي، وَوَاللهِ لاَُسْلِمَنَّ مَاسَلِمَتْ أُمُورُ الْمُسْلِمِينَ، وَلَمْ يَكُنْ فِيهَا جَوْرٌ إِلاَّ عَلَيَّ خَاصَّةً، التماساً لاَِجْرِ ذلِكَ وَفَضْلِهِ، وَزُهْداً فِيمَا تَنافَسْتُمُوهُ مِنْ زُخْرُفِهِ وَزِبْرِجِهِ.**

[ ٧٥ ]

لَمَّا بَلَغَهُ اتِّهَامُ بَنِي أُمَيَّةَ لَهُ بِالْمُشَارَكَةِ فِي دَمِ عُثْمَانَ

دِفَاعُ الإِمَامِ عَنْ نَفْسِهِ

**أَوَلَمْ يَنْهَ بَنِي أُمَيَّةَ عِلْمُهَا بِي عَنْ قَرْفِي؟**

**أَوَمَا وَزَعَ الْجُهَّالَ سَابِقَتِي عَنْ تُهَمَتِي؟! وَلَمَا وَعَظَهُمُ اللهُ بِهِ أَبْلَغُ مِنْ لِسَانِي.**

**أَنَا حَجِيجُ الْمَارِقِينَ، وَخَصِيمُ الْمُرْتَابِينَ، عَلَى كِتَابِ اللهِ تُعْرَضُ الأَمْثالُ، وَبِمَا فِي الصُّدُورِ تُجَازَى الْعِبَادُ!**

[ ٧٦ ]

وَمِنْ خُطْبَةٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ [فِي الْحَثِّ عَلَى الْعَمَلِ الصَّالِحِ]

وويل: اے پلاره! مروان له تاسره بيعت كول غواړي. امام وفرمايل:»

## د مروان د ځلورو بچيانو د فاسدو حكومتونو پېش ګوئي

ولې هغهٔ د عثمان له وژل كېدو وروسته زما بيعت و نهٔ كړ؟ زهٔ د هغهٔ بيعت ته هيڅ حاجت نهٔ لرم.د هغهٔ لاس د يهودي لاس دے[۲۳]، كه په خپل لاس بيعت وكړي په پټه بيعت ماتوي خبر اوسئ، دې به د لنډې مودې حكومت ولري دومره لنډه مهاله لكه سپے چې په ژبې سره خپله پوزه پاكوي. دي د ځلورو واكمنانو پلار دے (ځلورو ځنګلي ګډانو) او اسلامي امت به د هغهٔ او د هغهٔ د زامنو په وجه ډېر خونړي وختونه تېركړي او دوي به ډېرې وينې وبهيوي. [۲۴]

## ﴿ځلور اويايمه خطبه﴾

(د دوه دېرشم هجري قمري كال د ذي الحجې په مياشته كښې د حضرت عمر له وژل كېدو وروسته د شورا په ورځ چې كله خلق په ناحقه له حضرت عثمان سره د بيعت لپاره راغونډ شول نو امام علي عليه السلام وفرمايل)

## د امام علي عليه السلام ځانګړتياوې د هغهٔ له خپلې ژبې

تاسو ته پته ده چې زهٔ ترهر چا زيات د خلافت لپاره وړ يم، خو په خداے قسم! چې مو څه كړې دي غاړه ورته ږدم تر هغه پورې چې د مسلمانانو حالات سم وي او ګډ وډ نه شي او ظلم او زياتي يوائې په ما كېږي. او د دغه سرښيندنې ايثار او چپتيا اجر يوائې له خدايه غواړم او زهٔ له هغو زرو او زيورو او دنيا چې تاسو ورپسې روان يئ ډ ډه كوم.

## ﴿پينځهٔ اويايمه خطبه﴾

(د هجرت په شپږ دېرشم كال كله يې چې واورېدل چې بني اميه په هغهٔ ډېر تهمتونه لګوي او د عثمان په وينه كښې يې شريک ګڼي نو وې فرمايل)

## د تورونو په وړاندې د امام دفاع

آيا كومه پېژندنه چې بني اميه يې زما له خوي او خصلته لري هغوي په ما پسې له خبرو او عيب ويلو نهٔ منعې كوي؟ او آيا په اسلام كښې زما سبقت او زما مبارزاتي مخينه ناپوهان په خپل ځاے نهٔ كښېنوي چې راځي او په ما تورونه تړي؟(خو زهٔ به له دوي څه ګيله وكړم) دوي د خداے پاک خبره چې زما ترخبرې ډېره فصيحه ده نهٔ اوري (نو زما به څه واروي) زهٔ به مارقين (له دينه وتلې) په حجت او برهان سره وپرځوم، او زهٔ په اسلامكښې د شک لرونكوناكثينو(عهد شكنو) دښمن يم. شبهې بايد قرآن ته په مراجعې سره وپېژندلې شي او خداے تعالى خپلو بندګانو ته په هغه څه چې د هغوي په زړونو كښې دي سزا او جزا وركوي.

## ﴿شپږ اويايمه خطبه﴾

(ځينې څېړونكي وائي چې ۷۶مه او ۶۳مه خطبه يوه ده)

رَحِمَ اللهُ عَبْداً سَمِعَ حُكْماً فَوَعَى، وَدُعِيَ إِلَى رَشَادٍ فَدَنَا، وَأَخَذَ بِحُجْزَةِ هَادٍ فَنَجَا، رَاقَبَ رَبَّهُ، وَخَافَ ذَنْبَهُ، قَدَّمَ خَالِصاً، وَعَمِلَ صَالِحاً، اكْتَسَبَ مَذْخُوراً، وَاجْتَنَبَ مَحْذُوراً، رَمَى غَرَضاً، وَأَحْرَزَ عِوَضاً، كَابَرَ هَوَاهُ، وَكَذَّبَ مُنَاهُ، جَعَلَ الصَّبْرَ مَطِيَّةَ نَجَاتِهِ، وَالتَّقْوَى عُدَّةَ وَفَاتِهِ، رَكِبَ الطَّرِيقَةَ الْغَرَّاءَ، وَلَزِمَ الْمَحَجَّةَ الْبَيْضَاءَ، اغْتَنَمَ الْمَهَلَ، وَبَادَرَ الأَجَلَ، وَتَزَوَّدَ مِنَ الْعَمَلِ.

خدا ے پاک دې په هغه بنده رحم وکړي چې د حکمت خبره واوري نو وې مني او چې نيغې لارې ته وبلل شي نو ورشي. د هادي لمنه راټينګه کړي او وژغورل شي د خپل پالونکي په وړاندې د ځان خيال وساتي او له خپلو ګناهونو اوبرېږي.خالصانه ګام واخلي او نيک عمل وکړي. د آخرت توښه جمع کړي او له ګناه څخه ډډه وکړي. له دنياوي غرضونو لاس اوينځي او د آخرت درجې لاسته راوړي. په نفساني خواهشاتو غالب شي او د هغهٔ غوښتنې دروغ وګڼي. هغه کس چې صبر او استقامت خپله سپرلي (مرکب) او تقوا د مرګ د ورځې توښه وګرځوي. د هدايت په روښانه لاره کښې ګام پورته کړي او د هدايت له څرګندې لارې و نهٔ غړيږي. د دنيا دا يو څو ورځې غنيمت وګڼي او مخکې له دې چې مرګ پرې منګولې ښخې کړي ځان ورته چمتو کاندي او له نېکو عملونو څخه د آخرت توښه واخلي.

[ ۷۷ ]

[حِينَ مَنَعَهُ سَعِيدُ بْنُ الْعَاصِ حَقَّهُ]

إِنْذَارُ بَنِي أُمَيَّةَ

إِنَّ بَنِي أُمَيَّةَ لَيُفَوِّقُونَنِي تُرَاثَ مُحَمَّدٍ تَفْوِيقاً، وَاللهِ لَئِنْ بَقِيتُ لَهُمْ لَأَنْفُضَنَّهُمْ نَفْضَ اللَّحَّامِ الْوِذَامَ التَّرِبَةَ!

وَيُرْوَى: «التُّرَابُ الْوَذِمَةُ»، وَهُوَ عَلَى الْقَلْبِ.

## ﴿ اوهٔ اويايمه خطبه ﴾

(دهجرت په درې دېرشم کال د حضرت عثمان په زمانه کښې کله چې سعيد بن عاص د امام علي عليه السلام حق هغه ته ورنه کړ نو وې فرمايل)

### د بني اميه ؤ تروړونکو (غاصبانو) ته خبردار ے

بني اميه د پېغمبر صلی الله علیه وآله میراث ماته ډېر لږ لږ راکوي په خدا ے قسم ! که ژوند ے پاتے شوم بني اميه به له حکومته داسې لرې وغورځوم لکه قصاب چې ګنده (سخا) لرې او چيچړې غورځوي.

(سيد رضي وائي: د امام علي عليه السلام دا عبارت چې وې فرمايل «ليفوقونني» يعني ماته لږ لږ راکوي لکه د اوښ جونګې ته چې لږ لږ پې. ورکوي چې انسان يې په خپله بيا ولوشي. او «ذام» د «ذمه» جمع ده يعنې د لرې هغه ټوټه چې په خاورو کښې پريوزي او بيا راواخېستل شي.

[ ۷۸ ]

وَمِنْ كَلِمَاتٍ لَهُ كَانَ يَدْعُو بِهَا

اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي مَا أَنْتَ أَعْلَمُ بِهِ مِنِّي، فَإِنْ عُدْتُ فَعُدْ لِي بِالْمَغْفِرَةِ. اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي مَا وَأَيْتُ مِنْ نَفْسِي، وَلَمْ تَجِدْ لَهُ وَفَاءً عِنْدِي. اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي مَا تَقَرَّبْتُ بِهِ إِلَيْكَ [بِلِسَانِي]، ثُمَّ خَالَفَهُ قَلْبِي. اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي رَمَزَاتِ الأَلْحَاظِ، وَسَقَطَاتِ الأَلْفَاظِ، وَشَهَوَاتِ الْجَنَانِ، وَهَفَوَاتِ اللِّسَانِ.

## ﴿ اتهٔ اويايمه خطبه ﴾

(امام عليه السلام به کله کله داسې دعا کوله)

اے خدايه! ما ته د هغه څه بخښنه وکړې چې تهٔ پرې تر ما زيات خبر يې[۲۵]، او که بيا هغو ګناهونو ته ستون شم تهٔ هم بخښنې ته ستون شې. اے خدايه! ما ته د هغو وعدو بخښنه هم وکړه چې د نيکوکارونو لپاره مې کړې دي خو دغه نېک کارونه مې نهٔ دي کړې شوې، اے خدايه! اوبخښنه راته هغه څه چې ما په ژبه ستا د نزدېکت هڅه کړې ده خو زړهٔ مې د هغهٔ مخالفت کړے دے. اے خدايه! اوبخښې زما د سترګو اشارې، بې فائدې خبرې، د زړهٔ بې ځايه غوښتنې، او د ژبې تېروتنې.

[ ۷۹ ]

وَمِنْ كَلَامٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ لِبَعْضِ أَصْحَابِهِ لَمَّا عَزَمَ عَلَى الْمَسِيرِ إِلَى الْخَوَارِجِ، فَقَالَ لَهُ: يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ إِنْ سِرْتَ فِي هَذَا الْوَقْتِ، خَشِيتُ أَلَّا تَظْفَرَ بِمُرَادِكَ، مِنْ طَرِيقِ عِلْمِ النُّجُومِ، فَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

أَتَزْعُمُ أَنَّكَ تَهْدِي إِلَى السَّاعَةِ الَّتِي مَنْ سَارَ فِيهَا صُرِفَ

## ﴿ نهٔ اويايمه خطبه ﴾

(کله چې امام علي عليه السلام د هجرت په اتهٔ دېرشم کال د صفرې په مياشت کښې له خوارجو سره جنګ ته روانيدهٔ نو يو نجومي راغے او وې ويل: يا امام که په دې وخت کښې جنګ ته روان شوې کامياب به نهٔ شې او تاوان به وکړې، ما د ستورپېژندنې او نجوم له مخې حساب جنګولے دے او دا نتيجه مې ترې راوېستې ده. امام د هغهٔ په ځواب کښې

عَنْهُ السُّوءُ؟ وَتُخَوِّفُ مِنَ السَّاعَةِ الَّتِي مَنْ سَارَ فِيهَا حَاقَ بِهِ الضُّرُّ؟ فَمَنْ صَدَّقَكَ بِهذَا فَقَدْ كَذَّبَ الْقُرْآنَ، وَاسْتَغْنَى عَنِ الاسْتِعَانَةِ بِاللهِ عَزَّوَجَلَّ فِي نَيْلِ الْمَحْبُوبِ وَدَفْعِ الْمَكْرُوهِ، وَتَبْتَغِي فِي قَوْلِكَ لِلْعَامِلِ بِأَمْرِكَ أَنْ يُولِيَكَ الْحَمْدَ دُونَ رَبِّهِ، لأَنَّكَ ـ بِزَعْمِكَ ـ أَنْتَ هَدَيْتَهُ إِلَى السَّاعَةِ الَّتِي نَالَ فِيهَا النَّفْعَ، وَأَمِنَ الضُّرَّ!!

ثُمَّ أَقْبَلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ عَلَى النَّاسِ فَقَالَ:

أَيُّهَا النَّاسُ، إِيَّاكُمْ وَتَعَلُّمَ النُّجُومِ، إِلاَّ مَا يُهْتَدَى بِهِ فِي بَرٍّ أَوْ بَحْرٍ، فَإِنَّهَا تَدْعُو إِلَى الْكَهَانَةِ، وَالْمُنَجِّمُ كَالْكَاهِنِ وَالْكَاهِنُ كَالسَّاحِرِ وَالسَّاحِرُ كَالْكَافِرِ! وَالْكَافِرُ فِي النَّارِ! سِيرُوا عَلَى اسْمِ اللهِ.

[ ۸۰ ]

بَعْدَ فَرَاغِهِ مِنْ حَرْبِ الْجَمَلِ

مَعَاشِرَ النَّاسِ، إِنَّ النِّسَاءَ نَوَاقِصُ الايمَانِ، نَوَاقِصُ الْحُظُوظِ، نَوَاقِصُ الْعُقُولِ: فَأَمَّا نُقْصَانُ إِيمَانِهِنَّ فَقُعُودُهُنَّ عَنِ الصَّلاَةِ وَالصِّيَامِ فِي أَيَّامِ حَيْضِهِنَّ، وَأَمَّا نُقْصَانُ عُقُولِهِنَّ فَشَهَادَةُ امْرَأَتَيْنِ مِنْهُنَّ كَشَهَادَةِ الرَّجُلِ الْوَاحِدِ، وَأَمَّا نُقْصَانُ حُظُوظِهِنَّ فَمَوَارِيثُهُنَّ عَلَى الأَنْصَافِ مِنْ مَوَارِيثِ الرِّجَالِ؛ فَاتَّقُوا شِرَارَ النِّسَاءِ، وَكُونُوا مِنْ خِيَارِهِنَّ عَلَى حَذَرٍ، وَلاَتُطِيعُوهُنَّ فِي الْمَعْرُوفِ حَتَّى لاَ يَطْمَعْنَ فِي الْمُنكَرِ.

[ ۸۱ ]

[في الزُّهْدِ]

أَيُّهَا النَّاسُ، الزَّهَادَةُ قِصَرُ الأَمَلِ، وَالشُّكْرُ عِنْدَ النِّعَمِ، وَالْوَرَعُ عِنْدَ الْمَحَارِمِ، فَإِنْ عَزَبَ ذلِكَ عَنْكُمْ فَلاَ يَغْلِبِ الْحَرَامُ صَبْرَكُمْ، وَلاَ تَنْسَوْا عِنْدَ النِّعَمِ شُكْرَكُمْ، فَقَدْ أَعْذَرَ اللهُ إِلَيْكُمْ بِحُجَجٍ مُسْفِرَةٍ ظَاهِرَةٍ، وَكُتُبٍ بَارِزَةِ الْعُذْرِ وَاضِحَةٍ.

وفرمايل؛

تهٔ خيال کوې چې له هغه ګړۍ خبر يې چې که څوک پکښې سفر او تګ وکړي نو تاوان نهٔ وررسيږي؟ او مونږ ويروې چې که په پلانکي وخت کښې لاړشئ نو تاوان به وويني؟ څوک چې ستا خبره رښتيا وګڼي هغهٔ به قرآن دروغ ګڼلے وي او داسې کس به خپل محبوب او د خوښې کار په رسيدلو او د شر په ګرځولو کښې له خدايه له مرستې غوښتلو بې نيازه وي. ګواکې تهٔ غواړې چې دغه کس د خدا ے په ځا ے ستا ستائنه او ثنا وکړي! ځکه چې تا خلق له هغو شيبو خبرکړي دي چې هغوي ته پکې ګټه رسيږي او له تاوانه بچ کيږي.

بيا امام عليؑ خلقو ته مخ کړ او وې فرمايل

اے خلقو! د دروغو وړاندې وينو او پيشګويانو لپاره له ستور پيژندنې (نجوم) له علمه ډډه وکړئ مګر تر هغه حده ترويت کولې شئ چې په دريابونو او صحراګانو کښې په تګ کښې ورته اړتيا لرئ او په اوچه او لمده کښې پرې لاره نېغولې شئ. ځکه چې ترويت او ستور پيژندنه تاسو غيب ګوئې او غيب ګوئي مو جادوګرۍ ته بيائي نو منجم د کاهن (غيب ګو) په شان او کاهن د جادوګر او جادوګر د کافر[۲۶] په شان دے او د کافر ځا ے د دوزخ اور دے . د خدا ے په نوم سره روان شئ.

## ﴿ اتيايمه خطبه ﴾

(د جمل له جنګه وروسته کله يې چې د بصرې شورش وځپهٔ نو د هجرت په شپږ ديرشم کال د څلورمې خور په مياشت کښې يې د کوفې په جومات کښې دا خطبه وکړه)

### د ښځو او سړوترمينځ فرقونه

اے خلقو! بې له شکه ښځې د سړو په پرتله په ايمان، او له مال او عقله په برخوروالي کښې فرق لري په ايمان کښې له سړو سره د هغوي فرق دا دے[۲۷] چې د جامو راتلو (حيض) په ورځو کښې له نمانځهٔ او روژې لرې دي. او په عقل کښې يې له سړو سره فرق په دې کښې دے چې د دوو ښځو ګواهي د يو سړي د ګواهۍ برابره ده او له ماله په برخمنتيا کښې يې فرق په دې کښې دے چې د ښځو ميراث تر سړو نيم دے. نو له بدو ښځو ځان وساتئ او د نيکانو يې هم خيال ساتئ (په احتياط ورسره چلن کوئ) په نيکو کارونو کښې يې همېشه خبره مه منئ چې په بدو چارو کښې طمعه و نهٔ کړي.

## ﴿ يو اتيايمه خطبه ﴾

(ځينو سپړونکو ويلي چې دا خطبه يې په کوفې ښار کښې ورکړې ده)

اے خلقو! د زهد مطلب دے د هيلو او ارمانونو لنډول، د نعمتونو شکر ايستل او له حرامو څخه ځان ساتل. نو که دا ټول کارونه مو نهٔ شول کولې نو پام وکړئ چې حرام مو په صبر غالب نهٔ شي او د نعمتونو په وړاندې مو شکر هير نهٔ شي ځکه چې خدا ے تعالی په روښانه او ښکاره دليلونو سره عذرونه غوځ کړي او په روښانونکي آسماني کتاب سره يې

د پلمو او بهانو لاره بنده کړې ده.

[ ۸۲ ]

في صِفَة الدُّنْيَا

مَا أَصِفُ مِنْ دَارٍ أَوَّلُهَا عَنَاءٌ! وَآخِرُهَا فَنَاءٌ! فِي حَلَالِهَا حِسَابٌ، وَفِي حَرَامِهَا عِقَابٌ. مَنِ اسْتَغْنَى فِيهَا فُتِنَ، وَمَنِ افْتَقَرَ فِيهَا حَزِنَ، وَمَنْ سَاعَاهَا فَاتَتْهُ، وَمَنْ قَعَدَ عَنْهَا وَاتَتْهُ، وَمَنْ أَبْصَرَ بِهَا بَصَّرَتْهُ، وَمَنْ أَبْصَرَ إِلَيْهَا أَعْمَتْهُ.

﴿دوه اتيايمه خطبه﴾

(ځينې څېړونکي وائي چې دا خطبه يې په کوفه کښې ورکړې ده)

## دنيا پېژندنه

د دنيا به درته څه تعريف وکړم چې پېل يې د ربړو زغمل او پاې يې فنا کېدل دي د حلالو يې حساب کتاب کېږي او په حرامو يې سزا ورکول کېږي. څوک چې پکښې شتمن شو وغوليدهٔ او څوک چې بې وزله شو غمجن شو. څوک چې ورلره زيار باسي په ګوتو نهٔ ورځي او څوک چې ترې تښتي په هغهٔ پسې منډې وهي. څوک چې د عبرت په سترګه وروګوري سترګور يې کړي او څوک چې ورته د دنيا د ښکلا په سترګه وګوري ړوند يې کړي.

(سيد رضي وائي که د عقل خاوند د امام عليه السلام په دې وينا کښې ښه ځير شي چې فرمائي: «من ابصر بها بصرته» يعنې څوک چې د بصيرت په سترګه وروګوري بينا او سترګور يې کړي په دې کښې ډېره ژوره معنا پټه ده چې انسان يې تل ته نهٔ شي رسېدې. په تېره بيا که دا جمله ورسره هماهنګه کړي چې «من ابصر اليها اعمته» يعنې که څوک يې سينګار او پړق پړوق ته وګوري ړندوي يې، وبه ګوري چې د دغو دوو تفاوت څومره زيات دي. سلام دې وي په اميرالمومنين.)

[ ۸۳ ]

وَمِنْ خُطْبَةٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ وَهِيَ مِنَ الْخُطَبِ الْعَجِيبَةِ تُسَمَّى «الْغَرَّاءُ» وَفِيهَا نُعُوتُ اللهِ جَلَّ شَأْنُهُ، ثُمَّ الْوَصِيَّةُ بِتَقْوَاهُ، ثُمَّ التَّنْفِيرُ مِنَ الدُّنْيَا، ثُمَّ مَا يَلْحَقُ مِنْ دُخُولِ الْقِيَامَةِ، ثُمَّ تَنْبِيهُ الْخَلْقِ إِلَى مَا هُمْ فِيهِ مِنَ الإِعْرَاضِ، ثُمَّ فَضْلُهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ فِي التَّذْكِيرِ

الْحَمْدُ للهِ الَّذِي عَلَا بِحَوْلِهِ، وَدَنَا بِطَوْلِهِ، مَانِحِ كُلِّ غَنِيمَةٍ وَفَضْلٍ، وَكَاشِفِ كُلِّ عَظِيمَةٍ وَأَزْلٍ. أَحْمَدُهُ عَلَى عَوَاطِفِ كَرَمِهِ، وَسَوَابِغِ نِعَمِهِ، وَأُومِنُ بِهِ أَوَّلاً بَادِياً، وَأَسْتَهْدِيهِ قَرِيباً هَادِياً، وَأَسْتَعِينُهُ قَاهِراً قَادِراً، وَأَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ كَافِياً نَاصِراً. وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّداً صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، أَرْسَلَهُ لِإِنْفَاذِ أَمْرِهِ، وَإِنْهَاءِ عُذْرِهِ، وَتَقْدِيمِ نُذُرِهِ.

الْوَصِيَّةُ بِالتَّقْوَى

أُوصِيكُمْ عِبَادَ اللهِ بِتَقْوَى اللهِ الَّذِي ضَرَبَ لَكُمُ الأَمْثَالَ، وَوَقَّتَ لَكُمُ الآجَالَ، وَأَلْبَسَكُمُ الرِّيَاشَ، وَأَرْفَغَ لَكُمُ الْمَعَاشَ، وَأَحَاطَ بِكُمُ الإِحْصَاءَ، وَأَرْصَدَ لَكُمُ الْجَزَاءَ، وَآثَرَكُمْ بِالنِّعَمِ السَّوَابِغِ، وَالرِّفَدِ الرَّوَافِغِ، وَأَنْذَرَكُمْ بِالْحُجَجِ الْبَوَالِغِ، فَأَحْصَاكُمْ عَدَداً، وَوَظَّفَ لَكُمْ مُدَداً، فِي قَرَارِ خِبْرَةٍ، وَدَارِ عِبْرَةٍ، أَنْتُمْ مُخْتَبَرُونَ فِيهَا، وَمُحَاسَبُونَ

﴿دري اتيايمه خطبه﴾

(دې ته خطبه «غرا» وائي چې معنا يې ده حېرانوونکې او په رښتيا چې د امام عليه السلام يوه حېرانوونکې خطبه ده)

## د الهي صفتونو حقيقت

ستائنه له هغه خداے سره ښائي چې په خپل لوړ قدرت، او د نعمتونو په پېرزوينې سره مخلوقاتو ته نزدے دے. د ټولو نعمتونو ورکوونکے او د لويو بلاګانو غړوونکے دے. ستائنه يې کوم د هغه په مهربانيو او پربمانه نعمتونو، او ايمان پرې راوړم چې د هستۍ سرچينه او د خلقت پېلوونکے دے، هدايت ترې غواړم ځکه چې نزدې لار ښوونکے دے،او مرسته ترې غواړم چې وسيال او بريالے دے. او توکل پرې کوم چې کافي او مرستيال دے. او ګواهي ورکوم چې محمد صلى الله عليه وآله وسلم د هغهٔ بنده او استازے دے چې د خپل امر د پلي کولو، په خلقو باندې د حجت د بشپړولو او له ناروا کارونو څخه د وېرولو لپاره يې رالېږلے دے.

## د تقوا سپارښتنه

اے د خداے بندګانو د تقوا سپارښتنه درته کوم له هغه خدايه چې ستاسو د وېښتيا لپاره يې مثالونه راوړي دي او اجلونه يې درټاکلي دي، رنګارنګې جامې يې دراغوندلي دي او پراخ معيشت يې درکړے دے،او په خپل دقيق حساب سره په تاسو باندې واکمن دے. ستاسو د نېکو چارو بدله درته درکوي او په پراخو نعمتونو او بې حسابه ښندنو سره يې عزتمن کړي يئ، او د پېغمبرانو عليهم السلام او روښانه دليلونو په درلېږلو سره يې خبردار کړي يئ، ستاسو له شمېره خبر دے او ستاسو د

عَلَيْهَا.

### التَّنْفِيرُ مِنَ الدُّنْيَا

إِنَّ الدُّنْيَا رَنِقٌ مَشْرَبُهَا، رَدِغٌ مَشْرَعُهَا، يُونِقُ مَنْظَرُهَا، وَيُوبِقُ مَخْبَرُهَا، غُرُورٌ حَائِلٌ، وَضَوْءٌ آفِلٌ، وَظِلٌّ زَائِلٌ، وَسِنَادٌ مَائِلٌ، حَتَّى إِذَا أَنِسَ نَافِرُهَا، وَاطْمَأَنَّ نَاكِرُهَا، قَمَصَتْ بِأَرْجُلِهَا، وَقَنَصَتْ بِأَحْبُلِهَا، وَأَقْصَدَتْ بِأَسْهُمِهَا، وَأَعْلَقَتِ الْمَرْءَ أَوْهَاقَ الْمَنِيَّةِ قَائِدَةً لَهُ إِلَى ضَنْكِ الْمَضْجَعِ، وَوَحْشَةِ الْمَرْجِعِ، وَمُعَايَنَةِ الْمَحَلِّ، وَثَوَابِ الْعَمَلِ، وَكَذلِكَ الْخَلَفُ بِعَقْبِ السَّلَفِ، لَا تُقْلِعُ الْمَنِيَّةُ اخْتِرَاماً، وَلَا يَرْعَوِي الْبَاقُونَ اجْتِرَاماً، يَحْتَذُونَ مِثَالاً، وَيَمْضُونَ أَرْسَالاً، إِلَى غَايَةِ الانْتِهَاءِ، وَصَيُّورِ الْفَنَاءِ.

### الْبَعْثُ بَعْدَ الْمَوْتِ

حَتَّى إِذَا تَصَرَّمَتِ الأُمُورُ، وَتَقَضَّتِ الدُّهُورُ، وَأَزِفَ النُّشُورُ، أَخْرَجَهُمْ مِنْ ضَرَائِحِ الْقُبُورِ، وَأَوْكَارِ الطُّيُورِ، وَأَوْجِرَةِ السِّبَاعِ، وَمَطَارِحِ الْمَهَالِكِ، سِرَاعاً إِلَى أَمْرِهِ، مُهْطِعِينَ إِلَى مَعَادِهِ، رَعِيلاً صُمُوتاً، قِيَاماً صُفُوفاً، يَنْفُذُهُمُ الْبَصَرُ، وَيُسْمِعُهُمُ الدَّاعِي، عَلَيْهِمْ لَبُوسُ الاسْتِكَانَةِ، وَضَرَعُ الاسْتِسْلَامِ وَالذِّلَّةِ، قَدْ ضَلَّتِ الْحِيَلُ، وَانْقَطَعَ الأَمَلُ، وَهَوَتِ الأَفْئِدَةُ كَاظِمَةً، وَخَشَعَتِ الأَصْوَاتُ مُهَيْنِمَةً، وَأَلْجَمَ الْعَرَقُ، وَعَظُمَ الشَّفَقُ، وَأُرْعِدَتِ الأَسْمَاعُ لِزَبْرَةِ الدَّاعِي إِلَى فَصْلِ الْخِطَابِ، وَمُقَايَضَةِ الْجَزَاءِ، وَنَكَالِ الْعِقَابِ، وَنَوَالِ الثَّوَابِ.

### تَنْبِيهُ الْخَلْقِ

عِبَادٌ مَخْلُوقُونَ اقْتِدَاراً، وَمَرْبُوبُونَ اقْتِسَاراً، وَمَقْبُوضُونَ احْتِضَاراً، وَمُضَمَّنُونَ أَجْدَاثاً، وَكَائِنُونَ رُفَاتاً، وَمَبْعُوثُونَ أَفْرَاداً، وَمَدِينُونَ جَزَاءً، وَمُمَيَّزُونَ حِسَاباً؛ قَدْ أُمْهِلُوا فِي طَلَبِ الْمَخْرَجِ، وَهُدُوا سَبِيلَ الْمَنْهَجِ، وَعُمِّرُوا مَهَلَ الْمُسْتَعْتَبِ، وَكُشِفَتْ عَنْهُمْ سُدَفُ الرِّيَبِ، وَخُلُّوا لِمِضْمَارِ الْجِيَادِ، وَرَوِيَّةِ الارْتِيَادِ، وَأَنَاةِ الْمُقْتَبِسِ الْمُرْتَادِ، فِي مُدَّةِ الأَجَلِ، وَمُضْطَرَبِ الْمَهَلِ.

### فَضْلُ التَّذْكِيرِ

عبرت او ازمېښت لپاره يې په دنيا کښې ټاکلې مهال درکړے دے، چې په دې نړۍ کښې اوزمايل شئ او د عملونو حساب مو وشي.

### دنيا او پېژنئ

د حرامې دنيا اوبهٔ تل خړې وي ننداره يې زړهٔ راکښونکې خو انجام يې خطرناک دے. غولؤنکې او ښکلې ده خو پاتې کېدونکې نهٔ ده، ختمېدونکې رڼا او پرېوتونکے نمر، ختمېدونکے سيورے او ورانېدونکې ستنه ده. کله چې له دنيا کرکه لرونکي په هغې پورې زړهٔ وتړي او پردي ورباندې ډاډه شي، نو د اړې مار اس په شان يې په ځمکه ووهي او په دام يې گرفتار کړي. خپل غشي ورپرېږدي او مرۍ ته يې د مرگ پړي ورواچوي. بيا يې تنگ قبر او وېرؤنکي کور ته راکاږي چې په خپل نوي کور او گور کښې جنت او دوزخ ويني، او د خپلو عملونو بدله وگوري. همدغه شان راتلونکي په تلونکو پسې روان وي، نهٔ مرگ له انسانه لاس اخلي او نهٔ خلق له گناهونو لاس په سر کېږي تر دې چې د ژوند خاتمې او د فنا او نيستۍ منزل ته ورځغلي.

### لويه ورځ

تر دې چې چارې تېرې شي او وختونه لاړ شي او لويه ورځ راشي. په هغه ورځ به انسانان د گورونو له ځمځو، د مارغانو له ځالو، د ځناورو له غارونو، او د جنگ له ډگرونو را پورته کړې شي او په تلوار به د خپل پالونکي په امر ورروان وي، بيا به د خاموشو ډلو، او قرارو ليکو په ډول ورحاضر شي،د خداے پاک بينا سترگې به يې ويني او د فرښتو غږونه به وررسېږي.د نياز او عاجزۍ جامې به يې اغوستې وي، د دهوکې او فريب ورونه به تړلي شوي وي او هيلې به غوځې وي. دغلته به نو زړونه قرار، غږونه ورو، او خولې به له تندو داسې جاري وي چې به د خبرو امکان قدرې نه لري. په هر ځاے به وېره او ترهه خپره وي، د ډنډورچي بوږنؤنکي غږ به ټول لړزولي وي او د عدالت په لور به يې د ثواب او عقاب لپاره بيائي.

### د خداے د بندگانو حالات

دا هماغه بندگان دي چې د خداے په قدرتمن لاس وپنځول شول او بې له خپلې ارادې وروزل شول، بيا د قبر په زانگو کښې وراستهٔ شول، او يوه ورځ به په يوزاې سر له قبرونو راپاځېږي او د جزا لپاره به ورسره ځير(دقيق) حساب کتاب کېږي. دوي ته د دنيا څو ورځې مهلت ورکړے شوے ؤ چې په نېغه لاره گام کېږدي،د نجات لاره ورښودل شوې وه چې د خداے رضا ولټوي، د شک او تر ديد تياري ورځينې لرې کړې شوې او آزاد پرېښودل شول چې د نيکيو د لاسته راوړلو سيالۍ ته ځانونه چمتو کړي، د فکرونو نيلي وځغلوي او د الهي رڼا د پېژندلو لپاره په دنيا کښې هڅه وکړي.

### عبرتناک پندونه

انسان ته څومره ښه مثالونه او رسا پندونه مخې ته پراتهٔ دي چې ښائي

فَيَا لَهَا أَمْثَالاً صَائِبَةً وَ مَوَاعِظَ شَافِيَةً، لَوْ صَادَفَتْ قُلُوباً زَاكِيَةً، وَأَسْمَاعاً وَاعِيَةً، وَآرَاءً عَازِمَةً، وَأَلْبَاباً حَازِمَةً! فَاتَّقُوا اللهَ تَقِيَّةَ مَنْ سَمِعَ فَخَشَعَ وَاقْتَرَفَ فَاعْتَرَفَ، وَوَجِلَ فَعَمِلَ وَ حَاذَرَ فَبَادَرَ، وَأَيْقَنَ فَأَحْسَنَ، وَعُبِّرَ فَاعْتَبَرَ، وَحُذِّرَ [فَحَذِرَ وَزُجِرَ ]فَازْدَجَرَ، وَأَجَابَ فَأَنَابَ، وَرَاجَعَ فَتَابَ، وَاقْتَدَى فَاحْتَذَى، وَأُرِيَ فَرَأَى، فَأَسْرَعَ طَالِباً، وَنَجَا هَارِباً، فَأَفَادَ ذَخِيرَةً، وَأَطَابَ سَرِيرَةً، وَعَمَّرَ مَعَاداً، وَاسْتَظْهَرَ زَاداً لِيَوْمِ رَحِيلِهِ وَوَجْهِ سَبِيلِهِ، وَحَالِ حَاجَتِهِ، وَمَوْطِنِ فَاقَتِهِ، وَقَدَّمَ أَمَامَهُ لِدَارِ مُقَامِهِ. فَاتَّقُوا اللهَ عِبَادَ اللهِ جِهَةَ مَا خَلَقَكُمْ لَهُ، وَاحْذَرُوا مِنْهُ كُنْهَ مَا حَذَّرَكُمْ مِنْ نَفْسِهِ، وَاسْتَحِقُّوا مِنْهُ مَا أَعَدَّ لَكُمْ بِالتَّنَجُّزِ لِصِدْقِ مِيعَادِهِ، وَالْحَذَرِ مِنْ هَوْلِ مَعَادِهِ.

التَّذْكِيرُ بِضُرُوبِ النِّعَمِ

جَعَلَ لَكُمْ أَسْمَاعاً لِتَعِيَ مَا عَنَاهَا، وَأَبْصَاراً لِتَجْلُوَ عَنْ عَشَاهَا، وَأَشْلَاءً جَامِعَةً لِأَعْضَائِهَا، مُلَائِمَةً لِأَحْنَائِهَا فِي تَرْكِيبِ صُوَرِهَا، وَمُدَدِ عُمُرِهَا، بِأَبْدَانٍ قَائِمَةٍ بِأَرْفَاقِهَا، وَقُلُوبٍ رَائِدَةٍ لِأَرْزَاقِهَا، فِي مُجَلِّلَاتِ نِعَمِهِ، وَمُوجِبَاتِ مِنَنِهِ، وَحَوَاجِزِ عَافِيَتِهِ. وَقَدَّرَ لَكُمْ أَعْمَاراً سَتَرَهَا عَنْكُمْ، وَخَلَّفَ لَكُمْ عِبَراً مِنْ آثَارِ الْمَاضِينَ قَبْلَكُمْ، مِنْ مُسْتَمْتَعِ خَلَاقِهِمْ، وَمُسْتَفْسَحِ خَنَاقِهِمْ. أَرْهَقَتْهُمُ الْمَنَايَا دُونَ الْآمَالِ، وَشَذَّبَهُمْ عَنْهَا تَخَرُّمُ الْآجَالِ، لَمْ يَمْهَدُوا فِي سَلَامَةِ الْأَبْدَانِ، وَلَمْ يَعْتَبِرُوا فِي أُنُفِ الْأَوَانِ. فَهَلْ يَنْتَظِرُ أَهْلُ بَضَاضَةِ الشَّبَابِ إِلَّا حَوَانِيَ الْهَرَمِ؟ وَأَهْلُ غَضَارَةِ الصِّحَّةِ إِلَّا نَوَازِلَ السَّقَمِ؟ وَأَهْلُ مُدَّةِ الْبَقَاءِ إِلَّا آوِنَةَ الْفَنَاءِ؟ مَعَ قُرْبِ الزِّيَالِ، وَأُزُوفِ الِانْتِقَالِ، وَعَلَزِ الْقَلَقِ، وَأَلَمِ الْمَضَضِ، وَغُصَصِ الْجَرَضِ، وَتَلَفُّتِ الِاسْتِغَاثَةِ بِنُصْرَةِ الْحَفَدَةِ وَالْأَقْرِبَاءِ، وَالْأَعِزَّةِ وَالْقُرَنَاءِ! فَهَلْ دَفَعَتِ الْأَقَارِبُ، أَوْ نَفَعَتِ النَّوَاحِبُ؟

الْإِعْتِبَارُ بِالْمَوْتِ

په پاکو زړونو اثر وکړي په اورېدونکو غوږونو کښې ځاے شي او له باتدبيره عقلونو او هوډمنو فکرونو سره مخامخ شي. له خدايه د هغه چا په شان اوېرېږئ چې د حق خبره يې واورېده او خاضع شو، ګناه يې وکړه او بيا يې اعتراف وکړ، اوېرېدۀ او نيکو چارو ته يې مخه کړه، ډډه يې وکړه او په مخ لاړ، يقين يې پېدا کړ او نېک شو، نصحيت ورته وشو او د زړۀ په غوږو يې واورېدۀ، اوېرول شو نو نافرماني يې و نۀ کړه، خبردارے ورکړے شو او خداے ته يې مخه کړه،مثبت ځواب يې ورکړ، لمنځ او زاري يې وکړه،جاروت او توبه يې وکړه،د الهي لاربښونکو په پلۀ لاړ او پېروي يې وکړه، لاره يې وروښودله او وې پېژندله،د حق په لور وځغلېد او له نافرمانۍ وتښتېد، د اطاعت ګټه يې توښه کړه او زړۀ يې پاک وساتۀ،آخرت يې آباد کړ او د حرکت په ورځ يې د ضرورت د وخت لپاره توښه تياره کړه، او هغه يې له ځانه مخکښې خپلې استوګنې ته ولېږله، اے د خداے بندګانو! د خپل خلقت د مقصد د غرملتيا لپاره له خدايه اوېرېږئ، او لکه څنګه يې چې اوېرولئ د هغه له اوامرو له سرغړونې ووېرېږئ، چې د خداے پاک د وعدو استحقاق پېدا کړئ او د قيامت د ورځې له ترهې بچ شئ.

## د نصحيت منلو لارې چارې

هغۀ غوږونه درکړل چې د کار خبرې ياد ولرئ او سترګې يې درکړې چې له تيرو بچ شئ، او د بند تول غړي يې غرمله او متناسب درعطا کړل چې د صورتونو په ظاهري جوړښت او د عمر په دوران کښې سره غرمله وي. دا صوري ترکيب يو خو په بدنونو قائم دے چې ستاسو لپاره ګټور دي او بل په زړونو چې ټول بدن ته په فشار سره روزي رسوي او د خداے پاک له برمناکو نعمتونو برخمن دي. او د نعمتونو په وړاندې منندوي، او له خداے ورکړې سلامتيا برخور. خداے ستاسو د هر يو د ژوند موده تاکلې خو له تاسو يې پټه ساتلې ده. او د تېرو خلقو له نښو او آثار و يې تاسو ته پندناک عبرتونه ذخيره کړي دي. هغه کسان چې له دنيا يې خوندونه واخېستل، او له مرګه مخکښې يې هوسا او خوشحاله ژوند لرۀ خو آخر يې مرګ ګريوانۀ ته ورسېد او هغوي يې له خپلو هيلو جدا کړل، نو چا چې د سلامتيا په ورځو کښې څه ذخيره نۀ کړل او د ژوند په خوښو ورځو کښې يې عبرت وانۀ خېست،نو آيا دا خلق د ځوانۍ او طاقت په ورځو کښې د زړبوډۍ او ناتوانۍ په طمعه دي؟ او د سلامتيا په ورځو کښې د ناروغۍ او بلاګانو په انتظار دي؟ او څوک چې ژوندي دي له فنا او نيستۍ بغېر بله طمعه کولې شي؟ سره له دې چې د بېلتانۀ او د زړونو د درزېدو وخت نزدے دے چې د درد خوند به وڅکي او د غم شربت به يې مرۍ ورترخه کړي، د مدد مدد چغې به وهي او له خپلو بچيانو او خپلوانو به مرسته غواړي خو آيا خپلوان ترې مرګ غړولے شي او چغې سورې څه ګټه وررسولې شي؟

## له مرګه عبرت

وَقَدْ غُودِرَ فِي مَحَلَّةِ الأَمْوَاتِ رَهِيناً، وَفِي ضِيقِ الْمَضْجَعِ وَحِيداً، قَدْ هَتَكَتِ الْهَوَامُّ جِلْدَتَهُ، وَأَبْلَتِ النَّوَاهِكُ جِدَّتَهُ، وَعَفَتِ الْعَوَاصِفُ آثَارَهُ، وَمَحَا الْحَدَثَانُ مَعَالِمَهُ، وَصَارَتِ الأَجْسَادُ شَحِبَةً بَعْدَ بَضَّتِهَا، وَالْعِظَامُ نَخِرَةً بَعْدَ قُوَّتِهَا، وَالأَرْوَاحُ مُرْتَهَنَةً بِثِقَلِ أَعْبَائِهَا مُوقِنَةً بِغَيْبِ أَنْبَائِهَا، لاَ تُسْتَزَادُ مِنْ صَالِحِ عَمَلِهَا، وَلاَ تُسْتَعْتَبُ مِنْ سَيِّىءِ زَلَلِهَا! أَوَلَسْتُمْ أَبْنَاءَ الْقَوْمِ وَالآبَاءَ، وَإِخْوَانَهُمْ وَالأَقْرِبَاءَ؟ تَحْتَذُونَ أَمْثِلَتَهُمْ، وَتَرْكَبُونَ قِدَّتَهُمْ، وَتَطَؤُونَ جَادَّتَهُمْ؟! فَالْقُلُوبُ قَاسِيَةٌ عَنْ حَظِّهَا، لاَهِيَةٌ عَنْ رُشْدِهَا، سَالِكَةٌ فِي غَيْرِ مِضْمَارِهَا! كَأَنَّ الْمَعْنِيَّ سِوَاهَا، وَكَأَنَّ الرُّشْدَ فِي إِحْرَازِ دُنْيَاهَا.

التَّحْذِيرُ مِنْ هَوْلِ الصِّرَاط

وَاعْلَمُوا أَنَّ مَجَازَكُمْ عَلَى الصِّرَاطِ وَمَزَالِقِ دَحْضِهِ، وَأَهَاوِيلِ زَلَلِهِ، وَتَارَاتِ أَهْوَالِهِ؛ فَاتَّقُوا اللهَ تَقِيَّةَ ذِي لُبٍّ شَغَلَ التَّفَكُّرُ قَلْبَهُ، وَأَنْصَبَ الْخَوْفُ بَدَنَهُ، وَأَسْهَرَ التَّهَجُّدُ غِرَارَ نَوْمِهِ، وَأَظْمَأَ الرَّجَاءُ هَوَاجِرَ يَوْمِهِ، وَظَلَفَ الزُّهْدُ شَهَوَاتِهِ، وَأَوْجَفَ الذِّكْرُ بِلِسَانِهِ، وَقَدَّمَ الْخَوْفَ لأَمَانِهِ، وَتَنَكَّبَ الْمَخَالِجَ عَنْ وَضَحِ السَّبِيلِ، وَسَلَكَ أَقْصَدَ الْمَسَالِكِ إِلَى النَّهْجِ الْمَطْلُوبِ؛ وَلَمْ تَفْتِلْهُ فَاتِلاَتُ الْغُرُورِ، وَلَمْ تَعْمَ عَلَيْهِ مُشْتَبِهَاتُ الأُمُورِ، ظَافِراً بِفَرْحَةِ الْبُشْرَى، وَرَاحَةِ النُّعْمَى، فِي أَنْعَمِ نَوْمِهِ، وَآمَنِ يَوْمِهِ. قَدْ عَبَرَ مَعْبَرَ الْعَاجِلَةِ حَمِيداً، وَقَدَّمَ زَادَ الآجِلَةِ سَعِيداً، وَبَادَرَ مِنْ وَجَلٍ، وَأَكْمَشَ فِي مَهَلٍ، وَرَغِبَ فِي طَلَبٍ، وَذَهَبَ عَنْ هَرَبٍ، وَرَاقَبَ فِي يَوْمِهِ غَدَهُ، وَنَظَرَ قُدُماً أَمَامَهُ. فَكَفَى بِالْجَنَّةِ ثَوَاباً وَنَوَالاً، وَكَفَى بِالنَّارِ عِقَاباً وَوَبَالاً! وَكَفَى بِاللهِ مُنْتَقِماً وَنَصِيراً! وَكَفَى بِالْكِتَابِ حَجِيجاً وَخَصِيماً!

الْوَصِيَّةُ بِالتَّقْوَى

أُوصِيكُمْ بِتَقْوَى اللهِ الَّذِي أَعْذَرَ بِمَا أَنْذَرَ، وَاحْتَجَّ بِمَا نَهَجَ، وَحَذَّرَكُمْ عَدُوّاً نَفَذَ فِي الصُّدُورِ خَفِيّاً، وَنَفَثَ فِي الآذَانِ نَجِيّاً، فَأَضَلَّ وَأَرْدَى، وَوَعَدَ فَمَنَّى، وَزَيَّنَ سَيِّئَاتِ

حال دا چې اوس يې نو هغه د مړو په محله کښې کوز کړے د قبر په تيرو کښې يواځې پاتې شوے،د ځمکې چينجو يې پوستکے ورځيرې کړے،او د قبر کانړو لوټو يې بدن روست کړے دے، سختو زولونو يې نخښې ورانې کړې او د شپې او ورځو تېرښت يې آثار له مېنځه اوړي دي. دلته به نو بدنونه له تانداولي او تازګۍ وروسته تس نس او خاورې شي او هډونه به له سختۍ او مضبوطوالي وروسته وراستهٔ شي، او کله چې ارواح د لويو ګناهونو ګروي شي نو دغلته ده چې انسان په پټو رازونو يقين پېدا کوي خو اوبهٔ له ورخه تېرې وي نور نو نهٔ هغه نېک عملونه کولي شي او نهٔ له بدو کړو توبه ايستلې شي. آيا تاسو د هماغه کسانو بچيان، پلاران،ورونړه او خپلوان نهٔ يئ چې اوس د هغوي په ځاے راغلي يئ او د هغوي په پلهٔ مو پل ايښے او په لاره يې روان يئ؟ خو افسوس چې زړونه سخت شوي او نصيحت پرې اثر نهٔ کوي. د کمال له لارې پاتې راغلي او په کومه لاره چې نهٔ ښائي روان دي.تهٔ به وائې دا عبرتونه او نصحيتونه د هغوي لپاره نهٔ دي،او نجات او ژغورنه د دنيا په ګټلو کښې ګڼي. خبر اوسئ چې له صراطه تېرېدل دي، له هغې لارې چې تېرېدل ترې خطرناک دي او د تيندک خوړلو، ښوېدلو او پرله پسې ويرېدلو لار ده.

## د تقوا بيلګې او نمونې

اے د خداے بندګانو! له خدايه اوېرېږئ د هغه پوهه کس په شان چې زړهٔ يې په تفکر مشغول وي او له خدايه وېره يې په بدن خپره وي.تهجدونو يې خوب له سترګو تښتولے وي او د ثواب په طمه د ورځې ګرمي په تنده تېروي.په زهد سره يې شهوتونه وژلي وي او د خداے نامه يې تل په ژبه جاري وي. له خدايه ويره يې د قيامت په ورځ د خوندي پاتې کېدو لپاره له ځانه مخکې لېږلې وي .او بې له حقه يې له ټولو لارو سترګې پټې کړې وي او تر ټولو په ښه لاره باندې چې انسان حق ته رسوي يون کوي.هيڅ څه يې نهٔ غره کوي او ستونځې او شبهې يې نهٔ ړندوي.د جنت،او په تل پاتو نعمتونو او قرارو ورځو کښې د ژوند زيري خوشحال کړے وي. د دنيا له سرايه په ښهٔ توګه تېر شوے او د آخرت توښه يې له ځانه مخکې لېږلې وي او د قيامت له وېرې په نېکو عملونو کښې پېشقدم شوے وي.د ژوند ورځې يې د پالونکي په اطاعت کښې په تلوار کولو تېرې کړې وي او د خداے پاک د رضا لپاره يې هڅه او زيار ايستلے او له بديو تښتېدلے وي. نن يې د سبا خيال ساتلے او همدا اوس يې خپل راتلونکے ليدلے وي. نو جنت د نېکو چارو د بدلې لپاره غوره او دوزخ د بدو چارو د سزا لپاره مناسب دے. او خداے له ظالمانو څخه د بدلې اخېستلو لپاره بس دے.او قرآن د د ښمن په وړاندې د حجت راوړلو لپاره بس دے.

## پام چې شېطان مو وسوسه نهٔ کړي

تاسو ته له خدايه د وېرې او تقوا سپارښتنه کوم، هغه خداے پاک چې په بيا بيا ويرولو سره يې په تاسو باندې د عذر لاره بنده کړې او په روښانه دليل او برهان سره يې حجت در بشپړ کړے دے. او تاسو يې

الْجَرائِمِ، وَهَوَّنَ مُوبِقَاتِ الْعَظَائِمِ، حَتَّى إِذَا اسْتَدْرَجَ قَرِينَتَهُ، وَاسْتَغْلَقَ رَهِينَتَهُ، أَنْكَرَ مَا زَيَّنَ، وَاسْتَعْظَمَ مَا هَوَّنَ، وَحَذَّرَ مَا أَمَّنَ.

مِنْهَا فِي صِفَةِ خَلْقِ الإِنْسَانِ:

أَمْ هذَا الَّذِي أَنْشَأَهُ فِي ظُلُمَاتِ الأَرْحَامِ، وَشُغُفِ الأ□سْتَارِ، نُطْفَةً دِفَاقاً، وَعَلَقَةً مِحَاقاً، وَجَنِيناً وَرَاضِعاً، وَوَلِيداً وَيَافِعاً، ثُمَّ مَنَحَهُ قَلْباً حَافِظاً، وَلِسَاناً لَافِظاً، وَبَصَراً لَاحِظاً، لِيَفْهَمَ مُعْتَبِراً، وَيُقَصِّرَ مُزْدَجِراً؛ حَتَّى إِذَا قَامَ اعْتِدَالُهُ، وَاسْتَوَى مِثَالُهُ، نَفَرَ مُسْتَكْبِراً، وَخَبَطَ سَادِراً، مَاتِحاً فِي غَرْبِ هَوَاهُ، كَادِحاً سَعْياً لِدُنْيَاهُ، فِي لَذَّاتِ طَرَبِهِ، وَبَدَوَاتِ أَرَبِهِ؛ لَا يَحْتَسِبُ رَزِيَّةً، وَلَا يَخْشَعُ تَقِيَّةً؛ فَمَاتَ فِي فِتْنَتِهِ غَرِيراً، وَعَاشَ فِي هَفْوَتِهِ أَسِيراً، لَمْ يُفِدْ عِوَضاً، وَلَمْ يَقْضِ مُفْتَرَضاً. دَهِمَتْهُ فَجَعَاتُ الْمَنِيَّةِ فِي غُبَّرِ جِمَاحِهِ، وَسَنَنِ مِرَاحِهِ، فَظَلَّ سَادِراً، وَبَاتَ سَاهِراً فِي غَمَرَاتِ الْآلَامِ، وَطَوَارِقِ الْأَوْجَاعِ وَالْأَسْقَامِ، بَيْنَ أَخٍ شَقِيقٍ، وَوَالِدٍ شَفِيقٍ، وَدَاعِيَةٍ بِالْوَيْلِ جَزَعاً، وَلَادِمَةٍ لِلصَّدْرِ قَلَقاً.

وَالْمَرْءُ فِي سَكْرَةٍ مُلْهِيَةٍ، وَغَمْرَةٍ كَارِثَةٍ، وَأَنَّةٍ مُوجِعَةٍ، وَجَذْبَةٍ مُكْرِبَةٍ وَسَوْقَةٍ مُتْعِبَةٍ. ثُمَّ أُدْرِجَ فِي أَكْفَانِهِ مُبْلِساً، وَجُذِبَ مُنْقَاداً سَلِساً، ثُمَّ أُلْقِيَ عَلَى الْأَعْوَادِ رَجِيعَ وَصَبٍ، وَنِضْوَ سَقَمٍ، تَحْمِلُهُ حَفَدَةُ الْوِلْدَانِ، وَحَشَدَةُ الْإِخْوَانِ، إِلَى دَارِ غُرْبَتِهِ، وَمُنْقَطَعِ زَوْرَتِهِ؛ حَتَّى إِذَا انْصَرَفَ الْمُشَيِّعُ، وَرَجَعَ الْمُتَفَجِّعُ أُقْعِدَ فِي حُفْرَتِهِ نَجِيّاً لِبَهْتَةِ السُّؤَالِ، وَعَثْرَةِ الِامْتِحَانِ. وَأَعْظَمُ مَا هُنَالِكَ بَلِيَّةً نُزُلُ الْحَمِيمِ، وَتَصْلِيَةُ الْجَحِيمِ، وَفَوْرَاتُ السَّعِيرِ، وَسَوْرَاتُ السَّعِيرِ، لَا فَتْرَةٌ مُرِيحَةٌ، وَلَا دَعَةٌ مُزِيحَةٌ، وَلَا قُوَّةٌ حَاجِزَةٌ، وَلَا مَوْتَةٌ نَاجِزَةٌ، وَلَا سِنَةٌ مُسَلِّيَةٌ، بَيْنَ أَطْوَارِ الْمَوْتَاتِ،

خبردار کړي يئ د شیطان له تربګنې چې په پټه سینو ته لاره کوي.او غلي شان په غوږونو کښې رازونه وائي،ګمراه او سپک دے او د دروغو وعدې درکوي او د هغو په ارمان او طمعه مو پرېږدي.د ګناهانو بدرنګۍ ښکلې برېښوي او لوے ګناهونه واړهٔ ګڼي او قرار قرار خپل دوستان غولوي.بیا نو هغو کسانو ته چې په لومه کښې یې ګېر شوې دي د ژغورنې او نجات لاره بندوي او د قیامت په ورځ د هغه څه چې انسان ته یې ښکلي برېښول انکار کوي. او څه یې چې درآسان کړي ډېر لوے اوسخت یې ګڼي او له څه یې چې خپل پېروان خوندي ګڼل له هغهٔ یې سخت وېروي.

## د انسان د خلقت حېرانتیاوې

آیا دا انسان هماغه نطفه او چکه وینه نهٔ ده چې خدا ے پاک د مور د خېټې په تیرو او پېچلو پردو کښې پېدا کړه؟ تر دې چې یو جنین او بچے یې جوړ کړ بیا تي روے ماشوم شو، بیا لوے او لوے شو تر دې چې په هلکوانۍ (نوجوانۍ) کښې یې ګام کېښودهٔ. بیا یې ورته ساتونکے (فکر کؤنکے) زړهٔ، ویانده ژبه، او رڼې سترګې ورکړې چې په عبرتونو ځان ښه پوه کړي او له بدیو وغړېږي. خو کله یې چې ځواني کمال ته ورسېده او په خپلو پښو اودرېد نو سرغړونه یې شروع کړه او له خدایه یې مخ واړوهٔ،او په غلطو لارو سر او په خواهشاتو کښې غرق شو.او د دنیا د خوندونو لپاره یې ډېرې هڅې وکړې، د دنیا په مزو مست شو او په فکر کښې یې هم نهٔ راتلله چې مصیبت راروان دے. او تقوا او وېره پکار ده. نو ناڅاپه چې د ازمېښت په دغو څو ورځو کښې مست او مغروره وي مرګ یې راونیسي، هغه چې د بدبختیو په زړهٔ کښې څو ورځې اوسېدلے او څه یې چې بایللي په بدل کښې یې څه نه دي ګټلي، او کوم واجبات (فرائض) یې چې پرېښي لا یې قضا نهٔ ده کړې چې د مرګ منګولو راونیوهٔ، اوس یې نو ورځې په حېرت او لالهاندۍ او شپې په اندېښنې او بېدارۍ تېرېږي.

## له مرګه عبرت

ورځې یې په سختیو او دردونو تېرېږي او شپې یې په کړاو او بیماریو،اوس نو د غمخوارو ورڼو،مهربانه پلار په مخکې په کټ پروت دے چې له ډېره غمه چغې او سورې و هي. خو هغه د بیهوشۍ او د مرګ په سکراتو او سلګیو، په دردناکو چغو،سوو څړیکو،د ځنکندن په دردونو، له څورؤنکي انتظار سره لاس او ګریوان دے.تر دې چې سا یې لنډه شي او په ډېرې نهیلۍ او نااميدۍ سره یې په کفن کښې ونغاړي، راپورته یې کړي او په تابوت کښې یې کېږدوي، ستړے ستومانه او کمزورے د آخرت په سفر روان شي. بچیانو ورڼو او خپلوانو په اوږو اخېستے وي او د غربت او پردېسۍ تر منزله یې اورسوي، تر هغه منزله چې له دې وروسته به یې هیڅوک نهویني. او هغه ځاے ته یې وروړاندې کړي چې د وېرې او وحشت ځاے دے. خو کله چې جنازه کؤنکي ستانهٔ شي او مصیبت ځپلي لاړ شي، هغه یوا ځې د قبر په کنده کښې پاتې شي او د حېرانؤنکو پوښتنو،او ښوېدونکي

وَعَـذَابِ السَّـاعَاتِ! إنّـا للهِ وَإنّـا إليـهِ راجعـونَ! إنَّـا بِـالله عائذُونَ!

عبَـادَ الله، [أيْـنَ] الَّـذينَ عُمِّـرُوا فَنعمُـوا، وَعُلِّمُـوا فَفَهمُـوا، وَأُنْظِـرُوا فَلَهَـوْا، وَسُـلِّمُوا فَنَسُـوا؟ أُمْهِلُـوا طَـويلاً، وَمُنِحُـوا جَميلاً، وَحُذِّرُوا أليمـاً، وَوُعِـدُوا جَسِـيماً! احْـذَرُوا الـذُّنُوبَ الْمُوَرِّطَـةَ، وَالْعُيـوبَ الْمُسْـخطَةَ. أُولـي الأَبْصَـارِ والأَسْـمَاعِ، وَالْعَافِيَةِ وَالمتَـاعِ، هَـلْ مِـنْ مَنَـاص أَوْ خَـلاَص، أَوْ مَعَـاذ أَوْ مَلاَذ، أَوْ فـرَار أَوْ مجَـاز أَوْ مَحَـار! أَمْ لاَ؟ فَـأَنَّى تُؤْفَكُـونَ! أَمْ أَيْنَ تُصْرَفُونَ! أَمْ بِمَـاذَا تَغْتَـرُّونَ؟ وَإنَّمَـا حَـظُّ أَحَـدكُمْ مِـنَ الاَرْضِ، ذَاتَ الطُّـولِ وَالْعَـرْضِ، قِيـدُ قَـدِّه، مُتَعَفِّـراً عَلَـى خَدِّهِ! الْآنَ عبَـادَ الله وَالْخنَـاقُ مُهْمَـلٌ، وَالـرُّوحُ مُرْسَـلٌ، فـي فَيْنَةِ الارْشَادِ، وَرَاحَـةِ الاَجْسَـادِ، [وَبَاحَـةِ الاحْتشَـادِ]، وَمَهَـلِ الْبَقِيَّةِ، وَأُنُفِ الْمَشيَّةِ، وَإنْظَـارِ التَّوْبَـةِ، وَانْفسَـاحِ الْحَوْبَـةِ قَبْـلَ الضَّنْكِ وَالْمَضيقِ، وَالـرَّوْعِ وَالزُّهُـوقِ، وَقَبْـلَ قُـدُومِ الْغَائِـبِ الْمُنتَظَرِ، وَإخْذَةِ الْعَزِيزِ الْمُقْتَدِرِ.

امتحان په وړاندې يې له خولې کړنج نهٔ خېژي او دغلته تر ټولو لويه بلا د دزوخ په اور کښې کوزېدل او د دوزخ د لمبو تودوښې او د غړونو يې اورېدل دي چې نهٔ خو يوه شيبه غلي کېږي چې انسان دمه وکړي او نهٔ کوم قرار موجود وي چې د انسان درد کم شي. او نهٔ داسې کوم طاقت وي چې د هغهٔ د سزا مخه اونيسي او نهٔ مرگ وي چې له دغه کړاوه يې خلاص کړي. او نهٔ خوب راځي چې غم او رنځ يې لرې کړي، او له ډول ډول مرگونو او سزاگانو يې اوساتي، خداے پاک ته له دغه حاله پناه وړوو.

## له تېرو خلقو عبرت واخلئ

اے د خداے بندگانو! چرته دي هغه خلق چې خداے پاک ورته اوږدهٔ عمرونه ورکړي وو چې په نعمتونو کښې ژوند وکړي؟ هغوي ته تعليم ورکړے شو او پوه شول، مهلت ورکړے شو خو عمر يې چټي او فضول تېر کړ؟ له آفتونو او بلاگانو يې خبردار او لرې کړل خو دا خبرې يې هېرې کړې، اوږده موده يې مهلت ورکړ، پرېمانه نعمتونه يې ورولورول، له دردوونکي عذابه يې خبردار کړل او د تل پاتې جنت لوې وعدې يې ورکړې. اے خلقو! ډېره وکړئ له هغو گناهانو چې تاسو هلاکوي او له هغو عيبونو چې د خداے سزا په ځان پسې لري. او د غړېدونکو سترگو، اورېدونکو غوږونو او د مال او بچيانو لرونکو! آيا د تېښتې لاره مو شته دے؟ نه بيخي نشته. نو کله به راستنيږئ؟ په کوم لور روان يئ؟ او په څه شي غاوږه يئ؟ حال دا چې تاسو هر يو له ځمکې دومره برخه لرئ څومره مو چې ونه ده. دومره ځاے لرئ لکه يو کس چې پرې ملاست وي. اے د خداے بندگانو! همدا اوس نېکو چارو ته مخه کړئ چې لا مو د مرگ پړے مرۍ ته نهٔ دے لوېدلے او روح مو آزاد دے چې کمالات حاصل کړي او بدنونه مو راحته دي او په داسې حالاتو کښې يئ چې د يو بل مشکلات او ستونځې هوارولې شئ. لا مهلت لرئ، او د فېصلې، توبې او جاروتو مهلت درته شته دے، عمل وکړئ مخکې له دې چې د وحشت وېرې او تباهۍ په سختۍ کښې گېر شئ، مخکې له دې چې مرگ چې په طمعه مو ناست دے دروړسېږي او د خداے وسيال لاس مو راونيسي.

(کله چې امام دا خطبه ورکړه د ناستو کسانو بدنونه ولړزېدل، اوښکې يې روانې شوې او زړونه يې وويرېدل او ځينو کسانو دغه خطبې ته غرا نامه ورکړه)

[ ۸٤ ]

وَمِنْ كَلاَمٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ فِي ذِكْرِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ

عَجَباً لاِبْنِ النَّابِغَةِ! يَزْعُمُ لاَهْـلِ الشَّـامِ أَنَّ فـيَّ دُعَابَـةً، وَأَنِّـي امْرُؤٌ تِلْعَابَةٌ: أُعَافِسُ وَأُمَارِسُ! لَقَـدْ قَـالَ بَـاطلاً، وَنَطَـقَ آثمـاً. أَمَـا ـ وَشَـرُّ الْقَـوْلِ الْكَـذِبُ ـ إنَّـهُ لَيَقُـولُ فَيَكْـذِبُ، وَيَعِـدُ

## ﴿ څلوراتيايمه خطبه ﴾

(د هجرت په اتهٔ دېرشم کال د صفين له جنگه وروسته يې د عمرو عاص د پېژندلو او د هغهٔ د آوازو او پروپېگنډو د ردولو لپاره دا خطبه په کوفه کښې ورکړه)

## د عمروعاص نفسيات

د نابغې[۲۸] د زوے عمرو عاص خبرې ته حېران يم چې د شام خلقو ته وائي چې زهٔ يو ټوکمار او عياش کس يم، او ژوند په لوبو ټوکو تېروم! دهٔ بالکل باطله (غلطه) او د گناه خبره کړې ده، اے خلقو خبر اوسئ! تر ټولو

فَيُخْلِفُ، وَيُسْأَلُ فَيَبْخَلُ، وَيَسْأَلُ فَيُلْحِفُ، وَيَخُونُ الْعَهْدَ، وَيَقْطَعُ الالَّ؛ فَإِذَا كَانَ عِنْدَ الْحَرْبِ فَأَيُّ زَاجِرٍ وَآمِرٍ هُوَ! مَا لَمْ تَأْخُذِ السُّيُوفُ مَآخِذَهَا، فَإِذَا كَانَ ذلِكَ كَانَ أَكْبَرُ مَكِيدَتِهِ أَنْ يَمْنَحَ الْقَوْمَ سَبَّتَهُ. أَمَا وَاللهِ إِنِّي لَيَمْنَعُنِي مِنَ اللَّعِبِ ذِكْرُ الْمَوْتِ، وَإِنَّهُ لَيَمْنَعُهُ مِنْ قَوْلِ الْحَقِّ نِسْيَانُ الآخِرَةِ، إِنَّهُ لَمْ يُبَايِعْ مُعَاوِيَةَ حَتَّى شَرَطَ لَهُ أَنْ يُؤْتِيَهُ أَتِيَّةً، وَيَرْضَخَ لَهُ عَلَى تَرْكِ الدِّينِ رَضِيخَةً.

بده خبره دورغ ویل دي هغه (عمروعاص) چې خبره کوي دروغ وائي او چې وعده وکړي ماتوي يې، غوښتنه کوي او ټينګار پرې کوي خو که څه ورځيني وغواړي شومتوب او بخيلي کوي. له تړون او عهد سره خيانت کوي او د خپلوی تعلق غوځوي. د جنګ له شروع کېدو مخکې د فتنې او شورماشور په جوړولو او امر ونهي کښې مثال نۀ لري تر دې چې خلق تورو ته لاس کړي خو کله چې جنګ شروع او تورې بربنډې شي تر ټولو لوے چل يې دا دے چې خپل ستر (شرم) بربنډ کړي او اوتښتي. ۶۹ اے خلقو خبر اوسئ په خداے قسم د مرګ ياد ما له ټوکو او چټي کارونو غروي. خو د آخرت هېرولو عمرو عاص د حق له خبرې غږولے دے.له معاويه سره يې بيعت و نۀ کړ مګر په دې شرط چې هغه ته به يو څه ورکوي. او د دين د پرېښودلو په بدل کښې هغه ته به يې ورکړي. ۷۰

[ ۸۵ ]

صِفَاتٌ ثَمَانِيَةٌ مِنْ صِفَاتِ الْجَلاَلِ

وَأَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلهَ إِلاَّ اللهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ: الاَوَّلُ لاَ شَيْءَ قَبْلَهُ، وَالاخِرُ لاَ غَايَةَ لَهُ، لاَ تَقَعُ الاَوْهَامُ لَهُ عَلَى صِفَةٍ، وَلاَ تُعْقَدُ الْقُلُوبُ مِنْهُ عَلَى كَيْفِيَّةٍ، وَلاَ تَنَالُهُ التَّجْزِئَةُ وَالتَّبْعِيضُ، وَلاَ تُحِيطُ بِهِ الاَبْصَارُ وَالْقُلُوبُ.

مِنْهَا: فَاتَّعِظُوا عِبَادَ اللهِ بِالعِبَرِ النَّوَافِعِ، وَاعْتَبِرُوا بِالآيِ السَّوَاطِعِ، وَازْدَجِرُوا بِالنُّذُرِ الْبَوَالِغِ، وَانْتَفِعُوا بِالذِّكْرِ وَالْمَوَاعِظِ، فَكَأَنْ قَدْ عَلِقَتْكُمْ مَخَالِبُ الْمَنِيَّةِ، وَانْقَطَعَتْ مِنْكُمْ عَلاَئِقُ الاُمْنِيَّةِ، وَدَهِمَتْكُمْ مُفْظِعَاتُ الاُمُورِ، وَالسِّيَاقَةُ إِلَى الْوِرْدِ الْمَوْرُودِ، وَكُلُّ نَفْسٍ مَعَهَا سَائِقٌ وَشَهِيدٌ: سَائِقٌ يَسُوقُهَا إِلَى مَحْشَرِهَا؛ وَشَاهِدٌ يَشْهَدُ عَلَيْهَا بِعَمَلِهَا.

مِنْهَا فِي صِفَةِ الْجَنَّةِ

دَرَجَاتٌ مُتَفَاضِلاَتٌ، وَمَنَازِلُ مُتَفَاوِتَاتٌ، لاَ يَنْقَطِعُ نَعِيمُهَا، وَلاَ يَظْعَنُ مُقِيمُهَا، وَلاَ يَهْرَمُ خَالِدُهَا، وَلاَ يَبْأَسُ سَاكِنُهَا.

## ﴿ پنځۀ اتيايمه خطبه ﴾

### خداے پېژندنه

او ګواهي ورکوم چې بې له واحده خدايه بل خداے نشته او شريک نۀ لري. داسې اول دے چې مخکې يې څه نۀ وو او داسې آخر دے چې خاتمه نۀ لري. خيالونه د هغۀ صفت نۀ شي کولې او عقلونه يې کيفيت نۀ شي درک کولې. نۀ د هغۀ لپاره جز او نۀ تبعيض شته (نه تقسيمېدونکے کېدې شي او نۀ په برخو وېشل کېدې شي) او نۀ يې سترګې او زړونه د حقيقت احاطه کولې شي.

اے د خداے بندګانو! له ګټورو عبرتونو پند واخلئ او له روښانۀونکو ايتونو سبق. او له هغه څه چې په رسا بيان يې ورځيني وېرولي يئ ډډه وکړئ، او له يادګيرنو او موعظو فائده واخلئ، داسې لکه چې د مرګ منګولې درښخې شوې وي او د هيلو او ارمانونو لړۍ مو شلېدلې وي او د مرګ او د قيامت په لور د تګ د پېل سختيو درباندې يرغل کړے وي. هغه ورځ چې «له هر چا سره يو ګواه او ديکه ورکوُنکے وي» داسې ديکه ورکوُنکے چې د قيامت تر ډګره يې راکاږي. او داسې شاهد چې په عملونو يې ګواهي ورکوي.

(او د دې خطبې يوه بله برخه ده چې فرمايي:) په جنت کښې به تر يو بله لوړې درجې او مختلف منزلونه وي چې نعمتونه يې پاې او خاتمه نۀ لري او اوسېدونکے ترې هيڅکله نۀ وېستل کېږي.د تل پاتې جنت اوسېدونکي به هيڅکله نۀ بوډاګان کېږي او په سختيو به نۀ اخته کېږي.

[ ۸۶ ]

بَيَانُ صِفَاتِ الْحَقِّ جَلَّ جَلاَلُهُ ثُمَّ عِظَةُ النَّاسِ بِالتَّقْوَى وَالْمَشُورَةِ

قَدْ عَلِمَ السَّرَائِرَ، وَخَبَرَ الضَّمَائِرَ، لَهُ الاِحَاطَةُ بِكُلِّ شَيْءٍ، وَالْغَلَبَةُ لِكُلِّ شَيْءٍ، وَالْقُوَّةُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ. فَلْيَعْمَلِ الْعَامِلُ مِنْكُمْ فِي أَيَّامِ مَهَلِهِ، قَبْلَ إِرْهَاقِ أَجَلِهِ، وَفِي فَرَاغِهِ قَبْلَ

## ﴿ شپږاتيايمه خطبه ﴾

خداے پاک په پټو رازونو پوه او د زړۀ له خبرو خبر دے. په هر څه باندې احاطه لري او په هر څه باندې لاسبرے، بريالے او وسيال دے.

په تاسو کښې دې هر کس د خپل ژوند په پاتې ورځو کښې نېک کارونه وکړي مخکې له دې چې مرګ يې راورسېږي، او د فراغت په ورځو کښې دې ځان پاک کړي مخکې له دې چې ناوزګاره شي. او د آزادۍ او ژوند

أَوَانِ شُغُلِه، وَفِي مُتَنَفَّسِه قَبْلَ أَنْ يُؤْخَذَ بِكَظَمِه، وَلْيُمَهِّدْ لِنَفْسِه وَقَدَمِه، وَلْيَتَزَوَّدْ مِنْ دَارِ ظَعْنِه لِدَارِ إِقَامَتِه. فَاللهَ اللهَ أَيُّهَا النَّاسُ، فِيمَا اسْتَحْفَظَكُمْ مِنْ كِتَابِه، وَاسْتَوْدَعَكُمْ مِنْ حُقُوقِه، فَإِنَّ اللهَ سُبْحَانَهُ لَمْ يَخْلُقْكُمْ عَبَثاً، وَلَمْ يَتْرُكْكُمْ سُدًى، وَلَمْ يَدَعْكُمْ فِي جَهَالَةٍ وَلاَ عَمًى، قَدْ سَمَّى آثَارَكُمْ، وَعَلِمَ أَعْمَالَكُمْ، وَكَتَبَ آجَالَكُمْ، وَأَنْزَلَ عَلَيْكُمُ (الْكِتَابَ تِبْيَاناً)، وَعَمَّرَ فِيكُمْ نَبِيَّهُ أَزْمَاناً، حَتَّى أَكْمَلَ لَهُ وَلَكُمْ ـ فِيمَا أَنْزَلَ مِنْ كِتَابِه ـ [دِينَه] الَّذِي رَضِيَ لِنَفْسِه، وَأَنْهَى إِلَيْكُمْ ـ عَلَى لِسَانِه ـ مَحَابَّهُ مِنَ الاَعْمَالِ وَمَكَارِهَهُ، وَنَوَاهِيَهُ وَأَوَامِرَهُ، فَأَلْقَى إِلَيْكُمُ الْمَعْذِرَةَ، وَاتَّخَذَ عَلَيْكُمُ الْحُجَّةَ، وَقَدَّمَ إِلَيْكُمْ بِالْوَعِيدِ، وَأَنْذَرَكُمْ بَيْنَ يَدَيْ عَذَابٍ شَدِيدٍ. فَاسْتَدْرِكُوا بَقِيَّةَ أَيَّامِكُمْ، وَاصْبِرُوا لَهَا أَنْفُسَكُمْ، فَإِنَّهَا قَلِيلٌ فِي كَثِيرِ الاَيَّامِ الَّتِي تَكُونُ مِنْكُمْ فِيهَاالْغَفْلَةُ وَالتَّشَاغُلُ عَنِ الْمَوْعِظَةِ؛ وَلاَ تُرَخِّصُوا لاَنْفُسِكُمْ، فَتَذْهَبَ بِكُمُ الرُّخَصُ مَذَاهِبَ الظَّلَمَةِ، وَلاَ تُدَاهِنُوا فَيَهْجُمَ بِكُمُ الادْهَانُ عَلَى الْمَعْصِيَةِ. عِبَادَ اللهِ، إِنَّ أَنْصَحَ النَّاسِ لِنَفْسِهِ أَطْوَعُهُمْ لِرَبِّهِ، وَإِنَّ أَغَشَّهُمْ لِنَفْسِهِ أَعْصَاهُمْ لِرَبِّهِ؛ وَالْمَغْبُونُ مَنْ غَبَنَ نَفْسَهُ، وَالْمَغْبُوطُ مَنْ سَلِمَ لَهُ دِينُهُ، وَالسَّعِيدُ مَنْ وُعِظَ بِغَيْرِهِ، وَالشَّقِيُّ مَنِ انْخَدَعَ لِهَوَاهُ وَغُرُورِهِ. وَاعْلَمُوا أَنَّ يَسِيرَ الرِّيَاءِ شِرْكٌ، وَمُجَالَسَةَ أَهْلِ الْهَوَى مَنْسَاةٌ لِلاِيمَانِ وَمَحْضَرَةٌ لِلشَّيْطَانِ. جَانِبُوا الْكَذِبَ فَإِنَّهُ مُجَانِبٌ لِلاِيمَانِ، الصَّادِقُ عَلَى شَفَا مَنْجَاةٍ وَكَرَامَةٍ، وَالْكَاذِبُ عَلَى شَرَفِ مَهْوَاةٍ وَمَهَانَةٍ. وَلاَ تَحَاسَدُوا، فَإِنَّ الْحَسَدَ يَأْكُلُ الاِيمَانَ كَمَا تَأْكُلُ النَّارُ الْحَطَبَ، وَلاَ تَبَاغَضُوا فَإِنَّهَا الْحَالِقَةُ، وَاعْلَمُوا أَنَّ الاَمَلَ يُسْهِي الْعَقْلَ، وَيُنْسِي الذِّكْرَ، فَأَكْذِبُوا الاَمَلَ فَإِنَّهُ غُرُورٌ، وَصَاحِبُهُ مَغْرُورٌ.

[ ٨٧ ]

په ورځو کښې دې نيکۍ وکړي مخکې له دې چې مرګ يې له غړۍ راونيسي. نو څرنګه چې روان دے د هغه ځاے لپاره دې تياري وکړي او په دې دنيا کښې دې چې د کوچ ځاے دے د تل پاتې منزل لپاره توښه غونډه کړي. نو اے خلقو! د خداے لپاره ! د خداے لپاره (خيال وساتئ) د قرآن په ساتنه کښې چې له تاسو يې غوښتنه شوې ده او په هغو حقوقو کښې چې درسپارل شوي دي. پوه شئ چې خداے تاسو چټې نه يئ پېدا کړي او په خپله مخه يې نه يئ پرېښي او ګمراه او ړانده يې نه يئ ايله کړي بلکه هغهٔ تاسو ته عملونه درښودلي او تري خبر دے او ستاسو مهال وېش يې ټاکلے دے.«او په تاسو باندې يې داسې کتاب نازل کړے دے چې د هر څه بيانونکے دے» هغه تر يوې مودې په تاسو کښې پېغمبر وساتهٔ چې ستاسو او د هغهٔ لپاره دين بشپړ او کامل کړي او څه چې په قرا ن کښې نازل شوي او خداے پرې رضا کېږي په ځاے راوړئ. او د خپل استازي په ژبه يې ښې او بدې چارې او کړ مکړ په ګوته کړل. او اوامر او نواهي يې وښودل.او په تاسو باندې يې د عذر لاره بنده او غاړه يې درخلاصه کړه. له سزا مخکې يې خبر دار کړئ او له سختو عذابونو يې ووېرولئ. نو پاتې ورځې مو راټينګې کړئ او له بدو چارو ځان وساتئ ځکه چې کومې ورځې مو پاتې دي د هغو ورځو په پرتله ډېرې کمې دي چې تاسو پکښې غفلتونه کړي او له نصيحتونو مو مخ اړولے دے. ځان ته له حده زياته آزادي مه ورکوئ ځکه چې دا چاره مو ظلم ته کاږي او له نفس سره معامله او ورباندې مهرباني مه کوئ ګني ناڅاپه به مو د ګناه ګړنګ ته وغورځوي. اے د خداے بندګانو! په تاسو کښې خپل ځان ته زيات نصيحت کوُنکے هغه کس دے چې د خپل پالونکي (رب) زيات منونکے وي او کوم کس چې ځان زيات غولوي د خداے په نزد تر ټولو زيات ګناهکار دے. حقيقي تاواني هغه انسان دے چې ځان وغولوي او هغه انسان د رشک قابل دے چې دين يې روغ وي.«نېکمرغه هغه کس دے چې د نورو له ژونده عبرت واخلي» او بدمرغه هغه کس دے چې خپل نفس يې تېرباسي. خبر اوسئ! «ريا که هرڅومره لږه هم وي شرک دے» له نفس پالونکو سره ناسته پاسته له انسانه ايمان هېروي او شيطان حاضروي. له دروغو ډډه وکړئ ځکه چې دروغ له ايمانه لرې دي، رښتينے د نجات او عزت په لاره دے او دروغجن د هلاکت او خوارۍ د ګړنګ په غاړه ولاړ دے. حسد مه کوئ ځکه چې حسد ايمان داسې خوري «لکه اور چې لرګي سېزي او له يو بل سره دښمني اوکينه مه کوئ ځکه چې هر څه تباه کوي» پوه شئ چې لوے لوے ارمانونه او آرزوګانې عقل غافلوي او خداے هېروي. ناروا هيلې او ارمانونه دروغ وانګيرئ ځکه چې هيلې غولوُنکې او څښتن يې غولېدونکے دے.

﴿ اوۀ اتيايمه خطبه ﴾

فِي بَيَانِ صِفَاتِ الْمُتَّقِينَ وَصِفَاتِ الْفُسَّاقِ وَالتَّنْبِيهِ إِلَى مَكَانِ الْعِتْرَةِ الطَّيِّبَةِ وَالظَّنِّ الْخَاطِىءِ لِبَعْضِ النَّاسِ:

عِبَادَ اللهِ، إِنَّ مِنْ أَحَبِّ عِبَادِ اللهِ إِلَيْهِ عَبْداً أَعَانَهُ اللهُ عَلَى نَفْسِهِ، فَاسْتَشْعَرَ الْحُزْنَ، وَتَجَلْبَبَ الْخَوْفَ، فَزَهَرَ مِصْبَاحُ الْهُدَى فِي قَلْبِهِ، وَأَعَدَّ الْقِرَى لِيَوْمِهِ النَّازِلِ بِهِ، فَقَرَّبَ عَلَى نَفْسِهِ الْبَعِيدَ، وَهَوَّنَ الشَّدِيدَ، نَظَرَ فَأَبْصَرَ، وَذَكَرَ فَاسْتَكْثَرَ، وَارْتَوَى مِنْ عَذْبٍ فُرَاتٍ سُهِّلَتْ لَهُ مَوَارِدُهُ، فَشَرِبَ نَهَلاً، وَسَلَكَ سَبِيلاً جَدَداً. قَدْ خَلَعَ سَرَابِيلَ الشَّهَوَاتِ، وَتَخَلَّى مِنَ الْهُمُومِ، إِلاَّ هَمّاً وَاحِداً انْفَرَدَ بِهِ، فَخَرَجَ مِنْ صِفَةِ الْعَمَى، وَمُشَارَكَةِ أَهْلِ الْهَوَى، وَصَارَ مِنْ مَفَاتِيحِ أَبْوَابِ الْهُدَى، وَمَغَالِيقِ أَبْوَابِ الرَّدَى. قَدْ أَبْصَرَ طَرِيقَهُ، وَسَلَكَ سَبِيلَهُ، وَعَرَفَ مَنَارَهُ، وَقَطَعَ غِمَارَهُ، وَاسْتَمْسَكَ مِنَ الْعُرَى بِأَوْثَقِهَا، وَمِنَ الْحِبَالِ بِأَمْتَنِهَا، فَهُوَ مِنَ الْيَقِينِ عَلَى مِثْلِ ضَوْءِ الشَّمْسِ، قَدْ نَصَبَ نَفْسَهُ للهِ ـ سُبْحَانَهُ ـ فِي أَرْفَعِ الأُمُورِ، مِنْ إِصْدَارِ كُلِّ وَارِدٍ عَلَيْهِ، وَتَصْيِيرِ كُلِّ فَرْعٍ إِلَى أَصْلِهِ.مِصْبَاحُ ظُلُمَاتٍ، كَشَّافُ عَشَوَاتٍ، مِفْتَاحُ مُبْهَمَاتٍ، دَفَّاعُ مُعْضِلاَتٍ، دَلِيلُ فَلَوَاتٍ، يَقُولُ فَيُفْهِمُ، وَيَسْكُتُ فَيَسْلَمُ. قَدْ أَخْلَصَ للهِ فَاسْتَخْلَصَهُ، فَهُوَ مِنْ مَعَادِنِ دِينِهِ، وَأَوْتَادِ أَرْضِهِ. قَدْ أَلْزَمَ نَفْسَهُ الْعَدْلَ، فَكَانَ أَوَّلَ عَدْلِهِ نَفْيُ الْهَوَى عَنْ نَفْسِهِ، يَصِفُ الْحَقَّ وَيَعْمَلُ بِهِ، لاَ يَدَعُ لِلْخَيْرِ غَايَةً إِلاَّ أَمَّهَا، وَلاَ مَظِنَّةً إِلاَّ قَصَدَهَا، قَدْ أَمْكَنَ الْكِتَابَ مِنْ زِمَامِهِ، فَهُوَ قَائِدُهُ وَإِمَامُهُ، يَحُلُّ حَيْثُ حَلَّ ثَقَلُهُ، وَيَنْزِلُ حَيْثُ كَانَ مَنْزِلُهُ.

صِفَاتُ الْفُسَّاقِ

وَآخَرُ قَدْ تَسَمَّى عَالِماً وَلَيْسَ بِهِ، فَاقْتَبَسَ جَهَائِلَ مِنْ جُهَّالٍ وَأَضَالِيلَ مِنْ ضُلاَّلٍ، وَنَصَبَ لِلنَّاسِ أَشْرَاكاً مِنْ حَبَائِلِ غُرُورٍ، وَقَوْلِ زُورٍ، قَدْ حَمَلَ الْكِتَابَ عَلَى آرَائِهِ، وَعَطَفَ الْحَقَّ عَلَى أَهْوَائِهِ، يُؤْمِنُ مِنَ الْعَظَائِمِ، وَيُهَوِّنُ كَبِيرَ الْجَرَائِمِ، يَقُولُ: أَقِفُ عِنْدَ الشُّبُهَاتِ، وَفِيهَا وَقَعَ، وَيَقُولُ: أَعْتَزِلُ الْبِدَعَ، وَبَيْنَهَا اضْطَجَعَ،

(ځينې کسان وائي چې دا خطبه يې په کوفه کښې ورکړې ده)

### د خداے پاک بنۀ بنده

اے د خداے بندګانو! په خداے پاک باندې تر ټولو ګران بنده هغه کس دے چې د نفس په مقابله کښې ورسره خداے مرسته کړې وي. هغه کس چې غم او خفګان يې شعار او د خداے ويره يې روزګار وي. د هدايت څراغ يې په زړۀ کښې بل شوے وي او د روزۍ وسائل يې برابر شوي وي او سختۍ يې په ځان نزدې او آسانې کړې وي. د دنيا حقيقتونه يې د زړۀ په سترګو ليدلي وي، تل د خداے په ياد کښې وي او نېک عملونه يې پرېمانه وي. د حق له رڼې چينې خړوب شوے وي هغه چينه چې په آسانه وروړسېدۀ اوبۀ يې ترې اوڅښلي او خړوب شو. او په نېغه لاره کښې يې ګام اېښے وي.د شهوتونو جامه يې له تنه ايسته کړې وي او ځان يې بې له يوۀ غمه له ټولو غمونو خلاص کړې وي. هغه کس چې د تور زړو له ليکې او د هوا پرستو له ډلې ووتۀ او د هدايت د ورونو کنجي او د ګمراهۍ او خوارۍ د ورونو جرنده شو.د هدايت لاره يې د زړۀ په سترګو اوليده او ورباندې لاړ د هغې نښې نښانې يې اوپېژندې او د شهوتونو له سرکښو څپو واوړېدۀ. هغه کس چې تر ټولو کلک لاسوند او مضبوط پړې يې ونيوۀ، او يقين او حقيقت ته داسې ورسېد چې تۀ به وائې د هدايت نمر ورباندې وخلېد. ځان يې خداے پاک ته داسې تسليم کړ چې د هغۀ هر امر ترسره کوي او هره څانګه يې اصل ته ګرځوي. د تيرو څراغ، د تورتمونو رڼا ،د بندو تمبو کنجي،د سختيو هوارؤنکے او د لالهاندۍ په دښتو کښې د بې لارو راهنما دے.کله چې خبره کوي سړے ښۀ پوهوي او چې غلے وي په سلامتيا سره تېرېږي خپل عمل يې د خداے پاک لپاره خالص کړے او خداے پاک يې عمل قبول کړے دے (نو د دغو صفاتو په برکت) د خداے پاک د دين خزانه او د ځمکې ستن ده. په ځان يې عدل و انصاف فرض کړے او د دغه عدل و انصاف پېل دا دے چې نفساني خواهشات يې له زړۀ وېستلي دي. حق نورو ته ورپېژني او په خپله په حق عمل کوي داسې د خير کار نيشته چې دۀ پرې قيام نۀ وي کړے او هر چرته چې يې د خېرګمان کړے دے اقدام يې کړے دے. خپل اختيار يې قرآن ته سپارلے او قرآن يې خپل لارښود ټاکلے دے. چرته چې قرآن پړاؤ کړے دے هم هلته کوزېږي او چرته چې قرآن منزل کړے دے دي هم هلته استوګنه کوي.

### د خداے پاک بد بنده

او دويم بنده هغه دے چې خلق ورته عالم وائي خو له علمه بې برخې او ناپوهه دے. له ناپوهانو يې ناپوهي او له ګمراهانو يې ګمراهي زده کړې او دغه خبرې يې سره غرلې او د خلقو په لاره کښې يې د دروغو او کبر دامونه اېښي دي. د قرآن تفسير په خپله رايه کوي اوحق په خپله خوښه تشريحوي.خلقو ته له لويو لويو ګناهونو څخه ډاډ او خوندېتوب ورکوي او لوے جرمونه واړۀ وربرېښنوي. ادعا کوي چې له شبهاتو ځان ساتي

فَالصُّورَةُ صُورَةُ إِنْسَان، وَالْقَلْبُ قَلْبُ حَيَوَان، لاَ يَعْرِفُ بَابَ الْهُدَى فَيَتَّبِعَهُ، وَلاَ بَابَ الْعَمَى فَيَصُدَّ عَنْهُ، فَذلِكَ مَيِّتُ الاَحْيَاءِ!

عِتْرَةُ النَّبِيِّ

فَأَيْنَ تَذْهَبُونَ؟ وَأَنَّى تُؤْفَكُونَ! وَالاَعْلاَمُ قَائِمَةٌ، وَالآيَاتُ وَاضِحَةٌ، وَالْمَنَارُ مَنْصُوبَةٌ، فَأَيْنَ يُتَاهُ بِكُمْ؟ بَلْ كَيْفَ تَعْمَهُونَ وَبَيْنَكُمْ عِتْرَةُ نَبِيِّكُمْ؟ وَهُمْ أَزِمَّةُ الْحَقِّ، وَأَلْسِنَةُ الصِّدْقِ! فَأَنْزِلُوهُمْ بِأَحْسَنِ مَنَازِلِ الْقُرْآنِ، وَرِدُوهُمْ وُرُودَ الْهِيمِ الْعِطَاشِ. أَيُّهَا النَّاسُ، خُذُوهَا عَنْ خَاتَمِ النَّبِيِّينَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وآله: إِنَّهُ يَمُوتُ مَنْ مَاتَ مِنَّا وَلَيْسَ بِمَيِّت، وَيَبْلَى مَنْ بَلِيَ مِنَّا وَلَيْسَ بِبَال»، فَلاَ تَقُولُوا بِمَا لاَتَعْرِفُونَ، فَإِنَّ أَكْثَرَ الْحَقِّ فِيمَا تُنْكِرُونَ، وَاعْذِرُوا مَنْ لاَ حُجَّةَ لَكُمْ عَلَيْهِ ـ وَأَنَا هُوَ ـ أَلَمْ أَعْمَلْ فِيكُمْ بِالثَّقَلِ الاَكْبَرِ! وَأَتْرُكْ فِيكُمُ الثَّقَلَ الاَصْغَرَ! وَرَكَزْتُ فِيكُمْ رَايَةَ الاِيمَانِ، وَوَقَفْتُكُمْ عَلَى حُدُودِ الْحَلاَلِ وَالْحَرَامِ، وَأَلْبَسْتُكُمُ الْعَافِيَةَ مِنْ عَدْلِي، وَفَرَشْتُكُمُ الْمَعْرُوفَ مِنْ قَوْلِي وَفِعْلِي، وَأَرَيْتُكُمْ كَرَائِمَ الأخْلاَقِ مِنْ نَفْسِي؟ فَلاَ تَسْتَعْمِلُوا الرَّأْيَ فِيمَا لاَ يُدْرِكُ قَعْرَهُ الْبَصَرُ، وَلاَ تَتَغَلْغَلُ إِلَيْهِ الْفِكَرُ.

مِنْهَا: حَتَّى يَظُنَّ الظَّانُّ أَنَّ الدُّنْيَا مَعْقُولَةٌ عَلَى بَنِي أُمَيَّةَ، تَمْنَحُهُمْ دَرَّهَا، وَتُورِدُهُمْ صَفْوَهَا، وَلاَ يُرْفَعُ عَنْ هذِهِ الاُمَّةِ سَوْطُهَا وَلاَ سَيْفُهَا، وَكَذَبَ الظَّانُّ لِذلِكَ. بَلْ هِيَ مَجَّةٌ مِنْ لَذِيذِ الْعَيْشِ يَتَطَعَّمُونَهَا بُرْهَةً، ثُمَّ يَلْفِظُونَهَا جُمْلَةً!

خو په شبهاتو او مشکوکو چارو کښې لامبوزن دے. وائي چې: له بدعته بچ یم خو په بدعتونو کښې غرق دے. مخ يې د انسان او زړۀ يې د حيوان دے. د هدايت لاره نۀ پېژني چې لاړ شي پرې او د باطل او خطا په لاره نۀ پوهېږي چې ځان ترې وساتي، نو د داسې کس مثال په ژوندو کښې د مړي دے.

**د پېغمبراکرمﷺ د عترت او د رښتينو امامانو عليهم السلام پېژندنه**

اے خلقو! چرته روان يئ؟ ولې له حقه غړېږئ؟ د حق بېرغونه رپول شوي او نښې نښانې يې ښکاره دي، او سره له دې چې د هدايت څراغونو لاره روښانه کړې ده د ګمراهانو په شان چرته روان يئ؟ ولې سرګردانه يئ؟ حال دا چې د پېغمبراکرمﷺ عترت په تاسو کښې موجود دي. هغوي د حق او يقين په لاره بوتلونکي، د دين پېشوايان، د صداقت ژبې او رښتوني دي. نو بايد د قرآن په غوره منازلو کښې ځاے ورکړئ او د تږو په شان چې اوبو ته ورځغلي په هغوي ورمات شئ. اے خلقو دا حقيقت له خاتم النبيينﷺ زده کړئ چې وې فرمايل: «په مونږ اهلبيتو کښې چې څوک مړ شي هغه مړ نۀ دے او په مونږ کښې نۀ څوک زړېږي او نۀ ورستيږي» په څه چې نه پوهېږئ مه يې وائئ، ځکه چې ډېر حقائق په هغو خبرو کښې پټ دي چې تاسو يې له ناپوهۍ انکار کوئ.

**د امام علي عليه السلام ځانګړتيا (خصوصيت)**

اے خلقو! له هغه کس عذر وغواړئ چې په خلاف يې هيڅ عذر نه لرئ او هغه کس زۀ يم. ايا ما په تاسو کښې د ثقل اکبر په اساس «چې قرآن دے» عمل ونۀ کړ؟ او په تاسو کښې مې ثقل اصغر«د پېغمبرﷺ عترت» پرې نۀ ښود؟ آيا په تاسو کښې مې د ايمان بېرغ ونۀ رپوۀ او د حلالو او حرامو له پولو مې خبر نه کړئ؟ آيا په عدل او انصاف سره مې د سلامتيا قميص دروانۀ غوستۀ؟ نو په هغه ځاے کښې چې د زړۀ سترګې يې تل نۀ ويني او ستاسو د فکر نيلي پکښې کار نۀ کوي د خپل وهم او ګمان په اساس فېصله مه کوئ

**(د همدغه خطبې يوه برخه ده)**

تر دې چې په تاسو کښې ځينې کسان خيال کوي چې بخت او دنيا بني اميو ته مخ اړولے دے. او هر څه يې هغوي ته ورکړي دي او هغوي يې له خپلې چينې خړوب کړي دي. او د هغوي متروکې او تورې به د دې امت له سره لرې نۀ شي (يعني بني اميه به همېشه پاتې وي) څوک چې داسې فکر کوي په غلطه دي، ځکه چې له خوندور ژونده د بني اميو ونډه يواځې د يو ګوټ په اندزه ده، يوه موده به دنيا وروي خو بيا به يې بهر راواچوي.

[ ۸۸ ]

وَمِنْ خُطْبَةٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ وَفِيهَا بَيَانٌ لِلأَسْبَابِ الَّتِي تُهْلِكُ النَّاسَ

## ﴿اتۀ اتيايمه خطبه﴾

(ځينې کسان وائي چې دا خطبه يې په مدينه منوره کښې د حضرت عثمان له وژل کېدو وروسته د هجرت په شپږ دېرشم کال ورکړې ده)

**د انسان د تباهۍ لاملونه او اسباب**

أَمَّا بَعْدُ، فَإِنَّ اللهَ سُبْحانَهُ لَمْ يَقْصِمْ جَبَّارِي دَهْرٍ قَطُّ إِلاَّ بَعْدَ تَمْهِيلٍ وَرَخَاءٍ، وَلَمْ يَجْبُرْ عَظْمَ أَحَدٍ مِنَ الاُمَمِ إِلاَّ بَعْدَ أَزْلٍ وَبَلاَءٍ، وَفِي دُونِ مَا اسْتَقْبَلْتُمْ مِنْ خَطْبٍ وَاسْتَدْبَرْتُمْ مِنْ خَطْبٍ مُعْتَبَرٌ! وَمَا كُلُّ ذِي قَلْبٍ بِلَبِيبٍ، وَلاَ كُلُّ ذِي سَمْعٍ بِسَمِيعٍ، وَلاَ كُلُّ ذِي نَاظِرٍ بِبَصِيرٍ. فَيَا عَجَباً! وَمَا لِيَ لاَ أَعْجَبُ مِنْ خَطَإِ هذِهِ الْفِرَقِ عَلَى اخْتِلاَفِ حُجَجِهَا فِي دِينِهَا! لاَ يَقْتَصُّونَ أَثَرَ نَبِيٍّ، وَلاَ يَقْتَدُونَ بِعَمَلِ وَصِيٍّ، وَلاَ يُؤْمِنُونَ بِغَيْبٍ، وَلاَ يَعِفُّونَ عَنْ عَيْبٍ، يَعْمَلُونَ فِي الشُّبُهَاتِ، وَيَسِيرُونَ فِي الشَّهَوَاتِ، الْمَعْرُوفُ فِيهِمْ مَا عَرَفُوا، وَالْمُنْكَرُ عِنْدَهُمْ مَا أَنْكَرُوا، مَفْزَعُهُمْ فِي الْمُعْضِلاَتِ إِلَى أَنْفُسِهِمْ، وَتَعْوِيلُهُمْ فِي الْمُبْهِمَاتِ عَلَى آرَائِهِمْ، كَأَنَّ كُلَّ امْرِىءٍ مِنْهُمْ إِمَامُ نَفْسِهِ، قَدْ أَخَذَ مِنْهَا فِيمَا يَرَى بِعُرىً ثِقَاتٍ، وَأَسْبَابٍ مُحْكَمَاتٍ.

[ ٨٩ ]

فِي الرَّسُولِ الأَعْظَمِ وَبَلاَغِ الإِمَامِ عَنْهُ

أَرْسَلَهُ عَلَى حِينِ فَتْرَةٍ مِنَ الرُّسُلِ، وَطُولِ هَجْعَةٍ مِنَ الاُمَمِ، وَاعْتِزَامٍ مِنَ الْفِتَنِ، وَانْتِشَارٍ مِنَ الاُمُورِ، وَتَلَظٍّ مِنَ الْحُرُوبِ، وَالدُّنْيَا كَاسِفَةُ النُّورِ، ظَاهِرَةُ الْغُرُورِ، عَلَى حِينِ اصْفِرَارٍ مِنْ وَرَقِهَا، وَإِيَاسٍ مِنْ ثَمَرِهَا، وَاغْوِرَارٍ مِنْ مَائِهَا، قَدْ دَرَسَتْ أَعْلاَمُ الْهُدَى، وَظَهَرَتْ أَعْلاَمُ الرَّدَى، فَهِيَ مُتَجَهِّمَةٌ لاِهْلِهَا، عَابِسَةٌ فِي وَجْهِ طَالِبِهَا، ثَمَرُهَا الْفِتْنَةُ، وَطَعَامُهَا الْجِيفَةُ، وَشِعَارُهَا الْخَوْفُ، وَدِثَارُهَا السَّيْفُ. فَاعْتَبِرُوا عِبَادَ اللهِ، وَاذْكُرُوا تِيكَ الَّتِي آبَاؤُكُمْ وَإِخْوَانُكُمْ بِهَا مُرْتَهَنُونَ، وَعَلَيْهَا مُحَاسَبُونَ. وَلَعَمْرِي مَا تَقَادَمَتْ بِكُمْ وَلاَ بِهِمُ الْعُهُودُ وَلاَ خَلَتْ فِيمَا بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمُ الاَحْقَابُ وَالْقُرُونُ وَمَا أَنْتُمُ الْيَوْمَ مِنْ يَوْمَ كُنْتُمْ فِي أَصْلاَبِهِمْ بِبَعِيدٍ. وَاللهِ مَا أَسْمَعَكُمُ الرَّسُولُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ شَيْئاً إِلاَّ وَهَا أَنَا ذَا الْيَوْمَ مُسْمِعُكُمُوهُ، وَمَا أَسْمَاعُكُمُ الْيَوْمَ بِدُونِ أَسْمَاعِكُمْ بِالاَمْسِ، وَلاَ شُقَّتْ لَهُمُ الاَبْصَارُ، وَجُعِلَتْ لَهُمُ الاَفْئِدَةُ فِي ذلِكَ الاَوَانِ، إِلاَّ وَقَدْ أُعْطِيتُمْ مِثْلَهَا فِي هذَا الزَّمَانِ. وَوَاللهِ مَا بُصِّرْتُمْ بَعْدَهُمْ شَيْئاً

له ثنا او صفته وروسته! خدای تعالی هیڅکله د نړۍ زورواکان نه دي ځپلي مگر دا چې اول یې پرېمانه نعمتونه او مهلتونه ورکړي دي، او هیڅکله یې د یو ولس مات هډ نه دی جوړ کړی مگر د خلقو له ازمېښتونو او د سختیو له زغملو وروسته! کومې سختۍ چې درمخکې دي او کومې ستونځې مو چې شاته پرېښودې پکښې پرېمانه عبرتونه پراته دي. نۀ داسې ده چې هر صاحبدل هوښیار وي او نۀ هر غوږ لرونکی اورېدونکی او نۀ هر سترگور بینا دی. حېران یم! او ولې به حېران نۀ یم؟ د خورو ورو ډلو له خطاگانو چې هر یو یې د خپل مذهب لپاره دلیل هم لري! نۀ د پېغمبر ﷺ په پلۀ پل ږدي او نۀ یې د ځای ناستي او جانشین خبره مني. نۀ په غیبو ایمان راوړي او نۀ ځان له غیبو ډډې ته کوي. په شبهاتو عمل کوي او د شهوتونو په جبو کښې ښکیل دي. کوم کار چې کوي هغه نېکي گڼي او د څه چې منکر دي هغۀ ته بد وائي. د ستونځو په هواري کښې ځانته پناه وړي او په مبهماتو او نامعلومو چارو کښې یواځې په خپله رایه تکیه لري. تۀ به وائې هر یو د ځان امام او رهبر دی چې کلک لاسونوندنه او پیاوړي اسباب یې چې دوي پرې په خپله باور لري راټینگ کړي دي.

## ﴿ نهۀ اتیایمه خطبه ﴾

(د ځینو شارحانو په وېنا دا خطبه په کوفه کښې ورکړل شوې ده)

### د پېغمبر اکرم ﷺ د بعثت د وخت حالات

خدای تعالی رسول الله مبارک ﷺ هغه وخت په پېغمبرۍ وگمارۀ چې د تېرو پېغمبرانو له بعثته ډېره موده اوښتې وه او اولسونه په ژور خوب اودۀ وو. په نړۍ فساد او بدې چارې واکمنې وې او د جنگ لمنه هر ځای ته غزېدلې وه. دنیا بې نوره او له مکر وفریبه ډکه وه. د ژوند د ونې پاڼې زیړې شوې او میوه یې مړاوې شوې وه. د آب حیات چینه اوچه شوې وه او د هدایت نښې ورستې او ورانې شوې وې. د هلاکت او گمراهۍ بېرغونه ښکاره شوي وو او دنیا خلقو ته تندی تریو کړی ؤ. او په ټولې شوې ټندې یې نړیوالو ته کتل. د جاهلیت په وخت کښې د دنیا میوه فتنه او خواړۀ یې مرداره وه. باطن یې ویره او وحشت او ظاهر یې د ظالمو حکومتونو توري وې. ای د خدای بندگانو! عبرت واخلئ او د جاهلیت په وخت د خپل پلار نیکونو ژوند مه هېروئ. هغوي چې له دنیا لاړل او په خپلو عملونو پړ وو او د هغو حساب به ورسره کېږي. په خپل ځان مې قسم! ستاسو او د هغوي په مېنځ کښې د ژوند او مرگ او د خدای پاک له عذابه د ژغورنې هیڅ ترون نشته. او لا خو ډېره موده نۀ ده تېره، او د پلار نیکونو له تېرېدو مو لا څه خاص وخت نۀ دی تېر. ٧١ په خدای قسم! د خدای پاک استازي ﷺ چې هغوي ته څه ویلي وو زۀ درته هماغه څه وایم. او نن ستاسو غوږونه تر هغوي کم نۀ دي هماغه سترگې او غوږونه چې خدای پاک هغوي ته ورکړي وو تاسو ته یې هم درکړي دي. په خدای قسم! تاسو له هغوي وروسته داسې څه نه دي

جَهْلُوهُ، وَلاَ أُصْفِيتُمْ بِهِ وَحُرِمُوهُ، وَلَقَدْ نَزَلَتْ بِكُمُ الْبَلِيَّةُ جَائِلاً خِطَامُهَا، رِخْواً بِطَانُهَا، فَلاَ يَغُرَّنَّكُمْ مَا أَصْبَحَ فِيهِ أَهْلُ الْغُرُورِ، فَإِنَّمَا هُوَ ظِلٌّ مَمْدُودٌ، إِلَى أَجَلٍ مَعْدُودٍ.

ليدلي چې هغوي نهٔ پيژندل او داسې څه نهٔ دي درکړل شوي چې هغوي ته نهٔ وو ورکړل شوي. ډېرو سختو پېښو درمخه کړې ده د هغه اوښ په شان چې پيزوان يې شليدلے او تانگ يې سست شوے وي او سپرلي پرې سخته وي. پام چې هغه څه مو ونهٔ غولوي چې دنيا پرسته يې وغولول، ځکه چې دنيا د اوږدهٔ سيوري ( لومه) ده چې تر مرگه پورې به پکښې انسان نښتے وي.

[ ٩٠ ]

بَعْضُ الصِّفَاتِ الإِلٰهِيَّة

[الْحَمْدُ للهِ] الْمَعْرُوفِ مِنْ غَيْرِ رُؤْيَةٍ، الْخَالِقِ مِنْ غَيْرِ رَوِيَّةٍ، الَّذِي لَمْ يَزَلْ قَائِماً دَائِماً؛ إِذْ لاَ سَمَاءٌ ذَاتُ أَبْرَاجٍ، وَلاَ حُجُبٌ ذَاتُ إِرْتَاجٍ، وَلاَ لَيْلٌ دَاجٍ، وَلاَ بَحْرٌ سَاجٍ، وَلاَ جَبَلٌ ذُو فِجَاجٍ، وَلاَ فَجٌّ ذُو اعْوِجَاجٍ، وَلاَ أَرْضٌ ذَاتُ مِهَادٍ، وَلاَ خَلْقٌ ذُو اعْتِمَادٍ: ذٰلِكَ مُبْتَدِعُ الْخَلْقِ وَوَارِثُهُ، وَإِلٰهُ الْخَلْقِ وَرَازِقُهُ، وَالشَّمْسُ وَالْقَمَرُ دَائِبَانِ فِي مَرْضَاتِهِ: يُبْلِيَانِ كُلَّ جَدِيدٍ، وَيُقَرِّبَانِ كُلَّ بَعِيدٍ. قَسَمَ أَرْزَاقَهُمْ، وَأَحْصَى آثَارَهُمْ وَأَعْمَالَهُمْ، وَعَدَدَ أَنْفَاسِهِمْ، وَخَائِنَةَ أَعْيُنِهِمْ وَمَا تُخْفِي صُدُورُهُمْ مِنَ الضَّمِيرِ، وَمُسْتَقَرَّهُمْ وَمُسْتَوْدَعَهُمْ مِنَ الأَرْحَامِ وَالظُّهُورِ، إِلَى أَنْ تَتَنَاهَى بِهِمُ الْغَايَاتُ. هُوَ الَّذِي اشْتَدَّتْ نِقْمَتُهُ عَلَى أَعْدَائِهِ فِي سَعَةِ رَحْمَتِهِ، وَاتَّسَعَتْ رَحْمَتُهُ لأَوْلِيَائِهِ فِي شِدَّةِ نِقْمَتِهِ، قَاهِرُ مَنْ عَازَّهُ، وَمُدَمِّرُ مَنْ شَاقَّهُ، وَمُذِلُّ مَنْ نَاوَاهُ، وَغَالِبُ مَنْ عَادَاهُ. مَنْ تَوَكَّلَ عَلَيْهِ كَفَاهُ، وَمَنْ سَأَلَهُ أَعْطَاهُ، وَمَنْ أَقْرَضَهُ قَضَاهُ، وَمَنْ شَكَرَهُ جَزَاهُ. عِبَادَ اللهِ، زِنُوا أَنْفُسَكُمْ مِنْ قَبْلِ أَنْ تُوزَنُوا، وَحَاسِبُوهَا مِنْ قَبْلِ أَنْ تُحَاسَبُوا، وَتَنَفَّسُوا قَبْلَ ضِيقِ الْخِنَاقِ، وَانْقَادُوا قَبْلَ عُنْفِ السِّيَاقِ، وَاعْلَمُوا أَنَّهُ مَنْ لَمْ يُعَنْ عَلَى نَفْسِهِ حَتَّى يَكُونَ لَهُ مِنْهَا وَاعِظٌ وَزَاجِرٌ، لَمْ يَكُنْ لَهُ مِنْ غَيْرِهَا زَاجِرٌ وَلاَ وَاعِظٌ.

## ﴿ نوي يمه خطبه ﴾

### خداے پاک پيژندنه

د هغه خداے شکر کوو چې بې له دې چې وليدل شي پيژندل شوے او بې له دې چې د فکر نيلي وځغلوي خالق دے. هغه خداے چې تل ؤ او تر ابده به وي. هغه وخت چې نهٔ خو د برجونو آسمان ؤ او نهٔ د پربوتو پردو څه درک ؤ، نهٔ تياره شپه وه او نهٔ قرار درياب، نهٔ د پرانېستو لارو غرونه وو او نهٔ کږليچه درې، نهٔ پراخه ځمکه وه او نهٔ ويږ شوے مخلوق. هغه خداے چې د مخلوقاتو پنځگر او وارث دے. د هغوي پالونکے او رازق دے. نمر او سپوږمۍ د هغهٔ په خوښه تاوېږي چې هر نوے زړوي او هر لرے نژدے کوي. هغه ذات د مخلوقاتو رزق ويشلے او په کړو او چارو باندې يې ولکه لري. هم يې په ترڅ له کتلو خبر دے او هم يې د سينو له رازونو، هم يې د مېندو په خېټو او د پلرونو په ملاگانو کښې له مقام او ځايه، د زوکړې له ورځې واخله تر د ژوند او مرگه پورې. خداے هغه ذات دے چې له خپل پراخ رحمت سره سره په دښمنانو سخت دے او له خپلې سختۍ سره سره په دوستانو مهربانه، څوک يې چې مقابلې ته پاڅي پرځوي يې او څوک يې چې دښمني وکړي هلاکوي يې. څوک چې له خداے سره ترېگني وکړي په بده ورځ يې اړوي، او په دښمنانو برېال دے. څوک چې پرې توکل وکړي هم هغه ورته بس دے او څوک چې ترې څه وغواړي ورکوي يې. څوک چې د خداے پاک لپاره نيستمنو او حاجتمنو ته پور ورکړي خداے يې پور ورپړې کوي او څوک يې چې مننه وکړي بدله يې ورکوي. اے د خداے بندگانو! ځانونه اوتلئ (وسنجوئ) مخکې له دې چې اوتللې شئ او ځانونه محاسبه کړئ مخکې له دې چې حساب کتاب درسره اوشي. او ساه واخلئ مخکې له دې چې مرۍ مو تنگه شي. او فرمانبردار شئ مخکې له دې چې اطاعت ته مو اړباسي. پوه شئ چې څوک د ځان مرسته ونهٔ کړي او ځان ته نصيحت او خبردارے ورنهٔ کړي هيڅوک به هغه ته نصحيت ونهٔ کړي او خبردارے به ورنه کړي.

[ ٩١ ]

وَمِنْ خُطْبَةٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ تُعْرَفُ بِخُطْبَةِ الأَشْبَاحِ، وَهِيَ مِنْ جَلاَئِلِ الْخُطَبِ

رَوَى مَسْعَدَةُ بْنُ صَدَقَةَ عَنِ الصَّادِقِ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ عَلَيْهِمَا السَّلاَمُ أَنَّهُ قَالَ:

## ﴿ يو نوي يمه خطبه ﴾

«دې خطبې ته خطبه اشباح هم وائي»

(مسعده بن صدقه وائي چې امام عليؑ دا خطبه هغه وخت ورکړه چې د کوفې په جومات کښې يو کس له امامه وغوښتل چې د خداے پاک

خَطَبَ أَمِيرُ الْمُؤْمِنِينَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ وَالصَّلاَةُ بِهذِهِ الْخُطْبَةِ عَلَى مِنْبَرِ الْكُوفَةِ، وَذلِكَ أَنَّ رَجُلاً أَتَاهُ فَقَالَ لَهُ: يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ! صِفْ لَنَا رَبَّنَا لِنَزْدَادَ لَهُ حُبّاً وَبِهِ مَعْرِفَةً. فَغَضِبَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ وَنَادَى الصَّلاَةَ جَامِعَةً، فَاجْتَمَعَ النَّاسُ حَتَّى غَصَّ الْمَسْجِدُ بِأَهْلِهِ. فَصَعِدَ الْمِنْبَرَ وَهُوَ مُغْضَبٌ مُتَغَيِّرُ اللَّوْنِ، فَحَمِدَ اللهَ سُبْحَانَهُ وَصَلَّى عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ، ثُمَّ قَالَ:

**الْحَمْدُ للهِ الَّذِي لاَ يَفِرُهُ الْمَنْعُ وَالْجُمُودُ، وَلاَ يُكْدِيهِ الاِعْطَاءُ وَالْجُودُ؛ إِذْ كُلُّ مُعْطٍ مُنْتَقِصٌ سِوَاهُ، وَكُلُّ مَانِعٍ مَذْمُومٌ مَا خَلاَهُ، وَهُوَ الْمَنَّانُ بِفَوَائِدِ النِّعَمِ، وَعَوَائِدِ الْمَزِيدِ وَالْقِسَمِ، عِيَالُهُ الْخَلاَئِقُ، ضَمِنَ أَرْزَاقَهُمْ، وَقَدَّرَ أَقْوَاتَهُمْ، وَنَهَجَ سَبِيلَ الرَّاغِبِينَ إِلَيْهِ، وَالطَّالِبِينَ مَا لَدَيْهِ، وَلَيْسَ بِمَا سُئِلَ بِأَجْوَدَ مِنْهُ بِمَا لَمْ يُسْأَلْ.الاَوَّلُ الَّذِي لَمْ يَكُنْ لَهُ قَبْلٌ فَيَكُونَ شَيْءٌ قَبْلَهُ، وَالاْخِرُ الَّذِي لَيْسَ لَهُ بَعْدٌ فَيَكُونَ شَيْءٌ بَعْدَهُ، وَالرَّادِعُ أَنَاسِيَّ الاْبْصَارِ عَنْ أَنْ تَنَالَهُ أَوْ تُدْرِكَهُ، مَا اخْتَلَفَ عَلَيْهِ دَهْرٌ فَيَخْتَلِفَ مِنْهُ الْحَالُ، وَلاَ كَانَ فِي مَكَانٍ فَيَجُوزَ عَلَيْهِ الانْتِقَالُ، وَلَوْ وَهَبَ مَاتَنَفَّسَتْ عَنْهُ مَعَادِنُ الْجِبَالِ، وَضَحِكَتْ عَنْهُ أَصْدَافُ الْبِحَارِ، مِنْ فِلِزِّ اللُّجَيْنِ وَالْعِقْيَانِ، وَنُثَارَةِ الدُّرِّ وَحَصِيدِ الْمَرْجَانِ، مَا أَثَّرَ ذلِكَ فِي جُودِهِ، وَلاَ أَنْفَدَ سَعَةَ مَا عِنْدَهُ، وَلَكَانَ عِنْدَهُ مِنْ ذَخَائِرِ الاَنْعَامِ مَا لاَ تُنْفِدُهُ مَطَالِبُ الاَنَامِ، لاَنَّهُ الْجَوَادُ الَّذِي لاَ يَغِيضُهُ سُؤَالُ السَّائِلِينَ، وَلاَ يُبْخِلُهُ إِلْحَاحُ الْمُلِحِّينَ.**

صِفَاتُ اللهِ تَعَالَى فِي الْقُرْآنِ

**فَانْظُرْ أَيُّهَا السَّائِلُ: فَمَا دَلَّكَ الْقُرْآنُ عَلَيْهِ مِنْ صِفَتِهِ فَائْتَمَّ بِهِ وَاسْتَضِيءْ بِنُورِ هِدَايَتِهِ، وَمَا كَلَّفَكَ الشَّيْطَانُ عِلْمَهُ مِمَّا لَيْسَ فِي الْكِتَابِ عَلَيْكَ فَرْضُهُ، وَلاَ فِي سُنَّةِ النَّبِيِّ(صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ) وَأَئِمَّةِ الْهُدَى أَثَرُهُ، فَكِلْ عِلْمَهُ إِلَى اللهِ سُبْحَانَهُ، فَإِنَّ ذلِكَ مُنْتَهَى حَقِّ اللهِ عَلَيْكَ. وَاعْلَمْ أَنَّ الرَّاسِخِينَ فِي الْعِلْمِ هُمُ الَّذِينَ أَغْنَاهُمْ عَنِ اقْتِحَامِ السُّدَدِ الْمَضْرُوبَةِ دُونَ الْغُيُوبِ، الاْقْرَارُ بِجُمْلَةِ مَا جَهِلُوا تَفْسِيرَهُ مِنَ الْغَيْبِ الْمَحْجُوبِ، فَمَدَحَ اللهُ ـ تَعَالَى ـ اعْتِرَافَهُمْ بِالْعَجْزِ عَنْ تَنَاوُلِ مَا لَمْ يُحِيطُوا بِهِ عِلْماً، وَسَمَّى**

صفتونه ورته داسې بیان کړي لکه چې خداے یې په خپلو سترګو لیدلے وي جومات له خلقو ډک ؤ امام ته په دې خبره غصه ورغله د خوابنیني په حالت کښې منبر ته وخوت او وې فرمایل:

## خداے پیژندنه

حمد او ثنا هغه خداے لره ده چې که خپلې خزانې وسپموي او خوندي یې کړي نو زیاتېږي نه او که وې لوروي کمېږي نه، ځکه چې له هغهٔ نه بغېرد بل هر ښندونکي مال کمېږي او له هغه نه بغېرچې هرڅوک له ورکړې لاس واخلي غندل کېږي هغه دے د ډول ډول نعمتونو او زیاتېدونکو برخو بخښونکے او د مخلوق د روزۍ وېشونکے او ټول د هغهٔ د دسترخوان ډوډۍ خوارهٔ دي. هغه د هر چا روزي تضمین کړې او اندازه یې ټاکلې ده. هغه چاته یې لار ښودلې ده چې هغهٔ ته ګروهنه او هغه څه ته لېوالتیا لري چې له هغه ذات سره دي. او غوښتونکو ته تر نهٔ غوښتونکو زیاته نهٔ ورکوي. هغه داسې اول دے چې پېل نهٔ لري چې ګوندې تر هغه مخکې بل څه وي، او داسې آخر دے چې پاې او خاتمه نهٔ لري چې ګوندې له هغهٔ وروسته به بل څه وي او د سترګو کسې یې له دې تم کړې دي چې ګوندې هغه ووینې او درک یې کړي په هغهٔ وخت نهٔ تېرېږي چې ګوندې د وخت تېرېدل یې بدل کړي او په یو ځاے کښې مستقر نهٔ دے چې ګوندې له یو ځاے نه بل ځاے ته ولېږل شي که هغه هر څه ورکړي چې د غرونو له سینو راوځي یا هغه څه چې په خندانو سیپیو کښې له دریابونو راوځي که سوچه سرهٔ وي که سپین، که ملغلرې وي او که دُر وي او که مرجان، د هغهٔ ښندنه نهٔ کمېږي او په خزانه کښې یې هیڅ کمے نهٔ راځي او د هغهٔ د نعمتونو پراختیا نهٔ کموي، د هغهٔ پېرزوینې دومره زیاتې دي چې نهٔ یې د غوښتونکو غوښتنې کمولې شي او نهٔ د ارمنو او حاجتمنو سوالونه خزانې اوچولې شي. او نهٔ د سوالګرو پرله پسې غوښتنې هغه شومولے شي.

## په قرآن شریف کښې د خداے پاک صفتونه

اے پوښتونکیه! ښهٔ فکر وکړه هغه څه چې قرآن د خداے پاک صفتونه بیانوي په هغه باندې باور وکړه او د هدایت له نوره یې رڼا واخله، او کوم علم ته چې دې شېطان ورپام کړي چې په قرآن کښې نهٔ وي فرض شوے او نهٔ د رسول الله مبارک ﷺ او د هدایت د امامانو علیهم السلام په سنتو کښې راغلے وي هغه پرېږده او علم یې خداے ته وسپاره، او دا په تا د خپل رب د حق وروستے حد دے پوه شه، هغه کسان چې په علم کښې راسخ کسان دي هغه دي چې خداے پاک په هغه څه کښې له ډوبېدو چې علم یې نهٔ لري او په تفسیر یې نهٔ پوهېږي او په پټو رازونو کښې له ډوبېدو بې نیازه کړې دي، او هغوي یې په دې ستائیلي دي چې د غیبو او د هغه څه په وړاندې چې نهٔ پرې پوهېږي په خپلې عاجزۍ داده شوي دي. او دې خبرې ته یې د هغوي راسخ والے ویلے دے چې څه پرې خداے

تَرْكَهُمُ التَّعَمُّقَ فِيمَا لَمْ يُكَلِّفْهُمُ الْبَحْثَ عَنْ كُنْهِهِ رُسُوخاً، فَاقْتَصِرْ عَلَى ذلِكَ، وَلاَ تُقَدِّرْ عَظَمَةَ اللهِ سُبْحَانَهُ عَلَى قَدْرِ عَقْلِكَ فَتَكُونَ مِنَ الْهَالِكِينَ. هُوَ الْقَادِرُ الَّذِي إِذَا ارْتَمَتِ الاْوْهَامُ لِتُدْرِكَ مُنْقَطَعَ قُدْرَتِهِ، وَحَاوَلَ الْفِكْرُ الْمُبَرَّأُ مِنْ خَطَرَاتِ الْوَسَاوِسِ أَنْ يَقَعَ عَلَيْهِ فِي عَمِيقَاتِ غُيُوبِ مَلَكُوتِهِ، وَتَوَلَّهَتِ الْقُلُوبُ إِلَيْهِ لِتَجْرِيَ فِي كَيْفِيَّةِ صِفَاتِهِ، وَغَمَضَتْ مَدَاخِلُ الْعُقُولِ فِي حَيْثُ لاَ تَبْلُغُهُ الصِّفَاتُ لِتَنَالَ عِلْمَ ذَاتِهِ، رَدَعَهَا وَهِيَ تَجُوبُ مَهَاوِيَ سُدَفِ الْغُيُوبِ، مُتَخَلِّصَةً إِلَيْهِ ـ سُبْحَانَهُ ـ فَرَجَعَتْ إِذْ جُبِهَتْ، مُعْتَرِفَةً بِأَنَّهُ لاَ يُنَالُ بِجَوْرِ الاعْتِسَافِ كُنْهُ مَعْرِفَتِهِ، وَلاَ تَخْطُرُ بِبَالِ أُولِي الرَّوِيَّاتِ خَاطِرَةٌ مِنْ تَقْدِيرِ جَلاَلِ عِزَّتِهِ. الَّذِي ابْتَدَعَ الْخَلْقَ عَلَى غَيْرِ مِثَالٍ امْتَثَلَهُ، وَلاَ مِقْدَارٍ احْتَذَى عَلَيْهِ، مِنْ خَالِقٍ مَعْبُودٍ كَانَ قَبْلَهُ، وَأَرَانَا مِنْ مَلَكُوتِ قُدْرَتِهِ، وَعَجَائِبِ مَا نَطَقَتْ بِهِ آثَارُ حِكْمَتِهِ، وَاعْتِرَافِ الْحَاجَةِ مِنَ الْخَلْقِ إِلَى أَنْ يُقِيمَهَا بِمِسَاكِ قُوَّتِهِ، مَا دَلَّنَا بِاضْطِرَارِ قِيَامِ الْحُجَّةِ لَهُ عَلَى مَعْرِفَتِهِ، وَظَهَرَتِ الْبَدَائِعُ الَّتِي أَحْدَثَتْهَا آثَارُ صَنْعَتِهِ، وَأَعْلاَمُ حِكْمَتِهِ، فَصَارَ كُلُّ مَا خَلَقَ حُجَّةً لَهُ وَدَلِيلاً عَلَيْهِ، وَإِنْ كَانَ خَلْقاً صَامِتاً، فَحُجَّتُهُ بِالتَّدْبِيرِ نَاطِقَةٌ، وَدَلاَلَتُهُ عَلَى الْمُبْدِعِ قَائِمَةٌ. فَأَشْهَدُ أَنَّ مَنْ شَبَّهَكَ بِتَبَايُنِ أَعْضَاءِ خَلْقِكَ، وَتَلاَحُمِ حِقَاقِ مَفَاصِلِهِمُ الْمُحْتَجِبَةِ لِتَدْبِيرِ حِكْمَتِكَ، لَمْ يَعْقِدْ غَيْبَ ضَمِيرِهِ عَلَى مَعْرِفَتِكَ، وَلَمْ يُبَاشِرْ قَلْبَهُ الْيَقِينُ بِأَنَّهُ لاَ نِدَّ لَكَ، وَكَأَنَّهُ لَمْ يَسْمَعْ تَبَرُّؤَ التَّابِعِينَ مِنَ الْمَتْبُوعِينَ إِذْ يَقُولُونَ: ﴿تَاللهِ إِنْ كُنَّا لَفِي ضَلاَلٍ مُبِينٍ * إِذْ نُسَوِّيكُمْ بِرَبِّ الْعَالَمِينَ﴾ كَذَبَ الْعَادِلُونَ بِكَ، إِذْ شَبَّهُوكَ بِأَصْنَامِهِمْ، وَنَحَلُوكَ حِلْيَةَ الْمَخْلُوقِينَ بِأَوْهَامِهِمْ، وَجَزَّأُوكَ تَجْزِئَةَ الْمُجَسَّمَاتِ بِخَوَاطِرِهِمْ، وَقَدَّرُوكَ عَلَى الْخِلْقَةِ الْمُخْتَلِفَةِ الْقُوَى، بِقَرَائِحِ عُقُولِهِمْ. فَأَشْهَدُ أَنَّ مَنْ سَاوَاكَ بِشَيْءٍ مِنْ خَلْقِكَ فَقَدْ عَدَلَ بِكَ، وَالْعَادِلُ كَافِرٌ بِمَا تَنَزَّلَتْ بِهِ مُحْكَمَاتُ آيَاتِكَ، وَنَطَقَتْ عَنْهُ شَوَاهِدُ حُجَجِ بَيِّنَاتِكَ، وَإِنَّكَ أَنْتَ اللهُ الَّذِي لَمْ تَتَنَاهَ فِي الْعُقُولِ، فَتَكُونَ فِي مَهَبِّ فِكْرِهَا مُكَيَّفاً، وَلاَ فِي رَوِيَّاتِ خَوَاطِرِهَا [فتكون] مَحْدُوداً مُصَرَّفاً.

پاک نۀ دي لازم کړي هغو ته نۀ ورننوځي. نو په همدومره حد بسنه وکړه او خداے تعالی د خپل عقل په پیمانه مه تله چې له تباه کېدونکو څخه شې، هغه داسې توانمند خداے دے چې که د انسانانو وهم او خیال بې د قدرت د اندازې د معلومولو هڅه وکړي او لوړ او د عالمانو له وسوسو بچ فکرونه یې د ملکوت د غیبو د ژورتیاؤ د وهلوکوشش وکړي او د لېوالو مئین زړونه یې د صفتونو په څۀ رنګوالي د پوهېدلو په تکل کښې شي نو خداے پاک یې په همدغه حال کښې نهیلي او نااميده راستانۀ کړي په داسې حال کښې چې د غیبو په تیرو کښې د ځان د ژغورلو لپاره پاک خداے ته پناه وړي او د خداے د ذات له معرفته په خپلې عاجزۍ باندې په اعتراف سره راستنېږي او وائي چې د انسان نیمګړے عقل او پوهه هغه ذات نۀ شي درک کولې.او د هغه د عزت او جلال د عالمانو او پوهانو په زړۀ کښې نۀ ځائیږي. خداے پاک هغه ذات دے چې مخلوقات یې له هیڅ څخه وپنځول او هیڅ څه داسې بیلګه او نمونه یې نۀ لرله چې ورځینې یې نقل کړې وي او یا یې کومه نقشه لرلې وي چې استفاده یې ترې کړې وي . هغه د خپل قدرت په اختیاراتو، د خپل حکمت په ویاندو نښو نښانو او په دې چې مخلوقات هغۀ ته محتاج دي دا حقیقت روښانه کړے دے چې مونږ د هغۀ په معرفت د دلیل اقرار وکړوو او ځکه چې د هغۀ د صنعت نښې او د حکمت نښانې ښکاره دي او هر یو مخلوق او ښکارنده د هغۀ په وجود باندې حجت او برهان دے.که څه هم ځینې مخلوقات ظاهراً غلي دي خو د خداے پاک په تدبیر باندې ګویانه او د هغۀ په قدرت او حکمت څرګند دلیلونه دي.

اے خدایه! ګواهي ورکوم چې هر کس چې تا له ډول ډول غړیو او له یو بل سره له نښتو اندامونو او جوړونو په شان ګڼي،هغه د خپل زړۀ او ضمیر له تله تۀ نۀ یې پېژندلے او د هغۀ په زړۀ کښې یقین نۀ دے ننوتلے. او نۀ پوهېږي چې تۀ هیڅکله شبیه او شکل نۀ لرې او تۀ به وائي چې د فاسدو رهبرانو د ګمراهه پېروانو بیزاري یې نۀ ده اورېدلې چې به وائي:« په خداے قسم ! مونږ په ښکاره ګمراهۍ کښې وو چې تاسو مو د عالمینو له پالونکي سره یو شان ګڼلئ» مشرکانو دروغ وویل چې تۀ یې د خپلو بتانو په شان ګڼلې او په خپل خیال او ګمان سره یې وویل خداے د همدغو بتانو په شان تنه لري. اے خدایه! شهادت ورکوم چې کوم کسان چې تا ستا له مخلوقاتو سره یو شان ګڼي له تا یې مخ اړولے دے او ځوک چې له تا مخ واړوي ستا د قرآن د محکمو آیتونو او ستا د روښانه دلیلونو له مخې کافر دي. تۀ هماغه نامحدود خداے یې چې په فکرونو کښې نۀ ځایېږې چې ګوندې فکرونه ستا د ذات معرفت حاصل کړي او په خیال او وهم کښې نۀ راځې چې تا محدود او د ډول ډول حالاتو لرونکے وګڼي.

صفَاتُ الْخَالق

مِنْهَا: قَدَّرَ مَا خَلَقَ فَأَحْكَمَ تَقْدِيرَهُ، وَدَبَّرَهُ فَأَلْطَفَ تَدْبِيرَهُ، وَوَجَّهَهُ لِوِجْهَتِهِ فَلَمْ يَتَعَدَّ حُدُودَ مَنْزِلَتِهِ، وَلَمْ يَقْصُرْ دُونَ الْانْتِهَاءِ إِلَى غَايَتِهِ، وَلَمْ يَسْتَصْعِبْ إِذْ أُمِرَ بِالْمُضِيِّ عَلَى إِرَادَتِهِ، وَكَيْفَ وَإِنَّمَا صَدَرَتِ الْأُمُورُ عَنْ مَشِيئَتِهِ؟ الْمُنْشِىءُ أَصْنَافَ الْأَشْيَاءِ بِلَا رَوِيَّةِ فِكْرٍ آلَ إِلَيْهَا، وَلَا قَرِيحَةِ غَرِيزَةٍ أَضْمَرَ عَلَيْهَا، وَلَا تَجْرِبَةٍ أَفَادَهَا مِنْ حَوَادِثِ الدُّهُورِ، وَلَا شَرِيكٍ أَعَانَهُ عَلَى ابْتِدَاعِ عَجَائِبِ الْأُمُورِ، فَتَمَّ خَلْقُهُ، وَأَذْعَنَ لِطَاعَتِهِ، وَأَجَابَ إِلَى دَعْوَتِهِ، لَمْ يَعْتَرِضْ دُونَهُ رَيْثُ الْمُبْطِىءِ، وَلَا أَنَاةُ الْمُتَلَكِّىءِ، فَأَقَامَ مِنَ الْأَشْيَاءِ أَوَدَهَا، وَنَهَجَ حُدُودَهَا، وَلَاءَمَ بِقُدْرَتِهِ بَيْنَ مُتَضَادِّهَا، وَوَصَلَ أَسْبَابَ قَرَائِنِهَا، وَفَرَّقَهَا أَجْنَاساً مُخْتَلِفَاتٍ فِي الْحُدُودِ وَالْأَقْدَارِ، وَالْغَرَائِزِ وَالْهَيْئَاتِ، بَدَايَا خَلَائِقَ أَحْكَمَ صُنْعَهَا، وَفَطَرَهَا عَلَى مَا أَرَادَ وَابْتَدَعَهَا!

كَيْفِيَّةُ خَلْق السَّمَاوَات

وَنَظَمَ بِلَا تَعْلِيقٍ رَهَوَاتِ فُرَجِهَا، وَلَاحَمَ صُدُوعَ انْفِرَاجِهَا، وَوَشَّجَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ أَزْوَاجِهَا، وَذَلَّلَ لِلْهَابِطِينَ بِأَمْرِهِ، وَالصَّاعِدِينَ بِأَعْمَالِ خَلْقِهِ، حُزُونَةَ مِعْرَاجِهَا، وَنَادَاهَا بَعْدَ إِذْ هِيَ دُخَانٌ مُبِينٌ، فَالْتَحَمَتْ عُرَى أَشْرَاجِهَا، وَفَتَقَ بَعْدَ الْارْتِتَاقِ صَوَامِتَ أَبْوَابِهَا، وَأَقَامَ رَصَداً مِنَ الشُّهُبِ الثَّوَاقِبِ عَلَى نِقَابِهَا، وَأَمْسَكَهَا مِنْ أَنْ تَمُورَ فِي خَرْقِ الْهَوَاءِ بِأَيْدِهِ، وَأَمَرَهَا أَنْ تَقِفَ مُسْتَسْلِمَةً لِأَمْرِهِ، وَجَعَلَ شَمْسَهَا آيَةً مُبْصِرَةً لِنَهَارِهَا، وَقَمَرَهَا آيَةً مَمْحُوَّةً مِنْ لَيْلِهَا، وَأَجْرَاهُمَا فِي مَنَاقِلِ مَجْرَاهُمَا، وَقَدَّرَ مَسِيرَهُمَا فِي مَدَارِجِ دَرَجِهِمَا، لِيُمَيِّزَ بَيْنَ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ بِهِمَا، وَلِيُعْلَمَ عَدَدُ السِّنِينَ وَالْحِسَابُ بِمَقَادِيرِهِمَا، ثُمَّ عَلَّقَ فِي جَوِّهَا فَلَكَهَا، وَنَاطَ بِهَا زِينَتَهَا، مِنْ خَفِيَّاتِ دَرَارِيِّهَا، وَمَصَابِيحِ كَوَاكِبِهَا، وَرَمَى مُسْتَرِقِي السَّمْعِ بِثَوَاقِبِ شُهُبِهَا، وَأَجْرَاهَا عَلَى أَذْلَالِ تَسْخِيرِهَا مِنْ ثَبَاتِ ثَابِتِهَا، وَمَسِيرِ سَائِرِهَا، وَهُبُوطِهَا

## د بېلا بېلو مخلوقاتو په پيدا ايښت کښې د پالونکي صفات

خداے پاک چې هر پېدا کړے دقيق يې اندازه کړے او په خپلې مهربانۍ سره يې منظم کړے او ښۀ يې تدبير کړے دے. هر مخلوق يې د هغۀ په خپل لور ورروان کړے دے چې نۀ له خپل حد او پولې تېرېږي او نۀ مقصد ته په رسېدلو کښې لټي او سستي کوي. او دا تللے شوے حرکت يې بې له څه ستونځې روان کړے چې هرڅه د خداے پاک په اراده ژوند وکړي، نو څنګه ممکنه ده چې له خپل بهېره سرغړونه وکړي حال دا چې ټول مخلوقات د هغۀ په اراده چلېږي. هغه خداے چې د ډول ډول مخلوقاتو پنځګر او خالق دے بې له دې چې کومه تېره تجربه يې ليدلې وي يا يې په دغه هيښونکي پيدا ايښت کښې چا مرسته کړې وي بلکه کله يې چې مخلوقات اوپنځول او خلقت بشپړ او د هغۀ په اطاعت او عبادت لګيا شو،د هغۀ بلنه يې ومنله او د الهي اوامرو په وړاندې يې سستي اونۀ کړه او ځنډ يې اونۀ منۀ، نو د هر څه کږوالے يې نيغ کړ او پولې يې وروټاکلې او مخلوقات يې د حد او اندازې،احساس او غريزې،شکلونو او قالبونو، او ډول ډول هيئتونو په اساس وويشل او په حکمت او تدبير سره يې هر يو په خپل فطرت او خلقت برابر کړ.

### د آسمانونو پنځون (خلقت)

هغۀ د آسمانونو پرانېستې فضا، لوړې ژورې او فاصلې پېدا کړې بې له دې چې په چا تکيه وکړي، هغه يې منظمې کړې او درزونه يې سره يوکړل او هر يو يې له هغه سره چې متناسب ؤ پيوند کړ، او هغو فرښتو ته يې چې د هغۀ په امر راکوزېږي او د مخلوقاتو عملونه خيژوي کوزېدل او ختل آسان کړل، او په داسې حال کښې چې آسمان د لوګي او براس په شکل ؤ هغۀ ته يې امر وکړ. نو د هغې تسمې او اړيکې يې له يو بل سره ټينګې کړې او بيا يې هغه له يو بل جدا کړل او په مېنځ کښې يې واټن او فاصله ورپيدا کړه. او د هرې لارې او درز په سر يې د روښانه شهابونو او ستورو ساتندويې کښېنول او د خپل قدرت په لاس يې هغه په فضا کښې له يو خوا بل خوا تللو او ناموزون حرکته تم کړل. هغوي ته يې امر وکړ چې د خداے حکم ته تسليم اوسي او نمر يې د ورځې روښانه نښه او سپوږمۍ يې په تتې رڼا سره د شپې د تيارو تته نښه وګرځوله او دواړه يې په خپله لاره او بهېر کښې روان کړل او د دواړو تګ يې دقيق وګرځوۀ، چې په ټاکل شويو درجو او مدارونو کښې حرکت وکړي او سرعت يې معلوم وي چې د ورځې او شپې په مينځ کښې فرق اوشي او د هغو په تګ راتګ سره د کلونو شمېر او د وخت اندازه معلومه وي. نو بيا يې په هرې بسيطې او ويړې فضا او آسمان کښې د هغۀ مدار او فلک وټاکۀ او هغه يې په ځلېدونکو وړو او لويو ستورو او سيارو سره ښکلے کړ. او هغه کسان چې غواړي په پټه د آسمان رازونه اوتښتوي د هغوي د سنګسارولو لپاره يې د سوځوونکو

وَصُعُودَهَا، ونُحُوسَهَا وَسُعُودَهَا.

صفةُ المَلائكَة

ثُمَّ خَلَقَ سُبْحَانَهُ لاِسْكَانِ سَمَاوَاتِه، وَعِمَارَةِ الصَّفِيحِ الاَعْلَى مِنْ مَلَكُوتِه، خَلْقاً بَدِيعاً مِنْ مَلائكَتِه، وَمَلاَ بِهِمْ فُرُوجَ فِجَاجِهَا، وَحَشَا بِهِمْ فُتُوقَ أَجْوَائِهَا، وَبَيْنَ فَجَوَاتِ تِلْكَ الْفُرُوجِ زَجَلُ الْمُسَبِّحِينَ مِنْهُمْ فِي حَظَائِرِ الْقُدُسِ، وَسُتُرَاتِ الْحُجُبِ، وَسُرَادِقَاتِ الْمَجْدِ، وَوَرَاءَ ذلِكَ الرَّجِيجِ الَّذِي تَسْتَكُّ مِنْهُ الاَسْمَاعُ سُبُحَاتُ نُورٍ تَرْدَعُ الاَبْصَارَ عَنْ بُلُوغِهَا، فَتَقِفُ خَاسِئَةً عَلَى حُدُودِهَا. أَنْشَأَهُمْ عَلَى صُوَرٍ مُخْتَلِفَاتٍ، وَأَقْدَارٍ مُتَفَاوِتَاتٍ، أُولِي أَجْنِحَةٍ تُسَبِّحُ جَلاَلَ عِزَّتِه، لاَ يَنْتَحِلُونَ مَا ظَهَرَ فِي الْخَلْقِ مِنْ صُنْعِه، وَلاَ يَدَّعُونَ أَنَّهُمْ يَخْلُقُونَ شَيْئاً مَعَهُ مِمَّا انْفَرَدَ بِه، ﴿بَلْ عِبَادٌ مُكْرَمُونَ * لاَ يَسْبِقُونَهُ بِالْقَوْلِ وَهُمْ بِأَمْرِه يَعْمَلُونَ﴾. جَعَلَهُمُ اللهُ فِيمَا هُنَالِكَ أَهْلَ الاَمَانَةِ عَلَى وَحْيِه، وَحَمَّلَهُمْ إِلَى الْمُرْسَلِينَ وَدَائِعَ أَمْرِه وَنَهْيِه، وَعَصَمَهُمْ مِنْ رَيْبِ الشُّبُهَاتِ، فَمَا مِنْهُمْ زَائِغٌ عَنْ سَبِيلِ مَرْضَاتِه، وَأَمَدَّهُمْ بِفَوَائِدِ الْمَعُونَةِ، وَأَشْعَرَ قُلُوبَهُمْ تَوَاضُعَ إِخْبَاتِ السَّكِينَةِ، وَفَتَحَ لَهُمْ أَبْوَاباً ذُلُلاً إِلَى تَمَاجِيدِه، وَنَصَبَ لَهُمْ مَنَاراً وَاضِحَةً عَلَى أَعْلاَمِ تَوْحِيدِه، لَمْ تُثْقِلْهُمْ مُوصِرَاتُ الآثَامِ، وَلَمْ تَرْتَحِلْهُمْ عُقَبُ اللَّيَالِي وَالاَيَّامِ، وَلَمْ تَرْمِ الشُّكُوكُ بِنَوَازِعِهَا عَزِيمَةَ إِيمَانِهِمْ، وَلَمْ تَعْتَرِكِ الظُّنُونُ عَلَى مَعَاقِدِ يَقِينِهِمْ، وَلاَ قَدَحَتْ قَادِحَةُ الاِحَنِ فِيمَا بَيْنَهُمْ، وَلاَ سَلَبَتْهُمُ الْحَيْرَةُ مَا لاَقَ مِنْ مَعْرِفَتِه بِضَمَائِرِهِمْ، وَسَكَنَ مِنْ عَظَمَتِه وَهَيْبَةِ جَلاَلَتِه فِي أَثْنَاءِ صُدُورِهِمْ، وَلَمْ تَطْمَعْ فِيهِمُ الْوَسَاوِسُ فَتَقْتَرِعَ بِرَيْنِهَا عَلَى فِكْرِهِمْ. مِنْهُمْ مَنْ هُوَ فِي خَلْقِ الْغَمَامِ الدُّلَّحِ، وَفِي عِظَمِ الْجِبَالِ الشُّمَّخِ، وَفِي قَتْرَةِ الظَّلاَمِ الاَيْهَمِ. وَمِنْهُمْ مَنْ قَدْ خَرَقَتْ أَقْدَامُهُمْ تُخُومَ الاَرْضِ السُّفْلَى، فَهِيَ كَرَايَاتٍ بِيضٍ قَدْ نَفَذَتْ فِي مَخَارِقِ الْهَوَاءِ، وَتَحْتَهَا رِيحٌ هَفَّافَةٌ تَحْبِسُهَا عَلَى حَيْثُ انْتَهَتْ مِنَ الْحُدُودِ الْمُتَنَاهِيَةِ، قَدِاسْتَفْرَغَتْهُمْ أَشْغَالُ عِبَادَتِه، وَوَسَّلَتْ حَقَائِقُ الاِيمَانِ بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ مَعْرِفَتِه، وَقَطَعَهُمُ الاِيقَانُ بِه إِلَى الْوَلَهِ إِلَيْه، وَلَمْ تُجَاوِزْ رَغَبَاتُهُمْ مَا عِنْدَهُ إِلَى مَا عِنْدَ غَيْرِه.

شهابونو بندوبست وکړ او ټول ستوري يې که هغه ثابت او تم دي او که ګرځنده او بې قراره، که کوزېدونکي دي او که ختونکي که اندېښمنځونکي دي او که خوشحالؤنکي[٧٢]، خپل امر ته تسليم کړل.

### د فرښتو ځانګړتياوې او خصوصيتونه

بيا خدا ے تعالی په آ سمانونو کښې هستوګنولواو د خپل ملکوت تر ټولو د لوړې طبقې د آبادولو لپاره حېرانؤنکې فرښتې اوپنځولې، او د آسمان ټولې لارې او درزونه او د فضا پراخوالے يې په هغوي ډک کړ، د هغوي د تسبيح غږونه د آسمان په فضا، د حجاب په پړدو، او د خپل رب د لوئی په صحنو کښې انکارې کوي. تر دې شاته هغه زلزلې او غرهارې دي چې د غوږونو پړدې شلوي او هغه رڼا ګانې دي چې سترګې بربښوي او سترګې له ناچارۍ په همدغه حدونو کښې پاتې کېږي او نور نظر يې نۀ لګېږي. خدا ے تعالی فرښتې په مختلفو صورتونو او اندازو پېدا کړې او هغوي ته يې وزرې ورکړې، هغوي تل د خپل پالونکي د جلال او عزت په تسبيحاتو لګيا وي او د مخلوقاتو دا هېښنده صنعت د ځان نۀ ګڼي. او د خدا ے پاک په خاص صنعت او پېدا ښت کښې هيڅ ادعا نۀ لري.« بلکه د خدا ے داسې ګران بندګان دي چې په خبرو کولو کښې له خدايه نۀ مخکې کېږي او په الهي فرمان عمل کوي»

خدا ے تعالی فرښتې د خپلې وحي امانتدارې وګرځولې او پېغمبرانو ته يې د امر او نهي د احکامو په رسولو کښې له هغوي کار واخېست، هغوي يې ځمکې ته راولېږلې او له شك او ترديدونو يې خوندي کړې چې هيڅ فرښته د حق د رضا له لارې نۀ غړېږي. هغوي يې له خپلې مرستې برخمنې کړې او په زړونو يې د تواضع خاکسارۍ او قرار جامه وروا غوندله، د آسمان ورونه يې ورپرانېستل چې خدا ے پاک په سترتوب سره وستائي او د توحيد د نښو روښانه منارې يې ورته جوړې کړې. د ګناهانو دروندوالے هغوي هيڅکله د خپلې دندې له ترسره کولو نۀ شي ستومانه کولې او د شپې او ورځې تېرېدل يې مرګ ته نۀ شي نږدې کولې، د شک او ترديد غشي يې په ايمان کې خلل نۀ شي راوستلې او شک او ګمان يې يقين نۀ شي سستولې،د هغوي په زړونو کښې هيڅکله د کينې اور نۀ بليږي او حيراني او لالهاندي يې له خپل ايمان او د هغوي په زړۀ کښې د خدا ے له هېبت او جلاله نۀ شي لرې کولې. او د هغوي په زړونو کښې وسوسې نۀ پېدا کېږي چې ګوندې له شک او ترديد سره مخ شي. ځينې فرښتې له بارانه د ډکو وريځو،د لوړو او لويو غرونو په پېدا ښت او د تيرو په پېدا کولو کښې برخه لري او د ځينو پښې بيا د ځمکې تل ته رسېدلې او د سپينو بيرغونو په شان يې د فضا سينه څيرلې ده. او تر هغې لاندې داسې بادونه دي چې نم نم لګېږي او هغه يې په خپلو پولو کښې ساتلې دي. د خپل پالونکي عبادت فرښتې له نورو کارونو غړولې او د ايمان حقيقت د هغوي او د حق د

قَدْ ذَاقُوا حَلَاوَةَ مَعْرِفَتِه، وَشَرِبُوا بِالْكَأْسِ الرَّوِيَّةِ مِنْ مَحَبَّتِه، وَتَمَكَّنَتْ مِنْ سُوَيْدَاءِقُلُوبِهِمْ وَشِيجَةُ خِيفَتِه، فَحَنَوْا بِطُولِ الطَّاعَةِ اعْتِدَالَ ظُهُورِهِمْ، وَلَمْ يُنْفِدْ طُولُ الرَّغْبَةِ إِلَيْهِ مَادَّةَ تَضَرُّعِهِمْ، وَلَا أَطْلَقَ عَنْهُمْ عَظِيمُ الزُّلْفَةِ رِبَقَ خُشُوعِهِمْ، وَلَمْ يَتَوَلَّهُمُ الْاِعْجَابُ فَيَسْتَكْثِرُوا مَا سَلَفَ مِنْهُمْ، وَلَا تَرَكَتْ لَهُمُ اسْتِكَانَةُ الْاِجْلَالِ نَصِيباً فِي تَعْظِيمِ حَسَنَاتِهِمْ، وَلَمْ تَجْرِ الْفَتَرَاتُ فِيهِمْ عَلَى طُولِ دُؤُوبِهِمْ، وَلَمْ تَغِضْ رَغَبَاتُهُمْ فَيُخَالِفُوا عَنْ رَجَاءِ رَبِّهِمْ، وَلَمْ تَجِفَّ لِطُولِ الْمُنَاجَاةِ أَسَلَاتُ أَلْسِنَتِهِمْ، وَلَا مَلَكَتْهُمُ الْاَشْغَالُ فَتَنْقَطِعَ بِهَمْسِ الْجُؤَارِ إِلَيْهِ أَصْوَاتُهُمْ، وَلَمْ تَخْتَلِفْ فِي مَقَاوِمِ الطَّاعَةِ مَنَاكِبُهُمْ، وَلَمْ يَثْنُوا إِلَى رَاحَةِ التَّقْصِيرِ فِي أَمْرِهِ رِقَابَهُمْ، وَلَا تَعْدُوا عَلَى عَزِيمَةِ جِدِّهِمْ بَلَادَةُ الْغَفَلَاتِ، وَلَا تَنْتَضِلُ فِي هِمَمِهِمْ خَدَائِعُ الشَّهَوَاتِ. قَدِ اتَّخَذُوا ذَا الْعَرْشِ ذَخِيرَةً لِيَوْمِ فَاقَتِهِمْ وَيَمَّمُوهُ عِنْدَ انْقِطَاعِ الْخَلْقِ إِلَى الْمَخْلُوقِينَ بِرَغْبَتِهِمْ، لَا يَقْطَعُونَ أَمَدَ غَايَةِعِبَادَتِه، وَلَا يَرْجِعُ بِهِمُ الْاِسْتِهْتَارُ بِلُزُومِ طَاعَتِه، إِلَّا إِلَى مَوَادَّ مِنْ قُلُوبِهِمْ غَيْرِمُنْقَطِعَةٍ مِنْ رَجَائِه وَمَخَافَتِه. لَمْ تَنْقَطِعْ أَسْبَابُ الشَّفَقَةِ مِنْهُمْ، فَيَنُوا فِي جِدِّهِمْ، وَلَمْ تَأْسِرْهُمُ الْاَ□طْمَاعُ فَيُؤْثِرُوا وَشِيكَ السَّعْيِ عَلَى اجْتِهَادِهِمْ. وَلَمْ يَسْتَعْظِمُوا مَا مَضَى مِنْ أَعْمَالِهِمْ، وَلَوِ اسْتَعْظَمُوا ذَلِكَ لَنَسَخَ الرَّجَاءُ مِنْهُمْ شَفَقَاتِ وَجَلِهِمْ، وَلَمْ يَخْتَلِفُوا فِي رَبِّهِمْ بِاسْتِحْوَاذِ الشَّيْطَانِ عَلَيْهِمْ، وَلَمْ يُفَرِّقْهُمْ سُوءُ التَّقَاطُعِ، وَلَاتَوَلَّاهُمْ غِلُّ التَّحَاسُدِ، وَلَا تَشَعَّبَتْهُمْ مَصَارِفُ الرِّيَبِ، وَلَا اقْتَسَمَتْهُمْ أَخْيَافُ الْهِمَمِ، فَهُمْ أُسَرَاءُ إِيمَانٍ لَمْ يَفُكَّهُمْ مِنْ رِبْقَتِه زَيْغٌ وَلَا عُدُولٌ وَلَا وَنىً وَلَا فُتُورٌ، وَلَيْسَ فِي أَطْبَاقِ السَّمَاوَاتِ مَوْضِعُ إِهَابٍ إِلَّا وَعَلَيْهِ مَلَكٌ سَاجِدٌ، أَوْ سَاعٍ حَافِدٌ، يَزْدَادُونَ عَلَى طُولِ الطَّاعَةِ بِرَبِّهِمْ عِلْماً، وَتَزْدَادُ عِزَّةُ رَبِّهِمْ فِي قُلُوبِهِمْ عِظَماً.

وَمِنْهَا فِي صِفَةِ الْأَرْضِ

كَبَسَ الْاَرْضَ عَلَى مَوْرِ أَمْوَاجٍ مُسْتَفْحِلَةٍ، وَلُجَجِ بِحَارٍزَاخِرَةٍ، تَلْتَطِمُ أَوَاذِيُّ أَمْوَاجِهَا، وَتَصْطَفِقُ مُتَقَاذِفَاتُ أَثْبَاجِهَا، وَتَرْغُو زَبَداً كَالْفُحُولِ عِنْدَ هِيَاجِهَا، فَخَضَعَ جِمَاحُ الْمَاءِ الْمُتَلَاطِمِ لِثِقَلِ

معرفت په مینځ کې لازم پېوند پېدا کړے دے. د یقین نعمت هغوي د حق لېوالې کړې دي داسې چې بې له حقه هیڅ څه ته ګروهنه نۀ لري، هغوي د خداے پاک د معرفت خواږۀ څکلي او د خپل رب د مینې په جامونو خړوبې دي. د هغوي په زړونو کښې د خپل خداے ویره خپره ده او د عبادت پرېمانتیا یې ملاګانې کږې کړې او زیات شوق او رغبت یې ژړا او زاري نۀ ده کمه کړې. د فرښتو لوړ مقام د هغوي د خضوع او عاجزۍ مخه نۀ ده نیولې او نۀ پرې کبر او ځانمننه واکمنه شوې ده چې ګوندې تېر عملونه حساب کړي او ځانته سترتوب تصورکړي.د وخت تېرېدۀ هغوي د پرله پسې دندو له ترسره کولو نۀ ستومانه کوي او مینه او رغبت یې نۀ کموي چې له خپل ربه نهیلي او نااميدې شي. هغوي له اوږدو نمنځونو نۀ دي ستړې شوې او نۀ مشغولتیاؤ قابو کړې دي. او د هغوي استغاثې او فریادونه کم شوي نۀ دي. د عبادت او بندګۍ په مقام کښې د یو بل تر څنګ ولاړې دي او راحت طلبۍ هغوي د خپلو دندو په ترسره کولو کښې نۀ دي پرکاله کړې. د هغوي په هڅو او کلک هوډ کښې غفلت، هېره او لټي لاره نۀ لري. او د شهوت فرېبونه د هغوي لوړ همتونه نۀ شي په ننبه کولې. فرښتو د عرش په څښتن ایمان د بدې ورځې لپاره توښه ګرځولې او کله چې نور مخلوقات بل بل چاته متوجه وي فرښتې یواځې خپل رب ته مخ اړوي.او عبادت یې هیڅکله خاتمه نۀ لري. د خداے پاک له اطاعت او د پالونکي د اوامرو او احکامو په ترسره کولو د هغوي مینه نۀ سستېږي.د هغوي په زړونو کښې د مینې تخم هغوي په اطاعت مئینې کړې دي او هیڅکله له زړۀ نه د خداے پاک ویره او هیله نۀ وباسي. ویرې او ترهې هغوي د خپلو دندو له ترسره کولو څخه نۀ تموي چې په دندو کښې سستي وکړي، طمعو پرې یرغل نۀ دے کړے چې د دنیا هڅې د آخرت تر کاره مخکې کړي، خپل تېر عملونه لوې نۀ ګڼي او که وې ګڼي هیله منې دي او پرېمانه هیله یې نۀ پرېږدي چې له خپل ربه ترهه په زړۀ کښې ولري. فرښتو د شېطاني وسوسو له امله په خپلو کښې اختلاف نۀ دے کړے او نۀ یې له یو بل سره ورانه کړې ده.هغوي له کینو او حسدونو پاکې دي او د شک او تردید عواملو او نفساني خواهشاتو له یو بله نۀ دي جدا کړې.او مختلفو افکارو نۀ دي تیت پرک کړې. فرښتې د ایمان هغه بندګانې دي چې د بندګۍ غړوندي یې په غاړه دي او سستي،شک او دوه زړۀ والي دا غړوندي له هغوي نه شي کوزولې. په ټول آسمان کښې د یو پوستین هومره ځاي نۀ پېدا کېږي مګر دا چې هلته یوه فرښته په سجدې پرته وي یا په کار او زیار اخته وي، پرېمانه اطاعت یې یقین او معرفت ورزیاتوي او په زړونو کښې یې د خداے عظمت او عزت ډېروي.

## د ځمکي پېدائښت

حَمْلِهَا، وَسَكَنَ هَيْجُ ارْتِمَائِه إذْ وَطِئَتْهُ بِكَلْكَلِهَا، وَذَلَّ مُسْتَخْذِياً إذْ تَمَعَّكَتْ عَلَيْهِ بِكَوَاهِلِهَا، فَأَصْبَحَ بَعْدَ اصْطِخَابِ أَمْوَاجِهِ، سَاجِياً مَقْهُوراً، وَفِي حَكَمَةِ الذُّلِّ مُنْقَاداً أَسِيراً، وَسَكَنَتِ الأرْضُ مَدْحُوَّةً فِي لُجَّةِ تَيَّارِه، وَرَدَّتْ مِنْ نَخْوَةِ بَأْوِه وَاعْتِلاَئِه، وَشُمُوخِ أَنْفِه وَسُمُوِّ غُلَوَائِه، وَكَعَمَتْهُ عَلَى كِظَّةِ جَرْيَتِه، فَهَمَدَ بَعْدَ نَزَقَاتِه، وَبَعْدَ زَيَفَانِ وَثَبَاتِه. فَلَمَّا سَكَنَ هَيْجُ الْمَاءِ مِنْ تَحْتِ أَكْنَافِهَا، وَحَمْلِ شَوَاهِقِ الْجِبَالِ الْبُذَّخِ عَلَى أَكْتَافِهَا، فَجَّرَ يَنَابِيعَ الْعُيُونِ مِنْ عَرَانِينِ أُنُوفِهَا، وَفَرَّقَهَا فِي سُهُوبِ بِيدِهَا وَأَخَادِيدِهَا، وَعَدَّلَ حَرَكَاتِهَا بِالرَّاسِيَاتِ مِنْ جَلاَمِيدِهَا، وَذَوَاتِ الشَّنَاخِيبِ الشُّمِّ مِنْ صَيَاخِيدِهَا، فَسَكَنَتْ مِنَ الْمَيَدَانِ بِرُسُوبِ الْجِبَالِ فِي قِطَعِ أَدِيمِهَا، وَتَغَلْغُلِهَا مُتَسَرِّبَةً فِي جَوْبَاتِ خَيَاشِيمِهَا، وَرُكُوبِهَا أَعْنَاقَ سُهُولِ الأَرَضِينَ وَجَرَاثِيمِهَا، وَفَسَحَ بَيْنَ الْجَوِّ وَبَيْنَهَا، وَأَعَدَّ الْهَوَاءَ مُتَنَسَّماً لِسَاكِنِهَا، وَأَخْرَجَ إِلَيْهَا أَهْلَهَا عَلَى تَمَامِ مَرَافِقِهَا. ثُمَّ لَمْ يَدَعْ جُرُزَ الأَرْضِ الَّتِي تَقْصُرُ مِيَاهُ الْعُيُونِ عَنْ رَوَابِيهَا، وَلاَ تَجِدُ جَدَاوِلُ الأَنْهَارِ ذَرِيعَةً إِلَى بُلُوغِهَا، حَتَّى أَنْشَأَ لَهَا نَاشِئَةَ سَحَابٍ تُحْيِي مَوَاتَهَا، وَتَسْتَخْرِجُ نَبَاتَهَا، أَلَّفَ غَمَامَهَا بَعْدَ افْتِرَاقِ لُمَعِهِ، وَتَبَايُنِ قَزَعِهِ. حَتَّى إِذَا تَمَخَّضَتْ لُجَّةُ الْمُزْنِ فِيهِ، وَالْتَمَعَ بَرْقُهُ فِي كُفَفِهِ، وَلَمْ يَنَمْ وَمِيضُهُ فِي كَنَهْوَرِ رَبَابِهِ، وَمُتَرَاكِمِ سَحَابِهِ، أَرْسَلَهُ سَحّاً مُتَدَارِكاً، قَدْ أَسَفَّ هَيْدَبُهُ، تَمْرِيهِ الْجَنُوبُ دِرَرَ أَهَاضِيبِهِ، وَدُفَعَ شَآبِيبِهِ. فَلَمَّا أَلْقَتِ السَّحَابُ بَرْكَ بِوَانَيْهَا، وَبَعَاعَ مَا اسْتَقَلَّتْ بِهِ مِنَ الْعِبْءِ الْمَحْمُولِ عَلَيْهَا، أَخْرَجَ بِهِ مِنْ هَوَامِدِ الأَرْضِ النَّبَاتَ، وَمِنْ زُعْرِ الْجِبَالِ الأَعْشَابَ، فَهِيَ تَبْهَجُ بِزِينَةِ رِيَاضِهَا، وَتَزْدَهِي بِمَا أُلْبِسَتْهُ مِنْ رَيْطِ أَزَاهِيرِهَا، وَحِلْيَةِ مَا سُمِطَتْ بِهِ مِنْ نَاضِرِ أَنْوَارِهَا، وَجَعَلَ ذَلِكَ بَلاَغاً لِلأَنَامِ، وَرِزْقاً لِلأَنْعَامِ، وَخَرَقَ الْفِجَاجَ فِي آفَاقِهَا، وَأَقَامَ الْمَنَارَ لِلسَّالِكِينَ عَلَى جَوَادِّ طُرُقِهَا.

خداے تعالي ځمکه په ځپاندو ځپو او غړمبېدونکو سمندرونو باندې وپوشله، هغه ځپې چې له يو بل سره جنګېږې او په سخت ټکر کښې يو بل شاته کوي. د سرمستو اوښانو په شان چې په خولو يې ځګونه رامات وي او بربرېدونکي هر لور ته روان وي. خو دغه سرکښې ځپې د اوبو په دروندوالي سره کښيناستې او جوش او هېجان يې د ځمکې په سينه قرار وموند. ځکه چې ځمکې دغه ځپانده طوفان، په خپلو اوږو ورټينګ کړ او د دغو ځپو غرهار او غړمبهار داسې غلے شو لکه پيزواني شوے اوښ. خداے پاک د ځپو په زړه د ځمکې فرش وروغوړاوۀ او اوبۀ يې له کبر، غرور، سرکښئ او خروشه وغړولې. اوس نو د اوبو حرکت کم شو او له تندو خوځښتونو وروسته تمې شوې، او له دومره جوش او خروش او کبرجنې سرکښئ وروسته په خپل ځاے اودرېدې. نوکله چې د ځمکې په خواوشا کښې د اوبو جوش کښېناست، او د سختو او لوړو غرونو بار يې په اوږو پورته کړ. د غرونو له لوړو څخه د اوبو چينې راوخوټکېدې او د دښتو او هوارو په کندو او درزونو کښې يې اوبۀ روانې کړې او په لويو، سختو او د اوچتو څوکو په غرونو سره يې ځمکه انډوله کړه. او د ځمکې په سطحه کښې يې د غرونو د ښخېدو، په ژورو کښې يې د جرړو د غځېدو او په دښتو او بيابانونو باندې د هغې په سپرېدو سره يې د ځمکې لړزا قراره کړه. بيا ښځنتن د ځمکې او فضا په مينځ کښې لوے واټن (فاصله) پېدا کړ او د ځمکې هستوګنو ته يې هواګانې برابرې کړې او د اوسېدونکو لپاره يې ټولې اړتياوې او د ژوند وسائل چمتو کړل. بيا يې حتی د ځمکې هغه لوړې برخې هم چې سېندونه او چينې ورته لاره نۀ لري چټې پرې نۀ ښودلې بلکه هغو ته يې داسې وريځې وپنځولې چې شنې او ژوندۍ يې کړې چې رنګارنګه بوټي زرغون کړي بيا يې د وريځو لوئې او خپرې ټوټې سره يو ځاے کړې تر دې چې د هغو له ټکره برېښناوې وځلېدې او د سپينو ګورو وريځو پړقا پېدا شوه پرله پسې وريځې يې راولېږلې چې په ځمکه خپرې شي او بادونو وريځې ولوشلې او بلاربې وريځې يې ځمکې ته ولېږلې بيا چې کله وريځو خپله خېټه په ځمکه واچوله نو هر څه يې چې په خېټه کې وو په ځکه يې توې کړل او له لرو پرتو ځمکو يې ډول ډول واښۀ رازرغون کړل او د غرونو په لمنو کښې يې د شينکي څادر وغوړوۀ. اوس نو ځمکې د شينکي شال اغوستے په نڅا او ګډا شوه او د ګل پاڼو په نازک لباس يې ټول لېدونکي ځانته حيرانه کړل. او د رنګارنګو ګلونو په پسول سره يې خلق په وجد کښې راوستل، خداے تعالی دا ټول ښيزونه د انسانانو او حيوانانو د رزق سامان وګرځوۀ او هم هغه د ځمکې په شاوخوا کښې ژورې درې او په شاهراګانو د تلونکو لپاره رڼا منارې وټاکلې.

فَلَمَّا مَهَدَ أَرْضَهُ، وَ أَنْفَذَ أَمْرَهُ، اخْتَارَ آدَمَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ ، خِيرَةً مِنْ خَلْقِه، وَجَعَلَهُ أَوَّلَ جِبِلَّتِه، وَأَسْكَنَهُ جَنَّتَهُ، وَأَرْغَدَ فِيهَا أُكُلَهُ، وَأَوْعَزَ إِلَيْهِ فِيمَا نَهَاهُ عَنْهُ، وَأَعْلَمَهُ أَنَّ فِي الاقْدَامِ عَلَيْهِ التَّعَرُّضَ لِمَعْصِيَتِه، وَالْمُخَاطَرَةَ بِمَنْزِلَتِه؛ فَأَقْدَمَ عَلَى مَا نَهَاهُ عَنْهُ ـ مُوَافَاةً لِسَابِقِ عِلْمِه ـ فَأَهْبَطَهُ بَعْدَ التَّوْبَةِ لِيَعْمُرَ أَرْضَهُ بِنَسْلِه،وَلِيُقِيمَ الْحُجَّةَ بِه عَلَى عِبَادِه، وَلَمْ يُخْلِهِمْ بَعْدَ أَنْ قَبَضَهُ، مِمَّا يُؤَكِّدُ عَلَيْهِمْ حُجَّةَ رُبُوبِيَّتِه، وَيَصِلُ بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ مَعْرِفَتِه، بَلْ تَعَاهَدَهُمْ بِالْحُجَجِ عَلَى أَلْسُنِ الْخِيَرَةِ مِنْ أَنْبِيَائِه، وَمُتَحَمِّلِي وَدَائِعِ رِسَالاَتِه، قَرْناً فَقَرْناً؛ حَتَّى تَمَّتْ بِنَبِيِّنَا مُحَمَّدٍ(صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآله) حُجَّتُهُ، وَبَلَغَ الْمَقْطَعَ عُذْرُهُ وَنُذُرُهُ، وَقَدَّرَ الأَرْزَاقَ فَكَثَّرَهَا وَقَلَّلَهَا، وَقَسَّمَهَا عَلَى الضِّيقِ وَالسَّعَةِ فَعَدَلَ فِيهَا لِيَبْتَلِيَ مَنْ أَرَادَبِمَيْسُورِهَا وَمَعْسُورِهَا، وَلِيَخْتَبِرَ بِذلِكَ الشُّكْرَ وَالصَّبْرَ مِنْ غَنِيِّهَا وَفَقِيرِهَا، ثُمَّ قَرَنَ بِسَعَتِهَا عَقَابِيلَ فَاقَتِهَا، وَبِسَلاَمَتِهَا طَوَارِقَ آفَاتِهَا، وَبِفُرَجِ أَفْرَاحِهَا غُصَصَ أَتْرَاحِهَا. وَخَلَقَ الأجَالَ فَأَطَالَهَا وَقَصَّرَهَا، وَقَدَّمَهَا وَأَخَّرَهَا، وَوَصَلَ بِالْمَوْتِ أَسْبَابَهَا، وَجَعَلَهُ خَالِجاً لا□شْطَانِهَا، وَقَاطِعاً لِمَرَائِرِأَقْرَانِهَا. عَالِمُ السِّرِّ مِنْ ضَمَائِرِ الْمُضْمِرِينَ، وَنَجْوَى الْمُتَخَافِتِينَ، وَخَوَاطِرِ رَجْمِ الظُّنُونِ، وَعُقَدِ عَزِيمَاتِ الْيَقِينِ، وَمَسَارِقِ إِيمَاضِ الْجُفُونِ، وَمَا ضَمِنَتْهُ أَكْنَانُ الْقُلُوبِ، وَغَيَابَاتُ الْغُيُوبِ، وَمَا أَصْغَتْ لاِسْتِرَاقِه مَصَائِخُ الاَسْمَاعِ، وَمَصَائِفُ الذَّرِّ، وَمَشَاتِي الْهَوَامِّ، وَرَجْعِ الْحَنِينِ مِنَ الْمُولَهَاتِ وَهَمْسِ الاَقْدَامِ، وَمُنْفَسَحِ الثَّمَرَةِ مِنْ وَلاَئِجِ غُلُفِ الأ□كْمَامِ، وَمُنْقَمَعِ الْوُحُوشِ مِنْ غِيرَانِ الْجِبَالِ وَأَوْدِيَتِهَا، وَمُخْتَبَإِ الْبَعُوضِ بَيْنَ سُوقِ الاَشْجَارِ وَأَلْحِيَتِهَا، وَمَغْرِزِ الاَوْرَاقِ مِنَ الاَفْنَانِ، وَمَحَطِّ الاَمْشَاجِ مِنْ مَسَارِبِ الاَصْلاَبِ، وَنَاشِئَةِ الْغُيُومِ وَمُتَلاَحِمِهَا، وَدُرُورِ قَطْرِ السَّحَابِ فِي مُتَرَاكِمِهَا، وَمَا تَسْفِي الاَعَاصِيرُ بِذُيُولِهَا، وَتَعْفُو الاَمْطَارُ بِسُيُولِهَا، وَعَوْمِ بَنَاتِ الاَرْضِ

## د حضرت آدمؑ د ژوند د پیل قصه او د پېغمبرانوؑ بعثت

کله چي خدای تعالی ځمکه د انسانانو لپاره وغوړوله او کار يې بشپړ کړ نو آدمؑ يې په خپلو مخلوقاتو کښې چوڼ او غوره کړ او هغه يې په ځمکه وړومبی او غوره مخلوق وټاکۀ. اول يې آدمؑ په جنت کښې استوګن کړ او خواږۀ خواږۀ يې وروخکل او له څه يې چې منعې کولو هغه يې ورونبودل.او خبردارے يې ورکړ چې دغو څيزونو ته په نزدېکت کښې د هغۀ د نافرمانۍ او د ښۀ مقام د بايللو خطره ده. خو آدمؑ هغه څه ته چې منعې شوے ؤ مخه کړه[۷۳] او د خداے علم تحقق وموند تر دې چې له توبې وروسته يې له جنته ځمکې ته کوز کړ چې په خپل نسل سره ځمکه آباده کړي او په دې ډول يې په بندګانو حجت تمام کړ. او د حضرت آدمؑ له وفاته وروسته يې هم ځمکه له حجته تشه پرې نۀ ښوده چې په دې وسيله د ځان او د آدم د بچيانو په مينځ کښې پېوستون راولي. او پېړۍ په پېړۍ يې د آسمان د غوره شويو پېغمبرانوؑ او د خپل رسالت د استازو په وسيله حجتونه او دليلونه جاري اوساتل ان تر دې چې د پېغمبرانو لړۍ د اسلام د ګران پېغمبر حضرت محمدﷺ په راتګ سره بشپړه شوه او د احکامو او انذارو او الهي زېرو بيان آخري منزل ته ورسېد. خداے تعالی د انسانانو روزي ټاکلې ده کله لږه او کله زياته او هغه يې د سختۍ او راحتۍ په شکل کښې په عادلانه ډول اوښله چې هر کس د تنګسيا يا پراختيا په وسيله وزمائي. او په شکر او صبر سره شتمن او نيستمن امتحان کړي. نو له پراخې روزۍ سره يې فقر او بدمرغي هم وګنډله او له سلامتيا او هوساينې سره يې دردناکې پېښې هم اوپيېلې. د خوښۍ او ښادۍ ورځې يې له درد و غم سره نژدې کړې. د انسان اجل يې وټاکۀ د چا اجل ناوخته دے او د چا زر،د چا مخکې دے او د چا وروسته. او بيا يې ورپسې مرګ راوستۀ او په مړينې سره يې د ژوند پياوړې رشتې اوشلولې او د خپلوۍ پيوندونه يې وراسته کړل چې انسانان وزمائي. خداے تعالی خبر دے د زړونو له رازونو، د نجوا (په غوږ کښې پس پس) کوونکو له ګنګوسو، له هغه څه چې د ګمان له مخې په فکرونو کښې ګرځي،له کلکو هوډونو، له غلچکو نظرونو،د زړۀ له خبرو، د غيبو له چارو،او له هغه څه چې د غوږونو پردې يې پټ اوري. همدارنګ هغه ذات خبر دے د مېږو د اوړي له مېرتونونو،د حشراتو له ژمنيو سوړو،د غم ځپلو ښځو له سوو چغو او د ګامونو له پټو ښکالو. لوے خداے علم لري د غوټيو په زړونو کښې د ميوو له پالن ځايونو،د غرونو په مينځ او د درو په ژورو کښې د وحشي حيواناتو له پټو ځمڅو،د ونو د تنو او پوستکي په مينځ کښې د ماشو له پټ ځايونو،د پاڼو او ښاخونو له پيوند ځايونو، او د پلرونو په ملاګانو کښې د نطفو له مقامونو. هغه ذات خبر دے له هغو ځايونو چې وريځې جوړوي او سره يې يو ځاے کوي او د باران له هغو څاڅکو چې

فِي كُثْبَانِ الرِّمَالِ، وَمُسْتَقَرَّ ذَوَاتِ الأَجْنِحَةِ بِذُرَا شَنَاخِيبِ الْجِبَالِ، وَتَغْرِيدَ ذَوَاتِ الْمَنْطِقِ فِي دَيَاجِيرِ الأَوْكَارِ، وَمَا أَوْعَتْهُ الأَصْدَافُ، وَحَضَنَتْ عَلَيْهِ أَمْوَاجُ الْبِحَارِ، وَمَا غَشِيَتْهُ سُدْفَةُ لَيْلٍ، أَوْ ذَرَّ عَلَيْهِ شَارِقُ نَهَارٍ، وَمَا اعْتَقَبَتْ عَلَيْهِ أَطْبَاقُ الدَّيَاجِيرِ، وَسُبُحَاتُ النُّورِ، وَأَثَرَ كُلِّ خَطْوَةٍ، وَحِسَّ كُلِّ حَرَكَةٍ، وَرَجْعَ كُلِّ كَلِمَةٍ، وَتَحْرِيكَ كُلِّ شَفَةٍ، وَمُسْتَقَرَّ كُلِّ نَسَمَةٍ، وَمِثْقَالَ كُلِّ ذَرَّةٍ، وَهَمَاهِمَ كُلِّ نَفْسٍ هَامَّةٍ، وَمَا عَلَيْهَا مِنْ ثَمَرِ شَجَرَةٍ، أَوْ سَاقِطِ وَرَقَةٍ، أَوْ قَرَارَةِ نُطْفَةٍ، أَوْ نُقَاعَةِ دَمٍ وَمُضْغَةٍ، أَوْ نَاشِئَةِ خَلْقٍ وَسُلاَلَةٍ. لَمْ تَلْحَقْهُ فِي ذلِكَ كُلْفَةٌ، وَلاَ اعْتَرَضَتْهُ فِي حِفْظِ مَا ابْتَدَعَ مِنْ خَلْقِهِ عَارِضَةٌ، وَلاَ اعْتَوَرَتْهُ فِي تَنْفِيذِ الأُمُورِ وَتَدَابِيرِ الْمَخْلُوقِينَ مَلاَلَةٌ وَلاَ فَتْرَةٌ، بَلْ نَفَذَهُمْ عِلْمُهُ، وَأَحْصَاهُمْ عَدَدُهُ، وَوَسِعَهُمْ عَدْلُهُ، وَغَمَرَهُمْ فَضْلُهُ، مَعَ تَقْصِيرِهِمْ عَنْ كُنْهِ مَا هُوَ أَهْلُهُ.

دُعَاءٌ

اللَّهُمَّ أَنْتَ أَهْلُ الْوَصْفِ الْجَمِيلِ، وَالتَّعْدَادِ الْكَثِيرِ، إِنْ تُؤَمَّلْ فَخَيْرُ مَأْمُولٍ، وَإِنْ تُرْجَ فَأَكْرَمُ مَرْجُوٍّ. اللَّهُمَّ وَقَدْ بَسَطْتَ لِي فِيمَا لاَ أَمْدَحُ بِهِ غَيْرَكَ، وَلاَ أُثْنِي بِهِ عَلَى أَحَدٍ سِوَاكَ، وَلاَ أُوَجِّهُهُ إِلَى مَعَادِنِ الْخَيْبَةِ وَمَوَاضِعِ الرِّيبَةِ، وَعَدَلْتَ بِلِسَانِي عَنْ مَدَائِحِ الآدَمِيِّينَ، وَالثَّنَاءِ عَلَى الْمَرْبُوبِينَ الْمَخْلُوقِينَ. اللَّهُمَّ وَلِكُلِّ مُثْنٍ عَلَى مَنْ أَثْنَى عَلَيْهِ مَثُوبَةٌ مِنْ جَزَاءٍ، أَوْ عَارِفَةٌ مِنْ عَطَاءٍ؛ وَقَدْ رَجَوْتُكَ دَلِيلاً عَلَى ذَخَائِرِ الرَّحْمَةِ وَكُنُوزِ الْمَغْفِرَةِ. اللَّهُمَّ وَهذَا مَقَامُ مَنْ أَفْرَدَكَ بِالتَّوْحِيدِ الَّذِي هُوَ لَكَ، وَلَمْ يَرَ مُسْتَحِقّاً لِهذِهِ الْمَحَامِدِ وَالْمَمَادِحِ غَيْرَكَ، وَبِي فَاقَةٌ إِلَيْكَ لاَ يَجْبُرُ مَسْكَنَتَهَا إِلاَّ فَضْلُكَ، وَلاَ يَنْعَشُ مِنْ خَلَّتِهَا إِلاَّ مَنُّكَ وَجُودُكَ، فَهَبْ لَنَا فِي هذَا الْمَقَامِ رِضَاكَ، وَأَغْنِنَا عَنْ مَدِّ الأَيْدِي إِلَى مَنْ سِوَاكَ، إِنَّكَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ!

[ ۹۲ ]

له ګورو وریځو څخه وریږي. او له هغه څه چې غولی یې له ځمکې پورته کوي سیلابي بارانونه یې نغري او ختموي یې. هغه خبر دے د شګو په ډېمبارونو کښې د بوټو له ځغلیدلو جرړو،د غرونو په لوړو کښې د مارغانو له ځالو، په تیرو ځالو کښې د مرغانو له سندرو،د سیپیو په زړهٔ کښې له خوندي ملغلرو، او د دریاب له هغو څپو چې دغه سیپی‌ په خپله لمنه کښې روزي. پاک خدا ے خبر دے له هر هغه څه چې د شپې تیارهٔ پرې خپره شوې یا پرې د نمر وړانګې لګېدلې، او له هغه څه چې بیا بیا پرې تیارهٔ او رڼا راګرځي. د هر ګام له خاپه،د هر خوځښت له احساسه،د هر غږ له انګازې،د هرې شونډې له خوځېدو،د هر ژوندي ساري له ځایه،د هرې ذرې له وزنه، او د هر غمجن له فریاده، خدا ے خبر دے د ونو د څانګو له میوو، په ځمکه له غورزېدلو پاڼو،او د نطفې له قرارګاه، او د وینې له چکه کېدو او د غوښې د لوټې په شکل د جنین له جوړېدو او له هغه صورته چې ترې جوړیږي.دا هر څه د هغهٔ په علم کښې دي او په دغه علم کښې نهٔ هغه په څه زحمت اخته شوے او نهٔ د رنګارنګو مخلوقاتوپه ساتنه کښې اندیښمنیږي. او د مخلوقاتو د چارو په تدبیر کښې سستي او خفګان نهٔ ورځي. بلکه د خدا ے پاک علم په دغو ټولو کښې نفوذ موندلے او ټول یې شمېرلي دي.د هغهٔ عدل او انصاف په هر څه خپور دے او که څه هم مخلوقات د هغهٔ په ستائنه کښې کوتاهي کوي خو د هغهٔ د فضل او کرم چینه هماغه شان خوټکیږي.

## د امیرالمومنین علیه السلام دعا

اے خدایه! هم ته د ښکلې ستائېنې وړ یې او د بې شمېره او بې حده ستائېنې، څوک چې تا ته هیله ولري تهٔ تر ټولو ښه هیله یې او څوک چې ارمان وکړي تر ټولو غوره ارمان یې. اے خدایه !په ما دې د نعمت ورونه پرانېستل چې د بل چا ستائنه ونهٔ کړم او په دغو نعمتونو د بل چا مدحه ونهٔ وایم.او خپله ژبه د نهیلوونکو، نااميدو او بې باورو په مدحه پرا نهٔ نېزم. اے خدایه! هر ثنا خوان د ثنا کېدونکي له لوري اجر لري. تا ته هیله لرم چې د رحمت خزانو او د بخښنې زیرمو ته مې لاره سمه کړې. اے خدایه ! دا ستا هغه بنده دے چې تا یواځېنے واحد ذات ګڼي، او یواځېتوب او توحید هم له تاسره ښائي. او بل هیڅوک د دغو ستائنو وړ نهٔ دے. اے خدایه! زهٔ ستا در ته اړمن یم او بې ستا له فضله بل هیڅ څه نهٔ شي جبرانولې او تلافي کولې او بې ستا له ښندنې یې بل هیڅ څه په بډایتوب نهٔ شي اړولې. نو مونږ ته خپله رضا راکړې او د نورو له لمنې زمونږ لاس لنډ کړې.« تهٔ په هر څه باندې وسیال یې»

﴿دوه نوي یمه خطبه﴾

لَمَّا أَرَادَهُ النَّاسُ عَلَى الْبَيْعَةِ

دَعُونِي وَالْتَمِسُوا غَيْرِي؛ فَإِنَّا مُسْتَقْبِلُونَ أَمْراً لَهُ وُجُوهٌ وَأَلْوَانٌ؛ لاَ تَقُومُ لَهُ الْقُلُوبُ، وَلاَ تَثْبُتُ عَلَيْهِ الْعُقُولُ، وَإِنَّ الآفَاقَ قَدْ أَغَامَتْ، وَالْمَحَجَّةَ قَدْ تَنَكَّرَتْ. وَاعْلَمُوا أَنِّي إِنْ أَجَبْتُكُمْ رَكِبْتُ بِكُمْ مَا أَعْلَمُ، وَلَمْ أُصْغِ إِلَى قَوْلِ الْقَائِلِ وَعَتْبِ الْعَاتِبِ، وَإِنْ تَرَكْتُمُونِي فَأَنَا كَأَحَدِكُمْ؛ وَلَعَلِّي أَسْمَعُكُمْ وَأَطْوَعُكُمْ لِمَنْ وَلَّيْتُمُوهُ أَمْرَكُمْ، وَأَنَا لَكُمْ وَزِيراً، خَيْرٌ لَكُمْ مِنِّي أَمِيراً!

[ ۹۳ ]

وَمِنْ خُطْبَةٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ

خَصَائِصُ الإِمَامِ عَلِيٍّ عَلَيْهِ السَّلاَمُ

أَمَّا بَعْدُ، أَيُّهَا النَّاسُ فَإِنِّي فَقَأْتُ عَيْنَ الْفِتْنَةِ، وَلَمْ يَكُنْ لِيَجْتَرِىءَ عَلَيْهَا أَحَدٌ غَيْرِي بَعْدَ أَنْ مَاجَ غَيْهَبُهَا، وَاشْتَدَّ كَلَبُهَا. فَاسْأَلُونِي قَبْلَ أَنْ تَفْقِدُونِي، فَوَ الَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لاَ تَسْأَلُونِي عَنْ شَيْءٍ فِيمَا بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ السَّاعَةِ، وَلاَ عَنْ فِئَةٍ تَهْدِي مِائَةً وَتُضِلُّ مِائَةً إِلاَّ نَبَّأْتُكُمْ بِنَاعِقِهَا وَقَائِدِهَا وَسَائِقِهَا، وَمُنَاخِ رِكَابِهَا، وَمَحَطِّ رِحَالِهَا، وَمَنْ يُقْتَلُ مِنْ أَهْلِهَا قَتْلاً، وَمَنْ يَمُوتُ مِنْهُمْ مَوْتاً. وَلَوْ قَدْ فَقَدْتُمُونِي وَنَزَلَتْ كَرَائِهُ الأُمُورِ، وَحَوَازِبُ الْخُطُوبِ، لأَطْرَقَ كَثِيرٌ مِنَ السَّائِلِينَ، وَفَشِلَ كَثِيرٌ مِنَ الْمَسْؤُولِينَ، وَذلِكَ إِذَا قَلَّصَتْ حَرْبُكُمْ، وَشَمَّرَتْ عَنْ سَاقٍ، وَضَاقَتِ الدُّنْيَا عَلَيْكُمْ ضِيقاً، تَسْتَطِيلُونَ أَيَّامَ الْبَلاَءِ عَلَيْكُمْ، حَتَّى يَفْتَحَ اللهُ لِبَقِيَّةِ الأَبْرَارِ مِنْكُمْ. إِنَّ الْفِتَنَ إِذَا أَقْبَلَتْ شَبَّهَتْ، وَإِذَا أَدْبَرَتْ نَبَّهَتْ، يُنْكَرْنَ مُقْبِلاَتٍ، وَيُعْرَفْنَ مُدْبِرَاتٍ، يَحُمْنَ حَوْمَ الرِّيَاحِ، يُصِبْنَ بَلَداً وَيُخْطِئْنَ بَلَداً. أَلاَ وَإِنَّ أَخْوَفَ الْفِتَنِ عِنْدِي عَلَيْكُمْ فِتْنَةُ بَنِي أُمَيَّةَ، فَإِنَّهَا فِتْنَةٌ عَمْيَاءُ مُظْلِمَةٌ: عَمَّتْ خُطَّتُهَا، وَخَصَّتْ بَلِيَّتُهَا، وَأَصَابَ الْبَلاَءُ مَنْ أَبْصَرَ فِيهَا، وَأَخْطَأَ الْبَلاَءُ مَنْ عَمِيَ عَنْهَا.

(د دريم خليفه له وژل کېدو وروسته کله چې خلقو له امام علي﵇ سره د بيعت اراده وکړه نو امام وفرمايل)

## د خلافت منلو لاملونه او اسباب

ما پرېږدئ او لاړ شئ بل څوک اولټوئ[74] ځکه چې مونږ د داسې پېښو هرکلي ته روان يوو چې فتنه ګرې دي او ډول ډول مخونه لري او زړونه په دغه بيعت او عقلونه په دې تړون باقي نهٔ پاتې کېږي. اوګورئ چې افق څومره تورو وريځو نيولے دے او د حق نېغه لاره څومره ورکه شوې ده. ياد لرئ که ستاسو بيعت مې اومنهٔ نو تاسو به د خپل علم په لاره چلوم او د دهٔ او هغهٔ په خبرو او د ملامتګونکو ملامتيا ته به غوږ نهٔ نيسم. خوکه تاسو زهٔ پرېښودم نو هم ستاسو د يوکس په شان ژوند به وکړم او ښائي تر تاسو زيات به ستاسو د واکمن خبره منم. که زهٔ ستاسو وزير او سلاکار وم تر دې غوره ده چې امير او مشر وم.

## ﴿ درې نوي يمه خطبه ﴾

(ځينې مورخان وائي چې دا وېنا يې د نهروان له جنګه وروسته کړې ده)

### ۱: د امام علي﵇ ځانګړتياوې او خصوصيتونه

د پالونکي له حمد او ثنا وروسته: اے خلقو زهٔ وم چې د فتنې سترګه مې ړنده کړه او بې له ما هيچا د دې جرائت نهٔ لرهٔ هغه وخت چې د تيرو څپې اوچتې شوې او د ليونتوب مرض يې زيات شو. نو هر څه چې له ماپوښتئ وې پوښتئ[75] مخکې له دې چې ما بيا نهٔ مومئ. په هغه خداے قسم چې زما ځان يې په اختيار کښې دے اوس چې تاسو د قيامت تر ورځې پورې هر څه له ما وپوښتئ او د هرې ډلې په حقله چې پوښتنه وکړئ چې سل کسان هدايت وي يا يې ګمراه وي زهٔ به ترې تاسو خبر کړم او ځواب به يې درکړم او د هغوي له بلونکي، بوتلونکي او څوک يې چې بوځي او چرته به چې پړاو کوي او چرته به چې بارونه پرانېزي، يا به ترې څوکسان وژل کېږي يا به په خپل مرګ مړهٔ کېږي له ټولو به مو خبر کړم. حال دا چې که دا سخت حالات او انديښنې له ما وروسته په تاسو باندې راغلې نو هم به پوښتونکي لالهانده او سرګردانه شي او هم هغه کس له چا چې پوښتنه کېږي هغه به هم د ځواب له ورکولو عاجزه شي. او دا ټول به هغه وخت وي چې په تاسو به اوږدهٔ جنګونه راشي او دنيا به داسې درتنګه شي تهٔ به وائې د بلا او مصيبت ورځې ډېرې اوږدې دي. تردې چې خداے پاک به د پاتې نېکو کسانو په لاس د برې بيرغ ورپوي.(د امام مهدي﵇ د ظهور په زمانه کښې) ياد ساتئ کله چې فتنې راځي نو خلق په شبهو کښې اچوي اوکله چې ځي نوحقيقتونه په روښانه کوي. فتنې چې کله راځي نو نهٔ پېژندل کېږي او کله چې ځي نو پېژندل شوې وي. فتنې د هواګانو او غوليو په شان تاوېږي. او له هر ځايه تېرېږي. په ځينو ښارونو کښې غميزې پنځوي او له ځينو همداسې تېرېږي. خبر اوسئ چې زما په خيال تر ټولو بورږنوونکي فتنه به د بني اميو فتنه وي. داسې ړنده فتنه او داسې توره تياره چې په هر ځاے خپره

وَايْمُ اللهِ لَتَجِدُنَّ بَنِي أُمَيَّةَ لَكُمْ أَرْبَابَ سُوْءٍ بَعْدِي، كَالنَّابِ الضَّرُوسِ: تَعْذِمُ بِفِيهَا، وَتَخْبِطُ بِيَدِهَا، وَتَزْبِنُ بِرِجْلِهَا، وَتَمْنَعُ دَرَّهَا، لاَ يَزَالُونَ بِكُمْ حَتَّى لاَ يَتْرُكُوا مِنْكُمْ إِلاَّ نَافِعاً لَهُمْ، أَوْ غَيْرَ ضَائِرٍ بِهِمْ، وَلاَ يَزَالُ بَلاَؤُهُمْ حَتَّى لاَ يَكُونَ انْتِصَارُ أَحَدِكُمْ مِنْهُمْ إِلاَّ مِثْلَ انْتِصَارِ الْعَبْدِ مِنْ رَبِّهِ، وَالصَّاحِبِ مِنْ مُسْتَصْحِبِهِ، تَرِدُ عَلَيْكُمْ فِتْنَتُهُمْ شَوْهَاءَ مَخْشِيَّةً، وَقِطَعاً جَاهِلِيَّةً، لَيْسَ فِيهَا مَنَارُ هُدىً، وَلاَ عَلَمٌ يُرَى.

نهايَةُ الأُمَوِيِّين

نَحْنُ أَهْلَ الْبَيْتِ مِنْهَا بِنَجَاةٍ، وَلَسْنَا فِيهَا بِدُعَاةٍ، ثُمَّ يُفَرِّجُهَا اللهُ عَنْكُمْ كَتَفْرِيجِ الأَدِيمِ: بِمَنْ يَسُومُهُمْ خَسْفاً، وَيَسُوقُهُمْ عُنْفاً، وَيَسْقِيهِمْ بِكَأْسٍ مُصَبَّرَةٍ، لاَ يُعْطِيهِمْ إِلاَّ السَّيْفَ، وَلاَ يُحْلِسُهُمْ إِلاَّ الْخَوْفَ، فَعِنْدَ ذلِكَ تَوَدُّ قُرَيْشٌ ـ بِالدُّنْيَا وَمَا فِيهَا ـ لَوْ يَرَوْنَنِي مَقَاماً وَاحِداً، وَلَوْ قَدْرَ جَزْرِ جَزُورٍ، لاَِقْبَلَ مِنْهُمْ مَا أَطْلُبُ الْيَوْمَ بَعْضَهُ فَلاَ يُعْطُونِيهِ!

[ ۹٤ ]

فَتَبَارَكَ اللهُ الَّذِي لاَ يَبْلُغُهُ بُعْدُ الْهِمَمِ، وَلاَ يَنَالُهُ حَدْسُ الْفِطَنِ، الأَوَّلُ الَّذِي لاَ غَايَةَ لَهُ فَيَنْتَهِيَ، وَلاَ آخِرَ لَهُ فَيَنْقَضِيَ.

مِنْهَا فِي وَصْفِ الأَنْبِيَاءِ: فَاسْتَوْدَعَهُمْ فِي أَفْضَلِ مُسْتَوْدَعٍ، وَأَقَرَّهُمْ فِي خَيْرِ مُسْتَقَرٍّ، تَنَاسَخَتْهُمْ كَرَائِمُ الأَصْلاَبِ إِلَى مُطَهَّرَاتِ الأَرْحَامِ؛ كُلَّمَا مَضَى سَلَفٌ، قَامَ مِنْهُمْ بِدِينِ اللهِ خَلَفٌ. حَتَّى أَفْضَتْ كَرَامَةُ اللهِ سُبْحَانَهُ إِلَى مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ، فَأَخْرَجَهُ مِنْ أَفْضَلِ الْمَعَادِنِ مَنْبِتاً، وَأَعَزِّ الأَرُومَاتِ مَغْرِساً، مِنَ الشَّجَرَةِ الَّتِي صَدَعَ مِنْهَا أَنْبِيَاءَهُ، وَانْتَجَبَ مِنْهَا أُمَنَاءَهُ. عِتْرَتُهُ خَيْرُ الْعِتَرِ، وَأُسْرَتُهُ خَيْرُ الأُسَرِ، وَشَجَرَتُهُ خَيْرُ الشَّجَرِ؛ نَبَتَتْ فِي حَرَمٍ،

وي خو خواص او نېکان به يې ډېر په نخښه وي.څوک چې دغه فتنې اوپېژني سختی. به يې په هغه وي او څوک يې چې ونۀ پېژني له هغو به په آسانه تېر شي. په خدا ے قسم! له ما وروسته به بني اميه ستاسو لپاره ډېر بد چارواکي وي. هغوي به له تاسو سره داسې وي لکه اړې ماره اوښه چې پښې په ځمکه وهي، لتې ورکوي، چيچل کوي او پيو ته نۀ اودرېږي. او په تاسو کښې به هيڅوک پرې نۀ ږدي بې له هغو چې هغوي ته ګټه ورکوي يا تاوان و نۀ رسوي. او د بني اميه ؤ دا مصيبت او بلا به په تاسو اوږده شي ان تر دې چې له هغوي ستاسو داد خواهي او انصاف غوښتنه به داسې وي لکه مريې چې له باداره يا مريد له خپله پيره انصاف غواړي. په تاسو باندې به د هغوي فتنه داسې په وېروونکې نازله شي چې وبه مو وېروي او د جاهليت د وخت توکې به ولرې نۀ به پکې د هدايت مناره وي او نۀ د نجات بېرغ چې انسان ورته هيله ولري.

۲: د بني اميو بد انجام

يواځې مونږ اهل بيت به له دغو فتنو په امن کښې يوو او بلونکي به يې نۀ يوو. بيا به خدا ے پاک د بني اميو فتنې ختمې او له تاسو لرې کړي لکه قصاب چې په لاسونو له غوښې پوستکي لرې کوي. خدا ے به د داسې کسانو په لاس بني اميو ته د ذلت خوند ورڅکي چې ډېر په سختنه به يې له حکومته لرې کړي او د بلا او مصيبت تراخۀ جامونه به ورڅښنوي او بې له تورې به بل څه نۀ ورکوي. او بې د وېرې له جامې به بل څه نه ورناغوندوي. په دغه زمانه کښې به قريش ارمان وکړي چې کاش ټوله دنيا او د هغې دولت ورکړي خو ما ووينې يواځې يو څو شيبې دومره چې اوښ پکې نحر کېږي. چې زۀ له هغوي هغه څه قبول کړم چې نن يې ترې يوه برخه غواړم خو دوي يې نۀ راکوي.

## ﴿ څلورنوي يمه خطبه ﴾

مبارک دے او لوړ دے هغه خدا ے پاک چې ژور فکرونه د هغۀ د ذات حقيقت ته نۀ شي رسېدې، او د عقل او فهم ذهانتونه يې نۀ شي درک کولې. داسې اول دے چې خاتمه نۀ لري چې څوک يې آخر ته اورسېږي او آخر نۀ لري چې ګوندې ختم شي.

هغۀ پېغمبران (ع) په ډېر ښکلي ځا ے کښې پېرزوکړل او په غوره ځايونو کښې يې مستقر کړل. او له ډېرو پاکو صلبونو(ملاګانو) څخه يې غوره رحمونو(مېندو) ته اولېږل او کله چې يو له دنيا لاړ بل د خدا ے پاک د دين د رسولو دنده په غاړه واخېسته.ان تردې چې دغه استازيتوب رسول الله مبارک حضرت محمد (ص) ته ورسېد.د هغۀ د وجود اصلي زړے يې تر ټولو له غوره معدنونو چوڼ کړ او د هغۀ د وجود نيالګے يې په ډېرو اصيلو او عزتمنو ځمکو کښې وټوکوۀ او له هغې طيبې او پاکې شجرې (ونې) چې نور پېغمبران (ع) يې ترې پېدا کړي وو وپنځوۀ. د پېغمبراکرم (ص) عترت (اهلبيت (ع)) تر ټولو غوره عترت او کورنۍ يې تر ټولو ښه کورنۍ. او د وجود ونه يې تر ټولو مبارکه ونه ده. هغه يې د خدا ے په امن حرم کښې زرغون کړ او د لوي او کريمی کورنۍ. په غېږ

وَبَسَقَتْ فِي كَرَمٍ، لَهَا فُرُوعٌ طِوَالٌ، وَثَمَرٌ لَا يُنَالُ. فَهُوَ إِمَامُ مَنِ اتَّقَى، وَبَصِيرَةُ مَنِ اهْتَدَى، وَسِرَاجٌ لَمَعَ ضَوْؤُهُ، وَشِهَابٌ سَطَعَ نُورُهُ وَزَنْدٌ بَرَقَ لَمْعُهُ؛ سِيرَتُهُ الْقَصْدُ، وَسُنَّتُهُ الرُّشْدُ، وَكَلَامُهُ الْفَصْلُ، وَحُكْمُهُ الْعَدْلُ؛ أَرْسَلَهُ عَلَى حِينِ فَتْرَةٍ مِنَ الرُّسُلِ، وَهَفْوَةٍ عَنِ الْعَمَلِ، وَغَبَاوَةٍ مِنَ الأُمَمِ.

عظة الناس

اعْمَلُوا، رَحِمَكُمُ اللهُ، عَلَى أَعْلَامٍ بَيِّنَةٍ، فَالطَّرِيقُ نَهْجٌ يَدْعُو إِلَى دَارِ السَّلَامِ، وَأَنْتُمْ فِي دَارِ مُسْتَعْتَبٍ عَلَى مَهَلٍ وَفَرَاغٍ، وَالصُّحُفُ مَنْشُورَةٌ، وَالأَقْلَامُ جَارِيَةٌ، وَالأَبْدَانُ صَحِيحَةٌ، وَالأَلْسُنُ مُطْلَقَةٌ، وَالتَّوْبَةُ مَسْمُوعَةٌ، وَالأَعْمَالُ مَقْبُولَةٌ.

[ ۹۵ ]

وَمِنْ خُطْبَةٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ يُقَرِّرُ فَضِيلَةَ الرَّسُولِ الْكَرِيمِ

بَعَثَهُ وَالنَّاسُ ضُلَّالٌ فِي حَيْرَةٍ، وَحَاطِبُونَ فِي فِتْنَةٍ، قَدِ اسْتَهْوَتْهُمُ الأَهْوَاءُ، وَاسْتَزَلَّتْهُمُ الْكِبْرِيَاءُ، وَاسْتَخَفَّتْهُمُ الْجَاهِلِيَّةُ الْجَهْلَاءُ؛ حَيَارَى فِي زَلْزَالٍ مِنَ الأَمْرِ، وَبَلَاءٍ مِنَ الْجَهْلِ، فَبَالَغَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ فِي النَّصِيحَةِ، وَمَضَى عَلَى الطَّرِيقَةِ، وَدَعَا إِلَى الْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ.

[ ۹۶ ]

الْحَمْدُ للهِ الأَوَّلِ فَلَا شَيْءَ قَبْلَهُ، وَالآخِرِ فَلَا شَيْءَ بَعْدَهُ، وَالظَّاهِرِ فَلَا شَيْءَ فَوْقَهُ، وَالْبَاطِنِ فَلَا شَيْءَ دُونَهُ.

مِنْهَا فِي ذِكْرِ الرَّسُولِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ: مُسْتَقَرُّهُ خَيْرُ مُسْتَقَرٍّ، وَمَنْبِتُهُ أَشْرَفُ مَنْبِتٍ، فِي مَعَادِنِ الْكَرَامَةِ، وَمَمَاهِدِ السَّلَامَةِ. قَدْ صُرِفَتْ نَحْوَهُ أَفْئِدَةُ الأَبْرَارِ، وَثُنِيَتْ إِلَيْهِ أَزِمَّةُ الأَبْصَارِ، دَفَنَ [اللهُ] بِهِ الضَّغَائِنَ، وَأَطْفَأَ بِهِ الثَّوَائِرَ، وَأَلَّفَ بِهِ إِخْوَاناً، وَفَرَّقَ بِهِ أَقْرَاناً، أَعَزَّ بِهِ الذِّلَّةَ، وَأَذَلَّ بِهِ الْعِزَّةَ، كَلَامُهُ بَيَانٌ، وَصَمْتُهُ لِسَانٌ.

کښې یې وروزۀ، د دغه پاکې شجرې څانګې اوږدې دي چې مېوه یې د انسان له لاسه لوړه ده. نو پیغمبر ﷺ د پرهېزګارو لارښود او د هدایت غوښتونکو نظر دے .د ځلانده رڼا څراغ، ځلېدونکے ستورے، او داسې شعله ناکه بریښنا ده چې سترګې بربښوي. د هغوي سیرت اعتدال، لار او روده یې صحیح او پایداره، خبرې یې د حق او باطل روښانوونکې، او حکم یې په عدالت ولاړ دے. خداے پاک هغه په داسې زمانه کښې مبعوث کړ چې د نبیانو لړۍ تم شوې وه او خلق له نېکیو لرې شوي وو او امتونه په جهل او ناپوهۍ اخته شوي وو.

اے خلقو! خداے مو اوبخښه په نېکو کارونو کښې په روښانه نښو(اهلبیت) عمل کوئ او ځکه چې لاره روښانه ده او تاسو د امن کور ته بلې. اوس تاسو په داسې دنیا کښې ژوند کوئ چې کولې شئ د خداے پاک رضا لاسته راوړئ، په هغه مهلت او فرصت سره چې لرئ یې اوس دا ده د عمل نامه پرانېستې او د فرښتو قلمونه په لیکلو دي، بدنونه مو روغ او ژبې مو ویانه دي، او توبه اوربدل کېدي شي او نېک عملونه قبلېدې شي.

## ﴿ پینځۀ نوي یمه خطبه ﴾

### د جاهلیت او نعمت پړاو

خداے تعالی پېغمبراکرم ﷺ په داسې زمانه کښې په پېغمبرۍ وګمارۀ چې خلق حېرانه او لالهانده وو. په فتنو کښې ښخ وو او هوا او هوس وربادې غالب ؤ. کبر او غرور یې ګامونه لغزولي وو او د جاهلیت ناپوهیو خوار او ذلیل کړي وو. د ژوند په چارو کښې سرګردانه وو او د ناپوهۍ بلا رانیولي وو. نو رسول الله مبارک ﷺ د هغوي د نصیحت او خېرخواهۍ لپاره ډېر زیار اوبستۀ او هغوي یې نېغې لارې ته هدایت کړل او په نېکې موعظې او حکمت سره یې نېغې لارې ته وبلل.

## ﴿ شپږ نوي یمه خطبه ﴾

### خداے پېژندنه

ستائنه هغه خداے لره ده چې وړومبے دے او تر هغه مخکې هېڅ څيز نۀ ؤ ،او داسې وروستے دے چې وروسته به ترې هېڅ څه نۀ وي. دومره روښانه دے چې تر هغۀ څرګند څه نشته او دومره پټ دے چې هېڅ څه تر هغۀ زیات پټ نۀ دي.

د رسول الله مبارک ﷺ هستوګن ځاے تر ټولو ښه مستقر او د هغۀ روزنځاے او کورنۍ تر ټولو شریفه او ښه کورنۍ ده.هغه د سترتوب په معدن او د سلامتیا په زانګو کښې لوے شو. د نېکانو زړونه هغۀ ته لېواله شول او سترګې هم هغۀ ته اوړېدلې دي.خداے تعالی د هغۀ د وجود په برکت کینې ښخې کړې او د دښمنۍ اورونه یې مړۀ کړل. د هغۀ په برکت یې په زړونو کښې مینه پېداکړه او د کفر وروروليي یې ختمه کړه. خوارو ذلیلو او بې برخو انسانانو د هغۀ په برکت عزت وموند او خپل سري عزتمن ذلیل شول. د دوي کلام د حقیقتونو روښانوونکے او د هغوی چپتیا ګویا ژبه ده.

[ ۹۷ ]

وَلَئِنْ أَمْهَلَ اللهُ الظَّالِمَ فَلَنْ يَفُوتَ أَخْذُهُ، وَهُوَ لَهُ بِالْمِرْصَادِ عَلَى مَجَازِ طَرِيقِهِ، وَبِمَوْضِعِ الشَّجَا مِنْ مَسَاغِ رِيقِهِ. أَمَا وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، لَيَظْهَرَنَّ هؤُلاَءِ الْقَوْمُ عَلَيْكُمْ، لَيْسَ لاَِنَّهُمْ أَوْلَى بِالْحَقِّ مِنْكُمْ، وَلكِنْ لاِسْرَاعِهِمْ إِلَى بَاطِلِ صَاحِبِهِمْ، وَإِبْطَائِكُمْ عَنْ حَقِّي. وَلَقَدْ أَصْبَحَتِ الاُمَمُ تَخَافُ ظُلْمَ رُعَاتِهَا، وَأَصْبَحْتُ أَخَافُ ظُلْمَ رَعِيَّتِي. اسْتَنْفَرْتُكُمْ لِلْجِهَادِ فَلَمْ تَنْفِرُوا، وَأَسْمَعْتُكُمْفَلَمْ تَسْمَعُوا، وَدَعَوْتُكُمْ سِرّاً وَجَهْراً فَلَمْ تَسْتَجِيبُوا، وَنَصَحْتُ لَكُمْ فَلَمْ تَقْبَلُوا. شُهُودٌ كَغُيَّاب، وَعَبِيدٌ كَأَرْبَاب! أَتْلُوا عَلَيْكُمُ الْحِكَمَ فَتَنْفِرُونَ مِنْهَا، وَأَعِظُكُمْ بِالْمَوْعِظَةِ الْبَالِغَةِ فَتَتَفَرَّقُونَ عَنْهَا، وَأَحُثُّكُمْ عَلَى جِهَادِ أَهْلِ الْبَغْيِ فَمَا آتِي عَلَى آخِرِقَوْلِي حَتَّى أَرَاكُمْ مُتَفَرِّقِينَ أَيَادِي سَبَا، تَرْجِعُونَ إِلَى مَجَالِسِكُمْ، وَتَتَخَادَعُونَ عَنْ مَوَاعِظِكُمْ، أُقَوِّمُكُمْ غُدْوَةً، وَتَرْجِعُونَ إِلَيَّ عَشِيَّةً، كَظَهْرِ الْحَنِيَّةِ، عَجَزَ الْمُقَوِّمُ، وَأَعْضَلَ الْمُقَوَّمُ. أَيُّهَا الشَّاهِدَةُ أَبْدَانُهُمْ، الْغَائِبَةُ عَنْهُمْ عُقُولُهُمْ، الْمُخْتَلِفَةُ أَهْوَاؤُهُمْ، الْمُبْتَلَى بِهِمْ أُمَرَاؤُهُمْ، صَاحِبُكُمْ يُطِيعُ اللهَ وَأَنْتُمْ تَعْصُونَهُ، وَصَاحِبُ أَهْلِ الشَّامِ يَعْصِي اللهَ وَهُمْ يُطِيعُونَهُ، لَوَدِدْتُ وَاللهِ أَنَّ مُعَاوِيَةَ صَارَفَنِي بِكُمْ صَرْفَ الدِّينَارِ بِالدِّرْهَمِ، فَأَخَذَ مِنِّي عَشَرَةً مِنْكُمْ وَأَعْطَانِي رَجُلاً مِنْهُمْ! يَاأَهْلَ الْكُوفَةِ، مُنِيتُ مِنْكُمْ بِثَلاَث وَاثْنَتَيْنِ: صُمٌّ ذَوُوأَسْمَاع، وَبُكْمٌ ذَوُوكَلاَم، وَعُمْيٌ ذَوُوأَبْصَار، لاَ أَحْرَارُ صِدْق عِنْدَ اللِّقَاءِ، وَلاَ إِخْوَانُ ثِقَة عِنْدَ الْبَلاَءِ! تَرِبَتْ أَيْدِيكُمْ! يَا أَشْبَاهَ الاْبِلِ غَابَ عَنْهَا رُعَاتُهَا! كُلَّمَا جُمِعَتْ مِنْ جَانِب تَفَرَّقَتْ مِنْ آخَرَ، وَاللهِ لَكَأَنِّي بِكُمْ فِيمَا إِخَالُ: لَوْ حَمِسَ الْوَغَى، وَحَمِيَ الضِّرَابُ، قَدِانْفَرَجْتُمْ عَنِ ابْنِ أَبِي طَالِب انْفِرَاجَ الْمَرْأَةِ عَنْ قُبُلِهَا، وَإِنِّي لَعَلَى بَيِّنَة مِنْ رَبِّي، وَمِنْهَاج مِنْ نَبِيِّي، وَإِنِّي لَعَلَى الطَّرِيقِ الْوَاضِحِ أَلْقُطُهُ لَقْطاً.

## ﴿ اوهٔ نوي يمه خطبه ﴾

(د هجرت په اتهٔ دېرشمه نېټه يې د نهروان له جنګه وروسته د خپلو لښکريانو په غندنه کښې چې له معاويه سره يې د وروستي جنګ لپاره په تيارېدو کښې لټي او سستي کوله وفرمايل)

### د کوفيانو غندنه او د هغوي د ماتي لاملونه او اسباب

که خداے تعالی ظالم ته څو ورځې مهلت ورکوي په دې وجه نهٔ دي چې خداے پاک د هغهٔ له حساب يا عذابه غافله شوے دے. خداے د ظالمانو په کمين کښې ناست دے، او د هغوي مرۍ يې نيولې چې اوبهٔ ونهٔ څښې شي. خبر اوسئ! په هغه خداے قسم چې زما روح يې په لاس کې دے شاميان به په تاسو غالب شي په دې وجه نه چې هغوي تر تاسو زيات حقداره دي بلکه له دې امله چې هغوي د خپل باطل امير امر سملاسي مني خو تاسو د حق په منلو کښې سستي کوئ. د دنيا قامونه د خپلو چارواکو له ظلمه وېرېږي او زهٔ د خپلو پېروکارو له ظلمه وېره لرم. تاسو مې له دښمن سره جهاد ته وهڅولئ خو تاسو روان نهٔ شوئ، حق مې درته ووايهٔ خو وامو نهٔ وربدهٔ، او په ښکاره او پټه مې تاسو اوبللئ خو بلنه مو ونهٔ منله، نصيحت مې درته وکړ خو قبول مو نهٔ کړ. تاسو داسې حاضران يئ لکه غائبان او داسې مريان يئ لکه باداران. تاسو ته د خداے پاک امر اوروم خو تاسو ترې تښتئ او رسا نصيحتونه درته کوم خو تاسو تيتيږئ، تاسو له سرکښانو سره مبارزې ته غواړم خو لا مې خبرې نه وي ختمې شوې چې د سبا[۷۲] د خلقو په شان خوارهٔ وارهٔ شئ او خپلو غونډو ته ستانهٔ شئ.د پند او نصحيت په جامه کښې يو بل دهوکه کوئ چې زما د نصيحتونو اثر ختم کړئ. سحر مو کوږوالے نېغ کړم او ماښام بيا کاږه شئ.لکه لينده چې نيغوې او بيا کږيږي هم په خپله نهٔ نيغيږي او هم مو نيغوونکے ستړے شي. اے هغو خلقو چې بدنونه موحاضر او عقلونه مو غائب او فکرونه مو خوارهٔ وارهٔ دي. او ستاسو واکوال له ستونځو سره مخامخ دے.ستاسو مشر د خداے اطاعت کوي او تاسو ورسره مخالفت کوئ.خو د شاميانو مشر د خداے معصيت او نافرماني کوي او شاميان يې خبره مني. په خداے قسم خوښ يم چې معاويه له ما سره ستاسو په سر په درهمو او دينارو سره معامله وکړي له ما لس واخلي او خپل يو کس ماته راکړي. اے د کوفې خلقو! خداے په تاسو اړولې يم چې درې څيزه لرئ او دوه څيزه نهٔ لرئ:غوږور کاڼهٔ، ژبه ور ګونګيان او سترګور ړاندهٔ يئ. نهٔ د جنګ د مېدان مېړونه يئ او نهٔ د بلا او سختۍ په وخت باوري ملګري. خداے پاک مو لاسونه له خاورو ډک کړه. اے خلقو! تاسو د هغو اوښانو په شان يئ چې څاروان يې ورک شوے وي، له يوهٔ لورې يې راغونډوې او له بل اړخه خپريږي. په خداے قسم کله چې جنګ تود شي، لمبې يې بلې شي او تودوخي يې سوزوونکې شي نو د ابوطالب زوے پرېږدئ او داسې ترې جدا شئ لکه ښځه چې له زيږونه وروسته له بچي جدا شي. او هر کس يو لور ته وتښتئ. خو زهٔ د حق په روښانه لاره روان يم او په هغه لاره يون کوم چې رسول الله

أَهْلُ الْبَيْت وَأَصْحَابُ رَسُول الله

انْظُرُوا أَهْلَ بَيْتِ نَبِيِّكُمْ فَالْزَمُوا سَمْتَهُمْ، وَاتَّبِعُوا أَثَرَهُمْ فَلَنْ يُخْرِجُوكُمْ مِنْ هُدىً، وَلَنْ يُعِيدُوكُمْ فِي رَدىً، فَإِنْ لَبَدُوا فَالْبُدُوا، وَإِنْ نَهَضُوا فَانْهَضُوا، وَلاَ تَسْبِقُوهُمْ فَتَضِلُّوا، وَلاَ تَتَأَخَّرُوا عَنْهُمْ فَتَهْلِكُوا.

لَقَدْ رَأَيْتُ أَصْحَابَ مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِه، فَمَا أَرَى أَحَداً يُشْبِهُهُمْ مِنْكُمْ! لَقَدْ كَانُوا يُصْبِحُونَ شُعْثاً غُبْراً، قَدْ بَاتُوا سُجَّداً وَقِيَاماً، يُرَاوِحُونَ بَيْنَ جِبَاهِهِمْ وَخُدُودِهِمْ، وَيَقِفُونَ عَلَى مِثْلِ الْجَمْرِ مِنْ ذِكْرِ مَعَادِهِمْ! كَأَنَّ بَيْنَ أَعْيُنِهِمْ رُكَبَ الْمِعْزَى مِنْ طُولِ سُجُودِهِمْ! إِذَا ذُكِرَ اللهُ هَمَلَتْ أَعْيُنُهُمْ حَتَّى تَبُلَّ جُيُوبَهُمْ، وَمَادُوا كَمَا يَمِيدُ الشَّجَرُ يَوْمَ الرِّيحِ الْعَاصِفِ، خَوْفاً مِنَ الْعِقَابِ، وَرَجَاءً لِلثَّوَابِ!

## [ ۹۸ ]

يُشيرُ فِيه إِلَى ظُلْم بَني أُمَيَّةَ

وَاللهِ لاَ يَزَالُونَ حَتَّى لاَ يَدَعُوا لله مُحَرَّماً إِلاَّ اسْتَحَلُّوهُ، وَلاَ عَقْداً إِلاَّ حَلُّوهُ، حَتَّى لاَ يَبْقَى بَيْتُ مَدَر وَلاَ وَبَر إِلاَّ دَخَلَهُ ظُلْمُهُمْ وَنَبَا بِهِ سُوءُ رَعْيِهِمْ، وَحَتَّى يَقُومَ الْبَاكِيَانِ يَبْكِيَانِ: بَاكٍ يَبْكِي لِدِينِهِ، وَبَاكٍ يَبْكِي لِدُنْيَاهُ، وَحَتَّى تَكُونَ نُصْرَةُ أَحَدِكُمْ مِنْ أَحَدِهِمْ كَنُصْرَةِ الْعَبْدِ مِنْ سَيِّدِهِ، إِذَا شَهِدَ أَطَاعَهُ، وَإِذَا غَابَ اغْتَابَهُ، وَحَتَّى يَكُونَ أَعْظَمَكُمْ فِيهَا غَنَاءً أَحْسَنُكُمْ بِاللهِ ظَنّاً، فَإِنْ أَتَاكُمُ اللهُ بِعَافِيَةٍ فَاقْبَلُوا، وَإِنْ

مبارکﷺ پرانېستې ده زما لاره روښانه ده او د باطل په تیرو کښې یې هم موندلې شم.

### د رسول اللهﷺ اهلبیتعلیهم‌السلام

اے خلقو! د خپل پېغمبر (ص) په اهل بیتوعلیهم‌السلام نظر لرئ او په کومه لاره چې ځي تاسو هم لاړ شئ. او په پلۀ یې پل کېږدئ. هغوي تاسو هیڅکله د هدایت له لارې نۀ بې لارې کوي او هلاکت او سپکوالي ته مو نۀ ستنوي. چې اودرېدل نو ودرېږئ او چې پاڅېدل نو پاڅېږئ (قیام وکړئ) له هغوي مه مخکې کېږئ ګني بې لارې به شئ او له هغوي شاته مه پاتې کېږئ ګني تباه به شئ.

### د پېغمبراکرمﷺ اصحابؓ

ما د رسول الله مبارکﷺ اصحاب لیدلې خو افسوس چې په تاسو کښې یو کس هم د هغوي په شان نۀ دے. هغوي به په داسې حال کښې سحر کوۀ چې وېښتۀ به یې پرېشانه او مخونه دوړو وهلې وو او شپه به یې به سجدو او قیامونو تېروله. او خپل تندي او مخونه به یې د خداے پاک په در کښې په خاورو لګول. د قیامت یاد به داسې ناقراره کړي وو تۀ به وائې په اور ولاړ دي. په تندو به یې سجدو داسې نښې جوړې کړې وې لکه د بزو د زنګنونوغوټې. که چا به ورته د خداے پاک نوم واخېست نوګرېوانونه به یې له اوښکو لوندۀ شول او داسې به لړزېدل لکه ونه چې په طوفان کښې رپیږي. له هغې سزا چې وېره یې لرله. یا د هغه ثواب لپاره چې طمعه یې لرله.

## ﴿ اتۀ نوي یمه خطبه ﴾

(د نهروان له جنګه وروسته د هجرت په اتۀ دېرشم کال یې د بني امیه ؤ او معاویه د جنایتونو په افشا کښې وفرمایل)

### د بني امیو د ظلم خبر ورکول

په خداے قسم بني امیه به خپل ظالم حکومت همداسې جاري اوساتي او داسې حرام به پاتې نۀ شي چې حلال یې نۀ کړي او داسې تړون به پاتې نۀ شي چې مات یې نۀ کړي او هیڅ کور او کېږدۍ به پاتې نه شي مګر دا چې د دوي ظلم ورنۀ ننوځي. او په ظلم خلق له کور اوره اوشړي. تردې دواړه ډول خلق به ژړا ته مجبوره شي: ځینې کسان به خپل دین لپاره ژاړي او ځینې به د خپلې دنیا لپاره. او یو به له بله مرسته غواړي لکه مریي چې له باداره کمک غواړي چې د ارباب په شتون کښې اطاعت کوي او په نۀ شتون کښې یې بد رد وائي. د بني امیو په حکومت کښې چې خوک خداے پاک ته ډېر هیله مند وي په هغۀ به زیات مصیبتونه وي. نو که خداے پاک سلامتیا او عافیت درکړې نو په قدر یې پوه شئ او که په بلا او مصیبت اخته شوئ له صبره کار واخلئ. (ځکه چې آخر برے د

ابْتُليتُمْ فَاصْبِرُوا، فَإِنَّ الْعَاقِبَةَ لِلْمُتَّقِينَ.

[ ۹۹ ]

فِي التَّزْهِيد مِنَ الدُّنْيَا

نَحْمَدُهُ عَلَى مَا كَانَ، وَنَسْتَعِينُهُ مِنْ أَمْرِنا عَلَى مَا يَكُونُ، وَنَسْأَلُهُ الْمُعَافَاةَ فِي الأَدْيَانِ، كَمَا نَسْأَلُهُ الْمُعَافَاةَ فِي الأَبْدَانِ. أُوصِيكُمْ عِبادَاللهِ بِالرَّفْضِ لِهذه الدُّنْيَا التَّارِكَةِ لَكُمْ وَ إِنْ لَمْ تُحِبُّوا تَرْكَهَا، وَالْمُبْلِيَةِ لأَجْسَامِكُمْ وَإِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ تَجْدِيدَهَا، فَإِنَّمَا مَثَلُكُمْ وَمَثَلُهَا كَسَفْرٍ سَلَكُوا سَبِيلاً فَكَأَنَّهُمْ قَدْ قَطَعُوهُ، وَأَمُّوا عَلَماً فَكَأَنَّهُمْ قَدْ بَلَغُوهُ، وَكَمْ عَسَى الْمُجْرِي إِلَى الْغَايَةِ أَنْ يَجْرِيَ إِلَيْهَا حَتَّى يَبْلُغَهَا! وَمَا عَسَى أَنْ يَكُونَ بَقَاءُ مَنْ لَهُ يَوْمٌ لاَ يَعْدُوهُ، وَطَالِبٌ حَثِيثٌ يَحْدُوهُ فِي الدُّنْيَا حَتَّى يُفَارِقَهَا! فَلاَ تَنَافَسُوا فِي عِزِّ الدُّنْيَا وَفَخْرِهَا، وَلاَ تَعْجَبُوا بِزِينَتِهَا وَنَعِيمِهَا، وَلاَ تَجْزَعُوا مِنْ ضَرَّائِهَا وَبُؤْسِهَا، فَإِنَّ عِزَّهَا وَفَخْرَهَا إِلَى انْقِطَاعٍ، وَزِينَتَهَا وَنَعِيمَهَا إِلَى زَوَالٍ، وَضَرَّاءَهَا وَبُؤْسَهَا إِلَى نَفَادٍ، وَكُلُّ مُدَّةٍ فِيهَا إِلَى انْتِهَاءٍ، وَكُلُّ حَيٍّ فِيهَا إِلَى فَنَاءٍ. أَوَلَيْسَ لَكُمْ فِي آثَارِ الأَوَّلِينَ [مُزْدَجَرٌ]، وَفِي آبَائِكُمُ الْمَاضِينَ تَبْصِرَةٌ وَمُعْتَبَرٌ، إِنْ كُنْتُمْ تَعْقِلُونَ! أَوَلَمْ تَرَوْا إِلَى الْمَاضِينَ مِنْكُمْ لاَ يَرْجِعُونَ، وَإِلَى الْخَلَفِ الْبَاقِي لاَ يَبْقَوْنَ! أَوَلَسْتُمْ تَرَوْنَ أَهْلَ الدُّنْيَا يُمْسُونَ وَيُصْبِحُونَ عَلَى أَحْوَالٍ شَتَّى: فَمَيِّتٌ يُبْكَى، وَآخَرُ يُعَزَّى، وَصَرِيعٌ مُبْتَلىً، وَعَائِدٌ يَعُودُ، وَآخَرُ بِنَفْسِهِ يَجُودُ، وَطَالِبٌ لِلدُّنْيَا وَالْمَوْتُ يَطْلُبُهُ، وَغَافِلٌ وَلَيْسَ بِمَغْفُولٍ عَنْهُ؛ وَعَلَى أَثَرِ الْمَاضِي مَا يَمْضِي الْبَاقِي!أَلاَ فَاذْكُرُوا هَادِمَ اللَّذَّاتِ، وَمُنَغِّصَ الشَّهَوَاتِ، وَقَاطِعَ الأُمْنِيَاتِ، عِنْدَ الْمُسَاوَرَةِ لِلأَعْمَالِ الْقَبِيحَةِ، وَاسْتَعِينُوا اللهَ عَلَى أَدَاءِ وَاجِبِ حَقِّهِ، وَمَا لاَ يُحْصَى مِنْ أَعْدَادِ نِعَمِهِ وَإِحْسَانِهِ.

[ ۱۰۰ ]

وَمِنْ خُطْبَةٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ فِي رَسُولِ اللهِ وَأَهْلِ بَيْتِهِ

پرهېزګارو دے.

## ﴿ نهۀ نوي يمه خطبه ﴾

«د امام صحابي زيد بن وهب وائي چې دا خطبه يې د جمعې په ورځ په كوفه كښې وركړې ده»

د خداے شكر كوو په هغه څه چې وشول او مرسته يې غواړو په هغه څه كښې چې كېدونكي دي او له هغه غواړو چې دين مو سلامت وي لكه څرنګه چې ترې د بدن سلامتيا غواړوو. اے د خداے بندګانو! تاسو ته د دنيا د پرېښودلو سپارښتنه كوم چې په هر حال تاسو به پرېږدي كه څه هم تاسو يې جدائي نۀ خوښوئ او بدنونه مو ورستوي كه څه هم غواړئ چې هميشه تازه وي. ستاسو او د دنيا مثال د هغو مسافرانو دے چې په يوه لاره روان شي نو ګمان كوي چې منزل ته ورسېدل، كله چې يو منزل ته د رسېدو اراده وكړي نۀ به وائي مقصد ته ورسېدل. حال دا چې لا منزل ته ډېره فاصله پرته ده هغه كس به څرنګه منزل ته اورسېږي چې ټاكلې ورځ په مخكې لري او له هغه تېرېدي نه شي او مرګ په تېزۍ راخستي وي او ډول ډول اسباب هغه د دنيا پرېښودلو ته اړباسي كه څه هم د هغۀ نۀ وي خوښه. نو د دنيا په عزت او وياړ كښې له يو بل سره سيالي مه كوئ او په ښكلاؤ او نعمتونو يې مه غولېږئ او له سختيو يې مه پرېشانه كېږئ ځكه چې د دنيا عزت او وياړونه ختمېدونكي او نعمتونه يې زائلېدونكي دي او سختۍ يې هم تېرېدونكې دي.دلته د هر وخت يوه انتها ده او د هر ژوندي لپاره فنا ده .ولې د تېرو خلقو په ژوند كښې ستاسو لپاره عبرت نۀ دے پروت؟ ولې نۀ ګورئ چې كوم تېر شول هغه نۀ راستنېږي او ستاسو بچيان هم په دې دنيا كښې نۀ پاتې كېږي. ولې د دنيا خلقو ته نۀ ګورئ چې ډول ډول حالات او شپې ورځې لري. يو مري او بل ورپسې ژاړي او يو ترې پاتې وي او له هغه سره غمرازي كېږي يو بل كس يې بيا د بيمارۍ په بستر پروت وي او نور يې پوښتنې ته ورځي يو بل بيا د ځنكندن په حال كښې دے او بل د دنيا په طلب ګرځي چې مرګ يې راونيسي او يو بل بيا د غلفت په خوب اودۀ دے خو مرګ نۀ دے هېر كړے. او راتلونكي كسان هم د تېرو په پلۀ روان دي. نو په هوش كښې راشئ اوس هم موقع شته دے هغه مرګ رااياد كړئ چې د خوندونو فنا كوونكے، د مزو نابودوونكے او د هيلو ماتوونكے دے. او د بدو كارونو په وخت هغه ياد كړئ او د واجباتو د كولو، د نعمتونو او د خداے د بې شماره احسانونو په وړاندې د شكر په وخت له خدايه مرسته وغواړئ.

## ﴿ سلمه خطبه ﴾

«ويل كېږي چې دا خطبه يې د هجرت په پينځه دېرشمه نېټه د خلافت په دريمه جمعه وركړه»

الْحَمْدُ للهِ النَّاشِرِ فِي الْخَلْقِ فَضْلَهُ، وَالْبَاسِطِ فِيهِمْ بِالْجُودِ يَدَهُ، نَحْمَدُهُ فِي جَمِيعِ أُمُورِهِ، وَنَسْتَعِينُهُ عَلَى رِعَايَةِ حُقُوقِهِ، وَنَشْهَدُ أَنْ لَاإِلهَ غَيْرُهُ، وَأَنَّ مُحَمَّداً عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، أَرْسَلَهُ بِأَمْرِهِ صَادِعاً، وَبِذِكْرِهِ نَاطِقاً، فَأَدَّى أَمِيناً، وَمَضَى رَشِيداً، وَخَلَّفَ فِينَا رَايَةَ الْحَقِّ، مَنْ تَقَدَّمَهَا مَرَقَ، وَمَنْ تَخَلَّفَ عَنْهَا زَهَقَ، وَمَنْ لَزِمَهَا لَحِقَ، دَلِيلُهَا مَكِيثُ الْكَلَامِ، بَطِيءُ الْقِيَامِ، سَرِيعٌ إِذَا قَامَ، فَإِذَا أَنْتُمْ أَلَنْتُمْ لَهُ رِقَابَكُمْ، وَأَشَرْتُمْ إِلَيْهِ بِأَصَابِعِكُمْ، جَاءَهُ الْمَوْتُ فَذَهَبَ بِهِ، فَلَبِثْتُمْ بَعْدَهُ مَا شَاءَ اللهُ حَتَّى يُطْلِعَ اللهُ لَكُمْ مَنْ يَجْمَعُكُمْ وَيَضُمُّ نَشْرَكُمْ، فَلَا تَطْمَعُوا فِي غَيْرِ مُقْبِلٍ، وَلَا تَيْأَسُوا مِنْ مُدْبِرٍ، فَإِنَّ الْمُدْبِرَ عَسَى أَنْ تَزِلَّ بِهِ إِحْدَى قَائِمَتَيْهِ، وَتَثْبُتَ الْأُخْرَى، فَتَرْجِعَا حَتَّى تَثْبُتَا جَمِيعاً. أَلَا إِنَّ مَثَلَ آلِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وسلم، كَمَثَلِ نُجُومِ السَّمَاءِ: إِذَا خَوَى نَجْمٌ طَلَعَ نَجْمٌ، فَكَأَنَّكُمْ قَدْ تَكَامَلَتْ مِنَ اللهِ فِيكُمُ الصَّنَائِعُ، وَأَرَاكُمْ مَا كُنْتُمْ تَأْمُلُونَ.

[ ۱۰۱ ]

وَهِيَ مِنْ خُطْبَتِهِ الَّتِي تَشْتَمِلُ عَلَى ذِكْرِ الْمَلَاحِمِ

[الْحَمْدُ للهِ] الْأَوَّلِ قَبْلَ كُلِّ أَوَّلٍ، وَالْآخِرِ بَعْدَ كُلِّ آخِرٍ، بِأَوَّلِيَّتِهِ وَجَبَ أَنْ لَا أَوَّلَ لَهُ، وَبِآخِرِيَّتِهِ وَجَبَ أَنْ لَا آخِرَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلهَ إِلَّا اللهُ شَهَادَةً يُوَافِقُ فِيهَا السِّرُّ الْإِعْلَانَ، وَالْقَلْبُ اللِّسَانَ. أَيُّهَا النَّاسُ، لَا يَجْرِمَنَّكُمْ شِقَاقِي، وَلَا يَسْتَهْوِيَنَّكُمْ عِصْيَانِي، وَلَا تَتَرَامَوْا بِالْأَبْصَارِ عِنْدَ مَا تَسْمَعُونَهُ مِنِّي. فَوَالَّذِي فَلَقَ الْحَبَّةَ، وَبَرَأَ النَّسَمَةَ، إِنَّ الَّذِي أُنَبِّئُكُمْ بِهِ عَنِ النَّبِيِّ (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ)، مَا كَذَبَ الْمُبَلِّغُ، وَلَا جَهِلَ السَّامِعُ، لَكَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى ضِلِّيلٍ قَدْ نَعَقَ بِالشَّامِ، وَفَحَصَ بِرَايَاتِهِ فِي ضَوَاحِي كُوفَانَ. فَإِذَا

### د رسول الله مبارکﷺ د هغهٔ د اهلبیتو علیهم السلام په باره کښې

ستائنه هغه خداے لره ده چې پربمانه احسان يې په مخلوقاتو خپور دے او د کرم لاس يې اوږد دے هغه په ټولو کارونو ستايم او د الهي حق په ساتنه کښې ترې مرسته غواړوو. او ګواهي ورکوو چې بې له هغهٔ بل خداے نشته. او ګواهي ورکوو چې حضرت محمدﷺ د خداے بنده او رسول دے هغهٔ خپل پېغمبرﷺ راولېږهٔ چې امر يې ښکاره کړي او نامه يې په ژبو جاري کړي.نو په امانت سره يې خپل رسالت سرته ورسوهٔ او په راستئ او درستئ سره لاړ.او مونږ ته يې د حق بېرغ پرېښودهٔ څوک چې له دغه بېرغه وړاندې شي له دين څخه وځي او څوک چې ترې شاته پاتې شي هلاکېږي او څوک يې چې ملګرے وي ژغورل کېږي.د دغه بېرغ لارښود هغه کس دے چې په قرار يې خبرې کولې او په ډاډ يې ګامونه اخېستل خو له پاڅېدو وروسته به يې چټک عمل کوهٔ. نو کله مو چې د هغهٔ اطاعت وکړ او هغه مو ستر وګڼهٔ نو د هغهٔ نبېټه پوره شوه او خداے پاک ځانته وبلهٔ. نو له هغه وروسته مو چې څنګه زړهٔ غواړي ژوندکوئ تردې چې خداے پاک به هغه کس راپاڅوي چې تاسو به متحد کړي او تیت پرکوالے به مو ختم کړي. اے خلقو! په هغه څه پورې چې نهٔ دي راغلي زړهٔ مه تړئ او څوک چې تېر شول په هغهٔ مه نااميده کېږئ.ځکه چې که تېر کس يو ګام وښويږي نبائي بل يې کلک شي او بيا داسې حالات پېدا شي چې دواړه ګامونه يې کلک شي. خبر اوسئ! د آل علیهم السلام محمدﷺ مثال د آسمان د ستورو په شان دے که يو ستورے ولوېږی بل ستورے به راوخېژي.(د امام مهدي علیه السلام تر ظهوره پورې) تهٔ به وائې چې د پېغمبرﷺ د کورنئ په برکت په تاسو باندې نعمتونه بشپړ شول او خپلو ارمانونو ته اورسېدئ.

### ﴿يو سل لومړې خطبه﴾

«دا له هغو خطبو څخه ده چې امام پکښې سخت راتلونکي حالات بيانوي دا خطبه په کوفه کښې ورکړې شوې ده»

**مننه او پندونه**

ستائنه هغه خداے لره ده چې تر هر وړومبي وړومبے دے او تر هر وروستي وروستے،د هغهٔ د وړومبيتوب تقاضا دا ده چې د هغهٔ وړمبيتوب نهٔ وي او له دې امله چې شاته يې څوک نشته نو بايد پاې او خاتمه ونهٔ لري. او شهادت ورکوم چې بې له هغه بل د عبادت لائق نشته، داسې شهادت چې له داخل او بهر او په زړهٔ او ژبه يو شان وي، اے خلقو! له ما سره دښمني او مخالفت مو د ګناه بريد ته بو نهٔ ځي او زما نافرماني مو د نفسونو فرمانبردارئ ته را نهٔ کاږي، او زما د خبرو په اورېدلو يو بل ته سترګې وروځې مه وهئ او اشارتونه مه کوئ. قسم په هغه ذات چې دانه يې اوځیرله او ژوندے سارے يې اوپنځوهٔ، دا څه چې تاسو ته يې وايم له امي پېغمبرﷺ څخه دي، نه يې ويوونکے دروغجن دے او نهٔ اورېدونکے ناپوه، تهٔ به وائې زهٔ ډېر ګمراه[۷۷] سړے وينم چې له

فَغَرَتْ فَاغِرَتُهُ، وَاشْتَدَّتْ شَكِيمَتُهُ، وَثَقُلَتْ فِي الاَرْضِ وَطْأَتُهُ، عَضَّتِ الْفِتْنَةُ أَبْنَاءَهَا بِأَنْيَابِهَا، وَمَاجَتِ الْحَرْبُ بِأَمْوَاجِهَا، وَبَدَا مِنَ الاَيَّامِ كُلُوحُهَا، وَمِنَ اللَّيَالِي كُدُوحُهَا. فَإِذَا يَنَعَ زَرْعُهُ، وَقَامَ عَلَى يَنْعِهِ، وَهَدَرَتْ شَقَاشِقُهُ، وَبَرَقَتْ بَوَارِقُهُ، عُقِدَتْ رَايَاتُ الْفِتَنِ الْمُعْضِلَةِ، وَأَقْبَلْنَ كَاللَّيْلِ الْمُظْلِمِ، وَالْبَحْرِ الْمُلْتَطِمِ. هذَا، وَكَمْ يَخْرِقُ الْكُوفَةَ مِنْ قَاصِفٍ، وَيَمُرُّ عَلَيْهَا مِنْ عَاصِفٍ! وَعَنْ قَلِيلٍ تَلْتَفُّ الْقُرُونُ بِالْقُرُونِ، وَيُحْصَدُ الْقَائِمُ، وَيُحْطَمُ الْمَحْصُودُ!

[ ۱۰۲ ]

وَمِنْ خُطْبَة لَهُ تَجْرِي هَذَا الْمَجْرَى

يَوْمُ الْقِيَامَةِ

وَذلِكَ يَوْمٌ يَجْمَعُ اللهُ فِيهِ الاَوَّلِينَ وَالاْخِرِينَ لِنِقَاشِ الْحِسَابِ وَجَزَاءِ الاَعْمَالِ، خُضُوعاً، قِيَاماً، قَدْ أَلْجَمَهُمُ الْعَرَقُ، وَرَجَفَتْ بِهِمُ الاَرْضُ، فَأَحْسَنُهُمْ حَالاً مَنْ وَجَدَ لِقَدَمَيْهِ مَوْضِعاً،وَلِنَفْسِهِ مُتَّسَعاً.

مِنْهَا فِي حَالِ مُقْبِلَة عَلَى النَّاسِ

فِتَنٌ كَقِطَعِ اللَّيْلِ الْمُظْلِمِ، لاَ تَقُومُ لَهَا قَائِمَةٌ، وَلاَ تُرَدُّ لَهَا رَايَةٌ، تَأْتِيكُمْ مَزْمُومَةً مَرْحُولَةً: يَحْفِزُهَا قَائِدُهَا، وَيَجْهَدُهَا رَاكِبُهَا، أَهْلُهَا قَوْمٌ شَدِيدٌ كَلَبُهُمْ، قَلِيلٌ سَلَبُهُمْ. يُجَاهِدُهُمْ فِي اللهِ قَوْمٌ أَذِلَّةٌ عِنْدَ الْمُتَكَبِّرِينَ، فِي الاَرْضِ مَجْهُولُونَ وَفِي السَّمَاءِ مَعْرُوفُونَ. فَوَيْلٌ لَكِ يَا بَصْرَةُ عِنْدَ ذلِكِ، مِنْ جَيْش مِنْ نِقَمِ اللهِ! لاَ رَهَجَ لَهُ، وَلاَ حَسَّ، وَسَيُبْتَلَى أَهْلُكِ بِالْمَوْتِ الاَحْمَرِ، وَالْجُوعِ الاَغْبَرِ!

شامه چغې وهي، پتون وهي او د کوفې په شاوخوا کښې يې بېرغونه رپولې دي. اوکله چې د هغه خوله پرانېستل شوه او سرغړونه يې وکړه، او پښې يې په ځمکې ټينګې شوې، نو فتنې د زمانې بچيان په غاښونو اوچيچل او د جنګ اور لمبه شو، او د ورځې سختئ او د شپې غمونه څرګند شول، نو کله يې چې د هغه فصل پوخ شو او ميوه يې پخه شوه،د مست اوښ په شان وبرېيدۀ او د تندر په شان وګرزيدۀ،د فتنې د سپاهيانو بېرغونه هر لور ته ورپېدل، او د تيارو شپو او څپانده دريابونو په شان يې په خلقو بريد وکړ. له دې ورتېرو ځومره سخت طوفانونه به وي چې د کوفې ښار به څيرې کړې او ځومره سخت زولونه به وي چې وابه لوزي، او ډېر زر به په دغه ښار کښې ډلې ډلې په يوې بلې اخته شي. څوک چې ولاړ وي وبه رېبل شي او څوک چې په ځمکه وغورځيږي چخښې به شي.

## ﴿يو سل دويمه خطبه﴾

(د امام له هغو وېناګانو ده چې يوه جدا خطبه ښکاري، او د جمل له جنګه وروسته د هجرت په شپږ دېرشم کال په بصره کښې ورکړلې شوې ده)

### د قيامت د ورځې بيان

قيامت هغه ورځ ده چې خداے به پکښې ټول تېر او راتلونکي انسانان د هغوي د دقيق حساب کتاب او د عملونو د سزا جزا لپاره راغونډوي، ټول به په خضوع او عاجزئ سره ولاړ وي، د سر سترګو خولې به يې خلو ته رسېږي،ځمکه به يې تر پښو لاندې لړزانه وي، نو ښه کس به پکښې هغه وي چې يا د پښو لګولوځاے ومومي يا د ساه اخېستلو لپاره يوګوټ پېدا کړي.

### د بصرې د خونړې راتلونکې خبر

داسې فتنې به درباندې راشي لکه د شپې ګوپ تيارې،نۀ به يې څوک مخه نيولې شي او نۀ يې څوک بېرغونه کوزولې شي، دا فتنې به د لګام شوې او کجاوه شوي اوښ په شان ستاسو په لور درروانې وي څښتن به يې چوکه کوي او درشړي به يې،دا فتنه پال هغه کسان دي چې ګوزارونه به يې سخت خو چور تالان به يې کم وي. له دوي سره به داسې کسان اوجنګېږي چې د کبرجنو په نظر کښې خوار او په ځمکه کښې ناشناسه خو په آسمان کښې نامتو وي. په داسې حال کښې دې افسوس وي په تا باندې اے بصرې! د هغو سپاهيانو په وړاندې چې د خداے پاک د قهر او خوابينئ نخښنه دي، داسې لښکر به وي چې نۀ به دوړې لري او نۀ غړونه، او ډېر زر به دې هستوګن په سرۀ مرګ او سختې لوږې باندې اخته شي.

## [ ۱۰۳ ]

في التَّزْهيد في الـدُّنْيَا: [أَيُّهَـا النَّـاسُ،] انْظُـرُوا إِلَـى الـدُّنْيَا نَظَـرَ الزَّاهِدينَ فيها، الصَّادِفينَ عَنْهَـا؛ فَإِنَّهَـا وَاللهِ عَمَّـا قَليـل تُزِيـلُ الثَّاوِيَ السَّاكِنَ، وَتَفْجَعُ الْمُتْرَفَ الاٰمِنَ، لاَ يَرْجِعُ مَا تَـوَلَّى مِنْهَـا فَأَدْبَرَ، وَلاَ يُدْرَى مَا هُـوَ آتٍ مِنْهَـا فَيُنْتَظَـرَ. سُـرُورُهَا مَشُـوبٌ بِالْحُزْنِ،وَجَلَدُ الرِّجَالِ فيهَا إِلَى الضَّعْفِ وَالْوَهْنِ، فَـلا يَغُـرَّنَّكُمْ كَثْرَةُ مَا يُعْجِبُكُمْ فيهَا لِقِلَّةِ مَا يَصْحَبُكُمْ مِنْهَا. رَحِمَ اللهُ امْرَأً تَفَكَّرَ فَاعْتَبَرَ، وَاعْتَبَرَ فَأَبْصَرَ، فَكَأَنَّ مَا هُوَ كَائِنٌ مِنَ الدُّنْيَا عَنْ قَليلٍ لَـمْ يَكُنْ، وَكَأَنَّ مَا هُوَ كَائِنٌ مِنَ الاٰخِرَةِ عَمَّا قَليلٍ لَـمْ يَـزَلْ، وَكُـلُّ مَعْدُودٍ مُنْقَضٍ، وَكُلُّ مُتَوَقَّعٍ آتٍ، وَكُلُّ آتٍ قَرِيبٌ دَانٍ.

مِنْهَا في صِفَة الْعَالِم

الْعَـالِمُ مَـنْ عَـرَفَ قَـدْرَهُ، وَكَفَـى بِـالْمَرْءِ جَهْـلاً أَلاَّ يَعْـرِفَ قَدْرَهُ؛ وَإِنَّ مِنْ أَبْغَضِ الرِّجَـالِ إِلَـى اللهِ لَعَبْـدٌ وَكَّلَـهُ اللهُ إِلَـى نَفْسِه، جَائِرٌ عَنْ قَصْـدِ السَّـبيلِ، سَـائِرٌ بِغَيْـرِ دَليـلٍ، إِنْ دُعِـيَ إِلَى حَرْثِ الدُّنْيَا عَمِلَ، أَوْ إِلَـى حَـرْثِ الاْخِـرَةِ كَسِـلَ! كَـأَنَّ مَا عَمِلَ لَهُ وَاجِبٌ عَلَيْهِ، وَكَأَنَّ مَا وَنَى فيهِ سَاقِطٌ عَنْهُ!

مِنْهَا في آخر الزَّمَان

وَذلكَ زَمَانٌ لاَ يَنْجُو فيهِ إِلاَّ كُـلُّ مُـؤْمِنٍ نُوَمَـةٍ، إِنْ شَـهِدَ لَـمْ يُعْـرَفْ، وَإِنْ غَـابَ لَـمْ يُفْتَقَـدْ، أُولَئِـكَ مَصَـابِيحُ الْهُـدَى، وَأَعْـلاَمُ السُّـرَى، لَيْسُـوا بِالْمَسَـاييحِ، وَلاَ الْمَـذَاييعِ الْبُـذُرِ، أُولَئكَ يَفْتَحُ اللهُ لَهُمْ أَبْـوَابَ رَحْمَتِـه، وَيَكْشِـفُ عَـنْهُمْ ضَـرَّاءَ نِقْمَتِه. أَيُّهَا النَّاسُ، سَيَأْتي عَلَـيْكُمْ زَمَـانٌ يُكْفَـأُ فيـهِ الاِسْـلاَمُ، كَمَا يُكْفَأُ الاِنَاءُ بِمَا فيـه.أَيُّهَا النَّـاسُ، إِنَّ اللهَ قَـدْ أَعَـاذَكُمْ مِـنْ أَنْ يَجُورَ عَلَـيْكُمْ، وَلَـمْ يُعِـذْكُمْ مِـنْ أَنْ يَبْتَلِـيَكُمْ، وَقَـدْ قَـالَ جَلَّ مِنْ قَائِلٍ: ﴿إِنَّ في ذلكَ لاَيَاتٍ وَإِنْ كُنَّا لَمُبْتَلينَ﴾.

## ﴿يو سل دريمه خطبه﴾

اے خلقو! دنيا ته د هغو زاهدانو په سترګه ګورئ چې له دنيا مخ اړوي، په خداے قسم دنيا به ډېر زر خپل اوسېدونکي ختم کړي او خپل خوشحاله به خفه کړي. ځکه چې له دنيا مخ اړولي او تللې نۀ راستنېږي او دا هم معلومه نۀ ده چې څه به کېږي چې انسان يې په طمعه کښيني. د دنيا خوښي له غم سره اخښلې ده او د انسان توان او زور پکښې د کمزورۍ په مخ روان دے. د دنيا ښکلاوې او پړق پړوق مو ونۀ غولوي ځکه چې له تاسو سره تلونکي څيزونه پکښې ډېرکم دي. خداے پاک دې رحمت وکړي په هغه چا چې فکر يې وکړ او پند يې واخېست،خبر شو او سترګور شو. نو ډېر زر به پوه شئ چې له دنيا څخه هيڅ نۀ دي پاتې او هغه څه چې د آخرت دي تل پاتې دي.هر څه چې شمېرل کېږي ختمېږي،او د څه چې په طمعه يئ راتلونکي دي. او څه چې راتلونکي دي نژدې دي.

### د عالم مقام

عالِم هغه دے چې په خپل قدر پوه شي او د ناپوهۍ لپاره همدومره بس ده چې انسان په خپل قدر پوه نۀ شي. د خداے پاک په نزد تر ټولو بد او رټل شوے کس هغه دے چې خداے پاک په خپل حال پرېښے وي چې له نيغې لارې بې لارې شي. او بې دليله روان وي. که د دنيا پټي (چارو) ته وبلل شي ښه زيار باسي خو که د آخرت پټي ته وبلل شي لټي کوي، ته به وائې د څه لپاره چې کار کوي هغه پرې واجب دي او څه ته چې بلل شوے دے هغه ترې نۀ دي غوښتل شوي.

### د راتلونکي وخت خبره

او هغه داسې زمانه ده چې بې له ناشناسه مومنه ترې څوک نۀ شي خلاصېدے داسې مومن چې که «په خلقو کښې وي نۀ يې پېژني اوکه په خلقو کښې نۀ وي څوک يې پوښتنه نۀ کوي، هغوي د هدايت څراغونه» او د کاميابۍ نښې دي. نۀ فتنې پالي او نۀ فسادونه جوړوي او نۀ د خلقو خبرې او بدۍ يو بل ته رسوي، خداے تعالی هغوي ته د رحمت ورونه پرانستي دي او د عذاب سختۍ يې له هغوي اخېستې دي. اے خلقو! ډېر زر به په تاسو داسې زمانه راشي چې اسلام به د اوړېدلي لوښي په شان وي او څه چې پکښې دي هغه به اوړېدلي وي. اے خلقو!خداے به په تاسو ظلم ونۀ کړي او له دې يې خوندي کړي يئ خو له دې يې نۀ يئ خوندي کړې چې ومو زمائي، ځکه چې خداے تعالی په جار ويلي دي چې: «د حضرت نوح په قصه کښې ستاسو لپاره نښې پرتې دي او مونږ خلق ازمايو»

(سيد رضي وائي: د امام دا کلام چې وې فرمايل:«کل مومنة نومة » يعنې هغه کس چې ګمنام وي او شر يې کم وي او «المساييح» چې د مسياح جمع ده هغه کس ته وائي چې په خلقو و المساييح جمع مسياح و هو الذي يسيح بين الناس فساد خپروي. چغل خور دي، او « مذاييع» چې د مذايع

جمع ده هغه کس دے چې کله د چا بدي واوري په خلقو کښې يې ډنډوره کړي. او «بذر» د بذور جمع ده او هغه کس ته وائي چې ډېر ناپوهه وي او چټي خبري کوي.)

## [ ۱۰٤ ]

وَمِنْ خُطْبَةٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ

أَمَّا بَعْدُ، فَإِنَّ اللهَ سُبْحَانَهُ بَعَثَ مُحَمَّداً صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَلَيْسَ أَحَدٌ مِنَ الْعَرَبِ يَقْرَأُ كِتَاباً، وَلاَ يَدَّعِي نُبُوَّةً وَلاَ وَحْياً، فَقَاتَلَ بِمَنْ أَطَاعَهُ مَنْ عَصَاهُ، يَسُوقُهُمْ إِلَى مَنْجَاتِهِمْ، وَيُبَادِرُ بِهِمُ السَّاعَةَ أَنْ تَنْزِلَ بِهِمْ، يَحْسَرُ الْحَسِيرُ، وَيَقِفُ الْكَسِيرُ فَيُقِيمُ عَلَيْهِ حَتَّى يُلْحِقَهُ غَايَتَهُ، إِلاَّ هَالِكاً لاَ خَيْرَ فِيهِ، حَتَّى أَرَاهُمْ مَنْجَاتَهُمْ وَبَوَّأَهُمْ مَحَلَّتَهُمْ، فَاسْتَدَارَتْ رَحَاهُمْ، وَاسْتَقَامَتْ قَنَاتُهُمْ وَايْمُ اللهِ، لَقَدْ كُنْتُ مِنْ سَاقَتِهَا حَتَّى تَوَلَّتْ بِحَذَافِيرِهَا، وَاسْتَوْسَقَتْ فِي قِيَادِهَا، مَا ضَعُفْتُ، وَلاَ جَبُنْتُ، وَلاَ خُنْتُ، وَلاَ وَهَنْتُ، وَايْمُ اللهِ، لَأَبْقُرَنَّ الْبَاطِلَ حَتَّى أُخْرِجَ الْحَقَّ مِنْ خَاصِرَتِهِ!

## ﴿يو سل څلورمه خطبه﴾

(دهجرت په شپږ دېرشم کال کله چې امام د بصرې په لور وخوځېدۀ، په ربذه دېښته کښې کله چې د خداے د کور ځينو حاجيانو هم د امام خبرې اورېدلې امام وفرمايل:)

### د پېغمبر اکرم ﷺ د بعثت برياوې

د پالونکي له ثنا وروسته! په رښتيا چې د خداے پاک حضرت محمد ﷺ په پېغمبرۍ وګمارۀ په هغه زمانه کښې چې په عربو کښې يوکس هم کتاب نۀ ؤ لوستے او د پېغمبرۍ او وحي ادعا يې نۀ لرله. رسول الله مبارک له خپلوملګرو سره د مخالفانومبارزې ته پاڅېد چې هغوي د نجات منزل ته اورسوي او مخکې له دې چې مرګ يې اورسېږي وې ژغورې،که څوک به ستړے شو يا به پاتے راغے نو ورايسار به شو چې ټول نېغې لارې ته هدايت کړي.مګر هغه بې خبره کسان چې په خپله يې د ګمراهۍ لاره خوښه کړه.ټول يې وژغورل او د کاميابۍ او نجات مناسب مقام ته يې اورسول. تردې چې د ژوند مېچنه يې اوچلېده او نېزې يې تېرې شوې، په خداے قسم! زۀ هم په هغو سپاهيانو پسې وم تردې چې باطل مات شو او شاتګ يې وکړ، او ټولو د اسلام مشرۍ ته غاړه کېښوده، زۀ هېڅکله په دې لاره کښې کمزورے نۀ شوم او ونۀ ترهېدم، او خيانت مې ونۀ کړ، او لټې راباندې غالبه نۀ شوه، په خداے قسم د باطل خېټه به وشلوم چې حق يې له څنګه راوباسم.

(سيد رضي وائي:د دې خطبې ځينې برخې په درې دېرشمې خطبه کښې هم ذکر شوي دي چې لږ شان فرق يې لرۀ نو ځکه مې دلته دوباره ذکر کړې)

## [ ۱۰۵ ]

فِي بَعْضِ صِفَاتِ الرَّسُولِ الْكَرِيمِ وَتَهْدِيدِ بَنِي أُمَيَّةَ وَعِظَةِ النَّاسِ

حَتَّى بَعَثَ اللهُ مُحَمَّداً صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وسلم شَهِيداً وَبَشِيراً وَنَذِيراً، خَيْرَ الْبَرِيَّةِ طِفْلاً وَأَنْجَبَهَا كَهْلاً، أَطْهَرَ الْمُطَهَّرِينَ شِيمَةً وَأَجْوَدَ الْمُسْتَمْطَرِينَ دِيمَةً.

بنو أُمَيَّة

فَمَا احْلَوْلَتْ الدُّنْيَا لَكُمْ فِي لَذَّتِهَا، وَلاَ تَمَكَّنْتُمْ مِنْ رَضَاعِ أَخْلاَفِهَا إِلاَّ مِنْ بَعْدِ مَا صَادَفْتُمُوهَا جَائِلاً خِطَامُهَا، قَلِقاً وَضِينُهَا، قَدْ صَارَ حَرَامُهَا عِنْدَ أَقْوَامٍ بِمَنْزِلَةِ السِّدْرِ الْمَخْضُودِ، وَحَلاَلُهَا بَعِيداً غَيْرَ مَوْجُودٍ، وَصَادَفْتُمُوهَا وَاللهِ، ظِلاًّ مَمْدُوداً إِلَى أَجَلٍ

## ﴿يو سل پينځمه خطبه﴾

(په روايتونو کښې راغلې دي چې د هجرت په پينځه دېرشم کال د ذي الحجې په آخر کښې د هېواد د سياسي قدرت له لاسته راوړلو نه پينځۀ ورځې وروسته يې دا خطبه وکړه)

### د پېغمبراکرم ﷺ ځانګړتياوې او خصوصيتونه

ان تردې چې خداے پاک پېغمبر ﷺ وګمارۀ،ګواهي ورکوونکے، زيرے ورکوونکے، خبردارے ورکوونکے، هغه پېغمبر چې په وړوکوالي کښې تر ټولو غوره، او په بوډا والي کښې تر ټولو دروند او عزتمن ؤ. اخلاق يې تر ټولو پاکانو پاک، او د کرم باران يې تر هر څه دوامداره ؤ.

### د بني اميو د بچيانو تريخ راتلونکے

تاسو اے بني اميو! تر يوې مودې مو له دنيا خوندونه واخېستل، او (د دنيا) تے مو ورودۀ،کله مو چې اوليدل چې جلب يې خلاص شوے او د ساز تسمې يې سستې شوې (او د عثمان په حکومت کښې) تر دې چې د ځينو په نزد د دنيا حرام د بې ازغو بېرې د ونې په شان آسان، او حلال يې سخت او ناممکن شول، په خداے قسم! کومه دنيا چې ستاسو په

مَعْدُود، فَالاَرْضُ لَكُمْ شَاغِرَةٌ، وَأَيْدِيكُمْ فِيهَا مَبْسُوطَةٌ، وَأَيْدِي الْقَادَةِ عَنْكُمْ مَكْفُوفَةٌ وَسُيُوفُكُمْ عَلَيْهِمْ مُسَلَّطَةٌ وَسُيُوفُهُمْ عَنْكُمْ مَقْبُوضَةٌ. أَلاَ إِنَّ لِكُلِّ دَمٍ ثَائِراً، وَلِكُلِّ حَقٍّ طَالِباً، وَإِنَّ الثَّائِرَ فِي دِمَائِنَا كَالْحَاكِمِ فِي حَقِّ نَفْسِهِ، وَهُوَ اللهُ الَّذِي لاَ يُعْجِزُهُ مَنْ طَلَبَ، وَلاَ يَفُوتُهُ مَنْ هَرَبَ. فَأُقْسِمُ بِاللهِ، يَا بَنِي أُمَيَّةَ، عَمَّا قَلِيلٍ لَتَعْرِفُنَّهَا فِي أَيْدِي غَيْرِكُمْ وَفِي دَارِ عَدُوِّكُمْ! أَلاَ إِنَّ أَبْصَرَ الاَبْصَارِ مَا نَفَذَ فِي الْخَيْرِ طَرْفُهُ! أَلاَ إِنَّ أَسْمَعَ الاَسْمَاعِ مَا وَعَى التَّذْكِيرَ وَقَبِلَهُ!

وَعْظُ النَّاسِ

أَيُّهَا النَّاسُ، اسْتَصْبِحُوا مِنْ شُعْلَةِ مِصْبَاحٍ وَاعِظٍ مُتَّعِظٍ، وَامْتَاحُوا مِنْ صَفْوِ عَيْنٍ قَدْ رُوِّقَتْ مِنَ الْكَدَرِ. عِبَادَ اللهِ، لاَ تَرْكَنُوا إِلَى جَهَالَتِكُمْ، وَلاَ تَنْقَادُوا لاَهْوَائِكُمْ، فَإِنَّ النَّازِلَ بِهذَا الْمَنْزِلِ نَازِلٌ بِشَفَا جُرُفٍ هَارٍ، يَنْقُلُ الرَّدَى عَلَى ظَهْرِهِ مِنْ مَوْضِعٍ إِلَى مَوْضِعٍ، لِرَأْيٍ يُحْدِثُهُ بَعْدَ رَأْيٍ، يُرِيدُ أَنْ يُلْصِقَ مَا لاَ يَلْتَصِقُ، وَيُقَرِّبَ مَا لاَ يَتَقَارَبُ! فَاللهَ اللهَ أَنْ تَشْكُوا إِلَى مَنْ لاَ يُشْكِي شَجْوَكُمْ، وَلاَ يَنْقُضُ بِرَأْيِهِ مَا قَدْ أَبْرَمَ لَكُمْ. إِنَّهُ لَيْسَ عَلَى الاِمَامِ إِلاَّ مَا حُمِّلَ مِنْ أَمْرِ رَبِّهِ: الاِبْلاَغُ فِي الْمَوْعِظَةِ، وَالاِجْتِهَادُ فِي النَّصِيحَةِ، وَالاِحْيَاءُ لِلسُّنَّةِ، وَإِقَامَةُ الْحُدُودِ عَلَى مُسْتَحِقِّيهَا، وَإِصْدَارُ السُّهْمَانِ عَلَى أَهْلِهَا. فَبَادِرُوا الْعِلْمَ مِنْ قَبْلِ تَصْوِيحِ نَبْتِهِ، وَمِنْ قَبْلِ أَنْ تُشْغَلُوا بِأَنْفُسِكُمْ عَنْ مُسْتَثَارِ الْعِلْمِ مِنْ عِنْدِ أَهْلِهِ، وَانْهَوْا عَنِ الْمُنْكَرِ وَتَنَاهَوْا عَنْهُ، فَإِنَّمَا أُمِرْتُمْ بِالنَّهْيِ بَعْدَ التَّنَاهِي!

[ ۱۰٦ ]

فيها يُبيِّنُ فضلَ الإسلامِ ويذكُرُ الرَّسولَ الكريمَ ثمَّ يلومُ أصحابَهُ

الْحَمْدُ للهِ الَّذِي شَرَعَ الاِسْلاَمَ فَسَهَّلَ شَرَائِعَهُ لِمَنْ وَرَدَهُ، وَأَعَزَّ أَرْكَانَهُ عَلَى مَنْ غَالَبَهُ، فَجَعَلَهُ أَمْناً لِمَنْ عَلِقَهُ، وَسِلْماً لِمَنْ دَخَلَهُ، وَبُرْهَاناً لِمَنْ تَكَلَّمَ بِهِ، وَشَاهِداً لِمَنْ خَاصَمَ بِهِ، وَنُوراً لِمَنِ اسْتَضَاءَ بِهِ، وَفَهْماً لِمَنْ عَقَلَ، وَلُبّاً لِمَنْ تَدَبَّرَ، وَآيَةً لِمَنْ تَوَسَّمَ، وَتَبْصِرَةً لِمَنْ عَزَمَ، وَعِبْرَةً

لاس کښې ده د هغه اوږدۀ سیوري په څېر ده چې ډېر زر رالنډیږي نن درته ځمکه ویره او لاس مو خلاص دے او هر غلط کار کولے شئ او د حقیقي مشرانو لاسونه تړلي دي او ستاسو تورې د هغوي په سر ځوړندې دي او د هغوي تورې مو ورځینې اخېستې دي، خوخبر اوسئ! هره وینه یو غچ او انتقام اخېستونکے لري او هرحق لټونکے، زمونږ د وینوانتقام اخېستونکے هغه واکمن دے چې په خپله فېصله کوي او هغه، هغه خداے دے چې هیڅ مطلوب یې نۀ شي ناتوانه کولې، او د هغۀ د عدالت له منګولو هیڅوک نۀ شي تښتېدلې، اے د بني امیه زوزاته! په خداے قسم ډېر زر به دا خلافت او حکومت د نورو په لاس کښې [۷۸] او د خپلو دښمنانو په کور کښې ووینئ، خبر اوسئ! تر ټولو غوره سترګې هغه دي چې د نېکیو تل ته کوزې شي او تر ټولو ویښ غوږونه هغه دي چې ګټور پندونه او نصیحتونه واوري او وې مني.

**شکرې ملغلرې**: اے خلقو! د زړۀ څراغونه مو د باعمله واعظ په خبرو روښانه کړئ او لوښي یې د هغو رڼو چینو چې له ککړتیاؤ پاکې دي له اوبو ډک کړئ .اے خلقو! په خپلو ناپوهیو ډډه مه وهئ او نفساني غوښتنو ته مه تسلیمېږئ داسې کس د لوے ګړنګ په غاړه ولاړ دے او د فساد او هلاکت لوے پېټے یې په غاړه دے. چې یوخوا بل خوا یې وړي، چې هغه څه چې نۀ نښلیږي اونښلوي او هغه څه چې لرې دي نزدې اوبربښوي، د خداے لپاره، د خداے لپاره! پام چې فریاد مو داسې چا ته ورنۀ وړئ چې فریاد رسي مو نۀ شي کولې او له کاره موغوټه نۀ شي پرانېستلې، بې له شکه، په امام باندې یواځې هغه څه واجب دي چې خداے پاک یې امرکړے دے او هغه د موعظې په رسولو کښې لټې نه کول، د نصیحت د رسولو هڅه،د پېغمبراکرمﷺ د سنتو ژوندي ساتل،په مجرمانو د الهي حدودو جاري کول،او د خلقو پرګنو ته د بیت المال د ونډو رسول دي.نومخکې له دې چې د علم ونه اوچه شي د حاصلولوهڅه یې وکړئ او مخکې له دې چې په ځان کښې بوخت شئ د (اهلبېتوعلیهم السلام) د علم له چینو خړوب شئ،خلق له حرامو او منکراتو وغړوئ او په خپله یې هم مه کوئ،ځکه چې امر شوے دے چې اول ځان له حرامو وساتئ او بیا ترې نور خلق وغړوئ.

## ﴿ یو سل شپږمه خطبه ﴾

(دا خطبه یې په کوفې ښار کښې د کوفیانو په غندنه کښې ورکړې ده)

### د اسلام بشپړ تعریف

ستائنه هغه خداے لره ده چې د اسلام شریعت یې وټاکۀ او په څښونکو یې د هغۀ د رڼو اوبو څښل آسان کړل،د تیرې ګرو په وړاندې یې د اسلام ستنې ټینګې کړې او هغه یې د پناه وړونکو لپاره امن ځاے،او د منونکو لپاره د قرار تومنه وګرځوله، اسلام د ویؤنکو لپاره حجت او برهان او د دفاع کؤنکو لپاره روښانه ګواه،د رڼا غوښتونکو لپاره هدایتګره رڼا ،د پوهېدونکو لپاره پوهه، د تدبیرؤنکو لپاره عقل،د حق

لِمَن اتَّعَظَ، وَنَجَاةً لِمَنْ صَدَّقَ، وَثِقَةً لِمَنْ تَوَكَّلَ، وَرَاحَةً لِمَنْ فَوَّضَ، وَجُنَّةً لِمَنْ صَبَرَ. فَهُوَ أَبْلَجُ الْمَنَاهِجِ وَاضِحُ الْوَلاَئِجِ، مُشْرَفُ الْمَنَارِ، مُشْرِقُ الْجَوَادِّ، مُضِيءُ الْمَصَابِيحِ، كَرِيمُ الْمِضْمَارِ، رَفِيعُ الْغَايَةِ، جَامِعُ الْحَلْبَةِ، مُتَنَافِسُ السُّبْقَةِ، شَرِيفُ الْفُرْسَانِ. التَّصْدِيقُ مِنْهَاجُهُ، وَ الصَّالِحَاتُ مَنَارُهُ، وَالْمَوْتُ غَايَتُهُ، وَالدُّنْيَا مِضْمَارُهُ، وَالْقِيَامَةُ حَلْبَتُهُ، وَالْجَنَّةُ سُبْقَتُهُ.

لیوونکولپاره څرګنده ننبه،د عزم او هوډ د خاوندانو لپاره د منزل درک،د عبرت اخیستونکو لپاره پند، د تصدیقوونکو لپاره د نجات او کامیابۍ سبب، د تکیه کوونکو لپاره آرام بخښونکې،د توکل کوونکو لپاره د راحتۍ او هوساینې سبب،او د صبرکوونکو لپاره ډال دے. اسلام تر ټولو روښانه لار ده چې ځلاند سرکونه، ځلانده منارې، رڼۀ څراغونه، د پاک عمل د سیالۍ ډګر، د سیالیوانجام یې معلوم، سیالي ګر یې له یو بله مخکې کېدونکي او چټک دي. د دغه سیالۍ پروګرام د حق تصدیقول، لاربښوونکي یې نېک عملونه، پاې یې مرګ، د سیالۍ مېدان یې دنیا، د سیالانو د راغونډېدو ځاے یې قیامت او انعام یې جنت دے.

فِي ذِكْرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِه

حَتَّى أَوْرَى قَبَساً لِقَابِسٍ، وَأَنَارَ عَلَماً لِحَابِسٍ، فَهُوَ أَمِينُكَ الْمَأْمُونُ، وَشَهِيدُكَ يَوْمَ الدِّينِ، وَبَعِيثُكَ نِعْمَةً، وَرَسُولُكَ بِالْحَقِّ رَحْمَةً. اللَّهُمَّ اقْسِمْ لَهُ مَقْسَماً مِنْ عَدْلِكَ، وَاجْزِهِ مُضَعَّفَاتِ الْخَيْرِ مِنْ فَضْلِكَ. اللَّهُمَّ أَعْلِ عَلَى بِنَاءِ الْبَانِينَ بِنَاءَهُ، وَأَكْرِمْ لَدَيْكَ نُزُلَهُ، وَشَرِّفْ عِنْدَكَ مَنْزِلَهُ، وَآتِهِ الْوَسِيلَةَ، وَأَعْطِهِ السَّنَاءَ وَالْفَضِيلَةَ، وَاحْشُرْنَا فِي زُمْرَتِهِ غَيْرَ خَزَايَا، وَلاَ نَادِمِينَ، وَلاَ نَاكِبِينَ، وَلاَ نَاكِثِينَ، وَلاَ ضَالِّينَ، وَلاَ مُفْتُونِينَ.

## د پېغمبراکرمﷺ لپاره دعا

تر دې چې خداے تعالی د پېغمبرﷺ په لاس د رڼا غوښتونکو لپاره رڼا بله کړه او د ورکو په لاره کښې یې ځلانده څراغ کېښود. اے خدایه! هغه ستا باوري امین او د قیامت د ورځې ګواه دے تا هغه نعمت وګمارۀ او په حقه دې رحمت راولېږۀ. اے خدایه، له خپله عدله هغۀ ته پرېمانه روزي ورکړې اوخپل فضل او کرم پرې زیات کاندې. اے خدایه! د هغۀ د دین ودانیتر نورو لوړه کړې او د خپل کرم په دسترخوان هغه تر نورو عزتمن کړې،او د ځان په نزد یې د شرافت مقام اوچت کړې. او هغه ته د ځان د نزدېکت وسیله او لوړ مقام او فضیلت ورکړې. مونږ د هغۀ د ملګرو په ټول کښې محشور کړې،داسې چې نۀ زیانکاره شوو او نۀ پښېمانه، نۀ د حق له لارې لرې شوو او نۀ د تړون ماتوونکي، نۀ بې لارې شوو او نۀ د بندګانو ګمراه کوونکي، نۀ مو نفس اوغولوي او نۀ مو شېطان وسوسه کاندې.

(سید رضي وائي: دا ټکي په دوه اویایمه خطبه کښې هم راغلي وو خو له دې امله چې ګټه ورې اضافې یې لرلې نو دلته مې هم راوړل)

مِنْهَا فِي خِطَابِ أَصْحَابِهِ

وَقَدْ بَلَغْتُمْ مِنْ كَرَامَةِ اللهِ لَكُمْ مَنْزِلَةً تُكْرَمُ بِهَا إِمَاؤُكُمْ، وَتُوصَلُ بِهَا جِيرَانُكُمْ، وَيُعَظِّمُكُمْ مَنْ لاَ فَضْلَ لَكُمْ عَلَيْهِ، وَلاَ يَدٌ لَكُمْ عِنْدَهُ، وَيَهَابُكُمْ مَنْ لاَ يَخَافُ لَكُمْ سَطْوَةً، وَلاَ لَكُمْ عَلَيْهِ إِمْرَةٌ، وَقَدْ تَرَوْنَ عُهُودَ اللهِ مَنْقُوضَةً فَلاَ تَغْضَبُونَ! وَأَنْتُمْ لِنَقْضِ ذِمَمِ آبَائِكُمْ تَأْنَفُونَ! وَكَانَتْ أُمُورُ اللهِ عَلَيْكُمْ تَرِدُ، وَعَنْكُمْ تَصْدُرُ، وَإِلَيْكُمْ تَرْجِعُ، فَمَكَّنْتُمُ الظَّلَمَةَ مِنْ مَنْزِلَتِكُمْ، وَأَلْقَيْتُمْ إِلَيْهِمْ أَزِمَّتَكُمْ، وَأَسْلَمْتُمْ

## د پېغمبراکرمﷺ د بعثت لاسته راوړنه

اے خلقو! تاسو د پېغمبراکرمﷺ د بعثت د نعمت او د لوے خداے د کرم په برکت داسې مقام ته اورسېدئ چې اوس حتی ستاسو د وینځو هم درناوے کېږي، او ستاسو له ګاونډیانو سره مینه کېږي،او هغه کسان مو درناوي کوي چې تاسو ترې لوړ نۀ وئ اوحق پرې نۀ لرئ، او نن هغه کسان له تاسو ویرېږي چې نۀ مو پرې برید کړے او نۀ پرې واک لرئ.

## د امت د شاتګ لاملونه او علتونه

له دغه ټول سترتوب سره سره بیا تاسو وینئ چې د خداے قوانین او تړونونه مات شول خو تاسو نۀ غصه کېږئ، حال دا چې که ستاسو له پلارانو سره کړې ژمنې یې ماتې کړې وې نوخفه کېدئ، تاسو هغه کسان وئ چې د خداے پاک احکام اول ستاسو لاسته اورسېدل او بیا مو نورو ته ورسول او آثار یې بیا تاسو ته ستنېدل، خو نن مو خپل مقام ظالمانو

أُمُورَ اللهِ فِي أَيْدِيهِمْ، يَعْمَلُونَ بِالشُّبُهَاتِ، وَيَسِيرُونَ فِي الشَّهَوَاتِ، وَايْمُ اللهِ، لَوْ فَرَّقُوكُمْ تَحْتَ كُلِّ كَوْكَبٍ، لَجَمَعَكُمُ اللهُ لِشَرِّ يَوْمٍ لَهُمْ!

[ ۱۰۷ ]
فِي بَعْضِ أَيَّامِ صِفِّينَ

وَقَدْ رَأَيْتُ جَوْلَتَكُمْ، وَ انْحِيَازَكُمْ عَنْ صُفُوفِكُمْ، تَحُوزُكُمُ الْجُفَاةُ الطَّغَامُ، وَأَعْرَابُ أَهْلِ الشَّامِ، وَأَنْتُمْ لَهَامِيمُ الْعَرَبِ وَيَآفِيخُ الشَّرَفِ وَالأَنْفُ الْمُقَدَّمُ وَالسَّنَامُ الأَعْظَمُ. وَلَقَدْ شَفَى وَحَاوِحَ صَدْرِي أَنْ رَأَيْتُكُمْ بِأَخَرَةٍ، تَحُوزُونَهُمْ كَمَا حَازُوكُمْ، وَتُزِيلُونَهُمْ عَنْ مَوَاقِفِهِمْ كَمَا أَزَالُوكُمْ؛ حَسّاً بِالنِّصَالِ، وَشَجْراً بِالرِّمَاحِ، تَرْكَبُ أُولاهُمْ أُخْرَاهُمْ كَالإِبِلِ الْهِيمِ الْمَطْرُودَةِ، تُرْمَى عَنْ حِيَاضِهَا، وَتُذَادُ عَنْ مَوَارِدِهَا!

[ ۱۰۸ ]
مِنْ خُطَبِ الْمَلاَحِمِ

الْحَمْدُ للهِ الْمُتَجَلِّي لِخَلْقِهِ بِخَلْقِهِ، وَالظَّاهِرِ لِقُلُوبِهِمْ بِحُجَّتِهِ، خَلَقَ الْخَلْقَ مِنْ غَيْرِ رَوِيَّةٍ، إِذْ كَانَتِ الرَّوِيَّاتُ لاَ تَلِيقُ إِلاَّ بِذَوِي الضَّمَائِرِ، وَلَيْسَ بِذِي ضَمِيرٍ فِي نَفْسِهِ، خَرَقَ عِلْمُهُ بَاطِنَ غَيْبِ السُّتُرَاتِ، وَأَحَاطَ بِغُمُوضِ عَقَائِدِ السَّرِيرَاتِ.

فِي ذِكْرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ

اخْتَارَهُ مِنْ شَجَرَةِ الأَنْبِيَاءِ، وَمِشْكَاةِ الضِّيَاءِ، وَذُؤَابَةِ الْعَلْيَاءِ، وَسُرَّةِ الْبَطْحَاءِ، وَمَصَابِيحِ الظُّلْمَةِ، وَيَنَابِيعِ الْحِكْمَةِ.

مِنْهَا: طَبِيبٌ دَوَّارٌ بِطِبِّهِ، قَدْ أَحْكَمَ مَرَاهِمَهُ، وَأَمْضَى مَوَاسِمَهُ،

ته وسپارۀ، او د خپل چارو واگې مو بل چاته ورکړې،او د خداے پاک چارې مو وروسپارلې! هغه کسان چې په شبهاتوعمل کوي او په شهوتونو کښې ډوب دي،(بني اميه) په خداے قسم! که خداے تاسو د آسمان تر ستورو لاندې خپارۀ کړي بيا مو هم له ظالمانو د غچ اخېستلو لپاره راغونډوي.

## ﴿يو سل او مه خطبه﴾

(د هجرت په اوۀ دېرشم کال د صفين د جنگ په ځينو ورځو کې يې د خپل عسکرو د روحيې د پياوړتيا لپاره دا خطبه وکړه.)

### په صفين کښې د خپلو ملگرو له کمزورۍ شکايت

او ما ستاسو تېښته او له ليکو خپرېدل اوليدل،د شام ورک نومو او بانډه چيانو تاسو راگيرکړې وۍ حال دا چې تاسو د عربو باتوران او مشران او مخ کښان وۍ. او د لوړې څوکې عزت خاوندان وۍ،د زړۀ سوز به مو هاله ختم شو چې تاسو په ميړانه بربېدونه وکړل او لکه څرنگه چې شاميانو راگير کړي وۍ تاسو راگېر او شاته کړل، او د هغوي ليکې مو ماتې کړې، او له خپل ډگره مو اوشړل، ومولیدل چې د هغوي نېزې مو ماتې کړې او په غشو مو وويشتل، چې تښتېدونکي او وژلي يې په يو بل باندې ډمبر او په يو بل باندې سپارۀ شول، د تږواوښانو په شان چې له اوبۀ خوره وشړل شی او هر لوري ته تېښته وکړي.

## ﴿يو سل اتمه خطبه﴾

(په کوفه کښې د امام يوه وينا چې د راتلونکې سختې پېښې يې پکې بيان کړې دي)

### خداے پاک پېژندنه

ستائنه هغه خداے لره ده چې په خپلو مخلوقاتو په خپل تخليق سره جلوه گر شو او په دليل او برهان سره يې ځان په زړونوکښې ښکاره کړ مخلوقات يې اوپنځول په داسې حال کښې چې فکر ته يې اړتيا نۀ لرله، ځکه چې فکر او سوچ خو هغه څوک کوي چې په سينه کښې يې زړۀ وي حال دا چې خداے پاک له دې سپېځلے دے،د خداے پاک علم د غيبو پردې شلولې او له پټو افکارو خبر دے.

(او د همدې خطبې يوه برخه ده چې د پېغمبراکرمﷺ په حقله يې وفرمايل:)

رسول الله مبارکﷺ يې د پېغمبرانوﷺ له شجرې څخه،د هدايت د رڼا له چينې،له لوړ او بې ساري مقامه،د بطحاء[۷۹] له ټاټوبې، په تيرو کښې له ځلانده ځراغونو، او د حکمت له سرچينو خوښ کړ. پېغمبراکرمﷺ د بيمارو زړونو گرځنده طبيب دے چې د شفا مرهم يې چمتو،د زخمونو او داغونو اوزار يې تيار، د ړندو زړونو، کڼو غوږونو او گونگيو ژبو د

يَضَعُ من ذلكَ حَيْثُ الْحَاجَةُ إِلَيْه، منْ قُلُوب عُمْيٍ، وَآذَان صُمٍّ، وَأَلْسنَة بُكْمٍ؛ مُتَتَبِّعٌ بدوَائه مَوَاضعَ الْغَفْلَة، وَمَوَاطنَ الْحَيْـرَة؛ لَـمْ يَسْتَضيئُوا بأَضْوَاء الْحكْمَة، وَلَمْ يَقْدَحُوا بزنَـاد الْعُلُـوم الثَّاقبَـة؛ فَهُمْ في ذلكَ كَالأَنْعَام السَّائمَة، وَالصُّخُور الْقَاسـيَة.قَد انْجَابَـت السَّرائرُ لأَهْـل الْبَصَـائر، وَوَضَـحَتْ مَحَجَّـةُ الْحَـقِّ لخَابطهَـا، وَأَسْفَرَت السَّاعَةُ عَنْ وَجْههَا، وَظَهَرَت الْعَلاَمَةُ لمتَوَسِّمهَا. مَا لي أَرَاكُمْ أَشْبَاحاً بلاَ أَرْوَاح، وَأَرْوَاحاً بـلاَ أَشْبَـاح، وَنُسَّـاكاً بـلاَ صَلاَح، وَتُجَّاراً بلاَ أَرْبَاح، وَأَيْقَاظاً نُوَّماً، وَشُهُوداً غُيَّباً، وَنَـاظرَةً عُمْيَاءَ، وَسَامعَةً صَمَّاءَ، وَنَاطقَةً بَكْمَاءَ! رَايَةُ ضَلاَلَة قَدْ قَامَتْ عَلَـى قُطْبهَا، وَتَفَرَّقَتْ بشُعَبهَا، تَكيلُكُمْ بصَـاعهَا، وَتَخْـبطُكُمْ ببَاعهَـا. قَائدُهَا خَارجٌ منَ الْملَّة، قَائمٌ عَلَى الضِّلَّة؛ فَلاَ يَبْقَى يَوْمَئذ منْكُمْ إلاَّ ثُفَالَةٌ كَثُفَالَة الْقدْر، أَوْ نُفَاضَةٌ كَنُفَاضَة الْعكْم، تَعْرُكُكُمْ عَـرْكَ الأَديم، وَتَدُوسُكُمْ دَوْسَ الْحَصـيد، وَتَسْـتَخْلصُ الْمُـؤْمنَ مـنْ بَيْنكُمُ اسْتخْلاَصَ الطَّيْر الْحَبَّةَ الْبَطينَةَ منْ بَيْن هَزيل الْحَبِّ. أَيْـنَ تَـذْهَبُ بكُـمُ الْمَـذَاهبُ، وَتَتيـهُ بكُـمُ الْغَيَاهـبُ، وَتَخْـدَعُكُمُ الْكَوَاذبُ؟ وَمنْ أَيْنَ تُؤْتَوْنَ، وَأَنَّى تُؤْفَكُونَ؟ فَلكُلِّ أَجَل كتَابٌ، وَلكُلِّ غَيْبَة إيَابٌ، فَاسْتَمعُوا منْ رَبَّانيِّكُمْ، وَأَحْضـرُوهُ قُلُـوبَكُمْ، وَاسْتَيْقظُوا إنْ هَتَفَ بكُمْ، وَلْيَصْدُقْ رَائدٌ أَهْلَهُ، وَلْيَجْمَـعْ شَـمْلَهُ، وَلْيُحْضرْ ذهْنَهُ، فَلَقَدْ فَلَقَ لَكُمُ الأَمْرَ فَلْقَ الْخَرَزَة، وَقَرَفَـهُ قَـرْفَ الصَّمْغَة. فَعنْدَ ذلكَ أَخَذَ الْبَاطلُ مَآخذَهُ، وَرَكبَ الْجَهْلُ مَرَاكبَهُ، وَعَظُمَت الطَّاغيَةُ، وَقَلَّت الدَّاعيَةُ، وَصَالَ الـدَّهْرُ صِـيَالَ السَّـبُع الْعَقُور، وَهَدَرَ فَنيقُ الْبَاطل بَعْدَ كُظُوم، وَتَـوَاخَى النَّـاسُ عَلَـى الْفُجُـور، وَتَهَـاجَرُوا عَلَـى الـدِّين، وَتَحَـابُّوا عَلَـى الْكَـذب، وَتَبَاغَضُوا عَلَى الصِّدْق. فَإذَا كَـانَ ذلـكَ كَـانَ الْوَلَـدُ غَيْظاً، وَالْمَطَرُ قَيْظاً، وَتَفيضُ اللِّئَامُ فَيْضاً، وَتَغيضُ الْكرَامُ غَيْضاً، وَكَانَ أَهْلُ ذلكَ الزَّمَان ذئَابـاً، وَسَـلاَطينُهُ سِـبَاعاً، وَأَوْسَـاطُهُ أُكَّـالاً، وَفُقَرَاؤُهُ أَمْوَاتاً، وَغَارَ الصِّـدْقُ، وَفَـاضَ الْكَـذبُ، وَاسْـتُعْملَت الْمَوَدَّةُ باللِّسَان، وَتَشَاجَرَ النَّاسُ بالْقُلُوب، وَصَارَ الْفُسُوقُ نَسَـباً،

شفا لپاره چمتو دي او په خپلو درملو سره د هېرو شويو او لالهانده بيمارانو په لټه کښې دے. بني اميو د حکمت په رڼا زړونه روښانه نۀ کړل او د علم په ځلانده شعلو سره يې ځانونه رانۀ کړل،دوي د صحرا د چارپايانو او د سختوکاڼو په څېر دي، په تحقيق سره پټ رازونه د پوهې خاوندانو ته ښکاره شول، او د حق لاره ګمراهانو ته روښانه ده. قيامت له خپل مخه پلوهسک کړ او هوښيارانو او د حق غوښتونکو ته يې مخ وښودۀ.
اے د کوفې خلقو!په تاسو څه شوي دي چې بدنونه مو بې روحه او روحونه مو بې کالبوته دي. تاسو هغه عابدان يئ چې باطن مو صالح نه دے او هغه تاجران يئ چې تجارت بې ګټه نۀ کوي، داسې ويښ يئ چې د غفلت په خوب اودۀ وي،غائب حاضران، ړاندۀ کتونکي، کاڼه اورېدونکي، او ګونګي ويندويان يئ.د ګمراهۍ بېرغونه رپول شوي او منونکي يې پرېمانه شوي دي، تاسو په خپله پېمانه تلي او څپي،بيرغچي يې (معاويه) له اسلامه وتلے او د ګمراهۍ په مقام ولاړ دے. نوکه لاس يې درباندې بر شي په تاسو کښې به دومره کم کسان پاتې شي لکه په دېګ کښې کوينې او د دېګچې په څنډو کښې نښتې دانې، تاسو به د څرمنو په شان ونغاړي او وبه مو مروړي، او داسې به مو اوځپي لکه په لوکې دانې، او په تاسو کښې به مخلص کسان داسې چونړ کړي لکه مارغۀ چې غټې دانې له وړو جدا کوي. نو تاسو په دغوغلطو لارو چرته روان يئ؟ او تيرې او تورتمونه به موترکومې لالهانده ساتي؟ دروغ به مو ترکومې غولوي. دښمن له کومې په تاسو کې ننوتے او دې ورځې ته يې کښېنولي يئ؟ خبر اوسئ! هر وخت يوه نېټه لري او د هرتګ لپاره ستنېدل وي. د خپل خدا ے پېژندونکي عالم خبره واورئ، زړونه د هغۀ در ته حاضر کړئ او د هغۀ په غږونو راويښ شئ،د ټولنې او معاشرې مشر بايدخپل قام ته رښتيا ووائي او خلق راټول کړي او خپل فکر د حق منلو ته چمتوکړي، ستاسو لارښود تاسوته حق داسې وڅيرۀ لکه نرۍ مهرې چې څېرل کېږي،او حقيقت يې له باطله داسې وځېښۀ لکه د ونې له تنې چې شيره ځېښل کېږي.
نو کله چې امويان په تاسو لاسبرې شي باطل به په خپل ځاے ټينګ شي او جهل او ناپوهي به په سپرليو(مرکبونو) سپره شي،سرکښي به لويه او د حق بلونکي او حق اخستونکي به لږ شي،او زمانه به د داړونکي ځناور په شان بريد وکړي او د باطل اوښ به له چپتيا وروسته وبړبړي خلق به په فسق و فجور کښې يوبل ته لاسونه ورکړي په دروغو کښې به ملګري او په رښتياؤ کښې به د يو بل دښمنان شي،کله چې داسې زمانه راورسېږي نو زوے به د پلار دښمن شي او باران به د ساړۀ په ځاے ګرمي راولي، په سپکو او شومانو به هرځاے ډک شي او درانۀ کسان به نايابه شي،د هغې زمانې خلق به د لېوانو او پاچايان به يې د داړونکو په شان وي،ببوزلان به بې خوراک او فقيران به د مړيو په شان وي. رښتيا به ترې کډه وکړي او دروغ به پرېمانه شي، په خولو به دوستي وي خو په زړونو به دښمني، ګناه او زنا به وياړ او نسب وي او پاکلمني به عجيبه څيز ښکاري، او اسلام به د اړولي پوستين په شان

وَالْعَفَافُ عَجَباً، ولَبِسَ الاسْلاَمُ لُبْسَ الْفَرْوِ مَقْلُوباً.

## [ ۱۰۹ ]

في بَيَانِ قُدْرَةِ الله

كُلُّ شَيْءٍ خَاشِعٌ لَهُ، وَكُلُّ شَيْءٍ قَائِمٌ بِهِ: غِنَى كُلِّ فَقِيرٍ، وَعِزُّ كُلِّ ذَلِيلٍ، وَقُوَّةُ كُلِّ ضَعِيفٍ، ومَفْزَعُ كُلِّ مَلْهُوفٍ، مَنْ تَكَلَّمَ سَمِعَ نُطْقَهُ، وَمَنْ سَكَتَ عَلِمَ سِرَّهُ، وَمَنْ عَاشَ فَعَلَيْهِ رِزْقُهُ، وَمَنْ مَاتَ فَإِلَيْهِ مُنْقَلَبُهُ. لَمْ تَرَكَ الْعُيُونُ فَتُخْبِرَ عَنْكَ، بَلْ كُنْتَ قَبْلَ الْوَاصِفِينَ مِنْ خَلْقِكَ، لَمْ تَخْلُقِ الْخَلْقَ لِوَحْشَةٍ، ولاَ اسْتَعْمَلْتَهُمْ لِمَنْفَعَةٍ، ولاَ يَسْبِقُكَ مَنْ طَلَبْتَ، ولاَ يُفْلِتُكَ مَنْ أَخَذْتَ، ولاَ يَنْقُصُ سُلْطَانَكَ مَنْ عَصَاكَ، ولاَ يَزِيدُ فِي مُلْكِكَ مَنْ أَطَاعَكَ، ولاَيَرُدُّ أَمْرَكَ مَنْ سَخِطَ قَضَاءَكَ، ولاَيَسْتَغْنِي عَنْكَ مَنْ تَوَلَّى عَنْ أَمْرِكَ.كُلُّ سِرٍّ عِنْدَكَ عَلاَنِيَةٌ،وكُلُّ غَيْبٍ عِنْدَكَ شَهَادَةٌ. أَنْتَ الأَبَدُ فَلاَ أَمَدَ لَكَ، وَأَنْتَ الْمُنْتَهَى فَلاَ مَحِيصَ عَنْكَ، وَأَنْتَ الْمَوْعِدُ فَلاَ مَنْجَى مِنْكَ إِلاَّ إِلَيْكَ، بِيَدِكَ نَاصِيَةُ كُلِّ دَابَّةٍ، وَإِلَيْكَ مَصِيرُ كُلِّ نَسَمَةٍ. سُبْحَانَكَ مَا أَعْظَمَ شَأْنَكَ! سُبْحَانَكَ مَا أَعْظَمَ مَا نَرَى مِنْ خَلْقِكَ! وَمَا أَصْغَرَ كُلَّ عَظِيمَةٍ فِي جَنْبِ قُدْرَتِكَ! وَمَا أَهْوَلَ مَا نَرَى مِنْ مَلَكُوتِكَ! وَمَا أَحْقَرَ ذلِكَ فِيمَا غَابَ عَنَّا مِنْ سُلْطَانِكَ! وَمَا أَسْبَغَ نِعَمَكَ فِي الدُّنْيَا، وَمَا أَصْغَرَهَا فِي نِعَمِ الأخِرَةِ!

مِنْهَا فِي الْمَلاَئِكَةِ الْكِرَامِ

مِنْ مَلاَئِكَةٍ أَسْكَنْتَهُمْ سَمَاوَاتِكَ وَرَفَعْتَهُمْ عَنْ أَرْضِكَ؛ هُمْ أَعْلَمُ خَلْقِكَ بِكَ، وَأَخْوَفُهُمْ لَكَ، وَأَقْرَبُهُمْ مِنْكَ؛ لَمْ يَسْكُنُوا الأَصْلاَبَ، وَلَمْ يُضَمَّنُوا الأَرْحَامَ، وَلَمْ يُخْلَقُوا مِنْ مَاءٍ مَهِينٍ، وَلَمْ يَتَشَعَّبْهُمْ رَيْبُ الْمَنُونِ؛ وَإِنَّهُمْ عَلَى مَكَانِهِمْ مِنْكَ، وَمَنْزِلَتِهِمْ عِنْدَكَ، وَاسْتِجْمَاعِ أَهْوَائِهِمْ فِيكَ، وَكَثْرَةِ طَاعَتِهِمْ لَكَ، وَقِلَّةِ غَفْلَتِهِمْ عَنْ أَمْرِكَ، لَوْ عَايَنُوا كُنْهَ مَا خَفِيَ عَلَيْهِمْ مِنْكَ لَحَقَّرُوا أَعْمَالَهُمْ، وَلَزَرَوْا عَلَى أَنْفُسِهِمْ، وَلَعَرَفُوا أَنَّهُمْ لَمْ يَعْبُدُوكَ حَقَّ عِبَادَتِكَ، وَلَمْ يُطِيعُوكَ حَقَّ طَاعَتِكَ.

عِصْيَانُ الْخَلْقِ

اغوندي.

## ﴿ يو سل نهمه خطبه ﴾

(دا خطبه د الزهرا په نامه مشهوره ده)

### د الله پاک قدرت

د خدا ے پاک د سترتوب او قيامت د ورځې په باره کښې هر يو څيز هغه ذات ته خاشع او هرڅه د هغهٔ له دمه قائم دي.خدا ے تعالی د هر اړمن او حاجتمن بډايه او مالداره کوونکے، د هر سپک درنوونکے، د هر ناتوانه توانوونکے او هر مصيبت ځپلي ته پناه ورکوونکے دے د هر ويؤنکي او د هر چپ پاتې کېدونکي له زړهٔ خبر دے، د بندګانو روزي پهٔ هغه ده او ځوک چې مړهٔ شي جاروتل يې هغهٔ ته دي،اے خدايه! سترګو تهٔ نهٔ يې ليدلے چې ستا په حقله خبر ورکړي تهٔ ترټولو ستايونکومخلوقاتومخکې موجود وې او مخلوق دې د دې لپاره ونهٔ پنځوهٔ چې ګوندې له يواځيتوبه ويرېدې او نهٔ دې د کومې ذاتي ګټې لپاره وپنځوهٔ، ستا له قدرته ځوک تېښته نهٔ شي کولي او ځوک چې اونيسې له قدرته دې نهٔ شي وتلي،ګناهکاران ستا سترتوب او لوئي نهٔ شي کمولې او پرهېزګاران ستا قدرت نهٔ شي زياتولې، ځوک چې ستا په قضا غصه شي ستا حکم نهٔ شي ستنولې او ځوک چې دې امر ته شا کړي له تا نه شي بې نيازه کېدلي. هر راز تا ته معلوم او هره پټه درښکاره ده تهٔ تل پاتے او ابدي يې او د هر څه پاې او خاتمه هم تهٔ يې چې تېښته ترې نهٔ کېږي، د ټولو وعده ګاه ستا حضور دے او له تا خلاصېدل بې له دې چې تا ته درشو نه شي کېدلې.د هر ژوندي ساري اختيار ستا په لاس کښې او د هر شي جاروتل ستا لوري ته دي. اے خدايه! تهٔ پاک او سپېڅلے يې، ستا قدر او عظمت څومره لوړ دے او ستا مخلوق څومره د شان خاوند دے. او هر لوے ستا د قدرت په وړاندې څومره وړوکے دے، او ملکوت او واکمني څومره برمناکه ده. او دا هر څه ستا د هغې باچاهۍ او واکمنۍ په وړاندې چې زمونو له سترګو پټه ده څومره واړهٔ دي. ستا لورينې او مهربانۍ په دې دنيا کښې څومره هر اړخيزې دي او د دنيا دا پرېمانه لورينې بيا د قيامت د پېرزوينو په وړاندې څومره وړې دي.

### د فرښتو صفت

بيا ستا د فرښتو پنځون او خلقت څومره حيرانوونکے دے چې ځينې دې په آسمان کښې آبادې کړې او له دنيا دې خېژولې دي، هغوي له ټولومخلوقاتوستا زيات معرفت لري او تر هر چا زياته ويره لري. او زياتې درنږدې دي.هغه فرښتې چې نهٔ د پلرونو په ملاګانو کښې پاتې شوې او نهٔ د مېندو په رحمونو کښې روزل شوې او نهٔ له سپکو اوبو (نطفې) پېدا شوې دي او نهٔ د ژوند ربړو تيتې کړې او ځپلې دي. هغوي ستا په نزد لوړ مقام لري او کوم ارزښت چې له تا سره لري اوڅنګه چې له تاسره مينه کوي نو ستا پرېمانه اطاعت کوي او ستا په امر کښې لږ شان غفلت هم نهٔ کوي.که له هغه څه چې ورځنيې پټ دي خبر شي خپل ټول

سُبْحَانَكَ خَالِقاً وَمَعْبُوداً! بِحُسْنِ بَلاَئِكَ عِنْدَ خَلْقِكَ، خَلَقْتَ دَاراً، وَجَعَلْتَ فِيهَا مَأْدُبَةً: مَشْرَباً وَمَطْعَماً، وَأَزْوَاجاً وَخَدَماً، وَقُصُوراً، وَأَنْهَاراً، وَزُرُوعاً، وَثِمَاراً. ثُمَّ أَرْسَلْتَ دَاعِياً يَدْعُو إِلَيْهَا، فَلاَ الدَّاعِيَ أَجَابُوا، وَلاَ فِيمَا رَغَّبْتَ رَغِبُوا، وَلاَ إِلَى مَا شَوَّقْتَ إِلَيْهِ اشْتَاقُوا. أَقْبَلُوا عَلَى جِيفَةٍ قَدِ افْتَضَحُوا بِأَكْلِهَا، وَاصْطَلَحُوا عَلَى حُبِّهَا. وَمَنْ عَشِقَ شَيْئاً أَعْشَى بَصَرَهُ، وَأَمْرَضَ قَلْبَهُ، فَهُوَ يَنْظُرُ بِعَيْنٍ غَيْرِ صَحِيحَةٍ، وَيَسْمَعُ بِأُذُنٍ غَيْرِ سَمِيعَةٍ، قَدْ خَرَقَتِ الشَّهَوَاتُ عَقْلَهُ، وَأَمَاتَتِ الدُّنْيَا قَلْبَهُ، وَوَلِهَتْ عَلَيْهَا نَفْسُهُ، فَهُوَ عَبْدٌ لَهَا، وَلِمَنْ فِي يَدَيْهِ شَيْءٌ مِنْهَا، حَيْثُمَا زَالَتْ زَالَ إِلَيْهَا، وَحَيْثُمَا أَقْبَلَتْ أَقْبَلَ عَلَيْهَا. لاَ يَنْزَجِرُ مِنَ اللهِ بِزَاجِرٍ، وَلاَ يَتَّعِظُ مِنْهُ بِوَاعِظٍ، وَهُوَ يَرَى الْمَأْخُوذِينَ عَلَى الْغِرَّةِ، حَيْثُ لاَ إِقَالَةَ وَلاَ رَجْعَةَ، كَيْفَ نَزَلَ بِهِمْ مَا كَانُوا يَجْهَلُونَ، وَجَاءَهُمْ مِنْ فِرَاقِ الدُّنْيَا مَا كَانُوا يَأْمَنُونَ، وَقَدِمُوا مِنَ الْآخِرَةِ عَلَى مَا كَانُوا يُوعَدُونَ. فَغَيْرُ مَوْصُوفٍ مَا نَزَلَ بِهِمْ: اجْتَمَعَتْ عَلَيْهِمْ سَكْرَةُ الْمَوْتِ وَحَسْرَةُ الْفَوْتِ، فَفَتَرَتْ لَهَا أَطْرَافُهُمْ، وَتَغَيَّرَتْ لَهَا أَلْوَانُهُمْ. ثُمَّ ازْدَادَ الْمَوْتُ فِيهِمْ وُلُوجاً، فَحِيلَ بَيْنَ أَحَدِهِمْ وَبَيْنَ مَنْطِقِهِ، وَإِنَّهُ لَبَيْنَ أَهْلِهِ يَنْظُرُ بِبَصَرِهِ، وَيَسْمَعُ بِأُذُنِهِ، عَلَى صِحَّةٍ مِنْ عَقْلِهِ، وَبَقَاءٍ مِنْ لُبِّهِ، يُفَكِّرُ فِيمَ أَفْنَى عُمُرَهُ، وَفِيمَ أَذْهَبَ دَهْرَهُ! وَيَتَذَكَّرُ أَمْوَالاً جَمَعَهَا، أَغْمَضَ فِي مَطَالِبِهَا، وَأَخَذَهَا مِنْ مُصَرَّحَاتِهَا وَمُشْتَبِهَاتِهَا، قَدْ لَزِمَتْهُ تَبِعَاتُ جَمْعِهَا، وَأَشْرَفَ عَلَى فِرَاقِهَا، تَبْقَى لِمَنْ وَرَاءَهُ يَنْعَمُونَ فِيهَا، وَيَتَمَتَّعُونَ بِهَا، فَيَكُونُ الْمَهْنَأُ لِغَيْرِهِ، وَالْعِبْءُ عَلَى ظَهْرِهِ. وَالْمَرْءُ قَدْ غَلِقَتْ رُهُونُهُ بِهَا، فَهُوَ يَعَضُّ يَدَهُ نَدَامَةً عَلَى مَا أَصْحَرَ لَهُ عِنْدَ الْمَوْتِ مِنْ أَمْرِهِ، وَيَزْهَدُ فِيمَا كَانَ يَرْغَبُ فِيهِ أَيَّامَ عُمُرِهِ، وَيَتَمَنَّى أَنَّ الَّذِي كَانَ يَغْبِطُهُ بِهَا وَيَحْسُدُهُ عَلَيْهَا قَدْ حَازَهَا دُونَهُ! فَلَمْ يَزَلِ الْمَوْتُ يُبَالِغُ فِي جَسَدِهِ حَتَّى خَالَطَ [لِسَانُهُ ]سَمْعَهُ، فَصَارَ بَيْنَ أَهْلِهِ لاَ يَنْطِقُ بِلِسَانِهِ، وَلاَ يَسْمَعُ بِسَمْعِهِ: يُرَدِّدُ طَرْفَهُ بِالنَّظَرِ فِي وُجُوهِهِمْ، يَرَى حَرَكَاتِ أَلْسِنَتِهِمْ، وَلاَ يَسْمَعُ رَجْعَ كَلاَمِهِمْ. ثُمَّ

کارونه به هيڅ او واړه وګڼي او په ځان به نيوکه وکړي او پوه به شي چې لکه څرنګه چې ښائي ستا عبادت يې نۀ دے کړے او څرنګه چې وړ وۀ ستا امر يې نۀ دے منلے.

اے خدايه! ستائنه له تا سره ښائي ځکه چې تۀ خالق او معبود يې، بندګان دې څه ښه وزمايل، آخرت دې وپنځوۀ او د رنګارنګو نعمتونو خوان دې وغوړوۀ، او پکښې دې ډول ډول خواړۀ، او شربتونه، جوړې،مېلمه پالان، ماڼۍ، روانې ويالې، ميوې او پټې جوړکړل، بيا دې استازے راولېږۀ چې خلق دغو نعمتونو او دغه کاله او ځيزونو ته وبلي خو افسوس چې نۀ بلل شويو بلنه ومنله او نۀ هغو ځيزونو ته چې دې ګروهلي وو وګروهېدل، په مردارې اخته شول چې په خوړلو يې رسوا شول او ټول د هغې په دوستۍ غږمله شول نو صفا خبره ده چې څوک په چا مئين شي هغه يې ړندوي او زړۀ يې بيماروي، په بيمارو سترګو ګوري او په بيمارو غوږو اوري. نفساني خواهشات يې د عقل پرده شلوي او د دنيا مينه يې زړونه مړه کړي.داسې کسان د نيا بې دريغه عاشقان او د هغو کسانو مريان دي چې يو څه دنيا ورسره ده.دنيا چې کوم لور ته اوړي دوي هم اوړي اوځومره چې يې خبردار کړي له خدايه نۀ ويرېږي. د هيڅ پندګرخبره نۀ اوري سره له دې چې د دنيا غولېدلي او ګرفتاران ويني چې (له مرګ نه پس) يې نۀ د معافى اميد شته او نۀ د رجوع کولو(بوخوا يې ډانګ وي اوبل خوا يې پړانګ)، او د مرګ په منګولو کښې ګير دي، او هغه بلاګانې پرې نازلې شوې دي چې طمعه قدرې يې هم نۀ لرله، اوکومه دنيا يې چې تل پاتې ګڼله هغه ترې جدا شوې او په آخرت کښې به هغه څه ته چې يې وعده ورکړې شوې وه بوتلل شي. نو د دغه مصيبت بيان هم ناممکنه دے چې يو لور ته د مرګ سلګۍ وي او بل لور ته د دنيا ارمان، بدنونه د ځنکدن سختۍ رانيولي او رنګونه يې الوتې وي، مرګ يې ورو ورو ټول غړي رانيسي او ژبه يې ښنبلي، بيا نو هغه د خپلې کورنۍ په مينځ کښې پروت د سر په سترګو ويني په غوږو اوري او عقل يې کار کوي او فکر کوي چې عمر يې په کومو کارونو کښې تباه کړے او ژوند يې په کومو چارو کښط تېر کړے وۀ؟ هغه مالونه ورياد شي چې جمع کړي يې وو هماغه چې په راغونډولو کښې يې سترګې پټې کړې وې نۀ يې د حلالو خيال ساتۀ نۀ د حرامو او نۀ د شکمنو، او اوس د هغو د راغونډولو ګناه درونډ پېټے د دۀ په غاړه دے له هغو (مالونو) سره د خداے په په امانى وخت رارسېدلے او هغه يې وارثانو ته پاتې دي چې مزې پرې وکړي او خوندونه ترې اوچت کړي. يعنې مزې به نور کوي او غم اوګناه يې دۀ ته پاتې شوه، او دې پرې پړ دے.اوس نو له پښېمانۍ لاسونه مروړي او مرګ ورته هرڅه په ډاګه کړي دي په دغه حالت کښې نو انسان له هغه څه بې پروا دے چې په دنيا کښې يې لېواله وُ، په زړۀ کښې وائي چې دريغه دا مال هغه کس راغونډ کړے وې چې له دۀ سره يې حسد کوۀ، خو اوس مرګ د دۀ په غړيو اندامونو کښې په خپرېدو دے تر دې چې غوږونه يې هم د ژبې په شان له کاره ولوېږي، نو د خپلې کورنۍ په مينځ کښې

ازْدَادَ الْمَوْتُ الْتِيَاطاً بِـهِ، فَقُـبِضَ بَصَـرُهُ كَمَـا قُـبِضَ سَـمْعُهُ، وَخَرَجَتِ الرُّوحُ مِنْ جَسَدِهِ، فَصَارَ جِيفَةً بَيْنَ أَهْلِهِ، قَدْ أَوْحَشُوا مِنْ جَانِبِهِ، وَتَبَاعَدُوا مِنْ قُرْبِهِ. لاَ يُسْعِدُ بَاكِياً، وَلاَ يُجِيبُ دَاعِيـاً. ثُمَّ حَمَلُوهُ إِلَى مَخَطٍّ فِي الاَرْضِ، فَأَسْـلَمُوهُ فِيـهِ إِلَـى عَمَلِـهِ، وَانْقَطَعُوا عَنْ زَوْرَتِهِ.

### الْقِيَامَةُ

حَتَّى إِذَا بَلَغَ الْكِتَابُ أَجَلَهُ، وَالاَمْرُ مَقَادِيرَهُ، وَأُلْحِقَ آخِرُ الْخَلْـقِ بِأَوَّلِهِ، وَجَاءَ مِنْ أَمْرِ اللهِ مَا يُرِيدُهُ مِنْ تَجْدِيدِ خَلْقِهِ، أَمَادَ السَّمَاءَ وَفَطَرَهَا، وَأَرَجَّ الاَرْضَ وَأَرْجَفَهَا، وَقَلَعَ جِبَالَهَـا وَنَسَـفَهَا، وَدَكَّ بَعْضُهَا بَعْضاً مِنْ هَيْبَةِ جَلاَلَتِهِ وَمَخُوفِ سَـطْوَتِهِ، وَأَخْـرَجَ مَـنْ فِيهَا، فَجَدَّدَهُمْ بَعْدَ إِخْلاَقِهِمْ، وَجَمَعَهُمْ بَعْدَ تَفْرِيقِهِمْ، ثُمَّ مَيَّـزَهُمْ لِمَا يُرِيدُهُ مِنْ مَسْأَلَتِهِمْ عَنْ[خَفَايَـا ]الاَعْمَـالِ وَخَبَايَـا الاَفْعَـالِ، وَجَعَلَهُمْ فَرِيقَيْنِ: أَنْعَمَ عَلَى هؤُلاَءِ وَانْتَقَمَ مِنْ هؤُلاَءِ.فَأَمَّـا أَهْـلُ الطَّاعَةِ فَأَثَابَهُمْ بِجِوَارِهِ، وَخَلَّـدَهُمْ فِـي دَارِهِ، حَيْـثُ لاَ يَظْعَـنُ النُّزَّالُ، وَلاَ تَتَغَيَّرُ بِهِمُ الْحَالُ، وَلاَ تَنُـوبُهُمُ الاَفْـزَاعُ، وَلاَ تَنَـالُهُمُ الاَسْقَامُ، وَلاَتَعْرِضُ لَهُمُ الاَخْطَارُ، وَلاَ تُشْخِصُهُمُ الاَسْفَارُ. وَأَمَّـا أَهْلُ الْمَعْصِيَةِ فَأَنْزَلَهُمْ شَرَّ دَار، وَغَلَّ الاَيْدِيَ إِلَى الاَعْنَاقِ، وَقَرَنَ النَّوَاصِيَ بِالاَقْدَامِ، وَ أَلْبَسَهُمْ سَرَابِيلَ الْقَطِرَانِ، وَمُقَطَّعَاتِ النِّيرَانِ، فِي عَذَاب قَدِ اشْتَدَّ حَرُّهُ، وَبَاب قَدْ أُطْبِقَ عَلَى أَهْلِهِ، فِي نَار لَهَا كَلَبٌ وَلَجَبٌ، وَلَهَبٌ سَاطِعٌ، وَقَصِيفٌ هَائِلٌ، لاَ يَظْعَـنُ مُقِيمُهَـا، وَلاَ يُفَادَى أَسِيرُهَا، وَلاَ تُفْصَمُ كُبُولُهَا. لاَ مُدَّةَ لِلدَّارِ فَتَفْنَـى، وَلاَ أَجَلَ لِلْقَوْمِ فَيُقْضَى.

### فِي ذِكْرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِه

قَدْ حَقَّرَ الدُّنْيَا وَصَـغَّرَهَا، وَأَهْـوَنَ بِهَـا وَهَوَّنَهَـا، وَعَلِـمَ أَنَّ اللهَ تَعَالَى زَوَاهَا عَنْهُ اخْتِيَاراً، وَبَسَـطَهَا لِغَيْـرِهِ احْتِقَـاراً، فَـأَعْرَضَ عَنِ الدُّنْيَا بِقَلْبِهِ، وَأَمَـاتَ ذِكْرَهَـا عَنْنَفْسِـهِ، وَأَحَـبَّ أَنْ تَغِيـبَ

پروت وي نه په خوله څه ویلي شي او نهٔ يې غوږونه کارکوي، د هغوي مخونو ته ګوري، د ژبو خوځښت يې ويني خو خبرې يې نهٔ اوري. بيا يې نو د مرګ منګولې په ټول وجود ښخې شي او سترګې يې هم د غوږونو په شان کار پرېږدي او روح يې له بدنه ووځي او د يو مردار په شان د خپلې کورنۍ په مينځ کښې پروت وي چې هغوي يې په خوا کښې له کښيناستلو هم ويرېږي او هر څوک ترې تښتي. دې نو اوس نهٔ کوم ژړېدونکي ته ډاډ ورکولې شي او نهٔ بلونکي ته ځواب، بيا يې نو خلق په ځمکه کښې خپل منزل (قبر) ته يوسي او خپل عمل ته يې وسپاري او د ملاقاتونو لړۍ د تل لپاره اوشليږي.

## بيا پاڅېدل

تر دې چې د دې نړۍ دوسيه (عملنامه) يې بنده شي او د خداے امر راورسېږي او وروستے له وړومبي سره يو ځاے شي او د بيا پاڅېدلو الهي حکم وشي نو آسمان به وخوځيږي او مات به شي او ځمکه به سخته ولړزيږي او ټکانونه به وخوري، او غرونه به له بېخه ونړول شي او د خداے پاک د هېبت او عظمت په وړاندې به له يوبل سره وجنګېږي او له خاورو سره به خاورې شي،هله به ځمکه هرکس راوباسي او له ورستوالي وروسته به تاند او تازه شي. او له تيت پرکتيا وروسته به راټول شي، بيا به د عملونو د حساب لپاره له يو بله بيل کړې شي. خداے پاک به هغوي په دوو ډلو اويشي، يوې ډلې ته به نعمتونه ورکړي او له بلې به غچ واخلي. خو د اطاعت خاوندانو ته به په خپل څنګ کښې ځاے ورکړي او په تل پاتې جنت کښې به يې هستوګن کړي. په هغه کور کښې چې هستوګن ترې هيڅکله نهٔ کوچيږي او ژوند به يې هيڅکله نهٔ بدلېږي. هلته به ويره او ترهه نهٔ وي او بيمارۍ به نهٔ لګېږي، او هيڅ خطرې به يې نهٔ ګوابني.او نهٔ به د سفر په زحمت اخته کېږي.خو د ګناه خاوندان به ډېرې بدې ټکانړې ته کوز کړي، لاسونو او پښنو ته به يې زولنې ورواچوي داسې چې لاس او پښې به يې په غاړې پورې وتړل شي او سرونه به يې په پښنو پورې وجنګول شي، د اور اوتارکولوجامې به ورواغوندلې شي او په داسې عذاب کښې به واچول شي چې د اور تودوخې يې ډېره سخته او دروازې يې په دوي باندې بندې وي، او د لمبوغږونه به يې بوږنوونکي وي.له دغه ځايه به هيڅکله نهٔ وځي او دغلته به د اسيرانو فديه نهٔ منل کېږي او زنځيرونه به يې نهٔ سستېږي،نهٔ يې د عذاب لپاره کومه موده ټاکلې شوې چې ختمه شي او نهٔ يې د ختمېدو نېټه چې راورسېږي.

## د رسول الله مبارکﷺ زهد

د خداے ګران رسولﷺ دنيا همېشه وړه ګڼله او نورو ته يې وړه ښودله، په خپله يې خواره ګڼله او نورو ته يې هم بې ارزښته برېښوله. او پوهېدهٔ چې خداے پاک د هغهٔ په درننښت دنيا له هغه حضرته لرې کړې ده او د بې ارزښتۍ له امله يې نورو ته ځانګړې کړې ده. رسول الله

زِينَتَهَا عَنْ عَيْنِهِ، لِكَيْلاَ يَتَّخِذَ مِنْهَا رِيَاشاً، أَوْ يَرْجُوَفِيهَا مَقَاماً. بَلَّغَ عَنْ رَبِّهِ مُعْذِراً، وَنَصَحَ لأُمَّتِهِ مُنْذِراً، وَدَعَا إِلَى الْجَنَّةِ مُبَشِّراً، وَخَوَّفَ مِنَ النَّارِ مُحَذِّراً.

أَهْلُ الْبَيْتِ عَلَيْهِ السَّلاَمُ

نَحْنُ شَجَرَةُ النُّبُوَّةِ، وَمَحَطُّ الرِّسَالَةِ، وَمُخْتَلَفُ الْمَلاَئِكَةِ، وَمَعَادِنُ الْعِلْمِ، وَيَنَابِيعُ الْحُكْمِ، نَاصِرُنَا وَمُحِبُّنَا يَنْتَظِرُ الرَّحْمَةَ، وَعَدُوُّنَا وَمُبْغِضُنَا يَنْتَظِرُ السَّطْوَةَ.

## [ ۱۱۰ ]

### فِي أَرْكَانِ الدِّينِ

إِنَّ أَفْضَلَ مَا تَوَسَّلَ بِهِ الْمُتَوَسِّلُونَ إِلَى اللهِ سُبْحَانَهُ: الايمَانُ بِهِ وَبِرَسُولِهِ، وَالْجِهَادُ فِي سَبِيلِهِ فَإِنَّهُ ذِرْوَةُ الاسْلاَمِ، وَكَلِمَةُ الأِخْلاَصِ فَإِنَّهَا الْفِطْرَةُ، وَإِقَامُ الصَّلاَةِ فَإِنَّهَا الْمِلَّةُ، وَإِيتَاءُ الزَّكَاةِ فَإِنَّهَا فَرِيضَةٌ وَاجِبَةٌ، وَصَوْمُ شَهْرِ رَمَضَانَ فَإِنَّهُ جُنَّةٌ مِنَ الْعِقَابِ، وَحَجُّ الْبَيْتِ وَاعْتِمَارُهُ فَإِنَّهُمَا يَنْفِيَانِ الْفَقْرَ وَيَرْحَضَانِ الذَّنْبَ، وَصِلَةُ الرَّحِمِ فَإِنَّهَا مَثْرَاةٌ فِي الْمَالِ وَمَنْسَأَةٌ فِي الأَجَلِ، وَصَدَقَةُ السِّرِّ فَإِنَّهَا تُكَفِّرُ الْخَطِيئَةَ، وَصَدَقَةُ الْعَلاَنِيَةِ فَإِنَّهَا تَدْفَعُ مِيتَةَ السُّوءِ، وَصَنَائِعُ الْمَعْرُوفِ فَإِنَّهَا تَقِي مَصَارِعَ الْهَوَانِ.أَفِيضُوا فِي ذِكْرِ اللهِ فَإِنَّهُ أَحْسَنُ الذِّكْرِ، وَارْغَبُوا فِيمَا وَعَدَ الْمُتَّقِينَ فَإِنَّ وَعْدَهُ أَصْدَقُ الْوَعْدِ، وَاقْتَدُوا بِهَدْيِ نَبِيِّكُمْ فَإِنَّهُ أَفْضَلُ الْهَدْيِ، وَاسْتَنُّوا بِسُنَّتِهِ فَإِنَّهَا أَهْدَى السُّنَنِ.

فَضْلُ الْقُرْآنِ

وَتَعَلَّمُوا الْقُرْآنَ [فَإِنَّهُ أَحْسَنُ الْحَدِيثِ، وَتَفَقَّهُوا فِيهِ] فَإِنَّهُ رَبِيعُ الْقُلُوبِ، وَاسْتَشْفُوا بِنُورِهِ فَإِنَّهُ شِفَاءُ الصُّدُورِ، وَأَحْسِنُوا تِلاَوَتَهُ فَإِنَّهُ أَنْفَعُ الْقَصَصِ. وَإِنَّ الْعَالِمَ الْعَامِلَ بِغَيْرِ عِلْمِهِ كَالْجَاهِلِ الْحَائِرِ الَّذِي لاَ يَسْتَفِيقُ مِنْ جَهْلِهِ، بَلِ الْحُجَّةُ عَلَيْهِ أَعْظَمُ، وَالْحَسْرَةُ لَهُ أَلْزَمُ، وَهُوَ عِنْدَ اللهِ أَلْوَمُ.

مبارکﷺ دنیا ته شا کړه او هغه یې له زړهٔ اوبستله. هغوي غوښتل چې د دنیا ښکلاوې یې له سترګو لرې وي چې ویاړمنه او شانداره جامه وانهٔ غوندي، یا په دنیا کښې د خاص مقام ارمان ونهٔ کړي. هغوي د هغو احکامو د تبلیغ هڅه وکړه چې د عذرونو غوښوونکي دي او په لازمو خبرداریو سره یې اسلامي امت ته نصیحت وکړ. او په زېرو سره یې خلق جنت ته وبلل او د دوزخ له اوره یې اوېرول.

مونږ (اهلبیتؑ) د نبوت له شجرې څخه یوو او د رسالت له منزل او د فرښتو د تګ راتګ له ځایه او د علم زیرمې او د حکمت سرچینې یوو، زمونږ ملګري او مینه وال د خپل پالونکي د رحمت په طمعه دي او زمونږ دښمنان او له مونږ سره کینه لرونکي د خداے د سزا او لعنت په طمعه.

## ﴿یو سل لسمه خطبه﴾

(د ا خطبه له سید رضي مخکې په عالمانو کښې د «دیباج» په نامه مشهوره وه)

### د دین برياوې او کامیابي

بې له شکه د خداے پاک در ته د نږدېکت تر ټولو ښه او لویه وسیله په هغهٔ او د هغهٔ په رسولﷺ باندې ایمان او د خدا ے پاک په لاره کښې جهاد دے، جهاد د اسلام لوړه څوکه او د خداے پاک یوګنل د انسان د فطرت غږ دے، د نمونځ قائمول د اسلام مبین دین او آئین دے، د زکات ورکول واجبه فریضه ده او د رمضان د میاشتې روژې د خداے پاک د عذاب په وړاندې ډال دے. حج او عمره د فقر ختموونکې او د ګناهانو وینځونکې ده. صله رحم مال او عمر زیاتوي او پټې صدقې ګناهونه توږي، ښکاره صدقه ناځاپه او بد مرګ غړوي او نیکي انسان له ذلت او خوارۍ ساتي. خداے یاد ساتئ چې دا تر ټولو ښه ذکر دے او د هغهٔ څه ارمان وکړئ چې پرهېزګارو ته یې وعده ورکړې شوې ده ځکه چې د خداے پاک وعده تر ټولو رښتیني وعده ده د پېغمبرانوؑ له لارې او رودې څخه پېروي وکړئ ځکه چې د هدایت تر ټولو ښهٔ لارښود دي، خپل عمل د پېغمبراکرمﷺ له سیرت سره یو شان کړئ چې تر ټولو سیرتونو ښهٔ هدایتوونکے دے.

### د قرآن شریف ارزښت

قرآن شریف زده کړئ چې دا تر ټولو ښه وینا ده او ښهٔ فکر پکښې وکړئ چې دا د زړونو سپرلے دے، له رڼا یې شفا وغواړئ چې د ناجوړو زړونو شفا ده. او قرآن شریف په ښکلي غږ او ښې طریقې سره تلاوتوئ چې دا تر ټولوګټوره قصه ده.کوم عالم چې بې له خپل علمه په بل څه عمل وکړي د هغه لالهانده جاهل په شان دے چې له خپلې ناپوهۍ یې رغېدل نشته، بلکه په هغهٔ باندې به د خداے پاک حجت زیات پیاوړے او غم او افسوس به یې زیات او د خداے په نزد د غندنې زیات وړ وي.

## [ ۱۱۱ ]

### في ذَمِّ الدُّنْيَا

أَمَّا بَعْدُ فَإِنِّي أُحَذِّرُكُمُ الدُّنْيَا، فَإِنَّهَا حُلْوَةٌ خَضِرَةٌ، حُفَّتْ بِالشَّهَوَاتِ، وَتَحَبَّبَتْ بِالْعَاجِلَةِ، وَرَاقَتْ بِالْقَلِيلِ، وَتَحَلَّتْ بِالأمَالِ، وَتَزَيَّنَتْ بِالْغُرُورِ، لاَ تَدُومُ حَبْرَتُهَا، وَلاَ تُؤْمَنُ فَجْعَتُهَا، غَرَّارَةٌ ضَرَّارَةٌ، حَائِلَةٌ زَائِلَةٌ، نَافِدَةٌ بَائِدَةٌ، أَكَّالَةٌ غَوَّالَةٌ، لاَ تَعْدُو ـ إِذَا تَنَاهَتْ إِلَى أُمْنِيَّةِ أَهْلِ الرَّغْبَةِ فِيهَا وَالرِّضَى بِهَا ـ أَنْ تَكُونَ كَمَا قَالَ اللهُ سُبْحَانَهُ وَتَعَالى: ﴿كَمَاءٍ أَنْزَلْنَاهُ مِنَ السَّمَاءِ فَاخْتَلَطَ بِهِ نَبَاتُ الأرْضِ فَأَصْبَحَ هَشِيماً تَذْرُوهُ الرِّيَاحُ وَكَانَ اللهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ مُقْتَدِراً﴾. لَمْ يَكُنِ امْرُؤٌ مِنْهَا فِي حَبْرَةٍ إِلاَّ أَعْقَبَتْهُ بَعْدَهَا عَبْرَةً، وَلَمْ يَلْقَ مِنْ سَرَّائِهَا بَطْناً إِلاَّ مَنَحَتْهُ مِنْ ضَرَّائِهَا ظَهْراً، وَلَمْ تَطُلَّهُ فِيهَا دِيمَةُ رَخَاءٍ إِلاَّ هَتَنَتْ عَلَيْهِ مُزْنَةُ بَلاَءٍ! وَحَرِيٌّ إِذَا أَصْبَحَتْ لَهُ مُنْتَصِرَةً أَنْ تُمْسِيَ لَهُ مُتَنَكِّرَةً، وَإِنْ جَانِبٌ مِنْهَا اعْذَوْذَبَ وَاحْلَوْلَى، أَمَرَّ مِنْهَا جَانِبٌ فَأَوْبَى! لاَ يَنَالُ امْرُؤٌ مِنْ غَضَارَتِهَا رَغَباً، إِلاَّ أَرْهَقَتْهُ مِنْ نَوَائِبِهَا تَعَباً! وَلاَ يُمْسِي مِنْهَا فِي جَنَاحِ أَمْنٍ، إِلاَّ أَصْبَحَ عَلَى قَوَادِمِ خَوْفٍ! غَرَّارَةٌ، غُرُورٌ مَا فِيهَا، فَانِيَةٌ، فَانٍ مَنْ عَلَيْهَا، لاَ خَيْرَ فِي شَيْءٍ مِنْ أَزْوَادِهَا إِلاَّ التَّقْوَى. مَنْ أَقَلَّ مِنْهَا اسْتَكْثَرَ مِمَّا يُؤْمِنُهُ! وَمَنِ اسْتَكْثَرَ مِنْهَا اسْتَكْثَرَ مِمَّا يُوبِقُهُ، وَزَالَ عَمَّا قَلِيلٍ عَنْهُ. كَمْ مِنْ وَاثِقٍ بِهَا قَدْ فَجَعَتْهُ، وَذِي طُمَأْنِينَةٍ إِلَيْهَا قَدْ صَرَعَتْهُ، وَذِي أُبَّهَةٍ قَدْ جَعَلَتْهُ حَقِيراً، وَذِي نَخْوَةٍ قَدْ رَدَّتْهُ ذَلِيلاً! سُلْطَانُهَا دُوَّلٌ، وَعَيْشُهَا رَنِقٌ، وَعَذْبُهَا أُجَاجٌ، وَحُلْوُهَا صَبِرٌ، وَغِذَاؤُهَا سِمَامٌ، وَأَسْبَابُهَا رِمَامٌ! حَيُّهَا بِعَرَضِ مَوْتٍ، وَصَحِيحُهَا بِعَرَضِ سُقْمٍ! مُلْكُهَا مَسْلُوبٌ، وَعَزِيزُهَا مَغْلُوبٌ، وَمَوْفُورُهَا مَنْكُوبٌ، وَجَارُهَا مَحْرُوبٌ. أَلَسْتُمْ فِي مَسَاكِنِ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ أَطْوَلَ أَعْمَاراً، وَأَبْقَى آثَاراً، وَأَبْعَدَ آمَالاً، وَأَعَدَّ عَدِيداً، وَأَكْثَفَ جُنُوداً! تَعَبَّدُوا لِلدُّنْيَا أَيَّ تَعَبُّدٍ، وَآثَرُوهَا أَيَّ إِيْثَارٍ، ثُمَّ ظَعَنُوا عَنْهَا بِغَيْرِ زَادٍ مُبَلِّغٍ وَلاَ ظَهْرٍ قَاطِعٍ.

## ﴿ یو سل یو لسمه خطبه ﴾

### د دنیا له مینې خبردار اوسئ

اما بعد! زهٔ تاسو د دنیا له مینې ویروم ځکه چې دا په ظاهره خوږه او رنګارنګه ده خو په شهوتونو او خوندونوکښې پټه ده دنیا په تېرېدونکو نعمتونو سره دوستي کوي او په لږې ښکلا سره ځان ښئ، او ځان د ارمانونو په جامه او د غولولو په لباس کښې راځرګندوي، خوښي يې دوام نهٔ لري او له غمه يې څوک نهٔ دي خوندي.دنیا ډېره غولوُنکې او تاوان اړونکې، بدلېدونکې، فناکېدونکې، وژونکې او تباه کوُنکې ده. او کله چې د هیله مندو لاسته ورشي او د هغوي له ارمانونو سره مله شي نو وبه وینې چې دنیا خو تش یو سراب دے لکه خداے تعالی چې فرمايي: «ژوندخو د هغو اوبو په شان دے چې له آسمانه يې نازلې کړو او پرېمانه بوټي زرغون کړي بیا اوچ شي او باد يې خوارهٔ وارهٔ کړي، او خداے پاک په هرڅه باندې وسیال دے» دنیا چا ته خوشحالي ونهٔ ښودله مګر دا چې بیا يې په اوښکو او غمونو ونمانځې، لا د دنیا له خوښیو نهٔ وي خړوب شوے چې په غمونو يې اخته شي، لا په چا د دنیا د هوساينې اوخوشحالۍ پرښه نه وي پرېوتې چې د بلاګانو سېلاب ترې هرڅه تم کړي. سحر لا له چا سره ملګرې شوې نهٔ وي چې ماښام ترې ځان ناپېژاندې کړي. که له يوې خوا خوږه او مزیداره ده له بلې خوا ترخه او بدخونده. هیچا د دنیا له پرېمانه لورینو خوند وانهٔ خيست مګر دا چې سختیو يې لمنه راونیوه، یوه شپه يې د دنیا په لمنه کښې په قراره تېره نهٔ کړه مګر دا چې سبا يې د ستونځو او ربړو منګې په سر مات شول، دا دهوکه بازه ده او څه چې پکښې دي هغه هم غولوونکي دي،فاني دي، تېرېدونکي دي.او څوک چې پکښې اوسېږي فنا کېږي. د هغې په توښه کښې صرف په تقوا کښې خیر دے، څوک چې ترې په خپله اندازه یوسي په امن به وي او څوک چې د دنیا نه ډېره ډېره غواړي د ځان تباهي غواړي، او ډېر زر به يې له لاسه اوځي. ډېرو په دنیا باور وکړ خو ناڅاپه يې په مصیبتونو اخته کړل او ډېر پرې ډاډه شول خو وې وژل، د دنیا حکومت، ژوند يې تور تم، خوارهٔ يې تراوهٔ او شيرين يې تراخهٔ دي. خوارهٔ يې زهر، او مال اسباب يې وراستهٔ، ژوندي يې مړهٔ کېدونکي، روغ يې ناجوړه کېدونکي،حکومت يې تباه،خپلوان يې مات، متاع يې سپيره، او دې ته پناه وړونکي شوکېدونکي دي. ولې تاسو نن د خپلو تېرو کسانو په ځاے نهٔ يئ ناست چې عمرونه يې تر تاسو اوږدهٔ، نښې يې تر تاسو پخې، هيلې يې تر تاسو زياتې، وګړي يې تر تاسو ډېر، او لښکرې يې بې شمېره وې؟ دنيا يې بنه وپاللا او تر هر څه يې مخکې کړه خو بيا يې ترې کډه وکړه او لاړل، په داسې حال کښې چې نهٔ يې د منزل لپاره لازمه توښه اخيستې وه او نهٔ يې سورلې چې مقصد ته يې اورسوي، آيا تاسو چرته اورېدلي دي چې دنيا ځان په هغوي قربان کړے وي؟ يا يې ورسره مرسته کړې وي يا يې ورسره نيکي کړې وي؟ نه،

فَهَلْ بَلَغَكُمْ أَنَّ الدُّنْيَا سَخَتْ لَهُمْ نَفْساً بِفِدْيَةٍ؟ أَوْ أَعَانَتْهُمْ بِمَعُونَةٍ؟ أَوْ أَحْسَنَتْ لَهُمْ صُحْبَةً؟ بَلْ أَرْهَقَتْهُمْ بِالْفَوَادِحِ، وَأَوْهَنَتْهُمْ بِالْقَوَارِعِ، وَضَعْضَعَتْهُمْ بِالنَّوَائِبِ، وَعَفَّرَتْهُمْ لِلْمَنَاخِرِ، وَوَطِئَتْهُمْ بِالْمَنَاسِمِ، وَأَعَانَتْ عَلَيْهِمْ رَيْبَ الْمَنُونِ، فَقَدْ رَأَيْتُمْ تَنَكُّرَهَا لِمَنْ دَانَ لَهَا، وَآثَرَهَا وَأَخْلَدَ إِلَيْهَا، حِينَ ظَعَنُوا عَنْهَا لِفِرَاقِ الأَبَدِ. هَلْ زَوَّدَتْهُمْ إِلاَّ السَّغَبَ؟ أَوْ أَحَلَّتْهُمْ إِلاَّ الضَّنْكَ؟ أَوْ نَوَّرَتْ لَهُمْ إِلاَّ الظُّلْمَةَ؟ أَوْ أَعْقَبَتْهُمْ إِلاَّ النَّدَامَةَ؟أَفَهذِهِ تُؤْثِرُونَ؟ أَمْ إِلَيْهَا تَطْمَئِنُّونَ؟ أَمْ عَلَيْهَا تَحْرِصُونَ؟ فَبِئْسَتِ الدَّارُ لِمَنْ لَمْ يَتَّهِمْهَا، وَلَمْ يَكُنْ فِيهَا عَلَى وَجَلٍ مِنْهَا! فَاعْلَمُوا ـ وَأَنْتُمْ تَعْلَمُونَ ـ بِأَنَّكُمْ تَارِكُوهَا وَظَاعِنُونَ عَنْهَا، وَاتَّعِظُوا فِيهَا بِالَّذِينَ قَالُوا مَنْ أَشَدُّ مِنَّا قُوَّةً: حُمِلُوا إِلَى قُبُورِهِمْ فَلاَ يُدْعَوْنَ رُكْبَاناً، وَأُنْزِلُوا [الاَجْدَاثَ] فَلاَ يُدْعَوْنَ ضِيفَاناً، وَجُعِلَ لَهُمْ مِنَ الصَّفِيحِ أَجْنَانٌ، وَمِنَ التُّرَابِ أَكْفَانٌ، وَمِنَ الرُّفَاتِ جِيرَانٌ، فَهُمْ جِيرَةٌ لاَ يُجِيبُونَ دَاعِياً، وَلاَ يَمْنَعُونَ ضَيْماً، وَلاَ يُبَالُونَ مَنْدَبَةً، إِنْ جِيدُوا لَمْ يَفْرَحُوا، وَإِنْ قُحِطُوا لَمْ يَقْنَطُوا، جَمِيعٌ وَهُمْ آحَادٌ، وَجِيرَةٌ وَهُمْ أَبْعَادٌ، مُتَدَانُونَ لاَ يَتَزَاوَرُونَ، وَقَرِيبُونَ لاَ يَتَقَارَبُونَ، حُلَمَاءُ قَدْ ذَهَبَتْ أَضْغَانُهُمْ، وَجُهَلاَءُ قَدْ مَاتَتْ أَحْقَادُهُمْ لاَ يُخْشَى فَجْعُهُمْ وَلاَ يُرْجَى دَفْعُهُمْ، اسْتَبْدَلُوا بِظَهْرِ الاَرْضِ بَطْناً، وَبِالسَّعَةِ ضِيقاً، وَبِالاَهْلِ غُرْبَةً، وَبِالنُّورِ ظُلْمَةً، فَجَاؤُوهَا كَمَا فَارَقُوهَا، حُفَاةً عُرَاةً، قَدْ ظَعَنُوا عَنْهَا بِأَعْمَالِهِمْ إِلَى الْحَيَاةِ الْدَّائِمَةِ وَالدَّارِ الْبَاقِيَةِ، كَمَا قَالَ اللهُ سُبْحَانَهُ: ﴿كَمَا بَدَأْنَا أَوَّلَ خَلْقٍ نُعِيدُهُ وَعْداً عَلَيْنَا إِنَّا كُنَّا فَاعِلِينَ﴾.

[ ۱۱۲ ]

وَمِنْ خُطْبَةٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ ذَكَرَ فِيهَا مَلَكَ الْمَوْتِ وَتَوْفِيَةَ الأَنْفُسِ

هَلْ تُحِسُّ بِهِ إِذَا دَخَلَ مَنْزِلاً؟ أَمْ هَلْ تَرَاهُ إِذَا تَوَفَّى أَحَداً؟ بَلْ كَيْفَ يَتَوَفَّى الْجَنِينَ فِي بَطْنِ أُمِّهِ؟! أَيَلِجُ عَلَيْهِ مِنْ بَعْضِ جَوَارِحِهَا؟ أَمِ الرُّوحُ أَجَابَتْهُ بِإِذْنِ رَبِّهَا؟ أَمْ هُوَ

هیڅکله نه!! بلکه د دنیا سختیو داسې راونیول چې پوستکي ترې یې اوبستل او هډونه یې ورمات کړل، په سختیو باندې یې وځپل او په مصیبتونو باندې یې سپک او ذلیل کړل. پوزې یې په ځمکه وروموښلې، چخنې یې کړل او د زمانې پېښې یې د هغوي په خلاف وپارولې. تاسو ولیدل چې دنیا هغه کس چې ورته یې سر ټیټ کړے ؤ دنیا یې خوښه کړې وه، په هرڅه یې مخکې کړې وه تهٔ به وائې چې همیشه به پاتې وي، وې نهٔ پېژندهٔ او ځان یې پرې نانګاره کړ او آیا هغوي ته یې بې له لوږې بله توښه ورکړه؟ او بې د قبر له تنګۍ یې بله تحفه ورکړه؟ او آیا د دنیا رڼا تیارهٔ او انجام یې پښېماني نهٔ وه؟

نو تاسو داسې دنیا پسې نښتي یئ او په داسې دنیا ډاډه یئ؟ او ارمان یې کوئ؟ دنیا خو د هغه چا لپاره چې ورته خوشبینه وي او له خطرو یې ونه ویرېږي ډېر بدکور دے نو پوه شئ، او پوهېږئ چې هغه به درنه پاتې کېږي اوکډه به ترې باروئ! نوعبرت واخلئ له هغو کسانو چې ویل به یې «څوک تر مونږ مضبوط دي؟» او بیا یې همدغه کسان ګورونو ته وسپارل او هن چې سورلي یې هم نصیب نهٔ شوه او قبرونو ته ورکوز کړې شول داسې چې چا ورته مېلمه هم ونهٔ وې، له کاڼو یې قبرونه ورجوړ کړل او له خاورو یې کفنونه. وراستهٔ هډونه یې ګاونډیان شول، هغه هډونه چې هیڅ بلونکي ته ځواب نهٔ ورکوي او د هیڅ زیاتي مخه نهٔ شې نیولې. او نهٔ د چا وېرونو ته غوږ ږدي. دوي نهٔ په باران خوشحالېږي او نهٔ په وچکالۍ خفه کېږي، سره راغونډ دي خو یوائې دي، د یو بل ګاونډیان دي خو له یو بله لرې دي. یو بل ته نزدې دي خو ملاوېږي نه. له یو بل سره جوخت دي خو له یو بله جدا دي. دوي نو اوس داسې خاضعه شوې دي چې کینې یې له فکرونو وتلې او داسې بې خبره دي چې حسد یې په زړونو کښې مړ شوے دے. نهٔ له دوي څخه د کومې خطرې اندېښنه شته او نهٔ ترې د دفاع هیله کېدې شي. د ځمکې د مخ په ځاے یې د ځمکې خېټه او د پراخو کورنو په ځاے یې تنګې کوټې خوښې کړې دي. له خپلوانو سره د ژوند په ځاے یې مسافري او غربت او د رڼا په ځاے یې تیارهٔ او ظلمت غوره کړے دے او د ځمکې خېټې ته هماغسې لاړل څنګه چې ترې راغلي وو، پښې ابلې او لغړ، یوائې له خپلو عملونو سره تل پاتې ژوند ته روان شول او همیشني کور ته وکوچېدل هغه شان چې لوے خداے فرمائي: «لکه څرنګه مو چې مخکې پېدا کړ همداسې به یې ستون کړو، زمونږ وعده حقه ده او په هر حال دا کار به کوو»

## ﴿ یو سل دولسمه خطبه ﴾

(په دې خطبه کښې یې د ملک الموت، او د ارواګانو (روحونو) د اخېستلو حالت ذکر کړے دے)

### د ملائېکو له درک کولو د انسان بې وسي

کله چې (د مرګ فرښته) کور ته درځي تهٔ ترې خبرېږې؟ آیا کله چې له یوهٔ کسه روح اخلي ته یې وینې؟ هغه بچے څنګه د مور په خېټه کښې مړکوي؟ آیا د مور له غړیو ورننوځي او که نه روح د خداے په اذن د هغهٔ

سَاكِنٌ مَعَهُ فِي أَحْشَائِهَا؟ كَيْفَ يَصِفُ إِلهَهُ مَنْ يَعْجَزُ عَنْ صِفَةِ مَخْلُوق مِثْلِهِ؟!

[ ١١٣ ]

فِي ذَمِّ الدُّنْيَا

وَأُحَذِّرُكُمُ الدُّنْيَا، فَإِنَّهَا مَنْزِلُ قُلْعَة، وَلَيْسَتْ بِدَارِ نُجْعَة، قَدْ تَزَيَّنَتْ بِغُرُورِهَا، وَغَرَّتْ بِزِينَتِهَا، دَارُهَا هَانَتْ عَلَى رَبِّهَا، فَخَلَطَ حَلاَلَهَا بِحَرَامِهَا، وَخَيْرَهَا بِشَرِّهَا، وَحَيَاتَهَا بِمَوْتِهَا، وَحُلْوَهَا بِمُرِّهَا، لَمْ يُصْفِهَا اللهُ لأَوْلِيَائِهِ، وَلَمْ يَضِنَّ بِهَا عَلَى أَعْدَائِهِ، خَيْرُهَا زَهِيدٌ، وَشَرُّهَا عَتِيدٌ، وَجَمْعُهَا يَنْفَدُ، وَمُلْكُهَا يُسْلَبُ، وَعَامِرُهَا يَخْرَبُ. فَمَا خَيْرُ دَار تُنْقَضُ نَقْضَ الْبِنَاءِ، وَعُمُر يَفْنَى فَنَاءَ الزَّادِ، وَمُدَّة تَنْقَطِعُ انْقِطَاعَ السَّيْرِ! فَاجْعَلُوا مَا افْتَرَضَ اللهُ عَلَيْكُمْ مِنْ طَلَبِكُمْ، وَاسْأَلُوهُ مِنْ أَدَاءِ حَقِّهِ مَا سَأَلَكُمْ، وَأَسْمِعُوا دَعْوَةَ الْمَوْتِ آذَانَكُمْ قَبْلَ أَنْ يُدْعَى بِكُمْ. إِنَّ الزَّاهِدِينَ فِي الدُّنْيَا تَبْكِي قُلُوبُهُمْ وَإِنْ ضَحِكُوا، وَيَشْتَدُّ حُزْنُهُمْ وَإِنْ فَرِحُوا، وَيَكْثُرُ مَقْتُهُمْ أَنْفُسَهُمْ وَإِنِ اغْتَبَطُوا بِمَا رُزِقُوا. قَدْ غَابَ عَنْ قُلُوبِكُمْ ذِكْرُ الآجَالِ، وَحَضَرَتْكُمْ كَوَاذِبُ الآمَالِ، فَصَارَتِ الدُّنْيَا أَمْلَكَ بِكُمْ مِنَ الآخِرَةِ، وَالْعَاجِلَةُ أَذْهَبَ بِكُمْ مِنَ الآجِلَةِ، وَإِنَّمَا أَنْتُمْ إِخْوَانٌ عَلَى دِينِ اللهِ، مَا فَرَّقَ بَيْنَكُمْ إِلاَّ خُبْثُ السَّرَائِرِ، وَسُوءُ الضَّمَائِرِ، فَلاَ تَوَازَرُونَ، وَلاَ تَنَاصَحُونَ، وَلاَ تَبَاذَلُونَ، وَلاَ تَوَادُّونَ. مَا بَالُكُمْ تَفْرَحُونَ بِالْيَسِيرِ مِنَ الدُّنْيَا تُدْرِكُونَهُ وَلاَ يَحْزُنُكُمُ الْكَثِيرُ مِنَ الآخِرَةِ تُحْرَمُونَهُ! وَيُقْلِقُكُمُ الْيَسِيرُ مِنَ الدُّنْيَا يَفُوتُكُمْ، حَتَّى يَتَبَيَّنَ ذلِكَ فِي وُجُوهِكُمْ، وَقِلَّةِ صَبْرِكُمْ عَمَّا زُوِيَ مِنْهَا عَنْكُمْ! كَأَنَّهَا دَارُ مُقَامِكُمْ، وَكَأَنَّ مَتَاعَهَا بَاق عَلَيْكُمْ. وَمَا يَمْنَعُ أَحَدَكُمْ أَنْ يَسْتَقْبِلَ أَخَاهُ بِمَا يَخَافُ مِنْ عَيْبِهِ، إِلاَّ مَخَافَةُ أَنْ يَسْتَقْبِلَهُ بِمِثْلِهِ، قَدْ تَصَافَيْتُمْ عَلَى رَفْضِ الآجِلِ وَحُبِّ الْعَاجِلِ، وَصَارَ دِينُ أَحَدِكُمْ لُعْقَةً عَلَى لِسَانِهِ، صَنِيعَ مَنْ قَدْ فَرَغَ مِنْ عَمَلِهِ، وَأَحْرَزَ رِضَى سَيِّدِهِ.

غږ ته لبیک وائي؟ یا هغه له بچي سره د مور په خېټه کښې اوسېږي؟ نو فکر وکړه څوک چې د ځان په شان د یو مخلوق په کمالاتو نهٔ شي پوهېدلے هغه به د خپل خدا ے په اوصافو څه پوه شي؟

## ﴿یو سل دیارلسمه خطبه﴾

### د دنیا غندنه

تاسو ته له دنیا پرستۍ څخه خبردارے درکوم ځکه چې دا د کوچ ځاے دے نهٔ د تل پاتې کېدو. دنیا په خپلې دهوکې ښکلې کړې شوې ده او په خپل سینګار غولول کوي. داسې کور دے چې د خداے په نزد هیڅ ارزښت نهٔ لري ځکه چې حلال یې له حرامو او ښهٔ یې له بدو سره ګډ شوې دي. ژوند یې له مرګ او خواږهٔ یې له ترخو سره اخښل شوي دي، خداے تعالی خپلو دوستانو ته نهٔ ده خوښه کړې او دښمنانو ته په ورکړې کښې یې شوموتوب نهٔ دے کړے، د دنیا خېر لږ او شر یې زیات دے، د دې راغونډ کړې شوي له لاسه تلونکي او شتهٔ یې لوټېدونکي، او آبادي یې ورانېدونکې ده. نوڅه ارزښت لري هغه کور چې ستنې یې شړېدونکي او عمر یې د توښې په شان ختمېدونکے دے؟ او د هغه ژوند به څه خوند وي چې د سفر وخت یې آخر ته رسېږي. اے خلقو!څه چې خداے پاک واجب او فرض کړي دي هغه په خپلو غوښتنو کښې شامل وګڼئ او د الهي حقوقو په ورکړه کښې له هغهٔ مرسته وغواړئ او مخکې له دې چې مرګ مو وبلي بلنه یې په غوږونو واورئ. په دنیا کښې د زاهدانو ښنه دا ده چې که څه هم په خولې خاندي خو زړهٔ یې ژاړي اوکه څه هم خوشحال وي خو غم یې لوے وي او که څه هم د پرېمانه نعمتونو په وجه پرې نور رشک کوي خو دوي له خپل نفس سره سخته دښمني کوي. ستاسو له زړونو د مرګ یاد کډه کړې او ځاے یې غولؤنکو هیلو نیولے دے. دنیا تر آخرته زیاته په تاسو واکمنه شوې او دنیا پرستۍ درنه قیامت هېر کړے دے. پوه شئ چې تاسو د یو بل دیني ورونه یئ؛ د باطن پلیتۍ او د ضمیر خرابۍ له یوه بله جدا کړي یئ. نهٔ له نورو سره مرسته کوئ، نهٔ د یو بل خېرخواه یئ، نهٔ یو بل ته څه ورکوئ او نهٔ سره ملګرتیا کوئ. نو په تاسوڅه شوي دي چې معمولي شان دنیا وموئ نوخوشحالېږئ او که د آخرت لویه توښه وبایلئ غمجنېږئ نه! خود دنیا یو وړوکے شان څیز موکه له لاسه اوځي پرېشانه کېږئ او بې تابي کوئ. ته به وائې دا دنیا ستاسو د تل پاتې کېدو ځاے او سامان یې همېشه ستاسو لپاره دے. ستاسوحال دا دے چې د خپل دیني ورور له غیبته مو هیڅ څه نهٔ منعې کوي مګر دا چې وېرېږئ چې له تاسو سره هم دغه ډول سلوک وکړي. د آخرت په بې پروایئ او د دنیا په دوستۍ کښې مو سره غوړونه یوکړي دي او هر یوهٔ مو یواځې په خولې د دین خبره کوئ او په دغه کار خوشحاله یئ ته به وائې هر یوهٔ مو خپل کار ختم کړے او څښتن مو خوشحاله کړے دے.

## [ ۱۱٤ ]

### مَوَاعِظُ لِلنَّاس

الْحَمْدُ للهِ الْوَاصِلِ الْحَمْدَ بِالنِّعَمِ وَالنِّعَمَ بِالشُّكْرِ، نَحْمَدُهُ عَلَى آلاَئِهِ كَمَا نَحْمَدُهُ عَلَى بَلاَئِهِ، وَنَسْتَعِينُهُ عَلَى هذِهِ النُّفُوسِ الْبِطَاءِ عَمَّا أُمِرَتْ بِهِ، السِّرَاعِ إِلَى مَا نُهِيَتْ عَنْهُ، وَنَسْتَغْفِرُهُ مِمَّا أَحَاطَ بِهِ عِلْمُهُ، وَأَحْصَاهُ كِتَابُهُ: عِلْمٌ غَيْرُ قَاصِرٍ، وَكِتَابٌ غَيْرُ مُغَادِرٍ، وَنُؤْمِنُ بِهِ إِيمَانَ مَنْ عَايَنَ الْغُيُوبَ، وَوَقَفَ عَلَى الْمَوْعُودِ، إِيمَاناً نَفَى إِخْلاَصُهُ الشِّرْكَ، وَيَقِينُهُ الشَّكَّ، وَنَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلهَ إِلاَّ اللهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّداً عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، شَهَادَتَيْنِ تُصْعِدَانِ الْقَوْلَ، وَتَرْفَعَانِ الْعَمَلَ، لاَيَخِفُّ مِيزَانٌ تُوضَعَانِ فِيهِ، وَلاَ يَثْقُلُ مِيزَانٌ تُرْفَعَانِ مِنْهُ. أُوصِيكُمْ، عِبَادَ اللهِ، بِتَقْوَى اللهِ الَّتِي هِيَ الزَّادُ وَبِهَا الْمَعَاذُ: زَادٌ مُبْلِغٌ وَمَعَاذٌ مُنْجِحٌ، دَعَا إِلَيْهَا أَسْمَعُ دَاعٍ، وَوَعَاهَا خَيْرُ وَاعٍ، فَأَسْمَعَ دَاعِيهَا، وَفَازَ وَاعِيهَا. عِبَادَ اللهِ، إِنَّ تَقْوَى اللهِ حَمَتْ أَوْلِيَاءَ اللهِ مَحَارِمَهُ، وَأَلْزَمَتْ قُلُوبَهُمْ مَخَافَتَهُ، حَتَّى أَسْهَرَتْ لَيَالِيَهُمْ، وَأَظْمَأَتْ هَوَاجِرَهُمْ؛ فَأَخَذُوا الرَّاحَةَ بِالنَّصَبِ، وَالرِّيَّ بِالظَّمَإِ، وَاسْتَقْرَبُوا الاَجَلَ فَبَادَرُوا الْعَمَلَ، وَكَذَّبُوا الاَمَلَ فَلاَحَظُوا الاَجَلَ. ثُمَّ إِنَّ الدُّنْيَا دَارُ فَنَاءٍ، وَعَنَاءٍ، وَغِيَرٍ، وَعِبَرٍ: فَمِنَ الْفَنَاءِ أَنَّ الدَّهْرَ مُوتِرٌ قَوْسَهُ، لاَتُخْطِىءُ سِهَامُهُ، وَلاَ تُؤْسَى جِرَاحُهُ، يَرْمِي الْحَيَّ بِالْمَوْتِ، وَالصَّحِيحَ بِالسَّقَمِ، وَالنَّاجِيَ بِالْعَطَبِ، آكِلٌ لاَ يَشْبَعُ، وَشَارِبٌ لاَ يَنْقَعُ. وَمِنَ الْعَنَاءِ أَنَّ الْمَرْءَ يَجْمَعُ مَا لاَ يَأْكُلُ، وَيَبْنِي مَا لاَ يَسْكُنُ، ثُمَّ يَخْرُجُ إِلَى اللهِ، لاَ مَالاً حَمَلَ، وَلاَ بِنَاءً نَقَلَ! وَمِنْ غِيَرِهَا أَنَّكَ تَرَى الْمَرْحُومَ مَغْبُوطاً، وَالْمَغْبُوطَ مَرْحُوماً، لَيْسَ ذلِكَ إِلاَّ نَعِيماً زَلَّ، وَبُؤْساً نَزَلَ. وَمِنْ عِبَرِهَا أَنَّ الْمَرْءَ يُشْرِفُ عَلَى أَمَلِهِ فَيَقْتَطِعُهُ حُضُورُ أَجَلِهِ،

## ﴿یو سل څوارلسمه خطبه﴾

(په دې خطبه کښې يې خلقوته نصيحت کړے دے)

### د خداے پاک حمد او د توحيد ګواهي

ستائنه له هغه پالونکي سره ښائي چې حمد او ستائنه يې له لورينو او نعمتونو او لوريني او نعمتونه يې له منني سره يوځاے کړي دي. د هغهٔ په بلاګانو او مصيبتونو هماغه شان شکر کوو څنګه يې چې په پېرزوينو کوو. او د سرکښنه نفس د پېزواني کولو لپاره چې د الهي اوامرو سرته رسولو ته مو سستوي او د منع کړيو کارونو کولو ته مو ګړندوي له خدايه مرسته غواړوو. او له هغو ګناهونو چې د خداے په علم کښې دي او په کتاب کښې يې په ګوته کړي او ليکلي دي له هغه بخښنه غواړوو. هغه علم چې هيڅ نيمګړتيا نهٔ لري او هغه کتاب چې هيڅ څه تري نهٔ دي پاتې. په خداے پاک باندې ايمان لروو د هغه کس ايمان چې غيب يې په خپلو سترګو ليدلي وي او د خداے له وعدې خبر وي. داسې ايمان چې اخلاص يې شرک وتوړي او يقين يې شک ختم کړي. او ګواهي ورکوو چې بې له هغهٔ بل خداے نشته، يو او واحد دے، شريک نهٔ لري او نهٔ يې سيال شته دے. او ګواهي ورکوو چې محمد ﷺ د خداے بنده او استازے دے. «سلام دې وي په هغهٔ او د هغهٔ په آل باندې» دا دوه شهادتونه زمونږ وينا پورته اوړي او زمونږ عمل د خداے پاک در ته رسوي.په کومه تله کښې چې دا دوه ګواهۍ وي سپکه نهٔ شي کېدې او که دا ترې واخلې په بل څه نهٔ شي درنېدې. اے د خداے بندګانو! تاسو د خداے پاک تقوا ته بلم چې د قيامت د سفر توښه ده. تقوا داسې توښه ده چې انسان منزل ته رسوي او داسې پناه ده چې انسان امنوي. تر ټولو ښهٔ وياند هغه د ولس غوږونو ته ورسوله او تر ټولو ښهٔ اورېدونکي هغه واورېده. نو رسوونکي ښه ورسوله او اورېدونکو ښه واورېده. او وژغورل شول. اے د خداے بندګانو! پوه شئ چې تقوا د خداے پاک دوستان له حرامو چارو منعې کوي او زړونه يې د خداے په ويره خړوبوي تردې چې شپې يې په بې خوبۍ او ورځې يې د تندې په زغملو او د روژې په نيولو تېرېږي شي.دوي هغه کسان دي چې د آخرت هوساينه يې د دنيا په کړاوونو او د هغه ځاے خړوبونه يې د دنيا د تندې په زغملو لاسته راوړه. اجل ورته نژدې ښکاره شواو په نېکو چارو يې بېړه وکړه. د دنيا ارمانونه او ارزوګانې يې دورغ وګڼلې او مرګ يې په پرانېستو سترګو وليدهٔ. هو، دنيا د فنا، تکليف، بدلون او عبرت ځاے دے. د دې د تباهۍ نښې دا دي چې زمانې هر وخت لېنده سپره کړې وي او غشي يې خطا نهٔ ځي. زخم يې ښهٔ کېدل نهٔ لري، ژوندي د مرګ په غشي ولي، روغ په بيمارۍ راپرځوي او بچکېدونکي په تباهۍ. د دنيا خوړونکي مړېږي نه او د څښونکي تنده يې ماتېږي نه، د دنيا د کړاو او زحمت لپاره همدومره بس ده چې انسان هغه څه جمع کوي چې په خپله يې نهٔ خوري او هغه کور جوړوي چې په خپله پکې نهٔ اوسېږي. نو د خپل رب په لور جاروزي په داسې حال کښې چې نهٔ يې له ځان سره مال وړے وي او نهٔ کور،.د دنيا د بدلېدو حال خو دا دے چې څوک تر پرونه د رشک قابل ؤ نن د رحم قابل دے او د دې سبب همدا دے چې نعمتونه

فَـلاَ أَمَـلٌ يُـدْرَكُ، وَلاَ مُؤَمَّـلٌ يُتْـرَكُ. فَسُبْحَانَ اللهِ، مَـا أَعَـزَّ سُـرُورَهَا! وَأَظْمَـأَ رِيَّهَـا! وَأَضْحَى فَيْئَهَـا! لاَ جَـاءٍ يُـرَدُّ، وَلاَ مَـاضٍ يَرْتَـدُّ. فَسُبْحَانَ اللهِ، مَـا أَقْـرَبَ الْحَـيَّ مِـنَ الْمَيِّـتِ لِلَحَاقِهِ بِهِ، وَأَبْعَدَ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ لاِنْقِطَاعِهِ عَنْهُ! إِنَّهُ لَـيْسَ شَـيْءٌ بِشَـرٍّ مِـنَ الشَّـرِّ إِلاَّ عِقَابُـهُ، وَلَـيْسَ شَـيْءٌ بِخَيْـرٍ مِـنَ الْخَيْرِ إِلاَّ ثَوَابُهُ، وَكُـلُّ شَـيْءٍ مِـنَ الـدُّنْيَا سَـمَاعُهُ أَعْظَـمُ مِـنْ عِيَانِهِ، وَكُـلُّ شَـيْءٍ مِـنَ الاْخِـرَةِ عِيَانُـهُ أَعْظَـمُ مِـنْ سَـمَاعِهِ، فَلْيَكْفِكُمْ مِنَ الْعِيَـانِ السَّـمَاعُ، وَمِـنَ الْغَيْـبِ الْخَبَـرُ. وَاعْلَمُـوا أَنَّ مَا نَقَصَ مِنَ الـدُّنْيَا وَزَادَ فِيالاْخِرَةِ خَيْـرٌ مِمَّـا نَقَـصَ مِـنَ الاْخِـرَةِ وَزَادَ فِـي الـدُّنْيَا: فَكَـمْ مِـنْ مَنْقُـوصٍ رَابِـحٍ وَمَزِيـدٍ خَاسِرٍ! إِنَّ الَّذِي أُمِرْتُمْ بِهِ أَوْسَعُ مِـنَ الَّـذِي نُهِيـتُمْ عَنْـهُ، وَمَـا أُحِلَّ لَكُمْ أَكْثَرُ مِمَّا حُـرِّمَ عَلَـيْكُمْ، فَـذَرُوا مَـا قَـلَّ لِمَـا كَثُـرَ، وَمَـا ضَـاقَ لِمَـا اتَّسَـعَ. قَـدْ تَكَفَّـلَ لَكُـمْ بِـالرِّزْقِ، وَأُمِـرْتُمْ بِالْعَمَلِ، فَلاَ يَكُـونَنَّ الْمَضْـمُونُ لَكُـمْ طَلَبُـهُ أَوْلَـى بِكُـمْ مِـنَ الْمَفْرُوضِ عَلَيْكُمْ عَمَلُهُ، مَـعَ أَنَّـهُ وَاللهِ لَقَـدِ اعْتَـرَضَ الشَّـكُّ، وَدَخِـلَ الْيَقِـينُ، حَتَّـى كَـأَنَّ الَّـذِي ضُـمِنَ لَكُـمْ قَـدْ فُـرِضَ عَلَيْكُمْ، وَكَـأَنَّ الَّـذِي قَـدْ فُـرِضَ عَلَـيْكُمْ قَـدْ وُضِـعَ عَـنْكُمْ. فَبَادِرُوا الْعَمَـلَ، وَخَـافُوا بَغْتَـةَ الاَجَـلِ، فَإِنَّـهُ لاَ يُرْجَـى مِـنْ رَجْعَةِ الْعُمُرِ مَا يُرْجَى مِنْ رَجْعَةِ الـرِّزْقِ، مَـا فَـاتَ الْيَـوْمَ مِـنَ الرِّزْقِ رُجِيَ غَـداً زِيَادَتُـهُ، وَمَـا فَـاتَ أَمْـسِ مِـنَ الْعُمُـرِ لَـمْ يُـرْجَ الْيَـوْمَ رَجْعَتُـهُ. الرَّجَـاءُ مَـعَ الْجَـائِي، وَالْيَـأْسُ مَـعَ الْمَاضِـي، فَـ ﴿اتَّقُـوا اللهَ حَـقَّ تُقَاتِـهِ وَلاَ تَمُـوتُنَّ إِلاَّ وَأَنْـتُمْ مُسْلِمُونَ﴾.

اوربېدونکي او مصيبتونه ناڅاپه راتلونکي دي.د دنيا نښې عبرتناکې دي او کله چې انسان له کار او زياره وروسته ايله خپلو ارمانونو ته په رسېدو وي چې ناڅاپه پرې مرګ منګولې ښخې کړي، هيله يې ورغوڅه کړي نو نهٔ يې کوم ارمان پوره شي او نهٔ ارمانجن پاتې شي. سبحان الله! د دنيا خوښي څومره غولوونکې او سېرابي يې څومره تږوونکې، او سيورے يې څومره سوزوونکے دے. نهٔ راتلونکي پېښه غړېدلې شي او نه تېر وخت جاروېستلے شي. نو پاک او سپېڅلے دے خداے تعالیٰ! ژوندي څومره مړيو ته نژدې دي چې وريوځاے شي او مړي څومره له ژوندو لرې دي چې ترې جدا شوي دي. هيڅ څه تر شره بد نهٔ دي مګر عذاب يې، او هيڅ څه تر خير او ښېګړې ښه نهٔ دي مګر ثواب يې،د دنيا د هرڅه اورېدل يې تر ليدلو لوے دي، او د آخرت د هر څه ليدل تر اورېدلو لوے دي. نو ستاسو لپاره اورېدل تر ليدلو بس دي. او د آخرت له پټو حقيقتونو خبرېدل هم کافي دي. خبر اوسئ! کله چې ستاسو له دنيا څه کم شي او په آخرت مو ورزيات شي دا تردې غوره ده چې ستاسو د آخرت اجر کم او دنيا مو زياته شي. ډېرې داسې کم حاصلونې شته چې ګټورې دي او ډېرې داسې زياتې حاصلونې شته چې زيانمنې دي. پوه شئ چې د څه امر درته شوے دے هغه تر هغوڅيزونو زيات او پراخ دي چې منع ترې شوې يئ،او هغه څه چې په تاسوحلال دي تر هغه څه زيات دي چې درباندې حرام دي. نو هغه څه چې کم دي د هغه څه لپاره چې زيات دي پرېږدئ. او تنګي د وسعت لپاره پرېږدئ.خداے ستاسو د رزق ضمانت کړے دے او تاسو يې کار او تلاش ته بللي يئ، نو داسې نهٔ شي چې د څه شي ضمانت يې کړے د هغهٔ طلب تر هغه څه زيات شي چې واجب کړے يې دے. سره له دې چې په خداے قسم ناپوهي، شک او يقين دومره سره ګډ وډ شوي دي چې تهٔ به وائې خداے پاک چې د کومې روزۍ ضمانت کړے دے هغه په تاسو واجبه شوې وي. او څه يې چې په تاسو باندې واجب کړي هغه يې درنه ساقط کړي وي. نو په نېکو چارو کښې ګړندي اوسئ. او له ناڅاپي مرګه اوبېرېږئ، ځکه چې کومه روزي له لاسه تللې وي د ستنېدو هيله يې شته خو تېر عمر بېرته نهٔ جاروځي، نن که مو د دنيا ګټه يو څه کمه شوې ده سبا يې لاسته راوړلې شئ خوکوم عمر چې مو پرون تېر شوے دے د ستنېدوهيله يې نشته. راتلونکي وخت ته هيله مند او له تېر وخته نهيلي او نااميده اوسئ.(له خدايه اوېرېږئ او له دې دنيا مه ځئ تر هغه وخته چې حقيقي مسلمانان شئ)

[ ۱۱۵ ]

في الاسْتِسْقَاء

اللَّهُـمَّ قَـدِ انْصَـاحَتْ جِبَالُنَـا، وَاغْبَـرَّتْ أَرْضُـنَا، وَهَامَـتْ دَوَابُّنَـا، وَتَحَيَّـرَتْ فِـي مَرَابِضِـهَا، وَعَجَّـتْ عَجِـيجَ الثَّكَـالَى عَلَـى أَوْلاَدِهَـا، وَمَلَّـتِ التَّـرَدُّدَ فِـي مَرَاتِعِهَـا، وَالْحَنِـينَ إِلَـى

﴿يو سل پينځلسمه خطبه﴾

(د باران د غوښتلو لپاره يې په کوفه کښې دا وېنا وکړه)

د باران د ورېدو (استسقا) لپاره دعا

اے خدايه! زمونږ غرونه له وچکالۍ نه چاودېدلي دي له ځمکو مو دوړې پورته کېږي او مالونه مو په غوجلو کښې لالهانده او سرګردانه دي.او د بورو ميندو په شان رمبارې وهي او څرځايونو او آبخورونو ته

مَوَارِدُهَا. اللَّهُمَّ فَارْحَمْ أَنِينَ الْآنَّةِ، وَحَنِينَ الْحَانَّةِ! اللَّهُمَّ فَارْحَمْ حَيْرَتَهَا فِي مَذَاهِبِهَا، وَأَنِينَهَا فِي مَوَالِجِهَا! اللَّهُمَّ خَرَجْنَا إِلَيْكَ حِينَ اعْتَكَرَتْ عَلَيْنَا حَدَابِيرُ السِّنِينَ، وَأَخْلَفَتْنَا مَخَايِلُ الْجُودِ؛ فَكُنْتَ الرَّجَاءَ لِلْمُبْتَئِسِ، وَالْبَلاَغَ لِلْمُلْتَمِسِ. نَدْعُوكَ حِينَ قَنِطَ الْأَنَامُ، وَمُنِعَ الْغَمَامُ، وَهَلَكَ السَّوَامُ، أَلاَّ تُؤَاخِذَنَا بِأَعْمَالِنَا، وَلاَ تَأْخُذَنَا بِذُنُوبِنَا، وَانْشُرْ عَلَيْنَا رَحْمَتَكَ بِالسَّحَابِ الْمُنْبَعِقِ، وَالرَّبِيعِ الْمُغْدِقِ، وَالنَّبَاتِ الْمُونِقِ، سَحّاً وَابِلاً تُحْيِي بِهِ مَا قَدْ مَاتَ، وَتَرُدُّ بِهِ مَا قَدْ فَاتَ. اللَّهُمَّ سُقْيَا مِنْكَ مُحْيِيَةً مُرْوِيَةً، تَامَّةً عَامَّةً، طَيِّبَةً مُبَارَكَةً، هَنِيئَةً مَرِيعَةً، زَاكِياً نَبْتُهَا، ثَامِراً فَرْعُهَا، نَاضِراً وَرَقُهَا، تُنْعِشُ بِهَا الضَّعِيفَ مِنْ عِبَادِكَ، وَتُحْيِي بِهَا الْمَيِّتَ مِنْ بِلاَدِكَ! اللَّهُمَّ سُقْيَا مِنْكَ تُعْشِبُ بِهَا نِجَادُنَا، وَتَجْرِي بِهَا وِهَادُنَا، وَيُخْصِبُ بِهَا جَنَابُنَا، وَتُقْبِلُ بِهَا ثِمَارُنَا، وَتَعِيشُ بِهَا مَوَاشِينَا، وَتَنْدَى بِهَا أَقَاصِينَا، وَتَسْتَعِينُ بِهَا ضَوَاحِينَا، مِنْ بَرَكَاتِكَ الْوَاسِعَةِ، وَعَطَايَاكَ الْجَزِيلَةِ، عَلَى بَرِيَّتِكَ الْمُرْمِلَةِ، وَوَحْشِكَ الْمُهْمَلَةِ. وَأَنْزِلْ عَلَيْنَا سَمَاءً مُخْضِلَةً، مِدْرَاراً هَاطِلَةً، يُدَافِعُ الْوَدْقُ مِنْهَا الْوَدْقَ، وَيَحْفِزُ الْقَطْرُ مِنْهَا الْقَطْرَ، غَيْرَ خُلَّبٍ بَرْقُهَا، وَلاَ جَهَامٍ عَارِضُهَا، وَلاَ قَزَعٍ رَبَابُهَا، وَلاَ شَفَّانٍ ذِهَابُهَا، حَتَّى يُخْصِبَ لِإِمْرَاعِهَا الْمُجْدِبُونَ، وَيَحْيَا بِبَرَكَتِهَا الْمُسْنِتُونَ، فَإِنَّكَ تُنْزِلُ الْغَيْثَ مِنْ بَعْدِ مَا قَنَطُوا، وَتَنْشُرُ رَحْمَتَكَ وَأَنْتَ الْوَلِيُّ الْحَمِيدُ.

په تشو تلو راتلو ستړې شوي دي. اے خدایه! زمونږ د ګډو په رمباړو او د اوښانو په برړېدو ورحمیږه. اے خدایه! په لارو کښې د هغوي په سرګردانۍ او په غوجلو کښې یې په فریادونو رحم وکړه.اے خدایه! په داسې حال کښې تا ته راوتلي یوو چې وچکالۍ پرله پسې ځپلي یوو او د رحمت د باران وریځو راشاکړې او نامهربانه تېرې شوې دي. اے خدایه! تهٔ د هر بېچاره هیله،او د هر غوښتونکي د ستونځو هواروونکے یې. اے پالونکیه تا رابلو په داسې حال کښې چې ټول نهیلي او ناامیده شوي دي او وریځې د رحمت باران په مونږ باندې نهٔ وربږي او څاروي مو مړهٔ کېږي. نو زمونږ په عملونو مونږ مه په عذابوه او په ګناهانو مو مه سزا کوه. په مونږ د خپل رحمت لمنه وغوړوې. له بارانه د ډکو وریځو ،له اوبو نه د ډک سپرلي د تاندو، تازهٔ او ښکلیو بوټو رحمت راباندې نازل کړې.په مونږ باندې داسې باران وورویې چې څاڅکي یې غټ وي، مړي ژوندي کړي او تللې سپرلي راستانهٔ کړي. اے خدایه! مونږ په داسې ورښت خړوب کاندې چې ژوند بخښونکے، سېرابوونکے،هر ځاے ته تلونکے،پاک، برکتي، ښهٔ او تاند وي، چې بوټي زرغون کړي او څانګې ډکې کړي او پاڼې یې تازه او شادابې وي. چې په دغه باران سره ناتوان بنده وسیال کړې،او مړهٔ ښارونه ژوندي کړې! اے خدایه!داسې باران راعطا کړې چې ډېر اوریږي چې غونډۍ ښېرازه کړي او په ژورو کښې اوبهیږي او زمونږ خواوشا پرېمانه نعمتونه نازل شي چې ورسره زمونږ میوې بسیاره، رمې موګڼې، او لرې پرتې سیمې مو هم برخورې شي او کلي مو هم خړوب شي. دا هرڅه ستا پراخ برکتونه او پرېمانه ښندنې دي چې زمونږ په بېوزلو ټاټوبو او وحشي ځناورو یې نازلوې. اے خدایه! داسې د غټو څاڅکو باران راوورویې چې سم لمدوونکے،او د بوټو سېرابوونکے وي،څاڅکي یې یو بل یوسي او دانې یې یو بل ماتې کړي. نه بې بارانه ګړځهار او برېښنا، او اوچې او خورې وړې وریځې او نهٔ د وړو څاڅکو او سړو بادونو باران. اے خدایه!داسې له اوبو ډک باران راولېږې چې په قحطي وهلو باندې سم ولوربږي او د وچکالۍ خاپونه رنګ کړي. بې شکه چې تهٔ داسې ذات یې چې په مخلوق باندې له نهیلتیا او نااميدۍ وروسته باران نازلوې او د خپل رحمت وزرې په ټولوباندې خوروې. او هم تهٔ د حمد او ثنا وړ او د مخلوقاتو مل یې.

(سید رضي وائي:«انصاحت جبالنا» یې غرونه له وچکالۍ چاودېدلي دي.او «انصاح الثوب» هغه وخت ویل کېږي چې جامې ورستې شي. «انصاح النبت او صاح او صوح» هغه وخت ویل کېږي چې بوټي وچ شي. دا ټول توري یوه معنا لري. او د «وهامت دوابنا» چې د «هیام» له مادې څخه دے د تندې معنا لري او «حدابیرالسنین» چې د حدبار جمع ده هغه اوښ ته وائي چې د ډېر تګ په وجه ناتوانه شوي وي. یعنې د کاختۍ (قحطۍ) کال یې د دغه ډول اوښ په شان بللے دے لکه ذوالرمه شاعر چې وایي: دا مانده او کمزورې اوښې دي چې له یوهٔ بله نه جدا کېږي مګر په غوجلو کښې یا دا چې په وچو شاړو ځایونو کښې وي. او د « ولا قزع ربابها» جمله یعنې د وریځو وړې وړې ټوټې. او « لا شفان اهابها» په اصل کې ذات شفان دے شفان یخې هوا ته وائي او ذهاب نرې باران ته وائي: او دلته د ذات لفظ حذف شوے دے.

## [ ۱۱٦ ]

وَمِنْ خُطْبَةٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ

## ﴿ یوسل شپاړسمه خطبه ﴾

(داخطبه د هجرت په اتهٔ دېرشم کال په کوفه کښې وروستي جنګ ته د

أَرْسَـلَهُ دَاعِيـاً إِلَـى الْحَـقِّ، وَشَـاهِداً عَلَـى الْخَلْـقِ، فَبَلَّـغَ رِسَالاَتِ رَبِّـهِ غَيْـرَ وَانٍ وَلاَ مُقَصِّرٍ وَجَاهَـدَ فِـي اللهِ أَعْـدَاءَهُ غَيْرَ وَاهِنٍ وَلاَ مُعَذِّرٍ، إِمَامُ مَنِ اتَّقَى، وَبَصَرُ مَنِ اهْتَدَى.

يَنْصَحُ أَصْحَابَهُ

وَلَوْ تَعْلَمُونَ مَا أَعْلَـمُ مِمَّـا طُـوِيَ عَـنْكُمْ غَيْبُـهُ، إِذاً لَخَـرَجْتُمْ إِلَـى الصُّـعُدَاتِ، تَبْكُـونَ عَلَـى أَعْمَـالِكُمْ، وَتَلْتَـدِمُونَ عَلَـى أَنْفُسِكُمْ، وَلَتَرَكْتُمْ أَمْـوَالَكُمْ لاَ حَـارِسَ لَهَـا وَلاَ خَـالِفَ عَلَيْهَـا، وَلَهَمَّـتْ كُـلَّ امْـرِىءٍ مِـنْكُمْ نَفْسُـهُ، لاَ يَلْتَفِـتُ إِلَـى غَيْرِهَـا؛ وَلكِنَّكُمْ نَسِيتُمْ مَـا ذُكِّـرْتُمْ، وَأَمِنْـتُمْ مَـا حُـذِّرْتُمْ، فَتَـاهَ عَـنْكُمْ رَأْيُكُمْ، وَتَشَتَّتَ عَلَـيْكُمْ أَمْـرُكُمْ. وَلَـوَدِدْتُ أَنَّ اللهَ فَـرَّقَ بَيْنِـي وَبَيْـنَكُمْ، وَأَلْحَقَنِـي بِمَـنْ هُـوَ أَحَـقُّ بِـي مِـنْكُمْ. قَـوْمٌ وَاللهِ مَيَـامِينُ الـرَّأْيِ، مَـرَاجِيحُ الْحِلْـمِ، مَقَاوِيـلُ بِـالْحَقِّ، مَتَارِيـكُ لِلْبَغْيِ. مَضَوْا قُدُماً عَلَـى الطَّرِيقَـةِ وَأَوْجَفُـوا عَلَـى الْـمَحَجَّةِ، فَظَفِـرُوا بِـالْعُقْبَى الدَّائِمَـةِ وَالْكَرَامَـةِ الْبَـارِدَةِ. أَمَـا وَاللهِ، لَيُسَـلَّطَنَّ عَلَـيْكُمْ غُـلاَمُ ثَقِيـفٍ الـذَّيَّالُ الْمَيَّـالُ، يَأْكُـلُ خَضِرَتَكُمْ، وَيُذِيبُ شَحْمَتَكُمْ، إِيهٍ أَبَا وَذَحَةَ!

کوفیانو د هڅولو لپاره ورکړې شوې ده)

خداے تعالی رسول الله مبارکﷺ راولیږهٔ چې حق ته بلنه وکړي او د خلقو د عملونو ګواه وي. پیغمبر اکرمﷺ بې له څه لټۍ او کوتاهۍ د خپل پالونکي پیغام ورسوهٔ، او بې له کومې پلمې او بهانې د خداے پاک له دښمنانو سره د هغهٔ په لاره کښې اوجنګیدهٔ. د خداے ګران رسولﷺ د پرهیزګارو لارښود او د هدایت شویو د سترګو رڼا ده.

اے خلقو! که تاسو هم زما په شان له هغو څیزونو چې درنه پټ ساتل شوي دي خبر وئ له کورونو به کوچیدلي وئ، او په دښتو به سر شوي وئ، په خپلو کړو به مو اوښکې توې کړې وې او د مصیبت ځپلو ښځو په شان به مو سر او سینه ټکوله. او خپل مال به مو بې څښتنه پرېښے وُ، هر یو به تش په خپله چاره بوخت شوے وُ او بل ته به یې پام قدرې نهٔ وُ، خو افسوس چې څه یې دریاد کړي هغه مو هېر کړي دي او له څه نه چې وېرول شوي یئ ځان خوندي ګڼئ! نهٔ به وائې مازغهٔ مو الوتي دي او چارې مو ګډوډې شوې دي. په خداے قسم! په د اسې حال کښې مې نو له خدایه غوښتل چې زما او ستاسو تر مینځ بیلتون راولي او ما له هغه چا سره یوځاے کړي چې زما زیات وړ وو. په خداے قسم له هغوکسانو سره چې رایه یې مبارکه او حلم یې کلک وُ. د حق ویندویان او له ظلمه ډډه کوونکي وو. تر مونږ مخکې په نیغه لاره لاړل او ګړندي شول، او د آخرت او کرامت تل پاتې ژوند یې لاسته راوړهٔ. خبر اوسئ! په خداے قسم! د ثقیف له کورنۍ به یو هلک (حجاج بن یوسف) په تاسو باندې واکمن شي چې ونه به یې دنګه وي، سرکښه او هوسباز به وي. ستاسو په څرځایونو(مال او پانګو) کښې به څري او وازګې به مواوبه کړي. ابو وذحه بس کړه. ۸۰

(سید رضي وائي: وذحه د یوسخا چینجي یا ګونګټ نوم دے. او له دې امله چې اشاره یې حجاج ته ده نو ځکه یې هغهٔ ته ابو وذحه خطاب فرمایلے دے. او دا ځانته قصه لري چې د بیان ځاے یې دا نهٔ دے. خو لنډیز یې دا دے چې حجاج دغه ګونګټ وچیچه او د هغې له امله یې بدن وپړسید او مړ شو.)

## [ ۱۱۷ ]

يُوَبِّخُ الْبُخَلاَءَ بِالْمَالِ وَالنَّفْسِ

لاَ أَمْـوَالَ بَـذَلْتُمُوهَا لِلَّـذِي رَزَقَهَـا، وَلاَ أَنْفُـسَ خَـاطَرْتُمْ بِهَـا لِلَّـذِي خَلَقَهَـا، تَكْرُمُـونَ بِـاللهِ عَلَـى عِبَـادِهِ، وَلاَ تُكْرِمُـونَ اللهَ فِـي عِبَـادِهِ! فَـاعْتَبِرُوا بِنُـزُولِكُمْ مَنَـازِلَ مَـنْ كَـانَ قَـبْلَكُمْ، وَانْقِطَاعِكُمْ عَنْ أَصْلِ إِخْوَانِكُمْ!

## ﴿یو سل اولسمه خطبه﴾

### د شومانو غندنه

نهٔ خپل مالونه د هغه ذات په لاره کښې خرچ کوئ چې درکړي یې دي او نهٔ د خداے په لار کښې ځانونه په خطرکښې اچوئ. د خداے په نامه په خلقو کښې عزت پیدا کوئ خو په خپله د خداے په نامه د خلقو عزت نهٔ کوئ! د خداے لپاره عبرت واخلئ له دې چې ډېر زر به د تېرو خلقو په منزلونو کښې کوز شئ او له ډېرو نژدېو ورونړاو دوستانو به جدا شئ.

## [ ۱۱۸ ]

فِي الصَّالِحِينَ مِنْ أَصْحَابِهِ

## ﴿یو سل اتلسمه خطبه﴾

(له جنګ جمل نه وروسته یې د هجرت په شپږ دېرشم کال د خپلو ملګرو په ستائنه کښې وفرمایل)

أَنْتُمُ الأَنْصَـارُ عَلَـى الْحَـقِّ وَ الإِخْـوَانُ فِـي الـدِّينِ، وَالْجُـنَنُ

تاسو د حق ملګري او زما دیني ورونړه یئ. د جنګ په ورځ مې ساتندویه

يَـوْمَ الْبَـأْسِ، وَالْبِطَانَـةُ دُونَ النَّـاسِ، بِكُـمْ أَضْـرِبُ الْمُـدْبِرَ، وَأَرْجُو طَاعَةَ الْمُقْبِلِ فَـأَعِينُونِي بِمُنَاصَـحَةٍ خَلِيَّـةٍ مِـنَ الْغِـشِّ سَلِيمَةٍ مِنَ الرَّيْبِ فَوَ اللهِ إِنِّي لَاَوْلَى النَّاسِ بِالنَّاسِ!

[ ۱۱۹ ]

وَمِنْ كَلَامٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ

وَقَدْ جَمَعَ النَّاسَ وَحَضَّهُمْ عَلَى الْجِهَادِ، فَسَكَتُوا مَلِيّاً، فَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ: مَا بَالُكُمْ أَمُخْرَسُونَ أَنْتُمْ؟ فَقَالَ قَوْمٌ مِنْهُمْ: يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ، إِنْ سِرْتَ سِرْنَا مَعَكَ. فَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ: مَا بَالُكُمْ! لَا سُدِّدْتُمْ لِرُشْدٍ! وَلَا هُدِيتُمْ لِقَصْدٍ! أَفِي مِثْلِ هـذَا يَنْبَغِي لِي أَنْ أَخْرُجَ؟ إِنَّمَا يَخْرُجُ فِي مِثْلِ هذَا رَجُلٌ مِمَّنْ أَرْضَاهُ مِنْ شُجْعَانِكُمْ وَذَوِي بَأْسِكُمْ، وَلَا يَنْبَغِي لِي أَنْ أَدَعَ الْجُنْدَ، وَالْمِصْرَ، وَبَيْتَ الْمَالِ، وَجِبَايَةَ الاَرْضِ، وَالْقَضَاءَ بَيْنَ الْمُسْلِمِينَ، وَالنَّظَرَ فِي حُقُوقِ الْمُطَالِبِينَ، ثُمَّ أَخْرُجَ فِي كَتِيبَةٍ أَتْبَعُ أُخْرَى، أَتَقَلْقَلُ تَقَلْقُلَ الْقِدْحِ فِي الْجَفِيرِ الْفَارِغِ، وَإِنَّمَا أَنَا قُطْبُ الرَّحَا، تَدُورُ عَلَيَّ وَأَنَا بِمَكَانِي، فَإِذَا فَارَقْتُهُ اسْتَحَارَ مَدَارُهَا، وَاضْطَرَبَ ثِفَالُهَا. هـذَا لَعَمْرُ اللهِ الرَّأْيُ السُّوءُ. وَاللهِ لَوْلَا رَجَائِي الشَّهَادَةَ عِنْدَ لِقَائِي الْعَدُوَّ ـ وَلَوْ قَدْ حُمَّ لِي لِقَاؤُهُ ـ لَقَرَّبْتُ رِكَابِي ثُمَّ شَخَصْتُ عَنْكُمْ فَلَا أَطْلُبُكُمْ مَا اخْتَلَفَ جَنُوبٌ وَشَمَالٌ. طَعَّانِينَ عَيَّابِينَ، حَيَّادِينَ رَوَّاغِينَ. إِنَّهُ لَا غَنَاءَ فِي كَثْرَةِ عَدَدِكُمْ مَعَ قِلَّةِ اجْتِمَاعِ قُلُوبِكُمْ. لَقَدْ حَمَلْتُكُمْ عَلَى الطَّرِيقِ الْوَاضِحِ الَّتِي لَا يَهْلِكُ عَلَيْهَا إِلَّا هَالِكٌ، مَنِ اسْتَقَامَ فَإِلَى الْجَنَّةِ، وَمَنْ زَلَّ فَإِلَى النَّارِ!

[ ۱۲۰ ]

يَذْكُرُ فَضْلَهُ وَيَعِظُ النَّاسَ

تَاللهِ لَقَدْ عُلِّمْتُ تَبْلِيغَ الرِّسَالَاتِ، وَإِتْمَامَ الْعِدَاتِ، وَتَمَامَ

ډال، د ګذارونو تموونکي او په خلوتونو کښې مې د رازونو ساتونکي يئ. ستاسو په مټ له حق څخه مخ اړوونکي ځپم او په لاره يې راړوم. او په لاره د راوړېدونکو د اطاعت هيله کوم. نو زما مرسته وکړئ په داسې نصيحت سره چې سوچه وي او شک شبه پکښې نۀ وي. په خدا ے قسم زۀ په خلقو باندې د واک لپاره تر خلقو غوره يم.

## ﴿ يو سل نولسمه خطبه ﴾

(د هجرت په اتۀ ديرشم کال د صفين او نهروان له جنګه وروسته يې خلق د معاويه د ځپلو لپاره راوبلل، خلق غلي شول، وې فرمايل: په تاسو څه شوي دي، ګنګيان شوي يئ څه؟ ځينو کسانو وويل: اے اميرالمومنين که تاسو روان شئ مونږ هم درسره روانېږوو)

په تاسو څه شوي دي؟ هيڅکله د هدايت په لاره لاړ نۀ شوئ! او د عدل لار ته هدايت نۀ شوئ. آيا په دغه ډول حالاتو کښې مناسبه ده چې زۀ له ښاره اوځم؟ په دې وخت کښې خو بايد داسې کس اوځي چې زۀ يې له ميړانې راضي يم او ډاډ پرې ولرم چې د دښمن په لور وخوځېږي. او ما ته مناسبه نه ده چې لښکر، بيت المال، د ماليې غونډول، د مسلمانانو په مينځ کښې قضاوت، او د مطالبه کوونکو د حق ساتنه پرېږدم او له يو شمېر کسانو سره اوځم. او په خالي خلته کښې د ناتراشو غشو په شان يو خوا بل خوا پرېشانه اوړم رااوړم. زۀ بايد د ميچنې د چورليز (موږګې) يم او پکار دي په خپل ځا ے کلک پاتے شم، چې ګېرچاپېره ټولې چارې زما په وسيله څرخي. که زۀ له خپل چورليزه لرې شم او مرکز پرېږدم نو زما چاپېره پل به له خپلې دائرې بې ځايه او راونړيږي. په خدا ے قسم چې دا ډېر بد وړانديز او تجويز دے! په خدا ے قسم که د خدا ے په لاره کښې د شهادت هيله مې نۀ لرلې ښېنه به مې په رکاب کښې ايښې وه او له تاسو به تللے وم، او تاسو به مې رابللي قدرې نۀ وئ تر هغه وخته چې د قطب او سويل بادونه الوزي: ځکه چې تاسو ډېر پېغورتي، عېب لټوونکي، له حقه سرغړوونکي او غولوونکي يئ. تر څو مو چې زړونه يو نۀ وي د شمېر زياتوالے مو فائده نۀ لري. ما تاسو په روښانه لاره بوتلئ چې په دغه لاره څوک نۀ هلاکېږي مګر هغه کسان چې خپله هلاکت غواړي. چا چې په دې لار کښې استقامت وکړ د جنت لور ته وځغلېد او څوک چې وښوئېدۀ په اور کښې نسکور شو.

## ﴿ يو سل شلمه خطبه ﴾

(پدې خطبه کښې اميرالمومنين(ع) د ځان او اهلبيتو(ع) فضائل او کمالات بيان کړي دي او ملګرو ته يې د نېکۍ تلقين کړے دے)

### د خپل مقام يادونه

په خدا ے قسم! ما ته د الهي پېغام د رسولو، په وعدو د وفا کولو او د

الْكَلِمَاتَ. وَعِنْدَنَا ـ أَهْلَ الْبَيْتِ ـ أَبْوَابُ الْحُكْمِ وَضِيَاءُ الأَمْرِ. أَلاَ وَإِنَّ شَرَائِعَ الدِّينِ وَاحِدَةٌ، وَسُبُلَهُ قَاصِدَةٌ، مَنْ أَخَذَ بِهَا لَحِقَ وَغَنِمَ، وَمَنْ وَقَفَ عَنْهَا ضَلَّ وَنَدِمَ. اعْمَلُوا لِيَوْمٍ تُذْخَرُ لَهُ الذَّخَائِرُ، وَتُبْلَى فِيهِ السَّرَائِرُ، وَمَنْ لاَ يَنْفَعُهُ حَاضِرُ لُبِّهِ فَعَازِبُهُ عَنْهُ أَعْجَزُ، وَغَائِبُهُ أَعْوَزُ. وَاتَّقُوا نَاراً حَرُّهَا شَدِيدٌ، وَقَعْرُهَا بَعِيدٌ، وَحِلْيَتُهَا حَدِيدٌ، [وَشَرَابُهَا صَدِيدٌ] أَلاَ وَإِنَّ اللِّسَانَ الصَّالِحَ يَجْعَلُهُ اللهُ لِلْمَرْءِ فِي النَّاسِ، خَيْرٌ لَهُ مِنَ الْمَالِ يُورِثُهُ مَنْ لاَ يَحْمَدُهُ.

[ ۱۲۱ ]

بَعْدَ لَيْلَةِ الْهَرِير

وَقَدْ قَامَ رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِهِ فَقَالَ: نَهَيْتَنَا عَنِ الْحُكُومَةِ ثُمَّ أَمَرْتَنَا بِهَا، فَمَا نَدْرِي أَيُّ الأَمْرَيْنِ أَرْشَدُ. فَصَفَقَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ إِحْدَى يَدَيْهِ عَلَى الأُخْرَى ثُمَّ قَالَ:

هذَا جَزَاءُ مَنْ تَرَكَ الْعُقْدَةَ! أَمَا وَاللهِ لَوْ أَنِّي حِينَ أَمَرْتُكُمْ بِمَا أَمَرْتُكُمْ بِهِ حَمَلْتُكُمْ عَلَى الْمَكْرُوهِ الَّذِي يَجْعَلُ اللهُ فِيهِ خَيْراً، فَإِنِ اسْتَقَمْتُمْ هَدَيْتُكُمْ وَإِنِ اعْوَجَجْتُمْ قَوَّمْتُكُمْ وَإِنْ أَبَيْتُمْ تَدَارَكْتُكُمْ، لَكَانَتِ الْوُثْقَى، وَلكِنْ بِمَنْ وَإِلَى مَنْ؟ أُرِيدُ أَنْ أُدَاوِيَ بِكُمْ وَأَنْتُمْ دَائِي، كَنَاقِشِ الشَّوْكَةِ بِالشَّوْكَةِ، وَهُوَ يَعْلَمُ أَنَّ ضَلْعَهَا مَعَهَا! اللَّهُمَّ قَدْ مَلَّتْ أَطِبَّاءُ هذَا الدَّاءِ الدَّوِيِّ، وَكَلَّتِ النَّزْعَةُ بِأَشْطَانِ الرَّكِيِّ! أَيْنَ الْقَوْمُ الَّذِينَ دُعُوا إِلَى الإِسْلاَمِ فَقَبِلُوهُ؟ وَقَرَأُوا الْقُرْآنَ فَأَحْكَمُوهُ؟ وَهِيجُوا إِلَى الْجِهَادِ فَوَلِهُوا اللِّقَاحَ أَوْلاَدَهَا، وَسَلَبُوا السُّيُوفَ أَغْمَادَهَا، وَأَخَذُوا بِأَطْرَافِ الأَرْضِ زَحْفاً زَحْفاً وَصَفّاً صَفّاً؟! بَعْضٌ هَلَكَ، وَبَعْضٌ نَجَا. لاَيُبَشَّرُونَ بِالأَحْيَاءِ، وَلاَ يُعَزَّوْنَ عَنِ الْمَوْتَى، مُرْهُ الْعُيُونِ مِنَ الْبُكَاءِ، خُمْصُ الْبُطُونِ مِنَ الصِّيَامِ، ذُبُلُ الشِّفَاهِ مِنَ الدُّعَاءِ، صُفْرُ الأَلْوَانِ مِنَ السَّهَرِ، عَلَى وُجُوهِهِمْ غَبَرَةُ الْخَاشِعِينَ، أُولئِكَ

الهي اوامرو او خبرداريو د پوره سپړلو علم راکړے شوے دے. د حکمت بابونه او د خلقو د چارو رڼا له مونږ اهلبېتو عليهم‌السلام سره ده. خبر اوسئ چې د دين قوانين يو او لارې يې آسانې او نېغې دي. څوک چې پرې لاړ شي هم به منزل ته اورسېږي او هم به ګټه وکړي.او څوک چې پرې لاړ نۀ شي بې لارې او پښېمانه به شي.اے خلقو! عمل وکړئ د هغې ورځې لپاره چې توښې ورته جمع کېږي او د انسانانو رازونه به په ډاګه کېږي. او چاته چې خپل موجود عقل فائده ونۀ رسوي نو د نورو غائب او لرې عقلونه به ورته څه فائده وررسوي؟ له هغه اوره اوېرېږئ چې تودوخي يې سخته، ژورتيا يې ډوبه، سينګار يې اوسپنه (زنځيرونه او زولنې)، او ښناک يې (د زوي) بدبوداري اوبۀ دي. خبر اوسئ! هغه ښه نامه چې خداے پاک يې د چا لپاره په خلقو کښې پرېږدي تر هغه ماله غوره ده چې هغه چا ته په ميراث کښې پرېږدي چې ستائنه قدرې يې نۀ کوي. [81]

## ﴿يو سل يو يشتمه خطبه﴾

(په صفين کښې د حَکَميت له منلو وروسته د امام يو ملګرے[82] پاڅېد او وې ويل:مونږ دې له حکميته منعې کړو بيا دې خپله ومنۀ، او منيځګړے دے وټاکۀ! معلومه نۀ ده چې په دغو دوو چارو کښې کومه چاره صحيح ده؟ امام يو لاس بل لاس له راخلاص کړ او وې فرمايل:)

دا د هغه چا سزا ده چې له خپل امام سره بيعت پرېږدي او تړون مات کړي، ياد ساتئ! په خداے قسم چې کله ما تاسو له هغۀ (معاويه) سره جنګ ته راوبللئ چې دا چاره ستاسو په طبعه نۀ وه برابره خوخداے پاک مو خېر پکښې ايښے ؤ، که ټينګ اودرېدلي وئ نو ستاسو لارښوُنه به مې کړې وه، که کاږۀ شوې وئ نيغې لارې ته به مې ستانۀ کړي وئ، او که سرغړونه مو کړې وې بيا به مې جنګ ته تيار کړي وئ. او دا به ډېره صحيح چاره وه خو (دربغه) چې په کوم ځواک اوجنګېږم، او په چا ډاډه شم، غواړم چې ستاسو په ذريعې سره درد درمان کړم،خو تاسو په خپله زما بې درمانه درد شوي يئ. نو زما حال د هغه چا په شان دے چې په پښو کښې يې ازغے تللے وي او غواړي په يوۀ ازغي سره بل ازغے راوباسي. حال دا چې خبر وي چې ازغے به يې نور هم په پښه کښې مات او پاتے شي، اے خدايه! د دې وژونکي مرض طبيبان پاتې راغلي او د دې ښوره ځمکې پېه ګر ستړې شوې دي. څه شول هغه خلق چې اسلام ته راوبلل شول او وې منۀ، قرآن يې ولوستۀ او د آيتونو په معنو باندې پوه شول، چې جهاد ته وهڅول شول نو داسې ورځغلېدل لکه اوښه چې خپلو جونګيو ته وردرومي. تُورې يې راووېستلې او ډلې ډلې، ليکې ليکې په مخ لاړل او ځمکې يې ونيولې، ځينې شهيدان او ځينې يې پاتې شول چې نۀ د جنګ له ډګره په پاتې کېدو خوشحاله وو او نۀ يې د شهيدانو په مرګ خواخوږۍ ته حاجت ؤ.د خداے پاک له وېرې يې په ژړا سترګې سپينې شوې، خېټې يې له ډېرو روژو په ملا پورې اونښتې، شونډې يې له پرېمانه دعاګانو وچاودې، د مخ رنګونه يې د شپو له رونولو زيړ او په

إخْوَاني الذَّاهِبُونَ، فَحَقَّ لَنَا أَنْ نَظْمَأَ إلَيْهِمْ ونَعَضَّ الأيْدي عَلَى فِرَاقِهِمْ! إنَّ الشَّيْطَانَ يُسَنِّي لَكُمْ طُرُقَهُ، ويُرِيدُ أَنْ يَحُلَّ دِينَكُمْ عُقْدَةً عُقْدَةً، وَيُعْطِيَكُمْ بِالْجَمَاعَةِ الْفُرْقَةَ، وَبِالْفُرْقَةِ الْفِتْنَةَ؛فَاصْدِفُوا عَنْ نَزَغَاتِهِ وَنَفَثَاتِهِ، وَاقْبَلُوا النَّصِيحَةَ مِمَّنْ أَهْدَاهَا إلَيْكُمْ، وَاعْقِلُوهَا عَلَى أَنْفُسِكُمْ.

[ ۱۲۲ ]

قَالَهُ لِلْخَوارِج

وَقَدْ خَرَجَ إلَى مُعَسْكَرِهِمْ وَهُمْ مُقِيمُونَ عَلَى إنْكَارِ الْحُكُومَةِ، فَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ: أَكُلُّكُمْ شَهِدَ مَعَنَا صِفِّينَ؟ فَقَالُوا: مِنَّا مَنْ شَهِدَ وَمِنَّا مَنْ لَمْ يَشْهَدْ. قَالَ:

فَامْتَازُوا فِرْقَتَيْنِ، فَلْيَكُنْ مَنْ شَهِدَ صِفِّينَ فِرْقَةً وَمَنْ لَمْ يَشْهَدْهَا فِرْقَةً حَتَّى أُكَلِّمَ كُلاًّ مِنْكُمْ بِكَلاَمِهِ.

وَنَادَى النَّاسَ فَقَالَ: أَمْسِكُوا عَنِ الْكَلاَمِ وَأَنْصِتُوا لِقَوْلِي وَأَقْبِلُوا بِأَفْئِدَتِكُمْ إلَيَّ، فَمَنْ نَشَدْنَاهُ شَهَادَةً فَلْيَقُلْ بِعِلْمِهِ فِيهَا.

ثُمَّ كَلَّمَهُمْ عليه السلام بِكَلاَمٍ طَوِيلٍ، مِنْ جُمْلَتِهِ أَنْ قَالَ: أَلَمْ تَقُولُوا عِنْدَ رَفْعِهِمُ الْمَصَاحِفَ ـ حِيلَةً وَغِيلَةً وَمَكْراً وَخَدِيعَةً ـ: إخْوَانُنَا وَأَهْلُ دَعْوَتِنَا، اسْتَقَالُونَا وَاسْتَرَاحُوا إلَى كِتَابِ اللهِ سُبْحَانَهُ، فَالرَّأْيُ الْقَبُولُ مِنْهُمْ وَالتَّنْفِيسُ عَنْهُمْ؟ فَقُلْتُ لَكُمْ: هذَا أَمْرٌ ظَاهِرُهُ إيمَانٌ، وَبَاطِنُهُ عُدْوَانٌ، وَأَوَّلُهُ رَحْمَةٌ، وَآخِرُهُ نَدَامَةٌ، فَأَقِيمُوا عَلَى شَأْنِكُمْ، وَالْزَمُوا طَرِيقَتَكُمْ، وَعَضُّوا عَلَى الْجِهَادِ بَنَوَاجِذِكُمْ، وَلاَ تَلْتَفِتُوا إلَى نَاعِقٍ نَعَقَ: إنْ أُجِيبَ أَضَلَّ، وَإنْ تُرِكَ ذَلَّ. وَقَدْ كَانَتْ هذِهِ الْفَعْلَةُ، وَقَدْ رَأَيْتُكُمْ أَعْطَيْتُمُوهَا، وَاللهِ لَئِنْ أَبَيْتُهَا مَا وَجَبَتْ عَلَيَّ فَرِيضَتُهَا وَلاَ حَمَّلَنِي اللهُ ذَنْبَهَا، وَوَاللهِ إنْ جِئْتُهَا إنِّي لَلْمُحِقُّ الَّذِي يُتَّبَعُ، وَإنَّ الْكِتَابَ لَمَعِي، مَا فَارَقْتُهُ مُذْ صَحِبْتُهُ. فَلَقَدْ كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ، وَإنَّ الْقَتْلَ لَيَدُورُ بَيْنَ الآبَاءِ وَالأَبْنَاءِ وَالاخْوَانِ وَالْقَرَابَاتِ، فَمَا نَزْدَادُ عَلَى كُلِّ مُصِيبَةٍ وَشِدَّةٍ إلاَّ إيمَاناً، وَمُضِيّاً عَلَى الْحَقِّ، وَتَسْلِيماً لِلاَمْرِ، وَصَبْراً عَلَى مَضَضِ الْجِرَاحِ.وَلكِنَّا إنَّمَا أَصْبَحْنَا نُقَاتِلُ

مخونو بې د خشوع او خضوع دوړې پرتې وې. دا زمونږ هغه وروڼه وو چې لاړل او حق لري چې مونږ بې ملاقات ته تږي يوو. او د فراق له غمه بې ګوتې اوچيچو. خبر اوسئ چې شيطان خپلې لارې په تاسو آسانوي چې د دين کلکې غوټې مو يو په بل پسې پرانيزي او د پېوستون په ځاے مود تيت پرکوالي او بې اتفاقي. په فتنو اخته کړي. د شيطان له وسوسو، زمزمو او دهوکو ځان اوساتئ او د هغه کس نصيحت چې ستاسو خير غوښتونکے دے له زړهٔ اومنئ.

## ﴿يو سل دويشتمه خطبه﴾

(کله چې خوارجو په خپلې بلوا ټينګار وکړ نو امام بې مرکز ته ورغے او ورته بې وفرمايل)

آيا تاسو ټول په صفين کښې وئ؟ «وې ويل: ځينې وو او ځينې نهٔ وو. وې فرمايل نو دوه ډلې شئ چې هر يوې ته بې د هغوي د حال مطابق خبرې وکړم،کله چې هغوي دوه ډلې شول نو امام وفرمايل: غلې شئ، خبرو ته مې غوږ شئ او زړونه مو ماته متوجه کړئ. او که کوم کس ګواهي ته وغوارم نو د خپل علم مطابق ځواب راکړئ.

### د نېزو په سرونو د قرآن د خېژولو ښکېلاکے سياست

کله چې شاميانو زمونږ د بري په درشل کښې په چل او د هوکې سره قرآنونه په نېزو اوخېژول نو تاسو ونهٔ ويل چې: « شاميان زمونږ وروڼه او زمونږ په شان مسلمانان دي. له مونږ غواړي چې له ګناه بې تېر شوو او دوي د خداے د کتاب په حکميت او مينځګړيتوب راضي شوي دي نو مناسبه ده چې خبره بې ومنو او پرې بې ږدو؟»

خوما تاسو پوه کړئ چې د دوي ظاهر خو ايمان دے خو باطن بې دښمني (ظلم او دهوکه) ده. شروع بې رحمت او خاتمه بې پښيماني ده، نو جنګ جاري اوساتئ او خپله لار مهٔ پرېږدئ غاښونه مو د جهاد لپاره اوچيچئ او د بکواس کوونکو بکواسونه مه اورئ. ځکه چې که خبره بې اومنئ ګمراهي ده او که پرې بې ږدئ سپکه ده.

خو دريغه چې تاسو مې اوليدئ چې د شاميانو غوښتنو ته مو غاړه کېښوده او حکميت (مينځګړتوب) مو ومنئ، په خداے قسم، که ما حکميت نهٔ وې منلے د نتائجو ذمه وار بې نهٔ وم، او خداے پاک به بې ګناه زما په غاړه نهٔ اچوله، او که ما حکميت منلے وې نو زهٔ د حق خاوند وم او بايد زما پيروي شوې وې،ځکه چې د خداے پاک کتاب له ماسره دے او له کله نه چې ورسره ملګرے شوے يم تراوسه ترې نه يم جدا شوے.

مونږ د رسول الله مبارکﷺ په زمانه کښې هغه وخت جنګ کوۀ چې وژله او شهادت به زمونږ د پلارانو، بچيانو، وروڼو، او خپلوانو ترمنځ ګرځېدهٔ راګرځېدهٔ، خو د هر مصيبت او سختۍ په راتګ سره به زمونږ ايمان نور هم مضبوطيدهٔ، او مونږ د خداے پاک د امر په منلو او د سوځوونکو زخمونو په زغملو نور هم هوډمنېدو.

خوافسوس چې نن مونږ له خپلو اسلامي ورونو سره جنګېږو ځکه چې

إخْوَانَنَا فِي الاسْلاَمِ عَلَى مَا دَخَلَ فيه مِنَ الزَّيْغِ وَالاعْوِجَاجِ، وَالشُّبْهَةِ وَالتَّأْوِيلِ، فإِذَا طَمِعْنَا فِي خَصْلَةٍ يَلُمُّ اللهُ بِهَا شَعَثَنَا، وَنَتَدَانَى بِهَا إِلَى الْبَقِيَّةِ فِيمَا بَيْنَنَا، رَغِبْنَا فِيهَا، وَأَمْسَكْنَا عَمَّا سِوَاهَا.

په دين کښې کړوالے، په افکارو کښې شبهې او تاويلونه راننوتي دي خو بيا هم که داسې لاره راووته چې په وسيله يې يو بل ته نزدې شوو او بې اتفاقي او تيتوالي موختم شي، درزونه مو ډک کړي او پيوندونه مو پياوړي کړي نو هغه به ومنوو او نورې لارې به پرېږدوو.

## [ ۱۲۳ ]

قَالَهُ لأَصْحَابِهِ فِي سَاعَةِ الْحَرْبِ

وَأَيُّ امْرِىءٍ مِنْكُمْ أَحَسَّ مِنْ نَفْسِهِ رَبَاطَةَ جَأْشٍ عِنْدَ اللِّقَاءِ، وَرَأَى مِنْ أَحَدٍ مِنْ إِخْوَانِهِ فَشَلاً، فَلْيَذُبَّ عَنْ أَخِيهِ بِفَضْلِ نَجْدَتِهِ الَّتِي فُضِّلَ بِهَا عَلَيْهِ كَمَا يَذُبُّ عَنْ نَفْسِهِ، فَلَوْ شَاءَ اللهُ لَجَعَلَهُ مِثْلَهُ. إِنَّ الْمَوْتَ طَالِبٌ حَثِيثٌ لاَيَفُوتُهُ الْمُقِيمُ، وَلاَ يُعْجِزُهُ الْهَارِبُ. إِنَّ أَكْرَمَ الْمَوْتِ الْقَتْلُ! وَالَّذِي نَفْسُ ابْنِ أَبِي طَالِبٍ بِيَدِهِ، لأَلْفُ ضَرْبَةٍ بِالسَّيْفِ أَهْوَنُ مِنْ مِيتَةٍ عَلَى الْفِرَاشِ [فِي غَيْرِ طَاعَةِ اللهِ!]. وَكَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَيْكُمْ تَكِشُّونَ كَشِيشَ الضِّبَابِ: لاَ تَأْخُذُونَ حَقّاً، وَلاَ تَمْنَعُونَ ضَيْماً. قَدْ خُلِّيتُمْ وَالطَّرِيقَ، فَالنَّجَاةُ لِلْمُقْتَحِمِ، وَالْهَلَكَةُ لِلْمُتَلَوِّمِ.

## ﴿ يو سل درويشتمه خطبه ﴾

(د صفين په جنگ کښې يې خپلو عسکرو ته وفرمايل)

په تاسو کښې چې هر کس په جنگ کښې په خپل زړه کښې مېړانه او بهادري او په خپل ورور کښې ويره او لتي اويني د دغه کار په شکرانه دې د هغه دفاع وکړي څنگه چې د ځان دفاع کوي. ځکه چې که خدا ے پاک وغواړي هغه به هم ستا په شان تورزن شي. يوه شئ چې مرگ مو په ډېره بيړه لټوي که څوک ټينگ شول او که څوک اوتښتېدل مگر له منگولو بې خلاصون نشته. نو تر ټولو عزتمن مرگ د خدا ے په لار کښې وژل کېدل دي قسم په هغه چا چې د ابوطالب د زوے ژوند يې په اختيار کښې دے په ما باندې د تورو زرگذارونه تر دې غوره دي چې په بسترې کښې د خداے پاک په نۀ اطاعت کښې مړ شم. تۀ به وائې زۀ وينم چې تاسو په څينو حملو کښې د تېښتې په وخت ستاسو داسې غړونه راوځي لکه د ډېر شمېر سمسرو له يو بل سره د بدنونو له جنگېدو راوځي، نۀ کوم حق ستنوئ او نۀ د ظلم مخه نيسئ. اوس نو دا تاسو او دا د حق پرانېستې لار. او نجات هغه کس مومي چې د جنگ مېدان ته ورودانگي او ذلت د هغه چا په برخه دے چې لټي او سستي وکړي.

## [ ۱۲٤ ]

فِي حَضِّ أَصْحَابِهِ عَلَى الْقِتَالِ

فَقَدِّمُوا الدَّارِعَ، وَأَخِّرُوا الْحَاسِرَ، وَعَضُّوا عَلَى الأَضْرَاسِ فَإِنَّهُ أَنْبَى لِلسُّيُوفِ عَنِ الْهَامِ، وَالْتَوُوا فِي أَطْرَافِ الرِّمَاحِ فَإِنَّهُ أَمْوَرُ لِلأَسِنَّةِ، وَغُضُّوا الأَبْصَارَ فَإِنَّهُ أَرْبَطُ لِلْجَأْشِ وَأَسْكَنُ لِلْقُلُوبِ، وَأَمِيتُوا الأَصْوَاتَ فَإِنَّهُ أَطْرَدُ لِلْفَشَلِ. وَرَايَتَكُمْ فَلاَ تُمِيلُوهَا وَلاَ تُخِلُّوهَا، وَلاَ تَجْعَلُوهَا إِلاَّ بِأَيْدِي شُجْعَانِكُمْ، وَالْمَانِعِينَ الذِّمَارَ مِنْكُمْ، فَإِنَّ الصَّابِرِينَ عَلَى نُزُولِ الْحَقَائِقِ هُمُ الَّذِينَ يَحُفُّونَ بِرَايَاتِهِمْ وَيَكْتَنِفُونَهَا: حِفَافَيْهَا، وَوَرَاءَهَا، وَأَمَامَهَا، لاَ يَتَأَخَّرُونَ عَنْهَا فَيُسْلِمُوهَا، وَلاَ يَتَقَدَّمُونَ عَلَيْهَا فَيُفْرِدُوهَا. أَجْزَأَ امْرُؤٌ قِرْنَهُ، وَآسَى

## ﴿ يو سل څلوريشتمه خطبه ﴾

(د هجرت په ۳۷م کال په صفين کښې جهاد ته د خپلو ملگرو د هڅولو لپاره يې وفرمايل)

### فوځي چمتووالے

زغره وال کسان د لښکر مخې ته کړئ او څوک چې زغره او خُود نۀ لري شاته يې اودروئ. غاښونه مو د چيچلو په حالت کښې کړئ ځکه چې دا حالت په سر باندې د تورې د گوزار اثرکموي. د دښمن د نېزو په وړاندې ځانونه کږوئ راکږوئ چې د نېزو گزارونه خطا کېږي. نظرونه مو ټيټ (يعني نيم بند حالت کښې) ساتئ چې دا حالت د زړورتيا او د زړونو د ارامښت سبب کېږي. غږونه مو ورو او ټيټ کړئ چې لټي او سستي ختموي. د لښکر بېرغ رپولے ساتئ او خواوشا يې مه خالي کوئ. او بېرغ مو يواځې باتورو او زړه ورو کسانو ته ورکوئ. ځکه چې هغه کسان چې په سختيو کښې ټينگ پاتې کېږي، په بنۀ ډول د بېرغ ساتنه کوي او د لښکر په زړۀ کښې يې رپوي. دوي له هر لوري، ښي او کيڼ او مخکې وروسته د بېرغ حفاظت کوي او نۀ تري شاته پاتې کېږي چې بېرغ د دښمن لاسته ولوېږي او نۀ ترې مخکې ځي چې يواځې يې پرېږدي. گورئ، هر کس د خپل سيال مقابله وکړئ او وې پرزوئ او د

أَخَاهُ بِنَفْسِه، وَلَمْ يَكِلْ قِرْنَهُ إِلَى أَخِيهِ فَيَجْتَمِعَ عَلَيْهِ قِرْنُهُ وَقِرْنُ أَخِيهِ. وَايْمُ اللهِ لَئِنْ فَرَرْتُمْ مِنْ سَيْفِ الْعَاجِلَةِ، لاَ تَسْلَمُوا مِنْ سَيْفِ الآخِرَةِ، أَنْتُمْ لَهَامِيمُ الْعَرَبِ، وَالسَّنَامُ الأعْظَمُ، إِنَّ فِي الْفِرَارِ مَوْجِدَةَ اللهِ، وَالذُّلَّ اللاَّزِمَ، وَالْعَارَ الْبَاقِيَ، وَإِنَّ الْفَارَّ لَغَيْرُ مَزِيدٍ فِي عُمُرِهِ، وَلاَ مَحْجُوزٍ بَيْنَهُ وَبَيْنَ يَوْمِهِ. مَنْ رَائِحٌ إِلَى اللهِ كَالظَّمْآنِ يَرِدُ الْمَاءَ؟ الْجَنَّةُ تَحْتَ أَطْرَافِ الْعَوَالِي! الْيَوْمَ تُبْلَى الاَخْبَارُ! وَاللهِ لاَنَا أَشْوَقُ إِلَى لِقَائِهِمْ مِنْهُمْ إِلَى دِيَارِهِمْ. اللَّهُمَّ فَإِنْ رَدُّوا الْحَقَّ فَافْضُضْ جَمَاعَتَهُمْ، وَشَتِّتْ كَلِمَتَهُمْ، وَأَبْسِلْهُمْ بِخَطَايَاهُمْ. إِنَّهُمْ لَنْ يَزُولُوا عَنْ مَوَاقِفِهِمْ دُونَ طَعْنٍ دِرَاكٍ يَخْرُجُ مِنْهُ النَّسِيمُ، وَضَرْبٍ يَفْلِقُ الْهَامَ، وَيُطِيحُ الْعِظَامَ، وَيُنْدِرُ السَّوَاعِدَ وَالاَقْدَامَ، وَحَتَّى يُرْمَوْا بِالمَنَاسِرِ تَتْبَعُهَا الْمَنَاسِرُ، وَيُرْجَمُوا بِالْكَتَائِبِ، تَقْفُوهَا الْحَلاَئِبُ حَتَّى يُجَرَّ بِبِلاَدِهِمُ الْخَمِيسُ يَتْلُوهُ الْخَمِيسُ، وَحَتَّى تَدْعَقَ الْخُيُولُ فِي نَوَاحِرِ أَرْضِهِمْ، وَبِأَعْنَانِ مَسَارِبِهِمْ وَمَسَارِحِهِمْ.

خپل ورور مرسته هم کوئ. له خپل سيال سره مقابله، خپل ورور ته مهٔ پرېږدئ چې په هغهٔ يو په دوه نهٔ شي. (او شا بې سپېره نهٔ شي) په خداے قسم!که د دنيا له تورې او تښتئ د آخرت له تورې به څرنګه تښتئ. تاسو خو د عربو مخور او باتوران يئ، له جنګه تښتېنه هم د خداے پاک غصه او غضب او هم تل پاتې شرم او ذلت په ځان پسې لري. له جنګه پښه سپکوئنکي نهٔ خپل عمر زياتولې شي او نهٔ د ځان او مرګ تر مينځ خنډ راوستلے شي. څوک دے چې په خپل جهاد سره په شوق او ذوق د خداے پاک د جهاد په لور اوځغلي لکه تږے چې اوبو ته ورځغلي. جنت د مېږنو د نېزو په سيوري کښې دے. نن به د جنګ په مېدان کښې معلومېږي هغه څه چې په زړونو کښې دي يا د ژبې په سرونو دي. په خداے قسم شاميان به خپلو کورونو ته دومره لېواله نهٔ وي لکه زهٔ چې له هغوي سره جنګ ته لېواله يم. اے خدايه!که شاميان له حقه مخ واړوي نو هيڅکله يې يو موټے مه کړې، ته خو يې تيت و پرک کړې او د خپلو خطاګانو سزا ورکړې. دوي ترهغې له خپل دريځه او موقفه نهٔ شاته کېږي ترڅوچې د نېزو پرله پسې ګوزارونه ونهٔ خوري داسې ګوزارونه چې بدنونه يې ورسوري کړي داسې سوري چې شمال ترې پورې راپورې وځي، سرونه يې ورمات او غړي يې ورغوڅ او خوارهٔ وارهٔ نهٔ کړي. دوي تر هغې لاس نهٔ اخلي چې لښکرې پرې ډلې ډلې وراواړې نهٔ شي او په غشو يې سورې نهٔ کړي او سپارهٔ پرې يرغل ونهٔ کاندي. او ليکې يې ماتې نهٔ کړي او تر هغې چې پرله پسې لښکرې يې په ښارونو بربدونه ونهٔ کړي او شاتګ ته يې مجبور نهٔ کړي. او تر څو چې اسونه د هغوي ټاټوبي تر پښو لاندې چخېږي او څرځايونه يې وران ويجاړ نهٔ کړي.

(سيد رضي وائي:الدعق يعني د اسونو په سمونو سره د ځمکې څپل، او نواحر: يعني متقابل. لکه څرنګه چې وائي د فلانکي خېل کورونه متناحر دي يعنې يو بل ته مخامخ دي.

## [ ۱۲۵ ]

فِي مَعْنَى الْخَوَارِجِ لَمَّا أَنْكَرُوا تَحْكِيمَ الرِّجَالِ وَيَذُمُّ فيه أَصْحَابَهُ:

إِنَّا لَمْ نُحَكِّمِ الرِّجَالَ، وَإِنَّمَا حَكَّمْنَا الْقُرْآنَ. وهذَا الْقُرْآنُ إِنَّمَا هُوَ خَطٌّ مَسْتُورٌ بَيْنَ الدَّفَّتَيْنِ، لاَ يَنْطِقُ بِلِسَانٍ، وَلاَ بُدَّ لَهُ مِنْ تَرْجُمَانٍ، وَإِنَّمَا يَنْطِقُ عَنْهُ الرِّجَالُ. وَلَمَّا دَعَانَا الْقَوْمُ إِلَى أَنْ نُحَكِّمَ بَيْنَنَا الْقُرْآنَ لَمْ نَكُنِ الْفَرِيقَ الْمُتَوَلِّيَ عَنْ كِتَابِ اللهِ، وَقَالَ اللهُ سُبْحَانَهُ: ﴿فَإِنْ تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللهِ وَالرَّسُولِ﴾ فَرَدُّهُ إِلَى اللهِ أَنْ نَحْكُمَ بِكِتَابِهِ، وَرَدُّهُ إِلَى الرَّسُولِ أَنْ نَأْخُذَ بِسُنَّتِهِ؛ فَإِذَا حُكِمَ بِالصِّدْقِ فِي كِتَابِ اللهِ، فَنَحْنُ أَحَقُّ النَّاسِ بِهِ، وَإِنْ حُكِمَ بِسُنَّةِ

## ﴿ يو سل پينځويشتمه خطبه ﴾

(د خوارجو په ځواب کښې چې حکميت يې نهٔ منه،کوفې ته د نږدې کېدو په وخت يې دا وينا وکړه)

### په صفين کښې د حکميت د منلو لاملونه او وجوهات

ياد ساتئ، مونږ کسان نهٔ وو حَکَم (مينځګړي) کړي بلکه مونږ قرآن شريف حَکَم ګرځولے وُ! (چې هغوي په نېزو اوچت کړے وُ او ورباندې يې فېصله غوښتله) خو قرآن خو هغه ليکل شوے کتاب دے چې په دوو پوښونو کښې پټ دے. خو قرآن ژبه نهٔ لري چې وغږېږي او يوکس غواړي چې ترجماني يې وکړي او دا انسانان دي چې د هغې ترجماني کولې شي. او کله چې شاميانو مونږ وبللو چې قرآن په خپل مينځ کښې حَکَم او فېصله کوونکے وګرځوو نو مونږ د خداے پاک کتاب ته شا کوونکي نهٔ وو، حال دا چې لوے پالونکي فرمايلي دي«که په يوڅيز کښې موتنازعه او اختلاف وکړ نو هغه خداے پاک او رسولﷺ ته جارباسئ» خداے پاک ته د اختلافاتو د جارابستلو مطلب دا دے چې د هغهٔ په کتاب فېصله وکړوو او پېغمبراکرمﷺ ته جاروتل دا دي چې د

رَسُولِهِ فَنَحْنُ أَوْلاَهُمْ بِهِ. وَأَمَّا قَوْلُكُمْ: لِمَ جَعَلْتَ بَيْنَكَ وَبَيْنَهُمْ أَجَلاً فِي التَّحْكِيمِ؟ فَإِنَّمَا فَعَلْتُ ذلِكَ لِيَتَبَيَّنَ الْجَاهِلُ، وَيَتَثَبَّتَ الْعَالِمُ، وَلَعَلَّ اللهَ أَنْ يُصْلِحَ فِي هذِهِ الْهُدْنَةِ أَمْرَ هذِهِ الْأُمَّةِ، وَلاَ تُؤْخَذُ بِأَكْظَامِهَا، فَتَعْجَلَ عَنْ تَبَيُّنِ الْحَقِّ، وَتَنْقَادَ لِأَوَّلِ الْغَيِّ. إِنَّ أَفْضَلَ النَّاسِ عِنْدَ اللهِ مَنْ كَانَ الْعَمَلُ بِالْحَقِّ أَحَبَّ إِلَيْهِ ـ وَإِنْ نَقَصَهُ وَكَرَثَهُ ـ مِنَ الْبَاطِلِ وَإِنْ جَرَّ إِلَيْهِ فَائِدَةً وَزَادَهُ، فَأَيْنَ يُتَاهُ بِكُمْ؟! وَمِنْ أَيْنَ أُتِيتُمْ؟! اسْتَعِدُّوا لِلْمَسِيرِ إِلَى قَوْمٍ حَيَارَى عَنِ الْحَقِّ لاَ يُبْصِرُونَهُ، وَمُوزَعِينَ بِالْجَوْرِ لاَ يَعْدِلُونَ بِهِ، جُفَاةٍ عَنِ الْكِتَابِ، نُكُبٍ عَنِ الطَّرِيقِ. مَا أَنْتُمْ بِوَثِيقَةٍ يُعْلَقُ بِهَا، وَلاَ زَوَافِرَ يُعْتَصَمُ إِلَيْهَا، لَبِئْسَ حُشَّاشُ نَارِ الْحَرْبِ أَنْتُمْ! أُفٍّ لَكُمْ! لَقَدْ لَقِيتُ مِنْكُمْ بَرْحاً، يَوْماً أُنَادِيكُمْ وَيَوْماً أُنَاجِيكُمْ، فَلاَ أَحْرَارُ صِدْقٍ عِنْدَ النِّدَاءِ، وَلاَ إِخْوَانُ ثِقَةٍ عِنْدَ النَّجَاءِ!

[ ۱۲۶ ]

لَمَّا عُوتِبَ عَلَى تَصْيِيرِهِ النَّاسَ أُسْوَةً فِي الْعَطَاءِ مِنْ غَيْرِ تَفْضِيلٍ إِلَى السَّابِقَاتِ وَالشَّرَفِ:

أَتَأْمُرُونِّي أَنْ أَطْلُبَ النَّصْرَ بِالْجَوْرِ فِيمَنْ وُلِّيتُ عَلَيْهِ! وَاللهِ لاَ أَطُورُ بِهِ مَا سَمَرَ سَمِيرٌ، وَمَا أَمَّ نَجْمٌ فِي السَّمَاءِ نَجْماً! لَوْ كَانَ الْمَالُ لِي لَسَوَّيْتُ بَيْنَهُمْ، فَكَيْفَ وَإِنَّمَا الْمَالُ مَالُ اللهِ لَهُمْ. أَلاَ وَإِنَّ إِعْطَاءَ الْمَالِ فِي غَيْرِ حَقِّهِ تَبْذِيرٌ وَإِسْرَافٌ، وَهُوَ يَرْفَعُ صَاحِبَهُ فِي الدُّنْيَا وَيَضَعُهُ فِي الْآخِرَةِ، وَيُكْرِمُهُ فِي النَّاسِ وَيُهِينُهُ عِنْدَ اللهِ، وَلَمْ يَضَعِ امْرُؤٌ مَالَهُ فِي غَيْرِ حَقِّهِ وَعِنْدَ غَيْرِ أَهْلِهِ إِلاَّ حَرَمَهُ اللهُ

هغهٔ سنت واخلوو. نو که د خداے پاک په کتاب مینځګړیتوب کېږي نو له مونږ سره زیات ښائي (چې د قران شریف مېنځګړیتوب ومنوو) او که د رسول الله مبارک سنتو ته تسلیمېدل وي نو مونږ یې (منلوته) تر نورو زیات وړ یوو. خو ستاسو دا خبره چې ولې دې د ځان او د هغوي په مینځ کښې د فېصلې او مینځګړیتوب لپاره وخت وټاکهٔ؟ (او مهلت دې ورکړ)، نو ما دا کار ځکه وکړ چې ناپوهه او غافلان په خپلې خطا پوه شي او خبر او پوهه کسان ثابت قدمه پاتې شي او د دې لپاره چې کېدې شي د صلحې او پخولاینې په دغه مهلت کښې خداے د امت چارې سمې کړي او د خېړنې او پېژندنې لاره خلاصه وي چې ګوندې خلق د حق په لټون کښې وارخطا نهٔ شي او په هماغه وړومبي پړاو کښې بې لارې نهٔ شي. بې له شکه د خداے پاک په نزد تر ټولو لوړ انسان هغه دے چې په حق عمل یې په باطل باندې تر عمله خوښ وي. که څه هم قدر یې کم کړي او تاوان ورورسوي. نو اے خلقو! ولې سرګردانه او لالهانده یئ او له چرته نه دلته راوستل شوي یئ؟ تیار شئ چې د شامیانو په لور وخوځېږوو چې له حقه اوړېدلي، او په حق باندې یې سترګې پټې کړې دي، باطل ته یې مخه کړې او د عدل او انصاف لارې ته نهٔ راځي. افسوس اے کوفیانو! تاسو د باور سړي نهٔ یئ او نهٔ داسې پیاوړي ملهٔ چې بنیادم یې لمنه راټینګه کړي! تاسو د جنګ د اور د بلولو ډېرې بدې وسیلې یئ. خداے دې درسره پوه شي (افسوس په تاسو) تاسو څومره وځورولم، زهٔ تاسو یوه ورځ په جار جنګ ته رابولم نو په بله ورځ مو غلي رابولم، نهٔ په جار د بلنې په وخت ننګیالي مېړني یئ او نه د رازدارۍ لپاره ډاډمن وروڼه.

## ﴿ یو سل شپږویشتمه خطبه ﴾

(امام ته وویل شول چې خلق خو د پېسې بندګان دي معاویه پرېمانه ډالۍ او پېسې ورکوي او خلق ځانته جذبوي، تاسو قرېشو مخورانو او مخ کښانو ته د عوامو له ماله یوڅه ورکړئ او د بیت المال مساوي وېش پرېږدئ چې خلق درته درمات شي[83] یا دا چې د نورو حکومتونو په شان په مساوات سره د بیت المال تقسیم پرېږده او په وېش کښې له تبعیض او امتیازي سلوک څخه کار اخله. امام ورته په ځواب کښې وفرمایل)

تاسو ما ته د دې حکم راکوئ چې د برې لپاره په اسلامي امت چې زهٔ یې ولي او سرپرست یم ظلم وکړم؟ په خداے قسم ترڅو چې د ژوند څرخه تاوېږي، شپې سبا کېږي او ستوري خېژي کوزېږي هیڅکله به دا کار ونهٔ کړم! که دا مال مې خپل وي بیا به مې هم برابر تقسیموهٔ نودا خو لا د خداے مال دے! خبر اوسئ! هغه کسانو ته مال ورکول چې ور یې نهٔ دي اسراف او فضول خرچي ده. کېدې شي په دې دنیا کښې د ورکوونکي مقام لوړ کړي خو په آخرت کښې یې ټیټوي، کېدې شي په خلقو کښې یې عزتمن کړي خو د خداے پاک په نزد یې ذلیلوي. او کله چې بنیادم یو مال په هغه لاره کښې چې خداے پاک یې اجازه نهٔ ده ورکړې اولګوي یا یې په نا اهلو خرچ کړي نو خداے پاک یې د هغوي له مننې هم بې برخې

شُكْرَهُمْ وَكَانَ لِغَيْرِهِ وُدُّهُمْ، فَإِنْ زَلَّتْ بِهِ النَّعْلُ يَوْماً فَاحْتَاجَ إِلَى مَعُونَتِهِمْ فَشَرُّ خَلِيلٍ وَأَلْأَمُ خَدِينٍ!

[ ۱۲۷ ]

وَمِنْ كَلَامٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ لِلْخَوَارِجِ أَيْضاً

فَإِنْ أَبَيْتُمْ إِلاَّ أَنْ تَزْعُمُوا أَنِّي أَخْطَأْتُ وَضَلَلْتُ، فَلِمَ تُضَلِّلُونَ عَامَّةَ أُمَّةِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ بِضَلَالِي، وَتَأْخُذُونَهُمْ بِخَطَئِي، وَتُكَفِّرُونَهُمْ بِذُنُوبِي! سُيُوفُكُمْ عَلَى عَوَاتِقِكُمْ تَضَعُونَهَا مَوَاضِعَ الْبَرَاءَةِ وَالسُّقْمِ، وَتَخْلِطُونَ مَنْ أَذْنَبَ بِمَنْ لَمْ يُذْنِبْ. وَقَدْ عَلِمْتُمْ أَنَّ رَسُولَ اللهِ (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ) رَجَمَ الزَّانِيَ [الْمُحْصَنَ] ثُمَّ صَلَّى عَلَيْهِ ثُمَّ وَرَّثَهُ أَهْلَهُ، وَقَتَلَ الْقَاتِلَ وَوَرَّثَ مِيرَاثَهُ أَهْلَهُ، وَقَطَعَ السَّارِقَ وَجَلَدَ الزَّانِيَ غَيْرَ الْمُحْصَنِ ثُمَّ قَسَمَ عَلَيْهِمَا مِنَ الْفَيْءِ وَنَكَحَا الْمُسْلِمَاتِ؛ فَأَخَذَهُمْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ بِذُنُوبِهِمْ، وَأَقَامَ حَقَّ اللهِ فِيهِمْ، وَلَمْ يَمْنَعْهُمْ سَهْمَهُمْ مِنَ الْإِسْلَامِ، وَلَمْ يُخْرِجْ أَسْمَاءَهُمْ مِنْ بَيْنِ أَهْلِهِ. ثُمَّ أَنْتُمْ شِرَارُ النَّاسِ، وَمَنْ رَمَى بِهِ الشَّيْطَانُ مَرَامِيَهُ، وَضَرَبَ بِهِ تِيهَهُ! وَسَيَهْلِكُ فِيَّ صِنْفَانِ: مُحِبٌّ مُفْرِطٌ يَذْهَبُ بِهِ الْحُبُّ إِلَى غَيْرِ الْحَقِّ، وَمُبْغِضٌ مُفْرِطٌ يَذْهَبُ بِهِ الْبُغْضُ إِلَى غَيْرِ الْحَقِّ، وَخَيْرُ النَّاسِ فِيَّ حَالاً النَّمَطُ الْأَوْسَطُ فَالْزَمُوهُ، وَالْزَمُوا السَّوَادَ الْأَعْظَمَ فَإِنَّ يَدَ اللهِ مَعَ الْجَمَاعَةِ، وَإِيَّاكُمْ وَالْفُرْقَةَ! فَإِنَّ الشَّاذَّ مِنَ النَّاسِ لِلشَّيْطَانِ، كَمَا أَنَّ الشَّاذَّةَ مِنَ الْغَنَمِ لِلذِّئْبِ. أَلَا مَنْ دَعَا إِلَى هَذَا الشِّعَارِ فَاقْتُلُوهُ، وَلَوْ كَانَ تَحْتَ عِمَامَتِي هَذِهِ، فَإِنَّمَا حُكِّمَ الْحَكَمَانِ لِيُحْيِيَا مَا أَحْيَا الْقُرْآنُ، وَيُمِيتَا مَا أَمَاتَ الْقُرْآنُ، وَإِحْيَاؤُهُ الْاِجْتِمَاعُ عَلَيْهِ، وَإِمَاتَتُهُ الْاِفْتِرَاقُ عَنْهُ، فَإِنْ جَرَّنَا

کوي او که يوه ورځ يې پښې وښوئيږي او د هغوي مرستې ته اړمن شي نو دغه کسان به يې تر ټولو سپک او بد دوستان وي (يعنې هيڅ مرسته به يې ونهٔ کړي)

## ﴿يو سل او يشتمه خطبه﴾

(د هجرت په اوهٔ دېرشم کال د نهروان له جنګه مخکې يې د خوارجو د عقيدو په رد کښې دا وېنا وکړه، د خوارجو عقيده دا وه چې که څوک ګناه کبيره وکړي نو کافر او له اسلامه وتلے دے، مګر دا چې توبه وکړي او بيا مسلمان شي)

### د خوارجو د ګمراهۍ افشا

که تاسو داسې ګمان کوئ چې زهٔ ګناهکار او خطاکار يم او بې لارې شوے يم نو ولې د حضرت محمدﷺ ټول امت زما په ګمراهۍ ګمراه ګڼئ؟ او زما په خطا هغوي نيسئ؟ او زما په ګناه هغوي کافر ګڼئ؟ توري مو په اوږو اېښې دي او چرته مو چې زړهٔ غواړي رابغوئ يې ګناهګار او بې ګناه مو سره ګډ کړي دي (او يو شان يې ګڼئ)، حال دا چې تاسو ته پته ده چې رسول الله مبارکﷺ وادهٔ لرونکے زنا کار سنګسار کړ، بيا يې پرې د جنازې نمونځ وکړ او د هغهٔ ميراث يې د هغهٔ وارثانو ته ورکړ، يا به يې يو قاتل (په قصاص کښې) وواژهٔ او ميراث به يې د هغهٔ اهل ته په وراثت کښې ورکوهٔ، د غل لاس يې پرې کوهٔ، لونډ (بې وادهٔ) زناکار يې په متروکو (کوړو) واههٔ، او په غنيمت کښې به يې برخه هم ورکوله چې له مسلمانو ښځوسره وادهٔ وکړي، نو پېغمبرﷺ هغوي ته د ګناهونو سزا ورکوله او الهي حدود يې پرې جاري کول خو د هغوي اسلامي برخه يې نهٔ ختموله، او نوم يې د مسلمانانو له کاتې نهٔ وېستهٔ،(نود لويو ګناهونو په وجه څوک نهٔ کافر کيږي) تاسو «خوارج» تر ټولو بد او شرير انسانان او د شېطان د لاس آلې او د خلقو بې لارې کوونکې يئ. او ډېر زر به زما په حقله دوه ډوله کسان هلاک او ګمراه شي: يو هغه دوستان چې په مينه کښې مې افراط وکړي او مينه يې ناحق ته راکاږي[۸۴] او بل هغه بغض او کينه کوونکي چې له ما سره په بغض او کينه کښې افراط وکړي او د باطل لاره خپله کړي. [۸۵] او زما په حقله تر ټولو ښه خلق هغه دي چې د مېنځ لاره اونيسي، له دوي مه جدا کېږئ او له سواد اعظم (د مسلمانانوله لوے جماعت) سره اوسئ، ځکه چې د خداے مرسته (لاس) له جماعت سره ده. له تيتوالي او بې اتفاقۍ ډډه وکړئ ځکه چې يواځې انسان د شېطان ښکار کيږي لکه څرنګه چې له رمې نه جدا شوې ګډه د لېوهٔ ښکار کيږي. خبر اوسئ! څوک چې خلق دغه شعار[۸۶] (جدايي او تفرقې) ته بلي هغه وژنئ که هغه زما تر عمامې لاندې هم وي. که هغه دوه کسان «ابوموسي اشعري او عمروعاص» حکمېن (مېنځګړي) شوي وو نو يواځې د دې لپاره چې هغه څه چې قرآن ژوندي کړي ژوندي کړي اوڅه چې قرآن مړهٔ کړي مړهٔ کړي. د قرآن د ژوندي کولو مطلب دا دے چې يوبل ته لاسونه ورکړي او په قرآن باندې عمل وکړي او د مړ کولو مطلب يې جدائي او بېلتون دے. نوکه قرآن

الْقُرْآنُ إِلَيْهِمُ اتَّبَعْنَاهُمْ، وَإِنْ جَرَّهُمْ إِلَيْنَا اتَّبَعُونَا. فَلَمْ آتِ - لاَ أَبَا لَكُمْ - بُجْراً، وَلاَ خَتَلْتُكُمْ عَنْ أَمْرِكُمْ، وَلاَ لَبَّسْتُهُ عَلَيْكُمْ، إِنَّمَا اجْتَمَعَ رَأْيُ مَلَئِكُمْ عَلَى اخْتِيَارِ رَجُلَيْنِ، أَخَذْنَا عَلَيْهِمَا أَلاَّ يَتَعَدَّيَا الْقُرْآنَ، فَتَاهَا عَنْهُ، وَتَرَكَا الْحَقَّ وَهُمَا يُبْصِرَانِهِ، وَكَانَ الْجَوْرُ هَوَاهُمَا فَمَضَيَا عَلَيْهِ، وَقَدْ سَبَقَ اسْتِثْنَاؤُنَا عَلَيْهِمَا - فِي الْحُكُومَةِ بِالْعَدْلِ، وَالصَّمْدِ لِلْحَقِّ - سُوءَ رَأْيِهِمَا، وَجَوْرَ حُكْمِهِمَا.

## [ ١٢٨ ]

وَهُوَ مِمَّا كَانَ يُخْبِرُ بِهِ عَنِ الْمَلاَحِمِ بِالْبَصْرَةِ

يَا أَحْنَفُ، كَأَنِّي بِهِ وَقَدْ سَارَ بِالْجَيْشِ الَّذِي لاَ يَكُونُ لَهُ غُبَارٌ وَلاَ لَجَبٌ، وَلاَ قَعْقَعَةُ لُجُمٍ، وَلاَ حَمْحَمَةُ خَيْلٍ، يُثِيرُونَ الاَرْضَ بِأَقْدَامِهِمْ كَأَنَّهَا أَقْدَامُ النَّعَامِ. يُومِىءُ بِذلِكَ إِلَى صَاحِبِ الزَّنْجِ.

ثُمَّ قَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ: وَيْلٌ لِسِكَكِكُمُ الْعَامِرَةِ وَدُورِكُمُ الْمُزَخْرَفَةِ الَّتِي لَهَا أَجْنِحَةٌ كَأَجْنِحَةِ النُّسُورِ، وَخَرَاطِيمُ كَخَرَاطِيمِ الْفِيَلَةِ، مِنْ أُولئِكَ الَّذِينَ لاَ يُنْدَبُ قَتِيلُهُمْ، وَلاَ يُفْقَدُ غَائِبُهُمْ. أَنَا كَابُّ الدُّنْيَا لِوَجْهِهَا، وَ قَادِرُهَا بِقَدْرِهَا، وَنَاظِرُهَا بِعَيْنِهَا.

مِنْهُ يُومِئُ بِهِ إِلَى وَصْفِ الأَتْرَاكِ

كَأَنِّي أَرَاهُمْ قَوْماً كَأَنَّ وُجُوهَهُمُ الْمَجَانُّ الْمُطَرَّقَةُ، يَلْبَسُونَ السَّرَقَ وَالدِّيبَاجَ، وَيَعْتَقِبُونَ الْخَيْلَ الْعِتَاقَ، وَيَكُونُ هُنَاكَ اسْتِحْرَارُ قَتْلٍ،حَتَّى يَمْشِيَ الْمَجْرُوحُ عَلَى الْمَقْتُولِ، وَيَكُونَ الْمُفْلِتُ أَقَلَّ مِنَ الْمَأْسُورِ!

فَقَالَ لَهُ بَعْضُ أَصْحَابِهِ: لَقَدْ أُعْطِيتَ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ عِلْمَ الْغَيْبِ! فَضَحِكَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ وَقَالَ لِلرَّجُلِ - وَكَانَ كَلْبِيّاً -: يَا أَخَا كَلْبٍ، لَيْسَ هُوَ بِعِلْمِ غَيْبٍ، وَإِنَّمَا هُوَ تَعَلُّمٌ مِنْ ذِي عِلْمٍ، وَإِنَّمَا عِلْمُ الْغَيْبِ عِلْمُ السَّاعَةِ، وَمَا عَدَّدَهُ اللهُ سُبْحَانَهُ بِقَوْلِهِ: ﴿إِنَّ اللّهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْأَرْحَامِ وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ مَاذَا تَكْسِبُ غَداً وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ بِأَيِّ أَرْضٍ تَمُوتُ إِنَّ اللّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ﴾ فَيَعْلَمُ سُبْحَانَهُ مَا فِي الاَرْحَامِ مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى، وَقَبِيحٍ أَوْ جَمِيلٍ، وَسَخِيٍّ أَوْ بَخِيلٍ، وَشَقِيٍّ أَوْ سَعِيدٍ، وَمَنْ يَكُونُ فِي

مونږ هغوي ته كش كړو مونږ به د هغوي پېروي وكړوو او كه هغوي يې مونږ ته راكاږل بايد زمونږ اطاعت وكړي. نو اے بې پلارو! په دې كښې خو ما له تاسو سره څه بد نۀ دي كړي، نۀ مې تاسو غولولې يئ او نۀ مې په تاسو باندې څه خبره مشتبه او پټه ساتلې ده. بلكه هم په تاسو كښې په دې راې قرار وشو چې دوه كسان دې حكمېن او مينځګړي كړې شي، مونږ هم په هغوي شرط كښېنودۀ چې له قرآنه به نه تېرېږي خو افسوس چې هغوي له قرآنه تېر شول او حق يې پرېښودۀ.حال دا چې ښۀ په بقو بقو يې كتل،دا ځكه چې د هغوي خوښه ظلم ؤ او ظلم يې وكړ مونږ د هغوي له ظالمانه فېصلې مخكې شرط وراښېے ؤ چې په انصاف به فېصله كوي او په حقه به حكم كوي خوهغوي په دې پابند پاتې نۀ شول.

## ﴿ يو سل اتويشتمه خطبه ﴾

‹دا وينا د هجرت په شپږ دېرشم كال د جمل له جنګه وروسته په بصره كښې د راتلونكو سختو حالاتو د بيان لپاره وكړې شوه›

اے احنفه[٨٧]! تۀ به وائې زۀ هغه سړے وينم چې له يو داسې لښكر سره راروان دے چې نۀ دوړې بادوي او نۀ يې غږونه پورته كېږي، نۀ د واګوكړنګا او نۀ د اسونو شنهار، او د شتر مرغ په پلونو راروان وي. نو افسوس دې وي د بصرې په آبادو كوڅو او ودانو كورونو چې د مردار خورو د وزرو په شان چجې او د هتيانو د خرټمونو په شان پرنالې لري! افسوس دې وي د بصرې په خلقو باندې چې په مړيو يې څوک ژاړي نه او د وركو يې څوک لټون نۀ كوي.ما دنيا پړ مخې راوپرځوله او پوزه مې ورته په خاورو ومږله او دومره حيثيت مې وركړ څومره يې چې حق ؤ او په هغو سترګو مې وروكتل چې وړ يې وه.

تۀ به وائې زۀ هغوي وينم په داسې مخونو سره لګه ډال چې چا په څټک ټكولے وي، د ورېښمو او ديباجو جامې اغوندي او اصيل اسونه لري او دومره وژله به وكړي او وينه به وبهيوي چې ټپيان او زخميان به د مړيو په تنو تېرېږي او د تښتېدونكو شمېر به تر بندي كېدونكو زيات وي.

‹يو صحابي ووېل: اے اميرالمومنين! آيا تۀ علم غېب لرې؟ امام وخندل او هغه كس ته يې چې د بني كلب له كهوله ؤ وفرمايل:›

اے كلبي وروره! دا خبرونه چې دراوروم يې، د غېبوعلم نۀ دے، دا هغه خبرې دي چې د علم غېب له لرونكي«رسول الله مبارکﷺ» څخه مې زده كړې دي بې له شكه د غېبو علم د قيامت علم او د هغه څه علم دے چې خداے پاک يې په خپل كتاب كښې يادونه كړې ده «د غېبوعلم له خداے پاک سره دے او د بارانونو ورونكے هم هغه ذات دے او له هغه څه خبر دے چې د مېندو په خېټو كښې دي او هيچا ته پته نشته چې سبا به څه كېږي او چرته به مړكېږي» نو پاک خداے له هغه څه چې د مېندو په رحمونو كښې دي، ښۀ خبر دے چې هغه نر دے كه ښځه، ښكلے دے كه بدرنګ،شوم دے كه سخي، نېكمرغه دے كه شقي، او له

النَّار حطَباً، أَوْ في الْجِنَانِ للنَّبِيِّين مُرَافقاً؛ فَهذَا عَلْمُ الْغَيْبِ الَّذي لاَ يَعْلَمُهُ أَحدٌ إلاَّ اللهُ، وما سوى ذلكَ فعِلْمٌ عَلَّمَهُ اللهُ نَبِيَّهُ (صَلَّى اللهُ عَلَيْه وآله) فعَلَّمَنيه، ودَعَا لي بأَنْ يعِيَهُ صَدْري، وتَضْطَمَّ عَلَيْه جوانِحي.

[ ١٢٩ ]

في ذِكْرِ الْمَكَاييلِ وَالْمَوازين

عبادَ الله، إنَّكُمْ ـ ومَا تَأْمُلُونَ منْ هذه الدُّنْيَا ـ أَثْوِيَاءُ مُؤَجَّلُون، ومَدِينُونَ مُقْتَضَوْنَ: أَجَلٌ مَنْقُوصٌ، وَعمَلٌ مَحْفُوظٌ، فَرُبَّ دَائِبٍ مُضَيَّعٌ، وَرُبَّ كَادحٍ خَاسرٌ. قَدْ أَصْبَحْتُمْ في زَمَنٍ لاَ يَزْدَادُ الْخَيْرُ فيه إلاَّ إدْبَاراً، وَالشَّرُّ إلاَّ إقْبَالاً، وَالشَّيْطَانُ في هَلاَك النَّاس إلاَّ طَمَعاً، فهذا أَوانٌ قَوِيَتْ عُدَّتُهُ، وعَمَّتْ مَكِيدَتُهُ، وأَمْكَنَتْ فَرِيسَتُهُ. اضْرِبْ بِطَرْفِكَ حَيْثُ شِئْتَ منَ النَّاس، فَهَلْ تُبْصِرُ إلاَّ فَقيراً يُكَابِدُ فَقْراً، أَوْ غَنيّاً بَدَّلَ نِعْمَةَ الله كُفْراً، أَوْ بَخِيلاً اتَّخَذَ الْبُخْلَ بحَقِّ الله وَفْراً، أَوْ مُتَمَرِّداً كَأَنَّ بِأُذُنه عَنْ سَمْعِ الْمَوَاعظ وَقْراً! أَيْنَ خيَارُكُمْ وَصُلَحاؤُكُمْ؟! وَأَيْنَ أَحْرَارُكُمْ وسُمَحَاؤُكُمْ؟! وَأَيْنَ الْمُتَوَرِّعُونَ في مَكَاسِبِهِمْ، والْمُتَنَزِّهُونَ فِي مَذَاهِبِهِمْ؟! أَلَيْس قَدْ ظَعَنُوا جَمِيعاً عَنْ هذه الدُّنْيَا الدَّنِيَّة، وَالْعَاجِلَة الْمُنَغِّصَة، وَهَلْ خُلِّفْتُمْ إلاَّ فِي حُثَالَة لاَ تَلْتَقي بِذَمِّهِمُ الشَّفَتَان، اسْتِصْغَاراً لقَدْرِهِمْ، وذَهَاباً عَنْ ذِكْرِهِمْ؟! فَـ إنَّا لله وإنَّا إلَيْه رَاجعُونَ. ظَهَرَ الْفَسَادُ فَلاَ مُنْكِرٌ مُغَيِّرٌ، ولاَ زَاجرٌ مُزْدَجِرٌ. أَفَبِهذَا تُرِيدُونَ أَنْ تُجَاوِرُوا اللهَ في دَارِ قُدْسه، وَتَكُونُوا أَعَزَّ أَوْلِيَائِه عِنْدَهُ؟ هَيْهَاتَ! لاَ يُخْدَعُ اللهُ عَنْ جَنَّتِه، ولاَ تُنَالُ مَرْضَاتُهُ إلاَّ بِطَاعَته. لَعَنَ اللهُ الآمِرينَ بِالْمَعْرُوف التَّارِكينَ لَهُ، وَالنَّاهِينَ عَنِ الْمُنْكَرِ الْعَامِلينَ بِه!

دې هم خبر دے چې څوک به د دوزخ سونګ (خشاک) وي او څوک به په جنت کښې د پېغمبرانو علیهم السلام همنشين، دا هغه د غېبو(ذاتي) علم دے چې بې له خدايه ترې هيڅوک نۀ دي خبر او نور داسې علمونه شته دي چې خدا ے پاک خپل پاک حبيب صلی الله علیه وآله ته ښودلي دي (د غېبواکتسابي علم) او هغه حضرت ماته ښودلي دي. پېغمبر اکرم صلی الله علیه وآله ماته دعا وکړه چې دا علمونه مې په سينه کښې خوندي شي او زما زړۀ او غړي په هغه خړوب کړي.

**﴿ يو سل نهويشتمه خطبه ﴾**

(په دې خطبه کښې امام د ناپ تول په حقله خبرې کړې دي او له دې امله چې سيد رضي د وېنا ځينې برخه راوړې ده نو د مقياس تول بحثونه پکې نۀ دي راغلي)

**د مسلمانو مسخ شوې ټولنه**

اے د خدا ے بندګانو! تاسو او څه چې له دې دنيا هيله لرئ ټول د ټاکلې وخت مېلمانه دي، تاسو داسې پوروړي يئ چې لنډولو ته بې کم وخت پاتے دے، ستاسو ټول عملونه خوندي کېږي. څومره ډېر زيار وېستونکي شته چې زيار يې مېوه ونۀ کړه او څومره ډېر داسې زحمت کښه شته دي چې تاوان يې وکړ. تاسو په داسې زمانه کښې ژوند کوئ چې ښېګړو ورته شا کړې ده او تېرېږي. او بديو ورمخه کړې ده او رامخکې کېږي. او د خلقو په تباهۍ کښې د شېطان طمعه ورځ په ورځ زياتېږي. نن سبا د شېطان وزرې پياوړې شوې او سازش يې عام شوے دے او ښکار ورته آسان دے. هر لورې ته چې دې زړۀ غواړي وګوره، آيا بل څه وينې بې له هغه فقيره چې بېوزلۍ راخېستے دے او بې له هغه شتمنه چې د خدا ے د نعمتونو کفران کوي او بې له هغه بخيله چې د الهي حقوقو په اداکولو کې يې د شومۍ په کارولو سره ډېرې پېسې جمع کړې دي. يا بې له هغه سرکښه چې غوږونه يې د نصيحت له اورېدو کاڼۀ دي. چرته دي هغه نېک او صالحه بندګان؟ چرته لاړل پتيالان او سخيان؟ کوم دي هغه کسان چې په کار او کسب کښې يې تقوا کوله او د مسلمانۍ په لاره کښې پاکان وو؟ آيا هغوي ټولو کډه ونۀ کړه او لانۀ ړل، او له دې سپکې، تېرېدونکې او ترخې دنيا تېر نۀ شول؟ ولې داسې نۀ ده چې تاسو اوس د هغوي ميراث خوارۀ يئ او په داسې بې ارزښته خيزونو کښې پاتې يئ چې ژبه خوځې نو غندنه يې کوي؟ چې سپک يې وګڼي او د هميشه لپاره يې هېرکړي. نو «انا لله و انا اليه راجعون» فساد دومره خپور شوے دے چې نۀ يې څوک بدلوونکي پاتې او نۀ له ګناه او معصيته غړوونکي. نو تاسو په داسې حالاتو کښې د خدا ے د سپېڅلي در په خوا کښې پاتې کېدل او د هغۀ غوره دوستان جوړېدل غواړئ؟ هيڅوک خدا ے پاک د جنت په مسّله کښې نۀ شي غولولے او بې له عبادته د هغۀ رضايت لاسته نۀ شي راتللې. د خدا ے پاک لعنت دې وي په هغو کسانو چې د ښو چارو امر کوي خو په خپله يې نۀ کوي او له بدو کارونو منع کوي خو په خپله بدې چارې کوي.

[ ۱۳۰ ]

وَمِنْ كَلاَمٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ
قَالَهُ لأَبِي ذَرٍّ رَحِمَهُ اللهُ لَمَّا أُخْرِجَ إِلَى الرَّبَذَةِ

يَاأَبَا ذَرٍّ، إِنَّكَ غَضِبْتَ للهِ، فَارْجُ مَنْ غَضِبْتَ لَهُ، إِنَّ الْقَوْمَ خَافُوكَ عَلَى دُنْيَاهُمْ، وَخِفْتَهُمْ عَلَى دِينِكَ، فَاتْرُكْ فِي أَيْدِيهِمْ مَا خَافُوكَ عَلَيْهِ، وَاهْرُبْ مِنْهُمْ بِمَا خِفْتَهُمْ عَلَيْهِ؛ فَمَا أَحْوَجَهُمْ إِلَى مَا مَنَعْتَهُمْ، وَأَغْنَاكَ عَمَّا مَنَعُوكَ! وَسَتَعْلَمُ مَنِ الرَّابِحُ غَداً، وَالأَكْثَرُ حُسَّداً. وَلَوْ أَنَّ السَّمَاوَاتِ وَالأَرَضِينَ كَانَتَا عَلَى عَبْدٍ رَتْقاً، ثُمَّ اتَّقَى اللهَ، لَجَعَلَ اللهُ لَهُ مِنْهُمَا مَخْرَجاً! لاَ يُؤْنِسَنَّكَ إِلاَّ الْحَقُّ، وَلاَ يُوحِشَنَّكَ إِلاَّ الْبَاطِلُ، فَلَوْ قَبِلْتَ دُنْيَاهُمْ لأَحَبُّوكَ، وَلَوْ قَرَضْتَ مِنْهَا لأَمَّنُوكَ.

[ ۱۳۱ ]

وَفِيهِ يُبَيِّنُ سَبَبَ طَلَبِهِ الْحُكْمَ وَيَصِفُ الإِمَامَ الْحَقَّ

أَيَّتُهَا النُّفُوسُ الْمُخْتَلِفَةُ، وَالْقُلُوبُ الْمُتَشَتِّتَةُ، الشَّاهِدَةُ أَبْدَانُهُمْ، وَالْغَائِبَةُ عَنْهُمْ عُقُولُهُمْ، أَظْأَرُكُمْ عَلَى الْحَقِّ وَأَنْتُمْ تَنْفِرُونَ عَنْهُ نُفُورَ الْمِعْزَى مِنْ وَعْوَعَةِ الأَسَدِ! هَيْهَاتَ أَنْ أَطْلَعَ بِكُمْ سِرَارَ الْعَدْلِ، أَوْ أُقِيمَ اعْوِجَاجَ الْحَقِّ.

اللَّهُمَّ إِنَّكَ تَعْلَمُ أَنَّهُ لَمْ يَكُنِ الَّذِي كَانَ مِنَّا مُنَافَسَةً فِي سُلْطَانٍ، وَلاَ الْتِمَاسَ شَيءٍ مِنْ فُضُولِ الْحُطَامِ، وَلكِنْ لِنَرِدَ الْمَعَالِمَ مِنْ دِينِكَ، وَنُظْهِرَ الإِصْلاَحَ فِي بِلاَدِكَ، فَيَأْمَنَ الْمَظْلُومُونَ مِنْ عِبَادِكَ، وَتُقَامَ الْمُعَطَّلَةُ مِنْ حُدُودِكَ.

اللَّهُمَّ إِنِّي أَوَّلُ مَنْ أَنَابَ، وَسَمِعَ وَأَجَابَ، لَمْ يَسْبِقْنِي إِلاَّ

## ﴿ يوسل دېرشمه خطبه ﴾

(د هجرت په دېرشم کال کله چې دريم خليفه، جليل القدر صحابي حضرت ابوذر د ربذه اوچې دښتې ته جلاوطن کړ نو امر يې وکړ چې هيڅوک حق نهٔ لري چې هغه بدرګه کړي، امامؑ او بچيانو يې د دغه امر پروا ونهٔ کړه او ابوذر يې بدرګه کړ او په دغه وخت يې وفرمايل:)

### له ظالمانو سره په مقابله کښې خداے ګروهنه

اے ابوذره! تهٔ د خداے پاک لپاره غصه شوے يې نو هغه چاته هيله مند اوسه چې د هغهٔ په خاطر غصه شوے يې، دا خلق په خپلې دنيا باندې له تا ويرېدل او تهٔ په خپل دين باندې له هغوي ويرېدې، نو هغه دنيا چې په خاطر يې له تا ويرېدل هغوي ته پرېږده او له خپل دين سره چې تهٔ يې لپاره له هغوي ويرېدې له دغوخلقو لاړ شه، دا دنيا پرسته څومره محتاجه دي هغه څه ته چې تا ورځينې منع کړې دي او تهٔ له هغه څه ډېر بې نيازه يې چې تهٔ يې ورځينې منع کړے يې، او ډېر زر به پوه شې چې د سبا ګټه چا کړې ده او له چا سره ډېر حسد کېږي؟ که ځمکه او آسمان په يو بنده خپل ورونه وتړي خو هغه له خدايه ويرېږي (تقوا ولري)، خداے تعالی به د ځمکې او آسمان له مېنځه يو ور ورخلاص کړي ګوره چې يواځې له حق سره مينه کوه او يواځې له باطله ويرېږه،که تا د دغو خلکو[۸۸] دنيا منلې وې له تاسره به يې مينه کوله، او که څه دې ترې اخېستې وي نوستا له پلوه به ډاډه شوي وو.

## ﴿ يوسل يو دېرشمه خطبه ﴾

(دا خطبه په کوفه کښې ورکړې شوې ده او په منبريه خطبه مشهوره ده چې پکښې د حکومت د منلو لاملونه او د يو عادل لارښود او رهبر صفتونه بيان شوي دي.)

اے رنګارنګوخلقو! اے د پرېشانه زړونو خاوندانو چې بدنونه مو حاضر او عقلونه موغائب دي زهٔ تاسو په مينه حق ته رابلم خو تاسو داسې تښتئ لکه بزه چې د زمري له غرمبيدو تښتي! افسوس چې ستاسو په مرسته څرنګه له عدل او انصافه تيرې تورلې شم او د حق په لاره کښې پېدا شوي کوږوالي سيخولې شم.

اے خدايه! تهٔ خبر يې چې زمونږ جنګ د اقتدار، حکومت او د دنيا او شتمنۍ د لاسته راوړلو لپاره نهٔ وُ بلکه غوښتل مو چې د دين نښې نښانې په خپل ځاے کړو او ستا په ښارونو کښې اصلاح وکړو چې ظلم ځپلي بندګان دې په امن کښې ژوند وکړي او ستا هېرکړې شوي قوانين دوباره پلې شي.

### د اسلامي مشر شرائط

اے خدايه! زهٔ ورومبنے کس وم چې تا ته مې مخه کړه، ستا بلنه مې واورېده او ومې منله، ستا په بندګۍ او نمانځهٔ کښې بې له رسول الله مبارکهﷺ هيڅوک له ما مخکې نه شول. تاسو ټول ښهٔ پوهېږئ چې له شوم کس سره نهٔ ښائي چې د مسلمانانو د ځان، مال، ناموس، ولجو او

رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ بِالصَّلاَةِ. وَقَدْ عَلِمْتُمْ أَنَّهُ لاَ يَنْبَغِي أَنْ يَكُونَ عَلَى الْفُرُوجِ وَالدِّمَاءِ وَالمَغَانِمِ وَالاَحْكَامِ وَإِمَامَةِ الْمُسْلِمِينَ الْبَخِيلُ، فَتَكُونَ فِي أَمْوَالِهِمْ نَهْمَتُهُ، وَلاَ الْجَاهِلُ فَيُضِلَّهُمْ بِجَهْلِهِ، وَلاَ الْجَافِي فَيَقْطَعَهُمْ بِجَفَائِهِ، وَلاَ الْجَائِفُ لِلدُّوَلِ فَيَتَّخِذَ قَوْماً دُونَ قَوْمٍ، وَلاَالْمُرْتَشِي فِي الْحُكْمِ فَيَذْهَبَ بِالْحُقُوقِ وَيَقِفَ بِهَا دُونَ المَقَاطِعِ، وَلاَ الْمُعَطِّلُ لِلسُّنَّةِ فَيُهْلِكَ الاُمَّةَ.

[ ١٣٢ ]

حَمْدُ الله

نَحْمَدُهُ عَلَى مَا أَخَذَ وَأَعْطَى، وَعَلَى مَا أَبْلَى وَابْتَلَى، الْبَاطِنُ لِكُلِّ خَفِيَّةٍ، الْحَاضِرُ لِكُلِّ سَرِيرَةٍ، العَالِمُ بِمَا تُكِنُّ الصُّدُورُ، وَمَا تَخُونُ الْعُيُونُ. وَنَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلهَ غَيْرُهُ، وَأَنَّ مُحَمَّداً نَجِيبُهُ وَبَعِيثُهُ، شَهَادَةً يُوَافِقُ فِيهَا السِّرُّ الاعْلاَنَ، وَالْقَلْبُ اللِّسَانَ.

مِنْهَا: فَإِنَّهُ وَاللهِ الْجِدُّ لاَ اللَّعِبُ، وَالْحَقُّ لاَ الْكَذِبُ، وَمَا هُوَ إِلاَّ الْمَوْتُ أَسْمَعَ دَاعِيهِ، وَأَعْجَلَ حَادِيهِ، فَلا يَغُرَّنَّكَ سَوَادُ النَّاسِ مِنْ نَفْسِكَ، فَقَدْ رَأَيْتَ مَنْ كَانَ قَبْلَكَ مِمَّنْ جَمَعَ الْمَالَ وَحَذِرَ الاقْلاَلَ، وَأَمِنَ الْعَوَاقِبَ ـ طُولَ أَمَلٍ وَاسْتِبْعَادَ أَجَلٍ ـ كَيْفَ نَزَلَ بِهِ الْمَوْتُ فَأَزْعَجَهُ عَنْ وَطَنِهِ، وَأَخَذَهُ مِنْ مَأْمَنِهِ، مَحْمُولاً عَلَى أَعْوَادِ الْمَنَايَا يَتَعَاطَى بِهِ الرِّجَالُ الرِّجَالَ، حَمْلاً عَلَى الْمَنَاكِبِ وَإِمْسَاكاً بِالاَنَامِلِ. أَمَا رَأَيْتُمُ الَّذِينَ يَأْمُلُونَ بَعِيداً، وَيَبْنُونَ مَشِيداً، وَيَجْمَعُونَ كَثِيراً! أَصْبَحَتْ بُيُوتُهُمْ قُبُوراً، وَمَا جَمَعُوا بُوراً، وَصَارَتْ أَمْوَالُهُمْ لِلْوَارِثِينَ، وَأَزْوَاجُهُمْ لِقَوْمٍ آخَرِينَ، لاَ فِي حَسَنَةٍ يَزِيدُونَ، وَلاَ مِنْ سَيِّئَةٍ يَسْتَعْتِبُونَ! فَمَنْ أَشْعَرَ التَّقْوَى قَلْبَهُ بَرَّزَ مَهَلُهُ، وَفَازَ عَمَلُهُ. فَاهْتَبِلُوا هَبَلَهَا، وَاعْمَلُوا لِلْجَنَّةِ عَمَلَهَا، فَإِنَّ الدُّنْيَا لَمْ تُخْلَقْ لَكُمْ دَارَ مُقَامٍ، بَلْ خُلِقَتْ لَكُمْ

احکامو مشري وکړي او د مسلمانانو امامت په غاړه واخلي، چې د هغوي په مال حریص شي. او ناپوهه هم د مشرۍ وړتیا نۀ لري چې په خپلې ناپوهۍ سره مسلمانان بې لارې کړي. او ظالم هم د مسلمانانو مشر نۀ شي کېدي چې په ظلم سره د خلقو حق غصب او د هغوي ورکړې غوڅې کړي. او نۀ هغه کس د مسلمانانو مشر کېدي شي چې د بیت المال په حقله ویرېدونکے نۀ وي، او ځینو ته به په ځینوباندې ترجیح ورکوي. او بلې خور کس هم په قضاوت کښې مشر نۀ شي کېدي چې د قضاوت لپاره د رشوت په اخېستلو سره به د خلقو حقوق چخښي کوي او حق به خپلوخاوندانو ته نۀ رسوي. او څوک چې د پېغمبراکرمﷺ سنت تر پښو لاندې کوي هغه هم د مشرۍ وړتیا نۀ لري ځکه چې اسلامي امت به تباه کړي.

## ﴿یو سل دوه دیرشمه خطبه﴾

## د پالونکي ستائنه

د خداے پاک شکر وباسوو هم په هغه څه چې اخېستې یې دي او هم په هغه څه چې راکړي یې دي، او په هغو لورینو او نعمتونو چې رابخښلي یې دي او هم یې په ازمېښتونو. هغه خداے چې له هر پټ ځیزه خبراو د هر څه په باطن کښې موجو دے. او خبر دے په سینو کښې په پټو رازونو باندې او د غلچکو سترګو په کتو باندې. او شهادت ورکوم چې خداے یو دے او بې له هغهٔ بل خداے نشته، او ګواهي ورکوم چې حضرت محمدﷺ د خداے پاک غوره کړے شوے او استازے دے. داسې ګواهي چې باطن او ظاهر او زړۀ او ژبه پرې غبرمله وي.

مرګ یاد ساتئ: په خداے قسم! دا چې وایم حقیقت دے څه لوبې ټوقې نۀ دي، دروغ نه بلکه رښتیا دي. او هغه شے بې له مرګه بل څه نۀ دے چې د رابلونکي غږ یې رسا دے او ساروان (او شړونکے) یې بېړه ناک دے. نو پام چې د ژوندو خلقو زیاتوالے دې ونۀ غولوي، تا خو ډېر خلق ولیدل چې مالونه یې جمع کړل او له بېوزلۍ او فقره یې وېره درلوده، او په اوږدو اوږدو هیلو سره یې خیال کوۀ چې په امن کښې دي او مرګ یې لرې ګڼۀ. خو تا اولیدل چې مرګ څنګه راونیول. او له وطنه یې بې وطنه کړل؟ او له پرامنو کورونو یې وکوچول. په تابوتونو یې پورته کړل او لاس په لاس اوږه په اوږه او ګوتو په ګوتو یې یو بل ته وسپارل. ودې نه لیدل هغه کسان چې اوږدې هیلې یې لرلې او پیاوړې ماڼۍ یې جوړولې، او پریمانه مالونه یې جمع کول خرنګه د ګورونو مېلمانۀ شول. مالونه یې تباه شول او میراث خورو ته پاتې شول. او ښځې یې نورو ته وادۀ شوې، اوس نۀ د ځان نیکۍ زیاتولې شي او نۀ له ګناه توبه کولې شي! یاد ساتئ چا چې د تقوا جامه واغوسته، نېکې چارې یې ښکاره شوې او په خپل کار کښې کامیاب شو. نو د تقوا موقع غنیمت وګڼئ او د جنت لپاره ښۀ عملونه وکړئ. ځکه چې دا دنیا د تل پاتې ژوند لپاره نۀ

مَجَازاً لِتَزَوَّدُوا مِنْهَا الاَعْمَالَ إِلَى دَارِ الْقَرَارِ؛ فَكُونُوا مِنْهَا عَلَى أَوْفَازٍ، وَقَرِّبُوا الظُّهُورَ لِلزِّيَالِ.

## [ ١٣٣ ]

عَظَمَةُ الله تَعَالَى

وَانْقَادَتْ لَهُ الدُّنْيَا وَالاخِرَةُ بِأَزِمَّتِهَا، وَقَذَفَتْ إِلَيْهِ السَّمَاوَاتُ وَالاَرَضُونَ مَقَالِيدَهَا، وَسَجَدَتْ لَهُ بِالْغُدُوِّ وَالاصَالِ الاَشْجَارُ النَّاضِرَةُ، وَقَدَحَتْ لَهُ مِنْ قُضْبَانِهَا النِّيرَانَ الْمُضِيئَةَ، وَآتَتْ أُكُلَهَا بِكَلِمَاتِهِ الِّثمَارُ الْيَانِعَةُ.

مِنْهَا فِي الْقُرآن: وَكِتَابُ اللهِ بَيْنَ أَظْهُرِكُمْ، نَاطِقٌ لاَ يَعْيَا لِسَانُهُ، وَبَيْتٌ لاَ تُهْدَمُ أَرْكَانُهُ، وَعِزٌّ لاَ تُهْزَمُ أَعْوَانُهُ.

مِنْهَا فِي رَسُول الله: أَرْسَلَهُ عَلَى حِينِ فَتْرَةٍ مِنَ الرُّسُلِ، وَتَنَازُعٍ مِنَ الاَلْسُنِ، فَقَفَّى بِهِ الرُّسُلَ، وَخَتَمَ بِهِ الْوَحْيَ، فَجَاهَدَ فِي اللهِ الْمُدْبِرِينَ عَنْهُ، وَالْعَادِلِينَ بِهِ.

مِنْهَا فِي الدُّنْيَا: وَإِنَّمَا الدُّنْيَا مُنْتَهَى بَصَرِ الاَعْمَى، لاَ يُبْصِرُ مِمَّا وَرَاءَهَا شَيْئاً، وَالْبَصِيرُ يَنْفُذُهَا بَصَرُهُ، وَيَعْلَمُ أَنَّ الدَّارَ وَرَاءَهَا، فَالْبَصِيرُ مِنْهَا شَاخِصٌ، وَالاَعْمَى إِلَيْهَا شَاخِصٌ، وَالْبَصِيرُ مِنْهَا مُتَزَوِّدٌ، وَالاَعْمَى لَهَا مُتَزَوِّدٌ.

مِنْهَا فِي عِظَةِ النَّاس: وَاعْلَمُوا أَنَّهُ لَيْسَ مِنْ شَيْءٍ إِلاَّ وَيَكَادُ صَاحِبُهُ يَشْبَعُ مِنْهُ وَيَمَلُّهُ، إِلاَّ الْحَيَاةَ فَإِنَّهُ لاَ يَجِدُ لَهُ فِي الْمَوْتِ رَاحَةً، وَإِنَّمَا ذلِكَ بِمَنْزِلَةِ الْحِكْمَةِ الَّتِي هِيَ حَيَاةٌ لِلْقَلْبِ الْمَيِّتِ، وَبَصَرٌ لِلْعَيْنِ الْعَمْيَاءِ، وَسَمْعٌ لِلاُذُنِ الصَّمَّاءِ، وَرِيٌّ لِلظَّمْآنِ، وَفِيهَا الْغِنَى كُلُّهُ وَالسَّلاَمَةُ.

كِتَابُ اللهِ تُبْصِرُونَ بِهِ، وَتَنْطِقُونَ بِهِ، وَتَسْمَعُونَ بِهِ، وَيَنْطِقُ بَعْضُهُ بِبَعْضٍ، وَيَشْهَدُ بَعْضُهُ عَلَى بَعْضٍ، وَلاَ يَخْتَلِفُ فِي اللهِ، وَلاَ يُخَالِفُ بِصَاحِبِهِ عَنِ اللهِ.

قَدِ اصْطَلَحْتُمْ عَلَى الْغِلِّ فِيمَا بَيْنَكُمْ، وَنَبَتَ الْمَرْعَى عَلَى دِمَنِكُمْ، وَتَصَافَيْتُمْ عَلَى حُبِّ الاْمَالِ، وَتَعَادَيْتُمْ فِي كَسْبِ

ده پیدا شوې بلکه یوه سراې ده چې د آخرت توښه ترې واخلئ، نو بېړه وکړئ کوچ ته تیار شئ او د حرکت لپاره سورلۍ او مرکبونه تیار کړئ.

## ﴿ یو سل دري د پرشمه خطبه ﴾

### د پالونکي ذات سترتوب او عظمت

دنیا او آخرت خپلې واګې هغه ته سپارلې او خپلې کنجیانې یې ورسپارلې دي.او شنې او تاندې ونې سحر او ماښام هغه ذات ته سجدې کوي او له څانګو یې سرې شعلې راوباسي او د هغهٔ په امر پخې میوې انسانانو ته ډالۍ کوي.

د خداے پاک کتاب قرآن ستاسو په مینځ کښې څرګند دے، دې داسې ویندوے دے چې ژبه یې هیڅکله د حق له ویلوڅخه نهٔ پڅېږي او نهٔ ستړې کېږي. داسې کور دے چې ستنې یې هیڅکله نهٔ لوېږي او داسې عزت دے چې ملګري یې هیڅکله ماتې نهٔ خوري.

خداے تعالی خپل استازے هغه وخت راولېږهٔ چې د استازو لړۍ غوڅه شوې وه هغه وخت چې ژبې په اختلاف اخته شوې وې نو د هغهٔ په رالېږلو سره یې د رسولانو لړۍ ختمه او د وحي لړۍ تمه کړه او رسول الله مبارکﷺ له هغو ټولو مخالفانو سره چې حق ته یې شاکړه او بې لارې شول جهاد وکړ.

او دا دنیا خو د ړندو د لید آخري منزل دے. چې د دنیا هغه لور ته څه نهٔ ویني. خو د سترګور انسان نظر له دې دنیا اوړي او تر شا یې تل پاتے آخرت ویني. نو پوه انسان په دنیا پورې زړهٔ نهٔ تړي او د ړوند ټول غم او فکر همدا دنیا وي، سترګور له دې دنیا بلې نړۍ ته توښه ټولوي او ړوند همدې دنیا ته توښه برابروي.

### شکرې ملغلرې

پوه شئ په دنیا کښې چې هر څه دې دنیا دار ترې ډېر زر مړېږي او ستومانه کېږي. مګر یوائې ژوند داسې دے چې انسان یې خوښوي او مرګ یې نهٔ خوښېږي. او دا د هغه حکمت په شان دے چې د مړو زړونو لپاره ژوند، د ړندو سترګو لپاره رڼا، د کڼو غوږونو لپاره اورېدل او د تږو لپاره خوړې اوبهٔ وي. او په همدې کښې ټوله سلامتیا او بې نیازي ده.

### قرآن مجید

دا قرآن دے چې د حق لاره پرې لیدلې او د حق خبره پرې کولې او اورېدلې شئ. د قرآن ځینې برخې د بلې برخې سپړنه او تفسیرکوي او ځینې یې په ځینې ګواهي ورکوي. د خداے پاک په پېژندلو کښې یې په آیتونو کښې اختلاف نشته او څوک یې چې ملګرے شي له خدایه یې نهٔ جدا کوي.

اے خلقو! لکه چې تاسو په خپلو کښې په خیانت او کینې غوږونه سره یوکړې دي. او (په ریا کښې داسې یئ) لکه په څرځاے کښې (په پچو او غوشیو کښې) بوټي زرغون شي (چې ظاهر یې ښکلے وي او باطن یې

الأَمْوَال. لَقَداسْتَهامَ بِكُمُ الْخَبِيثُ، وَتَاهَ بِكُمُ الْغُرُورُ، وَاللهُ الْمُسْتَعَانُ عَلَى نَفْسِي وَأَنْفُسِكُمْ.

بدبويه وي). د هيلو او خواهشاتو په مينه كښې له يو بل سره غبرمله يئ او د مال په راغونډولو كښې د يو بل دښمنان. خبيث (شېطان) تاسو لالهانده او پرېشانه كړي يئ او په غرور او تكبر سره يې تباه كړي يئ. د ځان او ستاسو لپاره له خدايه مرسته غواړم.

## [ ١٣٤ ]

وَقَدْ شَاوَرَهُ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ فِي الْخُرُوجِ إِلَى غَزْوِ الرُّومِ

وَقَدْ تَوَكَّلَ اللهُ لأَهْلِ هذَا الدِّينِ بِإِعْزَازِ الْحَوْزَةِ، وَسَتْرِ الْعَوْرَةِ، وَالَّذِي نَصَرَهُمْ وَهُمْ قَلِيلٌ لاَ يَنْتَصِرُونَ، وَمَنَعَهُمْ وَهُمْ قَلِيلٌ لاَ يَمْتَنِعُونَ، حَيٌّ لاَ يَمُوتُ. إِنَّكَ مَتَى تَسِرْ إِلَى هذَا الْعَدُوِّ بِنَفْسِكَ، فَتَلْقَهُمْ بِشَخْصِكَ فَتُنْكَبْ، لاَ تَكُنْ لِلْمُسْلِمِينَ كَانِفَةٌ دُونَ أَقْصَى بِلاَدِهِمْ وَلَيْسَ بَعْدَكَ مَرْجِعٌ يَرْجِعُونَ إِلَيْهِ، فَابْعَثْ إِلَيْهِمْ رَجُلاً مِحْرَباً، وَاحْفِزْ مَعَهُ أَهْلَ الْبَلاَءِ وَالنَّصِيحَةِ، فَإِنْ أَظْهَرَ اللهُ فَذَاكَ مَا تُحِبُّ، وَإِنْ تَكُنِ الأُخْرَى، كُنْتَ رِدْءاً لِلنَّاسِ وَمَثَابَةً لِلْمُسْلِمِينَ.

## ﴿ يو سل څلوردېرشمه خطبه ﴾

(دويم خليفه د هجرت په پينځلسم كال له روميانو سره د جنګ لپاره له امام عليؑ صلاح وغوښتله امام ورته وفرمايل:)

**فوځي مشوره**

خداے تعالى د دغه دين منونكو ته وعده وركړې ده چې د اسلام پولې به مضبوطوي او پرده به يې ساتي (د مسلمانانود كمزورۍ ټكي به يې پټ ساتي) هغه خداے چې د مسلمانانو مرسته يې په داسې وخت كښې وكړه چې د هغوي شمېر كم ؤ او هغه وخت چې د ځان دفاع يې نهٔ شوه كولې د هغوي دفاع يې وكړه. هغه خداے پاك اوس هم ژوندے دے او هيڅكله نهٔ مري. كه تهٔ په خپله د جنګ ډګر ته لاړ شې او له دښمن سره په جګړه كښې كومه پېښه او زيان درپېښ شي نو د مسلمانانو لپاره به تر لرو پرتو سيمو كښې بيا د پناه هيڅ ځاے پاتې نهٔ شي، او له تا وروسته به هيڅ مركز او مرجع پاتې نهٔ شي چې مسلمانان ورته پناه يوسي. نو (د ځان په ځاے) يو تكړه او توريالے سړے هغوي ته ورولېږه او ازمايل شوي او نصيحت (منونكي) كسان ورسره كړه نوكه خداے پاك يې برے په برخه كړ چې ستا هم داسې خوښه ده او كه بل څه وشول نو لږ ترلږه ته خو به د مسلمانانو پناه ځاے وې.

## [ ١٣٥ ]

وَقَدْ وَقَعَتْ مُشَاجَرَةٌ بَيْنَهُ وَبَيْنَ عُثْمَانَ، فَقَالَ الْمُغِيرَةُ بْنُ الأَخْنَسِ لِعُثْمَانَ: أَنَا أَكْفِيكَهُ. فَقَالَ أَمِيرُ الْمُؤْمِنِينَ صَلَوَاتُ اللهِ عَلَيْهِ لِلْمُغِيرَةِ: يَابْنَ اللَّعِينِ الأَبْتَرِ، وَالشَّجَرَةِ الَّتِي لاَ أَصْلَ لَهَا وَلاَ فَرْعَ، أَنْتَ تَكْفِينِي، فَوَاللهِ مَا أَعَزَّ اللهُ مَنْ أَنْتَ نَاصِرُهُ، وَلاَ قَامَ مَنْ أَنْتَ مُنْهِضُهُ، اخْرُجْ عَنَّا أَبْعَدَ اللهُ نَوَاكَ، ثُمَّ ابْلُغْ جَهْدَكَ، فَلاَ أَبْقَى اللهُ عَلَيْكَ إِنْ أَبْقَيْتَ!

## ﴿ يو سل پينځۀ دېرشمه مه خطبه ﴾

(د امام عليؑ او دريم خليفه په مېنځ كښې اختلاف پېدا شو يومنافق مغيره بن اخنس[89] ووېل اے عثمانه زهٔ ورته كافي يم، امام عليؑ مغيره ته وفرمايل:)

اے د بې ذاته ملعون بچيه! اے هغه ونې چې نهٔ يې جرړې شته او نهٔ څانګې! ايا تهٔ زما لپاره كافي يې؟ په خداے قسم! د چا چې تهٔ مرستندوے شې هغه ته خداے عزت او طاقت نهٔ وركوي او د چا لاس چې تهٔ اونيسې هغه به د ودرېدو قابل پاتې نهٔ شي. زمونږ له منځه ووځه، خداے درنه خبر لرې وساته، ځه خپل ټول كوشش دې وكړه خداے به دې پاتې نهٔ كړي. كه څه هم هغه څه چې كولې يې شې و به يې نهٔ كړې شې! (يعني په خپلو كوششونو كښې به هيڅكله كامياب نهٔ شې.)

## [ ١٣٦ ]

فِي أَمْرِ الْبَيْعَةِ

لَمْ تَكُنْ بَيْعَتُكُمْ إِيَّايَ فَلْتَةً، وَلَيْسَ أَمْرِي وَأَمْرُكُمْ وَاحِداً، إِنِّي

## ﴿ يو سل شپږدېرشمه خطبه ﴾

(كله چې ټولو اصحابو له امام سره بيعت وكړ او عبدالله بن عمر، سعد بن ابي وقاص، محمد بن مسلمه، حسان بن ثابت او اسامه بن زيد بعيت ونهٔ كړ امام د هجرت په پينځه دېرشم كال په مدينه كښې دا خطبه وركړه)

**بې سارے بيعت**

أُرِيدُكُمْ للهِ وَأَنْتُمْ تُرِيدُونَنِي لأَنْفُسِكُمْ. أَيُّهَا النَّاسُ، أَعِينُونِي عَلى أَنْفُسِكُمْ، وَايْمُ اللهِ لأُنْصِفَنَّ الْمَظْلُومَ، وَلأَقُودَنَّ الظَّالِمَ بِخِزَامَتِهِ حَتَّى أُورِدَهُ مَنْهَلَ الْحَقِّ وَإِنْ كَانَ كَارِهاً.

[ ۱۳۷ ]

وَمِنْ كَلاَمٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ فِي مَعْنَى طَلْحَةَ وَالزُّبَيْرِ

وَاللهِ مَا أَنْكَرُوا [عَلَيَّ] مُنْكَراً، وَلاَ جَعَلُوا بَيْنِي وَبَيْنَهُمْ نِصْفاً، وَإِنَّهُمْ لَيَطْلُبُونَ حَقّاً [هُمْ] تَرَكُوهُ، وَدَماً هُمْ سَفَكُوهُ، فَإِنْ كُنْتُ شَرِيكَهُمْ فِيهِ فَإِنَّ لَهُمْ نَصِيبَهُمْ مِنْهُ، وَإِنْ كَانُوا وَلُوهُ دُونِي فَمَا الطَّلِبَةُ إِلاَّ قِبَلَهُمْ، وَإِنَّ أَوَّلَ عَدْلِهِمْ لَلْحُكْمُ عَلَى أَنْفُسِهِمْ، وَإِنَّ مَعِي لَبَصِيرَتِي، مَا لَبَّسْتُ وَلاَ لُبِّسَ عَلَيَّ، وَإِنَّهَا لَلْفِئَةُ الْبَاغِيَةُ، فِيهَا الْحَمَأُ وَالْحُمَةُ وَالشُّبْهَةُ الْمُغْدِفَةُ، وَإِنَّ الأَمْرَ لَوَاضِحٌ، وَقَدْ زَاحَ الْبَاطِلُ عَنْ نِصَابِهِ، وَانْقَطَعَ لِسَانُهُ عَنْ شَغْبِهِ. وَايْمُ اللهِ لأُفْرِطَنَّ لَهُمْ حَوْضاً أَنَا مَاتِحُهُ، لاَ يَصْدُرُونَ عَنْهُ بِرِيٍّ، وَلاَ يَعُبُّونَ بَعْدَهُ فِي حَسْيٍ!

مِنْهُ فِي أَمْرِ الْبَيْعَةِ: فَأَقْبَلْتُمْ إِلَيَّ إِقْبَالَ الْعُوذِ الْمَطَافِيلِ عَلَى أَوْلاَدِهَا، تَقُولُونَ: الْبَيْعَةَ الْبَيْعَةَ! قَبَضْتُ كَفِّي فَبَسَطْتُمُوهَا، وَنَازَعَتْكُمْ يَدِي فَجَاذَبْتُمُوهَا.

اللَّهُمَّ إِنَّهُمَا قَطَعَانِي وَظَلَمَانِي، وَنَكَثَا بَيْعَتِي، وَأَلَّبَا النَّاسَ عَلَيَّ؛ فَاحْلُلْ مَا عَقَدَا، وَلاَ تُحْكِمْ لَهُمَا مَا أَبْرَمَا، وَأَرِهِمَا الْمَسَاءَةَ فِيمَا أَمَّلاَ وَعَمِلاَ، وَلَقَدِ اسْتَثَبْتُهُمَا قَبْلَ الْقِتَالِ، وَاسْتَأْنَيْتُ بِهِمَا أَمَامَ الْوِقَاعِ، فَغَمَطَا النِّعْمَةَ، وَرَدَّا الْعَافِيَةَ.

له ما سره ستاسو بیعت ناڅاپي او بې څېړنې نۀ ؤ،او زما او ستاسو معامله یو شان نۀ ده زۀ تاسو د خدا ے پاک لپاره غواړم او تاسو ما د خپلوځانونو لپاره، اے خلقو! د خپل ځان (د اصلاح) لپاره له ما سره مرسته (او ملګرتیا) وکړئ په خدا ے قسم! زۀ به د مظلوم حق له ظالمه واخلم، ظالم به له پېزوانه اونیسم او د حق چینې ته به یې راولم که څه هم یې خوښه نۀ وي.

## ﴿ یو سل اوۀ د ېرشمه خطبه ﴾

(د هجرت په شپږ دېرشم کال یې د جنګ په درشل کښې د طلحه او زبېر په حقله وفرمایل:)

### د طلحه او زبیر پېژندنه

په خدا ے قسم هغوي (طلحه او زبېر او ملګرو یې) نۀ زما په کار کښې کوم منکر لیدلے دے چې په وړاندې یې اودرېږي او نۀ یې زما اوخپل مینځ کښې له انصافه کار اخېستے دے. دوي د داسې حق غوښتنه کوي چې په خپله یې پرېښودے او د هغه وینې غچ او بدله اخلي چې دوي خپله تویه کړې ده[۹۰]. که زۀ په دغه کار (د وینې په تویولو کښې) له دوي سره شریک وم نودوي هم پکښې ونډه لرلې ده. او که یواځې دوي په خپله دغه وینه (دعثمان وینه) توي کړې ده نو له ځانه دې انتقام واخلي او تر ټولو مخکې دې د ځان په خلاف حکم وکړي. (د خدا ے پاک شکر دے) چې زۀ بصیرت لرم نۀ مې له ځان څخه حق پټ کړے دے او نۀ له ما څخه حق پټ دے (نه مې ځان دهوکه کړے دے او نۀ مې چا ته دهوکه ورکړې ده) پوه شئ چې ناکثین (اصحاب جمل) یوه سرکښه او ظالمه ډله ده د هغوي په زړونو کښې کینه، د لړم د زهرو په شان او شبهه د تورې شپې د تیرې په شان موجوده ده. حال دا چې حقیقت ښکاره او باطل له خپل ځایه او اندازې لرې شوے دے،او ژبه یې د حق په خلاف له کاره لوېدلې ده. په خدا ے قسم داسې ډنډ به ورته له اوبو ډک کړم چې یواځې زۀ به یې تشولے شم، نۀ به دوي له دغه ډنډه خړوب شي او نۀ به بیا له کوم ډنډه د تندې د ماتولو جوګه پاتې شي.(یعنې داسې نقشه به ورته وکاږم چې د تېښتې لاره به یې نه وي)

(اے خلقو) تاسو د بیعت په چغوسورو سره زما په لور داسې راوځغلېدئ لکه نوې زېږولې مور چې خپل بچي ته ورمنډه کوي. او د بیعت بیعت چغې مو وهلې. ما خپل موټے بند کړ خو تاسو پرانېستۀ ما خپل لاس له تاسو شاته کړ خو تاسو ځانته راکاږۀ.

اے خدایه تۀ ګواه اوسې چې طلحه او زبېر له ما سره تعلقات غوڅ کړل او په ما یې ظلم وکړ او زما بیعت یې مات کړ او خلق یې له ما سره جنګ ته راوپارول. اے خدایه ! څه چې دوي غوټه کړي دي تۀ یې پرانېزې، او کوم پړي چې دوي رغړلي دي ته یې کلک نۀ کړې، او د کومو ارمانونه د پوره کېدو لپاره چې کوششونه کوي هغه کوششونه یې برباد کړې، ما له جنګه مخکې له دوي وغوښتل چې ستانۀ شي او د جنګ تر شروع کېدو پورې مې ورته مهلت ورکړ خو دوي نعمت ته لته ورکړه او د عافیت لاس

[ ۱۳۸ ]

ذِكْرُ الْمَلاَحِمِ

يَعْطِفُ الْهوَى عَلَى الْهُدَى إذَا عَطَفُوا الْهُدَى عَلَى الْهَوَى، وَيَعْطِفُ الرَّأْيَ عَلَى الْقُرْآنِ إذَا عَطَفُوا الْقُرْآنَ عَلَى الرَّأْيِ.

مِنْهَا: حَتَّى تَقُومَ الْحَرْبُ بِكُمْ عَلَى سَاقٍ، بَادِياً نَوَاجِذُهَا، مَمْلُوءَةً أَخْلاَفُهَا حُلْواً رَضَاعُهَا، عَلْقَماً عَاقِبَتُهَا.

أَلاَ وَفِي غَدٍ ـ وَسَيَأْتِي غَدٌ بِمَا لاَ تَعْرِفُونَ ـ يَأْخُذُ الْوَالِي مِنْ غَيْرِهَا عُمَّالَهَا عَلَى مَسَاوِىءِ أَعْمَالِهَا، وَتُخْرِجُ لَهُ الاَرْضُ أَفَالِيذَ كَبِدِهَا، وَتُلْقِي إِلَيْهِ سِلْماً مَقَالِيدَهَا، فَيُرِيكُمْ كَيْفَ عَدْلُ السِّيرَةِ

مِنْهَا: كَأَنِّي بِهِ قَدْ نَعَقَ بِالشَّامِ، وَفَحَصَ بِرَايَاتِهِ فِي ضَوَاحِي كُوفَانَ فَعَطَفَ عَلَيْهَا عَطْفَ الضَّرُوسِ، وَفَرَشَ الاَرْضَ بِالرُّؤُوسِ، قَدْ فَغَرَتْ فَاغِرَتُهُ، وَثَقُلَتْ فِي الاَرْضِ وَطْأَتُهُ، بَعِيدَ الْجَوْلَةِ، عَظِيمَ الصَّوْلَةِ.

وَاللهِ لَيُشَرِّدَنَّكُمْ فِي أَطْرَافِ الاَرْضِ حَتَّى لاَ يَبْقَى مِنْكُمْ إلاَّ قَلِيلٌ، كَالْكُحْلِ فِي الْعَيْنِ، فَلاَ تَزَالُونَ كَذلِكَ، حَتَّى تَؤُوبَ إِلَى الْعَرَبِ عَوَازِبُ أَحْلاَمِهَا! فَالْزَمُوا السُّنَنَ الْقَائِمَةَ، وَالآثَارَ الْبَيِّنَةَ، وَالْعَهْدَ الْقَرِيبَ الَّذِي عَلَيْهِ بَاقِي النُّبُوَّةِ. وَاعْلَمُوا أَنَّ الشَّيْطَانَ إِنَّمَا يُسَنِّي لَكُمْ طُرُقَهُ لِتَتَّبِعُوا عَقِبَهُ.

[ ۱۳۹ ]

يې رد کړ.

## ﴿يو سل اتهٔ د برشمه خطبه﴾

(په دې خطبه کښې امام(ع) د راتلونکې زمانې د بدلونونو خبره کړې ده)

### د حضرت امام مهدي(ع) او د هغهٔ د حکومت څرنګوالے

هغه «حضرت مهدي» به نفساني خواهشات د هدايت تابع کړي هغه وخت چې خلقو به هدايت د خپلو نفساني خواهشاتو تابع کړے وي. او په داسې حال کښې چې خلق به د قرآن په خپله خوښه تفسير کوي هغه به نظريې او رائې د قرآن تابعې کړي.

(او د همدې خطبې يوه برخه دا ده)

په راتلونکې (مستقبل) کښې به په تاسو کښې د جنګ اور بل شي او داړې به درچينګوي، جنګ به په ډکو تيونو سره درمخه کړي، پې به يې خواږه وي خو انجام به يې تريخ او زهرجن وي. ياد ساتئ چې سبا ډېر زر داسې حالات راتلونکې دي چې تاسو يې اټکل نهٔ شئ کولې، داسې کس به واکمن شي چې له ننني واکمنانو به جدا وي (امام مهدي(ع)) او د حکومتونو چارواکي به د خپلو عملونو په وجه سزا کوي. ځمکې به د خپل زړهٔ ميوې « معدنونه او زيرمې» هغهٔ ته رابرسېره کړي. او کنجيانې به يې هغه ته ورکړي. هغه به تاسو ته وښيي چې د عدل او انصاف حکومت څنګه وي. او هغه به د خداے پاک کتاب او د پېغمبراکرم(ص) سنت چې تر هغې ورځې پورې پرېښودل شوې وي ژوندي کړي.

(او دا هم د همدغې خطبې يوه بله برخه ده)

### په کوفه باندې د عبدالملک مروان د خونړي يرغل خبر ورکول

تهٔ به وائې هغه وينم چې له شامه راپاڅېدلے او تاسو ته پتون وهي او د کوفې په شا وخوا يې بيرغونه رپېږي[۹۱] او د پاړېدلې قهرجن اوښ په شان په کوفې يرغل کوي. په ځمکه باندې د پرې کړيو سرونو فرش خپروي، خوله يې وازه ده او په ځمکه درانهٔ ګامونه اخلي د هغهٔ يرغل بې امانه او حملې يې سختې دي. په خداے قسم! تاسو به د ځمکې په شاوخوا کښې تيت و پرک کړي او تر دې چې له تاسو به ډېرکم کسان پاتې شي لکه په سترګو کښې رانجهٔ او دا خونړے حالت به روان وي تر دې چې د عربو ورک شوے عقل به راستون شي[۹۲] نو اوس وخت غنيمت دے چې د پېغمبر اکرم(ص) په سنتو باندې ټينګ شئ او د رسالت په ښکاره نښو ډډه ووهئ، او په هغه نزدې ژمنې چې د پېغمبراکرم(ص) يادګار پرې تکيه وهلې ده وفاداره پاتې شئ.او پوه شئ چې دا شېطان دے چې هميشه خپلې لارې هواروي چې په پلهٔ يې پل کېږدئ او په لار يې روان شئ.

## ﴿يو سل نههٔ د برشمه خطبه﴾

(د هجرت په درې ويشتم کال کله چې شپږ کسيزې شورا چې دويم خليفه

فِي وَقْتِ الشُّورَى

لَنْ يُسْرِعَ أَحَدٌ قَبْلِي إِلَى دَعْوَةِ حَقٍّ، وَصِلَةِ رَحِمٍ، وَعَائِدَةِ كَرَمٍ. فَاسْمَعُوا قَوْلِي، وَعُوا مَنْطِقِي، عَسَى أَنْ تَرَوْا هذَا الاَْمْرَ مِنْ بَعْدِ هذَا الْيَوْمِ تُنْتَضَى فِيهِ السُّيُوفُ، وَتُخَانُ فِيهِ الْعُهُودُ، حَتَّى يَكُونَ بَعْضُكُمْ أَئِمَّةً لاَِهْلِ الضَّلاَلَةِ، وَشِيعَةً لاَِهْلِ الْجَهَالَةِ.

[ ۱٤۰ ]

فِي النَّهْيِ عَنْ عَيْبِ النَّاسِ

وَإِنَّمَا يَنْبَغِي لاَِهْلِ الْعِصْمَةِ وَالْمَصْنُوعِ إِلَيْهِمْ فِي السَّلاَمَةِ أَنْ يَرْحَمُوا أَهْلَ الذُّنُوبِ وَالْمَعْصِيَةِ، وَيَكُونَ الشُّكْرُ هُوَ الْغَالِبَ عَلَيْهِمْ وَالْحَاجِزَ لَهُمْ عَنْهُمْ، فَكَيْفَ بِالْعَائِبِ الَّذِي عَابَ أَخَاهُ وَعَيَّرَهُ بِبَلْوَاهُ! أَمَا ذَكَرَ مَوْضِعَ سَتْرِ اللهِ عَلَيْهِ مِنْ ذُنُوبِهِ [مـ ]مَّا هُوَ أَعْظَمُ مِنَ الذَّنْبِ الَّذِي عَابَهُ بِهِ! وَكَيْفَ يَذُمُّهُ بِذَنْب قَدْ رَكِبَ مِثْلَهُ؟! فَإِنْ لَمْ يَكُنْ رَكِبَ ذلِكَ الذَّنْبَ بِعَيْنِهِ فَقَدْ عَصَى اللهَ فِيمَا سِوَاهُ، مِمَّا هُوَ أَعْظَمُ مِنْهُ، وَايْمُ اللهِ لَئِنْ لَمْ يَكُنْ عَصَاهُ فِي الْكَبِيرِ، وَعَصَاهُ فِي الصَّغِيرِ، لَجُرْأَتُهُ عَلَى عَيْبِ النَّاسِ أَكْبَرُ!
يَا عَبْدَ اللهِ، لاَ تَعْجَلْ فِي عَيْبِ أَحَد بِذَنْبِهِ، فَلَعَلَّهُ مَغْفُورٌ لَهُ، وَلاَ تَأْمَنْ عَلَى نَفْسِكَ صَغِيرَ مَعْصِيَة، فَلَعَلَّكَ مُعَذَّبٌ عَلَيْهِ؛فَلْيَكْفُفْ مَنْ عَلِمَ مِنْكُمْ عَيْبَ غَيْرِهِ لِمَا يَعْلَمُ مِنْ عَيْبِ نَفْسِهِ، وَلْيَكُنِ الشُّكْرُ شَاغِلاً لَهُ عَلَى مُعَافَاتِهِ مِمَّا ابْتُلِيَ بِهِ غَيْرُهُ.

[ ۱٤۱ ]

فِي النَّهْيِ عَنْ سَمَاعِ الْغِيبَةِ وَفِي الْفَرْقِ بَيْنَ الْحَقِّ وَالْبَاطِلِ

أَيُّهَا النَّاسُ، مَنْ عَرَفَ مِنْ أَخِيهِ وَثِيقَةَ دِين وَسَدَادَ طَرِيق، فَلاَ يَسْمَعَنَّ فِيهِ أَقَاوِيلَ الرِّجَالِ، أَمَا إِنَّهُ قَدْ يَرْمِي الرَّامِي، وَتُخْطِىءُ السِّهَامُ، وَيُحِيكُ الْكَلاَمُ، وَبَاطِلُ ذلِكَ يَبُورُ، وَاللهُ سَمِيعٌ وَشَهِيدٌ.أَمَا إِنَّهُ لَيْسَ بَيْنَ الْحَقِّ وَالْبَاطِلِ إِلاَّ أَرْبَعُ أَصَابِعَ. فسئل عَلَيْهِ السَّلاَمُ عن معنى قوله هذا، فجمع

جوړه کړې وه د حضرت عثمان د زوم عبدالرحمن په تائيد سره حضرت عثمان ته رايه ورکړه او په مسلمو حقائقو يې سترګې پټې کړې. امام وفرمايل:)

اے خلقو!هيڅوک د حق په منلو کښې له ما مخکې نۀ شول، او زما هومره يې صله رحم او ښندنه ونۀ کړه. نو زما خبره واورئ او زما په منطق ځان پوه کړئ ځکه چې ډېر زر به ووينئ چې د خلافت په سر تورې راوويستل شي او عهد و پيمانونه به مات کړې شي. تر دې چې په تاسو کښې به ځينې کسان د ګمراهانو لارښوونکي او د جاهلانو لارويان شي.

## ﴿يو سل څلو ښتمه خطبه﴾

(د خلقو د عيبونو له ښکاره کولو يې د خلقو د منع کولو لپاره وفرمايل:)

هغه کسان چې له ګناه خوندي دي او دين يې سلامت دے پکار دي په ګناهکارو او خطاکارو باندې رحم وکړي او د دې نعمت شکر وباسي. ځکه چې شکر ابستنه هغوي د نورو د عيبونو له بيانولو منعې کوي او يو انسان چې په خپله له نيمګړتياؤ ډک وي څه ډول د خپل ورور عيبونه بيانوي او په دغو عيبونو يې رټي.آيا دغه انسان هېرکړې دي چې خداے پاک څرنګه هغه بخښلے او په ګناهونو يې پرده وراچولې ده؟ يو انسان څرنګه بل انسان په هغه ګناه ملامتوي چې په خپله يې هم کړې وي. يا يې تر هغې هم لويه ګناه کړې وي؟ په خداے قسم که د خداے پاک لويه نافرماني يې نۀ وي کړې او يو اځې ورې ګناهانې يې کړې وي خو بيا هم د خلقو د عيب لټونې جرات په خپله لويه ګناه ده.

اے د خداے بنده! د چا د عيبو په ويلو کښې تلوار مۀ کوه، کېدې شي چې خداے پاک هغه بخښلے وي او د خپلو وړو ګناهانو له سزا ځان خوندي مه ګڼه کېدې شي سزا يې درکړي! نو په تاسو کښې چې هر څوک د بل له عيبه خبر شي نو په خپلو عيبونو د خبرېدو په وجه بايد د نورو د عيبونو له بيانولو ډډه وکړي او له کومو عيبونو چې پاک دے د هغې په شکرګزارۍ دې ځان مشغول کاندي.نه دا چې نور وځوروي.

## ﴿يو سل يو څلو ښتمه خطبه﴾

### غيبت مه اورئ

اے خلقو! کوم انسان چې د خپل ورور په حقله له دې خبروي چې هغه په دين نېغ روان دے او لاره روده يې سمه ده پکار دي د هغۀ په حقله د خلقو خبرې وانۀ وري،ځکه چې کله کله يو غشے ويشتونکے غشي اولي خو غشے يې خطا ځي؛نو بس خبره هم داسې ده او يو انسان د بل چا په حقله داسې خبرې کوي چې حقيقت نۀ لري او غلطې او تباه کوونکې خبرې دي، او خداے پاک اورېدونکے او شاهد دے. پوه شئ چې د حق او باطل په مينځ کښې د څلورو ګوتو فاصله ده.

أصابعه ووضعها بين أذنه وعينه ثمّ قال: الْبَاطِلُ أَنْ تَقُولَ سَمِعْتُ، وَالْحَقُّ أَنْ تَقُولَ رَأَيْتُ!

[ ۱٤۲ ]

الْمَعْرُوفُ فِي غَيْرِ أَهْلِه

وَلَيْسَ لِوَاضِعِ الْمَعْرُوفِ فِي غَيْرِ حَقِّهِ، وَعِنْدَ غَيْرِ أَهْلِهِ، مِنَ الْحَظِّ فِيمَا أَتَى إِلاَّ مَحْمَدَةُ اللِّئَامِ، وَثَنَاءُ الاَشْرَارِ، وَمَقَالَةُ الْجُهَّالِ، مَا دَامَ مُنْعِماً عَلَيْهِمْ، مَا أَجْوَدَ يَدَهُ! وَهُوَ عَنْ ذَاتِ اللهِ بَخِيلٌ!

مَوَاضِعُ الْمَعْرُوفِ: فَمَنْ آتَاهُ اللهُ مَالاً فَلْيَصِلْ بِهِ الْقَرَابَةَ، وَلْيُحْسِنْ مِنْهُ الضِّيَافَةَ، وَلْيَفُكَّ بِهِ الاَسِيرَ وَالْعَانِيَ، وَلْيُعْطِ مِنْهُ الْفَقِيرَ وَالْغَارِمَ، وَلْيَصْبِرْ نَفْسَهُ عَلَى الْحُقُوقِ وَ النَّوَائِبِ، ابْتِغَاءَ الثَّوَابِ؛ فَإِنَّ فَوْزاً بِهذِهِ الْخِصَالِ شَرَفُ مَكَارِمِ الدُّنْيَا، وَدَرْكُ فَضَائِلِ الاْخِرَةِ، إِنْ شَاءَ اللهُ.

[ ۱٤۳ ]

فِي الاسْتِسْقَاءِ

أَلاَ وَإِنَّ الاَرْضَ الَّتِي تَحْمِلُكُمْ، وَالسَّمَاءَ الَّتِي تُظِلُّكُمْ، مُطِيعَتَانِ لِرَبِّكُمْ، وَمَا أَصْبَحَتَا تَجُودَانِ لَكُمْ بِبَرَكَتِهِمَا تَوَجُّعاً لَكُمْ، وَلاَ زُلْفَةً إِلَيْكُمْ، وَلاَ لِخَيْرٍ تَرْجُوَانِهِ مِنْكُمْ، وَلكِنْ أُمِرَتَا بِمَنَافِعِكُمْ فَأَطَاعَتَا، وَأُقِيمَتَا عَلَى حُدُودِ مَصَالِحِكُمْ فَقَامَتَا.

إِنَّ اللهَ يَبْتَلِي عِبَادَهُ عِنْدَ الاَعْمَالِ السَّيِّئَةِ بِنَقْصِ الَّثمَرَاتِ، وَحَبْسِ الْبَرَكَاتِ، وَإِغْلاَقِ خَزَائِنِ الْخَيْرَاتِ، لِيَتُوبَ تَائِبٌ، وَيُقْلِعَ مُقْلِعٌ، وَيَتَذَكَّرَ مُتَذَكِّرٌ، وَيَزْدَجِرَ مُزْدَجِرٌ.

وَقَدْ جَعَلَ اللهُ سُبْحَانَهُ الاسْتِغْفَارَ سَبَباً لِدُرُورِ الرِّزْقِ وَرَحْمَةِ الْخَلْقِ، فَقَالَ: ﴿اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّاراً * يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَاراً﴾.

«له امامه يې وپوښتل د دې خبرې مطلب څه دے؟ امام خپلې ګوتې د غوږ او سترګو په مينځ کښې کېښودې او وې فرمايل»: باطل دا دے چې ووائې: وامېورېدل، او حق دا دے چې ووائې: اومې ليدل.

## ﴿يو سل دوه څلوېښتمه خطبه﴾

«ځينې کسان وائي چې دا خطبه د ۱۲۶مې خطبې برخه ده»

### ښندنه او احسان

څوک چې له ناکسو(نه سړي) سره نيکي وکړي يا له نا اهلو سره ښۀ وکړي صرف د کمينه او بد ذاتو کسانو ستائنه او د بدانو حمد و ثنا يې په برخه پاتې کېږي. او دا غوړه مالي هم يواځې تر هغه وخته وي تر څو چې له دغو کسانو سره ښه او وربانديې لورينه کوي. «اوجاهلان ووائي چې دې څومره سخي دے» حال دا چې څوک د خدائے په لاره کښې له ورکړې بخل کوي اصلي بخيل او شوم هغه دے. چاته چې خدائے مال ورکړې بايدد خپلوخپلوانوخيال اوساتي او ښه ميلمه پالنه وکړي اسيران آزاد کړي غم ځپلې ونازوي او بېوزلي برخور کاندي او د پوروړو پور لنډ کړي او د دې لپاره چې د خدائے پاک له ثوابه برخمن شي پکار ده چې د نورو د حقوقو په ورکړه او کومې ستونځې چې په دې لاره کښې وربېښېږي د هغو په وړاندې صابر وي ځکه چې د دغو صفتونو ګټل په دنيا کښې د عزت او سترتوب او په آخرت کښې د ثواب او فضيلت د درک کولو سبب کېږي. «انشاء الله»

## ﴿يو سل درې څلوېښتمه خطبه﴾

«دا وينا يې د باران د نمانځه په وخت په کوفه کښې کړې ده»

### کائنات د انسان د خدمت لپاره دي

خبر اوسئ! دا ځمکه چې تاسو يې په ملا هسک کړي يئ او دا آسمان چې په تاسو يې سيورے غوړولے دے د خپل پالونکي منونکي دي او که په تاسو يې برکت نازلېږي نو د زړۀ سواندی یا د دې لپاره نۀ ده چې غواړي تاسو ته ځان نزدې کړي او نۀ له تاسوڅخه د خېر په طمعه دي بلکه دوي ته امر شوے دے چې تاسو ته ګټه دررسوي دوي د خدائے امر منلے دے دوي ته حکم وشو چې ستاسو د مصالحو او ګټو لپاره کار وکړي او دوي همدا کار وکړ.

خدائے تعالی خپل ګناهکار بندګان د مېوو په کمښت، د برکتونو په تمولو، او د خېر د خزانو په تړلو سره آزمائي د دې لپاره چې توبه کؤنکے جار وځي او ګنهکار له ګناه زړۀ وشلوي او نصيحت منونکے نصيحت اومني،او له ګناهونو تمبدونکے تم شي. او بې له شکه خدائے تعالی استغفار او د بخښنې غوښتل د روزی د پرله پسې نازلولو او د مخلوقاتو د رحمت سبب ګرځولي او فرمايلي يې دي:« له خپل پالونکي بخښنه وغواړئ چې بخښونکے دے، له آسمانه په تاسو برکتونه نازلوي، او د پريمانه مالونو او بچيانو په درکړې سره له تاسو سره مرسته کوي او باغونه او له اوبو ډکې ويالې ستاسو په واک کښې

فَرَحِمَ اللهُ امْرَأً اسْتَقْبَلَ تَوْبَتَهُ، وَاسْتَقَالَ خَطِيئَتَهُ، وَبَادَرَ مَنِيَّتَهُ!

اللّهُمَّ إِنَّا خَرَجْنَا إِلَيْكَ مِنْ تَحْتِ الاَسْتَارِ وَالاَكْنَانِ، وَبَعْدَ عَجِيجِ الْبَهَائِمِ وَالْوِلْدَانِ، رَاغِبِينَ فِي رَحْمَتِكَ، وَرَاجِينَ فَضْلَ نِعْمَتِكَ، وَخَائِفِينَ مِنْ عَذَابِكَ وَنِقْمَتِكَ. اللّهُمَّ فَاسْقِنَا غَيْثَكَ، وَلاَ تَجْعَلْنَا مِنَ الْقَانِطِينَ، وَلاَ تُهْلِكْنَا بِالسِّنِينَ، وَلاَ تُؤَاخِذْنَا بِمَا فَعَلَ السُّفَهَاءُ مِنَّا يَا أَرْحَمَ الرَّاحِمِينَ. اللّهُمَّ إِنَّا خَرَجْنَا إِلَيْكَ نَشْكُو إِلَيْكَ مَا لاَ يَخْفَى عَلَيْكَ، حِينَ أَلْجَأَتْنَا الْمَضَايِقُ الْوَعْرَةُ، وَأَجَاءَتْنَا الْمَقَاحِطُ الْمُجْدِبَةُ، وَأَعْيَتْنَا الْمَطَالِبُ الْمُتَعَسِّرَةُ، وَتَلاَحَمَتْ عَلَيْنَا الْفِتَنُ الْمُسْتَصْعِبَةُ. اللّهُمَّ إِنَّا نَسْأَلُكَ أَلاَّ تَرُدَّنَا خَائِبِينَ، وَلاَ تَقْلِبَنَا وَاجِمِينَ، وَلاَ تُخَاطِبَنَا بِذُنُوبِنَا، وَلاَ تُقَايِسَنَا بِأَعْمَالِنَا. اللّهُمَّ انْشُرْ عَلَيْنَا غَيْثَكَ وَبَرَكَتَكَ، وَرِزْقَكَ وَرَحْمَتَكَ، وَاسْقِنَا سُقْيَا نَافِعَةً مُرْوِيَةً مُعْشِبَةً، تُنْبِتُ بِهَا مَا قَدْ فَاتَ، وَتُحْيِي بِهَا مَا قَدْ مَاتَ، نَافِعَةَ الْحَيَا، كَثِيرَةَ الْمُجْتَنَى، تُرْوِي بِهَا الْقِيعَانَ، وَتُسِيلُ الْبُطْنَانَ، وَتَسْتَوْرِقُ الاَشْجَارَ، وَتُرْخِصُ الاَسْعَارَ، إِنَّكَ عَلَى مَا تَشَاءُ قَدِيرٌ.

## [ ١٤٤ ]

### مَبْعَثُ الرُّسُلِ

بَعَثَ اللهُ رُسُلَهُ بِمَا خَصَّهُمْ بِهِ مِنْ وَحْيِهِ، وَجَعَلَهُمْ حُجَّةً لَهُ عَلَى خَلْقِهِ، لِئَلاَّ تَجِبَ الْحُجَّةُ لَهُمْ بِتَرْكِ الاِعْذَارِ إِلَيْهِمْ، فَدَعَاهُمْ بِلِسَانِ الصِّدْقِ إِلَى سَبِيلِ الْحَقِّ. أَلاَ إِنَّ اللهَ قَدْ كَشَفَ الْخَلْقَ كَشْفَةً، لاَ أَنَّهُ جَهِلَ مَا أَخْفَوْهُ مِنْ مَصُونِ أَسْرَارِهِمْ وَمَكْنُونِ ضَمَائِرِهِمْ، وَلكِنْ لِيَبْلُوَهُمْ أَيُّهُمْ أَحْسَنُ عَمَلاً، فَيَكُونَ الثَّوَابُ جَزَاءً، وَالْعِقَابُ بَوَاءً.

فَضْلُ أَهْلِ الْبَيْتِ

أَيْنَ الَّذِينَ زَعَمُوا أَنَّهُمُ الرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ دُونَنَا، كَذِباً

درکوي»
نو د خدای رحمت دې وي په هغه کس باندې چې د توبې هرکلی وکړي او د خپلو گناهونو بخښنه وغواړي او مخکې له دې چې مرگ یې راورسېږي اصلاح شي.

### د باران غوښتنه

ای خدایه! مونږ د تږو ځاروو د رمباړو او د اوږو ماشومانو د بوږنوونکو چغوسورو له اوریدلو ورسته له کورنو او کېږديو راوتلي یوو او ستا د رحمت لېواله،او ستا فضل او نعمت ته هیله مند یوو او له عذابه دې ویره لروو ای خدایه! باران دې په مونږ باندې ووروه او مونږ نهیلي او ناامیده مه ستنوه! او په اوچکالی او کاختی (قحطی) سره مو مه تباه کوه او په هغو بدو کارونو سره چې په مونږ کښې موجودو بې عقلانو کړي دي په مونږ عذاب مه نازلوه. ای تر ټولو مهربانانو مهربانه! ای لویه خدایه! تا ته مو د هغه څه فریاد راوړی چې له تا پټ نهٔ دي او دا هغه وخت دی چې ډېرو سختیو مونږ مجبوره کړي یوو او اوچکالی او کاختی پوزې ته راوستي یوو.او سختو پېښو ناتوانه کړي یوو او سختو فتنو ځپلي یوو. ای خدایه! له تا غواړو چې مونږ نهیلي مه ستنوه، او په غم او اندیښنې کښې مو کورونو ته مه لیږه،او زمونږ گناهانې مونږ ته مه یادوه او په عملونو مو مه محاسبه کوه. ای خدایه! په مونږ باندې د رحمت باران اوروې او د خپل برکت وزرې راباندې راخپرې کړې او په داسې باران مو خړوب کړې چې گټه ور، سېرابوونکی او د بوټو زرغونوونکی وي. او هغه څه چې وچ شوي دي راشنهٔ یې کړي او څه چې مړهٔ شوي دي راژوندي یې کړي داسې ورښت چې گټه ور او د پرېمانه بوټو زرغونوونکی وي چې غرونه او غونډۍ خړوب کړي او په وادیانو او سېندونو کښې د سېلاب په شان وبهیږي. له ونو پاڼې راوټوکوي او گراني کمه کړي بې شکه چې تهٔ په هر څه باندې وسیال یې»

## ﴿یو سل څلور څلویښتمه خطبه﴾

### د پېغمبرانو علیهم‌السلام د بعثت فلسفه

خدای تعالی پېغمبران راولېږل او وحي یې ورسره ځانگړې کړه. او پېغمبران یې په خپلو بندگانو حجت وگرځول چې د چا لپاره عذر او استدلال پاتې نهٔ شي هغوي انسانان په ربښتیني ژبه د حق لارې ته راوبلل. خبر اوسئ! چې خدای تعالی د انسان له هر څهٔ خبر دی نهٔ د انسانانو کوم پټ رازونه له هغه پټ دي او نهٔ له هغه څه ناخبره دی چې په سینو کښې نغښتي دي.«بلکه د انسانانوآزموینه یې غوښتله چې څوک پکښې نیک کارونه کوي» چې په جزا کښې ورته اجر ورکړي او په سزا کښې ورته عذاب ورکړي.

### د دولسو امامانو علیهم‌السلام ځانگړتیاوې او خصوصیتونه

چرته دي هغه خلق چې گمان یې کوهٔ د قرآن د علم خاوندان دوي دي نه

وَبَغْياً عَلَيْنَا، أَنْ رَفَعَنَا اللهُ وَوَضَعَهُمْ، وَأَعْطَانَا وَحَرَمَهُمْ، وَأَدْخَلَنَا وَأَخْرَجَهُمْ. بِنَا يُسْتَعْطَى الْهُدَى، وَبِنَا يُسْتَجْلَى الْعَمَى. إنَّ الأَئِمَّةَ مِنْ قُرَيْش غُرِسُوا فِي هذَا الْبَطْنِ مِنْ هَاشِم، لاَ تَصْلُحُ عَلَى سِوَاهُمْ، وَلاَ تَصْلُحُ الْوُلاَةُ مِنْ غَيْرِهِمْ.

منْهَا فِي أَهْلِ الضَّلاَل

آثَرُوا عَاجِلاً، وَأَخَّرُوا آجِلاً، وَتَرَكُوا صَافِياً، وَشَرِبُوا آجِناً، كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى فَاسِقِهِمْ وَقَدْ صَحِبَ الْمُنْكَرَ فَأَلِفَهُ، وَبَسِىءَ بِهِ وَوَافَقَهُ، حَتَّى شَابَتْ عَلَيْهِ مَفَارِقُهُ، وَصُبِغَتْ بِهِ خَلاَئِقُهُ، ثُمَّ أَقْبَلَ مُزْبِداً كَالتَّيَّارِ لاَ يُبَالِي مَا غَرَّقَ، أَوْ كَوَقْعِ النَّارِ فِي الْهَشِيمِ لاَ يَحْفِلُ مَا حَرَّقَ!

أَيْنَ الْعُقُولُ الْمُسْتَصْبِحَةُ بِمَصَابِيحِ الْهُدَى، وَالأَبْصَارُ اللاَّمِحَةُ إِلَى مَنَارِ التَّقْوَى؟! أَيْنَ الْقُلُوبُ الَّتِي وُهِبَتْ للهِ، وَعُوقِدَتْ عَلَى طَاعَةِ اللهِ؟! ازْدَحَمُوا عَلَى الْحُطَامِ، وَتَشَاحُّوا عَلَى الْحَرَامِ، وَرُفِعَ لَهُمْ عَلَمُ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ، فَصَرَفُوا عَنِ الْجَنَّةِ وُجُوهَهُمْ، وَأَقْبَلُوا إِلَى النَّارِ بِأَعْمَالِهِمْ، دَعَاهُمْ رَبُّهُمْ فَنَفَرُوا وَوَلَّوْا، وَدَعَاهُمُ الشَّيْطَانُ فَاسْتَجَابُوا وَأَقْبَلُوا!

مونږ (اهلبیت﷨).دا ادعا یې د دروغو او د ظلم له مخې زمونږ په وړاندې وکړه.خدا ے مونږ (اهل بیت﷨) لوړ کړوو او هغوي یې خوار او ذلیل کړل . مونږ ته یې کمالات راکړل او هغوي یې بې برخې کړل، مونږ یې په خپلو نعمتونو کښې داخل کړوو او هغوي یې ترې اوبستل، هم زمونږ په وسیله لار لټؤنکي لاره مومي او په تیرو کښې د رڼا لټوال رڼا اخلي. خبر اوسئ چې ( دولس) امامان به ټول له قریشو وي چې ونه یې د بني هاشمو په کورنۍ کښې کرل شوې ده.د ولایت او امامت مقام له نورو سره نۀ ښائي او د واکمنۍ مدعیان د دې جوګه نۀ دي.

## د ګمراهانو پېژندل او د عبدالملک بن مروان د ظلمونو خبر ورکول

ګمراهانو تېرېدونکې دنیا واخېسته او پاتې کېدونکے آخرت یې پرېښود.رڼه چینه یې پرېښوده او خړې او بې خونده اوبۀ یې اوڅښلې، تۀ به وائې زۀ د هغوی فاسق کس (عبدالملک مروان ) وینم چې د منکراتو یار دے او د بدو کارونو ملګرے دے.تر دې چې د سر وېښتۀ یې په ګناهونو کښې سپین شي او اخلاق یې د ګناه او منکراتو خوي بوي واخلي. او په دغه حال کښې یې له خولې څګونه پورته کېږي راپاځي او د ظالم سېلاب په شان چې څه یې مخې ته راځي وړي یې، هر څه لولپه کړي یا د بوسو د اور په شان چې اوچ او لوندۀ په یوځاے سوځوي او هر څه ایره کوي!

## شکرې ملغلرې

چرته دي هغه عقلونه چې د هدایت له څراغه رڼا غواړي او چرته دي هغه سترګې چې د پرهېزګارۍ نښو ته ځېرې دي. چرته دي هغه زړونه چې خداے ته ورکړل شوي دي او د خداے په اطاعت ژمن دي؟ افسوس چې خلق د دنیا په مال ورمات شوي او د حرامو د ګټلو لپاره یې برید کړے دے او یو بل شاته کوي. او کله چې د جنت او دوزخ بېرغ هغوي ته ورپول شو نو له جنته یې مخ واړوۀ او په خپلو سپکو کړو سره په دوزخ ورمات شول، د دوي پالونکي، دوي وبللې خو شا یې کړه او وتښتېدل، او کله چې شېطان بلنه ورکړه نو په منډه ورغلل.

[ ۱٤٥ ]

فَنَاءُ الدُّنْيَا

أَيُّهَا النَّاسُ، إِنَّمَا أَنْتُمْ فِي هذِهِ الدُّنْيَا غَرَضٌ تَنْتَضِلُ فِيهِ الْمَنَايَا، مَعَ كُلِّ جُرْعَة شَرَقٌ، وَفِي كُلِّ أَكْلَة غَصَصٌ! لاَ تَنَالُونَ مِنْهَا نِعْمَةً إِلاَّ بِفِرَاقِ أُخْرَى، وَلاَ يُعَمَّرُ مُعَمَّرٌ مِنْكُمْ يَوْماً مِنْ عُمُرِهِ إِلاَّ بِهَدْمِ آخَرَ مِنْ أَجَلِهِ، وَلاَ تُجَدَّدُ لَهُ زِيَادَةٌ فِي أَكْلِهِ إِلاَّ بِنَفَادِ مَا قَبْلَهَا مِنْ رِزْقِهِ، وَلاَ يَحْيَا لَهُ أَثَرٌ إِلاَّ مَاتَ لَهُ أَثَرٌ، وَلاَ يَتَجَدَّدُ لَهُ جَدِيدٌ إِلاَّ بَعْدَ أَنْ يَخْلَقَ لَهُ جَدِيدٌ، وَلاَ تَقُومُ لَهُ نَابِتَةٌ إِلاَّ وَتَسْقُطُ

## ﴿ یو سل پینځۀ څلوېښتمه خطبه ﴾

### دنیا پېژندنه

اے خلقو!تاسو په دې دنیا کښې د مرګ د غشو نښنه یئ او دلته له هر ګوټ سره اتروشے او له هرې نوړې سره په مرۍ کښې هډوکے دے. په دنیا کښې هیڅ نعمت لاسته نۀ راځي مګر دا چې یو بل نعمت له لاسه لاړ شي. او د عمر یوه ورځ نۀ زیاتېږي مګر دا چې یوه ورځ یې کمه شي. او هیڅ اثر تر هغې نۀ ښکاره کېږي تر څو له ځانه مخکې نښه ړنګه نۀ کړي. او هیڅ څیز نۀ نوے کېږي ترڅو له ځانه مخکې بل څیز زوړ نۀ کړي او نوے څیز نۀ راټوکېږي تر څو زوړ څیز ونۀ رېبلے شي. زمونږ مشران چې

مِنْهُ مَحْصُودَةٌ، وَقَدْ مَضَتْ أُصُولٌ نَحْنُ فُرُوعُهَا، فَمَا بَقَاءُ فَرْعٍ بَعْدَ ذَهَابِ أَصْلِهِ!

مِنْهَا فِي ذَمِّ الْبِدْعَةِ: وَمَا أُحْدِثَتْ بِدْعَةٌ إِلاَّ تُرِكَ بِهَا سُنَّةٌ، فَاتَّقُوا الْبِدَعَ، وَالْزَمُوا الْمَهْيَعَ، إِنَّ عَوَازِمَ الأُمُورِ أَفْضَلُهَا، وَإِنَّ مُحْدَثَاتِهَا شِرَارُهَا.

[ ۱٤٦ ]

وَمِنْ كَلاَمٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ وَقَد اسْتَشَارَهُ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ فِي الشُّخُوصِ لِقِتَالِ الْفُرْسِ بِنَفْسِهِ

إِنَّ هذَا الأَمْرَ لَمْ يَكُنْ نَصْرُهُ وَلاَ خِذْلاَنُهُ بِكَثْرَةٍ وَلاَ بِقِلَّةٍ، وَهُوَ دِينُ اللهِ الَّذِي أَظْهَرَهُ، وَجُنْدُهُ الَّذِي أَعَدَّهُ وَأَمَدَّهُ، حَتَّى بَلَغَ مَا بَلَغَ، وَطَلَعَ حَيْثُ طَلَعَ، وَنَحْنُ عَلَى مَوْعُودٍ مِنَ اللهِ، وَاللهُ مُنْجِزٌ وَعْدَهُ، وَنَاصِرٌ جُنْدَهُ. وَمَكَانُ الْقَيِّمِ بِالأَمْرِ مَكَانُ النِّظَامِ مِنَ الْخَرَزِ يَجْمَعُهُ وَيَضُمُّهُ: فَإِنِ انْقَطَعَ النِّظَامُ تَفَرَّقَ وَذَهَبَ، ثُمَّ لَمْ يَجْتَمِعْ بِحَذَافِيرِهِ أَبَداً. وَالْعَرَبُ الْيَوْمَ وَإِنْ كَانُوا قَلِيلاً، فَهُمْ كَثِيرُونَ بِالإِسْلاَمِ، عَزِيزُونَ بِالاجْتِمَاعِ! فَكُنْ قُطْباً، وَاسْتَدِرِ الرَّحَا بِالْعَرَبِ، وَأَصْلِهِمْ دُونَكَ نَارَ الْحَرْبِ، فَإِنَّكَ إِنْ شَخَصْتَ مِنْ هذِهِ الأَرْضِ انْتَقَضَتْ عَلَيْكَ الْعَرَبُ مِنْ أَطْرَافِهَا وَأَقْطَارِهَا، حَتَّى يَكُونَ مَا تَدَعُ وَرَاءَكَ مِنَ الْعَوْرَاتِ أَهَمَّ إِلَيْكَ مِمَّا بَيْنَ يَدَيْكَ.

إِنَّ الأَعَاجِمَ إِنْ يَنْظُرُوا إِلَيْكَ غَداً يَقُولُوا: هذَا أَصْلُ الْعَرَبِ، فَإِذَا اقْتَطَعْتُمُوهُ اسْتَرَحْتُمْ، فَيَكُونُ ذلِكَ أَشَدَّ لِكَلَبِهِمْ عَلَيْكَ، وَطَمَعِهِمْ فِيكَ.فَأَمَّا مَا ذَكَرْتَ مِنْ مَسِيرِ الْقَوْمِ إِلَى قِتَالِ الْمُسْلِمِينَ، فَإِنَّ اللهَ سُبْحَانَهُ هُوَ أَكْرَهُ لِمَسِيرِهِمْ مِنْكَ، وَهُوَ أَقْدَرُ عَلَى تَغْيِيرِ مَا يَكْرَهُ. وَأَمَّا مَا ذَكَرْتَ مِنْ عَدَدِهِمْ، فَإِنَّا لَمْ نَكُنْ نُقَاتِلُ فِيمَا مَضَى بِالْكَثْرَةِ، وَإِنَّمَا كُنَّا نُقَاتِلُ بِالنَّصْرِ وَالْمَعُونَةِ!

[ ۱٤٧ ]

زموږ جرړې وې تېر شول او موږ د هغوي څانګې يوو (او صفا خبره ده) چې څانګې بې له جرړې او تنې څه معنا او حيثيت لري؟

په دنيا کښې هيڅ بدعت نۀ ژوندے کېږي تر څو يو سنت او دود مړ نۀ شي نو له بدعتونو ډډه وکړئ او په نېغه لار قائم اوسئ. تر ټولو ښه کارونه هغه دودونه دي چې ډېرې مودې پرې تېرې شوې وي او سم والي يې ثابت شوي وي. او تر ټولو بدکارونه هغه دي چې په دين کښې نوي پېدا شوي وي او راتلونکے وخت يې معلوم نۀ وي.

## ﴿ يو سل شپږ څلوېښتمه خطبه ﴾

(دويم خليفه له اميرالمومنين‌ؑ سره مشوره وکړه چې آيا د ايران جنګ ته په خپله لاړ شي او که نه؟ امام ځواب ورکړ) [۹۳]

### د مسلمانانو او اسلام د برې لاملونه او اسباب[۹۴]

د اسلام برے او ماتې د شمېر په کمي زياتي پورې نۀ ؤ. اسلام د خداے دين دے چې برياليے يې کړ او مسلمانان د خداے پاک سپاهيان دي چې تيارکړي يې دي او مرسته يې کړې ده.او دا سپاهيان اورسېدل هغه ځاے ته چرته چې بايد رسېدلي وې.او چرته چې لازمه وه هلته يې ځرک وواهۀ.او موږ د خداے پاک وعدې ته هيله مند يوو ځکه چې هغه په خپلې وعدې وفا کوي او د خپل لښکر مرسته به وکړي. په هيواد کښې د مشر مقام د هغه کلک پړي په شان وي چې ټولې کړۍ له يو بل سره کلکوي او پيوندوي يې، که دغه رسۍ وشلېږي ټولې کړۍ خورېږي.او هره يوه يې يوه لور ته لوېږي.او بيا هيڅکله نه راغونډېږي. نن که څه هم د عربو شمېر کم دے خو د اسلام په نعمت سره پرېمانه دي او په اتحاد او يوزړۀ والي سره عزتمن او قدرتمن دي. نو ته (حضرت عمر) په مرکز کښې پاتې شه او د ژرندې د پل په شان ټولنه چلوه او د جنګ لپاره خلق ولېږه.ځکه چې که تۀ له دې ځاے ووتې نو ټول عرب به درته راپاڅي او ستا پسې به ...

فوځي مشوره

نو که عجم تا په جنګ کښې ووينې نو وائي به چې دي خو د عربو جرړه ده که غوڅه يې کړو خبره به خلاصه شي. او دا چاره به سبب شي چې هغوي په جنګ کښې سختي او بيا بيا حملې وکړي او په تا کښې يې طمعه زياته شي.او دا چې تا وېلي دي چې هغوي له مسلمانانو سره جنګ ته راوتلي دي نو خداے پاک په دې خبره تر تا زيات خفه دے او کوم څيز چې په خداے پاک ښۀ نۀ لګېږي د هغۀ په بدلولو زيات قادر دے. البته دا چې دې ويلي دي چې د دښمن شمېر ډېر زيات دے نو موږ په تېرو جنګونو کښې د مېړونو په شمېر نه جنګېدو بلکه د خداے پاک په مرسته جنګېدو.

## ﴿ يو سل اوۀ څلوېښتمه خطبه ﴾

الْغَايَةُ مِنَ الْبِعْثَة

فَبَعَثَ اللهُ مُحَمَّداً بِالْحَقِّ لِيُخْرِجَ عِبَادَهُ مِنْ عِبَادَةِ الاَوْثَانِ إِلَى عِبَادَتِه، وَمِنْ طَاعَةِ الشَّيْطَانِ إِلَى طَاعَتِه، بِقُرْآنٍ قَدْ بَيَّنَهُ وَأَحْكَمَهُ، لِيَعْلَمَ الْعِبَادُ رَبَّهُمْ إِذْ جَهِلُوهُ، وَلِيُقِرُّوا بِهِ بَعْدَ إِذْ جَحَدُوهُ، وَلِيُثْبِتُوهُ بَعْدَ إِذْ أَنْكَرُوهُ. فَتَجَلَّى سُبْحَانَهُ لَهُمْ فِي كِتَابِهِ مِنْ غَيْرِ أَنْ يَكُونُوا رَأَوْهُ، بِمَا أَرَاهُمْ مِنْ قُدْرَتِهِ، وَخَوَّفَهُمْ مِنْ سَطْوَتِهِ، وَكَيْفَ مَحَقَ مَنْ مَحَقَ بِالْمَثُلاَتِ، وَاحْتَصَدَ مَنِ احْتَصَدَ بِالنَّقِمَاتِ!

الزَّمَانُ الْمُقْبِلُ

وَإِنَّهُ سَيَأْتِي عَلَيْكُمْ مِنْ بَعْدِي زَمَانٌ لَيْسَ فِيهِ شَيْءٌ أَخْفَى مِنَ الْحَقِّ، وَلاَ أَظْهَرَ مِنَ الْبَاطِلِ، وَلاَ أَكْثَرَ مِنَ الْكَذِبِ عَلَى اللهِ وَرَسُولِهِ، وَلَيْسَ عِنْدَ أَهْلِ ذلِكَ الزَّمَانِ سِلْعَةٌ أَبْوَرَ مِنَ الْكِتَابِ إِذَا تُلِيَ حَقَّ تِلاَوَتِهِ، وَلاَ أَنْفَقَ مِنْهُ إِذَا حُرِّفَ عَنْ مَوَاضِعِهِ، وَلاَ فِي الْبِلاَدِ شَيْءٌ أَنْكَرَ مِنَ الْمَعْرُوفِ، وَلاَ أَعْرَفَ مِنَ الْمُنْكَرِ! فَقَدْ نَبَذَ الْكِتَابَ حَمَلَتُهُ، وَتَنَاسَاهُ حَفَظَتُهُ؛ فَالْكِتَابُ يَوْمَئِذٍ وَأَهْلُهُ مَنْفِيَّانِ طَرِيدَانِ، وَصَاحِبَانِ مُصْطَحِبَانِ فِي طَرِيقٍ وَاحِدٍ لاَ يُؤْوِيهِمَا مُؤْوٍ؛ فَالْكِتَابُ وَأَهْلُهُ فِي ذلِكَ الزَّمَانِ فِي النَّاسِ وَلَيْسَا فِيهِمْ، وَمَعَهُمْ وَلَيْسَا مَعَهُمْ! لاَنَّ الضَّلاَلَةَ لاَ تُوَافِقُ الْهُدَى، وَإِنِ اجْتَمَعَا، فَاجْتَمَعَ الْقَوْمُ عَلَى الْفُرْقَةِ، وَافْتَرَقُوا عَنِ الْجَمَاعَةِ، كَأَنَّهُمْ أَئِمَّةُ الْكِتَابِ وَلَيْسَ الْكِتَابُ إِمَامَهُمْ، فَلَمْ يَبْقَ عِنْدَهُمْ مِنْهُ إِلاَّ اسْمُهُ، وَلاَ يَعْرِفُونَ إِلاَّ خَطَّهُ وَزَبْرَهُ، وَمِنْ قَبْلُ مَا مَثَّلُوا بِالصَّالِحِينَ كُلَّ مُثْلَةٍ، وَسَمَّوْا صِدْقَهُمْ عَلَى اللهِ فِرْيَةً، وَجَعَلُوا فِي الْحَسَنَةِ الْعُقُوبَةَ السَّيِّئَةَ.وَإِنَّمَا هَلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ بِطُولِ آمَالِهِمْ وَتَغَيُّبِ آجَالِهِمْ، حَتَّى نَزَلَ بِهِمُ الْمَوْعُودُ الَّذِي تُرَدُّ عَنْهُ الْمَعْذِرَةُ، وَتُرْفَعُ عَنْهُ التَّوْبَةُ، وَتَحُلُّ مَعَهُ الْقَارِعَةُ وَالنِّقْمَةُ.

عِظَةُ النَّاسِ: أَيُّهَا النَّاسُ، إِنَّهُ مَنِ اسْتَنْصَحَ اللهَ وُفِّقَ، وَمَنِ اتَّخَذَ قَوْلَهُ دَلِيلاً هُدِيَ لِلَّتِي هِيَ أَقْوَمُ؛ فَإِنَّ جَارَ اللهِ آمِنٌ، وَعَدُوَّهُ خَائِفٌ، وَإِنَّهُ لاَ يَنْبَغِي لِمَنْ عَرَفَ عَظَمَةَ اللهِ أَنْ يَتَعَظَّمَ، فَإِنَّ رِفْعَةَ الَّذِينَ يَعْلَمُونَ مَا عَظَمَتُهُ أَنْ يَتَوَاضَعُوا لَهُ، وَسَلاَمَةَ الَّذِينَ

## د پېغمبراکرمﷺ د بعثت فلسفه

خدا ے تعالی حضرت محمدﷺ په حقه مبعوث کړ چې د خدا ے بندګان د بتانو له عبادته د خدا ے پاک عبادت او د شېطان له اطاعته يې د رحمان اطاعت ته بوځي. په هغه قرآن سره چې معنا يې څرګنده او بنياد يې مضبوط کړ چې بندګان د خدا ے پاک په عظمت او لوے والي باندې پوه شي چې نۀ پرې پوهېدل، او که منکر يې دي نو اقرار پرې وکړي او له ځيله وروسته پرې داده شي. او وروسته له دې چې هغوي خدا ے پاک نۀ نۀ پېژندۀ هغه ورو پېژني. نو خدا ے پاک په خپل کتاب کښې بې له دې چې څوک يې اويني ځان په بندګانو اوپېژندۀ. او خپل قدرت يې ټولو ته ښکاره کړ او له خپل قهره يې اويرول، او دا چې څرنګه يې په خپلې سزا سره يو ولس چې بايد تباه شوے وې له منځه يوړو او د انتقام په لور سره يې وريبۀ.

## د اسلام او مسلمانانو خوابښينوونکے مستقبل

خبر شئ چې له ما وروسته به په تاسو باندې داسې زمانه راشي چې پکښې به تر حقه زيات پټ او تر باطله زيات ښکاره او په خدا ے او د هغۀ په رسولﷺ باندې د دروغو تر ټرلو زيات څيز بل نۀ وي او د هغه زمانې د خلقو په نزد به تر قرآنه زيات زيانمن بل څه نۀ وي دا چې قرآن سم ولولي او سم يې تفسيرکړي او تر هغه قيمتي متاع به بله نۀ وي هغه وخت چې دوي يې تحريف کړي او مطلبونه يې بې ځايه کړي. په ښارونو کښې به تر معروفه زيات ناپيژاندے او تر منکره زيات پېژندل شوے څيز بل نۀ وي. د قرآن حاملان به هغه پرېږدي او حافظان به يې هېر کړي. نو په هغه زمانه کښې به قرآن او منونکي يې په خلقو کښې مهجور او اوشړل شي. او دواړه به د مسافرو په شان په ناپيژاندي لاره روان وي او د پناه ځاے به نۀ لري. ځکه چې ګمراهي او هدايت هيڅکله نۀ سره غړمله کېږي. که څه هم د يو بل تر څنګه وي. په هغه زمانه کښې به خلق په جدائۍ او تفرقې کښې يو لاس او په اتحاد او يووالي کښې متفرق وي. ته به وائې هغوي د قرآن لارښوونکي دي او قرآن د هغوي لارښوونکے نۀ دے. نو د هغوي په نزد به د قرآن تش نوم پاتے شي او هغوي به د قرآن يواځې خط او ليکنه پېژني، له دې مخکښې هم دوي نېکانو ته سزاګانې ورکړې او د هغوي رښتيا خبرې يې په خدا ے پورې دروغ ګڼلي دي. او د نېکو چارو يې بده سزا ورکړې ده. او په رښتيا چې له تاسو مخکښې خلق يواځې په دې وجه تباه شول چې هيلې يې اوږدې وې او مرګ يې له نظره پټ ؤ. او ناڅاپه پرې هغه مرګ يرغل وکړ چې وعده يې ورکړې شوې وه. هغه مرګ چې عذر نۀ مني، د توبې ورونه بندوي او له مرګه وروسته سخته سزا له ځان سره لري.

## شکرې ملغلرې

اے خلقو! څوک چې له خدايه خبر او نصيحت وغواړي خدا ے پاک ورته توفيق ورکوي او څوک چې د خدا ے پاک خبرې خپل لارښود

يَعْلَمُونَ مَا قُدْرَتُهُ أَنْ يَسْتَسْلِمُوا لَهُ، فَلاَ تَنْفِرُوا مِنَ الْحَقِّ نِفَارَ الصَّحِيحِ مِنَ الاَجْرَبِ، وَالْبَارِي مِنْ ذِي السَّقَمِ. وَاعْلَمُوا أَنَّكُمْ لَنْ تَعْرِفُوا الرُّشْدَ حَتَّى تَعْرِفُوا الَّذِي تَرَكَهُ، وَلَنْ تَأْخُذُوا بِمِيثَاقِ الْكِتَابِ حَتَّى تَعْرِفُوا الَّذِي نَقَضَهُ، وَلَنْ تَمَسَّكُوا بِهِ حَتَّى تَعْرِفُوا الَّذِي نَبَذَهُ؛ فَالْتَمِسُوا ذلِكَ مِنْ عِنْدِ أَهْلِهِ، فَإِنَّهُمْ عَيْشُ الْعِلْمِ، وَمَوْتُ الْجَهْلِ، هُمُ الَّذِينَ يُخْبِرُكُمْ حُكْمُهُمْ عَنْ عِلْمِهِمْ، وَصَمْتُهُمْ عَنْ مَنْطِقِهِمْ، وَظَاهِرُهُمْ عَنْ بَاطِنِهِمْ، لاَ يُخَالِفُونَ الدِّينَ وَلاَ يَخْتَلِفُونَ فِيهِ، فَهُوَ بَيْنَهُمْ شَاهِدٌ صَادِقٌ، وَصَامِتٌ نَاطِقٌ.

وګرځوي نبغې لارې ته يې هدايتوي. نو د خداے پاک ګاونډے په امان کښې دے او د خداے پاک دښمن په وېره کښې، څوک چې د خداے پاک په سترتوب او عظمت پوهېږي نۀ ښائي چې ځان ستر وګڼي او د داسې کسانو سترتوب په خاکسارۍ او تواضع کښې دے او څوک چې د خداے له قدرته خبر وي سلامتيا يې په دې کښې ده چې د هغۀ امر ته تسليم وي. نو له حقه داسې مه تښتئ لکه خلق چې له خارښتي سړي تښتي. يا روغ له ناروغه تښتته کوي. او پوه شئ چې حق به تر هغې ونۀ پېژنئ تر څو چې د حق پرېښودونکي ونۀ پېژنئ! او د قرآن په ژمنې به تر هغې پابند پاتې نۀ شئ تر څو پيمان ماتوونکي ونۀ پېژنئ. او تر هغې به په قرآن عمل ونۀ کړئ تر څو چې د قرآن پرېښودونکي ونۀ پېژنئ.

نو ژغورنه (نجات) په ژغورونکو کښې ولټوئ ځکه چې اهلبيتﷺ د علم ژوندي کوونکي او د جهل وژونکي دي دا هماغه کسان دي چې حکم يې د پوهې، چپتيا يې د خبرو او ظاهر يې د باطن خبر ورکوي. نۀ د خداے پاک له دين سره مخالفت کوي او نۀ پکښې اختلاف کوي دين په هغوي کښې رېښتينے ګواه او غلے ويئونکے دے.

## [ ۱۴۸ ]

وَمِنْ خُطْبَةٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ فِي ذِكْرِ أَهْلِ الْبَصْرَةِ

كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا يَرْجُو الاَمْرَ لَهُ، وَيَعْطِفُهُ عَلَيْهِ دُونَ صَاحِبِهِ لاَ يَمُتَّانِ إِلَى اللهِ بِحَبْلٍ وَلاَ يَمُدَّانِ إِلَيْهِ بِسَبَبٍ. كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا حَامِلُ ضَبٍّ لِصَاحِبِهِ وَعَمَّا قَلِيلٍ يُكْشَفُ قِنَاعُهُ بِهِ!

وَاللهِ لَئِنْ أَصَابُوا الَّذِي يُرِيدُونَ لَيَنْتَزِعَنَّ هذَا نَفْسَ هذَا، وَلَيَأْتِيَنَّ هذَا عَلَى هذَا، قَدْ قَامَتِ الْفِئَةُ الْبَاغِيَةُ، فَأَيْنَ الْمُحْتَسِبُونَ ؟! قَدْ سُنَّتْ لَهُمُ السُّنَنُ، وَقُدِّمَ لَهُمُ الْخَبَرُ، وَلِكُلِّ ضَلَّةٍ عِلَّةٌ، وَلِكُلِّ نَاكِثٍ شُبْهَةٌ. وَاللهِ لاَ أَكُونُ كَمُسْتَمِعِ اللَّدْمِ، يَسْمَعُ النَّاعِيَ، وَيَحْضُرُ الْبَاكِيَ، ثُمَّ لاَ يَعْتَبِرُ!

## ﴿ يو سل اتۀ څلوېښتمه خطبه ﴾

(دا خطبه يې د بصرې د ښار او خلقو په حقله ورکړې ده)

### د طلحه او زبير نفسيات پېژندنه

«د بصرې په بلوا کښې» له دغو دواړو «طلحه او زبير» څخه هر يو د ځان لپاره هيله مند دے چې حکومت هغۀ ته په لاس ورشي نه د دۀ ملګري ته[۹۵]. دغو دواړو نۀ د خداے پاک رسۍ راونيوه او نۀ يې د خداے پاک کومه وسيله راټينګه کړه. هر يو له بل سره کينه لري او ډېر زر به له دغه کينې پرده پورته شي.

په خداے قسم! که خپل مقصد ته اورسېدل نو هغه به دې اوژني او دې به د هغۀ ژوند واخلي. دا باغي او سرکښه ډله (ناکثين) پورته شوې ده نو د خداے د لارې لارويان چرته دي. دوي ته د پېغمبراکرمﷺ سنت بيان شوے او خبرونه ورکړل شوي دي. ما ته پته ده چې د هرې ګمراهۍ يو سبب او د هرې عهد شکنۍ يوه شبهه[۹۶] او بهانه موجوده وي. په خداے قسم! زۀ د هغه چا په شان نۀ يم چې د ژړا غږ او د مرګ آواز او د هغه مرګ د فرښتې بلنه واوري او عبرت وانۀ خلي.

## [ ۱۴۹ ]

وَمِنْ كَلاَمِهِ عَلَيْهِ السَّلاَمُ قَبْلَ مَوْتِهِ

أَيُّهَا النَّاسُ، كُلُّ امْرِىءٍ لاَقٍ بِمَا يَفِرُّ مِنْهُ فِي فِرَارِهِ، وَالاَجَلُ مَسَاقُ النَّفْسِ، وَالْهَرَبُ مِنْهُ مُوَافَاتُهُ. كَمْ أَطْرَدْتُ الاَيَّامَ أَبْحَثُهَا عَنْ مَكْنُونِ هذَا الاَمْرِ، فَأَبَى اللهُ إِلاَّ إِخْفَاءَهُ، هَيْهَاتَ! عِلْمٌ مَخْزُونٌ!

## ﴿ يو سل نهۀ څلوېښتمه خطبه ﴾

(د روژې په شلمه نېټه يې له خپل شهادته مخکښې وفرمايل)

اے خلقو! څوک چې له مرګه تښتي آخر به ورسره ملاقات وکړي او همدا مرګ د هر چا آخري منزل دے او له مرګه تېښته مرګ ته رسېدل دي. ډېره موده اوشوه چې زۀ د دغه راز په پوهېدلو پسې وم خو د خداے پاک خوښه دا وه چې راځينې پټ پاتے شي. نو دا يو داسې علم دے چې د خداے پاک په خزانه کښې پټ دے.

أَمَّا وَصِيَّتي: فَاللهَ لاَ تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئاً، وَمُحَمَّداً فَلا تُضَيِّعُوا سُنَّتَهُ، أَقِيمُوا هذَيْنِ الْعَمُودَيْنِ، وَأَوْقِدُوا هذَيْنِ الْمِصْبَاحَيْنِ، وَخَلاَكُمْ ذَمٌّ مَالَمْ تَشْرُدُوا، حُمِّلَ كُلُّ امْرِىءٍ مَجْهُودَهُ، وَخُفِّفَ عَنِ الْجَهَلَةِ، رَبٌّ رَحِيمٌ، وَدِينٌ قَوِيمٌ، وَإِمَامٌ عَلِيمٌ. أَنَا بِالاْمْسِ صَاحِبُكُمْ وَأَنَا الْيَوْمَ عِبْرَةٌ لَكُمْ، وَ غَداً مُفَارِقُكُمْ غَفَرَ اللهُ لِي وَلَكُمْ! إِنْ تَثْبُتِ الْوَطْأَةُ فِي هذِهِ الْمَزَلَّةِ فَذَاكَ، وَإِنْ تَدْحَضِ الْقَدَمُ فَإِنَّا كُنَّا فِي أَفْيَاءِ أَغْصَانٍ، وَمَهَابِّ رِيَاحٍ، وَتَحْتَ ظِلِّ غَمَامٍ، اضْمَحَلَّ فِي الْجَوِّ مُتَلَفَّقُهَا، وَعَفَا فِي الارْضِ مَخَطُّهَا. وَإِنَّمَا كُنْتُ جَاراً جَاوَرَكُمْ بَدَنِي أَيَّاماً، وَسَتُعْقَبُونَ مِنِّي جُثَّةً خَلاَءً: سَاكِنَةً بَعْدَ حَرَاكٍ، وَصَامِتَةً بَعْدَ نُطْقٍ لِيَعِظْكُمْ هُدُوِّي، وَخُفُوتُ إِطْرَاقِي، وَسُكُونُ أَطْرَافِي، فَإِنَّهُ أَوْعَظُ لِلْمُعْتَبِرِينَ مِنَ الْمَنْطِقِ الْبَلِيغِ وَالْقَوْلِ الْمَسْمُوعِ. وَدَاعِيكُمْ وَدَاعُ امْرِىءٍ مُرْصِدٍ لِلتَّلاَقِي! غَداً تَرَوْنَ أَيَّامِي، وَيُكْشَفُ لَكُمْ عَنْ سَرَائِرِي، وَتَعْرِفُونَنِي بَعْدَ خُلُوِّ مَكَانِي وَقِيَامِ غَيْرِي مَقَامِي.

## [ ۱۵۰ ]

وَمِنْ خُطْبَةٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ يُومِئُ فِيهَا إِلَى الْمَلاَحِمِ

وَأَخَذُوا يَمِيناً وَشِمَالاً ظَعْناً فِي مَسَالِكِ الْغَيِّ، وَتَرْكاً لِمَذَاهِبِ الرُّشْدِ، فَلاَ تَسْتَعْجِلُوا مَا هُوَ كَائِنٌ مُرْصَدٌ، وَلاَ تَسْتَبْطِئُوا مَا يَجِيءُ بِهِ الْغَدُ فَكَمْ مِنْ مُسْتَعْجِلٍ بِمَا إِنْ أَدْرَكَهُ وَدَّ أَنَّهُ لَمْ يُدْرِكْهُ، وَمَا أَقْرَبَ الْيَوْمَ مِنْ تَبَاشِيرِ غَدٍ! يَاقَوْمِ، هذَا إِبَّانُ وُرُودِ كُلِّ مَوْعُودٍ، وَدُنُوٍّ مِنْ طَلْعَةِ مَا لاَ تَعْرِفُونَ.

أَلاَ وَإِنَّ مَنْ أَدْرَكَهَا مِنَّا يَسْرِي فِيهَا بِسِرَاجٍ مُنِيرٍ، وَيَحْذُو فِيهَا عَلَى مِثَالِ الصَّالِحِينَ، لِيَحُلَّ فِيهَا رِبْقاً، وَيُعْتِقَ رِقّاً، وَيَصْدَعَ شَعْباً، وَيَشْعَبَ صَدْعاً، فِي سُتْرَةٍ عَنِ النَّاسِ لاَ يُبْصِرُ الْقَائِفُ أَثَرَهُ وَلَوْ تَابَعَ نَظَرَهُ. ثُمَّ لَيُشْحَذَنَّ فِيهَا قَوْمٌ شَحْذَ الْقَيْنِ النَّصْلَ تُجْلَى بِالتَّنْزِيلِ أَبْصَارُهُمْ، وَيُرْمَى

### د امام علي علیه السلام وصیت

زما وصیت دا دے چې له خدا ے پاک سره څوک شریک مه ټاکئ او د پېغمبراکرم صلی الله علیه وآله سنت او شریعت مه ضائع کوئ. دا دوه پیاوړې ستنې قائمې کړئ او دا دوه څراغه بل وساتئ او ترڅو چې له دینه نه یئ غړېدلي ملامتیا درباندې نشته ځکه چې هر سړے په خپل وس پړ دے.او ناپوهو ته رعایت او تخفیف دے.ځکه چې پالونکے رحیم، دین ټینګ او لارښود پوه دے. زۀ پرون له تاسوسره وم او نن ستاسو لپاره عبرت یم او سبا به له تاسو جدا شم. خدا ے پاک دې ما او تاسو اوبخښي.که له دې ګوزار او ښوېدانې بچ شم خو ښه په ښه. خوکه ګامونه وښوېږي او له دې دنیا لاړ شم مونږ به هم د نورو په شان د ونو تر سیورو لاندې، په چلېدونکو بادونو او وریځتونواو تېرېدونکو وریځو کښې خوارۀ وارۀ شوو.او په ځمکه به مو نخښې ورکې شي. زۀ ستاسو ګاونډې وم چې څو ورځې مو په څنګ کښې اوسېدم. او ډېر زر به زما دا بدن بې روحه ووینئ چې له حرکته وروسته به قرار او له خبرو وروسته به خاموشه وي. نو پکار ده چې زما له چپتیا،او زما د لاس پښو او سترګو له سکوته عبرت واخلئ ځکه چې دا بې روحه کالبوت تر هرې رسا خبرې او تر هر اغیزمن دلیله زیات عبرتناک دے. له تاسو سره زما خدا ے په اماني د هغه کس د خدا ے په اماني په شان ده چې د خپل رب ملاقات ته روان وي، سبا به تاسود هغو ورځو په قدر پوه شئ چې له ماسره مو تېرې کړې دي او زما له پټو رازونو به خبر شئ او کله چې زما ځا ے خالي اوینئ او زما په ځا ے بل کس کښیني هله به ما اوپېژنئ.

## ﴿یوسل پنځوسمه خطبه﴾

(په دې خطبه کښې د راتلونکي وخت سختو پېښو ته اشاره شوې ده)

### د بشریت راتلونکے (مستقبل) او د امام مهدي علیه السلام ظهور

دغه خلق په ښي او کیڼو لارو لاړل د ګمراهۍ لاره یې خپله کړه او د هدایت روښانه لاره یې پرېښودله نوځه چې ارو مرو کېدونکي دي په هغۀ کښې بېړه مه کوئ. او څه چې په مستقبل کښې راتلونکي دي لرې یې مه ګڼئ. ځکه چې کله کله انسان یو څیز ته د رسېدلو لپاره تلوارکوي خوچې ورورسېږي نو وائي چې کاشکې دا خو مې نۀ وي لیدلے، نن ورځ د سبا رڼا ته څومره نزدې ده، اے خلقو! اوس مونږ د ورکړل شویو وعدو د تحقق په درشل کښې او د هغو څیزونو چې پټ او مبهم دي د څرک راختلو ته نزدې یوو.

### د امام مهدي علیه السلام د حکومت بریا

پوه شئ له مونږ (اهلبیتو علیهم السلام) څخه هغه کس (مهدي علیه السلام) چې راتلونکو فتنو ته پاتې شي په روښانه څراغ سره به په هغو کښې ګام واخلي او د پېغمبراکرم صلی الله علیه وآله او امامانو علیهم السلام په سیرت به عمل کوي چې غوټې پرانېزي. د ولسونو مریان خوشې کړي، ګمراهان او ظالمان خوارۀ وارۀ او تیت و پرک،او حق پالي راغونډ کړي. امام مهدي علیه السلام به اوږده موده له خلقو پټ وي ان تردې چې پل پېژندونکي به یې هم پل نۀ پېژني که څه هم د پل د موندلو یې ډېرې هڅې وکړي. بیا به یوه ډله د فتنو د څپلو لپاره داسې تیاره شي لکه توره چې صیقل کېږي. د دوی سترګې به په قرآن رڼا شي

بِالتَّفْسِيرِ فِي مَسَامِعِهِمْ، وَيُغْبَقُونَ كَأْسَ الْحِكْمَةِ بَعْدَ الصَّبُوحِ!

مِنْهَا فِي الضَّلاَلِ: وَطَالَ الاَمَدُ بِهِمْ لِيَسْتَكْمِلُوا الْخِزْيَ، وَيَسْتَوْجِبُوا الْغِيَرَ؛ حَتَّى إِذَا اخْلَوْلَقَ الاَجَلُ، وَاسْتَرَاحَ قَوْمٌ إِلَى الْفِتَنِ، وَأَشَالُوا عَنْ لَقَاحِ حَرْبِهِمْ، لَمْ يَمُنُّوا عَلَى اللهِ بِالصَّبْرِ، وَلَمْ يَسْتَعْظِمُوا بَذْلَ أَنْفُسِهِمْ فِي الْحَقِّ؛ حَتَّى إِذَا وَافَقَ وَارِدُ الْقَضَاءِ انْقِطَاعَ مُدَّةِ الْبَلاَءِ، حَمَلُوا بَصَائِرَهُمْ عَلَى أَسْيَافِهِمْ، وَدَانُوا لِرَبِّهِمْ بِأَمْرِ وَاعِظِهِمْ؛حَتَّى إِذَا قَبَضَ اللهُ رَسُولَهُ (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ)، رَجَعَ قَوْمٌ عَلَى الأَعْقَابِ، وَغَالَتْهُمُ السُّبُلُ، وَاتَّكَلُوا عَلَى الْوَلاَئِجِ، وَوَصَلُوا غَيْرَ الرَّحِمِ، وَهَجَرُوا السَّبَبَ الَّذِي أُمِرُوا بِمَوَدَّتِهِ، وَنَقَلُوا الْبِنَاءَ عَنْ رَصِّ أَسَاسِهِ، فَبَنَوْهُ فِي غَيْرِ مَوْضِعِهِ. مَعَادِنُ كُلِّ خَطِيئَةٍ، وَأَبْوَابُ كُلِّ ضَارِبٍ فِي غَمْرَةٍ، قَدْ مَارُوا فِي الْحَيْرَةِ، وَذَهَلُوا فِي السَّكْرَةِ، عَلَى سُنَّةٍ مِنْ آلِ فِرْعَوْنَ: مِنْ مُنْقَطِعٍ إِلَى الدُّنْيَا رَاكِنٍ، أَوْ مُفَارِقٍ لِلدِّينِ مُبَايِنٍ.

او په غوږونو کښې به يې د قرآن تفسير انګازې کوي او سحر او ماښام به د حکمت جامونه په سر اړوي.

### له پېغمبر اکرمﷺ نه وروسته د اسلامي امت برخليک

دغه د ګمراهانو موده اوږده شوه تردې چې رسوائي يې بشپړه شوه او ځانونه يې د زمانې د بلا وړ وګرځول. او کله چې د هغوي د ختمېدو وخت نژدې شو ځينې يې په فتنو کښې اوده شول او ځينې يې له فاسدانو سره جنګ ته پاڅېدل هغه کسان چې د خپل صبر په وجه يې په خداے پاک باندې احسان وانۀ ړوۀ او د خداے پاک په لاره کښې يې قرباني لويه ونۀ ګڼله. تر دې چې د خداے پاک اراده دا شوه چې د جاهليت پړاو ختم شي. هغوي د خداے په لار کښې توري اويستلې او خپل بصيرت يې په تورو سپور کړ او د خپل رب اطاعت يې اومنۀ. او د خپل پند ورکوونکي امر ته يې غوږ واچوۀ. په کاميابۍ او سرلوړۍ کښې يې ژوند وکړ تر دې چې خداے پاک خپل پېغمبرﷺ ځانته ستون کړ خو افسوس چې ځينې کسان د جاهليت دوران ته ستانۀ شول[97] او په بېلا بېلو لارو روان او ګمراه شول.او له خپلو بې لارو دوستانو سره يو ځاے شول. او له خپلو مومنو دوستانو چې د هغوي د دوستۍ امر ورته شوے ؤ پرې شول.او د اسلام بنيادونه يې بدل او په بل ځاے کښې يې کېښودل.هغوي د هرې خطا او ګناه چورليز او د هر فتنه پال پناه ځاے شول. چې آخر په لالهاندۍ اخته شول او په غفلت او نشه کښې مست د فرعونيانو په لار روان شول چې يا له هرڅه جدا شول او په دنيا پورې يې زړۀ وتړۀ او يا يې هم له دين سره تعلق غوڅ کړ.

[ ۱۵۱ ]

وَمِنْ خُطْبَة لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ

[وَأَحْمَدُ اللهَ] وَأَسْتَعِينُهُ عَلَى مَدَاحِرِ الشَّيْطَانِ وَمَزَاجِرِهِ، وَالاعْتِصَامِ مِنْ حَبَائِلِهِ وَمَخَاتِلِهِ. وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّداً عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، وَنَجِيبُهُ وَصَفْوَتُهُ، لاَ يُؤَازَى فَضْلُهُ، وَلاَ يُجْبَرُ فَقْدُهُ، أَضَاءَتْ بِهِ الْبِلاَدُ بَعْدَ الضَّلاَلَةِ الْمُظْلِمَةِ، وَالْجَهَالَةِ الْغَالِبَةِ، وَالْجَفْوَةِ الْجَافِيَةِ، وَالنَّاسُ يَسْتَحِلُّونَ الْحَرِيمَ، وَيَسْتَذِلُّونَ الْحَكِيمَ، يَحْيَوْنَ عَلَى فَتْرَةٍ، وَيَمُوتُونَ عَلَى كَفْرَةٍ!

التَّحْذِيرُ مِنَ الْفِتَنِ: ثُمَّ إِنَّكُمْ مَعْشَرَ الْعَرَبِ أَغْرَاضُ بَلاَيَا قَدِ اقْتَرَبَتْ، فَاتَّقُوا سَكَرَاتِ النِّعْمَةِ، وَاحْذَرُوا بَوَائِقَ النِّقْمَةِ، وَتَثَبَّتُوا فِي قَتَامِ الْعِشْوَةِ، وَاعْوِجَاجِ الْفِتْنَةِ عِنْدَ طُلُوعِ

## ﴿يو سل يو پنځوسمه خطبه﴾

### د شهادتېنو فضيلت

خداے پاک ستائم او له هغۀ مرسته غواړم په هغو ځيزونو کښې چې شېطان وشړي او وې رټي، او د هغۀ له دامونو او لومو په ژغورلو کښې، او ګواهي ورکوم چې بې له يواځيني خداے څخه بل د عبادت وړ خوک نشته او حضرت محمدﷺ د خداے پاک بنده او استازے دے او د هغۀ غوريز او خوښ کړے شوے دے. چې په فضيلت او لوړاوي کښې سارے نۀ لري. او د فقدان جبران او تلافي يې نۀ شي کېدې. ښارونه د هغۀ په وجود روښانه شول وروسته له دې چې بوږنوونکو تيرو نيولي وو او جهل او ناپوهي په افکارو غالبه او زيږوالے او قساوت په زړونو واکمن ؤ، خلقو حلال حرام او حرام حلال ګڼل او د پوهانو سپکاوے به يې کوۀ د خداے پاک له دينه جدا شوي وو او د کفر او بې دينۍ په حال کښې مړۀ کېدل.

### د کوفيانو غندنه

تاسو اے عربو! د بلا او مصيبت غشو په نښه کړي يئ چې درنژدې دي. د نعمت له مستيو ډډه وکړئ او د عذاب له سختيو اويرېږئ او ترې

جَنِينِهَا، وَظُهُـورِ كَمِينِهَـا، وَانْتِصَـابِ قُطْبِهَـا، وَمَـدَارِ رَحَاهَـا. تَبْدَأُ فِي مَـدَارِجَ خَفِيَّـةٍ، وَتَـؤُولُ إِلَـى فَظَاعَـةٍ جَلِيَّـةٍ، شِـبَابُهَا كَشِـبَابِ الْغُـلاَمِ، وَآثَارُهَـا كَآثَـارِ السِّـلاَمِ، يَتَوَارَثُهَـا الظَّلَمَـةُ بِـالْعُهُودِ! أَوَّلُهُـمْ قَائِـدٌ لآخِـرِهِمْ، وَآخِـرُهُمْ مُقْتَـدٍ بِـأَوَّلِهِمْ، يَتَنَافَسُـونَ فِـي دُنْيَـا دَنِيَّـةٍ، وَيَتَكَـالَبُونَ عَلَـى جِيفَـةٍ مُرِيحَـةٍ، وَعَنْ قَلِيلٍ يَتَبَـرَّأُ التَّـابِعُ مِـنَ الْمَتْبُـوعِ، وَالْقَائِـدُ مِـنَ الْمَقُـودِ، فَيَتَزَايَلُونَ بِالْبِغْضَاءِ، وَيَتَلاَعَنُونَ عِنْدَ اللِّقَاءِ.

ثُـمَّ يَـأْتِي بَعْـدَ ذَلِـكَ طَـالِعُ الْفِتْنَـةِ الرَّجُـوفِ، وَالْقَاصِـمَةِ الزَّحُوفِ، فَتَزِيغُ قُلُـوبٌ بَعْـدَ اسْـتِقَامَةٍ، وَتَضِـلُّ رِجَـالٌ بَعْـدَ سَـلاَمَةٍ، وَتَخْتَلِـفُ الأَهْـوَاءُ عِنْـدَ هُجُومِهَـا وَتَلْتَبِـسُ الآرَاءُ عِنْـدَ نُجُومِهَـا، مَـنْ أَشْـرَفَ لَهَـا قَصَـمَتْهُ، وَمَـنْ سَـعَى فِيهَـا حَطَمَتْـهُ، يَتَكَـادَمُونَ فِيهَـا تَكَـادُمَ الْحُمُـرِ فِـي الْعَانَـةِ! قَـدِ اضْطَرَبَ مَعْقُـودُ الْحَبْـلِ، وَعَمِـيَ وَجْـهُ الأَمْـرِ، تَغِـيضُ فِيهَـا الْحِكْمَةُ، وَتَنْطِقُ فِيهَا الظَّلَمَـةُ، وَتَـدُقُّ أَهْـلَ الْبَـدْوِ بِمِسْـحَلِهَا، وَتَرُضُّهُمْ بِكَلْكَلِهَا! يَضِيعُ فِـي غُبَارِهَـا الْوُحْـدَانُ وَيَهْلِـكُ فِـي طَرِيقِهَا الرُّكْبَانُ، تَـرِدُ بِمُـرِّ الْقَضَـاءِ، وَتَحْلُـبُ عَبِـيطَ الـدِّمَاءِ، وَتَـثْلِمُ مَنَـارَ الـدِّينِ، وَتَـنْقُضُ عَقْـدَ الْيَقِـينِ، يَهْـرُبُ مِنْهَـا الأَكْيَاسُ، وَيُـدَبِّرُهَا الأَرْجَـاسُ، مِرْعَـادٌ مِبْـرَاقٌ، كَاشِـفَةٌ عَـنْ سَاقٍ! تُقْطَـعُ فِيهَـا الأَرْحَـامُ، وَيُفَـارَقُ عَلَيْهَـا الإِسْـلاَمُ! بَرِيُّهَـا سَقِيمٌ، وَظَاعِنُهَا مُقِيمٌ!

مِنْهَا: بَـيْنَ قَتِيـلٍ مَطْلُـولٍ، وَخَـائِفٍ مُسْـتَجِيرٍ، يَخْتِلُـونَ بِعَقْـدِ الإِيمَـانِ وَبِغُـرُورِ الإِيمَـانِ؛ فَـلاَ تَكُونُـوا أَنْصَـابَ الْفِـتَنِ، وَأَعْلاَمَ الْبِدَعِ، وَالْزَمُوا مَا عُقِـدَ عَلَيْـهِ حَبْـلُ الْجَمَاعَـةِ، وَبُنِيَـتْ عَلَيْـهِ أَرْكَـانُ الطَّاعَـةِ، وَاقْـدَمُوا عَلَـى اللهِ مَظْلُـومِينَ، وَلاَ تَقْـدَمُوا عَلَيْـهِ ظَـالِمِينَ، وَاتَّقُـوا مَـدَارِجَ الشَّـيْطَانِ وَمَهَـابِطَ

اوتښتئ. او د فتنو د نوزيږي د پيدا کېدو په وخت په غښتل شوېو فتنو، او د هغو د باطن د ښکاره کېدو او د هغو د قطب او چورليز د ټنيګېدو، په وخت په اګاهانه ډول ګام اخلئ هغه فتنې چې له پټو لارو راښکاره شي او د سپکاوي او رسوائۍ سبب شي چې پېل يې د يو هلک د شباب په شان (پياوړے او ښکلې) او نښې يې په سختوکانو د پاتې آثارو په شان (بدرنګ او پاتې کېدونکې دي) چې ظالمان يې په خپلوهغو ژمنو سره چې له يو بل سره يې لري په ميراث اوړي. د هغوي وړومبے د وروستيو لارښوونکے او (د دغو بې لارو) وروستے د وړومبيو په پلۀ روان دے. دوي د سپکې دنيا په ګټلو کښې له يو بل سره سيالي کوي او د وړيو سپيو په شان دا مرداره د يو بل له لاسه تروړي، ډېر زر به يې مشر لارښود له لاروي او لاروے به يې له لارښوده بېزاره شي او په دښمنۍ او کينې سره به له يو بله جدا شي او د ملاقات په وخت به په يو بل لعنت ووائي.

### د عربو د خونړي مستقبل خبر ورکول

بيا به يوه داسې فتنه پېدا شي چې سخته لړزوونکې، ځپونکې او نابودوونکې به وي چې زړونه به له ټينګتيا وروسته ولغزيږي او ډېر خلق به له سلامتيا وروسته بې لارې شي او د افکارو ليدتوګې او نظريات به يې له ښکاره کېدو وروسته په شک او ترديد اخته شي. څوک چې له فتنو سره مقابلې ته پاڅي ملا به يې ورماته کړي او څوک چې يې د سړولو هڅه وکړي وبه يې ځپي. په دې مينځ وميان کښې به فتنه پالي د وحشي خرونو په شان يو بل چيچي او د نيکمرغۍ او د محکم دين مزي به يې وسپړل شي. او د چارې حقيقت به پټ پاتې شي، حکمت او پوهه به کمه شي ظالمان به خوله ور شي او د کليو بانډو خلق به په اوسپنو سره وځپل شي او د ظلم د مرکبونو په سينو به ومړل شي. اول به يې يواځيني ځانګړي سپارۀ (مشران) د دغو فتنو په دوړو کښې نابود شي او بيا به يې نور تکړه سپارۀ هلاک شي. فتنې به د الهي تقدير په ترخو سره راشي او تازه وينې به لويشي. د دين منارې او نښې نښانې (مقدسات) به وراني او يقينونه به له مينځه يوسي داسې فتنې به وي چې هوښياران او زيرکان به ترې اوتښتني او پليتان به يې تدبيروونکي شي. دا فتنې به غوربېدونکې بربښېدونکې او له زحمت نه ډکې وي. د خپلوۍ مزي به پکې وشليږي او له اسلامه به خلق جدا شي، دا فتنې به داسې ويجاړوونکې وي چې روغ به ناروغه او استوګن به کوچيان شي. په دې مينځ کښې به داسې وژل شوي کسان وي چې وينه به يې ضائع لاړه شي او ډارن او ويربېدونکي کسان چې د امان غوښتونکي وي په قسمونو سره به يې غولوي او د ايمان په تظاهر سره به يې ګمراه کوي.

### په فتنو کښې څه کول پکار دي؟

نو پام چې تاسو د فتنو بيرغونه او د بدعت نښانونه نه شئ، او هغه څه چې د اسلامي امت وحدت ټينګوي او د اطاعت ستنې پرې پياوړې کېږي پۀ ځان لازم کړئ او خداے ته مظلومان ورشئ نه ظالمان، او د شېطان په لومو کښې له ښکېلېدو او د دښمنۍ په واديو کښې له

الْعُدْوَانِ، وَلاَ تُدْخِلُوا بُطُونَكُمْ لُعَقَ الْحَرَامِ، فَإِنَّكُمْ بِعَيْنِ مَنْ حَرَّمَ عَلَيْكُم الْمَعْصِيَةَ، وَسَهَّلَ لَكُمْ سُبُلَ الطَّاعَةِ.

[ ۱۵۲ ]

فِي صِفَاتِ اللهِ جَلَّ جَلاَلُهُ

الْحَمْدُ للهِ الدَّالِّ عَلَى وُجُودِهِ بِخَلْقِهِ، وَبِمُحْدَثِ خَلْقِهِ عَلَى أَزَلِيَّتِهِ وَ بِاشْتِبَاهِهِمْ عَلَى أَنْ لاَ شَبَهَ لَهُ. لاَ تَسْتَلِمُهُ الْمَشَاعِرُ، وَلاَ تَحْجُبُهُ السَّوَاتِرُ، لافْتِرَاقِ الصَّانِعِ وَالْمَصْنُوعِ، وَالْحَادِّ وَالْمَحْدُودِ، وَالرَّبِّ وَالْمَرْبُوبِ. الأَحَدُ لاَ بِتَأْوِيلِ عَدَدٍ، وَالْخَالِقُ لاَ بِمَعْنَى حَرَكَةٍ وَنَصَبٍ، وَالسَّمِيعُ لاَ بِأَدَاةٍ، وَالْبَصِيرُ لاَ بِتَفْرِيقِ آلَةٍ، وَالشَّاهِدُ لاَبِمُمَاسَّةٍ، وَالْبَائِنُ لاَبِتَرَاخِي مَسَافَةٍ، وَالظَّاهِرُ لاَبِرُؤْيَةٍ، وَالْبَاطِنُ لاَ بِلَطَافَةٍ. بَانَ مِنَ الاَشْيَاءِ بِالْقَهْرِ لَهَا، وَالْقُدْرَةِ عَلَيْهَا، وَبَانَتِ الاَشْيَاءُ مِنْهُ بِالْخُضُوعِ لَهُ، وَالرُّجُوعِ إِلَيْهِ. مَنْ وَصَفَهُ فَقَدْ حَدَّهُ، وَمَنْ حَدَّهُ فَقَدْ عَدَّهُ، وَمَنْ عَدَّهُ فَقَدْ أَبْطَلَ أَزَلَهُ، وَمَنْ قَالَ: كَيْفَ، فَقَدِ اسْتَوْصَفَهُ، وَمَنْ قَالَ: أَيْنَ، فَقَدْ حَيَّزَهُ. عَالِمٌ إِذْ لاَ مَعْلُومٌ وَرَبٌّ إِذْ لاَ مَرْبُوبٌ، وَقَادِرٌ إِذْ لاَ مَقْدُورٌ.

منها في أئمّة الدين: فَقَدْ طَلَعَ طَالِعٌ، وَلَمَعَ لاَمِعٌ، وَلاَحَ لاَئِحٌ، وَاعْتَدَلَ مَائِلٌ، وَاسْتَبْدَلَ اللهُ بِقَوْمٍ قَوْماً، وَبِيَوْمٍ يَوْماً، وَانْتَظَرْنَا الْغِيَرَ انْتِظَارَ الْمُجْدِبِ الْمَطَرَ. وَإِنَّمَا الاَئِمَّةُ قُوَّامُ اللهِ عَلَى خَلْقِهِ، وَعُرَفَاؤُهُ عَلَى عِبَادِهِ، لاَ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ إِلاَّ مَنْ عَرَفَهُمْ وَعَرَفُوهُ، وَلاَ يَدْخُلُ النَّارَ إِلاَّ مَنْ أَنْكَرَهُمْ وَأَنْكَرُوهُ. إِنَّ اللهَ خَصَّكُمْ بَالاسْلاَمِ و اسْتَخْلَصَكُمْ لَهُ، وَذلِكَ لاَنَّهُ اسْمُ سَلاَمَةٍ، وَجِمَاعُ كَرَامَةٍ. اصْطَفَى اللهُ تَعَالَى

کوزېدو ډډه وکړئ او خېټې مو د حرامو لوښي مه جوړوئ بېشکه چې تاسو هغه خدای وینې چې ګناهان یې حرام او د اطاعت او بندګۍ لاره یې آسانه کړې ده.

## ﴿ یو سل دوه پنځوسمه خطبه ﴾

«وائي چې دا وینا یې د هجرت په پینځهٔ دېرشم کال د خلافت په وړومبیو ورځو کښې په مدینه منوره کښې وکړه»

### خدای پېژندنه

ستائنه د هغه خدای پاک چې د بندګانو په پنځولو «خلقت» سره یې په خپل شتون او د نویو څیزونو په خلقت سره یې په خپل ازلي والي دلیل راوړۀ. او له یو بل سره د مخلوقاتو یوشان والی دلیل دی پهٔ دې باندې چې هغه سارې نهٔ لري. د انسان حواس د هغهٔ ذات نه شي درک کولی او پردې هغه نه شي پټولی، ځکه چې جوړوُنکی او جوړېدونکی، حدجوړوُنکی او محدودېدونکی، او پالونکی او پالېدونکی یو شان نهٔ دي. هغه یواځینی او واحد دی خو وحدانیت او یووالی یې په عدد سره نهٔ دی، پنځوونکی دی خو په حرکت او د کړاو په زغملو سره نه، اورېدونکی دي خو د اورېدو په وسیلې سره نه، لیدونکی دی بې له دې چې سترګې وځمبوي، حاضر دی خو لمس کېدي نهٔ شي او له هر څه جدا دی خو داسې نه چې د هغه او مخلوقاتو په مینځ کې فاصله وي، ښکاره دی خو نهٔ د سترګو په لیدلو، پټ دی خو نهٔ د وړوکوالي او ظرافت له لحاظه. له مخلوقاتو جدا دی خو په هغوي لاسبری او واکمن دی او هرڅه یې په وړاندې خاشع او هغهٔ ته جاروتونکي دي. چا چې یې توصیف وکړ هغهٔ محدود کړ او چا چې محدود کړ وې شمېرهٔ او چا چې وشمېرهٔ ازلیت یې ورختم کړ، او څوک چې ووائي خدای څنګه دی؟ هغه یې وصف کړی او بیان کړی دی، او څوک چې ووائي خدای چرته دی؟ د هغهٔ لپاره د ځای او مکان قائل شوی دی، خدای عالم ؤ هغه وخت چې هیڅ معلوم نهٔ ؤ، او پالونکی ؤ هغه وخت چې هیڅ پالېدونکی نهٔ ؤ او وسیال ؤ هغه وخت چې هیڅ وس نهٔ ؤ موجود.

### په قرآن کښې د عترت علیهم‌السلام فضیلت

بې شکه چې رابرېدونکی «طالع» رابره شو[۹۸] او ځلېدونکی وځلید، او ښکاره کېدونکی ښکاره شو،[۹۹] او له لارې غږېدونکی سمې ته شو، خدای پاک یوه ډله په بلې بدله کړه او یوه ورځ یې په بلې راوسته، او مونږ په اوچکالۍ کښې د کاختیانو «قحطیانو» په شان چې د باران په طمعه وي دغه ورځې ته سترګې په لاره وو. بې له شکه د دین امامان علیهم‌السلام د خدای له لوري د خلقو د چارو چلوونکي، او د بندګانو له چارو خبر کسان دي. هیڅوک جنت ته نهٔ شي تللې مګر دا چې هغوي یې اوپېژني او دوي هم خپل امامان علیهم‌السلام اوپېژني، او هیڅوک دوزخ ته نهٔ ورغوزاریږي مګر دا چې د هغوي منکر وي او د دین امامان علیهم‌السلام هم هغوي ونهٔ مني، بې له شکه خدای پاک تاسو له اسلام سره ځانګړي

مَنْهَجَهَ، وَبَيَّنَ حُجَجَهَ.

مِنْ ظَاهِرِ عِلْمٍ، وَبَـاطِنِ حِكَمٍ، لاَ تَفْنَـى غَرَائِبُـهُ، وَلاَ تَنْقَضِـي عَجَائِبُـهُ، فِيـهِ مَرَابِيـعُ الـنِّعَمِ، وَمَصَـابِيحُ الظُّلَـمِ، لاَ تُفْـتَحُ الْخَيْـرَاتُ إِلاَّ بِمَفَاتِحِـهِ، وَلاَ تُكْشَـفُ الظُّلُمَـاتُ إِلاَّ بِمَصَـابِيحِهِ، قَـدْ أَحْمَـى حِمَـاهُ، وَأَرْعَـى مَرْعَـاهُ، فِيـهِ شِـفَاءُ الْمُسْتَشْفِي، وَكِفَايَةُ الْمُكْتَفِي.

[ ۱۵۳ ]

وَمِنْ خُطْبَة لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ

صِفَةُ الضَّالّ: وَهُـوَ فِـي مُهْلَـة مِـنَ اللهِ يَهْـوِي مَـعَ الْغَـافِلِينَ، وَيَغْدُو مَعَ الْمُذْنِبِينَ، بِلاَ سَبِيل قَاصِد، وَلاَ إِمَام قَائِد.

مِنْهَا فِي صِفَاتِ الْغَافِلِينَ: حَتَّـى إِذَا كَشَـفَ لَهُـمْ عَـنْ جَـزَاءِ مَعْصِـيَتِهِمْ، وَاسْـتَخْرَجَهُمْ مِـنْ جَلاَبِيـبِ غَفْلَـتِهِمْ، اسْـتَقْبَلُوا مُـدْبِراً، وَاسْـتَدْبَرُوا مُقْـبِلاً، فَلَـمْ يَنْتَفِعُـوا بِمَـا أَدْرَكُـوا مِـنْ طَلِبَـتِهِمْ، وَلاَ بِمَـا قَضَـوْا مِـنْ وَطَـرِهِمْ. إِنِّـي أُحَـذِّرُكُمْ، وَنَفْسِي، هـذِهِ الْمَنْزِلَـةَ، فَلْيَنْتَفِـعِ امْـرُؤٌ بِنَفْسِـهِ، فَإِنَّمَـا الْبَصِيـرُ مَنْ سَمِعَ فَتَفَكَّـرَ، وَنَظَـرَ فَأَبْصَـرَ، وَانْتَفَـعَ بِـالْعِبَرِ، ثُـمَّ سَـلَكَ جَـدَداً وَاضِـحاً يَتَجَنَّـبُ فِيـهِ الصَّـرْعَةَ فِـي الْمَهَـاوِي، وَالضَّـلاَلَ فِـي الْمَغَـاوِي، وَلاَ يُعِيـنُ عَلَـى نَفْسِـهِ الْغُـوَاةَ بِتَعَسُّـف فِـي حَـقّ، أَوْ تَحْرِيـف فِـي نُطْـق، أَوْ تَخَـوُّف مِـنْ صِدْق.

عِظَةُ النَّاس: فَأَفِقْ أَيُّهَـا السَّـامِعُ مِـنْ سَـكْرَتِكَ، وَاسْـتَيْقِظْ مِـنْ غَفْلَتِكَ، وَاخْتَصِرْ مِـنْ عَجَلَتِـكَ، وَأَنْعِـمِ الْفِكْـرَ فِيمَـا جَـاءَكَ عَلَى لِسَانِ النَّبِيِّ الاُْمِّيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْـهِ وَآلِـهِ مِمَّـا لاَ بُـدَّ مِنْـهُ وَلاَ مَحِيصَ عَنْـهُ، وَخَـالِفْ مَـنْ خَـالَفَ ذلِـكَ إِلَـى غَيْـرِهِ، وَدَعْهُ وَمَـا رَضِـيَ لِنَفْسِـهِ، وَضَـعْ فَخْـرَكَ، وَاحْطُـطْ كِبْـرَكَ،

کړي يئ او اسلام ته يې خوښ کړي يئ، ځکه چې اسلام د سلامتيا نوم دے، او د ټولنې (معاشرې) د عزت راوړونکے دے، روښانه لاره يې خدا ے غوره کړه او حجتونه يې روښانه کړل.

## د قرآن ځانګړتيا او خصوصيت

د قرآن شريف ظاهر علم او باطن يې حکمت دے، نوښتونه يې پاې او خاتمه نۀ لري او عجائبات او حيرانتياوې يې ختميدونکې نۀ دي. په دې کښې د نعمتونو ځرځايونه او د تيرو ځراغونه دي او د نيکيو ورونه بې د قرآن له کنجيو نۀ پرانېستل کېږي. او تيرې بې د قرآن له ځراغونو نه رڼا کېږي. پولې يې خوندي دي او ځرځايونه يې ساتونکي لري، د هر درمان غوښتونکي درمان دے او د هر بې نيازه لپاره کافي دے.

## ﴿يو سل درې پنځو سمه خطبه﴾

(د هجرت په۳۶م کال هغه وخت چې خلق يې د مصر له بلواګرو سره مقابلې ته تيارول دا خطبه يې ورکړه)

## د ګمراهانو بيان.

دغه انسان ته د خداے پاک له لوري يو څو ورځې مهلت ورکړل شوے دے او هغه له غافلانو او ناپوهانو سره د تباهۍ په لاره کښې ګام ږدي، او ورځې له ګناهګارانو سره تېروي، بې له دې چې له داسې لارې لاړ شي چې حق ته اورسيږي يا لارښوونکي لارښود اونيسي،او تر هغې چې خداے پاک ورته د ګناهانو سزا ښيي او د غفلت له پردو يې راوباسي هغه څيز ته ورځغلي چې ورته شا کړې يې وه (آخرت) او هغه څه ته شا کوي چې مخه کړې يې وه ورته (دنيا) نو نه يې له هغه څه ګټه وکړه چې ارمان يې کوۀ او لاسته يې راوړ او نۀ يې له هغه څه چې خپل حاجت يې پرې پوره کړ. زۀ ځان او تاسو ته د دغه ډول غفلته خبردارے درکوم.

## د غفلت علاج

(له غفلته) د هر کس (درمان دا دے) چې بايد له خپل کاره برخه واخلي (او خپله د خپل ځان چاره وکړي)، سترګه ور هغه دے چې سمه يې واوري او سم پرې فکر وکړي، چا چې سمه اوليده او ورباندې پوه شو او له عبرتونو يې درس واخېست، بيا د رڼا په لار لاړ او په ګړنګونو کښې له غورځېدو او د لارو په کږليچونو کښې له ورکېدو يې ځان وساتۀ،او د عدل او انصاف د ساتلو هڅه يې وکړه او د ګمراهانو لپاره يې د ګوتې نيولو ځاے پرې نۀ ښود، چې په حق کښې سختي وکړي يا د حق خبره تحريف کړي يا د رښتيا له ويلو اويرېږي. نو اے اوربدونکيه! هوښيار اوسه! او د غفلت له خوبه راويښ شه،بيړه دې کمه کړه او هغه څه چې د پيغمبراکرمﷺ له لوري دررسېدلي دي فکر پکښې وکړه. ځکه چې په ترسره کولو يې مجبوره يې او د تېښتې لاره دې نيشته، له هغه چا سره چې د پيغمبراکرمﷺ په لاره نۀ ځي او يو خوا بل خوا کږيږي راګيږي مخالفت وکړه او هغه له هغه څه سره چې د ځان لپاره يې خوښ کړي

وَاذْكُرْ قَبْرَكَ، فَإِنَّ عَلَيْهِ مَمَرَّكَ، وَكَمَا تَدِينُ تُدَانُ، وَكَمَا تَزْرَعُ تَحْصُدُ، وَمَا قَدَّمْتَ الْيَوْمَ تَقْدَمُ عَلَيْهِ غَداً، فَامْهَدْ لِقَدَمِكَ، وَقَدِّمْ لِيَوْمِكَ. فَالْحَذَرَ الْحَذَرَ أَيُّهَا الْمُسْتَمِعُ! وَالْجِدَّ الْجِدَّ أَيُّهَا الْغَافِلُ! وَلاَ يُنَبِّئُكَ مِثْلُ خَبِيرٍ.

إِنَّ مِنْ عَزَائِمِ اللهِ فِي الذِّكْرِ الْحَكِيمِ، الَّتِي عَلَيْهَا يُثِيبُ وَيُعَاقِبُ، وَلَهَا يَرْضَى وَيَسْخَطُ، أَنَّهُ لاَ يَنْفَعُ عَبْداً ـ وَإِنْ أَجْهَدَ نَفْسَهُ، وَأَخْلَصَ فِعْلَهُ ـ أَنْ يَخْرُجَ مِنَ الدُّنْيَا، لاَقِياً رَبَّهُ بِخَصْلَةٍ مِنْ هذِهِ الْخِصَالِ لَمْ يَتُبْ مِنْهَا: أَنْ يُشْرِكَ بِاللهِ فِيمَا افْتَرَضَ عَلَيْهِ مِنْ عِبَادَتِهِ، أَوْ يَشْفِيَ غَيْظَهُ بِهَلاَكِ نَفْسِهِ، أَوْ يُقِرَّ بِأَمْرٍ فَعَلَهُ غَيْرُهُ، أَوْ يَسْتَنْجِحَ حَاجَةً إِلَى النَّاسِ بِإِظْهَارِ بِدْعَةٍ فِي دِينِهِ، أَوْ يَلْقَى النَّاسَ بِوَجْهَيْنِ، أَوْ يَمْشِيَ فِيهِمْ بِلِسَانَيْنِ. اعْقِلْ ذلِكَ فَإِنَّ الْمِثْلَ دَلِيلٌ عَلَى شِبْهِهِ.

إِنَّ الْبَهَائِمَ هَمُّهَا بُطُونُهَا، وَإِنَّ السِّبَاعَ هَمُّهَا الْعُدْوَانُ عَلَى غَيْرِهَا، وَإِنَّ النِّسَاءَ هَمُّهُنَّ زِينَةُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَالْفَسَادُ فِيهَا؛ إِنَّ الْمُؤْمِنِينَ مُسْتَكِينُونَ، إِنَّ الْمُؤْمِنِينَ مُشْفِقُونَ، إِنَّ الْمُؤْمِنِينَ خَائِفُونَ.

[ ١٥٤ ]

يَذْكُرُ فِيهَا فَضَائِلَ أَهْلِ الْبَيْتِ عَلَيْهِمُ السَّلاَمُ

وَنَاظِرُ قَلْبِ اللَّبِيبِ بِهِ يُبْصِرُ أَمَدَهُ، وَيَعْرِفُ غَوْرَهُ وَنَجْدَهُ. دَاعٍ دَعَا، وَرَاعٍ رَعَى، فَاسْتَجِيبُوا لِلدَّاعِي، وَاتَّبِعُوا الرَّاعِيَ. قَدْ خَاضُوا بِحَارَ الْفِتَنِ، وَأَخَذُوا بِالْبِدَعِ دُونَ السُّنَنِ، وَأَرَزَ الْمُؤْمِنُونَ، وَنَطَقَ الضَّالُّونَ الْمُكَذِّبُونَ. نَحْنُ الشِّعَارُ وَالْأَصْحَابُ، وَالْخَزَنَةُ وَالْأَبْوَابُ، [وَلا] تُؤْتَى الْبُيُوتُ إِلاَّ مِنْ أَبْوَابِهَا، فَمَنْ أَتَاهَا مِنْ غَيْرِ أَبْوَابِهَا سُمِّيَ سَارِقاً.

مِنْهَا: فِيهِمْ كَرَائِمُ الْقُرْآنِ، وَهُمْ كُنُوزُ الرَّحْمنِ، إِنْ نَطَقُوا

پرېږده. له غرور نه لاس واخله او کبر پرېږده، او قبر یاد کړه چې د آخرت په لور ستا لاره ده ځکه چې څنګه بدله دې چاته ورکړه هماغه شان به درکول کېږي او چې څه کرې هغه به ریبې،څه چې نن مخکې اولېږې سبا به وروړسېږي، نو د ځان لپاره په آخرت کښې یو ځاے برابر کړه او یو څه مخکې اولېږه،اے اوربدونکیه! خبردار، خبردار، اے غافله! هڅه وکړه هڅه وکړه (بې له خبر او اګاه خدایه هیڅوک تا نۀ خبروي)

**ناخوښ صفتونه**

په قرآن کریم کښې یو قطعي فرض چې سزا او جزا پرې ورکول کېږي او خداے پاک پرې غصه یا راضي کېږي، دا دے چې که انسان یو بد خوي ولري او بې توبې خداے ته ورشي که څه هم ځان په زحمت کښې واچوي او خالص عمل وکړي،څه فائده نۀ لري. او هغه بد صفت دا دے چې د خداے په عبادت کښې له هغه سره څوک شریک وګرځوي، یا خپله غصه د یو بې ګناه کس په وژلو سره سړه کړي، یا یو بې ګناه کس د هغې غلطۍ لپاره چې بل چا کړې وي ملامته کړي، یا خلقو ته د خپل حاجت د لرلو په وجه د خداے په دین کښې بدعت وکړي یا له خلقو سره په دوو مخونو سره ملاقات وکړي، یا په هغوي کښې په دوو ژبو(منافقت) سره خبرې وکړي څه چې مې وویل ښه ورته ځیر شه ځکه چې د هر مثال لپاره ډېر مصداقونه شته دي.

**ارواح (نفسیات) پېژندنه.**

د ځناورو هڅه د خېټې لپاره وي او د داړونکو کار په نورو باندې تېرے دے، او د بې ایمانه ښځو ټوله هڅه د ژوند سینګار او په دنیا کښې فساد دے، خو مومنان خاضع وي، مومنان مهربان وي، مومنان د خداے ویره لري.

## ﴿ یو سل څلور پنځوسمه خطبه ﴾

(ځینې کسان وائي چې دا وینا یې په مدینه منوره کښې کړې ده)

**د اهلبیتو علیهم السلام اطاعت**

عاقل سړے د زړۀ په سترګو د کار پاې (خاتمه) وینې او ټیټې هسکې (لوړې ژورې) یې معلوموي، د حق بلونکي،(رسول الله مبارک ﷺ) خپله بلنه وکړه او د امت څارونکي څارنه وکړه، نو د حق د بلونکي بلنه اومنۍ او د خپل لاربنود اطاعت وکړئ،ځینې کسان د فتنو په دریاب کښې غرق او بدعت یې منلے دے او خوښ سنتونه یې پرېښې دي، مومنان ډډې ته شوي او ګمراهانو او دروغجنو خوله پرانېستې ده، اے خلقو! مونږ اهلبیت علیهم السلام، د پېغمبراکرم ﷺ د بدن د قمیص په شان، د هغۀ رښتیني یاران، د عملونو او د وحې د معارفو خزانه داران او دغو خزانو ته د ننوتلو دروازې[۱۰۰] یوو، او بې له دروازو هیڅوک کورونو ته نۀ

صَدَقُوا، وَإِنْ صَمَتُوا لَمْ يُسْبَقُوا. فَلْيَصْدُقْ رَائِدٌ أَهْلَهُ، وَلْيُحْضِرْ عَقْلَهُ، وَلْيَكُنْ مِنْ أَبْنَاءِ الْآخِرَةِ، فَإِنَّهُ مِنْهَا قَدِمَ، وَإِلَيْهَا يَنْقَلِبُ.

وَالنَّاظِرُ بِالْقَلْبِ، الْعَامِلُ بِالْبَصَرِ، يَكُونُ مُبْتَدَأُ عَمَلِهِ أَنْ يَعْلَمَ: أَعَمَلُهُ عَلَيْهِ أَمْ لَهُ؟! فَإِنْ كَانَ لَهُ مَضَى فِيهِ، وَإِنْ كَانَ عَلَيْهِ وَقَفَ عَنْهُ. فَإِنَّ الْعَامِلَ بِغَيْرِ عِلْمٍ كَالسَّائِرِ عَلَى غَيْرِ طَرِيقٍ، فَلَا يَزِيدُهُ بُعْدُهُ عَنِ الطَّرِيقِ الْوَاضِحِ إِلَّا بُعْداً مِنْ حَاجَتِهِ، وَالْعَامِلُ بِالْعِلْمِ كَالسَّائِرِ عَلَى الطَّرِيقِ الْوَاضِحِ، فَلْيَنْظُرْ نَاظِرٌ: أَسَائِرٌ هُوَ أَمْ رَاجِعٌ؟!

وَاعْلَمْ أَنَّ لِكُلِّ ظَاهِرٍ بَاطِناً عَلَى مِثَالِهِ، فَمَا طَابَ ظَاهِرُهُ طَابَ بَاطِنُهُ، وَمَا خَبُثَ ظَاهِرُهُ خَبُثَ بَاطِنُهُ، وَقَدْ قَالَ الرَّسُولُ الصَّادِقُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ: «إِنَّ اللهَ يُحِبُّ الْعَبْدَ وَيُبْغِضُ عَمَلَهُ، وَيُحِبُّ الْعَمَلَ وَيُبْغِضُ بَدَنَهُ».

فَاعْلَمْ أَنَّ كُلَّ عَمَلٍ نَبَاتٌ، وَكُلَّ نَبَاتٍ لَا غِنَى بِهِ عَنِ الْمَاءِ، وَالْمِيَاهُ مُخْتَلِفَةٌ، فَمَا طَابَ سَقْيُهُ طَابَ غَرْسُهُ وَحَلَتْ ثَمَرَتُهُ، وَمَا خَبُثَ سَقْيُهُ خَبُثَ غَرْسُهُ وَأَمَرَّتْ ثَمَرَتُهُ.

## [ ۱۵۵ ]

### يَذْكُرُ فِيهَا بَدِيعَ خِلْقَةِ الْخُفَّاشِ

الْحَمْدُ للهِ الَّذِي انْحَسَرَتِ الْأَوْصَافُ عَنْ كُنْهِ مَعْرِفَتِهِ، وَرَدَعَتْ عَظَمَتُهُ الْعُقُولَ، فَلَمْ تَجِدْ مَسَاغاً إِلَى بُلُوغِ غَايَةِ مَلَكُوتِهِ! هُوَ اللهُ الْحَقُّ الْمُبِينُ، أَحَقُّ وَأَبْيَنُ مِمَّا تَرَى الْعُيُونُ، لَمْ تَبْلُغْهُ الْعُقُولُ بِتَحْدِيدٍ فَيَكُونَ مُشَبَّهاً، وَلَمْ تَقَعْ عَلَيْهِ الْأَوْهَامُ بِتَقْدِيرٍ فَيَكُونَ مُمَثَّلاً. خَلَقَ الْخَلْقَ عَلَى غَيْرِ تَمْثِيلٍ، وَلَا مَشُورَةِ مُشِيرٍ، وَلَا مَعُونَةِ مُعِينٍ، فَتَمَّ خَلْقُهُ بِأَمْرِهِ، وَأَذْعَنَ لِطَاعَتِهِ، فَأَجَابَ وَلَمْ يُدَافِعْ، وَانْقَادَ وَلَمْ يُنَازِعْ.

ننوځي، او ثوک چې بې وره داخل شي غل بلل کېږي،اے خلقو! د پېغمبراکرمﷺ د اهلبېتو علیهم‌السلام په حقله په قرآن کښې آيتونه نازل شوي دي، هغوي د خدا ے پاک د علمونو زيرمې دي او که خبره وکړي رښتيا وائي او که چپتيا غوره کړي له هغوي نه ثوک نه شي مخکې کېدې.

### د امامت شرطونه

نو بايد د خلقو امام او رهبر خلقو ته رښتيا ووائي او د عقل په لاره لاړ شي او د آخرت بچي وي ځکه چې له هغه ځايه راغلي او هم هلته به ستنېږي، نو ثوک چې د زړۀ په سترګو وګوري او د بصيرت په نظر کار وکړي. د کار شروع يې دا ده چې فکر وکړي چې دا کار يې په ګټه دے او که په تاوان؟ که په ګټه يې وي جاري يې اوساتي او که په تاوان يې وي نو تم شي،ځکه چې بې علمه او بې پوهې عمل کوونکے د هغه لاروي په شان دے چې په غلطه لار روان وي نوهرڅومره چې ګرندے شي له خپل منزله لا لرې کېږي. او د پوهې له مخې عمل کوونکے په سمه لار د تلونکي په شان دے نو سترګور بايد ښه سترګې اوغړوي چې مخکې روان دے او که شاته؟

### انساني ارواح پېژندنه (په يو بل باندې د جسم او روح اثر)

پوه شه چې هر ظاهر له ځان سره متناسب باطن لري، د چا چې ظاهر پاک وي باطن يې هم پاک او روڼ وي، او د چا چې ظاهر پليت وي باطن يې هم پليت وي او رښتيني پېغمبرﷺ وفرمايل: «بې له شکه خدا ے له يو بنده سره مينه کوي خو عمل يې نۀ خوښوي او د يو بنده عمل خوښېږي خو هغه بنده نۀ خوښوي»

پوه شه چې هر عمل وده لري او هره وده بې اوبو نۀ شي کېدې، او اوبۀ هم مختلفې دي. نو هره ونه چې په اندازه او ښه ډول پئه شي څانګې او پاڼې به يې ښې او ميوه به يې خوږه وي او د کومې ونې چې اوبۀ پاکې نۀ وي ونه به پليته او ميوه به يې ترخه وي.

## ﴿ يو سل پينځۀ پنځوسمه خطبه ﴾

### د پنځګر (خالق) صفات

ستائنه له هغه خدا ے سره ښائي چې ټول صفتونه يې د ذات د حقيقت له بيانه ناتوانه دي او سترتوب او عظمت يې عقلونه له پرمختګه اودرولي دي او د ملکوت حد ته يې د رسېدلو لاره نۀ لري، هغه حق او ثرګند خدا ے تر دې زيات وړ او ښکاره دے چې سترګې يې اوليدل شي. يا ورته عقلونه پولې وټاکي، چې ګوندې سارے او هم سنګ ولري، او فکر او وهم ورته اندازه نۀ شي ټاکلې چې ګوندې شکل او صورت ورته وانګيرل شي. هغه مخلوق وپنځوۀ بې له دې چې کوم مثال او نمونه اولري يا يې له کوم صلاح کار سره صلاح کړې وي يا يې مرستيال مرسته کړې وي، بيا د هغۀ په امر سره خلقت کمال ته اورسېد او د پالونکي اطاعت يې ومنۀ، هو، يې وکړۀ او خدمت ته وزغاستۀ او امر ته يې سر کېښودۀ او سرغړونه يې ونۀ کړه.

خلْقَةُ الْخُفَّاش: وَمنْ لَطائف صَنْعَته، وعَجَائب خلْقَته، مَا أَرَانَا منْ غَوَامض الْحكْمَة في هَذه الْخَفَافيش الَّتي يَقْبضُهَا الضِّيَاءُ الْبَاسطُ لكُلِّ شَيْء، ويَبْسُطُهَا الظَّلاَمُ الْقَابضُ لكُلِّ حَيٍّ، وكَيْفَ عَشيَتْ أَعْيُنُهَا عَنْ أَنْ تَسْتَمدَّ منَ الشَّمْس الْمُضيئَة نُوراً تَهْتَدي به في مَذَاهبهَا، وتَتَّصلُ بعَلاَنيَة بُرْهَان الشَّمْس إلَى مَعَارفهَا. وردَعَهَا بتَلأْلُؤ ضيَائهَا عَن الْمُضيِّ في سُبُحَات إشْرَاقهَا، وأَكَنَّهَا في مَكَامنهَا عَن الذَّهَاب فى بُلَج ائْتلاَقهَا، فَهيَ مُسْدَلَةُ الْجُفُون بالنَّهَار عَلَى حدَاقهَا، وجَاعلَةُ اللَّيْل سرَاجاً تَسْتَدلُّ به في الْتمَاس أَرْزَاقهَا؛ فَلاَ يَرُدُّ أَبْصَارَهَا إسْدَافُ ظُلْمَته ولاَ تَمْتَنعُ منَ الْمُضيِّ فيه لغَسَق دُجُنَّته. فَإذَا أَلْقَت الشَّمْسُ قنَاعَهَا، وبَدَتْ أَوْضَاحُ نَهَارهَا، ودَخَلَ منْ إشْرَاق نُورهَا عَلَى الضِّبَاب في وجَارهَا أَطْبَقَت الاَجْفَانَ عَلَى مَآقيهَا وتَبَلَّغَتْ بمَا اكْتَسَبَتْهُ منَ الْمَعَاش في ظُلَم لَيَاليهَا. فَسُبْحَانَ مَنْ جَعَلَ اللَّيْلَ لَهَا نَهَاراً وَمَعَاشاً، وجَعَلَ النَّهَارَ لَهَا سَكَناً وقَرَاراً! وجَعَلَ لَهَا أَجْنحَةً منْ لَحْمهَا تَعْرُجُ بهَا عنْدَ الْحَاجَة إلَى الطَّيَرَان، كَأَنَّهَا شَظَايَا الأَذَان غَيْرَ ذَوَات ريش ولاَ قَصَب إلاَّ أَنَّكَ تَرَى مَوَاضعَ الْعُرُوق بَيِّنَةً أَعْلاَماً لَهَا جَنَاحَان لَمَّا يَرقَّا فَيَنْشَقَّا، ولَمْ يَغْلُظَا فَيَثْقُلاَ. تَطيرُ وَوَلَدُهَا لاَصقٌ بهَا لاَجئٌ إلَيْهَا، يَقَعُ إذَا وَقَعَتْ، ويَرْتَفعُ إذَا ارْتَفَعَتْ، لاَيُفَارقُهَا حَتَّى تَشْتَدَّ أَرْكَانُهُ، ويَحْملَهُ للنُّهُوض جَنَاحُهُ، ويَعْرفَ مَذَاهبَ عَيْشه، ومَصَالحَ نَفْسه.فَسُبْحَانَ الْبَارىء لكُلِّ شَيْء، عَلَى غَيْر مثَال خَلاَ منْ غَيْره!

### د ښاپېرک هېښنده (عجيبه) خلقت

او د هغه ذات د صنعت له ښکلاؤ او د خلقت له هېښتياؤ او عجائبو، د ښاپيرکانو په خلقت کښې کارول شوے حکمت هم دے. د ورځې رڼا چې هر څه پرانېزي د ښاپېرک سترګې پټوي او د شپې تياره چې هر څه پټوي د ښاپېرک سترګې خلاصوي. د ښاپېرکانو سترګې څومره کم بينې دي چې د نمر لـه ځلا رڼا نهٔ شي اخېستلې؟ هغه رڼا چې د ژوند لارې پرې معلومې کړې شي او د نمر په ځلا کښې ځان هغو ځايونو تـه چې غـوارې بې ورسوي. د نمر رڼا ښاپيرکان پـه دغـه ځلا کښې لـه تګـه غـروي او پـه پټو ځايونو کښې بې غلې کوي، ځکه چې د نمر په رڼا کښې تګ نـه شي کولې، نو ښاپيرکان د ورځې خپل باڼهٔ په سترګو راخپاره کړي او د شپې له دغو باڼو د څراغ کار اخلي چې د شپې په زړهٔ کښې پرې رزق ولټوي، او د شپې تيـاره يې سترګې نهٔ ورپټوي، او د زيـاتې تيـارې پـه وجـه لـه حرکته نهٔ تم کېږي، نو کله چې نمر مخ له پلو رابهر کړي او د سحر رڼا اوځليږي، او د نمـر رڼـا حتـی د کربـوړو سـوړو تـه هـم اورسـېږي نـو ښاپيرکان باڼهٔ راکوز کړي او څه چې يې د شپې په تيـارهٔ کښې لاسته راوړي وي د هغو خوړل شروع کړي، پـاک او سپېڅلے دے هغـه رب چې شپه يې د ښاپيرکانو لپاره د ورځې په شان روښانه او د روزۍ د پېدا کولو سوب ګرځولې ده او ورځ يې د توړې شپې پـه شـان د هغـوي د قرار او آرام لپـاره ټـاکلې ده، او هغـوي تـه يې د الـوت لپـاره د غوښې وزرې ورکړې دي چې د ضرورت پـه وخت پرې والوزي، دا وزرې د غوږونو د نرمو په شان دي[۱۰۱] چې نهٔ پکې بڼې شته او نهٔ رګونه خو د رګونو ځايونه او نخښې يې ښې ليدل کېږي، او داسې دوه وزرې يې ورکړې دي چې نهٔ دومره نازکې دي چې اوشليږي او نهٔ دومره پرېړې او کلکې دي چې پـه الوت کښې خنډ جوړ کړي، الوت کوي پـه داسې حال کښې چې بچيان يې ورپورې نښتې وي او ميندو ته يې پناه وړې وي، چې راکوزيږي هم ورسره بچې وي او چې خېژي هم ورپورې بچې ښخ وي، لـه موره نهٔ جدا کېږي تر دې چې غړي او اندامونه يې پياوړي او وزر يې د الوت وړ شي، او پوه شي چې د ژوند لاره چاره څـه ده، او پـه خپل ښـه بـد پـوه شي، نـو پـاک او سپېڅلے دے هغـه پنځګر او خـالق چې بې لـه داسې مثـال او بيلګې چې له بل چا يې اخېستې وي هر څه پېدا کړي دي.

[ ۱۵٦ ]

خَاطَبَ به أَهْلَ الْبَصْرَة عَلَى جهَة اقْتصَاص الْمَلاَحم

## ﴿ يو سل شپږ پنځوسمه خطبه ﴾

(د بصرې د خلقو لپاره، د جمل په جنګ کښې له کاميابۍ وروسته يې د هجرت په شپږ دېرشم کال دا خطبه ورکړه)

فَمَن اسْتَطَاعَ عنْدَ ذلكَ أَنْ يَعْتَقلَ نَفْسَهُ عَلَى الله، فَلْيَفْعَلْ، فَإنْ أَطَعْتُمُوني فَإنِّي حَاملُكُمْ إنْ شَاءَ اللهُ عَلَى سَبيل الْجَنَّة، وإنْ كَانَ ذَا مَشَقَّة شَديدَة ومَذَاقَة مَريرَة. وأَمَّا فُلاَنَةُ، فَأَدْرَكَهَا رَأْيُ النِّسَاء، وَضغْنٌ غَلاَ في صَدْرهَا

### د مشر او خليفه اطاعت او د بي بي عائشې رض په حقله بيان

اے د بصرې خلقو! د فتنو د ښکاره کېدو په وخت هر څوک که کولې شي ځان د لوے او عزتمن خداے په اطاعت بوخت کړي نو دا کار دې وکړي، او که زما پيروي وکړئ نو انشاء الله چې د جنت په لاره به مو بوځم، که څه هم دا لاره د سختيو او کړاوونو لاره وي، البته پلانکۍ، نو په هغې خو ښځينه افکار او احساسات غالب شول، او په سينه کښې

كَمرْجَلِ الْقَيْنِ، ولَوْ دُعيَتْ لتنَالَ مِنْ غَيْرِي مَا أَتَتْ إِلَيَّ، لَمْ تَفْعَلْ، ولَهَا بَعْدُ حُرْمَتُهَا الاُولَى، وَالْحِسَابُ عَلَى الله.

مِنْهُ فِي وَصْفِ الإِيمَانِ: سَبِيلٌ أَبْلَجُ الْمَنْهَاجِ، أَنْوَرُ السِّرَاجِ، فَبِالايمَانِ يُسْتَدَلُّ عَلَى الصَّالِحَاتِ، وَبِالصَّالِحَاتِ يُسْتَدَلُّ عَلَى الايمَانِ، وَبِالايمَانِ يُعْمَرُ الْعِلْمُ، وَبِالْعِلْمِ يُرْهَبُ الْمَوْتُ، وَبِالْمَوْتِ تُخْتَمُ الدُّنْيَا، وَبِالدُّنْيَا تُحْرَزُ الآخِرَةُ، وَإِنَّ الْخَلْقَ لاَ مَقْصَرَ لَهُمْ عَنِ الْقِيَامَةِ، مُرْقِلِينَ فِي مِضْمَارِهَا إِلَى الْغَايَةِ الْقُصْوَى.

فِي حَالِ أَهْلِ الْقُبُورِ فِي الْقِيَامَةِ: قَدْ شَخَصُوا مِنْ مُسْتَقَرِّ الاَجْدَاثِ، وَصَارُوا إِلَى مَصَائِرِ الْغَايَاتِ، لِكُلِّ دَارٍ أَهْلُهَا، لاَ يَسْتَبْدِلُونَ بِهَا وَلاَ يَنقلُونَ عَنهَا. وَإِنَّ الاَمْرَ بِالْمَعْرُوفِ، وَالنَّهْيَ عَنِ الْمُنكَرِ، لَخُلُقَانِ مِنْ خُلُقِ اللهِ سُبْحَانَهُ، وَإِنَّهُمَا لاَ يُقَرِّبَانِ مِنْ أَجَلٍ، وَلاَ يَنْقُصَانِ مِنْ رِزْقٍ. وَعَلَيْكُمْ بِكِتَابِ اللهِ، فَإِنَّهُ الْحَبْلُ الْمَتِينُ، وَالنُّورُ الْمُبِينُ، وَالشِّفَاءُ النَّافِعُ، وَالرِّيُّ النَّاقِعُ، وَالْعِصْمَةُ لِلْمُتَمَسِّكِ، وَالنَّجَاةُ لِلْمُتَعَلِّقِ، لاَ يَعْوَجُّ فَيُقَامَ، وَلاَ يَزِيغُ فَيُسْتَعْتَبَ، وَلاَ تُخْلِقُهُ كَثْرَةُ الرَّدِّ، وَوُلُوجُ السَّمْعِ، مَنْ قَالَ بِهِ صَدَقَ، وَمَنْ عَمِلَ بِهِ سَبَقَ.

وَقَامَ إِلَيْهِ رَجُلٌ فَقَالَ: أَخْبِرْنَا عَنِ الْفِتْنَةِ، وَهَلْ سَأَلْتَ عَنْهَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِه؟ فَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ: لَمَّا أَنْزَلَ اللهُ سُبْحَانَهُ قَوْلَهُ: ﴿الم * أَحَسِبَ النَّاسُ أَنْ يُتْرَكُوا أَنْ يَقُولُوا آمَنَّا وَهُمْ لاَ يُفْتَنُونَ﴾ عَلِمْتُ أَنَّ الْفِتْنَةَ لاَ تَنْزِلُ بِنَا وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِه بَيْنَ أَظْهُرِنَا. فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، مَا هذِهِ الْفِتْنَةُ الَّتِي أَخْبَرَكَ اللهُ بِهَا؟ فَقَالَ: «يَا عَلِيُّ، إِنَّ أُمَّتِي سَيُفْتَنُونَ مِنْ بَعْدِي». فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، أَوَلَيْسَ قَدْ قُلْتَ لِي يَوْمَ أُحُدٍ حَيْثُ اسْتُشْهِدَ مَنِ اسْتُشْهِدَ مِنَ الْمُسْلِمِينَ، وَحِيزَتْ عَنِّي الشَّهَادَةُ، فَشَقَّ ذلِكَ عَلَيَّ، فَقُلْتَ لِي: «أَبْشِرْ، فَإِنَّ الشَّهَادَةَ مِنْ وَرَائِكَ»؟ فَقَالَ لِي: «إِنَّ ذلِكَ لَكَذلِكَ، فَكَيْفَ صَبْرُكَ إِذَنْ»؟ فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، لَيْسَ هذَا

کینې يې د پښ (لوهار) د بټۍ په شان سرې شوې، که له هغې يې غوښتي وې چې له ما نه بغير د بل چا په خلاف دا کار وکړي هيڅکله به يې نهٔ وُ کړے،خو بيا هم زهٔ د هغې عزت او خيال ساتم او د هغې د عملونو حساب کتاب له خدا ے سره دے.

## د ايمان ميوه

ايمان تر ټولو روښانه لاره او ځلانده څراغ دے او په ايمان سره صالحو عملونو ته رسېدلې شئ، او په نېکو عملونو سره ايمان ته، په ايمان سره علم آباد دے او په علم سره په انسان کښې د مرګ وېره راځي، او مرګ سره دنيا ختمېږي، او دا دنيا ده چې د آخرت توښه پکښې برابرېږي، په قيامت سره جنت نزدې کېږي او دوزخ بدکارو ته ورښکاره کېږي، خلق بې له قيامته بل منزل نهٔ لري او د قيامت په لور په سيالۍ روان دي چې خپل وروستي منزل ته اورسېږي.

## د ځينو ښو اخلاقو او د قرآن د ځانګړتياؤ بيان

تهٔ به وائې وينم يې چې له قبرونو راپاڅېدل او د خپل وروستي منزل په لور خوځيږي، په جنت کښې هر کور د يو کس دے چې نهٔ بل کس مني او نهٔ په بل چا پسې انتقاليږي، په رښتيا چې امر بالمعروف او نهي عن المنکر د خدا ے له صفتونو دوه صفته دي چې نهٔ اجل درنزدې کوي او نهٔ مو روزي کموي، او د خدا ے پاک په کتاب باندې عمل کوئ چې دا د خدا ے پاک پياوړې رسۍ، ښکاره رڼا او ګټوره شفا ده، چې تنده ماتوي او هغه کس ساتي چې عمل پرې وکړي، او هغه کس ژغوري چې وې نيسي، کږوالے نهٔ لري چې نېغ شي او باطل ته ګروهوالے نهٔ لري چې ستون کړې شي،د آيتونو بيا بيا اورېدل او ويل يې هغه نهٔ زړوي، او غوږونه يې له اورېدو نهٔ سترې کېږي.

ثوک چې په قرآن شريف سره خبرې وکړي رښتيا به وائي او ثوک چې پرې عمل وکړي تر نورو به مخکې وي. «په دغه وخت کښې يوکس پاڅېد او وې ويل اے اميرالمومنين! مونږ ته د فتنې په حقله څه ووايه، آيا تا په دې اړه له رسول الله مبارکﷺ څه پوښتلي دي؟»

## د فتنو او د خپل شهادت خبر ورکول

کله چې خدا ے د عنکبوت سورت وړومبے او دويم آيتونه نازل کړل چې «آيا خلق خيال کوي چې که دوي ووائي چې ايمان مو راوړے دے نو پرې به ښودل شي او وبه نهٔ ازمويل شي» نو زهٔ پوه شوم چې تر څو رسول الله مبارکﷺ په مونږ کښې وي ازمېښت نهٔ کېږي.نو ومې ويل: يا رسول الله! دا فتنه او ازمېښت کوم يو دے چې خدا ے ترې تاسو خبر کړي يئ؟ وې فرمايل:«اے علي! له ما وروسته به امت په فتنې او ازمېښت اخته شي» نو ومې ويل اے د خدا ے ګران رسولهﷺ! آيا تاسو دا سې نهٔ ده چې د احد په ورځ چې ځينې مسلمانان شهيدان شول او ما ته شهادت نصيب نهٔ شو نو دا چاره په ما ډېره سخته اولګېده، تاسو ما ته وفرمايل چې:اے علي ! زيرے مې درباندې چې تهٔ به هم شهيد شې.

پېغمبراکرمﷺ ما ته وفرمايل:«ببشکه چې دا زيرے به پوره شي په هغه

مِنْ مَوَاطِنِ الصَّبْرِ، وَلَكِنْ مِنْ مَوَاطِنِ الْبُشْرَى وَالشُّكْرِ. وَقَالَ: «يَا عَلِيُّ، إِنَّ الْقَوْمَ سَيُفْتَنُونَ بِأَمْوَالِهِمْ، وَيَمُنُّونَ بِدِينِهِمْ عَلَى رَبِّهِمْ، وَيَتَمَنَّوْنَ رَحْمَتَهُ، وَيَأْمَنُونَ سَطْوَتَهُ، وَيَسْتَحِلُّونَ حَرَامَهُ بِالشُّبُهَاتِ الْكَاذِبَةِ، وَالْأَهْوَاءِ السَّاهِيَةِ، فَيَسْتَحِلُّونَ الْخَمْرَ بِالنَّبِيذِ، وَالسُّحْتَ بِالْهَدِيَّةِ، وَالرِّبَا بِالْبَيْعِ». قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، فَبِأَيِّ الْمَنَازِلِ أُنْزِلُهُمْ عِنْدَ ذَلِكَ؟ أَبِمَنْزِلَةِ رِدَّةٍ، أَمْ بِمَنْزِلَةِ فِتْنَةٍ؟ فَقَالَ: «بِمَنْزِلَةِ فِتْنَةٍ».

وخت به ستا صبر او زغم څرنګه وي؟ ومې ويل: يا رسول الله !دا د صبر او زغم نه بلکه د زيري او د شکر او منني مقام دے. او پيغمبر اکرم ﷺ ماته وفرمايل: «اے علي! ډېر زر به دا خلق په خپلو مالونو سره په فتنې او ازمېښت اخته شي او د خپلې ديندارۍ په وجه به په خدائے پاک باندې احسان اړوي، بيا به هم د هغهٔ د رحمت طمعه لري، او د خدائے پاک له خوابينۍ او قدرته به ځان خوندي ګڼي. د خدائے حرام به په دروغو شبهو او غفلتي هوسونو سره حلالوي، شراب به په دې بهانه چې د انګورو اوبهٔ دي او رشوت ډالۍ ده او سود يو ډول معامله ده حلال ګڼي!» ومې ويل: اے د خدائے رسوله! په هغه وخت کښې خلق په کوم منزل او پړاو کښې وګڼم؟ د مرتدوالي په منزل کښې که د فتنې او ازمېښت په منزل کښې؟ وې فرمايل: په فتنې او ازمېښت کښې.

[ ۱۵۷ ]

الْحَمْدُ للهِ الَّذِي جَعَلَ الْحَمْدَ مِفْتَاحاً لِذِكْرِهِ، وَسَبَباً لِلْمَزِيدِ مِنْ فَضْلِهِ، وَدَلِيلاً عَلَى آلَائِهِ وَعَظَمَتِهِ. عِبَادَ اللهِ، إِنَّ الدَّهْرَ يَجْرِي بِالْبَاقِينَ كَجَرْيِهِ بِالْمَاضِينَ، لَا يَعُودُ مَا قَدْ وَلَّى مِنْهُ، وَلَا يَبْقَى سَرْمَداً مَا فِيهِ. آخِرُ فَعَالِهِ كَأَوَّلِهِ، مُتَسَابِقَةٌ أُمُورُهُ، مُتَظَاهِرَةٌ أَعْلَامُهُ. فَكَأَنَّكُمْ بِالسَّاعَةِ تَحْدُوكُمْ حَدْوَ الزَّاجِرِ بِشَوْلِهِ، فَمَنْ شَغَلَ نَفْسَهُ بِغَيْرِ نَفْسِهِ تَحَيَّرَ فِي الظُّلُمَاتِ، وَارْتَبَكَ فِي الْهَلَكَاتِ، وَمَدَّتْ بِهِ شَيَاطِينُهُ فِي طُغْيَانِهِ، وَزَيَّنَتْ لَهُ سَيِّئَ أَعْمَالِهِ، فَالْجَنَّةُ غَايَةُ السَّابِقِينَ، وَالنَّارُ غَايَةُ الْمُفَرِّطِينَ.

اعْلَمُوا عِبَادَ اللهِ، أَنَّ التَّقْوَى دَارُ حِصْنٍ عَزِيزٍ، وَالْفُجُورَ دَارُ حِصْنٍ ذَلِيلٍ، لَا يَمْنَعُ أَهْلَهُ، وَلَا يُحْرِزُ مَنْ لَجَأَ إِلَيْهِ. أَلَا وَبِالتَّقْوَى تُقْطَعُ حُمَةُ الْخَطَايَا، وَبِالْيَقِينِ تُدْرَكُ الْغَايَةُ الْقُصْوَى. عِبَادَ اللهِ، اللهَ اللهَ فِي أَعَزِّ الْأَنْفُسِ عَلَيْكُمْ، وَأَحَبِّهَا إِلَيْكُمْ؛ فَإِنَّ اللهَ قَدْ أَوْضَحَ سَبِيلَ الْحَقِّ وَأَنَارَ طُرُقَهُ، فَشِقْوَةٌ لَازِمَةٌ، أَوْ سَعَادَةٌ دَائِمَةٌ! فَتَزَوَّدُوا فِي أَيَّامِ الْفَنَاءِ لِأَيَّامِ الْبَقَاءِ. قَدْ دُلِلْتُمْ عَلَى الزَّادِ، وَأُمِرْتُمْ بِالظَّعْنِ، وَحُثِثْتُمْ عَلَى الْمَسِيرِ، فَإِنَّمَا أَنْتُمْ كَرَكْبٍ وُقُوفٍ، لَا يَدْرُونَ مَتَى يُؤْمَرُونَ بِالسَّيْرِ، أَلَا فَمَا يَصْنَعُ بِالدُّنْيَا مَنْ خُلِقَ لِلْآخِرَةِ! وَمَا يَصْنَعُ بِالْمَالِ مَنْ عَمَّا قَلِيلٍ يُسْلَبُهُ، وَتَبْقَى عَلَيْهِ تَبِعَتُهُ وَحِسَابُهُ! عِبَادَ اللهِ، إِنَّهُ لَيْسَ لِمَا وَعَدَ اللهُ مِنَ

## ﴿ يو سل اوهٔ پنځوسمه خطبه ﴾

### له تېرو عبرت

ستائنه هغه خدائے لره ده چې حمد يې د خپل ياد کونجي او د خپل فضل او رحمت د زياتوالي سوب او د خپلو نعمتونو او سترتوب دليل وګرځوهٔ، اے د خدائے بندګانو! زمانه به له راتلونکو سره هماغه کانه کوي چې له تېرو سره يې وکړه، څه چې تېر شول ستنېږي نه، او څه چې شته دي تل پاتې نه دي، د دنيا پاې او خاتمه د هغې د شروع په شان ده او پېښې يې د يو بل په شان دي، او نخښې يې څرګندې دي، تهٔ به وائې د ژوند خاتمه او قيامت تاسو بلي،داسې لکه څاروان چې جونګي بلي، نو څوک چې د ځان له حساب نه بغېر په بل څه بوخت شي ځان يې په لالهانده تيارهٔ او هلاکت کښې غورځولے دے، شېطانانو يې واګې اخېستې دي او سرکښۍ او سرغړونې ته يې بيايي، او بد کړهٔ يې سترګو ته ښکلې ښکاره کوي، نو پوه شئ چې جنت د مخکښانو منزل او د دوزخ اور د هغو کسانو انجام دے چې کوتاهي يې کړې ده.

### د تقوا او خود سازۍ (د ځان د اصلاح) ضرورت

اے د خدائے بندګانو! ياد ساتئ چې تقوا د عزت پياوړې کلا او ګناه او فسق و فجور د ذلت ټکاونه ده، چې د خپلو استوګنو دفاع نهٔ کوي او چا چې پناه وروړې ده په امان کښې نهٔ دے، پوه شئ! په تقوا سره د ګناهانو جرړې غوڅولې شئ، او په يقين سره د معنويت لوړ مقام ته رسېدې شئ، اے د خدائے بندګانو! د خدائے لپاره، د خدائے لپاره د خپلو نفسونو(ځانونو) په حقله چې درته ډېر عزتمن او خوارهٔ دي خدائے ياد ساتئ. خدائے تعالى تاسو ته د حق لارې ګودرې روښانه او څرګندې کړې دي، نو يا مو نهٔ پرېښودونکے شقاوت او يا هم تل پاتے سعادت په طمعه دے، نو په دې فاني دنيا کښې د باقي آخرت لپاره توښه جمع کړئ، تاسو ته يې توښه درښودلې ده، او د کوچېدو امر يې درکړے دے، او د قيامت د لارې وهلو ته يې هڅولي يئ، بې له شکه تاسو د هغه کاروان په شان يئ چې په يو ځائے کښې پاتې شي او نهٔ دے خبر چې کله به د کوچ امر راځي، خبر اوسئ! څوک چې د آخرت لپاره پېدا کړے شوے وي هغه به په دنيا څه کوي او د دنيا له مالونو سره څه کار لري هغه کس چې ډېر

الْخَيْرِ مَتْرَكٌ، وَلاَ فِيمَا نَهَى عَنْهُ مِنَ الشَّرِّ مَرْغَبٌ. عِبَادَ اللهِ، احْذَرُوا يَوْماً تُفْحَصُ فِيهِ الاَعْمَالُ، وَيَكْثُرُ فِيهِ الزِّلْزَالُ، وَتَشِيبُ فِيهِ الاَطْفَالُ. اعْلَمُوا، عِبَادَ اللهِ، أَنَّ عَلَيْكُمْ رَصَداً مِنْ أَنْفُسِكُمْ، وَعُيُوناً مِنْ جَوَارِحِكُمْ، وَحُفَّاظَ صِدْق يَحْفَظُونَ أَعْمَالَكُمْ، وَعَدَدَ أَنْفَاسِكُمْ، لاَ تَسْتُرُكُمْ مِنْهُمْ ظُلْمَةُ لَيْل دَاج، وَلاَ يُكِنُّكُمْ مِنْهُمْ بَابٌ ذُورِتَاج، وَإِنَّ غَداً مِنَ الْيَوْمِ قَرِيبٌ. يَذْهَبُ الْيَوْمُ بِمَا فِيهِ، وَيَجِيءُ الْغَدُ لاَحِقاً بِهِ، فَكَأَنَّ كُلَّ امْرِىء مِنْكُمْ قَدْ بَلَغَ مِنَ الاَرْضِ مَنْزِلَ وَحْدَتِهِ، وَمَخَطَّ حُفْرَتِهِ.

فَيَالَهُ مِنْ بَيْتِ وَحْدَة، وَمَنْزِلِ وَحْشَة، وَمُفْرَدِ غُرْبَة! وَكَأَنَّ الصَّيْحَةَ قَدْ أَتَتْكُمْ، وَالسَّاعَةَ قَدْ غَشِيَتْكُمْ، وَبَرَزْتُمْ لِفَصْلِ الْقَضَاءِ، قَدْ زَاحَتْ عَنْكُمُ الاَبَاطِيلُ، وَاضْمَحَلَّتْ عَنْكُمُ الْعِلَلُ، وَاسْتَحَقَّتْ بِكُمُ الْحَقَائِقُ، وَصَدَرَتْ بِكُمُ الاُمُورُ مَصَادِرَهَا، فَاتَّعِظُوا بِالْعِبَرِ، وَاعْتَبِرُوا بِالْغِيَرِ، وَانْتَفِعُوا بِالنُّذُرِ.

[ ۱۵۸ ]

النَّبِيُّ وَالْقُرْآنُ

أَرْسَلَهُ عَلَى حِينِ فَتْرَة مِنَ الرُّسُلِ، وَطُولِ هَجْعَة مِنَ الاُمَمِ، وَانْتِقَاض مِنَ الْمُبْرَمِ، فَجَاءَهُمْ بِتَصْدِيقِ الَّذِي بَيْنَ يَدَيْهِ، وَالنُّورِ الْمُقْتَدَى بِهِ. ذلِكَ الْقُرْآنُ فَاسْتَنْطِقُوهُ، وَلَنْ يَنْطِقَ، وَلكِنْ أُخْبِرُكُمْ عَنْهُ: أَلاَ إِنَّ فِيهِ عِلْمَ مَا يَأْتِي، وَالْحَدِيثَ عَنِ الْمَاضِي، وَدَوَاءَ دَائِكُمْ، وَنَظْمَ مَا بَيْنَكُمْ.

ومنها: فَعِنْدَ ذلِكَ لاَ يَبْقَى بَيْتُ مَدَر وَلاَ وَبَر إِلاَّ وَأَدْخَلَهُ الظَّلَمَةُ تَرْحَةً، وَأَوْلَجُوا فِيهِ نِقْمَةً، فَيَوْمَئِذ لاَ يَبْقَى لَهُمْ فِي السَّمَاءِ عَاذِرٌ، وَلاَ فِي الاَرْضِ نَاصِرٌ.

أَصْفَيْتُمْ بِالاَمْرِ غَيْرَ أَهْلِهِ، وَأَوْرَدْتُمُوهُ غَيْرَ مَوْرِدِهِ، وَسَيَنْتَقِمُ اللهُ مِمَّنْ ظَلَمَ، مَأْكَلاً بِمَأْكَل، وَمَشْرَباً بِمَشْرَب، مِنْ مَطَاعِمِ

زر به يې هر څه مرګ وتروړي، او يواځې حساب کتاب به يې په غاړه پاتې شي. اے د خداے بندګانو! هغه خبر چې خداے پاک يې وعده کړې پرېښودونکے نهٔ دے او هغه شر چې نهي يې ترې کړې خوښېدونکے شے نهٔ دے، اے د خداے بندګانو! له هغه ورځې او ېرېږئ چې د انسان د عملونو څېړنه به کېږي، هغه ورځ چې د انديښنې ورځ ده او ماشومان پکې بوډا ګان کېږي! اے د خداے بندګانو! پوه شئ چې له تاسو يې په تاسو باندې څارونکے ټاکلے او ستاسو له بدنه يې پهٔ تاسو جاسوسان ګرځولې دي او داسې رښتيني حافظان چې ستاسو عملونه محفوظ ساتي او ساګانې مو شماري، نهٔ د شپې تيارهٔ تاسو له هغوي پټولې شي او نهٔ مو پياوړې دروازه له هغوي پناه کولې شي.

### د قبر ويره

سبا ورځ نن ته نزدې ده او نننۍ ورځ له خپل سازوسامان سره تېرېږي، او سبا راځي او ورته وررسېږي، تهٔ به وائې هر يو کس د ځمکې په زړهٔ کښې خپل خاص کور ته رسېدلے دے په هغه کنده کښې چې ورلره يې کنلې ده په هغې کښې پروت دے، هاے چې څومره تنهايي ده، او څومره بوږنوونکے کور دے، او توره کوټه ده. تهٔ به وائې د اسرافيل شپېلۍ يې غږولې ده او قيامت رارسېدلے دے، او د حساب او قضاوت لپاره رابهر کړې شوي يئ، باطل خيالونه لرې شوي، بهانې ختمې شوې او حقيقتونه درښکاره شوي دي او تاسو يې هغه څه ته چې ضروري ده کش کړې يئ، نو له عبرتونو سبق واخلئ او د زمانې له بدلو نه عبرت، او د خبرداري ورکوونکو له خبرداري استفاده وکړئ.

## ﴿يو سل اتهٔ پنځوسمه خطبه﴾

(ځينو سپړونکو ويلي دي چې دا خطبه يې په کوفه ښار کښې ورکړې ده)

### د قرآن شريف او رسول اللهﷺ فضيلت

خداے تعالی خپل پېغمبرﷺ هغه وخت راولېږهٔ چې د رسولانو لړۍ بنده شوې وه او امتونه د غفلت په خوب اودهٔ شوي وو او د دوستۍ او انسانيت رشتې شليدلې وې، نو پېغمبراکرمﷺ په خلقو کښې نازل شو په داسې حال کښې چې د تېرو پېغمبرانو عليهم السلام کتابونه يې تصديقول او په رڼا سره د انسانانو هدايت ګر شو، چې ټول بايد د هغې پېروي وکړي، او هغه رڼا د قرآن رڼا ده.

له قرآنه وغواړئ چې خبرې وکړي چې هيڅکله خبرې نهٔ کوي خو زهٔ تاسو د هغهٔ له معارفو خبروم، پوه شئ چې په قرآن کښې د راتلونکې زمانې علم او د تېرې زمانې داستانونه دي، ستاسو د دردونو درمان او ستاسو د وګړنېزو (انفرادي) او ټولنېزو (اجتماعي) چارو سموونکے دے.

### د بني اميو دردناک راتلونکے

د اميه د اولاد له واکمنېدو وروسته به په ښار کښې کوم کور او په صحرا کښې کومه کېږدۍ او جونګړه پاتې نهٔ شي مګر دا چې د بني اميو ظالمان به غم او خفګان هلته يوسي، او مصيبت او تربګني به هر يو کور ته ورسوي نو په هغه وخت به د انسانانو لپاره نهٔ په آسمان کښې عذر غوښتونکے وي او نهٔ په ځمکه کښې مرسته کوونکے، ځکه چې تاسو نااهلان حاکمان کړي دي او واکمنی مو په غلط ځاے کښې

الْعَلْقَمِ، وَمَشَارِبِ الصَّبْرِ وَالْمَقِرِ، وَلِبَاسِ شِعَارِ الْخَوْفِ، وَدِثَارِ السَّيْفِ. وَإِنَّمَا هُمْ مَطَايَا الْخَطِيئَاتِ وَزَوَامِلُ الْآثَامِ. فَأُقْسِمُ، ثُمَّ أُقْسِمُ، لَتَنْخَمَنَّهَا أُمَيَّةُ مِنْ بَعْدِي كَمَا تُلْفَظُ النُّخَامَةُ، ثُمَّ لاَ تَذُوقُهَا وَلاَ تَطْعَمُ بِطَعْمِهَا أَبَداً مَا كَرَّ الْجَدِيدَانِ!

[ ۱۵۹ ]

وَمِنْ خُطْبَةٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ يُبَيِّنُ فِيهَا حُسْنَ مُعَامَلَتِهِ لِرَعِيَّتِهِ

وَلَقَدْ أَحْسَنْتُ جِوَارَكُمْ، وَأَحَطْتُ بِجُهْدِي مِنْ وَرَائِكُمْ، وَأَعْتَقْتُكُمْ مِنْ رِبَقِ الذُّلِّ، وَحَلَقِ الضَّيْمِ، شُكْراً مِنِّي لِلْبِرِّ الْقَلِيلِ، وَإِطْرَاقاً عَمَّا أَدْرَكَهُ الْبَصَرُ، وَشَهِدَهُ الْبَدَنُ، مِنَ الْمُنْكَرِ الْكَثِيرِ.

[ ۱۶۰ ]

وَمِنْ خُطْبَةٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ

أَمْرُهُ قَضَاءٌ وَحِكْمَةٌ، وَرِضَاهُ أَمَانٌ وَرَحْمَةٌ، يَقْضِي بِعِلْمٍ، وَيَعْفُو بِحِلْمٍ. اللَّهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ عَلَى مَا تَأْخُذُ وَتُعْطِي، وَعَلَى مَا تُعَافِي وَتَبْتَلِي. حَمْداً يَكُونُ أَرْضَى الْحَمْدِ لَكَ، وَأَحَبَّ الْحَمْدِ إِلَيْكَ، وَأَفْضَلَ الْحَمْدِ عِنْدَكَ. حَمْداً يَمْلَأُ مَا خَلَقْتَ، وَيَبْلُغُ مَا أَرَدْتَ. حَمْداً لاَ يُحْجَبُ عَنْكَ، وَلاَ يُقْصَرُ دُونَكَ. حَمْداً لاَ يَنْقَطِعُ عَدَدُهُ، وَلاَ يَفْنَى مَدَدُهُ. فَلَسْنَا نَعْلَمُ كُنْهَ عَظَمَتِكَ إِلاَّ أَنَّا نَعْلَمُ أَنَّكَ: حَيٌّ قَيُّومٌ، لاَ تَأْخُذُكَ سِنَةٌ وَلاَ نَوْمٌ، لَمْ يَنْتَهِ إِلَيْكَ نَظَرٌ، وَلَمْ يُدْرِكْكَ بَصَرٌ، أَدْرَكْتَ الْأَبْصَارَ، وَأَحْصَيْتَ الْأَعْمَالَ، وَأَخَذْتَ بِالنَّوَاصِي وَالْأَقْدَامِ، وَمَا الَّذِي نَرَى مِنْ خَلْقِكَ، وَنَعْجَبُ لَهُ مِنْ قُدْرَتِكَ، وَنَصِفُهُ مِنْ عَظِيمِ سُلْطَانِكَ، وَمَا تَغَيَّبَ عَنَّا مِنْهُ، وَقَصُرَتْ أَبْصَارُنَا عَنْهُ، وَانْتَهَتْ عُقُولُنَا دُونَهُ، وَحَالَتْ سَوَاتِرُ الْغُيُوبِ بَيْنَنَا وَبَيْنَهُ أَعْظَمُ.

ګرځولي ده، خو ډېر زر به خدای تعالی د بني اميو له ظالمانو غچ او انتقام واخلي د خوراک په بدله کښې به په خوراک او څښاک په بدله کې به په څښاک سره، او د «علقم» تر بوټي په زيات تريخ خوراک او د «صبر»د ونې تر شيرې په زيات تريخ څښاک سره، خدای تعالی به له دننه په هغوي ويره او ترهه او له بهره توره واکمنه کړي، ځکه چې هغوي د خطاګانو سورلۍ او د ګناهانو بار وړونکي اوښان دي، زه بيا بيا قسم خورم چې له ما وروسته به بني اميه خلافت داسې توکي لکه انسان چې خراشکې توکي، او له هغه وروسته به تر هغه وخته چې شپې او ورځې تاوېږي د حکومت خوند بيا ونه څکي.

## ﴿يو سل نهه پنځوسمه خطبه﴾

### د حکومت چلول

له تاسو سره مې ښه ژوند وکړ او د خپل وس مطابق مې له هر لوري ستاسو څارنه وکړه، او د مريتوب او غلامۍ له بند او ذلته مې وژغورلئ او د ظلم له زنځيرونو مې خلاص کړئ، چې دا ستاسو د لږې شان نيکۍ په وړاندې زما زياته منښه وي، او ستاسو له ډېرو بديو او سپکو کارونو څخه چې په سترګو مې اوليدل او په بدن مې لمس کړل تېرېدل وي.

## ﴿يو سل شپېتمه خطبه﴾

«دا خطبه يې د هجرت په اوۀ دېرشم کال د صفين په لور د حرکت او له شاميانو سره د جنګ په وخت وکړه»

### خدای پېژندنه

د خدای پاک امر قضا او حکمت دی او رضا يې امنيت او رحمت دی، په علم سره حکم کوي او په حلم سره عفوه، ای خدايه! ستا حمد او شکر کوم په هغه څه چې اخلې يې او په هغه څه چې ورکوې يې، او شفا ورکوې يا مبتلا کوې، داسې حمد او شکر چې ستا لپاره ډېر خوښوونکی، ډېر محبوب او ډېر افضل وي، داسې حمد چې ټول کائنات ډک کړي، او ترکومې چې ته يې وغواړې دوام وکړي،داسې حمد او شکر چې له تا پټ نۀ وي، او ستا در ته له درسېدلو پاتې نۀ شي، داسې حمد چې لړۍ يې اونۀ درېږي، او داسې حمد چې شمېر يې ختم نۀ شي، او دوام يې له منځه لاړ نۀ شي، ای خدايه! ستا د سترتوب او لوئۍ په حقيقت نۀ پوهېږو، بې له دې چې پوهېږو تۀ ژوندی او قيوم يې، او درونډ او سپک خوب درباندې نۀ راځي، هيڅ فکر تا ته نۀ رسېږي او هيڅ سترګې تا نۀ شي ليدلی، خو تۀ سترګې وينې او د انسانانو عملونه شمېرې. د تندي وېښتۀ او ګامونه (د ټولو چارو واګې) ستا په اختيار کښې دي، ای خدايه ! هغه څه چې ستا له خلقته يې ګورو او ستا په قدرت حېرانېږو، او ستا د قدرت سترتوب پرې ستايوو، ډېرکم دي د هغه څه په وړاندې چې له مونږه پټ دي او سترګې مو د هغو له ليدلو ناتوانه دي، او عقلونه مو د هغو له درکه عاجز، او زمونږ او د هغو په مينځ کښې د غيبو پردې خپرې دي.

فَمَنْ فَرَّغَ قَلْبَهُ، وَأَعْمَلَ فِكْرَهُ، لِيَعْلَمَ كَيْفَ أَقَمْتَ عَرْشَكَ، وَكَيْفَ ذَرَأْتَ خَلْقَكَ، وَكَيْفَ عَلَّقْتَ فِي الْهَوَاءِ سَمَاوَاتِكَ، وَكَيْفَ مَدَدْتَ عَلَى مَوْرِ الْمَاءِ أَرْضَكَ، رَجَعَ طَرْفُهُ حَسِيراً، وَعَقْلُهُ مَبْهُوراً، وَسَمْعُهُ وَالِهاً، وَفِكْرُهُ حَائِراً.

مِنْهَا: يَدَّعِي بِزَعْمِهِ أَنَّهُ يَرْجُو اللهَ، كَذَبَ وَالْعَظِيمِ! مَا بَالُهُ لاَ يَتَبَيَّنُ رَجَاؤُهُ فِي عَمَلِهِ؟ فَكُلُّ مَنْ رَجَا عُرِفَ رَجَاؤُهُ فِي عَمَلِهِ، وَكُلُّ رَجَاءٍ ـ إِلاَّ رَجَاءَ اللهِ ـ فَإِنَّهُ مَدْخُولٌ، وَكُلُّ خَوْفٍ مُحَقَّقٌ، إِلاَّ خَوْفَ اللهِ فَإِنَّهُ مَعْلُولٌ. يَرْجُو اللهَ فِي الْكَبِيرِ، وَيَرْجُو الْعِبَادَ فِي الصَّغِيرِ، فَيُعْطِي الْعَبْدَ مَا لاَ يُعْطِي الرَّبَّ! فَمَا بَالُ اللهِ جَلَّ ثَنَاؤُهُ يُقَصَّرُ بِهِ عَمَّا يُصْنَعُ بِهِ بِعِبَادِهِ؟ أَتَخَافُ أَنْ تَكُونَ فِي رَجَائِكَ لَهُ كَاذِباً؟ أَوْ تَكُونَ لاَ تَرَاهُ لِلرَّجَاءِ مَوْضِعاً؟ وَكَذلِكَ إِنْ هُوَ خَافَ عَبْداً مِنْ عَبِيدِهِ، أَعْطَاهُ مِنْ خَوْفِهِ مَا لاَ يُعْطِي رَبَّهُ، فَجَعَلَ خَوْفَهُ مِنَ الْعِبَادِ نَقْداً، وَخَوْفَهُ مِنْ خَالِقِهِ ضِمَاراً وَوَعْداً، وَكَذلِكَ مَنْ عَظُمَتِ الدُّنْيَا فِي عَيْنِهِ، وَكَبُرَ مَوْقِعُهَا مِنْ قَلْبِهِ، آثَرَهَا عَلَى اللهِ، فَانْقَطَعَ إِلَيْهَا، وَصَارَ عَبْداً لَهَا.

وَلَقَدْ كَانَ فِي رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ كَافٍ لَكَ فِي الأُسْوَةِ، وَدَلِيلٌ لَكَ عَلَى ذَمِّ الدُّنْيَا وَعَيْبِهَا، وَكَثْرَةِ مَخَازِيهَا وَمَسَاوِيهَا، إِذْ قُبِضَتْ عَنْهُ أَطْرَافُهَا، وَوُطِّئَتْ لِغَيْرِهِ أَكْنَافُهَا، وَفُطِمَ مِنْ رَضَاعِهَا، وَزُوِيَ عَنْ زَخَارِفِهَا.

مُوسَى عَلَيْهِ السَّلاَمُ: وَإِنْ شِئْتَ ثَنَّيْتُ بِمُوسَى كَلِيمِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ إِذْ يَقُولُ: ﴿رَبِّ إِنِّي لِمَا أَنْزَلْتَ إِلَيَّ مِنْ خَيْرٍ فَقِيرٌ﴾، وَاللهِ، مَا سَأَلَهُ إِلاَّ خُبْزاً يَأْكُلُهُ، لاِنَّهُ كَانَ يَأْكُلُ بَقْلَةَ الأَرْضِ، وَلَقَدْ كَانَتْ خُضْرَةُ الْبَقْلِ تُرَى مِنْ شَفِيفِ صِفَاقِ بَطْنِهِ، لِهُزَالِهِ وَتَشَذُّبِ لَحْمِهِ.

دَاوُدُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ: وَإِنْ شِئْتَ ثَلَّثْتُ بِدَاوُدَ صَاحِبِ الْمَزَامِيرِ، وَقَارِىءِ أَهْلِ الْجَنَّةِ، فَلَقَدْ كَانَ يَعْمَلُ سَفَائِفَ الْخُوصِ بِيَدِهِ، وَيَقُولُ لِجُلَسَائِهِ: أَيُّكُمْ يَكْفِينِي بَيْعَهَا!

### د خدای پېژندني لار

نوڅوک چې خپل زړهٔ له هر څه پاک کړي او فکر وکاروي چې پوه شي چې څرنګه دې د قدرت عرش اودرولے دے او مخلوق دې څرنګه پنځولے دے. او څرنګه دې آسمانونه او فضائي کُرې په هوا کښې ځوړندې کړې دي. او څمکه دې څرنګه د اوبو په څپو خپره کړې ده. سترګې بې ارمانجنې، عقل بې پاتې او سرګردانه، غوږونه بې پرېشانه او عقل بې حېرانه پاتې کېږي.

### هیله او ارمان

(ځینې کسان) په خپل ګمان ادعا کوي چې خدای پاک ته هیله منداو امیدوار دي! په لوی خدای قسم! چې دوروغ وائي، آخر څه وجه ده چې د هغوي په عملونو کښې د امید څرک نه ښکاري، نو څوک چې له خدایه هیله مند او امیدوار وي باید هیله او امید یې په عمل کښې ښکاره شي، بې له خدایه بل چاته هیله مندي اخلاص نه لري، او بې له خدایه بله هره ویره ناسمه ده. ځینې کسان په لویوکارونو کښې خدای پاک ته او په وړوکارونو کښې د خدای بندګانو ته امید لري نو د بنده حق ادا کوي او د خدای پاک حق پرېږدي، ولې د خدای په حق کښې لټې او کوتاهي کېږي او د بندګانو ترحقه کم ادا کېږي. آیا ویرېږې چې خدای پاک ته په امیدلرلو کښې دروغجن شې، یا هغه د دې وړ نهٔ ګڼې چې هیله او امید ورپورې اوتړې، دروغجن هیله مند که د خدای له یو بنده ویرېږي نو د هغهٔ د حق داسې خیال ساتي چې داسې د خپل رب د حق خیال نه ساتي، نو له بندګانو ویره تیارهٔ او نغده سودا او له باداره ویره یوه نه پوره کېدونکې وعده ګڼي. او هغه کس داسې دے چې دنیا یې په نظر کښې لویه او د دنیا ارزښت او قیمت یې په زړهٔ کښې پرېمانه وي نو هغه دنیا ته په خدای تعالی باندې ترجیح ورکوي، او بې له دنیا بل څه کار نه کوي او د دنیا مرئے شي.

### د پېغبرانو علیهم‌السلام ژوند او سیرت

او ستا لپاره د اسلام د ګران پېغمبر ﷺ د ژوند لاره او سیرت کافي دے چې اطاعت یې وکړې چې د دنیا د ښېګنو او بدګنو او رسوایو د پېژندلو لپاره ستا ښهٔ لارښود دے، پوه شه چې دنیا له هر لورې د پېغمبراکرم ﷺ لپاره غړول شوې او د نورو لپاره خپره شوې ده، هغوي د دنیا تے ونهٔ رودهٔ او د هغې له سرو سپینو یې ډډه وکړه،

او که غواړې بل مثال درته راوړم نوهغه د موسی کلیم الله علیه‌السلام مثال دے چې وې فرمایل: «اے ربه ما ته چې هر څومره نېکي او خیر راکړې بیا هم فقیر او نیازمند یم» په خدای قسم موسی علیه‌السلام بې له یوې ډوډۍ بل څه ونهٔ غوښتل چې لوږه پرې لرې کړي.ځکه چې موسی علیه‌السلام به همېشه سبزي خوړله او د کمزورې کېدو او د غوښې د ویلې کېدو په وجه د هغوي د خېټې تر پردې شا ته د شنو سبزیو رنګ ښکاره ؤ، او که غواړې چې دریم خپله بېلګه او نمونه وګرځوې نو د غړوونکو شپېلیو او مزامیرو خاوند او د جنتیانو قاري داوود علیه‌السلام دے چې د خپل لاسونو په هنر سره به

وَيَأْكُلُ قُرْصَ الشَّعِيرِ مِنْ ثَمَنِهَا.

عيسَى عَلَيْهِ السَّلَامُ: وَإِنْ شِئْتَ قُلْتُ فِي عِيسَى بْنِ مَرْيَمَ عَلَيْهِ السَّلَامُ، فَلَقَدْ كَانَ يَتَوَسَّدُ الْحَجَرَ، وَيَلْبَسُ الْخَشِنَ، وَكَانَ إِدَامُهُ الْجُوعَ، وَسِرَاجُهُ بِاللَّيْلِ الْقَمَرَ، وَظِلَالُهُ فِي الشِّتَاءِ مَشَارِقَ الْأَرْضِ وَمَغَارِبَهَا، وَفَاكِهَتُهُ وَرَيْحَانُهُ مَا تُنْبِتُ الْأَرْضُ لِلْبَهَائِمِ، وَلَمْ تَكُنْ لَهُ زَوْجَةٌ تَفْتِنُهُ، وَلَا وَلَدٌ يَحْزُنُهُ، وَلَا مَالٌ يَلْفِتُهُ، وَلَا طَمَعٌ يُذِلُّهُ، دَابَّتُهُ رِجْلَاهُ، وَخَادِمُهُ يَدَاهُ!

الرَّسُولُ الْأَعْظَمُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ: فَتَأَسَّ بِنَبِيِّكَ الْأَطْيَبِ الْأَطْهَرِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ فَإِنَّ فِيهِ أُسْوَةً لِمَنْ تَأَسَّى، وَعَزَاءً لِمَنْ تَعَزَّى ـ وَأَحَبُّ الْعِبَادِ إِلَى اللهِ الْمُتَأَسِّي بِنَبِيِّهِ، وَالْمُقْتَصُّ لِأَثَرِهِ ـ قَضَمَ الدُّنْيَا قَضْماً، وَلَمْ يُعِرْهَا طَرْفاً، أَهْضَمُ أَهْلِ الدُّنْيَا كَشْحاً، وَأَخْمَصُهُمْ مِنَ الدُّنْيَا بَطْناً، عُرِضَتْ عَلَيْهِ الدُّنْيَا فَأَبَى أَنْ يَقْبَلَهَا، وَعَلِمَ أَنَّ اللهَ سُبْحَانَهُ أَبْغَضَ شَيْئاً فَأَبْغَضَهُ، وَحَقَّرَ شَيْئاً فَحَقَّرَهُ، وَصَغَّرَ شَيْئاً فَصَغَّرَهُ. وَلَوْ لَمْ يَكُنْ فِينَا إِلَّا حُبُّنَا مَا أَبْغَضَ اللهُ، وَتَعْظِيمُنَا مَا صَغَّرَ اللهُ، لَكَفَى بِهِ شِقَاقاً لِلهِ، وَمُحَادَّةً عَنْ أَمْرِ اللهِ. وَلَقَدْ كَانَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ يَأْكُلُ عَلَى الْأَرْضِ، وَيَجْلِسُ جِلْسَةَ الْعَبْدِ، وَيَخْصِفُ بِيَدِهِ نَعْلَهُ، وَيَرْقَعُ بِيَدِهِ ثَوْبَهُ، وَيَرْكَبُ الْحِمَارَ الْعَارِيَ، وَيُرْدِفُ خَلْفَهُ، وَيَكُونُ السِّتْرُ عَلَى بَابِ بَيْتِهِ فَتَكُونُ فِيهِ التَّصَاوِيرُ فَيَقُولُ: «يَا فُلَانَةُ ـ لِإِحْدَى أَزْوَاجِهِ ـ غَيِّبِيهِ عَنِّي، فَإِنِّي إِذَا نَظَرْتُ إِلَيْهِ ذَكَرْتُ الدُّنْيَا وَزَخَارِفَهَا». فَأَعْرَضَ عَنِ الدُّنْيَا بِقَلْبِهِ، وَأَمَاتَ ذِكْرَهَا مِنْ نَفْسِهِ، وَأَحَبَّ أَنْ تَغِيبَ زِينَتُهَا عَنْ عَيْنِهِ، لِكَيْلَا يَتَّخِذَ مِنْهَا رِيَاشاً، وَلَا يَعْتَقِدَهَا قَرَاراً، وَلَا يَرْجُوَ فِيهَا مُقَاماً، فَأَخْرَجَهَا مِنَ النَّفْسِ، وَأَشْخَصَهَا عَنِ

بې د خرماؤ له پاڼو ټوکرۍ او پچې جوړولې او له خپلو ملګرو به يې پوښتنه کوله چې څوک ماته دا ټوکرۍ خرڅولی شي. او د هغې په بيه به يې د اوربشو په ډوډۍ بسنه او ګزاره کوله.

اوکه غواړې چې د بي بي مريم عليها السلام د زوے عيسي عليه السلام درته ووايم چې کاڼے يې بالښت کوۀ او زيږه خمتا به يې اغوستله، او وچه ډوډۍ به يې خوړله، ترکاري او پخکړے يې لوږه او څراغ يې سپوږمۍ. او د ژمي پناه ځاے يې د ختيځ او لويديځ ځمکه وه، او ميوه او ګل يې هغه سبزيانې وې چې ځمکې د ځاروو لپاره ټوکولې، کومه ښځه نۀ وه چې هغه يې په ځان مئين کړے وې، بچے يې نۀ لرۀ چې يې غمجن کړے وې، مال يې نۀ لرۀ چې يې مشغول کړے وې، او طمعه او ارمان يې نۀ لرۀ چې يې خوار او ذليل کړے وې،د هغۀ سپرلۍ (مرکب) دوه پښې او خدمتکار يې دوه لاسونه وو.

## د پېغمبراکرم صلی الله علیه وآله وسلم سيرت

نو بيا د خپل پاک او پاکيزه پېغمبراکرم صلی الله علیه وآله وسلم اقتدا وکړه چې پکښې د نمونه غوښتونکو لپاره نمونه او د هغه چا لپاره د وياړ سامان دے چې سترتوب اوعظمت غواړي، او په خداے پاک باندې تر ټولو ګران بنده هغه دے چې د پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم پېروي يې وکړي، او په پلۀ يې پل کېږدي، رسول الله مبارک صلی الله علیه وآله وسلم له دې دنيا دومره اوڼۀ خوړه چې خوله ډکه کړي او دنيا ته يې د سترګو لاندې غلې هم ونۀ کتل، تشي يې تر هر چا زيات ورننوتي وو، په دنيا کښې يې تر هر چا زياته لوږه تېره کړه، دنيا يې هغه ته وښودله خوهغۀ قبوله نۀ کړه، او چې پوه شو چې د خداے پاک يوڅيز بدې شي نو هغه به يې بدې شو، او څه چې خداے پاک ذليل ګڼلي هغه يې ذليل وګڼل، او څه چې خداے پاک واړۀ ګڼلي هغه يې واړۀ وګڼل، او که په مونږ کښې تر دې زيات بل عيب نۀ وې چې هغه څه چې خداے او پېغمبراکرم صلی الله علیه وآله وسلم دښمن ګڼل مونږ يې خوښ کړوو يا هغه څه چې خداے او پېغمبراکرم صلی الله علیه وآله وسلم واړۀ ګڼل مونږ يې لوې وګڼو نو همدومره هم له خداے پاک سره زمونږ د دښمنۍ او د هغۀ له اوامرو څخه د سرغړونې لپاره کافي وو! بې له شکه چې پېغمبراکرم صلی الله علیه وآله وسلم به په ځمکه باندې ډوډۍ خوړله او د يو مريي په شان ناسته پاسته او ژوند به يې کوۀ، په خپلو لاسونو به يې پيزار ګنډۀ او خپله جامه به يې په خپله ګنډله، او په بې کتې خرۀ به يې سورلي کوله، او بل کس به يې په ځان پسې سپروۀ، د هغۀ په کور کښې يوه پرده ځوړنده وه چې تصويرونه پرې جوړ شوي وو نو خپلې يوې بي بي ته يې وفرمايل: «اے پلانۍ! دا پرده زما له سترګو لرې کړه ځکه چې هر وخت يې وينم نو د دنيا او د هغې د ښکلا او سينګار فکر رالويږي» پېغمبراکرم صلی الله علیه وآله وسلم په زړۀ سره له دنيا مخ واړوۀ او ياد يې له ځان وتوړۀ، او هميشه يې غوښتل چې د دنيا ښکلاوې يې له سترګو پټې پاتې شي، او ښکلې جامه ترې جوړه نۀ کړي، او خپله هميشنۍ ټکاڼه يې ونۀ ګڼي، او په دنيا کښې د پاتې کېدو اميد ونۀ لري، نو د دنيا ياد

الْقَلْبِ، وَغَيَّبَهَا عَنِ الْبَصَرِ. وَكَذلكَ مَنْ أَبْغَضَ شَيْئاً أَبْغَضَ أَنْ يَنْظُرَ إِلَيْهِ، وأَنْ يُذْكَرَ عِنْدَهُ. وَلَقَدْ كَانَ فِي رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وآلِهِ مَا يَدُلُّكَ عَلَى مَسَاوِىءِ الدُّنْيَا وَعُيُوبِهَا: إِذْ جَاعَ فِيهَا مَعَ خَاصَّتِهِ، وَزُوِيَتْ عَنْهُ زَخَارِفُهَا مَعَ عَظِيمِ زُلْفَتِهِ. فَلْيَنْظُرْ نَاظِرٌ بِعَقْلِهِ: أَكْرَمَ اللهُ مُحَمَّداً عليه السلام بِذلِكَ أَمْ أَهَانَهُ! فَإِنْ قَالَ: أَهَانَهُ، فَقَدْ كَذَبَ ـ وَاللهِ الْعَظِيمِ ـ وَإِنْ قَالَ: أَكْرَمَهُ، فَلْيَعْلَمْ أَنَّ اللهَ قَدْ أَهَانَ غَيْرَهُ حَيْثُ بَسَطَ الدُّنْيَا لَهُ، وَزَوَاهَا عَنْ أَقْرَبِ النَّاسِ مِنْهُ. فَتَأَسَّى مُتَأَسٍّ بِنَبِيِّهِ، وَاقْتَصَّ أَثَرَهُ، وَوَلَجَ مَوْلِجَهُ، وَإِلاَّ فَلاَ يَأْمَنِ الْهَلَكَةَ، فَإِنَّ اللهَ عَزّوَجَلّ جَعَلَ مُحَمَّداً (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ) عَلَماً لِلسَّاعَةِ، وَمُبَشِّراً بِالْجَنَّةِ، وَمُنْذِراً بِالْعُقُوبَةِ. خَرَجَ مِنَ الدُّنْيَا خَمِيصاً، وَوَرَدَ الْآخِرَةَ سَلِيماً، لَمْ يَضَعْ حَجَراً عَلَى حَجَرٍ، حَتَّى مَضَى لِسَبِيلِهِ، وَأَجَابَ دَاعِيَ رَبِّهِ، فَمَا أَعْظَمَ مِنَّةَ اللهِ عِنْدَنَا حِينَ أَنْعَمَ عَلَيْنَا بِهِ سَلَفاً نَتَّبِعُهُ، وَقَائِداً نَطَأُ عَقِبَهُ! وَاللهِ لَقَدْ رَقَّعْتُ مِدْرَعَتِي هذِهِ حَتَّى اسْتَحْيَيْتُ مِنْ رَاقِعِهَا، وَلَقَدْ قَالَ لِي قَائِلٌ: أَلاَ تَنْبِذُهَا؟ فَقُلْتُ: اغْرُبْ عَنِّي، فَعِنْدَ الصَّبَاحِ يَحْمَدُ الْقَوْمُ السُّرَى.

[ ۱٦۱ ]

وَمِنْ خُطْبَةٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ فِي صِفَةِ النَّبِيِّ وَأَهْلِ بَيْتِهِ وَأَتْبَاعِ دِينِهِ، وَفِيهَا يَعِظُ بِالتَّقْوَى

ابْتَعَثَهُ بِالنُّورِ الْمُضِيءِ، وَالْبُرْهَانِ الْجَلِيِّ، وَالْمِنْهَاجِ الْبَادِي، وَالْكِتَابِ الْهَادِي. أُسْرَتُهُ خَيْرُ أُسْرَةٍ، وَشَجَرَتُهُ خَيْرُ شَجَرَةٍ، أَغْصَانُهَا مُعْتَدِلَةٌ، وَثِمَارُهَا مُتَهَدِّلَةٌ. مَوْلِدُهُ بِمَكَّةَ، وَهِجْرَتُهُ بِطَيْبَةَ، عَلاَ بِهَا ذِكْرُهُ، وَامْتَدَّ مِنْهَا صَوْتُهُ. أَرْسَلَهُ بِحُجَّةٍ كَافِيَةٍ، وَمَوْعِظَةٍ شَافِيَةٍ، وَدَعْوَةٍ مُتَلاَفِيَةٍ. أَظْهَرَ بِهِ الشَّرَائِعَ الْمَجْهُولَةَ، وَقَمَعَ بِهِ

يې له خپل روحه اویستهٔ، او له دنیا یې زړهٔ صبر کړ او له دنیا یې سترګې پټې کړې، او همداسې ده چې که څوک له یو څیز سره دښمن وي نو نهٔ خوښوي چې ورته وګوري یا یې ورته نوم واخېستل شي. نو بس د رسول الله مبارکﷺ په ژوند کښې ستا لپاره داسې نښې نښانې پرتې دي چې د دنیا بدۍ او زښت څیزونه دروښیي، څکه چې پېغمبراکرمﷺ له خپلو نزدې کسانو سره یوځاے اوږے پاتے کېدهٔ سره له دې چې ډېر لوے مقام یې لرهٔ د دنیا ښکلاوې د هغهٔ له سترګو پټې پاتې شوې، نو فکر کوونکي باید په خپل عقل سره ښهٔ فکر وکړي، چې آیا خداے تعالی حضرت محمدﷺ د دغو صفتونو په لرلو سره عزتمن کړ او که خوار یې کړ؟ که ووائي چې خوار یې کړ نو دروغ یې ویلي او لوے تور یې تړلے دے او که ووائي هغه یې عزتمن کړ نو بس پوه دې شي چې خداے پاک هغه کس خوار او ذلیل کړ چې دنیا یې ورته خپره کړه او ځانته له نزدې کسانو یې لرې وساتله، نو پېروي کوونکي باید د خداے د ګران رسولﷺ پېروي وکړي، او د هغهٔ په لاره لاړ شي، او د هغهٔ په پلهٔ پل کېږدي،که نهٔ وي نو له تباهۍ نه بچ نهٔ شي پاتې کېدې. بې له شکه چې خداے پاک حضرت محمدﷺ د قیامت نښه او د جنت زیرے ورکوونکے او د دوزخ له اوره وېرؤنکے وټاکهٔ، هغهٔ په اوږې خېټه له دنیا لاړ او د روح او بدن په سلامتیا سره آخرت ته داخل شو،کاڼے یې په کاڼي کېنهٔ ښود (ماڼۍ او بنګلې یې جوړې نهٔ کړې) تر دې چې له دنیا سره یې بدرګه وکړه. او د خداے پاک بلنې ته یې لبیک ووایهٔ، واه، څومره لوے دے هغه احسان چې خداے پاک د پېغمبراکرمﷺ په ګمارلو سره په مونږ باندې کړے او په مونږ یې دومره لوے نعمت پېرزو کړے دے، داسې مخکښ مشر چې باید په لاره یې لاړ شوو، او داسې پېشوا چې لارې ته یې دوام ورکړوو.په خداے قسم! دا د خمتا زوړ قمیص مې دومره زیات پیوند کړ چې له پیوندؤنکي یې شرمیږم یو کس راته وویل: دا قمیص دې لرې نهٔ غورځوې؟ ورته مې وویل: له ما لرې شه، چې د شپې تلونکي کسان په سحرونو کښې ستائل کېږي.

## ﴿یو سل یو شپېتمه خطبه﴾

### د پېغمبراکرمﷺ او اهلبېتو علیهم السلام ځانګړتیاوې (خصوصیتونه)

خداے تعالی خپل استازے په ځلانده رڼا، ښکاره برهان، روښانه لار او هدایت کوونکي کتاب سره راولېږهٔ.د هغهٔ کورنۍ تر ټولو ښه کورنۍ ده او ونه او شجره یې تر ټولو غوره ونه او شجره ده چې څانګې یې نېغې او مېوې یې ځوړندې او د ټولو په لاسرسائۍ کښې دي، زیږنځاے یې مکه او هجرت یې هغې پاکې مدینې ته دے چرته چې یې نامه لوړه شوه او بلنه یې هر چاته اورسېده، خداے تعالی هغه په بشپړ او کافي برهان

الْبدعَ الْمَدْخُولَةَ، وبيَّنَ به الاَحْكَامَ الْمَفْصُولَةَ. فَمَنْ يَبْتَغِ غَيْرَ الإسْلامِ ديناً تَتَحَقَّقْ شِقْوَتُهُ، وَتَنْفَصِمْ عُرْوَتُهُ، وَتَعْظُمْ كَبْوَتُهُ، وَيَكُنْ مَآبُهُ إلَى الْحُزْنِ الطَّويلِ وَالْعَذَابِ الْوَبِيلِ. وَأَتَوَكَّلُ عَلَى اللهِ تَوكُّلَ الانابَةِ إلَيْهِ، وَأَسْتَرْشِدُهُ السَّبِيلَ الْمُؤَدِّيَةَ إلَى جَنَّتِهِ، الْقَاصِدَةَ إلَى مَحَلِّ رَغْبَتِهِ.

النُّصْحُ بالتَّقْوَى: أُوصِيكُمْ عِبَادَاللهِ، بِتَقْوَى اللهِ وَطَاعَتِهِ، فَإنَّهَا النَّجَاةُ غَداً، وَالْمَنْجَاةُ أَبَداً. رَهَّبَ فَأَبْلَغَ، وَرَغَّبَ فَأَسْبَغَ، وَوَصَفَ لَكُمُ الدُّنْيَا وَانْقِطَاعَهَا، وَزَوَالَهَا وَانْتِقَالَهَا. فَأَعْرِضُوا عَمَّا يُعْجِبُكُمْ فِيهَا لِقِلَّةِ مَا يَصْحَبُكُمْ مِنْهَا، أَقْرَبُ دَارٍ مِنْ سَخَطِ اللهِ، وَأَبْعَدُهَا مِنْ رِضْوَانِ اللهِ! فَغُضُّوا عَنْكُمْ ـ عِبَادَاللهِ ـ غُمُومَهَا وَأَشْغَالَهَا، لِمَا قَدْ أَيْقَنْتُمْ بِهِ مِنْ فِرَاقِهَا وَتَصَرُّفِ حَالاَتِهَا. فَاحْذَرُوهَا حَذَرَ الشَّفِيقِ النَّاصِحِ، وَالْمُجِدِّ الْكَادِحِ. وَاعْتَبِرُوا بِمَا قَدْ رَأَيْتُمْ مِنْ مَصَارِعِ الْقُرُونِ قَبْلَكُمْ: قَدْ تَزَايَلَتْ أَوْصَالُهُمْ، وَزَالَتْ أَسْمَاعُهُمْ وَأَبْصَارُهُمْ، وَذَهَبَ شَرَفُهُمْ وَعِزُّهُمْ، وَانْقَطَعَ سُرُورُهُمْ وَنَعِيمُهُمْ؛ فَبُدِّلُوا بِقُرْبِ الاَوْلاَدِ فَقْدَهَا، وَبِصُحْبَةِ الاَزْوَاجِ مُفَارَقَتَهَا. لاَ يَتَفَاخَرُونَ، وَلاَ يَتَنَاصَرُونَ، وَلاَ يَتَنَاسَلُونَ، وَلاَ يَتَزَاوَرُونَ، وَلاَ يَتَجَاوَرُونَ. فَاحْذَرُوا، عِبَادَاللهِ، حَذَرَ الْغَالِبِ لِنَفْسِهِ، الْمَانِعِ لِشَهْوَتِهِ، النَّاظِرِ بِعَقْلِهِ؛ فَإنَّ الاَمْرَ وَاضِحٌ، وَالْعَلَمَ قَائِمٌ، وَالطَّرِيقَ جَدَدٌ، وَالسَّبِيلَ قَصْدٌ.

(قرآن) او شفابخښونکو پندونو او تلافي کوونکي بلنې سره راولېږهٔ، د پېغمبراکرمﷺ په رالېږلو سره ناپېژاندي شريعتونه يې خلقو ته ورو پېژندل او په آسماني دينونو کښې د ننوتيو بدعتونو جرړې يې پرې کړې، او د خداے پاک احکام او قوانين يې بيان کړل، نو هر څوک چې بې له اسلامه بل دين غوره کړي يقيناً چې بدبختي يې ثابته، له خداے سره يې پېوند غوڅ او غورځېدل به يې بوړنوونکي وي، او انجام يې بې پايانه غم او کړاو او دردناکه شکنجه ده. په خداے پاک باندې توکل کوم، داسې توکل چې د هغهٔ په لور جاروتل وي، او له هغهٔ نه هغه لاره غواړم چې جنت ته او هغه ځاے ته چې د هغهٔ غوښتنه ده اورسېږي.

### د تقوا سپارښتنه او له تېرو عبرت اخېستل

اے د خداے بندګانو! تاسو له خدايه وېرې او تقوا او د هغهٔ فرمانبرادرۍ ته رابولم چې د سبا ژغورنه او د تل پاتې نجات سبب دي، خداے پاک تاسو هغه شان چې وړ وه تاسو وو برولئ، او څنګه چې ښائي تاسو يې هيله مند کړئ، او دنيا او د هغې بې باوري، فنا او منتقلېدنه يې تاسو ته بيان کړه ځکه چې ډېر لږ وخت به پکې استوګن شئ دنيا د خداے پاک خوابښينې او ناراضګۍ ته ډېره نزدې او د هغهٔ له رضا څخه ډېر لرے ځاے دے، نو اے د خداے بندګانو د دنيا له غمونو او بوختياؤ اوغړېږئ ځکه چې تاسو د دنيا په جدا کېدو او د چارو په بدلېدو باندې يقين لرئ، او د هغه مهربان دوست په شان چې د خپل دوست د نجات لپاره ډېر کوشش او نصيحت کوي ځانونه له دنيا لرې اوساتئ، او له هغه څه چې ستاسو په تېرو کسانو تېرشوي دي عبرت واخلئ، چې څرنګه يې د بدن د اندامونو يو بند جدا شو، او سترګې او غوږونه يې ختم شول او عزت او برم يې له يادونو اوتهٔ، او ټول نعمتونه نازونه او لوريني او هوسايني پاې ته اورسېدلې، د بچيانو نزدېکت په لرې والي او بايلات او د ميرمنو ملګرتيا يې په جدائۍ بدله شوه، نور نو نهٔ په يو بل باندې وياړي او نهٔ بچيان راوړي او نهٔ يو بل ويني، او نهٔ د يو بل په څنګ کښې اوسي! نو اے د خداے بندګانو ډډه وکړئ، د هغه چا په شان ډډه چې په خپل نفس باندې برلاسے شو او خپل شهوت يې اوپرځوهٔ او په خپل عقل سره سمه لاره ويني، ځکه چې د انسان چاره ښکاره، بيرغ يې رېبدلے، او لاره يې هواره او نېغه ده.

## [ ١٦٢ ]

وَمِنْ كَلاَمٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ لِبَعْضِ أَصْحَابِهِ وَقَدْ سَأَلَهُ: كَيْفَ دَفَعَكُمْ قَوْمُكُمْ عَنْ هذَا الْمَقَامِ وَأَنْتُمْ أَحَقُّ بِهِ؟ فَقَالَ:

يَا أَخَا بَنِي أَسَدٍ، إنَّكَ لَقَلِقُ الْوَضِينِ، تُرْسِلُ فِي غَيْرِ سَدَدٍ، وَلَكَ بَعْدُ ذِمَامَةُ الصِّهْرِ، وَحَقُّ الْمَسْأَلَةِ، وَقَدِ اسْتَعْلَمْتَ فَاعْلَمْ: أَمَّا الاسْتِبْدَادُ عَلَيْنَا بِهذَا الْمَقَامِ وَنَحْنُ الاَعْلَوْنَ نَسَباً، وَالاَشَدُّونَ بِالرَّسُولِ نَوْطاً، فَإنَّهَا كَانَتْ أَثَرَةً

## ﴿ يو سل دوه شپېتمه خطبه ﴾

(د هجرت په اوهٔ دېرشم کال د بني اسد قبيلې يو کس وپوښتل تاسو يې څرنګه د امامت له مقامه چې تر هر چا يې زيات وړ وئ څنګ ته کړئ، امامؑ وفرمايل:)

### د خلافت د تروړلو عوامل

اے بني اسدي وروه! تهٔ پرېشانه او کم حوصله سړے يې چې بې ځايه پوښتنه کوې خو تهٔ په ما باندې د خپلوۍ حق لرې[102] او د پوښتنې حق لرې او خبرېدل غواړې نو پوه شه! هغه ظلم او زياتے چې د خلافت په مسئله کښې په مونږ اوتپل او مسلط شو حال دا چې مونږ لوړ نسب او

شَحَّتْ عَلَيْهَا نُفُوسُ قَوْمٍ، وَسَخَتْ عَنْهَا نُفُوسُ آخَرِينَ، وَالْحَكَمُ اللهُ، وَالْمَعْوَدُ إِلَيْهِ الْقِيَامَةُ.

وَدَعْ عَنْكَ نَهْباً صِيحَ فِي حَجَرَاتِهِ
وَلكِنْ حَدِيثاً مَا حَدِيثُ الرَّوَاحِلِ

وَهَلُمَّ الْخَطْبَ فِي ابْنِ أَبِي سُفْيَانَ، فَلَقَدْ أَضْحَكَنِي الدَّهْرُ بَعْدَ إِبْكَائِهِ، وَلاَ غَرْوَ وَاللهِ، فَيَا لَهُ خَطْباً يَسْتَفْرِغُ الْعَجَبَ، وَيُكْثِرُ الأَوَدَ، حَاوَلَ الْقَوْمُ إِطْفَاءَ نُورِ اللهِ مِنْ مِصْبَاحِهِ، وَسَدَّ فَوَّارِهِ مِنْ يَنْبُوعِهِ، وَجَدَحُوا بَيْنِي وَبَيْنَهُمْ شِرْباً وَبِيئاً، فَإِنْ تَرْتَفِعْ عَنَّا وَعَنْهُمْ مِحَنُ الْبَلْوَى، أَحْمِلْهُمْ مِنَ الْحَقِّ عَلَى مَحْضِهِ، وَإِنْ تَكُنِ الأُخْرَى، ﴿فَلاَ تَذْهَبْ نَفْسُكَ عَلَيْهِمْ حَسَرَاتٍ إِنَّ اللهَ عَلِيمٌ بِمَا يَصْنَعُونَ﴾.

له رسول الله مبارکﷺ سره خپلوي لرله، نو دا یواځې خود خواهي او ځان مننه وه چې یوې ډلې په شومتیا او بخیلۍ سره د خلافت له چوکۍ سره ځان نښلولی ؤ او بلې ډلې په سخاوت سره له هغې لاس واخیستئ، په هر حال حکم د خدای دی او مونږ به په قیامت کښې هم هغهٔ ته جاروځو. «دلته یې د امراء القیس یو شعر ووایهٔ چې: او د هغو لوټونکو قصه پرېږده او رایا ده کړه د سورلۍ د تښتولو قصه.»

## د معاویه له ظلمه شکایت

راشه او د ابوسفیان د زوی قصه رایاده کړه چې زمانې راته له ژړا وروسته خندا راوستې ده، په خدای قسم د حېرانۍ خبره نهٔ ده، بلکه تر حیرانۍ هم زیاته حېرانوونکې خبره ده چې کږوالی زیاتوي، خلقو هڅه وکړه چې د خدای پاک رڼا د هغې د څراغ په زرهٔ کښې ګل کړي، د حقیقت د چینې راخوټکېدلې فواره د هغې په تل کښې بنده کړي، ځکه چې زما او د ځان په مېنځ کښې یې اوبهٔ په وبا[۱۰۳] ککړې کړې، که زمونږ او د دغو خلقو تر مېنځ د ازمېښت زحمتونه ختم شي نو هغوي به دا سې لارې ته بوځم چې سراسر حقه ده او که بل شان وشول نو «په هغوي باندې په ارمان او افسوس کولو سره ځان مه مړ کوه ځکه چې خدای په هغه څه چې دوي یې کوي خبر دی»

## [ ۱۶۳ ]

وَمِنْ خُطْبَةٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ

الخَالِقُ جَلَّ وَعَلا

الْحَمْدُ للهِ خَالِقِ الْعِبَادِ، وَسَاطِحِ الْمِهَادِ، وَمُسِيلِ الْوِهَادِ، وَمُخْصِبِ النِّجَادِ، لَيْسَ لاَِوَّلِيَّتِهِ ابْتِدَاءٌ، وَلاَ لاَِزَلِيَّتِهِ انْقِضَاءٌ، هُوَ الأَوَّلُ لَمْ يَزَلْ، وَالْبَاقِي بِلاَ أَجَلٍ، خَرَّتْ لَهُ الْجِبَاهُ، وَوَحَّدَتْهُ الشِّفَاهُ، حَدَّ الأَشْيَاءَ عِنْدَ خَلْقِهِ لَهَا إِبَانَةً لَهُ مِنْ شَبَهِهَا، لاَ تُقَدِّرُهُ الأَوْهَامُ بِالْحُدُودِ وَالْحَرَكَاتِ، وَلاَ بِالْجَوَارِحِ وَالأَدَوَاتِ، لاَ يُقَالُ لَهُ: «مَتَى»؟ وَلاَ يُضْرَبُ لَهُ أَمَدٌ «بِحَتَّى»، الظَّاهِرُ لاَ يُقَالُ: «مِمَّ»؟ وَالْبَاطِنُ لاَ يُقَالُ: «فِيمَ»؟، لاَ شَبَحٌ فَيَتَقَصَّى، وَلاَ مَحْجُوبٌ فَيُحْوَى، لَمْ يَقْرُبْ مِنَ الأَشْيَاءِ بِالْتِصَاقٍ، وَلَمْ يَبْعُدْ عَنْهَا بِافْتِرَاقٍ، وَلاَ يَخْفَى عَلَيْهِ مِنْ عِبَادِهِ شُخُوصُ لَحْظَةٍ، وَلاَ كُرُورُ لَفْظَةٍ، وَلاَ ازْدِلاَفُ رَبْوَةٍ، وَلاَ انْبِسَاطُ خُطْوَةٍ فِي لَيْلٍ دَاجٍ، وَلاَ غَسَقٍ سَاجٍ، يَتَفَيَّأُ عَلَيْهِ الْقَمَرُ الْمُنِيرُ، وَتَعْقُبُهُ الشَّمْسُ ذَاتُ

## ﴿یوسل دري شپېتمه خطبه﴾

«ځینې شارحان وائي چې دا خطبه یې په کوفه ښار کښې ورکړې ده»

### خدای پېژندنه

حمد او شکر له هغه خدای سره ښائي چې د بندګانو پنځګر، د ځمکې غوړوونکی، په ټيټو ځمکو کښې د اوبو روانوونکی، او په غرونو او لوړو غونډیو کښې د بوټو زرغونوونکی دی، نهٔ یې د اول والي لپاره شروع شته او نهٔ یې د ازل والي پای او خاتمه، لایزاله اول او بې اجله پاتېدونکی دی، د بندګانو تندي د هغهٔ د سترتوب او عظمت په وړاندې په خاورو پراتهٔ دي او شونډې د هغهٔ په وحدانیت باندې په اعتراف ښوزیږي، د پنځولو په وخت یې د هر مخلوق لپاره حد او پوله وټاکله او د هغهٔ د بې پایله او بې حده وجود لپاره کوم سیال نهٔ وي. خدای پاک په اندازو، حرکتونو، اندامونو او آلو سره نهٔ شي سنجول کېدې. نهٔ شو ویلې چې خدای پاک له کوم وخته ؤ، او ترکوم وخته به وي، هغه یو داسې ښکاره وجود دی چې دا پوښتنه نهٔ شو کولې چې له څه څخه دی، او داسې پټ حقیقت دی چې نهٔ شو ویلې چې په کوم ځای کښې دی. نهٔ جسم دی چې ختم شي او نهٔ داسې پټ دی چې بل څه پټ کړی وي، مخلوقاتو ته دومره نزدې نهٔ دی چې په هغوي پورې نښتلی وي او دومره لرې هم نهٔ دی چې له هغوي جدا او ورېا وي. له خدایه هیڅهٔ پټ نهٔ دي نهٔ د بندګانو خیرېدل، نهٔ د هغوي په ژبه د کوم لفظ جاري کېدل، نهٔ کوم غونډۍ ته نزدې کېدل، نهٔ د شپې په تیارهٔ کښې ګام اخیستل، نهٔ په سپوږمۍ کښې ګرځېدل چې رڼا خوروي، یا نهٔ د نمر په رڼا کښې

النُّور فِي الْكُرُور وَالأُفُـول، وَتَقْلِيـبِ الأزْمِنَـةِ وَالـدُّهُور، مِـنْ إقْبَال لَيْل مُقْبِل، وَإدْبَار نَهَـار مُـدْبِر، قَبْـلَ كُـلِّ غَايَـة وَمُـدَّة، وَكُـلِّ إحْصَـاء وَعِـدَّة، تَعَـالَى عَمَّـا يَنْحَلُـهُ الْمُحَـدِّدُونَ مِـنْ صِـفَاتِ الأقْـدَار، وَنِهَايَـاتِ الأقْطَـار، وَتَأثُّـلِ الْمَسَـاكِن، وَتَمَكُّـنِ الأمَـاكِن؛ فَالْحَـدُّ لِخَلْقِـهِ مَضْـرُوبٌ، وَإلَـى غَيْـرِهِ مَنْسُوبٌ.

إبْتِدَاءُ الْمَخْلُوقِينَ

لَمْ يَخْلُقِ الأشْيَاءَ مِـنْ أُصُـول أزَلِيَّـة، وَلاَ مِـنْ أوَائِـلَ أبَدِيَّـة، بَلْ خَلَقَ مَـا خَلَـقَ فَأقَـامَ حَـدَّهُ، وَصَـوَّرَ مَـا صَـوَّرَ فَأحْسَـنَ صُـورَتَهُ، لَـيْسَ لِشَـيْء مِنْـهُ امْتِنَـاعٌ، وَلاَ لَـهُ بِطَاعَـةِ شَـيْء انْتِفَاعٌ، عِلْمُهُ بِـالأمْوَاتِ الْمَاضِـينَ كَعِلْمِـهِ بِالأحْيَـاءِ الْبَـاقِينَ، وَعِلْمُهُ بِمَا فِي السماوات الْعُلَـى كَعِلْمِـهِ بِمَـا فِـي الأرَضِـينَ السُّفْلَى.

مِنْهَـا: أيُّهَـا الْـمَخْلُوقُ السَّـوِيُّ، وَالْمُنْشَـأُ الْمَرْعِـيُّ، فِـي ظُلُمَاتِ الأرْحَـام، وَمُضَـاعَفَاتِ الأسْـتَار، بُـدِئْتَ مِـنْ سُـلاَلَة مِنْ طِين، وَوُضِعْتَ فِي قَرَار مَكِـين إلَـى قَـدَر مَعْلُـوم وَأجَـل مَقْسُـوم، تَمُـورُ فِـي بَطْـنِ أُمِّـكَ جَنِينـاً لاَ تُحِيـرُ دُعَـاءً، وَلاَ تَسْمَعُ نِدَاءً، ثُمَّ أُخْرِجْـتَ مِـنْ مَقَـرِّكَ إلَـى دَار لَـمْ تَشْـهَدْهَا، وَلَمْ تَعْرِفْ سُبُلَ مَنَافِعِهَـا؛ فَمَـنْ هَـدَاكَ لاجْتِـرَارِ الْغِـذَاء مِـنْ ثَـدْيِ أُمِّـكَ؟ وَعَرَّفَـكَ عِنْـدَ الْحَاجَـةِ مَوَاضِـعَ طَلَبِـكَ وَإرَادَتِكَ؟! هَيْهَـاتَ، إنَّ مَـنْ يَعْجِـزُ عَـنْ صِـفَاتِ ذِي الْهَيْئَـةِ وَالأدَوَاتِ فَهُـوَ عَـنْ صِـفَاتِ خَالِقِـهِ أعْجَـزُ، وَمِـنْ تَنَاوُلِـهِ بِحُدُودِ الْمَخْلُوقِينَ أبْعَدُ!

[ ١٦٤ ]

وَمِنْ كَلاَم لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ

لَمَّا اجْتَمَعَ النَّاسُ إلَيْهِ وَشَكَوْا مَا نَقَمُوهُ عَلَى عُثْمَانَ وَسَألُوهُ مُخَاطَبَتَهُ وَاسْتِعْتَابَهُ لَهُمْ، فَدَخَلَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ عَلَى عُثْمَانَ فَقَالَ:

إنَّ النَّاسَ وَرَائِي، وَقَـدِ اسْتَسْـفَرُونِي بَيْنَـكَ وَبَيْـنَهُمْ، وَوَاللهِ مَـا

گرځېدل چې له سپوږمۍ وروسته رابرېږي، او په رابرېدو او پرېوتلو او د شپې او ورځې په تګ راتګ سره د وخت ګرځه تاووي او د تاريخ پاڼه اوړي دا هيڅۀ له خدايه پټ نۀ دي.

خداے تعالى له هر پايان او مدته مخکې او له هر حساب او شمېره وربالا دے، خداے تعالى تر هغه څه سپېڅلے دے چې د تشبيه کوونکو عاجز عقلونه يې تصور کوي، او د مخلوقاتو له صفتونو، اندازو، او قطرونو چې د مادي مخلوقاتو لپاره فرض کېدي شي او کوم مقام ورلره په نظر کښې نيول کېدي شي،بالاتر او سپېڅلے دے، ځکه چې حد، پوله او اندازه له مخلوقاتو سره ښائي او نسبت يې غېرخداے ته ورکول کېدي شي.

## د مخلوق بيان

هغه ذات، څيزونه له ازلي او ابدي موادو نۀ دي پنځولي بلکه هغه يې له نيستۍ هستۍ ته راوستي دي، او د هر څيز لپاره يې حد او پوله ټاکلې ده، او هغه يې په ډېر ښکلي شکل انځور کړي دي، هيڅۀ د هغۀ له امره سر نۀ غړوي او د چا په اطاعت کښې د خداے پاک څه فائده نشته، د تلليوکسانو او مړو په حقله د هغۀ علم هماغه شان دے څرنګه چې له ژونديو خبر دے، او د لوړو آسمانونو په اړه د هغۀ علم هماغه شان دے څرنګه چې له ژورو ځمکو خبر دے.

## د انسان د خلقت حېرانتيا

اے هغه انسانه! چې له هر اړخه سم (او د نېغ قامت) جوړ کړے شوے يې، اے هغه مخلوقه! چې د مېندو د رحمونو په تيرو کښې ساتل شوے او په پېچلو(او ځو غبرګو) پردو کښې اېښودل شوے يې،« ستا پېل له خالصوخټو وۀ» او بيا «تر يوې ټاکلې مودې په يو قرار ځاے کښې کېښودل شوې» او کله چې د مور په خېټه کښې خوځېدې، نۀ دې د چا خبرې ته ځواب ورکولے شو او نۀ دې کوم غږ اورېدلے شو. بيا يې تۀ له هغه ځايه راووېستلې او داسې کور ته يې راوستلې چې نۀ دې ليدلے ؤ او نۀ يې د ګټو په لارو پوهېدلې، نو بيا تا ته چا د مور له تيونو د شېدو رودل اوښودل، او چا درته د ضرورت په وخت د غوښتنې ځايونه دراوپېژندل؟

نوخبر او ځبر اوسه! هغه کس چې د خاصو اندامونو او شکل لرونکي مخلوق له پېژندلو ناتوانه وي هغه به ارو مرو د خپل خالق له وصفه او ستائنې زيات بې وسه وي، او د مخلوقاتو په صفتونو او حدونو د هغۀ له پېژندلو زيات لرې وي.

## ﴿يو سل څلورشپېتمه خطبه﴾

(د هجرت په څلور دېرشم کال يو شمېر کسان امام ته راغلل او د دريم خليفه شکايت يې وکړ او له امامه يې اوغوښتل چې له هغۀ سره خبرې وکړي چې له خپلو غلطيو لاس واخلي)

## دريم خليفه ته خبرداريے ورکول

(بې شکه) چې خلق ما پسې شوي دي او زۀ يې ستا او د ځان مينځګړے

أَدْرِي مَا أَقُولُ لَكَ! مَا أَعْرِفُ شَيْئاً تَجْهَلُهُ، وَلاَ أَدُلُّكَ عَلَى أَمْرٍ لاَ تَعْرِفُهُ، إِنَّكَ لَتَعْلَمُ مَا نَعْلَمُ، مَا سَبَقْنَاكَ إِلَى شَيْءٍ فَنُخْبِرَكَ عَنْهُ، وَلاَ خَلَوْنَا بِشَيْءٍ فَنُبَلِّغَكَهُ، وَقَدْ رَأَيْتَ كَمَا رَأَيْنَا، وَسَمِعْتَ كَمَا سَمِعْنَا، وَصَحِبْتَ رَسُولَ اللهِ (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِه) كَمَا صَحِبْنَا. وَمَا ابْنُ أَبِي قُحَافَةَ وَلاَ ابْنُ الْخَطَّابِ بِأَوْلَى بِعَمَلِ الْحَقِّ مِنْكَ، وَأَنْتَ أَقْرَبُ إِلَى رَسُولِ اللهِ (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِه) وَشِيجَةَ رَحِمٍ مِنْهُمَا، وَقَدْ نِلْتَ مِنْ صِهْرِهِ مَا لَمْ يَنَالاَ. فَاللهَ اللهَ فِي نَفْسِكَ! فَإِنَّكَ ـ وَاللهِ ـ مَا تُبَصَّرُ مِنْ عَمىً، وَلاَ تُعَلَّمُ مِنْ جَهْلٍ، وَإِنَّ الطُّرُقَ لَوَاضِحَةٌ، وَإِنَّ أَعْلاَمَ الدِّينِ لَقَائِمَةٌ. فَاعْلَمْ أَنَّ أَفْضَلَ عِبَادِاللهِ عِنْدَ اللهِ إِمَامٌ عَادِلٌ، هُدِيَ وَهَدَى، فَأَقَامَ سُنَّةً مَعْلُومَةً، وَأَمَاتَ بِدْعَةً مَجْهُولَةً، وَإِنَّ السُّنَنَ لَنَيِّرَةٌ، لَهَا أَعْلاَمٌ، وَإِنَّ الْبِدَعَ لَظَاهِرَةٌ، لَهَا أَعْلاَمٌ، وَإِنَّ شَرَّ النَّاسِ عِنْدَاللهِ إِمَامٌ جَائِرٌ ضَلَّ وَضُلَّ بِهِ، فَأَمَاتَ سُنَّةً مَأْخُوذَةً، وَأَحْيَا بِدْعَةً مَتْرُوكَةً. وَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِه) يَقُولُ: «يُؤْتَى يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِالاِمَامِ الْجَائِرِ وَلَيْسَ مَعَهُ نَصِيرٌ وَلاَ عَاذِرٌ، فَيُلْقَى فِي نَارِ جَهَنَّمَ، فَيَدُورُ فِيهَا كَمَا تَدُورُ الرَّحَى، ثُمَّ يَرْتَبِطُ فِي قَعْرِهَا». وَإِنِّي أَنْشُدُكَ اللهَ أَنْ تَكُونَ إِمَامَ هذِهِ الْأُمَّةِ الْمَقْتُولَ، فَإِنَّهُ كَانَ يُقَالُ: يُقْتَلُ فِي هذِهِ الْأُمَّةِ إِمَامٌ يَفْتَحُ عَلَيْهَا الْقَتْلَ وَالْقِتَالَ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ، وَيَلْبِسُ أُمُورَهَا عَلَيْهَا، وَيَبُثُّ الْفِتَنَ فِيهَا، فَلاَ يُبْصِرُونَ الْحَقَّ مِنَ الْبَاطِلِ، يَمُوجُونَ فِيهَا مَوْجاً، وَيَمْرُجُونَ فِيهَا مَرْجاً. فَلاَ تَكُونَنَّ لِمَرْوَانَ سَيِّقَةً يَسُوقُكَ حَيْثُ شَاءَ بَعْدَ جَلاَلِ السِّنِّ وَتَقَضِّي الْعُمُرِ.

فَقَالَ لَهُ عُثْمَانُ: كَلِّمِ النَّاسَ فِي أَنْ يُؤَجِّلُونِي، حَتَّى أَخْرُجَ إِلَيْهِمْ مِنْ مَظَالِمِهِمْ، فَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ: مَا كَانَ بِالْمَدِينَةِ فَلاَ أَجَلَ فِيهِ، وَمَا غَابَ فَأَجَلُهُ وُصُولُ أَمْرِكَ إِلَيْهِ.

ټاکلے یم. په خدا ے قسم! نۀ پوهېږم چې تاته څه ووایم. ما ته داسې خبره نۀ ده معلومه چې تا ته نۀ وي معلومه، تا ته هغه څه نۀ درښیم چې درمعلوم نۀ وي، تۀ په هغه څه پوهېږې چې مونږ پرې پوهېږو. او زۀ داسې کوم څیز ته نۀ یم رامخکې شوے چې تۀ ترې نۀ وې خبر، او څه پټه خبره موهم نۀ ده معلومه کړې چې تاته یې درښکاره کړوو. لیدلي دې دي هغه څه چې مونږ لیدلي دي او اورېدلي دې دي هغه څه چې مونږ اورېدلي دي، تۀ له رسول الله مبارکﷺ سره هغه شان وې څنګه چې مونږ ورسره وو، د ابوقحافه زوے «ابوبکر» او د خطاب زوے (عمر) په حق باندې عمل کولو کښې تر تا غوره نۀ وو، ته د خدا ے له رسولﷺ سره په خپلوۍ کښې تر هغو دوو زیات نزدې یې، او د هغه حضرت د زوم والي شرف هم لرې چې هغوي نۀ لرۀ، نو د خدا ے لپاره، په خپل ځان له خدایه اویرېږه. په خدا ے قسم! تۀ ړوند نۀ یې چې سترګور دې کړي او ناپوه نۀ یې چې تعلیم درکړي، لارې روښانه دي او د خدا ے پاک د دین نښې نښانې په ځا ے او قائمې دي. نو پوه شه چې د خدا ے پاک په نزد د هغه تر ټولو افضل بنده عادل مشر دے، چې په خپله هم هدایت شوے وي او نور هم هدایت کړي، پېژندل شوي سنت په ځا ے راوړي، او ناپېژندلي بدعتونه مړۀ کړي، سنتونه روښانه او نښې یې ښکاره دي، بدعتونه هم ښکاره او نښې یې څرګندې دي، او د خدا ے په نزد تر ټولو بد کسان هغه ظالم واکمن دے چې په خپله هم ګمراه وي او د نورو هم د ګمراهۍ سبب وي، چې منل شوې سنتونه مړۀ کړي او پرېښودل شوې بدعتونه ژوندي کړي. ما له رسول الله مبارکهﷺ نه اورېدلي دي چې وې فرمایل: «د قیامت په ورځ به ظالم واکمن راولي چې نۀ به څوک مرسته کوونکے لري او نۀ به ترې څوک بخښنه غواړي نو هغه به په دوزخ کښې واچوي او په دوزخ کې به د میچنې د پل په شان تاوېږي تر دې چې د دوزخ بېخ ته اورسېږي او هلته به زولنې ورواچوي» زۀ تا ته په خدا ے قسم درکوم چې د دغه امت وژل شوے پېشوا مه جوړېږه، ځکه چې له دې مخکې ویل کېدل «په دې امت کښې به یو پېشوا ووژل شي چې د قیامت تر ورځې به د وژلې قتلونو ور پرانېستل شي، او د اسلامي امت چارې به په دې سره مشتبهې شي، او فتنه او فساد به یې په مېنځ کښې خپور شي تر دې چې حق به له باطله نۀ پېژندل کېږي او په فتنو کښې به خلق سخت غرق وي» د مروان[104] داسې سورلۍ او مرکب مه جوړېږه چې هرځا ے ته دې غواړي بوځي دې، هغه هم له دې وروسته چې یو عمر دې تېر شوے دے[105] او تجربه دې لاسته راوړلې ده.

«عثمان وویل له خلقو سره خبره وکړه چې ماته مهلت راکړي چې هغه ظلم چې په هغوي باندې شوے دے چاره یې وکړم» امام وفرمایل: هغه څه چې په مدینه کښې دي مهلت ته ضرورت نۀ لري او هغه څه چې له مدینې بهر دي ستا د امر تر رسېدلو مهلت لري.

[ ١٦٥ ] ﴿یو سل پینځه شپېتمه خطبه﴾

وَمِنْ خُطْبَةٍ لَهُ يَذْكُرُ فِيهَا عَجِيبَ خِلْقَةِ الطَّاوُوس

ابْتَدَعَهُمْ خَلْقاً عَجِيباً مِنْ حَيَوَانٍ وَمَوَاتٍ، وَسَاكِنٍ وَذِي حَرَكَاتٍ، وَأَقَامَ مِنْ شَوَاهِدِ الْبَيِّنَاتِ عَلَى لَطِيفِ صَنْعَتِهِ، وَعَظِيمِ قُدْرَتِهِ، مَا انْقَادَتْ لَهُ الْعُقُولُ مُعْتَرِفَةً بِهِ، وَمُسَلِّمَةً لَهُ، وَنَعَقَتْ فِي أَسْمَاعِنَا دَلاَئِلُهُ عَلَى وَحْدَانِيَّتِهِ، وَمَا ذَرَأَ مِنْ مُخْتَلِفِ صُوَرِ الاَطْيَارِ الَّتِي أَسْكَنَهَا أَخَادِيدَ الأَرْضِ، وَخُرُوقَ فِجَاجِهَا، وَرَوَاسِيَ أَعْلاَمِهَا، مِنْ ذَوَاتِ أَجْنِحَةٍ مُخْتَلِفَةٍ، وَهَيْئَاتٍ مُتَبَايِنَةٍ، مُصَرَّفَةٍ فِي زِمَامِ التَّسْخِيرِ، وَمُرَفْرِفَةٍ بِأَجْنِحَتِهَا فِي مَخَارِقِ الْجَوِّ الْمُنْفَسِحِ وَالْفَضَاءِ الْمُنْفَرِجِ. كَوَّنَهَا بَعْدَ إِذْ لَمْ تَكُنْ فِي عَجَائِبِ صُوَرٍ ظَاهِرَةٍ، وَرَكَّبَهَا فِي حِقَاقِ مَفَاصِلَ مُحْتَجِبَةٍ، وَمَنَعَ بَعْضَهَا بِعَبَالَةِ خَلْقِهِ أَنْ يَسْمُوَ فِي الْهَوَاءِ خُفُوفاً، وَجَعَلَهُ يَدِفُّ دَفِيفاً، وَنَسَقَهَا عَلَى اخْتِلاَفِهَا فِي الأَصَابِيغِ بِلَطِيفِ قُدْرَتِهِ، وَدَقِيقِ صَنْعَتِهِ؛ فَمِنْهَا مَغْمُوسٌ فِي قَالَبِ لَوْنٍ لاَ يَشُوبُهُ غَيْرُ لَوْنِ مَا غُمِسَ فِيهِ، وَمِنْهَا مَغْمُوسٌ فِي لَوْنِ صِبْغٍ قَدْ طُوِّقَ بِخِلاَفِ مَا صُبِغَ بِهِ.

الطَّاوُوسُ: وَمِنْ أَعْجَبِهَا خَلْقاً الطَّاوُوسُ، الَّذِي أَقَامَهُ فِي أَحْكَمِ تَعْدِيلٍ، وَنَضَّدَ أَلْوَانَهُ فِي أَحْسَنِ تَنْضِيدٍ، بِجَنَاحٍ أَشْرَجَ قَصَبَهُ، وَذَنَبٍ أَطَالَ مَسْحَبَهُ. إِذَا دَرَجَ إِلَى الأُنْثَى نَشَرَهُ مِنْ طَيِّهِ، وَسَمَا بِهِ مُطِلاًّ عَلَى رَأْسِهِ كَأَنَّهُ قِلْعُ دَارِيٍّ عَنَجَهُ نُوتِيُّهُ. يَخْتَالُ بِأَلْوَانِهِ، وَيَمِيسُ بِزَيَفَانِهِ، يُفْضِي كَإِفْضَاءِ الدِّيَكَةِ، وَيَؤُرُّ بِمَلاَقِحِهِ أَرَّ الْفُحُولِ الْمُغْتَلِمَةِ لِلضِّرَابِ أُحِيلُكَ مِنْ ذلِكَ عَلَى مُعَايَنَةٍ، لاَ كَمَنْ يُحِيلُ عَلَى ضَعِيفٍ إِسْنَادُهُ، وَلَوْ كَانَ كَزَعْمِ مَنْ يَزْعُمُ أَنَّهُ يُلْقِحُ بِدَمْعَةٍ تَسْفَحُهَا مَدَامِعُهُ، فَتَقِفُ فِي ضَفَّتَيْ جُفُونِهِ، وَأَنَّ أُنْثَاهُ تَطْعَمُ ذلِكَ، ثُمَّ تَبِيضُ لاَ مِنْ لِقَاحِ فَحْلٍ سِوَى الدَّمْعِ الْمُنْبَجِسِ، لَمَا كَانَ ذلِكَ بِأَعْجَبَ مِنْ مُطَاعَمَةِ الْغُرَابِ!. تَخَالُ قَصَبَهُ مَدَارِيَ مِنْ فِضَّةٍ، وَمَا أُنْبِتَ عَلَيْهَا مِنْ عَجِيبِ دَارَاتِهِ، وَشُمُوسِهِ خَالِصَ الْعِقْيَانِ، وَفِلَذَ الزَّبَرْجَدِ. فَإِنْ شَبَّهْتَهُ بِمَا أَنْبَتَتِ الأَرْضُ قُلْتَ: جَنِيٌّ جُنِيَ مِنْ زَهْرَةِ كُلِّ

(ځينې کسان وائي چې دا خطبه يې په کوفه کښې ورکړې ده)

## د مارغانو د خلقت حېرانتياوې

خدا ے تعالی خپل مخلوقات عجيبه جوړ کړي دي، که هغه ژوندي ساري وي که بې روحه، که ساکن وي او که خوځنده، او د خپل صنعت د ښکلا او د قدرت د سترتوب نښې او نمونې يې مونږ ته ښودلې دي، تر دې چې ټول افکار او عقلونه يې اعتراف ته مجبور کړي او ټولو دغه امر ته غاړه ايښې ده، او زمونږ په غوږونو کښې د هغۀ د وحدت د برهانونو غږ انګازې کړې دي، د هغو ډول ډول مارغانو په پېدايښت سره چې د ځمکې په سوړو، د درو په ځمڅو او د غرونو په لوړو کښې يې استوګنه ورکړه چې مختلفې وزرې او رنګارنګ شکلونه لري. او د دغه ټولو واک د خدا ے پاک په اختيار کښې د ے، هغه مارغان چې په پراخې فضا او ويړې خلا کښې الوت کوي، هغه يې له نيستۍ نه په مختلفو او حېرانوونکو شکلونو سره اوپنځول او هډونه يې له دننه له غوښو په پټو اندامونو کښې سره ونښلول ځينې مارغان يې چې درنې جوثې لري له پورته ختلو او لرو او لوړو الوتونو منعې کړل او هغوي په لړه شان لوړه کښې الوت کولي شي،، پرندې او مارغان يې د خپل قدرت په لطافت او د خپل صنعت په دقت سره په خاصو ښکلاؤ سره اورنګول، ځينې يې يواځې په يو رنګ سره وپسولل چې بل رنګ نۀ لري، او ځينې يې په بل رنګ سره او يواځې د مرۍ چاپيره يې د بل رنګ کرښه تاو ده، چې کټ مټ د يوې کړۍ په شان يې له مرۍ تاو ده او د بدن له رنګ سره فرق کوي.

## د طاؤس عجيبه خلقت

او د خلقت له پلوه تر ټولو عجيبه مارغۀ طاؤس د ے، چې په ډېر محکم انډول سره يې جوړ کړ ے د ے او د وزرو رنګونه يې ډېر ښکلي پسوللې دي، په ښکلو وزرو سره چې بڼې يې په يوبل ډمبر او نيغې اوږدې لکۍ سره چې کله طاؤسې ته ورځي نو د چترۍ په شان يې چجه کړي او په سر يې سايبان کړي ته به وائې د کيشتۍ بادبان د ے چې ماڼو هسک کړ ے د ے. طاؤس په خپل ښکلي رنګ وياړي او خوشحاله خرامانه خپله لکۍ يوخوا بل خوا تاويي، او طاؤسې ته ورځغلي، د چرګ په شان وردانګي او د شهوت په مستۍ د مست نر حېوان په شان له طاؤسې سره جفتي کوي. دا خبره د مشاهدې له مخې کوم نه د هغه کس په شان چې د کمزوري نقل په اساس خبره کوي، که څوک فکر کوي چې«طاؤسه د هغو اوښکو په سبب حامله کېږي چې د نر طاؤس له سترګو رابهيږي او طاؤسه هغه څښي او بيا بې له دې چې جفت ګيري وکړي په همدغه اوښکو سره حامله کېږي او هګۍ اچوي» دا هسې بې بنياده افسانه ده خو له دې زياته حېرانوونکې نۀ ده چې خلق وائي «نر کارغۀ د ښځې کارغه په مخوکه طعمه (خوراک) ړدي او ښځه کارغه د هغې د خوړلو په وجه حامله کېږي. د طاؤس د وزرو ډنډر د سپينو زرو د ډکو په شان د ے او د هغۀ په خواوشا ښکلې او عجيبه د نمر په شان ښکې دي چې ته به وائې د سوچه سرو او د زمردو له ټوټو جوړې دي که د طاؤس د وزرو

رَبِيعٍ، وإنْ ضَاهَيْتَهُ بالْملابس فَهُوَ كَمَوْشِيِّ الْحُلَلِ أَوْ كَمُونِقِ عَصْبِ اليَمَنِ، وإنْ شَاكَلْتَهُ بِالْحُلِيِّ فَهُوَ كَفُصُوصٍ ذَاتِ أَلْوَانٍ، قَدْ نُطِّقَتْ بِاللُّجَيْنِ الْمُكَلَّلِ. يَمْشِي مَشْيَ الْمَرِحِ الْمُخْتَالِ، ويَتَصَفَّحُ ذَنَبَهُ وجَنَاحَهُ، فَيُقَهْقِهُ ضَاحِكاً لِجَمَالِ سِرْبَالِهِ، وأَصَابِيغِ وِشَاحِهِ؛ فَإذَا رَمَى بِبَصَرِهِ إِلَى قَوَائِمِهِ زَقَا مُعْوِلاً بِصَوْتٍ يَكَادُ يُبِينُ عَنِ اسْتِغَاثَتِهِ، وَيَشْهَدُ بِصَادِقِ تَوَجُّعِهِ، لانَّ قَوَائِمَهُ حُمْشٌ كَقَوَائِمِ الدِّيَكَةِ الْخِلاسِيَّةِ. وَقَدْ نَجَمَتْ مِنْ ظُنْبُوبِ سَاقِهِ صِيصِيَةٌ خَفِيَّةٌ، وَلَهُ فِي مَوْضِعِ الْعُرْفِ قُنْزُعَةٌ خَضْرَاءُ مُوَشَّاةٌ، وَمَخْرَجُ عَنُقِهِ كالأبْرِيقِ، ومَغْرَزُهَا إِلَى حَيْثُ بَطْنُهُ كَصِبْغِ الْوَسِمَةِ الْيَمَانِيَّةِ، أَوْ كَحَرِيرَةٍ مُلْبَسَةٍ مِرْآةً ذَاتَ صِقَالٍ، وكَأَنَّهُ مُتَلَفِّعٌ بِمِعْجَرٍ أَسْحَمَ؛ إلاَّ أَنَّهُ يُخَيَّلُ لِكَثْرَةِ مَائِهِ، وَشِدَّةِ بَرِيقِهِ، أَنَّ الْخُضْرَةَ النَّاضِرَةَ مُمْتَزِجَةٌ بِهِ، وَمَعَ فَتْقِ سَمْعِهِ خَطٌّ كَمُسْتَدَقِّ الْقَلَمِ فِي لَوْنِ الأقْحُوَانِ، أَبْيَضُ يَقَقٌ، فَهُوَ بِبَيَاضِهِ فِي سَوَادِ مَا هُنَالِكَ يَأْتَلِقُ. وَقَلَّ صِبْغٌ إلاَّ وَقَدْ أَخَذَ مِنْهُ بِقِسْطٍ، وَعَلاهُ بِكَثْرَةِ صِقَالِهِ وبَرِيقِهِ، وَبَصِيصِ دِيبَاجِهِ ورَوْنَقِهِ، هُوَ كَالأزَاهِيرِ الْمَبْثُوثَةِ، لَمْ تُرَبِّهَا أَمْطَارُ رَبِيعٍ، ولاَ شُمُوسُ قَيْظٍ. وَقَدْ يَنْحَسِرُ مِنْ رِيشِهِ، وَيَعْرَى مِنْ لِبَاسِهِ، فَيَسْقُطُ تَتْرَى، وَيَنْبُتُ تِبَاعاً، فَيَنْحَتُّ مِنْ قَصَبِهِ انْحِتَاتَ أَوْرَاقِ الأغْصَانِ، ثُمَّ يَتَلاحَقُ نَامِياً حَتَّى يَعُودَ كَهَيْئَتِهِ قَبْلَ سُقُوطِهِ، لا يُخَالِفُ سَالِفَ أَلْوَانِهِ، وَلاَ يَقَعُ لَوْنٌ فِي غَيْرِ مَكَانِهِ! وإذَا تَصَفَّحْتَ شَعْرَةً مِنْ شَعَرَاتِ قَصَبِهِ أَرَتْكَ حُمْرَةً وَرْدِيَّةً، وَتَارَةً خُضْرَةً زَبَرْجَدِيَّةً، وَأَحْيَاناً صُفْرَةً عَسْجَدِيَّةً. فَكَيْفَ تَصِلُ إِلَى صِفَةِ هذَا عَمَائِقُ الْفِطَنِ، أَوْ تَبْلُغُهُ قَرَائِحُ الْعُقُولِ، أَوْ تَسْتَنْظِمُ وَصْفَهُ أَقْوَالُ الْوَاصِفِينَ؟! وَأَقَلُّ أَجْزَائِهِ قَدْ أَعْجَزَ الأوهَامَ أَنْ تُدْرِكَهُ، وَالألْسِنَةَ أَنْ تَصِفَهُ! فَسُبْحَانَ الَّذِي بَهَرَ الْعُقُولَ عَنْ وَصْفِ خَلْقٍ جَلاَّهُ لِلْعُيُونِ، فَأَدْرَكَتْهُ مَحْدُوداً مُكَوَّناً، وَمُؤَلَّفاً مُلَوَّناً،وَأَعْجَزَ الألْسُنَ عَنْ تَلْخِيصِ صِفَتِهِ، وَقَعَدَ بِهَا عَنْ

رنګونه د ځمکې د زرغونتیاؤ په شان اوګڼې نو ته به وائې چې د ګلو یوه غنچه ده چې د پسرلیو ګلونو له رنګا رنګو غوټیو جوړه شوې ده. او که هغه له ټوکر (کپړې) سره تشبیه کړې نو ته به وائې چې رنګارنګه او نقشداره کپړه یا د یمني ټوکي پرده ده. او که هغه د زېورو او کالیو په شان وګڼې نو ته به وائې لکه چې رنګارنګې نګینې او غمي دي چې د سپینو زرو په تار پېيلې شوې دي. طاؤس د یو کبرجن او ویاړمن کس په شان په لار روان وي، او خپلې لکۍ او وزرو ته ګوري، او د جامې ښائېست او د وزرو رنګارنګي یې تر سترګو کېږي نو له خوشحالۍ په بړقه خندا کوي، خو کله یې چې نظر په خپلو پښو پریوزي نو داسې کریکه یې له خولې اوځي ته به وائې چې ژاړي، او فریاد کوي ته به وائې د قدرت په ستم ظریفۍ کوکې وهي، او د خپل زړهٔ د درد ګواهي ورکوي، ځکه چې د طاؤس پښې د دوه رګه چرګانو (هندي او فارسي) په شان نرۍ او بدرنګې دي او د پنډۍ خوا ته یې نرے شان نوک وتلے وي.

د طاؤس په څټ د وښتو په ځاے د شنو ښو یو رنګین تاج وي. او څټ او غاړه یې د نفیس صراحۍ او کوزې د غاړې په شان تاؤ وي، او له مرۍ نه تر خېټې پورې یې د یماني وسمې په شکل رنګول شوې وي تهٔ به وائې چې لکه د وربښمو ټوکر یې په صیقل شوې هنداره خپور کړے وي، غاړه یې داسې وي لکه چې تور څادر پرې خپور وي خو رنګ یې ښاد وي نو داسې ښکاري لکه له تازه شین رنګ سره یې چې اخښلي وي، د غوږونو د سوري خوا ته یې د بابونې د ګلونو په شان د قلم د څوکې هومره نرۍ کرښه وي او له خپلې سپینې ځلا سره په دغه تور والي کښې ځلیږي. ښایي ډېر کم رنګ داسې وي چې طاؤس یې په خپل بدن کښې ونهٔ لري خو د هغې کرښې صېقل او د ربښمو د جامې پړقا یې تر هر څه زیاته ده، طاؤس د هغو خورو وررو غوټیو په شان وي چې د سپرلي باران او د نمر ګرمۍ نه وي روزلې او تر دې حېرانوونکې دا ده چې کله کله دغه رنګینه جامه غورځوي او لغړ کېږي، بڼې یې پرله پسې دوړیږي او له سره زرغونیږي، د طاؤس بڼکې د خزان د پاڼو په شان رژیږي او بیا راټوکېږي، او له یو بل سره یو ځاے کېږي خو نهٔ په دوړېدلو او راټوکېدلو ښو کښې څه فرق وي او نهٔ یې رنګونه بدل شوې وي، که د طاؤس یوې ښکې ته هم ځیر شې نو کله د سور ګل، کله د شین زمرد او کله د سوچه سرو په شان بریښي.

## د حقائقو له درکه دانسان ناتواني

نو په رښتیا چې د دغه خلقت حقیقت ته ژور فکرونه او زیارکښ عقلونه څرنګه رسېدلې شي. او څرنګه د بیانوونکو ژبې د دومره ښکلاؤ صفتونه بیانولے شي. د طاؤس په دغه لږو شان اندامونه باندې په پوهېدلو کښې خیالونه پاتې راغلي او ژ بې یې له ستائنې عاجزې شوې دي. نو ستائنه له هغه خداے پاک سره ښائي چې عقلونه یې د هغه مخلوق له بیانه عاجزه کړل چې د هغوي د سترګو په وړاندې دي یو داسې محدود مخلوق چې سترګو هغه د یو رنګارنګه او مرتب او مرکب شکل کښې لیدلے دے، بیا یې هم له کوټلي تعریفه ژبې عاجزې او له

تأدية نعته! فسبحان من أدمج قوائم الذرة والهمجة إلى ما فوقهما من خلق الحيتان والأفيلة! ووأى على نفسه ألا يضطرب شبح مما أولج فيه الروح، إلا وجعل الحمام موعده، والفناء غايته.

منها في صفة الجنّة: فلو رميت ببصر قلبك نحو ما يوصف لك منها لعزفت نفسك عن بدائع ما أخرج إلى الدنيا من شهواتها ولذاتها، وزخارف مناظرها، ولذهلت بالفكر في اصطفاق أشجار غيبت عروقها في كثبان المسك على سواحل أنهارها، وفي تعليق كبائس اللؤلؤ الرطب في عساليجها وأفنانها، وطلوع تلك الثمار مختلفة في غلف أكمامها، تجنى من غير تكلف فتأتي على منية مجتنيها، ويطاف على نزالها في أفنية قصورها بالأعسال المصفقة، والخمور المروقة. قوم لم تزل الكرامة تتمادى بهم حتى حلوا دار القرار، وأمنوا نقلة الأسفار. فلو شغلت قلبك أيها المستمع بالوصول إلى ما يهجم عليك من تلك المناظر المونقة، لزهقت نفسك شوقا إليها، ولتحملت من مجلسي هذا إلى مجاورة أهل القبور استعجالا بها. جعلنا الله وإياكم ممن يسعى بقلبه إلى منازل الأبرار برحمته.

حقيقي ستائنې بې پاتې راغلې دي.(نو خداے پاک به څنګه درک کړے شي)
پاک او لوړ دے هغه بادار چې د مېږيواو د وړو مچيو اندامونو ته يې پېښې ورکړې او له هغه لويو ژونديو ځاروو ته او د سمندر له كبانو واخلې تر لوے لوے هاتهيانو پورې يې پيدا کړل او په ځان يې لازمه کړه چې هيڅ کالبوت او روح به حرکت نۀ کوي مګر دا چې د هغۀ اصلي ټکاونه به مرګ او د لارې پاې به يې نيستي وي.

## د جنت ځانګړتياوې او خصوصيتونه

که د زړۀ په سترګو د جنت صفتونو ته وګورې نو له هغه ځه به زړۀ غوښ کړې چې په دې د نيا کښې دي، که هرڅومره ښکلي او حيرانوونکي ولې نۀ وي.او له نفساني خواهشاتو، د ژوند له خوښيو او د هغۀ له پسوللواو ښائسته نظارو ځخه به ځان اوغړوې، او که فکر دې د جنت په ونو مشغول کړې چې ځانګې يې هميشه سندرې وائي او جرړې يې د جنت د ويالو په پټو مشکو کښې اخښلي او خړوب شوي دي، او د تاندو ملغلرو غونچې يې په وړو او لويو ځانګو پورې ټالونه وهي، او هغه ډول ډول ميوې چې له غلافونو يې سرونه راوښستلي دي نو حيرانه او لالهانده به پاتے شې، هغه ميوه دارې ځانګې چې بې زحمته راکړې شوې او لاس وررسېږې، چې شوکوونکے يې هر وخت چې زړۀ وغواړي وشوکوي، د جنت مېلمه پالان د جنتيانوګېرچاپېره او د هغوي د مانيو خواؤشا کښې تاوېږي او په پاکو شاتو او خوږو شرابو يې مېلمستيا کوي، دا هغه کسان دي چې تل به د خداے پاک له کرمه برخمن وي، چې په خپلې هميشنۍ سرائې کښې به کوز شوي وي او د سفر له زحمتونو به په قرار شوي وي، اے اورېدونکيه! که خپل زړۀ د جنت په ښکليو منظرو بوخت وساتې، نو روح به دې لېواله د هغۀ په لور الوت وکړي او زما له دغه غونډې به په تلوار سره د قبر د خاوندانو ګاونډ ته اوځغلې، خداے تعالى دې په خپلې مهربانۍ سره ما او تاسو په هغو کسانوکښې وګرځوي چې د زړۀ له تله د نېکانو منزل ته د رسېدلو هڅه کوي.

«سيد رضي وائي: د امام دا کلام چې يؤر بملاقحه الار، دا د نکاح کنايه ده، او کله چې يو کس نکاح کوي نو ويل کېږي چې « ارالرجل المراة يؤرها» يعنې له خپلې ميرمنې سره دې ملاستے وکړي، او د امام دا ارشاد چې «کانه قلع داري عنجه نؤتيه» بايد ووايم چې «قلع» د کيشتۍ بادبان ته وائي او «داري» دارين ته منسوب دے يعني هغه ښار ته چې د سيند په غاړه دے او عطرونه له دغه لارې راوړي (او بادبانونه يې مشهور دي)، او «عنجه» ځانته د راکاږلو په معنا ده کله چې ووائي چې «عنجة الناقه اعنجها عنجا» مطلب يې دا دے چې هغه مې ځانته راکش کړه.

د «النوتي» معنا ده کيشتۍ چلوونکے يا ماڼو، او د «ضفتي جفونه» د تعبير معنا ده د سترګو د دواړو خواؤ بانۀ ځکه چې ضفتان د دواړو طرفو په معنا دے او دا چې وې فرمايل:«وفلذالزبرجد» فلذ د فلذه جمع ده يعني ټوټه او مطلب يې دلته د زبرجدو ټوټې دي، او د «کبائس اللؤلؤ الرطب» مطلب دے د تاندو او لمدو ملغلرو غونچې لکه د خُرما غونچې دي.ځکه چې «الکباسه» د غونچې په معنا او «العساليج» د ځانګې په معنا د «عسلوج» جمع ده.

[ ١٦٦ ]

ومن خطبة له عليه السلام

الحث على التآلف

## ﴿يو سل شپږشپېتمه خطبه﴾

(مرحوم کليني وائي چې له دې امله چې دا خطبه د ۲۸۸مې خطبې شاته راغلې ده نو امامؑ په مدينه منوره کښې ورکړې ده)

## د يو بل درناوے

لِيَتَأَسَّ صَغِيرُكُمْ بِكَبِيرِكُمْ، وَلْيَرْأَفْ كَبِيرُكُمْ بِصَغِيرِكُمْ، وَلاَ تَكُونُوا كَجُفَاةِ الْجَاهِلِيَّةِ: لاَ فِي الدِّينِ يَتَفَقَّهُونَ، وَلاَ عَنِ اللهِ يَعْقِلُونَ، كَقَيْضِ بَيْضٍ فِي أَدَاحٍ يَكُونُ كَسْرُهَا وِزْراً، وَيُخْرِجُ حِضَانُهَا شَرّاً.

مِنْهَا فِي بَنِي أُمَيَّةَ: افْتَرَقُوا بَعْدَ أُلْفَتِهِمْ، وَتَشَتَّتُوا عَنْ أَصْلِهِمْ، فَمِنْهُمْ آخِذٌ بِغُصْنٍ أَيْنَمَا مَالَ مَالَ مَعَهُ، عَلَى أَنَّ اللهَ تَعَالَى سَيَجْمَعُهُمْ لِشَرِّ يَوْمٍ لِبَنِي أُمَيَّةَ، كَمَا تَجْتَمِعُ قَزَعُ الْخَرِيفِ يُؤَلِّفُ اللهُ بَيْنَهُمْ، ثُمَّ يَجْعَلُهُمْ رُكَاماً كَرُكَامِ السَّحَابِ، ثُمَّ يَفْتَحُ لَهُمْ أَبْوَاباً، يَسِيلُونَ مِنْ مُسْتَثَارِهِمْ كَسَيْلِ الْجَنَّتَيْنِ، حَيْثُ لَمْ تَسْلَمْ عَلَيْهِ قَارَةٌ، وَلَمْ تَثْبُتْ عَلَيْهِ أَكَمَةٌ، وَلَمْ يَرُدَّ سَنَنَهُ رَصُّ طَوْدٍ، وَلاَ حِدَابُ أَرْضٍ، يُذَعْذِعُهُمُ اللهُ فِي بُطُونِ أَوْدِيَتِهِ، ثُمَّ يَسْلُكُهُمْ يَنَابِيعَ فِي الْأَرْضِ، يَأْخُذُ بِهِمْ مِنْ قَوْمٍ حُقُوقَ قَوْمٍ، وَيُمَكِّنُ لِقَوْمٍ فِي دِيَارِ قَوْمٍ. وَايْمُ اللهِ، لَيَذُوبَنَّ مَا فِي أَيْدِيهِمْ بَعْدَ الْعُلُوِّ وَالتَّمْكِينِ، كَمَا تَذُوبُ الْأَلْيَةُ عَلَى النَّارِ.

عِلَلُ انْتِصَارِ الشُّعُوبِ وَانْحِطَاطِهَا:

أَيُّهَا النَّاسُ، لَوْ لَمْ تَتَخَاذَلُوا عَنْ نَصْرِ الْحَقِّ، وَلَمْ تَهِنُوا عَنْ تَوْهِينِ الْبَاطِلِ، لَمْ يَطْمَعْ فِيكُمْ مَنْ لَيْسَ مِثْلَكُمْ، وَلَمْ يَقْوَ مَنْ قَوِيَ عَلَيْكُمْ، لكِنَّكُمْ تِهْتُمْ مَتَاهَ بَنِي إِسْرَائِيلَ. وَلَعَمْرِي، لَيُضَعَّفَنَّ لَكُمُ التِّيهُ مِنْ بَعْدِي أَضْعَافاً، [بِمَا] خَلَّفْتُمُ الْحَقَّ وَرَاءَ ظُهُورِكُمْ، وَقَطَعْتُمُ الْأَدْنَى، وَوَصَلْتُمُ الْأَبْعَدَ. وَاعْلَمُوا أَنَّكُمْ إِنِ اتَّبَعْتُمُ الدَّاعِيَ لَكُمْ، سَلَكَ بِكُمْ مِنْهَاجَ الرَّسُولِ، وَكُفِيتُمْ مَؤُونَةَ الْاِعْتِسَافِ، وَنَبَذْتُمُ الثِّقْلَ الْفَادِحَ عَنِ الْأَعْنَاقِ.

[ ١٦٧ ]

وَمِنْ خُطْبَةٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ فِي أَوَّلِ خِلاَفَتِهِ

إِنَّ اللهَ سُبْحَانَهُ أَنْزَلَ كِتَاباً هَادِياً بَيَّنَ فِيهِ الْخَيْرَ وَالشَّرَّ؛

ستاسو كشرانو ته پكار دي چې د مشرانو خبره اومني او مشرانو ته پكار دي چې په كشرانو باندې مهربان وي، او د جاهليت د وخت د ظالمانو په شان دې نۀ وي چې نۀ له دين څخه خبر وو او نۀ يې د خداے پاک په باره كښې فكر كوۀ، او د مارغانو په څاله كښې د مار د هگۍ په شان مه كېږئ چې ماتول يې گناه او ساتل يې شر او تاوان دے. (د مارغۀ د بچي په ځاے ترې د مار بچے راووځي)[۱۰۶]

## د بني اميه ؤ مستقبل

مسلمانان له مينې او محبته وروسته بېل او جدا شول او له خپلې جرړې لرې شول، بواځې يوې ډلې د توحيد د ونې ښاخكې ونيولې، او هغه چې هر لورې ته تلله ورسره تلل، خو خداے پاک به ډېر زر مسلمانان د هغې ډېرې بدې ورځې لپاره چې بني اميه يې په مخكې لري په خپلو كښې راغونډ كړي، هغه شان چې په منې كښې د وريځو خورې ورې ټوټې راغونډېږي. خداے به په مسلمانانو كښې مينه محبت واچوي او د كوټلو وريځو په شان به يې كړي، بيا به د برې ورونه ورپرانېزي، او د خروشانه او څپانده سېلاب په شان به راووځي، د عرم[۱۰۷] د سېلاب په شان چې د سبا ښار دوه باغونه يې اوخپل، او دغه سېلاب ته هيڅ لوړه او ټيټه ټينگه نۀ شوه، نۀ لوړ غرونه او نۀ غونډۍ، خداے تعالى به بني اميه د اوبو په شان په درو او سېندونو كښې خوارۀ او پټ كاندي، بيا به خداے پاک هغوې د چينو په شان په ځمكه خپارۀ كړي چې د ځينو حق نورو ځينو ته وركړي، او ځينې كسان پياوړي او د نورو په كورونو كښې يې هستوگن كړي، په خداے قسم! بني اميه به له برې او واكمنۍ وروسته هغه څه چې لاسته يې راوړي دي وبائيلي، او داسې به ترې لاړ شي لكه وازگه چې په اور ويلې كېږي!

## د ولسونو د ماتې او برې علتونه

اے خلقو! كه د حق له ملگرتيا مو لاس نۀ وې اخېستے او د باطل په خوارولو كښې مو لټې او سستي نۀ وې كړې، هيڅكله به هغه كسانو چې ستاسو سيال نۀ دي ستاسو د ختمولو طمعه نۀ كوله، او هيڅ طاقتور به په تاسو باندې نۀ بريالے كېدۀ، خو د بني اسرائيلو په شان په لالهاندۍ اخته شوئ، په ځان مې قسم! له ما وروسته به ستاسو سرگرداني نوره هم زياته شي ځكه چې حق ته مو شا كړه، او د پېغمبراكرمﷺ له نزدې خپلوانو (اهلبيتو عليهم السلام) پرې شوئ او پرديو ته نزدې شوئ، خبر اوسئ! كه د خپل امام پيروي مو كړې وې تاسو به يې هغه لارې ته هدايت كړې وئ چې رسول الله مباركﷺ پرې تللے ؤ، او د بې لارې كېدو له غمه به بې غمه وئ، او د ستونځو درونډ پېټے به مو له اوږې كوز كړے ؤ.

## ﴿يو سل اوۀ شپېتمه خطبه﴾

(دا وينا د هجرت په پينځۀ دېرشم كال د امام د خلافت په پېل كښې ويل شوې ده او راغلې دي چې دا د امام وړومبۍ وينا ده)

## د قرآن شريف ځانگړتياوې او خصوصيتونه

فَخُذُوا نَهْجَ الْخَيْرِ تَهْتَدُوا، وَاصْدِفُوا عَنْ سَمْتِ الشَّرِّ تَقْصِدُوا. الْفَرَائِضَ الْفَرَائِضَ! أَدُّوهَا إِلَى اللهِ تُؤَدِّكُمْ إِلَى الْجَنَّةِ. إِنَّ اللهَ تَعَالَى حَرَّمَ حَرَاماً غَيْرَ مَجْهُولٍ، وَأَحَلَّ حَلالاً غَيْرَ مَدْخُولٍ، وَفَضَّلَ حُرْمَةَ الْمُسْلِمِ عَلَى الْحُرَمِ كُلِّهَا، وَشَدَّ بِالاخْلاصِ وَالتَّوحِيدِ حُقُوقَ الْمُسْلِمِينَ فِي مَعَاقِدِهَا.

فَالْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ إِلاَّ بِالْحَقِّ، وَلاَ يَحِلُّ أَذَى الْمُسْلِمِ إِلاَّ بِمَا يَجِبُ. بَادِرُوا أَمْرَ الْعَامَّةِ وَخَاصَّةَ أَحَدِكُمْ وَهُوَ الْمَوْتُ، فَإِنَّ النَّاسَ أَمَامَكُمْ، وَإِنَّ السَّاعَةَ تَحْدُوكُمْ مِنْ خَلْفِكُمْ، تَخَفَّفُوا تَلْحَقُوا، فَإِنَّمَا يُنْتَظَرُ بِأَوَّلِكُمْ آخِرُكُمْ. اتَّقُوا اللهَ فِي عِبَادِهِ وَبِلادِهِ، فَإِنَّكُمْ مَسْؤُولُونَ حَتَّى عَنِ الْبِقَاعِ وَالْبَهَائِمِ، أَطِيعُوا اللهَ وَلاَ تَعْصُوهُ، وَإِذَا رَأَيْتُمُ الْخَيْرَ فَخُذُوا بِهِ، وَإِذَا رَأَيْتُمُ الشَّرَّ فَأَعْرِضُوا عَنْهُ.

بې له شکه پاک خدای لارښوونکې کتاب رالیږلۀ چې خیر او شر یې پکښې ښکاره بیان کړی دی، نو د خیر لاره اونیسئ چې هدایت شئ او له شر او بدۍ ډډه وکړئ چې په نېغه لاره کښې راشئ. فرائض! فرائض! د فرائضو په ترسره کولو کښې لټي مۀ کوئ چې جنت ته مو ورسوي، بې له شکه خدای پاک ځینې څیزونه حرام کړي دي چې پټ نۀ دي او ځینې یې حلال کړي دي چې عېب او نیمګړتیا نۀ لري، او د مسلمان حرمت او عزت یې تر نورو لوړ کړی دی او د توحید او اخلاص په وجه یې د مسلمانانو د حقوقو ساتنه کلکه کړې ده.

## د مسلمانۍ ځانګړتیاوې او خصوصیتونه

نو مسلمان هغه کس دی چې مسلمانان یې له ژبې او لاسه ونۀ ځورېږي، مګر هلته چې حق وي او د مسلمانانو آزار روا نۀ دی مګر په واجب ځای کښې. د هغه مرګ په لور چې عام دی او هېڅ کس ترې تښتنه نه لري اوځغلئ، بې له شکه خلق له تاسو مخکښې روان دي او وروسته ورپسې مو قیامت ځانته رابولي، اوږې سپکې کړئ چې قافلې ته اورسېږئ، مخته تللي کسان پاتې کسانو ته سترګې په لاره دي. له خدایه اوېرېږئ او تقوا ته مخه کړئ ځکه چې تاسو د خدای پاک په وړاندې د هغۀ د بندګانو، ښارونو، کورونو او حېواناتو[١٠٨] ذمه وار یئ، د خدای اطاعت کوئ او د هغۀ له امره سر مه غړوئ که خیر مو اولیدۀ خپل یې کړئ او که شر او بدي مو اولیده ډډه ترې وکړئ.

## [ ١٦٨ ]

بَعْدَ مَا بُويِعَ بِالْخِلاَفَةِ

وَقَدْ قَالَ لَهُ قَوْمٌ مِنَ الصَّحَابَةِ: لَوْ عَاقَبْتَ قَوْماً مِمَّنْ أَجْلَبَ عَلَى عُثْمَانَ؟ فَقَالَ: يَا إِخْوَتَاهُ! إِنِّي لَسْتُ أَجْهَلُ مَا تَعْلَمُونَ، وَلكِنْ كَيْفَ لِي بِقُوَّةٍ وَالْقَوْمُ الْمُجْلِبُونَ عَلَى حَدِّ شَوْكَتِهِمْ، يَمْلِكُونَنَا وَلاَ نَمْلِكُهُمْ! وَهَاهُمْ هؤُلاَءِ قَدْ ثَارَتْ مَعَهُمْ عِبْدَانُكُمْ، وَالْتَفَّتْ إِلَيْهِمْ أَعْرَابُكُمْ، وَهُمْ خِلاَلَكُمْ يَسُومُونَكُمْ مَا شَاؤُوا؛ وَهَلْ تَرَوْنَ مَوْضِعاً لِقُدْرَةٍ عَلَى شَيْءٍ تُرِيدُونَهُ؟!

إِنَّ هذَا الاَمْرَ أَمْرُ جَاهِلِيَّةٍ، وَإِنَّ لِهؤُلاَءِ الْقَوْمِ مَادَّةً. إِنَّ النَّاسَ مِنْ هذَا الاَمْرِ ـ إِذَا حُرِّكَ ـ عَلَى أُمُورٍ: فِرْقَةٌ تَرَى مَا تَرَوْنَ، وَفِرْقَةٌ تَرَى مَا لاَ تَرَوْنَ، وَفِرْقَةٌ لاَ تَرَى لا هذَا وَلاَ هذَا، فَاصْبِرُوا حَتَّى يَهْدَأَ النَّاسُ، وَتَقَعَ الْقُلُوبُ مَوَاقِعَهَا، وَتُؤْخَذَ الْحُقُوقُ مُسْمَحَةً؛ فَاهْدَأُوا عَنِّي، وَانْظُرُوا مَاذَا يَأْتِيكُمْ بِهِ أَمْرِي، وَلاَ تَفْعَلُوا فَعْلَةً تُضَعْضِعُ قُوَّةً،

## ﴿یو سل اتۀ شپېتمه خطبه﴾

(د هجرت په ٣٥م کال له امام سره له بیعته وروسته ځینې اصحابو امام ته وویل چې کاشکې د حضرت عثمان په خلاف بلوا کوونکو ته دې سزا ورکړې وې امام ورته وفرمایل)

## په مبارزه کښې واقع بیني او حقیقت پسندي

اې ورونو! له څه چې تاسو خبر یئ زۀ هم ترې ناخبره نۀ یم خو د هغۀ د کولو طاقت څنګه لاسته راوړم. هغوي له خپل ځواک او طاقت سره[١٠٩] اوس هم موجود دي په مونږ باندې واک لري خو مونږ په هغوي باندې واک نۀ لرو .همدا اوس ستاسو مریان له هغوي سره کلک ولاړ دي او د خواوشا کلیوالو هم ورسره غوړونه یوځای کړي دي. هغوي په تاسو کښې ژوند کوي او هر مشکل چې وغواړي په تاسو باندې یې تپلی شي، آیا د خپلو غوښتنو د پوره کولو توان لرئ؟

## د کورنۍ جګړې ستونځې

دا حال چې پیدا شوی دی د جاهلیت نتیجه ده بلواګر ملګري لري که د هغوي د سزا کولو لپاره وخوځېږو خلق به ډلې ډلې شي، ځینې به ستاسو غوښتنه لري او ځینې به ستاسو په اپوټه فکرکوي، او ځینې به نۀ دا غواړي او نۀ هغه، نو صبر وکړئ چې خلق قرار شي، او پرېشان زړونه ډاډ من شي، او له لاسه تللي حقوق په نرمۍ سره واخېستل شي. اوس ما په آرام پرېږدئ او زما حکم ته سترګې په لاره اوسئ، داسې څه ونۀ کړئ چې زمونږ طاقت کمزوری کړي او د امت اقتدار ولړزوي، او سستي او

وَتَسْقطُ مُنَّةً، وَتُورِثُ وَهْناً وذِلَّةً. وسَأُمْسِكُ الأَمْرَ مَا اسْتَمْسَكَ، وَإذَا لَمْ أَجِدْ بُدّاً فَآخِرُ الدَّوَاءِ الْكَيُّ.

[ ١٦٩ ]

عِنْدَ مَسِيرِ أَصْحَابِ الْجَمَلِ إِلَى الْبَصْرَةِ

الأُمُورُ الْجَامِعَةُ لِلْمُسْلمِينَ:

إِنَّ اللهَ تَعالَى بَعَثَ رَسُولاً هَادِياً بِكِتَابٍ نَاطِقٍ وَأَمْرٍ قَائِمٍ، لاَ يَهْلِكُ عَنْهُ إِلاَّ هَالِكٌ، وَإِنَّ الْمُبْتَدَعَاتِ الْمُشَبَّهَاتِ هُنَّ الْمُهْلِكَاتُ إِلاَّ مَا حَفِظَ اللهُ مِنْهَا، وَإِنَّ فِي سُلْطَانِ اللهِ عِصْمَةً لأَمْرِكُمْ، فَأَعْطُوهُ طَاعَتَكُمْ غَيْرَ مُلَوَّمَةٍ وَلاَ مُسْتَكْرَهٍ بِهَا.

وَاللهِ لَتَفْعَلُنَّ أَوْ لَيَنْقُلَنَّ اللهُ عَنْكُمْ سُلْطَانَ الإِسْلاَمِ، ثُمَّ لاَ يَنْقُلُهُ إِلَيْكُمْ أَبَداً حَتَّى يَأْرِزَ الأَمْرُ إِلَى غَيْرِكُمْ.

إِنَّ هؤُلاَءِ قَدْ تَمَالَأُوا عَلَى سَخْطَةِ إِمَارَتِي، وَسَأَصْبِرُ مَا لَمْ أَخَفْ عَلَى جَمَاعَتِكُمْ: فَإِنَّهُمْ إِنْ تَمَّمُوا عَلَى فَيَالَةِ هذَا الرَّأْيِ انْقَطَعَ نِظَامُ الْمُسْلِمِينَ، وَإِنَّمَا طَلَبُوا هذِهِ الدُّنْيَا حَسَداً لِمَنْ أَفَاءَهَا اللهُ عَلَيْهِ، فَأَرَادُوا رَدَّ الأُمُورِ عَلَى أَدْبَارِهَا. وَلَكُمْ عَلَيْنَا الْعَمَلُ بِكِتَابِ اللهِ وَسِيرَةِ رَسُولِهِ، وَالْقِيَامُ بِحَقِّهِ، وَالنَّعْشُ لِسُنَّتِهِ.

[ ١٧٠ ]

وَمِنْ خُطْبَةٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ

فِي وُجُوبِ اتِّبَاعِ الْحَقِّ عِنْدَ قِيَامِ الْحُجَّةِ كَلَّمَ بِهِ بَعْضَ الْعَرَبِ، وَقَدْ أَرْسَلَهُ قَوْمٌ مِنْ أَهْلِ الْبَصْرَةِ لَمَّا قَرُبَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ مِنْهَا لِيَعْلَمَ لَهُمْ مِنْهُ حَقِيقَةَ حَالِهِ مَعَ أَصْحَابِ الْجَمَلِ لِتَزُولَ الشُّبْهَةُ مِنْ نُفُوسِهِمْ، فَبَيَّنَ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ مِنْ أَمْرِهِ مَعَهُمْ مَا عَلِمَ بِهِ أَنَّهُ عَلَى الْحَقِّ. ثُمَّ قَالَ لَهُ: بَايِعْ. فَقَالَ: إِنِّي رَسُولُ قَوْمٍ، وَلاَ أُحْدِثُ حَدَثاً حَتَّى أَرْجِعَ إِلَيْهِمْ. فَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ: أَرَأَيْتَ لَوْ أَنَّ الَّذِينَ وَرَاءَكَ بَعَثُوكَ رَائِداً تَبْتَغِي لَهُمْ مَسَاقِطَ الْغَيْثِ،

خواري را ډالی کړي، زۀ به دا سیاسي بهير تر خپله وسه پيزواني کړم خو که بله چاره نۀ وه ورسره به وجنګېږم. (آخري علاج يې داغه دے)

## ﴿يو سل نهۀ شپېتمه خطبه﴾

(دا وينا يې د هجرت په شپږ دېرشم کال د بصرې په لور د اصحابو د حرکت په وخت وکړه)

### د لارښود او رهبر د اطاعت لازموالے

بې له شکه خداے تعالی خپل لارښوونکے استازے له ويانده کتاب او قائم امر سره راولېږۀ، او د دغه کتاب په موجودګی کښې يواځې هغه کس تباه کېږي چې تباه کېدل غواړي. يوه شئ چې رنګارنګه بدعتونه د حق په شکل کښې رابرسېره شوي او وژونکي دي، مګر که خداے پاک مو ترې وساتي، او بې له شکه الهي حکومت ستاسو د چارو ساتندوے دے، نو خپلې چارې بې له دې چې نفاق وکړئ يا مو زړۀ ونۀ غواړي لارښود او رهبر ته وسپارئ. په خداے قسم! که د حکومت او امام په پيروی کښې اخلاص ونۀ لرئ خداے پاک به د اسلام دولت له تاسو واخلي او هيڅکله به يې درستون نۀ کړي، او د نورو په لاس به يې ورکړي.

### د ناکثينو (ترون ماتوونکو) د سازش اشوا کول

اوګورئ ژمنه او لوظ ماتوونکي زما له حکومته د مرورتيا په وجه له يو بل سره يو ځاے شول. او زۀ به تر هغه وخته چې ستاسو د ټولنيز او اجتماعي يووالي لپاره د خطر احساس ولرم صبر وکړم، ځکه چې که هغوي ته د خپلو موخو او هدفونو د پلي کولو موقع پيدا شي د اسلامي ټولنې نظام به لړزانه شي، هغوي له هغه چا سره چې خداے پاک حکومت ورکړے دے د حسد له مخې د دنيا په طلب پاڅېدلي دي، غواړي چې حالات بيا جاهليت طرف ته بوځي. هغه حق چې تاسو يې زمونږ په غاړه لرئ د خداے پاک په کتاب او د پيغمبراکرم ﷺ په سيرت عمل کول، د حق لپاره قيام کول او د هغه حضرت سنت قائمول دي.

## ﴿يو سل اويايمه خطبه﴾

(د هجرت په شپږ دېرشم کال د بصرې د جنګ په درشل کښې ځينو عربو کليب جرمي په خپل استازيتوب له ناکثينو سره د امام علي ؑ د مبارزو په سبب باندې د پوهېدلو لپاره امام ته ولېږۀ، امام له هغه کس سره داسې خبرې وکړې چې هغه په حقيقت پوه شو. بيا امام هغۀ ته وفرمايل: بيعت وکړه، هغۀ وويل زۀ د يوې ډلې استازے يم او هغوي ته له ستنېدو مخکې هيڅ کار نۀ کوم. امام ورته وفرمايل:)

### د هدايت روده

که هغوي تۀ رالېږلے وې چې لاړ شه هغه ځاے معلوم کړه چې باران پکښې کېږي او تۀ بيا ستون شوے وې او هغوي ته دې د ښېرازه ځاے

فَرَجَعْتَ إِلَيْهِمْ وَأَخْبَرْتَهُمْ عَنِ الْكَلاَ وَالْمَاء، فَخَالَفُوا إِلى الْمَعَاطِشِ وَالْمَجَادِبِ، مَا كُنْتَ صَانِعاً؟ قَالَ: كُنْتُ تَارِكَهُمْ وَمُخَالِفَهُمْ إِلى الْكَلاَءِ وَالْمَاءِ. فَقَالَ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ: فَامْدُدْ إذاً يَدَكَ. فَقَالَ الرَّجُلُ: فَوَاللهِ مَا اسْتَطَعْتُ أَنْ أَمْتَنِعَ عِنْدَ قِيَامِ الْحُجَّةِ عَلَيَّ، فَبَايَعْتُهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ.

## [ ١٧١ ]

مِنْ كَلاَمٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ لَمَّا عَزَمَ عَلَى لِقَاءِ الْقَوْمِ بِصِفِّينَ

اللَّهُمَّ رَبَّ السَّقْفِ الْمَرْفُوعِ، وَالْجَوِّ الْمَكْفُوفِ، الَّذِي جَعَلْتَهُ مَغِيضاً لِلَّيْلِ وَالنَّهَارِ، وَمَجْرىً لِلشَّمْسِ وَالْقَمَرِ، وَمُخْتَلَفاً لِلنُّجُومِ السَّيَّارَةِ، وَجَعَلْتَ سُكَّانَهُ سِبْطاً مِنْ مَلاَئِكَتِكَ، لاَ يَسْأَمُونَ مِنْ عِبَادَتِكَ. وَرَبَّ هذهِ الأَرْضِ الَّتِي جَعَلْتَهَا قَرَاراً لِلأَنَامِ، وَمَدْرَجاً لِلْهَوَامِّ وَالأَنْعَامِ، وَمَا لاَ يُحْصَى مِمَّا يُرَى وَمَا لاَ يُرَى. وَرَبَّ الْجِبَالِ الرَّوَاسِي الَّتِي جَعَلْتَهَا لِلأَرْضِ أَوْتَاداً، وَلِلْخَلْقِ اعْتِمَاداً. إِنْ أَظْهَرْتَنَا عَلَى عَدُوِّنَا فَجَنِّبْنَا الْبَغْيَ وَسَدِّدْنَا لِلْحَقِّ، وَإِنْ أَظْهَرْتَهُمْ عَلَيْنَا فَارْزُقْنَا الشَّهَادَةَ وَاعْصِمْنَا مِنَ الْفِتْنَةِ. أَيْنَ الْمَانِعُ لِلذِّمَارِ، وَالْغَائِرُ عِنْدَ نُزُولِ الْحَقَائِقِ مِنْ أَهْلِ الْحِفَاظِ؟! الْعَارَ وَرَاءَكُمْ، وَالْجَنَّةَ أَمَامَكُمْ!

## [ ١٧٢ ]

وَمِنْ خُطْبَةٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ

الْحَمْدُ للهِ الَّذِي لاَ تُوَارِي عَنْهُ سَمَاءٌ سَمَاءً، وَلاَ أَرْضٌ أَرْضاً.

مِنْهَا فِي يَوْمِ الشُّورَى: وَقَالَ قَائِلٌ: إِنَّكَ يَا بْنَ أَبِي طَالِبٍ عَلَى هذَا الأَمْرِ لَحَرِيصٌ. فَقُلْتُ: بَلْ أَنْتُمْ وَاللهِ أَحْرَصُ وَأَبْعَدُ، وَأَنَا أَخَصُّ وَأَقْرَبُ، وَإِنَّمَا طَلَبْتُ حَقّاً لِي وَأَنْتُمْ تَحُولُونَ بَيْنِي وَبَيْنَهُ، وَتَضْرِبُونَ وَجْهِي دُونَهُ، فَلَمَّا قَرَّعْتُهُ بِالْحُجَّةِ فِي الْمَلاَءِ الْحَاضِرِينَ هَبَّ كَأَنَّهُ بُهِتَ لاَ يَدْرِي مَا

او اوبو خبر ورکړے وي خوهغوي درسره مخالفت کړے وي او وچې شاړې ځمکې ته يې مخه کړې وي نو هغه وخت به تا څه کول؟ هغه وويل: هغوي به مې پرېښودل او د اوبو ځاے ته به تللم، امام وفرمايل: نو بيا رادې خوا کړه لاس او له ماسره بيعت وکړه. «دغه سړے وائي په خداے قسم کله چې راته حق ښکاره شو نو د مخالفت طاقت مې نۀ کېدۀ او له امام سره مې بيعت وکړ»

## ﴿يو سل يو اويايمه خطبه﴾

«د هجرت په اوۀ دېرشم کال د صفرې د مياشتې په اومه نېټه له قاسطينو سره د صفين د جنګ په درشل کښې يې دا خطبه وکړه»

### د جنګ په درشل کښې له خداے پاک سره رازونياز

اے د هسک آسمان او اودربدلې فضا خدايه! چې هغه دې د شپې او ورځې د پيدائښت او د سپوږمۍ او نمر د څرخ او د ګرځنده ستورو د بهېر لاره ګرځولې ده، او د خپلوځينو فرښتو ځاے دې ګرځولے دے چې ستا له عبادته نۀ ستړې کېږي؛ اے د هغې ځمکې پالونکيه! چې دې د انسانانو د هستوګنې، د حشراتو او چارپايانو او د بې شمېره ليدل کېدونکو او ناليدل کېدونکو مخلوقاتو د تګ راتګ ځاے ګرځولے دے، او اے د هغولوړو او ټينګو غرونو پالونکيه! چې دې د ځمکې لپاره د کلکو ميخونو په څېر او د مخلوقاتو لپاره ډاډمنه تکيه ګاه جوړه کړې ده.که په دښمن باندې دې بريالي کړوو نو له تېرې کولو مو اوساتې، او د حق په لاره مو ټينګ کړې او که هغوي دې په مونږ باندې لاسبري کړل نو شهادت مو نصيب کړې او له شرک فساد او فتنو مو خوندي کړې. چرته دي هغه ننګيالي چې د خپل ولس په ننګه پاڅي؟ چرته دي هغه غيرتمن مېړني چې د ستونځو او ربړو په وخت جنګېږي؟ اے خلقو! شرم او عار مو شاته او جنت مو مخې ته دے.

## ﴿يو سل دوه اويايمه خطبه﴾

«د دغه خطبې مضمون د ځينو افشا کونکو ليکنو يوه برخه ده چې د هجرت په څلوېښتم کال د اسلامي تاريخ د حقيقتونو د روښانېدو لپاره د امام په امر وليکل شول»

ستائنه هغه خداے لره ده چې هيڅ يو آسمان له هغۀ بل آسمان او هيڅ يوه ځمکه له هغۀ بله ځمکه نۀ شي پټولې.

### د شورا په ورځ خبرې

يو کس[110] راته د شورا په ورځ وويل چې:«اے د ابوطالب زويه! د خلافت طمعه دې په زړۀ کښې ده» د هغۀ په ځواب کښې مې وويل: په خداے قسم! تاسو سره له دې چې د اسلام له ګران پيغمبر ﷺ څخه لرې يئ زيات حريص يئ، خو زۀ پيغمبر ﷺ ته زيات نزدې او ور او لائق يم، په خداے قسم زۀ يواځې خپل حق غواړم چې تاسو زما او د هغۀ په مينځ کښې خنډ شوئ او زما مخ ترې اړول غواړئ، نوکله مې چې په

يُجِيبُنِي بِه!

اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْتَعْدِيكَ عَلَى قُرَيْشٍ وَمَنْ أَعَانَهُمْ! فَإِنَّهُمْ قَطَعُوا رَحِمِي، وَصَغَّرُوا عَظِيمَ مَنْزِلَتِي، وَأَجْمَعُوا عَلَى مُنَازَعَتِي أَمْراً هُوَ لِي. ثُمَّ قَالُوا: أَلاَ إِنَّ فِي الْحَقِّ أَنْ تَأْخُذَهُ، وَفِي الْحَقِّ أَنْ تَتْرُكَهُ.

مِنْهَا فِي ذِكْرِ أَصْحَابِ الْجَمَلِ: فَخَرَجُوا يَجُرُّونَ حُرْمَةَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِه كَمَا تُجَرُّ الأَمَةُ عِنْدَ شِرَائِهَا، مُتَوَجِّهِينَ بِهَا إِلَى الْبَصْرَةِ، فَحَبَسَا نِسَاءَهُمَا فِي بُيُوتِهِمَا، وَأَبْرَزَا حَبِيسَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِه لَهُمَا وَلِغَيْرِهِمَا، فِي جَيْشٍ مَا مِنْهُمْ رَجُلٌ إِلاَّ وَقَدْ أَعْطَانِي الطَّاعَةَ، وَسَمَحَ لِي بِالْبَيْعَةِ، طَائِعاً غَيْرَ مُكْرَهٍ، فَقَدِمُوا عَلَى عَامِلِي بِهَا وَخُزَّانِ بَيْتِ مَالِ الْمُسْلِمِينَ وَغَيْرِهِمْ مِنْ أَهْلِهَا، فَقَتَلُوا طَائِفَةً صَبْراً، وَطَائِفَةً غَدْراً. فَوَاللهِ لَوْ لَمْ يُصِيبُوا مِنَ الْمُسْلِمِينَ إِلاَّ رَجُلاً وَاحِداً مُعْتَمِدِينَ لِقَتْلِهِ، بِلاَ جُرْمٍ جَرَّهُ، لَحَلَّ لِي قَتْلُ ذلِكَ الْجَيْشِ كُلِّهِ، إِذْ حَضَرُوهُ فَلَمْ يُنْكِرُوا، وَلَمْ يَدْفَعُوا عَنْهُ بِلِسَانٍ وَلاَ يَدٍ. دَعْ مَا أَنَّهُمْ قَدْ قَتَلُوا مِنَ الْمُسْلِمِينَ مِثْلَ الْعِدَّةِ الَّتِي دَخَلُوا بِهَا عَلَيْهِمْ!

## [ ۱۷۳ ]

وَمِنْ خُطْبَةٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ

رَسُولُ اللهِ: أَمِينُ وَحْيِهِ، وَخَاتَمُ رُسُلِهِ، وَبَشِيرُ رَحْمَتِهِ، وَنَذِيرُ نِقْمَتِهِ.

الْجَدِيرُ بِالْخِلاَفَةِ: أَيُّهَا النَّاسُ، إِنَّ أَحَقَّ النَّاسِ بِهذَا الأَمْرِ أَقْوَاهُمْ عَلَيْهِ، وَأَعْلَمُهُمْ بِأَمْرِ اللهِ فِيهِ، فَإِنْ شَغَبَ شَاغِبٌ اسْتُعْتِبَ، فَإِنْ أَبَى قُوتِلَ. وَلَعَمْرِي، لَئِنْ كَانَتِ الإِمَامَةُ لاَ تَنْعَقِدُ حَتَّى يَحْضُرَهَا عَامَّةُ النَّاسِ، [ فَـ ]مَا إِلَى ذلِكَ سَبِيلٌ، وَلكِنْ أَهْلُهَا يَحْكُمُونَ عَلَى مَنْ غَابَ عَنْهَا، ثُمَّ

غوښ دليل سره هغه د خلقو په مخکې پر کړ نو لالهانده او هک حېرانه شو او نۀ پوهېدۀ چې په ځواب کښې راته څه ووائي.

### له قرېشو ګيله

اے خدايه! له قرېشو او له هغو ټولو چې مرسته يې ورسره وکړه تاته شکايت کوم، ځکه چې قرېشو زما د خپلوۍ مزے اوشلوۀ او زما لوے مقام يې وړوکے وګڼۀ، او زما د حق په تروړلو کښې يې يو بل ته لاسونه ورکړل،بيا يې وويل: د حق ځينې برخه به اخلې او له ځينې به لاس وينځې، (يعنې خلافت هغه حق دے چې لاس ترې اوينځه)

### له ناکثينو(لوظ ماتؤنکي يعنې د جمل جنګ خاوندان) ګيله

او هغوي (طلحه، زبير او ملګري يې) په ما وبلوسېدل او خروج يې وکړ، او د رسول الله مبارکﷺ بي بي يې له ځان سره داسې د جنګ ډګر ته راکاږله تـه بـه وائې چې وينځـه څوک راکاږي، دوي خپلې ښځې پـه کورونو او پردو کښې کښېنولې وې خو د پېغمبرﷺ د حرم د پردې بي بي يې په مېدان کښې ځان او خلقو تـه ښکاره کړه، حال دا چې د هغوي په لښکر کښې هيڅ داسې کس نۀ ؤ چې مخکې يې زما اطاعت نۀ وي کړے او بې له زور زياتي او مجبورۍ يې زما بيعت نۀ وي کړے، بصرې ته له ننوتلو وروسته يې زما په ګورنر او د مسلمانانو د بيت المال په خزانچي او د بصرې په نورو خلقو بريد وکړ ځينې يې وځورول او ځينې يې په چل سره ووژل، پـه خدائے قسم! که يـوائې يـو کس يې هم قصداً وژلے وي نو لـه دغو ټولو سره جنګ زما لپاره حلال ؤ، ځکه چې ټول موجود وو او انکار يې ونۀ کړ او له مظلومه يې په لاس او ژبې سره دفاع ونۀ کړه، او بيا لا دا چې دوي په بصرې بريد وکړ او دومره مسلمانان يې ترې ووژل څومره چې د دوي د لښکر شمېر ؤ.

## ﴿ يو سل درې اويايمه خطبه ﴾

(دځينو شواهدو له مخې دا خطبه په مدينه کښې ورکړل شوې ده)

### د رسول الله مبارکﷺ ځانګړنې او خصوصيات

د اسلام ګران پېغمبرﷺ د خدائے پاک د وحي امين د هغۀ د پېغمبرانو خاتم،د هغۀ د رحمت زيرے ورکؤنکے او له عذابه يې وېرؤنکے دے.

### د اسلامي لاربنود او رهبر ځانګړنې او خصوصيات

اے خلقو! د خلافت لپاره تر ټولو وړ کس هغه دے چې د حکومت په تحقق کښې تر ټولو پياوړے او د خدائے له امره تر ټولو زيات خبر او عالم وي، چې که يو بلواګر فتنه جوړول غواړي نو حق ته بې ستون کړے شي، او که سرغړونه وکړي ورسره مبارزه وکړې شي،په ځان مې قسم! که د لاربنود او مشر د ټاکلو شرط دا وي چې ټول خلق پرې راغونډ شي نو دا خو هېڅ امکان نۀ لري، بلکه د صلاحيت او نظر لرونکي کسان (اهل حل وعقد) مشر او خليفه غوره کوي، او د هغوي عمل په نورو مسلمانانو باندې نافذ دے، نو نۀ خو بيا حاضران او بيعت کوونکي له

لَيْسَ لِلشَّاهِدِ أَنْ يَرْجِعَ، وَلاَ لِلغَائِبِ أَنْ يَخْتَارَ. أَلاَ وَإِنِّي أُقَاتِلُ رَجُلَيْنِ: رَجُلاً ادَّعَى مَا لَيْسَ لَهُ، وَآخَرَ مَنَعَ الَّذِي عَلَيْهِ. أُوصِيكُمْ بِتَقْوَى اللهِ، فَإِنَّهَا خَيْرُ مَا تَوَاصَى الْعِبَادُ بِهِ، وَخَيْرُ عَوَاقِبِ الأُمُورِ عِنْدَ اللهِ، وَقَدْ فُتِحَ بَابُ الْحَرْبِ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ أَهْلِ الْقِبْلَةِ، وَلاَ يَحْمِلُ هذَا الْعَلَمَ إِلاَّ أَهْلُ الْبَصَرِ وَالصَّبْرِ وَالْعِلْمِ بِمَوَاضِعِ الْحَقِّ، فَامْضُوا لِمَا تُؤْمَرُونَ بِهِ، وَقِفُوا عِنْدَ مَا تُنْهَوْنَ عَنْهُ، وَلاَ تَعْجَلُوا فِي أَمْرٍ حَتَّى تَتَبَيَّنُوا، فَإِنَّ لَنَا مَعَ كُلِّ أَمْرٍ تُنْكِرُونَهُ غِيَراً.

هوانُ الدُّنيا: أَلاَ وَإِنَّ هذِهِ الدُّنْيَا الَّتِي أَصْبَحْتُمْ تَتَمَنَّوْنَهَا وَتَرْغَبُونَ فِيهَا، وَأَصْبَحَتْ تُغْضِبُكُمْ وَتُرْضِيكُمْ، لَيْسَتْ بِدَارِكُمْ، وَلاَ مَنْزِلِكُمُ الَّذِي خُلِقْتُمْ لَهُ، وَلاَ الَّذِي دُعِيتُمْ إِلَيْهِ، أَلاَ وَإِنَّهَا لَيْسَتْ بِبَاقِيَةٍ لَكُمْ وَلاَ تَبْقَوْنَ عَلَيْهَا، وَهِيَ وَإِنْ غَرَّتْكُمْ مِنْهَا فَقَدْ حَذَّرَتْكُمْ شَرَّهَا، فَدَعُوا غُرُورَهَا لِتَحْذِيرِهَا، وَأَطْمَاعَهَا لِتَخْوِيفِهَا، وَسَابِقُوا فِيهَا إِلَى الدَّارِ الَّتِي دُعِيتُمْ إِلَيْهَا، وَانْصَرِفُوا بِقُلُوبِكُمْ عَنْهَا، وَلاَ يَخِنَّنَّ أَحَدُكُمْ خَنِينَ الأَمَةِ عَلَى مَا زُوِيَ عَنْهُ مِنْهَا، وَاسْتَتِمُّوا نِعْمَةَ اللهِ عَلَيْكُمْ بِالصَّبْرِ عَلَى طَاعَةِ اللهِ وَالْمُحَافَظَةِ عَلَى مَا اسْتَحْفَظَكُمْ مِنْ كِتَابِهِ. أَلاَ وَإِنَّهُ لاَ يَضُرُّكُمْ تَضْيِيعُ شَيْءٍ مِنْ دُنْيَاكُمْ بَعْدَ حِفْظِكُمْ قَائِمَةَ دِينِكُمْ، أَلاَ وَإِنَّهُ لاَ يَنْفَعُكُمْ بَعْدَ تَضْيِيعِ دِينِكُمْ شَيْءٌ حَافَظْتُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَمْرِ دُنْيَاكُمْ، أَخَذَ اللهُ بِقُلُوبِنَا وَقُلُوبِكُمْ إِلَى الْحَقِّ، وَأَلْهَمَنَا وَإِيَّاكُمُ الصَّبْرَ!

## [ ١٧٤ ]

وَمِنْ كَلاَم لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ فِي مَعْنَى طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِالله،
وَقَدْ قَالَهُ حِينَ بَلَغَهُ خُرُوجُ طَلْحَةَ وَالزُّبَيْرِ إِلَى الْبَصْرَةِ لقتاله

قَدْ كُنْتُ وَمَا أُهَدَّدُ بِالْحَرْبِ، وَلاَ أُرَهَّبُ بِالضَّرْبِ، وَأَنَا عَلَى مَا قَدْ وَعَدَنِي رَبِّي مِنَ النَّصْرِ. وَاللهِ مَا اسْتَعْجَلَ مُتَجَرِّداً لِلطَّلَبِ بِدَمِ عُثْمَانَ إِلاَّ خَوْفاً مِنْ أَنْ يُطَالَبَ بِدَمِهِ، لأَنَّهُ مَظِنَّتُهُ، وَلَمْ يَكُنْ فِي الْقَوْمِ أَحْرَصُ عَلَيْهِ مِنْهُ، فَأَرَادَ

خپل بیعته ستنېدې شي او نهٔ هغه کسان چې په ټاکنو(انتخاباتو) کښې نهٔ وو د بل انتخاب حق لري، خبر اوسئ! زهٔ به له دوو کسانو سره جنګېږم، یو له هغه کس سره چې د داسې څیز ادعا وکړي چې خپل یې نهٔ وي او بل له هغه کس سره چې د حق له ورکولو انکار وکړي. اے د خداے بندګانو! تاسو تقوا او د خداے له عذابه وېرې ته رابلم، ځکه چې تقوا تر ټولو ښه سپارښتنه ده،او د خداے پاک په در کښې ترټولو ښه کړن پاڼه (عمل نامه) د چارو خاتمهٔ ده. اے خلقو! اوس ستاسو او د قبلې د منونکو په مېنځ کښې د جنګ اور بل شوے دے، او د دغې مبارزې بېرغ یواځې هغه څوک په مټ اوچتوي چې پوه، ټینګ او د حق له مقامه خبر وي، نو څه امر یې چې وکړ وې منئ، او له څه چې یې منعې کړئ ترې منعې شئ، او په هیڅ کار کښې چې تر څو روښانه نهٔ شي بیړه مهٔ کوئ، ځکه چې زهٔ په هغو چارو کښې چې ستاسو نه خوښېږي د بدلون وس لرم.

## د دنیا له چل وله ډډه کول

خبر اوسئ! په رښتیا چې دا دنیا چې تاسو یې ارمانجن یئ او ورګروهېدلي یئ او کله کله مو غضبناک کوي او کله مو راضي کوي، ستاسو تل پاتے کور نهٔ دے، او هغه منزل مو نهٔ دے چې ورلره پېدا شوي او ورته بلل شوي یئ، خبر اوسئ! نهٔ دنیا ستاسو لپاره تل پاتې ده او نهٔ تاسو په هغه کښې تل پاتې کېدونکي یئ، دنیا که له یوې خوا تاسو وغولوي له بلې خوا مو له خپل بدیو وېروي او خبرداروي مو، نو له غولولو یې ځان اوساتئ او خبرداري ته یې ځیر شئ او له لالچه یې تېر شئ، هغه کالهٔ او سراې ته چې وربلل شوي یئ په ورتګ کښې سیالي وکړئ او زړهٔ له دنیا صبر کړئ او خبردار چې که د دنیا کوم څیز موله لاسه ووتهٔ د وینځو په شان ورپسې ونهٔ ژاړئ،او د خداے پاک په اوامرو او د هغهٔ د کتاب د فرمانونو په ساتنې باندې په اطاعت او استقامت سره د خداے پاک نعمتونه او لوړینې په ځان باندې بشپړې کړئ،خبر اوسئ!که د دین د ساتلو لپاره مو څه له لاسه ورکړل نو هغه تاوان نهٔ دررسوي او که خبر وسئ چې که د دین د تباهۍ په بدل مو څه لاسته راوړل هغه به هیڅ ګټه درنهٔ کړي! خداے پاک دې زما او ستاسو زړونه حق ته متوجې کړي او صبر او استقامت دې را عطا کړي.

## ﴿ یو سل څلور اویایمه خطبه ﴾

(د هجرت په شپږ دېرشم کال یې د جمل د جنګ په درشل کښې د عبیدالله د زوے طلحه په باره کښې وفرمایل:)

## د طلحه د دروغو ادعا په ډاګه کول

تر څو چې وم چا له جنګه نهٔ یم وېرولے او د توري له ګوزاره یې نهٔ یم ترهولے، زهٔ د خپل رب له خوا د برې په وعدې ټینګ یم، په خداے قسم! طلحه بن عبیدالله د عثمان د خونخواهۍ لپاره بلوا ونهٔ کړه مګر په دې اوېرېدهٔ چې د عثمان وینه له هغهٔ وغوښتلې شي، ځکه چې هغه په خپله د عثمان په قتل تورن دے، او دا ځکه چې په خلقو کښې تر هغه زیات

أَنْ يُغالِطَ بِما أَجْلَبَ فيهِ لِيَلْتَبِسَ الاَمْرُ وَيَقَعَ الشَّكُّ. وَوَاللهِ ما صَنَعَ في أَمْرِ عُثْمانَ واحِدَةً مِنْ ثَلاثٍ: لَئِنْ كانَ ابْنُ عَفّانَ ظالِماً ـ كَما كانَ يَزْعُمُ ـ لَقَدْ كانَ يَنْبَغي لَهُ أَنْ يُوازِرَ قاتِليهِ وَأَنْ يُنابِذَ ناصِريهِ، وَلَئِنْ كانَ مَظْلُوماً لَقَدْ كانَ يَنْبَغي لَهُ أَنْ يَكُونَ مِنَ الْمُنَهْنِهينَ عَنْهُ وَالْمُعَذِّرينَ فيهِ، وَلَئِنْ كانَ في شَكٍّ مِنَ الْخَصْلَتَيْنِ، لَقَدْ كانَ يَنْبَغي لَهُ أَنْ يَعْتَزِلَهُ وَيَرْكُدَ جانِباً وَيَدَعَ النّاسَ مَعَهُ، فَما فَعَلَ واحِدَةً مِنَ الثَّلاثِ، وَجاءَ بِأَمْرٍ لَمْ يُعْرَفْ بابُهُ، وَلَمْ تَسْلَمْ مَعاذيرُهُ.

## [ ١٧٥ ]

وَمِنْ خُطْبَةٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلامُ
فِي الْمَوْعِظَةِ وَبَيانِ قُرْباهُ مِنْ رَسُولِ اللهِ

أَيُّهَا الْغافِلُونَ غَيْرُ الْمَغْفُولِ عَنْهُمْ، وَالتّارِكُونَ الْمَأْخُوذُ مِنْهُمْ، مالي أَراكُمْ عَنِ اللهِ ذاهِبينَ، وَإِلى غَيْرِهِ راغِبينَ! كَأَنَّكُمْ نَعَمٌ أَراحَ بِها سائِمٌ إِلى مَرْعىً وَبِيٍّ، وَمَشْرَبٍ دَوِيٍّ، وَإِنَّما هِيَ كَالْمَعْلُوفَةِ لِلْمُدى لا تَعْرِفُ ماذا يُرادُ بِها! إِذا أُحْسِنَ إِلَيْها تَحْسَبُ يَوْمَها دَهْرَها، وَشِبَعَها أَمْرَها.

وَاللهِ لَوْ شِئْتُ أَنْ أُخْبِرَ كُلَّ رَجُلٍ مِنْكُمْ بِمَخْرَجِهِ وَمَوْلِجِهِ وَجَميعِ شَأْنِهِ لَفَعَلْتُ، وَلكِنْ أَخافُ أَنْ تَكْفُرُوا فِيَّ بِرَسُولِ اللهِ (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ). أَلا وَإِنّي مُفْضيهِ إِلَى الْخاصَّةِ مِمَّنْ يُؤْمَنُ ذلِكَ مِنْهُ. وَالَّذي بَعَثَهُ بِالْحَقِّ، وَاصْطَفاهُ عَلَى الْخَلْقِ، ما أَنْطِقُ إِلاّ صادِقاً، وَقَدْ عَهِدَ إِلَيَّ بِذلِكَ كُلِّهِ، وَبِمَهْلِكِ مَنْ يَهْلِكُ، وَمَنْجى مَنْ يَنْجُو، وَمَآلِ هذَا الاَمْرِ، وَما أَبْقى شَيْئاً يَمُرُّ عَلى رَأْسي إِلاّ أَفْرَغَهُ في أُذُنَيَّ وَأَفْضى بِهِ إِلَيَّ.

أَيُّهَا النّاسُ، إِنّي، وَاللهِ، ما أَحُثُّكُمْ عَلى طاعَةٍ إِلاّ وَأَسْبِقُكُمْ إِلَيْها، وَلا أَنْهاكُمْ عَنْ مَعْصِيَةٍ إِلاّ وَأَتَناهى قَبْلَكُمْ عَنْها.

څوک د عثمان وینې ته تږې نهٔ وُ [١١١]، اوس د دې لپاره چې د خلقو په زړونو کښې شک او تردید واچوي داسې دروغجنې ادعاوې کوي، په خدا ے قسم! ضروري وه چې طلحه د عثمان لپاره له دغو دریو حل لارو څخه یوه حل لاره وراندې کړې وې خو وراندې یې نهٔ کړه، او هغه دا چې که د عفان زوے ظالم وُ لکه چې طلحه یې گمان کوهٔ نو غوره وه چې د عثمان له وژونکو سره یې ملگرتیا کړې وې، او د عثمان له ملگرو لرې شوے وې، او که عثمان مظلوم وُ نو باید د هغهٔ د وژلومخه یې نیولې وې، او د عثمان د کارونو لپاره یې موّجه عذر وراندې کړے وې،(چې د خلقو غصه سړه شوې وې) او که د عثمان په چارو یې شک لرهٔ نو ښه دا وه چې له غصه شویو کسانو څنگ ته شوے وې اوگوښه شوے وې، او خلق او عثمان یې خپلې معاملې ته پرېښې وې، خو هغه په دغو دریو کې یوه هم ونهٔ کړه او داسې کار یې وکړ چې کولو ته یې روښانه دلیل نهٔ لرهٔ او داسې عذرونه یې راوړل چې خلقو نهٔ خوښول.

## ﴿یو سل پینځهٔ اویایمه خطبه﴾

(ځینو سپړونکو لیکلې دي چې دا خطبه یې هغه وخت ورکړه چې د مدینې د جومات ستنې ته یې ډډه وهلې وه)

### د غافلانو غندنه

اے هغو غافلانو! چې یوه شېبه هم درځینې (خدا ے) غفلت نهٔ کوي، او اے د الهي اوامرو هغو پرېښودونکو چې د تېرولوکارونو پوښتنه به درځینې کېږي، په تاسو څه شوي دي چې له خپل خدایه مو مخ اړولے او بل چاته مو تاو کړے دے. د هغو څاروو په شان چې شپون په وبائي صحرا او مرضي اوبو کښې پرېښې وي، یا د هغوگډو په شان یئ چې د قصاب چړې ته پالل شوې وي،خو په خپله نهٔ وي خبر چې دا ښهٔ وانښهٔ ورته ولې ورکول کېږي او گمان کوي چې همدا یوه ورځ ژوند دے او ژوند خو بس د خېټې ډکول دي.

### د امام ؑ بې پایانه علم

په خدا ے قسم! که وغواړم چې په تاسو کښې هر یوکس له خپل پېل (شروع) او پای (خاتمې) او د ژوند له ټولو چارو خبر کړم، خبرولې یې شم خو ویرېږم چې په دغه کار سره به د رسول الله مبارک ﷺ منکران شئ. خبر اوسئ چې زهٔ دا ارزښتناک رازونه خپلو رازدارانو او ډاډمنو ملگرو ته ورکوم، په هغه خدا ے قسم چې محمد ﷺ یې په حقه مبعوث کړ او غوره یې کړ،بې له رښتیاؤ بل څه نهٔ وایم، پېغمبراکرم ﷺ زهٔ له هر څه خبر کړے یم او د هلاکېدونکي له هلاکت او ژغورېدونکي له ژغورښته یې خبرکړے یم او د دغه حکومت له خاتمې یې هم خبرکړے یم،هېڅ داسې پېښنه په ما باندې نهٔ ده تېره شوې مگر دا چې د خدا ے رسول ﷺ زما غوږونو ته اچولې او رسولې وي.

اے خلقو! په خدا ے قسم زهٔ تاسو هېڅ داسې اطاعت ته نهٔ هڅوم مگر دا چې اول مې په خپله کړے وي او له هېڅ گناه مو نهٔ منعې کوم مگر دا

[ ١٧٦ ]

وَمنْ خُطْبَة لَهُ عَلَيْه السَّلامُ

فِيهَا يعظُ ويُبيّنُ فضْلَ الْقُرْآنِ ويَنْهَى عَنِ الْبدْعَة

عظَةُ النَّاس

انْتَفِعُوا بِبَيَانِ الله، وَاتَّعظُوا بمَواعظ الله، وَاقْبَلُوا نَصيحَةَ الله، فَإنَّ اللهَ تَعالَى قَدْ أَعْذَرَ إِلَيْكُمْ بِالْجَلِيَّة، وَاتَّخذَ عَلَيْكُمُ الْحُجَّةَ، وبَيَّنَ لَكُمْ مَحابَّهُ مِنَ الاَعْمَال، ومَكارهَهُ منْهَا، لتَتَّبعُوا هذه، وتَجْتَنبُوا هذه، فَإنَّ رَسُولَ الله(صَلَّى اللهُ عَلَيْه وآله)كَانَ يَقُولُ: «إِنَّ الْجَنَّةَ حُفَّتْ بِالْمَكارِه، وَإِنَّ النَّارَ حُفَّتْ بِالشَّهَوَاتِ». وَاعْلَمُوا أَنَّهُ مَا منْ طَاعَة الله شَيْءٌ إلاَّ يَأْتي في كُرْه وَمَا منْ مَعْصيَة الله شَيءٌ إلاَّ يَأْتي في شَهْوَة. فَرحم اللهُ رَجُلاً نَزَعَ عنْ شَهْوَته، وَقَمَعَ هَوى نَفْسه، فَإنَّ هذه النَّفْسَ أَبْعَدُ شَيْء مَنْزِعاً، وَإِنَّهَا لاَ تَزَالُ تَنْزِعُ إلَى مَعْصيَة في هَوىً.

وَاعْلَمُوا عبَادَ الله أَنَّ الْمُؤْمنَ لاَ يُصْبحُ وَلاَ يُمْسي إلاَّ ونَفْسُهُ ظَنُونٌ عنْدَهُ، فَلاَ يَزَالُ زَارِياً عَلَيْهَا وَمُسْتَزِيْداً لَهَا، فَكُونُوا كَالسَّابقينَ قَبْلَكُمْ، وَالْمَاضينَ أَمَامَكُمْ، قَوَّضُوا منَ الدُّنْيَا تَقْوِيضَ الرَّاحل، وطَوَوْهَا طَيَّ الْمَنَازِل.

فَضْلُ الْقُرآن: وَاعْلَمُوا أَنَّ هذَا الْقُرْآنَ هُوَ النَّاصحُ الَّذي لاَ يَغُشُّ، وَالْهَادي الَّذي لاَ يُضلُّ، وَالْمُحَدِّثُ الَّذي لاَ يَكْذبُ، وَمَا جَالَسَ هذَا الْقُرْآنَ أَحَدٌ إلاَّ قَامَ عَنْهُ بِزِيَادَة أَوْ نُقْصَان: زِيَادَة في هُدىً، أَوْ نُقْصَان منْ عَمىً.

وَاعْلَمُوا أَنَّهُ لَيْسَ عَلَى أَحَد بَعْدَ الْقُرْآن منْ فَاقَة، وَلاَ لاَحَد قَبْلَ الْقُرْآن منْ غنىً؛ فَاسْتَشْفُوهُ منْ أَدْوَائكُمْ، وَاسْتَعينُوا به عَلَى لاَْوَائكُمْ، فَإنَّ فيه شفَاءً منْ أَكْبَرِ الدَّاءِ، وَهُوَ الْكُفْرُ وَالنِّفَاقُ، وَالْغَيُّ وَالضَّلاَلُ، فَاسْأَلُوا اللهَ به، وَتَوَجَّهُوا إلَيْه بحُبِّه، وَلاَ تَسْأَلُوا به خَلْقَهُ، إنَّهُ مَا تَوَجَّهَ الْعبَادُ إلَى الله بمثْله.

وَاعْلَمُوا أَنَّهُ شَافعٌ مُشَفَّعٌ، وَقَائلٌ مُصَدَّقٌ، وَأَنَّهُ مَنْ شَفَعَ لَهُ الْقُرْآنُ يَوْمَ الْقيَامَة شُفِّعَ فيه، وَمَنْ مَحَلَ به الْقُرْآنُ يَوْمَ الْقيَامَة

چې اول مې ترې خپله ځان غړولے وي.

## ﴿ یو سل شپږ اویایمه خطبه ﴾

«دا وینا امام د هجرت په ۳۵م کال د خپل خلافت په ړومبیو ورځو کښې په مدینه کښې وکړه»

### د الهي اوامرو د اطاعت ضرورت

اے خلقو! د خدا ے پاک له بیانه ګټه پورته کړئ او د خدا ے پاک له نصیحتونو پند واخلئ او پندونه یې اومنئ.ځکه چې خدا ے پاک په روښانه دلیلونو سره د عذرونو لاره په تاسو بنده کړې او غاړه یې په تاسو باندې خلاصه کړې ده. او کوم عملونه یې چې خوښ دي دربیان کړي یې دي،او څه چې یې بدي شي دربښودلي یې دي چې له ښو پېروي او له بدو ډډه وکړئ. بې له شکه د خدا ے ګران رسول ﷺ به فرمايل: «دجنت ګېرچاپېره سختۍ دي او د دوزخ د اور ګېر چاپېره شهوتونه او هوسونه دي» خبر اوسئ! چې د خدا ے هیڅ اطاعت داسې نشته چې ظاهراً سړي ته سخت ونهٔ ښکاري او هیڅ داسې معصیت نشته چې په خوښه او شهوت اونهٔ شي، نو د خدا ے پاک رحمت دې وي په هغه چا چې شهوت او پرځوي او نفساني خواهشات اوځپي، ځکه چې سخت کار له شهوته د نفس منعې کول دي چې همېشه انسان ګناه او نافرمانۍ ته کاږي.

اے د خدا ے بندګانو! پوه شئ چې ایمانداره انسان شپه ورځ او ورځ نهٔ شپه کوي مګر دا چې خپل نفس تورن ګڼي همېشه نفس ملامتوي او ګناهګار یې بلي. نو په دنیا کښې د تېرو صالحانو په شان اوسئ چې ستاسو په وړاندې تېر شول او د مسافرانو په شان یې خپلې خیمې راغونډې کړې او په خپله لار لاړل.

### د قرآن شریف ځانګړتیاوې او خصوصیتونه

خبر اوسئ!دا قرآن داسې نصیحت کوونکے دے چې غولول نهٔ کوي او داسې لارښوونکے دے چې ورکول نهٔ کوي، او داسې ویندوے دے چې دروغ نهٔ وائي، او څوک هم چې د قرآن ملګري او همنشینه شول نو قرآن یا یوڅه ورزیات کړل او یا یې ورځینې کم کړل، هدایت یې ورزیات کړ او ړوندوالے یې ورکم. که قرآن له چا سره وي اړتیا او نیاز نهٔ لري او څوک بې له قرآنه بې نیازه نهٔ شي کېدې.

نو د خپلو دردونو درمان له قرآنه وغواړئ، او په سختیو کښې له هغهٔ څخه مرسته وغواړئ ځکه چې په قرآن کښې د کفر، نفاق، سرغړونې او ګمراهۍ په شان د لویو بیماریو علاج پروت دے، نو د قرآن په وسیله له خدایه خپلې غوښتنې (او دعاګانې) وغواړئ، او د قرآن په مینه مو رب ته مخه کړئ،او د قرآن په وسیله له مخلوقه څه مه غواړئ، ځکه چې خدا ے ته د بندګانو د نزدېکت لپاره تر قرآنه غوره وسیله نشته.

خبر اوسئ! د قرآن شفاعت منل شوے او خبره یې رښتیا ده،په قیامت کښې چې د چا شفاعت وکړي بخښل کېږي او د چا چې شکایت وکړي

صُدِّقَ عَلَيْه، فَإِنَّهُ يُنَادي مُنَاد يَوْمَ الْقِيَامَة: أَلاَ إِنَّ كُلَّ حَارِث مُبْتَلىً في حَرْثه وَعَاقِبَة عَمَله، غَيْرَ حَرَثَة الْقُرآن؛ فَكُونُوا مِنْ حَرَثَته وَأَتْبَاعه، وَاسْتَدِلُّوهُ عَلَى رَبِّكُمْ، وَاسْتَنْصِحُوهُ عَلَى أَنْفُسكُمْ، وَاتَّهِمُوا عَلَيْه آرَاءَكُمْ، وَاسْتَغِشُّوا فيه أَهْوَاءَكُمْ.

الْحَثُّ عَلَى الْعَمَل: الْعَمَلَ الْعَمَلَ، ثُمَّ النِّهَايَةَ النِّهَايَةَ، وَالاسْتِقَامَةَ الاسْتِقَامَةَ، ثُمَّ الصَّبْرَ الصَّبْرَ، وَالْوَرَعَ الْوَرَعَ! إِنَّ لَكُمْ نِهَايَةً فَانْتَهُوا إِلَى نِهَايَتِكُمْ، وَإِنَّ لَكُمْ عَلَماً فَاهْتَدُوا بِعَلَمِكُمْ، وَإِنَّ لِلإِسْلاَمِ غَايَةً فَانْتَهُوا إِلَى غَايَتِهِ، وَاخْرُجُوا إِلَى اللهِ بِمَا افْتَرَضَ عَلَيْكُمْ مِنْ حَقِّهِ، وَبَيَّنَ لَكُمْ مِنْ وَظَائِفِهِ. أَنَا شَاهِدٌ لَكُمْ، وَحَجِيجٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَنْكُمْ.

نَصَائِحُ لِلنَّاس: أَلاَ وَإِنَّ الْقَدَرَ السَّابِقَ قَدْ وَقَعَ، وَالْقَضَاءَ الْمَاضِيَ قَدْ تَوَرَّدَ، وَإِنِّي مُتَكَلِّمٌ بِعِدَةِ اللهِ وَحُجَّتِهِ، قَالَ اللهُ تَعَالَى: ﴿إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلاَئِكَةُ أَنْ لاَ تَخَافُوا وَلاَ تَحْزَنُوا وَأَبْشِرُوا بِالْجَنَّةِ الَّتِي كُنْتُمْ تُوعَدُونَ﴾، وَقَدْ قُلْتُمْ: رَبُّنَا اللهُ، فَاسْتَقِيمُوا عَلَى كِتَابِهِ، وَعَلَى مِنْهَاجِ أَمْرِهِ، وَعَلَى الطَّرِيقَةِ الصَّالِحَةِ مِنْ عِبَادَتِهِ، ثُمَّ لاَ تَمْرُقُوا مِنْهَا، وَلاَ تَبْتَدِعُوا فِيهَا، وَلاَ تُخَالِفُوا عَنْهَا؛ فَإِنَّ أَهْلَ الْمُرُوقِ مُنْقَطَعٌ بِهِمْ عِنْدَ اللهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ.

ثُمَّ إِيَّاكُمْ وَتَهْزِيعَ الأَخْلاَقِ وَتَصْرِيفَهَا، وَاجْعَلُوا اللِّسَانَ وَاحِداً، وَلْيَخْتَزِنِ الرَّجُلُ لِسَانَهُ، فَإِنَّ هذَا اللِّسَانَ جَمُوحٌ بِصَاحِبِهِ، وَاللهِ مَا أَرَى عَبْداً يَتَّقِي تَقْوَى تَنْفَعُهُ حَتَّى يَخْتَزِنَ لِسَانَهُ، وَإِنَّ لِسَانَ الْمُؤْمِنِ مِنْ وَرَاءِ قَلْبِهِ، وَإِنَّ قَلْبَ الْمُنَافِقِ مِنْ وَرَاءِ لِسَانِهِ: لأَنَّ الْمُؤْمِنَ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَتَكَلَّمَ بِكَلاَمٍ تَدَبَّرَهُ فِي نَفْسِهِ، فَإِنْ كَانَ خَيْراً أَبْدَاهُ، وَإِنْ كَانَ شَرّاً وَارَاهُ، وَإِنَّ الْمُنَافِقَ يَتَكَلَّمُ بِمَا أَتَى عَلَى لِسَانِهِ لاَ يَدْرِي مَاذَا لَهُ، وَمَاذَا عَلَيْهِ، وَلَقَدْ قَالَ رَسُولُ اللهِ (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِه): «لاَ يَسْتَقِيمُ إِيمَانُ عَبْدٍ حَتَّى يَسْتَقِيمَ قَلْبُهُ، وَلاَ يَسْتَقِيمُ قَلْبُهُ حَتَّى يَسْتَقِيمَ لِسَانُهُ»؛ فَمَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمْ أَنْ

محکوم کېږي،د قیامت په ورځ به جارچي (منادي) غږ کړي چې:«خبر اوسئ چې نن هر کس هغه څه ريبي چې کرلي يې دي او هر سړے په خپل عمل پر دے بې له هغو عملونو چې د قرآن مطابق شوي دي» نو (په هغه ورځ) تاسو په قرآن باندې په عمل کوونکو کښې شمار شئ،د قرآن پېروي کوئ، په قرآن سره مو خداے اوپېژنئ او ځان ته پرې نصيحت وکړئ، او د قرآن په وړاندې خپل نظر او راې تورنې ګڼئ، او د قرآن په وړاندې خپلې غوښتنې تېروتنې ګڼئ.

## نېکو اعمالو ته هڅول

عمل کوئ عمل، بيا موعاقبت ته پام کوئ عاقبت ته، استقامت کوئ استقامت، بيا صبر کوئ صبر، تقوی خپله کړئ تقوی،«ستاسوهر يو ته يو عاقبت او پاې ټاکلې شوې ده نو په نېکۍ سره هلته ځان ورسوئ» تاسو ته يو ښېرغ رپول شوے دے نو په هغه سره ځان هدايت کړئ،او اسلام ته هم يو هدف او موخه ټاکل شوې ده نو ځان وررسوئ، او د واجباتو او فرائضو په کولو سره د خداے پاک حقوق ادا کړئ،چې درته يې خپلې دندې او ذمه وارۍ ښې صفا بيان کړې او زۀ مو ګواه يم، او د قيامت په ورځ به مو د فاع کوم، او ستاسو په ګټه به ګواهي ورکوم.

خبر اوسئ!څه چې له مخکې ټاکل شوي وو وشول، او د خداے تېرې ارادې په ځاے شوې، او زۀ د خداے پاک په وعدو باندې او په روښانه دليلونو سره خبره کوم چې وې فرمايل: بې شکه کومو کسانو چې وويل: زمونږ پالونکے الله دے او بيا پرې ټينګ پاتې شول، په هغوی فرښتې نازلېږي او وائي: مه وېرېږئ او مه غمژنېږئ، او تاسو ته دې د هغه جنت زېرے وي چې وعده يې درکړې شوې وه» او بې شکه تاسو وويل:«زمونږ رب خداے دے» نو په عمل کښې هم د خداے پاک د کتاب په اوامرو، او د هغۀ په لاره چې امر يې کړے دے او د هغۀ د بندګانو د عبادت په سمه لاره ټينګ اودرېږئ، او پائداره اوسئ، او د خداے پاک له اوامرو سر مۀ غړوئ او بدعتونه پکښې مه راوباسئ، او کږېږئ ترې مه، ځکه چې د خداے پاک له اوامرو غړېدونکي به د قيامت په ورځ د هغۀ له رحمته لرې وي.

## خپله ژبه هم قلا ده هم بلا

بيا نو پام چې ښه اخلاق مو خراب نۀ کړئ او په بدو کړو يې بدل نۀ کړئ، ژبه او زړۀ مو غږمله کړئ، انسان بايد خپلې ژبې ساتنه وکړي ځکه چې همدا سرکښه ژبه خپل خاوند هلاکوي، په خداے قسم! ما هيڅ داسې پرهېزګار بنده نۀ دے ليدلے چې تقوا ورته ګټوره وي مګر دا چې خپله ژبه يې ساتلې وي، او پوه شه چې د مومن ژبه د هغۀ د زړۀ شاته او د منافق زړۀ د هغۀ د ژبې شاته دے. ځکه چې مومن چې کله يوه خبره کوي نو اول ښه فکر کوي که ښه وي کوي يې او که بده وي پټوي يې، حال دا چې د منافق په خوله چې هر څه راځي وائي يې، او نۀ پوهېږي چې کومه خبره يې په ګټه او کومه يې په تاوان ده. او د خداے پاک ګران رسول ﷺ فرمايلي دي: «د يو بنده ايمان تر هغې نۀ سمبږي چې زړۀ يې سم نۀ شي او زړۀ يې تر هغې نۀ سيخېږي چې ژبه يې سيخه نه شي»

يَلْقَى اللهَ سُبْحانَهُ وَهُوَ نَقِيُّ الرَّاحَةِ مِنْ دِماءِ الْمُسْلِمِينَ وَأَمْوالِهِمْ، سَلِيمُ اللِّسَانِ مِنْ أَعْرَاضِهِمْ، فَلْيَفْعَلْ.

تَحْرِيمُ الْبِدَعِ: وَاعْلَمُوا عِبادَ اللهِ أَنَّ الْمُؤمِنَ يَسْتَحِلُّ الْعَامَ مَا اسْتَحَلَّ عاماً أَوَّلَ، وَيُحَرِّمُ الْعَامَ مَا حَرَّمَ عاماً أَوَّلَ، وَأَنَّ مَا أَحْدَثَ النَّاسُ لاَ يُحِلُّ لَكُمْ شَيْئاً مِمَّا حُرِّمَ عَلَيْكُمْ، وَلكِنَّ الْحَلاَلَ مَا أَحَلَّ اللهُ، وَالْحَرامَ مَا حَرَّمَ اللهُ، فَقَدْ جَرَّبْتُمُ الأُمُورَ وَضَرَّسْتُمُوهَا، وَوُعِظْتُمْ بِمَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ، وَضُرِبَتِ الأَمْثَالُ لَكُمْ، وَدُعِيتُمْ إِلَى الأَمْرِ الْوَاضِحِ؛ فَلاَ يَصَمُّ عَنْ ذلِكَ إِلاَّ أَصَمُّ، وَلاَ يَعْمَى عَنْهُ إِلاَّ أَعْمَى. وَمَنْ لَمْ يَنْفَعْهُ اللهُ بِالْبَلاَءِ وَالتَّجَارِبِ لَمْ يَنْتَفِعْ بِشَيْءٍ مِنَ الْعِظَةِ، وَأَتَاهُ التَّقْصِيرُ مِنْ أَمَامِهِ حَتَّى يَعْرِفَ مَا أَنْكَرَ وَيُنْكِرَ مَا عَرَفَ. وَإِنَّمَا النَّاسُ رَجُلاَنِ: مُتَّبِعٌ شِرْعَةً، وَمُبْتَدِعٌ بِدْعَةً، لَيْسَ مَعَهُ مِنَ اللهِ سُبْحَانَهُ بُرْهَانُ سُنَّةٍ، وَلاَ ضِيَاءُ حُجَّةٍ.

الْقُرْآنُ: وَإِنَّ اللهَ سُبْحَانَهُ لَمْ يَعِظْ أَحَداً بِمِثْلِ هذَا الْقُرْآنِ، فَإِنَّهُ حَبْلُ اللهِ الْمَتِينُ، وَسَبَبُهُ الأَمِينُ، وَفِيهِ رَبِيعُ الْقَلْبِ، وَيَنَابِيعُ الْعِلْمِ، وَمَا لِلْقَلْبِ جِلاَءٌ غَيْرُهُ، مَعَ أَنَّهُ قَدْ ذَهَبَ الْمُتَذَكِّرُونَ، وَبَقِيَ النَّاسُونَ أَوِ الْمُتَنَاسُونَ. فَإِذَا رَأَيْتُمْ خَيْراً فَأَعِينُوا عَلَيْهِ، وَإِذَا رَأَيْتُمْ شَرّاً فَاذْهَبُوا عَنْهُ، فَإِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ كَانَ يَقُولُ: «يَابْنَ آدَمَ، اعْمَلِ الْخَيْرَ وَدَعِ الشَّرَّ، فَإِذَا أَنْتَ جَوَادٌ قَاصِدٌ».

أَنْوَاعُ الظُّلْمِ: أَلاَ وَإِنَّ الظُّلْمَ ثَلاَثَةٌ: فَظُلْمٌ لاَ يُغْفَرُ، وَظُلْمٌ لاَ يُتْرَكُ، وَظُلْمٌ مَغْفُورٌ لاَ يُطْلَبُ: فَأَمَّا الظُّلْمُ الَّذِي لاَ يُغْفَرُ فَالشِّرْكُ بِاللهِ، قَالَ اللهُ تَعَالَى: ﴿إِنَّ اللهَ لاَ يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ﴾. وَأَمَّا الظُّلْمُ الَّذِي يُغْفَرُ فَظُلْمُ الْعَبْدِ نَفْسَهُ عِنْدَ بَعْضِ الْهَنَاتِ. وَأَمَّا الظُّلْمُ الَّذِي لاَ يُتْرَكُ فَظُلْمُ الْعِبَادِ بَعْضِهِمْ بَعْضاً. الْقِصَاصُ هُنَاكَ شَدِيدٌ لَيْسَ هُوَ جَرْحاً بِالْمُدَى وَلاَ ضَرْباً بِالسِّيَاطِ وَلكِنَّهُ مَا يُسْتَصْغَرُ ذلِكَ مَعَهُ. فَإِيَّاكُمْ

نو په تاسو کښې چې هر يوکس کولې شي له خپل خدا ے سره په داسې حال کښې ملاقات وکړي چې لاسونه يې د مسلمانانو له وينې او ماله پاک وي او ژبې يې د خلقو عزت او آبرو نۀ وي اوړې، بايد دا کار وکړي.

## له بدعتونو ډډه کول

اے د خدا ے بندګانو!خبر اوسئ! مومن هغه کس دے چې سږ کال هغه څه حلال ګڼي چې په وړومبي کال يې هم حلال ګڼل او هغه څه حرام ګڼي چې په وړومبي کال يې هم حرام ګڼل، او د خلقو پېدا کړي بدعتونه د خدا ے پاک حرام په تاسو باندې نۀ شي حلالولې ځکه چې حلال هماغه دي چې خدا ے پاک حلال کړي او حرام هماغه دي چې خدا ے پاک حرام کړي دي. [١١٢] نو تاسو د زمانې په تېپال کښې تجربه حاصله کړې او د تېرو خلقو له تاريخه مو سبق اخېستے دے تاسو ته مثالونه راوړل شوي دي او روښانه چارې ته بلل شوي يئ. نو بې له کڼو هيڅوک د حق د نۀ اورېدلو ادعا نۀ شي کولې، او بې له ړندو (او ړوند زړو) هيڅوک (د حقيقتونو) د نۀ ليدلو دعوا نۀ شي کولې، چا چې د خدا ے پاک له ورکړې شويو ازمېښتونو او تجربو څخه ګټه پورته نۀ کړه هغۀ ته هيڅ وعظ او نصحيت فائده نۀ ورکوي او لنډ فکري به يې په نصيب وي تر دې چې ښه ورته بد او بد ورته ښه اوبرېښي. او پوه شئ چې خلق دوه قسمه دي: ځينې د دين او شريعت لارويان او ځينې يې بدعت جوړوونکي دي چې د خدا ے پاک له لوري ورسره د سنتوڅه دليل او د حق رڼا نشته.

## د قرآن ځانګړتياوې (خصوصيتونه)

بې شکه چې خدا ے تعالی د قرآن په شان په بل هيڅ ځيز سره چاته نصيحت نۀ دے کړے، قرآن مجيد د خدا ے ټينګه رسۍ او د امن وسيله د ه. په قرآن شريف کښې د زړۀ سپرلے او د علم چينې دي، د زړۀ لپاره بې له قرآنه بل صېقل نشته، په تېره بيا په داسې ټولنه کښې چې وينښ زړي کسان پکښې تېر شوي وي او تور زړي هېرجن او غافلوونکي پاتې وي، نو چې مو هرنېک کار اوليدۀ مرسته يې وکړئ او هر ځا ے چې مو بده او ناروا چاره اوليده ډډه ترې وکړئ، ځکه چې رسول الله مبارکﷺ به بيا بيا فرمايل: اے بني آدمه! نېک کار وکړه او بد کار پرېږده او که دا دې وکړل نو د خدا ے په نېغه لاره به روان شې»

## د ظلم ډولونه

خبر اوسئ چې ظلم په درې ډوله دے: يو هغه ظلم چې نۀ بخښل کېږي، او بل هغه چې بې سزا نۀ پاتې کېږي او بل هغه چې بخښل کېږي او تلافي يې کيږي. نوکوم ظلم چې نۀ بخښل کېږي هغه له پاک خدا ے سره د شريک ګرځول دي چې فرمايلې يې دي:«خدا ے تعالی هيڅکله له ځان سره له شرکه نۀ تېرېږي»

او کوم ظلم چې بخښل کېدونکے دے هغه ظلم دے چې بنده يې د ګناهونو په وجه له ځان سره وکړي. او هغه ظلم چې بې سزا نه پاتې کېږي، په ځينو بندګانو باندې د ځينو ظلم دے چې قصاص او بدل پکښې سخت دے؛ چې البته هغه په چړې سره ژوبلول يا په متروکې

وَالتَّلَوُّنَ فِي دِينِ اللهِ، فَإِنَّ جَمَاعَةً فِيمَا تَكْرَهُونَ مِنَ الْحَقِّ، خَيْرٌ مِنْ فُرْقَةٍ فِيمَا تُحِبُّونَ مِنَ الْبَاطِلِ، وَإِنَّ اللهَ سُبْحَانَهُ لَمْ يُعْطِ أَحَداً بِفُرْقَةٍ خَيْراً مِمَّنْ مَضَى، وَلاَ مِمَّنْ بَقِيَ.

لُزُومُ الطَّاعَةِ: يَا أَيُّهَا النَّاسُ طُوبَى لِمَنْ شَغَلَهُ عَيْبُهُ عَنْ عُيُوبِ النَّاسِ، وَطُوبَى لِمَنْ لَزِمَ بَيْتَهُ، وَأَكَلَ قُوتَهُ، وَاشْتَغَلَ بِطَاعَةِ رَبِّهِ، وَبَكَى عَلَى خَطِيئَتِهِ، فَكَانَ مِنْ نَفْسِهِ فِي شُغُلٍ، وَالنَّاسُ مِنْهُ فِي رَاحَةٍ!

وهل نهٔ دي، بلکه دا يې په وړاندې واړهٔ دي، نو پام چې په دين کښې منافقت او دوه مخي توب اونهٔ کړئ د دين په لاره کښې يووالے او پېوستون ـ که څه هم ستاسو نهٔ وي خوښ ـ د باطل په لاره کښې له تيت پرکوالي غوره دے، ځکه چې خداے تعالی نهٔ تېرو ته او نهٔ راتلونکو ته په تفرقې او اختلاف سره څه ورکړي دي.

### د خودسازي (د ځان اصلاح) ضرورت

اے خلقو! ښومره بختور دے هغه کس چې د ځان د عيبونو او نيمګړتياؤ پېژندل هغه د نورو د عيبونو له پېژندلو او غرړوي او ښومره نېکمرغه دے هغه کس چې د خپل کور فکر وکړي، حلاله ډوډۍ اوخوري او د خداے پاک په اطاعت بوخت وي، او په خپلو ګناهونو فکر کوي، تل د خپل ځان په سمولو او اصلاح کولو لګيا وي او خلق يې له شره په امان وي.

[ ۱۷۷ ]

وَمِنْ كَلاَمٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ

فِي مَعْنَى الْحَكَمَيْنِ

فَأَجْمَعَ رَأْيُ مَلَئِكُمْ عَلَى أَنِ اخْتَارُوا رَجُلَيْنِ، فَأَخَذْنَا عَلَيْهِمَا أَنْ يُجَعْجِعَا عِنْدَ الْقُرْآنِ، وَلاَ يُجَاوِزَاهُ، وَتَكُونَ أَلْسِنَتُهُمَا مَعَهُ وَقُلُوبُهُمَا تَبَعَهُ، فَتَاهَا عَنْهُ، وَتَرَكَا الْحَقَّ وَهُمَا يُبْصِرَانِهِ، وَكَانَ الْجَوْرُ هَوَاهُمَا، وَالاعْوِجَاجُ دَأْبَهُمَا، وَقَدْ سَبَقَ اسْتِثْنَاؤُنَا عَلَيْهِمَا فِي الْحُكْمِ بِالْعَدْلِ وَالْعَمَلِ بِالْحَقِّ سُوءَ رَأْيِهِمَا وَجَوْرَ حُكْمِهِمَا، وَالثِّقَةُ فِي أَيْدِينَا لاَنْفُسِنَا، حِينَ خَالَفَا سَبِيلَ الْحَقِّ، وَأَتَيَا بِمَا لاَ يُعْرَفُ مِنْ مَعْكُوسِ الْحُكْمِ.

## ﴿يو سل اوهٔ اويايمه خطبه﴾

(دهجرت په اتهٔ دېرشم کال د حَکَمِيت د مينځګړيو ابوموسي اشغري او عمروعاص له خيانته وروسته يې دا خطبه ورکړه)

### د حَکَمېنو د خيانت غندنه

په صفين کښې هم تاسو دا فېصله وکړه چې دوه کسه غوره کړئ، (ابوموسي اشعري او عمرو بن عاص) او له هغو دوو سره مو ژمنه او شرط وکړ چې د قرآن په فېصله به اودرېږي او له هغهٔ به نهٔ اوړي، او د هغوي دواړو ژبې به له قرآن سره او زړونه به يې د هغه منونکي وي، خو هغوي له قرآنه مخ واړوهٔ، حق يې ښکاره ليدهٔ خو پرې يې ښودهٔ، ځکه چې په زړهٔ کښې يې ظلم او ستم او په راي او نظر کښې يې انحراف اوکوږوالے ؤ، حال دا چې د دغه زښتې او بدې رائې او ظالمانه حکمه مخکې مو له هغوي سره شرط ايښے ؤ چې په انصاف به حکم او په حق به عمل کوي. مونږ په خپل حقانيت ايمان لرو وخودغه دواړه له حقه ووتل او د خداے پاک د حکم په خلاف يې حکم ورکړ.

[ ۱۷۸ ]

وَمِنْ خُطْبَةٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ

وَقِيلَ: إِنَّهُ خَطَبَهَا بَعْدَ مَقْتَلِ عُثْمَانَ فِي أَوَّلِ خِلاَفَتِهِ

لاَ يَشْغَلُهُ شَأْنٌ، وَلاَ يُغَيِّرُهُ زَمَانٌ، وَلاَ يَحْوِيهِ مَكَانٌ، وَلاَ يَصِفُهُ لِسَانٌ، وَلاَ يَعْزُبُ عَنْهُ عَدَدُ قَطْرِ الْمَاءِ، وَلاَ نُجُومِ السَّمَاءِ، وَلاَسَوَافِي الرِّيحِ فِي الْهَوَاءِ، وَلاَ دَبِيبُ النَّمْلِ عَلَى الصَّفَا، وَلاَ مَقِيلُ الذَّرِّ فِي اللَّيْلَةِ الظَّلْمَاءِ. يَعْلَمُ مَسَاقِطَ الاوْرَاقِ، وَخَفِيَّ طَرْفِ الاحْدَاقِ. وَأَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلهَ إِلاَّ اللهُ غَيْرَ مَعْدُولٍ بِهِ، وَلاَ مَشْكُوكٍ فِيهِ، وَلاَ مَكْفُورٍ دِينُهُ،

## ﴿يو سل اتهٔ اويايمه خطبه﴾

(داخطبه يې په دومة الجندل کښې د حَکَمېنو «مېنځګړومشرانو» له حکمه وروسته ورکړه)

### خداے پېژندنه

نهٔ يې يوکار له بل کاره غرړوي او نهٔ پکښې د وخت تېرېدل بدلون راولي، نهٔ کوم ځاے او مکان احاطه کړے دے او نهٔ يې کومه ژبه د ستائېنې وس لري. د هغهٔ له علمه نهٔ د باران څاڅکي پټ دي او نهٔ د آسمان پرېمانه ستوري، نهٔ ورځينې په زول کښې د رېګو ذرې او نهٔ په سختو کاڼو د مېږيو تګ او نهٔ په تورو شپو کښې د هغوي مېرتون، هغه هم د ونو د پاڼو د رژېدو له ځايه خبر دے او هم د سترګو له پټو اشارتونو. او ګواهي ورکوم چې بې له هغه بل د عبادت لائق نشته او نهٔ سارے لري او نهٔ پکښې شک او دوه زړهٔ توب لاره لري، نهٔ يې له دين څخه انکارکېدلے

وَلاَ مَجْحُود تَكْوِينُهُ، شَهَادَةَ مَنْ صَدَقَتْ نِيَّتُهُ، وَصَفَتْ دِخْلَتُهُ، وَخَلَص يَقِينُهُ، وَثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ. وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّداً عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، الْمُجْتَبَى مِنْ خَلاَئِقِهِ، وَالْمُعْتَامُ لِشَرْحِ حَقَائِقِه، وَالْمُخْتَصُّ بِعَقَائِلِ كَرَامَاتِهِ، وَالْمُصْطَفَى لِكَرَائِمِ رِسَالاَتِه، وَالْمُوضَّحَةُ بِهِ أَشْرَاطُ الْهُدَى، وَالْمَجْلُوُّ بِهِ غِرْبِيبُ الْعَمَى.

أَيُّهَا النَّاسُ، إِنَّ الدُّنْيَا تَغُرُّ الْمُؤَمِّلَ لَهَا وَالْمُخْلِدَ إِلَيْهَا، وَلاَ تَنْفَسُ بِمَنْ نَافَسَ فِيهَا، وَتَغْلِبُ مَنْ غَلَبَ عَلَيْهَا. وَايْمُ اللهِ، مَا كَانَ قَوْمٌ قَطُّ فِي غَضِّ نِعْمَة مِنْ عَيْش فَزَالَ عَنْهُمْ إِلاَّ بِذُنُوب اجْتَرَحُوهَا، لاَنَّ اللهَ لَيْسَ بِظَلاَّم لِلْعَبِيد وَلَوْ أَنَّ النَّاسَ حِينَ تَنْزِلُ بِهِمُ النِّقَمُ، وَتَزُولُ عَنْهُمُ النِّعَمُ، فَزِعُوا إِلَى رَبِّهِمْ بِصِدْق مِنْ نِيَّاتِهِمْ، وَوَلَهٍ مِنْ قُلُوبِهِمْ، لَرَدَّ عَلَيْهِمْ كُلَّ شَارِد، وَأَصْلَحَ لَهُمْ كُلَّ فَاسِد، وَإِنِّي لاَخْشَى عَلَيْكُمْ أَنْ تَكُونُوا فِي فَتْرَة، وَقَدْ كَانَتْ أُمُورٌ مَضَتْ، مِلْتُمْ فِيهَا مَيْلَةً، كُنْتُمْ فِيهَا عِنْدِي غَيْرَ مَحْمُودِينَ، وَلَئِنْ رُدَّ عَلَيْكُمْ أَمْرُكُمْ إِنَّكُمْ لَسُعَدَاءُ، وَمَا عَلَيَّ إِلاَّ الْجَهْدُ، وَلَوْ أَشَاءُ أَنْ أَقُولَ لَقُلْتُ: عَفَا اللهُ عَمَّا سَلَفَ!

[ ۱۷۹ ]

وَمِنْ كَلاَم لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ

وَقَدْ سَأَلَهُ ذِعْلِبٌ الْيَمَانِيُّ فَقَالَ: هَلْ رَأَيْتَ رَبَّكَ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ؟ فَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ: أَفَأَعْبُدُ مَا لاَ أَرَى؟ قَالَ: وَكَيْفَ تَرَاهُ؟ قَالَ: لاَ تُدْرِكُهُ الْعُيُونُ بِمُشَاهَدَةِ الْعِيَانِ، وَلكِنْ تُدْرِكُهُ الْقُلُوبُ بِحَقَائِقِ الإِيمَانِ، قَرِيبٌ مِنَ الاَشْيَاءِ غَيْرُ مُلاَمِس، بَعِيدٌ مِنْهَا غَيْرُ مُبَايِن، مُتَكَلِّمٌ بِلاَ رَوِيَّة، مُرِيدٌ بِلاَ هِمَّة، صَانِعٌ لاَ بِجَارِحَة، لَطِيفٌ لاَ يُوصَفُ بِالْخَفَاءِ، كَبِيرٌ لاَ يُوصَفُ بِالْجَفَاءِ، بَصِيرٌ لاَ يُوصَفُ بِالْحَاسَّةِ، رَحِيمٌ لاَ يُوصَفُ بِالرِّقَّةِ، تَعْنُو الْوُجُوهُ لِعَظَمَتِهِ، وَتَجِبُ الْقُلُوبُ مِنْ

شي او نهٔ يې له پنځولو څخه، د داسې کس ګواهي چې نيت يې رښتينې، باطن يې پاک او يقين يې سوچه، او د عمل تله يې درنه ده. او ګواهي ورکوم چې حضرت محمد ﷺ د خداے پاک بنده او استازے دے چې له انسانانو يې خوښ کړے دے. او د خداے د دين د حقائقو د سپړلو لپاره غوره شوے او په خاصو اخلاقو درونډ کړے شوے او له ښو شرافتونو سره ځانګړے شوے دے،د هدايت نښې د هغهٔ په وسيله ښکاره او د جهل او ګمراهۍ تيرې د هغهٔ د هدايت په رڼا لاړې.

### له دنيا سره سلوک

اے خلقو! ياد لرئ، دنيا خپل مئينان او ارمانجن غولوي او خپل لېوال ته وانښهٔ نهٔ اچوي،څوک چې په دنيا باندې لاسبرے شي مغلوب يې کاندي. په خداے قسم! له هيڅ قومه د ژوند لورينې او پېرزوينې نهٔ دي اخېستل شوې مګر د هغوي د ګناهونو په وجه، «ځکه چې خداے پاک په خپلو بندګانو ظلم نهٔ کوي» که خلق د مصيبتونو د نازلېدلو او ترې نه د نعمتونو د اخېستو په په وخت په نېک نيت سره د خداے پاک په در کښې زاري وکړي،او په مينه ناکو زړونو سره له خداے پاک څخه عفوه وغواړي نو څه چې يې له لاسه تللي ورستانهٔ به يې کړي او ورانې چارې به يې سمې کړي، زهٔ په تاسو باندې ويرېږم چې په جهل او کبر اخته نهٔ شئ. پخوا داسې ډېرې چارې تېرې شوې دي چې تاسو پکښې داسې لوري ته ګروهېدلي يئ چې د ستائنې وړ نهٔ وو، خوکه په خپل ژوند کښې سمون راولئ نېکمرغه به شئ، او زما دنده خو تشه ستاسو د چارو د اصلاح هڅه ده او که وغواړم څه ووايم نو يوائې دومره به ووايم چې خداے مو له تېرو تېر شه.

## ﴿يو سل نهٔ اويايمه خطبه﴾

(دا خطبه يې د هجرت په شپږ دېرشم کال د کوفې په جومات کښې د جمل له جنګه وروسته ورکړه.ذعلب يماني[113] پوښتنه وکړه: اے اميرالمومنين! آيا خپل رب دې ليدلے دے؟ ځواب يې ورکړ: څه چې ونه وينم څرنګه يې عبادت کولې شم. هغهٔ وويل: خپل رب دې څنګه ليدلے دے؟ امام وفرمايل:)

### خداے پېژندنه

سترګې يې هيڅ کله په ښکاره نهٔ شي ليدلے خو زړونه يې په حقيقي ايمان سره ليدلے شي. خداے پاک هر څه ته نزدے دے خو ن داسې چې ورسره لګېدلے وي؛ له هر څه لرې دے خو نهٔ داسې چې ترې جدا وي، ويئونکے دے خو نهٔ په فکر او سوچ سره، اراده کو٘نکے دے خو نهٔ په خواهش او غوښتنې سره، جوړو٘نکے دے خو نهٔ په غړيو او اندامونو سره، لطافت لري خو نهٔ داسې چې پټ وي، لوے دے خو نهٔ داسې چې په وړو ظلم وکړي، سترګور دے خو نهٔ په ظاهري حواسو سره؛ مهربان دے خو نهٔ داسې چې زړهٔ يې نرے وي، ټولې ښېرې د هغهٔ عظمت ته

مَخافته.

[ ١٨٠ ]

وَمِنْ كَلاَمٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ في ذَمِّ أَصْحَابه

أَحْمَدُ اللهَ عَلَى مَا قَضَى مِنْ أَمْر، وَقَدَّرَ مِنْ فِعْل، وَعَلَى ابْتلائي بِكُم أَيَّتُهَا الْفِرْقَةُ الَّتي إذَا أَمَرْتُ لَمْ تُطعْ، وَإذَا دَعَوْتُ لَمْ تُجِبْ، إنْ أُمْهِلْتُمْ خُضْتُمْ، وَإنْ حُورِبْتُمْ خُرْتُمْ، وَإن اجْتَمَعَ النَّاسُ عَلَى إمَام طَعَنْتُمْ، وَإنْ أُجِئْتُمْ إلَى مُشَاقَّة نَكَصْتُمْ. لاَ أَبَا لغَيْرِكُمْ! مَا تَنْتَظِرُونَ بنَصْرِكُمْ وَالْجهَاد عَلَى حَقِّكُمْ؟ الْمَوْتَ أَو الذُّلَّ لَكُمْ؟ فَوَاللهِ لَئنْ جَاءَ يَوْمي ـ وَلَيَأْتيَنِّي ـ لَيُفَرِّقَنَّ بَيْني وَبَيْنَكُمْ وَأَنَا لصُحْبَتِكُمْ قَال، وَبِكُمْ غَيْرُ كَثير.

للهِ أَنْتُمْ! أَمَا دِينٌ يَجْمَعُكُمْ! وَلاَ مَحْمِيَّةٌ تَشْحَذُكُمْ! أَوَلَيْسَ عَجَباً أَنَّ مُعَاوِيَةَ يَدْعُو الْجُفَاةَ الطَّغَام فَيَتَّبِعُونَهُ عَلَى غَيْر مَعُونَة وَلاَ عَطَاء، وَأَنَا أَدْعُوكُمْ ـ وَأَنْتُمْ تَرِيكَةُ الاسْلاَم، وَبَقِيَّةُ النَّاس ـ إلَى الْمَعُونَة أَوطَائفَة مِنَ الْعَطَاء، فَتَفَرَّقُونَ عَنِّي وَتَخْتَلِفُونَ عَلَيَّ؟ إنَّهُ لاَ يَخْرُجُ إلَيْكُمْ مِنْ أَمْري رِضىً فَتَرْضَوْنَهُ، وَلاَ سُخْطٌ فَتَجْتَمِعُونَ عَلَيْه، وَإنَّ أَحَبَّ مَا أَنَا لاَق إلَيَّ الْمَوْتُ! قَدْ دَارَسْتُكُمُ الْكتَابَ، وَفَاتَحْتُكُمُ الْحِجَاجَ، وَعَرَّفْتُكُمْ مَا أَنْكَرْتُمْ، وَسَوَّغْتُكُمْ مَا مَجَجْتُمْ، لَوْ كَانَ الاعْمَى يَلْحَظُ، أَو النَّائمُ يَسْتَيْقِظُ! وَأَقْرِبْ بِقَوْم مِنَ الْجَهْل بالله قَائدُهُمْ مُعَاوِيَةُ! وَمُؤَدِّبُهُمُ ابْنُ النَّابغَة!

[ ١٨١ ]

وَمِنْ كَلاَم لَهُ عَلَيْه السَّلاَمُ

وَقَدْ أَرْسَلَ رَجُلاً منْ أَصْحَابه، يَعْلَمُ لَهُ عِلْمَ [أَحْوَال] قَوْم منْ جُنْد الْكُوفَة، هَمُّوا بِاللَّحَاق بِالْخَوَارج، وَكَانُوا عَلَى خَوْف منْهُ عَلَيْه السَّلاَمُ، فَلَمَّا عَادَ إلَيْه الرَّجُلُ قَالَ لَهُ: أَأَمِنُوا فَقَطَنُوا، أم جَبُنُوا فَظَعَنُوا؟ فَقَالَ الرَّجُلُ: بَلْ ظَعَنُوا يَا أَميرَ الْمُؤْمِنينَ. فَقَالَ عَلَيْه السَّلاَمُ: بُعْداً لَهُمْ كَمَا

سرټيټي او زړونه د هغۀ له ويرې ناقراره دي.

## ﴿يو سل اتيايمه خطبه﴾

«د هجرت په اته دېرشم کال له محمد بن ابي بکر سره د مرستې لپاره يې د کوفيانو په غندنه کښې دا خطبه ورکړه»

د خداے پاک حمد کوم د چارو په قضا او د کارونو په قدر، او په دې هم د خداے حمد کوم چې ستاسو په شان له يوې ډلې سره يې ښکيل کړے يم چې امر درته کوم نۀ يې منئ او چې رابلم مو نۀ راځئ او چې مهلت درکوم نو په فضولياتو اخته کيږئ، او په جنګ کښې سست او لټان يئ، او که خلق په خپل امام راغونډ شي پيغورونه ورکوئ، او که د کومې ستونځې هوارې ته مو وبلم سرغړوئ، دښمنان مو دې بې پلاره وي، آخر تاسو د برې لپاره د څه په طمعه يئ. ولې د خپل حق لپاره جهاد نۀ کوئ،مرګ ته په طمعه يئ که ذلت ته؟ په خداے قسم! که مرګ مې راورسېږي - چې ضرور به رارسي - په ما او تاسو کښې به بېلتون راولي په داسې حال کښې چې زۀ به ستاسو له صحبته خفه او ستاسو شتون به راته بې فائدې وي.

### د کوفيانو د فکري زوال او ځوړتيا لاملونه او علتونه

خداے دې خبر درکړي،آيا تاسو څه دين نۀ لرئ چې راټول مو کړي؟ او کوم غېرت نۀ لرئ چې لـه دښمن سره مو جنګ تـه چمتـو کړي؟ ايـا د حېرانۍ ځاے نۀ دے چې معاويه خپلو جفاکارو ملګرو ته غږ کړي نو هغوي بې د مرستې او بخشش لـه طمعې ورغونډيږي، او زۀ تاسو د حق مرستې تـه بلم حال دا چې تاسـو د اسلام پاتې او يادګار کسان يئ د مرستې او بخشش وعده هم درکوم خو تاسو لـه ما تيت پرک کيږئ، او اختلافاتو ته مخه کوئ نۀ زما له اوامرو راضي کېږئ او نۀ زما په خلاف له غونډېدو خفه کېږئ،نو اوس خو زما تر ټولو خوښ څيز چې ارمان يې کوم مرګ دے[١١٤]، د خداے کتاب مې تاسو تـه درزده کړ او د استدلال لارې چارې مې دروښودلې او څه چې مو نۀ پېژندل در ومې پېژندل او څه چې درته تراخۀ وو هغه مې ګوټ ګوټ در وڅښول. اے کاش چې ړوند ستر ګور شوے وې او اودۀ راويښ شوے وې، په خداے قسم! او هغه خلق جهالت تـه څومره نږدې دي چې مشر يې معاويه او استاد يې د نابغې زوے (عمرو عاص) وي.

## ﴿يو سل يو اتيايمه خطبه﴾

«د هجرت په اتۀ دېرشم کال د نهروان جنګ په درشل کښې امام يو کس اولېږۀ چې د کوفې ځينې کسان چې له خوارجو سره د يوځاے کېدو اراده يې کړې وه وڅاري، امام له هغۀ وپوښتل: خوندي شول او په ځاے پاتې شول او که نه اوېرېدل او اوتښتېدل؟ سړي وويل: اوېرېدل او له کوفيانو سره يو ځاے شول. امام وفرمايل:»

### خوارجو غولولي کسان

بَعِدَتْ ثَمُودُ! أَمَا لَوْ أُشْرِعَتِ الْأَسِنَّةُ إِلَيْهِمْ وَصُبَّتِ السُّيُوفُ عَلَى هَامَاتِهِمْ، لَقَدْ نَدِمُوا عَلَى مَا كَانَ مِنْهُمْ، إِنَّ الشَّيْطَانَ الْيَوْمَ قَدِ اسْتَفَلَّهُمْ، وَهُوَ غَداً مُتَبَرِّئٌ مِنْهُمْ، وَمُتَخَلٍّ عَنْهُمْ، فَحَسْبُهُمْ بِخُرُوجِهِمْ مِنَ الْهُدَى، وَارْتِكَاسِهِمْ فِي الضَّلَالِ وَالْعَمَى، وَصَدِّهِمْ عَنِ الْحَقِّ، وَجِمَاحِهِمْ فِي التِّيهِ.

[ ۱۸۲ ]

وَمِنْ خُطْبَةٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ

رُوِيَ عَنْ نَوْفٍ الْبَكَّالِيِّ قَالَ: خَطَبَنَا بِهَذِهِ الْخُطْبَةِ أَمِيرُ الْمُؤْمِنِينَ عَلِيٌّ عَلَيْهِ السَّلَامُ بِالْكُوفَةِ وَهُوَ قَائِمٌ عَلَى حِجَارَةٍ، نَصَبَهَا لَهُ جَعْدَةُ بْنُ هُبَيْرَةَ الْمَخْزُومِيُّ، وَعَلَيْهِ مِدْرَعَةٌ مِنْ صُوفٍ وَحَمَائِلُ سَيْفِهِ لِيفٌ، وَفِي رِجْلَيْهِ نَعْلَانِ مِنْ لِيفٍ، وَكَأَنَّ جَبِينَهُ ثَفِنَةُ بَعِيرٍ، فَقَالَ:

حَمْدُ اللهِ وَاسْتِعَانَتُهُ:

الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي إِلَيْهِ مَصَائِرُ الْخَلْقِ، وَعَوَاقِبُ الْأَمْرِ، نَحْمَدُهُ عَلَى عَظِيمِ إِحْسَانِهِ، وَنَيِّرِ بُرْهَانِهِ، وَنَوَامِي فَضْلِهِ وَامْتِنَانِهِ، حَمْداً يَكُونُ لِحَقِّهِ قَضَاءً، وَلِشُكْرِهِ أَدَاءً، وَإِلَى ثَوَابِهِ مُقَرِّباً، وَلِحُسْنِ مَزِيدِهِ مُوجِباً. وَنَسْتَعِينُ بِهِ اسْتِعَانَةَ رَاجٍ لِفَضْلِهِ، مُؤَمِّلٍ لِنَفْعِهِ، وَاثِقٍ بِدَفْعِهِ، مُعْتَرِفٍ لَهُ بِالطَّوْلِ، مُذْعِنٍ لَهُ بِالْعَمَلِ وَالْقَوْلِ. وَنُؤْمِنُ بِهِ إِيمَانَ مَنْ رَجَاهُ مُوقِناً، وَأَنَابَ إِلَيْهِ مُؤْمِناً، وَخَنَعَ لَهُ مُذْعِناً، وَأَخْلَصَ لَهُ مُوَحِّداً، وَعَظَّمَهُ مُمَجِّداً، وَلَاذَ بِهِ رَاغِباً مُجْتَهِداً.

اللهُ الْوَاحِدُ: لَمْ يُولَدْ سُبْحَانَهُ فَيَكُونَ فِي الْعِزِّ مُشَارَكاً، وَلَمْ يَلِدْ فَيَكُونَ مَوْرُوثاً هَالِكاً، وَلَمْ يَتَقَدَّمْهُ وَقْتٌ وَلَا زَمَانٌ، وَلَمْ يَتَعَاوَرْهُ زِيَادَةٌ وَلَا نُقْصَانٌ، بَلْ ظَهَرَ لِلْعُقُولِ بِمَا أَرَانَا مِنْ عَلَامَاتِ التَّدْبِيرِ الْمُتْقَنِ، وَالْقَضَاءِ الْمُبْرَمِ. فَمِنْ شَوَاهِدِ خَلْقِهِ خَلْقُ السَّمَاوَاتِ مُوَطَّدَاتٍ بِلَا عَمَدٍ، قَائِمَاتٍ بِلَا سَنَدٍ، دَعَاهُنَّ فَأَجَبْنَ طَائِعَاتٍ مُذْعِنَاتٍ، غَيْرَ مُتَلَكِّئَاتٍ وَلَا مُبْطِئَاتٍ، وَلَوْلَا إِقْرَارُهُنَّ لَهُ بِالرُّبُوبِيَّةِ وَإِذْعَانُهُنَّ بِالطَّوَاعِيَةِ، لَمَا جَعَلَهُنَّ مَوْضِعاً لِعَرْشِهِ، وَلَا مَسْكَناً لِمَلَائِكَتِهِ، وَلَا مَصْعَداً لِلْكَلِمِ الطَّيِّبِ وَالْعَمَلِ الصَّالِحِ مِنْ

د خداے له رحمته دې لرې وي هغه شان چې د ثمود قام لرې ؤ،خبر اوسئ! کله چې نېزې ورنيغې شي او تورې يې په سرونو باندې کېښودلې شي نو په خپلو کړو به پښېمانه شي. نن شېطان هغوي تفرقې ته بللي او سبا به ترې بېزاره وي، او ورځينې څنګ ته به شي هغوي ته همدومره شرم بس دے چې له هدايته اوتښتېدل او په ګمراهۍ او ړوند فکرۍ کښې غرق شول د حق لاره يې ځان ته وتړله او په لالهاندۍ کښې پاتې شول.

## ﴿يو سل دوه اتيايمه خطبه﴾

(د امام يو ملګري نوف بکالي نقل کړي دي چې د هجرت په څلوېښتم کال امام عليه السلام د خپل ژوند په وروستيو ورځو کښې په کوفه ښار کښې په يوې تيګې باندې چې جعدة بن هبيره محزومي چمتو کړې وه اودرېدۀ او په داسې حال کښې چې زيږ قميص يې اغوستے ؤ او توره يې د خرماؤ د پاڼو په تيکي کښې ايښې وه، پيزار يې د خرماؤ د پاڼو وو او په تندي باندې يې د ډېرو سجدو نخښه ښکاره وه، وې فرمايل:)

### د پالونکي ستائنه

ستائېه له هغه خداے سره ښائي چې د مخلوقاتو جاروتل او د چارو عاقبت هغه ته دے،د خداے پاک حمد کوم د هغۀ په لوے احسان او څرګند برهان، او د هغۀ په پرېمانه فضل او امتنان، داسې حمد چې حق ادا کړي او شکر پۀ ځاے راوړي، مونږ د خدا ے پاک ثواب ته نزدې کړي او د هغۀ د پرېمانه نيکۍ او احسان سبب وګرځي. له خدايه مرسته غواړوو د هغه چا مرسته چې فضل ته يې هيله من او بخښنې ته يې آرزومن، او تاوان لرې کولو ته يې ډاډمن وي،د هغۀ په قدرت داده او په وينا او عمل کښې په هغۀ عقيده من وي. په هغۀ باندې ايمان راوړوو د هغه چا په شان ايمان چې په هغۀ باندې په يقين سره هيله من او په خپلې سوچه عقيدې سره پالونکي ته پام لري، او په صفا ايمان سره يې مخې ته ټيټېږي او په اخلاص سره يې په يووالي باندې عقيده لري،په پرېمانه ستائنې سره خداے لوے ګڼي او په هڅې او زيار سره پناه وروړوي.

### د خداے پېژندنې لارې

پاک خداے له چا نۀ دے زېږېدلے چې په عزت او وس کښې شريک ولري: اولاد نۀ لري چې وارث يې شي وخت او زمان ترې نۀ شي مخکې کېدې، په ذات کښې يې کمے او زياتے نشته، او هغه خداے په پياوړې تدبير او چورلټې فېصلې سره ي ځان عقلونو ته روښانه کړے دے،د هغۀ د خلقت له ښنو يوه ښنه د ټينګ آسمان خلقت دے چې بې ستنو او بې تکيې ولاړ دے، آسمانونه يې خپل اطاعت ته وبلل او هغوي يې بې ځنډه اطاعت ومنۀ،که د هغۀ په ربوالي د آسمانونو اقرار او د هغۀ په اطاعت د هغوي اعتراف نۀ وې نو هيڅ کله به يې آسمانونه د خپل عرش

خَلْقِه. جَعَلَ نُجُومَهَا أَعْلاماً يَسْتَدِلُّ بِهَا الْحَيْرَانُ فِي مُخْتَلِفِ فِجَاجِ الاْقْطَارِ، لَمْ يَمْنَعْ ضَوْءَ نُورِهَا ادْلِهْمَامُ سُجُفِ اللَّيْلِ الْمُظْلِمِ، وَلاَ اسْتَطَاعَتْ جَلاَبِيبُ سَوَادِ الْحَنَادِسِ أَنْ تَرُدَّ مَا شَاعَ فِي السَّمَاوَاتِ مِنْ تَلأْلُؤِ نُورِ الْقَمَرِ. فَسُبْحَانَ مَنْ لاَ يَخْفَى عَلَيْهِ سَوَادُ غَسَقٍ دَاجٍ، وَلاَ لَيْلٍ سَاجٍ، فِي بِقَاعِ الاْرَضِينَ الْمُتَطَأْطِئَاتِ، وَلاَ فِي يَفَاعِ السُّفْعِ الْمُتَجَاوِرَاتِ، وَمَا يَتَجَلْجَلُ بِهِ الرَّعْدُ فِي أُفُقِ السَّمَاءِ، وَمَا تَلاَشَتْ عَنْهُ بُرُوقُ الْغَمَامِ، وَمَا تَسْقُطُ مِنْ وَرَقَةٍ تُزِيلُهَا عَنْ مَسْقَطِهَا عَوَاصِفُ الاْنْوَاءِ وَانْهِطَالُ السَّمَاءِ! وَيَعْلَمُ مَسْقَطَ الْقَطْرَةِ وَمَقَرَّهَا، وَمَسْحَبَ الذَّرَّةِ وَمَجَرَّهَا، وَمَا يَكْفِي الْبَعُوضَةَ مِنْ قُوتِهَا، وَمَا تَحْمِلُ مِنْ أُنْثَى فِي بَطْنِهَا.

عَوْدٌ إِلَى الْحَمْدِ: وَالْحَمْدُ لله الْكَائِنِ قَبْلَ أَنْ يَكُونَ كُرْسِيٌّ أَوْ عَرْشٌ، أَوْ سَمَاءٌ أَوْ أَرْضٌ، أَوْ جَانٌّ أَوْ إِنْسٌ، لاَ يُدْرَكُ بِوَهْمٍ، وَلاَ يُقَدَّرُ بِفَهْمٍ، وَلاَ يَشْغَلُهُ سَائِلٌ، وَلاَ يَنْقُصُهُ نَائِلٌ، وَلاَ يَنْظُرُ بِعَيْنٍ، وَلاَ يُحَدُّ بِأَيْنٍ، وَلاَ يُوصَفُ بِالاْزْوَاجِ، وَلاَ يُخْلَقُ بِعِلاَجٍ، وَلاَ يُدْرَكُ بِالْحَوَاسِّ، وَلاَ يُقَاسُ بِالنَّاسِ، الَّذِي كَلَّمَ مُوسَى تَكْلِيماً، وَأَرَاهُ مِنْ آيَاتِهِ عَظِيماً، بِلاَ جَوَارِحَ وَلاَ أَدَوَاتٍ، وَلاَ نُطْقٍ وَلاَ لَهَوَاتٍ. بَلْ إِنْ كُنْتَ صَادِقاً أَيُّهَا الْمُتَكَلِّفُ لِوَصْفِ رَبِّكَ، فَصِفْ جَبْرَئِيلَ وَمِيكَائِيلَ وَجُنُودَ الْمَلاَئِكَةِ الْمُقَرَّبِينَ، فِي حُجُرَاتِ الْقُدُسِ مُرْجَحِنِّينَ، مُتَوَلِّهَةً عُقُولُهُمْ أَنْ يَحُدُّوا أَحْسَنَ الْخَالِقِينَ. وَإِنَّمَا يُدْرَكُ بِالصِّفَاتِ ذَوُو الْهَيْئَاتِ وَالاْدَوَاتِ، وَمَنْ يَنْقَضِي إِذَا بَلَغَ أَمَدَ حَدِّهِ بِالْفَنَاءِ، فَلاَ إِلهَ إِلاَّ هُوَ، أَضَاءَ بِنُورِهِ كُلَّ ظَلاَمٍ، وَأَظْلَمَ بِظُلْمَتِهِ كُلَّ نُورٍ.

الْوَصِيَّةُ بِالتَّقْوَى: أُوصِيكُمْ عِبَادَ اللهِ بِتَقْوَى اللهِ الَّذِي أَلْبَسَكُمُ الرِّيَاشَ، وَأَسْبَغَ عَلَيْكُمُ الْمَعَاشَ؛ فَلَوْ أَنَّ أَحَداً يَجِدُ إِلَى الْبَقَاءِ سُلَّماً، أَوْ لِدَفْعِ الْمَوْتِ سَبِيلاً، لَكَانَ ذلِكَ سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ، الَّذِي سُخِّرَ لَهُ مُلْكُ الْجِنِّ وَالاْنْسِ، مَعَ النُّبُوَّةِ وَعَظِيمِ الزُّلْفَةِ، فَلَمَّا اسْتَوْفَى طُعْمَتَهُ، وَاسْتَكْمَلَ مُدَّتَهُ، رَمَتْهُ قِسِيُّ الْفَنَاءِ بِنِبَالِ الْمَوْتِ،

مقام، د فرښتو هستوګن ځاے، د خپلو بندګانو د نېکو خبرو او پاکو عملونو د پاس ختو ځاے نۀ وي ګرځولے. ستوري يې په دښتو کښې د لاالهاندو کسانو لارښوونکې نښې وګرځولې، چې په هغو سره لاره ومومي، هغه ستوري چې د شپې تيرې پردې يې د رڼا مخه نۀ شي نيولې او په آسمان کښې د هغو د ځلېدو او پرقېدو خنډ نۀ شي ګرځېدلې. نو پاک دے هغه پالونکے چې نۀ خو ترې د ځمکې په لوړو ژورو، په تيټو غونډيو او په دنګو غرونو توره تيارۀ پټه ده او نۀ ترې د آسمان په لمنو کښې د تندر ګړزهار، او نۀ په وريځو کښې د برېښنا پړقهار، نه د تندو او طوفاني زولونو هوا او نۀ د باران له امله د پاڼو غورځېدل، نۀ د باران د څاځکو د وربدو ځاے، او نۀ د مېږو د دانو د وړلو لارې، نۀ د ماشو وارۀ وارۀ خوراکونه او نۀ ترې هغه څه پټ دي چې د ښځينه حيوان په ځېټه کښې په ودې دي (خداے پاک له هر څه خبر دے)

## خداے پېژندنه

حمد او ستائنه له هغه ذات سره ښائي چې تل ؤ، مخکې له دې چې کرسي يا عرش، آسمان يا ځمکه او انسان يا پېرے پېدا شي. هغه خداے چې ژور فکرونه او عقلونه يې د تل حقيقت ته نۀ شي رسېدې نۀ يې وهم درک کولے شي او نۀ پرې فهم پوهېدلے شي، نۀ يې کوم سائل په ځان مشغولولے شي او نۀ يې کومه عطا او ښندنه پانګه کمولې شي، نۀ په سترګو سره ګوري او نۀ په کوم ځاے کښې محدود دے. همسر او جوړه نۀ لري او نۀ په تجربې او مشق سره څه پنځوي، هغه نۀ په حواسو سره درک کېږي او نۀ له خلقو سره پرتله کېږي، هغه خداے چې بې له غړيو، اندامونو او ژبې او خولې يې له موسى سره خبرې وکړې او خپل لوے آيتونه يې وروپېژندل. اے هغه انسانه چې د خپل رب د وصف بيانولو زيار ايستونکے يې! که ريښتيا وائې نو جبرائيل او ميکائيل او د هغۀ د مقربو فرښتو لښکرې اوستايه، چې د خداے په پاک دربار کښې سر ټيټې ولاړې دي، او عقلونه يې په خداے په پوهېدو کښې لاالهانده او پاتې راغلي دي. اے انسانه! تۀ هغه شي په صفاتو درک کولې شې چې شکل او غړي ولري، او محدود عمر او ټاکلې نېټه ولري. نو بې له الله بل خداے نشته چې په خپله رڼا نور سره يې تولې تيرې ځلولې او بيا يې (د عدم) په تيارۀ هر ځلانده څيز تيارۀ کړے دے.

## د تقوا او له تاريخه د عبرت اخېستلو نصيحت

اے د خداے بندګانو! تاسو د خداے پاک پروا او تقوا ته بلم چې نبي جامې يې درواغوندلې او ښۀ معاش يې دربرابر کړے دے که (په دنيا کښې) د تل پاتې ژوند لپاره لاره وي يا له مرګه تېښتنه وي، نو سليمان بن داوودؑ به دا کار کړے ؤ چې خداے پاک ورته هم نبوت ورکړے ؤ او هم په انسانانو او پېريانو حکومت او هم نزديکت او منزلت، خوکله يې

وَأَصْبَحَت الـدِّيَارُ مِنْـهُ خَالِيَـةً، وَالْمَسَـاكنُ مُعَطَّلَـةً، وَرِثَهَـا قَـوْمٌ آخَـرُون، وإنَّ لَكُـمْ فـي الْقُـرُون السَّـالفَة لَعِبْـرَةً! أَيْـنَ الْعَمالقَةُ وَأَبْنَاءُ الْعَمالقَة! أَيْـنَ الْفَراعنَـةُ وَأَبْنَـاءُ الْفَرَاعنَـة! أَيْـنَ أَصْحَابُ مَدَائن الـرَّسِّ الَّـذين قَتَلُـوا النَّبِيِّـينَ، وَأَطْفَـأُوا سُـنَنَ الْمُرْسَـلِينَ، وَأَحْيَـوْا سُـنَنَ الْجَبَّـارين! أَيْـنَ الَّـذينَ سَـارُوا بـالْجُيُوش، وهَزَمُـوا الاْلُـوفَ، وعَسْـكَرُوا الْعَسَـاكِرَ، ومَـدَّنُوا الْمَدائنَ؟!

مِنْهَا: قَدْ لَبِسَ لِلْحِكْمَـة جُنَّتَهَـا، وأَخَـذَهَا بجَميـع أَدَبِهَـا، مِـنَ الاقْبَال عَلَيهَا، والْمَعْرِفَة بِهَـا، وَالتَّفَـرُّغ لَهَـا، فَهِـيَ عِنْـدَ نَفْسِـه ضَالَّتُهُ الَّتي يَطْلُبُهَا، وحَاجَتُهُ الَّتـي يَسْـأَلُ عَنْهَـا، فَهُـوَ مُغْتَـرِبٌ إذَا اغْتَـرَبَ الاسْـلاَمُ، وضَـرَبَ بعَسِـيبِ ذَنَبِـه، وأَلْصَـقَ الارْض بجِرانه، بَقيَّةٌ مِـنْ بَقَايَـا حُجَّتِـه، خَلِيفَـةٌ مِـنْ خَلائـف أَنْبِيائه.

ثُمَّ قَالَ عَلَيْه السَّلاَمُ: أَيُّهَا النَّاسُ، إنِّي قَدْ بَثَثْتُ لَكُمُ الْمَوَاعظَ الَّتـي وَعَظَ بِهَا الأَنْبِيَاءُ أُمَمَهُمْ، وَأَدَّيْتُ إلَيْكُمْ مَا أَدَّت الاوْصِـيَاءُ إلَـى مَـنْ بَعْـدَهُمْ، وَأَدَّبْـتُكُمْ بسَـوْطي فَلَـمْ تَسْـتَقيمُوا، وَحَـدَوْتُكُمْ بالزَّوَاجر فَلَمْ تَسْتَوْسقُوا. لله أَنْتُمْ! أَتَتَوقَّعُون إماماً غَيْري يَطَأُ بكُمُ الطَّرِيقَ، ويُرْشدُكُمُ السَّبِيلَ؟ أَلاَ إنَّهُ قَدْ أَدْبَرَ منَ الـدُّنْيَا مَـا كَـانَ مُقْبلاً، وَأَقْبَلَ مِنْهَا مَـا كَـانَ مُـدْبِراً، وَأَزْمَـعَ التَّرْحَـالَ عِبَـادُالله الاخْيَارُ، وبَاعُوا قَليلاً منَ الدُّنْيَا لاَ يَبْقَى، بكَثِيـرٍ مِـنَ الآخِـرَة لاَ يَفْنَى.

مَا ضَـرَّ إخْوَانَنَـا الَّـذينَ سُـفكَتْ دمَـاؤُهُمْ ـ وَهُـمْ بِصفِّينَ ـ أَلاَّ يَكُونُـوا الْيَـوْمَ أَحْيَـاءً؟ يُسِـيغُونَ الْغُصَـصَ، وَيَشْـرَبُونَ الرَّنْـقَ! قَـدْ ـ وَالله ـ لَقُـوا اللهَ فَوَفَّـاهُمْ أُجُـورَهُمْ، وَأَحَلَّهُـمْ دَارَ الامْنِ بَعْدَ خَوْفِهِمْ. أَيْـنَ إخْـوَاني الَّـذينَ رَكِبُـوا الطَّرِيـقَ، وَمَضَوْا عَلَى الْحَقِّ؟ أَيْـنَ عَمَّـارٌ؟ وَأَيْـنَ ابْـنُ التَّيِّهَـان؟ وَأَيْـنَ ذُوالشَّهَادَتَيْن؟ وَأَيْنَ نُظَـرَاؤُهُمْ مِـنْ إخْـوَانِهمُ الَّـذينَ تَعَاقَـدُوا عَلَى الْمَنِيَّة، وَأُبْرِدَ بِرُؤُوسِهِمْ إلَى الْفَجَرَة؟

قَـالَ: ثُـمَّ ضَـرَبَ عَلَيْـه السَّـلاَمُ بِيَـده إلَـى لحْيَتـه، فَأَطَـالَ الْبُكَـاءَ، ثُـمَّ

چې د عمر پیمانه ډکه شوه او روزي يې ختمه شوه د نيستۍ له لېندو غشي پرې د مرګ غشي اورېدل، او کور او وطن ترې خالي شو. ماڼۍ يې بې ښتنه پاتې شوې، او نورو په ميراث يوړې. اے خلقو! ستاسو لپاره په تېر تاريخ کښې ډېر درسونه پراته دي،چرته دي عمالقه[۱۱۵] او زوزات يې؟ «په يمن او حجاز کښې عرب باچايان» چرته دي فرعونان او بچي يې؟ چرته دي د رس ښارخلق؟ «د ونو عبادت کوونکي چې اوږدهٔ عمرونه يې وکړل» هغه کسان چې پېغمبرانﷺ يې اوژل او د هغوي د سنتو روښانه څراغونه يې ګل کړل، د ظالمانو لارې چارې يې ژوندۍ کړې. چرته دي هغه کسان چې ګڼې لښکرې يې رواني کړې وې او په زرګونو تنو ته يې ماتې ورکړې، زيات سپاهيان يې راغونډ کړل او ښارونه يې جوړ کړل.

## د امام مهديﷺ ځانګړتياوې او خصوصيتونه

د علم اوحکمت زغره به يې په تن وي او په پوره ادب او معرفت سره به يې اخېستې وي، حکمت به د هغهٔ ورکه شوې پانګه وي چې تل به يې په لټه کښې وي، او داسې حاجت به يې وي چې بيا بيابه يې پوښتنه کوي، هغه به په داسې وخت کښې چې د اسلام نمر پرېوزي او (اسلام به) د يو ستومانه اوښ په شان چې لکۍ رکوي او ښټ په ځمکه مږي،(سترے وي) له سترګو پناه شي،(غيبت صغرى او کبرى) هغه د الهي حجتونو آخري حجت او د پېغمبرانوﷺ د ځاے ناستو آخري ځاے ناستے او خليفه دے.

## ملګرو ته نصيحت

اے خلقو!ما هغه نصيحتونه چې پېغمبرانو خپلو امتونو ته کړي وو تاسو ته وکړل او کومې دندې چې د تېرو پېغمبرانو اوصياؤ (ځاے ناستو) په خلقو کښې سرته ورسولې ما هم پوره کړې،ما په خپله متروکه تاسو ادب کړئ خو ادب نهٔ شوئ او ډېر خبرداري مې درکړل خو راغونډ نهٔ شوئ،د خداے لپاره ووائئ ! ايا له ما وروسته د بل امام انتظار کوئ چې په لاره مو بوځي او حق دراوښيي؟ خبر اوسئ! د دنيا کومو څيزونو چې تاسو ته مخه کړې وه اوس يې مخ ګرځولے دے او څه چې شا کړې وه مخ کړے يې دے. او د خداے نېک بندګان کوچېدو ته تيار شول او لنډه او فاني دنيا يې په تل پاتې آخرت باندې بدله کړه.

## د شهيدو يارانو ياد

هو، زمونږ هغه ورونړه چې په صفين کښې يې وينه توي شوه هيڅ تاوان يې نهٔ دے کړے، که څه هم نن نهٔ دي موجود چې خوراک دې يې غم او غصه او ښناک دې يې خوناب وي، په خداے قسم! هغوي خداے پاک ته ورغلل او خداے پاک يې هم بدله ورکړه، او د وېرې له پړاوه وروسته يې د خپل امن په مقام کښې استوګن کړل. چرته دي زما ورونړه چې د حق په لاره لاړل او په حق باندې يې سرونه ورکړل. چرته دے عمار؟[۱۱۶] او چرته دے ابن تيهان؟[۱۱۷]«مالک بن تيهان انصاري» او چرته دے

قَالَ: أَوْهِ عَلَى إِخْوَانِي الَّذِينَ تَلَوُا الْقُرْآنَ فَأَحْكَمُوهُ، وَتَدَبَّرُوا الْفَرْضَ فَأَقَامُوهُ، أَحْيَوُا السُّنَّةَ، وَأَمَاتُوا الْبِدْعَةَ، دُعُوا لِلْجِهَادِ فَأَجَابُوا، وَوَثِقُوا بِالْقَائِدِ فَاتَّبَعُوا. ثُمَّ نَادَى بِأَعْلَى صَوْتِهِ: الْجِهَادَ الْجِهَادَ عِبَادَ اللهِ! أَلَا وَإِنِّي مُعَسْكِرٌ فِي يَوْمِي هذَا، فَمَنْ أَرَادَ الرَّوَاحَ إِلَى اللهِ فَلْيَخْرُجْ.

قَالَ نَوْفٌ: وَعَقَدَ لِلْحُسَيْنِ عَلَيْهِ السَّلَامُ فِي عَشَرَةِ آلَافٍ، وَلِقَيْسِ بْنِ سَعْدٍ فِي عَشَرَةِ آلَافٍ، وَلِأَبِي أَيُّوبَ الْأَنْصَارِيِّ فِي عَشَرَةِ آلَافٍ، وَلِغَيْرِهِمْ عَلَى أَعْدَادٍ أُخَرَ، وَهُوَ يُرِيدُ الرَّجْعَةَ إِلَى صِفِّينَ، فَمَا دَارَتِ الْجُمُعَةُ حَتَّى ضَرَبَهُ الْمَلْعُونُ ابْنُ مُلْجَمٍ لَعَنَهُ اللهُ، فَتَرَاجَعَتِ الْعَسَاكِرُ، فَكُنَّا كَأَغْنَامٍ فَقَدَتْ رَاعِيَهَا، تَخْتَطِفُهَا الذِّئَابُ مِنْ كُلِّ مَكَانٍ!

[ ۱۸۳ ]

اللهُ تَعَالَى

الْحَمْدُ للهِ الْمَعْرُوفِ مِنْ غَيْرِ رُؤْيَةٍ، وَالْخَالِقِ مِنْ غَيْرِ مَنْصَبَةٍ، خَلَقَ الْخَلَائِقَ بِقُدْرَتِهِ، وَاسْتَعْبَدَ الْأَرْبَابَ بِعِزَّتِهِ، وَسَادَ الْعُظَمَاءَ بِجُودِهِ، وَهُوَ الَّذِي أَسْكَنَ الدُّنْيَا خَلْقَهُ، وَبَعَثَ إِلَى الْجِنِّ وَالْإِنْسِ رُسُلَهُ، لِيَكْشِفُوا لَهُمْ عَنْ غِطَائِهَا، وَلِيُحَذِّرُوهُمْ مِنْ ضَرَّائِهَا، وَلِيَضْرِبُوا لَهُمْ أَمْثَالَهَا، وَلِيُبَصِّرُوهُمْ عُيُوبَهَا، وَلِيَهْجُمُوا عَلَيْهِمْ بِمُعْتَبَرٍ مِنْ تَصَرُّفِ مَصَاحِّهَا وَأَسْقَامِهَا، وَحَلَالِهَا وَحَرَامِهَا، وَمَا أَعَدَّ سُبْحَانَهُ لِلْمُطِيعِينَ مِنْهُمْ وَالْعُصَاةِ مِنْ جَنَّةٍ وَنَارٍ، وَكَرَامَةٍ وَهَوَانٍ. أَحْمَدُهُ إِلَى نَفْسِهِ كَمَا اسْتَحْمَدَ إِلَى خَلْقِهِ، وَجَعَلَ لِكُلِّ شَيْءٍ قَدْراً، وَلِكُلِّ قَدْرٍ أَجَلاً، وَلِكُلِّ أَجَلٍ كِتَاباً.

مِنْهَا فِي ذِكْرِ الْقُرْآنِ: فَالْقُرْآنُ آمِرٌ زَاجِرٌ، وَصَامِتٌ نَاطِقٌ، حُجَّةُ اللهِ عَلَى خَلْقِهِ، أَخَذَ عَلَيْهِمْ مِيثَاقَهُ، وَارْتَهَنَ عَلَيْهِ أَنْفُسَهُمْ، أَتَمَّ نُورَهُ، وَأَكْرَمَ بِهِ دِينَهُ، وَقَبَضَ نَبِيَّهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَقَدْ فَرَغَ إِلَى الْخَلْقِ مِنْ أَحْكَامِ الْهُدَى بِهِ. فَعَظِّمُوا مِنْهُ سُبْحَانَهُ مَا عَظَّمَ مِنْ

ذوالشهادتين؟[۱۱۸] «خزيمه بن ثابت چې پېغمبراکرمﷺ د هغهٔ ګواهي دوه ګواهۍ بللې وې» او چرته دي د هغوي په څېر ورونه چې د سربښيندنې تړون يې وتړهٔ او خپل سرونه يې ظالمانو ته واستول؟

«بيا امام په خپله مبارکه ږيره لاس راکاږهٔ او ډېر يې اوژړل او وې فرمايل»:

هاې زما هغه ورونه چې قرآن يې ولوست او حکم يې پرې وکړ او په الهي فرائضو کښې يې فکر وکړ او هغه يې په ځاے راوړل، د خداے دودونه او سنتونه يې ژوندي او بدعتونه يې نابود کړل، د جهاد بلنه يې اومنله او په خپل مشر يې ډاډ لرهٔ او د هغهٔ پيروي يې وکړه. بيا يې په لوړ آواز وفرمايل: جهاد! جهاد! اے د خداے بندګانو! زهٔ نن لښکر تياروم څوک چې غواړي د خداے پاک په لور لاړ شي راځي دې.

(نوف وائي: د امام حسينؑ لپاره يې لس زره سپاهيان، د قيس بن سعد لپاره يې لس زره او د ابو ايوب انصاري لپاره يې هم لس زره سپاهيان تيار کړل او نورو کوماندانانو ته يې هم څواکونه وټاکل او صفين ته د ستنېدو لپاره تيار وو چې له جُمعې مخکې ابن ملجم ملعون په امام د توري ګوزار وکړ او ټول لښکريان کورونو ته ستانهٔ شول او مونږ د هغو ګډو په شان وو چې شپون يې تللے وي او شرمخانو ورته له هر لورې داړې چينګې کړې وي)

## ﴿ يو سل درې اتيايمه خطبه ﴾

### خداے پېژندنه

ستائنه هغه خداے لره ده چې پېژندل شوے بې له دې چې ليدل شوے وي، او مخلوق يې پنځولے بې له دې چې په زحمت شوے وي، او په خپل قدرت يې خلائق پيدا کړي دي. او په خپل عزت سره يې سرکشان خپل مريان او منونکي ګرځولي دي، او په خپلې بخښنې سره تر ټولو لويانو لوے شو. هغه داسې خداے دے چې نړۍ يې د مخلوقاتو د استوګنې ځاے وګرځوهٔ او خپل استازي يې د انسانانو او پېريانو هدايت ته راولېږل چې دنيا هغه شان چې ده اوپېژني او د دنيا له تاوانونو يې وساتي، او د مثالونو په راوړلو سره د دنياپرستۍ عيبونه په ګوته کړي، او د هغه څه چې د عبرت ا و سبق سبب دي يادونه وکړي سلامتيا او ناروغۍ، حلال او حرام او هغه څه چې خداے خپلو فرمان منونکو او نافرمانو بندګانو ته تيار کړي دي يعنې جنت او دوزخ چې د عزت او يا ذلت وسيله ده، دا ټول بيان کړي. د خداے ستائنه کوم هغه شان چې له خپلو بندګانو يې غوښتې ده او هر څيز ته يې تقدير ټاکلے دے او هر تقدير ته يې اجل ټاکلے دے او هر اجل ته يې حساب ټاکلے دے.

### د قرآن شريف ځانګړتياوې او خصوصيتونه

قرآن منعې کوونکے حکم ورکوونکے، خاموش ويوونکے او په مخلوقاتو باندې د خداے حجت دے. خداے تعالی له بندګانو په قرآن شريف باندې د عمل کولو ژمنه اخيستې ده او هغوي يې د هغهٔ په اوامر باندې

نَفْسه، فَإِنَّهُ لَمْ يُخْفِ عَنْكُمْ شَيْئاً مِنْ دِينه، وَلَمْ يَتْرُكْ شَيْئاً رَضِيَهُ أَوْ كَرِهَهُ إِلاَّ وَجَعَلَ لَهُ عَلَماً بَادِياً، وَآيَةً مُحْكَمَةً، تَزْجُرُ عَنْهُ، أَوْ تَدْعُو إِلَيْهِ، فَرِضَاهُ فِيمَا بَقِيَ وَاحِدٌ، وَسَخَطُهُ فِيمَا بَقِيَ وَاحِدٌ. وَاعْلَمُوا أَنَّهُ لَنْ يَرْضَى عَنْكُمْ بِشَيْءٍ سَخِطَهُ عَلَى مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ، وَلَنْ يَسْخَطَ عَلَيْكُمْ بِشَيْءٍ رَضِيَهُ مِمَّنْ كَانَ قَبْلَكُمْ، وَإِنَّمَا تَسِيرُونَ فِي أَثَرٍ بَيِّنٍ، وَتَتَكَلَّمُونَ بِرَجْعِ قَوْلٍ قَدْ قَالَهُ الرِّجَالُ مِنْ قَبْلِكُمْ، قَدْ كَفَاكُمْ مَؤُونَةَ دُنْيَاكُمْ، وَحَثَّكُمْ عَلَى الشُّكْرِ، وَافْتَرَضَ مِنْ أَلْسِنَتِكُمُ الذِّكْرَ. وَأَوْصَاكُمْ بِالتَّقْوَى، وَجَعَلَهَا مُنْتَهَى رِضَاهُ، وَحَاجَتَهُ مِنْ خَلْقِهِ.

الْوَصِيَّةُ بِالتَّقْوَى: فَاتَّقُوا اللهَ الَّذِي أَنْتُمْ بِعَيْنِهِ، وَنَوَاصِيكُمْ بِيَدِهِ، وَتَقَلُّبُكُمْ فِي قَبْضَتِهِ، إِنْ أَسْرَرْتُمْ عَلِمَهُ، وَإِنْ أَعْلَنْتُمْ كَتَبَهُ، قَدْ وَكَّلَ بِذلِكَ حَفَظَةً كِرَاماً، لاَ يُسْقِطُونَ حَقّاً، وَلاَ يُثْبِتُونَ بَاطِلاً. وَاعْلَمُوا أَنَّهُ مَنْ يَتَّقِ اللهَ يَجْعَلْ لَهُ مَخْرَجاً مِنَ الْفِتَنِ، وَنُوراً مِنَ الظُّلَمِ، وَيُخَلِّدْهُ فِيمَا اشْتَهَتْ نَفْسُهُ، وَيُنْزِلْهُ مَنْزِلَ الْكَرَامَةِ عِنْدَهُ، فِي دَارٍ اصْطَنَعَهَا لِنَفْسِهِ، ظِلُّهَا عَرْشُهُ، وَنُورُهَا بَهْجَتُهُ، وَزُوَّارُهَا مَلاَئِكَتُهُ، وَرُفَقَاؤُهَا رُسُلُهُ. فَبَادِرُوا الْمَعَادَ، وَسَابِقُوا الْآجَالَ، فَإِنَّ النَّاسَ يُوشِكُ أَنْ يَنْقَطِعَ بِهِمُ الْأَمَلُ، وَيَرْهَقَهُمُ الْأَجَلُ، وَيُسَدَّ عَنْهُمْ بَابُ التَّوْبَةِ، فَقَدْ أَصْبَحْتُمْ فِي مِثْلِ مَا سَأَلَ إِلَيْهِ الرَّجْعَةَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ.

وَأَنْتُمْ بَنُو سَبِيلٍ، عَلَى سَفَرٍ مِنْ دَارٍ لَيْسَتْ بِدَارِكُمْ، وَقَدْ أُوذِنْتُمْ مِنْهَا بِالارْتِحَالِ، وَأُمِرْتُمْ فِيهَا بِالزَّادِ. وَاعْلَمُوا أَنَّهُ لَيْسَ لِهذَا الْجِلْدِ الرَّقِيقِ صَبْرٌ عَلَى النَّارِ، فَارْحَمُوا نُفُوسَكُمْ، فَإِنَّكُمْ قَدْ جَرَّبْتُمُوهَا فِي مَصَائِبِ الدُّنْيَا. أَفَرَأَيْتُمْ جَزَعَ أَحَدِكُمْ مِنَ الشَّوْكَةِ تُصِيبُهُ، وَالْعَثْرَةِ تُدْمِيهِ، وَالرَّمْضَاءِ تُحْرِقُهُ؟ فَكَيْفَ إِذَا كَانَ بَيْنَ طَابَقَيْنِ مِنْ نَارٍ، ضَجِيعَ حَجَرٍ، وَقَرِينَ شَيْطَانٍ؟! أَعَلِمْتُمْ أَنَّ مَالِكاً إِذَا

په عمل کولو پابندکړي دي. د قرآن ربا يې بشپړه کړې او دين يې پرې کامل کړے دے، او خپل استازے يې هغه وخت له دنيا واخېستۀ چې د قرآن د احکامو له تبليغه اوزګار شوے ؤ، نو د خداے په لوئى او عظمت هغه شان اعتراف وکړئ څرنګه يې چې خپله لوئي بيان کړې ده، خداے تعالى له خپل دين څخه څه نۀ دي پټ کړي او هر هغه څه يې بيان کړي دي چې هغه پرې رضا يا خفه کېږي، د هغو لپاره يې ښکاره نښې بيان کړي دي، او يا يې محکم آيت نازل کړے دے چې ورته يې بللي يا ورځيني منعي کړي يئ، نو د خداے پاک رضا او غصه پخوا او نن يو شان ده. پوه شئ چې خداے پاک له تاسو په هغو کارونو باندې نۀ خوشحالېږي په کومو چې له تېرو خلقو غصه شوے دے، او په هغو کارونو نۀ غصه کېږي په کومو چې له تېرو خوشحال شوے دے، تاسو ته لاره بالکل صفا ده او د تېرو خلقو خبرې تکراروئ، خداے تعالى ستاسو دنياوي ضرورتونه پوره کړي او شکر ته يې هڅولي يئ او ستاسو له ژبو يې خپل ذکر غوښتے دے.

## تقوا ته بلنه

خداے تعالى تاسو ته د تقوا سپارښتنه کړې ده او هغه يې د خپلې رضا او له بندګانو څخه د خپلې غوښتنې اوچ ګرځولے دے، نو له هغه خدايه اوېرېږئ چې تاسو ورته حاضر يئ او ستاسو واګې يې په اختيار کښې دي او ستاسو ټول کړۀ وړۀ څاري. که څه پټ کړئ ترې خبر دے او که ښکاره يې کړئ ليکل کېږي، د عملونو د ليکلو لپاره يې عزتمنې فرښتې ګمارلې دي چې نۀ کوم حق هېروي او نۀ کوم باطل ثبتوي. «خبر اوسئ څوک چې له خدايه اوېرېږي خداے ورته له فتنو د ژغورنې لاره خلاصوي» او د هدايت په رڼا يې له تيرو اوباسي، او په جنت کښې او په هغه څه کښې چې خوښ يې دي د همېشه لپاره ورته د ورتګ لاره هواروي، خداے يې د خپل عزت په کور کښې مېشته کوي هغه کور چې خداے پاک خوښ کړے دے، چت يې الهي عرش او رڼا يې د خداے پاک ښکلا ده، زائران يې فرښتې، او دوستان او ملګري يې د خداے پېغمبران دي. نو د قيامت په لور اوځغلئ، او د مرګ له راتللو مخکې تيار شئ، ځکه چې د خلقو هيلې او اميدونه ناڅاپه غوڅ شي او مرګ يې ستونې ته واچوي، او د توبې لاره بنده شي. تاسو نن د هغو کسانو په ځاے ژوند کوئ چې له تاسو مخکې وو او ناڅاپه لاړل او له مرګه وروسته يې دنيا ته د ستنېدو غوښتنه وکړه.

## قيامت او الهي عذاب ياد ساتئ

اے خلقو! تاسو د لارې مسافر يئ، له دې دنيا نه د کوچ امر شوے دے چې دا دنيا ستاسو اصلي کور نۀ دے او د توښې د غونډولو امر درته شوے دے. خبر اوسئ! دا نازکه څرمنه،د دوزخ د اور طاقت نۀ لري. نو په ځان اورحمېږئ، تاسو د دنيا مصيبتونه اوزمايل. ولې تاسو نۀ دي ليدلي چې کله د يو کس په بدن کښې ازغي لاړ شي يا يې پښه په تيندک سره ژوبله شي يا د دښتو په ګرمو ريګو ګرځي نو څومره په کړاو وي او ليدلي به مو وي چې زغمل يې ورته څومره سخت وي؟ نو څنګه به يې

غضب عَلَى النَّار حَطَمَ بَعْضُهَا بَعْضاً لغضبه، وإذَا زَجَرَهَا تَوَثَّبَتْ بَيْنَ أَبوَابِهَا جزعاً مِنْ زَجْرَتِهِ؟! أَيُّهَا الْيَفَنُ الْكَبِيرُ، الَّذِي قَدْ لَهَزَهُ الْقَتِيرُ، كَيْفَ أَنْتَ إذَا الْتَحَمَتْ أَطْوَاقُ النَّار بِعظَامِ الاَعْنَاقِ، وَنَشِبَتِ الجَوَامِعُ حَتَّى أَكَلَتْ لُحُومَ السَّوَاعِدِ؟

فَاللهَ اللهَ مَعْشَرَ الْعِبَادِ! وَأَنْتُمْ سَالِمُونَ فِي الصِّحَّةِ قَبْلَ السُّقْمِ، وَفِي الْفُسْحَةِ قَبْلَ الضِّيقِ، فَاسْعَوْا فِي فَكَاكِ رِقَابِكُمْ مِنْ قَبْلِ أَنْ تُغْلَقَ رَهَائِنُهَا، أَسْهِرُوا عُيُونَكُمْ، وَأَضْمِرُوا بُطُونَكُمْ، وَاسْتَعْمِلُوا أَقْدَامَكُمْ، وَأَنْفِقُوا أَمْوَالَكُمْ، وَخُذُوا مِنْ أَجْسَادِكُمْ تَجُودُوا بِهَا عَلَى أَنْفُسِكُمْ، وَلاَ تَبْخَلُوا بِهَا عَنْهَا، فَقَدْ قَالَ اللهُ سُبْحَانَهُ: ﴿إِنْ تَنْصُرُوا اللهَ يَنْصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ﴾، وَقَالَ تَعَالَى: ﴿مَنْ ذَا الَّذِي يُقْرِضُ اللهَ قَرْضاً حَسَناً فَيُضَاعِفَهُ لَهُ وَلَهُ أَجْرٌ كَرِيمٌ﴾، فَلَمْ يَسْتَنْصِرْكُمْ مِنْ ذُلٍّ، وَلَمْ يَسْتَقْرِضْكُمْ مِنْ قُلٍّ، اسْتَنْصَرَكُمْ وَلَهُ جُنُودُ السَّمَاوَاتِ وَالاَرْضِ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ، وَاسْتَقْرَضَكُمْ وَلَهُ خَزَائِنُ السَّمَاوَاتِ وَالاَرْضِ وَهُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيدُ، وَإِنَّمَا أَرَادَ أَنْ يَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلاً. فَبَادِرُوا بِأَعْمَالِكُمْ تَكُونُوا مَعَ جِيرَانِ اللهِ فِي دَارِهِ، رَافَقَ بِهِمْ رُسُلَهُ، وَأَزَارَهُمْ مَلاَئِكَتَهُ، وَأَكْرَمَ أَسْمَاعَهُمْ أَنْ تَسْمَعَ حَسِيسَ نَارٍ أَبَداً، وَصَانَ أَجْسَادَهُمْ أَنْ تَلْقَى لُغُوباً وَنَصَباً، ﴿ذلِكَ فَضْلُ اللهِ يُؤْتِيهِ مَنْ يَشَاءُ وَاللهُ ذُوالْفَضْلِ الْعَظِيمِ﴾. أَقُولُ مَا تَسْمَعُونَ، وَاللهُ الْمُسْتَعَانُ عَلَى نَفْسِي وَأَنْفُسِكُمْ، وَهُوَ حَسْبُنَا وَنِعْمَ الْوَكِيلُ!

[ ١٨٤ ]

وَمِنْ كَلاَمٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ قَالَهُ لِلْبُرْجِ بْنِ مُسْهِرٍ الطَّائِيّ، وَقَدْ قَالَ لَهُ بِحَيْثُ يُسْمِعُهُ: لاَ حُكْمَ إِلاَّ للهِ، وَكَانَ مِنَ الْخَوَارِجِ:

اسْكُتْ قَبَحَكَ اللهُ يَا أَثْرَمُ، فَوَاللهِ لَقَدْ ظَهَرَ الْحَقُّ فَكُنْتَ

زغمئ چې د اور د دوو طبقو په مينځ او د سرو کړو کانړو په خوا کښې او د شېطان په څنګ کښې يئ. آيا تاسو ته پته ده چې کله د دوزخ مالک په اور باندې غضبناک شي نو لمبې يې په يو بل اوړي راوړي او يو بل خپې. او کله چې په اور ورچغه کړي نو د دوزخ په دروازو کښې له هر لوري يې لمبې اوچتيږي؟ نو اے زوړ بوډا! چې زړبوډۍ رانيولے يې هغه وخت به ستا څه حال وي چې د اور غړوندي غاړې ته درواچول شي او اورين زنځيرونه او زولنې لاسو او غاړې ته در واغوندولې شي تر دې چې د لاسونو غوښې دې اوخوري.

## له دنيا نه د استفادې طريقه

د خدائے لپاره د خدائے لپاره! اے د خدائے بندګانو! پروا وکړئ په داسې حال کښې چې روغ يئ مخکې له دې چې ناروغه شئ او سوکاله يئ مخکې له دې چې تنګلاسي شئ، آزاد يئ مخکې له دې چې د هيلې ورونه در باندې وتړل شي، له دوزخه د بچکېدو هڅه وکړئ،د شپې په زړه کښې د شب بېدارۍ په کولو او له خېټه ورۍ په ډېره کولو سره د خدائے پاک اطاعت وکړئ، په خپلو مالونو سره انفاق وکړئ له بدنونو څخه موکم کړئ او په روحونو باندې مو ورزيات کړئ، په بښيندنه او ايثار کښې شومتوب مه کوئ ځکه چې پاک خدائے فرمائي:«که د خدائے مرسته وکړئ ستاسو مرسته کوي او ګامونه مو کلکوي» او فرمايي:«څوک دي چې خدائے ته نېکه قرضه ورکړي. چې خدائے يې څو چنده ورستنه کړي او هغه ته بې عيبه بدله ورکړي» خدائے له تاسو مرسته د دې لپاره نۀ غواړي چې ګوندې ناتوانه دے او قرض درځينې نۀ غواړي چې ګوندې غريب دے. هغه په د اسې حال کښې له تاسو مرسته غواړي چې «د ځمکې او آسمانونو لښکرونه د هغۀ په واک کښې دي او خدائے پياوړے او حکيم دے» او په داسې حال کښې له تاسو پور غواړي چې د ځمکې او آسمانونو خزانې د هغۀ دي، او خدائے بې نيازه او حميد دے، بلکه غواړي چې تاسو اوزمائي چې په تاسو کښې کوم يو ډېر نېک دے، نو نېک عملونه وکړئ چې د خدائے پاک له ګاونډيانو سره د هغۀ په سرائې کښې اوسېږئ چې همنشينان يې پېغمبران او زيارت کوونکي يې فرښتې دي او د اسې عزت به يې کېږي چې د اور غلے غږ به هم نۀ اوري او بدن ته به يې هيڅ ډول تاوان او کړاو نۀ رسېږي. «دا د خدائے فضل دے هر چاته چې وغواړي ورکوي يې او خدائے د لوے فضل څښتن دے»

زۀ هغه څه چې تاسو يې اورئ وايم او خدائے تعالى د ځان او ستاسو مرستې ته رابولم ځکه چې هغه کفايت کوونکے او ښه وکيل دے.

## يوسل څلوراتيايمه خطبه

(برج بن مسهر طائي چې د خوارجو مشهور شاعر ؤ په اوچت آواز يې وويل «لاَ حُكْمَ إِلاَّ لله» «يعنې حکم يواځې خدائے لره دے» امام د هجرت په اتۀ دېرشم کال په کوفه کښې د هغۀ په ځواب کښې وفرمايل:)

غلے شه! خدائے دې مخ بدرنګ کړه اے کنډاسه، په خدائے قسم! کله

فيه ضَئيلاً شَخْصُكَ، خَفِيّاً صَوْتُكَ، حَتَّى إذَا نَعَرَ الْبَاطِلُ نَجَمْتَ نُجُومَ قَرْنِ الْمَاعِزِ.

[ ۱۸۵ ]

حَمْدُ الله تَعَالَى

الْحَمْدُ لله الَّذِي لاَ تُدْرِكُهُ الشَّوَاهِدُ، وَلاَ تَحْوِيهِ الْمَشَاهِدُ، وَلاَ تَرَاهُ النَّوَاظِرُ، وَلاَ تَحْجُبُهُ السَّوَاتِرُ، الدَّالِّ عَلَى قِدَمِهِ بِحُدُوثِ خَلْقِهِ، وَبِحُدُوثِ خَلْقِهِ عَلَى وُجُودِهِ، وَبِاشْتِبَاهِهِمْ عَلَى أَنْ لاَ شَبَهَ لَهُ، الَّذِي صَدَقَ فِي مِيعَادِهِ، وَارْتَفَعَ عَنْ ظُلْمِ عِبَادِهِ، وَقَامَ بِالْقِسْطِ فِي خَلْقِهِ، وَعَدَلَ عَلَيْهِمْ فِي حُكْمِهِ، مُسْتَشْهِدٌ بِحُدُوثِ الاَشْيَاءِ عَلَى أَزَلِيَّتِهِ، وَبِمَا وَسَمَهَا بِهِ مِنَ الْعَجْزِ عَلَى قُدْرَتِهِ، وَبِمَا اضْطَرَّهَا إِلَيْهِ مِنَ الْفَنَاءِ عَلَى دَوَامِهِ، وَاحِدٌ لاَ بِعَدَدٍ، وَدَائِمٌ لاَ بِأَمَدٍ، وَقَائِمٌ لاَ بِعَمَدٍ، تَتَلَقَّاهُ الاَذْهَانُ لاَ بِمُشَاعَرَةٍ، وَتَشْهَدُ لَهُ الْمَرَائِي لاَ بِمُحَاضَرَةٍ، لَمْ تُحِطْ بِهِ الاَوْهَامُ، بَلْ تَجَلَّى لَهَا بِهَا، وَبِهَا امْتَنَعَ مِنْهَا، وَإِلَيْهَا حَاكَمَهَا، لَيْسَ بِذِي كِبَرٍ امْتَدَّتْ بِهِ النِّهَايَاتُ فَكَبَّرَتْهُ تَجْسِيماً، وَلاَ بِذِي عِظَمٍ تَنَاهَتْ بِهِ الْغَايَاتُ فَعَظَّمَتْهُ تَجْسِيداً بَلْ كَبُرَ شَأْناً، وَعَظُمَ سُلْطَاناً.

الرَّسُولُ الأَعْظَمُ: وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّداً عَبْدُهُ الصَّفِيُّ، وَأَمِينُهُ الرَّضِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ أَرْسَلَهُ بِوُجُوبِ الْحُجَجِ، وَظُهُورِ الْفَلَجِ، وَإِيضَاحِ الْمَنْهَجِ، فَبَلَّغَ الرِّسَالَةَ صَادِعاً بِهَا، وَحَمَلَ عَلَى الْمَحَجَّةِ دَالاًّ عَلَيْهَا، وَأَقَامَ أَعْلاَمَ الاهْتِدَاءِ وَمَنَارَ الضِّيَاءِ، وَجَعَلَ أَمْرَاسَ الاسْلاَمِ مَتِينَةً، وَعُرَا الايمَانِ وَثِيقَةً.

مِنْهَا: وَلَوْ فَكَّرُوا فِي عَظِيمِ الْقُدْرَةِ، وَجَسِيمِ النِّعْمَةِ، لَرَجَعُوا إِلَى الطَّرِيقِ، وَخَافُوا عَذَابَ الْحَرِيقِ، وَلكِنَّ الْقُلُوبَ عَلِيلَةٌ، وَالاَبْصَارَ مَدْخُولَةٌ! أَلاَ تَنْظُرُونَ إِلَى صَغِيرِ مَا خَلَقَ اللهُ، كَيْفَ أَحْكَمَ خَلْقَهُ، وَأَتْقَنَ تَرْكِيبَهُ، وَفَلَقَ لَهُ

چې حق ښکاره شو ته کمزورے وې او په غږ کښې دې زور نۀ ؤ او کله چې د باطل غږ پورته شو د چيلي د ښکر په شان راښکاره شوې.

## ﴿يو سل پينځۀ اتيا يمه خطبه﴾

### خدا ے پېژندنه

حمد او ستائنه هغه خدا ے لره ده چې پينځګوني حواس يې نۀ شي درک کولے او ځا ے يې نۀ شي احاطه کولے، سترګې يې نۀ شي ليدلے او جامې يې نۀ شي پټولے، د مخلوقاتو په پېدا کولو سره يې خپل ازلي والے ثابت کړ او په ډول ډول مخلوقاتو سره يې خپل وجود اثبات کړ او د مخلوقاتو په يوشان والي سره يې ثابته کړه چې هغه په خپله سارے او يوشان والے نۀ لري. په خپلو وعدو کښې رښتينے د ے او په خپلو بندګانو باندې له ظلمه ډېر اوچت د ے.له خپلو مخلوقاتو سره يې په انصاف سره چلند کړے او د احکامو په اجرا کښې يې عادلانه امر کړ ے د ے. د څيزونو په حدوث والي سره يې په خپل ازلي والي استدلال کړے او د مخلوقاتو ناتواني د هغۀ د بې ساري قدرت ښنبه، او د مخلوقاتو ختمېدل يې د تل پاتې والي ښنبه ده. خدا ے پاک يو د ے خو نۀ په شمېر سره، همېشنے د ے خو نۀ د وخت په حساب سره، قائم د ے خو نۀ په قائمېدونکې (ستنې) سره، ذهنونه يې مني خو د مشاهدې له مخې نه، د خلقت ښنبې يې د موجوديت ګواهي ورکوي خو نۀ په مادي موجوديت سره، فکرونه او اندونه يې په ذات باندې ولکه نۀ لري بلکه هغۀ ورته ځان ځلولے او ښکاره کړے د ے، او ښودلې يې ده چې هغه نۀ شي تصورکولي، او دغه د ناتوانۍ قضاوت يې هم په خپله د فکرونو او عقلونو په غاړه اېښے د ے. هغه داسې لو ے نۀ د ے چې ګوندې پلنوالے، غټوالے او اوږدوالے ولري. او عظمت لري خو داسې نه چې ګوندې بدن يې ډېر لو ے او غټ وي بلکه د خدا ے پاک لو ے والے د هغۀ د شان په لو ے والي او د حکومت او ولکې په قدرت کښې د ے.

### د اسلام د پېغمبر ﷺ ځانګړتياوې او خصوصيتونه

ګواهي ورکوم چې محمد ﷺ د خدا ے بنده او استاز ے، غوره کړ ے شو ے پېغمبر او د هغۀ خوښ کړ ے شو ے امانتدار د ے.د خدا ے سلام دې وي په هغۀ او د هغۀ په عترت باندې، خدا ے تعالی هغه په پابندوونکو دليلونو او ښکاره کاميابۍ او روښانه لارې سره رالېږۀ. نو خپل رسالت يې ښکاره ورسوۀ، او خلق يې نېغې لارې ته راوبلل، او هغه يې ټولو ته وښودله، د هدايت بېرغ يې هسک کړ او د خلقو په لاره کښې يې ځلانده څراغونه بل کړل، د اسلام لړۍ يې مضبوطه کړه او د ايمان لاسوندونه يې کلک کاندل.

### د خدا ے پېژندنې لارې

که خلقو د خدا ے د قدرت په سترتوب او د هغۀ د نعمتونو په لو ے والي کښې فکر کولې نو نېغې لارې ته به ستانۀ شوي او له سوځونکي عذابه به ويرېدلي وو. خو زړونه بيمار او نظرونه معيوب دي، آيا د

السَّمْعَ وَالْبَصَرَ، وَسَوَّى لَهُ الْعَظْمَ وَالْبَشَرَ! انْظُرُوا إِلَى النَّمْلَةِ فِي صِغَرِ جُثَّتِهَا، وَلَطَافَةِ هَيْئَتِهَا، لاَ تَكَادُ تُنَالُ بِلَحْظِ الْبَصَرِ، وَلاَ بِمُسْتَدْرَكِ الْفِكَرِ، كَيْفَ دَبَّتْ عَلَى أَرْضِهَا، وَصَبَتْ عَلَى رِزْقِهَا، تَنْقُلُ الْحَبَّةَ إِلَى جُحْرِهَا، وَتُعِدُّهَا فِي مُسْتَقَرِّهَا. تَجْمَعُ فِي حَرِّهَا لِبَرْدِهَا، وَفِي وُرُودِهَا لِصَدَرِهَا، مَكْفُولٌ بِرِزْقِهَا، مَرْزُوقَةٌ بِوِفْقِهَا، لاَ يُغْفِلُهَا الْمَنَّانُ، وَلاَ يَحْرِمُهَا الدَّيَّانُ، وَلَوْ فِي الصَّفَا الْيَابِسِ، وَالْحَجَرِ الْجَامِسِ! وَلَوْ فَكَّرْتَ فِي مَجَارِي أُكْلِهَا، وَفِي عُلْوِهَا وَسُفْلِهَا، وَمَا فِي الْجَوْفِ مِنْ شَرَاسِيفِ بَطْنِهَا، وَمَا فِي الرَّأْسِ مِنْ عَيْنِهَا وَأُذُنِهَا، لَقَضَيْتَ مِنْ خَلْقِهَا عَجَباً، وَلَقِيتَ مِنْ وَصْفِهَا تَعَباً! فَتَعَالَى الَّذِي أَقَامَهَا عَلَى قَوَائِمِهَا، وَبَنَاهَا عَلَى دَعَائِمِهَا! لَمْ يَشْرَكْهُ فِي فِطْرَتِهَا فَاطِرٌ، وَلَمْ يُعِنْهُ عَلَى خَلْقِهَا قَادِرٌ. وَلَوْ ضَرَبْتَ فِي مَذَاهِبِ فِكْرِكَ لِتَبْلُغَ غَايَاتِهِ، مَا دَلَّتْكَ الدَّلاَلَةُ إِلاَّ عَلَى أَنَّ فَاطِرَ النَّمْلَةِ هُوَ فَاطِرُ النَّخْلَةِ، لِدَقِيقِ تَفْصِيلِ كُلِّ شَيْءٍ، وَغَامِضِ اخْتِلاَفِ كُلِّ حَيٍّ، وَمَا الْجَلِيلُ وَاللَّطِيفُ، وَالثَّقِيلُ وَالْخَفِيفُ، وَالْقَوِيُّ وَالضَّعِيفُ، فِي خَلْقِهِ إِلاَّ سَوَاءٌ. وَكَذلِكَ السَّمَاءُ وَالْهَوَاءُ وَالرِّيَاحُ وَالْمَاءُ. فَانْظُرْ إِلَى الشَّمْسِ وَالْقَمَرِ، وَالنَّبَاتِ وَالشَّجَرِ، وَالْمَاءِ وَالْحَجَرِ، وَاخْتِلاَفِ هذَا اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ، وَتَفَجُّرِ هذِهِ الْبِحَارِ، وَكَثْرَةِ هذِهِ الْجِبَالِ، وَطُولِ هذِهِ الْقِلاَلِ، وَتَفَرُّقِ هذِهِ اللُّغَاتِ وَالأَلْسُنِ الْمُخْتَلِفَاتِ. فَالْوَيْلُ لِمَنْ جَحَدَ الْمُقَدِّرَ، وَأَنْكَرَ الْمُدَبِّرَ! زَعَمُوا أَنَّهُمْ كَالنَّبَاتِ مَا لَهُمْ زَارِعٌ، وَلاَ لاخْتِلاَفِ صُوَرِهِمْ صَانِعٌ، وَلَمْ يَلْجَأُوا إِلَى حُجَّةٍ فِيمَا ادَّعَوْا، وَلاَ تَحْقِيقٍ لِمَا أَوْعَوْا، وَهَلْ يَكُونُ بِنَاءٌ مِنْ غَيْرِ بَانٍ، أَوْ جِنَايَةٌ مِنْ غَيْرِ جَانٍ؟!

خِلْقَةُ الْجَرَادَةِ: وَإِنْ شِئْتَ قُلْتَ فِي الْجَرَادَةِ، إِذْ خَلَقَ لَهَا عَيْنَيْنِ حَمْرَاوَيْنِ، وَأَسْرَجَ لَهَا حَدَقَتَيْنِ قَمْرَاوَيْنِ، وَجَعَلَ لَهَا السَّمْعَ الْخَفِيَّ، وَفَتَحَ لَهَا الْفَمَ السَّوِيَّ، وَجَعَلَ لَهَا الْحِسَّ الْقَوِيَّ، وَنَابَيْنِ بِهِمَا تَقْرِضُ، وَمِنْجَلَيْنِ بِهِمَا تَقْبِضُ، يَرْهَبُهَا الزُّرَّاعُ فِي زَرْعِهِمْ،

خداے وړو مخلوقاتو ته نۀ ګورئ چې څرنګه یې محکم پنځولي دي، او جوړښت یې وربرابر کړے او غوږونه او سترګې یې ورکړې دي، او مناسب هډونه او پوستکي یې ورلورولي دي. مېږي او وړې جوثې ته یې وګورئ چې څرنګه یې د خلقت لطافت د انسان عقل او سترګې نۀ شي درک کولي، څرنګه په ځمکه خوځېږي او د روزۍ د ګټلو لپاره هڅه کوي، دانې مېږتون ته وړي او په ځانګړي او خاص ځاے کښې یې خوندي کوي، په اوړي کښې د ژمي لپاره زیار اوباسي او د ننوتلو په وخت راوتل نۀ هېروي! د مېږي روزي ورکړل شوې او له طبعې سره برابر خواړۀ یې پنځول شوې دي منان خداے ورځنیې غفلت نۀ کوي او پالونکي یې بې برخې کوي نه، که څه هم د سخت او صفا کاڼي په زړۀ کښې وي یا د اوچ خټ په مینځ کښې وي، که د هغۀ په نالیو کښې خواړو ته سوچ وکړې او په مېده کښې یې لاندې باندې برخو ته ځیر شې او په خېټه کښې دننه او د خېټې په لور دننه شوې د پښتیو خواوشا ته یې وګورې او هغه څه چې د هغۀ په سر کښې دي یعنې سترګې او غوږونه یې وګورې نو د مېږي په خلقت به اریان دریان پاتې شې او له ستائنې به یې پاتې راشې، نو لوے دے هغه خداے پاک چې مېږے یې په لاسو پښو اودروۀ او تنه یې په همدغو پښو ورقائمه کړه، د دې مېږي په پنځون کښې هیڅا له خداے پاک سره مرسته نۀ ده کړې او هیڅ پنځوونکي یې کمک نۀ دے کړے، او که د فکر نیلي دې اوځغلوې چې د خلقت په راز یې وپوهېږې نو روښانه دلیلونه به دروښیي چې د دغه وړوکي مېږي پنځګر او خالق هماغه د کهجورې د لوې ونې خالق دے، ځکه چې په هر خلقت کې همداسې لطیف ټکے او تفاوتونه نغښتې دي ټول درانۀ او سپک لوے او واړۀ او پیاوړي او کمزروي مخلوقات د ژوند او حیات په اصولو کښې یوشان دي او د آسمانونو هوا، بادونو او اوبو خلقت یو دے، نو فکر وکړه په نمر او سپوږمۍ کښې په ونو او بوټو کښې او په اوبو او کاڼي کښې او د شپې او ورځې په بدلېدو کښې، د دریابونو په ځوښېدو کښې، د غرونو په زیاتوالي، د څوکو په لوړاوي د لغتونو په ډول ډول والي،د ژبو په رنګارنګ والي«چې دا ټولې د پالونکي روښانه نښې دي» نو افسوس دے په هغه چا چې تقدیر کوونکے ونۀ مني او له تدبیروونکي انکار وکړي! دوي چې ګمان کوي چې د بوټو په شان دي او کروند ګر نۀ لري او د مخونو اختلاف یې کوم خالق نۀ دے جوړ کړے، په خپل ادعا دلیل نۀ لري او څه چې یې په مازغو کښې ګرځي څېړنه نۀ کوي آیا کېدې شي چې یوه ودانۍ بې له ودوانوونکي جوړه شي یا یو جرم بې مجرمه اوشي.

## د ملخ د خلقت حېرانتیاوې

او که غواړې د ملخ (د خلقت په اړه) خبره وکړم، چې خداے پاک ورته دوه سرې سترګې ورکړې او په دوو حدقو (کاسو) کښې یې څراغونه وربل کړل، او پټ غوږونه او د اندامونو مناسبه خوله یې ورکړه،

ولاَ يَسْتَطيعُونَ ذَبَّهَا، ولَوْ أَجْلَبُوا بجَمْعهم، حَتّى تَرِدَ الْحَرْثَ في نَزَوَاتها، وتَقْضي منْهُ شهواتها، وخَلْقُهَا كُلُّـهُ لاَ يُكَـوِّنُ إصْـبَعاً مُسْتَدِقَّةً.فتبَارَكَ اللهُ الَّذي يَسْجُدُ لَهُ مَنْ في السَّـماوات والاَرْض طَوْعاً وكَرْهاً، ويُعَفِّرُ لَهُ خَدّاً ووجْهاً، ويُلْقي بالْطَّاعة إلَيْه سِـلْماً وَضعْفاً، ويُعْطي الْقيادَ رهْبَـةً وَخَوْفـاً! فَـالطَّيْرُ مُسَـخَّرَةٌ لاَمْـره، أَحْصَى عدَدَ الرِّيش منْهَا وَالنَّفَس، وأَرْسَى قَوَائمَهَا عَلَى النَّـدَى وَالْيَبَس، قدَّرَ أَقْوَاتَهَا، وأَحْصَى أَجْنَاسَـهَا، فهَـذَا غُـرابٌ وهَـذَا عُقَابٌ، وهذَا حَمامٌ وهَذَا نَعامٌ، دَعَا كُلَّ طَائر بَاسْمه، وكَفَلَ لَـهُ برزْقه. وأَنْشَأَ السَّحَابَ الثِّقَالَ، فَأَهْطَلَ ديمَهَا، وعَدَّدَ قسَمَهَا، فَبَلَّ الاَرْضَ بَعْدَ جُفُوفهَا، وأَخْرَجَ نَبْتَهَا بَعْدَ جُدُوبهَا.

[ ١٨٦ ]

في التَّوْحيد

وتَجْمَعُ هَذه الْخُطْبَةُ منْ أُصُول الْعُلُوم مَا لاَ تَجْمَعُهُ خُطْبَةٌ

مَا وَحَّدَهُ مَنْ كَيَّفَهُ، وَلاَ حَقيقَتَهُ أَصَابَ مَنْ مَثَّلَهُ، وَلاَ إيَّـاهُ عَنَـى مَنْ شَبَّهَهُ، وَلاَ صَمَدَهُ مَنْ أَشَارَ إلَيْه وتَوَهَّمَهُ. كُلُّ مَعْرُوف بنَفْسه مَصْنُوعٌ، وَكُلُّ قَائم في سوَاهُ مَعْلُولٌ. فَاعلٌ لاَ باضْـطرَاب آلَـة، مُقَدِّرٌ لاَ بجَوْل فكْرَة، غَنيٌّ لاَ باسْتفَادَة. لاَ تَصْحَبُهُ الاَوْقَاتُ، وَلاَ تَرْفدُهُ الاَدَوَاتُ، سَبَقَ الاَوْقَاتَ كَوْنُهُ، وَالْعَدَمَ وُجُودُهُ، وَالابْتـدَاءَ أَزَلُهُ. بتَشْعيره الْمَشَاعرَ عُرفَ أَنْ لاَ مَشْعَرَ لَـهُ، وَبمُضَـادَّته بَـيْنَ الاُمُور عُرفَ أَنْ لاَ ضدَّ لَهُ، وَبمُقَارَنَته بَيْنَ الاَشْـيَاء عُـرفَ أَنْ لاَ قَرينَ لَهُ. ضَادَّ النُّورَ بالظُّلْمَـة، وَالْوُضُـوحَ بالْبُهْمَـة، وَالْجُمُـودَ بالْبَلَل، وَالْحَرُورَ بالصَّـرَد.مُؤَلِّفٌ بَـيْنَ مُتَعَاديَاتهَـا، مُقَـارنٌ بَـيْنَ مُتَبَاينَاتهَا، مُقَرِّبٌ بَيْنَ مُتَبَاعدَاتهَا، مُفَرِّقٌ بَيْنَ مُتَدَانيَاتهَا. لاَ يُشْمَلُ بحَدٍّ، وَلاَ يُحْسَبُ بعَدٍّ، وَإنَّمَـا تَحُـدُّ الاَدَوَاتُ أَنْفُسَـهَا، وَتُشـيرُ الآلاَتُ إلَى نَظَائرهَا، مَنَعَتْهَا «مُنْذُ» الْقدْمَةَ، وَحَمَتْهَا «قَدُ» الاَزَليَّةَ،

پیاوړے حس او دوه تېرې داړې لري چې بوټي راشوکوي او د لوړونو په شان دوه پښې چې څیزونه پرې نیسي، کرونډګر د کرونډې لپاره له هغوي ویرېږي او د دفع کولو توان یې نۀ لري، که څه هم یو بل ته لاسونه ورکړي، ملخان ځواکمن پر پټیو ورګډېږي او څه چې یې زړۀ غواړي خوري یې، حال دا چې ټول وجود یې د یوې نرۍ ګوتې هومره نۀ کېږي.
نو لوے دے هغه پالونکے چې «د ځمکې او آسمانونو ټول مخلوقات ورته ارو مرو سجده کوي» او په وړاندې یې په عاجزۍ مخ په خاوره لګوي، په سلامتیا او روغتیا کښې د هغۀ د اطاعت غړوندے غاړې ته اچوي، او د ویرې او ترهې له مخې د خپلو چارو واګې ورسپاري، مارغان د هغه امر ته رام دي او د مارغانو د وزرو او ساګانو له شمېره خبر دے،دا کارغۀ دے او هغه باز، دا شتر مرغ دے او هغه کونتره. هر مارغۀ ته یې خپل نوم ورکړ او خپله روزي یې وربرابره کړه، هغه خداے چې درنې وریځې یې برابرې کړې او پرله پسې ورښتونه او بارانونه یې راولېږل، او د هر ځاے د باران ونډه یې وټاکله، اوچې ځمکې یې خړوب کړې او له وچکالۍ وروسته یې بوټي زرغون کړل.

## ﴿یو سل شپږاتیایمه خطبه﴾

(د اصول کافي د وړومبي ټوک په ۱۳۱ مخ کښې راغلي دي چې دا وینا یې په کوفه کښې کړې ده او د توحید او د خداے پېژندنې په حقله ده چې علمي اصول یې په هیڅ یوې خطبې کښې نۀ پیدا کېږي)

### د خداے پاک صحیح پېژندل

څوک چې د خداے پاک لپاره د کیفیت (څرنګوالي) قائل شو د هغۀ د یووالي او وحدانیت انکار یې کړے دے، او چا چې ورته سارے وټاکۀ حقیقت ته یې نۀ دے رسېدلے، چا چې خداے پاک د یو څیز په شان وبلۀ مقصد ته نۀ دے رسېدلے او چا چې ورته اشاره وکړه هغه یې په تصور کښې راوستے او بې نیازه یې نۀ دے ګڼلے. هر هغه څیز چې ذات یې پېژندل شوے وي مخلوق دے او چې په بل باندې په تکیې سره قائم وي هغه خالق او علت ته محتاج وي، هغه داسې جوړوونکے دے چې آلې او وسیلې ته ضرورت نۀ لري او داسې اندازه کوونکے دے چې له فکر او سوچه بې نیازه دے. د نورو له مرستې بې نیازه دے له زمانو سره مل نۀ ؤ او له آلاتو او وسائلو څخه یې مرسته نۀ ده اخیستې،د هغۀ هستي له زمان او وخته لوړه او وجود یې تر عدمه مخکې دے، او ازلیت یې له شروع او ابتدا څخه مخکې دے.حواس یې پیدا کړل نو پوهېږوو چې هغه له حواسو بې نیازه دے او د څیزونو په مینځ کښې یې اضداد وګرځول نو پوه شوو چې هغه ضد نۀ لري، او د څیزونو په غېرملولو سره پوهېږو چې هغه سارے او شبیه نۀ لري، هغه خداے چې رڼا یې له تیرې، ښکاره یې له پټ، اوچ یې له لمدۀ، او تودوخه یې له سړوخې سره ضد وګرځوله، او متضاد توکي او عناصر یې له یو بل سره ترکیب کړل، او د اضدادو په مینځ کښې یې هم یووالے راوستۀ، لرې څیزونه یې یو بل ته نزدې او نزدې څیزونه یې له یو بله لرې کړل، هغه خداے چې حد نۀ

وَجَنَّبَتْهَا «لَوْلَا» التَّكْمِلَةَ! بِهَا تَجَلَّى صَانِعُهَا لِلْعُقُولِ، وَبِهَا امْتَنَعَ عَنْ نَظَرِ الْعُيُونِ. لَا يَجْرِي عَلَيْهِ السُّكُونُ وَالْحَرَكَةُ، وَكَيْفَ يَجْرِي عَلَيْهِ مَا هُوَ أَجْرَاهُ، وَيَعُودُ فِيهِ مَا هُوَ أَبْدَاهُ، وَيَحْدُثُ فِيهِ مَا هُوَ أَحْدَثَهُ ؟! إِذاً لَتَفَاوَتَتْ ذَاتُهُ، وَلَتَجَزَّأَ كُنْهُهُ، وَلَامْتَنَعَ مِنَ الْأَزَلِ مَعْنَاهُ، وَلَكَانَ لَهُ وَرَاءٌ إِذْ وُجِدَ لَهُ أَمَامٌ، وَلَالْتَمَسَ التَّمَامَ إِذْ لَزِمَهُ النُّقْصَانُ. وَإِذاً لَقَامَتْ آيَةُ الْمَصْنُوعِ فِيهِ، وَلَتَحَوَّلَ دَلِيلاً بَعْدَ أَنْ كَانَ مَدْلُولاً عَلَيْهِ، وَخَرَجَ بِسُلْطَانِ الْامْتِنَاعِ مِنْ أَنْ يُؤَثِّرَ فِيهِ مَا يُؤَثِّرُ فِي غَيْرِهِ. الَّذِي لَا يَحُولُ وَلَا يَزُولُ، وَلَا يَجُوزُ عَلَيْهِ الْأُفُولُ. لَمْ يَلِدْ فَيَكُونَ مَوْلُوداً، وَلَمْ يُولَدْ فَيَصِيرَ مَحْدُوداً، جَلَّ عَنِ اتِّخَاذِ الْأَبْنَاءِ، وَطَهُرَ عَنْ مُلَامَسَةِ النِّسَاءِ. لَا تَنَالُهُ الْأَوْهَامُ فَتُقَدِّرَهُ، وَلَا تَتَوَهَّمُهُ الْفِطَنُ فَتُصَوِّرَهُ، وَلَا تُدْرِكُهُ الْحَوَاسُّ فَتُحِسَّهُ، وَلَا تَلْمِسُهُ الْأَيْدِي فَتَمَسَّهُ. وَلَا يَتَغَيَّرُ بِحَالٍ، وَلَا يَتَبَدَّلُ فِي الْأَحْوَالِ، وَلَا تُبْلِيهِ اللَّيَالِي وَالْأَيَّامُ، وَلَا يُغَيِّرُهُ الضِّيَاءُ وَالظَّلَامُ، وَلَا يُوصَفُ بِشَيْءٍ مِنَ الْأَجْزَاءِ، وَلَا بِالْجَوَارِحِ وَالْأَعْضَاءِ، وَلَا بِعَرَضٍ مِنَ الْأَعْرَاضِ، وَلَا بِالْغَيْرِيَّةِ وَالْأَبْعَاضِ. وَلَا يُقَالُ: لَهُ حَدٌّ وَلَا نِهَايَةٌ، وَلَا انْقِطَاعٌ وَلَا غَايَةٌ، وَلَا أَنَّ الْأَشْيَاءَ تَحْوِيهِ فَتُقِلَّهُ أَوْ تُهْوِيَهُ، أَوْ أَنَّ شَيْئاً يَحْمِلُهُ، فَيُمِيلَهُ أَوْ يُعَدِّلَهُ. لَيْسَ فِي الْأَشْيَاءِ بِوَالِجٍ، وَلَا عَنْهَا بِخَارِجٍ. يُخْبِرُ لَا بِلِسَانٍ وَلَهَوَاتٍ، وَيَسْمَعُ لَا بِخُرُوقٍ وَأَدَوَاتٍ، يَقُولُ وَلَا يَلْفِظُ، وَيَحْفَظُ وَلَا يَتَحَفَّظُ، وَيُرِيدُ وَلَا يُضْمِرُ. يُحِبُّ وَيَرْضَى مِنْ غَيْرِ رِقَّةٍ، وَيُبْغِضُ وَيَغْضَبُ مِنْ غَيْرِ مَشَقَّةٍ. يَقُولُ لِمَا أَرَادَ كَوْنَهُ: "كُنْ" فَيَكُونُ، لَا بِصَوْتٍ يَقْرَعُ، وَلَا بِنِدَاءٍ يُسْمَعُ، وَإِنَّمَا كَلَامُهُ سُبْحَانَهُ فِعْلٌ مِنْهُ أَنْشَأَهُ وَمَثَّلَهُ، لَمْ يَكُنْ مِنْ قَبْلِ ذَلِكَ كَائِناً، وَلَوْ كَانَ قَدِيماً لَكَانَ إِلَهاً ثَانِياً. لَا يُقَالُ: كَانَ بَعْدَ أَنْ لَمْ يَكُنْ، فَتَجْرِيَ

لري، او په شمېر سره نۀ شمېرل کېږي ځکه چې جسماني څيزونه د خپل ځان په شان څيزونه محدودولې شي او بې له شکه اوزار او الات د ځان د محدودوالي دليل دے او د خپل ځان په شان څيز ته اشاره کولې شي، دا چې وايو چې پلانکے څيز له پلانکي وخته «مُنذ» جوړ شوے دے د دې دليل دے چې قديم نۀ دے او حادث دے، او دا چې وايو چې «قد» يعنې په رښتيا چې جوړ شوے دے نو دا په دې معنا ده چې ازلي نۀ دے او دا چې وايو چې که داسې وې نو بشپړ او کامل شوے به وې دا د دې دليل دے چې له هر اړخه کامل نۀ دے،خدا ے پاک د همدغو مخلوقاتو په خلق کولو سره ځان په عقلونو اوپېژندۀ او هغه د سترګو تر ليدلو ډېر لوړ او سپېځلے دے، او حرکت او سکون پکښې نۀ جاري کېږي، ځکه چې هغه په خپله د حرکت او سکون خالق دے، نو څرنګه ممکنه ده چې هغه څه چې په خپله يې پېدا کړي دي په هغه کښې اغيزه او اثر ولري، يا په خپله له خپلو مخلوقاتو اثر او اغيزه قبوله کړي، که داسې شوه نو د هغۀ ذات به هم د نورو مخلوقاتو په شان بدلېدونکے وي، او وجود او اصل به يې تجزيه او ټوټې کېدونکے وي، او بيا نو ازلي نۀ شي کېدلے، او که « به فرض محال» هغه ته د يو پېل او شروع تصور وکړوو، نو بيا به پاې او خاتمه هم لري او دا پېل او پاې به روښانه دليل وي چې دغه ذات نقص او نيمګړتيا لري او د مخلوق په شان کمزورے دے او بل خالق ته اړتيا لري. نو د ټولو مخلوقاتو پنځګر او خالق نۀ شي کېدلے. او د پالونکي او خدائی له صفاتو به چې « هيڅ څيز پکښې اغيزمن نۀ دے او نۀ ختمېږي، نۀ بدلېږي نۀ پټېږي» اوځي.

## خداے پاک د مخلوقاتو تر صفاتو سپېځلے دے

خداے نۀ د چا پلار دے چې بچي ولري او نۀ له چا پېدا شوے دے چې محدود شي او تردې لوړ دے چې زامن ولري، او تردې سپېځلے دے چې له ښځو سره وادۀ وکړي. وهمونه هغه ته نۀ رسېږي چې ګوندې خداے ته د يوې اندازې تصور وکړي، او ځيرک فکرونه هغه نۀ شي درک کولے چې ګوندې يو تصوير ورته انځور کړي. حواس د هغۀ له محسوسولو عاجز دي او لاسونه د هغۀ له لمس کولو ناتوانه، او بدلون او بل شان والے پکښې نۀ راځي. د وخت تېرېدل په خداے پاک تاثير نۀ کوي د شپې او ورځو تېرېدل هغه نۀ زړوي او رڼا او تيارۀ پرې اغيز او اثر نۀ لري. خداے پاک په هيڅ يو غړي او اندام او نۀ په کوم عرض، نۀ په بدلون او نۀ تجزيې سره بيانېدي شي. د هغۀ لپاره اندازه او پاې او نهايت نشته، او نيستي او انجام يې هم نشته، او نۀ کوم څيز هغه په ځان کښې ځاے کړے دے چې ګوندې يو يې سي او يا يې کوږ يا نيغ کړي. نۀ په کوم څيز کښې دننه دے او نۀ ترې بهر دے. خبرې کوي خو نۀ په ژبې او خولې سره، اوري خو نۀ د غوږونو په سورو او اورېدونکي غړي سره، خبره کوي خو نۀ په دې ډول چې په بيان کښې له الفاظو کار واخلي، حفظ او يادوي خو نۀ په دې ډول چې يو څيز ذهن ته وسپاري، غوښتل کوي خو نۀ د فکر په کارولو سره، مينه کوي او راضي کيږي خو نۀ د زړۀ سواندی له لارې، بغض کوي او غضبناک کېږي خو نۀ د قهرېدو

عَلَيْهِ الصِّفَاتُ الْمُحْدَثَاتُ، وَلَا يَكُونُ بَيْنَهَا وَبَيْنَهُ فَصْلٌ، وَلَا لَهُ عَلَيْهَا فَضْلٌ، فَيَسْتَوِيَ الصَّانِعُ وَالْمَصْنُوعُ، وَيَتَكَافَأَ الْمُبْتَدَعُ وَالْبَدِيعُ. خَلَقَ الْخَلَائِقَ عَلَى غَيْرِ مِثَالٍ خَلَا مِنْ غَيْرِهِ، وَلَمْ يَسْتَعِنْ عَلَى خَلْقِهَا بِأَحَدٍ مِنْ خَلْقِهِ. وَأَنْشَأَ الْأَرْضَ فَأَمْسَكَهَا مِنْ غَيْرِ اشْتِغَالٍ، وَأَرْسَاهَا عَلَى غَيْرِ قَرَارٍ، وَأَقَامَهَا بِغَيْرِ قَوَائِمَ، وَرَفَعَهَا بِغَيْرِ دَعَائِمَ، وَحَصَّنَهَا مِنَ الْأَوَدِ وَالِاعْوِجَاجِ، وَمَنَعَهَا مِنَ التَّهَافُتِ وَالِانْفِرَاجِ، أَرْسَى أَوْتَادَهَا، وَضَرَبَ أَسْدَادَهَا، وَاسْتَفَاضَ عُيُونَهَا، وَخَدَّ أَوْدِيَتَهَا، فَلَمْ يَهِنْ مَا بَنَاهُ، وَلَا ضَعُفَ مَا قَوَّاهُ. هُوَ الظَّاهِرُ عَلَيْهَا بِسُلْطَانِهِ وَعَظَمَتِهِ، وَهُوَ الْبَاطِنُ لَهَا بِعِلْمِهِ وَمَعْرِفَتِهِ، وَالْعَالِي عَلَى كُلِّ شَيْءٍ مِنْهَا بِجَلَالِهِ وَعِزَّتِهِ. لَا يُعْجِزُهُ شَيْءٌ مِنْهَا طَلَبَهُ، وَلَا يَمْتَنِعُ عَلَيْهِ فَيَغْلِبَهُ، وَلَا يَفُوتُهُ السَّرِيعُ مِنْهَا فَيَسْبِقَهُ، وَلَا يَحْتَاجُ إِلَى ذِي مَالٍ فَيَرْزُقَهُ. خَضَعَتِ الْأَشْيَاءُ لَهُ، وَذَلَّتْ مُسْتَكِينَةً لِعَظَمَتِهِ، لَا تَسْتَطِيعُ الْهَرَبَ مِنْ سُلْطَانِهِ إِلَى غَيْرِهِ فَتَمْتَنِعَ مِنْ نَفْعِهِ وَضَرِّهِ، وَلَا كُفْءَ لَهُ فَيُكَافِئَهُ، وَلَا نَظِيرَ لَهُ فَيُسَاوِيَهُ. هُوَ الْمُفْنِي لَهَا بَعْدَ وُجُودِهَا، حَتَّى يَصِيرَ مَوْجُودُهَا كَمَفْقُودِهَا. وَلَيْسَ فَنَاءُ الدُّنْيَا بَعْدَ ابْتِدَاعِهَا بِأَعْجَبَ مِنْ إِنْشَائِهَا وَاخْتِرَاعِهَا، وَكَيْفَ وَلَوِ اجْتَمَعَ جَمِيعُ حَيَوَانِهَا مِنْ طَيْرِهَا وَبَهَائِمِهَا، وَمَا كَانَ مِنْ مُرَاحِهَا وَسَائِمِهَا، وَأَصْنَافِ أَسْنَاخِهَا وَأَجْنَاسِهَا، وَمُتَبَلِّدَةِ أُمَمِهَا وَأَكْيَاسِهَا، عَلَى إِحْدَاثِ بَعُوضَةٍ، مَا قَدَرَتْ عَلَى إِحْدَاثِهَا، وَلَا عَرَفَتْ كَيْفَ السَّبِيلُ إِلَى إِيجَادِهَا، وَلَتَحَيَّرَتْ عُقُولُهَا فِي عِلْمِ ذَلِكَ وَتَاهَتْ، وَعَجَزَتْ قُوَاهَا وَتَنَاهَتْ، وَرَجَعَتْ خَاسِئَةً حَسِيرَةً، عَارِفَةً بِأَنَّهَا مَقْهُورَةٌ، مُقِرَّةً بِالْعَجْزِ عَنْ إِنْشَائِهَا، مُذْعِنَةً بِالضَّعْفِ عَنْ إِفْنَائِهَا؟! وَإِنَّهُ سُبْحَانَهُ، يَعُودُ بَعْدَ فَنَاءِ الدُّنْيَا وَحْدَهُ لَا شَيْءَ مَعَهُ، كَمَا كَانَ قَبْلَ ابْتِدَائِهَا،

يا اندېښني په وجه، هركله چې د څه اراده وكړي نوچې ورته ووائي چې «اوشه» نو هغه اوشي خو نۀ په داسې غږ سره چې غوږونه يې واوري او نۀ په داسې چغې سره چې واورېدل شي بلكه د خداے خبره په حقيقت كښې هماغه كار دے چې كېږي او پېښېږي.

## د خداے پاک د قدرت پېژندل

له هغۀ مخكې څه نۀ وو ګني بل خداے او قديم به موجود ؤ، نه شوو ويلې چې «خداے نۀ ؤ او بيا پېدا شو» ځكه چې كه داسې مو وويل نو خداے پاک ته به مو د مخلوقاتو صفت وركړے وي، او نۀ شوو ويلې چې «د خداے او مخلوقاتو په مېنځ كښې فاصله او جدائي ده او خداے پاک په مخلوقاتو لوړ دے چې ګوندې جوړ شوے او جوړوونكے يو شان وانګيرل شي، او خالق او مخلوق له يو بل سره شباهت پېدا كړي. مخلوقات يې بې له دې چې كوم مثال او نمونه ولري پېدا كړل، او د مخلوقاتو په پنځولو كښې يې له هيچا مرسته وانۀ خېسته، ځمكه يې پېدا كړه او هغه يې اودروله بې له دې چې په جوړولو يې مشغول شي. او په حركت او بې قرارۍ كښې يې نظم او اعتدال وراوبخښۀ هغه يې بې ستنو ودروله او بې استوانو او اړمونو يې اوچته كړه، او بې له كږېدو او شړېدو يې وساتله. او له غورځېدو او ماتېدو يې خوندي كړه. بيا يې پكښې د غرونو ميخونه ووهل او پښې يې وركلكې كړې. او چينې يې رواني او درې يې ورجوړې كړې، څه يې چې جوړ كړي هغه كمزورې نۀ شول او څه يې چې توانمند كړل هغه ناتوانه نۀ شول. خداے تعالى په سترتوب او عظمت سره په مخلوقاتو باندې واكمن دے، او په علم او پوهې سره يې له باطنه خبر دے، او په خپل جلال او عزت سره تر هر څه لوړ دے، هيڅۀ د هغۀ له امره سر نۀ غړوي او هيڅۀ د هغۀ له طاقت سره د مخالفت وړتيا نۀ لري چې پۀ هغۀ باندې بريالے شي، او تښتېدونكے له هغۀ څخه د تېښتې لاره نۀ لري چې په خداے ورمخكې شي، او كوم پانګه وال او مال ته اړتيا نۀ لري چې روزي وركړي، ټول د هغۀ په وړاندې خاضع دي. او سترتوب ته يې خوار او ذليل دي، د هغۀ له قدرت او واكه بل چا ته تېښته نۀ شي كېدې چې له سود او زيانه يې په امن كښې شو، سارے نۀ لري چې ورسره برابري وكړي او مثال نۀ لري چې شبيه او په شان يې وي. هماغه دے د مخلوقاتو ختموونكے، وروسته له پېدا كولو، چې تۀ به وائې هډو پېدا كړي يې نۀ وو.

## قيامت او د مخلوقاتو دوباره پنځون

د دنيا له پېدا كېدو وروسته د هغې فنا د هغې له وړومبي خلقته زياته حېرانوونكې نۀ ده. ځرنګه محاله ده په داسې بڼه كښې چې كه نړۍ ټول ژوندي ساري كه مارغان وي او كه چارپايان، كه په غوجل كښې وي او كه په صحرا كښې په څرېدو لګيا وي، ټول توكمونه او جنسونه، نا لوستي او لوستي انسانان، سره راټول شي او د يو ماشي جوړول وغواړي نۀ يې شي جوړولے او د پېدا كېدو په چل يې نۀ پوهېږي بلكه عقلونه به يې د هغۀ په پېژندلو كښې لالهانده او حېران پاتې شي. ځواک

كَذلكَ يَكُونُ بَعْدَ فَنَائِهَا، بِلاَ وَقْتٍ وَلاَ مَكَانٍ، وَلاَ حِينٍ وَلاَ زَمَانٍ، عُدِمَتْ عِنْدَ ذلكَ الْآجَالُ وَالْأَوْقَاتُ، وَزَالَتِ السِّنُونَ وَالسَّاعَاتُ، فَلاَ شَيْءَ إِلاَّ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ الَّذِي إِلَيْهِ مَصِيرُ جَمِيعِ الْأُمُورِ، بِلاَ قُدْرَةٍ مِنْهَا كَانَ ابْتِدَاءُ خَلْقِهَا، وَبِغَيْرِ امْتِنَاعٍ مِنْهَا كَانَ فَنَاؤُهَا، وَلَوْ قَدَرَتْ عَلَى الْاِمْتِنَاعِ لَدَامَ بَقَاؤُهَا. لَمْ يَتَكَاءَدْهُ صُنْعُ شَيْءٍ مِنْهَا إِذْ صَنَعَهُ، وَلَمْ يَؤُدْهُ مِنْهَا خَلْقُ مَا بَرَأَهُ وَخَلَقَهُ، وَلَمْ يُكَوِّنْهَا لِتَشْدِيدِ سُلْطَانٍ، وَلاَ لِخَوْفٍ مِنْ زَوَالٍ وَنُقْصَانٍ، وَلاَ لِلْاِسْتِعَانَةِ بِهَا عَلَى نِدٍّ مُكَاثِرٍ، وَلاَ لِلْاِحْتِرَازِ بِهَا مِنْ ضِدٍّ مُثَاوِرٍ، وَلاَ لِلْاِزْدِيَادِ بِهَا فِي مُلْكِهِ، وَلاَ لِمُكَاثَرَةِ شَرِيكٍ فِي شِرْكِهِ، وَلاَ لِوَحْشَةٍ كَانَتْ مِنْهُ، فَأَرَادَ أَنْ يَسْتَأْنِسَ إِلَيْهَا. ثُمَّ هُوَ يُفْنِيهَا بَعْدَ تَكْوِينِهَا، لاَ لِسَأَمٍ دَخَلَ عَلَيْهِ فِي تَصْرِيفِهَا وَتَدْبِيرِهَا، وَلاَ لِرَاحَةٍ وَاصِلَةٍ إِلَيْهِ، وَلاَ لِثِقَلِ شَيْءٍ مِنْهَا عَلَيْهِ. لاَ يُمِلُّهُ طُولُ بَقَائِهَا فَيَدْعُوَهُ إِلَى سُرْعَةِ إِفْنَائِهَا، لكِنَّهُ سُبْحَانَهُ دَبَّرَهَا بِلُطْفِهِ، وَأَمْسَكَهَا بِأَمْرِهِ، وَأَتْقَنَهَا بِقُدْرَتِهِ. ثُمَّ يُعِيدُهَا بَعْدَ الْفَنَاءِ مِنْ غَيْرِ حَاجَةٍ مِنْهُ إِلَيْهَا، وَلاَ اسْتِعَانَةٍ بِشَيْءٍ مِنْهَا عَلَيْهَا، وَلاَ لِانْصِرَافٍ مِنْ حَالِ وَحْشَةٍ إِلَى حَالِ اسْتِئْنَاسٍ، وَلاَ مِنْ حَالِ جَهْلٍ وَعَمىً إِلَى [حَالِ ]عِلْمٍ وَالْتِمَاسٍ، وَلاَ مِنْ فَقْرٍ وَحَاجَةٍ إِلَى غِنىً وَكَثْرَةٍ، وَلاَ مِنْ ذُلٍّ وَضَعَةٍ إِلَى عِزٍّ وَقُدْرَةٍ.

[ ١٨٧ ]

تَخْتَصُّ بِذِكْرِ الْمَلاَحِمِ

أَلاَ بِأَبِي وَأُمِّي، هُمْ مِنْ عِدَّةٍ أَسْمَاؤُهُمْ فِي السَّمَاءِ مَعْرُوفَةٌ وَفِي الْأَرْضِ مَجْهُولَةٌ. أَلاَ فَتَوَقَّعُوا مَا يَكُونُ مِنْ إِدْبَارِ أُمُورِكُمْ، وَانْقِطَاعِ وُصَلِكُمْ، وَاسْتِعْمَالِ صِغَارِكُمْ: ذَاكَ حَيْثُ تَكُونُ ضَرْبَةُ

به يې کم او ختم شي. او سترې ستومانه به راستانۀ شي، نو په خپلې ماتې به ډاډه شي او اقرار به وکړي چې يو ماشے هم نۀ شي پېدا کولے او د ختمولو وس يې هم نۀ لري! او بې له شکه د نړۍ له ختمېدو وروسته يواځې پاک خدا ے پاتې کېږي يکې يواځې چې هيڅۀ به ورسره نۀ وي. لکه څرنګه چې د نړۍ له پنځولو مخکې ورسره څه نۀ وو، نۀ زمان او نۀ مکان. هغه وخت به مهلتونه ختم شي کلونه او شيبې به سرته ورسېږي او بې له ځواکمن او قهارخدايه بل څه نۀ پاتې کېږي او د هر څه جاروتل هم هغۀ ته دي. لکه څرنګه چې مخلوقاتو د پنځېدو په وخت قدرت نۀ لرۀ نو د نابودېدو په وخت به هم څه مخالفت ورسره ونۀ لري ځکه چې که وس يې لرلې نو باقي به پاتې شوې وو. د هيڅ څيز پېدائښت خدا ے پاک نۀ دے کړولے او د مخلوقاتو په خلقت کښې ستړے شوے يا ناتوانه شوے نۀ دے. مخلوقات يې د خپل حکومت د مضبوطيا لپاره نۀ دي پنځولي او د کمي او نقصان له وېرې يې نۀ دي پېدا کړي. مخلوقات يې د دې لپاره نۀ دي پېدا کړي چې ګوندې له کوم سيال سره د مقابلې لپاره وي چې خدا ے پاک ورځينې ويرېدۀ چې هغه سيال ورباندې لاسبرے نۀ شي. او نۀ له کوم دښمن څخه د ځان ساتنې لپاره وو چې ګوندې په هغه به يرغل وکړي. او نۀ د خپل حکومت د قلمرو د پراختيا لپاره، او نۀ په خپل سيال او مخالف باندې د برياليتوب لپاره، نۀ د دې لپاره چې يواځېتوب يې ختم شي، او بيا به ټول مخلوقات له مينځه وړي خو نۀ د دې لپاره چې د هغو له چلولو ستړے شي، يا د آرام او دمې لپاره، او نۀ د دې لپاره چې ګوندې دغه مخلوقاتو هغه په کړاؤ کړے ؤ، او نۀ د دې لپاره چې د هغوي غمژنوونکے ژوند ډېر اوږد شو، بلکه خدا ے پاک په خپلې مهربانۍ سره خپل مخلوقات چلوي او په خپل فرمان سره يې اودرولي، او په خپل قدرت سره يې برابروي. بيا به بې له دې چې ورته اړتيا ولري ټول دوباره ستانۀ کړي نۀ د دې لپاره چې ورځينې مرسته وغواړي او نۀ د خپلې تنهائۍ د ختمولو لپاره چې ګوندې يو همدم پېدا کړي، او نۀ د دې لپاره چې تجربه وکړي، او نۀ د دې لپاره چې له فقره شتمنۍ ته اورسېږي، يا دا چې خپل ځان له ذلته عزت او قدرت ته اورسوي.

## ﴿ يو سل اوۀ اتيايمه خطبه ﴾

﴿دا وينا يې د نهروان له جنګه وروسته د هجرت په اتۀ دېرشم کال وکړه﴾

### د راتلونکو پېښو خبر ورکول

پلاراو مور مې له هغو ځار شه چې په آسمان کښې نوميالي او په ځمکه کښې نوم ورکي دي، اے خلقو! د هغې زمانې په طمعه اوسئ چې ښې ورځې به درشا کړي، د خپلوۍ مزي به مو اوشليږي او چارې به د کم عمره کسانو په اختيار کښې راشي، او دا به هغه زمانه وي چې په مومن

السَّيْف عَلَى الْمُؤْمن أَهْوَنَ من الدِّرْهَم مِـنْ حلِّـه! ذَاكَ حَيْـثُ يَكُونُ المعْطى أَعْظَمَ أَجْراً مَنَ الْمُعْطي! ذَاك حَيْثُ تَسْكَرُونَ مِنْ غَيْر شَرَاب، بَلْ من النِّعْمَة والنَّعيم، وتَحْلفُونَ منْ غَيْر اضْـطرَار، وَتَكْذبُونَ منْ غَيْر إحْرَاج ذَاكَ إذَا عَضَّكُم الْـبَلاَءُ كَمَـا يعَـضُّ الْقَتَبُ غَارب الْبعير.ما أَطْوَل هذَا الْعَنَاء، وأَبْعد هذا الرَّجَاءَ!

أَيُّهَا النَّاسُ، أَلْقُوا هذه الازَمَّةَ الَّتي تَحْملُ ظُهُورهَا الاَثْقَـالَ مِـنْ أَيْديكُمْ، وَلاَ تَصَدَّعُوا عَلَى سُلْطَانكُمْ فَتَذُمُّوا غبَّ فعَـالكُمْ، وَلاَ تَقْتَحمُوا مَا اسْتَقْبَلْتُمْ منْ فَوْر نَار الْفتْنَـة، وأَميطُـوا عَـنْ سَـنَنها، وَخَلُّو قَصْدَ السَّبيل لَهَا، فَقَدْ لَعَمْري يَهْلكُ في لَهَبهَـا الْمُـؤْمنُ، وَيَسْلَمُ فيهَا غَيْرُ الْمُسْلم. إنَّمَا مَثَلـي بَيْـنَكُمْ مَثَـلُ السِّـرَاجِ فِـي الظُّلْمَة، يَسْتَضيءُ به مَنْ وَلَجَهَا. فَاسْمَعَوا أَيُّهَـا النَّـاسُ وَعُـوا، وَأَحْضرُوا آذَانَ قُلُوبكُمْ تَفْهَمُوا.

[ ۱۸۸ ]

وَمنْ خُطْبَة لَهُ عَلَيْه السَّلاَمُ في التَّقْوَى

أُوصيكُمْ، أَيُّهَا النَّاسُ، بتَقْـوَى الله، وَكَثْـرَة حَمْـده عَلَـى آلاَئـه إلَـيْكُمْ، وَنَعْمَائـه عَلَـيْكُمْ، وَبَلاَئـه لَـدَيْكُمْ. فَكَـمْ خَصَّـكُمْ بنعْمَة، وَتَدَارَكَكُمْ برَحْمَـة! أَعْـوَرْتُمْ لَـهُ فَسَـتَرَكُمْ، وَتَعَرَّضْـتُمْ لاَخْذه فَأَمْهَلَكُمْ!

الْمَـوْتُ: وَأُوصِـيكُمْ بِـذكْر الْمَـوْت، وَإقْـلاَل الْغَفْلَـة عَنْـهُ، وَكَيْفَ غَفْلَتُكُمْ عَمَّـا لَـيْسَ يُغْفلُكُـمْ، وَطَمَعُكُـمْ فِـيمَنْ لَـيْسَ يُمْهلُكُـمْ؟! فَكَفَـى وَاعظـاً بمَـوْتَى عَـايَنْتُمُوهُمْ، حُملُـوا إلَـى قُبُورهمْ غَيْرَ رَاكبينَ، وَأُنْزلُـوا فيهَـا غَيْـرَ نَـازلينَ، كَـأَنَّهُمْ لَـمْ يَكُونُـوا للـدُّنْيَا عُمَّـاراً، وَكَـأَنَّ الاخـرَةَ لَـمْ تَـزَلْ لَهُـمْ دَاراً، أَوْحَشُوا مَـا كَـانُوا يُوطنُـونَ، وَأَوْطَنُـوا مَـا كَـانُوا يُوحشُـونَ، وَاشْتَغَلُوا بمَا فَارَقُوا، وَأَضَاعُوا مَـا إلَيْـه انْتَقَلُـوا، لاَ عَـنْ قَبـيح يَسْـتَطيعُونَ انْتقَـالاً، وَلاَ فِـي حَسَــن يَسْـتَطيعُونَ ازْديَـاداً، أَنسُـوا بالـدُّنْيَا فَغَـرَّتْهُمْ، وَوَثقُـوا بهَـا فَصَـرَعَتْهُمْ. فَسَـابقُوا ـ رَحمَكُـمُ اللهُ ـ إلَـى مَنَـازلكُمْ الَّتـي أُمـرْتُمْ أَنْ تَعْمُرُوهَـا، وَالَّتي رَغَّبْتُمْ فيهَا، وَدُعيتُمْ إلَيْهَـا. وَاسْـتَتمُّوا نعَـمَ الله عَلَـيْكُمْ

د تورې ګوزار کول به د حلال مال تر پېدا کولو آسان وي، هغه ورځ چې د اخستونکي فقير اجرت به تر ورکوونکي شتمنه زيات وي. او هغه ورځې چې بې د شرابو له څښلو او د نعمتونو په پرېمانتيا به مستيږئ، بې مجبورۍ به قسمونه خورئ او بې ضرورته به دروغ وايئ، او دا به هغه زمانه وي چې مصيبتونه به مو داسې چيچي او ژوبلوي لکه کته چې د اوښانو شا چيچي او ژوبلوي، افسوس چې هغه کړاو او غم به څومره اوږد او د هوساينې او راحتۍ هيله او اميد به څومره لرې وي.

اې خلقو! د هغو سورليو واګې پرېږدئ چې هم ستاسو ګناهونه پرې بار شوي دي، او خپل امام يوائې مه پرېږدئ، که نه وي بيا به خپل ځان ملامتوئ، ځانونه د فتنې په اور کښې چې په خپله مو بل کړے دے مه غورځوئ، خپله لاره اونيسئ او له هغه لارې چې فتنو ته ځي ډډه وکړئ. په خدای قسم چې مومنان به د دغو فتنو په اور کښې اوسوځي خو د اسلام دروغجن مدعيان به په امن کښې وي. بې له شکه زۀ په تاسو کښې په تياره کښې د ځلانده څراغ په شان يم څوک چې ورته مخه کړي له رڼا يې برخور کېږي، نو د خدای لپاره زما خبره واروئ او ښه پرې ځان پوه کړئ د زړۀ غوږونه پرانېزئ چې زما په خبرو پوه شئ.

## ﴿يو سل اتۀ اتيايمه خطبه﴾

### د پرهېزګارۍ نصيحت

اې خلقو! تاسو ته نصيحت کوم د تقوا، د خدای پاک د نعمتونو او احسانونو د زياتې منڼې او شکر ايستلو، نو څومره ډېر دي هغه نعمتونه چې خدای په تاسو باندې ولورول او هغه رحمتونه چې په تاسو باندې يې نازل کړل، تاسو خپل عيبونه ښکاره کړل خو هغۀ درباندې پرده واچوله او ځانونه مو د هغۀ د سزا قابل کړل خو هغۀ درته مهلت درکړ.

اې خلقو! تاسو ته سپارښتنه کوم چې مرګ ډېر ياد ساتئ او له مرګه کم غافله کېږئ، څرنګه مرګ هېروئ حال دا چې هغه تاسو نۀ هېروي. او څرنګه د مرګ فرښتې ته هيله لرئ حال دا چې هغه تاسو ته هيڅ مهلت نۀ درکوي. ستاسو د عبرت لپاره خو د تېرو کسانو مرګ هم کافي دے، هغوي يې قبرونو ته يوړل بې له دې چې په سورليو سپور وي او قبرونو ته يې کوز کړل بې له دې چې په خپله کوز شي، داسې هېر کړې شول ته به وائې هډو د دنيا آبادوونکي نۀ وو، او همېشه په آخرت کښې اوسېدلي وو! کوم ځاے يې چې خپل وطن ګڼۀ له هغۀ څخه په وحشت سره لاړل او له کوم ځايه يې چې وحشت لرۀ هغه يې خپل وطن وګرځوۀ. دوي په هغو څيزونو مشغول وو چې يوه ورځ به يې پرېښودل او هغه ځايونه يې بربادول چرته چې آخر روان وو. اوس نو نۀ د دې وس لري چې له خپلو بدو عملونو اوتښتي او نۀ په خپلو ښو کارونو څه نيکي ورزياتولې شي. دوي په داسې دنيا مئين شول چې هغې مغروره کړل او په داسې دنيا يې باور وکړ چې هغې وپرځول.

خداے دې په تاسو ورحمېږي ! نو اوځغلئ د هغو کورونو ودانولو ته

بالصَّبْر عَلَـى طَاعَتـه، وَالْـمُجَانَبَة لمَعْصيَته، فَـإنَّ غَـداً مـنَ الْيَوْم قَريبٌ. مَا أَسْـرَعَ السَّـاعات فـي الْيَـوْم، وَأَسْـرَعَ الاَيَّـام في الشَّهْر، وَأَسْرَعَ الشُّـهُور فـي السَّـنَة، وَأَسْـرَعَ السِّـنين فـي الْعُمْر!

[ ۱۸۹ ]

وَمنْ خُطْبَة لَهُ عَلَيْه السَّلاَمُ

أَقْسَامُ الإيمَان:

فَمنَ الايمَان مَا يَكُونُ ثَابتاً مُسْـتَقرّاً فـي الْقُلُـوب، وَمنْـهُ مَـا يَكُونُ عَـوَاريَ بَـيْنَ الْقُلُـوب وَالصُّـدُور، إلَـى أَجَـل مَعْلُـوم، فَـإذَا كَانَـتْ لَكُـمْ بَـرَاءَةٌ مـنْ أَحَـد فَقفُـوهُ حَتّـى يَحْضُـرَهُ الْمَوْتُ، فَعنْدَ ذلكَ يَقَعُ حَدُّ الْبَرَاءَة.

الْهجْرَةُ: وَالْهجْـرَةُ قَائمَـةٌ عَلَـى حَـدِّهَا الاَوَّل، مَـا كَـانَ للهِ تعالى في أَهْـل الاَرْض حَاجَـةٌ مـنْ مُسْتَسـرِّ الاُمَّـة وَمُعْلنهَـا، لاَ يَقَـعُ اسْـمُ الْهجْـرَة عَلَـى أَحَـد إلاَّ بمَعْرفَـة الْحُجَّـة فـي الاَرْض، فَمَنْ عَرَفَهَـا وَأَقَـرَّ بهَـا فَهُـوَ مُهَـاجرٌ، وَلاَ يَقَـعُ اسْـمُ الاسْتضْعَاف عَلَى مَنْ بَلَغَتْـهُ الْحُجَّـةُ فَسَـمعَتْهَا أُذُنُـهُ وَوَعَاهَـا قَلْبُهُ.

إنَّ أَمْرَنَـا صَـعْبٌ مُسْتَصْـعَبٌ، لاَ يَحْتَملُـهُ إلاَّ عَبْـدٌ مُـؤْمنٌ امْـتَحَنَ اللهُ قَلْبَـهُ للايمَـان، وَلاَ يَعـي حَـديثَنَا إلاَّ صُـدُورٌ أَمينَةٌ، وَأَحْلاَمٌ رَزينَةٌ.

علْمُ الْوَصيِّ: أَيُّهَـا النَّـاسُ، سَلُوني قَبْـلَ أَنْ تَفْقـدُوني، فَلاَنَـا بطُـرُق السَّـمَاء أَعْلَـمُ منِّـي بطُـرُق الاَرْض، قَبْـلَ أَنْ تَشْـغَرَ برجْلهَا فتْنَةٌ تَطَأُ في خطَامهَا وَتَذْهَبُ بأَحْلاَم قَوْمهَا.

[ ۱۹۰ ]

وَمنْ خُطْبَة لَهُ عَلَيْه السَّلاَمُ

أَحْمَـدُهُ شُـكْراً لانْعَامـه، وَأَسْـتَعينُهُ عَلَـى وَظَـائف حُقُوقـه،

چې تاسو ته يې د ودانولو امر کړے او ورته يې هڅولي او وربللي يئ. او په صبر او ټينګتيا سره د خداے پاک نعمتونه په ځانونو باندې بشپړ کړئ او د هغۀ له نافرمانۍ او ګناهونو ډډه وکړئ ځکه چې سبا ورځ نن ته نزدې ده او وګورئ چې په ورځو کښې ساعتونه او شپې او په مياشتو کښې ورځې او په کلونو کښې مياشتې او د انسان په ژوند کښې کلونه څومره په منډه تيرېږي.

## ﴿يو سل نهۀ اتيايمه خطبه﴾

«دا وينا يې د کوفې په جومات کښې د هجرت په اتۀ ديرشم کال وکړه او د دې اسناد ډېر دي»

### د ايمان ډولونه

ايمان په دوه ډوله دے: يو هغه ايمان چې په زړونو کښې ټينګ او کلک دے او بل هغه ايمان چې سينو او زړونو ترمېنځ موقتي او عارضي دے «تر هغه وخته چې ورته ټاکل شوے دے» نو که له چا بيزاره يئ هغه په خپل حال پرېږدئ چې مرګ يې راورسېږي او هغه وخت بيا د بيزارۍ حد دے.

### د هجرت او د صحيح مهاجر پېژندل

د هجرت قانون او تعريف نن هم هماغه دے چې پخوا ؤ. خداے پاک په ځمکه کښې چاته اړتيا نۀ لري که څوک خپل ايمان پټ کړي او که ښکاره يې کړي او په چا د مهاجر نوم نۀ شو کېښودلے بې له هغه چا چې په ځمکه باندې د خداے پاک حجت اوپېژني. چا چې د خداے پاک حجت اوپېژندۀ او د هغۀ په امامت يې اقرار وکړ مهاجر دے همداشان مستضعف هغه کس ته نۀ شو ويلې چې د خداے پاک دليل او حجت وررسېږي او غوږونه يې واوري او زړۀ يې اومني «عذر ونۀ لري»

### د عترت عليهم السلام په ځينو حديثونو د پوهېدلو مشکل

بې له شکه زمونږ «اهل بيتو عليهم السلام» مسئله ډېره سخته او زغم يې ګران دے. مګر هغو کسانو ته چې ديندراه مومنان وي او خداے پاک يې ايمان ازمويلے او په زړۀ کښې يې ټينګ شوے وي، او زمونږ حديثونه يواځې په هغو سينو کښې ځائيږي چې امانتداري وي او په هغو زړونو کښې چې ټينګ وي.

### د امام سمه پېژندنه

اے خلقو! له ما پوښتنه وکړئ مخکې له دې چې ما و نۀ مومئ، ځکه چې ماته د آسمان لارې د ځمکې تر لارو زياتې معلومې دي وپوښتئ مخکې له دې چې د فتنو بې خاونده اوښ داسې راولاړ شي چې خپل جلب هم تر پښو لاندې کړي، خلق اوځپي او عقلونه لالهانده کړي.

## ﴿يو سل نوي يمه خطبه﴾

«دا وينا يې په کوفه کښې د خوارجو په حقله کړې ده»

د خداے پاک شکر کوم د هغۀ په نعمتونو باندې او د هغۀ د حقوقو په

عَزِيزَ الْجُنْدِ، عَظِيمَ الْمَجْدِ. وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّداً عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، دَعَا إِلَى طَاعَتِهِ، وَقَاهَرَ أَعْدَاءَهُ جِهَاداً عَنْ دِينِهِ، لاَ يَثْنِيهِ عَنْ ذلِكَ اجْتِمَاعٌ عَلَى تَكْذِيبِهِ، وَالْتِمَاسٌ لإِطْفَاءِ نُورِهِ.

الْعِظَةُ بِالتَّقْوَى: فَاعْتَصِمُوا بِتَقْوَى اللهِ، فَإِنَّ لَهَا حَبْلاً وَثِيقاً عُرْوَتُهُ، وَمَعْقِلاً مَنِيعاً ذِرْوَتُهُ، وَبَادِرُوا الْمَوْتَ وَغَمَرَاتِهِ، وَامْهَدُوا لَهُ قَبْلَ حُلُولِهِ، وَأَعِدُّوا لَهُ قَبْلَ نُزُولِهِ، فَإِنَّ الْغَايَةَ الْقِيَامَةُ، وَكَفَى بِذلِكَ وَاعِظاً لِمَنْ عَقَلَ، وَمُعْتَبَراً لِمَنْ جَهِلَ! وَقَبْلَ بُلُوغِ الْغَايَةِ مَا تَعْلَمُونَ مِنْ ضِيقِ الأَرْمَاسِ، وَشِدَّةِ الإِبْلاَسِ، وَهَوْلِ الْمُطَّلَعِ، وَرَوْعَاتِ الْفَزَعِ، وَاخْتِلاَفِ الأَضْلاَعِ، وَاسْتِكَاكِ الأَسْمَاعِ، وَظُلْمَةِ اللَّحْدِ، وَخِيفَةِ الْوَعْدِ، وَغَمِّ الضَّرِيحِ، وَرَدْمِ الصَّفِيحِ.

فَاللهَ اللهَ عِبَادَ اللهِ! فَإِنَّ الدُّنْيَا مَاضِيَةٌ بِكُمْ عَلَى سَنَن، وَأَنْتُمْ وَالسَّاعَةُ فِي قَرَن، وَكَأَنَّهَا قَدْ جَاءَتْ بِأَشْرَاطِهَا، وَأَزِفَتْ بِأَفْرَاطِهَا، وَوَقَفَتْ بِكُمْ عَلَى سِرَاطِهَا، وَكَأَنَّهَا قَدْ أَشْرَفَتْ بِزَلاَزِلِهَا، وَأَنَاخَتْ بِكَلاَكِلِهَا، وَانْصَرَمَتِ الدُّنْيَا بِأَهْلِهَا، وَأَخْرَجَتْهُمْ مِنْ حِضْنِهَا.

فَكَانَتْ كَيَوْمٍ مَضَى وَشَهْرٍ انْقَضَى، وَصَارَ جَدِيدُهَا رَثّاً، وَسَمِينُهَا غَثّاً، فِي مَوْقِفٍ ضَنْكِ الْمَقَامِ، وَأُمُورٍ مُشْتَبِهَةٍ عِظَامٍ، وَنَارٍ شَدِيدٍ كَلَبُهَا، عَالٍ لَجَبُهَا، سَاطِعٍ لَهَبُهَا، مُتَغَيِّظٍ زَفِيرُهَا، مُتَأَجِّجٍ سَعِيرُهَا، بَعِيدٍ خُمُودُهَا، ذَاكٍ وَقُودُهَا، مَخُوفٍ وَعِيدُهَا، عَمٍ قَرَارُهَا، مُظْلِمَةٍ أَقْطَارُهَا، حَامِيَةٍ قُدُورُهَا، فَظِيعَةٍ أُمُورُهَا.

وَسِيقَ الَّذِينَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ إِلَى الْجَنَّةِ زُمَراً، قَدْ أُمِنَ الْعَذَابُ، وَانْقَطَعَ الْعِتَابُ، وَزُحْزِحُوا عَنِ النَّارِ، وَاطْمَأَنَّتْ بِهِمُ الدَّارُ، وَرَضُوا الْمَثْوَى وَالْقَرَارَ، الَّذِينَ كَانَتْ أَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا زَاكِيَةً، وَأَعْيُنُهُمْ بَاكِيَةً، وَكَانَ لَيْلُهُمْ فِي دُنْيَاهُمْ

ترسره کولو کښې تري مرسته غواړم، هغه خداے پاک چې لښکرې يې ځواکمنې او مقام يې لوړ دے. ګواهي ورکوم چې محمد ﷺ د خداے پاک استازے او بنده دے، خلق يې د هغهٔ عبادت ته وبلل او د خداے پاک له دښمنانو سره يې د هغه په لاره کښې جهاد وکړ او وې پرځول. د دښمنانو غونډېدو چې د هغهٔ په دروغ ګڼلو راغونډ شول هغه حضرت ﷺ د حق له بلنې ونهٔ غړوهٔ، او د رسالت د رڼا د مړې کولو لپاره د هغوي هڅې ناکامې شوې.

## د تقوا او د مرګ د ياد ساتلو سپارښتنه

نو تقوا او له خدايه وېره ولرئ ځکه چې جړه يې کلکه او لاسوند يې پياوړے او لوړه څوکه يې ډاډمنه پناه ده. د مرګ له رسېدلو مخکې ځانونه د هغهٔ پېښنو ته تيار کړئ، مخکې له دې چې مرګ مو راونيسي ورسره د ملاقات تيارې وکړئ ځکه چې مرګ د ژوند خاتمه ده او آخري مقصد مو قيامت دے. مرګ د عاقلانو لپاره نصيحت او د جاهلانو لپاره عبرت دے. تاسو د مرګ له رسېدلو مخکې د قبرونو له تنګۍ، د غمونو له سختۍ، د قيامت له وېرې، د هډونو له ماتېدلو، د غوږونو له کڼېدلو، د لحد له تيرو، د راتلونکي له وحشته، له زيات غم او کړاوه، د ګور له تنګۍ او په کاڼو او خاورو د هغهٔ له بندېدو او پټېدو څه خبريئ؟

نو اے د خداے بندګانو! د خداے لپاره د خداے لپاره! پام وکړئ چې دنيا په خاصو قوانينو سره تېرېږي، تاسو له قيامت سره په يو مزي سره ګنډل شوي يئ ته به وائې د قيامت نښې نښانې ښکاره کېږي، او تاسو يې په خپله لاره کښې تم کړي يئ، او له خپلو زلزلو سره رارسېدلے دے. دروند بار يې ستاسو په اوږو اېښے دے او له دنيا سره د خلقو د پېوند لړۍ يې غوڅه کړې ده، او ټول يې د دنيا له ګرمې غېږې ويستلي دي.

ته به وائې دنيا يوه ورځ وه او تېره شوه، يا يوه مياشته وه او واوړېده، د دنيا نوې زاړهٔ شوي او څاربهٔ يې نرې شوي دي، بيا به په لويو ستونځو کښې د تنګ او اورين په لور وردرومي چې د لمبو ژبې يې وېروونکې، شعلې يې اوچتې، غرهار يې بوږنوونکے، ويلې کوُنکے، د شعلو خاموشه کېدل يې ناممکن، شعلې يې غرغنده، ګواښونه يې ترهوونکې، ژورتيا يې نهٔ ښکاره کېدونکې، خواو شا يې تور او تياره، دېګونه يې جوشېدونکې، او حالات يې سخت او بوږنوونکي دي.

## د پرهېزګارانو راتلونکے

او پرهېزګاران به ډله ډله د جنت په لور بوځي، هغوي له سزا او عذابه په امان او له ملامتيا خلاصه راحته دي، له اوره لرې او د خداے په امن کور کښې په خپل ځاے خوشحاله دي، د دوي عملونه په دنيا کښې پاک او

نَهَـاراً، تَخَشُّـعاً وَاسْـتغفَاراً، وَكَـانَ نَهَـارُهُمْ لَـيْلاً، تَوَحُّشـاً وَانقطَاعـاً، فَجَعَـلَ اللهُ لَهُـمُ الْجَنَّـةَ [مَآبـاً، وَالْجَـزَاءَ] ثَوَابـاً، وَكَانُوا أَحَقَّ بِهَا وَأَهْلَهَا في مُلْك دَائم، وَنَعيم قَائم.

فَارْعَوْا عبَادَ الله مَا برعَايَتـه يَفُـوزُ فَـائزُكُمْ، وَبإضَـاعَته يَخْسَـرُ مُبْطلُكُمْ، وَبَـادرُوا آجَـالَكُمْ بأَعْمَـالكُمْ، فَـإنَّكُمْ مُرْتَهَنُـونَ بمَـا أَسْـلَفْتُمْ، وَمَـديِنُونَ بمَـا قَـدَّمْتُمْ، وَكَـأَنْ قَـدْ نَـزَلَ بكُـمُ الْـمَخُوفُ، فَـلاَ رَجْعَـةَ تَنَـالُونَ، وَلاَ عَثْـرَةَ تُقَـالُونَ. اسْـتَعْمَلَنَا اللهُ وَإيَّـاكُمْ بطَاعَتـه وَطَاعَـة رَسُـوله، وَعَفَـا عَنَّـا وَعَـنْكُمْ بفَضْلِ رَحْمَته.

الْزَمُـــوا الاَرْضَ، وَاصْـــبرُوا عَلَـــى الْـــبَلاء، وَلاَ تُحرِّكُـــوا بأَيْـديكُمْ وَسُـيُوفكُمْ [فـي] هَـوَى أَلْسـنَتكُمْ، وَلاَ تَسْـتَعْجلُوا بمَا لَـمْ يُعَجِّلْـهُ اللهُ لَكُمْ،فَإنَّـهُ مَـنْ مَـاتَ مـنْكُمْ عَلَـى فرَاشـه وَهُوَ عَلَى مَعْرفَـة حَـقِّ ربِّـه عَزَّوَجَـلَّ وَحَـقِّ رَسُـوله وَأَهْـلِ بَيْته صَـلَوَاتُ الله عَلَيْـه وعَلَـيْهمْ مَـاتَ شَـهيداً، وَوَقَـعَ أَجْـرُهُ عَلَـى الله، وَاسْـتَوْجَبَ ثَـوَابَ مَـا نَـوَى مـنْ صَـالحِ عَمَلـه، وَقَامَت النِّيَّـةُ مَقَـامَ إصْـلاَته لسَـيْفه، فَـإنَّ لكُـلِّ شَـيْء مُـدَّةً وَأَجَلاً.

ستړګې یې لمدې وې، شپې به یې په خشوع او استغفار سره د ورځو او ورځې به یې د ګناه له ویرې د شپو په شان وې. نو خدای تعالی جنت د هغوی وروستې منزل وټاکه، او بدله یې غوره او نېکه ورکړه،«د دغو نعمتونو وړ وو» او د تل پاتې ملک او تل پاتې کېدونکو نعمتونو لائق شول.

ای د خدای بندګانو! د هغه څه خیال وساتئ چې پاکان یې په خیال ساتلو سره نېکمرغه شول او تباهکاران یې په ضائع کولو سره تاواني. مخکې له دې چې مرګ مو راونیسي په نېکو اعمالو سره تیار اوسئ، ځکه چې هر کس له خپل عمل سره تړاؤ لري، او د هم هغو کارونو بدل به وینئ چې کړې مو دي. ناڅاپه به وېروونکې مرګ دروړسېږي چې ستنېدونکې نه دی او بیا نو له تېروتنو بخښنه نه شئ غوښتلې. خدای دې مونږ او تاسو د هغهٔ او د هغهٔ د استازو په لاره کښې ټینګ وساتي او په خپل فضل او کرم دې زمونږ له ګناهونو تېر شي.

فوځي زدکړه

ای عسکرو! په خپل ځای کلک اودرېږئ او په مصیبتونو باندې زغم ولرئ، تورې او لاسونه مو د خپلو ژبو په هوا هوس کښې مه کاروئ، او په څه کښې چې خدای پاک بیړه نه ده لازمه کړې تلوار مهٔ کوئ، ځکه چې په تاسو کښې هر یو کس چې په خپله بستره مړ شي خو د خدای پاک، د هغهٔ د پېغمبرﷺ او د هغه حضرت د اهل بیتو؈ معرفت ولري شهید مړ شوی او اجر یې په خدای پاک باندې دی، او د هغو نېکو کارونو ثواب هم ورکول کېږي چې نیت یې کړی دی، او د هغهٔ نیت د تورې د چلولو ثواب لري ځکه چې هر یو کار خپل وخت او اجل لري.

[ ۱۹۱ ]

الْحَمْدُ لله الْفَاشي حَمْـدُهُ، وَالْغَالـب جُنْـدُهُ، وَالْمُتَعَـالي جَـدُّهُ. أَحْمَدُهُ عَلَى نعَمه التُّؤَام، وَآلاَئه الْعظَـام، الَّـذي عَظُـمَ حلْمُـهُ فَعَفَا، وَعَـدَلَ فـي كُـلِّ مَـا قَضَـى، وَعَلـمَ مَـا يَمْضـي وَمَـا مَضَـى، مُبْتَـدعِ الْخَلاَئـق بعلْمـه، وَمُنْشـئهمْ بـحُكْمـه، بـلاَ اقْتـداء وَلاَ تَعْلـيم، وَلاَ احْتـذَاء لمثَـال صَـانع حَكـيم، وَلاَ إصَابَة خَطَأ، وَلاَ حَضْرَة مَلاَء.

وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّداً عَبْـدُهُ وَرَسُـولُهُ، ابْتَعَثَـهُ وَالنَّـاسُ يَضْـرِبُونَ

### ﴿ یو سل یو نوي یمه خطبه ﴾

د خدای پېژندنه.

ستائنه هغه خدای لره ده چې تعریف یې په مخلوق کښې خپور دی، سپاهیان یې بریالي، او سترتوب او عظمت یې بې پایانه دی، ستایم یې په پرله پسې نعمتونو او لویو بخششونو، هغه خدای پاک چې حلم یې لوی او عفوه یې هر اړخیزه ده، په امر کښې عادل او له تېر او راتلونکي خبر دی، په خپل علم یې نړۍ پیدا کړه، او په خپل حکم یې مخلوقات پنځولي دي، بې له دې چې له چا پیروي وکړي، او یا له چا زده کړي، یا د کوم بل حکیم له پلانه نقل وکړي، د مخلوقاتو په خلقت کښې یې هیڅ غلطي نهٔ ده کړې او نهٔ یې مخلوقات د چا په مشورې پیدا کړي دي.

ګواهي ورکوم چې محمدﷺ د خدای بنده او استازی دی، په داسې

فِي غَمْرَة، وَيَمُوجُونَ فِي حَيْرَة، قَدْ قَادَتْهُمْ أَزِمَّةُ الْحَيْنِ، وَاسْتَغْلَقَتْ عَلَى أَفْئِدَتِهِمْ أَقْفَالُ الرَّيْنِ.

الزُّهْدُ وَالتَّقْوَى: أُوصِيكُمْ عِبَادَ اللهِ بِتَقْوَى اللهِ، فَإِنَّهَا حَقُّ اللهِ عَلَيْكُمْ، وَالْمُوجِبَةُ عَلَى اللهِ حَقَّكُمْ، وَأَنْ تَسْتَعِينُوا عَلَيْهَا بِاللهِ، وَتَسْتَعِينُوا بِهَا عَلَى اللهِ، فَإِنَّ التَّقْوَى فِي الْيَوْمِ الْحِرْزُ وَالْجُنَّةُ، وَفِي غَدٍ الطَّرِيقُ إِلَى الْجَنَّةِ، مَسْلَكُهَا وَاضِحٌ، وَسَالِكُهَا رَابِحٌ، وَمُسْتَوْدَعُهَا حَافِظٌ، لَمْ تَبْرَحْ عَارِضَةً نَفْسَهَا عَلَى الاْمَمِ الْمَاضِينَ وَالْغَابِرِينَ لِحَاجَتِهِمْ إِلَيْهَا غَداً، إِذَا أَعَادَ اللهُ مَا أَبْدَى، وَأَخَذَ مَا أَعْطَى، وَسَأَلَ عَمَّا أَسْدَى. فَمَا أَقَلَّ مَنْ قَبِلَهَا، وَحَمَلَهَا حَقَّ حَمْلِهَا! أُولئِكَ الاَقَلُّونَ عَدَداً، وَهُمْ أَهْلُ صِفَةِ اللهِ سُبْحَانَهُ إِذْ يَقُولُ: ﴿وَقَلِيلٌ مِنْ عِبَادِيَ الشَّكُورُ﴾. فَأَهْطِعُوا بِأَسْمَاعِكُمْ إِلَيْهَا، وَأَكِظُّوا بِجِدِّكُمْ عَلَيْهَا، وَاعْتَاضُوهَا مِنْ كُلِّ سَلَفٍ خَلَفاً، وَمِنْ كُلِّ مُخَالِفٍ مُوَافِقاً. أَيْقِظُوا بِهَا نَوْمَكُمْ، وَاقْطَعُوا بِهَا يَوْمَكُمْ، وَأَشْعِرُوهَا قُلُوبَكُمْ، وَارْحَضُوا بِهَا ذُنُوبَكُمْ، وَدَاوُوا بِهَا الاَسْقَامَ، وَبَادِرُوا بِهَا الْحِمَامَ، وَاعْتَبِرُوا بِمَنْ أَضَاعَهَا، وَلاَ يَعْتَبِرَنَّ بِكُمْ مَنْ أَطَاعَهَا.

أَلاَ وَصُونُوهَا وَتَصَوَّنُوا بِهَا، وَكُونُوا عَنِ الدُّنْيَا نُزَّاهاً، وَإِلَى الاْخِرَةِ وُلاَّهاً. وَلاَ تَضَعُوا مَنْ رَفَعَتْهُ التَّقْوَى، وَلاَ تَرْفَعُوا مَنْ رَفَعَتْهُ الدُّنْيَا، وَلاَ تَشِيمُوا بَارِقَهَا، وَلاَ تَسْمَعُوا نَاطِقَهَا، وَلاَ تُجِيبُوا نَاعِقَهَا، وَلاَ تَسْتَضِيئُوا بِإِشْرَاقِهَا، وَلاَ تُفْتَنُوا بِأَعْلاَقِهَا، فَإِنَّ بَرْقَهَا خَالِبٌ، وَنُطْقَهَا كَاذِبٌ، وَأَمْوَالَهَا مَحْرُوبَةٌ، وَأَعْلاَقَهَا مَسْلُوبَةٌ. أَلاَ وَهِيَ الْمُتَصَدِّيَةُ الْعَنُونُ، وَالْجَامِحَةُ الْحَرُونُ، وَالْمَائِنَةُ الْخَؤُونُ، وَالْجَحُودُ الْكَنُودُ، وَالْعَنُودُ الصَّدُودُ، وَالْحَيُودُ الْمَيُودُ. حَالُهَا انْتِقَالٌ، وَوَطْأَتُهَا زِلْزَالٌ، وَعِزُّهَا ذُلٌّ، وَجِدُّهَا هَزْلٌ، وَعُلْوُهَا سُفْلٌ، دَارُ حَرَب وَسَلَب، وَنَهْب وَعَطَب، أَهْلُهَا عَلَى سَاق وَسِيَاق،

وخت كښې يې مبعوث كړ چې خلق د جهالت په غولۍ كښې ګير وو، او په لالهاندۍ او سرګردانۍ باندې اخته وو، تباهۍ هغوي رانيولي او ځانته يې راكاږل، د ګمراهۍ درانۀ قفلونه يې په زړونو باندې وهلې شوي وو.

اے د خداے بندګانو تاسو پرهېزګارۍ ته رابلم چې په تاسو باندې د خداے پاک حق دے، او په خداے پاک باندې ستاسو د حق سبب هم كېږي، له خدايه د تقوا لپاره مرسته وغواړئ، او د خداے پاک د اوامرو په ځاے راوړلو لپاره له تقوا مرسته وغواړئ،ځكه چې تقوا نن د مصيبت ډال او سبا د جنت لاره ده، د تقوا لاره روښانه او لورے يې برخمن او امانتدار بلكه ساتندوے يې خداے پاک دے، تقوا تل ځان پخوانيو (او اوسنيو)امتونو ته وړاندې كړے دے او راتلونكو ته به يې هم وړاندې كوي،ځكه چې د قيامت په ورځ به ورته ټول اړمن وي، هغه ورځ چې په قيامت كښې به خلق راغونډ كړي او څه يې چې وركړي وو به يې خلي، او د ټولو لورينو او نعمتونو پوښتنه به كوي، نو ډېر كم دي هغه كسان چې تقوا يې غوره كړه او په حقه يې هسكه كړه،هو! د پرهېزګارو شمېر كم دے او همدا د خداے پاک د ستائنې وړ دي چې وې فرمايل:«شكر ګزاره خلق ډېر كم دي» نو د تقوا غږ د زړۀ په غوږو واورئ او لپاره يې هڅه وكړئ تقوا د تېرو كوتاهيانو بدل او عوض وګرځوئ او د هر كړي مخالف كار په بدل كښې يې غوره كړئ، په تقوا سره مو خوب په بېدارۍ بدل كړئ او په همدې سره مو ورځ تېره كړئ، زړونه مو په تقوا ژوندي كړئ، او ګناهاني مو پرې اوينځئ، د روح او بدن د ګناهونو درملنه او معالجه مو په تقوا سره وكړئ او ځانونه ورسره د آخرت سفر ته تيار كړئ، د تقوا له پرېښودونكو عبرت واخلئ او په خپله د پرهېزګارانو لپاره عبرت مه ګرځئ، خبر اوسئ! تقوا اوساتئ او ځانونه په تقوا اوساتئ.

### له دنيا ډډه

له دنيا بيزاره او آخرت ته لېواله اوسئ. څوک چې تقوا اوچت كړل څوک يې نۀ شي غورځولې او څوک چې دنيا اوچت كړل تاسو يې مه اوچتوئ، د دنيا په بړق بړوق مو اونۀ غولېږئ او د دنيا ستايونكو خبرې مه اورئ،د دنيا بلونكو ته ځواب مه وائئ، او د دنيا له ځلا رڼا مه غواړئ، د دنيا په سامانونو مه غولېږئ، ځكه چې د دنيا رڼا تته،خبره يې دروغ، مال يې چور او تالا كېدونكے دے، او سامانونه يې لوټېدونكي دي،خبر اوسئ! دنيا د مخ اړوونكې عشوه ګرې ښځې په شان ده چې لاسته نه راځي او د اړي ماري سورلۍ په شان چې سورلي نۀ وركوي،خائنه دورغجنه، نمک حرامه ناشكره، حيله ګره دښمنه،لالهانده او مخ ګرځوونكې ده چې حالات يې لړزانه، عزت يې خواري، سنجيدګي يې لوبې او ټوكې، او لوړتيا يې زوال او ځوړتيا ده، د جنګ او جدل، تباهۍ او هلاكت او ناامنۍ منزل دے،د دبدارونو او بيلتونونو كور دے لاري يې لالهانډونكې دي چې د تېښتې لاره نۀ لري، غوښتنې يې

وَلَحَاقٍ وَفِرَاقٍ. قَدْ تَحَيَّرَتْ مَذَاهِبُهَا، وَأَعْجَزَتْ مَهَارِبُهَا، وَخَابَتْ مَطَالِبُهَا، فَأَسْلَمَتْهُمُ الْمَعَاقِلُ، وَلَفَظَتْهُمُ الْمَنَازِلُ، وَأَعْيَتْهُمُ الْمَحَاوِلُ: فَمِنْ نَاجٍ مَعْقُورٍ، وَلَحْمٍ مَجْزُورٍ، وَشِلْوٍ مَذْبُوحٍ، وَدَمٍ مَسْفُوحٍ، وَعَاضٍّ عَلَى يَدَيْهِ، وَصَافِقٍ لِكَفَّيْهِ، وَمُرْتَفِقٍ بِخَدَّيْهِ، وَزَارٍ عَلَى رَأْيِهِ، وَرَاجِعٍ عَنْ عَزْمِهِ، وَقَدْ أَدْبَرَتِ الْحِيلَةُ، وَأَقْبَلَتِ الْغِيلَةُ، وَلاَتَ حِينَ مَنَاصٍ. هَيْهَاتَ هَيْهَاتَ! قَدْ فَاتَ مَا فَاتَ، وَذَهَبَ مَا ذَهَبَ، وَمَضَتِ الدُّنْيَا لِحَالِ بَالِهَا، ﴿فَمَا بَكَتْ عَلَيْهِمُ السَّمَاءُ وَالأَرْضُ وَمَا كَانُوا مُنْظَرِينَ﴾.

## [ ۱۹۲ ]

وَمِنْ خُطْبَة لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُسَمّي هذه الْخُطْبَةَ: الْقَاصِعَةَ. وَهي تَتَضَمَّنُ ذَمَّ إِبْلِيسَ عَلَى اسْتكْبَارِه وَتَرْكِه السُّجُودَ لآدَمَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ، وَأَنَّهُ أَوَّلُ مَنْ أَظْهَرَ الْعَصَبِيَّةَ وَتَبعَ الْحَمِيَّةَ، وَتَحْذيرَ النَّاسِ منْ سُلُوك طَريقَته.

الْحَمْدُ للهِ الَّذي لَبِسَ الْعِزَّ وَالْكِبْرِيَاءَ، وَاخْتَارَهُمَا لِنَفْسِهِ دُونَ خَلْقِهِ، وَجَعَلَهُمَا حِمًى وَحَرَماً عَلَى غَيْرِهِ، وَاصْطَفَاهُمَا لِجَلاَلِهِ. وَجَعَلَ اللَّعْنَةَ عَلَى مَنْ نَازَعَهُ فِيهِمَا مِنْ عِبَادِهِ، ثُمَّ اخْتَبَرَ بِذلِكَ مَلاَئِكَتَهُ الْمُقَرَّبِينَ، لِيَمِيزَ الْمُتَوَاضِعِينَ مِنْهُمْ مِنَ الْمُسْتَكْبِرِينَ، فَقَالَ سُبْحَانَهُ وَهُوَ الْعَالِمُ بِمُضْمَرَاتِ الْقُلُوبِ، وَمَحْجُوبَاتِ الْغُيُوبِ: ﴿إِنِّي خَالِقٌ بَشَراً مِنْ طِينٍ * فَإِذَا سَوَّيْتُهُ وَنَفَخْتُ فِيهِ مِنْ رُوحِي فَقَعُوا لَهُ سَاجِدِينَ * فَسَجَدَ الْمَلاَئِكَةُ كُلُّهُمْ أَجْمَعُونَ * إِلاَّ إِبْلِيسَ﴾ اعْتَرَضَتْهُ الْحَمِيَّةُ، فَافْتَخَرَ عَلَى آدَمَ بِخَلْقِهِ، وَتَعَصَّبَ عَلَيْهِ لاَصْلِهِ. فَعَدُوُّ اللهِ إِمَامُ الْمُتَعَصِّبِينَ، وَسَلَفُ الْمُسْتَكْبِرِينَ، الَّذِي وَضَعَ أَسَاسَ الْعَصَبِيَّةِ، وَنَازَعَ اللهَ رِدَاءَ الْجَبْرِيَّةِ، وَادَّرَعَ لِبَاسَ التَّعَزُّزِ،

نهیلوونکي او تاوانوونکي دي، د دنیا پناه ځایونه انسان مرګ ته بیائي، او له کورونو بې شړي، او چاره ګري یې ناتوانئوکې ده. اوس نو چې څوک د دنیا له تاړاکه پاتې شول څوک ژوبل ژوبل دي څوک ټوک ټوک، د چا سر له تنې جدا دے او څوک په وینو کښې لوغړېږي، څوک ګوته په غاښ ولاړ دي او څوک له حسرت او ارمانه لاسونه مروړي، ځینې سر په زنګانئه په فکر ډوب دي او ځینې یې په تېرو تېروتنو افسوسونه کوي، او ځانونه ملامتوي، او ځینې نور له هوډ او عزمه لاس په سر شوي دي، ځکه چې د تېښتې او حیلې لاره بنده شوې ده او دنیا هغوي رانیولي دي، او خبره اوس تېره ده.«شیرین عمر ضائع شوے دے» او اوبهٔ له ورخه تېرې دي، هاې افسوس څه چې له لاسه اوتل تېر شول او څه چې تېر شول لاړل، او دنیا په خپله خوښه تېره شوه.«نهٔ آسمان په هغوي اوژړل او نهٔ ځمکې، او هغوي ته هیڅکله مهلت ورنه کړے شو»

## ﴿یو سل دوه نویمه خطبه﴾

«د دې خطبې نوم قاصعه یعني سپکوونکې ده او په دې کښې یې د جاهلیت دودونه غندلي او رټلي دي او دې ته اشاره ده چې اول کبر شېطان کړے ؤ دا ډېره لویه خطبه ده چې امام د هجرت په څلوېښتم کال په داسې حال کښې چې په اس سپور و ورکړه»

### د لوے خداے لوے شان

حمد او ثنا هغه پالونکي لره ده چې د عزت او سترتوب جامه یې واغوسته او دا دوه د کمال صفتونه یې ځانته غوره او له مخلوقاتو اوغړول، دا دوه یې د ځان او نورو په مینځ کښې پوله وټاکله او د خپل سترتوب او عظمت لپاره یې غوره کړل، او لعنت یې وکړ په هغه چا باندې چې د عزت او لوے والي په ارمان د خداے پاک جنګ ته متې راونغاړي، له دې امله یې خپله مقربې فرښتې اوزمایلې، چې خاکسارې او عاجزې له سرکښو او متکبرو بیلې کړي، سره له دې چې څه په زړونو کښې دي او له پټو رازونو خبر دي، فرښتو ته یې وفرمایل:«زهٔ غواړم له خاورو یو انسان جوړ کړم نو چې کله یې برابر کړم او روح پکښې ورپوکم، نو سجده ورته وکړئ ټولو فرښتو سجده وکړه بې له ابلیسه» ځکه چې حسد یې وکړ او خپل خلقت یې تر آدمه غوره وګڼهٔ.

### د شېطان د کبر او ځان خوښونې غندنه

شېطان له خاورې د آدم د پېدا کېدو په وجه په هغهٔ باندې کبر څرګند کړ، او د خپل اصل په وجه چې له اوره دے غاوره شو، نو شېطان د خداے دښمن، د متعصبانو مشر او د کبرجنو سرخېل دے، چې د تعصب بنسټ یې کېښود، او د خداے پاک د کبریایۍ او سترتوب له

وَخَلَعَ قِنَاعَ التَّذَلُّلِ. أَلاَ تَرَوْنَ كَيْفَ صَغَّرَهُ اللهُ بِتَكَبُّرِهِ، وَوَضَعَهُ بِتَرَفُّعِهِ، فَجَعَلَهُ فِي الدُّنْيَا مَدْحُوراً، وَأَعَدَّ لَهُ فِي الأخِرَةِ سَعِيراً؟!

إِبْتِلاَءُ اللهِ لِخَلْقِهِ: وَلَوْ أَرَادَ اللهُ سُبْحَانَهُ أَنْ يَخْلُقَ آدَمَ مِنْ نُورٍ يَخْطَفُ الأبْصَارَ ضِيَاؤُهُ، وَيَبْهَرُ الْعُقُولَ رُوَاؤُهُ، وَطِيبٍ يَأْخُذُ الأنْفَاسَ عَرْفُهُ، لَفَعَلَ، وَلَوْ فَعَلَ لَظَلَّتْ لَهُ الأعْنَاقُ خَاضِعَةً، وَلَخَفَّتِ الْبَلْوَى فِيهِ عَلَى المَلاَئِكَةِ. وَلكِنَّ اللهَ سُبْحَانَهُ يَبْتَلِي خَلْقَهُ بِبَعْضِ مَا يَجْهَلُونَ أَصْلَهُ، تَمْيِيزاً بِالاخْتِبَارِ لَهُمْ، وَنَفْياً لِلاسْتِكْبَارِ عَنْهُمْ، وَإِبْعَاداً لِلْخُيَلاَءِ مِنْهُمْ. فَاعْتَبِرُوا بِمَا كَانَ مِنْ فِعْلِ اللهِ بِإِبْلِيسَ، إِذْ أَحْبَطَ عَمَلَهُ الطَّوِيلَ، وَجَهْدَهُ الْجَهِيدَ، وَكَانَ قَدْ عَبَدَ اللهَ سِتَّةَ آلاَفِ سَنَةٍ، لاَ يُدْرَى أَمِنْ سِنِي الدُّنْيَا أَمْ مِنْ سِنِي الأخِرَةِ، عَنْ كِبْرِ سَاعَةٍ وَاحِدَةٍ. فَمَنْ بَعْدَ إِبْلِيسَ يَسْلَمُ عَلَى اللهِ بِمِثْلِ مَعْصِيَتِهِ؟ كَلاَّ، مَا كَانَ اللهُ سُبْحَانَهُ لِيُدْخِلَ الْجَنَّةَ بَشَراً بِأَمْرٍ أَخْرَجَ بِهِ مِنْهَا مَلَكاً، إِنَّ حُكْمَهُ فِي أَهْلِ السَّمَاءِ وَأَهْلِ الأرْضِ لَوَاحِدٌ، وَمَا بَيْنَ اللهِ وَبَيْنَ أَحَدٍ مِنْ خَلْقِهِ هَوَادَةٌ فِي إِبَاحَةِ حِمىً حَرَّمَهُ عَلَى الْعَالَمِينَ.

التَّحْذِيرُ مِنَ الشَّيْطَانِ: فَاحْذَرُوا عَدُوَّ اللهِ أَنْ يُعْدِيَكُمْ بِدَائِهِ، وَأَنْ يَسْتَفِزَّكُمْ بِنِدَائِهِ، وَأَنْ يُجْلِبَ عَلَيْكُمْ بِخَيْلِهِ وَرَجِلِهِ. فَلَعَمْرِي لَقَدْ فَوَّقَ لَكُمْ سَهْمَ الْوَعِيدِ، وَأَغْرَقَ لَكُم بِالنَّزْعِ الشَّدِيدِ، وَرَمَاكُمْ مِنْ مَكَانٍ قَرِيبٍ، وَقَالَ رَبِّ بِمَا أَغْوَيْتَنِي لأزَيِّنَنَّ لَهُمْ فِي الأرْضِ وَلأغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ، قَذْفاً بِغَيْبٍ بَعِيدٍ، وَرَجْماً بِظَنٍّ غَيْرِ مُصِيبٍ، صَدَّقَهُ بِهِ أَبْنَاءُ الْحَمِيَّةِ، وَإِخْوَانُ الْعَصَبِيَّةِ، وَفُرْسَانُ الْكِبْرِ وَالْجَاهِلِيَّةِ. حَتَّى إِذَا انْقَادَتْ لَهُ الْجَامِحَةُ مِنْكُمْ، وَاسْتَحْكَمَتِ الطَّمَاعِيَّةُ مِنْهُ فِيكُمْ، فَنَجَمَتِ الْحَالُ مِنَ السِّرِّ الْخَفِيِّ إِلَى الأمْرِ الْجَلِيِّ، اسْتَفْحَلَ سُلْطَانُهُ عَلَيْكُمْ، وَدَلَفَ بِجُنُودِهِ نَحْوَكُمْ، فَأَقْحَمُوكُمْ وَلَجَاتِ الذُّلِّ، وَأَحَلُّوكُم وَرَطَاتِ الْقَتْلِ، وَأَوْطَأُوكُمْ إِثْخَانَ الْجِرَاحَةِ، طَعْناً فِي عُيُونِكُم، وَحَزّاً فِي حُلُوقِكُمْ، وَدَقّاً لِمَنَاخِرِكُمْ، وَقَصْداً لِمَقَاتِلِكُمْ، وَسَوْقاً بِخَزَائِمِ الْقَهْرِ إِلَى النَّارِ

جامې سره يې مقابله وکړه، د کبر او لوئۍ جامه يې په تن کړه او د تواضع او تذلل جامه يې وغورځوله، نو نۀ وينئ چې خداے پاک هغه د ځان د لوے ګڼلو په وجه سپک او وړوکے کړ. او د بلند پروازۍ له امله يې پرېوتے او خوار کړ، نو هغه يې په دنيا کښې رټل شوے وګرځوۀ او په آخرت کښې يې ورته د دوزخ اور تيار کړ.

## د کبر درملنه او علاج

خداے پاک که اراده کړې وې آدمؑ به يې له داسې نور او رڼا پېدا کړے ؤ چې سترګې وبرېښوي او ښکلا يې عقل اريان دريان کړي، او خوشبوي او پاکي يې له سپېړمو سا اخېستل هېر کړي، او که داسې يې کړې وې نو ټول ښتونه به هغۀ ته ټيټ شوي وو او آدمؑ ته د فرښتو د سجدې ازمائل به آسان وو. خو خداے تعالىٰ خپل بندګان په داسې چارو ازمائي چې هغوي ترې نۀ دي خبر چې بد او ښۀ په ډاګه شي، او له هغوي کبر او ځان مننه لرې کړي، او لوئي ترې اوباسي، نو له ابليس سره د خداے پاک له سلوکه عبرت واخلئ او دا ځکه چې زيات عملونه او پرله پسې کوششونه يې په يو کبر سره لاهو کړل، هغۀ شپږ زره کاله عبادت کړے ؤ چې معلومه نۀ ده د دنيا کلونه وو او که د آخرت[119] خو د يوې شيبې په تکبر سره يې هر څه لوڼپه کړل. نو اوس له ابليسه وروسته څوک دي چې همدغه غلطي وکړي او د خداے پاک له غضبه بچ پاتے شي. نه هيڅکله نۀ شي پاتے کېدې. خداے تعالىٰ هيڅکله يو انسان د داسې عمل په وجه جنت ته نۀ بيائي د کوم په وجه يې چې يوه فرښته محرومه کړه، په ځمکه او آسمان کښې د خداے امر يو شان دے، د خداے او مخلوق په مينځ کې څه خاصه دوستي نشته چې د هغې په خاطر هغه حرام چې د دنيا په خلقو يې حرام کړي دي حلال کړي.

## د شيطان له دښمنۍ خبردار اوسئ.

د خداے بندګانو! د خداے پاک له دښمنه خبردار اوسئ، چې په خپلې بيمارۍ مو اخته نۀ کړي، او په خپل غږ مو روان نۀ کړي، او په خپلو پلو او سپرو ځواکونو سره درباندې بريد ونۀ کړي، په ځان مې قسم! شيطان ستاسو د ښکار لپاره خطرناک غشي په ليندۍ کښې ايښي او سخت يې راکاږلي او له نژدې يې په نښنه کړې يئ، او خداے پاک ته يې ويلې دي چې: «اے پالونکيه! په دې وجه چې زۀ دې اوشړلم، د نيا به يې سترګو ته ښه وبرېښوم او ټول به وغولوم» نو په تيارۀ کښې يې غشے ګوزار کړ او بې نښې نيولو يې کاڼے اوبښت خو د ځان منني بچيانو، د تعصب ورڼو او د جهالت او خود پرستۍ سپرو يې تصديق وکړ او ستاسو سرغړونکي شيطان ته تسليم شول او د هغۀ طمعو په تاسو کښې خپل کار وکړ، او دا حقيقت ټولو ته ښکاره شو، د شيطان ولکه په ټولو ټينګه شوه او په لښکر سره يې په تاسو يرغل وکړ، او تاسو يې د ذلت ګړنګ ته اوغورځولئ، او د وژلې پولو ته يې ورسولئ، او ستاسو په سترګو کښې د نېزو په منډلو، ستاسو د مريو په پرې کولو او د مازغو په

المَعدَّة لَكُمْ، فَأَصْبَحَ أَعْظَمَ في دينكُمْ جَرْحاً، وَأَوْرَى فـي دُنْيَـا كُمْ قَدْحاً، من الَّذين أَصْبَحْتُمْ لَهُمْ مُنَاصبين، وعَلَـيْهِمْ مُتَـأَلِّبين. فَلَعَمْرُ الله لَقَدْ فَخَرَ عَلَى أَصْلكُمْ، وَوَقَعَ في حَسَبكُمْ، وَدَفَعَ فـي نَسَـبكُمْ، وَأَجْلَـبَ بخَيْلـه عَلَـيْكُمْ، وَقَصَـدَ برَجلـه سَـبيلَكُمْ، يَقْتَنصُونَكُمْ بكُلِّ مَكَان، وَيَضْربُونَ منْكُمْ كُلَّ بَنَـان، لاَ تَمْتَنعُـونَ بحيلَة، وَلاَ تَدْفَعُونَ بعَزيمَـة، فـي حَوْمَـة ذُلّ، وَحَلْقَـة ضِـيق، وَعَرْصَة مَوْت، وَجَوْلَة بَلاَء. فَأَطْفئُوا مَا كَمَنَ في قُلُـوبكُمْ مـنْ نيرَان الْعَصَبيَّة، وَأَحْقَاد الْجَاهليَّة، وَإنَّمَا تلْكَ الْحَميَّةُ تَكُونُ فـي الْمُسْلم مـنْ خَطَـرَات الشَّـيْطَان وَنَخَوَاتـه، وَنَزَغَاتـه وَنَفَثَاتـه. وَاعْتَمدُوا وَضْعَ التَّذَلُّل عَلَى رُؤُوسـكُمْ، وَإلْقَـاءَ التَّعَـزُّز تَحْـتَ أَقْدَامكُمْ، وَخَلْعَ التَّكَبُّر منْ أَعْنَاقكُمْ. وَاتَّخذُوا التَّوَاضُعَ مَسْـلَحَةً بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ عَدُوِّكُمْ إبْليسَ وَجُنُوده، فَإنَّ لَهُ منْ كُلِّ أُمَّة جُنُـوداً وَأَعْوَاناً، وَرَجلاً وَفُرْسَاناً، وَلاَ تَكُونُوا كَالْمُتَكَبِّر عَلَى ابْن أُمِّه منْ غَيْر مَا فَضْل جَعَلَهُ اللهُ فيه سوَى مَا أَلْحَقَت الْعَظَمَةُ بنَفْسـه مـنْ عَدَاوَة الْحَسَد، وَقَدَحَت الْحَميَّةُ في قَلْبه منْ نَار الْغَضَب، وَنَفَخَ الشَّيْطَانُ في أَنْفه منْ ريح الْكبْر الَّـذي أَعْقَبَـهُ اللهُ بـه النَّدَامَـةَ، وَأَلْزَمَهُ آثَامَ الْقَاتلينَ إلَى يَوْم الْقيَامَة.

التَّحْذيرُ منَ الْكبَر: أَلاَ وَقَدْ أَمْعَنْـتُمْ فـي الْبَغْـيِ، وَأَفْسَـدْتُمْ فـي الاَرْض، مُصَارَحَةً لله بالْمُنَاصَبَة، وَمُبَارَزَةً للْمُـؤْمنينَ بالْمُحَارَبَـة. فَاللهَ اللهَ في كبْر الْحَميَّة، وَفَخْر الْجَاهليَّة! فَإنَّـهُ مَلاَقـحُ الشَّـنَآن، وَمَنَافخُ الشَّيْطَان، اللاَتي خَدَعَ بهَـا الاُْمَـمَ الْمَاضـيَةَ، وَالْقُـرُونَ الْخَاليَةَ، حَتّى أَعْنَقُوا في حَنَادس جَهَالَته، وَمَهَاوي ضَلاَلَته، ذُلُلاً عَنْ سيَاقه، سُلُساً في قيَاده، أَمْراً تَشَابَهَت الْقُلُوبُ فيه، وَتَتَابَعَت الْقُرُونُ عَلَيْه، وَكبْراً تَضَايَقَت الصُّدُورُ به. أَلاَ فَالْحَذَرَ الْحَذَرَ منْ طَاعَة سَادَاتكُمْ وَكُبَرَائكُمْ! الَّذينَ تَكَبَّرُوا عَنْ حَسَبهمْ، وَتَرَفَّعُـوا فَوْقَ نَسَبهمْ، وَأَلْقَوُا الْهَجينَةَ عَلَى رَبِّهمْ، وَجَاحَدُوا اللهَ مَـا صَـنَعَ بهمْ، مُكَابَرَةً لقَضَـائه، وَمُغَالَبَـةً لآلاَئـه، فَـإنَّهُمْ قَوَاعـدُ أَسَـاس

ټکولو سره يې چخنې کړئ، چې هغه اور ته مو بوځي چې له مخکې تيار شوے دے. نو شېطان ستاسو د دينداري ترټولو خطرناک خنډ، او ستاسو د دنيا لپاره ترټولو تاوانجن او اور بلوونکے کس دے، شېطان ستاسو له هغو غټو دښمنانو څخه دے چې تاسو ورته د ماتې ورکولو لپاره خپلې ملاګانې تړلې دي، اے خلقو! خپله غصه مو په شېطان اوباسئ او تعلق ورسره اوشلوئ، په خدا ے قسم! شېطان ستاسو د اصل په وړاندې کبر وکړ او ستاسو حسب نسب ته يې پېغور وکړ، او په خپلو سپرو سره يې په تاسو باندې بريد وکړ، په پليو عسکرو سره يې لارې دروتړلې او هر ځاے چې مو ومومي ښکار کوي مو، او لاسونه پښې درغوڅوي، نۀ يې په چل او نقشې سره تيت پرک کولې شئ او نۀ يې په قسمونو سره له خپلې لارې غړولې شئ، ځکه چې د شېطان ځار ځاے، سپکوونکے، تنګ او تيارۀ، مرګونے، او د سختيو زانګو ده، نو په زړونو کښې مو د تعصب بځرکي او د جاهليت تربګنۍ ګل کړئ ځکه چې د مسلمان په زړۀ کښې کبر او ځان منني د شېطان آفتونه، غرورونه، کششونه او وسوسې دي. د خاکسارۍ شمله په سرکړئ او د کبر خولۍ اوغورځوئ او د لوئۍ ځنځيرونه له غاړې لرې کړئ، تواضع او عاجزي د ځان او شېطان او د هغۀ د لښکريانو په مينځ کښې مورچه وګرځوئ، ځکه چې شېطان په هرې پرګنې کښې لښکرې او پلې سپارۀ ملګري لري. او د قابيل په شان مه کېږئ چې په ورور باندې يې کبر وکړ، خدا ے هغه ته لوئي نۀ وه ورکړې بلکه هغۀ ځان لوے ګڼۀ او حسد هغه دښمنۍ ته اړ کړ، تعصب يې په زړۀ کښې د کينې اور غرغنډه کړ او شېطان يې په مازغو کښې د کبر هوا ډکه کړه، او آخر پښېمانه شو، او خدا ے پاک د قاتلانو ګناه تر قيامته د هغۀ په غاړه واچوله.

## له کبر او جاهلانه خويونو ډډه

خبر اوسئ! تاسو په سرکشۍ کښې زياتے وکړ، په ځمکه کښې مو فساد جوړ کړ او په ښکاره د خدا ے پاک له بندګانو سره ونښتئ. د خدا ے لپاره، د خدا ے لپاره! له کبر او ځان خوښونې او د جاهليت له کبرونو ځان اوساتئ چې د بغض او کينې او د شيطاني وسوسو ځاله ده. چې تېر ولسونه او پخواني قامونه يې وغولول تر دې چې د جهالت په تيارو کښې ډوب شول او د هلاکت په ګړنګونو کښې اوغورزېدل، او ډېر په آسانه هغه ځاے ته چې شېطان غوښتل راکښلې شول، کبر او لوئي هغه څيز دے چې د کبرجنو زړونه يې يو شان کړل تردې چې پيړۍ پيړۍ يې په ټکرونو او وينه بهيولو کښې تېرې کړې او سينې له کينو تنګې شوې. خبر اوسئ! خبردار، خبردار! چې د خپلو هغو لويانو او مشرانو پېروي ونۀ کړئ چې په خپل اصل او نسب نازېږي، او ځان تر هغه څه چې دي لوړ ګڼي، او غلط کارونه د خدا ے پاک له لورې ګڼي، د خدا ے د

الْعَصَبِيَّة، وَدَعَائِمُ أَرْكَانِ الْفِتْنَةِ، وَسُيُوفُ إِعْتِزَاءِ الْجَاهِلِيَّةِ. فَاتَّقُوا اللهَ وَلاَ تَكُونُوا لِنِعَمِهِ عَلَيْكُمْ أَضْدَاداً، وَلاَ لِفَضْلِهِ عِنْدَكُمْ حُسَّاداً، وَلاَ تُطِيعُوا الأَدْعِيَاءَ الَّذِينَ شَرِبْتُمْ بِصَفْوِكُمْ كَدَرَهُمْ، وَخَلَطْتُمْ بِصِحَّتِكُمْ مَرَضَهُمْ، وَأَدْخَلْتُمْ فِي حَقِّكُمْ بَاطِلَهُمْ، وَهُمْ أَسَاسُ الْفُسُوقِ، وَأَحْلاَسُ الْعُقُوقِ، اتَّخَذَهُمْ إِبْلِيسُ مَطَايَا ضَلاَلٍ، وَجُنْداً بِهِمْ يَصُولُ عَلَى النَّاسِ، وَتَرَاجِمَةً يَنْطِقُ عَلَى أَلْسِنَتِهِمْ، اسْتِرَاقاً لِعُقُولِكُمْ، وَدُخُولاً فِي عُيُونِكُمْ، وَنَفْثاً فِي أَسْمَاعِكُمْ، فَجَعَلَكُمْ مَرْمَى نَبْلِهِ، وَمَوْطِىءَ قَدَمِهِ، وَمَأْخَذَ يَدِهِ.

الْعِبْرَةُ بِالْمَاضِينَ: فَاعْتَبِرُوا بِمَا أَصَابَ الأُمَمَ الْمُسْتَكْبِرِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ مِنْ بَأْسِ اللهِ وَصَوْلاَتِهِ، وَوَقَائِعِهِ وَمَثُلاَتِهِ، وَاتَّعِظُوا بِمَثَاوِي خُدُودِهِمْ، وَمَصَارِعِ جُنُوبِهِمْ، وَاسْتَعِيذُوا بِاللهِ مِنْ لَوَاقِحِ الْكِبْرِ، كَمَا تَسْتَعِيذُونَهُ مِنْ طَوَارِقِ الدَّهْرِ، فَلَوْ رَخَّصَ اللهُ فِي الْكِبْرِ لأَحَدٍ مِنْ عِبَادِهِ لَرَخَّصَ فِيهِ لِخَاصَّةِ أَنْبِيَائِهِ [وَأَوْلِيَائِهِ]، وَلكِنَّهُ سُبْحَانَهُ كَرَّهَ إِلَيْهِمُ التَّكَابُرَ، وَرَضِيَ لَهُمُ التَّوَاضُعَ، فَأَلْصَقُوا بِالأَرْضِ خُدُودَهُمْ، وَعَفَّرُوا فِي التُّرَابِ وُجُوهَهُمْ، وَخَفَضُوا أَجْنِحَتَهُمْ لِلْمُؤْمِنِينَ، وَكَانُوا قَوْماً مُسْتَضْعَفِينَ، قَدِ اخْتَبَرَهُمُ اللهُ بِالْمَخْمَصَةِ وَابْتَلاَهُمْ بِالْمَجْهَدَةِ، وَامْتَحَنَهُمْ بِالْمَخَاوِفِ وَمَخَضَهُمْ بِالْمَكَارِهِ، فَلاَ تَعْتَبِرُوا الرِّضَى وَالسُّخْطَ بِالْمَالِ وَالْوَلَدِ جَهْلاً بِمَوَاقِعِ الْفِتْنَةِ، وَالاخْتِبَارِ فِي مَوَاضِعِ الْغِنَى وَالافْتِقَارِ، فَقَدْ قَالَ سُبْحَانَهُ: ﴿أَيَحْسَبُونَ أَنَّ مَا نُمِدُّهُمْ بِهِ مِنْ مَالٍ وَبَنِينَ * نُسَارِعُ لَهُمْ فِي الْخَيْرَاتِ بَلْ لاَ يَشْعُرُونَ﴾.

فَإِنَّ اللهَ سُبْحَانَهُ يَخْتَبِرُ عِبَادَهُ الْمُسْتَكْبِرِينَ فِي أَنْفُسِهِمْ بِأَوْلِيَائِهِ الْمُسْتَضْعَفِينَ فِي أَعْيُنِهِمْ. وَلَقَدْ دَخَلَ مُوسَى بْنُ عِمْرَانَ وَمَعَهُ أَخُوهُ هَارُونُ عليهما السلام عَلَى فِرْعَوْنَ، وَعَلَيْهِمَا مَدَارِعُ الصُّوفِ، وَبِأَيْدِيهِمَا الْعِصِيُّ، فَشَرَطَا لَهُ ـ إِنْ أَسْلَمَ ـ بَقَاءَ مُلْكِهِ، وَدَوَامَ عِزِّهِ، فَقَالَ: أَلاَ تَعْجَبُونَ مِنْ هذَيْنِ يَشْرِطَانِ لِي دَوَامَ الْعِزِّ، وَبَقَاءَ الْمُلْكِ، وَهُمَا بِمَا تَرَوْنَ مِنْ حَالِ الْفَقْرِ وَالذُّلِّ، فَهَلاَّ أُلْقِيَ عَلَيْهِمَا أَسَاوِرَةٌ مِنْ ذَهَبٍ؟ إِعْظَاماً لِلذَّهَبِ وَجَمْعِهِ، وَاحْتِقَاراً

پرېمانه لورينو انکار کوي چې د پروردګار له مشيت سره ټکره ووهي، او په نعمتونو يې سترګې پټې کړي، دوي د جاهليت د تعصب تومنه، د فتنې ستنې او د جاهليت د کبر تورې دي. نو له خدايه اوېرېږئ (تقوا اختيار کړئ) او له الهي لورينو او نعمتونو سره ډغره مه وهئ، او د هغهٔ له فضل او ښندنې سره ځيل مه کوئ، د پرېوتوکسانو پېروي مهٔ کوئ، هغه کسان چې تاسو يې خړې اوبهٔ له خپلو صفا اوبو سره ګډوئ او څښئ يې او ناروغي يې له خپلې سلامتيا سره يو ځاے کوئ، او باطل يې له خپل حق سره مخلوطوئ، حال دا چې هغوي د هر ډول فسق او بې لارۍ جرړې او د هرې ګناه ملګري دي. شېطان هغوي د خلقو د تېرايستلو لپاره خپلې سورلۍ ګرځولې او په خلقو باندې د يرغل لښکر يې ترې جوړ کړے دے، او د عقلونو د تروړلو او ستاسو په سترګو او غوږونو کښې د ننوتلو لپاره يې ويندويان ګرځولي دي، چې تاسو د خپلو غشو نښه، د خپلو ګامونو لاندې او د خپلو وسوسو لاسوند وګرځوي.

## له تېرو عبرت واخلئ

اے خلقو! په تېروکبرجنو اولسونو له تېرېدونکو، سزاګانو، عذابونو، سختيو، ذلتونو، سپکاويو او خواريو عبرت واخلئ، او سبق واخلئ له قبرونو او له هغو خاورو يې چې ورلاندې شول، او له ځمکو يې چې وربانديې وغورځېدل، او پناه يوسئ خداے پاک ته له هغو زښتو او بدو نښو چې کبر او غرور يې په زړونو کښې ورپيدا کړے هماغه شان چې له سختو پېښو هغهٔ ته پناه اوړئ. که خداے پاک د کبر اجازه ورکولې نو خپلو خاصو بندګانو، پېغمبرانو عليهم السلام او امامانو عليهم السلام ته به يې ورکړې وه، خو خداے پاک هغوي لره کبر ناخوښ او تواضع او خاکساري يې ورلره خوښه کړه، چې تندي په ځمکه لګوي او مخ په خاوره اېږدي او د مومنانو په مخکې عاجزي کوي، په خپله هم د ټولنې له مستضعفو طبقو څخه دي، چې خداے پاک په لوږه اوزمايل، او په بلاګانو يې اخته کړل، او په وېره يې امتحان کړل، او په زياتو مشکلاتو سره يې سوچه کړل، نو مال او اولاد د خداے پاک د خوښې او خوابښينۍ سبب مه ګڼئ چې په بې نيازۍ او وسمنۍ کښې د ازمېښتونو له مواردو د ناخبرۍ نښه ده، ځکه چې لوے خداے وفرمايل: «آيا دوي ګمان کوي چې کوم مال او اولاد مو ورکړي دي ډېر زر به هغوي ته نيکۍ برابرې کړي . نه، هغوي نهٔ دي پوه»

## د ازمېښتونو فلسفه

نو سپېڅلي خداے کبرجن بندګان په خپلو دوستانو سره چې د هغوي په نظرکښې بې وسه دي ازمائي، کله چې موسى بن عمران عليه السلام او ورور يې هارون عليه السلام فرعون ته ورغلل چې وړينې جامې يې په تن او امساګانې يې په لاس کښې وې، او له فرعون سره يې شرط وکړ چې که خپل پالونکي ته تسليم شي واکمني او باچاهي به يې تل پاتې شي او عزت به يې خوندي وي، فرعون وويل: «تاسو دغو دوو کسانو ته حېرانه نهٔ يئ چې

للصُّوف ولُبْسه! ولَوْ أَرَادَ اللهُ سُبْحَانَهُ بِأَنْبِيَائه حَيْثُ بَعَثَهُمْ أَنْ يَفْتحَ لَهُمْ كُنُوزَ الْذِّهْبَان، ومَعَادنَ الْعِقْيَان، ومَغَارسَ الْجِنَان، وأَنْ يَحْشُرَ مَعَهُمْ طَيْرَ السَّماء ووُحُوشَ الارَضين لَفَعَلَ، ولَوْ فَعَلَ لَسقَطَ الْبَلاءُ، وبَطَلَ الْجزاءُ، واضْمَحلَّت الأَنْبَاءُ، ولَمَا وَجَبَ لِلْقَابلين أُجُورُ الْمُبْتَلين، ولاَ اسْتَحقَّ الْمُؤمنُونَ ثَوَابَ الْمُحْسنين، ولاَ لَزمت الاَسْمَاءُ مَعَانيَهَا، ولكنَّ اللهَ سُبْحَانَهُ جَعَلَ رُسُلَهُ أُولي قُوَّة في عَزَائمهمْ، وَضَعفَةً فيما تَرَى الاَعْيُنُ منْ حَالاَتهمْ، مَعَ قَنَاعَة تَمْلأُ الْقُلُوبَ وَالْعُيُونَ غنىً، وَ خَصَاصَة تَمْلأُ الاَبْصَارَ وَالاَسْمَاعَ أَذىً.

وَلَوْ كَانَت الاَنْبيَاءُ أَهْلَ قُوَّة لاَ تُرَامُ، وَعزَّة لاَ تُضَامُ، وَمُلْك تُمَدُّ نَحْوَهُ أَعْنَاقُ الرِّجَال، وَتُشَدُّ إلَيْه عُقَدُ الرِّحَال، لَكَانَ ذلكَ أَهْوَنَ عَلَى الْخَلْق في الاعتَبَار، وَأَبْعَدَ لَهُمْ منَ الاسْتكْبَار، ولآمَنُوا عَنْ رَهْبَة قَاهرَة لَهُمْ، أَوْ رَغْبَة مَائلَة بهمْ، فَكَانَت النِّيَّاتُ مُشْتَرَكَةً، وَالْحَسَنَاتُ مُقْتَسَمَةً. وَلكنَّ اللهَ سُبْحَانَهُ أَرَادَ أَنْ يَكُونَ الاتِّبَاعُ لرُسُله، وَالتَّصْديقُ بكُتُبه، وَالْخُشُوعُ لوَجْهه، وَالاسْتكَانَةُ لاَمْره، وَالاسْتسْلاَمُ لطَاعَته، أُمُوراً لَهُ خَاصَّةً، لاَ تَشُوبُهَا منْ غَيْرهَا شَائبَةٌ، وَكُلَّمَا كَانَت الْبَلْوَى وَالاخْتبَارُ أَعْظَمَ كَانَت الْمَثُوبَةُ وَالْجَزَاءُ أَجْزَلَ.

الكَعْبَةُ المُقَدَّسَةُ: أَلاَ تَرَوْنَ أَنَّ اللهَ سُبْحَانَهُ، اخْتَبَرَ الاَوَّلينَ منْ لَدُنْ آدَمَ صَلَّى اللهُ عَلَيْه، إلَى الاخرينَ منْ هذَا الْعَالَم، بأَحْجَار لاَ تَضُرُّ وَلاَ تَنْفَعُ، وَلاَ تُبْصرُ وَلاَ تَسْمَعُ، فَجَعَلَهَا بَيْتَهُ الْحَرَامَ الَّذي جَعَلَهُ للنَّاس قيَاماً. ثُمَّ وَضَعَهُ بأَوْعَر بقَاع الاَرْض حَجَراً، وَأَقَلِّ نَتَائق الدُّنْيَا مَدَراً، وَأَضْيَق بُطُون الاَوْديَة قُطْراً، بَيْنَ جبَال خَشنَة، وَرمَال دَمثَة، وَعُيُون وَشلَة، وَقُرىً مُنْقَطعَة، لا يَزْكُو بهَا خُفٌّ وَلاَ حَافرٌ وَلاَ ظلْفٌ. ثُمَّ أَمَرَ آدَمَ وَوَلَدَهُ أَنْ يَثْنُوا أَعْطَافَهُمْ نَحْوَهُ، فَصَارَ مَثَابَةً لمُنْتَجَع أَسْفَارهمْ، وَغَايَةً لمُلْقَى رحَالهمْ،

زما د عزت دوام او د حکومت پایښت، په خپلو غوښتنو پورې تړي حال دا چې د فقر او بېوزلۍ جامه يې په تن ده. که داسې وي نو د سرو زرو کړې مو ولې نهٔ دي په لاس؟» دا خبره فرعون د سرو زرو د لوړاوي او د وړينې جامې د سپکاوي لپاره وکړه، حال دا چې که خداے پاک غوښتلي د پېغمبرانو علیهم‌السلام د ګمارلو په وخت به يې هغوي ته د خزانو ورونه، د ملغلرو معدنونه او شنهٔ باغونه پرانېستي وې، او د آسمانونو مارغان، او د ځمکې وحشي ځناور به يې ورسره روان کړي وې، خو که دا کار يې کړے وې نو ازمېښت به نهٔ ؤ،او جزا او سزا به بې اثره شوې وه، او الهي زيرے او خبردارے به بې ګټې ؤ، او په ازمايل شويو مومنانو به اجر او انعام نهٔ واجبېدهٔ، او ايماندارو ته به د نېکو چارو ثواب نهٔ ورکول کېدهٔ، او الفاظو او اصطلاح ګانو به خپلې معنې له لاسه ورکړې وې،حال دا چې خداے پاک خپل استازي په پياوړي هوډ، که څه هم په ظاهره ساده او بېوزله وګمارل، په داسې قناعت سره چې سترګې او زړونه بډايه کړي، که څه هم په ظاهره يې بېوزلي اوناداري د خلقو غوږونه او سترګې زوروي.

که پېغمبرانو ته يې داسې طاقت ورکړے وې چې چا ورسره مخالفت نهٔ شوکولے، او داسې وس او عزت يې لرلے چې پرزيدے نهٔ شوې، او داسې باچاهي يې لرلې چې ټولې سترګې وراوړېدې، نو لرې لرې ځايونو نه به خلق د هغوي په لور ورمات شوي وو خو د خلقو په نزد به يې اعتبار کم ؤ،کبرجنو به ورته سرونه ټيټ کړي وو او ظاهراً به يې ايمان راوړے ؤ خو له وېرې او له مادياتو سره د مينې له مخې، بيا به نو خالص نيتونه نهٔ شو موندل کېدې، او د هغوي موخې او مقصدونه به غير الهي وو، او په نورو نورو نيتونو سره به نېکۍ کېدې، خو سبحان خداے اراده وکړه چې د پېغمبرانو علیهم‌السلام پېروي يې، د آسماني کتابونو تصديق، په عبادتونو کښې خضوع، د خداے پاک امر ته تسليمي،سوچه فرمانبرداري، چې په سوچه نيت او يوائې د خداے پاک لپاره وي، او بې خدايه موخې او مقصدونه پکې نهٔ وي، ځکه چې هر څومره چې ازمېښت او ربړې لوئې وي اجر او ثواب يې هم ستر وي.

## دحج فلسفه

ايا نهٔ وينئ چې بې له شکه پاک خداے له آدمه تر راتلونکوانسانانو پورې په مکه کښې په ځينوکاڼو سره اوزمائل چې نهٔ تاوان رسوي او نهٔ ګټه، نهٔ څهويني او نهٔ څه اوري، دا کاڼي يې د خپل کور قدرمن کاڼي وګرځول «او هغه يې د خلقو د پايښت سبب وګرځول» بيا يې کعبه د سختو کاڼو په ټاټوبي، په شاړه ځمکه، په تنګو درو، زيږو غرونو، پرېمانه شګو، کم آبه چينو، او د لرو پرتو آباديو په ټاټوبي کښې وګرځوله چې پکې اوښان، اسونه، غواګانې او ګډان وغېره په راحتۍ کښې وي، بيا يې آدم او بنيادم ته امر وکړ چې کعبې ته مخ کړي او هغه

تَهْوِي إِلَيْه ثِمَارُ الأَفْئدَةِ مِنْ مَفَاوِزِ قِفَارٍ سَحِيقَةٍ، وَمَهَاوِي فِجَاجٍ عَمِيقَةٍ، وَجَزَائِرِ بِحَارٍ مُنْقَطِعَةٍ، حَتَّى يَهُزُّوا مَنَاكِبَهُمْ ذُلُلاً يُهَلِّلُونَ لِلّهِ حَوْلَهُ، وَيَرْمُلُونَ عَلَى أَقْدَامِهِمْ شُعْثاً غُبْراً لَهُ، قَدْ نَبَذُوا السَّرَابِيلَ وَرَاءَ ظُهُورِهِمْ، وَشَوَّهُوا بِإِعْفَاءِ الشُّعُورِ مَحَاسِنَ خَلْقِهِمْ، ابْتِلاَءً عَظِيماً، وَامْتِحَاناً شَدِيداً، وَاخْتِبَاراً مُبِيناً، وَتَمْحِيصاً بَلِيغاً، جَعَلَهُ اللهُ تَعَالَى سَبَباً لِرَحْمَتِهِ، وَوُصْلَةً إِلَى جَنَّتِهِ. وَلَوْ أَرَادَ سُبْحَانَهُ أَنْ يَضَعَ بَيْتَهُ الْحَرَامَ، وَمَشَاعِرَهُ الْعِظَامَ، بَيْنَ جَنَّاتٍ وَأَنْهَارٍ، وَسَهْلٍ وَقَرَارٍ، جَمَّ الأَشْجَارِ، دَانِيَ الثِّمَارِ، مُلْتَفَّ الْبُنَى، مُتَّصِلَ الْقُرَى، بَيْنَ بُرَّةٍ سَمْرَاءَ، وَرَوْضَةٍ خَضْرَاءَ، وَأَرْيَافٍ مُحْدِقَةٍ، وَعِرَاصٍ مُغْدِقَةٍ، وَزُرُوعٍ نَاضِرَةٍ، وَطُرُقٍ عَامِرَةٍ، لَكَانَ قَدْ صَغُرَ قَدْرُ الْجَزَاءِ عَلَى حَسَبِ ضَعْفِ الْبَلاَءِ. وَلَوْ كَانَ الأَسَاسُ الْمَحْمُولُ عَلَيْهَا، وَالأَحْجَارُ الْمَرْفُوعُ بِهَا، بَيْنَ زُمُرُّدَةٍ خَضْرَاءَ، وَيَاقُوتَةٍ حَمْرَاءَ، وَنُورٍ وَضِيَاءٍ، لَخَفَّفَ ذلِكَ مُضَارَعَةَ الشَّكِّ فِي الصُّدُورِ، وَلَوَضَعَ مُجَاهَدَةَ إِبْلِيسَ عَنِ الْقُلُوبِ، وَلَنَفَى مُعْتَلَجَ الرَّيْبِ مِنَ النَّاسِ. وَلكِنَّ اللهَ سُبْحَانَهُ يَخْتَبِرُ عِبَادَهُ بِأَنْوَاعِ الشَّدَائِدِ، وَيَتَعَبَّدُهُمْ بِأَلْوَانِ الْمَجَاهِدِ، وَيَبْتَلِيهِمْ بِضُرُوبِ الْمَكَارِهِ، إِخْرَاجاً لِلتَّكَبُّرِ مِنْ قُلُوبِهِمْ، وَإِسْكَاناً لِلتَّذَلُّلِ فِي نُفُوسِهِمْ، وَلِيَجْعَلَ ذلِكَ أَبْوَاباً فُتُحاً إِلَى فَضْلِهِ، وَأَسْبَاباً ذُلُلاً لِعَفْوِهِ.

فَاللهَ اللهَ فِي عَاجِلِ الْبَغْيِ، وَآجِلِ وَخَامَةِ الظُّلْمِ، وَسُوءِ عَاقِبَةِ الْكِبْرِ، فَإِنَّهَا مَصْيَدَةُ إِبْلِيسَ الْعُظْمَى، وَمَكِيدَتُهُ الْكُبْرَى، الَّتِي تُسَاوِرُ قُلُوبَ الرِّجَالِ مُسَاوَرَةَ السُّمُومِ الْقَاتِلَةِ، فَمَا تُكْدِي أَبَداً، وَلاَ تُشْوِي أَحَداً، لاَ عَالِماً لِعِلْمِهِ، وَلاَ مُقِلاًّ فِي طِمْرِهِ.

وَعَنْ ذلِكَ مَا حَرَسَ اللهُ عِبَادَهُ الْمُؤْمِنِينَ بِالصَّلَوَاتِ وَالزَّكَوَاتِ، وَمُجَاهَدَةِ الصِّيَامِ فِي الأَيَّامِ الْمَفْرُوضَاتِ، تَسْكِيناً لأَطْرَافِهِمْ، وَتَخْشِيعاً لأَبْصَارِهِمْ، وَتَذْلِيلاً لِنُفُوسِهِمْ، وَتَخْفِيضاً لِقُلُوبِهِمْ، وَإِذْهَاباً لِلْخُيَلاَءِ عَنْهُمْ، لِمَا فِي ذلِكَ مِنْ تَعْفِيرِ عِتَاقِ الْوُجُوهِ

يې د خپلو سفرونو منزل او كوزېدو پړاو وګرځوۀ، چې خلق د مينې په خوږو په خوږبو زړونو، له دښتو او صحراګانو، له كليو او ښارونو، له ژورو درو،خورو ورو ټاپوګانو په مكې ورمات شي، اوږې وړكوي او له كعبې تاو شي په داسې حال كې چې لااله الا الله يې په خولو وي او له كعبې وڅرخېږي په د اسې حال كښې چې وېښتۀ يې پرېشانه، او بدنونه يې له دوړو ډک وي، خپلې جامې چې د هركس د شخصيت ننبه ده اوباسي او د وېښتو په نۀ اصلاح كولو سره ظاهري حسن ختم كړي، دا لوے امتحان، سخت ازمېښت او ښكاره ازمائش دے د انسان د خلوص او پاكۍ لپاره چې خداے پاک د خپل رحمت او جنت ته د ورتګ سبب وګرځوۀ. كه خداے تعالى خپل ګران كور او د حج د دستورو ځايونه په باغونو او نهرونو، شنو او ښېرازه او له ونو او ميوو په ډكو وطنونو آباد كړي وې او له ماڼيو نه په ډكو سيمو، پرله پسې ودانيو، پټيو، غنمزارو، شنو بڼونو، ګلونو، ښكلو منظرو ډنډونو، خوښوونكو باغونو، او آبادو سړكونو كښې يې جوړ كړي وې نو ځومره به چې ازمېښت آسان ؤ هم دومره به يې ثواب او اجر هم كم ؤ، كه د كعبې ستنې او د هغې د ودانۍ كاڼي له شنو زمردو، سرو ياقوتو، او ځلېدونكو رڼاګانو جوړې وې نو په زړونو به د شكونو بريدونه كم وې او د شېطان اثرات او هڅې به لږې وې، او په خلقو كښې به د هغۀ پټې وسوسې كارنده نۀ وې، حال دا چې خداے تعالى خپل بندګان په ډول ډول سختيو سره آزمائي او په ډېرو مشكلاتو سره يې عبادت ته بلي،په رنګارنګ مصيبتونو يې اخته كوي چې له زړونو يې كبر او غرورو اوځي، او ځاے يې خضوع او عاجزي اونيسي، او ورته د خپل فضل او رحمت ورونه پرانېزي، او د عفوې او بخشش وسائل ورته په آسانۍ سره وربرابر كړي.

## له ظلمه ډډه كول

نو د خداے لپاره د خداے لپاره! د سركشۍ عقوبت ته په رسېدو او د ظلم د سزا په خوړلو كښې له بيړې ډډه وكړئ او د ظلم له دردناك راتلونكي او د كبر له بد انجامه چې د شېطان د څارنې ځاے او د هغۀ د چل او دهوكې مقام دے اويرېږئ، هغه چل او ول چې د انسان له زړه سره د وژونكو زهرو په شان ګډېږي او هيڅكله نۀ بې اثره كېږي. او څوک يې له وژلې ځان نۀ شي ساتلي، نۀ پوه د خپلې پوهې په بركت او نۀ بېوزله د خپلو شليدلو جامو په وجه.

## د اسلامي عبادت فلسفه

خداے تعالى خپل بندګان په نمانځه، زكات او د روژې نيولو په لاره كښې په هڅې سره ساتلى دي چې غړي او اندامونه يې قرار، ستركي يې

بِالتُّرَابِ تَوَاضُعاً، وَالْتِصَاقِ كَرَائِمِ الْجَوَارِحِ بِالْأَرْضِ تَصَاغُراً، وَلُحُوقِ الْبُطُونِ بِالْمُتُونِ مِنَ الصِّيَامِ تَذَلُّلاً، مَعَ مَا فِي الزَّكَاةِ مِنْ صَرْفِ ثَمَرَاتِ الْأَرْضِ وَغَيْرِ ذٰلِكَ إِلَى أَهْلِ الْمَسْكَنَةِ وَالْفَقْرِ. انْظُرُوا إِلَى مَا فِي هٰذِهِ الْأَفْعَالِ مِنْ قَمْعِ نَوَاجِمِ الْفَخْرِ، وَقَدْعِ طَوَالِعِ الْكِبْرِ!

الْعَصَبِيَّةُ: وَلَقَدْ نَظَرْتُ فَمَا وَجَدْتُ أَحَداً مِنَ الْعَالَمِينَ يَتَعَصَّبُ لِشَيْءٍ مِنَ الْأَشْيَاءِ إِلاَّ عَنْ عِلَّةٍ تَحْتَمِلُ تَمْوِيهَ الْجُهَلاَءِ، أَوْ حُجَّةٍ تَلِيطُ بِعُقُولِ السُّفَهَاءِ غَيْرَكُمْ، فَإِنَّكُمْ تَتَعَصَّبُونَ لِأَمْرٍ مَا يُعْرَفُ لَهُ سَبَبٌ وَلاَ عِلَّةٌ. أَمَّا إِبْلِيسُ فَتَعَصَّبَ عَلَى آدَمَ لِأَصْلِهِ، وَطَعَنَ عَلَيْهِ فِي خِلْقَتِهِ، فَقَالَ: أَنَا نَارِيٌّ وَأَنْتَ طِينِيٌّ. وَأَمَّا الْأَغْنِيَاءُ مِنْ مُتْرَفَةِ الْأُمَمِ، فَتَعَصَّبُوا لِآثَارِ مَوَاقِعِ النِّعَمِ، فَقَالُوا نَحْنُ أَكْثَرُ أَمْوَالاً وَأَوْلاَداً وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِينَ فَإِنْ كَانَ لاَ بُدَّ مِنَ الْعَصَبِيَّةِ، فَلْيَكُنْ تَعَصُّبُكُمْ لِمَكَارِمِ الْخِصَالِ، وَمَحَامِدِ الْأَفْعَالِ، وَمَحَاسِنِ الْأُمُورِ، الَّتِي تَفَاضَلَتْ فِيهَا الْمُجَدَاءُ وَالنُّجَدَاءُ مِنْ بُيُوتَاتِ الْعَرَبِ وَيَعَاسِيبِ الْقَبَائِلِ، بِالْأَخْلاَقِ الرَّغِيبَةِ، وَالْأَحْلاَمِ الْعَظِيمَةِ، وَالْأَخْطَارِ الْجَلِيلَةِ، وَالْآثَارِ الْمَحْمُودَةِ. فَتَعَصَّبُوا لِخِلاَلِ الْحَمْدِ مِنَ الْحِفْظِ لِلْجِوَارِ، وَالْوَفَاءِ بِالذِّمَامِ، وَالطَّاعَةِ لِلْبِرِّ، وَالْمَعْصِيَةِ لِلْكِبْرِ، وَالْأَخْذِ بِالْفَضْلِ، وَالْكَفِّ عَنِ الْبَغْيِ، وَالْإِعْظَامِ لِلْقَتْلِ، وَالْإِنْصَافِ لِلْخَلْقِ، وَالْكَظْمِ لِلْغَيْظِ، وَاجْتِنَابِ الْفَسَادِ فِي الْأَرْضِ.

وَاحْذَرُوا مَا نَزَلَ بِالْأُمَمِ قَبْلَكُمْ مِنَ الْمَثُلاَتِ بِسُوءِ الْأَفْعَالِ، وَذَمِيمِ الْأَعْمَالِ، فَتَذَكَّرُوا فِي الْخَيْرِ وَالشَّرِّ أَحْوَالَهُمْ، وَاحْذَرُوا أَنْ تَكُونُوا أَمْثَالَهُمْ. فَإِذَا تَفَكَّرْتُمْ فِي تَفَاوُتِ حَالَيْهِمْ، فَالْزَمُوا كُلَّ أَمْرٍ لَزِمَتِ الْعِزَّةُ بِهِ حَالَهُمْ، وَزَاحَتِ الْأَعْدَاءُ لَهُ عَنْهُمْ، وَمُدَّتِ الْعَافِيَةُ فِيهِ عَلَيْهِمْ، وَانْقَادَتِ النِّعْمَةُ لَهُ مَعَهُمْ، وَوَصَلَتِ الْكَرَامَةُ عَلَيْهِ حَبْلَهُمْ:

خاشع، ځانونه او نفسونه یې خاکسار او عاجز او زړونه یې متواضع وي، کبر او ویاړه ترې کډه وکړي ځکه چې په سجده کښې د صورت تر ټولو د ښه ځاے په خاوره کېښودل په انسان کې عاجزي پیدا کوي او په ځمکه د بدن د ارزښتناکو غړیو لګول د عاجزۍ ځرګندونه ده. او د روژې نیولو په وجه په ملا پورې د خېټې لېوېدل د عاجزۍ سبب دے: او د زکات ورکول د بېوزلو او فقیرانو د اړتیاؤ د پوره کولو لپاره د ځمکې د میوو وغیره کارول دي. د عبادت پایلو او نتائجو ته وګورئ چې څرنګه د کبر د وني ځانګې ماتوي او او د کبر او ځان منني د ټوکېدو مخه نیسي.

## ښه او بد تعصب

زۀ د نړیوالو کړو وړو او اعمالو ته ځیر شوم نو بې له تاسو مې هیڅوک پیدا نۀ کړل چې بې له څه علته د کوم شي په حقله تعصب ولري، مګر په داسې دلیل سره چې ناپوهان پرې وغولوي او یا داسې برهان راوړي چې د کم عقلو په عقلونو کښې ننوځي ځکه چې تاسو په داسې څیز تعصب کوئ چې نۀ یې کوم سبب شته دے او نۀ لامل، شیطان، د خپل خلقت د اصل په وجه له آدمؑ سره تعصب وکړ او د هغۀ خلقت یې وغندۀ او پېغور او طعنه یې ورکړه او ورته یې وویل: «زۀ یې له اوره او تۀ یې له خټې پیدا کړے یې» او د ولسونو فسادي پانګه والو د پرېمانه نعمتونو په وجه تعصب وکړ او وې ویل: «مونږ د زیاتو مالونو او اولادونو خاوندان یوو او هیڅکله به عذاب رانۀ کړې شي»

نوکه مجبوره یئ چې تعصب وکړئ نو د ښو اخلاقو، غوره کارونو، او ښېګړو لپاره تعصب وکړئ هماغه کارونه او کردار ادا کړئ چې د عربو درانـۀ کسـان او د مېړنـو کورنیـو او قبـائلو مشـران بـه پکښـې لـه یوبلـه مخکې کېدل، یعنې اخلاق او د ډېرې غصې پـه وخت بردبـاري او عاجزي،او ښۀ او ښکلے عمل او کردار، او نېک خویونه. نو بس تعصب وکړئ د پناه غوښتونکو، کډوالو او ګاونډیانو په ملاتړ کښې، د ژمنې او لوظ په پوره کولو کښې، د نېکیو پـه اطاعت کښې، لـه کبر او ځان منني څخه پـه ډډه کولـو کښـې، پـه ښـندنه او سـخاوت کښـې پـه هڅـه کښې، له ظلمه په ځان غړولو کښې ،د وینې بهیولو په لوي ګڼلو کښې، له خلقو سره په انصاف کولو کښې، د قهر او غصې پـه ځښـلو کښـې او په ځمکه کښې له فساده په ځان ساتلو کښې چې کامیاب شئ.

## د ولسونو د بري او ماتې لاملونه او علتونه

له هغو عذابونو څخه ځان اوساتئ چې د بدو او ناخوښو کارونو په وجه په تېرو ولسونو نازل شول، او د تېرو نېک او بد احوال رایاد کړئ، او اوېرېږئ چې د هغوي په شان نۀ شئ! نو کله چې د تېرو خلقو حالات څېړئ او فکر پرې کوئ، هغه کار وکړئ چې هغوي یې عزتمن کړل، او دښمنان یې له لارې لرې کړل، او د هغوي ژوند یې روغ او سلامت کړ، او ډېر نعمتونه یې ورولورول، او هغوي ته یې عزت او کرامت ورکړ، له تفرقې او تیت پرکوالي او بې اتفاقۍ یې ډډه وکړه، او یووالي او اتفاق

مِنَ الاجْتِنَابِ لِلْفُرْقَةِ، وَاللُّزُومِ لِلأُلْفَةِ، وَالتَّحَاضِّ عَلَيْهَا، وَالتَّوَاصِي بِهَا. وَاجْتَنِبُوا كُلَّ أَمْرٍ كَسَرَ فِقْرَتَهُمْ، وَأَوْهَنَ مُنَّتَهُمْ: مِنْ تَضَاغُنِ الْقُلُوبِ، وَتَشَاحُنِ الصُّدُورِ، وَتَدَابُرِ النُّفُوسِ، وَتَخَاذُلِ الأَيْدِي.

وَتَدَبَّرُوا أَحْوَالَ الْمَاضِينَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ قَبْلَكُمْ، كَيْفَ كَانُوا فِي حَالِ التَّمْحِيصِ وَالْبَلاَءِ؟ أَلَمْ يَكُونُوا أَثْقَلَ الْخَلاَئِقِ أَعْبَاءً، وَأَجْهَدَ الْعِبَادِ بَلاَءً، وَأَضْيَقَ أَهْلِ الدُّنْيَا حَالاً؟! اتَّخَذَتْهُمُ الْفَرَاعِنَةُ عَبِيداً فَسَامُوهُمْ سُوءَ الْعَذَابِ، وَجَرَّعُوهُمُ الْمُرَارَ، فَلَمْ تَبْرَحِ الْحَالُ بِهِمْ فِي ذُلِّ الْهَلَكَةِ وَقَهْرِ الْغَلَبَةِ، لاَ يَجِدُونَ حِيلَةً فِي امْتِنَاعٍ، وَلاَ سَبِيلاً إِلَى دِفَاعٍ، حَتَّى إِذَا رَأَى اللهُ جِدَّ الصَّبْرِ مِنْهُمْ عَلَى الأَذَى فِي مَحَبَّتِهِ، وَالاحْتِمَالَ لِلْمَكْرُوهِ مِنْ خَوْفِهِ، جَعَلَ لَهُمْ مِنْ مَضَايِقِ الْبَلاَءِ فَرَجاً، فَأَبْدَلَهُمُ الْعِزَّ مَكَانَ الذُّلِّ، وَالأَمْنَ مَكَانَ الْخَوْفِ، فَصَارُوا مُلُوكاً حُكَّاماً، وَأَئِمَّةً أَعْلاَماً، وَبَلَغَتِ الْكَرَامَةُ مِنَ اللهِ لَهُمْ مَا لَمْ تَذْهَبِ الآمَالُ إِلَيْهِ بِهِمْ. فَانْظُرُوا كَيْفَ كَانُوا حَيْثُ كَانَتِ الأَمْلاَءُ مُجْتَمِعَةً، وَالأَهْوَاءُ مُؤْتَلِفَةً، وَالْقُلُوبُ مُعْتَدِلَةً، وَالأَيْدِي مُتَرَادِفَةً، وَالسُّيُوفُ مُتَنَاصِرَةً، وَالْبَصَائِرُ نَافِذَةً، وَالْعَزَائِمُ وَاحِدَةً، أَلَمْ يَكُونُوا أَرْبَاباً فِي أَقْطَارِ الأَرَضِينَ، وَمُلُوكاً عَلَى رِقَابِ الْعَالَمِينَ؟ فَانْظُرُوا إِلَى مَا صَارُوا إِلَيْهِ فِي آخِرِ أُمُورِهِمْ، حِينَ وَقَعَتِ الْفُرْقَةُ، وَتَشَتَّتَتِ الأُلْفَةُ، وَاخْتَلَفَتِ الْكَلِمَةُ وَالأَفْئِدَةُ، وَتَشَعَّبُوا مُخْتَلِفِينَ، وَتَفَرَّقُوا مُتَحَارِبِينَ، قَدْ خَلَعَ اللهُ عَنْهُمْ لِبَاسَ كَرَامَتِهِ، وَسَلَبَهُمْ غَضَارَةَ نِعْمَتِهِ، وَبَقَّى قَصَصَ أَخْبَارِهِمْ فِيكُمْ عِبَراً لِلْمُعْتَبِرِينَ. فَاعْتَبِرُوا بِحَالِ وَلَدِ إِسْمَاعِيلَ وَبَنِي إِسْحَاقَ وَبَنِي إِسْرَائِيلَ (عليهم السلام)، فَمَا أَشَدَّ اعْتِدَالَ الأَحْوَالِ، وَأَقْرَبَ اشْتِبَاهَ الأَمْثَالِ!

تَأَمَّلُوا أَمْرَهُمْ فِي حَالِ تَشَتُّتِهِمْ، وَتَفَرُّقِهِمْ، لَيَالِيَ كَانَتِ الأَكَاسِرَةُ وَالْقَيَاصِرَةُ أَرْبَاباً لَهُمْ، يَحْتَازُونَهُمْ عَنْ رِيفِ

ته يې ملا وتړله، يو بل يې وحدت ته وبلل او سپارښتنه يې وكړه، او له هغو كارونو څخه چې د هغوي ملا يې ماته كړه او طاقت يې وروځپۀ ځان اوساتئ لكه له يو بل سره كينه، حسد او شومتوب، له نورو نه مخ ګرځول او ترې نه غوځېدل،د يو بل له مرستې لاس اخېستل. د تېرو مومنانو په حالاتو باندې غور وكړئ چې څرنګه اوزمائل شول . آيا تر هر چا زيات پېټې يې په غاړه نۀ وو او تر هر چا زيات په زحمت او كړاو كښې نۀ وو؟ او آيا په نړۍ كښې يې تر هر چا زياته سختي تېره نۀ كړه؟ د وخت فرعونانو هغوي مريان كړل او سخت سخت يې اوځورول، او د خولې خوند يې ورتريخ كړ او دا د ذلت، هلاكت او پرځېدو دوران يې اوږد شو ، نۀ يې د سرغړونې لاره موندله او نۀ يې د دفاع چاره،ان تر دې چې خداے تعالى د خپلې دوستۍ په لار كښې او د سختيو په وړاندې د هغوي ټينګتيا، عزت، هڅه او استقامت او له ځانه د ويرې لپاره د هغوي د ناراحتيو د زغملو قدرت اوليدۀ، نو هغوي يې له سختيو او مصيبتونو وژغورل او د هغوي ذلت يې په عزت او سترتوب او ويره يې په امن بدله كړه. او هغوي يې د انسانانو واكمنان، چارواكي او لارښوونكي وګرځول او د خداے پاک له خوا دومره عزت او وقار ورپه برخه شو چې په خيال كښې يې هم نۀ راتلۀ، نو ښه فكر وكړئ چې كله هغوي ټولنيز يووالے لرۀ نو څرنګه وو، د هغوي غوښتنې يو رنګ، زړونه يې يو شان، لاسونه يې د يو بل مرستيندويې، تورې يې مدد كوونكې، سترګې يې يو لورې ته ګنډلې، او ارادې يې يو شان او غړمله وې! آيا په د غه وخت كښې د ټولې ځمكې مشران او چلوونكي نۀ وو، او د ټولې دنيا لارښوونكي او مشران نه شول؟ او بيا د هغوي د كار نتيجې او خاتمې ته هم وګورئ چې كله په تفرقې او اختلافاتو اخته شول، او دوستي او مهرباني يې له منځه لاړه، او خولې او زړونه يې له يو بل جدا شول، په ډلو، ګوندونو او جماعتونو اوېشل شول، نو هغه وخت ؤ چې خداے پاک يې د عزت جامه له تنه كوزه كړه او پرېمانه خوږې لورينې او نعمتونه يې ترې نه واپس واخېستل، او د هغوي قيصې ستاسو لپاره عبرت پاتې شوې، د اسماعيل، او اسحاق پېغمبرانو او د هغوي د بچيانو، د اسرائيل « يعقوب» (سلام دې وي په ټولو باندې) له بچيانو عبرت واخلئ . په رښتيا چې د ولسونو حالات څومره يو بل ته ورته دي او په كړو وړو او كردار كښې څومره د يو بل په شان دي!

په هغو وختونو كښې چې هغوي له يو بله جدا او تيت پرک وو د هغوي احوالو ته ځير شئ هغه وخت چې كسرى او قيصر باچايانو په هغوي باندې باچائي كوله، او هغوي يې له آبادو ځمكو د دجلې او فرات له غڼډو ، او له شنو او ښېرازه وطنونو اوشړل، او اوچو صحرا ګانو ، شاړو دښتو،له سيليو او بادونو ډكو او داسې سيمو ته چې ژوند پكښې سخت ؤ ولېږل، هغوي يې په خرابو فقيرو او بېوزله سيمو كښې د

الأفَاق، وبَحْر الْعِـرَاق، وَخُضْـرَة الـدُّنْيَا، إلَـى مَنَابِـت الشِّـيح، وَمَهَـافِي الـرِّيح، ونَكَـد الْمَعَـاش، فَتَرَكَـوهُمْ عَالَـةً مَسَـاكين إخْـوَانَ دَبَـر ووَبَـر، أَذَلَّ الأمَـمِ داراً، وأَجْـدَبَهُمْ قَـرَاراً، لاَ يَأْوُونَ إلَى جَنَاح دَعْـوَة يَعْتَصِـمُونَ بهَـا، ولاَ إلَـى ظِـلِّ أُلْفَـة يَعْتَمِـدُونَ عَلَـى عِزِّهَـا، فَـالاحْوَالُ مُضْـطَرِبَةٌ، وَالاَيْـدِي مُخْتَلِفَةٌ، وَالْكَثْرَةُ مُتَفَرِّقَةٌ، فِـي بَـلاَء أَزْل، وأَطْبَـاق جَهْـل! مِـنْ بَنَـات مَـوْءُودَة، وأَصْـنَام مَعْبُـودَة، وَأَرْحَـام مَقْطُوعَـة، وَغَارَات مَشْنُونَة.

فَانْظُرُوا إلَى مَوَاقِع نِعَمِ اللهِ سُبْحَانَهُ عَلَـيْهِمْ حِـينَ بَعَـثَ إلَـيْهِمْ رَسُولاً، فَعَقَدَ بِمِلَّتِه طَاعَتَهُمْ، وجَمَعَ عَلَى دَعْوَتِه أُلْفَـتَهُمْ، كَيْـفَ نَشَرَت النِّعْمَةُ عَلَيْهِمْ جَنَـاحَ كَرَامَتِهَـا، وَأَسَـالَتْ لَهُـمْ جَـدَاوِلَ نَعِيمِهَا، وَالْتَفَّت الْمِلَّةُ بِهِمْ فِي عَوَائِـد بَرَكَتِهَـا، فَأَصْـبَحُوا فِـي نِعْمَتِهَا غَرِقِينَ، وَفِي خُضْرَة عَيْشِهَا فَكِهِينَ، قَدْ تَرَبَّعَـت الاُمُـورُ بِهِمْ، فِي ظِلِّ سُلْطَان قَاهِر، وَآوَتْهُمُ الْحَالُ إلَى كَنَف عِزّ غَالِـب، وَتَعَطَّفَت الاُمُورُ عَلَيْهِمْ فِي ذُرَى مُلْك ثَابِت، فَهُمْ حُكَّـامٌ عَلَـى الْعَالَمِينَ، وَمُلُوكٌ فِي أَطْرَاف الارَضِينَ، يَمْلِكُونَ الاُمُـورَ عَلَـى مَنْ كَانَ يَمْلِكُهَا عَلَيْهِمْ، ويُمْضُونَ الاحْكَامَ فِيمَنْ كَانَ يُمْضِـيهَا فِيهِمْ! لاَ تُغْمَزُ لَهُمْ قَنَاةٌ، وَلاَ تُقْرَعُ لَهُمْ صَفَاةٌ!

لوم العصاة: أَلاَ وَإنَّكُمْ قَد نَفَضْتُمْ أَيْـدِيَكُمْ مِـنْ حَبْـلِ الطَّاعَـة، وَثَلَمْتُمْ حِصْنَ اللهِ الْمَضْرُوبَ عَلَيْكُمْ، بِأَحْكَامِ الْجَاهِلِيَّة، فَإنَّ اللهَ سُبْحَانَهُ قَدْ امْتَنَّ عَلَى جَمَاعَة هذه الاُمَّة فِيمَا عَقَـدَ بَيْـنَهُمْ مِـنْ حَبْلِ هذه الاُلْفَة الَّتِي يَنْتَقِلُونَ فِي ظِلِّهَا، وَيَـأْوُونَ إلَـى كَنَفِهَـا، بِنِعْمَة لاَ يَعْرِفُ أَحَدٌ مِنَ الْـمَخْلُوقِينَ لَهَا قِيمَةً، لانَّهَا أَرْجَحُ مِـنْ كُلِّ ثَمَن، وَأَجَلُّ مِنْ كُلِّ خَطَر. وَاعْلَمُـوا أَنَّكُـمْ صِـرْتُمْ بَعْـدَ الْهِجْرَة أَعْرَاباً، وَبَعْدَ الْمُوَالاَة أَحْزَاباً، مَا تَتَعَلَّقُونَ مِنَ الاسْلاَمِ إلاَّ بِاسْمِه، وَلاَ تَعْرِفُونَ مِنَ الايمَانِ إلاَّ رَسْـمَهُ، تَقُولُـونَ: النَّـارَ وَلاَ الْعَارَ! كَأَنَّكُمْ تُرِيدُونَ أَنْ تُكْفِئُوا الاسْلاَمَ عَلَـى وَجْهِـه، انْتِهَاكـاً

اوښانو ملګري کړل، د هغوي کورونه د اولسونو تر ټولو پرېوتي او ناوړه کورونه، او ټاټوبي يې تر ټولو اوچې دښتې وې، نه د حق کومه بلنه موجوده وه چې دوي ورته مخه کړې وې او نه د پناه څه ځاے، او نه د مينې څه سيورے ؤ چې د هغه په عزت کښې ژوند وکړي.د هغوي حالات ګډ وډ، طاقت يې خور وور، او د شمېر کثرت يې تيت و پرک ؤ، په سخت مصيبت او پراخې ناپوهۍ کښې غرق شوي وو لونړې به يې ژوندۍ ښخولې او د بتانو عبادت او پرستش به يې کوۀ، او له خپلوانو سره د خپلوۍ غوڅول، او پرله پسې چور تالان پکښې دود ؤ.

## د رسول الله مبارکﷺ د بعثت برياوې

اوس نو هغو لويو الهي لورينو او نعمتونو ته هم پام وکړئ چې د رسول الله مبارکﷺ د بعثت په وخت په هغوي اورېدل، چې څرنګه يې د هغوي اطاعت له خپل دين سره اوګنډۀ او په خپلې بلنې سره يې هغوي يو موټې کړل. د خداے پاک نعمتونو څرنګه په هغوي وزرې وغوړولې او د هوساينې او قرارۍ ويالې يې اوبهيولې! او د حق دين ټول برکتونه په هغوي خپارۀ شول. په نعمتونو کښې ډوب شول او د ژوند په خوږو پوه شول،د اسلامي حکومت په سيوري کښې يې ټولنېزې چارې سرخېنه شوې او په پائداره عزت کښې پاتې شول، او پائدار حکومت ته اورسېدل،هله د نړۍ واکمنان او ځمکې پاچايان شول، او په هغو کسانو واکمنان شول چې مخکې حاکمان وو، او په هغو کسانو يې د خداے پاک قوانين پلې کړل چې پخوا د احکامو اجرا کوونکي وو،او چا يې د زور د ماتولو زړۀ نۀ شو کولې. او چا يې د مقابلې خيال قدرې هم نۀ شو کولې.

## د کوفيانو د غندنې لاملونه او علتونه

خبر اوسئ! تاسو اوس د اطاعت رسۍ پرېښوده او د جاهليت د ارزښتونو په ژوندي کولو سره مو د خداے پاک پياوړې قلا ماته کړه، حال دا چې خداے تعالى په دغه اسلامي امت باندې (په ورورۍ او وحدت سره) احسان کړے ؤ چې په سيوري کښې يې ژوند وکړي، داسې نعمت ؤ چې هيڅ ارزښت يې ځاے نۀ شو نيولے، نو له هر ارزښت ارزښتناک او له هر عزت لوړ ؤ. پوه شئ چې له هجرته وروسته بيا د بانډچيانو اعرابو په شان شوي يئ او له ورورۍ وروسته په بېلا بېلو ګوندونو او ډلو وېشل شوي يئ، د اسلام يواځې نوم او د ايمان تشه نښه پېژنئ!وايئ چې اور، هو او شرم، نه! تۀ به وائې غواړئ اسلام نسکور او د حرمت پرده يې وشلوئ،او هغه تړون چې خداے پاک په

لحَريمه، ونَقْضاً لميثَاقه الَّذي وَضَعَهُ اللهُ لَكمْ حرَماً فِي أَرْضه، وأَمْناً بَيْنَ خَلْقه.

وإنَّكُمْ إنْ لَجَأْتُمْ إلَى غَيْره حَارَبَكُمْ أَهْلُ الْكُفْر، ثُمَّ لاَ جَبْرائيلُ ولاَ ميكَائيلُ ولاَ مُهَاجِرُونَ ولاَ أَنْصَارٌ يَنْصُرُونَكُمْ إلاَّ الْمُقَارَعَةَ بالسَّيْف حتَّى يَحْكُمَ اللهُ بَيْنَكُمْ. وإنَّ عنْدَكُمُ الأمْثَالَ منْ بَأْس الله تعَالَى وقَوَارعه، وأَيَّامه ووَقَائعه، فَلاَ تَسْتَبْطئُوا وَعيدَهُ جَهْلاً بأَخْذه، وتَهَاوُناً ببطْشه، ويَأْساً منْ بَأْسه. فَإنَّ اللهَ سُبْحَانَهُ لَمْ يَلْعَن الْقَرْنَ الْمَاضي بَيْنَ أَيْديكُمْ إلاَّ لتَرْكهِمُ الاَمْرَ بالْمَعْرُوف وَالنَّهْيَ عَن الْمُنكَر، فَلَعَنَ السُّفَهَاءَ لرُكُوب الْمَعَاصي، والْحُلَمَاءَ لتَرْك الْتَّنَاهي!

أَلاَ وقَدْ قَطَعْتُمْ قَيْدَ الاسْلاَم، وعَطَّلْتُمْ حُدُودَهُ، وأَمَتُّمْ أَحْكَامَهُ.

أَلاَ وقَدْ أَمَرَنيَ اللهُ بقتَال أَهْل الْبَغْي وَالنَّكْث وَالْفَسَاد في الاَرْض، فَأَمَّا النَّاكثُونَ فَقَدْ قَاتَلْتُ، وأَمَّا الْقَاسطُونَ فَقَدْ جَاهَدْتُ، وأَمَّا الْمَارقَةُ فَقَدْ دَوَّخْتُ، وأَمَّا شَيْطَانُ الرَّدْهَة فَقَدْ كُفيتُهُ بصَعْقَة سَمعْتُ لَهَا وَجْبَةَ قَلْبه ورَجَّةَ صَدْره، وبَقيَتْ بَقيَّةٌ منْ أَهْل الْبَغْي، ولَئنْ أَذنَ اللهُ في الْكَرَّة عَلَيْهمْ لاَديلَنَّ منْهُمْ إلاَّ مَا يَتَشَذَّرُ في أَطْرَاف الاَرْض تَشَذُّراً! أَنَا وَضَعْتُ [في الصِّغَر] بكَلاَكل الْعَرَب، وكَسَرْتُ نَوَاجمَ قُرُون رَبيعَةَ ومُضَرَ.

وقَدْ عَلمْتُمْ مَوْضعي منْ رَسُول الله(صَلَّى اللهُ عَلَيْه وآله) بالْقَرَابَة الْقَريبَة، وَالْمَنْزلَة الْخَصيصَة: وَضَعَني في حجْره وأَنَا وَليدٌ يَضُمُّني إلَى صَدْره، ويَكْنُفُني في فرَاشه، ويُمسُّني جَسَدَهُ، ويُشمُّني عَرْفَهُ، وكَانَ يَمْضَغُ الشَّيْءَ ثُمَّ يُلْقمُنيه، ومَا وجَدَ لي كَذْبَةً في قَوْل، ولاَ خَطْلَةً في فعْل. ولَقَدْ قَرَنَ اللهُ تَعَالَى به(صَلَّى اللهُ عَلَيْه وآله) منْ لَدُنْ [أَنْ] كَانَ فَطيماً أَعْظَمَ مَلَك منْ مَلاَئكَته يَسْلُكُ به طَريقَ الْمَكَارم، ومَحَاسنَ أَخْلاَق الْعَالَم، لَيْلَهُ ونَهَارَهُ، ولَقَدْ كُنْتُ أَتَّبعُهُ اتِّبَاعَ الْفَصيل أَثَرَ أُمِّه، يَرْفَعُ لي في كُلِّ يَوْم عَلَماً منْ أَخْلاَقه، ويَأْمُرُني بالاقْتدَاء به. ولَقَدْ كَانَ

زمکه د مسلمانانو د حرمت د ساتلو لپاره او د خلقو د امن او قرارۍ سبب گرځولي مات کړئ.

بې له شکه که غير اسلام ته پناه يوسئ کافران به درسره اوجنگېږي. بيا به نو نۀ جبرائيل، نۀ ميکائيل او نۀ مهاجر وي او نۀ انصار چې مرسته مو وکړي، او د توري له جنگه بغير به بله چاره نۀ لرئ،تر دې چې خداے پاک ستاسو ترمنځ فېصله او حکم وکړي.اے خلقو! تاسو د هغو کسانو په باب چې عذاب شول او سختې ورځې پرې راغلې او تاوانونه يې اوليدل د قرآن شريف له مثالونو خبر يئ، نو د خپل عذاب وعده لرې مه گڼئ، او په دې عذر باندې چې خبر نه يئ ځان مه اخته کوئ، او د خداے پاک غچ او انتقام سپک او ځانونه د خداے پاک له سزا څخه په امان کښې مۀ گڼئ،ځکه چې پاک خداے د تېرو زمانو خلق له خپل رحمته لرې نۀ کړل مگر د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د پرېښودلو په خاطر نو خداے تعالی پۀ بې عقلو باندې د هغوي د نافرمانۍ، او په هوښيارانو باندې له دې امله چې نور خلق يې له گناه څخه نۀ منعې کول لعنت وکړ. خبر اوسئ! تاسو له اسلام سره د پېوند او رشتې جرړه غوڅه، د خداے پاک حدود مو تعطيل او د اسلام احکام مو هېر کړل.

## له بې لارو سره په مقابله کښې د امام ثبات

خبر اوسئ!خداے تعالی ما ته امر کړے دے له تېري گرو، تړون ماتوونکو، او په ځمکه کښې له فساديانو سره د جنگ، له پيمان شکنو ناکثانو سره اوجنگېدم، او له تېري گرو قاسطينو سره مې جهاد وکړ، او له دينه وتلي مارقين مې اوځپل، او د خوارجو د مشر «شېطان ردهه» زړۀ د تندر غږ اوبوړنوۀ او سينه يې ورولړزوله، او ختم يې کړ، اوس نو د سرکښانو او ظالمانو گوته په شمېر کسان پاتې شول چې که خداے مې پاتې کړي په بل بريد سره به يې نابود او هلاک کړم، او د حق حکومت به په درست اسلامي هېواد کښې ټينگ کړم بې له ډېرو لږ پرتو سيمو.

## د امام فضايل او مېړانه

ما په وړوکوالي کښې د عربو د مشرانو پوزې په ځمکه راکښلې، او د «ربيعه» او « مضر» قبيلو د مېړنيو ملاگانې مې ورماتې کړې!تاسو د خداے پاک له رسولﷺ سره زما له خپلوۍ او نزدې مقامه او ځانگړې منزلته خبر يئ، پېغمبراکرمﷺ به زۀ په خپله کوټه کښې کښېنولم زۀ به وړوکے وم، او په غېږه کښې به يې اخېستلم، او په خپلې بسترې کې به يې څملولم، زما بدن به يې له خپل بدن سره جوختوۀ او ما به يې خوږ بوي بوېوۀ، اوکله به يې د ډوډۍ وړې وړې نوړۍ جوړولې او ماته به يې په خوله کښې راکولې، هيڅکله يې زما په خبرو کښې دروغ او زما په عمل کښې غلطي اونۀ مونده، له هماغه شيبې چې پېغمبرﷺ يې له تي بېل کړ،خداے تعالی خپله لويه فرښته (جبرائيل) د هغۀ په روزنې وگمارله، چې شپه او ورځ يې لويو لارو، نېکيو او غوره اخلاقو ته بوځي، او زۀ همېشه له پېغمبراکرمﷺ سره وم، د اوښ د بچي په شان

يُجاوِرُ في كُلِّ سَنَةٍ بِحِراءَ، فَأَراهُ وَلا يَراهُ غَيْري، وَلَمْ يَجْمَعْ بَيْتٌ واحِدٌ يَوْمَئِذٍ في الاسْلامِ غَيْرَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِه وَخَديجَةَ وَأَنَا ثالِثُهُما، أَرَى نُورَ الْوَحْيِ وَالرِّسالَةِ، وَأَشُمُّ ريحَ النُّبُوَّةِ. وَلَقَدْ سَمِعْتُ رَنَّةَ الشَّيْطانِ حينَ نَزَلَ الْوَحْيُ عَلَيْهِ(صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِه) فَقُلْتُ: يا رَسُولَ اللهِ ما هذِهِ الرَّنَّةُ؟ فَقالَ: «هذَا الشَّيْطانُ قَدْ أَيِسَ مِنْ عِبادَتِهِ، إِنَّكَ تَسْمَعُ ما أَسْمَعُ، وَتَرَى ما أَرَى، إِلاَّ أَنَّكَ لَسْتَ بِنَبِيٍّ، وَلكِنَّكَ وَزيرٌ، وَإِنَّكَ لَعَلَى خَيْرٍ».

وَلَقَدْ كُنْتُ مَعَهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِه لَمَّا أَتاهُ الْمَلأُ مِنْ قُرَيْشٍ، فَقالُوا لَهُ: يا مُحَمَّدُ، إِنَّكَ قَدِ ادَّعَيْتَ عَظيماً لَمْ يَدَّعِهِ آباؤُكَ وَلا أَحَدٌ مِنْ بَيْتِكَ، وَنَحْنُ نَسْأَلُكَ أَمْراً إِنْ أَجَبْتَنا إِلَيْهِ وَأَرَيْتَناهُ، عَلِمْنا أَنَّكَ نَبِيٌّ وَرَسُولٌ، وَإِنْ لَمْ تَفْعَلْ عَلِمْنا أَنَّكَ ساحِرٌ كَذَّابٌ. فَقالَ لَهُمْ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِه: «وَما تَسْأَلُونَ؟».قالُوا: تَدْعُو لَنا هذِهِ الشَّجَرَةَ حَتَّى تَنْقَلِعَ بِعُرُوقِها وَتَقِفَ بَيْنَ يَدَيْكَ. فَقالَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِه: «إِنَّ اللهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَديرٌ، فَإِنْ فَعَلَ اللهُ ذلِكَ لَكُمْ، أَتُؤْمِنُونَ وَتَشْهَدُونَ بِالْحَقِّ؟». قالُوا: نَعَمْ. قالَ: «فَإِنِّي سَأُريكُمْ ما تَطْلُبُونَ، وَإِنِّي لأَعْلَمُ أَنَّكُمْ لا تَفيئُونَ إِلَى خَيْرٍ، وَإِنَّ فيكُمْ مَنْ يُطْرَحُ فِي الْقَليبِ، وَمَنْ يُحَزِّبُ الاحْزابَ». ثُمَّ قالَ: «يا أَيَّتُهَا الشَّجَرَةُ إِنْ كُنْتِ تُؤْمِنينَ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ، وَتَعْلَمينَ أَنِّي رَسُولُ اللهِ، فَانْقَلِعي بِعُرُوقِكِ حَتَّى تَقِفي بَيْنَ يَدَيَّ بِإِذْنِ اللهِ». فَوَالَّذي بَعَثَهُ بِالْحَقِّ نَبِيّاً لاَنْقَلَعَتْ بِعُرُوقِها، وَجاءَتْ وَلَها دَوِيٌّ شَديدٌ، وَقَصْفٌ كَقَصْفِ أَجْنِحَةِ الطَّيْرِ، حَتَّى وَقَفَتْ بَيْنَ يَدَيْ رَسُولِ اللهِ(صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِه)مُرَفْرِفَةً، وَأَلْقَتْ بِغُصْنِهَا الاعْلَى عَلَى رَسُولِ اللهِ(صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِه)، وَبِبَعْضِ أَغْصانِها عَلَى مَنْكِبي، وَكُنْتُ عَنْ يَمينِهِ عَلَيْهِ السَّلامُ . فَلَمَّا نَظَرَ الْقَوْمُ إِلَى ذلِكَ قالُوا ـ عُلُوّاً وَاسْتِكْباراً ـ: فَمُرْها فَلْيَأْتِكَ نِصْفُها وَيَبْقَى نِصْفُها. فَأَمَرَها بِذلِكَ، فَأَقْبَلَ إِلَيْهِ نِصْفُها كَأَعْجَبِ إِقْبالٍ وَأَشَدِّهِ دَوِيّاً، فَكادَتْ تَلْتَفُّ بِرَسُولِ اللهِ(صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِه). فَقالُوا ـ

چې تل په مور پسې روان وي، [120] د خداے ګران رسول به هره ورځ ماته د غوره اخلاقو يوه نښه ښودله، او ماته به يې امر کوۀ چې اقتدا يې وکړم، پېغمبراکرمﷺ به د کال څو مياشتې په حرا غار کښې تېرولې، يوائې ما به ليدۀ او بل هيچا به نۀ ليدۀ. په هغه وخت کښې د هيچا کور ته اسلام نۀ ؤ لاړ بې د رسول الله مبارکﷺ له کوره چې بي بي خديجهعليها السلام هم پکښې وه، او زۀ دريم کس وم، ما به د وحي او رسالت رڼا ليدله، او د نبوت بوي به مې راکارۀ، ما هغه وخت چې په پېغمبراکرمﷺ باندې وحي نازله شوه د شېطان ژړا واورېده، اومې ويل: اے د خداے ګران رسوله! دا ژړا د چا ده؟ وې فرمايل:شېطان دے چې له خپلې پيروۍ نااميده شوے دے.او وې فرمايل:«اے علي! تۀ هغه څه چې زۀ يې اورم اورې، او څه چې زۀ وينم وينې يې، بې له دې چې تۀ پېغمبر نۀ يې، بلکه زما وزير يې او د خېر او نېکۍ په لاره روان يې»

## د قرېشو ترېګني او کبر

زۀ له پېغمبراکرمﷺ سره وم هغه وخت چې د قرېشو مشران ورته راغلل او وې ويل:«اے محمده! تا ډېره لويه دعوا کړې ده چې هيڅ پلار نيکۀ او په کورنۍ کښې دې چا نۀ ده کړې، مونږ له تا معجزه غواړوو، که ځواب دې هو ؤ او راودې ښودله پوه به شوو چې تۀ پېغمبر او د خداے استازے يې، او که ودې نۀ ښودله پوه به شوو چې دورغجن او جادوګر يې» نو پېغمبرﷺ وفرمايل:« تاسو څه غواړئ؟ وې ويل: «دې ونې ته غږ کړه چې له بېخه راووځي او ستا خواته اودرېږي» پېغمبرﷺ وفرمايل: خداے پاک د هر څه وس لري. که خداے پاک دا کار وکړي ايمان راوړئ او په حق باندې ګواهي ورکوئ؟ وې ويل: هو، پېغمبراکرمﷺ وفرمايل: ډېر زر به هغه څه چې ومو غوښتل دروښيم او تر هر چا ښۀ پوهېږم چې تاسو خېر او نيکۍ ته نۀ ستنيږئ، ځکه چې ستاسو په مينځ کښې هغه کسان موجود دي چې اوبه وژل شي او د بدر په کوهي کښې به ښخ شي، [121] او په تاسو کښې هغه کس دے چې د احزاب جنګ به جوړوي[122]. بيا يې ونې ته اشاره وکړه او وې فرمايل:«اے ونې! که په خداے پاک او د قيامت په ورځ باندې ايمان لرې او پوهېږې چې زۀ د خداے پېغمبر يم نو د خداے په حکم له جرړو سره له ځمکې راووځه او زما په خوا کښې اودرېږه» قسم په هغه پېغمبرﷺ چې خداے په حقه ګمارلے دے ونه له جرړو سره له ځمکې راووته او مخکې راغله په سخت غږ سره لکه مارغان چې وزرې پړپوي، يا د ونې څانګې سره جنګېږي،رامخکې شوه او د پېغمبراکرمﷺ مخې ته اودرېده، او خپلې ځينې اوږدې څانګې يې په پېغمبراکرمﷺ او ځينې په ما باندې خورې کړې، او زۀ د پېغمبراکرمﷺ ښي لاسته ولاړ وم کله چې د قرېشو مشرانو دا ننداره اوليده په کبر او غرور سره يې وويل:«ونې ته ووايه چې نيمه رامخکې شي او نيمه په ځاي اودرېږي» رسول الله مبارک امر وکړ.

كُفْراً وَعُتُوّاً ـ: فَمُرْ هذَا النِّصْفَ فَلْيَرْجِعْ إِلَى نِصْفِه كَمَا كَانَ. فَأَمَرَهُ فَرَجَعَ. فَقُلْتُ أَنَا: لاَ إِلهَ إِلاَّ اللهُ، إِنِّي أَوَّلُ مُؤْمِنٍ بِكَ يَا رَسُولَ اللهِ، وَأَوَّلُ مَنْ آمَنَ بِأَنَّ الشَّجَرَةَ فَعَلَتْ مَا فَعَلَتْ بِأَمْرِ اللهِ تَصْدِيقاً لِنُبُوَّتِكَ، وَإِجْلاَلاً لِكَلِمَتِكَ. فَقَالَ الْقَوْمُ كُلُّهُمْ: بَلْ سَاحِرٌ كَذَّابٌ، عَجِيبُ السِّحْرِ خَفِيفٌ فِيهِ، وَهَلْ يُصَدِّقُكَ فِي أَمْرِكَ إِلاَّ مِثْلُ هذَا! يَعْنُونَنِي.

وَإِنِّي لَمِنْ قَوْمٍ لاَ تَأْخُذُهُمْ فِي اللهِ لَوْمَةُ لاَئِمٍ، سِيمَاهُمْ سِيمَا الصِّدِّيقِينَ، وَكَلاَمُهُمْ كَلاَمُ الْأَبْرَارِ، عُمَّارُ اللَّيْلِ، وَمَنَارُ النَّهَارِ، مُتَمَسِّكُونَ بِحَبْلِ الْقُرْآنِ، يُحْيُونَ سُنَنَ اللهِ وَسُنَنَ رَسُولِهِ، لاَ يَسْتَكْبِرُونَ وَلاَ يَعْلُونَ، وَلاَ يَغُلُّونَ وَلاَ يُفْسِدُونَ، قُلُوبُهُمْ فِي الْجِنَانِ، وَأَجْسَادُهُمْ فِي الْعَمَلِ!

## [ ١٩٣ ]

### يَصِفُ فِيهَا الْمُتَّقِينَ

رُوِيَ أَنَّ صَاحِباً لِأَمِيرِ الْمُؤْمِنِينَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ يُقَالُ لَهُ هَمَّامٌ كَانَ رَجُلاً عَابِداً، فَقَالَ لَهُ: يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ، صِفْ لِيَ الْمُتَّقِينَ كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَيْهِمْ. فَتَثَاقَلَ عَنْ جَوَابِهِ، ثُمَّ قَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ: يَا هَمَّامُ، اتَّقِ اللهَ وَأَحْسِنْ فَإِنَّ اللهَ مَعَ الَّذِينَ اتَّقَوْا وَالَّذِينَ هُمْ مُحْسِنُونَ. فَلَمْ يَقْنَعْ هَمَّامٌ بِذلِكَ الْقَوْلِ حَتَّى عَزَمَ عَلَيْهِ. قَالَ: فَحَمِدَ اللهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ، وَصَلَّى عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ، ثُمَّ قَالَ:

أَمَّا بَعْدُ، فَإِنَّ اللهَ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى خَلَقَ الْخَلْقَ حِينَ خَلَقَهُمْ غَنِيّاً عَنْ طَاعَتِهِمْ آمِناً مِنْ مَعْصِيَتِهِمْ، لِأَنَّهُ لاَ تَضُرُّهُ مَعْصِيَةُ مَنْ عَصَاهُ، وَلاَ تَنْفَعُهُ طَاعَةُ مَنْ أَطَاعَهُ، فَقَسَمَ بَيْنَهُمْ مَعَايِشَهُمْ، وَوَضَعَهُمْ مِنَ الدُّنْيَا مَوَاضِعَهُمْ. فَالْمُتَّقُونَ فِيهَا هُمْ أَهْلُ الْفَضَائِلِ: مَنْطِقُهُمُ الصَّوَابُ، وَمَلْبَسُهُمُ الْاِقْتِصَادُ، وَمَشْيُهُمُ التَّوَاضُعُ. غَضُّوا أَبْصَارَهُمْ عَمَّا حَرَّمَ اللهُ عَلَيْهِمْ، وَوَقَفُوا أَسْمَاعَهُمْ عَلَى الْعِلْمِ

نیمه ونه په حیرانوونکي ډول او په سخت غږ سره پېغمبراکرمﷺ ته نږدې شوه ته به وائې له پېغمبره تاوېدل غواړي، خو د قرېشو سرغنو د کفر او سرکښۍ له مخې وویل: «امر وکړه چې دا ځل نیمه ستنه شي او له هغه نیمې سره یو ځاے شي، او د اول په شان شي» پېغمبر اکرمﷺ امر وکړ او همداسې وشول. ما وویل: لا اله الا الله، اے د خداے رسوله! زهٔ وړومبے کس یم چې په تا باندې ایمان څرګندوم او وړومبے کس یم چې اقرار کوم چې ونې د خداے پاک په امر د نبوت د تصدیق او ستا د پېغمبرۍ د بلنې د درنښت لپاره هغه څه چې ودې غوښتل وکړل، خو د قرېشو ټولو مشرانو وویل: هغه داسې دروغجن جادوګر دے چې حیرانوونکے سحر لري او زبردست ماهر دے» او پېغمبرﷺ ته یې وویل: آیا د دهٔ (علي) په شان له کسانو نه بغېر بل څوک هم ستا په پېغمبرۍ باندې باور کوي؟»

### د کامل مومن بېلګه او نمونه

او همدا ده چې زهٔ له هغو کسانو څخه یم چې د خداے پاک په لاره کښې له هیڅ ملامتیا څخه نهٔ وېرېږي هغه کسان چې څېره یې د رښتینو، او وېنا یې د نېکانو ده، د شپې (په عبادت) رڼوونکي او د ورځې (د خلقو لپاره د هدایت) رڼا ورکوونکي دي، د قرآن لمنې ته یې پناه وړې او د خداے پاک او د هغهٔ د رسولﷺ سنت او دودونه ژوندي کوي. نهٔ کبر او ځان منته لري او نهٔ په چا ځان برګنې، نهٔ خائنان دي او نهٔ په ځمکه باندې فسادیان، زړونه یې په جنت کښې او بدنونه یې په نیکو چارو لګیا دي.

## ﴿یو سل درې نوي یمه خطبه﴾

(وائي چې د امام یو پرهېزګار ملګري «همام»[۱۲۳] وویل:

اے امیرالمومنینه! ماته پرهېزګاران داسې وستایه لکه چې په خپلو سترګو یې وینم، امام د هغهٔ په ځواب کښې ټکنے شو (ځنډ یې وکړ) او بیا یې وفرمایل: اے همامه! له خدایه اویرېږه او نېک چارے اوسه چې خداے پاک له نېکانو او پرهېزګارانو سره دے» خو همام په خپله خبره ټینګ ولاړ ؤ او بیا بیا یې غوښتل، تر دې چې امام ورته د پرهېزګارو ځینې صفتونه بیان کړل. د خداے له حمد او په پېغمبراکرمﷺ او د هغهٔ په آل باندې له درود وروسته یې وفرمایل:)

### د متقیانو څېره

د پالونکي له ستائنې وروسته! بې شکه خداے پاک مخلوقات او پنځول په داسې حال کښې چې له طاعته یې بې نیاز او له نافرمانۍ یې خوندي ؤ، ځکه چې نهٔ د ګناهګارو ګناه هغه ته کوم تاوان او نهٔ ورته د مومنانو اطاعت کومه ګټه رسوي، د بندګانو روزي یې اوېشله او هر یو یې په خپل مقام وټاکهٔ. نو متقیان په هغوی کښې داسې دي چې ځینې لوړ فضیلتونه لري، خبرې یې رښتیا او جامه یې مېنځ لاري ده، او په تواضع سره تګ کوي، له هغو څیزونو چې خداے حرام کړي دي سترګې پټوي

النَّافِعِ لَهُمْ. نَزَلَتْ أَنْفُسُهُمْ مِنْهُمْ فِي الْبَلاَءِ كَالَّتِي نَزَلَتْ فِي الرَّخَاءِ. لَوْ لاَ الاَجَلُ الَّذِي كَتَبَ اللهُ عَلَيْهِمْ لَمْ تَسْتَقِرَّ أَرْوَاحُهُمْ فِي أَجْسَادِهِمْ طَرْفَةَ عَيْنٍ، شَوْقاً إِلَى الثَّوَابِ، وَخَوْفاً مِنَ الْعِقَابِ. عَظُمَ الْخَالِقُ فِي أَنْفُسِهِمْ فَصَغُرَ مَا دُونَهُ فِي أَعْيُنِهِمْ، فَهُمْ وَالْجَنَّةُ كَمَنْ قَدْ رَآهَا، فَهُمْ فِيهَا مُنَعَّمُونَ، وَهُمْ وَالنَّارُ كَمَنْ قَدْ رَآهَا، فَهُمْ فِيهَا مُعَذَّبُونَ. قُلُوبُهُمْ مَحْزُونَةٌ، وَشُرُورُهُمْ مَأْمُونَةٌ، وَأَجْسَادُهُمْ نَحِيفَةٌ، وَحَاجَاتُهُمْ خَفِيفَةٌ، وَأَنْفُسُهُمْ عَفِيفَةٌ. صَبَرُوا أَيَّاماً قَصِيرَةً أَعْقَبَتْهُمْ رَاحَةً طَوِيلَةً، تِجَارَةٌ مُرْبِحَةٌ، يَسَّرَهَا لَهُمْ رَبُّهُم. أَرَادَتْهُمُ الدُّنْيَا وَلَمْ يُرِيدُوهَا، وَأَسَرَتْهُمْ فَفَدَوْا أَنْفُسَهُمْ مِنْهَا.

أَمَّا اللَّيْلَ فَصَافُّونَ أَقْدَامَهُمْ، تَالِينَ لاَجْزَاءِ الْقُرْآنِ يُرَتِّلُونَهَا تَرْتِيلاً، يُحَزِّنُونَ بِهِ أَنْفُسَهُمْ، وَيَسْتَثِيرُونَ بِهِ دَوَاءَ دَائِهِمْ، فَإِذَا مَرُّوا بِآيَةٍ فِيهَا تَشْوِيقٌ رَكَنُوا إِلَيْهَا طَمَعاً، وَتَطَلَّعَتْ نُفُوسُهُمْ إِلَيْهَا شَوْقاً، وَظَنُّوا أَنَّهَا نُصْبَ أَعْيُنِهِمْ، وَإِذَا مَرُّوا بِآيَةٍ فِيهَا تَخْوِيفٌ أَصْغَوْا إِلَيْهَا مَسَامِعَ قُلُوبِهِمْ، وَظَنُّوا أَنَّ زَفِيرَ جَهَنَّمَ وَشَهِيقَهَا فِي أُصُولِ آذَانِهِمْ، فَهُمْ حَانُونَ عَلَى أَوْسَاطِهِمْ، مُفْتَرِشُونَ لِجِبَاهِهِمْ وَأَكُفِّهِمْ، وَأَطْرَافِ أَقْدَامِهِمْ، يَطْلُبُونَ إِلَى اللهِ فِي فَكَاكِ رِقَابِهِمْ.

وَأَمَّا النَّهَارَ فَحُلَمَاءُ عُلَمَاءُ، أَبْرَارٌ أَتْقِيَاءُ، قَدْ بَرَاهُمُ الْخَوْفُ بَرْيَ الْقِدَاحِ، يَنْظُرُ إِلَيْهِمُ النَّاظِرُ فَيَحْسَبُهُمْ مَرْضَى، وَمَا بِالْقَوْمِ مِنْ مَرَضٍ، وَيَقُولُ: قَدْ خُولِطُوا! وَلَقَدْ خَالَطَهُمْ أَمْرٌ عَظِيمٌ! لاَ يَرْضَوْنَ مِنْ أَعْمَالِهِمُ الْقَلِيلَ، وَلاَ يَسْتَكْثِرُونَ الْكَثِيرَ، فَهُمْ لاَنْفُسِهِمْ مُتَّهِمُونَ، وَمِنْ أَعْمَالِهِمْ مُشْفِقُونَ. إِذَا زُكِّيَ أَحَدٌ مِنْهُمْ خَافَ مِمَّا يُقَالُ لَهُ، فَيَقُولُ: أَنَا أَعْلَمُ بِنَفْسِي مِنْ غَيْرِي، وَرَبِّي أَعْلَمُ مِنِّي بِنَفْسِي! اللَّهُمَّ لاَ تُؤَاخِذْنِي بِمَا يَقُولُونَ، وَاجْعَلْنِي أَفْضَلَ مِمَّا يَظُنُّونَ، وَاغْفِرْ لِي مَا لاَ يَعْلَمُونَ.

فَمِنْ عَلاَمَةِ أَحَدِهِمْ أَنَّكَ تَرَى لَهُ قُوَّةً فِي دِينٍ، وَحَزْماً فِي لِينٍ، وَإِيمَاناً فِي يَقِينٍ، وَحِرْصاً فِي عِلْمٍ، وَعِلْماً فِي حِلْمٍ، وَقَصْداً

او غوږونه يې ګټورو علمونو او خبرو ته وقف کړي دي، دوي په سختيو او راحتيو کښې يو شان حالت لري او که خداے تعالى د هغوي مرګ ته خاص برخليک او نېټه نۀ وي ټاکلې نو ارواګاني به يې يوه شېبه هم په کالبوت کښې نۀ ايساربدې، د جنت د ديدار د لېوالتيا او د دوزخ د اور له وېرې. خداے پاک يې په ځان او زړۀ کښې لوے او نور مخلوقات ورته واړۀ دي، جنت ورته داسې دے لکه چې د سر په سترګو يې ليدلے وي او په نعمتونو کښې يې پاتې شوي وي، او په دوزخ داسې باور لري لکه چې ليدلے يې وي او عذاب يې څکلے وي. د پرهېزګارو زړونه خفه او خلق يې له آزاره په امن کښې دي، بدنونه يې کمزوري او نري او غوښتنې يې ورې دي. نفسونه يې سوتره او لمنې يې پاکې دي. د دنيا په لنډ ژوند يې زړۀ صبر کړے چې د قيامت تل پاتې هوساينه اوومومي دا هغه ګټوره سودا ده چې خداے پاک وربرابره کړې ده. دنيا غولول غوښتل خو دنيا ته يې مخه نۀ کړه، ګېرول يې غوښتل خو د ځانونو په قربانۍ سره ترې اوژغورېدل.

## د پرهېزګارو شپې

پرهېزګاران هغه کسان دي چې د شپې په نمانځۀ ولاړ وي قرآن په ترتيل او په فکر سره لولي، په قرآن سره ځانونه محزونوي او د خپل درد درمل مومي. کله چې داسې آيت ته اورسېږي چې هڅونه پکښې وي نو جنت ته د لېوالتيا په شوق هغې ته مخه کوي، او د زړۀ له تله ورځېرېږي، او خيال کوي چې د جنت لورينې او نعمتونه يې د سترګو مخې ته دي، او کله چې داسې آيت ته اورسېږي چې د خداے پاک وېره پکې وي نو د زړۀ غوږونه ورسپاري او تۀ به وائې د دوزخ د اور د لمبو غرهار يې په غوږونو کښې انګازې کوي، نو رکوع ته ټيټ شي او لاسونه پښې په ځمکه اولګوي او له خدايه غواړي چې له اوره يې اوساتي.

## د پرهېزګارو ورځې

پرهېزګاران د ورځې خاکساره عالمان او داسې نېک چارې متقيان وي چې د خداے پاک وېرې د تراشل شوي غشي په شان نري کړي دي څوک چې ورته ګورې ګمان کوي چې بيماران دي خو هغوي بيماران نۀ دي او وائي چې خلق په غلطه دي! حال دا چې ظاهري حالت يې د يوې لوې چارې خبر ورکوي، هغه دا چې له خپلو کمو عملونو راضي نۀ دي او خپل زيات عملونه، لوي نۀ ګڼي، خپل نفس تورنوي او له خپل کرداره وېرېږي. که له دغو پرهېزګارو څخه څوک د يو ستائېنه وکړي نو له خپل صفته وېرېږي او وائي: زۀ ځان تر نورو ښۀ پېژنم او خداے پاک ما تر ما ښۀ پېژني. اے خدايه! ما په هغه څه چې دوي يې وائي مۀ محاکمه کوه او تر هغه څه مې غوره وګرځوه چې دوي يې وائي او زما هغه ګناهونه چې دوي ترې نۀ دي خبر اوبخښې.

## د پرهېزګارو نښې نښانې

او د پرهېزګارو يوه نښه دا ده چې (يو پرهېزګار) به داسې ويني: په دين

فِي غنىً، وَخُشُوعاً فِي عِبَادَة، وَتَجَمُّلاً فِي فَاقَة، وَصَبْراً فِي شدَّة، وطَلَباً فِي حَلاَل، وَنَشَاطاً فِي هُدىً، وَتَحَرُّجاً عَنْ طَمَع. يَعْمَلُ الاَعْمَالَ الصَّالحَةَ وَهُوَ عَلَى وَجَل، يُمْسِي وَهَمُّهُ الشُّكْرُ، وَيُصْبِحُ وَهَمُّهُ الذِّكْرُ، يَبِيتُ حَذِراً، وَيُصْبِحُ فَرِحاً، حَذِراً لَمَّا حُذِّرَ مِنَ الْغَفْلَة، وَفَرِحاً بِمَا أَصَابَ مِنَ الْفَضْلِ وَالرَّحْمَة. إِن اسْتَصْعَبَتْ عَلَيْه نَفْسُهُ فِيمَا تَكْرَهُ لَمْ يُعْطِهَا سُؤْلَهَا فِيمَا تُحِبُّ. قُرَّةُ عَيْنِه فِيمَا لاَ يَزُولُ، وَزَهَادَتُهُ فِيمَا لاَ يَبْقَى، يَمْزُجُ الْحِلْمَ بِالْعِلْمِ، وَالْقَوْلَ بِالْعَمَلِ. تَرَاهُ قَرِيباً أَمَلُهُ، قَلِيلاً زَلَلُهُ، خَاشِعاً قَلْبُهُ، قَانِعَةً نَفْسُهُ، مَنْزُوراً أَكْلُهُ، سَهْلاً أَمْرُهُ، حَرِيزاً دِينُهُ، مَيِّتَةً شَهْوَتُهُ، مَكْظُوماً غَيْظُهُ. الْخَيْرُ مِنْهُ مَأْمُولٌ، وَالشَّرُّ مِنْهُ مَأْمُونٌ. إِنْ كَانَ فِي الْغَافِلِينَ كُتِبَ فِي الذَّاكِرِينَ، وَإِنْ كَانَ فِي الذَّاكِرِينَ لَمْ يُكْتَبْ مِنَ الْغَافِلِينَ. يَعْفُو عَمَّنْ ظَلَمَهُ، وَيُعْطِي مَنْ حَرَمَهُ، وَيَصِلُ مَنْ قَطَعَهُ. بَعِيداً فُحْشُهُ، لَيِّناً قَوْلُهُ، غَائِباً مُنْكَرُهُ، حَاضِراً مَعْرُوفُهُ، مُقْبِلاً خَيْرُهُ، مُدْبِراً شَرُّهُ. فِي الزَّلاَزِلِ وَقُورٌ، وَفِي الْمَكَارِهِ صَبُورٌ، وَفِي الرَّخَاءِ شَكُورٌ. لاَ يَحِيفُ عَلَى مَنْ يُبْغِضُ، وَلاَ يَأْثَمُ فِيمَنْ يُحِبُّ. يَعْتَرِفُ بِالْحَقِّ قَبْلَ أَنْ يُشْهَدَ عَلَيْه. لاَ يُضَيِّعُ مَا اسْتُحْفِظَ، وَلاَ يَنْسَى مَا ذُكِّرَ، وَلاَ يُنَابِزُ بِالاَلْقَابِ، وَلاَ يُضَارُّ بِالْجَارِ، وَلاَ يَشْمَتُ بِالْمَصَائِبِ، وَلاَ يَدْخُلُ فِي الْبَاطِلِ، وَلاَ يَخْرُجُ مِنَ الْحَقِّ. إِنْ صَمَتَ لَمْ يَغُمَّهُ صَمْتُهُ، وَإِنْ ضَحِكَ لَمْ يَعْلُ صَوْتُهُ، وَإِنْ بُغِيَ عَلَيْه صَبَرَ حَتَّى يَكُونَ اللهُ هُوَ الَّذِي يَنْتَقِمُ لَهُ. نَفْسُهُ مِنْهُ فِي عَنَاء، وَالنَّاسُ مِنْهُ فِي رَاحَة. أَتْعَبَ نَفْسَهُ لاخِرَتِه، وَأَرَاحَ النَّاسَ مِنْ نَفْسِه. بُعْدُهُ عَمَّنْ تَبَاعَدَ عَنْهُ زُهْدٌ وَنَزَاهَةٌ، وَدُنُوُّهُ مِمَّنْ دَنَا مِنْهُ لِينٌ وَرَحْمَةٌ، لَيْسَ تَبَاعُدُهُ بِكِبْر وَعَظَمَة، وَلاَ دُنُوُّهُ بِمَكْر وَخَدِيعَة. قَالَ: فَصَعِقَ هَمَّامٌ رَحِمَهُ اللهُ صَعْقَةً كَانَتْ نَفْسُهُ فِيهَا. فَقَالَ أَمِيرُ الْمُؤْمِنِينَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ: أَمَا وَاللهِ لَقَدْ كُنْتُ أَخَافُهَا عَلَيْه. ثُمَّ قَالَ: هكَذَا تَصْنَعُ الْمَوَاعِظُ الْبَالِغَةُ بِأَهْلِهَا. فَقَالَ لَهُ قَائِلٌ: فَمَا بَالُكَ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ؟ فَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ: وَيْحَكَ، إِنَّ لِكُلِّ أَجَل وَقْتاً لاَ يَعْدُوهُ،

کښې پیاوړے، نرم خویه او لرلیدے (دوراندېش)، دکلک ایمان لرونکے، د علم په حاصلولو کښې حرصناک، خو له علم سره حلم او زغم لرونکے، په بې نیازۍ کښې معتدل، په عبادت کښې خاکسار، په بېوزلۍ او غریبۍ کښې ښکلے او سینګار، په سختۍ کښې صابر، د حلال رزق تکل کوونکے، د هدایت په لاره کښې خوښ، او له طمعې او لالچ څخه ډډه کوونکے دے. نېک عملونه کوي خو د خداے پاک ویره ورسره وي، ورځ په شکر تېروي او شپه د خداے په یاد سبا کوي، په ویرې سره اوده کېږي او خوشحالۍ سره راوېښېږي، ویره یې له دې چې غافله نۀ شي او خوشحالي یې د هغۀ فضل او رحمت په وجه چې ورته رسېدلي دي، که نفس یې په سختو چارو کښې خبره اونۀ مني له هغه څه یې چې د نفس خوښ دي بې برخې کوي، د پرهېزګارانو د سترګو تور په هغه څه کښې دے چې تل پاتے دے او فاني څیزونه پرېږدي بردباري له علم او خبره له عمل سره اغږي. پرهېزګار به وینې چې ارمان او آرزو یې نزدې، خطا یې کمه، زړۀ یې عاجز، نفس یې قانع، خوراک یې کم، کار یې آسان، دین یې خوندي، د حرامو شهوت یې مړ او غصه یې ځښلې ده. خلق یې خېر او نېکۍ ته طمعه دار او له شره یې په امان دي، که څه هم په غافلانو کښې وي خو نوم یې د خداے پاک په ذاکرانو کښې لیکل کېږي او که د خداے پاک په یادوونکو کښې وي په غافلانو کښې یې نوم نۀ لیکل کېږي. که څوک پرې ظلم وکړي بخښي یې، چا چې بې برخې کړے دے وربخښي یې، څوک چې ورځینې غوڅ شوے دے ځان ورګنډي، له سپکې خبرې لرې، خبرې یې نرمې، بدۍ یې پټې او نېک کار یې ښکاره وي. ښېګړه یې هر چاته رسي او ازار یې هیچا ته نۀ رسېږي، په سختیو کښې قرار، په ناخوښیو کښې صابر او په خوشحالیو کښې شاکر وي، له چا سره چې دښمن وي ظلم پرې نۀ کوي او له چا سره چې مینه کوي د هغۀ په معامله کښې ځان په ګناه نۀ ککړوي، په حق اعتراف کوي مخکې تر دې چې څوک یې په خلاف ګواهي ورکړي، څه چې وروسپارې ضائع کوي یې نه، څه چې وریاد کړې هېروي یې نه، خلق په سپکو نامو سره نۀ یادوي، ګاونډیان نۀ ځوروي، د نورو په غمونو نۀ خوشحالېږي او په ناروا چارو کښې لاس نۀ وهي، د حق له لیکو او حدودو څخه نۀ اوځي، که غلے وي چپتیا یې نۀ غمجنوي او که اوخاندي خندا یې په اوچت اواز نۀ وي، که ظلم پرې اوشي صبر کوي چې خداے پاک یې بدله واخلي، خپل نفس ترې په عذاب خو خلک ترې راحته وي، د قیامت لپاره ځان کړوي خو خلق هوسا او سوکاله ساتي، له ځینو کسانو لرې والے یې د زهد او پاکۍ او ځینو ته نزدې والے یې د مهربانۍ او نرمې له مخه وي، لرې والے یې د کبر او ځان خوښونې او نزدې والے یې د دهوکې او غولولو له امله نۀ وي. (کله چې د امام خبره دې ځاے ته اورسېدله همام یوه چغه کړه او مړ شو، امام وفرمایل:) په خداے قسم زۀ په همام باندي له همدې خبرې وېرېدم. بیا

وَسَبَباً لاَ يَتَجَاوَزُهُ، فَمَهْلاً، لاَ تَعُدْ لِمِثْلِهَا، فَإِنَّمَا نَفَثَ الشَّيْطَانُ عَلَى لِسَانِكَ!

[ ١٩٤ ]

مِنْ خُطْبَة لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ يَصِفُ فِيهَا الْمُنَافِقِينَ

نَحْمَدُهُ عَلَى مَا وَفَّقَ لَهُ مِنَ الطَّاعَةِ، وَذَادَ عَنْهُ مِنَ الْمَعْصِيَةِ، وَنَسْأَلُهُ لِمِنَّتِهِ تَمَاماً، وَبِحَبْلِهِ اعْتِصَاماً. وَنَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّداً عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، خَاضَ إِلَى رِضْوَانِ اللهِ كُلَّ غَمْرَة، وَتَجَرَّعَ فِيهِ كُلَّ غُصَّة، وَقَدْ تَلَوَّنَ لَهُ الاَدْنَوْنَ، وَتَأَلَّبَ عَلَيْهِ الاَقْصَوْنَ، وَخَلَعَتْ إِلَيْهِ الْعَرَبُ أَعِنَّتَهَا، وَضَرَبَتْ إِلَى مُحَارَبَتِهِ بُطُونَ رَوَاحِلِهَا، حَتَّى أَنْزَلَتْ بِسَاحَتِهِ عَدَاوَتَهَا، مِنْ أَبْعَدِ الدَّارِ، وَأَسْحَقِ الْمَزَارِ.

أُوصِيكُمْ عِبَادَ اللهِ، بِتَقْوَى اللهِ، وَأُحَذِّرُكُمْ أَهْلَ النِّفَاقِ، فَإِنَّهُمُ: الضَّالُّونَ الْمُضِلُّونَ، وَالزَّالُّونَ الْمُزِلُّونَ. يَتَلَوَّنُونَ أَلْوَاناً، وَيَفْتَنُّونَ افْتِنَاناً، وَيَعْمِدُونَكُمْ بِكُلِّ عِمَاد، وَيَرْصُدُونَكُمْ بِكُلِّ مِرْصَاد. قُلُوبُهُمْ دَوِيَّةٌ، وَصِفَاحُهُمْ نَقِيَّةٌ. يَمْشُونَ الْخَفَاءَ، وَيَدِبُّونَ الضَّرَاءَ. وَصْفُهُمْ دَوَاءٌ، وَقَوْلُهُمْ شِفَاءٌ، وَفِعْلُهُمُ الدَّاءُ الْعَيَاءُ. حَسَدَةُ الرَّخَاءِ، وَمُؤَكِّدُوا الْبَلاَءِ، وَمُقْنِطُوا الرَّجَاءِ. لَهُمْ بِكُلِّ طَرِيق صَرِيعٌ، وَإِلَى كُلِّ قَلْب شَفِيعٌ، وَلِكُلِّ شَجْو دُمُوعٌ. يَتَقَارَضُونَ الثَّنَاءَ، وَيَتَرَاقَبُونَ الْجَزَاءَ. إِنْ سَأَلُوا أَلْحَفُوا، وَإِنْ عَذَلُوا كَشَفُوا، وَإِنْ حَكَمُوا أَسْرَفُوا. قَدْ أَعَدُّوا لِكُلِّ حَقٍّ بَاطِلاً، وَلِكُلِّ قَائِم مَائِلاً، وَلِكُلِّ حَيٍّ قَاتِلاً، وَلِكُلِّ بَاب مِفْتَاحاً، وَلِكُلِّ لَيْل مِصْبَاحاً. يَتَوَصَّلُونَ إِلَى الطَّمَعِ بِالْيَأْسِ لِيُقِيمُوا بِهِ

بې وويل آيا رسېدونکي پندونه له هغو کسانو سره چې منې يې داسې کانه کوي؟ (يو کس وويل: اے اميرالمومنينه! له تاسره يې ولې داسې ونۀ کړل؟ امام ځواب ورکړ:) افسوس دې وي په تا باندې، هر اجل خپله نېټه لري چې مخکې کېږي نه، او يو خاص لامل او سبب لري چې تېرېږي ترې نه، غلے کېنېنه او بيا داسې خبره اونۀ کړې، دا خبره شېطان ستا په خوله باندې جاري کړې ده. ۱۲۴

## ﴿يو سل څلورنوي يمه خطبه﴾

(له شرحې خو يې دا معلومېږي چې دا وينا يې په کوفه کښې کړې ده)

### د منافقانو پېژندنه

د خداے پاک ستائنه کوو په هغه توفيق چې مونږ ته يې د خپل اطاعت لپاره راکړے دے او له نافرمانۍ يې غړولي يوو، او ترې غواړو چې لورينې او نعمتونه يې بشپړکړي او زمونږ منګولې په خپلې رسۍ باندې کلکې کړي. او ګواهي ورکوو چې حضرت محمدﷺ د خداے پاک بنده او استازے دے چې د حق د رضايت په لاره کښې يې هر ډول سختۍ وزغملې، يو وخت د هغۀ خپلوانو دوه مخيتوب او دښمني پېل کړه، او په دې له هغه سره په کينې او دښمنۍ کښې يو موټي شول.عرب له پېغمبراکرمﷺ سره د جنګ لپاره په شليدلو پيزوانونو، او په چابکونو سره د سپرليو ځغلوونکي له هر لورې راغونډ بدل، او له لرو پرتو سيمو، او هېرو شويو ټاټوبو له ګران پېغمبرﷺ سره يې خپلې دښمنۍ برسېره کړې.

اے د خداے بندګانو! تاسو د خداے پروا او تقوا ته رابلم، او له منافقانو(دوه مخو) مو ويروم، ځکه چې هغوي بې لارې او بې لارې کوونکي دي، خطاکار او خطا ته هڅوونکي دي، په رنګارنګوڅېرو ظاهرېږي، او له بېلا بېلو چلونو کار اخلي، ستاسو د ماتولو لپاره هر شي ته لاس اچوي او د ښکارولو لپاره مو په هر څارځاے کې کښېني، زړونه يې بيمار او ظاهر يې ښکلے دے، په پټه په لاره ځي او په سمو لارو نۀ ځي، صفت او ستائنه يې د درملو او خبرې يې د داروګانو په شان وي خو کردار يې بې درمانه درد دے، د خلقو په هوسانه، سوکالۍ او راحتۍ باندې حسد کوي او د خلقو کړاو او زحمت زياتوي،هيله مند نهيلي کوي، دوي په هرې لارې يو کس وژني، په هر زړۀ کښې لاره لري او په هر غم د مکر اوښکې تويوي، ستائنه او تعريفونه يو بل ته په پور ورکوي او د بدل طمعه يې لري.کله چې يو څيز غواړي ټينګار کوي او که ملامته کړې شي بربنډونه کوي،کله چې فېصله کوي اسراف او زياتي کوي. دوي د هر حق لپاره يو باطل، د هر دليل لپاره يوه شبهه، د هر ژوندي لپاره يو قاتل، او د هر ور لپاره يوه کنجي او د هرې شپې لپاره يو څراغ چمتو کړے دے. د نهيلۍ او نااميدۍ په څرګندولو سره

أَسْـــوَاقَهُمْ، وينفِّعــوا بــه أَعْلاَقَهُـــمْ. يَقُولُـــونَ فَيُشَـــبِّهُونَ، وَيَصِــفُونَ فَيُمَوِّهُونَ.قَـدْ هيّـأُوا الطَّرِيـقَ، وَأَضْـلَعُوا الْمَضِـيقَ. فَهُمْ لُمَةُ الشَّيْطَانِ، وحُمَـةُ النِّيـرَانِ ﴿أُولئِـكَ حِـزْبُ الشَّـيْطَانِ أَلاَ إِنَّ حِزْبَ الشَّيْطَانِ هُمُ الْخَاسِرُونَ﴾.

[ ١٩٥ ]

حَمْدُ الله

الْحَمْدُ للهِ الَّذِي أَظْهَرَ مِنْ آثَارِ سُلْطَانِهِ وَجَلاَلِ كِبْرِيَائِهِ، مَا حَيَّرَ مُقَلَ الْعُقُولِ مِنْ عَجَائِبِ قُدْرَتِهِ وردع خَطَرَاتِ هَمَاهِمِ النُّفُوسِ عَنْ عِرْفَانِ كُنْهِ صِفَتِهِ. وَأَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلهَ إِلاَّ اللهُ، شَهَادَةَ إِيمَانٍ وَإِيقَانٍ، وَإِخْلاَصٍ وَإِذْعَانٍ. وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّداً عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، أَرْسَلَهُ وَأَعْلاَمُ الْهُدَى دَارِسَةٌ، وَمَنَاهِجُ الدِّينِ طَامِسَةٌ، فَصَدَعَ بِالْحَقِّ، وَنَصَحَ لِلْخَلْقِ، وَهَدَى إِلَى الرُّشْدِ، وَأَمَرَ بِالْقَصْدِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وسلم.

الْعِظَةُ: وَاعْلَمُوا عِبَادَ اللهِ، أَنَّهُ لَمْ يَخْلُقْكُمْ عَبَثاً، وَلَمْ يُرْسِلْكُمْ هَمَلاً، عَلِمَ مَبْلَغَ نِعَمِهِ عَلَيْكُمْ، وَأَحْصَى إِحْسَانَهُ إِلَيْكُمْ، فَاسْتَفْتِحُوهُ وَاسْتَنْجِحُوهُ، وَاطْلُبُوا إِلَيْهِ وَاسْتَمْنِحُوهُ، فَمَا قَطَعَكُمْ عَنْهُ حِجَابٌ، وَلاَ أُغْلِقَ عَنْكُمْ دُونَهُ بَابٌ، وَإِنَّهُ لَبِكُلِّ مَكَانٍ، وَفِي كُلِّ حِينٍ وَأَوَانٍ، وَمَعَ كُلِّ إِنْسٍ وَجَانٍّ، لاَ يَثْلِمُهُ الْعَطَاءُ، وَلاَ يَنْقُصُهُ الْحِبَاءُ، وَلاَ يَسْتَنْفِدُهُ سَائِلٌ، وَلاَ يَسْتَقْصِيهِ نَائِلٌ، وَلاَ يَلْوِيهِ شَخْصٌ عَنْ شَخْصٍ، وَلاَ يُلْهِيهِ صَوْتٌ عَنْ صَوْتٍ، وَلاَ تَحْجُزُهُ هِبَةٌ عَنْ سَلْبٍ، وَلاَ يَشْغَلُهُ غَضَبٌ عَنْ رَحْمَةٍ، وَلاَ تُولِهُهُ رَحْمَةٌ عَنْ عِقَابٍ، وَلاَ يُجِنُّهُ الْبُطُونُ عَنِ الظُّهُورِ، وَلاَ يَقْطَعُهُ الظُّهُورُ عَنِ الْبُطُونِ، قَرُبَ فَنَأَى، وَعَلاَ فَدَنَا، وَظَهَرَ فَبَطَنَ، وَبَطَنَ فَعَلَنَ، وَدَانَ وَلَمْ يُدَنْ، لَمْ يَذْرَأِ الْخَلْقَ بِاحْتِيَالٍ، وَلاَ اسْتَعَانَ بِهِمْ لِكَلاَلٍ.

غواړي خپلو طمو ته اورسېږي، خپل بازار ګرم کړي او سامان يې خرخ کړي، خبره کوي خو انسان په غلطۍ او دوه زړۀ تو ب کښې اچوي، د يو ځيز بيان کوي خو غولول کوي، په اوله کښې لاره آسانه برېښوي او وروسته دې کړليچونو او بندونونو ته راکاږي، دوي د شېطان ملګري او د دوزخ د اور لمبې دي «دوي د شېطان منونکي دي او پوه شئ چې د شېطان لارويان تاوانيان دي»

## ﴿يو سل پينځۀ نوي يمه خطبه﴾

(په اصول کافي کښې د راغليو ويناؤ له مخې دا وېنا په کوفه ښار کښې ورکړې شوې ده)

### د خداے پاک ښکاره ننبې

ستائنه له هغه خداے سره ښائي چې د خپل قدرت سترتوب او عظمت ننبې يې داسې ښکاره کړې چې سترګې يې د قدرت په ليدلو هکې پکې پاتې شوې او لوړ الوته فکرونه يې د صفتونو د ماهيت له پېژندلو پاتې راګلل، او ګواهي ورکوم چې بې له يوائيني او واحد خدايه بل خداے نشته داسې شهادت چې په ايمان، اخلاص يقين او اقرار ولاړ وي. او ګواهي ورکوم چې حضرت محمد ﷺ د خداے پاک بنده او استازے دے. خداے پاک خپل استازے هغه وخت راولېږۀ چې د هدايت ننبې هېرې کړې شوې او د دين لارې وراني شوې وې، هغه حق ځرګند کړ او خلقو ته يې نصيحت وکړ، ټول يې ژغورنې ته ورسم کړل او د مينځ لارې امر يې وکړ «د خداے پاک درود او سلام دې وي په هغه او د هغۀ په آل باندې»

### خداے پېژندنه

او پوه شئ اے د خداے بندګانو! خداے تعالی تاسو چټې نۀ يئ پنځولي، او بې مشره يې نۀ يئ پرېښې، په تاسو باندې د خپلو لورينو او نعمتونو او د خپلو نيکيو له اندازې خبر دے. نو ژغورنه او برے ترې اوغواړئ، او ښندنه يې وغواړ ئ ځکه چې ستاسو او د هغۀ په مينځ کښې پرده نشته او کوم ور نۀ درتړل کېږي، هغه په هر ځاے او هره شېبه او زمان کښې دے، له انسانانو او پېريانو سره دے، پرېمانه ورکړه يې پانګه نه کموي او ښندنه يې خزانې نۀ لږوي، غوښتونکي د هغۀ پانګه نۀ ختموي او اخېستونکي يې خزانه نۀ تشوي، او هيڅوک به د بل د نعمت مخه ونۀ نيسي، او غږ به يې له بل غږه منعې نۀ کړي. د هغۀ بخښنه د بل نعمت او لورينې خنډ نۀ کېږي، غصه کېدل يې د رحمت مخه نۀ نيسي او رحمت يې له عذابه نۀ غافله کوي. پټوالے يې د ښکاره والي خنډ نۀ دے او ځرګند والے يې له پټ والي نۀ غړوي. هم نزدے دے او هم لرې هم اوچت دے هم لاندې، ښکاره پټ او پټ ښکاره دے. ټولو ته جزا ورکوي خو هيڅوک جزا نۀ شي ورکولې، د مخلوقاتو په پنځولو کښې فکر ته محتاج نۀ ؤ او د ستړيا او زيار لپاره يې له هغوي مرسته نۀ ده غوښتې.

### د آخرت ياد

أُوصيكُمْ عِبادَ الله، بِتَقْوى الله، فَإِنَّهَا الزِّمَامُ وَالْقِوَامُ، فَتَمَسَّكُوا بِوَثائِقِها، وَاعْتَصِمُوا بِحَقَائِقِهَا، تَؤُلْ بِكُمْ إِلَى أَكْنَانِ الدَّعَةِ، وَأَوْطَانِ السَّعَةِ، وَمَعَاقِلِ الْحِرْزِ، وَمَنَازِلِ الْعِزِّ فِي يَوْمٍ تَشْخَصُ فِيهِ الأَبْصَارُ، وَتُظْلِمُ لَهُ الأَقْطَارُ، وَتُعَطَّلُ فِيهِ صُرُومُ الْعِشَارِ، وَيُنْفَخُ فِي الصُّورِ، فَتَزْهَقُ كُلُّ مُهْجَةٍ، وَتَبْكَمُ كُلُّ لَهْجَةٍ، وَتَذِلُّ الشُّمُّ الشَّوَامِخُ، وَالصُّمُّ الرَّوَاسِخُ، فَيَصِيرُ صَلْدُهَا سَرَاباً رَقْرَقاً، وَمَعْهَدُهَا قَاعاً سَمْلَقاً، فَلاَ شَفِيعٌ يَشْفَعُ، وَلاَ حَمِيمٌ يَنْفَعُ، وَلاَ مَعْذِرَةٌ تَدْفَعُ.

اے د خدای بندګانو! تاسو تقوا ته رابلم چې تمـوونکي او هـم ټينګوونکي ده، نو د تقوا پړے ټينګ کړئ او حقيقت ته يې پناه يوسئ، چې د قرارۍ کور، پراخ مقام، پياوړو کلاګانو او عزتمنو منزلونو ته مو اورسوي، «په هغه ورځ چې سترګې به اوبرېښېږي» او هر ځاے به انسان ته تيارۀ وي او د اوښانو رمې او ډېر مالونه به له خلقو هېر شي. څکه چې د قيامت په وخت به د اسرافيل شپېلۍ داسې ووهل شي چې زړونه به او دربږي، ژبې به ونښلي، لوړ غرونه او پياوړي کاڼي او تيږې به وشړيږي، او ختونه به د سراب په شان شي، غرونه به له ځمکې سره يو شان هوار شي، نۀ به لوړه وي او نۀ ژوره، نو په دغه وخت به نۀ څوک شفاعت کوونکے وي چې شفاعت وکړي او نۀ ملګرے او دوست چې په کار راشي او نۀ به د معافۍ غوښتل ګټه کوي.

## [ ۱۹٦ ]

بِعْثَةُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ

### ﴿ يو سل شپږ نوي يمه خطبه ﴾

بَعَثَهُ حِينَ لاَ عَلَمٌ قَائِمٌ، وَلاَ مَنَارٌ سَاطِعٌ، وَلاَ مَنْهَجٌ وَاضِحٌ. أُوصِيكُمْ عِبَادَ الله، بِتَقْوَى الله، وَأُحَذِّرُكُمُ الدُّنْيَا، فَإِنَّهَا دَارُ شُخُوصٍ، وَمَحَلَّةُ تَنْغِيصٍ، سَاكِنُهَا ظَاعِنٌ، وَقَاطِنُهَا بَائِنٌ، تَمِيدُ بِأَهْلِهَا مَيَدَانَ السَّفِينَةِ تَقْصِفُهَا الْعَوَاصِفُ فِي لُجَجِ الْبِحَارِ، فَمِنْهُمُ الْغَرِقُ الْوَبِقُ، وَمِنْهُمُ النَّاجِي عَلَى مُتُونِ الأَمْوَاجِ، تَحْفِزُهُ الرِّيَاحُ بِأَذْيَالِهَا، وَتَحْمِلُهُ عَلَى أَهْوَالِهَا، فَمَا غَرِقَ مِنْهَا فَلَيْسَ بِمُسْتَدْرَكٍ، وَمَا نَجَا مِنْهَا فَإِلَى مَهْلَكٍ! عِبَادَ الله، الآنَ فَاعْلَمُوا، وَالأَلْسُنُ مُطْلَقَةٌ وَالأَبْدَانُ صَحِيحَةٌ وَالأَعْضَاءُ لَدْنَةٌ وَالْمُنْقَلَبُ فَسِيحٌ وَالْمَجَالُ عَرِيضٌ، قَبْلَ إِرْهَاقِ الْفَوْتِ، وَحُلُولِ الْمَوْتِ، فَحَقِّقُوا عَلَيْكُمْ نُزُولَهُ، وَلاَ تَنْتَظِرُوا قُدُومَهُ.

#### له غفلته بيدارشئ

خداے تعالی پېغمبراکرمﷺ په داسې وخت کښې مبعوث کړ چې نۀ د خداے پاک د دين ولاړه نښه وه نۀ روښانه څراغ او نۀ ښکاره لاره. اے د خداے بندګانو! تاسو تقوا ته رابلم، او له دنيا مو ويروم، څکه چې دنيا ناپايښته کور او د سختيو ځاے دے. د دنيا استوګن د کوچېدو په حال کښې او پاتېدونکي يې جدا کېدونکي دي. خلق داسې لړزوي لکه د درياب په طوفان کښې ګېره شوې کيشتۍ، ځينې يې په اوبو کښې مړۀ شوي او ځينې يې د څپو د پاسه بچ شوي دي او باد او زول يې هر لور ته خوځوي او هرې خوا ته يې اوړي، نو څوک چې په اوبو کښې مړۀ کېږي هغه خو هسې هم نۀ پاتې کېږي او کوم چې په څپو باندې سپارۀ دي هغوي هم د مرګ ستوني ته روان دي. اے د خداے بندګانو! دا اوس د عمل وخت دے چې ژبې آزادې، بدنونه روغ او اندامونه چمتو دي. د ستنېدو لاره خلاصه، او وخت ډېر دے. مخکې له دې چې وخت مو له لاسه اوځي، او مرګ مو په سر اودربږي، د مرګ درتګ حتمي وګڼئ او د درتګ انتظار يې مه باسئ.

(رحمان بابا څه ښه وائي:

دوباره دې راتـلـۀ نشتـه پـه دنيـا
نن دې وار دے که دروغ کړې که رښتيا (ژباړن)

## [ ۱۹۷ ]

### ﴿ يو سل اوۀ نوي يمه خطبه ﴾

(دا وينا په کوفه کښې او د هغه حضرت د واکمنۍ په وخت شوې ده)

وَلَقَدْ عَلِمَ الْمُسْتَحْفَظُونَ مِنْ أَصْحَابِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ أَنِّي لَمْ أَرُدَّ عَلَى الله وَلاَ عَلَى رَسُولِهِ سَاعَةً قَطُّ، وَلَقَدْ وَاسَيْتُهُ بِنَفْسِي فِي الْمَوَاطِنِ الَّتِي تَنْكُصُ فِيهَا الأَبْطَالُ وَتَتَأَخَّرُ الأَقْدَامُ، نَجْدَةً أَكْرَمَنِي اللهُ بِهَا.

#### د اميرالمومنينؑ فضائل

د حضرت محمدﷺ اصحاب چې د رازونو ساتونکي يې دي ښۀ پوهېږي چې ما حتی يوه شيبه هم د خداے پاک او د هغۀ د رسولﷺ له امر سره مخالفت نۀ دے کړے بلکه په خپل سر سره مې د پېغمبرﷺ مرسته کړې ده په هغو ځايونو کښې چې د ډېرو مېړنيو پښې اوښوېدې او

وَلَقَدْ قُبِضَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَإِنَّ رَأْسَهُ لَعَلَى صَدْرِي. وَلَقَدْ سَالَتْ نَفْسُهُ فِي كَفِّي، فَأَمْرَرْتُهَا عَلَى وَجْهِي. وَلَقَدْ وُلِّيتُ غُسْلَهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَالْمَلاَئِكَةُ أَعْوَانِي، فَضَجَّتِ الدَّارُ وَ الاَفْنِيَةُ، مَلأٌ يَهْبِطُ، وَمَلأٌ يَعْرُجُ، وَمَا فَارَقَتْ سَمْعِي هَيْنَمَةٌ مِنْهُمْ، يُصَلُّونَ عَلَيْهِ حَتَّى وَارَيْنَاهُ فِي ضَرِيحِهِ. فَمَنْ ذَا أَحَقُّ بِهِ مِنِّي حَيّاً وَمَيِّتاً؟ فَانْفُذُوا عَلَى بَصَائِرِكُمْ، وَلْتَصْدُقْ نِيَّاتُكُمْ فِي جِهَادِ عَدُوِّكُمْ. فَوَالَّذِي لاَإِلهَ إِلاَّ هُوَ إِنِّي لَعَلَى جَادَّةِ الْحَقِّ، وَإِنَّهُمْ لَعَلَى مَزَلَّةِ الْبَاطِلِ. أَقُولُ مَا تَسْمَعُونَ، وَأَسْتَغْفِرُ اللهَ لِي وَلَكُمْ!

[ ۱۹۸ ]

إِحَاطَةُ عِلْمِ اللهِ بِالْجُزْئِيَّات

يَعْلَمُ عَجِيجَ الْوُحُوشِ فِي الْفَلَوَاتِ، وَمَعَاصِيَ الْعِبَادِ فِي الْخَلَوَاتِ، وَاخْتِلاَفَ النِّينَانِ فِي الْبِحَارِ الْغَامِرَاتِ، وَتَلاَطُمَ الْمَاءِ بِالرِّيَاحِ الْعَاصِفَاتِ. وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّداً نَجِيبُ اللهِ، وَسَفِيرُ وَحْيِهِ، وَرَسُولُ رَحْمَتِهِ.

الْوَصِيَّةُ بِالتَّقْوَى: أَمَّا بَعْدُ، فَإِنِّي أُوصِيكُمْ بِتَقْوَى اللهِ الَّذِي ابْتَدَأَ خَلْقَكُمْ، وَإِلَيْهِ يَكُونُ مَعَادُكُمْ، وَبِهِ نَجَاحُ طَلِبَتِكُمْ، وَإِلَيْهِ مُنْتَهَى رَغْبَتِكُمْ، وَنَحْوَهُ قَصْدُ سَبِيلِكُمْ، وَإِلَيْهِ مَرَامِي مَفْزَعِكُمْ، فَإِنَّ تَقْوَى اللهِ دَوَاءُ دَاءِ قُلُوبِكُمْ، وَبَصَرُ عَمَى أَفْئِدَتِكُمْ، وَشِفَاءُ مَرَضِ أَجْسَادِكُمْ، وَصَلاَحُ فَسَادِ صُدُورِكُمْ، وَطُهُورُ دَنَسِ أَنْفُسِكُمْ، وَجِلاَءُ عَشَا أَبْصَارِكُمْ، وَأَمْنُ فَزَعِ جَأْشِكُمْ، وَضِيَاءُ سَوَادِ ظُلْمَتِكُمْ. فَاجْعَلُوا طَاعَةَ اللهِ شِعَاراً دُونَ دِثَارِكُمْ، وَدَخِيلاً دُونَ شِعَارِكُمْ، وَلَطِيفاً بَيْنَ أَضْلاَعِكُمْ، وَأَمِيراً فَوْقَ أُمُورِكُمْ، وَمَنْهَلاً لِحِينِ وِرْدِكُمْ، وَشَفِيعاً لِدَرَكِ طَلِبَتِكُمْ، وَجُنَّةً لِيَوْمِ فَزَعِكُمْ، وَمَصَابِيحَ لِبُطُونِ قُبُورِكُمْ، وَسَكَناً لِطُولِ وَحْشَتِكُمْ، وَنَفَساً

اوتښتېدل، په دي مېرانې سره خداے زۀ ونمانځلم.

### د پېغمبر اکرم ﷺ په وير کښې

د رسول الله مبارک ﷺ روح په داسې حال کښې واخېستل شو چې سر يې زما په سينه ؤ او وصال يې زما په لاسونو کښې وشو. نو ما خپل لاسونه په مخ راکاړل،د خداے ګران رسول ﷺ ما ولامبوۀ په داسې حال کښې چې فرښتو مې مرسته کوله او له در او ديواره د چغو او ژړا غږونه راتلل. د فرښتو يوه ډله راتلله او بله به آسمان ته الوتله. زما په غوږونو کښې د هغوي غږونوانګازې کولې، چې هغوي د خداے په ګران رسول ﷺ نمونځ کوۀ تر دې چې هغه مبارک مو په خپله کوټه کښې ښخ کړ نو اوس ووايئ چې څوک د هغه حضرت په ژوند او د وصال په شپږو کښې هغوي ته زيات نزدې ؤ. نو اے خلقو! په سترګور زړۀ سره مخکې ځئ او له دښمن سره په جنګ کښې خپل نيتونه پاک کړئ. قسم په هغه خداے چې بې له هغۀ بل خداے نشته زۀ د حق په لاره روان يم او زما دښمنان د باطل د ګړنګ په څنډه ولاړ دي. زۀ چې څه وايم تاسو يې اورئ او ستاسو له پاره له خدايه بخښنه غواړم.

## ﴿ يو سل اتۀ نوي يمه خطبه ﴾

### الهي علم

خداے پاک په غرونو او بيابانونو کښې د وحشي ځناورو له غږونو، په خلوتګاهو کښې د بندګانو له ګناهونو، د دريابونو په تل کښې د کبانو له تګ راتګونو، او د سختو بادونو له تلاطمونوخبر دے او ګواهي ورکوم چې حضرت محمد مصطفی ﷺ د خداے غوريز، د وحي استازے،او د رحمت رسول دے.

### د تقوا ارزښت

د پالونکي له ستائېنې وروسته، تاسو د خداے پروا او تقوا ته رابلم، هغه خداے چې زمونږ خلقت يې پېل کړ او جاروتنه مو هغۀ ته ده. هغه خداے چې غوښتنې يې در پوره کړې او هغه ته ستنېدل مو آخري ارمان دے.نېغه لاره مو هغۀ ته رسېږي او د وېرې او ترهې په مهال مو د پناه ځاے هم هغه دے.بې شکه چې له خدايه وېره د زړونو د بيماريو درمل، د زړونو رڼا، د بدن د دردونو درمان، د ارواګانو د زخمونو مرهم، د ارواګانو پاکوونکے، د سترګو د تيرو ځلا، د ناقراريو قرار، او د تيرو روښانوونکې ده. نو د خداے طاعت د زړونو جامه کړئ نۀ د بدنونو، او د زړۀ له تله يې فرمانبرداره اوسئ نۀ يوائې په تن سره، چې طاعت مو د بدن په غړو او اندامونو کښې اوځغلېږي، او په ټولو چارو يې واکمن کړئ، د خداے پاک اطاعت آب حيات ته د ورتګ لاره، د غوښتنو سپارښتګر،د پرېشانيو پناه ځاے، د قبرونو ځلانده څراغ، د برزخ د

لِكَرْبِ مَوَاطِنِكُمْ، فَإِنَّ طَاعَةَ اللهِ حِرْزٌ مِنْ مَتَالِفَ مُكْتَنِفَةٍ، وَمَخَاوِفَ مُتَوَقَّعَةٍ، وَأُوَارِ نِيرَانٍ مُوقَدَةٍ. فَمَنْ أَخَذَ بِالتَّقْوَى عَزَبَتْ عَنْهُ الشَّدَائِدُ بَعْدَ دُنُوِّهَا، وَاحْلَوْلَتْ لَهُ الْأُمُورُ بَعْدَ مَرَارَتِهَا، وَانْفَرَجَتْ عَنْهُ الْأَمْوَاجُ بَعْدَ تَرَاكُمِهَا، وَأَسْهَلَتْ لَهُ الصِّعَابُ بَعْدَ إِنْصَابِهَا، وَهَطَلَتْ عَلَيْهِ الْكَرَامَةُ بَعْدَ قُحُوطِهَا، وَتَحَدَّبَتْ عَلَيْهِ الرَّحْمَةُ بَعْدَ نُفُورِهَا، وَتَفَجَّرَتْ عَلَيْهِ النِّعَمُ بَعْدَ نُضُوبِهَا، وَوَبَلَتْ عَلَيْهِ الْبَرَكَةُ بَعْدَ إِرْذَاذِهَا فَاتَّقُوا اللهَ الَّذِي نَفَعَكُمْ بِمَوْعِظَتِهِ، وَوَعَظَكُمْ بِرِسَالَتِهِ، وَامْتَنَّ عَلَيْكُمْ بِنِعْمَتِهِ، فَعَبِّدُوا أَنْفُسَكُمْ لِعِبَادَتِهِ، وَاخْرُجُوا إِلَيْهِ مِنْ حَقِّ طَاعَتِهِ.

فَضْلُ الإِسْلاَمِ: ثُمَّ إِنَّ هذَا الْإِسْلاَمَ دِينُ اللهِ الَّذِي اصْطَفَاهُ لِنَفْسِهِ، وَاصْطَنَعَهُ عَلَى عَيْنِهِ، وَأَصْفَاهُ خِيَرَةَ خَلْقِهِ، وَأَقَامَ دَعَائِمَهُ عَلَى مَحَبَّتِهِ، أَذَلَّ الْأَدْيَانَ بِعِزِّهِ، وَوَضَعَ الْمِلَلَ بِرَفْعِهِ، وَأَهَانَ أَعْدَاءَهُ بِكَرَامَتِهِ، وَخَذَلَ مُحَادِّيهِ بِنَصْرِهِ، وَهَدَمَ أَرْكَانَ الضَّلاَلَةِ بِرُكْنِهِ، وَسَقَى مَنْ عَطِشَ مِنْ حِيَاضِهِ، وَأَتْأَقَ الْحِيَاضَ بِمَوَاتِحِهِ. ثُمَّ جَعَلَهُ لاَ انْفِصَامَ لِعُرْوَتِهِ، وَلاَ فَكَّ لِحَلْقَتِهِ، وَلاَ انْهِدَامَ لِأَسَاسِهِ، وَلاَ زَوَالَ لِدَعَائِمِهِ، وَلاَ انْقِلاَعَ لِشَجَرَتِهِ، وَلاَ انْقِطَاعَ لِمُدَّتِهِ، وَلاَ عَفَاءَ لِشَرَائِعِهِ، وَلاَ جَذَّ لِفُرُوعِهِ، وَلاَ ضَنْكَ لِطُرُقِهِ، وَ لاَ وُعُوثَةَ لِسُهُولَتِهِ، وَ لاَ سَوَادَ لِوَضَحِهِ، وَلاَ عِوَجَ لِانْتِصَابِهِ، وَلاَ عَصَلَ فِي عُودِهِ، وَلاَ وَعَثَ لِفَجِّهِ، وَلاَ انْطِفَاءَ لِمَصَابِيحِهِ، وَلاَ مَرَارَةَ لِحَلاَوَتِهِ. فَهُوَ دَعَائِمُ أَسَاخَ فِي الْحَقِّ أَسْنَاخَهَا، وَثَبَّتَ لَهَا آسَاسَهَا، وَيَنَابِيعُ غَزُرَتْ عُيُونُهَا، وَمَصَابِيحُ شَبَّتْ نِيرَانُهَا، وَمَنَارٌ اقْتَدَى بِهَا سُفَّارُهَا، وَأَعْلاَمٌ قُصِدَ بِهَا فِجَاجُهَا، وَمَنَاهِلُ رَوِيَ بِهَا وُرَّادُهَا. جَعَلَ اللهُ فِيهِ مُنْتَهَى رِضْوَانِهِ، وَذِرْوَةَ دَعَائِمِهِ، وَسَنَامَ طَاعَتِهِ، فَهُوَ عِنْدَ اللهِ وَثِيقُ الْأَرْكَانِ، رَفِيعُ الْبُنْيَانِ، مُنِيرُ الْبُرْهَانِ، مُضِيءُ النِّيرَانِ، عَزِيزُ السُّلْطَانِ، مُشْرِفُ الْمَنَارِ، مُعْوِذُ الْمَثَارِ.

اوږدو وحشتونو قرار او د ژوند د سختو شیبو د ژغورنې لار وګرځوئ، ځکه چې د خداے طاعت له وژونکو پېښو او بوږنوونکو ټکاونو چې سترګې په لاره يې ورته، او له بلېدونکو اورونو ساتونکے دے. نو څوک چې تقوا تونبه کړي سختۍ ترې تښتي، تلخۍ يې خوږېږي او ستونځې او ناراحتۍ يې لرې کېږي، پرله پسې او ستومانوونکې ستونځې به يې آساني شي او له لاسه ورکړے عزت او سترتوب به د باران د څاڅکو په شان په هغه اورېږي، د حق تم شوے رحمت به راستون شي، او الهي لورينې به له سرېدو وروسته راوجوشيږي، او کم شوي برکتونه به زيات شي. نو له هغه خدايه اويرېږئ چې په نصيحت کولو سره يې ډېره ګټه درکړې او د پيغمبر ﷺ په ګمارلو سره يې نېک پندونه درکړي دي. او په نعمتونو سره يې په تاسو لورينه کړې ده. ځانونه د حق منلو ته خاکساره کړئ او د الهي دندو په ترسره کولو سره د فرمانبردارۍ حق ادا کړئ.

## د اسلام ځانګړتياوې او خصوصيتونه

خبر اوسئ چې اسلام د خداے پاک دين دے چې ځانته يې غوره کړ او د رحمت په سترګه يې وپالۀ، او خپل تر ټولو غوره مخلوق يې د هغۀ تبليغ ته وګمارل، د اسلام ستنې يې په خپله مينه اودرولې، او تېر دينونه او مذهبونه يې د دۀ په عزت سره خوار کړل، د دۀ په سرلوړولو سره يې نور ولسونه ټيټ او بې قدره کړل، او د دې په درنولو سره يې دښمنان ذليل کړل او په مرسته يې سخت دښمنان مات کړل. او په پياوړي کولو سره يې د ګمراهۍ رکنونه اوځپل، او ترې يې د هغۀ په رڼې چينې سره خړوب کړل، د اسلام حوضونه يې له اوبو ډک کړل. خداے تعالی اسلام داسې پياوړے کړ چې پيوندونه يې اونۀ شليږي کړۍ يې جدا نۀ شي، ستنې يې راونۀ نړيږي، بنيادونه يې رنګ نۀ شي، د وجود ونه يې له بيخه اونۀ وځي، وخت يې ختم نۀ شي، قوانين يې وراستۀ نۀ شي، څانګې يې غوځې نۀ شي، لارې يې تنګې او خرابې نۀ شي، د لارې پلې کول يې ګران نۀ شي، رڼا ته يې تيارۀ لار پېدا نۀ کړي، نېغه لاره يې کږه نۀ شي، ستنې يې کږې نۀ شي، د تېرېدو لار يې مشکله نۀ شي، د اسلام څراغ مړ او خوږۀ يې تراخه نۀ شي. اسلام هغه مضبوطې او پياوړې ستنې دي چې خداے تعالی يې بنيادونه د حق په زړۀ کښې ايښې او بنياد يې مضبوط کړے دے، داسې روانه چينه ده چې اوبۀ يې تل خوټيږي، داسې ډيوه ده چې تل بليږي، يوه داسې کلکه نښه ده چې د هدايت د لارې لارويان پرې هدايتيږي، او داسې بېرغ دے چې د خداے د لارې د لټوونکو لپاره رېول شوے دے، او داسې آبخور دے چې ورتلونکي سېرابوي. خداے پاک پکښې د خپلې رضا حد ايښے دے او د خپل دين لوړې ستنې، او د هغۀ د اطاعت لوړې څوکې په اسلام کښې دي. اسلام د خداے په نزد ډاډمنې ستنې، لوړه وداني، تل روښانه لاربنود، ځلانده شعله، پياوړے برهان، او داسې جګه نښه ده چې ورسره مقابله ممکنه نۀ ده؛ نو اسلام لوے اوګڼئ، پيروي يې اوکړئ، حق يې ادا کړئ او خپل غوره مقام ورته ورکړئ.

فَشَرِّفُوهُ وَاتَّبِعُوهُ، وَأَدُّوا إِلَيْهِ حَقَّهُ، وَضَعُوهُ مَوَاضِعَهُ.

الرَّسُولُ الأَعْظَمُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ: ثُمَّ إِنَّ اللهَ سُبْحَانَهُ بَعَثَ مُحَمَّداً صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ بِالْحَقِّ حِينَ دَنَا مِنَ الدُّنْيَا الانْقِطَاعُ، وَأَقْبَلَ مِنَ الآخِرَةِ الاطِّلاعُ، وَأَظْلَمَتْ بَهْجَتُهَا بَعْدَ إِشْرَاقٍ، وَقَامَتْ بِأَهْلِهَا عَلَى سَاقٍ، وَخَشُنَ مِنْهَا مِهَادٌ، وَأَزِفَ مِنْهَا قِيَادٌ، فِي انْقِطَاعٍ مِنْ مُدَّتِهَا، وَاقْتِرَابٍ مِنْ أَشْرَاطِهَا، وَتَصَرُّمٍ مِنْ أَهْلِهَا، وَانْفِصَامٍ مِنْ حَلْقَتِهَا، وَانْتِشَارٍ مِنْ سَبَبِهَا، وَعَفَاءٍ مِنْ أَعْلامِهَا، وَتَكَشُّفٍ مِنْ عَوْرَاتِهَا، وَقِصَرٍ مِنْ طُولِهَا. جَعَلَهُ اللهُ تَعَالَى بَلاغاً لِرِسَالَتِهِ، وَكَرَامَةً لأُمَّتِهِ، وَرَبِيعاً لأَهْلِ زَمَانِهِ، وَرِفْعَةً لأَعْوَانِهِ، وَشَرَفاً لأَنْصَارِهِ.

الْقُرْآنُ الْكَرِيمُ: ثُمَّ أَنْزَلَ عَلَيْهِ الْكِتَابَ نُوراً لاَ تُطْفَأُ مَصَابِيحُهُ، وَسِرَاجاً لاَ يَخْبُو تَوَقُّدُهُ، وَبَحْراً لاَ يُدْرَكُ قَعْرُهُ، وَمِنْهَاجاً لاَ يُضِلُّ نَهْجُهُ، وَشُعَاعاً لاَ يُظْلِمُ ضَوْؤُهُ، وَفُرْقَاناً لاَ يُخْمَدُ بُرْهَانُهُ، وَتِبْيَاناً لاَ تُهْدَمُ أَرْكَانُهُ، وَشِفَاءً لاَ تُخْشَى أَسْقَامُهُ، وَعِزّاً لاَ تُهْزَمُ أَنْصَارُهُ، وَحَقّاً لاَ تُخْذَلُ أَعْوَانُهُ. فَهُوَ مَعْدِنُ الإِيمَانِ وَبُحْبُوحَتُهُ، وَيَنَابِيعُ الْعِلْمِ وَبُحُورُهُ، وَرِيَاضُ الْعَدْلِ وَغُدْرَانُهُ، وَأَثَافِيُّ الإِسْلامِ وَبُنْيَانُهُ، وَأَوْدِيَةُ الْحَقِّ وَغِيطَانُهُ. وَبَحْرٌ لاَ يَنْزِفُهُ الْمُسْتَنْزِفُونَ، وَعُيُونٌ لاَ يُنْضِبُهَا الْمَاتِحُونَ، وَمَنَاهِلُ لاَ يَغِيضُهَا الْوَارِدُونَ، وَمَنَازِلُ لاَ يَضِلُّ نَهْجَهَا الْمُسَافِرُونَ، وَأَعْلامٌ لاَ يَعْمَى عَنْهَا السَّائِرُونَ، وَآكَامٌ لاَ يَجُوزُ عَنْهَا الْقَاصِدُونَ. جَعَلَهُ اللهُ رِيّاً لِعَطَشِ الْعُلَمَاءِ، وَرَبِيعاً لِقُلُوبِ الْفُقَهَاءِ، وَمَحَاجَّ لِطُرُقِ الصُّلَحَاءِ، وَدَوَاءً لَيْسَ بَعْدَهُ دَاءٌ، وَنُوراً لَيْسَ مَعَهُ ظُلْمَةٌ، وَحَبْلاً وَثِيقاً عُرْوَتُهُ،

### د پیغمبراکرمﷺ بعثت او د جاهلیت سختۍ

بیا پاک خدای رسول الله مبارکﷺ هغه وخت وګمارهٔ چې دنیا وروستیو پړاونو ته رسېدلې، د آخرت نښې نښانې نږدې شوې او د دنیا رڼا تته شوې وه، او خپل اهل یې ادرولي، ځای یې زیږ شوی، نیستۍ او تباهۍ ته نږدې شوی، وخت یې ختمېدونکی، د نابودۍ نښې یې ښکاره، مخلوقات یې د مرګ په درشل کښې ،د ژوند کړۍ یې ماته،د حیات اسباب یې ګډ وډ شوي وو،د دنیا بیرغونه وراستهٔ شوې، پردې یې شلېدلې، او عمرونه یې لنډ شوي وو. په داسې حالاتو کښې خدای تعالی رسول الله مبارکﷺ پېغام رسوونکی، د امت سرلوړوونکی، د هغهٔ وخت د حقیقت تږو ته د سپرلي د باران په شان،د مسلمانانو د عظمت، او د هغهٔ د ملګرو د عزت او شرف سبب وګرځوه.

### د قرآن خصوصیتونه او ځانګړتیاوې

بیا یې په هغهٔ باندې قرآن نازل کړ، قرآن داسې رڼا ده چې ګل کیږي نه، داسې څراغ دے چې ځلا یې ختمېږي نه،هغه دریاب دے چې ژورتیا یې معلومېږي نه، داسې لاره ده چې لاروي یې ګمراه کېږي نه، داسې شعله ده چې رڼا یې مړه کېږي نه، د حق او باطل داسې جدا کوونکے دے چې د برهان پړقا یې غلې کېږي نه، داسې ودانې ده چې ستنې یې خرابیږي نه، داسې شفا ګر دے چې بوږنوونکې بیمارۍ توږي، هغه قدرت دے چې ملګري یې ماتېږي نه، داسې حق دے چې مرستیالان یې پرېږي نه، قرآن د ایمان معدن او د هغهٔ اصل دے، د پوهې چینه او د علمونو دریاب دے، د عدالت سرچینه او د انصاف روانه ویاله ده، قرآن د اسلام بنیاد او پیاوړې ستنې دي،د حقیقت او د هغهٔ د ټاټوبو راڼهٔ نهرونه دي، داسې دریاب دے چې څښونکي یې اوبهٔ نهٔ شي ختمولې، او داسې چینه ده چې اوبهٔ یې کمښت نهٔ لري، داسې ګودر دے چې هر څومره اوبهٔ ترې واخلې کمېږي نه، داسې منزل دے چې لارویان یې لاره نهٔ ورکوي، او داسې نښې دي چې تلونکي ترې نه غافلیږي، داسې ښکلے غر دے چې څوک ترې نهٔ تېرېږي، خدای تعالی قرآن د پوهانو د علمي تندې ماتوونکے، د فقیهانو د زړهٔ لپاره د سپرلي باران، او د صالحانو لپاره پراخه لار ګرځولې ده. داسې درمل دے چې ورسره هیڅ بیماري نهٔ پاتیږي، داسې رڼا ده چې ورسره هیڅ تیارهٔ نهٔ پاتې کېږي، داسې رسۍ ده چې رېښې یې مضبوطې، داسې پناه ځای دے چې څوک یې لوړه، او د هغو کسانو توان او طاقت دے چې وې مني.هر څوک چې ورننوځي په امن کښې کېږي، او څوک چې یې پېروي وکړي لاره ورښیي، او د هغو کسانو لپاره چې قرآن خپله لار او روده ګرځوي د دندې د پوره کولو وسیله ده.

وَمَعْقِلاً مَنِيعاً ذِرْوَتُهُ، وَعِزّاً لِمَنْ تَوَلاَّهُ، وَسِلْماً لِمَنْ دَخَلَهُ، وَهُدىً لِمَنِ ائْتَمَّ بِهِ، وَعُذْراً لِمَنِ انْتَحَلَهُ، وَبُرْهَاناً لِمَنْ تَكَلَّمَ بِهِ، وَشَاهِداً لِمَنْ خَاصَمَ بِهِ، وَفَلْجاً لِمَنْ حَاجَّ بِهِ، وَحَامِلاً لِمَنْ حَمَلَهُ، وَمَطِيَّةً لِمَنْ أَعْمَلَهُ، وَآيَةً لِمَنْ تَوَسَّمَ، وَجُنَّةً لِمَنِ اسْتَلاْمَ، وَعِلْماً لِمَنْ وَعَى، وَحَدِيثاً لِمَنْ رَوَى، وَحُكْماً لِمَنْ قَضَى.

## [ ۱۹۹ ]

كَانَ يُوصِي بِهِ أَصْحَابَهُ

تَعَاهَدُوا أَمْرَ الصَّلاَةِ، وَحَافِظُوا عَلَيْهَا، وَاسْتَكْثِرُوا مِنْهَا، وَتَقَرَّبُوا بِهَا، فَإِنَّهَا كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ كِتَاباً مَوْقُوتاً. أَلاَ تَسْمَعُونَ إِلَى جَوَابِ أَهْلِ النَّارِ حِينَ سُئِلُوا: ﴿مَا سَلَكَكُمْ فِي سَقَرَ * قَالُوا لَمْ نَكُ مِنَ الْمُصَلِّينَ﴾ وَإِنَّهَا لَتَحُتُّ الذُّنُوبَ حَتَّ الْوَرَقِ، وَتُطْلِقُهَا إِطْلاَقَ الرِّبَقِ، وَشَبَّهَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ بِالْحَمَّةِ تَكُونُ عَلَى بَابِ الرَّجُلِ، فَهُوَ يَغْتَسِلُ مِنْهَا فِي الْيَوْمِ وَاللَّيْلَةِ خَمْسَ مَرَّاتٍ، فَمَا عَسَى أَنْ يَبْقَى عَلَيْهِ مِنَ الدَّرَنِ؟ وَقَدْ عَرَفَ حَقَّهَا رِجَالٌ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ الَّذِينَ لاَ تَشْغَلُهُمْ عَنْهَا زِينَةُ مَتَاعٍ، وَلاَ قُرَّةُ عَيْنٍ مِنْ وَلَدٍ وَلاَ مَالٍ، يَقُولُ اللهُ سُبْحَانَهُ: ﴿رِجَالٌ لاَ تُلْهِيهِمْ تِجَارَةٌ وَلاَ بَيْعٌ عَنْ ذِكْرِ اللهِ وَإِقَامِ الصَّلاَةِ وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ﴾ وَكَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ نَصِباً بِالصَّلاَةِ بَعْدَ التَّبْشِيرِ لَهُ بِالْجَنَّةِ، لِقَوْلِ اللهِ سُبْحَانَهُ: ﴿وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّلاَةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا﴾، فَكَانَ يَأْمُرُ بِهَا أَهْلَهُ وَيَصْبِرُ عَلَيْهَا نَفْسَهُ.

الزَّكَاةُ: ثُمَّ إِنَّ الزَّكَاةَ جُعِلَتْ مَعَ الصَّلاَةِ قُرْبَاناً لأَهْلِ الاِسْلاَمِ، فَمَنْ أَعْطَاهَا طَيِّبَ النَّفْسِ بِهَا، فَإِنَّهَا تُجْعَلُ لَهُ كَفَّارَةً، وَمِنَ النَّارِ حِجَازاً وَوِقَايَةً، فَلاَ يُتْبِعَنَّهَا أَحَدٌ نَفْسَهُ، وَلاَ يُكْثِرَنَّ عَلَيْهَا لَهَفَهُ، فَإِنَّ مَنْ أَعْطَاهَا غَيْرَ طَيِّبِ النَّفْسِ بِهَا، يَرْجُو بِهَا مَا هُوَ أَفْضَلُ مِنْهَا، فَهُوَ جَاهِلٌ بِالسُّنَّةِ، مَغْبُونُ الاَجْرِ، ضَالُّ الْعَمَلِ، طَوِيلُ النَّدَمِ.

څوک چې پرې خبره وکړي د هغهٔ برهان، او څوک چې پرې استدلال وکړي د برې سبب دے، څوک چې يې حافظ او پرې عمل کوونکي وي ژغوري يې، او څوک يې چې اونيسي منزل ته يې رسوي،د هدايت ننبه ده د هغه چا لپاره چې څېر شي پکښې او زغره ده د هغه چا لپاره چې واې غوندي، او علم د ے د هغه چا لپاره چې زده يې کړي، او حديث د ے د هغه چا لپاره چې روايت يې کړي او امر د ے د هغه چا لپاره چې قضاوت پرې وکړي.

## ﴿يو سل نهٔ نوي يمه خطبه﴾

(دا وينا يې د يو جنګ په درشل کښې وکړه .امام به تل خپلو ملګرو ته سپارښتنه کوله چې:)

### د نمانځه ګټې

اے خلقو! (د نمونځ ادا کول) په غاړه واخلئ،وي ساتئ، زيات نمونځونه کوئ، او په نمانځهٔ سره ځانونه خداے پاک ته نزدې کړئ. «نمونځ پر مومنانو په خپل خپل وخت فرض شوے دے»

ولې تاسو د دوزخيانو خبره نهٔ اورئ هغه وخت چې ورځينې وپوښتل شي چې: څه شي تاسو دوزخ کښې اچولي يئ،اوبه وائي: مونږ نمونځ نهٔ کوۀ» خبر اوسئ چې نمونځ ګناهونه د منې د پاڼو په شان رژوي، او له غاړو څخه د ګناهانو زنځيرونه او غړوندي خلاصوي، رسول الله مبارکﷺ وفرمايل: نمونځ داسې دے لکه د يو کس د کور په دروازه کښې چې د تودو اوبو چينه روانه وي چې د ورځې پينځهٔ ځله پکښې لامبي نو آيا د داسې کس په بدن به خيرے پاتے شي. بې شکه هغو مومنانو د نمونځ حق پېژندلے چې د دنيا پړقا پړوق هغه له نمانځه اونهٔ غړوي، او د سترګو تور يعنې مال او بچيان يې د نمانځه مخه نهٔ نيسي، پاک خداے فرمائي:«داسې سړي شته دے چې تجارت او اخبستل خرڅول يې د خداے له ياد او د نمونځ له کولو او د زکات له ورکولو نهٔ منع کوي» رسول الله مبارکﷺ به د نمانځهٔ د کولو لپاره ځان په زحمت کښې اچوۀ. حال دا چې د جنت زيرے ورکړے شوے ؤ، ځکه چې خداے تعالى هغهٔ ته فرمايلي وو:«خپلې کورنۍ ته د نمانځهٔ امر وکړه او په ادا کولو يې صبر او زغم کوه» نو رسول الله مبارکﷺ به همېشه خپله کورنۍ نمانځهٔ ته بلله او په خپله به يې هم د دې زيار ايستهٔ.

### د زکات ارزښت

بيا شئ چې د نمونځ کول او د زکات ورکول خداے ته د مسلمانانو د نزدېکت سبب کېږي، نو څوک چې په خپله خوښه زکات ورکړي د ګناهانو کفاره به يې وي، او د دوزخ له اوره د انسان ساتونکے نو څه چې دې ورکړي دي پام چې ارمان ورپسې اونهٔ کړي. او د زکات په ورکولو افسوس اونهٔ کړي، ځکه څوک چې په خپله خوښه زکات ورنهٔ کړي او بيا تر هغهٔ د ښهٔ اجر طمعه هم لري داسې کس د پيغمبراکرمﷺ له سنتو

الأَمَانَـةُ: ثُمَّ أَدَاءَ الامَانَة، فَقَدْ خَابَ مَنْ لَـيْسَ مِـنْ أَهْلِهَـا، إِنَّهَـا عُرِضَتْ عَلَى السَّماوَاتِ الْمَبْنِيَّة، وَالارَضِينَ الْمَدْحُوَّة، وَالْجِبَـالِ ذَاتِ الطُّولِ الْمَنْصُوبَة، فَلاَ أَطْـوَلَ وَلاَ أَعْـرَضَ، وَلاَ أَعْلَـى وَلاَ أَعْظَمَ مِنْهَا، وَلَوِ امْتَنَعَ شَيْءٌ بِطُـولٍ أَوْ عَـرْضٍ أَوْ قُـوَّةٍ أَوْ عِـزٍّ لاَمْتَنَعْنَ، وَلكِنْ أَشْفَقْنَ مِنَ الْعُقُوبَة، وَعَقَلْنَ مَا جَهِـلَ مَـنْ هُـوَ أَضْعَفُ مِنْهُنَّ، وَهُوَ الاِنْسَانُ، إِنَّهُ كَانَ ظَلُوماً جَهُولاً.

الْعِلْـمُ الإِلَهِـيُّ: إِنَّ اللهَ سُـبْحَانَهُ لاَ يَخْفَـى عَلَيْـهِ مَـا الْعِبَـادُ مُقْتَرِفُونَ فِي لَـيْلِهِمْ وَنَهَـارِهِمْ، لَطُـفَ بِـهِ خُبْـراً، وَأَحَـاطَ بِـهِ عِلْماً، أَعْضَاؤُكُمْ شُـهُودُهُ، وَجَـوَارِحُكُمْ جُنُـودُهُ، وَضَـمَائِرُكُمْ عُيُونُهُ، وَخَلَوَاتُكُمْ عِيَانُهُ.

ناخبره دے، اجر به يې كم، عمل به يې تباه او تل به پښېمانه وي.

### په امانت كښې خيانت مه كوئ

د خداے يوه بله دنده د امانت ستنول دي، څوک چې امانتونه ستانهٔ نهٔ كړي تاواني دے. امانت يې لوړو آسمانونو،ويړو ځمكو، او ټينګو غرونو ته وړاندې كړ چې ظاهراً تر دې لوړ، لوے او پراخ بل څه نشته، خو دوي ونهٔ منهٔ، كه كوم څيز د خپل لوے والي پراخ والي او لوړوالي په خاطر د امانت له منلو ډډه كولې شي همدا څيزونه دي، خو دوي امانت ځكه قبول نهٔ كړ چې د خداے له سزا اوېرېدل او د خيانت له سزا خبر وو، خو افسوس چې تر هغوي ناتوانه كس يعنې انسان له دې نهٔ ؤ خبر او هم ځكه خو خداے فرمائي:«بې له شكه انسان ناپوهه ظالم دے»

### الهي علم

يوه شئ چې له خدايه پټ نهٔ دي هغه څه چې بندګان يې د شپې او ورځې كوي او خداے د هغوي له عملونو ښهٔ خبر دے، او په خپل علم سره په هغوي واک لري، ستاسو غړي د هغهٔ ګواهان، او اندامونه مو د هغهٔ سپاهيان او زړونه او ضميرونه مو د هغهٔ جاسوسان دي او ستاسو خلوتونه د هغهٔ له ستر ګو پټ نهٔ دي.

## [ ۲۰۰ ]

وَاللهِ مَا مُعَاوِيَـةُ بِـأَدْهَى مِنِّـي، وَلكِنَّـهُ يَغْـدِرُ وَيَفْجُـرُ، وَلَـوْلاَ كَرَاهِيَةُ الْغَدْرِ لَكُنْـتُ مِـنْ أَدْهَـى النَّـاسِ، وَلكِـنْ كُـلُّ غُـدْرَة فُجْرَةٌ، وَكُلُّ فُجْرَة كُفْرَةٌ، وَلِكُـلِّ غَـادِر لِـوَاءٌ يُعْـرَفُ بِـهِ يَـوْمَ الْقِيَامَة. وَاللهِ مَا أُسْتَغْفَلُ بِالْمَكِيدَة، وَلاَ أُسْتَغْمَزُ بِالشَّدِيدَة.

## ﴿دوه سومه خطبه﴾

«دا خطبه يې د صفين له جنګه وروسته په كوفه كښې وركړه»

### د معاويه سياست

په خداے قسم! معاويه تر ما هوښيار او سياستوال نهٔ دے مګر دا چې معاويه دهوكه باز او جنايتكار دے. كه چلول او دهوكه نا خوښ كار نهٔ وې نو زهٔ به تر ټولو ځيرک او چلولي وم خو هر نيرنګ او چلول ګناه ده او هره ګناه يو ډول كفر او انكار دے.«د قيامت په ورځ به د هر غدار او حيله ګر په لاس كښې يو بېرغ وي چې په هغه به پېژندل كېږي» په خداے قسم! ما نهٔ څوک په دغو مكاريو سره غافله كولې شي او نهٔ مې په دغو سختيو ځپلي شي.

## [ ۲۰۱ ]

أَيُّهَا النَّـاسُ، لاَ تَسْتَوْحِشُـوا فِـي طَرِيـقِ الْهُـدَى لِقِلَّـةِ أَهْلِـهِ، فَإِنَّ النَّاسَ قَدِ اجْتَمَعُوا عَلَـى مَائِـدَة شِـبَعُهَا قَصِيرٌ، وَجُوعُهَـا طَوِيلٌ. أَيُّهَا النَّـاسُ، إِنَّمَـا يَجْمَـعُ النَّـاسَ الرِّضَـى وَالسُّـخْطُ، وَإِنَّمَـا عَقَـرَ نَاقَـةَ ثَمُـودَ رَجُـلٌ وَاحِـدٌ فَعَمَّهُـمُ اللهُ تَعَـالَى بِالْعَـذَابِ لَمَّـا عَمُّـوهُ بِالرِّضَـى، فَقَـالَ سُبْحَانَهُ: ﴿فَعَقَرُوهَـا فَأَصْـبَحُوا نَـادِمِينَ﴾، فَمَـا كَـانَ إِلاَّ أَنْ خَـارَتْ أَرْضُـهُمْ بِالْخَسْفَةِ خُوَارَ السِّكَّةِ الْـمُحْمَاةِ فِـي الاَرْضِ الْخَـوَّارَةِ. أَيُّهَـا

## ﴿دوه سوه وړومبۍ خطبه﴾

«دا وينا يې د كوفې د جومات په منبر كړې وه»

### د حق روښانه لار

اے خلقو! د حق په لاره كښې د لارويانو په كمي مه ويرېږئ، ځكه چې اكثره خلق په هغه دسترخوان راټول شوي دي چې مړښت يې لنډ او لوږه يې اوږده ده.

اے خلقو! د ټولنې ټول وګړي په غم او خوشحالۍ كښې شريک دي لكه څرنګه چې د ثمود له اوښې يو كس لاس او پښې پرې كړل خو عذاب په ټول ثمود قوم نازل شو، ځكه چې ټول په دغه كار خوشحاله وو. خداے تعالى فرمائي: «د اوښې پښې يې پرې كړې او آخر پښېمانه شول» د هغوي عذاب دا ؤ چې د هغوي ځمكې يوه جټكه خوړه ډوبه شوه ته به واې لكه سره كړې اوسپنه چې په نرمه ځمكه كښې ننوځي، اے خلقو!

النَّاسُ، مَنْ سَلَكَ الطَّرِيقَ الْوَاضِحَ وَرَدَ الْمَاءَ، وَمَنْ خَالَفَ وَقَعَ فِي التِّيهِ!

ځوک چې په روښانه لاره ځي اوبو ته رسېږي او ځوک چې له لارې بې لارې شي لالهانده کېږي.

[ ۲۰۲ ]

رُوِيَ عَنْهُ أَنَّهُ قَالَهُ عِنْدَ دَفْنِ سَيِّدَةِ النِّسَاءِ فَاطِمَةَ عَلَيْهَا السَّلاَمُ

كَالْمُنَاجِي بِهِ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِه عِنْدَ قَبْرِهِ:

السَّلاَمُ عَلَيْكَ يَا رَسُولَ اللهِ عَنِّي، وَعَنِ ابْنَتِكَ النَّازِلَةِ فِي جِوَارِكَ، وَالسَّرِيعَةِ اللَّحَاقِ بِكَ! قَلَّ يَا رَسُولَ اللهِ، عَنْ صَفِيَّتِكَ صَبْرِي، وَرَقَّ عَنْهَا تَجَلُّدِي، إلاَّ أَنَّ لِي فِي التَّأَسِّي بِعَظِيمِ فُرْقَتِكَ، وَفَادِحِ مُصِيبَتِكَ، مَوْضِعَ تَعَزٍّ، فَلَقَدْ وَسَّدْتُكَ فِي مَلْحُودَةِ قَبْرِكَ، وَفَاضَتْ بَيْنَ نَحْرِي وَصَدْرِي نَفْسُكَ. إِنَّا للهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ، فَلَقَدِ اسْتُرْجِعَتِ الْوَدِيعَةُ، وَأُخِذَتِ الرَّهِينَةُ! أَمَّا حُزْنِي فَسَرْمَدٌ، وَأَمَّا لَيْلِي فَمُسَهَّدٌ، إِلَى أَنْ يَخْتَارَ اللهُ لِي دَارَكَ الَّتِي أَنْتَ بِهَا مُقِيمٌ. وَسَتُنَبِّئُكَ ابْنَتُكَ [بِتَضَافُرِ أُمَّتِكَ عَلَى هَضْمِهَا]، فَأَحْفِهَا السُّؤَالَ، وَاسْتَخْبِرْهَا الْحَالَ، هذَا وَلَمْ يَطُلِ الْعَهْدُ، وَلَمْ يَخْلُ مِنْكَ الذِّكْرُ. وَالسَّلاَمُ عَلَيْكُمَا سَلاَمَ مُوَدِّعٍ، لاَ قَالٍ وَلاَ سَئِمٍ، فَإِنْ أَنْصَرِفْ فَلاَ عَنْ مَلاَلَةٍ، وَإِنْ أُقِمْ فَلاَ عَنْ سُوءِ ظَنٍّ بِمَا وَعَدَ اللهُ الصَّابِرِينَ.

## ﴿ دوه سوه دويمه خطبه ﴾

### د بي بي فاطمې عليها السلام د دفن په وخت د امت له ظلمونو شکايت

سلام دې وي په تا اے د خداے استازيه زما لخوا او ستا د لور له خوا چې ستا په څنګ کښې کوزېدونکې ده او په تلوار درغله، اے د خداے پېغمبره! د فاطمې په تللو سره زما صبر او زغم کم شو او د نور زغم توان نۀ لرم، خو ما چې ستا د بيلتون په سختۍ صبر کړے او ستا د جدائۍ لوے غم مې زغملے دے، په دې غم به هم صبر وکړم، دا زۀ وم چې تۀ مې په خپلو لاسو په قبر کښې کېښودې، او هم زما په سينه ستا روح له کالبوته الوت کړے وُ. «نو مونږ ټول د خداے يوو او هم هغۀ ته به جاراوځو» نو کوم امانت چې دې راسپارلے وُ درستون شو، او خپل ښښتن ته اورسېد، له دې وروسته به زما غم هميشنے او شپې به مې وېښې (روڼې) وي تر هغې چې خداے ما هم هغه کور ته بوځي چرته چې ستا قيام دے. ژېر زر به دې لور خبر کړي چې ستا امتيان څرنګه په هغې باندې په ظلم راغونډ شول او اجماع يې وکړه تاسو له هغې پوښتنه وکړئ او زمونږ له غمجن حاله خبر شئ چې لا ستا له وفاته ډېر وخت نۀ وُ تېر او ستا نامه لا نۀ وه هېره، (چې په مونږ دغه حالات راوستې شول) زما سلام دې وي په تاسو دواړو، د هغه بدرګه کوونکي سلام چې له خوښۍ يا دل تنګۍ سلام نۀ کوي او که ستا له خدمت څخه ستنېږم نو د سترتيا په وجه نۀ دي او که د قبر په خوا کښې دې کېښېنم نو په هغه څه د بې باورۍ په وجه نۀ دي چې خداے يې صابرانو ته وعده ورکړې ده.

[ ۲۰۳ ]

فِي التَّزْهِيدِ مِنَ الدُّنْيَا وَالتَّرْغِيبِ فِي الآخِرَةِ

أَيُّهَا النَّاسُ، إِنَّمَا الدُّنْيَا دَارُ مَجَازٍ، وَالْآخِرَةُ دَارُ قَرَارٍ، فَخُذُوا مِنْ مَمَرِّكُمْ لِمَقَرِّكُمْ، وَلاَ تَهْتِكُوا أَسْتَارَكُمْ عِنْدَ مَنْ يَعْلَمُ أَسْرَارَكُمْ، وَأَخْرِجُوا مِنَ الدُّنْيَا قُلُوبَكُمْ مِنْ قَبْلِ أَنْ تَخْرُجَ مِنْهَا أَبْدَانُكُمْ، فَفِيهَا اخْتُبِرْتُمْ، وَلِغَيْرِهَا خُلِقْتُمْ. إِنَّ الْمَرْءَ إِذَا هَلَكَ قَالَ النَّاسُ: مَا تَرَكَ؟ وَقَالَتِ الْمَلاَئِكَةُ: مَا قَدَّمَ؟ للهِ آبَاؤُكُمْ! فَقَدِّمُوا بَعْضاً يَكُنْ لَكُمْ قَرْضاً، وَلاَ تُخَلِّفُوا كُلاًّ فَيَكُونَ عَلَيْكُمْ.

## ﴿ دوه سوه دريمه خطبه ﴾

اے خلقو! دنيا د آخرت سراې او آخرت تل پاتې کور دے، نو له دې تېرېدونکې لارې د تل پاتې کور لپاره توښه واخلئ، او خپلې پردې د هغه چا په مخکې مه شلوئ چې ستاسو له رازونو خبر دے.[۱۲۵] مخکې له دې چې بدنونه مو له دنيا اوځي زړونه ترې اوباسئ، تاسو يې په دې دنيا کښې ازمويلي يئ او د بلې دنيا لپاره يې پنځولي يئ. ځوک چې مړ شي خلک وائي: «څه ترې پاتې شول» خو فرښتې وائي: «څه يې راوړي دي.» خداے مو پلاران اوبخښه، يو څه خو هلته هم اولېږئ چې د خداے په نزد پاتې شي. او هر څه وارثانو ته مه پرېږدئ چې پۀ تاسو بې ځواب ورکول واجب دي.

## [ ۲۰۴ ]

كَانَ كَثِيراً مَا يُنَادِي بِه أَصْحَابَهُ

تَجَهَّزُوا رَحِمَكُمُ اللهُ! فَقَدْ نُودِيَ فِيكُمْ بِالرَّحِيلِ، وَأَقِلُّوا الْعُرْجَةَ عَلَى الدُّنْيَا، وَانْقَلِبُوا بِصَالِحِ مَا بِحَضْرَتِكُمْ مِنَ الزَّادِ، فَإِنَّ أَمَامَكُمْ عَقَبَةً كَؤُوداً، وَمَنَازِلَ مَخُوفَةً مَهُولَةً، لَابُدَّ مِنَ الْوُرُودِ عَلَيْهَا، وَالْوُقُوفِ عِنْدَهَا. وَاعْلَمُوا أَنَّ مَلَاحِظَ الْمَنِيَّةِ نَحْوَكُمْ دَانِيَةٌ، وَكَأَنَّكُمْ بِمَخَالِبِهَا وَقَدْ نَشِبَتْ فِيكُمْ، وَقَدْ دَهَمَتْكُمْ فِيهَا مُفْظِعَاتُ الْأُمُورِ، وَمُعْضِلَاتُ الْمَحْذُورِ. فَقَطِّعُوا عَلَائِقَ الدُّنْيَا، وَاسْتَظْهِرُوا بِزَادِ التَّقْوَى.

## ﴿ دوه سوه څلورمه خطبه ﴾

(امام به تل خپلو ملګرو ته داسې غږ کوۀ)

### د آخرت توښه د رسره واخله

خدا ے پاک د رباندې ورحميږه تيار شئ چې دا دي د کوچ غږونه کيږي. د دنيا په ژوند پورې تړښت کم کړئ او په ښې توښې سره د آخرت په لور اوخوځيږئ، ځکه چې مخکې درته ډېر سخت کوتل او وېروونکے منزل پروت دے، هلته اړول دي. او تمېدل دي.خبر اوسئ! د مرګ سترګې درنزدې دي او تۀ به وائې منګولې يې درښخې کړې دي. د دنيا سختو کارونو درځينې مرګ هېر کړے او ملا ماتوونکو مصيبتونو درنه هغه پټ کړے دے، نو له دنيا سره مو تعلق اوشلوئ او له تقوا څخه مرسته او طاقت واخلئ.

## [ ۲۰۵ ]

كَلَّمَ بِه طَلْحَةَ وَالزُّبَيْرَ بَعْدَ بَيْعَتِه بِالْخِلَافَةِ وَقَدْ عَتَبَا مِنْ تَرْكِ مَشُورَتِهِمَا، وَالِاسْتِعَانَةِ فِي الْأُمُورِ بِهِمَا

قَدْ نَقَمْتُمَا يَسِيراً، وَأَرْجَأْتُمَا كَثِيراً، أَلَا تُخْبِرَانِي، أَيُّ شَيْءٍ لَكُمَا فِيه حَقٌّ دَفَعْتُكُمَا عَنْهُ؟ وَأَيُّ قَسْمٍ اسْتَأْثَرْتُ عَلَيْكُمَا بِه؟ أَمْ أَيُّ حَقٍّ رَفَعَهُ إِلَيَّ أَحَدٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ ضَعُفْتُ عَنْهُ، أَمْ جَهِلْتُهُ، أَمْ أَخْطَأْتُ بَابَهُ؟! وَاللهِ مَا كَانَتْ لِي فِي الْخِلَافَةِ رَغْبَةٌ، وَلَا فِي الْوِلَايَةِ إِرْبَةٌ، وَلَكِنَّكُمْ دَعَوْتُمُونِي إِلَيْهَا، وَحَمَلْتُمُونِي عَلَيْهَا، فَلَمَّا أَفْضَتْ إِلَيَّ نَظَرْتُ إِلَى كِتَابِ اللهِ وَمَا وَضَعَ لَنَا، وَأَمَرَنَا بِالْحُكْمِ بِه فَاتَّبَعْتُهُ، وَمَا اسْتَسَنَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِه فَاقْتَدَيْتُهُ، فَلَمْ أَحْتَجْ فِي ذَلِكَ إِلَى رَأْيِكُمَا، وَلَا رَأْيِ غَيْرِكُمَا، وَلَا وَقَعَ حُكْمٌ جَهِلْتُهُ، فَأَسْتَشِيرَكُمَا وَإِخْوَانِي مِنَ الْمُسْلِمِينَ؛ وَلَوْ كَانَ ذَلِكَ لَمْ أَرْغَبْ عَنْكُمَا، وَلَا عَنْ غَيْرِكُمَا. وَأَمَّا مَا ذَكَرْتُمَا مِنْ أَمْرِ الْأُسْوَةِ، فَإِنَّ ذَلِكَ أَمْرٌ لَمْ أَحْكُمْ أَنَا فِيه بِرَأْيِي، وَلَا وَلِيتُهُ هَوًى مِنِّي، بَلْ وَجَدْتُ أَنَا وَأَنْتُمَا مَا جَاءَ بِه رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِه قَدْ فُرِغَ مِنْهُ، فَلَمْ أَحْتَجْ إِلَيْكُمَا

## ﴿ دوه سوه پينځمه خطبه ﴾

(طلحه او زبير له امام سره له بيعته وروسته اعتراض وکړ چې ولې د هيواد په چارو کښې له هغوي سره مشوره نۀ کوې او له هغوي مرسته نۀ اخلې، امام ورته وفرمايل:)

### د ناکثينو (تړون ماتوونکو) له سرغنو سره کلک چلند

په ډېر لږ څه غصه شوئ او لوې ښېګړې مو هېرې کړې! تاسو ماته ويلې شئ چې ما له تاسو کوم حق سپمولے دے. يا مې کومه ونډه ځانته اخيستې او په تاسو باندې مې ظلم کړے دے. او داسې د کوم حق شکايت راوړلے شوے دے چې ما پکښې کمزوري ښودلې وي او فېصله مې نۀ وي کړې. او د خدا ے پاک له کوم امر څخه خبر نۀ وم او غلطه فېصله مې کړې وي؟ په خدا ے قسم! ما خلافت ته هيڅ ګروهنه نۀ لرله او په تاسو باندې ولايت ته مې زړۀ نۀ ښه کوۀ بلکه دا تاسو وئ چې زۀ مو وبللم او هغه مو پۀ ما وتپۀ. په کومه ورځ چې خلافت ما ته اورسېدۀ د خدا ے کتاب ته مې اوکتل او هر امر يې چې کړے ؤ اومې منۀ، د پېغمبراکرمﷺ په لارې او سنتو پسې مې اقتدا وکړه. نو ستاسو او د بل چا حکم او راې ته هيڅ ضرورت نۀ لرم. لا داسې څه نۀ دي پېښ شوي چې په حکم يې اونۀ پوهېږم، او له تاسو او نورو مسلمانو وروڼو سره مشورې ته اړتيا ولرم، که داسې وې له تاسو او نورو به مې هيڅکله مخ نه ؤ اړولے. البته ستاسو دا اعتراض چې ولې (د بيت المال په ويش کښې) له ټولو سره يو شان سلوک کوې نو دا روده خو زما د خپلې راې له مخې او زما د خپله ځانه نۀ ده بلکه ما او تاسو دا چلند او کردار د اسلام د پيغمبراکرمﷺ له سنتو او اوامرو څخه زده کړے دے. چې څه حکم

فِيما قَدْ فَرَغَ اللهُ مِنْ قَسْمِهِ، وَأَمْضَى فِيهِ حُكْمَهُ، فَلَيْسَ لَكُمَا، وَاللهِ، عِنْدِي وَلاَ لِغَيْرِكُمَا فِي هذَا عُتْبَى. أَخَذَ اللهُ بِقُلُوبِنَا وَقُلُوبِكُمْ إِلَى الْحَقِّ، وَأَلْهَمَنَا وَإِيَّاكُمُ الصَّبْرَ. ثم قال: رَحِمَ اللهُ رَجُلاً رَأَى حَقّاً فَأَعَانَ عَلَيْهِ، أَوْ رَأَى جَوْراً فَرَدَّهُ، وَكَانَ عَوْناً بِالْحَقِّ عَلَى صَاحِبِهِ.

بې راوړۀ او څرنګه یې اجرا کړ. نو په هغه وېش کښې مې چې خدائے پاک یې امر کړے دے تاسو ته اړتیا نۀ لرله. په خدائے قسم! په دې معامله کښې تاسو او نور په ما د هیڅۀ اعتراض حق نۀ لري خدائے پاک دې زمونږ او ستاسو زړونه د حق لور ته هدایت کړي او د صبر او استقامت توفیق دې راکړي. (بیا یې وفرمایل) خدائے پاک دې رحمت وکړي په هغه کس باندې چې حق اویني او مرسته یې وکړي یا یو ظلم اویني او له مېنځه یې یوسي. او حقدار ته د هغۀ حق په ستنولو کښې مرسته کوي.

[ ۲۰٦ ]

سَمِعَ قَوْماً مِنْ أَصْحَابِهِ يَسُبُّونَ أَهْلَ الشَّامِ أَيَّامَ حَرْبِهِمْ بِصِفِّينَ:

إِنِّي أَكْرَهُ لَكُمْ أَنْ تَكُونُوا سَبَّابِينَ، وَلكِنَّكُمْ لَوْ وَصَفْتُمْ أَعْمَالَهُمْ، وَذَكَرْتُمْ حَالَهُمْ، كَانَ أَصْوَبَ فِي الْقَوْلِ، وَأَبْلَغَ فِي الْعُذْرِ، وَقُلْتُمْ مَكَانَ سَبِّكُمْ إِيَّاهُمْ: اللَّهُمَّ احْقِنْ دِمَاءَنَا وَدِمَاءَهُمْ، وَأَصْلِحْ ذَاتَ بَيْنِنَا وَبَيْنِهِمْ، وَاهْدِهِمْ مِنْ ضَلاَلَتِهِمْ، حَتَّى يَعْرِفَ الْحَقَّ مَنْ جَهِلَهُ، وَيَرْعَوِيَ عَنِ الْغَيِّ وَالْعُدْوَانِ مَنْ لَهِجَ بِهِ.

## ﴿دوه سوه شپږمه خطبه﴾

(په صفین جنګ کښې یې واورېدل چې ملګري یې شامیانو ته کنځلې کوي نو ورته یې وفرمایل:)

### په جنګ کښې اخلاق

زۀ ستاسولپاره دا نۀ خوښوم چې کنځلې وکړئ ښه خبره دا ده چې د هغوي کردار او اعمال بیان کړئ دا خبره صداقت ته نزدې او عذر یې زیات د منلو دے. ښه وه چې هغوي ته د کنځلو په ځائے مو ویلې وې: اے خدایه! زمونږ او د هغوي وینه خوندي وساتې. زمونږ او د هغوي معاملې سمې کړې. او هغوي له ګمراهۍ سمې لارې ته هدایت کړې چې هغه کسان چې جاهلان دي حق اوپېژني، او څوک چې له حق سره جنګېږي پښېمانه شي او حق ته راستانۀ شي.

[ ۲۰۷ ]

فِي بَعْضِ أَيَّامِ صِفِّينَ وَقَدْ رَأَى الْحَسَنَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ يَتَسَرَّعُ إِلَى الْحَرْبِ:

امْلِكُوا عَنِّي هذَا الْغُلاَمَ لاَ يَهُدَّنِي، فَإِنَّنِي أَنْفَسُ بِهذَيْنِ ـ يَعْنِي الْحَسَنَ وَالْحُسَيْنَ عليهما السلام ـ عَلَى الْمَوْتِ، لِئَلاَّ يَنْقَطِعَ بِهِمَا نَسْلُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ.

## ﴿دوه سوه اوومه خطبه﴾

(د صفین د جنګ په یوه ورځ یې اولیدل چې امام حسنؑ ډېر په تیزۍ سره د دښمن د لښکر په زړۀ کښې مخ په وړاندې ځي نو وې فرمایل:)

### د امامت د ساتلو ضرورت

دا ځوان اوساتئ، چې غم یې زما ملا ماته نۀ کړي. درېغه چې مرګ په دغو دوو(حسن او حسینؑ) راشي دا سې نه وي چې د دوي په مرګ سره د رسول الله مبارکﷺ نسل ختم شي!

سید رضي وائي: د «دا ځوان خوندي اوساتئ» جمله د فصاحت په ډېره لوړه درجه کښې ده

[ ۲۰۸ ]

قَالَهُ لَمَّا اضْطَرَبَ عَلَيْهِ أَصْحَابُهُ فِي أَمْرِ الْحُكُومَةِ

أَيُّهَا النَّاسُ، إِنَّهُ لَمْ يَزَلْ أَمْرِي مَعَكُمْ عَلَى مَا أُحِبُّ، حَتَّى نَهِكَتْكُمُ الْحَرْبُ، وَقَدْ، وَاللهِ، أَخَذَتْ مِنْكُمْ وَتَرَكَتْ، وَهِيَ لِعَدُوِّكُمْ أَنْهَكُ. لَقَدْ كُنْتُ أَمْسِ أَمِيراً، فَأَصْبَحْتُ الْيَوْمَ

## ﴿دوه سوه اتمه خطبه﴾

( په حَکَمیت باندې په اعتراض کښې د خپلو اصحابو د بلوا په باره کښې یې وفرمایل)

### د کوفیانو د نافرمانۍ غندنه

اے خلقو! زما چارې له تاسو سره بالکل سمې رواني وې تر دې چې جنګ تاسو ستومانه کړئ. په خدائے قسم که په جنګ کښې ستاسو ځینې کسان مړۀ شوي او ځینې پاتې شوي دي نو دغه جنګ خو ستاسو

مَأْمُوراً! وَكُنْتُ أَمْسِ نَاهِياً، فَأَصْبَحْتُ الْيَوْمَ مَنْهِيّاً! وَقَدْ أَحْبَبْتُمُ الْبَقَاءَ، وَلَيْسَ لِي أَنْ أَحْمِلَكُمْ عَلَى مَا تَكْرَهُونَ!

[ ۲۰۹ ]

وَمِنْ كَلاَمٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ بِالْبَصْرَةِ، وَقَدْ دَخَلَ عَلَى الْعَلاَءِ بْنِ زِيَادٍ الْحَارِثِيِّ ـ وَهُوَ مِنْ أَصْحَابِهِ ـ يَعُودُهُ، فَلَمَّا رَأَى سَعَةَ دَارِهِ قَالَ:

مَا كُنْتَ تَصْنَعُ بِسِعَةِ هذِهِ الدَّارِ فِي الدُّنْيَا، أَنْتَ إِلَيْهَا فِي الْآخِرَةِ كُنْتَ أَحْوَجَ؟ وَبَلَى إِنْ شِئْتَ بَلَغْتَ بِهَا الْآخِرَةَ، تَقْرِي فِيهَا الضَّيْفَ، وَتَصِلُ فِيهَا الرَّحِمَ، وَتُطْلِعُ مِنْهَا الْحُقُوقَ مَطَالِعَهَا، فَإِذاً أَنْتَ قَدْ بَلَغْتَ بِهَا الْآخِرَةَ. فَقَالَ لَهُ الْعَلاَءُ: يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ، أَشْكُو إِلَيْكَ أَخِي عَاصِمَ بْنَ زِيَادٍ. قَالَ: وَمَا لَهُ؟ قَالَ: لَبِسَ الْعَبَاءَةَ وَتَخَلَّى مِنَ الدُّنْيَا. قَالَ: عَلَيَّ بِهِ. فَلَمَّا جَاءَ قَالَ: يَا عُدَيَّ نَفْسِهِ! لَقَدِ اسْتَهَامَ بِكَ الْخَبِيثُ! أَمَا رَحِمْتَ أَهْلَكَ وَوَلَدَكَ! أَتَرَى اللهَ أَحَلَّ لَكَ الطَّيِّبَاتِ، وَهُوَ يَكْرَهُ أَنْ تَأْخُذَهَا! أَنْتَ أَهْوَنُ عَلَى اللهِ مِنْ ذلِكَ! قَالَ: يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ، هذَا أَنْتَ فِي خُشُونَةِ مَلْبَسِكَ وَجُشُوبَةِ مَأْكَلِكَ! قَالَ: وَيْحَكَ، إِنِّي لَسْتُ كَأَنْتَ، إِنَّ اللهَ تَعَالَى فَرَضَ عَلَى أَئِمَّةِ الْعَدْلِ أَنْ يُقَدِّرُوا أَنْفُسَهُمْ بِضَعَفَةِ النَّاسِ، كَيْلاَ يَتَبَيَّغَ بِالْفَقِيرِ فَقْرُهُ!

[ ۲۱۰ ]

وَقَدْ سَأَلَهُ سَائِلٌ عَنْ أَحَادِيثِ الْبِدَعِ، وَعَمَّا فِي أَيْدِي النَّاسِ مِنِ اخْتِلاَفِ الْخَبَرِ. فَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

إِنَّ فِي أَيْدِي النَّاسِ حَقّاً وَبَاطِلاً، وَصِدْقاً وَكَذِباً، وَنَاسِخاً وَمَنْسُوخاً، وَعَامّاً وَخَاصّاً، وَمُحْكَماً وَمُتَشَابِهاً، وَحِفْظاً وَوَهْماً، وَقَدْ كُذِبَ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وسلم عَلَى عَهْدِهِ، حَتَّى قَامَ خَطِيباً، فَقَالَ: «مَنْ كَذَبَ عَلَيَّ مُتَعَمِّداً فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ». وَإِنَّمَا أَتَاكَ بِالْحَدِيثِ أَرْبَعَةُ رِجَالٍ لَيْسَ لَهُمْ خَامِسٌ:

الْمُنَافِقُونَ: رَجُلٌ مُنَافِقٌ مُظْهِرٌ لِلإِيمَانِ، مُتَصَنِّعٌ بِالإِسْلاَمِ،

دښمن زيات ځپلے دے. زۀ پرون ستاسو کوماندان او امير وم خو نن راته تاسو امر کوئ، پرون ما تاسو منعې کولئ خو نن تاسو ما منعې کوئ، تاسو ژوندي پاتې کېدل غواړئ او زۀ تاسو هغه لارې ته نۀ شم مجبورولې چې ستاسو نۀ ده خوښه.

## ﴿دوه سوه نهمه خطبه﴾

(د بصرې له جنګه وروسته علاء بن زياد ته ورغے چې د امام له ملګرو څخه ؤ کله يې چې د هغۀ شاندار کور اوليدۀ نو وې فرمايل:)

### له دنيا د استفادې طريقه

په دنيا کښې په دومره پراخ کور څه کوې، حال دا چې په آخرت کښې ورته ډېره اړتيا لرې! هو، که غواړې په همدغه کور سره آخرت ته اورسېږې نو که په دغه پراخ کور کښې دې د مېلمنو مېلمستيا وکړه، له خپلوانو سره دې نيکي او صله رحم وکړۀ او حقونه دې خاوندانو ته اورسول، بيا نو په همدغه کور سره آخرت ته تللے شې. (علاء ووېل: اے اميرالمومنينه! غواړم له خپل ورور عاصم بن زياده تا ته شکايت وکړم، وې فرمايل: په هغه څه شوي دي؟ وې ويل: هغه عبا (چپنه) اچولې ده او له دنيا يې له يوې مخې مخ اړولے دے، امام وفرمايل: هغه راته راوله، کله چې راغي وې فرمايل:) اے د ځان دښمنه! شېطان سرګردانه کړے يې؟ آيا تۀ دې په ښځه او بچيانو رحم نۀ کوې؟ تۀ فکر کوې چې خداے پاک خپل پاک نعمتونه حلال کړي دي خو نۀ غواړي چې تۀ ترې فائده اوچته کړې؟ تۀ د خداے په وړاندې تر دې وروکے يې چې هغه له تاسره داسې سلوک وکړي. (عاصم ووېل: نو اے اميرالمومنينه! ته ولې زيږې جامې اغوندې او اوچه ډوډۍ خورې؟ امام وفرمايل:) افسوس دې وي په تا! زۀ ستا په شان نۀ يم، خداے تعالی په حقو امامانو واجب کړې دي چې ځانونه د ټولنې د بې وزله او کمزورو کسانو په شان کړي چې فقر او نيستي تنګ لاسه کسان بې تابه او سرکښه نۀ کړي.

## ﴿دوه سوه لسمه خطبه﴾

(کله چې يو کس له امامه د بدعتي حديثونو چې په خلقو کښې دود وو پوښتنه وکړه نو امام وفرمايل:)

### د دود شويو حديثونو ډولونه

د خلقو لاسته هر ډول حديثونه رسېدلي دي، هم حق هم باطل، هم رښتيا هم دروغ، هم ناسخ هم منسوخ، هم عام هم خاص، هم محکم هم متشابه، هم داسې حديثونه چې سم دي او هم وهمي او خيالي حديثونه. (حتی) د خداے د ګران رسول ﷺ په زمانه کښې په هغه حضرت پورې دومره دروغ وتړل شول چې رسول الله مبارک ﷺ منبر ته اوخوت او وې فرمايل: ((څوک چې قصداً په ما پورې دروغ اوتړي ځاے يې جهنم دے)) د حديثونو د راويانو ډولونه[۱۲۲] کوم کسان چې حديثونه نقلوي څلور ډوله دي او پېنځم يې نشته:

### وړومبي- نفوذي منافقان

لايَتَأَثَّمُ ولاَ يَتَحَرَّجُ، يَكْذِبُ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآله مُتَعَمِّداً، فَلَوْ عَلِمَ النَّاسُ أَنَّهُ مُنَافِقٌ كَاذِبٌ لَمْ يَقْبَلُوا مِنْهُ، وَلَمْ يُصَدِّقُوا قَوْلَهُ، ولكِنَّهُمْ قَالُوا: صَاحِبُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآله رَآهُ، وَسَمِعَ مِنْهُ، وَلَقِفَ عَنْهُ، فَيَأْخُذُونَ بِقَوْلِهِ، وَقَدْ أَخْبَرَكَ اللهُ عَنِ الْمُنَافِقِينَ بِمَا أَخْبَرَكَ، وَوَصَفَهُمْ بِمَا وَصَفَهُمْ بِهِ لَكَ، ثُمَّ بَقُوا بَعْدَهُ عليه السلام فَتَقَرَّبُوا إِلَى أَئِمَّةِ الضَّلاَلَةِ، وَالدُّعَاةِ إِلَى النَّارِ بِالزُّورِ وَالْبُهْتَانِ، فَوَلَّوْهُمُ الاَعْمَالَ، وَجَعَلُوهُمْ عَلَى رِقَابِ النَّاسِ، وَأَكَلُوا بِهِمُ الدُّنْيَا، وَإِنَّمَا النَّاسُ مَعَ الْمُلُوكِ وَالدُّنْيَا، إِلاَّ مَنْ عَصَمَ اللهُ، فَهذَا أَحَدُ الاَرْبَعَةِ.

الْخَاطِئُونَ: وَرَجُلٌ سَمِعَ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآله شَيْئاً لَمْ يَحْفَظْهُ عَلَى وَجْهِهِ، فَوَهِمَ فِيهِ، وَلَمْ يَتَعَمَّدْ كَذِباً، فَهُوَ فِي يَدَيْهِ، يَرْوِيهِ وَيَعْمَلُ بِهِ، وَيَقُولُ: أَنَا سَمِعْتُهُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآله فَلَوْ عَلِمَ الْمُسْلِمُونَ أَنَّهُ وَهِمَ فِيهِ لَمْ يَقْبَلُوهُ مِنْهُ، وَلَوْ عَلِمَ هُوَ أَنَّهُ كَذلِكَ لَرَفَضَهُ!

أَهْلُ الشُّبْهَةِ: وَرَجُلٌ ثَالِثٌ، سَمِعَ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآله شَيْئاً يَأْمُرُ بِهِ، ثُمَّ نَهَى عَنْهُ وَهُوَ لاَ يَعْلَمُ، أَوْ سَمِعَهُ يَنْهَى عَنْ شَيْءٍ، ثُمَّ أَمَرَ بِهِ وَهُوَ لاَيَعْلَمُ، فَحَفِظَ الْمَنْسُوخَ، وَلَمْ يَحْفَظِ النَّاسِخَ، فَلَوْ عَلِمَ أَنَّهُ مَنْسُوخٌ لَرَفَضَهُ، وَلَوْ عَلِمَ الْمُسْلِمُونَ إِذْ سَمِعُوهُ مِنْهُ أَنَّهُ مَنْسُوخٌ لَرَفَضُوهُ.

الصَّادِقُونَ الْحَافِظُونَ: وَآخَرُ رَابِعٌ، لَمْ يَكْذِبْ عَلَى اللهِ، وَلاَ عَلَى رَسُولِهِ، مُبْغِضٌ لِلْكَذِبِ، خَوْفاً للهِ، وَتَعْظِيماً لِرَسُولِ اللهِ، وَلَمْ يَهِمْ، بَلْ حَفِظَ مَا سَمِعَ عَلَى وَجْهِهِ، فَجَاءَ بِهِ عَلَى مَا سَمِعَهُ، لَمْ يَزِدْ فِيهِ وَلَمْ يَنْقُصْ مِنْهُ، وَحَفِظَ النَّاسِخَ فَعَمِلَ بِهِ، وَحَفِظَ الْمَنْسُوخَ فَجَنَّبَ عَنْهُ، وَعَرَفَ الْخَاصَّ وَالْعَامَّ، فَوَضَعَ كُلَّ شَيْءٍ مَوْضِعَهُ، وَعَرَفَ الْمُتَشَابِهَ

دا هغه منافق دے چې په ظاهره يې ايمان راوړے او د اسلام نقاب يې په څېره لګولے، نۀ له ګناه ويرېږي او نۀ ترې ډډه کوي او عمداً په پېغمبراکرمﷺ پورې دروغ تړي.که خلقو ته پته وې چې دې دروغجن منافق دے نو خبره به يې نۀ منله او د هغۀ د دروغو تصديق به يې نۀ کوه، خو دوي د ناخبرۍ له مخې وائي چې دا کس د پېغمبراکرمﷺ صحابي دے، د خداے ګران رسولﷺ يې ليدلے او له هغه مبارکﷺ يې حديث اورېدلے او اخېستے دے، نو د هغۀ دروغ حديث مني. حال دا چې خداے پاک تاسو خومره چې لازمه وه له منافقانوخبرکړي يئ او د هغوي ځانګړنې او خصوصيتونه يې بيان کړي دي. هغوي له پېغمبره وروسته باقي پاتې شول او د ګمراهۍ له مخکښانو،او اور ته له رابلونکو سره يې ځانونه په دروغو او تهمتونو سره نژدې کړل، نو هغوي ته يې حکومت او عهدې ورکړې، او د خلقو په څټونو سپارۀ شول،او د هغوي په وسيله دنيا ته اورسېدل، بې له شکه خلق هم له باچايانو او دنيا سره دي مګر هغه کس چې خداے پاک يې اوساتي، نو دا له هغو څلورو څخه يو دے.

## دويم۔ غلطي کوونکي

دويم هغه کس دے چې يو څه يې له رسول الله مبارکهﷺ اورېدلي دي خو د هغوي خبره يې سمه نۀ ده ياده کړې، او په خيال او ګمان سره يې يو څه ورزيات کړي دي (غلطي يې پکښې کړې ده) خو دغه کس قصداً دروغ نۀ وائي، څه چې لري هغه يې روايت کړے دے او عمل پرې کوي او وائي چې ما له پېغمبراکرمﷺ څخه داسې اورېدلي دي. که مسلمانان پوه شي چې دغه کس غلطي کړې ده او غېر واقعي مطلب اخېستنه يې کړې ده نو د هغۀ خبره به اونۀ مني، په خپله هم که پوهېدې چې غلطي يې کړې ده نو دغه حديث به يې پرېښے وې.

## دريم۔ هغه ناپوهان چې حديث پېژاندي نۀ دي

دريم هغه کس دے چې اورېدلي يې دي چې رسول الله مبارکﷺ د يو شيز امر وکړ خو بيا يې ورځينې نهي وکړه. خو دې يې له نهي خبر نۀ شو يا يې واورېدل چې د خداے ګران رسولﷺ خلق له يوۀ شيزه منع کړل خو بيا يې ورباندې امر وکړ او دې ترې خبر نۀ شو نو نسخ شوے شيز يې وساتۀ خو له ناسخه خبر نۀ شو. دغه کس که خبر شي چې د هغۀ حديث نسخ شوے دے نو پرې به يې ږدي او که مسلمانانو ته هم پته وې چې دغه حديث نسخ شوے دے هغوي به هم پرېښے ؤ.

## څلورم۔ رښتيني حافظان

او څلورم هغه کس دے چې نۀ په خداے پورې دروغ تړي او نۀ يې په پېغمبراکرمﷺ پورې، د خداے پاک له وېرې او د رسول اللهﷺ د عزت له مخې د دروغو دښمن هم دے. هغه څه چې له رسول الله مبارکهﷺ يې اورېدلي دي غلطي يې پکښې نۀ ده کړې او ټولو اړخونو ته يې پام کړے دے، او څنګه يې چې اورېدلي دي بې له کمې زياتي يې نقلوي. نو هغه

وَمُحْكَمَهُ.

وَقَدْ كَانَ يَكُونُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ الْكَلاَمُ لَهُ وَجْهَانِ: فَكَلاَمٌ خَاصٌّ، وَكَلاَمٌ عَامٌّ، فَيَسْمَعُهُ مَنْ لاَ يَعْرِفُ مَا عَنَى اللهُ بِهِ، وَلاَ مَا عَنَى بِهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ فَيَحْمِلُهُ السَّامِعُ، وَيُوَجِّهُهُ عَلَى غَيْرِ مَعْرِفَةٍ بِمَعْنَاهُ، وَمَا قُصِدَ بِهِ، وَمَا خَرَجَ مِنْ أَجْلِهِ، وَلَيْسَ كُلُّ أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ مَنْ كَانَ يَسْأَلُهُ وَيَسْتَفْهِمُهُ، حَتَّى إِنْ كَانُوا لَيُحِبُّونَ أَنْ يَجِيءَ الأَعْرَابِيُّ أَوْ الطَّارِىءُ، فَيَسْأَلَهُ عليه السلام حَتَّى يَسْمَعُوا، وَكَانَ لاَ يَمُرُّ بِي مِنْ ذلِكَ شَيْءٌ إِلاَّ سَأَلْتُ عَنْهُ وَحَفِظْتُهُ. فَهذِهِ وُجُوهُ مَا عَلَيْهِ النَّاسُ فِي اخْتِلاَفِهِمْ، وَعِلَلِهِمْ فِي رِوَايَاتِهِمْ.

هم په ناسخ پوه شوے او وربانديې عمل کړے دے او هم له منسوخه خبر شوے او ترې يې ډډه کړې ده، خاص او عام، محکم او متشابه يې پېژندلي او هر يو يې په خپل مناسب ځاے کښې ايښے دے.

## د رسول الله مبارکﷺ د اصحابو ډولونه

کله کله به د رسول الله مبارکﷺ خبره داسې وه چې دوه معنې به يې وې او دوه اړخونه به يې لرل يو اړخ به يې د عوامو لپاره ؤ او بل د خواصو لپاره، که يو داسې کس به اوريدله چې د خداے پاک او د هغهٔ د پېغمبرﷺ د خبرې په مطلب به نهٔ پوهېدهٔ نو په خپله خوښه به يې هغه تفسيروله او بې له دې چې په حقيقي معنا يې پوه شي چې دغه خبره د څه مقصد لپاره راغلې ده او ولې يې داسې خبره کړې ده هغه به يې حفظ کوله او نقلوله. د پېغمبراکرمﷺ ټول ملګري داسې نهٔ وو چې له هغه مبارکه د څه پوښتنه وکړي او د هغې خبرې اصلي معنا ترې معلومه کړي. تر دې چې ځينې به په طمعه وو چې يو صحرائي عرب راشي او يا يو کس له هغهٔ مبارکه پوښتنه وکړي او هغوي يې ځواب واوري. خو زما په ذهن کښې به چې هر څه راتلل ما به پوښتل. او بيا به مې ساتل (حفظول) نو دا دي په خلقو کښې په روايتونو کښې د اختلاف لاملونه او علتونه او په روايتونو کښې د تضاد سببونه.

[ ۲۱۱ ]

وَكَانَ مِنِ اقْتِدَارِ جَبَرُوتِهِ، وَبَدِيعِ لَطَائِفِ صَنْعَتِهِ، أَنْ جَعَلَ مِنْ مَاءِ الْبَحْرِ الزَّاخِرِ الْمُتَرَاكِمِ الْمُتَقَاصِفِ يَبَساً جَامِداً، ثُمَّ فَطَرَ مِنْهُ أَطْبَاقاً، فَفَتَقَهَا سَبْعَ سَمَاوَاتٍ بَعْدَ ارْتِتَاقِهَا فَاسْتَمْسَكَتْ بِأَمْرِهِ، وَقَامَتْ عَلَى حَدِّهِ [وَأَرْسَى أَرْضاً] يَحْمِلُهَا الاَخْضَرُ الْمُثْعَنْجِرُ وَالْقَمْقَامُ الْمُسَخَّرُ، قَدْ ذَلَّ لاَِمْرِهِ، وَأَذْعَنَ لِهَيْبَتِهِ، وَوَقَفَ الْجَارِي مِنْهُ لِخَشْيَتِهِ، وَجَبَلَ جَلاَمِيدَهَا، وَنُشُوزَ مُتُونِهَا وَأَطْوَادِهَا، فَأَرْسَاهَا فِي مَرَاسِيهَا، وَأَلْزَمَهَا قَرَارَاتِهَا، فَمَضَتْ رُؤُسُهَا فِي الْهَوَاءِ، وَرَسَتْ أُصُولُهَا فِي الْمَاءِ، فَأَنْهَدَ جِبَالَهَا عَنْ سُهُولِهَا، وَأَسَاخَ قَوَاعِدَهَا فِي مُتُونِ أَقْطَارِهَا، وَمَوَاضِعِ أَنْصَابِهَا، فَأَشْهَقَ قِلاَلَهَا، وَأَطَالَ أَنْشَازَهَا، وَجَعَلَهَا لِلأَرْضِ عِمَاداً، وَأَرَّزَهَا فِيهَا أَوْتَاداً، فَسَكَنَتْ عَلَى حَرَكَتِهَا مِنْ أَنْ تَمِيدَ بِأَهْلِهَا، أَوْ تَسِيخَ

## ﴿دوه سوه يولسمه خطبه﴾

## د مخلوقاتو حېرانتياوې

د خداے پاک د عظمت او قدرت او د هغهٔ د صنعت له ظرافتونو او حېرانتياؤ څخه يو ټکے دا دے چې په څپانده سمندر او د طوفاني اوبو لاندې يې اوچه ځمکه پېدا کړه، او هغه يې په پوړو اوښله او بيا يې پوړې پرانېستلې او اوهٔ آسمانونه يې جوړ کړل چې د هغهٔ په امر ولاړ دي. او په ټاکلو اندازو کښې قائم دي. او ځمکه يې پېدا کړه چې شين او روان درياب په اوږو اخېستې ده. ځمکه د خداے پاک د امر په وړاندې خاضعه او د پالونکي حکم ته تسليمه ده. او رواني اوبهٔ د هغهٔ له وېرې ولاړې دي. بيا يې لوي غرونه،غونډۍ او لوړې پېدا کړې او په خپل ځاے يې کلکې کړې. او په خپل مقام يې ټينګې کړې. نو غرونه په هوا کښې دي او جرړې يې په اوبو کښې ښخې دي غرونو له هوارو ځمکو سرونه پورته کړي دي او ورو ورو يې اوچت کړي دي. او جرړې او ځيلۍ يې د ځمکې په زړهٔ کښې خپرې شوې دي. غرونو آسمان ته سرونه جګ کړي او ځوکې يې اوږدې دي. چې د ځمکې تکيه او ساتونکي ميخونه شي. او بيا د همدغو ميخونو په برکت ځمکه له حرکته تم شوې ده. چې

بحمْلهَا، أَوْ تَزُولَ عَنْ مَواضعها. فَسُبحَانَ مَنْ أَمْسَكَهَا بعْدَ مَوجَان مياهها، وأَجْمدَهَا بَعْدَ رُطُوبَة أَكْنَافها، فَجعلَهَا لخَلْقه مهاداً، وبَسطَهَا لَهُمْ فراشاً! فَوْقَ بَحْر لُجِّيّ رَاكد لاَ يَجْري، وَقَائم لاَ يَسْري، تُكَرْكرُهُ الرِّيَاحُ الْعَوَاصفُ، وتَمْخُضُهُ الْغَمَامُ الذَّوَارفُ، ﴿إنَّ فِي ذلكَ لَعِبْرَةً لمَنْ يَخْشَى﴾.

خپل هستوګن اونهٔ لړزوي او څه چې د ځمکې د پاسه دي اونهٔ غورځېږي. يا له ځايه بې ځايه نهٔ شي. نو پاک او سپېڅلے دے هغه خداے چې ځمکه يې د دومره ځپانده څپو په مينځ کښې اوساتله، او له لوندوالي وروسته يې اوچه کړه. او بيا يې د مخلوقاتو د ژوند هستوګنه کړه او د بسترې په شان يې اوغوړوله، په لوے او ولاړ سمندر چې روان نهٔ دے، او يواځې تند بادونه او زولونه يې ړکوي. ورېدونکې وريځې يې خوځوي. «په دې حيرانتياؤ کښې عبرتونه دي د هغه چا لپاره چې د ويره لري»

[ ۲۱۲ ]

اللَّهُمَّ أَيُّمَا عَبْد منْ عبَادكَ سَمعَ مَقَالَتَنَا الْعَادلَةَ غَيْرَ الْجَائرَة، وَالْمُصْلحَةَ فِي الدِّين وَالدُّنْيَا غَيْرَ الْمُفْسدَة، فَأَبَى بَعْدَ سَمْعه لَهَا إلاَّ النُّكُوصَ عَنْ نُصْرَتكَ، وَالاْبْطَاءَ عَنْ إعْزَاز دينكَ، فَإنَّا نَسْتَشْهدُكَ عَلَيْه يَا أَكْبَرَ الشَّاهدينَ شَهَادَةً، وَنَسْتَشْهدُ عَلَيْه جَميعَ مَا اَسْكَنْتَهُ أَرْضَكَ وَسَمَاوَاتكَ، ثُمَّ أَنْتَ بَعْدَ الْمُغْني عَنْ نَصْره، وَالاْخذُ لَهُ بذَنْبه.

## ﴿دوه سوه دولسمه خطبه﴾

### له شاميانو سره جنګ ته لام بندي

اے خدايه! هر چا چې د دين او دنيا په حقله زما عادلانه خبره چې ظلم پکښې نشته او اصلاح کوونکې خبره چې فساد پکښې نشته واورېده او بيا يې هم د دين له مرستې سر اوغړوۀ او ستا مرسته يې اونهٔ کړه، او ستا د دين په عزتمنولو کښې يې لټې او سستيا وکړه، مونږ تا د هغهٔ په خلاف ګواهۍ ته راغواړو. اے هغه خدايه چې تر ټولو لوے ګواه يې مونږ تا او هغه ټول مخلوقات چې په ځمکه او آسمانونو کښې هستوګن دي د هغهٔ په خلاف ګواهۍ ته راغواړو . که څه هم تهٔ د هغهٔ له مرستې بې نيازه يې او هغهٔ ته به د ګناهانو سزا ورکړې.

[ ۲۱۳ ]

الْحَمْدُ للهِ الْعَليِّ عَنْ شَبَه الْمَخْلُوقينَ، الْغَالب لمَقَال الْوَاصفينَ، الظَّاهر بعَجَائب تَدْبيره للنَّاظرينَ، الْبَاطن بجَلاَل عزَّته عَنْ فكْر الْمُتَوَهِّمينَ، الْعَالم بلاَ اكْتسَاب وَلاَ ازْديَاد، وَلاَ علْم مُسْتَفَاد، الْمُقَدِّر لجَميع الاْمُور بلاَ رَويَّة وَلاَ ضَمير، الَّذي لاَ تَغْشَاهُ الظُّلَمُ، وَلاَ يَسْتَضيءُ بالاْنْوَار، وَلاَ يَرْهَقُهُ لَيْلٌ، وَلاَ يَجْري عَلَيْه نَهَارٌ، لَيْسَ إدْرَاكُهُ بالاْبْصَار، وَلاَ علْمُهُ بالاْخْبَار.

منْهَا فِي ذكْر النَّبيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْه وَآله: أَرْسَلَهُ بالضِّيَاء، وَقَدَّمَهُ فِي الاصْطفَاء، فَرَتَقَ بِه الْمَفَاتقَ، وَسَاوَرَ بِه الْمُغَالبَ، وَذَلَّلَ بِه الصُّعُوبَةَ وَسَهَّلَ بِه الْحُزُونَةَ، حَتَّى سَرَّحَ الضَّلاَلَ، عَنْ يَمين وَشمَال.

## ﴿دوه سوه ديارلسمه خطبه﴾

### خداے پېژندنه

ستائنه هغه خداے لره ده چې له مخلوقاتو سره له يوشان والي بالاتر او د ستايونکو او بيانوونکو له بيانه سپېڅلے دے، په خپل حېرانوونکي تدبير سره ټولو لېدونکو ته ښکاره او د خپل عزت په سترتوب سره د پوهانو له فکره پټ دے. پوه دے خو داسې نه چې پوهه يې له يو ځايه اخيستې وي يا يې پوهه زياتېدونکې وي يا يې له چا زده کړې وي، د ټولو چارو چلوونکے دے بې له دې چې کوم فکر او سوچ ته اړمن وي. خداے هغه ذات دے چې تيرې بې نهٔ شي پټولې او له رڼاګانو رڼا نهٔ اخلي. نهٔ يې شپه پټولې شي او نهٔ پرې ورځ تېرېدلې شي. ليدل يې د سترګو له مخې او علم يې د اطلاعاتو او خبربدو له مخې نهٔ دي.

### د پيغمبر اکرمﷺ ځانګړنې او خصوصيتونه

خداے پاک خپل ګران پېغمبرﷺ د اسلام په رڼا سره راولېږهٔ، او تر هر چا مخکې يې غوره کړ. د هغهٔ په بعثت سره يې کندې ډکې، او بريالي باچايان يې راوپرځول، سختۍ يې آسانې او ناهوارۍ يې هوارې کړې، تر دې چې ګمراهي يې له ښي او کينه لرې کړه.

## [ ٢١٤ ]

وَأَشْهَدُ أَنَّهُ عَدْلٌ عَدَلَ، وَحَكَمٌ فَصَلَ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّداً عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، وَسَيِّدُ عِبَادِهِ، كُلَّمَا نَسَخَ اللهُ الْخَلْقَ فِرْقَتَيْنِ جَعَلَهُ فِي خَيْرِهِمَا، لَمْ يُسْهِمْ فِيهِ عَاهِرٌ، وَلاَ ضَرَبَ فِيهِ فَاجِرٌ. أَلاَ وَإِنَّ اللهَ جَعَلَ لِلْخَيْرِ أَهْلاً، وَلِلْحَقِّ دَعَائِمَ، وَلِلطَّاعَةِ عِصَماً، وَإِنَّ لَكُمْ عِنْدَ كُلِّ طَاعَةٍ عَوْناً مِنَ اللهِ يَقُولُ عَلَى الأَلْسِنَةِ، وَيُثَبِّتُ الأَفْئِدَةَ، فِيهِ كِفَاءٌ لِمُكْتَفٍ، وَشِفَاءٌ لِمُشْتَفٍ.

صِفَةُ الْعُلَمَاءِ: وَاعْلَمُوا أَنَّ عِبَادَ اللهِ الْمُسْتَحْفَظِينَ عِلْمَهُ، يَصُونُونَ مَصُونَهُ، وَيُفَجِّرُونَ عُيُونَهُ، يَتَوَاصَلُونَ بِالْوِلاَيَةِ، وَيَتَلاَقَوْنَ بِالْمَحَبَّةِ، وَيَتَسَاقَوْنَ بِكَأْسٍ رَوِيَّةٍ، وَيَصْدُرُونَ بِرِيَّةٍ، لاَ تَشُوبُهُمُ الرِّيبَةُ، وَلاَ تُسْرِعُ فِيهِمُ الْغِيبَةُ. عَلَى ذلِكَ عَقَدَ خَلْقَهُمْ وَأَخْلاَقَهُمْ، فَعَلَيْهِ يَتَحَابُّونَ، وَبِهِ يَتَوَاصَلُونَ، فَكَانُوا كَتَفَاضُلِ الْبَذْرِ يُنْتَقَى، فَيُؤْخَذُ مِنْهُ وَيُلْقَى، قَدْ مَيَّزَهُ التَّخْلِيصُ، وَهَذَّبَهُ التَّمْحِيصُ.

الْعِظَةُ: فَلْيَقْبَلِ امْرُؤٌ كَرَامَةً بِقَبُولِهَا، وَلْيَحْذَرْ قَارِعَةً قَبْلَ حُلُولِهَا، وَلْيَنْظُرِ امْرُؤٌ فِي قَصِيرِ أَيَّامِهِ، وَقَلِيلِ مُقَامِهِ، فِي مَنْزِلٍ حَتَّى يَسْتَبْدِلَ بِهِ مَنْزِلاً، فَلْيَصْنَعْ لِمُتَحَوَّلِهِ، وَمَعَارِفِ مُنْتَقَلِهِ. فَطُوبَى لِذِي قَلْبٍ سَلِيمٍ، أَطَاعَ مَنْ يَهْدِيهِ، وَتَجَنَّبَ مَنْ يُرْدِيهِ، وَأَصَابَ سَبِيلَ السَّلاَمَةِ بِبَصَرِ مَنْ بَصَّرَهُ، وَطَاعَةِ هَادٍ أَمَرَهُ، وَبَادَرَ الْهُدَى قَبْلَ أَنْ تُغْلَقَ أَبْوَابُهُ، وَتُقْطَعَ أَسْبَابُهُ، وَاسْتَفْتَحَ التَّوْبَةَ، وَأَمَاطَ الْحَوْبَةَ، فَقَدْ أُقِيمَ عَلَى الطَّرِيقِ، وَهُدِيَ نَهْجَ السَّبِيلِ.

## ﴿ دوه سوه څوارلسمه خطبه ﴾

### پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم پېژندنه

او ګواهي ورکوم چې خداے پاک داسې عادل دے چې عدل چلوي او داسې حاکم دے چې حق او باطل جدا کوي. او ګواهي ورکوم چې حضرت محمد صلی الله علیه وآله وسلم د هغهٔ بنده او رسول او د مخلوقاتو سرخېل دے. کله یې چې هم مخلوقات په دوو ډلو اوېشل نو هغه یې له هغو څخه غوره وګرځوۀ او د هغهٔ په کورنۍ کښې نهٔ زناکار شته دے او نهٔ بد کار کسان. خبر اوسئ! خداے تعالی د هر خېر لپاره خپل وړ کسان پېدا کړي، د حق لپاره پیاوړې ستنې، او د هر اطاعت لپاره د حفاظت وسیلې ګرځولې دي. نو هر ګام چې په اطاعت کښې اخلئ د پاک خداے لخوا یو مرستندوے لرئ چې ژبې د هغهٔ په ځواک خبرې کوي او زړونه د هغهٔ په مرسته ثابت وي. د هر مرسته غوښتونکي لپاره مرستیال او د هر شفا غوښتونکي لپاره شفا او عافیت دے.

### الهي عالمان او پوهان

خبر اوسئ! هغه بندګان چې هغهٔ د خپل علم ساتونکي ګرځولي دي هم د هغهٔ د علم خوندي کوونکي او هم یې د چینو بهیوونکي دي. دوي د خداے پاک په دوستۍ له یو بل سره مینه کوي او د یو بل کتنه هم کوي. د هغهٔ د مینې پیالۍ په یو بل باندې څښوي. او د هغهٔ د علم له سرچینو خړوبېږي. د هغوي په زړونو کښې شک لاره نهٔ لري او د یو بل بد نهٔ وائي. خوي او اخلاق یې خداے پاک دغه ډول جوړ کړي دي او په همدې بنیاد یې ټولې دوستۍ او تعلقات ولاړ دي. دوي د پاکو تخمونو په شان دي چې د خلقو له مینځه چوڼ شوې دي. هماغه شان چې ښه تخم خوښېږي او خراب پرېښودل کېږي. دوي په پرله پسې ازمېښتونو سره ممتاز شوي او په بیا بیا چڼولو سره صفا شوي دي.

### شکرې ملغلرې

نو انسان باید پندونه اومني او د لوې ورځې له رسېدو مخکې پرهېزګار شي. په خپل لنډ عمر او وړې هستوګنې فکر وکړي او هغه په ښه منزل بدله کړي. نو باید د هغه ځاے لپاره چې ورروان دے او د بلې سراې د پېژندو لپاره کوشش وکړي. څومره بختور دے هغه کس چې زړهٔ یې روغ دے د هدایتوونکي خداے اطاعت کوي او له ګمراه کوونکي شېطانه ډډه. د الهي مېړونو په لارښؤنه او بصیرت سره روغې لارې ته ورسېږي او د خپل هادي د امر اطاعت وکړي. او مخکې له دې چې وروونه بند او وسیلې غوڅې شي د ژغورنې لارې ته ورو ځغلي، د توبې ور پرانېزي او ګناهانې ایره کړي. نو داسې کس په نېغه لار ولاړ دے او د حق لارې ته هدایت شوے دے.

## [ ٢١٥ ]

كَانَ يَدْعُو بِهِ كَثِيراً

## ﴿ دوه سوه پینځلسمه خطبه ﴾

(امام به تل په دغو کلماتو سره خداے پاک یادوهٔ)

الْحَمْدُ للهِ الَّذي لَمْ يُصبِحْ بي مَيِّتاً وَلاَ سَقيماً، وَلاَ مَضْرُوباً عَلَى عُرُوقي بِسُوء، وَلاَ مَأْخُوذاً بِأَسْوَإِ عَمَلي، وَلاَ مَقْطُوعاً دَابِري، وَلاَ مُرْتَدّاً عَنْ ديني، وَلاَ مُنْكِراً لِرَبّي، وَلاَ مُسْتَوْحِشاً مِنْ إيمَاني، وَلاَ مُلْتَبِساً عَقْلي، وَلاَ مُعَذَّباً بِعَذَابِ الأُمَمِ مِنْ قَبْلي. أَصْبَحْتُ عَبْداً مَمْلُوكاً ظَالِماً لِنَفْسي، لَكَ الْحُجَّةُ عَلَيَّ وَلاَ حُجَّةَ لي، لاَ أَسْتَطيعُ أَنْ آخُذَ إِلاَّ مَا أَعْطَيْتَني، وَلاَ أَتَّقي إِلاَّ مَا وَقَيْتَني. اللَّهُمَّ إِنّي أَعُوذُ بِكَ أَنْ أَفْتَقِرَ في غِنَاكَ، أَوْ أَضِلَّ في هُدَاكَ، أَوْ أُضَامَ في سُلْطَانِكَ، أَوْ أُضْطَهَدَ وَالأَمْرُ لَكَ! اللَّهُمَّ اجْعَلْ نَفْسي أَوَّلَ كَريمَة تَنْتَزِعُهَا مِنْ كَرَائِمي، وَأَوَّلَ وَديعَة تَرْتَجِعُهَا مِنْ وَدَائِعِ نِعَمِكَ عِنْدي! اللَّهُمَّ إِنَّا نَعُوذُ بِكَ أَنْ نَذْهَبَ عَنْ قَوْلِكَ، أَوْ نُفْتَتَنَ عَنْ دينِكَ، أَوْ تَتَابَعَ بِنَا أَهْوَاؤُنَا دُونَ الْهُدَى الَّذي جَاءَ مِنْ عِنْدِكَ!

### نمانځنې او ستائنې

ستائېنه له هغه خداے سره ښائي چې سحر يې راپاڅولم په داسې حال کښې چې نۀ مړ يم، نۀ ناروغ نۀ مې کوم رګ خوږيږي، او نۀ يې د بد عملۍ سزا راکړې ده او نۀ يې نسل او زوزات راغوځ کړي دي. او نۀ د خداے له دينه اوړېدلے يم، نۀ د پالونکي منکر يم او نۀ مې ايمان خراب شوے دے، نۀ مې عقل اوړېدلے او نۀ د تېرو امتونو په عذاب اخته شوے يم، په داسې حال کښې راپاڅېدم چې يو بې اختيار بنده يم او په خپل نفس مې ظلم کړے دے. اے خدايه! ستا حجت په ما تمام دے او زۀ هيڅ عذر او حجت نۀ لرم او که تۀ څه را نۀ کړې د لرلو توان يې نۀ لرم، د ځان د ساتلو وس نۀ لرم مګر دا چې تۀ مې اوساتې، اے خدايه! تا ته پناه درو‌ړم له دې چې ستا په شتمنۍ کښې تش لاسے شم، ستا د هدايت په رڼا کښې ګمراه شم، او ستا د قدرت په پنا کښې راباندې ظلم وشي او ستا له اختيار او واک سره سره مې څوک خوار کړي. اے خدايه! هغه ارزښتناکې پيرزوينې چې له ما يې اخلې او هغه امانتونه چې له ما يې ستنوې په هغو کښې له ټولو وړومبے څيز دې زما روح وټاکۀ. اے خدايه! تا ته پناه وړوو له دې چې له اوامرو دې وغړيږوو او له دينه دې اوځو يا راباندې نفساني خواهشات لاسبري شي چې ستا له هدايته سرغړونه وکړوو.

## [ ۲۱٦ ]

وَمِنْ خُطْبَة لَهُ بِصفّينَ

أَمَّا بَعْدُ، فَقَدْ جَعَلَ اللهُ لي عَلَيْكُمْ حَقّاً بِوِلاَيَةِ أَمْرِكُمْ، وَلَكُمْ عَلَيَّ مِنَ الْحَقِّ مِثْلُ الَّذي لي عَلَيْكُمْ. فَالْحَقُّ أَوْسَعُ الأَشْيَاءِ في التَّوَاصُفِ، وَأَضْيَقُهَا في التَّنَاصُفِ. لاَيَجْري لأَحَد إِلاَّ جَرَى عَلَيْهِ، وَلاَ يَجْري عَلَيْهِ إِلاَّ جَرَى لَهُ، وَلَوْ كَانَ لأَحَد أَنْ يَجْرِيَ لَهُ وَلاَ يَجْرِيَ عَلَيْهِ، لَكَانَ ذلِكَ خَالِصاً للهِ سُبْحَانَهُ دُونَ خَلْقِهِ، لِقُدْرَتِهِ عَلَى عِبَادِهِ، وَلِعَدْلِهِ في كُلِّ مَا جَرَتْ عَلَيْهِ صُرُوفُ قَضَائِهِ، وَلكِنَّهُ جَعَلَ حَقَّهُ عَلَى الْعِبَادِ أَنْ يُطيعُوهُ، وَجَعَلَ جَزَاءَهُمْ عَلَيْهِ مُضَاعَفَةَ الثَّوَابِ تَفَضُّلاً مِنْهُ، وَتَوَسُّعاً بِمَا هُوَ مِنَ الْمَزيدِ أَهْلُهُ.

حَقُّ الْوَالي وَحَقُّ الرَّعِيَّة: ثُمَّ جَعَلَ ـ سُبْحَانَهُ ـ مِنْ حُقُوقِهِ حُقُوقاً افْتَرَضَهَا لِبَعْضِ النَّاسِ عَلَى بَعْض، فَجَعَلَهَا تَتَكَافَأُ في وُجُوهِهَا، وَيُوجِبُ بَعْضُهَا بَعْضاً، وَلاَ يُسْتَوْجَبُ بَعْضُهَا إِلاَّ بِبَعْض. وَأَعْظَمُ مَا افْتَرَضَ سُبْحَانَهُ مِنْ تِلْكَ الْحُقُوقِ حَقُّ الْوَالي عَلَى الرَّعِيَّةِ، وَحَقُّ الرَّعِيَّةِ عَلَى الْوَالي، فَريضَةً فَرَضَهَا اللهُ سُبْحَانَهُ لِكُلّ عَلَى

## ﴿دوه سوه شپاړسمه خطبه﴾

(د صفين په دښته کښې د امام يوه وينا)

### اجتماعي حقوق

د پالونکي له ستائنې وروسته! پاک خداے ما ته په تاسو باندې د حکومت او ولايت د امر له مخې حق راکړے دے او تاسو ته يې هم زما په شان په ما باندې حق درکړے دے نو حق له دې ډېر پراخه دے چې صفت يې اوشي خو د عمل په وخت ډېرې تنګسې لري.

حق که د چا په ګټه اجرا شي يوه ورځ به د هغۀ په تاوان هم استعمالېږي. اوکه حق د چا په ګټه استعمالېږي چې تاوان اونۀ لري نو دا يواځې له پاک خداے سره مخصوص دے. نۀ له نورو مخلوقاتو سره، ځکه چې هغه په هغه څه وسيال دے او ټولې فېصلې يې په حق او انصاف ولاړې دي. خو خداے تعالی په بندګانو خپل حق، خپل اطاعت ټاکلے دے او د دې جزا يې څو چنده ثواب، دا د هغه فضل او ښندنې له مخه دي چې غواړي خپلو بندګانو ته يې ورکړي.

### د ولي (رهبر) او ولس په يو بل باندې حقوق

نو خداے تعالی خپل ځينې حقوق د ځينو کسانو لپاره هم واجب کړي دي، او هغه يې برابر کړي دي چې يو حق بل حق واجبوي او تر هغې يو حق نۀ واجبيږي تر څو چې بل حق له ځان سره ونۀ لري. په الهي حقوقوکښې تر ټولو لوے حق په ولس باندې د رهبر او والي حق او په لاربنود د ولس حق دے. دا داسې واجب حقوق دي چې خداے پاک په دواړو باندې لازم کړي دي او هغه يې د ولس او رهبر د پيوستون او د

كُلّ، فَجَعَلَهَا نظَاماً لأُلْفَتهمْ، وَعزّاً لدينهمْ، فَلَيْسَتْ تَصْلُحُ الرَّعيَّةُ إلاَّ بصَلاَحِ الْوُلاَة، وَلاَ تَصْلُحُ الْوُلاَةُ إلاَّ باسْتقَامَة الرَّعيَّة. فَإذا أَدَّت الرَّعيَّةُ إلَى الْوَالي حَقَّهُ، وَأَدَّى الْوَالي إلَيْهَا حَقَّهَا، عَزَّ الْحَقُّ بَيْنَهُمْ، وَقَامَتْ مَنَاهجُ الدِّين، وَاعْتَدَلَتْ مَعَالمُ الْعَدْل، وَجَرَتْ عَلَى أَذْلاَلهَاالسُّنَنُ، فَصَلَحَ بذلكَ الزَّمَانُ، وَطُمعَ في بَقَاء الدَّوْلَة، وَيَئسَتْ مَطَامعُ الاَعْدَاء. وَإذَا غَلَبَت الرَّعيَّةُ وَاليَهَا، أَوْ أَجْحَفَ الْوَالي برَعيَّته، اخْتَلَفَتْ هُنَالكَ الْكَلمَةُ، وَظَهَرَتْ مَعَالمُ الْجَوْر، وَكَثُرَ الادْغَالُ في الدِّين، وَتُركَتْ مَحَاجُّ السُّنَن، فَعُملَ بالْهَوَى، وَعُطِّلَت الاَحْكَامُ، وَكَثُرَتْ علَلُ النُّفُوس، فَلاَ يُسْتَوْحَشُ لعَظيم حَقٍّ عُطِّلَ، وَلاَ لعَظيم بَاطلٍ فُعلَ! فَهُنَالكَ تَذلُّ الاَبْرَارُ، وَتَعزُّ الاَشْرَارُ، وَتَعْظُمُ تَبعَاتُ الله عنْدَ الْعبَاد. فَعَلَيْكُمْ بالتَّنَاصُح في ذلكَ، وَحُسْن التَّعَاوُن عَلَيْه، فَلَيْسَ أَحَدٌ ـ وَإن اشْتَدَّ عَلَى رضَى الله حرْصُهُ، وَطَالَ في الْعَمَل اجْتهَادُهُ ـ ببَالغٍ حَقيقَةَ مَا اللهُ سُبْحَانَهُ أَهْلُهُ منَ الطَّاعَة لَهُ، وَلكنْ منْ وَاجب حُقُوق الله عَلَى العبَاد النَّصيحَةُ بمَبْلَغ جُهْدهمْ، وَالتَّعَاوُنُ عَلَى إقَامَة الْحَقِّ بَيْنَهُمْ. وَلَيْسَ امْرُؤٌ ـ وَإنْ عَظُمَتْ في الْحَقِّ مَنْزلَتُهُ، وَتَقَدَّمَتْ في الدِّين فَضيلَتُهُ ـ بفَوْق أَنْ يُعَانَ عَلَى مَا حَمَّلَهُ اللهُ منْ حَقِّه. وَلاَ امْرُؤٌ ـ وَإنْ صَغَّرَتْهُ النُّفُوسُ، وَاقْتَحَمَتْهُ الْعُيُونُ ـ بدُون أَنْ يُعينَ عَلَى ذلكَ أَوْ يُعَانَ عَلَيْه.

فَأَجَابَهُ عَلَيْه السَّلاَمُ رَجُلٌ منْ أَصْحَابه بكَلاَمٍ طَويلٍ يُكْثرُ فيه الثَّنَاءَ عَلَيْه وَيَذْكُرُ سَمْعَهُ وَطَاعَتَهُ لَهُ. فَقَالَ عَلَيْه السَّلاَمُ: إنَّ منْ حَقِّ مَنْ عَظُمَ جَلاَلُ الله في نَفْسه، وَجَلَّ مَوْضعُهُ منْ قَلْبه، أَنْ يَصْغُرَ عنْدَهُ ـ لعظَم ذلكَ ـ كُلُّ مَا سوَاهُ، وَإنَّ أَحَقَّ مَنْ كَانَ كَذلكَ لَمَنْ عَظُمَتْ نعْمَةُ الله عَلَيْه، وَلَطُفَ إحْسَانُهُ إلَيْه، فَإنَّهُ لَمْ تَعْظُمْ نعْمَةُ الله عَلَى أَحَدٍ إلاَّ ازْدَادَ حَقُّ الله عَلَيْه عظَماً، وَإنَّ منْ أَسْخَف حَالاَت الْوُلاَة عنْدَ صَالح النَّاس، أَنْ يُظَنَّ بهمْ حُبُّ الْفَخْر، وَيُوضَعَ أَمْرُهُمْ عَلَى الْكبْر.وَقَدْ كَرهْتُ أَنْ يَكُونَ جَالَ في ظَنِّكُمْ أَنِّي أُحبُّ الاطْرَاءَ، وَاسْتمَاعَ الثَّنَاء، وَلَسْتُ ـ بحَمْد الله ـ كَذلكَ، وَلَوْ كُنْتُ أُحبُّ أَنْ يُقَالَ ذلكَ لَتَرَكْتُهُ انْحطَاطاً لله

دين د عزت سبب ګرځولي دي. نو ولس تر هغې نۀ اصلاح کېږي تر څو چارواکي اصلاح نۀ شي او چارواکي نۀ اصلاح کېږي مګر دا چې خلق سمې چارې خپلې کړي. اوس نو که خلق د چارواکي حق ادا کړي او چارواکي د ولس نو په داسې ټولنه کښې حق عزتمن کېږي. او د دين لارې ښکاره، د عدالت نښې ټينګې او د پيغمبراکرمﷺ سنت به پلې شي. نو زمانه به داسې صالحه او سمه شي چې ولس به د حکومت دوام ته هيله مند او دښمن به له خپلو ارمانونو نهيلي او نااميده شي. خو که خلق په چارواکي تېرے وکړي يا چارواکے په خلقو ظلم وکړي اتحاد ختمېږي او د ظلم نښې ښکاره کېږي.او په دين کښې دوکې او چلولونه پرېمانېږي. د پېغمبراکرمﷺ د سنتو د دودولو لارې پرېښودل کېږي او شهوت پرستي زياته، د دين احکام تعطيل او د نفس بيمارۍ زياتېږي. په داسې چاپېريال او ماحول کښې به نو خلق نۀ په دې انديښمن وي چې کوم لوے حق هېر کړې شي او نۀ په دې چې په ټولنه کښې لوے باطل دود شي.نو په داسې زمانه کښې به نېکان خوار او بدان پياوړي او عزتمن شي. او په بندګانو به د خداے سزا او عذاب لوے او دردناک شي. نو اے خلقو! يو بل ته نصيحت کوئ او د يو بل مرسته کوئ. دا سمه ده چې هيڅوک د خداے پاک د اطاعت حق لکه څنګه چې ښائي نۀ شي ادا کولې (که څه هم د خداے د رضا لاسته راوړلو ته ډېر لېواله وي او د بندګۍ په کار کښې ډېره هڅه وکړي) خو هر چا ته پکار دي چې د خپل وس مطابق د خداے پاک حقوق په ځاے کړي.ځکه چې د بادار يو حق او واجب په بندګانو دا دے چې د خپل توان مطابق نصحيت وکړي، حق قائم کړي،او له يو بل سره مرسته وکړي. که د چا قدر او مقام په حق کښې هر څومره لوړ وي او په دين کښې يې ارزښت هر څومره زيات وي بايد د حق په ترسره کولو کښې مرسته وکړي او هيڅوک که څه هم خلق يې وړوکے اوګڼي او په ټيټه سترګه ورته ګوري تر دې وړوکے نۀ دے چې له چا سره د حق په کولو کښې مرسته وکړي. يا يو بل کس د هغۀ مرستې ته راودانګي.(په دې وخت کښې د امام يو ملګرے پاڅېدۀ او په اوږدو خبرو سره يې د امام ستائنه وکړه. او د امام د اطاعت او د خبرې د اورېدلو يادونه يې وکړه بيا امام وفرمايل:) د چا په زړۀ کښې چې د خداے پاک عظمت لوے او په نفس کښې الهي مقام لوړ دے ورسره ښائي چې بې له خدايه هر څه واړۀ اوګڼي. او تر هغۀ وړ هغه کس دے چې د خداے زياتې پېرزوينې پرې شوې دي او د خداے پاک د احسان په دسترخوان ناست دے. ځکه چې په هيچا د خداے پاک نعمتونه نۀ پرېمانه کېږي مګر دا چې د خداے پاک حقوق پرې هم زيات شي. اے خلقو! د صالحانو په نزد د واکمنانو تر ټولو سپک حالات دا دي چې ګمان وکړي هغوي د غوره مالۍ او چاپلوسۍ شوقيان دي او د هغوي واکمني په کبر او غرور ولاړه ده. او زما بالکل نۀ خوښېږي چې ستاسو په خيال کښې هم راشي چې زۀ په خپل تعريف خوشحالېږم. او د خپلو تعريفونو اورېدل غواړم، د خداے شکر دے چې زۀ داسې نۀ يم او که چاپلوسی او تعريف می خوښ وې هغه به می پرېښی وو د پاک خداے

سُبْحَانَهُ عَنْ تَناوُلِ مَا هُوَ أَحَقُّ بِه مِنَ الْعَظَمَةِ وَالْكِبْرِيَاءِ.وَرُبَّمَا اسْتَحْلَى النَّاسُ الثَّنَاءَ بَعْدَ الْبَلاَءِ، فَلاَ تُثْنُوا عَلَيَّ بِجَمِيلِ ثَنَاءٍ، لاِ خْرَاجِي نَفْسِي إِلَى اللهِ وَ إِلَيْكُمْ مِنَ التَّقِيَّةِ فِي حُقُوقٍ لَمْ أَفْرُغْ مِنْ أَدَائِهَا، وَفَرَائِضَ لاَ بُدَّ مِنْ إِمْضَائِهَا، فَلاَ تُكَلِّمُونِي بِمَا تُكَلَّمُ بِهِ الْجَبَابِرَةُ، وَلاَ تَتَحَفَّظُوا مِنِّي بِمَا يُتَحَفَّظُ بِهِ عِنْدَ أَهْلِ الْبَادِرَةِ، وَلاَ تُخَالِطُونِي بِالْمُصَانَعَةِ، وَلاَ تَظُنُّوا بِي اسْتِثْقَالاً فِي حَقٍّ قِيلَ لِي، وَلاَ الْتِمَاسَ إِعْظَامٍ لِنَفْسِي، فَإِنَّهُ مَنِ اسْتَثْقَلَ الْحَقَّ أَنْ يُقَالَ لَهُ أَوِ الْعَدْلَ أَنْ يُعْرَضَ عَلَيْهِ، كَانَ الْعَمَلُ بِهِمَا أَثْقَلَ عَلَيْهِ.فَلاَ تَكُفُّوا عَنْ مَقَالٍ بِحَقٍّ، أَوْ مَشُورَةٍ بِعَدْلٍ، فَإِنِّي لَسْتُ فِي نَفْسِي بِفَوْقِ أَنْ أُخْطِىءَ، وَلاَ آمَنُ ذلِكَ مِنْ فِعْلِي، إِلاَّ أَنْ يَكْفِيَ اللهُ مِنْ نَفْسِي مَا هُوَ أَمْلَكُ بِهِ مِنِّي. فَإِنَّمَا أَنَا وَأَنْتُمْ عَبِيدٌ مَمْلُوكُونَ لِرَبٍّ لاَ رَبَّ غَيْرُهُ، يَمْلِكُ مِنَّا مَا لاَ نَمْلِكُ مِنْ أَنْفُسِنَا، وَأَخْرَجَنَا مِمَّا كُنَّا فِيهِ إِلَى مَا صَلَحْنَا عَلَيْهِ، فَأَبْدَلَنَا بَعْدَ الضَّلاَلَةِ بِالْهُدَى، وَأَعْطَانَا الْبَصِيرَةَ بَعْدَ الْعَمَى.

په وړاندې د خاکسارۍ او د هغهٔ د سترتوب او عظمت په وجه چې یوائې له هغه سره ښایي. کله کله ځینې کسان په ځینو ځیزونو د ځان ستائنه خوښوي خو زهٔ له تاسو غواړم چې زما تعریفونه مه کوئ چې هغه دندې پوره کړې شم چې خداے پاک راپه غاړه کړې دي یا یې ستاسو په نسبت لرم، او پاتې حقوق ورکړې شم. او هغه فرائض او واجبات چې زما په غاړه دي او باید ادا یې کړم، نو زما هغه شان ستائنې او چاپلوسۍ مه کوئ څرنګه چې به د کبرجنو باچایانو کېدې او له ما داسې مه لرې کېږئ لکه څوک چې له قهرجنو کسانو لرې کېږي. او له ما سره ظاهري او لباسي چلن مه کوئ.او دا ګمان مه کوئ چې که د یو حق وړاندیز راته اوشي په ما به سخت او ګران تمام شي. او نهٔ زهٔ د دې غوښتونکے يم چې تعظیم مې اوشي. ځکه چې که په چا د حق اوريدل او د حق وړاندیز سخت وي هغه ته به په حق باندې عمل کول لا ګران وي. نو د حق له ویلو یا په عدل کښې د مشورې له کولو ډډه مه کوئ. ځکه چې زهٔ خپل ځان تر دې لوړ نهٔ ګڼم چې غلطي وکړم یا له غلطۍ خوندي وم [۱۲۷]، مګر دا چې خداے مې اوساتي. نو بې له شکه زهٔ او تاسو د خداے پاک بندګان او د هغهٔ بندګان یوو چې بې له هغه بل پالونکے نشته. او مونږ په خپل نفس هیڅ اختیار نهٔ لروو. مونږ یې له هغو حالاتو څخه چې پکښې وو راوویستو او هغوحالاتو ته یې ننه ایستو چې زمونږ په فائده وو، د ګمراهۍ په ځاے یې هدایت او د ړوند والي په ځاے یې بصارت راکړ.

[ ۲۱۷ ]

اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْتَعْدِيكَ عَلَى قُرَيْشٍ، فَإِنَّهُمْ قَدْ قَطَعُوا رَحِمِي، وَأَكْفَأُوا إِنَائِي، وَأَجْمَعُوا عَلَى مُنَازَعَتِي حَقّاً كُنْتُ أَوْلَى بِهِ مِنْ غَيْرِي، وَقَالُوا: أَلاَ إِنَّ فِي الْحَقِّ أَنْ تَأْخُذَهُ، وَفِي الْحَقِّ أَنْ تُمْنَعَهُ، فَاصْبِرْ مَغْمُوماً، أَوْ مُتْ مُتَأَسِّفاً. فَنَظَرْتُ فَإِذَا لَيْسَ لِي رَافِدٌ، وَلاَ ذَابٌّ وَلاَ مُسَاعِدٌ، إِلاَّ أَهْلَ بَيْتِي، فَضَنَنْتُ بِهِمْ عَنِ الْمَنِيَّةِ، فَأَغْضَيْتُ عَلَى الْقَذَى، وَجَرِعْتُ رِيقِي عَلَى الشَّجَا، وَصَبَرْتُ مِنْ كَظْمِ الْغَيْظِ عَلَى أَمَرَّ مِنَ الْعَلْقَمِ، وَآلَمَ لِلْقَلْبِ مِنْ حَزِّ الشِّفَارِ.

## ﴿ دوه سوه اولسمه خطبه ﴾

### له قریښو څخه ګیله

اے خدایه! په قریښو او ملګرو یې د برې لپاره له تا مرسته غواړم چې زما د خپلوۍ مزے یې اوشلوهٔ، او زما لوښے یې واړوهٔ. او ټولو په هغه حق کښې چې زهٔ یې تر نورو وړ وم زما په وړاندې غوړونه یوځاے کړل، او وې ویل:«که حق اخېستې شې نو وائې خله او که در یې نهٔ کړې نو په غم یې صبر وکړه او له ارمانه یې مړ شه» یو خوا بل خوا مې اوکتل نهٔ مې ملګرے وموندهٔ او نهٔ داسې څوک چې زما ملاتړ او دفاع وکړي، بې له خپلې کورنۍ. چې زړهٔ مې نهٔ غوښتل مرګ ته یې مخامخ کړم، نو په سترګه کښې مې ازغے ؤ خو سترګې مې پټې کړې او په مرۍ کښې مې هډوکے ښخ ؤ خو تریخ جام مې ګوټ ګوټ وڅښهٔ، او د خوابښینۍ په څښلو کښې مې تر حنظله د زیات تریخ څیز په تېرولو او په زړهٔ کښې مې د تېرو چړو له درده په زیات دردناکو حالاتو صبر وکړ!

سید رضي وائي:«دا خبره په تېرو خطبو کښې هم راغله خو له دې امله چې روایتونه یې مختلف دي نو بیا مې ذکر کړه»

[ ۲۱۸ ]

فِي ذِكْرِ السَّائِرِينَ إِلَى الْبَصْرَةِ لِحَرْبِهِ عَلَيْهِ السَّلاَمُ

فَقَدِمُوا عَلَى عُمَّالِي، وَخُزَّانِ بَيْتِ مَالِ الْمُسْلِمِينَ الَّذِي فِي يَدَيَّ، وَعَلَى أَهْلِ مِصْرٍ، كُلُّهُمْ فِي طَاعَتِي وَعَلَى

## ﴿ دوه سوه اتلسمه خطبه ﴾

«د هغو کسانو په باره کښې چې له امام سره د جنګ لپاره بصرې ته لاړل»

### د ناکثانو(تړون ماتوونکو) د خیانت په ډاګه کول

د مسلمانانو د بیت المال په چاروالو او خزانه والو یې چې زما په امر کښې وو او د هغه ښار په خلقو چې ټول زما په اطاعت او بیعت کښې وو

بَيْعَتِي. فَشَتَّتُوا كَلِمَتَهُمْ، وَأَفْسَدُوا عَلَيَّ جَمَاعَتَهُمْ، وَوَثَبُوا عَلَى شِيعَتِي، فَقَتَلُوا طَائِفَةً مِنْهُمْ غَدْراً، وَطَائِفَةٌ عَضُّوا عَلَى أَسْيَافِهِمْ، فَضَارَبُوا بِهَا حَتَّى لَقُوا اللهَ صَادِقِينَ.

[ ۲۱۹ ]

لَمَّا مَرَّ بِطَلْحَةَ وَعَبْدِالرَّحْمنِ بْنِ عَتَّابِ بْنِ أُسَيْدٍ
وَهُمَا قَتِيلانِ يَوْمَ الْجَمَلِ:

قَدْ أَصْبَحَ أَبُو مُحَمَّدٍ بِهذَا الْمَكَانِ غَرِيباً! أَمَا وَاللهِ لَقَدْ كُنْتُ أَكْرَهُ أَنْ تَكُونَ قُرَيْشٌ قَتْلَى تَحْتَ بُطُونِ الْكَوَاكِبِ! أَدْرَكْتُ وَتْرِي مِنْ بَنِي عَبْدِ مَنَافٍ، وَأَفْلَتَتْنِي أَعْيَانُ بَنِي جُمَحَ. لَقَدْ أَتْلَعُوا أَعْنَاقَهُمْ إِلَى أَمْرٍ لَمْ يَكُونُوا أَهْلَهُ فَوُقِصُوا دُونَهُ.

[ ۲۲۰ ]

سَالِكُ الطَّرِيقِ إِلَى اللهِ سُبْحَانَهُ

قَدْ أَحْيَا عَقْلَهُ، وَأَمَاتَ نَفْسَهُ، حَتَّى دَقَّ جَلِيلُهُ، وَلَطُفَ غَلِيظُهُ، وَبَرَقَ لَهُ لَامِعٌ كَثِيرُ الْبَرْقِ، فَأَبَانَ لَهُ الطَّرِيقَ، وَسَلَكَ بِهِ السَّبِيلَ، وَتَدَافَعَتْهُ الْأَبْوَابُ إِلَى بَابِ السَّلَامَةِ، وَدَارِ الْإِقَامَةِ، وَثَبَتَتْ رِجْلَاهُ بِطُمَأْنِينَةِ بَدَنِهِ فِي قَرَارِ الْأَمْنِ وَالرَّاحَةِ، بِمَا اسْتَعْمَلَ قَلْبَهُ، وَأَرْضَى رَبَّهُ.

[ ۲۲۱ ]

قَالَهُ بَعْدَ تِلَاوَتِهِ: ﴿أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُرُ * حَتَّى زُرْتُمُ الْمَقَابِرَ﴾

يَا لَهُ مَرَاماً مَا أَبْعَدَهُ! وَزَوْراً مَا أَغْفَلَهُ! وَخَطَراً مَا أَفْظَعَهُ! لَقَدِ اسْتَخْلَوْا مِنْهُمْ أَيَّ مُدَّكِرٍ، وَتَنَاوَشُوهُمْ مِنْ مَكَانٍ بَعِيدٍ! أَفَبِمَصَارِعِ آبَائِهِمْ يَفْخَرُونَ! أَمْ بِعَدِيدِ الْهَلْكَى يَتَكَاثَرُونَ! يَرْتَجِعُونَ مِنْهُمْ أَجْسَاداً خَوَتْ، وَحَرَكَاتٍ سَكَنَتْ، وَلَأَنْ يَكُونُوا عِبَراً، أَحَقُّ مِنْ أَنْ يَكُونُوا مُفْتَخَراً، وَلَأَنْ يَهْبِطُوا بِهِمْ جَنَابَ ذِلَّةٍ، أَحْجَى مِنْ أَنْ

يرغل وکړ، او هغوي يې تيت وپرک کړل او زما په تاوان يې پکښې اختلاف واچوۀ، زما په شيعه ؤ يې بريد وکړ ځينې يې په چل اوژل ځينې په وتلو تورو سره له دښمن سره اوجنګېدل چې په حق او صداقت سره خپل رب ته ورغلل.

## ﴿دوه سوه نولسمه خطبه﴾

(د هجرت په شپږ دېرشمه نېټه د جمل په جنګ کښې کله چې د طلحه[128] او عبدالرحمن بن عتاب[129] جنازې (مړي) ته اورسېدۀ نو وې فرمايل)

### د جمل په وژل شويو کسانو خواښيني

ابومحمد(طلحه) په دې مېدان کښې د غربت په حال کښې پاتے دے! په خداے قسم!هيڅکله مې زړۀ نۀ غوښتل چې د قريشو مړي د ستورو لاندې پراتۀ اوينم! خو څه وکړم ما د عبد مناف له بچيانو د هغوي د کړو بدله واخېسته خو د بني جُمَحَ سرغنه رانه اوتښتېدل، هغوي د داسې کار لپاره سرونه اوچت کړي وو چې هيڅکله يې وړ نۀ وو او هغې ته تر رسېدلو مخکې اوخپل شول.

## ﴿دوه سوه شلمه خطبه﴾

### د سالکانو وصف

د خداے د لارې لاروي خپل عقل ژوندے کړ او نفس يې اوواژۀ تر دې چې بدن يې کمزورے، نرے او زيږ اخلاق يې نرم شول هغه ته ځلانده رڼا اوځليده، او لاره يې ورروښانه کړه. او نبغې لارې ته يې راکاږۀ. او له يوۀ وره يې بل ور ته بوتلۀ تر دې چې د سلامتيا کور او تل پاتې سراې ته يې اورسوۀ، او ګامونه يې د بدن په ډاډ سره د امن او هوساينې په منزل کښې ټينګ شول، دا د دې انعام ؤ چې زړونه يې په سمه لاره وکارول او خپل رب يې راضي کړ.

## ﴿دوه سوه يويشتمه خطبه﴾

(د تکاثر سورت د وړومبي آيت له لوستلو وروسته چې فرمائي:«اوژلئ تاسو زياتو(مالونو) جمع کولو تر دې چې د قبرونو ليدو ته ورغلئ[130]» امام وفرمايل:)

اوګورئ په خپلو پلار نيکونو فخر کوُنکو او د (پدر من سلطان بود) د ويؤنکو منزل څومره له عقله لرے دے او دا زيارت کوونکي څومره غافله دي او خطره څومره لويه ده دا خلق له عبرتونو خالي شوې دي او له ډېر لرې په خپلو مړيو وياړونه کوي. نو آيا دوي د خپلو پلار نيکونو په مړو نازېږي يا د مړيو په زياتوالي وياړي. آيا د هغو مړو ستنېدل غواړي چې وراستۀ شوې دي او له حرکته وروسته غلې شوې دي. دا خو د عبرت لپاره ښۀ سامان دے تر دې چې د وياړ سبب وي. او د دوي په ليدلو خو

يَقُوموا بِهِمْ مَقَامَ عِزَّةٍ! لَقَدْ نَظَرُوا إِلَيْهِمْ بِأَبْصَارِ الْعَشْوَةِ، وَضَرَبُوا مِنْهُمْ فِي غَمْرَةِ جَهَالَةٍ، وَلَو اسْتَنْطَقُوا عَنْهُمْ عَرَصَاتِ تِلْكَ الدِّيَارِ الْخَاوِيَةِ، وَالرُّبُوعِ الْخَالِيَةِ، لَقَالَتْ: ذَهَبُوا فِي الاَرْضِ ضُلاَّلاً، وَذَهَبْتُمْ فِي أَعْقَابِهِمْ جُهَّالاً، تَطَؤُونَ فِي هَامِهِمْ، وَتَسْتَنْبِتُونَ فِي أَجْسَادِهِمْ، وَتَرْتَعُونَ فِيمَا لَفَظُوا، وَتَسْكُنُونَ فِيمَا خَرَّبُوا، وَإِنَّمَا الاَيَّامُ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ بَوَاكٍ وَنَوَائِحُ عَلَيْكُمْ. أُولئِكُمْ سَلَفُ غَايَتِكُمْ، وَفُرَّاطُ مَنَاهِلِكُمْ، الَّذِينَ كَانَتْ لَهُمْ مَقَاوِمُ الْعِزِّ، وَحَلَبَاتُ الْفَخْرِ، مُلُوكاً وَ سُوَقاً، سَلَكُوا فِي بُطُونِ الْبَرْزَخِ سَبِيلاً سُلِّطَتِ الاَرْضُ عَلَيْهِمْ فِيهِ، فَأَكَلَتْ مِنْ لُحُومِهِمْ، وَشَرِبَتْ مِنْ دِمَائِهِمْ، فَأَصْبَحُوا فِي فَجَوَاتِ قُبُورِهِمْ جَمَاداً لاَ يَنْمُونَ، وَضِمَاراً لاَ يُوجَدُونَ، لاَ يُفْزِعُهُمْ وُرُودُ الاَهْوَالِ، وَلاَ يَحْزُنُهُمْ تَنَكُّرُ الاَحْوَالِ، وَلاَ يَحْفِلُونَ بِالرَّوَاجِفِ، وَلاَ يَأْذَنُونَ لِلْقَوَاصِفِ، غُيَّباً لاَ يُنْتَظَرُونَ، وَشُهُوداً لاَ يَحْضُرُونَ، وَإِنَّمَا كَانُوا جَمِيعاً فَتَشَتَّتُوا، وَآلاَفاً فَافْتَرَقُوا، وَمَا عَنْ طُولِ عَهْدِهِمْ، وَلاَ بُعْدِ مَحَلِّهِمْ، عَمِيَتْ أَخْبَارُهُمْ، وَصَمَّتْ دِيَارُهُمْ، وَلكِنَّهُمْ سُقُوا كَأْساً بَدَّلَتْهُمْ بِالنُّطْقِ خَرَساً، وَبِالسَّمْعِ صَمَماً، وَبِالْحَرَكَاتِ سُكُوناً، فَكَأَنَّهُمْ فِي ارْتِجَالِ الصِّفَةِ صَرْعَى سُبَاتٍ. جِيرَانٌ لاَ يَتَأَنَّسُونَ، وَأَحِبَّاءُ لاَ يَتَزَاوَرُونَ، بَلِيَتْ بَيْنَهُمْ عُرَا التَّعَارُفِ، وَانْقَطَعَتْ مِنْهُمْ أَسْبَابُ الاخَاءِ، فَكُلُّهُمْ وَحِيدٌ وَهُمْ جَمِيعٌ، وَبِجَانِبِ الْهَجْرِ وَهُمْ أَخِلاَّءُ، لاَ يَتَعَارَفُونَ لِلَيْلٍ صَبَاحاً، وَلاَ لِنَهَارٍ مَسَاءً. أَيُّ الْجَدِيدَيْنِ ظَعَنُوا فِيهِ كَانَ عَلَيْهِمْ سَرْمَداً، شَاهَدُوا مِنْ أَخْطَارِ دَارِهِمْ أَفْظَعَ مِمَّا خَافُوا، وَرَأَوْا مِنْ آيَاتِهَا أَعْظَمَ مِمَّا قَدَّرُوا، فَكِلاَ الْغَايَتَيْنِ مُدَّتْ لَهُمْ إِلَى مَبَاءَةٍ، فَاتَتْ مَبَالِغَ الْخَوْفِ وَالرَّجَاءِ. فَلَوْ كَانُوا يَنْطِقُونَ بِهَا لَعَيُّوا بِصِفَةِ مَا شَاهَدُوا وَمَا عَايَنُوا، وَلَئِنْ عَمِيَتْ آثَارُهُمْ، وَ انْقَطَعَتْ أَخْبَارُهُمْ، لَقَدْ رَجَعَتْ فِيهِمْ أَبْصَارُ الْعِبَرِ، وَسَمِعَتْ عَنْهُمْ آذَانُ الْعُقُولِ، وَتَكَلَّمُوا مِنْ غَيْرِ جِهَاتِ النُّطْقِ، فَقَالُوا: كَلَحَتِ الْوُجُوهُ النَّوَاضِرُ، وَخَوَتِ الاَجْسَادُ النَّوَاعِمُ، وَلَبِسْنَا أَهْدَامَ الْبِلَى، وَتَكَاءَدَنَا ضِيقُ الْمَضْجَعِ، وَتَوَارَثْنَا الْوَحْشَةَ، وَتَهَكَّمَتْ عَلَيْنَا الرُّبُوعُ الصُّمُوتُ، فَانْمَحَتْ مَحَاسِنُ أَجْسَادِنَا، وَتَنَكَّرَتْ مَعَارِفُ صُوَرِنَا،

انسان ته د ناتوانۍ او ذلت یادبدل پکار دي.نه دا چې اویاړي پرې او فخر پرې وکړي. خو هغوي ته یې په لنډ فکرو سترګو اوکتل او د ناپوهۍ په څپو کښې ډوب شول. که له ورانو کورونو او له هستوګنو له تشو وطنونو یې د هغوي پوښتنه کړې وې ځواب به یې اوربدلے ؤ چې: هغوي خو ګمراهه په ځمکو کښې ښخ شول او تاسو ناپوهه په هغوي پسې روان یئ. د هغوي په کپریو ګرځئ او په هډونو یې کروندې کوئ، د هغوي په جوته کړیو شخوند وهئ او په ورانو کورونو کښې یې آباد شوي یئ. ستاسو او د هغوي په مېنځ کښې ورځې ستاسو په حال ژاړي هغوي تر تاسو مخکې د مرګ ستوني ته کوز شول او تر تاسو مخکې آخور ته اورسېدل. هغوي لاړل په داسې حال کښې چې دلته د ډېر عزت او لوړو ویاړونو خاوندان یا لوے لوے باچایان وو چې آخر برزخ ته ورروان شول،او د ځمکې غېږې ته کوز شول، ځمکې یې غوښه وخوړله او وینې یې وڅښله نو د قبرونو په ځمځو او غارونو کښې بې جانه او بې حاله پراتۀ دي بدنونه یې قبرونو پوشلې دي او په لټولو هم نۀ پېدا کیږي، نۀ د بوږنوونکو مصیبتونو غم لري، نۀ له وېروونکو زلزلو او نۀ له سختو فریادونو او د آسمان له غوراؤ او ګړزهاره، داسې ورک دي چې څوک یې طمعه قدرې نۀ کوي او داسې حاضر دي چې سترګو ته کېږي نه، پرون ټول یو ځاے وو خو نن دا دي خپارۀ شوي دي په یو بل مهربانه وو خو د بېلتانه څپیړې ووهل، نو د هغوي هېرول او د وطن خاموشي یې د وخت د اوږدوالي او د ځاے د لرې والي له امله نۀ ده بلکه د مرګ جامونه یې څښلې دي. خبرې کوونکي وو خو ګونګیان شول، اورېدونکي وو خوکاڼۀ شول او حرکت یې په سکون بدل شو، او داسې قرار یې موندلے ته به وائې بې هوشه په ځمکه پراتۀ او په ژور خوب اودۀ دي. ګاونډیان دي خو له یو بله نامانوسه، دوستان دي خو د یو بل کتنې ته نۀ ورځي، د دوستۍ تعلقات یې وراستۀ شوي او د ورورۍ مزي یې شلېدلي دي. او که څه هم په یو ځاے جمع دي خو بېل بېل دي. د یو بل ملګري دي خو له۱ یو بله لرې دي. نۀ د سحر لپاره ماښام پېژني او نۀ د ماښام لپاره سحر، د شپې او ورځې چې په کومې ګړۍ له دنیا تللي دي د هغوي لپاره د ابدیت ګړۍ ده. د هغې دنیا خطرې یې له هغه څه نه چې ویریدل ترې زیاتې وحشتناکې او بوږنوونکې لیدلې دي او نښې یې تر خپل تصوره زیاتې لوئې موندلې دي. دوي ته تر خپل اصلي هستوګن ځاے جنت یا دوزخ ته تر تلو پورې مهلت ورکړے شوے دے او د بیم او رجا یعنې ویرې یا امید دنیاګۍ وربرابره شوې ده. او که غوښتل یې هم چې هغه څه چې په سترګو یې لیدلې دي بیان کړي ژبې به یې ګونګۍ شوې وې، دا دي نو اوس یې نښې ورکې شوې او خبرونه یې هېر شوي دي خو د عبرت سترګې یې اوس همویني او زړونه یې خبرونه اوري چې په بله ژبه له مونږ سره غږیږي او وائي: ښکلي مخونه مو مړاوي او نازېدلي بدنونه مو خاورو اوخوړل، د وروستوالي جامه مو په تن ده او د قبر تنګۍ ستومانه کړي یوو، وېره او ترهه مو میراث شوې ده او د قبرخاموشه خونې مو په سر ړنګې شوې او د اندامونو او غړیو ښکلا یې

وَطَالَتْ في مَسَاكنِ الْوَحْشَةِ إقَامَتُنَا، وَلَمْ نَجِدْ منْ كَرْبٍ فَرَجاً، وَلاَ منْ ضِيقٍ مُتَّسَعاً! فَلَوْ مَثَّلْتَهُمْ بعَقْلِكَ، أَوْ كُشِفَ عَنْهُمْ مَحْجُوبُ الْغِطَاءِ لَكَ، وَقَدِ ارْتَسَخَتْ أَسْمَاعُهُمْ بِالْهَوَامِّ فَاسْتَكَّتْ، وَاكْتَحَلَتْ أَبْصَارُهُمْ بِالتُّرَابِ فَخَسَفَتْ، وَتَقَطَّعَتِ الاَلْسِنَةُ في أَفْوَاهِهِمْ بَعْدَ ذَلاَقَتِهَا، وَهَمَدَتِ الْقُلُوبُ في صُدُورِهِمْ بَعْدَ يَقَظَتِهَا، وَعَاثَ في كُلِّ جَارِحَةٍ منْهُمْ جَدِيدُ بِلًى سَمَّجَهَا، وَسَهَّلَ طُرُقَ الآفَةِ إلَيْهَا، مُسْتَسْلِمَاتٍ فَلاَ أَيْدٍ تَدْفَعُ، وَلاَ قُلُوبٌ تَجْزَعُ، لَرَأَيْتَ أَشْجَانَ قُلُوبٍ، وَأَقْذَاءَ عُيُونٍ، لَهُمْ في كُلِّ فَظَاعَةٍ صِفَةُ حَالٍ لاَ تَنْتَقِلُ، وَغَمْرَةٌ لاَ تَنْجَلِي. فَكَمْ أَكَلَتِ الاَرْضُ منْ عَزِيزِ جَسَدٍ، وَأَنِيقِ لَوْنٍ، كَانَ في الدُّنْيَا غَذِيَّ تَرَفٍ، وَرَبِيبَ شَرَفٍ! يَتَعَلَّلُ بِالسُّرُورِ في سَاعَةِ حُزْنِهِ، وَيَفْزَعُ إلَى السَّلْوَةِ إنْ مُصِيبَةٌ نَزَلَتْ بِهِ، ضَنّاً بِغَضَارَةِ عَيْشِهِ، وَشَحَاحَةً بِلَهْوِهِ وَلَعِبِهِ! فَبَيْنَا هُوَ يَضْحَكُ إلَى الدُّنْيَا وَتَضْحَكُ إلَيْهِ في ظِلِّ عَيْشٍ غَفُولٍ، إذْ وَطِىءَ الدَّهْرُ بِهِ حَسَكَهُ، وَنَقَضَتِ الاَيَّامُ، وَنَظَرَتْ إلَيْهِ الْحُتُوفُ منْ كَثَبٍ، فَخَالَطَهُ بَثٌّ لاَ يَعْرِفُهُ، وَنَجِيُّ هَمٍّ مَا كَانَ يَجِدُهُ، وَتَوَلَّدَتْ فِيهِ فَتَرَاتُ عِلَلٍ، آنَسَ مَا كَانَ بِصِحَّتِهِ، فَفَزِعَ إلَى مَا كَانَ عَوَّدَهُ الاَطِبَّاءُ منْ تَسْكِينِ الْحَارِّ بِالْقَارِّ، وَتَحْرِيكِ الْبَارِدِ بِالْحَارِّ، فَلَمْ يُطْفِىءْ بِبَارِدٍ إلاَّ ثَوَّرَ حَرَارَةً، وَلاَ حَرَّكَ بِحَارٍّ إلاَّ هَيَّجَ بُرُودَةً، وَلاَ اعْتَدَلَ بِمُمَازِجٍ لِتِلْكَ الطَّبَائِعِ إلاَّ أَمَدَّ منْهَا كُلَّ ذَاتِ دَاءٍ، حَتَّى فَتَرَ مُعَلِّلُهُ، وَذَهَلَ مُمَرِّضُهُ، وَتَعَايَا أَهْلُهُ بِصِفَةِ دَائِهِ، وَخَرِسُوا عَنْ جَوَابِ السَّائِلِينَ عَنْهُ، وَتَنَازَعُوا دُونَهُ شَجِيَّ خَبَرٍ يَكْتُمُونَهُ، فَقَائِلٌ [يَقُولُ] هُوَ لِمَا بِهِ، وَمُمَنٍّ لَهُمْ إيَابَ عَافِيَتِهِ، وَمُصَبِّرٌ لَهُمْ عَلَى فَقْدِهِ، يُذَكِّرُهُمْ أُسَى الْمَاضِينَ منْ قَبْلِهِ. فَبَيْنَا هُوَ كَذلِكَ عَلَى جَنَاحٍ منْ فِرَاقِ الدُّنْيَا، وَتَرْكِ الاَحِبَّةِ، إذْ عَرَضَ لَهُ عَارِضٌ منْ غُصَصِهِ، فَتَحَيَّرَتْ نَوَافِذُ فِطْنَتِهِ، وَيَبِسَتْ رُطُوبَةُ لِسَانِهِ، فَكَمْ منْ مُهِمٍّ منْ جَوَابِهِ عَرَفَهُ فَعَيَّ عَنْ رَدِّهِ، وَدُعَاءٍ مُؤْلِمٍ لِقَلْبِهِ سَمِعَهُ فَتَصَامَّ عَنْهُ، منْ كَبِيرٍ كَانَ يُعَظِّمُهُ، أَوْ صَغِيرٍ كَانَ يَرْحَمُهُ! وَإنَّ لِلْمَوْتِ لَغَمَرَاتٍ هِيَ أَفْظَعُ منْ أَنْ تُسْتَغْرَقَ بِصِفَةٍ، أَوْ تَعْتَدِلَ عَلَى عُقُولِ أَهْلِ الدُّنْيَا.

را ورانه کړي او مخونه مو د پېژندلو نۀ دي، په دغو بوږنوونکو کورونو کښې زمونږ هستوګنه اوږده ده، نۀ له ستونځو خلاصون شته او نۀ د قبر له تنګۍ تېښته شته. اوس نو اے خلقو! که تاسو په خپلو ذهنونو کښې هغوي انځور کړئ یا پردې لرې شي مړي به په داسې حال کښې اوینئ چې چینجو یې غوږونه خوړلي او سترګې یې د رنجو په ځاے له خاورو ډکې دي او هغه ژبې چې په فصاحت او بلاغت به غړېدلې ټوټې شوې دي، په سینو کښې زړونه له بیدارۍ وروسته اودۀ شوي او د بدن په ټولو اندامونو او غړیوکښې نوي وروستوالي ښکاره شوي او هغه یې بدرنګ کړي دي او په بدنونو یې د آفت لارې پرانېستې دي، اوس نو ټول دغو مصیبتونو ته تسلیم دي نۀ د دفاع لپاره لاسونه شته دي او نۀ د زارۍ لپاره زړونه، نو مړي به اوینې چې زړونه یې غمونو ستړې او سترګې یې له خس وخشاکو ډکې دي،د دوي په دغه غمجن حالت کښې بدلون نۀ راځي او سختۍ یې نۀ ختمېږي. افسوس! دې ځمکې څومره ښکلې بدنونه او ښائسته رنګونه اوخوړل چې په مزیدارو خوړو پالل شوي او د نعمتونو په غېږو کښې روزل شوي وو. هغه کسان چې د غم په ګړیو کښې به یې هم خوشحالۍ کولې او د مصیبت په وخت به یې ځانته د عېش او مشغولۍ سامان برابروۀ، دنیا په هغوي او هغوي په دنیا پورې خندل او په غافلوونکو عېشونو کښې پراتۀ وو خو دنیا په بوږنوونکو ازغیو هغوي اوځپل او زمانې یې ساز وسامان ورمات کړ.مرګ له نزدې هغوي ته ځېر شو او په داسې کړاو یې اخته کړل چې په خیال کښې یې هم نۀ راتلۀ، او په داسې بلا اخته شول چې مخینه یې نۀ لرله، دوي چې له سلامتیا سره بلد وو ډول ډول بیمارۍ او کمزورۍ پرې اولګېدې او ترهېدلي ویرېدلي په طبیبانو پسې لاړل او دارو درملو ته یې چې د تودوخې علاج په سړوخې او د سړوخې په تودوخې کوي مخه کړه. خو ګرمو دوایا نو یې ګرمي نوره هم زیاته کړه او سړو درملو نور هم سارۀ کړل. او د مزاج اعتدال یې پېدا نۀ کړ یواځې بیماري یې زیاته کړه.تر دې چې درمل کوونکي ستړي او تیمارداران لالهانده شول، او کورنۍ یې د بیمارۍ له دوامه ستړې او له برمه ولوېدله.، او د پوښتنه کوونکو له ځوابونو پاتې راغله، او په دې کښې یې اختلاف پېدا شو بیمار ته هغه غمجنونے خبر چې دوي ترې پټوۀ ووائي او که نه؟ یو به ویل تر مرګه به داسې وي او رغېږي نه، بل به ویل هیله ده چې ښۀ شي، او دریم به یې کورنۍ ته د صبر تلقین کوۀ او تېر خلق به یې وریادول، او په داسې حال کښې چې د مرګ په درشل او له دوستانو د بېلتانۀ په ور ولاړ ؤ ناڅاپه یې لوے غم او فشار مرۍ راونیوله او ذهن او فهم یې ورځیني واخېست،ژبه یې اوچه شوه او څومره خبرې یې چې په زړۀ وې په زړۀ پاتې شوې، او څومره دردناکې خبرې او بوږنوونکي غږونه یې اورېدل د داسې لویو کسانو له خولې چې دۀ یې عزت کوۀ یا د ماشومانو له خولې چې دۀ پرې رحم کوۀ،هر څه یې اورېدل خو ځواب یې نۀ شو ورکولے ځکه چې د مرګ سختۍ داسې دي چې له ډېرې سختۍ بیانېدې نۀ شي او تر دې اوچتې دي چې د دنیا د خلقو عقلونه پرې پوه شي.

## [ ۲۲۲ ]

وَمِنْ كَلَامٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ قَالَهُ عِنْدَ تِلَاوَتِه:
﴿رِجَالٌ لاَ تُلْهِيهِمْ تِجَارَةٌ وَلاَ بَيْعٌ عَنْ ذِكْرِ اللهِ﴾

إِنَّ اللهَ سُبْحَانَهُ جَعَلَ الذِّكْرَ جِلاَءً لِلْقُلُوبِ، تَسْمَعُ بِهِ بَعْدَ الْوَقْرَةِ، وَتُبْصِرُ بِهِ بَعْدَ الْعَشْوَةِ، وَتَنْقَادُ بِهِ بَعْدَ الْمُعَانَدَةِ، وَمَا بَرِحَ للهِ عَزَّتْ آلاَؤُهُ فِي الْبُرْهَةِ بَعْدَ الْبُرْهَةِ، وَفِي أَزْمَانِ الْفَتَرَاتِ، عِبَادٌ نَاجَاهُمْ فِي فِكْرِهِمْ، وَكَلَّمَهُمْ فِي ذَاتِ عُقُولِهِمْ، فَاسْتَصْبَحُوا بِنُورِ يَقَظَةٍ فِي الأَسْمَاعِ وَالأَبْصَارِ وَالأَفْئِدَةِ، يُذَكِّرُونَ بِأَيَّامِ اللهِ، وَيُخَوِّفُونَ مَقَامَهُ، بِمَنْزِلَةِ الأَدِلَّةِ فِي الْفَلَوَاتِ، مَنْ أَخَذَ الْقَصْدَ حَمِدُوا إِلَيْهِ طَرِيقَهُ، وَبَشَّرُوهُ بِالنَّجَاةِ، وَمَنْ أَخَذَ يَمِيناً وَشِمَالاً ذَمُّوا إِلَيْهِ الطَّرِيقَ، وَحَذَّرُوهُ مِنَ الْهَلَكَةِ، فَكَانُوا كَذلِكَ مَصَابِيحَ تِلْكَ الظُّلُمَاتِ، وَأَدِلَّةَ تِلْكَ الشُّبُهَاتِ.

وَإِنَّ لِلذِّكْرِ لَأَهْلاً أَخَذُوهُ مِنَ الدُّنْيَا بَدَلاً، فَلَمْ تَشْغَلْهُمْ تِجَارَةٌ وَلاَ بَيْعٌ عَنْهُ، يَقْطَعُونَ بِهِ أَيَّامَ الْحَيَاةِ، وَيَهْتِفُونَ بِالزَّوَاجِرِ عَنْ مَحَارِمِ اللهِ، فِي أَسْمَاعِ الْغَافِلِينَ، وَيَأْمُرُونَ بِالْقِسْطِ وَيَأْتَمِرُونَ بِهِ، وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيَتَنَاهَوْنَ عَنْهُ، فَكَأَنَّمَا قَطَعُوا الدُّنْيَا إِلَى الآخِرَةِ وَهُمْ فِيهَا، فَشَاهَدُوا مَا وَرَاءَ ذلِكَ، فَكَأَنَّمَا اطَّلَعُوا غُيُوبَ أَهْلِ الْبَرْزَخِ فِي طُولِ الإِقَامَةِ فِيهِ، وَحَقَّقَتِ الْقِيَامَةُ عَلَيْهِمْ عِدَاتِهَا، فَكَشَفُوا غِطَاءَ ذلِكَ لِأَهْلِ الدُّنْيَا، حَتَّى كَأَنَّهُمْ يَرَوْنَ مَا لاَ يَرَى النَّاسُ، وَيَسْمَعُونَ مَا لاَ يَسْمَعُونَ. فَلَوْ مَثَّلْتَهُمْ لِعَقْلِكَ فِي مَقَاوِمِهِمُ الْمَحْمُودَةِ، وَمَجَالِسِهِمُ الْمَشْهُودَةِ، وَقَدْ نَشَرُوا دَوَاوِينَ أَعْمَالِهِمْ، وَفَرَغُوا لِمُحَاسَبَةِ أَنْفُسِهِمْ، وَعَلَى كُلِّ صَغِيرَةٍ وَكَبِيرَةٍ أُمِرُوا بِهَا فَقَصَّرُوا عَنْهَا، أَوْ نُهُوا عَنْهَا فَفَرَّطُوا فِيهَا، وَحَمَّلُوا ثِقَلَ أَوْزَارِهِمْ ظُهُورَهُمْ، فَضَعُفُوا عَنِ الاسْتِقْلاَلِ بِهَا، فَنَشَجُوا نَشِيجاً، وَتَجَاوَبُوا نَحِيباً، يَعِجُّونَ إِلَى رَبِّهِمْ مِنْ مَقَامِ نَدَمٍ وَاعْتِرَافٍ، لَرَأَيْتَ أَعْلاَمَ هُدًى، وَمَصَابِيحَ دُجًى، قَدْ حَفَّتْ بِهِمُ الْمَلاَئِكَةُ، وَتَنَزَّلَتْ عَلَيْهِمُ السَّكِينَةُ، وَفُتِحَتْ لَهُمْ أَبْوَابُ السَّمَاءِ، وَأُعِدَّتْ

## ﴿دوه سوه دويشتمه خطبه﴾

(د نُور سورت د اوۀ دېرشم آيت «او سحر مانښام په هغو کورونو کښې د خدای تسبیح وائي هغه سړے چې نۀ یې کوم تجارت او نۀ معامله د خدای له یاده غافله کولې شي» په اورېدلو سره یې وفرمایل:)

### د خدای د یاد میوې

خدای تعالی خپل یاد د زړونو صیقل ګرځولے دے چې غوږونه له کڼوالي وروسته واوري او سترګې له ړوندوالي وروسته اویني.او انسان له دښمنۍ وروسته سرکېږدي.او لوے خدای چې لوړینې یې پرېمانه دي په مختلفو زمانو او د دوو پېغمبرانو د مېنځ په پړاوونو کښې داسې بندګان لرلي دي چې له هغوي سره یې د هغوي د افکارو (د زړۀ د غوږ) په وسیله د رازدارۍ خبرې کولې. او د عقلونو له لارې ورسره غږېدۀ. هغوي د خپلو سترګو، غوږونو او فکرونو په بېدارۍ سره د هدایت څراغونه بلول، د خدای پاک خاصې ورځې وریادولې او خلق یې د هغۀ له جلال او سترتوبه وېرول. هغوي د دښتو د لارښوونکو په شان دي چې څوک په سمه او مېنځ لاره روان شو ستائلو یې او د ژغورنې زیرے یې ورکوۀ. او څوک چې ښي یا کیڼ لاسته کږېږۀ غندۀ یې او د تباهۍ خبردارے یې ورکوۀ. او هغوي هماغه شان د تیرو څراغونه او د ګرنګونو نښانونه وو.

### د اهل ذکر صفات

بې شکه ځینو کسانو د خدای ذکر د دنیا په ځای غوره کړے دے. او د دنیا تجارت او پېر پلور (اخیستل او خرڅول) یې ترې نۀ شي غافله کولې. د خدای په یاد شپې سبا کوي او غافلان په خبرداریو سره د خدای له سزا ګانو وېروي، د عدل او انصاف امر کوي او په خپله پرې عمل کوي نور له بدیو منعې کوي او په خپله هم بد کارونه نۀ کوي. په دنیا کښې ژوند کوي خو تۀ به وائې دنیا یې پرېښې او آخرت یې خپل کړے دے. او بل جهان یې لیدلے دے، تۀ به وائې د برزخیانو له پټو حالاتو او اورېدې هستوګنې خبر دي، او تۀ به وائې قیامت د هغوي لپاره خپلې وعدې پوره کړې دي. دوي دنیا والو ته د هغې دنیا پردې هسکې کړې او وینې هغه څه چې نور یې نۀ وینې او اورې هغه څه چې نور یې نه اورې. که تۀ په خپل عقل کښې هغوي (اهل ذکر) انځور کړې او د هغوي ستائلي مقامات او ښکاره غونډې یې اوګورې، اوبه وینې چې هغوي خپل کړن پاڼې (عملنامې) پرانېستې او حساب کتاب ته چمتو دي چې د ټولو وټ کټ اوباسي. او په دې فکر کښې دي چې په کوم وړوکې یا لوے عمل کښې یې کوتاهي کړې ده. یا یې کومو چارو ته چې خدای پاک منعې کړې لاس وروړے دے. د ګناهانو دروند پېټي یې په اوږه اخیستې او د اوچتولو زور یې نشته او اوس یې په ژړا ژړا غریو شوے دے او له یو بل سره خبرې کوي. او د خپل پالونکي په در کښې په پښېمانۍ اعتراف کوي. هغوي د هدایت ښې او د تیرو ځلانده

لَهُمْ مَقَاعِدُ الْكَرَامَاتِ، فِي مَقْعَدٍ اطَّلَعَ اللهُ عَلَيْهِمْ فِيهِ، فَرَضِيَ سَعْيَهُمْ، وَحَمِدَ مَقَامَهُمْ، يَتَنَسَّمُونَ بِدُعَائِهِ رَوْحَ التَّجَاوُزِ، رَهَائِنُ فَاقَةٍ إِلَى فَضْلِهِ، وَأُسَارَى ذِلَّةٍ لِعَظَمَتِهِ، جَرَحَ طُولُ الْأَسَى قُلُوبَهُمْ، وَطُولُ الْبُكَاءِ عُيُونَهُمْ. لِكُلِّ بَابِ رَغْبَةٍ إِلَى اللهِ سُبْحَانَهُ مِنْهُمْ يَدٌ قَارِعَةٌ، يَسْأَلُونَ مَنْ لَا تَضِيقُ لَدَيْهِ الْمَنَادِحُ، وَلَا يَخِيبُ عَلَيْهِ الرَّاغِبُونَ. فَحَاسِبْ نَفْسَكَ لِنَفْسِكَ، فَإِنَّ غَيْرَهَا مِنَ الْأَنْفُسِ لَهَا حَسِيبٌ غَيْرُكَ.

[ ۲۲۳ ]

قَالَهُ عِنْدَ تِلَاوَتِه: ﴿يَا أَيُّهَا الْإِنْسَانُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ الْكَرِيمِ﴾

أَدْحَضُ مَسْؤُولٍ حُجَّةً، وَأَقْطَعُ مُغْتَرٍّ مَعْذِرَةً، لَقَدْ أَبْرَحَ جَهَالَةً بِنَفْسِهِ. يَا أَيُّهَا الْإِنْسَانُ، مَا جَرَّأَكَ عَلَى ذَنْبِكَ، وَمَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ، وَمَا آنَسَكَ بِهَلَكَةِ نَفْسِكَ؟ أَمَا مِنْ دَائِكَ بُلُولٌ، أَمْ لَيْسَ مِنْ نَوْمَتِكَ يَقَظَةٌ؟ أَمَا تَرْحَمُ مِنْ نَفْسِكَ مَا تَرْحَمُ مِنْ غَيْرِكَ؟ فَلَرُبَّمَا تَرَى الضَّاحِيَ مِنْ حَرِّ الشَّمْسِ فَتُظِلُّهُ، أَوْ تَرَى الْمُبْتَلَى بِأَلَمٍ يُمِضُّ جَسَدَهُ فَتَبْكِي رَحْمَةً لَهُ! فَمَا صَبَّرَكَ عَلَى دَائِكَ، وَجَلَّدَكَ عَلَى مُصَابِكَ، وَعَزَّاكَ عَنِ الْبُكَاءِ عَلَى نَفْسِكَ وَهِيَ أَعَزُّ الْأَنْفُسِ عَلَيْكَ! وَكَيْفَ لَا يُوقِظُكَ خَوْفُ بَيَاتِ نِقْمَةٍ، وَقَدْ تَوَرَّطْتَ بِمَعَاصِيهِ مَدَارِجَ سَطَوَاتِهِ!

فَتَدَاوَ مِنْ دَاءِ الْفَتْرَةِ فِي قَلْبِكَ بِعَزِيمَةٍ، وَمِنْ كَرَى الْغَفْلَةِ فِي نَاظِرِكَ بِيَقَظَةٍ، وَكُنْ لِلّهِ مُطِيعاً، وَبِذِكْرِهِ آنِساً، وَتَمَثَّلْ فِي حَالِ تَوَلِّيكَ عَنْهُ إِقْبَالَهُ عَلَيْكَ، يَدْعُوكَ إِلَى عَفْوِهِ، وَيَتَغَمَّدُكَ بِفَضْلِهِ، وَأَنْتَ مُتَوَلٍّ عَنْهُ إِلَى غَيْرِهِ. فَتَعَالَى مِنْ قَوِيٍّ مَا أَكْرَمَهُ! وَتَوَاضَعْتَ مِنْ ضَعِيفٍ مَا أَجْرَأَكَ عَلَى مَعْصِيَتِهِ! وَأَنْتَ فِي كَنَفِ سِتْرِهِ مُقِيمٌ، وَفِي سَعَةِ فَضْلِهِ مُتَقَلِّبٌ، فَلَمْ يَمْنَعْكَ فَضْلَهُ، وَلَمْ يَهْتِكْ عَنْكَ سِتْرَهُ، بَلْ لَمْ تَخْلُ مِنْ لُطْفِهِ مَطْرِفَ عَيْنٍ فِي نِعْمَةٍ يُحْدِثُهَا لَكَ، أَوْ

ځراغونه دي فرښتې ترې چاپېره دي او قراري پرې وربېږي.د آسمان ورونه ورته پرانستې دي او ارزښتمن مقامونه ورچمتو شوي دي. هغه مقامونه چې خداے پاک ورته په رحمت سره ګوري، له هڅو يې خوشحاله دي او منزلونه يې ستائي. دوي د دعا لاسونه پورته کوي او الهي بخښنه غواړي، او د خداے پاک د فضل او کرم اړمن او د هغهٔ د سترتوب او عظمت بنديان دي. اوږدو غمونو يې زړونه ژوبل کړي او پرله پسې ژړا ګانو يې له سترګو ويني رواني کړې دي. لاسونه يې د خداے پاک د هيلو دروازو ته اوږدهٔ دي او له هغه ذاته يې غواړي چې په ښندنه او بخشش کې يې کمښت نشته او غوښتونکي ترې نهيلي او نااميده نهٔ دي. نو اوس په خپل خاطر خپل حساب کتاب اوګوره ځکه چې د هر چا خپل حساب او کتاب دے.

## ﴿دوه سوه درويشتمه خطبه﴾

(د انفطار سورت د شپږم آيت «اے انسانه! څه شي تهٔ د خپل کريم پالونکي په وړاندې مغرور کړے يې» د تلاوت په وخت يې وفرمايل)

### کبر مه کوئ

اوخو ګورئ د ګناهکار انسان دليل څومره غلط دے، او غدر يې د هر غولېدلي تر توجيه بې بنياده، او خوشحالي يې د ناخبرۍ له امله ده. اے انسانه! رښتيا وايه څه څيز د ګناه کولو زړهٔ درکړے او د خپل پالونکي په وړاندې يې مغروره کړے او خپلې تباهۍ ته يې لېواله کړے يې؟ ايا ستا د دې مرض څه دوا شته او ستا د دې خوب کومه وېښتيا شته؟ هغه شان چې په نورو رحم کوې په ځان يې ولې نهٔ کوې؟. که يو کس د نمر په غرمو اوګورې سيورے پرې کوې او که په کړاو او بيمارۍ کښې يې اويني اوښکې پرې تويوې خوځه شي له خپلې بيمارۍ غافله کړے او په خپلو مصيبتونو باندې يې صابر کړے او په ځان باندې يې له ژړا منعې کړے يې؟ حال دا چې له ځانه هيڅهٔ ګران نهٔ دي ! او څرنګه د شپې مهال د مصيبت نازلېدو له وېرې نهٔ يې راوېښ کړے، چې په ګناه کښې ډوب او د خداے د قهر په منګولو کښې ګېر يې.

### داسې اوسه

نو د زړهٔ لټې او سستي دې په هوډ معالجه کړه او د سترګو خوب دې په بيدارۍ ختم کړه د خداے اطاعت ګذاره اوسه او د هغه ذات په ياد باندې زړهٔ خوږ ساته، او ياد لره چې که څه هم تا له خداے پاک مخ اړولے دے خو هغهٔ په هره شببه کښې تا ته مخ کړے دے،او تا خپلې بخښنې او عفوې ته رابولي او د فضل په جامې کښې دې نغاړي خو تهٔ له خداے پاک څخه غوښ شوے او نورو ته ګروهېدلے يې، نو څومره توانمن او لوے دے هغه خداے او څومره ناتوانه او بې وسه يې تهٔ چې د هغهٔ د ګناه جرات کوې، حال دا چې تهٔ يې په نعمتونو باندې اونمانځلې او په رحمتونو باندې يې وساتلې،نهٔ يې درځينې خپلې پېرزوينې سپمولې او نهٔ يې ستا د رازونو پردې شلولې دي بلکه د سترګو د رپ هومره هم د خداے پاک له نعمته نهٔ يې بې برخې شوے، خو تهٔ يا په نعمتونو کښې

سَيِّئَةٍ يَسْتُرُهَا عَلَيْكَ، أَوْ بَلِيَّةٍ يَصْرِفُهَا عَنْكَ، فَمَا ظَنُّكَ بِهِ لَوْ أَطَعْتَهُ! وَايْمُ اللهِ لَوْ أَنَّ هذِهِ الصِّفَةَ كَانَتْ فِي مُتَّفِقَيْنِ فِي الْقُوَّةِ، مُتَوَازِيَيْنِ فِي الْقُدْرِ، لَكُنْتَ أَوَّلَ حَاكِمٍ عَلَى نَفْسِكَ بِذَمِيمِ الأَخْلاَقِ، وَمَسَاوِىءِ الأَعْمَالِ.

وَحَقّاً أَقُولُ! مَا الدُّنْيَا غَرَّتْكَ، وَلكِنْ بِهَا اغْتَرَرْتَ، وَلَقَدْ كَاشَفَتْكَ الْعِظَاتِ، وَآذَنَتْكَ عَلَى سَوَاءٍ، وَلَهِيَ بِمَا تَعِدُكَ مِنْ نُزُولِ الْبَلاَءِ بِجِسْمِكَ، وَالنَّقْصِ فِي قُوَّتِكَ، أَصْدَقُ وَأَوْفَى مِنْ أَنْ تَكْذِبَكَ، أَوْ تَغُرَّكَ، وَلَرُبَّ نَاصِحٍ لَهَا عِنْدَكَ مُتَّهَمٌ، وَصَادِقٍ مِنْ خَبَرِهَا مُكَذَّبٌ، وَلَئِنْ تَعَرَّفْتَهَا فِي الدِّيَارِ الْخَاوِيَةِ، وَالرُّبُوعِ الْخَالِيَةِ، لَتَجِدَنَّهَا مُنْحُسْنِ تَذْكِيرِكَ، وَبَلاَغِ مَوْعِظَتِكَ، بِمَحَلَّةِ الشَّفِيقِ عَلَيْكَ، وَالشَّحِيحِ بِكَ! وَلَنِعْمَ دَارُ مَنْ لَمْ يَرْضَ بِهَا دَاراً، وَمَحَلُّ مَنْ لَمْ يُوَطِّنْهَا مَحَلاًّ! وَإِنَّ السُّعَدَاءَ بِالدُّنْيَا غَداً هُمُ الْهَارِبُونَ مِنْهَا الْيَوْمَ.

إِذَا رَجَفَتِ الرَّاجِفَةُ، وَحَقَّتْ بِجَلاَئِلِهَا الْقِيَامَةُ، وَلَحِقَ بِكُلِّ مَنْسَكٍ أَهْلُهُ، وَبِكُلِّ مَعْبُودٍ عَبَدَتُهُ، وَبِكُلِّ مُطَاعٍ أَهْلُ طَاعَتِهِ، فَلَمْ يُجْزَ فِي عَدْلِهِ وَقِسْطِهِ يَوْمَئِذٍ خَرْقُ بَصَرٍ فِي الْهَوَاءِ، وَلاَ هَمْسُ قَدَمٍ فِي الأَرْضِ إِلاَّ بِحَقِّهِ، فَكَمْ حُجَّةٍ يَوْمَ ذَاكَ دَاحِضَةٌ، وَعَلاَئِقِ عُذْرٍ مُنْقَطِعَةٌ! فَتَحَرَّ مِنْ أَمْرِكَ مَا يَقُومُ بِهِ عُذْرُكَ، وَتَثْبُتُ بِهِ حُجَّتُكَ، وَخُذْ مَا يَبْقَى لَكَ مِمَّا لاَ تَبْقَى لَهُ، وَتَيَسَّرْ لِسَفَرِكَ، وَشِمْ بَرْقَ النَّجَاةِ، وَارْحَلْ مَطَايَا التَّشْمِيرِ.

[ ٢٢٤ ]

يَتَبَرَّأُ مِنَ الظُّلْمِ

وَاللهِ لأَنْ أَبِيتَ عَلَى حَسَكِ السَّعْدَانِ مُسَهَّداً، أَوْ أُجَرَّ فِي الأَغْلاَلِ مُصَفَّداً، أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ أَلْقَى اللهَ وَرَسُولَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ظَالِماً لِبَعْضِ الْعِبَادِ، وَغَاصِباً لِشَيْءٍ مِنَ الْحُطَامِ، وَكَيْفَ أَظْلِمُ أَحَداً لِنَفْسٍ يُسْرِعُ إِلَى الْبِلَى قُفُولُهَا، وَيَطُولُ

ډوب يې، يا دې په ګناهونو سترګې پټې کړې شوې يا درځيني بلاګانې او مصيبتونه غربدلي دي. نو فکر وکړه چې که اطاعت دې کړے وې نو خبره به څنګه وه. په خدا ے قسم که دا چلند د داسې دوو کسانو په مينځ کښې ؤ چې په طاقت او وس کښې سره برابر وو (او يو پکې ته وې) نو ته به ورومبنے کس وې چې د خپل نفس په بد اخلاقۍ او د خپل کردار په بد عملۍ به دې فيصله وکړې وه او ځان به دې ملامته کړے ؤ.

## دنيا پېژندنه

سپينه خبره کوم، چې دنيا ته په ځان نۀ يې مئين کړے بلکه ته په دنيا مئين شوے يې. دنيا خو درته عبرتونه ربنکاره کړل اوغوږونه يې ښه درخلاص کړل اومساواتو ته يې دعوت کړې. هغه دنيا چې د بدن دردونه يې در په ګوته کړي او کمزورۍ يې در ښکاره کړې دې تر دې ډېره رښتيني ده چې تا ته دروغ ووائي يا دې وغولوي. بلکه ډېر داسې نصيحت کوونکي وو چې تا پرې باور اونۀ کړ او ډېر رښتيا ويوونکي وو چې تا دروغ اوګڼل! که دنيا له وران شويو ښارونو او ړنګ شويو کورونو له مخې اوپېژنې نو اوبه وينې چې هغه خو ډېره زړۀ سواندې ملګرې او صفا نصيحت ګره ده چې د يو مهربان دوست په شان ستا په تباهۍ اندېښمنه ده . دنيا خو د هغو کسانو لپاره ډېره ښه خونه ده چې تل پاتې ځاے يې ونۀ ګڼي او ښه ځاے دے د هغه چا لپاره چې خپل وطن يې ونۀ انګيرې. د دنيا له هستوګنو څخه د سبا (د قيامت) نېکبختان هغه دي چې نن ترې تښتي.

## انسان او قيامت

(په هغه ورځ) چې کله ځمکه ولړزېږي او د قيامت بوږنوونکي ښې ښکاره شي. او له هر دين سره د هغۀ منونکي، له هر معبود سره د هغۀ پرستش کوونکي او له هر واکوال سره د هغۀ فرمان وړونکي رايوځاے شي نو نۀ به په هوا کښې د عدل او انصاف په خلاف کومه سترګه اوغړولې شي او نۀ به د حق په خلاف کوم ګام پورته شي. په هغه ورځ به څومره دليلونه بيکاره شي او څومره عذرونه به اونۀ منل شي! نو داسې عذر وګوره چې اومنل شي او داسې دليل اولټوه چې محکم وي او له فاني دنيا څخه د آخرت لپاره توښه واخله او د آخرت د سفر لپاره ضروري سامان اماده کړه د ژغورنې د رڼا څرک اوينه او د سفر بارونه وتړه.

## ﴿دوه سوه څلوريشتمه خطبه﴾

(دا وينا په کوفه ښار کښې او د امام د خلافت په وخت ورکړلې شوې ده)

## د ظلم کاسه نسکوره ده

په خدا ے قسم که ټوله شپه د کيکرو په ازغو باندې اودۀ شم او په زولنو او پيکړو کښې راکښلے شم دا مې خوښه ده تر دې چې د قيامت په ورځ خدا ے پاک او د هغۀ رسولﷺ ته په داسې حال کښې ورشم چې په يو بنده مې ظلم کړے وي يا مې د چا مال تروړلے وي زۀ به د خپل هغه نفس لپاره په يو بنده څنګه ظلم وکړم چې ډېر زر فنا کېدونکے او ورستېدونکے دے او د اوږدې مودې لپاره په خاورو کښې

فِي الثَّرى حُلُولُهَا؟!

وَاللهِ لَقَدْ رَأَيْتُ عَقِيلاً وَقَدْ أَمْلَقَ حَتَّى اسْتَمَاحَنِي مِنْ بُرِّكُمْ صَاعاً، وَرَأَيْتُ صِبْيَانَهُ شُعْثَ [ الشُّعُورِ، غُبْرَ ] الأَلْوَانِ، مِنْ فَقْرِهِمْ، كَأَنَّمَا سُوِّدَتْ وُجُوهُهُمْ بِالْعِظْلِمِ، وَعَاوَدَنِي مُؤَكِّداً، وَكَرَّرَ عَلَيَّ الْقَوْلَ مُرَدِّداً، فَأَصْغَيْتُ إِلَيْهِ سَمْعِي، فَظَنَّ أَنِّي أَبِيعُهُ دِينِي، وَأَتَّبِعُ قِيَادَهُ، مُفَارِقاً طَرِيقِي، فَأَحْمَيْتُ لَهُ حَدِيدَةً، ثُمَّ أَدْنَيْتُهَا مِنْ جِسْمِهِ لِيَعْتَبِرَ بِهَا، فَضَجَّ ضَجِيجَ ذِي دَنَفٍ مِنْ أَلَمِهَا، وَكَادَ أَنْ يَحْتَرِقَ مِنْ مِيسَمِهَا، فَقُلْتُ لَهُ: ثَكِلَتْكَ الثَّوَاكِلُ، يَا عَقِيلُ! أَتَئِنُّ مِنْ حَدِيدَةٍ أَحْمَاهَا إِنْسَانُهَا لِلَعِبِهِ، وَتَجُرُّنِي إِلَى نَارٍ سَجَرَهَا جَبَّارُهَا لِغَضَبِهِ! أَتَئِنُّ مِنَ الأَذَى وَلاَ أَئِنُّ مِنْ لَظًى؟! وَأَعْجَبُ مِنْ ذلِكَ طَارِقٌ طَرَقَنَا بِمَلْفُوفَةٍ فِي وِعَائِهَا وَمَعْجُونَةٍ شَنِئْتُهَا كَأَنَّمَا عُجِنَتْ بِرِيقِ حَيَّةٍ أَوْ قَيْئِهَا، فَقُلْتُ: أَصِلَةٌ، أَمْ زَكَاةٌ، أَمْ صَدَقَةٌ؟ فَذلِكَ مُحَرَّمٌ عَلَيْنَا أَهْلَ الْبَيْتِ! فَقَالَ: لاَ ذَا وَلاَ ذَاكَ، وَلكِنَّهَا هَدِيَّةٌ، فَقُلْتُ: هَبِلَتْكَ الْهَبُولُ! أَعَنْ دِينِ اللهِ أَتَيْتَنِي لِتَخْدَعَنِي؟ أَمُخْتَبِطٌ أَنْتَ أَمْ ذُوجِنَّةٍ، أَمْ تَهْجُرُ؟ وَاللهِ لَوْ أُعْطِيتُ الأَقَالِيمَ السَّبْعَةَ بِمَا تَحْتَ أَفْلاَكِهَا، عَلَى أَنْ أَعْصِيَ اللهَ فِي نَمْلَةٍ أَسْلُبُهَا جُلْبَ شَعِيرَةٍ مَا فَعَلْتُهُ، وَإِنَّ دُنْيَاكُمْ عِنْدِي لأَهْوَنُ مِنْ وَرَقَةٍ فِي فَمِ جَرَادَةٍ تَقْضَمُهَا، مَا لِعَلِيٍّ وَلِنَعِيمٍ يَفْنَى، وَلَذَّةٍ لاَ تَبْقَى! نَعُوذُ بِاللهِ مِنْ سُبَاتِ الْعَقْلِ، وَقُبْحِ الزَّلَلِ، وَبِهِ نَسْتَعِينُ.

[ ۲۲۵ ]

وَمِنْ دُعَاءٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ

اللَّهُمَّ صُنْ وَجْهِي بِالْيَسَارِ، وَلاَ تَبْذُلْ جَاهِي بِالإِقْتَارِ، فَأَسْتَرْزِقَ طَالِبِي رِزْقِكَ، وَأَسْتَعْطِفَ شِرَارَ خَلْقِكَ، وَأُبْتَلَى بِحَمْدِ مَنْ أَعْطَانِي، وَأُفْتَتَنَ بِذَمِّ مَنْ مَنَعَنِي، وَأَنْتَ مِنْ وَرَاءِ ذلِكَ كُلِّهِ وَلِيُّ الإِعْطَاءِ وَالْمَنْعِ، إِنَّكَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ

هستوګنېدونکے دے.

## علوي عدل

په خداے قسم! ورور عقیل[۱۳۱] مې اولیدهٔ چې سخت بېوزله، ناچاره او نیستئ راخېستے ؤ او له ما یې اوغوښتل چې له بیت الماله یو صاع (درې کلو) غنم ورکړم.د هغهٔ ماشومان مې اولیدل چې له بېوزلئ یې وېښتهٔ خېرن او پرېشانه شوي او رنګونه یې داسې تور شوي وو لکه چا رنګولي وي. بیا بیا به راتلو او خپله غوښتنه به یې تکراروله او ما به ورته غوږ ایښودو نو فکر یې وکړ چې خپل دین به ورخرڅ کړم او د هغه په خوښه به عمل وکړم او له خپلې عادلانه طریقې به لاس واخلم، یوه ورځ مې سیخ په اور سور کړ او د هغهٔ بدن ته مې نږدې کړ چې وې ازمایم، نو داسې چغه یې ووهله لکه بیمار چې له درده وهي او نژدې وه چې بدن یې اوسوځي، نو ورته مې وویل: اے عقیله ! ژړېدونکے ښځې دربانديې وژړېږه د دې اوسپنې له تودوخې ځخه خو چغې وهې چې یو انسان په ټوکو ګرمه او سره کړې ده خو ما هغه اور ته رابلې چې جبار خداے په خپل قهر سور کړے دے. ته له دې کم اوره ژاړې او زهٔ د دوزخ له اوره اونهٔ ژاړم. او له دې حیرانوونکې دا چې یوه شپه یو کس (اشعث بن قیس) ماته راغے چې له حلوا ډک لوښې ورسره ؤ چې حلوا یې په شاتو کښې جوړه شوې وه، خوا مې داسې بده شوه او کرکه مې ترې راغله لکه چې د زهرجن مار په لاړو یا کانګو(اولټیانو) کښې یې جوړه کړې وې! هغه ته مې وویل: ډالۍ ده که زکات او که صدقه ده؟. زکات او صدقه خو په مونږ حرامه ده ځکه چې د پیغمبراکرم ﷺ اهل بیت یوو. وې ویل: نهٔ زکات دے نه صدقه، ډالۍ ده. ما ورته وویل: مور دې سر ته اوژاړه. آیا د دین له لارې راغلې یې چې ما وغولوې، که مازغهٔ دې خراب شوي دي، که پېریان دربانديې راغلي دي او که په اوتو بوتو سر شوے یې؟. په خداے قسم! که هفت اقلیم راته له هغه څه سره چې تر آسمانونو لاندې دي راکړې شي چې د یو مېږي له خولې څخه د غنم یو پوستکے په ناجائزه توګه واخلم، نو دا کار به ونهٔ کړم! او زما په نزد ستاسو دا ناولې دنیا د ملخ په خولې کښې تر ژولې پاڼې څخه هم سپکه ده! د علي له فاني نعمتونو او تېرېدونکو خوندونو سره څه کار؟ خداے ته پناه اوړم د عقل له اودهٔ کېدو او د لغزشونو له بدیو څخه او له هغه ذات څخه مرسته غواړم.

## ﴿ دوه سوه پنځویشتمه خطبه ﴾

### په ستونځواو مشکلاتو کښې له خدایه مرسته غوښتل

اے خدایه! په بې نیازۍ او شتمنۍ سره مې عزت اوساتې او په نیستۍ او بېوزلۍ سره مې د خلقو له سترګو مه غورځوې چې ستا له روزي خورو څخه روزي اوغواړم یا له بدکردارو څخه د عفوې او مهربانۍ غوښتنه وکړم! یا د هغه چا چې راته یې څه راکړل په ستائنې کولو مبتلا شم او یا د هغه چا چې یې بې برخې کړم په غندلو بوخت شم، حال دا چې تر پردې شاته ټوله ورکړه او نهٔ ورکړه ستا په اختیار کښې ده او تهٔ په هر

قَدِيرٌ.

[ ٢٢٦ ]

التَّنْفِيرُ مِنَ الدُّنْيَا

دَارٌ بِالْبَلاَءِ مَحْفُوفَةٌ، وَبِالْغَدْرِ مَعْرُوفَةٌ، لاَ تَدُومُ أَحْوَالُهَا، وَلاَ يَسْلَمُ نُزَّالُهَا. أَحْوَالٌ مُخْتَلِفَةٌ، وَتَارَاتٌ مُتَصَرِّفَةٌ، الْعَيْشُ فِيهَا مَذْمُومٌ، وَالاَمَانُ مِنْهَا مَعْدُومٌ، وَإِنَّمَا أَهْلُهَا فِيهَا أَغْرَاضٌ مُسْتَهْدَفَةٌ، تَرْمِيهِمْ بِسِهَامِهَا، وَتُفْنِيهِمْ بِحِمَامِهَا.

وَاعْلَمُوا عِبَادَ اللهِ أَنَّكُمْ وَمَا أَنْتُمْ فِيهِ مِنْ هذِهِ الدُّنْيَا عَلَى سَبِيلِ مَنْ قَدْ مَضَى قَبْلَكُمْ، مِمَّنْ كَانَ أَطْوَلَ مِنْكُمْ أَعْمَاراً، وَأَعْمَرَ دِيَاراً، وَأَبْعَدَ آثَاراً، أَصْبَحَتْ أَصْوَاتُهُمْ هَامِدَةً، وَرِيَاحُهُمْ رَاكِدَةً، وَأَجْسَادُهُمْ بَالِيَةً، وَدِيَارُهُمْ خَالِيَةً، وَآثَارُهُمْ عَافِيَةً، فَاسْتَبْدَلُوا بِالْقُصُورِ الْمُشَيَّدَةِ، وَالنَّمَارِقِ الْمُمَهَّدَةِ، الصُّخُورَ وَالاَحْجَارَ الْمُسَنَّدَةَ، وَالْقُبُورَ اللاَّطِئَةَ الْمُلْحَدَةَ، الَّتِي قَدْ بُنِيَ عَلَى الْخَرَابِ فِنَاؤُهَا، وَشُيِّدَ بِالتُّرَابِ بِنَاؤُهَا، فَمَحَلُّهَا مُقْتَرِبٌ، وَسَاكِنُهَا مُغْتَرِبٌ، بَيْنَ أَهْلِ مَحَلَّةٍ مُوحِشِينَ، وَأَهْلِ فَرَاغٍ مُتَشَاغِلِينَ، لاَ يَسْتَأْنِسُونَ بِالاَوْطَانِ، وَلاَ يَتَوَاصَلُونَ تَوَاصُلَ الْجِيرَانِ، عَلَى مَا بَيْنَهُمْ مِنْ قُرْبِ الْجِوَارِ، وَدُنُوِّ الدَّارِ، وَكَيْفَ يَكُونُ بَيْنَهُمْ تَزَاوُرٌ، وَقَدْ طَحَنَهُمْ بِكَلْكَلِهِ الْبِلَى، وَأَكَلَتْهُمُ الْجَنَادِلُ وَالثَّرَى؟! وَكَأَنْ قَدْ صِرْتُمْ إِلَى مَا صَارُوا إِلَيْهِ، وَارْتَهَنَكُمْ ذلِكَ الْمَضْجَعُ، وَضَمَّكُمْ ذلِكَ الْمُسْتَوْدَعُ، فَكَيْفَ بِكُمْ لَوْ تَنَاهَتْ بِكُمُ الاُمُورُ، وَبُعْثِرَتِ الْقُبُورُ؟!: ﴿هُنَالِكَ تَبْلُو كُلُّ نَفْس مَا أَسْلَفَتْ وَرُدُّوا إِلَى اللهِ مَوْلاَهُمُ الْحَقِّ وَضَلَّ عَنْهُمْ مَا كَانُوا يَفْتَرُونَ﴾.

څه باندې قادر يې.

## ﴿دوه سوه شپږویشتمه خطبه﴾

(د دنيا غندنه)

### دنيا پېژندنه

دنيا هغه کور دے چې مصيبتونه او بلاګانې پرې خورې دي او په تېر اېستلو مشهوره ده، نۀ يې حالات پايښت لري او نۀ يې خلق سلامت دي. ډول ډول بدلونونه او رنګارنګه پړاوونه لري، ژوند پکښې غندل شوے او امن و امان پکښې له مېنځه تللے دے، د دنيا خلق تل د مصيبتونو او بلاګانو غشو ته مخامخ دي چې په غشو يې ځپي او د مرګ ستونې ته يې کوزوي.

### له دنيا نه عبرت واخله

اے د خداے بندګانو! پوه شئ چې تاسو او څوک چې په دې دنيا کښې اوسېږي په هماغه لاره روان دي چې تېرو وهلې ده! د هغوي ژوند له تاسو اوږد، کورونه يې له تاسو ودان او نښې يې تر تاسو پرېمانه وې خو ناڅاپه يې غږونه غلي، دبدبې يې تمې شوې، بدنونه يې وراستۀ، وطنونه يې تش او نښې يې ورکې شوې! لوړې او پياوړې ماڼۍ، وېړ مسندونه او نرم بالښتونه يې په کاڼو او خښتو او له يو بل سره په لګېدلو قبرونو بدل کړل. هغه قبرونه چې ودانۍ يې په خرابۍ او خاورو باندې جوړې شوې دي. قبرونه يې سره لګېدلي خو هستوګن يې له يو بله لرې او مسافر دي. د وحشت په داسې وادېو کښې پراتۀ دي چې ظاهرا قرارې خو په حقيقت کښې ښکيلې دي. نۀ يې له دغه نوي وطن سره لګېږي او نۀ له ګاونډيانو سره تعلق لري. حال دا چې يو بل ته ډېر نژدې او څنګ په څنګ دي. په دې حال کښې به يو بل څه اوګوري چې وروستوالي چخنې کړې او کاڼو او خاورو خوړلې دي. تاسو به هم په دغه لاره ځئ چې دوي تللي دي. او د هغو کورونو مېلمانۀ کېږئ به چې دوي يې مېلمانۀ دي او قبرونه به مو په امانت واخلي. نو سوچ وکړئ چې هغه وخت به څنګه وي چې معاملې به مو ختمې شي او له قبرونو به راپاڅول شئ. «هغه وخت چې هر کس به په هغو عملونو چې مخکې يې لېږلې دي اوزمائېلې شي، او د خپل خداے په لور چې د هغوي حق مولا او سرپرست دے ستون شي، او هر دورغ چې اوبدي د هغوي لپاره به ګټه او لري»

[ ٢٢٧ ]

اللَّهُمَّ إِنَّكَ آنَسُ الاْنِسِينَ لاَوْلِيَائِكَ، وَأَحْضَرُهُمْ بِالْكِفَايَةِ لِلْمُتَوَكِّلِينَ عَلَيْكَ، تُشَاهِدُهُمْ فِي سَرَائِرِهِمْ، وَتَطَّلِعُ عَلَيْهِمْ فِي ضَمَائِرِهِمْ، وَتَعْلَمُ مَبْلَغَ بَصَائِرِهِمْ، فَأَسْرَارُهُمْ لَكَ مَكْشُوفَةٌ،

## ﴿دوه سوه اوویشتمه خطبه﴾

(اے خدايه! تۀ په خپلو بندګانو له هر چا زيات مئين او د توکل کوونکو د اړتياؤ پوره کوؤنکے يې، له پټو رازونو يې خبر او د زړۀ په خبرو يې پوه او له سترګو يې آګاه يې. رازونه يې تا ته ښکاره او زړونه يې ستا د ليدو

وَقُلُوبُهُمْ إِلَيْكَ مَلْهُوفَةٌ، إِنْ أَوْحَشَتْهُمُ الْغُرْبَةُ آنَسَهُمْ ذِكْرُكَ، وَإِنْ صُبَّتْ عَلَيْهِمُ الْمَصَائِبُ لَجَأُوا إِلَى الاسْتِجَارَةِ بِكَ، عِلْماً بِأَنَّ أَزِمَّةَ الْأُمُورِ بِيَدِكَ، وَمَصَادِرَهَا عَنْ قَضَائِكَ. اللَّهُمَّ إِنْ فَهِهْتُ عَنْ مَسْأَلَتِي، أَوْ عَمِيتُ عَنْ طِلْبَتِي، فَدُلَّنِي عَلَى مَصَالِحِي، وَخُذْ بِقَلْبِي إِلَى مَرَاشِدِي، فَلَيْسَ ذَاكَ بِنُكْرٍ مِنْ هِدَايَاتِكَ، وَلاَ بِبِدْعٍ مِنْ كِفَايَاتِكَ. اللَّهُمَّ احْمِلْنِي عَلَى عَفْوِكَ، وَلاَ تَحْمِلْنِي عَلَى عَدْلِكَ.

په ارمان داغداره دي. که مصيبت ورپيښ شي تا ته پناه اوړي او ستا درګاه ته مخ اړوي. ځکه چې پوهيږي د چارو واګې ستا په لاس کښې دي او ټول کارونه ستا په خوښه کيږي. اے خدايه! که له طلبه پاتې راشم او يا د لارې پوښتنه اونهٔ کړی شم ته راته د چارو د اصلاح لار راوښيه. او زړهٔ مې د کاميابۍ لور ته ورکاږه. ځکه چې دا کار ستا له لارښوونو لرې او ستا له بسيايني وريا نه دے. اے خدايه! ما په خپلې عفوې اومنه او له ماسره په خپل عدل چلند مه کوه!

[ ۲۲۸ ]

لِلّٰهِ بِلاَدُ فُلاَنٍ، فَلَقَدْ قَوَّمَ الْأَوَدَ، وَدَاوَى الْعَمَدَ، وَأَقَامَ السُّنَّةَ، وَخَلَّفَ الْفِتْنَةَ! ذَهَبَ نَقِيَّ الثَّوْبِ، قَلِيلَ الْعَيْبِ، أَصَابَ خَيْرَهَا، وَسَبَقَ شَرَّهَا، أَدَّى إِلَى اللهِ طَاعَتَهُ، وَاتَّقَاهُ بِحَقِّهِ، رَحَلَ وَتَرَكَهُمْ فِي طُرُقٍ مُتَشَعِّبَةٍ، لاَ يَهْتَدِي بِهَا الضَّالُّ، وَلاَ يَسْتَيْقِنُ الْمُهْتَدِي.

**﴿دوه سوه اته ويشتمه خطبه﴾**

د حضرت سلمان فارسي په ستائنه کښې چې د فتنې له پېدا کېدو مخکې وفات شو.[۱۳۲]

**د سلمان فارسيؓ ځانګړتياوې او خصوصيتونه**

خدا ے تعالی دې پلانکي (سلمان فارسي) ته خبر ورکړي، چې کږوالي يې نيغ او بيمارۍ يې معالجه کړې، او د پيغمبراکرمﷺ سنت يې قائم کړل او له فتنو مخکې تېر شو،لمنه يې پاکه وه او نيمګړتياوې يې کمې وې. د دنيا خېر يې واخېستهٔ او له شره يې تېر شو، د خپل پروردګار دندې يې ترسره کړې او د هغهٔ د پروا او تقوا حق يې ادا کړ. پخپله لاړ او خلق يې په داسې حال کښې پرېښودل چې په تيتو پرکو لارو روان وو چې نهٔ ګمراه خپله لاره پېژندله او نهٔ هدايت شوي د يقين منزل ته رسېدلي شوو.

[ ۲۲۹ ]

فِي وَصْفِ بَيْعَتِهِ بِالْخِلاَفَةِ وَقَدْ تَقَدَّمَ مِثْلُهُ بِأَلْفَاظٍ مُخْتَلِفَةٍ

وَبَسَطْتُمْ يَدِي فَكَفَفْتُهَا، وَمَدَدْتُمُوهَا فَقَبَضْتُهَا، ثُمَّ تَدَاكَكْتُمْ عَلَيَّ تَدَاكَّ الْإِبِلِ الْهِيمِ عَلَى حِيَاضِهَا يَوْمَ وِرْدِهَا، حَتَّى انْقَطَعَتِ النَّعْلُ، وَسَقَطَ الرِّدَاءُ، وَوُطِئَ الضَّعِيفُ، وَبَلَغَ مِنْ سُرُورِ النَّاسِ بِبَيْعَتِهِمْ إِيَّايَ أَنِ ابْتَهَجَ بِهَا الصَّغِيرُ، وَهَدَجَ إِلَيْهَا الْكَبِيرُ، وَتَحَامَلَ نَحْوَهَا الْعَلِيلُ، وَحَسَرَتْ إِلَيْهَا الْكِعَابُ.

**﴿دوه سوه نهه ويشتمه خطبه﴾**

(له امام سره د خلقو د بيعت د ورځې بيان)

**له امامؑ سره د خلقو د بيعت بيان**

تاسو به زما لاس بيعت ته پرانېستهٔ او ما به بندوهٔ، تاسو ځانته راکښلو او ما به راغونډوهٔ. بيا په ما باندې داسې رامات شوئ لکه تږي اوښان چې په آخور ورماتيږي.تردې، چې د پيزار تسمه مې اوشلېده، او عبا مې له اوږې پرېوته، ضعيفان چخښي شول، خلق له ما سره له بيعته دومره خوشحاله وو چې ماشومان خندانه، او بوډاګان د بيعت لپاره لړزانه راروان شول، بيماران د خپلوانو په اوږو سپارهٔ او جينکۍ هم له پردو راووتې.

[ ۲۳۰ ]

فِي مَقَاصِدَ أُخْرَى

فَإِنَّ تَقْوَى اللهِ مِفْتَاحُ سَدَادٍ، وَذَخِيرَةُ مَعَادٍ، وَعِتْقٌ مِنْ كُلِّ

**﴿دوه سوه دېرشمه خطبه﴾**

**د تقوا فضيلت**

د خدا ے پروا او تقوا د هر ور کنجي، د قيامت ذخيره،له هر مريتوب

مَلَكَة، وَنَجَاةٌ مِنْ كُلِّ هَلَكَة، بِهَا يَنْجَحُ الطَّالِبُ، وَيَنْجُو الْهَارِبُ، وَتُنَالُ الرَّغَائِبُ. فَاعْمَلُوا وَالْعَمَلُ يُرْفَعُ، وَالتَّوْبَةُ تَنْفَعُ، وَالدُّعَاءُ يُسْمَعُ، وَالْحَالُ هَادِئَةٌ، وَالاَقْلاَمُ جَارِيَةٌ. وَبَادِرُوا بِالاَعْمَالِ عُمُراً نَاكِساً، أَوْ مَرَضاً حَابِساً، أَوْ مَوْتاً خَالِساً.

فَإِنَّ الْمَوْتَ هَادِمُ لَذَّاتِكُمْ، وَمُكَدِّرُ شَهَوَاتِكُمْ، وَمُبَاعِدُ طِيَّاتِكُمْ، زَائِرٌ غَيْرُ مَحْبُوب، وَقِرْنٌ غَيْرُ مَغْلُوب، وَوَاتِرٌ غَيْرُ مَطْلُوب. قَدْ أَعْلَقَتْكُمْ حَبَائِلُهُ، وَتَكَنَّفَتْكُمْ غَوَائِلُهُ، وَأَقْصَدَتْكُمْ مَعَابِلُهُ، وَعَظُمَتْ فِيكُمْ سَطْوَتُهُ، وَتَتَابَعَتْ عَلَيْكُمْ عَدْوَتُهُ، وَقَلَّتْ عَنْكُمْ نَبْوَتُهُ، فَيُوشِكُ أَنْ تَغْشَاكُمْ دَوَاجِي ظُلَلِهِ وَاحْتِدَامُ عِلَلِهِ، وَحَنَادِسُ غَمَرَاتِهِ، وَغَوَاشِي سَكَرَاتِهِ، وَأَلِيمُ إِرْهَاقِهِ، وَدُجُوُّ أَطْبَاقِهِ، وَجُشُوبَةُ مَذَاقِهِ؛ فَكَأَنْ قَدْ أَتَاكُمْ بَغْتَةً فَأَسْكَتَ نَجِيَّكُمْ، وَفَرَّقَ نَدِيَّكُمْ، وَعَفَّى آثَارَكُمْ، وَعَطَّلَ دِيَارَكُمْ، وَبَعَثَ وُرَّاثَكُمْ، يَقْتَسِمُونَ تُرَاثَكُمْ، بَيْنَ حَمِيم خَاصٍّ لَمْ يَنْفَعْ، وَقَرِيب مَحْزُون لَمْ يَمْنَعْ، وَآخَرَ شَامِت لَمْ يَجْزَعْ.

فَضْلُ الْجِدّ: فَعَلَيْكُمْ بِالْجِدِّ وَالاجْتِهَادِ وَالتَّأَهُّبِ وَالاسْتِعْدَادِ وَالتَّزَوُّدِ فِي مَنْزِلِ الزَّادِ. وَلاَ تَغُرَّنَّكُمُ الدُّنْيَا كَمَا غَرَّتْ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ مِنَ الاُمَمِ الْمَاضِيَةِ، وَالْقُرُونِ الْخَالِيَةِ، الَّذِينَ احْتَلَبُوا دِرَّتَهَا، وَأَصَابُوا غِرَّتَهَا، وَأَفْنَوْا عِدَّتَهَا، وَأَخْلَقُوا جِدَّتَهَا، أَصْبَحَتْ مَسَاكِنُهُمْ أَجْدَاثاً، وَأَمْوَالُهُمْ مِيرَاثاً، لاَ يَعْرِفُونَ مَنْ أَتَاهُمْ، وَلاَ يَحْفِلُونَ مَنْ بَكَاهُمْ، وَلاَ يُجِيبُونَ مَنْ دَعَاهُمْ. فَاحْذَرُوا الدُّنْيَا فَإِنَّهَا غَرَّارَةٌ خَدُوعٌ، مُعْطِيَةٌ مَنُوعٌ، مُلْبِسَةٌ نَزُوعٌ، لاَ يَدُومُ رَخَاؤُهَا، وَلاَ يَنْقَضِي عَنَاؤُهَا، وَلاَ يَرْكُدُ بَلاَؤُهَا.

مِنْهَا فِي صِفَةِ الزُّهَّادِ: كَانُوا قَوْماً مِنْ أَهْلِ الدُّنْيَا وَلَيْسُوا مِنْ أَهْلِهَا، فَكَانُوا فِيهَا كَمَنْ لَيْسَ مِنْهَا، عَمِلُوا فِيهَا بِمَا يُبْصِرُونَ، وَبَادَرُوا فِيهَا مَا يَحْذَرُونَ، تَقَلَّبُ أَبْدَانُهُمْ بَيْنَ ظَهْرَانَيْ أَهْلِ الاْخِرَةِ، يَرَوْنَ أَهْلَ الدُّنْيَا يُعَظِّمُونَ مَوْتَ أَجْسَادِهِمْ وَهُمْ أَشَدُّ إِعْظَاماً لِمَوْتِ قُلُوبِ أَحْيَائِهِمْ.

آزادي، او له هر هلاکته ژغورنه ده. د پرهېزګارۍ په رڼا کښې هر غوښتونکے کامیاب، هر ویرېدونکے ژغورلے، او د هر هیله مند ارمان پوره کېدو نکے دے. اے خلقو! عمل کوئ چې عمل مو خدا ے پاک ته نزدې کوي او توبه ګټه درکوي او دعا مو اورېدل کېږي، آرامښت ټېنګېږي، او د فرښتو قلمونه چلېږي، نېکو چارو ته مخه کړئ مخکې له دې چې عمر درنه مخ واړوي یا مو بیماري راونیسي یا مو د مرګ غشي ښکار کړي.

## د مرګ یاد

مرګ مو د خوندونو ختموونکے، د شهوتونو تتوونکے،او له هدفونو او مقصدونو څخه مو لرې کوونکے دے. ناخوښ مېلمه، نۀ راپرځېدونکے سیال او داسې وژونکے دے چې د خون بها پوښتنه ترې نۀ کېږي. منګولې یې ستاسو په مرۍ باندې ښخې کړې او سختۍ یې پۀ تاسو باندې خپرې کړې او غشي یې درګوزار کړې دي. په تاسو یې قهر لوے او سخت او دښمني یې پرله پسې ده او غشي یې خطا نۀ ځي نزدې ده چې د مرګ سیورے، د دردونو سختۍ، د ځنکندن تیرې او سلګۍ، د سا وتلو بیهوشۍ، له بدنه د روح د وتلو کړاوونه، له دنیا د سترګو پټولو تیرې او بې خوندۍ مو راونیسي، نو ښائي چې ناڅاپه درباندې مرګ یرغل وکړي او خبرې مو غلې کړي، ډلې مو تیتې کړي نښې مو نابودې، کورونه مو تش، او میرات خوارۀ مو راپاڅوي.چې میراث مو اویشي. دغه میراث خوارۀ یا خو نزدې دوستان دي چې د مرګ په وخت کومه ګټه نۀ شي دررسولې یا غم ځپلې خپلوان چې مرګ مو نۀ شي تمبولے، یا هغه غندونکي او ملامتیان چې درباندې نۀ ژاړي.

## د نیکۍ سپارښتنه

نو کار کوئ او زیار اوباسئ، تیار او چمتو شئ. او د دنیا په ژوند کښې د آخرت توښه برابره کړئ.دنیا مو ونۀ غولوي. لکه چې د تېرو پیړیو قامونه او ستاسو پلار نیکونه یې اوغولول. هغوي چې دنیا یې ولوشله او د دنیا په غفلتونو اخته شول.او فرصتونه یې له لاسه ورکړل. او د دنیا تازه یې وراستۀ کړل. اوس نو د هغوي کورونه قبرونه شول او پانګې او مالونه یې د دۀ او هغۀ میراثونه شول. نۀ ورته له راتلونکو کسانو خبر دي او نه په ځان د ژړېدونکو پروا کوي او نۀ د چا غږ ته ځواب ویلے شي. اے خلقو! د دنیا (له مینې) ځان اوساتئ چې حیله ګره، غولوونکې او چالبازه ده. څه چې ورکوي بېرته یې اخلي او څه چې راغوندوي بېرته مو لغړوي. د دنیا مزې او خوندونه بې دوامه، سختۍ یې بې پایانه او غمونه او مصیبتونه یې نۀ ختمېدونکي دي.

## دنیا او زاهدان

زاهدان د همدې دنیا خلق دي خو دنیا پرسته نۀ دي په همدې نړۍ کښې اوسېږي خو د نړۍ پالو (دنیا پرستو) ناولتیا او ککړتیا نۀ لري، په پرانېستو سترګو او بصیرت سره عملونه کوي او د بدیو په پرېښودلو کښې له هر چا مخکې کېږي. بدنونه یې داسې زیار باسي او تګ و دو کوي لکه د آخرت په خلقو کښې چې وي. د دنیا خلقو ته ګوري چې د

[ ۲۳۱ ]

خَطَبَهَا بِذِي قَارٍ وَهُوَ مُتَوَجِّهٌ إِلَى الْبَصْرَةِ
وَذَكَرَهَا الْوَاقِدِيُّ فِي كِتَابِ الْجَمَلِ:

فَصَدَعَ بِمَا أُمِرَ بِهِ، وَبَلَّغَ رِسَالَةَ رَبِّهِ، فَلَمَّ اللهُ بِهِ الصَّدْعَ، وَرَتَقَ بِهِ الْفَتْقَ، وَأَلَّفَ بِهِ بَيْنَ ذَوِي الأَرْحَامِ، بَعْدَ الْعَدَاوَةِ الْوَاغِرَةِ فِي الصُّدُورِ، وَالضَّغَائِنِ الْقَادِحَةِ فِي الْقُلُوبِ.

[ ۲۳۲ ]

كَلَّمَ بِهِ عَبْدَ اللهِ بْنَ زَمْعَةَ وَهُوَ مِنْ شِيعَتِهِ وَذَلِكَ أَنَّهُ قَدِمَ عَلَيْهِ فِي خِلاَفَتِهِ يَطْلُبُ مِنْهُ مَالاً، فَقَالَ:

إِنَّ هذَا الْمَالَ لَيْسَ لِي وَلاَ لَكَ، وَإِنَّمَا هُوَ فَيْءٌ لِلْمُسْلِمِينَ، وَجَلْبُ أَسْيَافِهِمْ، فَإِنْ شَرِكْتَهُمْ فِي حَرْبِهِمْ كَانَ لَكَ مِثْلُ حَظِّهِمْ، وَإِلاَّ فَجَنَاةُ أَيْدِيهِمْ لاَ تَكُونُ لِغَيْرِ أَفْوَاهِهِمْ.

[ ۲۳۳ ]

بَعْدَ أَنْ أَقْدَمَ أَحَدُهُمْ عَلَى الْكَلاَمِ فَحُصِرَ

أَلاَ إِنَّ اللِّسَانَ بَضْعَةٌ مِنَ الإِنْسَانِ، فَلاَ يُسْعِدُهُ الْقَوْلُ إِذَا امْتَنَعَ، وَلاَ يُمْهِلُهُ النُّطْقُ إِذَا اتَّسَعَ، وَإِنَّا لَأُمَرَاءُ الْكَلاَمِ، وَفِينَا تَنَشَّبَتْ عُرُوقُهُ، وَعَلَيْنَا تَهَدَّلَتْ غُصُونُهُ.

فَسَادُ الزَّمَانِ: وَاعْلَمُوا رَحِمَكُمُ اللهُ أَنَّكُمْ فِي زَمَانٍ الْقَائِلُ فِيهِ بِالْحَقِّ قَلِيلٌ، وَاللِّسَانُ عَنِ الصِّدْقِ كَلِيلٌ، وَاللاَّزِمُ لِلْحَقِّ ذَلِيلٌ، أَهْلُهُ مُعْتَكِفُونَ عَلَى الْعِصْيَانِ، مُصْطَلِحُونَ عَلَى الادْهَانِ، فَتَاهُمْ عَارِمٌ، وَشَائِبُهُمْ آثِمٌ، عَالِمُهُمْ مُنَافِقٌ، وَقَارِئُهُمْ مُمَاذِقٌ، لاَيُعَظِّمُ صَغِيرُهُمْ كَبِيرَهُمْ، وَلاَ يَعُولُ غَنِيُّهُمْ فَقِيرَهُمْ.

بدنونو مرګ ورته لويه خبره ښکاري خو دوي ته د دنيا پرستو د زړونو مرګ لويه پېښه ښکاري.

## ﴿ دوه سوه يو د يرشمه خطبه ﴾

(دا وينا د هجرت په شپږ دېرشم کال د بصرې په لور د تګ په وخت په ذي قار سيمه کښې ورکړې شوې ده. او واقدي په «جمل»کتاب کښې راوړې ده)

### د پيغمبراکرمﷺ ځانګړتياوې او خصوصيتونه

رسول الله مبارکﷺ هغه څه چې امر ورته اوشو ښکاره کړل او د خپل پالونکي پېغامونه يې اورسول. هغهٔ ټولنيز او اجتماعي درزونه (په وحدت سره) ډک کړل او فاصلې او واټونه يې ختم کړل. او هغه وخت چې د دښمنۍ او کينو اورونه په زړونو کښې بل وو، په خپلوانو کښې يې يو زړهٔ والے راوستهٔ.

## ﴿ دوه سوه دوه د يرشمه خطبه ﴾

(عبدالله بن زمعه چې د امام يو ملګرے ؤ او مالي غوښتنه يې لرله امام ورته په ځواب کښې وفرمايل:)

### په بيت المال کښې احتياط

دا مال چې وينې، نهٔ زما دے او نهٔ ستا، له مسلمانانو راغونډې شوې ولجې او د غنيمت مالونه دي چې په خپلو تورو يې لاسته راوړې دي. که تهٔ په جهاد کښې د هغوي ملګرے وې،د هغوي په شان ونډه به دې لرله او که نهٔ وې نو د يو کس د لاس زيار او محنت د نورو د خولې نوړۍ نهٔ شي کېدې.

## ﴿ دوه سوه درې د يرشمه خطبه ﴾

(کله چې امام خپل خوريې جعده بن هبيره ته د خطبې لوستلو امر وکړ او د هغهٔ ژبه اونښته نو امام وفرمايل:)

### د اهل بيتوعليهم السلام فصاحت او بلاغت

خبر اوسئ! ژبه د انسان د وجود يوه ټوټه ده چې که انسان خبرو ته تيار نهٔ وي ژبه هم نهٔ خوځي، او که انسان خبرو ته تيار وي نو ژبه بيا وار نهٔ ورکوي. مونږ (اهلبيت) د سخن او کلام د نړۍ باچايان يوو. او د خبرو جرړې له مونږه خپرې شوې او ځانګو يې په مونږ باندې سيورے کړے دے.

### د ټولنې د پربوتو لاملونه او علتونه

خداے پاک دې په تاسو رحم وکړي تاسو په داسې زمانه کښې اوسېږئ چې د حق ويؤنکي کم دي او ژبې له رښتياؤ پټې، حق غوښتونکي سپک، او خلق په ګناه کښې او په ساز باز باندې يو شوي دي. ځوانان يې بد اخلاقه،بوډاګان يې ګناهکار، عالمان يې دوه مخي (منافقان)، او ويناوال يې غوړه مال (چاپلوس) دي.نهٔ يې ماشومان د لويو عزت کوي او نهٔ يې شتمنان د بېوزلو او غريبو مدد.

[ ٢٣٤ ]

رَوَى الْيَمَانِيُّ، عَنْ أَحْمَدَ بْنِ قُتَيْبَةَ، عَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ مَالِكِ بْنِ دِحْيَةَ، قَالَ: كُنَّا عِنْدَ أَمِيرِ الْمُؤْمِنِينَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ، فَقَالَ وَقَدْ ذُكِرَ عِنْدَهُ اخْتِلاَفُ النَّاسِ:

**إِنَّمَا فَرَّقَ بَيْنَهُمْ مَبَادِىءُ طِينِهِمْ، وَذلِكَ أَنَّهُمْ كَانُوا فِلْقَةً مِنْ سَبَخِ أَرْضٍ وَعَذْبِهَا، وَحَزْنِ تُرْبَةٍ وَسَهْلِهَا، فَهُمْ عَلَى حَسَبِ قُرْبِ أَرْضِهِمْ يَتَقَارَبُونَ، وَعَلَى قَدْرِ اخْتِلاَفِهَا يَتَفَاوَتُونَ، فَتَامُّ الرُّوَاءِ نَاقِصُ الْعَقْلِ، وَمَادُّ الْقَامَةِ قَصِيرُ الْهِمَّةِ، وَزَاكِي الْعَمَلِ قَبِيحُ الْمَنْظَرِ، وَقَرِيبُ الْقَعْرِ بَعِيدُ السَّبْرِ،مَعْرُوفُ الضَّرِيبَةِ مُنْكَرُ الْجَلِيبَةِ، وَتَائِهُ الْقَلْبِ مُتَفَرِّقُ اللُّبِّ، وَطَلِيقُ اللِّسَانِ حَدِيدُ الْجَنَانِ.**

[ ٢٣٥ ]

وَمِنْ كَلاَمٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ قَالَهُ وَهُوَ يَلِي غَسْلَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَتَجْهِيزَهُ

**بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي، لَقَدِ انْقَطَعَ بِمَوْتِكَ مَا لَمْ يَنْقَطِعْ بِمَوْتِ غَيْرِكَ مِنَ النُّبُوَّةِ وَالاْنْبَاءِ وَأَخْبَارِ السَّمَاءِ، خَصَصْتَ حَتَّى صِرْتَ مُسَلِّياً عَمَّنْ سِوَاكَ، وَعَمَمْتَ حَتّى صَارَ النَّاسُ فِيكَ سَوَاءً، وَلَوْ لاَ أَنَّكَ أَمَرْتَ بِالصَّبْرِ، وَنَهَيْتَ عَنِ الْجَزَعِ، لاَنْفَدْنَا عَلَيْكَ مَاءَ الشُّؤُونِ، وَلَكَانَ الدَّاءُ مُمَاطِلاً، وَالْكَمَدُ مُحَالِفاً، وَقَلاَّ لَكَ! وَلكِنَّهُ مَا لاَ يُمْلَكُ رَدُّهُ، وَلاَ يُسْتَطَاعُ دَفْعُهُ! بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي! اذْكُرْنَا عِنْدَ رَبِّكَ، وَاجْعَلْنَا مِنْ بَالِكَ!**

[ ٢٣٦ ]

إقْتَصَّ فِيهِ ذِكْرَ مَا كَانَ مِنْهُ بَعْدَ هِجْرَةِ النَّبِيِّ ثُمَّ لِحَاقِهِ بِهِ

**فَجَعَلْتُ أَتْبَعُ مَأْخَذَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ فَأَطَأُ ذِكْرَهُ، حَتَّى انْتَهَيْتُ إِلَى الْعَرَجِ...**

## ﴿ دوه سوه څلور دېرشمه خطبه ﴾

(ذعلب يماني له احمد بن قتيبه، له عبدالله بن يزيد، له مالک بن دحيه نقل کوي چې له امامه په خلقو کښې د توپيرونو او فرقونو په حقله پوښتنه اوشوه نو امام وفرمايل:)

### په انسانانو کښې د توپيرونو او فرقونو لاملونه او علتونه

په خلقو کښې د مختلفو توپيرونو او فرقونو علت د هغوي د ختې او فطرت ډول ډول والے دے.ځکه چې انسانان د ښوره او خوړې، سختې او نرمې ختې له ترکيبه جوړ شوي دي. نو څومره چې د هغوي ختِه يو بل ته نزدې وي دوي به هم نزدې وي او څومره يې چې ختِه له يو بله لرې وي دوي به هم لرې او مختلف وي ځينې له مخه ښکلي خو له عقله پرېوتي، ځينې يې دنگ لوړ خوکم همته، ځينې يې بد صورته خو نېک چاري، ځينې يې لنډ خو خوش فکره وي ځينې يې خوش اخلاقه خو بدرنگه وي، ځينې بيا د ښه زړۀ لرونکي خو د بد عقل خاوندان وي، او د ځينو هم ژبه ښه وي او هم يې عقل او پوهه.

## ﴿ دوه سوه پينځۀ دېرشمه خطبه ﴾

(د رسول الله مبارکﷺ د کفن دفن په وخت يې وفرمايل)

### د پېغمبر اکرمﷺ په وير کښې

مور او پلار مې له تا جار شه اے د خداے رسوله! ستا په رحلت سره د پېغمبرۍ د غيبي احکامو او آسماني پېغامونو هغه لړۍ اوشلېده چې د هيچا په مرګ نۀ وه شلېدلې، ستا مصيبت د نورو مصيبت ځپلو لپاره د صبر سبب شو.. او ټولو ستا په غم کښې يو شان وير وکړ.که د صبر امر دې نۀ ؤ کړے او له بې تابۍ دې نۀ وو منعې کړي دومره به مې ژړلي وو چې اوښکې به مې اوچې شوې وې او دا غم به همېشه راسره پاتې ؤ .او خفګان به مې همېشنے شوے ؤ،دا هر څه (غم او وير) ستا د مصيبت په وړاندې هيڅۀ دي! خو څه وکړوو چې ژوند ببرته نۀ ستنېږي. او مرګ له چا نۀ غړېږي. مور او پلار مې له تا جار شه ! مونږ د خپل رب په وړاندې ياد کړه او په خپل زړۀ کښې مو اوساته.

## ﴿ دوه سوه شپږ دېرشمه خطبه ﴾

(هجرت او له پېغمبر اکرمﷺ سره يو ځاے کېدل)

### د هجرت غمونه

زۀ پرله پسې د رسول الله مبارکﷺ په لاره روان وم او هر ځاے کښې به مې د هغۀ پوښتنه کوله تر دې چې عَرَج مقام ته اورسېدم.

(سيد رضي وائي: دا جملې په يوې اوږدې وينا کښې راغلې دي او «فاطاءذکره» جمله چې معنا يې ده په هر ځاے کښې مې د هغۀ يونښته کوله او يادوۀ مې، يوه داسې جمله ده چې د فصاحت څوکې يې وهلې دي. او مطلب يې دا دے چې د حرکت له پېله تر پايه راته د پېغمبراکرمﷺ د تګ خبر رارسېدۀ او په دې توګه روان وم تر دې چې عَرَج مقام ته اورسېدم)

[ ۲۳۷ ]

فَاعْمَلُوا وَأَنْتُمْ فِي نَفَسِ الْبَقَاءِ وَالصُّحُفُ مَنْشُورَةٌ، وَالتَّوْبَةُ مَبْسُوطَةٌ وَالْمُدْبِرُ يُدْعَى و الْمُسِيءُ يُرْجَى قَبْلَ أَنْ يَخْمُدَ الْعَمَلُ وَيَنْقَطِعَ الْمَهَلُ وَتَنْقَضِيَ الْمُدَّةُ، وَتُسَدَّ أَبْوَابُ التَّوْبَةِ، وَتَصْعَدَ الْمَلائِكَةُ. فَأَخَذَ امْرُؤٌ مِنْ نَفْسِهِ لِنَفْسِهِ، وَأَخَذَ مِنْ حَيٍّ لِمَيِّتٍ، وَمِنْ فَانٍ لِبَاقٍ، وَمِنْ ذَاهِبٍ لِدَائِمٍ. امْرُؤٌ خَافَ اللهَ وَهُوَ مُعَمَّرٌ إِلَى أَجَلِهِ، وَمَنْظُورٌ إِلَى عَمَلِهِ. امْرُؤٌ أَلْجَمَ نَفْسَهُ بِلِجَامِهَا، وَزَمَّهَا بِزِمَامِهَا، فَأَمْسَكَهَا بِلِجَامِهَا عَنْ مَعَاصِي اللهِ، وَقَادَهَا بِزِمَامِهَا إِلَى طَاعَةِ اللهِ.

﴿ دوه سوه اوۀ د پرشمه خطبه ﴾

د نيکۍ سپارښتنه

نن چې ژوندي يئ نو نېک عمل وکړئ ځکه چې عملنامې پرانېستې او د توبې لاره تياره ده او خداے پاک هم بيا بيا بې لارو ته غږونه کوي او بد چاري د ستنېدو هيله لري. عمل وکړئ مخکې له دې چې د عمل ډيوه مړه شي، فرصت له لاسه اوځي او اجل راورسي، د توبې ور بند شي او فرښتې آسمان ته والوزي نو هر کس دې په خپل زيار سره د ځان لپاره، د ژوند له ورځو څخه له مرګه د وروستو ورځو لپاره، له فاني نړۍ څخه د باقي دنيا لپاره، د دنيا له سرايه د آخرت د تل پاتې ژوند لپاره توښه واخلي، انسان دې له خدايه اوېرېږي ځکه چې د مرګ تر شيبې فرصت ورکړے شوے دے او نېک عمل ته اوزګار دے. انسان بايد نفس پيزواني کړي، واګې يې واخلي او له ګناه او سرغړونې يې منعې کړي. او واګې يې د خداے اطاعت ته راکاږي.

[ ۲۳۸ ]

فِي شَأْنِ الْحَكَمَيْنِ وَذَمِّ أَهْلِ الشَّامِ

جُفَاةٌ طَغَامٌ، عَبِيدٌ أَقْزَامٌ، جُمِّعُوا مِنْ كُلِّ أَوْبٍ، وَتُلُقِّطُوا مِنْ كُلِّ شَوْبٍ، مِمَّنْ يَنْبَغِي أَنْ يُفَقَّهَ وَيُؤَدَّبَ، وَيُعَلَّمَ وَيُدَرَّبَ، وَيُوَلَّى عَلَيْهِ، وَيُؤْخَذَ عَلَى يَدَيْهِ، لَيْسُوا مِنَ الْمُهَاجِرِينَ وَالأَنْصَارِ، وَلاَ مِنَ الَّذِينَ تَبَوَّؤُا الدَّارَ.

أَلاَ وَإِنَّ الْقَوْمَ اخْتَارُوا لأَنْفُسِهِمْ أَقْرَبَ الْقَوْمِ مِمَّا تُحِبُّونَ، وَاخْتَرْتُمْ لأَنْفُسِكُمْ أَقْرَبَ الْقَوْمِ مِمَّا تَكْرَهُونَ، وَإِنَّمَا عَهْدُكُمْ بِعَبْدِ اللهِ بْنِ قَيْسٍ بِالأَمْسِ يَقُولُ: إِنَّهَا فِتْنَةٌ فَقَطِّعُوا أَوْتَارَكُمْ وَشِيمُوا سُيُوفَكُمْ، فَإِنْ كَانَ صَادِقاً فَقَدْ أَخْطَأَ بِمَسِيرِهِ غَيْرَ مُسْتَكْرَهٍ، وَإِنْ كَانَ كَاذِباً فَقَدْ لَزِمَتْهُ التُّهَمَةُ. فَادْفَعُوا فِي صَدْرِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ بِعَبْدِ اللهِ بْنِ الْعَبَّاسِ، وَخُذُوا مَهَلَ الأَيَّامِ، وَحُوطُوا قَوَاصِيَ الإِسْلاَمِ، أَلاَ تَرَوْنَ إِلَى بِلاَدِكُمْ تُغْزَى، وَإِلَى صَفَاتِكُمْ تُرْمَى؟

﴿ دوه سوه اتۀ د پرشمه خطبه ﴾

د حَکَمېنو او د شام په حقله او د کوفيانو په غندنه کښې

شاميان پرېوتي زيږ خويه، او سپک مريان دي چې له هر لوري راچلېدلي او له مختلفو ډلو راغونډ شوي دي. دوي د دې وړ وو چې د دين احکام ورښودل شوي، ادب شوي، علم يې زده کړے او روزنه يې شوې وې، او يو مشر ورته ټاکل شوے وې چې لاس يې نيولے او چلولي يې وې، او په سم کار يې ګمارلي وې، دوي نۀ مهاجر وو نۀ انصار، او نۀ هغه کسان وو چې خپل کورونه يې مهاجرانو ته چمتو کړي او د زړۀ له کومې يې ايمان راوړے ؤ.

د حَکَمېنو د ټاکلو غندنه

خبر اوسئ شاميانو حَکَميت ته هغه کس غوره کړ چې خوښ يې ؤ او تاسو هغه کس انتخاب کړ چې تر ټولو زيات ناخوښ ؤ[۱۳۳]، لا د قيس د زوے عبدالله خبره نۀ ده زړه شوې چې ويل يې: «جنګ فتنه ده، ليندې مو ماتې کړئ او تورې مو تيکي ته کړئ» که دۀ رښتيا ويل نو ولې په رضا له ما سره جنګ ته روان شو. او که دروغ يې ويل نو تورن دے، د مينځګړتوب لپاره عبدالله بن عباس عمرو عاص ته مخامخ کړئ او له مناسب فرصته ګټه واخلئ، او د اسلامي ټاټوبې لرې پرتې پولې په خپلو لاسونو کښې اوساتئ، ولې تاسو نه وينئ چې ښارونه مو د جنګ په ډګرونو بدل شوي او کورونه مو د دښمنانو ننښه ګرځېدلي دي.

[ ۲۳۹ ]

وَمِنْ خُطْبَةٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ يَذْكُرُ فِيهَا آلَ مُحَمَّدٍ عَلَيْهِمُ السَّلاَمُ

﴿ دوه سوه نهۀ د پرشمه خطبه ﴾

(په دې خطبه کښې د پېغمبراکرمﷺ د کورنۍ مقام بيانوي)

هُمْ عَيْشُ الْعِلْمِ، وَمَوْتُ الْجَهْلِ، يُخْبِرُكُمْ حِلْمُهُمْ عَنْ عِلْمِهِمْ، وَصَمْتُهُمْ عَنْ حِكَمِ مَنْطِقِهِمْ، لاَ يُخَالِفُونَ الْحَقَّ وَلاَ يَخْتَلِفُونَ فِيهِ، هُمْ دَعَائِمُ الاْسْلاَمِ، وَوَلاَئِجُ الاْعْتِصَامِ، بِهِمْ عَادَ الْحَقُّ فِي نِصَابِهِ، وَانْزَاحَ الْبَاطِلُ عَنْ مُقَامِهِ، وَانْقَطَعَ لِسَانُهُ عَنْ مَنْبِتِهِ، عَقَلُوا الدِّينَ عَقْلَ وِعَايَةٍ وَرِعَايَةٍ، لاَ عَقْلَ سَمَاعٍ وَرِوَايَةٍ، فَإِنَّ رُوَاةَ الْعِلْمِ كَثِيرٌ، وَرُعَاتَهُ قَلِيلٌ.

### د اهلبیتو علیهم السلام فضائل

د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه وآله اهل بیت علیهم السلام د علم ژوند او د جهل مرګ دي. د دوي حلم د دوي له علمه او باطن يې له ظاهره او چپتيا يې د کلام له حکمته خبر ورکوي. هیڅکله يې له حق سره مخالفت ونۀ کړ او نۀ پکښې اختلاف لري. دوي د اسلام ټينګې ستنې او د خلقو پناه ځايونه دي. حق د دوي په وسيله خپل مقام ته ستون شو او باطل له خپل ځايه اوشړلے شو او د باطل ژبه له بېخه پرې شوه. د پېغمبراکرم صلی الله علیه وآله اهلبيتو علیهم السلام دين هماغه شان چې ورړ زده کړ او پرې عمل يې وکړ، نۀ دا چې وائي وا يې وربدۀ او نقل يې کړ، ځکه چې د دين راويان ډېر زيات دي خو ساتونکي او پرې عمل کوونکي ډېر کم.

## [ ۲۴۰ ]

قَالَهُ لِعَبْدِ اللهِ بْنِ الْعَبَّاسِ وَقَدْ جَاءَ بِرِسَالَةٍ مِنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ وَهُوَ مَحْصُورٌ يَسْأَلُهُ فِيهَا الْخُرُوجَ إِلَى مَالِهِ بِيَنْبُعَ، لِيَقِلَّ هَتْفُ النَّاسِ بِاسْمِهِ لِلْخِلاَفَةِ، بَعْدَ أَنْ كَانَ سَأَلَهُ مِثْلَ ذلِكَ مِنْ قَبْلُ، فَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

يَابْنَ عَبَّاسٍ، مَا يُرِيدُ عُثْمَانُ إِلاَّ أَنْ يَجْعَلَنِي جَمَلاً نَاضِحاً بِالْغَرْبِ، أَقْبِلْ وَأَدْبِرْ! بَعَثَ إِلَيَّ أَنْ أَخْرُجَ، ثُمَّ بَعَثَ إِلَيَّ أَنْ أَقْدُمَ، ثُمَّ هُوَ الاْنَ يَبْعَثُ إِلَيَّ أَنْ أَخْرُجَ! وَاللهِ لَقَدْ دَفَعْتُ عَنْهُ حَتَّى خَشِيتُ أَنْ أَكُونَ آثِماً.

### ﴿ دوه سوه څلوېښتمه خطبه ﴾

(د هجرت په پينځۀ دېرشم کال کله چې حضرت عثمان کلابند (محاصره) شو، ابن عباس يې حضرت علي علیه السلام ته اولېږۀ چې له مدينې اوځه او د ينبع باغونو (د مدينې خواوشا) ته لاړ شه چې خلق ستا په نامه شعارونه او نعرې ونه وهي. امام لاړ خو کله چې عثمان مرستې ته سخته اړتيا لرله امام ته يې پېغام ورکړ او امام علي علیه السلام مدينې ته ستون شو، بيا يې ابن عباس ورولېږۀ او له امامه يې وغوښتل چې له مدينې لاړ شي. امام وفرمايل:)

### د حضرت عثمانؓ د دريځ (موقف) په حقله

اے د عباس زويه! عثمان تش له ما دا غواړي چې د ارهټ د اوښ په شان تاويږم کله يوې خوا ته لاړ شم او کله بلې خوا ته، يو ځل يې پېغام راولېږۀ چې له مدينې څخه اوځم، بيا يې وويل چې راستون شم، اوس يې بيا تۀ رالېږلے يې چې له مدينې لاړ شم، په خداے قسم! د هغۀ مې دومره دفاع وکړه چې اوېرېدم ګناهکار نۀ شم!

## [ ۲۴۱ ]

وَمِنْ كَلاَمٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ يَحُثُّ فِيهِ أَصْحَابَهُ عَلَى الْجِهَادِ

وَاللهُ مُسْتَأْدِيكُمْ شُكْرَهُ، وَمُوَرِّثُكُمْ أَمْرَهُ، وَمُمْهِلُكُمْ فِي مِضْمَارٍ مَحْدُودٍ، لِتَتَنَازَعُوا سَبَقَهُ، فَشُدُّوا عُقَدَ الْمَآزِرِ، وَاطْوُوا فُضُولَ الْخَوَاصِرِ، وَلاَ تَجْتَمِعُ عَزِيمَةٌ وَوَلِيمَةٌ، وَمَا أَنْقَضَ النَّوْمَ لِعَزَائِمِ الْيَوْمِ، أَمْحَى الظُّلَمَ لِتَذَاكِيرِ الْهِمَمِ!

### ﴿ دوه سوه يو څلوېښتمه خطبه ﴾

(په دې وېنا کښې يې ملګري جهاد ته هڅولي دي)

خداے پاک له تاسو غواړي چې شکر يې اوباسئ او د حکومت چارې يې په لاس درکړې او مناسب فرصت يې دربرابرکړ چې د جنت د انعام لپاره سيالي وکړئ. نو ملاګانې مو کلکې اوتړئ هوډونه او ارادې مو پياوړې کړئ ځکه چې لوړ ارزښتونه په مزو چرچو سره نۀ ترلاسه کيږي. د شپې اکثر خوبونه د ورځې هوډونه او فېصلې کمزوروې او د هېرې تيرې لوړ همتونه تباه کوي.

(او سلام دې وي د خداے، زمونږ په سرخېل د خداے پاک په ګران استازي (محمد صلی الله علیه وآله) او د هغوي په کورنۍ چې ځلانده ځراغونه او د خداے پاک غښتلي لرۍ دي، پرېمانه سلامونه دې وي په هغوي)

# ۲

## بَابُ الْمُخْتَارِ مِنْ كُتُبِ أَمِيرِ الْمُؤْمِنِينَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ وَرَسَائِلِهِ إِلَى أَعْدَائِهِ وَأُمَرَاءِ بِلاَدِهِ وَيَدْخُلُ فِي ذَلِكَ مَا اخْتِيرَ مِنْ عُهُودِهِ إِلَى عُمَّالِهِ وَوَصَايَاهُ لأَهْلِهِ وَأَصْحَابِهِ

# ۲

## دویمه برخه

## لیکونه (خطونه)

(په دې برخه کښې د مختلفو سیمو ګورنرانو، چارواکو او خپلو دښمنانو ته د امام علي‌علیه‌السلام لیکونه، چاروالو ته عهد لیکونه او بچیانو ته وصیت لیکونه شامل دي)

[ ۱ ]

مِـــنْ كِتَـــابٍ لَـــهُ عَلَيْـــهِ السَّـــلاَمُ إِلَـــى أَهْـــلِ الْكُوفَـــةِ عِنْدَ مَسِيرِهِ مِنَ الْمَدِينَةِ إِلَى الْبَصْرَةِ

**مِنْ عَبْدِ اللهِ عَلـيٍّ أَمِيـرِ الْمُـؤْمِنِينَ إِلَـى أَهْـلِ الْكُوفَـةِ، جَبْهَـةِ الأَنْصَارِ وَسَنَامِ الْعَرَبِ.**

**أَمَّا بَعْدُ، فَإِنِّي أُخْبِرُكُمْ عَنْ أَمْرِ عُثْمانَ حَتَّى يَكُونَ سَمْعُهُ كَعِيَانِهِ: إِنَّ النَّاسَ طَعَنُوا عَلَيْـهِ، فَكُنْـتُ رَجُـلاً مِـنَ الْمُهَـاجِرِينَ أُكْثِـرُ اسْتِعْتَابَهُ، وَأُقِلُّ عِتَابَهُ، وَكَانَ طَلْحَةُ وَالزُّبَيْرُ أَهْـوَنُ سَـيْرِهِمَا فِيـهِ الْوَجِيفُ، وَأَرْفَقُ حِدَائِهِمَا الْعَنِيفُ، وَكَانَ مِنْ عَائِشَـةَ فِيـهِ فَلْتَـةُ غَضَبٍ، فَأُتِيحَ لَهُ قَوْمٌ فَقَتَلُوهُ، وَبَايَعَنِي النَّاسُ غَيْـرَ مُسْـتَكْرَهِينَ وَلاَ مُجْبَرِينَ، بَلْ طَائِعِينَ مُخَيَّرِينَ.**

**وَاعْلَمُـوا أَنَّ دَارَ الْهِجْـرَةِ قَـدْ قَلَعَـتْ بِأَهْلِهَـا وَقَلَعُـوا بِهَـا، وَجَاشَـتْ جَـيْشَ الْمِرْجَـلِ، وَقَامَـتِ الْفِتْنَـةُ عَلَـى الْقُطْـبِ، فَأَسْرِعُوا إِلَى أَمِيرِكُمْ، وَبَادِرُوا جِهَادَ عَدُوِّكُمْ، إِنْ شَاءَ اللهُ.**

[ ۲ ]

مِـــنْ كِتَـــابٍ لَـــهُ عَلَيْـــهِ السَّـــلاَمُ إِلَـــيْهِمْ بَعْدَ فَتْحِ الْبَصْرَةِ

**وَجَزَاكُمُ اللهُ مِنْ أَهْلِ مِصْرٍ عَنْ أَهْـلِ بَيْـتِ نَبِـيِّكُمْ أَحْسَـنَ مَـا يَجْزِي الْعَـامِلِينَ بِطَاعَتِـهِ، وَالشَّـاكِرِينَ لِنِعْمَتِـهِ، فَقَـدْ سَـمِعْتُمْ وَأَطَعْتُمْ، وَدُعِيتُمْ فَأَجَبْتُمْ.**

[ ۳ ]

مِنْ كِتَابٍ كَتَبَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ لِشُرَيْحِ بْنِ الْحَارِثِ قَاضِيهِ

رُوِيَ أَنَّ شُرَيْحَ بْنَ الْحَارِثِ قَاضِيَ أَمِيرِ الْمُؤْمِنِينَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ اشْتَرَى عَلَى عَهْدِهِ دَاراً بِثَمَانِينَ دِينَاراً، فَبَلَغَهُ عَلَيْـهِ السَّلاَمُ ذلِكَ، فَاسْتَدْعَى شُرَيْحاً، وَقَالَ لَهُ: **بَلَغَنِي أَنَّكَ ابْتَعْتَ دَاراً بِثَمَانِينَ دِينَاراً، وَكَتَبْـتَ لَهَا كِتَاباً، وَأَشْهَدْتَ فِيهِ شُهُوداً.** فَقَالَ شُرَيْحٌ: قَدْ كَانَ ذلِكَ يَـا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ. قَالَ: فَنَظَرَ عَلَيْـهِ السَّلاَمُ إِلَيْـهِ نَظَرَ مُغْضَبٍ ثُـمَّ قَـالَ لَـهُ: **يَـا**

## ﴿ وړومبی لیک ﴾

(د کوفې خلقو ته لیک)

### د ناکثانو د سرغنهٔ بې نقابه کول

«د خدای د بنده او امیرالمومنین علي له خوا د کوفې خلقو ته چې په مرستندویو کښې لویه مرتبه او په عربو کښې لوړ مقام او شخصیت لري»

د پالونکي له ستائنې وروسته! تاسو د عثمان له کاره داسې خبروم چې اوربدل به يې د ليدلو په شان وي خلقو په عثمان اعتراضونه وکړل او زهٔ په مهاجرو کښې يواځينے کس وم چې هغه مې د خلقو رضايت حاصلولو ته راوبلهٔ او تر ټولو کم مې اوغندهٔ. خو د طلحه او زبير تر ټولو اسان کار دا ؤ چې په هغه يې حمله وکړه او هغه يې وځوروهٔ، او ناتوانه يې کړ او بي بيعائشه خو هغهٔ (حضرت عثمان) ته ډېره غصه شوه،نو ځينو کسانو ته موقع په لاس ورغله او هغه يې وواژهٔ.بيا خلقو له څه زور او مجبورۍ نه بغير په خپله خوښه او اطاعت سره زما بيعت وکړ.

خبر اوسئ! چې مديني خلق په يو هيڅ سره له ځانه اوبستل او خلق هم د بلوا د ځپلو لپاره له مديني لرې شول،د هغه ځاے حالات د ديگ په شان يشبېږي او فتنې راولاړې شوې دي نو زر تر زره د خپل امير په لور راوځغلئ، او له دښمن سره په جهاد کښې له يو بل سره سيالي وکړئ. د خدا ے په غوښتنه (ان شاءالله)

## ﴿ دویم لیک ﴾

«دهجرت په شپږ دېرشم کال د زبرګې په میاشت کښې د بصرې په بلواګرو له برې وروسته چې د کوفې خلقو پکښې ټاکونکے رول لرهٔ، د کوفې خلقو ته لیک»

### د مجاهدینو منته

خدا ے تعالى دې تاسو د کوفې خلقو ته د پيغمبراکرم ﷺ د اهل بيتو عليهم السلام لخوا نيکه جزا درکړي دا هغه تر ټولو غوره بدله ده چې خپلو فرمان منونکو او د نعمت شکر ايستونکو ته يې ورکوي، ځکه چې تاسو زمونږ بلنه واورېدله او ومو منله جنګ ته وبلل شوئ او راغلئ.

## ﴿ دریم لیک ﴾

«امام ته يې خبر راوړهٔ چې د هغهٔ قاضي شريح بن حارث په اتيا ديناره يو کور اخيستے دے امام هغه راوبله او وې فرمايل»

### د چارو الو له خیانت سره پرېکنده چلند

ماته خبر راکړے شوے چې په اتيا ديناره دې کور اخيستے دے او قباله (سند) دې ليکلې او ګواهانو لاسليک کړې ده.

«شريح وويل: هو اميرالمومنينه[۱۳۴]! امام ورته په خوابښنې سره وکتل او وې فرمايل: )

شُرَيْحُ، أَمَا إِنَّهُ سَيَأْتِيكَ مَنْ لاَ يَنْظُرُ فِي كِتَابِكَ، وَلاَ يَسْأَلُكَ عَنْ بَيِّنَتِكَ، حَتَّى يُخْرِجَكَ مِنْهَا شَاخِصاً، وَيُسْلِمَكَ إِلَى قَبْرِكَ خَالِصاً. فَانْظُرْ يَا شُرَيْحُ لاَ تَكُونُ ابْتَعْتَ هٰذِهِ الدَّارَ مِنْ غَيْرِ مَالِكَ، أَوْ نَقَدْتَ الثَّمَنَ مِنْ غَيْرِ حَلاَلِكَ! فَإِذَا أَنْتَ قَدْ خَسِرْتَ دَارَ الدُّنْيَا وَدَارَ الْآخِرَةِ! أَمَا إِنَّكَ لَوْ كُنْتَ أَتَيْتَنِي عِنْدَ شِرَائِكَ مَا اشْتَرَيْتَ لَكَتَبْتُ لَكَ كِتَاباً عَلَى هٰذِهِ النُّسْخَةِ، فَلَمْ تَرْغَبْ فِي شِرَاءِ هٰذِهِ الدَّارِ بِدِرْهَمٍ فَمَا فَوْقُ.

وَالنُّسْخَةُ هٰذِهِ: هٰذَا مَا اشْتَرَى عَبْدٌ ذَلِيلٌ، مِنْ مَيِّتٍ قَدْ أُزْعِجَ لِلرَّحِيلِ، اشْتَرَى مِنْهُ دَاراً مِنْ دَارِ الْغُرُورِ، مِنْ جَانِبِ الْفَانِينَ، وَخِطَّةِ الْهَالِكِينَ، وَتَجْمَعُ هٰذِهِ الدَّارَ حُدُودٌ أَرْبَعَةٌ: الْحَدُّ الأَوَّلُ يَنْتَهِي إِلَى دَوَاعِي الْآفَاتِ، وَالْحَدُّ الثَّانِي يَنْتَهِي إِلَى دَوَاعِي الْمُصِيبَاتِ، وَالْحَدُّ الثَّالِثُ يَنْتَهِي إِلَى الْهَوَى الْمُرْدِي، وَالْحَدُّ الرَّابِعُ يَنْتَهِي إِلَى الشَّيْطَانِ الْمُغْوِي، وَفِيهِ يُشْرَعُ بَابُ هٰذِهِ الدَّارِ. اشْتَرَى هٰذَا الْمُغْتَرُّ بِالأَمَلِ، مِنْ هٰذَا الْمُزْعَجِ بِالأَجَلِ، هٰذِهِ الدَّارَ بِالْخُرُوجِ مِنْ عِزِّ الْقَنَاعَةِ، وَالدُّخُولِ فِي ذُلِّ الطَّلَبِ وَالضَّرَاعَةِ، فَمَا أَدْرَكَ هٰذَا الْمُشْتَرِي فِيمَا اشْتَرَى مِنْ دَرَكٍ، فَعَلَى مُبَلْبِلِ أَجْسَامِ الْمُلُوكِ، وَسَالِبِ نُفُوسِ الْجَبَابِرَةِ، وَمُزِيلِ مُلْكِ الْفَرَاعِنَةِ، مِثْلِ كِسْرَى وَقَيْصَرَ، وَتُبَّعٍ وَحِمْيَرَ، وَمَنْ جَمَعَ الْمَالَ عَلَى الْمَالِ فَأَكْثَرَ، وَمَنْ بَنَى وَشَيَّدَ، وَزَخْرَفَ وَنَجَّدَ، وَادَّخَرَ وَاعْتَقَدَ، وَنَظَرَ بِزَعْمِهِ لِلْوَلَدِ، إِشْخَاصُهُمْ جَمِيعاً إِلَى مَوْقِفِ الْعَرْضِ وَالْحِسَابِ، وَمَوْضِعِ الثَّوَابِ وَالْعِقَابِ، إِذَا وَقَعَ الأَمْرُ بِفَصْلِ الْقَضَاءِ، وَخَسِرَ هُنَالِكَ الْمُبْطِلُونَ. شَهِدَ عَلَى ذٰلِكَ الْعَقْلُ إِذَا خَرَجَ مِنْ أَسْرِ الْهَوَى، وَسَلِمَ مِنْ عَلاَئِقِ الدُّنْيَا.

[ ٤ ]

كَتَبَهُ إِلَى بَعْضِ أُمَرَاءِ جَيْشِهِ

فَإِنْ عَادُوا إِلَى ظِلِّ الطَّاعَةِ فَذَاكَ الَّذِي نُحِبُّ، وَإِنْ تَوَافَتِ الأُمُورُ بِالْقَوْمِ إِلَى الشِّقَاقِ وَالْعِصْيَانِ فَانْهَدْ

اے شریحه! ډیر زر به درپسې داسې یو کس درشي چې نهٔ به ستا قباله او سند ګوري او نهٔ به دې له ګواهانو تپوس کوي او تا به له کوره اوباسي او نېغ به دې قبر ته اوسپاري. اے شریحه! فکر وکړه چې هسې نه هغه کور دې د نورو په مال یا حرامو پېسو باندې اخېستے وي، که داسې وي نو په دنیا او آخرت دواړو کښې به دې تاوان کړے وي. خوکه د کور د اخېستلو په وخت ما ته راغلے وې نو تا ته به مې داسې سند لیکلے ؤ چې بیا به دې په یو درهم هم دغه کور نهٔ اخېستهٔ. او دا سند به مې داسې لیکلے ؤ: دا هغه کور دے چې یو ذلیل بنده له یو داسې سړي چې د مرګ په کوچ روان دے اخېستے دے، دا د کبر سراې چې د فناه کېدونکو په چم او د هلاکېدونکو په کوڅه کښې پرته ده. د دغه کور څلور لوري په دې ډول دي: یو لورے یې آفتونو او ازمېښتونو، بل لورے یې مصیبتونو، دریم لورے یې د تباه کوونکو خواهشاتو او څلورم لورے یې د غولوونکي شېطان په لور دے. او د کور ور د شېطان په مخ پرانېستے شوے دے. دا کور د ارمانونو او خواهشاتو یو غولېدلي کس له هغه چا چې ډېر زر د اجل په لور روان دي په دومره پېسو چې هغه له عزت او قناعته لرې کوي او دنیا پرستۍ او خوارۍ ته یې کاږي، اخېستلے دے. په دې معامله کښې که هر ډول عیب وي نو د هغه پالونکي په غاړه دے چې د باچایانو مړي یې وراستهٔ کړي د ظالمانو روحونه یې اخېستي او د فرعونانو ماڼۍ یې د کسرى او قېصر او تبع او حمیر په شان نړولې دي. هغه ذات چې د مال غونډوونکي د بنګلو جوړوونکي او سینګاروونکي او په خپل خیال د اولاد لپاره زېرمه کوونکي یې ټول د مرګ ګړنګ ته غورځولي او د حساب کتاب او سزا او جزا ځاے ته یې راکاږلي دي. هغه وخت چې د آخري قضاوت او فېصلې امر اوشي. په دغو حقیقتونو عقل ګواهي ورکوي، هغه عقل چې د هوا او هوس له زولنو آزاد او له دنیا پالنې سلامت وي.

## ﴿ څلورم لیک ﴾

«دا لیک د هجرت په شپږ دېرشم کال یو فوځي کوماندان ته لیکل شوے دے البته ځینو ویلې دي چې د بصرې ګورنر عثمان بن حُنېف ته لیکل شوے دے»

### د مامورانود ګمارلو طریقه

که د اسلام دښمنان د اطاعت سیورې ته ستانهٔ شي نو همدا زمونږ مدعا ده خو که خبره یې جدائۍ او سرغړونې ته اورسېږي نو د فرمان منونکو

بِمَنْ أَطَاعَكَ إِلَى مَنْ عَصَاكَ، وَاسْتَغْنِ بِمَنِ انْقَادَ مَعَكَ عَمَّنْ تَقَاعَسَ عَنْكَ، فَإِنَّ الْمُتَكَارِهَ مَغِيبُهُ خَيْرٌ مِنْ شُهُودِهِ، وَقُعُودُهُ أَغْنَى مِنْ نُهُوضِهِ.

[ ٥ ]

وَمِنْ كِتَابٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ
إِلَى الأَشْعَثِ بْنِ قَيْسٍ عَامِلِ أَذْرَبِيْجَانَ

وَإِنَّ عَمَلَكَ لَيْسَ لَكَ بِطُعْمَةٍ، وَلكِنَّهُ فِي عُنُقِكَ أَمَانَةٌ، وَأَنْتَ مُسْتَرْعىً لِمَنْ فَوْقَكَ، لَيْسَ لَكَ أَنْ تَفْتَاتَ فِي رَعِيَّةٍ، وَلاَ تُخَاطِرَ إِلاَّ بِوَثِيقَةٍ، وَفِي يَدَيْكَ مَالٌ مِنْ مَالِ اللهِ عَزَّوَجَلَّ، وَأَنْتَ مِنْ خُزَّانِهِ حَتَّى تُسَلِّمَهُ إِلَيَّ، وَلَعَلِّي أَلاَّ أَكُونَ شَرَّ وُلاَتِكَ لَكَ، وَالسَّلَامُ.

[ ٦ ]

إِلَى مُعَاوِيَةَ

إِنَّهُ بَايَعَنِي الْقَوْمُ الَّذِينَ بَايَعُوا أَبَا بَكْرٍ وَعُمَرَ وَعُثْمَانَ عَلَى مَا بَايَعُوهُمْ عَلَيْهِ، فَلَمْ يَكُنْ لِلشَّاهِدِ أَنْ يَخْتَارَ، وَلاَ لِلغَائِبِ أَنْ يَرُدَّ، وَإِنَّمَا الشُّورَى لِلْمُهَاجِرِينَ وَالأَنْصَارِ، فَإِنِ اجْتَمَعُوا عَلَى رَجُلٍ وَسَمَّوْهُ إِمَاماً كَانَ ذلِكَ لِلّهِ رِضىً، فَإِنْ خَرَجَ عَنْ أَمْرِهِمْ خَارِجٌ بِطَعْنٍ أَوْبِدْعَةٍ رَدُّوهُ إِلَى مَاخَرَجَ مِنْهُ، فَإِنْ أَبَى قَاتَلُوهُ عَلَى اتِّبَاعِهِ غَيْرَ سَبِيلِ الْمُؤْمِنِينَ، وَوَلاَّهُ اللهُ مَا تَوَلَّى. وَلَعَمْرِي، يَا مُعَاوِيَةُ، لَئِنْ نَظَرْتَ بِعَقْلِكَ دُونَ هَوَاكَ لَتَجِدَنِّي أَبْرَأَ النَّاسِ مِنْ دَمِ عُثْمَانَ، وَلَتَعْلَمَنَّ أَنِّي كُنْتُ فِي عُزْلَةٍ عَنْهُ، إِلاَّ أَنْ تَتَجَنَّى؛ فَتَجَنَّ مَا بَدَا لَكَ! وَالسَّلَامُ.

[ ٧ ]

إِلَيْهِ أَيْضاً

أَمَّا بَعْدُ، فَقَدْ أَتَتْنِي مِنْكَ مَوْعِظَةٌ مُوَصَّلَةٌ وَرِسَالَةٌ مُحَبَّرَةٌ، نَمَّقْتَهَا بِضَلاَلِكَ، وَأَمْضَيْتَهَا بِسُوءِ رَأْيِكَ، وَكِتَابُ امْرِىءٍ

په مرستې له سرغړوونکو سره اوجنګېږه،او له هغو کسانو چې خبره مني د هغو کسانو چې خبره نه مني د ځپلو لپاره کار واخله، ځکه چې کوم کس چې جنګ ېې نه خوښېږي غوره دا ده چې په جنګ کښې نه وي او برخه نه اخېستل يې له مجبورۍ تر مرستې کولو غوره دي.

﴿ پينځم ليک ﴾

«د آذربائيجان ګورنر اشعث بن قيس ته ليک چې د هجرت د شپږ دېرشم کال په شعبان کښې له جمل جنګه وروسته ليکل شوے دے»

## له بيت الماله په ناوړه استفادې خبردارے

د ګورنرۍ عهده ستا لپاره د غوړو چړو وسيله نه ده بلکه ستا په غاړه يوامانت دے. بايد د خپل مشر او امام اطاعت وکړې؛ حق نه لرې چې په رعايا باندې ظلم وکړې او بې زما له امره کوم مهم کار وکړې؛ ستا په لاس کښې چې کوم مال دے د لوے خداے د شتمنۍ يوه برخه ده او ته يې خزانچي يې تر دې چې ماته يې راوسپارې: هيله کوم چې ستا لپاره به بد ولي او حاکم نه يم. والسلام.

﴿ شپږم ليک ﴾

«معاويه ته د امام ليک چې د هجرت په شپږ دېرشم کال د جمل له جنګه وروسته جرير بن عبدالله په وسيله واستولے شو»

## د امام د حکومت د مشروعيت (رواوالي) علتونه

بې له شکه هغو کسانو له ما سره هغه ډول بيعت کړے دے چې له ابوبکر، عمر او عثمان سره يې کړے و. نو څوک چې په بيعت کښې موجود وو نو بل خليفه نه شي ټاکلے او څوک چې ترې غائب وو دا بيعت نه شي ردولے او بې له شکه د مسلمانانو شورا د مهاجرينو او انصارو ده نو که د چا په امامت راغونډ شول او هغه يې خپل امام کړ نو د خداے پاک خوښه هم په هغه کښې ده. اوس که يو کس د هغوي کار اوغندي يا بدعت وکړي نو هغه قانوني بيعت ته ستنول پکار دي او که سر وغړوي نو جنګ ورسره پکار دے ځکه چې د مسلمانانو په لاره نه دے راغلے خداے يې هم په ګمراهۍ کښې پرېږدي. په ځان مې قسم! اے معاويه! که د عقل په سترګه وګورې نه د هوس په سترګه نو وبه وينې چې زۀ د عثمان د وينې په مسئله کښې تر ټولو پاک يم او تا ته پته ده چې زۀ له هغه قيصې لرې وم مګر دا چې د خيانت له لارې ما تورنوې او ښکاره حق پټوې. والسلام.

﴿ اوم ليک ﴾

«د هجرت په اتۀ دېرشم کال د صفين جنګ په وروستيو ورځو کښې د معاويه يو ليک ته د امام علي؈ ځواب»

## د معاويه بې نقابه کول او د بيعت مشروعيت

د خداے له نامې او له درودِ وروسته! ستا له (بې جوړه) نصيحتونو ډک ليک مې تر لاسه کړ چې په يو بل پورې تړلې او پسوللې جملې لرې چې په خپلې ګمراهۍ سره دې سينګار کړے او په خپلې خاصې بدفکرۍ

لَيْس لَـهُ بَصَـرٌ يَهْدِيـهِ، وَلاَ قَائِـدٌ يُرْشِـدُهُ، قَـدْ دَعَـاهُ الْهَـوَى فَأَجَابَهُ، وَقَادَهُ الضَّلاَلُ فَاتَّبَعَهُ، فَهَجر لاَغطاً، وَضَلَّ خَابطاً.

وَمِنْهُ: لاَنَّهَـا بَيْعَـةٌ وَاحِـدَةٌ لاَ يُثَنَّـى فِيهَـا النَّظَـرُ، وَلاَ يُسْـتَأْنَفُ فِيهَا الْخِيَارُ، الْخَارِجُ مِنْهَا طَاعِنٌ، وَالْمُرَوِّي فِيهَا مُدَاهِنٌ.

[ ۸ ]

وَمِنْ كِتَابٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ

إِلَى جَرِيرِ بْنِ عَبْدِاللهِ الْبَجَلِيِّ لَمَّا أَرْسَلَهُ إِلَى مُعَاوِيَةَ

أَمَّا بَعْدُ، فَـإِذَا أَتَـاكَ كِتَـابِي فَاحْمِـلْ مُعَاوِيَـةَ عَلَـى الْفَصْـلِ، وَخُذْهُ بِالاَمْرِ الْجَزْمِ، ثُـمَّ خَيِّـرْهُ بَـيْنَ حَـرْبٍ مُجْلِيَـةٍ، أَوْ سِـلْمٍ مُخْزِيَةٍ، فَـإِنِ اخْتَـارَ الْحَـرْبَ فَانْبِـذْ إِلَيْـهِ، وَإِنِ اخْتَـارَ السِّـلْمَ فَخُذْ بَيْعَتَهُ. وَالسَّلاَمُ.

[ ۹ ]

وَمِنْ كِتَابٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ إِلَى مُعَاوِيَةَ

فَأَرَادَ قَوْمُنَا قَتْلَ نَبِيِّنَا، وَاجْتِيَـاحَ أَصْـلِنَا، وَهَمُّـوا بِنَـا الْهُمُـومَ، وَفَعَلُوا بِنَا الاَفَاعِيـلَ، وَمَنَعُونَـا الْعَـذْبَ، وَأَحْلَسُـونَا الْخَـوْفَ، وَاضْطَرُّونَا إِلَى جَبَلٍ وَعْرٍ، وَأَوْقَـدُوا لَنَـا نَـارَ الْحَـرْبِ، فَعَـزَمَ اللهُ لَنَا عَلَى الـذَّبِّ عَـنْ حَوْزَتِـهِ، وَالرَّمْـيِ مِـنْ وَرَاءِ حُرْمَتِـهِ. مُؤْمِنُنَا يَبْغِـي بِـذلِكَ الاَجْـرَ، وَكَافِرُنَـا يُحَـامِي عَـنِ الاَصْـلِ، وَمَنْ أَسْلَمَ مِنْ قُرَيْشٍ خِلْوٌ مِمَّـا نَحْـنُ فِيـهِ بِحِلْـفٍ يَمْنَعُـهُ، أَوْ عَشِـيرَةٍ تَقُـومُ دُونَـهُ، فَهُـوَ مِـنَ الْقَتْـلِ بِمَكَـانِ أَمْـنٍ. وَكَـانَ رَسُولُ اللهِ صَـلَّى اللهُ عَلَيْـهِ وَآلـهِ إِذَا احْمَـرَّ الْبَـأْسُ، وَأَحْجَـمَ النَّاسُ، قَـدَّمَ أَهْـلَ بَيْتِـهِ فَـوَقَى بِهِـمْ أَصْـحَابَهُ حَـرَّ السُّـيُوفِ وَالاَسِنَّةِ، فَقُتِلَ عُبَيْدَةُ بْـنُ الْحَـارِثِ يَـوْمَ بَـدْرٍ، وَقُتِـلَ حَمْـزَةُ يَـوْمَ أُحُـدٍ، وَقُتِـلَ جَعْفَـرٌ يَـوْمَ مُؤْتَـةَ، وَأَرَادَ مَـنْ لَـوْ شِـئْتُ ذَكَـرْتُ اسْـمَهُ مِثْـلَ الَّـذِي أَرَادُوا مِـنَ الشَّـهَادَةِ، وَلكِـنَّ

سره دې لاسليک کړے دے دا د يو داسې کس ليک دے چې نۀ په خپله د هدايت لپاره لازمې سترګې لري چې هدايت يې کړي او نۀ لارښود لري چې لارښوونه يې کړي. يوائې د خپلو هوسونو بلنې يې ځواب ورکړے دے او ګمراهۍ يې جلب نيولے او ورپسې روان دے چې بې سمونه خبرې کوي او په ګمراهۍ کښې لالهانده او سرګردانه دے. بې له شکه د امام بيعت يو ځل کېږي او بياکتنه پکښې نۀ شي کېدې. او څوک د هغۀ له سره د شروع کولو اختيار نۀ لري څوک چې له دغه عمومي بيعته سر اوغړوي په اسلامي نظام نيوکه کوونکے او عيب نيوُنکے ګڼل کېږي او څوک چې په دې اړه دوه زړے وي منافق دے.

﴿ اتم ليک ﴾

«د هجرت په شپږ دېرشم کال د معاويه لپاره د امام علي عليه السلام استازي جرير بن عبد الله بجلي ته ليک»

**بيعت ته د معاويه مجبورول**

د خداے له نامې او درووه وروسته! کله مې چې ليک درورسېدۀ نو معاويه چورلټې فېصلې ته مجبوره کړه او پرېکنده سلوک ورسره وکړه بيا يې آزاد پرېږده چې يا داسې جنګ ته تيار شي چې خلق له کوره راوباسي (ويجاړوونکي جنګ) يا رسوا کوونکې صلحې ته. نو که جنګ يې غوره کړ امان نامه يې په ځمکه وغورځوه او جنګ ته تيار شه او که صلحې ته تيار شو بيعت ترې واخله . والسلام.

﴿ نهم ليک ﴾

«د هجرت په شپږ دېرشم کال معاويه ته ليک چې د ابو مسلم په نامه يو کس يوړۀ»

**د قرېشو د دښمنۍ په ډاګه کول او د پېغمبر صلی الله علیه وآله استقامت**

زمونږ د قام خلقو (قرېشو) غوښتل چې زمونږ پېغمبر صلی الله علیه وآله اوژني او زمونږ جړه اوباسي او د دې لپاره يې پلانونه جوړ کړل، او هر څه يې چې کولې شول له مونږ سره يې وکړل او له مونږ څخه يې قراري واخېسته او زمونږ لپاره يې د وېرې او ترهې انتظام وکړ.. او مونږ يې له سختو او لوړو غرونو څخه تېرېدلو ته مجبور کړو او زمونږ لپاره يې د جنګ اور غرغنډه کړ خو د خداے پاک اراده دا وه چې مونږ د هغۀ د دين ساتندويه شوو او د دين پولې د هغوي له شره اوساتو زمونږ د قام مومن کسان په دې لاره کښې د جزا او بدلې غوښتونکي وو او کافرو کسانو د خپل اصل دفاع کوله د قرېشو نورو کسانو چې ايمان يې راوړ زمونږ له تېپې څخه نۀ وو (زمونږ په شان مشکلات يې نۀ لرل) يا د خپلو هم تړونو په وسيله او يا يې هم خپل قام او قبيلې ملاتړ کوۀ او په امان کښې وو. چې کله به د جنګ اور غرغنډه شو يا به د دښمنانو يرغل ؤ د خداے ګران رسول صلی الله علیه وآله به خپل اهل بيت (دکورنۍ غړي) مخکې کول چې د هغوي په وسيله خپل اصحاب د تورو او نېزو له سوزه خوندي اوساتي لکه څنګه چې عبيدة بن حارث په بدر، حمزه په احد او جعفر په موته غزاګانو

آجَالَهُمْ عَجَّلَتْ، مَنِيَّتَهُ أُجِّلَتْ. فَيَا عَجَباً لِلدَّهْرِ! إِذْ صِرْتُ يُقْرَنُ بِي مَنْ لَمْ يَسْعَ بِقَدَمِي، وَلَمْ تَكُنْ لَهُ كَسَابِقَتِي الَّتِي لاَ يُدْلِي أَحَدٌ بِمِثْلِهَا، إِلاَّ أَنْ يَدَّعِيَ مُدَّعٍ مَا لاَ أَعْرِفُهُ، وَلاَ أَظُنُّ اللهَ يَعْرِفُهُ، وَالْحَمْدُ لله عَلَى كُلِّ حَالٍ. وَأَمَّا مَا سَأَلْتَ مِنْ دَفْعِ قَتَلَةِ عُثْمَانَ إِلَيْكَ، فَإِنِّي نَظَرْتُ فِي هذَا الأَمْرِ، فَلَمْ أَرَهُ يَسَعُنِي دَفْعُهُمْ إِلَيْكَ وَلاَ إِلَى غَيْرِكَ، وَلَعَمْرِي لَئِنْ لَمْ تَنْزِعْ عَنْ غَيِّكَ وَشِقَاقِكَ لَتَعْرِفَنَّهُمْ عَنْ قَلِيلٍ يَطْلُبُونَكَ، لاَ يُكَلِّفُونَكَ طَلَبَهُمْ فِي بَرٍّ وَلاَ بَحْرٍ، وَلاَ جَبَلٍ وَلاَ سَهْلٍ، إِلاَّ أَنَّهُ طَلَبٌ يَسُوءُكَ وِجْدَانُهُ، وَزَوْرٌ لاَ يَسُرُّكَ لُقْيَانُهُ، وَالسَّلاَمُ لأَهْلِهِ.

[ ١٠ ]

إِلَيْهِ أَيْضاً

وَكَيْفَ أَنْتَ صَانِعٌ إِذَا تَكَشَّفَتْ عَنْكَ جَلاَبِيبُ مَا أَنْتَ فِيهِ مِنْ دُنْيَا قَدْ تَبَهَّجَتْ بِزِينَتِهَا، وَخَدَعَتْ بِلَذَّتِهَا، دَعَتْكَ فَأَجَبْتَهَا، وَقَادَتْكَ فَاتَّبَعْتَهَا، وَأَمَرَتْكَ فَأَطَعْتَهَا، وَإِنَّهُ يُوشِكُ أَنْ يَقِفَكَ وَاقِفٌ عَلَى مَا لاَ يُنْجِيكَ مِنْهُ مِجَنٌّ، فَاقْعَسْ عَنْ هذَا الأَمْرِ، وَخُذْ أُهْبَةَ الْحِسَابِ، وَشَمِّرْ لِمَا قَدْ نَزَلَ بِكَ، وَلاَ تُمَكِّنِ الْغُوَاةَ مِنْ سَمْعِكَ، وَإِلاَّ تَفْعَلْ أُعْلِمْكَ مَا أَغْفَلْتَ مِنْ نَفْسِكَ، فَإِنَّكَ مُتْرَفٌ قَدْ أَخَذَ الشَّيْطَانُ مِنْكَ مَأْخَذَهُ، وَبَلَغَ فِيكَ أَمَلَهُ، وَجَرَى مِنْكَ مَجْرَى الرُّوحِ وَالدَّمِ. وَمَتَى كُنْتُمْ يَا مُعَاوِيَةُ سَاسَةَ الرَّعِيَّةِ، وَوُلاَةَ أَمْرِ الأُمَّةِ؟ بِغَيْرِ قَدَمٍ سَابِقٍ، وَلاَ شَرَفٍ بَاسِقٍ، وَنَعُوذُ بِاللهِ مِنْ لُزُومِ سَوَابِقِ الشَّقَاءِ، وَأُحَذِّرُكَ أَنْ تَكُونَ مُتَمَادِياً فِي غِرَّةِ الأُمْنِيَّةِ، مُخْتَلِفَ الْعَلاَنِيَةِ وَالسَّرِيرَةِ.

وَقَدْ دَعَوْتَ إِلَى الْحَرْبِ، فَدَعِ النَّاسَ جَانِباً وَاخْرُجْ إِلَيَّ، وَأَعْفِ الْفَرِيقَيْنِ مِنَ الْقِتَالِ، لِتَعْلَمَ أَيُّنَا الْمَرِينُ عَلَى قَلْبِهِ،

کښې شهیدان شول ځیني نور کسان هم وو چې که غوښتل مې نو نومونه به مې یې راوړې وو. د هغوي هم خوښه وه چې د اسلام د شهیدانو په شان شهید شي خو په برخه او مقدر کښې یې ژوند ؤ او مرګ یې وځنډېدهٔ. حېران یم زمانې ته! چې زهٔ یې د هغه کس هم سنګ ګرځولے یم چې زما په شان مخکښې نهٔ ؤ، او زما په شان یې په اسلام او هجرت کښې مخینه نهٔ ده لرلې، ځوک نهٔ پېژنم چې داسې ادعا وکړي مګر هغه ادعا کوونکے چې نهٔ یې زهٔ پېژنم او نهٔ فکر کوم چې خداے یې اوپېژني! په هر حال د خداے شکر ګذار یم.

## د حضرت عثمان په خونخواهۍ کښې د معاويه د دروغې دعوې په ډاګه کول

دا چې له ما دې غوښتې چې د عثمان قاتلان تا ته درو سپارم، په دې مې فکر وکړ او ومې ليدل چې تا يا بل چا ته د هغوي د سپارلو توان نهٔ لرم. په خپل ځان مې دې قسم وي! که له ګمراهۍ او تفرقې لاس وانهٔ خلې نو ډېر زر به هغوي اويني چې ستا په لټه کښې دي بې له دې چې تا ته زحمت درکړي چې په اوچه او درياب يا غر او دښته کښې د هغوي د پېدا کولو زيار اوباسې، او که د هغوي په لټه کښې شې پوه شه چې خوشحاله به نهٔ شې، او له هغوي سره ملاقات به تا خوشحاله نهٔ کړي. او د سلام په اهل دې سلام وي.

## ﴿ لسم ليک ﴾

«د هجرت په شپږ دېرشم کال په صفين کښې معاويه ته يو بل ليک»

### ١- د معاويه د څېرې بې نقابه کول

هغه وخت به څه کوې چې ستا رنګينې جامې لرې شي هغه جامې چې د دنيا په ښکلاؤ يې تهٔ پسوللے يې. دنيا تهٔ په خپلو خوښيو سره اوغولولې او ځانته يې اوغوښتلې او تا يې بلنه اومنله؛ امر يې وکړ او تا يې امر اومنهٔ، بې له شکه ډېر زر به دې خطرناک ډګر ته داخل کړي چې هيڅ ساتونکے ډال به دې اونهٔ ژغورلے شي. اے معاويه! له دې کاره لاس واخله او حساب کتاب ته تيار شه او هغو پېښو ته تيار شه چې درروانې دي. د سپکو ګمراهو کسانو خبرو ته غوږ مه ايږده! که داسې دې اونهٔ کړل نو درته وايم چې په غفلتونو کښې ګېر شوے يې، بې له شکه تهٔ په ناز او نعمت کښې ډوب داسې کس يې چې شېطان درباندې مسلط شوے دے او ستا په ذريعې سره خپل ارمانونه رژوي او د روح او وينې په شان دې په ټول بدن کښې جاري دے. اے معاويه! له کومه وخته تاسو د امت واکمنان او د ولس کوماندانان وئ. تاسو په دين کښې نهٔ ځلانده مخينه لرئ او نهٔ لوړ شرافت. خداے ته پناه اوړم په جرړې لرونکو تربګنيو کښې له ښکېلېدو. تا ويروم له دې چې هم هغه شان د خپلو ارمانانو او خواهشاتو په لټه کښې هڅه وکړې، او ظاهر او باطن دې يو شان نهٔ وي.

### ٢- فوځي ګوابښونو او دړکو ته ځواب

معاويه! زهٔ دې جنګ ته بللے يم، که رښتيا وائې نو راشه خلق پرېږده او له

وَالْمُغَطَّى عَلَى بَصَرِهِ! فَأَنَا أَبُو حَسَنٍ قَاتِلُ جَدِّكَ وَخَالِكَ وَأَخِيكَ شَدْخاً يَوْمَ بَدْرٍ، وَذلِكَ السَّيْفُ مَعِي، وَبِذلِكَ الْقَلْبِ أَلْقَى عَدُوِّي، مَا اسْتَبْدَلْتُ دِيناً، وَلاَ اسْتَحْدَثْتُ نَبِيّاً، وَإِنِّي لَعَلَى الْمِنْهَاجِ الَّذِي تَرَكْتُمُوهُ طَائِعِينَ، وَدَخَلْتُمْ فِيهِ مُكْرَهِينَ.

وَزَعَمْتَ أَنَّكَ جِئْتَ ثَائِراً بِدَمِ عُثْمَانَ، وَلَقَدْ عَلِمْتَ حَيْثُ وَقَعَ دَمُ عُثْمَانَ فَاطْلُبْهُ مِنْ هُنَاكَ إِنْ كُنْتَ طَالِباً، فَكَأَنِّي قَدْ رَأَيْتُكَ تَضِجُّ مِنَ الْحَرْبِ إِذَا عَضَّتْكَ ضَجِيجَ الْجِمَالِ بِالْأَثْقَالِ، وَكَأَنِّي بِجَمَاعَتِكَ تَدْعُونِي جَزَعاً مِنَ الضَّرْبِ الْمُتَتَابِعِ، وَالْقَضَاءِ الْوَاقِعِ، وَمَصَارِعَ بَعْدَ مَصَارِعَ، إِلَى كِتَابِ اللهِ، وَهِيَ كَافِرَةٌ جَاحِدَةٌ، أَوْ مُبَايِعَةٌ حَائِدَةٌ.

## [ ۱۱ ]

مِنْ وَصِيَّةٍ وَصَّى عَلَيْهِ السَّلَامُ بِهَا جَيْشاً بَعَثَهُ إِلَى الْعَدُوِّ

فَإِذَا نَزَلْتُمْ بِعَدُوٍّ أَوْ نَزَلَ بِكُمْ، فَلْيَكُنْ مُعَسْكَرُكُمْ فِي قُبُلِ الْأَشْرَافِ، أَوْ سِفَاحِ الْجِبَالِ، أَوْ أَثْنَاءِ الْأَنْهَارِ، كَيْمَا يَكُونَ لَكُمْ رِدْءاً، وَدُونَكُمْ مَرَدّاً، وَلْتَكُنْ مُقَاتَلَتُكُمْ مِنْ وَجْهٍ وَاحِدٍ أَوِ اثْنَيْنِ، وَاجْعَلُوا لَكُمْ رُقَبَاءَ فِي صَيَاصِي الْجِبَالِ، وَمَنَاكِبِ الْهِضَابِ، لِئَلاَّ يَأْتِيَكُمُ الْعَدُوُّ مِنْ مَكَانِ مَخَافَةٍ أَوْ أَمْنٍ. وَاعْلَمُوا أَنَّ مُقَدِّمَةَ الْقَوْمِ عُيُونُهُمْ، وَعُيُونَ الْمُقَدِّمَةِ طَلاَئِعُهُمْ. وَإِيَّاكُمْ وَالتَّفَرُّقَ، فَإِذَا نَزَلْتُمْ فَانْزِلُوا جَمِيعاً، وَإِذَا ارْتَحَلْتُمْ فَارْتَحِلُوا جَمِيعاً، وَإِذَا غَشِيَكُمُ اللَّيْلُ فَاجْعَلُوا الرِّمَاحَ كِفَّةً، وَلاَ تَذُوقُوا النَّوْمَ إِلاَّ غِرَاراً أَوْ مَضْمَضَةً.

## [ ۱۲ ]

مِنْ وَصِيَّتِهِ لِمَعْقِلِ بْنِ قَيْسٍ الرِّيَاحِيِّ
حِينَ أَنْفَذَهُ إِلَى الشَّامِ فِي ثَلاَثَةِ آلاَفٍ مُقَدِّمَةً لَهُ

اتَّقِ اللهَ الَّذِي لاَبُدَّ لَكَ مِنْ لِقَائِهِ، وَلاَ مُنْتَهَى لَكَ دُونَهُ، وَلاَ

ما سره اوجنګېږه او دوه لښکرې له وژلې اوژغوره، چې پوه شې چې توره پرده په مونږ کښې د کوم يو په زړۀ پرته ده او د کوم يو سترګې پټې دي؟ زۀ ابوالحسن د بدر په غزا کښې ستا د نيکۀ، ماما او ورور وژونکے يم چې د هغوي سرونه مې مات کړل. نن هم له ما سره هغه توره موجوده ده، او په هماغه زړۀ سره له دښمنانو سره ګورم، نۀ مې په دين کښې کوم بدعت کړے او نۀ مې نوے پېغمبر غوره کړے دے، زۀ د خدائے پاک په هماغه نښغه لاره ټينګ يم چې تاسو په خپل اختيار پرېښې او په زوره مو منلې وه!

### ۳- د معاويه د دروغې خونخواهۍ ځواب

ته ګمان کوې چې د عثمان د وژلې بدله غواړې، حال دا چې ښۀ خبر يې چې د هغۀ وينه د چا په لاس توې شوې ده! که رښتيا وائې نو له هغوي يې وغواړه! بې له شکه زۀ تا په جنګ کښې وينم چې د اوښانو په شان تر درنو بارونو لاندې پاتے راغلے يې او چغې سورې وهې او وينم دې چې لښکريان دې په بې صبرۍ سره د تورو له پرله پسې ګذارونو او سختو بلاګانو او مصيبتونو او په خاوره باندې د تنو په پرله پسې پرېوتلو سره ما د خدائے کتاب ته غواړي حال دا چې ستا لښکريان کافران، تړون ماتوونکي بيعتيان دي.

## ﴿ يولسم ليک ﴾

«هغه لښکر ته چې امام د زياد بن نضر حارثي او شريح بن هاني په کوماندنۍ شام او معاويه ته اولېږه، د امام نصحيت»

### د لښکريانو فوځي زدکړه

کله چې دښمن ته اورسېدئ يا دښمن تاسو ته اورسېدۀ نو خپل لښکرکوټ (فوځي کېمپ) په لوړو يا د غرونو په لمنو يا د سېندونو په مينځ کښې جوړ کړئ، چې ستاسو پناه ځاے او د دښمن د يرغل خنډ وي. جنګ له يوې خوا يا دوو خواو پېل کړئ، او د غرونو په څوکو او د وټکيو (ټيلو) په لوړو څارونکي کښينوئ چې دښمن له داسې ځايونو چې ويره ترې لرئ يا له داسې ځايونو چې خوندي يې ګڼئ په تاسو يرغل اونۀ کړي او پوه شئ چې د لښکرمخ کښان د لښکر سترګې دي او د لښکر د مخکښانو سترګې بيرغوال دي. له تيتوالي او تفرقې ډډه وکړئ که کوزيږئ ټول په يو ځاے کوزيږئ او که کوچ کوئ په ګډه يې کوئ. او کله چې تيرې راخورې شي نو نېزه بردار کسان د لښکرو خواوشا اودروئ او مۀ اوده کېږئ مګر لږ شان، په خولې کښې د اوبو د اچولو او تو کولو په اندازه (د خولې کنګالولو په اندازه).

## ﴿ دولسم ليک ﴾

«معقل بن قيس رياحي ته چې له درې زره لښکريانو سره د امام د لښکر د مخ کښانو په توګه د شام په لور اوخوځېد د امام فوځي کړنلاره»

### د فوځي احتياط ضرورت

له هغه خدايه اوېرېږه چې ورسره له ملاقات نه بغېر چاره نۀ لرې او د هغۀ

تُقَاتِلَنَّ إِلاَّ مَنْ قَاتَلَكَ، وَسِرِ الْبَرْدَيْنِ،غَوِّرْ بِالنَّاسِ، وَرَفِّهْ فِي السَّيْرِ، وَلاَ تَسِرْ أَوَّلَ اللَّيْلِ، فَإِنَّ اللهَ جَعَلَهُ سَكَناً، وَقَدَّرَهُ مُقَاماً لاَ ظَعْناً، فَأَرِحْ فِيهِ بَدَنَكَ، وَرَوِّحْ ظَهْرَكَ، فَإِذَا وَقَفْتَ حِينَ يَنْبَطِحُ السَّحَرُ، أَوْ حِينَ يَنْفَجِرُ الْفَجْرُ، فَسِرْ عَلَى بَرَكَةِ اللهِ، فَإِذَا لَقِيتَ الْعَدُوَّ فَقِفْ مِنْ أَصْحَابِكَ وَسَطاً، وَلاَ تَدْنُ مِنَ الْقَوْمِ دُنُوَّ مَنْ يُرِيدُ أَنْ يُنْشِبَ الْحَرْبَ، وَلاَ تَبَاعَدْ مِنْهُمْ تَبَاعُدَ مَنْ يَهَابُ الْبَأْسَ، حَتَّى يَأْتِيَكَ أَمْرِي، وَلاَ يَحْمِلَنَّكُمْ شَنَآنُهُمْ عَلَى قِتَالِهِمْ، قَبْلَ دُعَائِهِمْ وَالاِعْذَارِ إِلَيْهِمْ.

[ ۱۳ ]

إِلَى أَمِيرَيْنِ مِنْ أُمَرَاءِ جَيْشِهِ

وَقَدْ أَمَّرْتُ عَلَيْكُمَا وَعَلَى مَنْ فِي حَيِّزِكُمَا مَالِكَ بْنَ الْحَارِثِ الأَشْتَرِ، فَاسْمَعَا لَهُ وَأَطِيعَا، وَاجْعَلاَهُ دِرْعاً وَمِجَنّاً، فَإِنَّهُ مِمَّنْ لاَ يُخَافُ وَهْنُهُ، وَلاَ سَقْطَتُهُ، وَلاَ بُطْؤُهُ عَمَّا الإِسْرَاعُ إِلَيْهِ أَحْزَمُ، وَلاَ إِسْرَاعُهُ إِلَى مَا الْبُطءُ عَنْهُ أَمْثَلُ.

[ ١٤ ]

لِعَسْكَرِهِ قَبْلَ لِقَاءِ الْعَدُوِّ بِصِفِّينَ

لاَ تُقَاتِلُوهُمْ حَتَّى يَبْدَأُوكُمْ، فَإِنَّكُمْ بِحَمْدِ اللهِ عَلَى حُجَّةٍ، وَتَرْكُكُمْ إِيَّاهُمْ حَتَّى يَبْدَأُوكُمْ حُجَّةٌ أُخْرَى لَكُمْ عَلَيْهِمْ، فَإِذَا كَانَتِ الْهَزِيمَةُ بِإِذْنِ اللهِ فَلاَ تَقْتُلُوا مُدْبِراً، وَلاَ تُصِيبُوا مُعْوِراً، وَلاَ تُجْهِزُوا عَلَى جَرِيحٍ،لاَ تَهِيجُوا النِّسَاءَ بِأَذىً، وَإِنْ شَتَمْنَ أَعْرَاضَكُمْ، وَسَبَبْنَ أُمَرَاءَكُمْ، فَإِنَّهُنَّ ضَعِيفَاتُ الْقُوَى وَالأَنْفُسِ وَالْعُقُولِ، إِنْ كُنَّا لَنُؤْمَرُ بِالْكَفِّ عَنْهُنَّ وَإِنَّهُنَّ لَمُشْرِكَاتٌ، وَإِنْ كَانَ الرَّجُلُ لَيَتَنَاوَلُ الْمَرْأَةَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ بِالْفِهْرِ أَوِ الْهِرَاوَةِ فَيُعَيَّرُ بِهَا وَعَقِبُهُ مِنْ بَعْدِهِ.

په در کښې له حاضرۍ نه بغير بله نتيجه او سرانجام نشته،يواځې له هغه کس سره چې له تاسره جنګيږي اوجنګيږه،د سحر او مازيګر په سړوښه کښې لښکر روانوه،په توده هوا کښې لښکر دمې ته پرېږده، او د لارې په پلې کولو کښې تلوار مه کوه،د شپې په پيل کښې حرکت مه کوه ځکه چې خداے تعالی شپه د آرام لپاره ټاکلې او هغه يې د قيام (سکونت) لپاره ګرځولې ده نهٔ د کوچ لپاره، نو قرار شه او سورلۍ دې هم آرام ته پرېږده، نوکله چې سحر شو او د سحر سپينوالے دې اوليدهٔ نو د خپل رب په برکت روان شه،کله چې دې دښمن اوليدهٔ،د خپل لښکر په مېنځ کښې اودرېږه، نه دومره دښمن ته نزدې کېږه چې د جنګ پېلوونکے او جګړمار اوبرېښې او مه دومره لرې کېږه چې دښمن درباندې د ويرې ګمان وکړي، تر دې چې زما امر دروړسېږي. پام کوه چې له هغوي سره کينه تا جنګ ته اړ نهٔ باسي مخکې تر دې چې هغوي هدايت ته اوبلې او د عذر دراوزه پرې بنده کړې (غاړه پرې خلاصه کړه)

## ﴿ ديارلسم ليک ﴾

«د لښکر دوو کوماندانانو، زياد بن نضر او شريح بن هاني ته د امام امر»

### د فوځي مراتبو خيال ساتل

زه «د حارث زوے مالک اشتر»ستاسو کوماندان ټاکم د هغهٔ خبره اورئ او منئ يې،هغه د ځان لپاره زغره او ډال اوګرځوئ ځکه چې هغه نهٔ لټې او سستي کوي او نهٔ تېروتنه، نهٔ په هغه ځاے کښې چې بيړه پکار ده سستي کوي او نهٔ چې په کوم ځاے کښې ايسارېدل ضروري دے تلوار کوي.

## ﴿ څوارلسم ليک ﴾

«په صفين کښې له دښمن سره له ډغرې مخکې د امام وينا»

### په جنګ کښې د انساني اخلاقو خيال ساتل

له دښمن سره جنګ مه پېلوئ تردې چې هغوي يې شروع وکړي، ځکه چې الحمدلله حجت له تاسو سره دے او ستاسو له خوا د جنګ نهٔ شروع کول به تر دې چې هغوي يې شروع کړي ستاسو د حقانيت يو بل حجت او دليل وي نو که دښمن ماتې اوخوړه او اوتښتېد نو هغه کس چې جنګ ته شا کړي مه وژنئ او بې دفاع کس ته تاوان مه رسوئ او ژوبل مه وژنئ. ښځې په ځورولو سره مهٔ تحريکوئ که څه هم ستاسو بې عزتي وکړي يا مو اميرانو ته کنځل وکړي ځکه چې هغوي په بدني او روحي ځواک او فکر کښې کم توانه دي،په هغه زمانه کښې چې ښځې مشرکې وې مونږ ته امر وُ چې وې نهٔ ځوروو،د جاهليت په زمانه کښې به که يو کس په کاڼي يا کوتک سره په ښځې بريد وکړ خلقو به هغه او د هغهٔ زوزات غندل. (يعنی دا يو پېغور وُ)

[ ١٥ ]

كَانَ يَقُولُ إذَا لَقِيَ الْعَدُوَّ مُحَارِباً

اللَّهُمَّ إِلَيْكَ أَفْضَتِ الْقُلُوبُ، وَمُدَّتِ الاَعْنَاقُ، وَشَخَصَتِ الاَبْصَارُ، وَنُقِلَتِ الاَقْدَامُ، وَأُنْضِيَتِ الاَبْدَانُ. اللَّهُمَّ قَدْ صَرَّحَ مَكْنُونُ الشَّنَآنِ، وَجَاشَتْ مَرَاجِلُ الاَضْغَانِ. اللَّهُمَّ إِنَّا نَشْكُوا إِلَيكَ غَيْبَةَ نَبِيِّنَا، وَكَثْرَةَ عَدُوِّنَا، وَتَشَتُّتَ أَهْوَائِنَا. رَبَّنَا افْتَحْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ قَوْمِنَا بِالْحَقِّ وَأَنْتَ خَيْرُ الْفَاتِحِينَ.

﴿ پينځلسم ليک ﴾

«د جنګ په ډګر کښې د امام دعا»

## په جنګ کښې دعا او رازونياز

اے خدايه! زړونه ستا په لور روان،او څټونه ستا خوا ته کاږۀ شوي، او سترګي ستا در ته څېري، او ګامونه ستا په لور په خوځښت او بدنونه ستا په خدمت کښې کمزوري او نري شوي دي؛ اے خدايه! پټي تربګنۍ ښکاره، او د کينې دېګونه په جوش دي،اے خدايه! تاته شکايت کوم له دې چې پېغمبرﷺ زمونږ په مينځ کښې نشته، او زمونږ دښمنان زيات او غوښتنې مو خورې ورې دي. «اے پالونکيه! زمونږ او زمونږ د دښمنانو ترمېنځ په حقه فېصله وکړې ځکه چې تۀ تر تولو غوره فېصله کوونکے يې»

[ ١٦ ]

كَانَ يَقُولُ عَلَيْهِ السَّلامُ لأَصْحَابِه عِنْدَ الْحَرْبِ

لاَ تَشْتَدَّنَّ عَلَيْكُمْ فَرَّةٌ بَعْدَهَا كَرَّةٌ، وَلاَ جَوْلَةٌ بَعْدَهَا حَمْلَةٌ، وَأَعْطُوا السُّيُوفَ حُقُوقَهَا، وَوَطِّئُوا لِلْجُنُوبِ مَصَارِعَهَا، وَاذْمُرُوا أَنْفُسَكُمْ عَلَى الطَّعْنِ الدَّعْسِيِّ، وَالضَّرْبِ الطِّلَحْفِيِّ، وَأَمِيتُوا الاَصْوَاتَ، فإِنَّهُ أَطْرَدُ لِلْفَشَلِ. [فَـ]وَالَّذِي فَلَقَ الْحَبَّةَ، وَبَرَأَ النَّسَمَةَ، مَا أَسْلَمُوا وَلكِنِ اسْتَسْلَمُوا، وَأَسَرُّوا الْكُفْرَ، فَلَمَّا وَجَدُوا أَعْوَاناً عَلَيْهِ أَظْهَرُوهُ.

﴿ شپاړسم ليک ﴾

«د هجرت په اوۀ دېرشم کال د صفين په ميدان کښې د جنګ د شروع کېدو په وخت د امام وېنا»

## د فوځي ټاکټيکونو زده کړه

هغه شاتګ چې ورپسې بل بريد وي او هغه تمبدل چې ورپسې بله حمله وي تاسو اندېښمن نۀ کړي،د تورو حق مو ادا کړئ او د دښمن ملا په ځمکه راکاږئ، او د نېزو د ښخولو او د تورو د سختو ګذارونو لپاره ځانونه تيار کړئ، غږونه مو په سينو کښې خوندي کړئ ځکه چې سستي لرې کوي. په هغه خدا ے قسم چې دانه يې اوڅيرله او کائنات يې وپنځوۀ، دوي اسلام اونۀ منۀ بلکه په ظاهره تسليم شول او خپل کفر يې پټ کړ او کله يې چې ملګري پيدا کړل هغه يې ښکاره کړ.

[ ١٧ ]

إِلَى مُعَاوِيَةَ جَوَاباً عَنْ كِتَابٍ مِنْهُ

وَأَمَّا طَلَبُكَ إِلَيَّ الشَّامَ، فَإِنِّي لَمْ أَكُنْ لاُعْطِيَكَ الْيَوْمَ مَا مَنَعْتُكَ أَمْسِ. وَأَمَّا قَوْلُكَ: إِنَّ الْحَرْبَ قَدْ أَكَلَتِ الْعَرَبَ إِلاَّ حُشَاشَاتِ أَنْفُسٍ بَقِيَتْ، فَمَنْ أَكَلَهُ الْحَقُّ فَإِلَى الْجَنَّةِ،وَمَنْ أَكَلَهُ الْبَاطِلُ فَإِلَى النَّارِ. وَأَمَّا اسْتِوَاؤُنَا فِي الْحَرْبِ وَالرِّجَالِ، فَلَسْتَ بِأَمْضَى عَلَى الشَّكِّ مِنِّي عَلَى الْيَقِينِ، وَلَيْسَ أَهْلُ الشَّامِ بِأَحْرَصَ عَلَى الدُّنْيَا مِنْ أَهْلِ الْعِرَاقِ عَلَى الاْخِرَةِ.

وَأَمَّا قَوْلُكَ: إِنَّا بَنُو عَبْدِ مَنَافٍ، فَكَذلِكَ نَحْنُ، وَلكِنْ لَيْسَ أُمَيَّةُ كَهَاشِمٍ، وَلاَ حَرْبٌ كَعَبْدِ الْمُطَّلِبِ، وَلاَ أَبُوسُفْيَانَ

﴿ اولسم ليک ﴾

«د هجرت په اوۀ دېرشم کال د صفين په مېدان کښې د معاويه د ليک په ځواب کښې بل ليک»

## د بني اميو د څېرې بې نقابه کول او د اهلبيتوعليهم السلام فضائل

اےمعاويه! دا چې غواړې شام دروسپارم نو زۀ به هغه څيز چې پرون مې درنۀ کړ نن درنۀ کړم[١٣٥]خو ستا دا خبره چې «جنګ عرب نغرلي او لږ شان پاتې دي» نو پوه شه چې څوک چې د حق په لار کښې ووژل شول ځاے يې جنت دے او څوک چې د باطل په لار کښې له منځه لاړ ټکاونه يې اور دے خو دا چې په جنګ او ميړنو کښې دې د برابرۍ غوره وهلې ده نو پوه شه چې تۀ په شک کښې دومره نۀ يې تللے لکه څومره چې زۀ په يقين کښې د کمال درجې ته رسېدلے يم. او د شام خلق له دنيا سره دومره مينه نۀ لري لکه څومره چې يې د عراق خلق له آخرت سره لري.

## د اهلبيتوعليهم السلام فضيلتونه

خو دا چې ادعا کوې مونږ ټول د عبد مناف بچيان يوو، هو، دا سمه ده

كَـــأَبِي طَالِـــبٍ، وَلاَ الْمُهَـــاجِرُ كَـــالطَّلِيقِ، وَلاَ الصَّـــرِيحُ كَاللَّصِـيقِ، وَلاَ الْـمُحِقُّ كَالْمُبطِـلِ، وَلاَ الْمُـؤْمِنُ كَالْمُـدْغِلِ، وَلَبِئْسَ الْخَلَفُ خَلَفٌ يَتْبَعُ سَلَفاً هَـوَى فِـي نَـارِ جَهَـنَّمَ. وَفِـي أَيْدِينَا بَعْدُ فَضْلُ النُّبُوَّةِ الَّتِي أَذْلَلْنَا بِهَا الْعَزِيزَ، وَنَعَشْنَا بِهَا الذَّلِيلَ. وَلَمَّا أَدْخَلَ اللهُ الْعَرَبَ فِـي دِينِـهِ أَفْوَاجاً، وَأَسْلَمَتْ لَهُ هذِهِ الاُمَّةُ طَوْعاً وَكَرْهاً، كُنْتُمْ مِمَّنْ دَخَلَ فِي الدِّينِ: إِمَّا رَغْبَةً وَإِمَّا رَهْبَةً، عَلَى حِينَ فَازَ أَهْلُ السَّبْقِ بِسَبْقِهِمْ، وَذَهَبَ الْمُهَاجِرُونَ الاَوَّلُونَ بِفَضْلِهِمْ.فَلاَ تَجْعَلَنَّ لِلشَّيْطَانِ فِيكَ نَصِيباً، وَلاَ عَلَى نَفْسِكَ سَبِيلاً. وَالسَّلاَمُ.

خو ستاسو نيکۀ اميه زمونږ د نيکۀ هاشم په شان نۀ دے او حرب د عبدالمطلب او ابوسفيان د ابوطالب په شان نه دے او د مهاجرو حيثيت هيڅکله د آزاد کړې شويو اسيرانو[۱۳۲] غوندې نۀ دے او حلالي د حرامي په شان نۀ شي کېدې او د حق پرست او باطل پرست پرتله نۀ شي کېدلې، نۀ مومن د مفسد په شان دے. او څومره بد دي هغه کسان چې اور ته په ننوتلو کښې د خپلو پلارنيکونو پېروي وکړي، تر هر څه تېر د نبوت فضيلت له مونږ (اهلبېتو) سره دے چې درانۀ مو ورسره سپک او خواران مو ورسره اوچت او ستر کړل، او کله چې خداے پاک عرب ډله ډله په خپل دين کښې داخل کړل او دا امت په خوښه يا په زوره د اسلام په وړاندې تسليم شول او تاسو د ابوسفيان کورنۍ يا د دنيا لپاره يا له ويرې اسلام ته راننوتلئ دا هغه وخت ؤ چې وړومبي مسلمانان تر ټولو مخکې شول او وړومبي مهاجران افضل شول، نو اے معاويه! شېطان له ځان څخه برخمن او په ځان باندې مه واکمنوه. والسلام

## [ ۱۸ ]

إِلَى عَبْدِ اللهِ بْنِ الْعَبَّاسِ وَهُوَ عَامِلُهُ عَلَى الْبَصْرَةِ

وَاعْلَمْ أَنَّ الْبَصْرَةَ مَهْبِطُ إِبْلِيسَ، وَمَغْرِسُ الْفِتَنِ، فَحَادِثْ أَهْلَهَا بِالاْحْسَانِ إِلَيْهِمْ، وَاحْلُلْ عُقْدَةَ الْخَوْفِ عَنْ قُلُوبِهِمْ. وَقَدْ بَلَغَنِي تَنَمُّرُكَ لِبَنِي تَمِيم، وَغِلْظَتُك عَلَيْهِمْ، وَإِنَّ بَنِي تَمِيم لَمْ يَغِبْ لَهُمْ نَجْمٌ إِلاَّ طَلَعَ لَهُمْ آخَرُ، وَإِنَّهُمْ لَمْ يُسْبَقُوا بِوَغْم فِي جَاهِلِيَّة وَلاَ إِسْلاَم، وَإِنَّ لَهُمْ بِنَا رَحِماً مَاسَّةً، وَقَرَابَةً خَاصَّةً، نَحْنُ مَأْجُورُونَ عَلَى صِلَتِهَا، وَمَأْزُورُونَ عَلَى قَطِيعَتِهَا. فَارْبَعْ أَبَا الْعَبَّاسِ، رَحِمَكَ اللهُ، فِيما جَرَى عَلَى يَدِكَ وَلِسَانِكَ مِنْ خَيْر وَشَرّ! فَإِنَّا شَرِيكَانِ فِي ذلِكَ،كُنْ عِنْدَ صَالِحِ ظَنِّي بِكَ، وَلاَ يَفِيلَنَّ رَأْيِي فِيكَ، وَالسَّلاَمُ.

## ﴿ اتلسم ليک ﴾

«د بصرې والي عبدالله بن عباس ته ليک چې د جمل له جنګه وروسته په شپږ د برشم هجري سپوږميز کال کښې اوليکلے شو»

### له خلقو سره سلوک

پوه شه چې بصره د شېطان کور او د فتنو پټے دے، له خلقو سره ښې نېک سلوک کوه او له زړونو ېې د وحشت او ترهې غوټه پرانېزه،د بني تميمو له قبيلې سره ستا له بد سلوکۍ او زېږوالي خبر ماته راکړے شو، ېې شکه چې بني تميم پياوړي مېړونه لري چې که يو ېې ولوېږي بل ېې په ځاے راڅرګندېږي او د جاهليت او اسلام په جنګ کښې څوک له هغوي مخکې نۀ شول هغوي له مونږ سره خپلوي او خاص نزدېکت لري او له هغوي سره ترېنت او صله رحم اجر او د تعلقاتو پرې کول عذاب لري نو اے ابوالعباسه نرمي کوه هيله ده هغه څه چې ستا له خولې او لاسه جاري شي که ښه وي او که بد خداے دې درته اوبخښي ځکه چې زۀ او تۀ په دغه سلوک کښې سره شريک يوو هڅه کوه چې ښې نظر مې ستا په حقله ښۀ پاتے شي او بدل نۀ شي، والسلام.

## [ ۱۹ ]

إِلَى بَعْضِ عُمَّالِه

أَمَّا بَعْدُ، فَإِنَّ دَهَاقِينَ أَهْلِ بَلَدِكَ شَكَوْا مِنْكَ غِلْظَةً وَقَسْوَةً، وَاحْتِقَاراً وَجَفْوَةً، وَنَظَرْتُ فَلَمْ أَرَهُمْ أَهْلاً لاَنْ يُدْنَوْا لِشِرْكِهِمْ، وَلاَ أَنْ يُقْصَوْا وَيُجْفَوْا لِعَهْدِهِمْ، فَالْبَسْ

## ﴿ نولسم ليک ﴾

«د ايران په فارس کښې يو والي عمر بن ابي سلمه ارحبي ته ليک»

### له خلقو سره په بدسلوکۍ خبردارے

له درود او سلامه وروسته، ستا د ولايت کروندګرو ستا د تاوتريخوالي،سختوالي، سپکاوي او سخت زړۀ والي شکايت کړے دے. ما چې فکر وکړ نو اومې ليدل چې له دې امله چې هغوي لا مشرکان دي تا ته د نزدې کېدو وړ نۀ دي خو ستا د سنګدلۍ،سختۍ او

لَهُمْ جِلْبَاباً مِنَ اللِّينِ تَشُوبُهُ بِطَرَفٍ مِنَ الشِّدَّةِ، وَدَاوِلْ لَهُمْ بَيْنَ الْقَسْوَةِ وَالرَّأْفَةِ، وَامْزُجْ لَهُمْ بَيْنَ التَّقْرِيبِ وَالْاِدْنَاءِ، وَالْاِبْعَادِ وَالْاِقْصَاءِ، إِنْ شَاءَاللهُ.

بدسلوکۍ ورېږې هم اونۀ لیدل ځکه چې له مونږ سره هم تړوني دي (یعنې د اسلام په پناه کښې دي)، نو له هغوي سره په سلوک کښې سختي او نرمي دواړه کاروه او له نرمښت او سختوالي دواړو کار اخله، په نژدې کولو یا لرې کولو کښې د اعتدال او مېنځ لارې خیال ساته.

## [ ۲۰ ]

إِلَى زِيَادِ بْنِ أَبِيهِ، وَهُوَ خَلِيفَةُ عَامِلِهِ عَبْدِاللهِ بْنِ الْعَبَّاسِ عَلَى الْبَصْرَةِ. وَعَبْدُاللهِ عَامِلُ أَمِيرِ الْمُؤْمِنِينَ عَلَيْهِ السَّلَامُ يَوْمَئِذٍ عَلَيْهَا وَعَلَى كُوَرِ الْأَهْوَازِ وَفَارِسَ وَكِرْمَانَ:

وَإِنِّي أُقْسِمُ بِاللهِ قَسَماً صَادِقاً، لَئِنْ بَلَغَنِي أَنَّكَ خُنْتَ مِنْ فَيْءِ الْمُسْلِمِينَ شَيْئاً صَغِيراً أَوْ كَبِيراً، لَأَشُدَّنَّ عَلَيْكَ شَدَّةً تَدَعُكَ قَلِيلَ الْوَفْرِ، ثَقِيلَ الظَّهْرِ، ضَئِيلَ الْأَمْرِ، وَالسَّلَامُ.

## ﴿ شلم لیک ﴾

«د بصرې د والي ځاے ناستي زیاد بن ابیه ته لیک»

(ابن عباس د امام له خوا د بصرې ګورنرۀ او په اهواز، فارس، کرمان او خواوشا سیمو یې څارنه کوله)

### په بیت المال کښې له خیانته ډډه وکړه

بې شکه، په رښتیا په خداے قسم خورم! که خبر شوم چې د ولس په مال کښې دې خیانت کړے دے که لږ وي او که زیات، دومره سختي به درباندې وکړم چې ونډه به دې کمه شي ملا به دې ماته شي او د خپلې کورنۍ په خرچې کښې به خوار او لالهانده شې. والسلام

## [ ۲۱ ]

إِلَيْهِ أَيْضاً

فَدَعِ الْإِسْرَافَ مُقْتَصِداً، وَاذْكُرْ فِي الْيَوْمِ غَداً، وَأَمْسِكْ مِنَ الْمَالِ بِقَدْرِ ضَرُورَتِكَ، وَقَدِّمِ الْفَضْلَ لِيَوْمِ حَاجَتِكَ. أَتَرْجُو أَنْ يُعْطِيَكَ اللهُ أَجْرَ الْمُتَوَاضِعِينَ وَأَنْتَ عِنْدَهُ مِنَ الْمُتَكَبِّرِينَ! وَتَطْمَعُ ـ وَأَنْتَ مُتَمَرِّغٌ فِي النَّعِيمِ، تَمْنَعُهُ الضَّعِيفَ وَالْأَرْمَلَةَ ـ أَنْ يُوجِبَ لَكَ ثَوَابَ الْمُتَصَدِّقِينَ؟ وَإِنَّمَا الْمَرْءُ مَجْزِيٌّ بِمَا [أَ] سْلَفَ، وَقَادِمٌ عَلَى مَا قَدَّمَ، وَالسَّلَامُ.

## ﴿ یویشتم لیک ﴾

«د هجرت په شپږ دېرشم کال زیاد ته بل لیک»[۱۳۷]

### د مېنځ لارې سپارښتنه

اے زیاده! له اسرافه ډډه وکړه او مېنځ لاري خپله کړه له ننه د سبا په فکر شه، او د دنیا له ماله د خپل ضرورت په اندازه اوساته، او پاتې مال په آخرت کښې د خپل ضرورت او توښې لپاره اولېږه. آیا هیله لرې چې خداے د متواضعانو اجر درکړي په داسې حال کښې چې کبرجن وې؟ او طمعه لرې چې د انفاق کوونکو ثواب اوګټې حال دا چې په ناز او نعمت کښې اوسېږې؟ او بېوزلان او کونډې له دغو نعمتونو بې برخې کوې؟ بې شکه انسان ته به هغه څه په بدله کښې ورکړل کیږي چې له ځانه مخکښې یې لېږلي او د خداے په نزد یې زېرمه کړي دي.

## [ ۲۲ ]

إِلَى عَبْدِاللهِ بْنِ الْعَبَّاسِ

وَكَانَ ابْنُ عَبَّاسٍ يَقُولُ: مَا انْتَفَعْتُ بِكَلَامٍ بَعْدَ كَلَامِ رَسُولِ اللهِ كَانْتِفَاعِي بِهٰذَا الْكَلَامِ:

أَمَّا بَعْدُ، فَإِنَّ الْمَرْءَ قَدْ يَسُرُّهُ دَرْكُ مَا لَمْ يَكُنْ لِيَفُوتَهُ، وَيَسُوؤُهُ فَوْتُ مَا لَمْ يَكُنْ لِيُدْرِكَهُ، فَلْيَكُنْ سُرُورُكَ بِمَا نِلْتَ مِنْ آخِرَتِكَ، وَلْيَكُنْ أَسَفُكَ عَلَى مَا فَاتَكَ مِنْهَا، وَمَا نِلْتَ مِنْ دُنْيَاكَ فَلَا تُكْثِرْ بِهِ فَرَحاً، وَمَا فَاتَكَ مِنْهَا فَلَا تَأْسَ عَلَيْهِ جَزَعاً، وَلْيَكُنْ هَمُّكَ فِيمَا بَعْدَ الْمَوْتِ.

## ﴿ دویشتم لیک ﴾

«په شپږ دېرشم کال کښې د بصرې والي ابن عباس ته لیک چې ویلې یې دي د پیغمبر ﷺ له خبرو وروسته مې د دغه لیک په شان ګټه ورې خبرې نۀ دي موندلې»

### قیامت یاد ساته

له درود او سلامه وروسته! بې شکه کله انسان د داسې څیز په ترلاسه کولو خوشحالېږي چې هیڅکله یې له لاسه نۀ اوځي او کله د داسې څیز په تللو خفه کیږي چې هیڅکله ورته نۀ رسېږي، اے ابن عباسه! په هغه څیز خوشحاله شه چې په قیامت کښې دې په کار راشي او د هغه څیز په بائللو خفه شه چې په قیامت کښې دې په ګټه راتلے شو، د دنیا ونډه دې خوشحاله نۀ کړي او د دنیا د مال په بائللو چغې او خفګان مه کوه او خپل همت د هغې دنیا لپاره وکاروه.

[ ٢٣ ]

قَالَهُ قُبَيْلَ مَوْتِه لَمَّا ضَرَبَهُ ابْنُ مُلْجَمٍ عَلَى سَبِيلِ الْوَصِيَّة

وَصِيَّتِي لَكُمْ: أَنْ لاَ تُشْرِكُوا بِاللهِ شَيْئاً، وَمُحَمَّدٌ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِه فَلاَ تُضَيِّعُوا سُنَّتَهُ، أَقِيمُوا هذَيْنِ الْعَمُودَيْنِ، وَخَلاَ كُمْ ذَمٌّ. أَنَا بِالاْمْسِ صَاحِبُكُمْ، وَالْيَوْمَ عِبْرَةٌ لَكُمْ، وَغَداً مُفَارِقُكُمْ، إِنْ أَبْقَ فَأَنَا وَلِيُّ دَمِي، وَإِنْ أَفْنَ فَالْفَنَاءُ مِيعَادِي، وَإِنْ أَعْفُ فَالْعَفْوُ لِي قُرْبَةٌ، وَهُوَ لَكُمْ حَسَنَةٌ، فَاعْفُوا أَلاَ تُحِبُّونَ أَنْ يَغْفِرَ اللهُ لَكُمْ؟

وَاللهِ مَا فَجَأَنِي مِنَ الْمَوْتِ وَارِدٌ كَرِهْتُهُ، وَلاَ طَالِعٌ أَنْكَرْتُهُ، وَمَا كُنْتُ إِلاَّ كَقَارِبٍ وَرَدَ، وَطَالِبٍ وَجَدَ، وَمَا عِنْدَ اللهِ خَيْرٌ لِلاْبْرَارِ.

[ ٢٤ ]

وَمِنْ وَصِيَّة لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ بِمَا يُعْمَلُ فِي أَمْوَالِه،
كَتَبَهَا بَعْدَ مُنْصَرَفِه مِنْ صِفِّينَ

هذَا مَا أَمَرَ بِه عَبْدُ اللهِ عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِب أَمِيرُ الْمُؤْمِنِينَ فِي مَالِه، ابْتِغَاءَ وَجْهِ اللهِ، لِيُولِجَنِي بِه الْجَنَّةَ، وَيُعْطِيَنِي الاْمَنَةَ.

مِنْهَا: فَإِنَّهُ يَقُومُ بِذلِكَ الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، يَأْكُلُ مِنْهُ بِالْمَعْرُوفِ، وَيُنْفِقُ مِنْهُ فِي الْمَعْرُوفِ، فَإِنْ حَدَثَ بِحَسَنٍ حَدَثٌ وَحُسَيْنٌ حَيٌّ، قَامَ بِالاْمْرِ بَعْدَهُ، وَأَصْدَرَهُ مَصْدَرَهُ.

وَإِنَّ لاِبْنَيْ فَاطِمَةَ مِنْ صَدَقَةِ عَلِيٍّ مِثْلَ الَّذِي لِبَنِي عَلِيٍّ، وَإِنِّي إِنَّمَا جَعَلْتُ الْقِيَامَ بِذلِكَ إِلَى ابْنَيْ فَاطِمَةَ ابْتِغَاءَ وَجْهِ اللهِ، وَقُرْبَةً إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِه وَتَكْرِيماً لِحُرْمَتِه، وَتَشْرِيفاً لِوُصْلَتِه.

وَيَشْتَرِطُ عَلَى الَّذِي يَجْعَلُهُ إِلَيْهِ أَنْ يَتْرُكَ الْمَالَ عَلَى أُصُولِه، وَيُنْفِقَ مِنْ ثَمَرِه حَيْثُ أُمِرَ بِه وَهُدِيَ لَهُ،أَلاَّ يَبِيعَ مِنْ أَوْلاَدِ نَخِيلِ هذِهِ الْقُرَى وَدِيَّةً حَتَّى تُشْكِلَ أَرْضُهَا غِرَاساً.وَمَنْ كَانَ مِنْ إِمَائِي اللاَّتِي أَطُوفُ عَلَيْهِنَّ لَهَا وَلَدٌ، أَوْهِيَ حَامِلٌ، فَتُمْسَكُ عَلَى وَلَدِهَا وَهِيَ مِنْ حَظِّه، فَإِنْ مَاتَ وَلَدُهَا وَهِيَ حَيَّةٌ فَهِيَ عَتِيقَةٌ،

## ﴿ درويشتم ليک ﴾

«د هجرت په څلوېښتم کال په روژه کښې د شهادت په شيبو کښې د امام وصيت»

### تل پاتې ملغلرې

تاسو ته زما وصيت دا دے چې: له خداے سره شريک مه ګرځوئ او د حضرت محمد ﷺ سنت مه ضائع کوئ. د دين دا دوه ستنې اودروئ او دا دوه څراغه بل اوساتئ، نو د هيڅ غندنې وړ به نۀ يئ. زۀ مو پرون ملګرے وم نن درته د عبرت نښه يم او سبا به درځينې لاړ شم، که پاتې شوم خو د خپلې وينې (خون خواهي) اختيار مې خپل دے او که اومرم، مرګ مې د وعدې ځاے دے، که بخښنه وکړم زما لپاره خداے پاک ته نزدېکت او ستاسو لپاره نيکي او حسنه ده، نو بخښنه وکړئ «آيا زړۀ مو نۀ غواړي چې خداے پاک تاسو اوبخښي»

په خداے قسم! د مرګ په رارسېدو سره داسې کوم څيز ماته نۀ دے راغلے چې خوښ پرې نۀ وم او نښې مې يې بدې شوې، بلکه زۀ په شپه کښې د اوبو د هغه لټونکي په شان يم چې ناڅاپه اوبۀ اومومي، يا هغه کس چې خپل ورک څيز پيدا کړي، يعنې مرګ مې خوښ دے «او هغه څه چې له خداے سره دي د نېکانو لپاره غوره دي»

## ﴿ څلورويشتم ليک ﴾

«د صفين له جنګه له ستنېدو وروسته يې دا اقتصادي وصيت د هجرت د اوۀ دېرشم کال د څلورمې خور په شلمه اوليکۀ»

### د خپلو ذاتي اموالو په حقله اقتصادي وصيت

دا هغه امر دے چې د خداے بنده او د مومنانو امير علي ابن ابيطالب د خپل ذاتي مال په حقله د خداے پاک د رضا لپاره وکړے دے چې خداے يې د هغۀ په وسيله جنت ته بوځي او قرار ورکړي. «د ليک يوه برخه» د دغه مالونو سرپرستي زما د زوے حسن بن عليؑ په غاړه ده چې څرنګه غوره ده هغه اولګوي او انفاق ترې وکړي او که حسنؑ ته کومه پېښه ورپېښه شوه او حسينؑ ژوندے ؤ نو هغه به يې سرپرستي په غاړه اخلي او د هغه کار به جاري ساتي.

د بي بي فاطمېؑ بچي له دغه ماله هغه هومره ونډه لري څومره چې د عليؑ نور بچيان لري.زۀ د خپلو مالونو مشري د بي بي فاطمېؑ بچيانو ته سپارم، چې د خداے رضا، د رسول الله مبارک ﷺ قربت لاسته راوړم د هغۀ د حرمت درناوے وکړم او له پېغمبراکرم ﷺ سره د خپلوۍ عزت اوساتم.

### د مالونو د ساتنې ضرورت

او په هغه چا چې دا مال يې په لاس کښې دے شرط ږدم چې د پانګې اصل اوساتي او بوائې مېوه او ګټه يې اوخوري او انفاق وکړي او هيڅکله د کجورو ونې خرڅې نۀ کړي تر دې چې ټول ټاټوبې په يو هېر په هغو اوپوښل شي چې لاره موندل پکښې ګران وي. او زما له غېر عقدي

قَدْ أَفْرَجَ عَنْهَا الرِّقُّ، وَحَرَّرَهَا الْعِتْقُ.

[ ۲۵ ]

كَانَ يَكْتُبُهَا لِمَنْ يَسْتَعْمِلُهُ عَلَى الصَّدَقَاتِ

وَإِنَّمَا ذَكَرْنَا مِنْهَا جُمَلاً هَاهُنَا لِيُعْلَمَ بِهَا أَنَّهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ كَانَ يُقِيمُ عِمَادَ الْحَقِّ، وَيُشَرِّعُ أَمْثِلَةَ الْعَدْلِ، فِي صَغِيرِ الأُمُورِ وَكَبِيرِهَا، وَدَقِيقِهَا وَجَلِيلِهَا.

انْطَلِقْ عَلَى تَقْوَى اللهِ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، وَلاَ تُرَوِّعَنَّ مُسْلِماً، وَلاَ تَجْتَازَنَّ عَلَيْهِ كَارِهاً، وَلاَ تَأْخُذَنَّ مِنْهُ أَكْثَرَ مِنْ حَقِّ اللهِ فِي مَالِهِ. فَإِذَا قَدِمْتَ عَلَى الْحَيِّ فَانْزِلْ بِمَائِهِمْ مِنْ غَيْرِ أَنْ تُخَالِطَ أَبْيَاتَهُمْ، ثُمَّ امْضِ إِلَيْهِمْ بِالسَّكِينَةِ وَالْوَقَارِ، حَتَّى تَقُومَ بَيْنَهُمْ فَتُسَلِّمَ عَلَيْهِمْ، وَلاَ تُخْدِجْ بِالتَّحِيَّةِ لَهُمْ، ثُمَّ تَقُولَ: عِبَادَ اللهِ، أَرْسَلَنِي إِلَيْكُمْ وَلِيُّ اللهِ وَخَلِيفَتُهُ، لاِخُذَ مِنْكُمْ حَقَّ اللهِ فِي أَمْوَالِكُمْ، فَهَلْ لِلَّهِ فِي أَمْوَالِكُمْ مِنْ حَقّ فَتُؤَدُّوهُ إِلَى وَلِيِّهِ؟ فَإِنْ قَالَ قَائِلٌ: لاَ، فَلاَ تُرَاجِعْهُ، وَإِنْ أَنْعَمَ لَكَ مُنْعِمٌ فَانْطَلِقْ مَعَهُ مِنْ غَيْرِ أَنْ تُخِيفَهُ أَوْ تُوعِدَهُ أَوْ تَعْسِفَهُ أَوْ تُرْهِقَهُ، فَخُذْ مَا أَعْطَاكَ مِنْ ذَهَب أَوْ فِضَّة، فَإِنْ كَانَتْ لَهُ مَاشِيَةٌ أَوْ إِبِلٌ فَلاَ تَدْخُلْهَا إِلاَّ بِإِذْنِهِ، فَإِنَّ أَكْثَرَهَا لَهُ، فَإِذَا أَتَيْتَهَا فَلاَ تَدْخُلْهَا دُخُولَ مُتَسَلِّط عَلَيْهِ وَلاَ عَنِيف بِهِ، وَلاَ تُنَفِّرَنَّ بَهِيمَةً وَلاَ تُفْزِعَنَّهَا،وَلاَ تَسُوءَنَّ صَاحِبَهَا فِيهَا، وَاصْدَعِ الْمَالَ صَدْعَيْنِ، ثُمَّ خَيِّرْهُ، فَإِذَا اخْتَارَ فَلاَ تَعْرِضَنَّ لِمَا اخْتَارَهُ، ثُمَّ اصْدَعِ الْبَاقِيَ صَدْعَيْنِ، ثُمَّ خَيِّرْهُ، فَإِذَا اخْتَارَ فَلاَ تَعْرِضَنَّ لِمَا اخْتَارَ، فَلاَ تَزَالُ بِذلِكَ حَتَّى يَبْقَى مَا فِيهِ وَفَاءٌ لِحَقِّ اللهِ فِي مَالِهِ، فَاقْبِضْ حَقَّ اللهِ مِنْهُ. فَإِنِ اسْتَقَالَكَ فَأَقِلْهُ، ثُمَّ اخْلِطْهُمَا، ثُمَّ اصْنَعْ مِثْلَ الَّذِي صَنَعْتَ أَوَّلاً حَتَّى تَأْخُذَ حَقَّ اللهِ فِي مَالِهِ.

وَلاَ تَأْخُذَنَّ عَوْداً، وَلاَ هَرِمَةً، وَلاَ مَكْسُورَةً، وَلاَ مَهْلُوسَةً، وَلاَ ذَاتَ عَوَار. وَلاَ تَأْمَنَنَّ عَلَيْهَا إِلاَّ مَنْ تَثِقُ بِدِينِهِ، رَافِقاً بِمَالِ

ښځو (وينځو) څخه چې زړه ورسره وم که يوه بچه داره وي يا يې پښه درنه وي د بچي له ځېږېدو وروسته دې د بچي په خاطر وساتلې شي ځکه چې دا يې خپله برخه ده نوکه بچے يې مړ شي نو مور يې آزاده ده او وينځتوب ترې لرې کېږي او غاړه يې خلاصيږي.

## ﴿ پينځويشتم ليک ﴾

«د هجرت په شپږ دېرشم کال د مالياتو (ټېکسونو) د غونډولو مامورانو ته د امام وېنا، مونږ د دغه وصيت ځينې برخه راوړې ده چې معلومه شي امام د حق ارکان په ځاے کول او د عدل امر يې کوؤ که هغه په وړو کارونو کښې ؤ که په لويو کارونو کښې»

### د اقتصادي چاروالو ټولنيز (اجتماعي) اخلاق

د يواځيني او بې شريکه خداے په ويرې سره حرکت کوه، په لاره کښې هيڅ مسلمان مه ويروه، يا په زوره (چې د هغهٔ خوښه نهٔ وي) د هغهٔ له ځمکې مه تېرېږه، او د خداے پاک تر حقه زيات له هغه مه اخله.کله چې آبادۍ ته اورسېږې د اوبو غاړې ته پړاؤ اچوه، او د چا کور ته مه ننوځه، بيا په قرار او وقار سره هغوي ته ورځه تر دې چې وررسېږې؛ هغوي ته سلام وکړه او په سلام او سترې مه شي کښې کوتاهي مه کوه، بيا ورته ووايه:«اے د خداے بندګانو! زهٔ د خداے ولي او د هغهٔ خليفه تاسو ته رالېږلے يم چې ستاسو په مال کښې د خداے حق له تاسو واخلم، آيا ستاسو په مالونو کښې کوم حق شته چې د هغهٔ استازي ته يې ورکړئ؟»
که چا وويل چې نه، نو بيا مه ورځه او که چا وويل چې هو، نو ورسره لاړ شه بې له دې چې وې ويروې يا يې اوګواښې يا يې سخت کار ته مجبور کړې، څومره سرهٔ اوسپين يې چې درکړل وائې خله او که ګډې اوښان يې لرل بې اجازې مه ورننوځه ځکه چې ډېرې يې د هغهٔ دي کله چې ننوتلې نو د واکوال او سختو کسانو په شان سلوک مه کوه کوم حېوان مه رم کوه او مه يې ويروه، او د مال خاوند مه ځوروه. څاروي دوه ډلې کړه او څښتن ته يې پرېږده چې په خپله ترې غوره کړي او له غوراوي وروسته اعتراض مه کوه بيا پاتې څاروي په دوو ډلو اويشه او څښتن يې پرېږده چې په خپله انتخاب کړي او په غوراوي يې نيوکه مه کوه په دې رودې سره چلندکوه تر دې چې د خداے پاک حق پکښې پاتے شي که د مال خاوند له دغه ويش او غوراوي پښېمانه شي او له تا اوغواړي چې بيا ويش وکړې نو ملګرتيا يې وکړه، نو څاروي سره ګډ وډ کړه او بيا يې دوه ډلې کړه د اول په شان، چې د خداے حق ترې واخلې، او د څاروو په اخېستلو کښې داسې حيوانات په زکات کښې مهٔ اخله چې بوډا وي يا مات ګوډ وي يا بيمار او معيوب وي او داسې کس ته يې مه سپاره چې ډاډ پرې نهٔ لرې يا د مسلمانانو په مال يې زړهٔ نهٔ سوځي چې هغه د

الْمُسْلمينَ حَتَّى يُوصلَهُ إلَى وَلِيِّهمْ فَيَقْسِمَهُ بَيْنَهُمْ. وَلاَ تُوَكِّلْ بهَا إلاَّ نَاصحاً شَفيقاً، وَأَميناً حَفيظاً، غَيْرَ مُعَنِّف وَلاَ مُجْحِف، وَلاَ مُلْغِب وَلاَ مُتْعِب. ثُمَّ احْدُرْ إلَيْنَا مَا اجْتَمَعَ عِنْدَكَ، نُصَيِّرْهُ حَيْثُ أَمَرَ اللهُ به. فَإذَا أَخَذَهَا أَمينُكَ فَأَوْعِزْ إلَيْه: أَلاَّ يَحُولَ بَيْنَ نَاقَة وَبَيْنَ فَصيلهَا، وَلاَ يَمْصُرَ لَبَنَهَا فَيَضُرَّ ذلكَ بوَلَدهَا، وَلاَ يَجْهَدَنَّهَا رُكُوباً، وَلْيَعْدلْ بَيْنَ صَوَاحبَاتهَا في ذلكَ وَبَيْنَهَا، وَلْيُرَفِّهْ عَلَى اللاَّغب، وَلْيَسْتَأْنِ بالنَّقب وَالظَّالِع، وَلْيُوردْهَا مَا تَمُرُّ به منَ الْغُدُر، وَلاَ يَعْدلْ بهَا عَنْ نَبْت الاَرْض إلَى جَوَادِّ الطُّرُق، وَلْيُرَوِّحْهَا في السَّاعَات، وَلْيُمْهلْهَا عنْدَ النِّطَاف وَالاَعْشَاب، حَتَّى تَأْتيَنَا بإذْن الله بُدَّناً مُنْقيَات، غَيْرَ مُتْعَبَات وَلاَ مَجْهُودَات، لنَقْسمَهَا عَلَى كتَاب الله وَسُنَّة نَبيِّه عَلَيْه السَّلاَمُ فَإنَّ ذلكَ أَعْظَمُ لا□جْرِكَ، وَأَقْرَبُ لرُشْدكَ، إنْ شَاءَ اللهُ.

[ ۲٦ ]

وَمنْ عَهْد لَهُ عَلَيْه السَّلاَمُ إلَى بَعْض عُمَّاله
وَقَدْ بَعَثَهُ عَلَى الصَّدَقَة

أَمَرَهُ بتَقْوَى الله في سَرَائر أُمُوره وَخَفيَّات أَعْمَاله، حَيْثُ لاَ شَهيدَ غَيْرُهُ، وَلاَ وَكيلَ دُونَهُ. وَآمُرُهُ أَلاَّ يَعْمَلَ بشَيْء منْ طَاعَة الله فيمَا ظَهَرَ فَيُخَالفَ إلَى غَيْره فيمَا أَسَرَّ، وَمَنْ لَمْ يَخْتَلفْ سرُّهُ عَلاَنيَتَهُ، وَفعْلُهُ وَمَقَالَتَهُ، فَقَدْ أَدَّى الاَمَانَةَ، وَأَخْلَصَ الْعبَادَةَ. وَآمُرُهُ أَلاَّ يَجْبَهَهُمْ، وَلاَ يَعْضَهَهُمْ، وَلاَ يَرْغَبَ عَنْهُمْ تَفَضُّلاً بالامَارَة عَلَيْهمْ، فَإنَّهُمُ الاخْوَانُ في الدِّين، وَالاَعْوَانُ عَلَى اسْتخْرَاج الْحُقُوق. وَإنَّ لَكَ في هذه الصَّدَقَة نَصيباً مَفْرُوضاً، وَحَقّاً مَعْلُوماً، وَشُرَكَاءَ أَهْلَ مَسْكَنَة، وَضُعَفَاءَ ذَوي فَاقَة، إنَّا مُوَفُّوكَ حَقَّكَ، فَوَفِّهمْ حُقُوقَهُمْ، وَإلاَّ تَفْعَلْ فَإنَّكَ منْ أَكْثَر النَّاس خُصُوماً يَوْمَ الْقيَامَة، وَبُؤْساً لمَنْ خَصْمُهُ عنْدَ الله الْفُقَرَاءُ وَالْمَسَاكينُ وَالسَّائلُونَ وَ الْمَدْفُوعُونَ وَالْغَارمُ وَابْنُ السَّبيلِ!

مسلمانانو امیر ته اورسوي او هغه يې په مسلمانانو کښې اوېشي.

## د ځارووو د حقوقو ملاتړ

د ځارووو په رسولو کښې هغه داسې شپون ته اوسپاره چې خېرخواه او مهربان، امین او ساتندوے وي چې نۀ سختي کوونکي وي او نۀ ظالم، نۀ ځاروي تند او په منډو اوشړي او نۀ يې ستړي کړي،بيا هغه څه چې د بیت المال لپاره راغونډ شوي دي مونږ ته راولېږه چې په هغو اړتیاو او ضرورتونو کښې چې خداے پاک يې اجازه ورکړې ده اولګوو.کله چې دې ځاروي امین کس ته اوسپارل نو هغه ته سپارښتنه وکړه چې:«اوښه او جونګے (بچے) يې له يوۀ بله جدا نۀ کړي، پۍ يې اونۀ لوشي چې بچي ته يې تاوان اونۀ رسېږي. په اوښانو په سپرېدو کښې انصاف وکړي او د هغه اوښ خيال اوساتي چې ستړے وي يا ژوبل او سپرلي ورته سخته وي. په لاره کښې هغه اوبو ته بوځي او له شنې لارې يې اوچې لارې ته بو نۀ ځي او ځاے په ځاے دمه ورکړي او کله چې اوبو او وښو ته اورسېدل پرې يې ږدي چې اوبۀ اوڅښي او اوخرېږي» تردې چې د خداے په امر مونږ ته څورب او تازه راورسېږي، نه ستړې او ستومانه، چې هغه د قرآن مجيد او د رسول الله مبارکﷺ د سنت مطابق اويشم. په دغو اوامرو باندې د عمل لپاره به لوے اجر او هدايت ولرې. ان شاء الله.

## ﴿ شپږ ويشتم ليک ﴾

«د مالیاتو ځینو چاروالو ته لیک چې د هجرت په شپږ دېرشم کال د اصفهان ګورنر مخنف بن سلیم ته اولېږل شو»

## د مالياتي چاروالو اخلاق

هغه له خدايه ويرې ته بلم په پټو رازونو او پټو عملونو کښې، هلته چې بې له خدايه بل کتونکے او بې له هغۀ نه بل استازے نۀ وي او سپارښتنه کوم چې داسې نۀ شي چې په ښکاره د خداے پاک اطاعت او په خلوت کښې يې سرغړونه وکړې او دا چې ښکاره او پټ او ګفتار او کردار يې ټکره ولري. بايد چې الهي امانتونه ورکړي او عبادت د زړۀ له کومې وکړي. او هغه ته سپارښتنه کوم چې له خلقو سره تندخويه نۀ شي او ورته دروغ اونۀ وائي، او خلقو ته له دې امله چې حکومت پرې کوي بې پروائي اونۀ کړي. ځکه چې هغوي په دين کښې ستا وروڼه او د الهي حقوقو په ويستلو کښې ستا مرستندوې دي . پوه شه چې په دغه زکات کښې يوه ټاکلې ونډه او روښانه حق دے او ضعيفان او بېوزلان پکښې ستا شريکان دي او لکه څرنګه چې مونږ ستا حق درکوو تۀ هم بايد د هغوي حق ورکړې او که دا کار اونۀ کړې په قيامت کښې به تر ټولو خلقو زيات دښمنان ولرې او افسوس دي په هغه کس باندې چې د خداے په دربار کښې فقيران، بېوزلان، سوالګران، له حقه بې برخې شوي کسان، پوروړي او ديواليه شوي او په لاره کښې پاتې کسان د هغۀ دښمنان وي او ترې شکايت وکړي.

وَمَن اسْتَهَانَ بِالأَمَانَةِ، وَرَتَعَ فِي الْخِيَانَةِ، وَلَمْ يُنَزِّهْ نَفْسَهُ وَدِينَهُ عَنْهَا، فَقَدْ أَحَلَّ بِنَفْسِهِ فِي الدُّنْيَا الْخِزْيَ، وَهُوَ فِي الأَخِرَةِ أَذَلُّ وَأَخْزَى. وَإِنَّ أَعْظَمَ الْخِيَانَةِ خِيَانَةُ الأُمَّةِ، وَأَفْظَعَ الْغِشِّ غِشُّ الأَئِمَّةِ، وَالسَّلاَمُ.

[ ٢٧ ]

وَمِنْ عَهْدٍ لَهُ إِلَى مُحَمَّدِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ حِينَ قَلَّدَهُ مِصْرَ

فَاخْفِضْ لَهُمْ جَنَاحَكَ، وَأَلِنْ لَهُمْ جَانِبَكَ، وَابْسُطْ لَهُمْ وَجْهَكَ، وَآسِ بَيْنَهُمْ فِي اللَّحْظَةِ وَالنَّظْرَةِ، حَتَّى لاَ يَطْمَعَ الْعُظَمَاءُ فِي حَيْفِكَ لَهُمْ، وَلاَ يَيْأَسَ الضُّعَفَاءُ مِنْ عَدْلِكَ عَلَيْهِمْ. وَإِنَّ اللهَ تَعَالَى يُسَائِلُكُمْ مَعْشَرَ عِبَادِهِ عَنِ الصَّغِيرَةِ مِنْ أَعْمَالِكُمْ وَالْكَبِيرَةِ، وَالظَّاهِرَةِ وَالْمَسْتُورَةِ، فَإِنْ يُعَذِّبْ فَأَنْتُمْ أَظْلَمُ، وَإِنْ يَعْفُ فَهُوَ أَكْرَمُ.

وَاعْلَمُوا عِبَادَ اللهِ، أَنَّ الْمُتَّقِينَ ذَهَبُوا بِعَاجِلِ الدُّنْيَا وَآجِلِ الأخِرَةِ، فَشَارَكُوا أَهْلَ الدُّنْيَا فِي دُنْيَاهُمْ، وَلَمْ يُشَارِكْهُم أَهْلُ الدُّنْيَا فِي آخِرَتِهِمْ؛ سَكَنُوا الدُّنْيَا بِأَفْضَلِ مَا سُكِنَتْ، وَأَكَلُوهَا بِأَفْضَلِ مَا أُكِلَتْ، فَحَظُوا مِنَ الدُّنْيَا بِمَا حَظِيَ بِهِ الْمُتْرَفُونَ وَأَخَذُوا مِنْهَا مَا أَخَذَهُ الْجَبَابِرَةُ الْمُتَكَبِّرُونَ، ثُمَّ انْقَلَبُوا عَنْهَا بِالزَّادِ الْمُبَلِّغِ، وَالْمَتْجَرِ الرَّابِحِ، أَصَابُوا لَذَّةَ زُهْدِ الدُّنْيَا فِي دُنْيَاهُمْ، وَتَيَقَّنُوا أَنَّهُمْ جِيرَانُ اللهِ غَداً فِي آخِرَتِهِمْ، لاَ تُرَدُّ لَهُمْ دَعْوَةٌ، وَلاَ يَنْقُصُ لَهُمْ نَصِيبٌ مِنْ لَذَّةٍ.

فَاحْذَرُوا عِبَادَ اللهِ الْمَوْتَ وَقُرْبَهُ، وَأَعِدُّوا لَهُ عُدَّتَهُ، فَإِنَّهُ يَأْتِي بِأَمْرٍ عَظِيمٍ، وَخَطْبٍ جَلِيلٍ، بِخَيْرٍ لاَ يَكُونُ مَعَهُ شَرٌّ أَبَداً، أَوْ شَرٍّ لاَ يَكُونُ مَعَهُ خَيْرٌ أَبَداً. فَمَنْ أَقْرَبُ إِلَى الْجَنَّةِ مِنْ عَامِلِهَا! وَمَنْ أَقْرَبُ إِلَى النَّارِ مِنْ عَامِلِهَا! وَأَنْتُمْ طُرَدَاءُ الْمَوْتِ، إِنْ أَقَمْتُمْ لَهُ أَخَذَكُمْ، وَإِنْ فَرَرْتُمْ مِنْهُ أَدْرَكَكُمْ، وَهُوَ أَلْزَمُ لَكُمْ مِنْ ظِلِّكُمْ، الْمَوْتُ مَعْقُودٌ بِنَوَاصِيكُمْ، وَالدُّنْيَا تُطْوَى مِنْ خَلْفِكُمْ. فَاحْذَرُوا نَاراً قَعْرُهَا بَعِيدٌ، وَحَرُّهَا شَدِيدٌ، وَعَذَابُهَا جَدِيدٌ، دَارٌ لَيْسَ فِيهَا رَحْمَةٌ، وَلاَ تُسْمَعُ فِيهَا دَعْوَةٌ، وَلاَ تُفَرَّجُ فِيهَا كُرْبَةٌ. وَإِنِ

### امانتداري

او څوک چې امانت سپک اوګڼي او لاس په خيانت ککړ کړي او ځان او دين ترې پاک نۀ کړي نو هغه په دنيا کښې ځانته د ذلت ورونه پرانېستي او په آخرت کښې به هم خوار او شرمېدلے وي او پوه شه چې تر ټولو لوے خيانت له اولس او عوامو سره خيانت دے او تر ټولو رسوا دهوکه او فريب له امامانو سره دهوکه ده. په درناوي.

## ﴿ اويشتم ليک ﴾

«د مصر والي محمد بن ابي ابکر ته ليک (دا ليک يې د هجرت په اوۀ دېرشم کال هغه وخت چې هغه يې مصر ته اولېږۀ ليکلے دے»

### ټولينز اخلاق

له خلقو سره خاکساره اوسه، مهربانه اوسه ورين تندے او خندانه اوسه او ورته په کتنه او ځېرنه کښې له مساواته کار اخله چې لوے اوچت خلق ستا په کمزورو باندې ستا د ظلم طمعه ونۀ کړي او بې وسه خلق دې له انصافه نهيلي او نااميده نۀ شي ځکه چې خداے به ستاسو بندګانو د وړو او لويو او پټو او ښکاره خبرو پوښتنه کوي او که سزا درکړي تاسو تر دې د زياتې سزا وړ يئ او که ومو بخښي دا به يې درباندې مهرباني کړې وي.

### په دنيا او آخرت کښې انډول او تعادل

خبر اوسئ اے د خداے بندګانو پرهېزګاران له تېرېدونکې نړۍ زر تېرشول او د تل پاتې آخرت لاره يې اونيوله د دينا له خلقو سره د هغوي په دنيا کښې شريک شول خو د دنيا خلق د هغوي په آخرت کښې شريک نۀ شول. پرهېزګاران د دنيا په غوره کورونو کښې استوګن شول او ښه خوارۀ يې اوخوړل او هماغه خوندونه يې واخېستل چې دنيا پرسته يې اخلي او له دنيا يې خوند واخېستۀ هغه شان چې کبرجن او سرکښان يې ترې اخلي او بيا له دې دنيا له پرېمانه توښې او ګټور تجارت سره د قيامت په لور اوزغستل. هغوي په دنيا کښې د زهد او پرهېزګارۍ خوند اوڅکۀ او يقين يې لرۀ چې په قيامت کښې به هم د خداے ګاونډيان وي او هرڅه چې اوغواړي وربه کړې شي او هر ډول خوند او برخه به يې په نصيب وي.

### د مرګ يادول ضروري دي

اے د خداے بندګانو! له مرګه او له نږدې والي يې اوېرېږئ، او ضروري تابيا يې وکړئ ځکه چې مرګ لوے مصيبت او دروند مشکل له ځان سره راوړي يا داسې خبر لري چې وروسته به ترې هيڅ شر نۀ وي او يا داسې شر چې هيڅ خېر به پکښې نۀ وي. نو څوک د جنت لپاره له عمل کوونکي څخه جنت ته نږدې دے؟ او څوک د اور لپاره له عمل کوونکي څخه اور ته نږدې دے؟ تاسو ټول د مرګ تيار ښکارونه يئ که ورته اودرېږئ راوبه مو نيسي او که ورځېنې اوتښتئ دراوبه رسېږي مرګ ستاسو تر سيوري هم تاسو ته نزدے دے، د مرګ تاپه مو په تنديو وهل شوې ده او دنيا مو تر شا په راغونډېدو ده. نو اوبرېږئ له هغه اوره چې

اسْتَطَعْتُمْ أَنْ يَشْتَدَّ خَوْفُكُمْ مِنَ اللهِ، وَأَنْ يَحْسُنَ ظَنُّكُمْ بِهِ، فَاجْمَعُوا بَيْنَهُمَا، فَإِنَّ الْعَبْدَ إِنَّمَا يَكُونُ حُسْنُ ظَنِّهِ بِرَبِّهِ عَلَى قَدْرِ خَوْفِهِ مِنْ رَبِّهِ، وَإِنَّ أَحْسَنَ النَّاسِ ظَنّاً بِاللهِ أَشَدُّهُمْ خَوْفاً لِلّهِ.

وَاعْلَمْ يَا مُحَمَّدُ بْنَ أَبِي بَكْرٍ أَنِّي قَدْ وَلَّيْتُكَ أَعْظَمَ أَجْنَادِي فِي نَفْسِي أَهْلَ مِصْرَ، فَأَنْتَ مَحْقُوقٌ أَنْ تُخَالِفَ عَلَى نَفْسِكَ، وَأَنْ تُنَافِحَ عَنْ دِينِكَ، وَلَوْ لَمْ يَكُنْ لَكَ إِلاَّ سَاعَةٌ مِنَ الدَّهْرِ، وَلاَ تُسْخِطِ اللهَ بِرِضَى أَحَدٍ مِنْ خَلْقِهِ، فَإِنَّ فِي اللهِ خَلَفاً مِنْ غَيْرِهِ، وَلَيْسَ مِنَ اللهِ خَلَفٌ فِي غَيْرِهِ. صَلِّ الصَّلاَةَ لِوَقْتِهَا الْمُوَقَّتِ لَهَا، وَلاَ تُعَجِّلْ وَقْتَهَا لِفَرَاغٍ، وَلاَ تُؤْخِّرْهَا عَنْ وَقْتِهَا لاِشْتِغَالٍ، وَاعْلَمْ أَنَّ كُلَّ شَيْءٍ مِنْ عَمَلِكَ تَبَعٌ لِصَلاَتِكَ. فَإِنَّهُ لاَ سَوَاءَ، إِمَامُ الْهُدَى وَإِمَامُ الرَّدَى، وَوَلِيُّ النَّبِيِّ وَعَدُوُّ النَّبِيِّ.

وَمِنْ هٰذَا الْعَهْدِ: وَلَقَدْ قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ: "إِنِّي لاَ أَخَافُ عَلَى أُمَّتِي مُؤْمِناً وَلاَ مُشْرِكاً، أَمَّا الْمُؤْمِنُ فَيَمْنَعُهُ اللهُ بِإِيمَانِهِ، وَأَمَّا الْمُشْرِكُ فَيَقْمَعُهُ اللهُ بِشِرْكِهِ،لٰكِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ كُلَّ مُنَافِقِ الْجَنَانِ، عَالِمِ اللِّسَانِ، يَقُولُ مَا تَعْرِفُونَ، وَيَفْعَلُ مَا تُنْكِرُونَ".

[ ۲۸ ]

إِلَى مُعَاوِيَةَ جَوَاباً وَهُوَ مِنْ مَحَاسِنِ الْكُتُبِ

أَمَّا بَعْدُ، فَقَدْ أَتَانِي كِتَابُكَ تَذْكُرُ [فِيهِ] اصْطِفَاءَ اللهِ تَعَالَى مُحَمَّداً صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ لِدِينِهِ، وَتَأْيِيدَهُ إِيَّاهُ بِمَنْ أَيَّدَهُ مِنْ أَصْحَابِهِ، فَلَقَدْ خَبَّأَ لَنَا الدَّهْرُ مِنْكَ عَجَباً، إِذْ طَفِقْتَ تُخْبِرُنَا بِبَلاَءِ اللهِ عِنْدَنَا، وَنِعْمَتِهِ عَلَيْنَا فِي نَبِيِّنَا، فَكُنْتَ فِي ذٰلِكَ كَنَاقِلِ التَّمْرِ إِلَى هَجَرَ، أَوْ دَاعِي مُسَدِّدِهِ إِلَى النِّضَالِ. وَزَعَمْتَ أَنَّ أَفْضَلَ النَّاسِ فِي الاِسْلاَمِ فُلاَنٌ وَفُلاَنٌ، فَذَكَرْتَ أَمْراً إِنْ تَمَّ اعْتَزَلَكَ كُلُّهُ، وَإِنْ نَقَصَ لَمْ يَلْحَقْكَ ثَلْمُهُ، وَمَا أَنْتَ وَالْفَاضِلَ وَالْمَفْضُولَ، وَالسَّائِسَ

کندې يې ژورې او تودوخې يې زياته ده. او عذاب يې هر وخت نوښت لري. هغه ځاے چې د رحمت ځاے نۀ دے او د چا غږ پکښې نۀ اورېدل کېږي او کړاوونه يې خاتمه نۀ لري، او که له خدايه ويره زياتولے او په هغۀ باندې ښۀ ګمان لرلې شئ نو دواړه اولرئ ځکه چې په خپل خداے باندې د بنده ښۀ ګمان بايد له هغۀ څخه د ويرې په اندازه وي او څوک چې پۀ خداے باندې زيات ښۀ ګمان لري بايد تر نورو زيات له خدايه اوېرېږي.

## د چارواکو اخلاق

اے ابن ابي بکره ! پوه شه چې ما تۀ د خپل تر ټولو لوے لښکر يعنې د مصر د خلقو والي کړې نو له تاسره ښائي چې د نفس مخالفت وکړې او له دينه دې دفاع وکړې که څه هم ستا له عمره يوه شيبه زياته نۀ وي پاتې او د خلقو د رضا په بدل د خداے پاک قهر په ځان مه اخله ځکه چې د خداے پاک رضا د هر څه ځاے نيولې شي خو هيڅۀ د خداے د رضا ځاے نۀ شي نيولې. لمونځ په خپل وخت کوه داسې نۀ وي چې په اوزګارتيا کښې يې وختي او په بوختيا او مصروفيت کښې يې ناوخته وکړې او پوه شه چې ستا ټول نېک عملونه په لمانځۀ پورې تړلي دي (د ليک يوه برخه) هدايت کوونکے امام او ګمراه کوونکے امام هيڅکله نۀ شي برابرېدي. لکه څرنګه چې د پېغمبراکرمﷺ دوستان او دښمنان نه دي برابر.

د خداے رسولﷺ ماته وفرمايل: په اسلامي امت کښې له مومن او مشرکه ويره نۀ لرم ځکه چې مومن به خپل ايمان له بدو غږوي او مشرک به خداے پاک د شرک په وجه نابودوي خو په تاسو کښې له هغو منافقانو ويرېږم چې دوه مخې وي عالمانه ژبه لري. خبرې يې د پوهې او علم وي او کارونه يې بد او ناخوښ وي. په درناوي.

## ﴿ اتويشتم ليک ﴾

«دمعاويه د ليک ځواب، دا يو ډېر ښکلے ليک دے چې د هجرت په شپږ دېرشم کال ليکل شوے دے»

## د معاويه د غولوونکو دعوو په ډاګه کول

د خداے له ياد او درود وروسته! ليک دې راورسېدۀ چې پکښې دې ليکلي: خداے محمدﷺ د خپل دين لپاره غوره کړ او په ملګرو سره يې ملا ورتينګه کړه. په رښتيا چې زمانې له تا څخه مونږ ته څه عجيبه عجيبه څيزونه راښکاره کړل! تۀ غواړې مونږ له هغه څه چې خداے په مونږ باندې لورولي دي خبر کړې او مونږ زمونږ د نبيﷺ له نعمته خبرکړې. ستا قصه د هغه چا په شان ده چې د خرماؤ وطن (هجر) ته خرما يوسي[۱۳۸] يا خپل استاد سيالۍ ته اوبلي! او ګمان کوې چې په اسلام کښې غوره کسان پلانکے او پلانکے ؤ.[۱۳۹] داسې څيز دې ياد کړے دے چې که ثابت شي څه ګټه يې درسره اړه نۀ لري او که دروغ وي نو څه نقصان يې درسره تعلق نۀ لري. ستا له فاضل او مفضول (برتر او کمتر)

وَالْمَسُوسَ! وَمَا لِلطُّلَقَاءِ وَأَبْنَاءِ الطُّلَقَاءِ، وَالتَّمْيِيزَ بَيْنَ الْمُهَاجِرِينَ الْأَوَّلِينَ، وَتَرْتِيبَ دَرَجَاتِهِمْ، وَتَعْرِيفَ طَبَقَاتِهِمْ! هَيْهَاتَ لَقَدْ حَنَّ قِدْحٌ لَيْسَ مِنْهَا، وَطَفِقَ يَحْكُمُ فِيهَا مَنْ عَلَيْهِ الْحُكْمُ لَهَا! أَلَا تَرْبَعُ أَيُّهَا الْإِنْسَانُ عَلَى ظَلْعِكَ، وَتَعْرِفُ قُصُورَ ذَرْعِكَ، وَتَتَأَخَّرُ حَيْثُ أَخَّرَكَ الْقَدَرُ! فَمَا عَلَيْكَ غَلَبَةُ الْمَغْلُوبِ، وَلَا لَكَ ظَفَرُ الظَّافِرِ! وَإِنَّكَ لَذَهَّابٌ فِي التِّيهِ، رَوَّاغٌ عَنِ الْقَصْدِ. أَلَا تَرَى - غَيْرَ مُخْبِرٍ لَكَ، لكِنْ بِنِعْمَةِ اللهِ أُحَدِّثُ - أَنَّ قَوْماً اسْتُشْهِدُوا فِي سَبِيلِ اللهِ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ،لِكُلٍّ فَضْلٌ، حَتَّى إِذَا اسْتُشْهِدَ شَهِيدُنَا قِيلَ: سَيِّدُ الشُّهَدَاءِ، وَخَصَّهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ بِسَبْعِينَ تَكْبِيرَةً عِنْدَ صَلَاتِهِ عَلَيْهِ! أَوَلَا تَرَى أَنَّ قَوْماً قُطِّعَتْ أَيْدِيهِمْ فِي سَبِيلِ اللهِ - وَلِكُلٍّ فَضْلٌ - حَتَّى إِذَا فُعِلَ بِوَاحِدِنَا كَمَا فُعِلَ بِوَاحِدِهِمْ، قِيلَ: الطَّيَّارُ فِي الْجَنَّةِ وَذُوالْجَنَاحَيْنِ! وَلَوْ لَا مَا نَهَى اللهُ عَنْهُ مِنْ تَزْكِيَةِ الْمَرْءِ نَفْسَهُ، لَذَكَرَ ذَاكِرٌ فَضَائِلَ جَمَّةً، تَعْرِفُهَا قُلُوبُ الْمُؤْمِنِينَ، وَلَا تَمُجُّهَا آذَانُ السَّامِعِينَ.

فَدَعْ عَنْكَ مَنْ مَالَتْ بِهِ الرَّمِيَّةُ، فَإِنَّا صَنَائِعُ رَبِّنَا، وَالنَّاسُ بَعْدُ صَنَائِعُ لَنَا. لَمْ يَمْنَعْنَا قَدِيمُ عِزِّنَا وَلَا عَادِيُّ طَوْلِنَا عَلَى قَوْمِكَ أَنْ خَلَطْنَاكُمْ بِأَنْفُسِنَا، فَنَكَحْنَا وَأَنْكَحْنَا، فِعْلَ الْأَكْفَاءِ، وَلَسْتُمْ هُنَاكَ! وَأَنَّى يَكُونُ ذلِكَ كَذلِكَ وَمِنَّا النَّبِيُّ وَمِنْكُمُ الْمُكَذِّبُ، وَمِنَّا أَسَدُ اللهِ وَمِنْكُمْ أَسَدُ الْأَحْلَافِ، وَمِنَّا سَيِّدَا شَبَابِ أَهْلِ الْجَنَّةِ وَمِنْكُمْ صِبْيَةُ النَّارِ، وَمِنَّا خَيْرُ نِسَاءِ الْعَالَمِينَ وَمِنْكُمْ حَمَّالَةُ الْحَطَبِ، فِي كَثِيرٍ مِمَّا لَنَا وَعَلَيْكُمْ! فَإِسْلَامُنَا مَا قَدْ سُمِعَ، وَجَاهِلِيَّتُنَا لَا تُدْفَعُ، وَكِتَابُ اللهِ يَجْمَعُ لَنَا مَا شَذَّ عَنَّا، وَهُوَ قَوْلُهُ سُبْحَانَهُ: ﴿وَأُولُو الْأَرْحَامِ بَعْضُهُمْ أَوْلَى بِبَعْضٍ فِي كِتَابِ اللهِ﴾، وَقَوْلُهُ تَعَالَى: ﴿إِنَّ أَوْلَى النَّاسِ بِإِبْرَاهِيمَ لَلَّذِينَ اتَّبَعُوهُ وَهذَا النَّبِيُّ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَاللهُ وَلِيُّ الْمُؤْمِنِينَ﴾، فَنَحْنُ مَرَّةً

او سیاستوال یا بې سیاسته سره سویمه ده؟. د ازاد کړې شویو اسیرانو او بچیانو یې د مهاجرانو په ورومبیوکسانو کښې د درجو له وېشلو او د هغوي د مقام او منزلت د معلومولو او ورته له ترتیب ورکولو سره څه غرض هیڅکله؟ تهٔ له اصلي غشو څخه د پوچ غشي په شان پېژندل شوے یې ځان په داسې څه کښې شمېرې چې پکښې د شمېر نهٔ یې (ما مه شمېره درګډ یم) اوس خبره دې ته راورسېده چې محکوم دې حاکم وي. اے سړیه! ولې خپل ځان نهٔ پېژنې. او خپلې نیمګړتیاوې نهٔ رایادوې. او خپل پاتې مقام ته نهٔ ستنېږې. په اسلام کښې د کمزورو لوړوالے او د بریالیو برے له تا سره څه تعلق لري؟ تهٔ تل د ګمراهۍ په دښته کښې سرګردانه او له سمې لارې بې لارې یې.

## د بني هاشمو فضائل

«هغه څه چې وایم د ځان د صفت او ستا د خبرولو لپاره نهٔ دي بلکه د خداے پاک د نعمتونو د یادولو لپاره یې وایم» نهٔ وینې چې یو شمېر مهاجر او انصار د خداے په لاره کښې شهیدان شول. او هر یو یو فضیلت لرۀ. خو کله چې زمونږ شهید «حمزه» شهید شو نو سید الشهداء اوبللے شو او پېغمبر اکرمﷺ په هغهٔ باندې د جنازې په نمانځهٔ کښې د پینځو تکبیرونو په ځاے اویا تکبیرونه وویل. تهٔ نهٔ وینې چې د خداے په لاره کښې د ډېرو لاسونه پرې شول چې هر یو یې ځانته فضیلت لري خوکله چې په مونږ کښې په یو کس[۱۴۰] ګذار اوشو او لاسونه یې غوځ شول نو وویل شول چې «طیار دے چې په دوو وزرو سره په جنت کښې الوت کوي» او که خداے له ځان ستائنې منعې نهٔ وې کړې نو د ځان هغه زیات شمېر فضائل به مې دربیان کړې وو چې د مومنانو زړونو پېژندلي دي او د اورېدونکو غوږنه ورسره بلد دي.

## د بني هاشمو فضائل او د بني امیو رسوائي

اےمعاویه! له دغو دعوو څخه لاس واخله. غشے دې خطا لاړ دے. بې شکه مونږ د خپل پالونکي پالل شوي او روزل شوي یوو او خلق زمونږ په لاسو پالل شوي او روزل شوي دي. دا چې له تاسو سره مو خپلوي وکړه او ستاسو له قامه مو ښځې وکړې، او تاسو له مونږ ښځې وکړې او له تاسو سره مو د سیال سلوک وکړ زمونږ تېر عزت او پخوانے فضیلت له مونږهٔ نهٔ غړوي. تاسو څرنګه زمونږ سیال کېدې شئ حال دا چې پېغمبر اکرمﷺ له مونږ څخه دے او شرمېدلے دورغجن[۱۴۱] له تاسو څخه، د خداے زمرے (حمزهؓ) له مونږ څخه دے او د قسمونو زمرے (ابوسفیان)[۱۴۲] له تاسو څخه، د جنت د ځوانانو دوه سرداران له مونږ څخه دي او په اور کښې اچول شوي ماشومان له تاسو څخه[۱۴۳] او د عالمینو غوره میرمن (نساء العالمین)[۱۴۴] له مونږ څخه ده او د دوزخیانو لپاره خشاک وړونکې (حمالة الحطب) له تاسو څخه،او داسې نور ډېر څیزونه چې زمونږ له فضیلتونو څخه دي او ستاسو له رسوایو څخه. نو زمونږ اسلام ټولو اورېدلے او زمونږ شرافت ټولو لیدلےدے. او د خداے کتاب مونږ ته هغه څه راکړي دي چې مونږ ته نهٔ دي رسېدلي.ځکه چې

أوْلَـى بالْقَرابَـةَ، وتَـارَةً أَوْلَـى بالطَّاعَـةَ. ولَمَّـا احْـتَجَّ الْمُهَاجِرونَ عَلَـى الأنْصَـار يَـوْمَ السَّـقيفَة برَسُـول الله صَـلَّى اللهُ عَلَيْه وآله فَلَجُوا عَلَيْهِمْ، فَإنْ يَكُـن الْفَلَـجُ بـه فَـالْحَقُّ لَنَـا دُونَكُمْ، وَإنْ يَكُنْ بغَيْـره فَالأنْصَـارُ عَلَـى دَعْـوَاهُمْ. وَزَعَمْـتَ أَنِّي لكُلِّ الْخُلَفَاء حَسَـدْتُ، وَعَلَـى كُلِّهِـمْ بَغَيْـتُ، فَـإنْ يَكُـنْ ذلكَ كَـذلكَ فَلَـيْسَ الْجنَايَـةُ عَلَيْـكَ، فَيَكُـونَ الْعُـذْرُ إلَيْـكَ. (وَتلْكَ شَكَاةٌ ظَاهرٌ عَنْكَ عَارُهَا).

وَقُلْتَ: إنِّي كُنْتُ أُقَادُ كَمَـا يُقَـادُ الْجَمَـلُ الْـمَخْشُوشُ حَتَّـى أُبَايعَ، وَلَعَمْـرُ الله لَقَـدْ أَرَدْتَ أَنْ تَـذُمَّ فَمَـدَحْتَ، وَأَنْ تَفْضَـحَ فَافْتَضَحْتَ! وَمَا عَلَـى الْمُسْـلِمِ مِـنْ غَضَاضَـةَ فـي أَنْ يَكُـونَ مَظْلُوماً مَا لَمْ يَكُنْ شَاكّاً فـي دينـه، وَلاَ مُرْتَابـاً بيَقينـه! وَهـذه حُجَّتي إلَى غَيْركَ قَصْدُهَا، وَلكنِّـي أَطْلَقْـتُ لَـكَ منْهَـا بقَـدْر مَا سَنَحَ منْ ذكْرهَـا. ثُـمَّ ذَكَـرْتَ مَـا كَـانَ مـنْ أَمْـري وَأَمْـر عُثْمانَ، فَلَكَ أَنْ تُجَابَ عَنْ هـذه لرَحمـكَ منْـهُ، فَأَيُّنَـا كَـانَ أَعْـدَى لَـهُ، أَهْـدَى إلَـى مَقَاتلـه! أَمْ مَـنْ بَـذَلَ لَـهُ نُصْـرَتَهُ فَاسْـتَقْعَدَهُ وَاسْـتَكَفَّهُ، أَمْ مَـن اسْتَنْصَـرَهُ فَتَرَاخَـى عَنْـهُ بَـثَّ الْـمَنُونَ إلَيْه، حَتَّى أَتَى قَـدَرُهُ عَلَيْـه، كَـلاَّ وَالله لَقَـدْ عَلـمَ اللهُ الْمُعَوِّقينَ مـنْكُمْ وَالْقَـائلينَ لاخْـوَانهمْ هَلُـمَّ إلَيْنَـا وَلاَ يَـأْتُونَ الْبَأْسَ إلاَّ قَليلاً. وَمَا كُنْتُ لأَعْتَذرَ منْ أَنِّـي كُنْـتُ أَنْقمُ عَلَيْـه أَحْدَاثاً، فَإنْ كَانَ الذَّنْبُ إلَيْـه إرْشَـادي وَهـدَايَتي لَـهُ، فَـرُبَّ مَلُـوم لاَ ذَنْـبَ لَـهُ. (وَقَـدْ يَسْـتَفيدُ الظِّنَّـةَ الْمُتَنَصِّـحُ.) وَمَـا أَرَدْتُ إلاَّ الاصْلاَحَ مَا اسْـتَطَعْتُ وَمَـا تَـوْفيقي إلاَّ بـالله عَلَيْـه تَوَكَّلْتُ.

وَذَكَرْتَ أَنَّهُ لَيْسَ لي وَلاَ لأَصْحَابي عنْـدَكَ إلاَّ السَّـيْفُ، فَلَقَـدْ أَضْحَكْتَ بَعْدَ اسْتعْبَار! مَتَى أُلْفيَتْ بَنُو عَبْد الْمُطَّلب عَن الأَعْدَاء نَاكلينَ، وَبالسُّيُوف مُخَوَّفينَ؟! فَـلَبِّثْ قَليلاً يَلْحَق الْهَيْجَا حَمَـلْ فَسَيَطْلُبُكَ مَنْ تَطْلُبُ، وَيَقْرُبُ منْـكَ مَـا تَسْـتَبْعدُ، وَأَنَـا مُرْقـلٌ

پاک خدا ے وفرمایل:«د خدا ے په کتاب کښې ځینې خپلوان تر ځینو غوره دي» او همدارنګ سبحان خدا ے فرمایلي دي:«ابراهیم ته تر ټولو غوره کسان هغه دي چې پېروي یې وکړي او دا پېغمبر او هغه کسان چې ایمان یې راوړۀ، او خدا ے د مومنانو ولي دے» نو مونږ یو ځل د پېغمبراکرمﷺ د خپلوۍ او بل ځل د هغه د اطاعت له امله د خلافت زیات وړ یوو. او هغه ورځ چې مهاجرو په سقیفه کښې له انصارو سره شخړه لرله نو یواځې د پېغمبراکرمﷺ د خپلوۍ په یادولو سره په هغوي لاسبري شول که دا د لوړاوي او برترۍ دلیل وي نو حق له مونږ سره دے نه له تاسو سره او که بل دلیل یې لرۀ نو انصار په خپلې دعوې پاتې دي. معاویه! تۀ ګمان کوې چې له ټولو خلفاؤ سره مې حسد کړے دے او پۀ هغوي زغاستلے یم. که داسې شوې هم وي نو په تا خو نۀ دي تېرې شوې چې له تا عذر وغواړم (او د شاعر په قول:).« دا هغه ګیلې دي چې شرم یې ستا لمنه نۀ ده نیولې»

## د امام مظلومیت

او ستا دا خبره چې زۀ یې د پیزواني شوي اوښ په شان بیعت ته راکښلم، په خدا ے قسم! تا غندنه غوښتله خو ستائنه دې وکړه، شرمول دې غوښتل خو په خپله اوشرمېدې مسلمان ته له مظلوم واقع کېدو څخه څه باک د ے تر هغې چې په خپل دین کښې شکمن او په خپل یقین کښې دوه زړے نۀ شي او دا دلیل مې حتی له ستا په شان کسانو نه بغېر د نورو لپاره راوړۀ چې نصیحت ترې واخلي او رالنډ مې کړ تر کومه مې چې ظاهراً له ذهنه تېر شو. بیا دې له عثمان سره زما چاره یاده کړې ده، ته یې باید ځواب ورکړې چې د هغۀ له خپلوانو څخه یې، په رښتیا ووایه چې په ما او تا کښې چا له عثمان سره زیاته دښمني لرله او د هغۀ د وژلې لاره یې هواره کړه؟ هغه کس چې له هغه سره یې مرسته وکړه او ترې یې اوغوښتل چې په خپل ځا ے کښېني او د خلقو چارې سمې کړي او که هغه کس چې ترې یې مرسته اوغوښته او هغه یې له مرستې ډډه وکړه.او مرګ ته یې لاس په زنه کښیناست؟ نه هیڅ کله، په خدا ے قسم!« خدا ے تعالی په تاسو کښې له جنګه منعې کوونکي پېژني او هغه کسان چې خپل ورونه ځانته بلي او بې له یو څو شېبو جنګ ته نۀ حاضرېږي.» زۀ دعوا نۀ کوم چې د عثمان په بدعتونو مې پۀ هغه ټکونه نۀ کول، هو، د هغۀ رټنه مې کوله او عذر هم پرې نۀ غواړم که هغۀ ته نصیحت کول زما ګناه وي نو بیا داسې ډېر کسان چې بې ګناه دي باید ملامته کړې شي.«او ډېر دي داسې ناصحان چې تورونه پرې ولګېږي»۱۴۵

«او زۀ تر خپله وسه له اصلاح نه بغېر بله اراده نۀ لرم او زما توفیق او توان یواځې له خدا ے څخه د ے او بې له خدایه له بل چا کامیابي نۀ غواړم په هغه توکل کوم او هغه ته جاروځم.

## د فوځي ګواښ ځواب

لیکلې دي دي چې له تا سره زما او زما د ملګرو لپاره یواځې د تورې ژبه پاتی ده. په ژړا ژړا کښی انسان ته خندا ورولی! ایا د عبدالمطلب بچے

نَحْوَكَ فِي جَحْفَلٍ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ وَالأَنْصَارِ وَالتَّابِعِينَ [لَهُمْ] بِإِحْسَانٍ، شَدِيدٍ زِحَامُهُمْ، سَاطِعٍ قَتَامُهُمْ، مُتَسَرْبِلِينَ سَرَابِيلَ الْمَوْتِ، أَحَبُّ اللِّقَاءِ إِلَيْهِمْ لِقَاءُ رَبِّهِمْ، قَدْ صَحِبَتْهُمْ ذُرِّيَّةٌ بَدْرِيَّةٌ، وَسُيُوفٌ هَاشِمِيَّةٌ، قَدْ عَرَفْتَ مَوَاقِعَ نِصَالِهَا فِي أَخِيكَ وَخَالِكَ وَجَدِّكَ وَأَهْلِكَ، ﴿وَمَا هِيَ مِنَ الظَّالِمِينَ بِبَعِيدٍ﴾.

دي چرته ليدلے دے چې دښمن ته يې شاکړې وي يا له تورې وېرېدلے وي؟ نو لږ سارۀ خوره چې سيال دې ميدان ته راشي. څه پسې چې ګرځې ډېر زر به تا ومومي. او له څه چې تښتې نږدې به يې بيا مومې او زۀ د مهاجرو،انصارو او تابعينو له يو لوے لښکر سره درځغلم. هغه لښکريان چې ليکې يې کوټلې او د تګ په وخت يې دوړې آسمان ته خيژي. هغه کسان چې د شهادت جامې په تن د خپل پالونکي ملاقات ته لېواله دي. او له هغوي سره د بدر د باتورانو بچيان او د هاشميانو تورې دي چې تۀ ترې ښه خبر يې چې د تېرو تورو يې ستا د ورور، ماما، نيکه او د کورنۍ له کسانو سره څه وکړل؟ ‹او د ظالمانو عذاب دومره لرې نۀ دے.›

## [ ۲۹ ]

### إِلَى أَهْلِ الْبَصْرَةِ

وَقَدْ كَانَ مِنِ انْتِشَارِ حَبْلِكُمْ وَشِقَاقِكُمْ مَا لَوْ تَغْبَوْا عَنْهُ، فَعَفَوْتُ عَنْ مُجْرِمِكُمْ، وَرَفَعْتُ السَّيْفَ عَنْ مُدْبِرِكُمْ، وَقَبِلْتُ مِنْ مُقْبِلِكُمْ. فَإِنْ خَطَتْ بِكُمُ الأُمُورُ الْمُرْدِيَةُ، وَسَفَهُ الآرَاءِ الْجَائِرَةِ، إِلَى مُنَابَذَتِي وَخِلافِي، فَهَا أَنَاذَا قَدْ قَرَّبْتُ جِيَادِي، وَرَحَلْتُ رِكَابِي. وَلَئِنْ أَلْجَأْتُمُونِي إِلَى الْمَسِيرِ إِلَيْكُمْ، لأُوقِعَنَّ بِكُمْ وَقْعَةً لاَ يَكُونُ يَوْمُ الْجَمَلِ إِلَيْهَا إِلاَّ كَلَعْقَةِ لاَعِقٍ، مَعَ أَنِّي عَارِفٌ لِذِي الطَّاعَةِ مِنْكُمْ فَضْلَهُ، وَلِذِي النَّصِيحَةِ حَقَّهُ، غَيْرُ مُتَجَاوِزٍ مُتَّهَماً إِلَى بَرِيٍّ، وَلاَ نَاكِثاً إِلَى وَفِيٍّ.

## ﴿ نهويشتم ليک ﴾

«د هجرت په اتۀ دېرشم کال هغه وخت چې معاويه په بصره کښې د سازش نيت لرۀ د بصرې خلقو ته يې دا ليک اوليکۀ»

### د بصرې خلقو ته خبردارے

تاسو له ماسره د تړون له ماتولو او له ښکاره دښمنۍ خبر يئ. سره د دغه جرمونو مې تاسو اوبخښلئ، له فراريانو مې توره هسکه کړه، او راتلونکو ته مې هرکلے ووايۀ، او ستاسو له ګناه مې سترګې پټې کړې. خو که اوس ستاسو ناروا چارې او کم عقله فکرونه تاسو زما دښمنۍ ته راکاږي، زما سپاهيان چمتو او پښه په رکاب کښې دي. او که ما بيا تګ ته مجبوره کړئ[۱۴۲] داسې بريد به دروکړم چې د جمل (جنګ) بې تر مخه هيڅ نۀ وي سره له دې چې ستاسو د فرمان منونکو له ارزښتونو خبر يم او د نصيحت کوونکو حق مو پېژنم. او هيڅکله به د تورن کس په ځاے نېک چارے کس اونۀ نيسم. او هيڅکله به د وفادارو تړون مات نۀ کړم.

## [ ۳۰ ]

### إِلَى مُعَاوِيَةَ

فَاتَّقِ اللهَ فِيمَا لَدَيْكَ، وَانْظُرْ فِي حَقِّهِ عَلَيْكَ، وَارْجِعْ إِلَى مَعْرِفَةِ مَا لاَ تُعْذَرُ بِجَهَالَتِهِ، فَإِنَّ لِلطَّاعَةِ أَعْلاَماً وَاضِحَةً، وَسُبُلاً نَيِّرَةً، وَمَحَجَّةً نَهْجَةً، وَغَايَةً مُطَّلَبَةً، يَرِدُهَا الأَكْيَاسُ، وَيُخَالِفُهَا الأَنْكَاسُ، مَنْ نَكَبَ عَنْهَا جَارَ عَنِ الْحَقِّ، وَخَبَطَ فِي التِّيهِ، وَغَيَّرَ اللهُ نِعْمَتَهُ، وَأَحَلَّ بِهِ نِقْمَتَهُ. فَنَفْسَكَ نَفْسَكَ! فَقَدْ بَيَّنَ اللهُ لَكَ سَبِيلَكَ، وَحَيْثُ تَنَاهَتْ بِكَ أُمُورُكَ، فَقَدْ أَجْرَيْتَ إِلَى غَايَةِ خُسْرٍ، وَمَحَلَّةِ كُفْرٍ، وَإِنَّ نَفْسَكَ قَدْ

## ﴿ دېرشم ليک ﴾

«معاويه ته بل ليک»

### معاويه ته نصحيت اوخبردارے

څه چې لرې له خدايه پکښې اويرېږه، او کوم حقونه چې درباندې دي فکر پرې وکړه او د هغه څه د پېژندلو هڅه وکړه چې په ناخبرۍ يې عذرمن کېدې نۀ شې، بې له شکه د خداے اطاعت ښکاره نښې، رڼا لارې، پرانېستې او مېنځ لاره او خوږه خاتمه لرې. هوښياران وردرومي او فاسدان ترې تښتي، څوک چې له دين څخه اوغړېږي له حقه غړېدلي دي او د لالهاندۍ په وادۍ کښې به سرګردانه وي. خداے به ترې نعمتونه واخلي او مصيبتونه به ورکړي. اے معاويه! نو په خود کښې راشه او ځانته مخه کړه ځکه چې خداے لاره دربيان کړې او د چارو انجام يې روښانه کړے دے، خو تۀ هماغه شان د تاوان او د کفر محلې

أَوْحَلَتْكَ شَرّاً، وَأَقْحَمَتْكَ غَيّاً، وَأَوْرَدَتْكَ الْمَهَالِكَ، وَأَوْعَرَتْ عَلَيْكَ الْمَسَالِكَ.

## [ ۳۱ ]

وَمِنْ وَصِيَّته عَلَيْه السَّلاَمُ لِلْحَسَن بْن عَلِيّ عَلَيْه السَّلاَمُ كَتَبَهَا إِلَيْه بِـ"حَاضِرِينَ" عِنْدَ انْصِرَافه مِنْ صِفِّينَ

مِنَ الْوَالِد الْفَانِ، الْمُقِرِّ لِلزَّمَانِ، الْمُدْبِرِ الْعُمُرِ، الْمُسْتَسْلِمِ لِلدَّهْرِ، الذَّامِّ لِلدُّنْيَا، السَّاكِنِ مَسَاكِنَ الْمَوْتَى، الظَّاعِنِ عَنْهَا غَداً، إِلَى الْمَوْلُودِ الْمُؤَمِّلِ مَا لاَ يُدْرَكُ، السَّالِكِ سَبِيلَ مَنْ قَدْ هَلَكَ، غَرَضِ الاَسْقَامِ،رَهِينَةِ الاَيَّامِ، وَرَمِيَّةِ الْمَصَائِبِ، وَعَبْدِ الدُّنْيَا، وَتَاجِرِ الْغُرُورِ، وَغَرِيمِ الْمَنَايَا، وَأَسِيرِ الْمَوْتِ، وَحَلِيفِ الْهُمُومِ،وَقَرِينِ الاَحْزَانِ، وَنُصُبِ الآفَاتِ، وَصَرِيعِ الشَّهَوَاتِ، وَخَلِيفَةِ الاَمْوَاتِ.

أَمَّا بَعْدُ، فَإِنَّ فِيمَا تَبَيَّنْتُ مِنْ إِدْبَارِ الدُّنْيَا عَنِّي، وَجُمُوحِ الدَّهْرِ عَلَيَّ، وَإِقْبَالِ الآخِرَةِ إِلَيَّ، مَا يَزَعُنِي عَنْ ذِكْرِ مَنْ سِوَايَ، وَالاْهْتِمَامِ بِمَا وَرَائِي، غَيْرَ أَنِّي حَيْثُ تَفَرَّدَ بِي دُونَ هُمُومِ النَّاسِ هَمُّ نَفْسِي، فَصَدَفَنِيرَأْيِي، وَصَرَفَنِي عَنْ هَوَايَ، وَصَرَّحَ لِي مَحْضُ أَمْرِي، فَأَفْضَى بِي إِلَى جِدٍّ لاَ يَكُونُ فِيهِ لَعِبٌ، وَصِدْقٍ لاَ يَشُوبُهُ كَذِبٌ. وَوَجَدْتُكَ بَعْضِي، بَلْ وَجَدْتُكَ كُلِّي، حَتَّى كَأَنَّ شَيْئاً لَوْ أَصَابَكَ أَصَابَنِي، وَكَأَنَّ الْمَوْتَ لَوْ أَتَاكَ أَتَانِي، فَعَنَانِي مِنْ أَمْرِكَ مَا يَعْنِينِي مِنْ أَمْرِ نَفْسِي، فَكَتَبْتُ إِلَيْكَ كِتَابِي هذَا، مُسْتَظْهِراً بِه إِنْ أَنَا بَقِيتُ لَكَ أَوْ فَنِيتُ.

فَإِنِّي أُوصِيكَ بِتَقْوَى اللهِ أَيْ بُنَيَّ وَلُزُومِ أَمْرِه، وَعِمَارَةِ قَلْبِكَ بِذِكْرِه، وَالاْعْتِصَامِ بِحَبْلِه، وَأَيُّ سَبَب أَوْثَقُ مِنْ سَبَب بَيْنَكَ وَبَيْنَ اللهِ عَزَّوَجَلَّ إِنْ أَنْتَ أَخَذْتَ بِه! أَحْيِ قَلْبَكَ بِالْمَوْعِظَةِ، وَأَمِتْهُ بِالزَّهَادَةِ، وَقَوِّهِ بِالْيَقِينِ، وَنَوِّرْهُ بِالْحِكْمَةِ، وَذَلِّلْهُ بِذِكْرِ الْمَوْتِ، وَقَرِّرْهُ بِالْفَنَاءِ، وَبَصِّرْهُ فَجَائِعَ الدُّنْيَا، وَحَذِّرْهُ صَوْلَةَ الدَّهْرِ وَفُحْشَ تَقَلُّبِ اللَّيَالِي وَالاَيَّامِ، وَاعْرِضْ عَلَيْهِ أَخْبَارَ الْمَاضِينَ، وَذَكِّرْهُ بِمَا أَصَابَ

ته روان یې، د زړۀ غوښتنو دې بدیو ته راکښلے یې او د ګمراهۍ په ګړنګ کښې یې غورځولے یې. او تباهۍ ته یې توغولے یې، او د ژغورنې او نجات لارې یې در ترلې دي.

## ﴿ یو دېرشم لیک ﴾

«د هجرت په اتۀ دېرشم کال خپل زوے امام حسن ته یې دا لیک هغه وخت اولیکۀ چې له صفینه ستنېدۀ او حاضرین سیمې ته رسېدلې ؤ»

### انسان او د زمانې پېښې

د هغه فاني پلار لخوا چې د وخت په تېرېدو اقرار کوونکے د ژوند تېروونکے، د تېر شویو په مقام کښې هستوګنېدونکے، د سبا کوچېدونکے او هغه بچي ته هیله مند دے چې څه ترې لاس ته نۀ راځي د هغې لارې تلونکے چې په نیستۍ ختمېږي، په دنیا کښې د بیماریو هدف ګرځېدونکے، د زمانې یرغمال، د مصیبتونو نښه د دنیا ښکیل، د غولوونکې دنیا سوداګر، د نابودیو پوروړے او د مرګ بندي، د کړاوونو هم قسمه او د غمونو همدمه، د آفتونو هدف، د شهوتونو څپلے، او د تېرو کسانو ځاے ناستے دے.

د پالونکي له ثنا او صفته وروسته! په رښتیا چې د عمر تېرېدو، د زمانې لاسبرې کېدو او د آخرت راتلو زۀ د بل چا له یاده تم کړے یم او ټول پام مې آخرت ته اوړېدلے دے، چې په ځان فکر کوم او له نورو مې مخ اړولے دے چې نظر مې یې له نورو واړوۀ او د خواهشاتو له پیروۍ یې اوغړولم، او زما د چارو حقیقت یې ښکاره کړ او زۀ یې داسې لارې ته راکښلم چې لوبې ټوکې پکښې نۀ شي کېدې. او داسې رښتیاؤ ته یې ورسولم چې دروغ پکښې نیشته. او تۀ مې اولیدلې چې زما د زړۀ ټوټه بلکه زما ټول ځان یې چې که تاته تاوان دروررسېږي نو ماته رارسېدلے دے او که تۀ مړ شي نو لکه چې زۀ مړ شوے یم نو ستا چارې مې خپلې چارې اوګڼلې او یو لیک مې دراولیکۀ چې د ژوند په سختیو کښې دې لارښود وي که زۀ ژوندے وم او که نۀ وم.

### د ځان د اصلاح پړاوونه

اے زویه! تا ته سپارښتنه کوم له خدایه د یرې (تقوا) او دا چې د هغۀ امر منه، د زړۀ ودانۍ د هغۀ په یاد آباده کړه، رسۍ یې ټینګه کړه، او له خداے پاک سره تر رابطې زیاته بله کومه وسیله ډاډمنه کېدلې شي البته که مزي یې ټینګ اوساتې، زړۀ دې په نصیحت ژوندے کړه او نفس دې په زهد ووژنه ځان دې په یقین پیاوړے کړه، په حکمت یې منور کړه او د مرګ په یاد یې قرار کړه. په فنا کېدو ترې اقرار واخله، او د دنیا د ترخو په ورښودلو سره یې خبردار کړه او د زمانې په بدلون او د شپې او ورځې د ګردش په بدیو یې اویروه، د تېرو خلقو تاریخ وروښیه

مَنْ كَانَ قَبْلَكَ مِنَ الاوَّلِينَ، وَسِرْ فِي دِيَارِهِمْ وَآثَارِهِمْ، فَانْظُرْ مَا فَعَلُوا عَمَّا انْتَقَلُوا، وَأَيْنَ حَلُّوا وَنَزَلُوا! فَإِنَّكَ تَجِدُهُمْ انْتَقَلُوا عَنِ الاحِبَّةِ، وَحَلُّوا دَارَالْغُرْبَةِ، وَكَأَنَّكَ عَنْ قَلِيلٍ قَدْ صِرْتَ كَأَحَدِهِمْ. فَأَصْلِحْ مَثْوَاكَ، وَلاَ تَبِعْ آخِرَتَكَ بِدُنْيَاكَ، وَدَعِ الْقَوْلَ فِيمَا لاَ تَعْرِفُ، وَالْخِطَابَ فِيمَا لَمْ تُكَلَّفْ، وَأَمْسِكْ عَنْ طَرِيقٍ إِذَا خِفْتَ ضَلاَلَتَهُ، فَإِنَّ الْكَفَّ عِنْدَ حَيْرَةِ الضَّلاَلِ خَيْرٌ مِنْ رُكُوبِ الأَهْوَالِ.

وَأْمُرْ بِالْمَعْرُوفِ تَكُنْ مِنْ أَهْلِهِ، وَأَنْكِرِ الْمُنْكَرَ بِيَدِكَ وَلِسَانِكَ، وَبَايِنْ مَنْ فَعَلَهُ بِجُهْدِكَ. وَجَاهِدْ فِي اللهِ حَقَّ جِهَادِهِ، وَلاَ تَأْخُذْكَ فِي اللهِ لَوْمَةُ لاَئِمٍ، وَخُضِ الْغَمَرَاتِ إِلَى الْحَقِّ حَيْثُ كَانَ، وَتَفَقَّهْ فِي الدِّينِ، وَعَوِّدْ نَفْسَكَ الصَّبْرَ عَلَى الْمَكْرُوهِ، وَنِعْمَ الْخُلُقُ التَّصَبُّرُ، وَأَلْجِىءْ نَفْسَكَ فِي الاُمُورِ كُلِّهَا إِلَى إِلهِكَ، فَإِنَّكَ تُلْجِئُهَا إِلَى كَهْفٍ حَرِيزٍ، وَمَانِعٍ عَزِيزٍ، وَأَخْلِصْ فِي الْمَسْأَلَةِ لِرَبِّكَ، فَإِنَّ بِيَدِهِ الْعَطَاءَ وَالْحِرْمَانَ، وَأَكْثِرِ الاسْتِخَارَةَ، وَتَفَهَّمْ وَصِيَّتِي، وَلاَ تَذْهَبَنَّ [عَنْكَ ]صَفْحاً، فَإِنَّ خَيْرَ الْقَوْلِ مَا نَفَعَ. وَاعْلَمْ أَنَّهُ لاَ خَيْرَ فِي عِلْمٍ لاَ يَنْفَعُ، وَلاَ يُنْتَفَعُ بِعِلْمٍ لاَ يَحِقُّ تَعَلُّمُهُ.

أَيْ بُنَيَّ، إِنِّي لَمَّا رَأَيْتُنِي قَدْ بَلَغْتُ سِنّاً، وَرَأَيْتُنِي أَزْدَادُ وَهْناً، بَادَرْتُ بِوَصِيَّتِي إِلَيْكَ، وَأَوْرَدْتُ خِصَالاً مِنْهَا قَبْلَ أَنْ يَعْجَلَ بِي أَجَلِي دُونَ أَنْ أُفْضِيَ إِلَيْكَ بِمَا فِي نَفْسِي، أَوْ أَنْ أُنْقَصَ فِي رَأْيِي كَمَا نُقِصْتُ فِي جِسْمِي، أَوْ يَسْبِقَنِي إِلَيْكَ بَعْضُ غَلَبَاتِ الْهَوَى وَفِتَنِ الدُّنْيَا، فَتَكُونَ كَالصَّعْبِ النَّفُورِ، وَإِنَّمَا قَلْبُ الْحَدَثِ كَالارْضِ الْخَالِيَةِ مَا أُلْقِيَ فِيهَا مِنْ شَيءٍ قَبِلَتْهُ، فَبَادَرْتُكَ بِالادَبِ قَبْلَ أَنْ يَقْسُو قَلْبُكَ، وَيَشْتَغِلَ لُبُّكَ، لِتَسْتَقْبِلَ بِجِدِّ رَأْيِكَ مِنَ الامْرِ مَا قَدْ كَفَاكَ أَهْلُ التَّجَارِبِ بُغْيَتَهُ وَتَجْرِبَتَهُ، فَتَكُونَ قَدْ كُفِيتَ مَؤُونَةَ الطَّلَبِ، وَعُوفِيتَ مِنْ عِلاَجِ التَّجْرِبَةِ، فَأَتَاكَ مِنْ ذلِكَ مَا قَدْ كُنَّا نَأْتِيهِ وَاسْتَبَانَ لَكَ مَا رُبَّمَا أَظْلَمَ عَلَيْنَا مِنْهُ.

او څه چې پرې تېر شوي دي وریاد یې کړه. د تېرو خلقو په ټاټوبو، وطنونو او آثارو کښې یې وګرځوه او فکر وکړه چې له هغوي سره څه وشول. له کومې راغلل او کومې خوا ته لاړل؟ د دوستانو له ټولیو جدا شول او د غربت او پردېسۍ د وطن مسافر شول. او ته به هم ډېر زر د هغوي ملګرے شې! نو راتلونکے کور دې آباد کړه آخرت دې په دنیا مه خرڅوه او په څه چې نۀ پوهېږې مه یې وایه، او د کومې لارې له ګمراهۍ چې ویرېږې قدم مه وراخله، ځکه چې د لالهاندۍ او ګمراهۍ په وخت تمېدنه په تباهیو کښې تر غورځېدنې ښه ده.

## ټولنیز اخلاق

نېکو ته بلنه ورکوه او په خپله نېک اوسه، او په لاس او ژبه له بدیو څخه منعې کوه او له بدو چارو لرې اوسه، د خداے په لاره کښې داسې هڅه کوه څرنګه چې یې حق دے. او د ملامتوونکو ملامتیا دې د خداے پاک په لاره کښې له هڅې او کوشش څخه منعې نۀ کړي. د حق لپاره په ستونځو او مشکلاتو کښې غوپې وهه او په دین کښې پوهه حاصله کړه. خپل نفس د ستونځو په وړاندې په صبر عادت کړه ځکه چې د حق په لاره کښې صبر ډېر ښکلے عادت دے. په ټولو چارو کښې ځان خداے پاک ته سپاره چې په دې کار سره به ډاډمنې پناهګاه او پیاوړې قلعه ته رسېدلے وې. په دعا کښې خداے په اخلاص سره رابوله ځکه چې ورکول او بې برخې کول د هغۀ په لاس کښې دي. او له خدایه پرله پسې خېر غواړه. زما په وصیت کښې ښۀ غور وکړه او سرسري پرې مه تېرېږه، ځکه چې غوره خبره هغه ده چې ګټوره وي یوه شه چې په هغه علم کښې هیڅ خېر نشته چې فائده پکښې نۀ وي او کوم علم چې د زده کولو وړتیا نۀ لري هیڅ ګټه نۀ لري.

اے زما بچیه! اوس چې مې اولیدل چې عمر مې تېر شو او طاقت مې په کمېدو دے نو تا ته مې د وصیت په لیکلو بیړه وکړه، او اخلاقي ارزښتونه مې دربیان کړل مخکې تردې چې اجل راورسي او د زړۀ د رازونو کتاب دروتۀ سپړلے شم. او رائې هم هغه شان سسته شي لکه بدن چې مې کمزورے شوے وي. او مخکې له دې چې د دنیا فتنې او ګډوډۍ درته مخه کړي او تۀ د اړي مار اوښ په شان شې (اطاعت درته سخت شي) ځکه چې د زلمیانو (هلکانو) زړونه د هغې تیارې او خالي ځمکې په شان وي چې هر ډول تخم په کښې اوپاشل شي قبلوي یې. نو ستا په روزنه کښې مې بیړه وکړه مخکې له دې چې زړۀ دې سخت شي او عقل دې په بل څه بوخت شي او د هغوکارونو په کولو لګیا شې چې د تجربې ښښتنانو تجربه کړې دي او تۀ یې له زیار او موندلو بې نیازه کړې یې. او د هغوي کومې تجربې چې مونږ ته رارسېدلې دي هغه تا ته هم

أَيْ بُنَيَّ، إِنِّي وإِنْ لَمْ أَكُنْ عُمِّرْتُ عُمُرَ مَنْ كَانَ قَبْلِي، فَقَدْ نَظَرْتُ فِي أَعْمَالِهِمْ، وفَكَّرْتُ فِي أَخْبَارِهِمْ، وسِرْتُ فِي آثَارِهِمْ، حَتَّى عُدْتُ كَأَحَدِهِمْ، بَلْ كَأَنِّي بِمَا انْتَهَى إِلَيَّ مِنْ أُمُورِهِمْ قَدْ عُمِّرْتُ مَعَ أَوَّلِهِمْ إِلَى آخِرِهِمْ، فَعَرَفْتُ صَفْوَ ذَلِكَ مِنْ كَدَرِهِ، ونَفْعَهُ مِنْ ضَرَرِهِ، فَاسْتَخْلَصْتُ لَكَ مِنْ كُلِّ أَمْرٍ نَخِيلَتَهُ، وتَوَخَّيْتُ لَكَ جَمِيلَهُ، وصَرَفْتُ عَنْكَ مَجْهُولَهُ، ورَأَيْتُ حَيْثُ عَنَانِي مِنْ أَمْرِكَ مَا يَعْنِي الْوَالِدَ الشَّفِيقَ، وأَجْمَعْتُ عَلَيْهِ مِنْ أَدَبِكَ أَنْ يَكُونَ ذَلِكَ وأَنْتَ مُقْبِلُ الْعُمُرِ مُقْتَبَلُ الدَّهْرِ، ذُو نِيَّةٍ سَلِيمَةٍ، ونَفْسٍ صَافِيَةٍ.

وأَنْ أَبْتَدِئَكَ بِتَعْلِيمِ كِتَابِ اللهِ عَزَّ وجَلَّ وتَأْوِيلِهِ، وشَرَائِعِ الاسْلَامِ وأَحْكَامِهِ، وحَلَالِهِ وحَرَامِهِ، لَا أُجَاوِزُ ذَلِكَ بِكَ إِلَى غَيْرِهِ. ثُمَّ أَشْفَقْتُ أَنْ يَلْتَبِسَ عَلَيْكَ مَا اخْتَلَفَ النَّاسُ فِيهِ مِنْ أَهْوَائِهِمْ وآرَائِهِمْ مِثْلَ الَّذِي الْتَبَسَ عَلَيْهِمْ، فَكَانَ إِحْكَامُ ذَلِكَ عَلَى مَا كَرِهْتُ مِنْ تَنْبِيهِكَ لَهُ أَحَبَّ إِلَيَّ مِنْ إِسْلَامِكَ إِلَى أَمْرٍ لَا آمَنُ عَلَيْكَ بِهِ الْهَلَكَةَ، ورَجَوْتُ أَنْ يُوَفِّقَكَ اللهُ فِيهِ لِرُشْدِكَ، وأَنْ يَهْدِيَكَ لِقَصْدِكَ، فَعَهِدْتُ إِلَيْكَ وَصِيَّتِي هَذِهِ.

واعْلَمْ يَا بُنَيَّ، أَنَّ أَحَبَّ مَا أَنْتَ آخِذٌ بِهِ إِلَيَّ مِنْ وَصِيَّتِي تَقْوَى اللهِ، والاقْتِصَارُ عَلَى مَا فَرَضَهُ اللهُ عَلَيْكَ، والاخْذُ بِمَا مَضَى عَلَيْهِ الاوَّلُونَ مِنْ آبَائِكَ، والصَّالِحُونَ مِنْ أَهْلِ بَيْتِكَ، فَإِنَّهُمْ لَمْ يَدَعُوا أَنْ نَظَرُوا لانْفُسِهِمْ كَمَا أَنْتَ نَاظِرٌ، وفَكَّرُوا كَمَا أَنْتَ مُفَكِّرٌ، ثُمَّ رَدَّهُمْ آخِرُ ذَلِكَ إِلَى الاخْذِ بِمَا عَرَفُوا، والامْسَاكِ عَمَّا لَمْ يُكَلَّفُوا، فَإِنْ أَبَتْ نَفْسُكَ أَنْ تَقْبَلَ ذَلِكَ دُونَ أَنْ تَعْلَمَ كَمَا عَلِمُوا فَلْيَكُنْ طَلَبُكَ ذَلِكَ بِتَفَهُّمٍ وتَعَلُّمٍ، لَا بِتَوَرُّطِ الشُّبُهَاتِ، وعُلَقِ الْخُصُومَاتِ. وابْدَأْ قَبْلَ نَظَرِكَ فِي ذَلِكَ بِالاسْتِعَانَةِ بِإِلَهِكَ، والرَّغْبَةِ إِلَيْهِ فِي تَوْفِيقِكَ، وتَرْكِ كُلِّ شَائِبَةٍ أَوْلَجَتْكَ فِي شُبْهَةٍ، أَوْ أَسْلَمَتْكَ إِلَى ضَلَالَةٍ. فَإِذَا أَيْقَنْتَ أَنْ قَدْ صَفَا قَلْبُكَ فَخَشَعَ، وتَمَّ رَأْيُكَ واجْتَمَعَ، وكَانَ هَمُّكَ فِي ذَلِكَ هَمّاً

رسېدلې دي او ځينې تجربې چې په مونږ پټې پاتې وې په تا باندې به عيانې شي.

اے زويه! سمه ده چې ما د تېرو خلقو هومره عمر نۀ دے کړے خو ما د هغوي عملونه اوکتل، د هغوي خبرونو کښې مې غور او فکر وکړ او د هغوي په آثارو او نښو نښانو کښې وګرځېدم تر دې چې تۀ به وائې زۀ له هغوي څخه يو يم، بلکه د هغوي د تاريخ په لوستلو سره تۀ به وائې د عمر له شروع نه تر آخره پورې له هغوي سره وم. نو د هغوي د ژوند روښانه او خوږې شيبې مې له تيرو او ترخو اوپېژندلې او د هغوي ګټه او تاوان مې درک کړ. بيا مې، ترې غوره او ارزښتمند څيزونه، او ښکلې او خوږې پېښې تا ته غوره کړې او مبهم او مجهول مې يو خوا ته کېښودل، نو لکه څرنګه چې يو مهربانه پلار خپل بچي ته ښه شی خوښوي زۀ هم غواړم چې تا ښۀ وروزم ځکه چې لا د ژوند په شروع کښې يې او تازه دې دنيا ته مخه کړې ده. او روغ نيت او صفا روح لرې.

## د بچيانو د تربيت طريقه

نو د روزنې په شروع کښې مې فېصله وکړه چې د لوے او وسيال خدا ے د کتاب په تعليم او تاويل سره ستا زدکړه شروع کړم، او د اسلام د شريعت او احکامو، او حلا لو او حرامو تعليم يې درکړم او نور څه ته مخه نۀ کړم. خو له دې اوېرېدم چې هسې نه هغه رائې، هوا اوخواهشات چې خلق يې په اختلاف اخته کړې دي او کار يې ور مشتبه کړے دے په تا هم يرغل وکړي که څه هم له دغو چارو ستا خبرول مې نه ووخوښ خو ستا د خبرولو او ټينګ پاتې کېدو لپاره مې ترجيح ورکړه چې تۀ ټولنېزو هلاکتونو ته په ګونډو نه شې او هيله من يم چې خدا ے پاک تا په ژغورنه او نجات کښې کامياب کړي او نېغې لارې ته هدايت کاندي. نو خپل وصيت مې تاته داسې برابر کړ.

اے زويه! ياد ساته چې زما تر ټولو ښۀ وصيت چې زړۀ مې غواړي ته يې تر هر څه زيات واخلې له خدايه ويره، د واجباتو ترسره کول، او په هغې لارې تلل دي چې ستا پلار نيکونه او د کورنۍ نېک کسان پرې تللي دي ځکه چې هغوي هماغه شان چې تۀ خپلو چارو ته ځير يې، ځير وو. او لکه څرنګه چې تۀ د ځان په فکر کښې يې هغوي هم وو او د هغوي هڅه دا وه چې څه يې اوپېژندل غوره يې کړي. او څه چې پرې نۀ دي فرض پرې يې ښودي. او که تۀ د هغوي د لارو چارو له منلو مخ اړوې او دا غواړې چې په خپله داسې پوه شي لکه څرنګه چې هغوي پوه شول نو کوشش کوه چې ستا غوښتنې د درک او پوهې له مخې وي نه دا چې په شبهاتو اخته شې او له دښمنيو مرسته واخلې. او د پاکانو په لاره له تګه مخکې له خدايه کمک اوغواړه او د هغۀ په لاره کښې په مينه عمل کوه چې کامياب شې او له هر هغه کاره چې تا په شک او دوه زړۀ توب اخته

وَاحداً، فَانْظُرْ فيما فَسَّرْتُ لَكَ، وَإنْ أنْتَ لَمْ يَجْتَمِعْ لَكَ ما تُحِبُّ مِنْ نَفْسِكَ، وَفَرَاغ نَظَرِكَ وفِكْرِكَ، فَاعْلَمْ أَنَّكَ إنَّمَا تَخْبِطُ الْعَشْوَاءَ، وَتَتَوَرَّطُ الظَّلْمَاءَ، وَلَيْسَ طَالِبُ الدِّينِ مَنْ خَبَطَ وَلاَ مَنْ خَلَّطَ، وَالاِمْسَاكُ عَنْ ذلِكَ أَمْثَلُ.

فَتَفَهَّمْ يَا بُنَيَّ وَصِيَّتِي، وَاعْلَمْ أَنَّ مَالِكَ الْمَوْتِ هُوَمَالِكُ الحَيَاةِ، وَأَنَّ الْخَالِقَ هُوَ الْمُمِيتُ، وَأَنَّ الْمُفْنِيَ هُوَ الْمُعِيدُ، وَأَنَّ الْمُبْتَلِيَ هُوَ الْمُعَافِي، وَأَنَّ الدُّنْيَا لَمْ تَكُنْ لِتَسْتَقِرَّ إلاَّ عَلَى مَا جَعَلَهَا اللهُ عَلَيْهِ مِنَ النَّعْمَاءِ، وَالاِبْتِلاَءِ، وَالْجَزَاءِ فِي الْمَعَادِ، أَوْ مَاشَاءَ مِمَّا لاَ تَعْلَمُ، فَإنْ أَشْكَلَ عَلَيْكَ شَيْءٌ مِنْ ذلِكَ فَاحْمِلْهُ عَلَى جَهَالَتِكَ بِهِ، فَإنَّكَ أَوَّلَ مَا خُلِقْتَ جَاهِلاً ثُمَّ عَلِمْتَ، وَمَا أَكْثَرَ مَا تَجْهَلُ مِنَ الاَمْرِ، وَيَتَحَيَّرُ فِيهِ رَأْيُكَ، وَيَضِلُّ فِيهِ بَصَرُكَ ثُمَّ تُبْصِرُهُ بَعْدَ ذلِكَ! فَاعْتَصِمْ بِالَّذِي خَلَقَكَ وَرَزَقَكَ وَسَوَّاكَ، وَلْيَكُنْ لَهُ تَعَبُّدُكَ، وَإلَيْهِ رَغْبَتُكَ، وَمِنْهُ شَفَقَتُكَ.

وَاعْلَمْ يَا بُنَيَّ أَنَّ أَحَداً لَمْ يُنْبِىءْ عَنِ اللهِ سُبْحَانَهُ كَمَا أَنْبَأَ عَنْهُ نَبِيُّنَا (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ) فَارْضَ بِهِ رَائِداً، وَإلَى النَّجَاةِ قَائِداً، فَإنِّي لَمْ آلُكَ نَصِيحَةً، وَإنَّكَ لَنْ تَبْلُغَ فِي النَّظَرِ لِنَفْسِكَ وَإنِ اجْتَهَدْتَ مَبْلَغَ نَظَرِي لَكَ.

وَاعْلَمْ يَا بُنَيَّ، أَنَّهُ لَوْ كَانَ لِرَبِّكَ شَرِيكٌ لَاَتَتْكَ رُسُلُهُ، وَلَرَأَيْتَ آثَارَ مُلْكِهِ وَسُلْطَانِهِ، وَلَعَرَفْتَ أَفْعَالَهُ وَصِفَاتِهِ، وَلكِنَّهُ إلهٌ وَاحِدٌ كَمَا وَصَفَ نَفْسَهُ، لاَ يُضَادُّهُ فِي مُلْكِهِ أَحَدٌ، وَلاَ يَزُولُ أَبَداً وَلَمْ يَزَلْ، أَوَّلٌ قَبْلَ الاَشْيَاءِ بِلاَ أَوَّلِيَّةٍ، وَآخِرٌ بَعْدَ الاَشْيَاءِ بِلاَ نِهَايَةٍ، عَظُمَ عَنْ أَنْ تَثْبُتَ رُبُوبِيَّتُهُ بِإحَاطَةِ قَلْبٍ أَوْ بَصَرٍ. فَإذَا عَرَفْتَ ذلِكَ فَافْعَلْ كَمَا يَنْبَغِي لِمِثْلِكَ أَنْ يَفْعَلَهُ فِي صِغَرِ خَطَرِهِ، وَقِلَّةِ مَقْدِرَتِهِ، وَكَثْرَةِ عَجْزِهِ،عَظِيمِ حَاجَتِهِ إلَى رَبِّهِ، فِي طَلَبِ طَاعَتِهِ، وَالرَّهْبَةِ مِنْ عُقُوبَتِهِ، وَالشَّفَقَةِ مِنْ سُخْطِهِ، فَإنَّهُ لَمْ يَأْمُرْكَ إلاَّ بِحَسَنٍ، وَلَمْ يَنْهَكَ إلاَّ عَنْ قَبِيحٍ.

کړي يا دې ګمراهۍ ته راکاږي ډډه وکړه. او کله چې يقين درپيدا شو چې زړۀ دې صفا او خاشع شو او عقل فکر دې کامل، او اراده دې په يوۀ ځيز راټوله شوه نو فکر وکړه په هغه څه کښې چې تا ته يې درسپړم،که په دې لاره کښې هغه څه چې خوښ دې دي برابر نۀ شول او فکر او سوچ دې قرار نۀ شو، نو پوه شه چې په نا امنه لاره روان يې او د تيرې لاره وهې، ځکه چې د دين غوښتونکے نۀ غلطي کوي او نه لالهانده کيږي او په دغه حال کښې تمبدل او ډډه کول غوره دي.

معنوياتو ته پام

اے زويه! زما په وصيت باندې ښۀ فکر وکړه او پوه شه چې څوک چې د مرګ مالک دے هماغه د ژوند خښتن هم دے او څوک چې پنځګر او پيدا کوونکے دے هم هغه مړۀ کوونکے دے. او څوک چې فنا کوونکے دي هم هغه بيا جارويستونکے دے، او څوک چې بيماري ورکوي هم هغه شفا هم ورکوي، پوه شه چې دنيا تل پاتې نۀ ده او څرنګه چې خداے پاک غوښتې ده هماغه شان ګرځېدلې ده. يعنې لورينې، ازميښتونه او په قيامت کښې بدله ورکول. يا هغه څه چې هغه غوښتې او تۀ ترې نۀ يې خبر. نو که په دې کښې په کومه خبره پوه نۀ شوې نوخپله ناپوهي يې اوګڼه ځکه چې تۀ په اوله کښې ناپوه پيدا شوے وے او وروسته پوهه شوے يې. او څومره چارې دي چې تۀ پرې نۀ پوهيږې او خداے پاک پرې پوهيږي. ستا فکر پکښې لالهانده او سترګې پکښې پاتې راغلې دي بيا وروسته يې اوپيژنې. نو هغه څښتن ته پناه يوسه چې تۀ يې پنځولے يې، رزق يې درکړے او اندامونه يې دربرابر کړي دي. د هم هغۀ عبادت کوه او هم هغه ته پام او توجه کوه، هغه ته ګروهيږه او يواځې له هغه ويريږه.

او پوه شه اے زويه! چې هيڅوک تا له خدايه هغه شان نۀ شي خبرولے څرنګه چې رسول الله مبارکﷺ يې خبر ورکړے دے نو مشري يې اومنه او د ژغورنې لپاره لارښوُنه يې قبوله کړه ما تا ته په نصيحت کښې هيڅ لټي او سستي نۀ ده کړې او تۀ چې هر څومره هڅه وکړې او د خپلې اصلاح فکر وکاندې د خپل پلار په شان يې نۀ شې کولې.

اے زويه! پوه شه که خداے شريک لرلے نو پېغمبرانﷺ به يې هم دراستولي وو او تا به يې د قدرت او باچاهۍ نښې ليدلې وې او صفتونه به دې يې پيژندلي وو. خو خداے هماغه يو او واحد خداے دے لکه څرنګه يې چې ځان هم ستائلے دے هيڅوک ورسره په ملک او اختيار کښې ټکره نۀ شي وهلې ختمېدونکے نۀ دے او تل به وي. هغه د هر څه اول دے او پېل او اغاز نۀ لري او د هر څه آخر دے او پاې او خاتمه به اونۀ لري. تر دې ډېر لوړ او اوچت دے چې د ربوبيت قدرت يې څوک درک کړي شي په زړۀ سره يا په سترګو سره. اوس نو چې په دې پوه شوې نو داسې عمل وکړه لکه څرنګه چې ستا په شان کس سره ښائي چې حيثيت يې وړوکے، توان يې کم، ناتواني يې زياته، د خداے پاک د اطاعت لپواله، له عذابه يې ويرېدونکے، او له خوابښينې او عقوبت يې

يَا بُنَيَّ، إِنِّي قَدْ أَنْبَأْتُكَ عَنِ الدُّنْيَا وَحَالِهَا، وَزَوَالِهَا وَانْتِقَالِهَا، وَأَنْبَأْتُكَ عَنِ الآخِرَةِ وَمَا أُعِدَّ لأَهْلِهَا فِيهَا، وَضَرَبْتُ لَكَ فِيهِمَا الأَمْثَالَ، لِتَعْتَبِرَ بِهَا، وَتَحْذُوَ عَلَيْهَا. إِنَّمَا مَثَلُ مَنْ خَبَرَ الدُّنْيَا كَمَثَلِ قَوْمٍ سَفْرٍ، نَبَا بِهِمْ مَنْزِلٌ جَدِيبٌ، فَأَمُّوا مَنْزِلاً خَصِيباً وَجَنَاباً مَرِيعاً، فَاحْتَمَلُوا وَعْثَاءَ الطَّرِيقِ، وَفِرَاقَ الصَّدِيقِ، وَخُشُونَةَ السَّفَرِ، وَجُشُوبَةَ الْمَطْعَمِ، لِيَأْتُوا سَعَةَ دَارِهِمْ، وَمَنْزِلَ قَرَارِهِمْ، فَلَيْسَ يَجِدُونَ لِشَيْءٍ مِنْ ذلِكَ أَلَماً، وَلاَ يَرَوْنَ نَفَقَةً مَغْرَماً، وَلاَ شَيْءَ أَحَبُّ إِلَيْهِمْ مِمَّا قَرَّبَهُمْ مِنْ مَنْزِلِهِمْ، وَأَدْنَاهُمْ مِنْ مَحَلِّهِمْ. وَمَثَلُ مَنِ اغْتَرَّ بِهَا كَمَثَلِ قَوْمٍ كَانُوا بِمَنْزِلٍ خَصِيبٍ، فَنَبَا بِهِمْ إِلَى مَنْزِلٍ جَدِيبٍ، فَلَيْسَ شَيْءٌ أَكْرَهَ إِلَيْهِمْ وَلاَ أَفْظَعَ عِنْدَهُمْ مِنْ مُفَارَقَةِ مَا كَانُوا فِيهِ، إِلَى مَا يَهْجُمُونَ عَلَيْهِ، وَيَصِيرُونَ إِلَيْهِ.

يَا بُنَيَّ، اجْعَلْ نَفْسَكَ مِيزَاناً فِيمَا بَيْنَكَ وَبَيْنَ غَيْرِكَ، فَأَحْبِبْ لِغَيْرِكَ مَا تُحِبُّ لِنَفْسِكَ، وَاكْرَهْ لَهُ مَا تَكْرَهُ لَهَا، وَلاَ تَظْلِمْ كَمَا لاَ تُحِبُّ أَنْ تُظْلَمَ، وَأَحْسِنْ كَمَا تُحِبُّ أَنْ يُحْسَنَ إِلَيْكَ، وَاسْتَقْبِحْ مِنْ نَفْسِكَ مَا تَسْتَقْبِحُ مِنْ غَيْرِكَ، وَارْضَ مِنَ النَّاسِ بِمَا تَرْضَاهُ لَهُمْ مِنْ نَفْسِكَ، وَلاَ تَقُلْ مَا لاَ تَعْلَمُ وَإِنْ قَلَّ مَا تَعْلَمُ، وَلاَ تَقُلْ مَا لاَ تُحِبُّ أَنْ يُقَالَ لَكَ. وَاعْلَمْ، أَنَّ الاِعْجَابَ ضِدُّ الصَّوَابِ، وَآفَةُ الأَلْبَابِ. فَاسْعَ فِي كَدْحِكَ، وَلاَ تَكُنْ خَازِناً لِغَيْرِكَ، وَإِذَا أَنْتَ هُدِيتَ لِقَصْدِكَ فَكُنْ أَخْشَعَ مَا تَكُونُ لِرَبِّكَ.

وَاعْلَمْ، أَنَّ أَمَامَكَ طَرِيقاً ذَا مَسَافَةٍ بَعِيدَةٍ، وَمَشَقَّةٍ شَدِيدَةٍ، وَأَنَّهُ لاَ غِنَى بِكَ فِيهِ عَنْ حُسْنِ الارْتِيَادِ، وَقَدْرِ بَلاَغِكَ مِنَ الزَّادِ، مَعَ خِفَّةِ الظَّهْرِ، فَلاَ تَحْمِلَنَّ عَلَى ظَهْرِكَ فَوْقَ طَاقَتِكَ، فَيَكُونَ ثِقْلُ ذلِكَ وَبَالاً عَلَيْكَ، وَإِذَا وَجَدْتَ مِنْ أَهْلِ الْفَاقَةِ مَنْ يَحْمِلُ لَكَ زَادَكَ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ، فَيُوَافِيكَ بِهِ غَداً حَيْثُ تَحْتَاجُ إِلَيْهِ، فَاغْتَنِمْهُ وَحَمِّلْهُ إِيَّاهُ، وَأَكْثِرْ مِنْ تَزْوِيدِهِ وَأَنْتَ قَادِرٌ عَلَيْهِ، فَلَعَلَّكَ تَطْلُبُهُ فَلاَ تَجِدُهُ، وَاغْتَنِمْ مَنِ اسْتَقْرَضَكَ فِي حَالِ غِنَاكَ، لِيَجْعَلَ قَضَاءَهُ لَكَ فِي يَوْمِ عُسْرَتِكَ. وَاعْلَمْ، أَنَّ أَمَامَكَ عَقَبَةً كَؤُوداً، الْمُخِفُّ فِيهَا أَحْسَنُ حَالاً مِنَ الْمُثْقِلِ، وَالْمُبْطِئُ عَلَيْهَا

تنبنتبدونکے دے.ځکه چې خدا ے پاک تا ته یواځې د نېکو کارونو امر کړے دے او یواځې له بدو چارو یې منع کړے یې.

## د آخرت یاد

اے زویه! ته مې له دنیا ، د هغې له بدلیدونکوحالاتو ، د هغې له نابودی. او یو بل ته د هغې له منتقلېدو خبر کړې (چې نن ستا او سبا د بل ده) او له آخرته مې خبرکړې او له هغه څه چې هلته انسان ته تیار دي. او د دواړو مثالونه مې درته راوړل چې نصیحت ترې واخلې او د ژوند لارې چارې زده کړې بې شکه د هغه چا مثال چې دنیا یې اوزمائله د هغو مسافرو په شان دي چې په اوچې او کاخت (قحط) ځپلې سیمه کښې یې اړولې وي او غواړي چې ښېرازه او هوسا وطن ته لاړ شي. نو د لارې سختۍ زغمي او د دوستانو بیلتون مني، او د سفر سختۍ او تراخه خواړهٔ ورته څه نهٔ ښکاري. او د سفر خرڅ تاوان نهٔ ګڼي او هیڅه یې تر دې نهٔ دي خوښ چې هغه امن او قرار منزل ته اورسېږي . خو دنیا پرسته کسان د هغه چا په شان دي چې له یوې شادابې او تاندې ځمکې ځخه د شاړ او وچ ټاټوبي په لور کوچیږي نو د هغه په نزد تردې زیات بد او تریخ بل څه نشته چې له خپل منزله جدا کېږي او داسې ځاے ته ځي چې د زغملو نهٔ دے.

## د ټولنېزو(اجتماعي) تعلقاتو معیارونه

اے بچیه! خپل نفس د ځان او نورو په منیځ کښې معیار وګرځوه نوځه چې ځانته خوښوې بل ته یې هم خوښوه. او څه چې دې د ځان لپاره نهٔ خوښېږي بل ته یې هم مه خوښوه. او ظلم مه کوه لکه څرنګه چې په ځان ظلم نهٔ خوښوې، او ښهٔ کوه لکه څرنګه چې غواړې له تاسره ښهٔ اوشي. او څه چې د نورو لپاره بد ګڼې د ځان لپاره یې هم بد اوګڼه. او د نورو لپاره په هغه څه راضي شه چې د ځان لپاره پرې راضي کېږې. په څه چې نه پوهېږې مه یې وایه که څه هم په ډېرو کمو څیزونو پوهېږې.او څه چې دې خوښ نهٔ دي چې ستا په حقله وویل شي د نورو په حقله یې مه وایه. پوه شه چې کبر او لوئي د راستۍ خلاف او د عقل زوال دے. په ژوند کښې ډېر کوشش زیار باسه، او د نورو لپاره د زېرمه کولو په فکر کښې مه اوسه کله چې نیغې لارې ته هدایت شوې د خپل پالونکي په وړاندې ډېر کمینه او عاجز اوسه.

## د لارې توښه درسره واخله

پوه شه چې ډېره اوږده او سخته لاره درته پرته ده او په دغه لاره کښې به له ضروري کوشش، پرېمانه هڅې، د زاد او توښې له برابرولو، او د ګناه د پېټي له سپکولو نه بغير کامیاب نهٔ شې. نو ترخپل وسه زیات پېټي مه اوچتوه ګنې دروندوالي به دې یې په عذاب کړي. او که یو بې وزله او مسکین دې اولیدهٔ چې تر قیامته پورې درسره توښه وړي او سبا چې ورته ضرورت لرې درستنوي یې نو مرسته یې غنیمت اوګڼه او توښه دې ورپه اوګه کړه. او که مالي وس لرې زیات انفاق وکړه. او له هغهٔ سره یې

أَقْبَحُ حالاً مِنَ الْمُسْرِعِ، وَأَنَّ مَهْبِطَهَا بِكَ لاَ مَحالَةَ عَلَى جَنَّةٍ أَوْ عَلَى نارٍ، فَارْتَدْ لِنَفْسِكَ قَبْلَ نُزُولِكَ، وَوَطِّىءِ الْمَنْزِلَ قَبْلَ حُلُولِكَ، فَلَيْسَ بَعْدَ الْمَوْتِ مُسْتَعْتَبٌ، وَلاَ إِلَى الدُّنْيَا مُنْصَرَفٌ.

وَاعْلَمْ، أَنَّ الَّذِي بِيَدِهِ خَزَائِنُ السَّمواتِ وَالارْضِ قَدْ أَذِنَ لَكَ فِي الدُّعَاءِ، وَتَكَفَّلَ لَكَ بِالاجابَةِ،أَمَرَكَ أَنْ تَسْأَلَهُ لِيُعْطِيَكَ، وَتَسْتَرْحِمَهُ لِيَرْحَمَكَ، وَلَمْ يَجْعَلْ بَيْنَكَ وَبَيْنَهُ مَنْ يَحْجُبُكَ عَنْهُ، وَلَمْ يُلْجِئْكَ إِلَى مَنْ يَشْفَعُ لَكَ إِلَيْهِ، وَلَمْ يَمْنَعْكَ إِنْ أَسَأْتَ مِنَ التَّوْبَةِ، وَلَمْ يُعَاجِلْكَ بِالنِّقْمَةِ، [وَلَمْ يُعَيِّرْكَ بِالانابَةِ]، وَلَمْ يَفْضَحْكَ حَيْثُ الْفَضِيحَةُ [بِكَ أَوْلَى]، وَلَمْ يُشَدِّدْ عَلَيْكَ فِي قَبُولِ الانابَةِ، وَلَمْ يُنَاقِشْكَ بِالْجَرِيمَةِ، وَلَمْ يُؤْيِسْكَ مِنَ الرَّحْمَةِ، بَلْ جَعَلَ نُزُوعَكَ عَنِ الذَّنْبِ حَسَنَةً، وَحَسَبَ سَيِّئَتَكَ وَاحِدَةً، وَحَسَبَ حَسَنَتَكَ عَشْراً، وَفَتَحَ لَكَ بَابَ الْمَتَابِ، فَإِذَا نَادَيْتَهُ سَمِعَ نِدَاكَ، وَإِذَا نَاجَيْتَهُ عَلِمَ نَجْوَاكَ فَأَفْضَيْتَ إِلَيْهِ بِحَاجَتِكَ. وَأَبْثَثْتَهُ ذَاتَ نَفْسِكَ، وَشَكَوْتَ إِلَيْهِ هُمُومَكَ، وَاسْتَكْشَفْتَهُ كُرُوبَكَ، وَاسْتَعَنْتَهُ عَلَى أُمُورِكَ.

وَسَأَلْتَهُ مِنْ خَزَائِنِ رَحْمَتِهِ مَا لاَ يَقْدِرُ عَلَى إِعْطَائِهِ غَيْرُهُ، مِنْ زِيَادَةِ الاعْمَارِ، وَصِحَّةِ الأَبْدَانِ، وَسَعَةِ الارْزَاقِ. ثُمَّ جَعَلَ فِي يَدَيْكَ مَفَاتِيحَ خَزَائِنِهِ بِمَا أَذِنَ لَكَ فِيهِ مِنْ مَسْأَلَتِهِ، فَمَتَى شِئْتَ اسْتَفْتَحْتَ بِالدُّعَاءِ أَبْوَابَ نِعَمِهِ، وَاسْتَمْطَرْتَ شَآبِيبَ رَحْمَتِهِ، فَلاَ يُقَنِّطَنَّكَ إِبْطَاءُ إِجَابَتِهِ، فَإِنَّ الْعَطِيَّةَ عَلَى قَدْرِ النِّيَّةِ، وَرُبَّمَا أُخِّرَتْ عَنْكَ الاجَابَةُ، لِيَكُونَ ذلِكَ أَعْظَمَ لأَجْرِ السَّائِلِ، وَأَجْزَلَ لِعَطَاءِ الأمِلِ، وَرُبَّمَا سَأَلْتَ الشَّيْءَ فَلاَ تُؤْتَاهُ، وَأُوتِيتَ خَيْراً مِنْهُ عَاجِلاً أَوْ آجِلاً، أَوْ صُرِفَ عَنْكَ لِمَا هُوَ خَيْرٌ لَكَ، فَلَرُبَّ أَمْرٍ قَدْ طَلَبْتَهُ فِيهِ هَلاَكُ دِينِكَ لَوْ أُوتِيتَهُ، فَلْتَكُنْ مَسْأَلَتُكَ فِيمَا يَبْقَى لَكَ جَمَالُهُ، وَيُنْفَى عَنْكَ وَبَالُهُ، فَالْمَالُ لاَ يَبْقَى لَكَ وَلاَ تَبْقَى لَهُ.

وَاعْلَمْ أَنَّكَ إِنَّمَا خُلِقْتَ لِلآخِرَةِ لاَ لِلدُّنْيَا، وَلِلْفَنَاءِ لاَ لِلْبَقَاءِ، وَلِلْمَوْتِ لاَ لِلْحَيَاةِ، وَأَنَّكَ فِي مَنْزِلِ قُلْعَةٍ، وَدَارِ

اولبږه، ځکه چې کېدي شي د قيامت په ورځ د داسې يو کس په لټون شې او وې نۀ مومې. که يو کس درنه پور وغواړي نو غنيمت يې اوګڼه چې د سختۍ او تنګ لاسۍ په ورځ بې درته درستون کړي. پوه شه چې مخې ته دې د لوړو سوکو غريزې او کړکيچنې لارې پرتې دي چې د سپک پيټي خاوندان پکې تر درونړ پېټو راحته دي. او څوک چې غړند او ورو ورو روان وي تر ګړندېو به بدحاله وي. او د حرکت پاې به يې يا جنت وي يا دوزخ. نو آخرت ته له رسېدلو مخکې د ځان لپاره توښه برابره کړه او له تګه مخکې خپل ځاے تيار کړه.«ځکه چې له مرګه وروسته هيڅ عذر نۀ منل کېږي» او نۀ دنيا ته ستنېدل شته.

## د خداے پاک د رحمت نښې

پوه شه هغه خداے چې په لاس کښې يې د آسمان او ځمکې خزانې دي تا ته يې د دعا او غوښتنې اجازه درکړې او د قبلولو ذمه واري يې اخېستې ده .تا ته يې امر کړے چې له هغه اوغواړه چې در يې کړي د رحمت غوښتنه وکړه چې اودې بخښي. او خداے پاک د ځان او ستا په مينځ کښې څوک نۀ دي ټاکلي چې حجاب او پرده شي او تۀ يې نۀ يې مجبورکړے چې شفيع او سپارښتګر ته پناه يوسې. او که ګناه وکړې د توبې ور يې نۀ دي درتړلے. ستا په سزا کښې يې بيړه نۀ ده کړې او په توبې او جاروت يې نۀ يې ملامته کړے او چرته چې د رسوائۍ ور وې نۀ يې رسوا کړے او ځانته د ستنېدو لپاره يې درباندې سخت شرطونه نۀ دي لګولي. په ګناهانو يې نۀ يې محاکمه کړے او له خپل رحمته يې نۀ يې نااميده کړے، بلکه له ګناهانو ستا ستنېدل يې نيکي ګڼلې ده . ستا هره ګناه يې يوه او هره نيکي يې لس چنده شمېرلې او د ستنېدو او توبې لاره يې درپرانيستې ده، هر کله يې چې راوبلې غږ دې اوري او که د زړۀ راز ورته ووائې، ستا له رازه خبر دے. نو خپل حاجت هغۀ ته ووايه او د زړۀ د سترخوان دې هغه ته وغوړوه، غم او درد دې د هغۀ در ته يوسه چې غمونه دې لرې کړي او په ستونځو کښې دې مرسته وکړي.

## د دعا د قبلېدو شرطونه

او د هغۀ د رحمت له خزانو هغه څه اوغواړه چې نور څوک يې نۀ شي درکولې لکه اوږد عمر،روغ صحت، پراخه روزي، بيا نو خداے پاک د خپلو خزانو کنجيانې تا ته درکړې او د دعا اجازه يې درکړې ده . نو کله چې دې اراده وکړه نو په دعا سره د خداے د نعمتونو ورونه خلاصولې شې چې د رحمت باران دروورېږي. هيڅکله د دعا په قبلېدو کښې له ځنډه مه نااميده کېږه، ځکه چې خداے پاک د نيت په اندازه بخشش کوي کله کله د دعا په اجابت کښې ځنډ راځي دې لپاره چې د غوښتونکي اجر زيات او د آرزو کوونکي جزا بشپړه شي. کله کله سوال کوې خو ځواب نۀ درکړې کېږي ځکه چې تر هغه څه چې غوښتې دې دي غوره به زر يا په خپل وخت درکړې شي. او يا د دې لپاره چې خداے غواړي تر دې ښۀ درکړي نو دعا دې نۀ قبلوي ځکه چې کېدي شي ستا غوښتنه داسې وي چې که پوره شي نو ستا د دين د تباهۍ سبب شي. نو بايد دعا دې داسې وي چې ښائست او ښکلا دې پوره کړي او سختۍ

بُلْغَةٌ، وَطَرِيقٌ إِلَى الْآخِرَةِ، وَأَنَّكَ طَرِيدُ الْمَوْتِ الَّذِي لَا يَنْجُو مِنْهُ هَارِبُهُ، وَلَا بُدَّ أَنَّهُ مُدْرِكُهُ، فَكُنْ مِنْهُ عَلَى حَذَرِ أَنْ يُدْرِكَكَ وَأَنْتَ عَلَى حَالٍ سَيِّئَةٍ، قَدْ كُنْتَ تُحَدِّثُ نَفْسَكَ مِنْهَا بِالتَّوْبَةِ، فَيَحُولَ بَيْنَكَ وَبَيْنَ ذلِكَ، فَإِذَا أَنْتَ قَدْ أَهْلَكْتَ نَفْسَكَ. يَا بُنَيَّ، أَكْثِرْ مِنْ ذِكْرِ الْمَوْتِ، وَذِكْرِ مَا تَهْجُمُ عَلَيْهِ، وَتُفْضِي بَعْدَ الْمَوْتِ إِلَيْهِ، حَتَّى يَأْتِيَكَ وَقَدْ أَخَذْتَ مِنْهُ حِذْرَكَ، وَشَدَدْتَ لَهُ أَزْرَكَ، وَلَا يَأْتِيَكَ بَغْتَةً فَيَبْهَرَكَ. وَإِيَّاكَ أَنْ تَغْتَرَّ بِمَا تَرَى مِنْ إِخْلَادِ أَهْلِ الدُّنْيَا إِلَيْهَا، وَتَكَالُبِهِمْ عَلَيْهَا، فَقَدْ نَبَّأَكَ اللهُ عَنْهَا، وَنَعَتْ لَكَ نَفْسَهَا، وَتَكَشَّفَتْ لَكَ عَنْ مَسَاوِيهَا.

فَإِنَّمَا أَهْلُهَا كِلَابٌ عَاوِيَةٌ، وَسِبَاعٌ ضَارِيَةٌ، يَهِرُّ بَعْضُهَا بَعْضاً، يَأْكُلُ عَزِيزُهَا ذَلِيلَهَا، وَيَقْهَرُ كَبِيرُهَا صَغِيرَهَا، نَعَمٌ مُعَقَّلَةٌ، وَأُخْرَى مُهْمَلَةٌ، قَدْ أَضَلَّتْ عُقُولَهَا، وَرَكِبَتْ مَجْهُولَهَا، سُرُوحُ عَاهَةٍ بِوَادٍ وَعْثٍ، لَيْسَ لَهَا رَاعٍ يُقِيمُهَا، وَلَا مُسِيمٌ يُسِيمُهَا، سَلَكَتْ بِهِمُ الدُّنْيَا طَرِيقَ الْعَمَى، وَأَخَذَتْ بِأَبْصَارِهِمْ عَنْ مَنَارِ الْهُدَى، فَتَاهُوا فِي حَيْرَتِهَا، وَغَرِقُوا فِي نِعْمَتِهَا، وَاتَّخَذُوهَا رَبّاً، فَلَعِبَتْ بِهِمْ وَلَعِبُوا بِهَا، وَنَسُوا مَا وَرَاءَهَا. رُوَيْداً يُسْفِرُ الظَّلَامُ، كَأَنْ قَدْ وَرَدَتِ الْأَظْعَانُ، يُوشِكُ مَنْ أَسْرَعَ أَنْ يَلْحَقَ! وَاعْلَمْ، أَنَّ مَنْ كَانَتْ مَطِيَّتُهُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ، فَإِنَّهُ يُسَارُ بِهِ وَإِنْ كَانَ وَاقِفاً، وَيَقْطَعُ الْمَسَافَةَ وَإِنْ كَانَ مُقِيماً وَادِعاً.

وَاعْلَمْ يَقِيناً، أَنَّكَ لَنْ تَبْلُغَ أَمَلَكَ، وَلَنْ تَعْدُوَ أَجَلَكَ، وَأَنَّكَ فِي سَبِيلِ مَنْ كَانَ قَبْلَكَ، فَخَفِّضْ فِي الطَّلَبِ، وَأَجْمِلْ فِي الْمُكْتَسَبِ، فَإِنَّهُ رُبَّ طَلَبٍ قَدْ جَرَّ إِلَى حَرَبٍ، فَلَيْسَ كُلُّ طَالِبٍ بِمَرْزُوقٍ، وَلَا كُلُّ مُجْمِلٍ بِمَحْرُومٍ، وَأَكْرِمْ نَفْسَكَ عَنْ كُلِّ دَنِيَّةٍ وَإِنْ سَاقَتْكَ إِلَى الرَّغَائِبِ، فَإِنَّكَ لَنْ تَعْتَاضَ بِمَا تَبْذُلُ مِنْ نَفْسِكَ عِوَضاً. وَلَا تَكُنْ عَبْدَ غَيْرِكَ وَقَدْ جَعَلَكَ اللهُ حُرّاً. وَمَا خَيْرُ خَيْرٍ لَا يُنَالُ إِلَّا بِشَرٍّ، وَيُسْرٍ لَا يُنَالُ إِلَّا بِعُسْرٍ؟! وَإِيَّاكَ أَنْ تُوجِفَ بِكَ مَطَايَا الطَّمَعِ، فَتُورِدَكَ مَنَاهِلَ الْهَلَكَةِ، وَإِنِ اسْتَطَعْتَ

دې لړې کړې نو نهٔ د دنیا مال تا ته پاتې کېږي او نهٔ تهٔ د دنیا مال ته پاتې کېږې.

## مرګ یاد ساته

اے زویه! پوه شه چې تهٔ د آخرت لپاره پنځول شوے یې نهٔ د دنیا لپاره. او د تللو لپاره پیدا شوي یې نهٔ د پاتې کېدو لپاره، او د مرګ لپاره پنځول شوے یې نهٔ د ژوند لپاره، هره شېبه ممکنه ده له دنیا لاړ او آخرت ته روان شې، او تهٔ د داسې مرګ ښکار یې چې تښتېدونکے ترې نه شي خلاصېدې او چې په چا پسې شي رانیسي یې. نو پام کوه چې په داسې حال کښې دې را ونهٔ نیسي چې په ګناه اخته یې، یا د توبې وېستلو په انتظار یې او مرګ مهلت درنهٔ کړي. او ستا او توبې په مېنځ کښې خنډ شي. چې په داسې حال کښې به دې ځان تباه کړے وي. اے زویه! همېشه مرګ یاد ساته. او د هغه څه په یاد اوسه چې ورتلونکے یې او له مرګه وروسته به ورمخامخ کېږې، له مرګه مخکې تیار اوسه طاقت دې زیات کړه او ملا وتړه چې ناڅاپه دې راونهٔ نیسي او راودې نهٔ پرځوي. پام چې له دنیا سره د دنیا پالو زیاته مینه او په دنیا د هغوي حریصانه برغل تا اونهٔ غولوي، ځکه چې خداے پاک تهٔ د دنیا له حالاتو خبرکړے یې او دنیا هم له خپل حاله تهٔ خبر کړے یې او د زمانې له ناولتیاؤ یې پرده پورته کړې ده .

## د دنیا اوړې

په رښتیا چې دنیا پرستان د غپېدونکو سپو او داړونکو ځناورو په شان دي ځینې یې په ځینو وردانګي او پیاوړے یې کمزورے داړي. او لوے یې واړهٔ خوري، یا د هغو اوښانو په شان دي چې ځینې یې تړلي او ځینې یې پرانېستې دي چې لارې یې ورکې کړې او په نامعلومو لارو درومي. تهٔ به وائې په صعب العبورو وادیو کښې او په شړو کښې پېښې ښخي او غړند روان دي نهٔ یې څاروان او شپون شته چې سمې لارې ته یې کړي او نهٔ یې څرونکے چې څرځاے ته یې بوځي. دنیا هغوي د ړندو لارې ته راوستي او له سترګو یې د هدایت ډیوې ورکې شوي دي. نو په ورکو لارو کښې سرګردانه او په نعمتونو کښې غرق دي. دنیا یې خپل خداے ګرځولے دے. هم دنیا له هغوي سره لوبې کوي او هم هغوي له دنیا سره، او آخرت یې هېر کړے دے، لږ صبر وکړه ډېر زر به تیرې لړې شي، ته به وائې قافله د آخرت منزل ته رسېدلې ده او څوک چې تلوار وکړي کاروان ته به اورسېږي. اے زویه! پوه شه هغه کس چې د شپې او ورځې په سورلۍ سپور دے تل به په حرکت کښې وي که ځان ولاړ هم اوګڼي او تل لاره وهي که څه هم په خپل ځاے ولاړ او راحته وي.[۱۴۷]

## په ژوند کښې حقیقت پسنده اوسه

په یقین سره پوه شه چې ستا ټول ارمانونه به پوره نهٔ شي او تر مرګه به وانهٔ وړې، او د هغه چا په لاره روان یې چې تر تا مخکې تللي دي د دنیا په طلب کښې آرامه اوسه، او د روزۍ په ګټلو کښې مېنځ لارے، ځکه چې ډېر طلب کوونکي وو چې مال یې لوټ شو نو هر طالب د خوښې رزق ته نهٔ رسېږي، او نهٔ هر مېنځ لارې یې برخې کېږي. خپل ځان له هر ډول

أَلاَّ يَكُونَ بَيْنَكَ بَيْنَ اللهِ ذُونِعْمَةٍ فَافْعَلْ، فَإِنَّكَ مُدْرِكٌ قِسْمَكَ، وَآخِذٌ سَهْمَكَ. وَإِنَّ الْيَسِيرَ مِنَ اللهِ سُبْحَانَهُ أَكْرَمُ أَعْظَمُ مِنَ الْكَثِيرِ مِنْ خَلْقِهِ وَإِنْ كَانَ كُلٌّ مِنْهُ. وَتَلاَفِيكَ مَا فَرَطَ مِنْ صَمْتِكَ أَيْسَرُ مِنْ إِدْرَاكِكَ مَا فَاتَ مِنْ مَنْطِقِكَ. وَحِفْظُ مَا فِي الْوِعَاءِ بِشَدِّ الْوِكَاءِ، وَحِفْظُ مَا فِي يَدَيْكَ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ طَلَبِ مَا فِي يَدَيْ غَيْرِكَ. وَمَرَارَةُ الْيَأْسِ خَيْرٌ مِنَ الطَّلَبِ إِلَى النَّاسِ، وَالْحِرْفَةُ مَعَ الْعِفَّةِ خَيْرٌ مِنَ الْغِنَى مَعَ الْفُجُورِ، وَالْمَرْءُ أَحْفَظُ لِسِرِّهِ. وَرُبَّ سَاعٍ فِيمَا يَضُرُّهُ! مَنْ أَكْثَرَ أَهْجَرَ، وَمَنْ تَفَكَّرَ أَبْصَرَ. قَارِنْ أَهْلَ الْخَيْرِ تَكُنْ مِنْهُمْ، وَبَايِنْ أَهْلَ الشَّرِّ تَبِنْ عَنْهُمْ. بِئْسَ الطَّعَامُ الْحَرَامُ! وَظُلْمُ الضَّعِيفِ أَفْحَشُ الظُّلْمِ، إِذَا كَانَ الرِّفْقُ خُرْقاً كَانَ الْخُرْقُ رِفْقاً. رُبَّمَا كَانَ الدَّوَاءُ دَاءً، وَالدَّاءُ دَوَاءً، وَرُبَّمَا نَصَحَ غَيْرُ النَّاصِحِ، وَغَشَّ الْمُسْتَنْصَحُ. وَإِيَّاكَ وَالاتِّكَالَ عَلَى الْمُنَى، فَإِنَّهَا بَضَائِعُ النَّوْكَى. وَالْعَقْلُ حِفْظُ التَّجَارِبِ، وَخَيْرُ مَا جَرَّبْتَ مَا وَعَظَكَ. بَادِرِ الْفُرْصَةَ قَبْلَ أَنْ تَكُونَ غُصَّةً، لَيْسَ كُلُّ طَالِبٍ يُصِيبُ، وَلاَ كُلُّ غَائِبٍ يَؤُوبُ، وَمِنَ الْفَسَادِ إِضَاعَةُ الزَّادِ، وَمَفْسَدَةُ الْمَعَادِ. وَلِكُلِّ أَمْرٍ عَاقِبَةٌ، سَوْفَ يَأْتِيكَ مَا قُدِّرَ لَكَ. التَّاجِرُ مُخَاطِرٌ، وَرُبَّ يَسِيرٍ أَنْمَى مِنْ كَثِيرٍ! لاَ خَيْرَ فِي مُعِينٍ مَهِينٍ، وَلاَ فِي صَدِيقٍ ظَنِينٍ، سَاهِلِ الدَّهْرَ مَا ذَلَّ لَكَ قَعُودُهُ، وَلاَ تُخَاطِرْ بِشَيْءٍ رَجَاءَ أَكْثَرَ مِنْهُ، وَإِيَّاكَ أَنْ تَجْمَحَ بِكَ مَطِيَّةُ اللَّجَاجِ. إِحْمِلْ نَفْسَكَ مِنْ أَخِيكَ عِنْدَ صَرْمِهِ عَلَى الصِّلَةِ، وَعِنْدَ صُدُودِهِ عَلَى اللَّطَفِ وَالْمُقَارَبَةِ، وَعِنْدَ جُمُودِهِ عَلَى الْبَذْلِ، وَعِنْدَ تَبَاعُدِهِ عَلَى الدُّنُوِّ، وَعِنْدَ شِدَّتِهِ عَلَى اللِّينِ، وَعِنْدَ جُرْمِهِ عَلَى الْعُذْرِ، حَتَّى كَأَنَّكَ لَهُ عَبْدٌ، وَكَأَنَّهُ ذُونِعْمَةٍ عَلَيْكَ. وَإِيَّاكَ أَنْ تَضَعَ ذٰلِكَ فِي غَيْرِ مَوْضِعِهِ، أَوْ أَنْ تَفْعَلَهُ بِغَيْرِ أَهْلِهِ. لاَ تَتَّخِذَنَّ عَدُوَّ صَدِيقِكَ صَدِيقاً فَتُعَادِيَ صَدِيقَكَ. وَامْحَضْ أَخَاكَ النَّصِيحَةَ، حَسَنَةً كَانَتْ أَمْ قَبِيحَةً، وَتَجَرَّعِ الْغَيْظَ، فَإِنِّي لَمْ أَرَ جُرْعَةً أَحْلَى مِنْهَا عَاقِبَةً، وَلاَ أَلَذَّ مَغَبَّةً. وَلِنْ لِمَنْ غَالَظَكَ، فَإِنَّهُ

پستۍ اوساته، که څه هم خپلو اهدافو ته دې رسوي، ځکه چې هغه عزت چې دې بائیللې هیڅ څه یې نهٔ شي تلافي کولې د نورو مریې او غلام مه جوړیږه ځکه چې خدا ے پاک تهٔ آزاد پیدا کړے یې، او هغه خېر خېر نهٔ دے چې یوائې په شر لاسته راځي او هغه راحت، راحت نهٔ دے چې په ډېره سختـه په لاس راځي، پام چې د طمعې سورلۍ دې د تباهۍ ګړنګ ته اونهٔ غورزوي، او که ممکنه وه درته چې ستا او د پالونکي په مینځ کښې دې د نعمت کوم څښتن حائل نهٔ شي نو همدا کار وکړه ځکه چې تهٔ به په هر حال خپله روزي اخلې، او خپله برخه به پورته کوې او له خدایه لاسته راوړې کمه برخه غوره او لویه ده تر هغې زیاتې برخې چې له بنده یې لاسته راوړې. که څه هم هر څه د خدا ے پاک له لورې دي. هغه څه چې په چپتیا یې له لاسه ورکوې تلافي یې آسانه ده تر هغه څه چې په خبرو یې له لاسه ورکوې. ځکه چې د لوښي د خولې په بندولو سره په لوښي کښې پروت سامان ساتل کېدې شي. او هغه څه چې خپله یې لرې زما په نزد له بل څخه تر غوښتلو غوره دي. او د نهیلۍ او نا امیدۍ تریخوالے له خلقو له غوښتلو ښهٔ دے، له پاکلمنۍ سره شغل او محنت کول تر هغه پرېمانه ماله غوره دي چې په ګناه او ظلم سره لاسته راغلي وي. له سړي سره ښائي چې خپل رازونه پټ اوساتي او زیات کوشش کوونکي شته چې په خپل تاوان پسې منډې تړي وهي. څوک چې زیاتې خبرې کوي چتیات او فضولیات وائي او څوک چې فکر کوي پوهه او بصیرت لاسته راوړي. د خېر له خاوندانو سره نزدې شه چې له هغوي څخه شې او د شر له خاوندانو ځان اوساته چې له هغوي بېل اوګڼل شې. تر ټولو بد خوارهٔ حرام خوارهٔ دي او تر ټولو بد ظلم په بې وسو باندې ظلم دے. چرته چې نرمي سختي ګڼل کېږي هلته سختي مناسبه ده چې کله کله درمل درد زیات کړي او مرض معالجه کړي، کله کله غیر ناصح نصیحت کوونکے شي او ناصح درغل اوخېژي. هیڅکله په ارمانونو او ارزوګانو ملا مه تړه ځکه چې دا د احمقانو پانګه ده او عقلمندي دا ده چې له تجربو پند واخلې، او تر ټولو غوره تجربه هغه ده چې تا ته پند او سبق درکړي. له فرصته استفاده وکړه مخکې له دې چې فرصت له لاسه اوځي او غم او کړاو راشي، هر طالب مطلوب ته نهٔ رسېږي او هر پټ شوے نهٔ راستنېږي. د تباهۍ یوه نمونه د آخرت د توښې تباه کول دي هر کار پاې او خاتمه لري او ډېر زر به ستا برخلیک هم تا ته دررسېږي. ښهٔ سوداګر هغه دے چې ریسک اخلي او له خطرو سره مخامخېږي، کله کله لږ مال هم تر ډېره ماله زیات برکت لري. نه د پرېوتواو ناهلو کسانو په مرسته کښې خېر شته او نهٔ د تورنو او ملزمانو دوستانو په دوستۍ کښې، تر څو چې زمانه ستا په لاس کښې ده سختي مه کوه او د زیاتو رانغاړلو لپاره خطرات په ځان مه اخله، د دښمنۍ او کینې په اړې مارې سورلۍ له سپرېدو ډډه وکړه. که ورور درځیني جدا شو تهٔ ورسره یوځا ے شه، که مخ یې درنه واړوهٔ تهٔ ورمهربان شه، که بخل یې وکړ تهٔ بښندنه وکړه، که لرې شو ته ورنزدې شه او که سختي کوی تهٔ نرمي وکړه، د ګناه په وخت یې عذر ومنه او ځان داسې کړه چې تهٔ به وائې د هغهٔ

يُوشِكُ أَنْ يَلِينَ لَكَ، وَخُذْ عَلَى عَدُوِّكَ بِالْفَضْلِ فَإِنَّهُ أَحْلَى الظَّفَرَيْنِ، وَإِنْ أَرَدْتَ قَطِيعَةَ أَخِيكَ فَاسْتَبْقِ لَهُ مِنْ نَفْسِكَ بَقِيَّةً يَرْجِعُ إِلَيْهَا إِنْ بَدَا لَهُ ذَلِكَ يَوْماً مَا. وَمَنْ ظَنَّ بِكَ خَيْراً فَصَدِّقْ ظَنَّهُ، وَلاَ تُضِيعَنَّ حَقَّ أَخِيكَ اتِّكَالاً عَلَى مَا بَيْنَكَ وَبَيْنَهُ، فَإِنَّهُ لَيْسَ لَكَ بِأَخٍ مَنْ أَضَعْتَ حَقَّهُ. وَلاَ يَكُنْ أَهْلُكَ أَشْقَى الْخَلْقِ بِكَ وَلاَ تَرْغَبَنَّ فِيمَنْ زَهِدَ فِيكَ، وَلاَ يَكُونَنَّ أَخُوكَ أَقْوَى عَلَى قَطِيعَتِكَ مِنْكَ عَلَى صِلَتِهِ، وَلاَ تَكُونَنَّ عَلَى الاسَاءَةِ أَقْوَى مِنْكَ عَلَى الاحْسَانِ. وَلاَ يَكْبُرَنَّ عَلَيْكَ ظُلْمُ مَنْ ظَلَمَكَ، فَإِنَّهُ يَسْعَى فِي مَضَرَّتِهِ وَنَفْعِكَ، وَلَيْسَ جَزَاءُ مَنْ سَرَّكَ أَنْ تَسُوءَهُ. وَاعْلَمْ يَا بُنَيَّ، أَنَّ الرِّزْقَ رِزْقَانِ: رِزْقٌ تَطْلُبُهُ، وَرِزْقٌ يَطْلُبُكَ، فَإِنْ أَنْتَ لَمْ تَأْتِهِ أَتَاكَ، مَا أَقْبَحَ الْخُضُوعَ عِنْدَ الْحَاجَةِ، وَالْجَفَاءَ عِنْدَ الْغِنَى! إِنَّمَا لَكَ مِنْ دُنْيَاكَ، مَا أَصْلَحْتَ بِهِ مَثْوَاكَ، وَإِنْ جَزِعْتَ عَلَى مَا تَفَلَّتَ مِنْ يَدَيْكَ، فَاجْزَعْ عَلَى كُلِّ مَا لَمْ يَصِلْ إِلَيْكَ. إِسْتَدِلَّ عَلَى مَا لَمْ يَكُنْ بِمَا قَدْ كَانَ، فَإِنَّ الاُمُورَ أَشْبَاهٌ. وَلاَ تَكُونَنَّ مِمَّنْ لاَ تَنْفَعُهُ الْعِظَةُ إِلاَّ إِذَا بَالَغْتَ فِي إِيلاَمِهِ، فَإِنَّ الْعَاقِلَ يَتَّعِظُ بِالأ􀀀دَبِ، وَالْبَهَائِمَ لاَ تَتَّعِظُ إِلاَّ بِالضَّرْبِ. اطْرَحْ عَنْكَ وَارِدَاتِ الْهُمُومِ بِعَزَائِمِ الصَّبْرِ وَحُسْنِ الْيَقِينِ، مَنْ تَرَكَ الْقَصْدَ جَارَ. وَالصَّاحِبُ مُنَاسِبٌ. وَالصَّدِيقُ مَنْ صَدَقَ غَيْبُهُ. وَالْهَوَى شَرِيكُ الْعَمَى. رُبَّ بَعِيدٍ أَقْرَبُ مِنْ قَرِيبٍ، وَقَرِيبٍ أَبْعَدُ مِنْ بَعِيدٍ. وَالْغَرِيبُ مَنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ حَبِيبٌ. مَنْ تَعَدَّى الْحَقَّ ضَاقَ مَذْهَبُهُ، وَمَنِ اقْتَصَرَ عَلَى قَدْرِهِ كَانَ أَبْقَى لَهُ، وَأَوْثَقُ سَبَبٍ أَخَذْتَ بِهِ سَبَبٌ بَيْنَكَ وَبَيْنَ اللهِ سُبْحَانَهُ. وَمَنْ لَمْ يُبَالِكَ فَهُوَ عَدُوُّكَ. قَدْ يَكُونُ الْيَأْسُ إِدْرَاكاً، إِذَا كَانَ الطَّمَعُ هَلاَكاً. لَيْسَ كُلُّ عَوْرَةٍ تَظْهَرُ، وَلاَ كُلُّ فُرْصَةٍ تُصَابُ. وَرُبَّمَا أَخْطَأَ الْبَصِيرُ قَصْدَهُ، أَصَابَ الاَعْمَى رُشْدَهُ. أَخِّرِ الشَّرَّ، فَإِنَّكَ إِذَا شِئْتَ تَعَجَّلْتَهُ. وَقَطِيعَةُ الْجَاهِلِ تَعْدِلُ صِلَةَ الْعَاقِلِ. مَنْ أَمِنَ الزَّمَانَ خَانَهُ، وَمَنْ أَعْظَمَهُ أَهَانَهُ. لَيْسَ كُلُّ مَنْ رَمَى أَصَابَ، إِذَا تَغَيَّرَ السُّلْطَانُ تَغَيَّرَ الزَّمَانُ. سَلْ عَنِ الرَّفِيقِ قَبْلَ الطَّرِيقِ، وَعَنِ الْجَارِ قَبْلَ الدَّارِ.

مريي يې، او هغه په تا باندې عطا او احسان کوونکے دے، خو پام چې دا چارې (له ورونو او دوستانو بغېر) له بل چا سره يا له هغو کسانو سره چې وړ او قابل يې نۀ دي اونۀ کړې. د دوست له دښمن سره دوستي مه کوه چې له دوست سره به دې د دښمنۍ سبب وګرځي، او دوست ته دې نصيحت کوه که ښۀ پرې لګي او که بد، او غصه دې اوڅښه چې ما تر دې خوږ ګوټ بل نۀ دے ليدلے او تر دې ښه خاتمه او عاقبت مې بل نۀ دے کتلے،څوک چې له تاسره سختي کوی نرمي ورسره کوه ښائي چې ډېر زر ستا په وړاندې نرم شي، له دښمن سره په بخشش او ښېګړې سره سلوک کوه ځکه چې دا له دوو کاميابيو (له انتقام اخېستلو او يا بخښلو) څخه ښه کاميابي ده او که غواړې له دوست سره دې تعلقات اوشلوې نو دومره ځاے پرېږده چې که يوه ورځ درستېندل غواړي درستون شي، څوک چې په تا ښۀ ګمان وکړي د هغۀ ښۀ ګمان غلط نۀ کړې، د تعلق په وجه د کوم ورور حق ضائع نۀ کړې ځکه چې د چا حق چې ضائع کړې هغه بيا ستا ورور نۀ پاتې کېږي. او پام چې د کورنۍ کسان دې ستا په وجه بدبخته نۀ شي، او څوک چې درسره مينه نۀ کوي زړۀ ورپورې مه تړه، داسې نۀ شي چې د تعلقاتو په شلولو کښې دې دوست د تعلق په ټينګولو کښې تر تا محکم دليل ولري. يا په بدي کولو کښې له نيکي کولو زيات پياوړے دليل راوړي. څوک چې درباندې ظلم کوي د هغۀ ظلم درته لوے ښکاره نۀ شي. کېدې شي هغه په خپل تاوان او ستا په ګټه کار کوي او څوک چې تا خوشحالوي سزا يې دا نۀ ده چې بدي ورسره وکړې. اے بچيه! پوه شه چې رزق دوه ډوله دے، يو هغه چې تۀ ورپسې ګرځې او بل هغه چې په تا پسې ګرځي، او که ورپسې ورنۀ شې هغه درپسې راځي. څومره بد دي د ضرورت او نيازمندۍ په وخت له خشوع او خاکسارۍ کار اخېستل او د بې نيازۍ په وخت ظلم او جفا کول، بې له شکه له دې دنيا ستا برخه هغه هومره ده چې آخرت دې پرې اصلاح کړې شې، که د هر هغه څيز لپاره چې له لاسه دې ووځي خفه کېږې نو بيا د هر هغه څيز لپاره هم اندېښمن شه چې لاسته دې نۀ دے راوړے، په هغه څه سره چې شوې دي د هغه څه لپاره دليل راوړه چې کېدونکي دي،ځکه چې د دنيا بدلونونه د يو بل په شان دي. له هغو کسانو مه کېږه چې نصيحت پرې تر هغې اثر نۀ کوي تر څو ښه اونه کړېږي. ځکه چې هوښيار سړے په نصيحت سره ادب کېږي او ځناور په ډب سره، غم او خفګان دې په صبر او ښۀ يقين سره له ځانه لرې کړه، څوک چې مېنځ لاريتوب او اعتدال پرېږدي له حقه بې لارې کېږي. ياران او ملګري يو ډول خپلوان دي، دوست هغه دے چې ستا په پس شا هم په دوستۍ کښې رښتينے وي، نفساني خواهشات د ړندو ملګرو په شان دي اکثر لرې داسې دي چې تر نزديو نزدې دي او ډېر نزدې داسې دي چې تر لريو لرې دي. ، غريب سړے هغه دے چې دوست يې نۀ وي، څوک چې له حقه تېر شي ژوند پرې تنګېږي څوک چې په خپل قدر پوه شي عزت او حرمت يې باقي پاتې کيږي، ستا په لاس کښې تر ټولو مضبوطه وسيله ستا او د خداے تر مېنځ تعلق دے. څوک چې ستا د کار په فکر کښې نۀ وي ستا دښمن دے.کله کله نااميدي په خپله هدف ته رسيدل وي هلته

إِيَّاكَ أَنْ تَذْكُرَ مِنَ الْكَلاَمِ مَا يَكُونُ مُضْحِكاً، وَإِنْ حَكَيْتَ ذلِكَ عَنْ غَيْرِكَ. وَإِيَّاكَ وَمُشَاوَرَةَ النِّسَاءِ، فَإِنَّ رَأْيَهُنَّ إِلَى أَفْنٍ، وَعَزْمَهُنَّ إِلَى وَهْنٍ. وَاكْفُفْ عَلَيْهِنَّ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ بِحِجَابِكَ إِيَّاهُنَّ، فَإِنَّ شِدَّةَ الْحِجَابِ أَبْقَى عَلَيْهِنَّ، وَلَيْسَ خُرُوجُهُنَّ بِأَشَدَّ مِنْ إِدْخَالِكَ مَنْ لاَيُوثَقُ بِهِ عَلَيْهِنَّ، وَإِنِ اسْتَطَعْتَ أَلاَّ يَعْرِفْنَ غَيْرَكَ فَافْعَلْ. وَلاَ تُمَلِّكِ الْمَرْأَةَ مِنْ أَمْرِهَا مَا جَاوَزَ نَفْسَهَا، فَإِنَّ الْمَرْأَةَ رَيْحَانَةٌ، وَلَيْسَتْ بِقَهْرَمَانَةٍ. وَلاَ تَعْدُ بِكَرَامَتِهَا نَفْسَهَا، وَلاَ تُطْمِعْهَا أَنْ تَشْفَعَ لِغَيْرِهَا. وَإِيَّاكَ وَالتَّغَايُرَ فِي غَيْرِ مَوْضِعِ غَيْرَةٍ، فَإِنَّ ذلِكَ يَدْعُوالصَّحِيحَةَ إِلَى السَّقَمِ، وَالْبَرِيئَةَ إِلَى الرِّيَبِ. وَاجْعَلْ لِكُلِّ إِنْسَانٍ مِنْ خَدَمِكَ عَمَلاً تَأْخُذُهُ بِهِ، فَإِنَّهُ أَحْرَى أَلاَّ يَتَوَاكَلُوا فِي خِدْمَتِكَ. وَأَكْرِمْ عَشِيرَتَكَ، فَإِنَّهُمْ جَنَاحُكَ الَّذِي بِهِ تَطِيرُ، وَأَصْلُكَ الَّذِي إِلَيْهِ تَصِيرُ، وَيَدُكَ الَّتي بِهَا تَصُولُ. أَسْتَوْدِعُ اللهَ دِينَكَ وَدُنْيَاكَ، وَأَسْأَلُهُ خَيْرَ الْقَضَاءِ لَكَ فِي الْعَاجِلَةِ وَالآجِلَةِ، وَالدُّنْيَا وَالآخِرَةِ، إِنْ شَاءَاللهُ.

چې حرص او طمعه د هلاکت سبب کيږي، داسې نه ده چې هر عيب ښکاره او هر فرصت لاسته راتلونکے وي. کله کله سترګور خطا ځي او ړوند مقصد ته رسېږي، بدی اوځنډوه ځکه چې هر وخت يې وغواړې کولی يې شې، له جاهله جدا کېدل له عاقل سره يو ځاے کېدل دي، څوک چې د زمانې له چلولونو ځان خوندي ګڼي زمانه به ورسره خيانت وکړي، او څوک چې فاني دنيا لويه وګڼي هغه به خوار کړي، داسې نۀ ده چې د هر چا غشے دې په تښه اولګي، کله چې واکمن بدل شي زمانه بدلېږي، له حرکته مخکې د همسفر پوښتنه کوه او د کور له اخيستلو مخکې ګاونډي اوپېژنه، له بې ارزښته او خندوونکو خبرو (ټوقو، مسخرو) ځان اوساته که څه هم له بل چا يې نقلوې. (د هيواد په سياسي چارو کښې) له ښځو سره له مشورې ډډه وکړه، ځکه چې د هغوي رائې زر کمزورې او هوډ او اراده يې ناپائېداره ده،.د حجاب په پرده کښې يې ساته چې نامحرمان اونۀ ويني،ځکه چې په پردې سختي کول د هغوي د حيا او عزت د پاتې کېدو سبب کېږي. او له کوره د هغوي وتل تردې زيات خطرناک نۀ دي چې بې باوره کسان کور ته راولې او که ممکنه وي چې له تا نه بغير بل څوک اونۀ پېژني نو همداسې وکړه، هغه کار چې د ښځې له توانه زيات دے مه ورسپاره، ځکه چې ښځه د سپرلي ګل دے نه پهلوانه، او د هغې په درناوي کښې له حده مۀ تېرېږه،ګني د هغې به طمعه پېداشي او د نورو سفارشونه به کوي، له بې ځايه غېرتونو ډډه کوه ځکه چې دا کار سم کس کږوي او پاک کس شبهې او بدګمانۍ ته راکاږي، د خپل هر خدمتکار کار دې وټاکه چې هغه د هغه کار مسئول او ذمه دار وګڼي، ځکه چې د کار سم وېش سبب کېږي چې په يو او بل کارونه وانۀ چوي،د خپلوانو قدر کوه ځکه چې هغه ستا وزرې دي چې تۀ ورباندې الوت کوې،او ستا جرړې دي چې ورستنيږې، او ستا متې دي چې يرغل پرې کوې، ستا دين او دنيا خداے پاک ته سپارم او ستا لپاره اوس او په راتلونکي وخت کښې له خدايه ښه فېصله غواړم هم په دنيا کښې او هم په آخرت کښې ، والسلام.

[ ٣٢ ]

إِلَى مُعَاوِيَةَ

وَأَرْدَيْتَ جِيلاً مِنَ النَّاسِ كَثِيراً، خَدَعْتَهُمْ بِغَيِّكَ، وَأَلْقَيْتَهُمْ فِي مَوْجِ بَحْرِكَ، تَغْشَاهُمُ الظُّلُمَاتُ،تَتَلاَطَمُ بِهِمُ الشُّبُهَاتُ، فَجَارُوا عَنْ وِجْهَتِهِمْ، وَنَكَصُوا عَلَى أَعْقَابِهِمْ، وَتَوَلَّوْا عَلَى أَدْبَارِهِمْ، وَعَوَّلُوا عَلَى أَحْسَابِهِمْ، إِلاَّ مَنْ فَاءَ مِنْ أَهْلِ الْبَصَائِرِ، فَإِنَّهُمْ فَارَقُوكَ بَعْدَ مَعْرِفَتِكَ، وَهَرَبُوا إِلَى اللهِ سُبْحَانَهُ مِنْ مُوَازَرَتِكَ، إِذْ حَمَلْتَهُمْ عَلَى الصَّعْبِ، وَعَدَلْتَ بِهِمْ عَنِ الْقَصْدِ. فَاتَّقِ اللهَ يَا مُعَاوِيَةُ فِي نَفْسِكَ، وَجَاذِبِ الشَّيْطَانَ قِيَادَكَ، فَإِنَّ الدُّنْيَا مُنْقَطِعَةٌ

## ﴿ دوه د برشم ليک ﴾

## د معاويه د استعماري سياست بې نقابه کول

اے معاويه! ډېر خلق دې تباه کړل يا دې په خپلې ګمراهۍ وغولول. او د خپلې ناپوهۍ په سرکښه څپو کښې دې ډوب کړل داسې چې تورتمونو له هغوي لاره ورکه کړه. او د شبهو په څپو کښې يې غوپې اوهلې او د حق له لارې اوغړېدل.د خپلو تېرو کسانو جاهليت ته ستانۀ شول او د جاهليت په وخت په خپلو صفتونو اونازېدل. بې له يو څو پوهو کسانو چې خپله لاره يې بدله کړه او ستا له پېژندلو وروسته له تا جدا شول، او ستا له مرستې يې خداے پاک ته پناه يوړه ځکه چې تا هغوي سخت کار ته اړ کړل او له نيغې لارې دې بې لارې کړل. اے معاويه! په خپلو کارونو کښې له خدايه اوېرېږه. او خپل اختيار د شېطان له منګولو اوباسه ځکه

عَنْكَ، وَالْآخِرَةَ قَرِيبَةٌ مِنْكَ، وَالسَّلَامُ.

[ ۳۳ ]

إِلَى قُثَمَ بْنِ الْعَبَّاسِ وَهُوَ عَامِلُهُ عَلَى مَكَّةَ

أَمَّا بَعْدُ، فَإِنَّ عَيْنِي بِالْمَغْرِبِ كَتَبَ إِلَيَّ يُعْلِمُنِي أَنَّهُ وُجِّهَ إِلَى الْمَوْسِمِ أُنَاسٌ مِنْ أَهْلِ الشَّامِ، الْعُمْيِ الْقُلُوبِ، الصُّمِّ الْأَسْمَاعِ، الْكُمْهِ الْأَبْصَارِ، الَّذِينَ يَلْتَمِسُونَ الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ، وَيُطِيعُونَ الْمَخْلُوقَ فِي مَعْصِيَةِ الْخَالِقِ، وَيَحْتَلِبُونَ الدُّنْيَا دَرَّهَا بِالدِّينِ، وَيَشْتَرُونَ عَاجِلَهَا بِآجِلِ الْأَبْرَارِ الْمُتَّقِينَ، وَلَنْ يَفُوزَ بِالْخَيْرِ إِلَّا عَامِلُهُ، وَلَا يُجْزَى جَزَاءَ الشَّرِّ إِلَّا فَاعِلُهُ. فَأَقِمْ عَلَى مَا فِي يَدَيْكَ قِيَامَ الْحَازِمِ الصَّلِيبِ، وَالنَّاصِحِ اللَّبِيبِ، التَّابِعِ لِسُلْطَانِهِ، الْمُطِيعِ لِإِمَامِهِ. وَإِيَّاكَ وَمَا يُعْتَذَرُ مِنْهُ، وَلَا تَكُنْ عِنْدَ النَّعْمَاءِ بَطِراً، وَلَا عِنْدَ الْبَأْسَاءِ فَشِلاً، وَالسَّلَامُ.

[ ۳٤ ]

إِلَى مُحَمَّدِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ

لَمَّا بَلَغَهُ تَوَجُّدُهُ مِنْ عَزْلِهِ بِالْأَشْتَرِ عَنْ مِصْرَ، ثُمَّ تُوُفِّيَ الْأَشْتَرُ فِي تَوَجُّهِهِ إِلَى هُنَاكَ قَبْلَ وُصُولِهِ إِلَيْهَا

وَقَدْ بَلَغَنِي مَوْجِدَتُكَ مِنْ تَسْرِيحِ الْأَشْتَرِ إِلَى عَمَلِكَ، وَإِنِّي لَمْ أَفْعَلْ ذَلِكَ اسْتِبْطَاءً لَكَ فِي الْجَهْدِ، وَلَا ازْدِيَاداً لَكَ فِي الْجِدِّ، وَلَوْ نَزَعْتُ مَا تَحْتَ يَدِكَ مِنْ سُلْطَانِكَ، لَوَلَّيْتُكَ مَا هُوَ أَيْسَرُ عَلَيْكَ مَؤُونَةً، وَأَعْجَبُ إِلَيْكَ وِلَايَةً. إِنَّ الرَّجُلَ الَّذِي كُنْتُ وَلَّيْتُهُ أَمْرَ مِصْرَ كَانَ رَجُلاً لَنَا نَاصِحاً، وَعَلَى عَدُوِّنَا شَدِيداً نَاقِماً، فَرَحِمَهُ اللهُ! فَلَقَدِ اسْتَكْمَلَ أَيَّامَهُ، وَلَاقَى حِمَامَهُ، وَنَحْنُ عَنْهُ رَاضُونَ، أَوْلَاهُ اللهُ رِضْوَانَهُ، وَضَاعَفَ الثَّوَابَ لَهُ. فَأَصْحِرْ لِعَدُوِّكَ، وَامْضِ عَلَى بَصِيرَتِكَ، وَشَمِّرْ لِحَرْبِ مَنْ حَارَبَكَ، وَادْعُ إِلَى سَبِيلِ رَبِّكَ، وَأَكْثِرِ الْاسْتِعَانَةَ بِاللهِ يَكْفِكَ مَا أَهَمَّكَ، وَيُعِنْكَ عَلَى مَا يُنْزِلُ بِكَ، إِنْ شَاءَ اللهُ.

[ ۳۵ ]

چې دنیا درڅنې پرې شوې او آخرت درنږدې شوے دے. والسلام.

## ﴿ درې دېرشم لیک ﴾

«د مکې ګورنرد رسول الله مبارک ﷺ د ترهٔ زوے قثم بن عباس ته لیک، چې د هجرت په نهٔ دېرشم کال چې د معاویه کسانو په مکې کښې د سازش پروګرام لرهٔ اولیکلے شو»

د حج په دستورو کښې د معاویه د جاسوسانو د دورغو تبلیغاتو خبردارے

د خداے له یاد او درود وروسته! په شام کښې زما اطلاعاتي مامور ما ته خبر راکړے چې د شام څینې کسان د حج د دستورو لپاره مکې ته درځي، چې زړونه یې تور،غوږونه یې د حق له اورېدو کاڼهٔ او سترګې یې ړندې دي چې حق له باطل سره ګډوډوي او د خپل خالق په نافرمانۍ کښې د مخلوق خبره مني. خپل دین په دنیا خرڅوي او دنیا د نېکانو او پرهېزګارانو د تل پاتې سرائې په بیه پیرې.حال دا چې د نیکۍ بدل یواځې نېک چارې کسان اخلي. او د بدۍ سزا یواځې بدچارې وینې. نو د چارو په چلولو کښې ښه بېدار هوښیار او ټینګ اوسه او همدارنګ عاقل نصیحت کوونکے د امیر امر منونکے او د امام فرمان اوړونکے اوسه،داسې کار مه کوه چې عذر ته مجبور شې نهٔ د نعمتونو په وخت خوشحاله او نهٔ د مصیبتونو په مهال لټ او سست اوسه. والسلام

## ﴿ څلور دېرشم لیک ﴾

«دهجرت په اتهٔ دېرشم کال د مصر له ګورنرۍ د محمد بن ابي بکر د لرې کولو او د مالک اشتر د ګمارلو په وخت یې دا لیک د محمد بن ابي بکر د ډاډینې لپاره اولیکهٔ»

### له معزول ګورنر سره د خواخوږۍ رووده

له درود او سلامه وروسته! ما ته خبر راکړے شوے دے چې ستا د ولایت په لور د مالک اشتر په دراستولو خفه شوے یې، دا کار مې د دې لپاره نهٔ دے کړے چې له تا د زیات زیار هیله لرم یا دې کار غړند او پس دے یا دې لټي کړې ده. که تهٔ مې د مصر له ګورنرۍ لرې کړې نو د داسې ځاے ګورنر مې کړې چې چلول یې تا ته آسان او حکومت پرې راحت دے. د مصر ګورنر مې داسې کس وټاکهٔ چې زمونږ خېرخواه، او زمونږ په دښمن باندې سخت او د هغوي ځپونکے ؤ، نو خداے پاک دې پرې اورحمېږې چې ورځې یې پوره کړې او له مرګ سره یې اوکتل په داسې حال کښې چې مونږ ترې راضي یوو.۱۴۸ خداے ترې راضي اوسه. او بدله یې څو چنده کړه. نو د دښمن د مقابلې لپاره سپاهیان راوباسه او په پوره پوهې سره د دښمن په لور او خوځېږه خلق دې د پالونکي لارې ته راوبله او له خدایه ډېره مرسته غواړه چې پېچ ستونځوکښې دې کفایت کوي او په سختیو کښې دې مرسته کوي. ان شاء الله.

## ﴿ پینځهٔ دېرشم لیک ﴾

إِلَى عَبْدِاللهِ بْنِ الْعَبَّاسِ بَعْدَ مَقْتَلِ مُحَمَّدِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ بِمِصْرَ

**أَمَّا بَعْدُ، فَإِنَّ مِصْرَ قَدِ افْتُتِحَتْ، وَمُحَمَّدُ بْنُ أَبِي بَكْرٍ رَحِمَهُ اللهُ قَدِ اسْتُشْهِدَ. فَعِنْدَ اللهِ نَحْتَسِبُهُ، وَلَداً نَاصِحاً، وَعَامِلاً كَادِحاً، وَسَيْفاً قَاطِعاً، وَرُكْناً دَافِعاً. وَقَدْ كُنْتُ حَثَثْتُ النَّاسَ عَلَى لَحَاقِهِ، وَأَمَرْتُهُمْ بِغِيَاثِهِ قَبْلَ الْوَقْعَةِ، وَدَعَوْتُهُمْ سِرّاً وَجَهْراً، وَعَوْداً وَبَدْءاً، فَمِنْهُمُ الْآتِي كَارِهاً، وَمِنْهُمُ الْمُعْتَلُّ كَاذِباً، وَمِنْهُمُ الْقَاعِدُ خَاذِلاً. أَسْأَلُ اللهَ تَعَالَى أَنْ يَجْعَلَ لِي مِنْهُمْ فَرَجاً عَاجِلاً، فَوَاللهِ لَوْ لَا طَمَعِي عِنْدَ لِقَائِي عَدُوِّي فِي الشَّهَادَةِ، وَتَوْطِينِي نَفْسِي عَلَى الْمَنِيَّةِ، لَأَحْبَبْتُ أَلَّا أَبْقَى مَعَ هٰؤُلَاءِ يَوْماً وَاحِداً، وَلَا أَلْتَقِيَ بِهِمْ أَبَداً.**

«عبدالله بن عباس ته لیک، هغه وخت اولیکل شو چې د هجرت په اتۀ دېرشم کال محمد بن ابي بکر په مصر کښې شهید کړے شو»[۱۴۹]

## د مصر د نیول کېدو علتونه

د خدا ے پاک له یاد او درووده وروسته! مصر ونیولے شو او ګورنر یې محمد بن ابي بکر«چې خدا ے دې پرې اورحمیږي» شهید کړے شو د خدا ے په در کښې مو هغه خیرخواه فرزند، زیارکښ چاروال، غوڅوونکې توره او دفاع کوونکې ستنه ګڼۀ، ما خلق د هغۀ ملګرتیا ته اوهڅول، او امر مې وکړ چې له دغه ترخې پېښې مخکې یې مرسته وکړئ، خلق مې په پټه او ښکاره او له شروع نه تر آخره راوبلل ځینې په نۀ زړۀ راغلل،ځینو یې دروغې بهانې راوړې او ځینې یې خوار او ذلیل کښیناستل، له خدایه غواړم چې ډېر زر مې له دغه خلقو اوژغوري! په خدا ے قسم که له دښمن سره په جنګ کښې مې د شهادت ارمان نۀ وې او ځان مې مرګ ته نۀ وې چمتو کړے خوښه مې وه چې حتی یوه ورځ هم په دغو خلقو کې پاتے نۀ شم او هیڅکله یې اونۀ وینم.

## [ ۳۶ ]

فِي ذِكْرِ جَيْشٍ أَنْفَذَهُ إِلَى بَعْضِ الْأَعْدَاءِ

وَهُوَ جَوَابُ كِتَابٍ كَتَبَهُ إِلَيْهِ أَخُوهُ عَقِيلُ بْنُ أَبِي طَالِبٍ

**فَسَرَّحْتُ إِلَيْهِ جَيْشاً كَثِيفاً مِنَ الْمُسْلِمِينَ، فَلَمَّا بَلَغَهُ ذٰلِكَ شَمَّرَ هَارِباً، وَنَكَصَ نَادِماً، فَلَحِقُوهُ بِبَعْضِ الطَّرِيقِ، وَقَدْ طَفَّلَتِ الشَّمْسُ لِلْإِيَابِ، فَاقْتَتَلُوا شَيْئاً كَلَا وَلَا، فَمَا كَانَ إِلَّا كَمَوْقِفِ سَاعَةٍ حَتَّى نَجَا جَرِيضاً بَعْدَمَا أُخِذَ مِنْهُ بِالْمُخَنَّقِ، وَلَمْ يَبْقَ مِنْهُ غَيْرُ الرَّمَقِ، فَلَأْياً بِلَأْيٍ مَا نَجَا. فَدَعْ عَنْكَ قُرَيْشاً وَتَرْكَاضَهُمْ فِي الضَّلَالِ، وَتَجْوَالَهُمْ فِي الشِّقَاقِ وَجِمَاحَهُمْ فِي التِّيهِ، فَإِنَّهُمْ قَدْ أَجْمَعُوا عَلَى حَرْبِي كَإِجْمَاعِهِمْ عَلَى حَرْبِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ قَبْلِي، فَجَزَتْ قُرَيْشاً عَنِّي الْجَوَازِي! فَقَدْ قَطَعُوا رَحِمِي وَسَلَبُونِي سُلْطَانَ ابْنِ أُمِّي. وَأَمَّا مَا سَأَلْتَ عَنْهُ مِنْ رَأْيِي فِي الْقِتَالِ، فَإِنَّ رَأْيِي قِتَالُ الْمُحِلِّينَ حَتَّى أَلْقَى اللهَ، لَا يَزِيدُنِي كَثْرَةُ النَّاسِ حَوْلِي عِزَّةً، وَلَا تَفَرُّقُهُمْ عَنِّي وَحْشَةً، وَلَا تَحْسَبَنَّ ابْنَ أَبِيكَ ـ وَلَوْ أَسْلَمَهُ النَّاسُ ـ مُتَضَرِّعاً مُتَخَشِّعاً، وَلَا مُقِرّاً لِلضَّيْمِ وَاهِناً، وَلَا سَلِسَ الزِّمَامِ لِلْقَائِدِ، وَلَا وَطِيءَ الظَّهْرِ لِلرَّاكِبِ الْمُقْتَعِدِ، وَلٰكِنَّهُ كَمَا قَالَ أَخُو بَنِي سُلَيْمٍ:**

**فَإِنْ تَسْأَلِينِي كَيْفَ أَنْتَ فَإِنَّنِي**
**صَبُورٌ عَلَى رَيْبِ الزَّمَانِ صَلِيبُ**

## ﴿ شپږ دېرشم لیک ﴾

«خپل ورور عقیل ته لیک چې د هجرت په نهۀ دېرشم کال د د ښمن په لور د لښکر د لیږلو په هکله یې ولیکۀ»[۱۵۰]

## د امام فوځي چمتووالے

د مسلمانانو پیاوړے لښکر مې د بسر بن ارطاة (چې په یمن یې یرغل کړے ؤ) ولېږۀ. کله چې دا خبر هغۀ ته ورسېد. لمن یې راټوله کړه او وتښېد، او پښېمانه ستون شو، خو په لاره کښې وراورسېدل، او دا د نمر پرېواتۀ وخت ؤ، څو شېبې اوجنګېدل ته به وائې یو څو شېبې وې، چې مړ ژوندے، ستومانه او ډېر په سخته یې ځان د جنګ له مېدانه اوځکوۀ، اے ورروه! قریش پرېږده چې په ګمراهۍ کښې ځغلي،او په جدائۍ کښې لالهانده وي، او په سرکښۍ او دښمنۍ کښې اوسي. دوي په جنګ کښې په ما باندې راټول شول لکه څرنګه چې له ما مخکې په جنګ کښې زما د ترۀ له زوے (رسول الله مبارکﷺ) سره غرمله وو خدا ے پاک دې قریش د خپلو بدو چارو په وجه اوهي دوي له ما سره خپلوي غوڅه کړه او زما د مور د زوے (پېغمبرﷺ) حکومت یې له ما اوتروړۀ.[۱۵۱] خو تا چې د جنګ په حقله له ما پوښتنه کړې ده نو زما نظر له تړون ماتوونکو سره جنګېدل دي. تر هغې چې له خدا ے پاک سره ملاقات وکړم. نۀ د خلقو کثرت ما شتمنوي او نۀ مې د هغوي تیت پرکوالے ویروي. هیڅکله فکر اونۀ کړې چې د پلار زوے دې که خلق پرېږدي نو ځان به خوار او عاجز اویني، یا به د ظلم په وړاندې سست شي، یا به د خپلو چارو واګې هر کس و ناکس ته اوسپاري، او یا به د هر چا اطاعت وکړي، بلکه زما فېصله خو هماغه شان ده چې د بني سلیمو د قبیلې هغه شاعر وائي:

که له ما وپوښتې چې څنګه یم،پوه شه چې زۀ د ستونځو په وړاندې

يَعِزُّ عَلَيَّ أَنْ تَرَى بِي كَـآبَةٌ
فَيَشْمَتَ عَادٍ أَوْ يُسَاءَ حَبِيبٌ

[ ۳۷ ]

إِلَى مُعَاوِيَةَ

فَسُبْحَانَ اللهِ! مَا أَشَدَّ لُزُومَكَ لِلأَهْوَاءِ الْمُبْتَدَعَةِ، وَالْحَيْرَةِ الْمُتَّبَعَةِ، مَعَ تَضْيِيعِ الْحَقَائِقِ وَاطِّرَاحِ الْوَثَائِقِ، الَّتِي هِيَ لله طِلْبَةٌ، وَعَلَى عِبَادِهِ حُجَّةٌ. فَأَمَّا إِكْثَارُكَ الْحِجَاجَ فِي عُثْمَانَ وَقَتَلَتِهِ، فَإِنَّكَ إِنَّمَا نَصَرْتَ عُثْمَانَ حَيْثُ كَانَ النَّصْرُ لَكَ، وَخَذَلْتَهُ حَيْثُ كَانَ النَّصْرُ لَهُ، وَالسَّلاَمُ.

[ ۳۸ ]

إِلَى أَهْلِ مِصْرَ لَمَّا وَلَّى عَلَيْهِمُ الأَشْتَرَ رَحِمَهُ اللهُ

مِنْ عَبْدِ اللهِ عَلِيٍّ أَمِيرِ الْمُؤْمِنِينَ، إِلَى الْقَوْمِ الَّذِينَ غَضِبُوا لله حِينَ عُصِيَ فِي أَرْضِهِ، وَذُهِبَ بِحَقِّهِ، فَضَرَبَ الْجَوْرُ سُرَادِقَهُ عَلَى الْبَرِّ وَالْفَاجِرِ، وَالْمُقِيمِ وَالظَّاعِنِ، فَلاَ مَعْرُوفٌ يُسْتَرَاحُ إِلَيْهِ وَلاَ مُنْكَرٌ يُتَنَاهَى عَنْهُ. أَمَّا بَعْدُ، فَقَدْ بَعَثْتُ إِلَيْكُمْ عَبْداً مِنْ عِبَادِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ، لاَيَنَامُ أَيَّامَ الْخَوْفِ، وَلاَ يَنْكُلُ عَنِ الأَعْدَاءِ سَاعَاتِ الرَّوْعِ، أَشَدَّ عَلَى الْفُجَّارِ مِنْ حَرِيقِ النَّارِ، وَهُوَ مَالِكُ بْنُ الْحَارِثِ أَخُو مَذْحِجٍ، فَاسْمَعُوا لَهُ وَأَطِيعُوا أَمْرَهُ فِيمَا طَابَقَ الْحَقَّ، فَإِنَّهُ سَيْفٌ مِنْ سُيُوفِ اللهِ، لاَ كَلِيلُ الظُّبَةِ، وَلاَ نَابِي الضَّرِيبَةِ. فَإِنْ أَمَرَكُمْ أَنْ تَنْفِرُوا فَانْفِرُوا، وَإِنْ أَمَرَكُمْ أَنْ تُقِيمُوا فَأَقِيمُوا، فَإِنَّهُ لاَ يُقْدِمُ وَلاَ يُحْجِمُ، وَلاَ يُؤَخِّرُ وَلاَ يُقَدِّمُ إِلاَّ عَنْ أَمْرِي، وَقَدْ آثَرْتُكُمْ بِهِ عَلَى نَفْسِي لِنَصِيحَتِهِ لَكُمْ، وَشِدَّةِ شَكِيمَتِهِ عَلَى عَدُوِّكُمْ.

[ ۳۹ ]

صابر يم او ماته سخته ښکاري چې څوک مې څېره خفه اوويني چې دښمن مې ملامت کړي. او دوست راباندې خفه شي.

## ﴿ اوهٔ دېرشم لیک ﴾

«د صفين د جنګ له شروع کېدو نه مخکې د هجرت په شپږ دېرشم کال معاويه ته ليک»

### د معاويه د دروغو دعوې په ډاګه کول

د خداے پاکي او ستائنه! معاويه! څومره په بدعتي هوسونو او تل پاتې سرګرداني اخته يې، حقيقتونه دې تباه کړي او تړونونه دې مات کړي دي، هغه تړونونه چې د خداے خوښه او په خپلو بندګانو باندې د هغهٔ حجتونه وو. د عثمان او د هغهٔ د قاتلانو په حقله ستا د کړتو پړتو ځواب دا دے چې تا له عثمان سره هله مرسته وکړه چې د هغهٔ کاميابي ستا کاميابي وه او کله چې ستا مرسته د هغهٔ په ګټه وه نو خوار دې پرېښودهٔ. والسلام

## ﴿ اتهٔ دېرشم ليک ﴾

«د هجرت په اتهٔ دېرشم کال د مصر خلقو ته ليک هغه وخت چې مالک اشتر د مصر ګورنر وټاکلے شو»

### د مالک اشتر بې مثاله ځانګړتياوې او خصوصيتونه

د خداے د بنده او د مومنانو د امير علي لخوا هغه قام ته چې د خداے پاک لپاره په قهر شول کله چې نورو د خداے په ځمکه د هغهٔ نافرماني وکړه او حق يې نابود کړ. نو ظلم خپله خېمه د نېکو او بدو، مسافرو او حاضرو په سر لګه کړه، نهٔ معروف او نېکي پاتې شوه چې په سيوري کښې يې پناه وي او نهٔ چا له بدو نهي کوله، د پالونکي له ستائنې وروسته، ما تاسو ته د خداے پاک يو داسې بنده درولېږهٔ چې د ترهې په ورځو کښې اودهٔ کېږي نه او د وېرې په شېبو کښې له دښمنه په شا کېږي نه، په بدچارو کسانو د اور له لمبو تند دے. هغه د حارث زوے مالک له مذحج قبيلې څخه دے . چې د حق ملګرے وي خبره يې اورئ او وې منئ، هغه د خداے يوه داسې توره ده چې نهٔ پڅېږي او نهٔ يې ګوزار بې اثره کېږي. که د تګ امر درکړي اوکوچېږئ او که ووائي چې اودرېږئ نو اودرېږئ. هغه په پرمختګ، شاتګ او يرغل کښې بې زما له امره اقدام نهٔ کوي. اے د مصر خلقو! د هغهٔ په درلېږلو کښې مې په ځان باندې تاسو ته ترجيح درکړه،ځکه چې هغه مې ستاسو خېر غوښتونکے بيامومد، او ستاسو د دښمنانو په وړاندې مې د هغهٔ ټينګتيا خوښه شوه.

## ﴿ نهٔ دېرشم ليک ﴾

إِلَى عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ

فَإِنَّكَ جَعَلْتَ دِينَكَ تَبَعاً لِدُنْيَا امْرِىءٍ ظَاهِرٍ غَيُّهُ، مَهْتُوكٍ سِتْرُهُ، يَشِينُ الْكَرِيمَ بِمَجْلِسِهِ، وَيُسَفِّهُ الْحَلِيمَ بِخِلْطَتِهِ، فَاتَّبَعْتَ أَثَرَهُ، وَطَلَبْتَ فَضْلَهُ، اتِّبَاعَ الْكَلْبِ لِلضِّرْغَامِ، يَلُوذُ إِلَى مَخَالِبِهِ، وَيَنْتَظِرُ مَا يُلْقَى إِلَيْهِ مِنْ فَضْلِ فَرِيسَتِهِ. فَأَذْهَبْتَ دُنْيَاكَ وَآخِرَتَكَ! وَلَوْ بِالْحَقِّ أَخَذْتَ أَدْرَكْتَ مَا طَلَبْتَ. فَإِنْ يُمَكِّنِ اللهُ مِنْكَ وَمِنِ ابْنِ أَبِي سُفْيَانَ أَجْزِكُمَا بِمَا قَدَّمْتُمَا، وَإِنْ تُعْجِزَا وَتَبْقَيَا فَمَا أَمَامَكُمَا شَرٌّ لَكُمَا، وَالسَّلاَمُ.

«د هجرت په نهۀ دېرشم کال د صفین له جنګه وروسته عمرو بن عاص ته لیک»

## د عمرو بن عاص لاسپوځي او غلامي

تا خپل دین د هغه چا پیروکار ګرځولی دی چې ګمراهي یې ښکاره او پرده یې شلېدلې ده او عزتمن خلق د هغۀ په همنشینۍ کښې داغداره کېږي او د هغۀ په ملګرتیا کښې په سفاهت او بې عقلۍ تورنېږي. تۀ په هغۀ پسې داسې روان یې لکه یو سپی چې د زمري د ښکار په جوتې پسې روان وي، هغۀ ته لګۍ ښوروي چې د ښکار جوته ورواچوي، نو خپله دنیا او آخرت دې لوټه کړ، خو که له حق سره یو ځای شوی وې هغه څه به دې حاصل کړي وو چې غوښتل دې. که خدای مې په تا او د ابوسفیان په زوی باندې برلاسی کړي نو ستاسو د ناخوالو او کانو سزا به درکاندم. خو که اونۀ شوه او تاسو پاتې شوئ نو څه چې درپېښېږي هغه لا زیات بدتر دي. والسلام.

[ ٤٠ ]

إِلَى بَعْضِ عُمَّالِهِ

أَمَّا بَعْدُ، فَقَدْ بَلَغَنِي عَنْكَ أَمْرٌ، إِنْ كُنْتَ فَعَلْتَهُ فَقَدْ أَسْخَطْتَ رَبَّكَ، وَعَصَيْتَ إِمَامَكَ، وَأَخْزَيْتَ أَمَانَتَكَ. بَلَغَنِي أَنَّكَ جَرَّدْتَ الأَرْضَ فَأَخَذْتَ مَا تَحْتَ قَدَمَيْكَ، وَأَكَلْتَ مَا تَحْتَ يَدَيْكَ، فَارْفَعْ إِلَيَّ حِسَابَكَ، وَاعْلَمْ أَنَّ حِسَابَ اللهِ أَعْظَمُ مِنْ حِسَابِ النَّاسِ، وَالسَّلاَمُ.

## ﴿ څلوېښتم لیک ﴾

«د هجرت په څلوېښتم کال یو ګورنر ته لیک»

### د یو چاروال غندنه

د خدای له یاد او درووده وروسته؛ ستا په حقله رپوټ راغلی دی چې که دغسې دې کړي وي نو خپل رب دې په قهر کړی دی، له خپل امامه دې سرغړونه کړې ده او په امانت کښې دې خیانت کړی دی. ما ته خبر رارسېدلی دی چې د ځمکې فصل دې رېبلی او څومره چې دې وس ؤ اخېستي دې دي او څه چې دې لرل په خیانت دې خوړلي دي، نو زرتر زره د مالونو حساب کتاب راولېږه او پوه شه چې د خدای پاک احتساب د خلقو له حساب کتابه سخت دی. والسلام.

[ ٤١ ]

وَ مِنْ كِتَابٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ إِلَى بَعْضِ عُمَّالِهِ

أَمَّا بَعْدُ، فَإِنِّي كُنْتُ أَشْرَكْتُكَ فِي أَمَانَتِي، وَجَعَلْتُكَ شِعَارِي وَبِطَانَتِي، وَلَمْ يَكُنْ مِنْ أَهْلِي رَجُلٌ أَوْثَقَ مِنْكَ فِي نَفْسِي، لِمُوَاسَاتِي وَمُوَازَرَتِي وَأَدَاءِ الأَمَانَةِ إِلَيَّ. فَلَمَّا رَأَيْتَ الزَّمَانَ عَلَى ابْنِ عَمِّكَ قَدْ كَلِبَ، وَالْعَدُوَّ قَدْ حَرِبَ، وَأَمَانَةَ النَّاسِ قَدْ خَزِيَتْ، وَهذِهِ الأُمَّةَ قَدْ فَتَنَتْ وَشَغَرَتْ، قَلَبْتَ لاِبْنِ عَمِّكَ ظَهْرَ الْمِجَنِّ، فَفَارَقْتَهُ مَعَ الْمُفَارِقِينَ، وَخَذَلْتَهُ مَعَ الْخَاذِلِينَ، وَخُنْتَهُ مَعَ الْخَائِنِينَ، فَلاَ ابْنَ عَمِّكَ آسَيْتَ، وَلاَ الأَمَانَةَ أَدَّيْتَ. وَكَأَنَّكَ لَمْ تَكُنِ اللهَ تُرِيدُ بِجِهَادِكَ، وَكَأَنَّكَ لَمْ تَكُنْ عَلَى بَيِّنَةٍ مِنْ رَبِّكَ، وَكَأَنَّكَ إِنَّمَا كُنْتَ تَكِيدُ هذِهِ الأُمَّةَ عَنْ دُنْيَاهُمْ، وَتَنْوِي غِرَّتَهُمْ

## ﴿ یو څلوېښتم لیک ﴾

«یو چاروالي ته لیک چې (ځینو عبدالله بن عباس یاد کړی دی خو اکثرو د هغۀ ورور عبیدالله بن عباس یاد کړی دی) د خوئي د نقل مطابق د هجرت په اتۀ دېرشم او د طبري په قول د هجرت په څلوېښتم کال اولیکل شو»[152]

### د یو خائن چاروال د غندنې لاملونه او وجوهات

د خدای له یاد او له درووده وروسته؛ ګوره ما تۀ په خپل امانت کښې شریک کړې او پټه بربنډه مې درشریکه کړه او د مرستې، مدد او امانتدارۍ لپاره مې په خپلې کورنۍ کښې له تا زیات باوري کس نۀ ؤ. خوکله چې دې اولیدل چې په تربور دې سختې ورځې راغلي او دښمن پرې یرغل کړی دی، د مسلمانانو امانت تباه شوی او امت خپل اختیار له لاسه ورکړی او خوارۀ وارۀ شوي دي نو له خپل تربور سره دې ترون ګډ وډ کړ، له هغۀ جدا او له نورو سره یوځای شوې. تا له نورو سره په غرمله توګه د هغۀ له مرستې لاس واخېست او له نورو خائنانو سره یو

عَنْ فَيْئِهِمْ! فَلَمَّا أَمْكَنَتْكَ الشِّدَّةُ فِي خِيَانَةِ الأُمَّةِ، أَسْرَعْتَ الْكَرَّةَ، وَعَاجَلْتَ الْوَثْبَةَ، وَاخْتَطَفْتَ مَا قَدَرْتَ عَلَيْهِ مِنْ أَمْوَالِهِمُ الْمَصُونَةِ لأَرَامِلِهِمْ وَأَيْتَامِهِمْ، اخْتِطَافَ الذِّئْبِ الأَزَلِّ دَامِيَةَ الْمِعْزَى الْكَسِيرَةَ، فَحَمَلْتَهُ إِلَى الْحِجَازِ رَحِيبَ الصَّدْرِ بِحَمْلِهِ، غَيْرَ مُتَأَثِّمٍ مِنْ أَخْذِهِ.

كَأَنَّكَ ـ لاَ أَبَا لِغَيْرِكَ ـ حَدَرْتَ إِلَى أَهْلِكَ تُرَاثَكَ مِنْ أَبِيكَ وَأُمِّكَ، فَسُبْحَانَ اللهِ! أَمَا تُؤْمِنُ بِالْمَعَادِ؟ أَوَ مَا تَخَافُ نِقَاشَ الْحِسَابِ! أَيُّهَا الْمَعْدُودُ ـ كَانَ ـ عِنْدَنَا مِنْ ذَوِي الأَلْبَابِ، كَيْفَ تُسِيغُ شَرَاباً وَطَعَاماً، وَأَنْتَ تَعْلَمُ أَنَّكَ تَأْكُلُ حَرَاماً، وَتَشْرَبُ حَرَاماً، وَتَبْتَاعُ الإِمَاءَ وَتَنْكِحُ النِّسَاءَ مِنْ مَالِ الْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَالْمُؤْمِنِينَ وَالْمُجَاهِدِينَ، الَّذِينَ أَفَاءَ اللهُ عَلَيْهِمْ هذِهِ الأَمْوَالَ، وَأَحْرَزَ بِهِمْ هذِهِ الْبِلاَدَ؟!

فَاتَّقِ اللهَ، وَارْدُدْ إِلَى هؤُلاَءِ الْقَوْمِ أَمْوَالَهُمْ، فَإِنَّكَ إِنْ لَمْ تَفْعَلْ ثُمَّ أَمْكَنَنِي اللهُ مِنْكَ لأُعْذِرَنَّ إِلَى اللهِ فِيكَ، وَلأَضْرِبَنَّكَ بِسَيْفِي الَّذِي مَا ضَرَبْتُ بِهِ أَحَداً إِلاَّ دَخَلَ النَّارَ! وَوَاللهِ لَوْ أَنَّ الْحَسَنَ وَالْحُسَيْنَ فَعَلاَ مِثْلَ الَّذِي فَعَلْتَ، مَا كَانَتْ لَهُمَا عِنْدِي هَوَادَةٌ، وَلاَ ظَفِرَا مِنِّي بِإِرَادَةٍ، حَتَّى آخُذَ الْحَقَّ مِنْهُمَا، وَأُزِيحَ الْبَاطِلَ عَنْ مَظْلَمَتِهِمَا.

وَأُقْسِمُ بِاللهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ مَا يَسُرُّنِي أَنَّ مَا أَخَذْتَهُ مِنْ أَمْوَالِهِمْ حَلاَلٌ لِي، أَتْرُكُهُ مِيرَاثاً لِمَنْ بَعْدِي، فَضَحِّ رُوَيْداً، فَكَأَنَّكَ قَدْ بَلَغْتَ الْمَدَى، وَدُفِنْتَ تَحْتَ الثَّرَى، وَعُرِضَتْ عَلَيْكَ أَعْمَالُكَ بِالْمَحَلِّ الَّذِي يُنَادِي الظَّالِمُ فِيهِ بِالْحَسْرَةِ، وَيَتَمَنَّى الْمُضَيِّعُ الرَّجْعَةَ، وَلاَتَ حِينَ مَنَاصٍ! وَالسَّلاَمُ.

ځان دې خیانت وکړ، ته به وائې د خدای پاک په لاره کښې دې جهاد نه دی کړی او له خپل ربه روښانه دلیل نه لرې. او ته به وائې د دغه دنیا په خلقو باندې د تیري لپاره دې چل ول کوۀ او مقصد دې د هغوي غولول او د هغوي د شتو او اولجو لاسته راوړل وو نو کله چې دې د خیانت موقع پیدا کړه یرغل دې وکړ او په دواړو لاسو دې د بیت المال مالونه چې د کونډو او یتیمانو حق ؤ د هغه اوږې لیوۀ په شان چې ژوبله او ګوډه ګډه تښتوي چورتالان کړل او په ډاډه زړۀ دې حجاز ته اولېږل بې له دې چې له دې کاره د ګناه احساس وکړې.

## له بیت الماله د ناوړې استفادې کوونکو غندنه

افسوس دې وي په تا باندې ته به وائې د مور او پلار میراث دې کور ته وړې! سبحان الله! ولې په قیامت ایمان نۀ لرې؟ او له دقیق حساب کتابه بې نۀ ویرېږې؟ ای هغه کسه چې مونږ په هوښیارانو کښې شمېرلې ځرنګه دې خوراک ښکاک په ځان روا کړی دی حال دا چې پوهېږې حرام خورې او حرام څښې! ځرنګه د یتیمانو، غریبانانو، بې وزلانو، مومنانو او د خدای د لار د هغو مجاهدانو په مال وینځې اخلې او ښځې په نکاح کوې چې خدای ورته دا مالونه ورکړي او دا ښارونه یې د دوي په لاس امن کړي دي.

## له خائن سره پرېکنده چلند

نو له خدایه او ېرېږه او د هغوي مالونه ستانۀ کړه، او که دا کار اونۀ کړې او خدای پاک ماته فرصت راکړ او لاس ته مې راغلې نو داسې سزا به درکړم چې د خدای په نزد زما عذرغوښتونکې وي. او په هغه توره به دې ووهم چې څوک مې پرې وهلې دوزخ ته تللې دي. په خدای قسم! که حسن او حسین علیهما السلام داسې کار کړی وي چې تا کړی دی له ما به یې ښۀ نۀ وو لیدلي او ارمان به یې نۀ ؤ پوره شوی تر دې چې حق مې ترې ستون کړی او باطل به مې چې په ظلم سره یې پېدا شوی ؤ ختم کړی وي.

د عالمینو په پالونکي قسم! که هغه څه چې تا د مسلمانانو له ماله اوړي دي په ما روا وي نو بیا مې هم نۀ خوښوله چې هغه خپلو وارثانو ته پرېږدم؛ نو له دې کاره لاس واخله او فکر وکړه چې ګویا د عمر خاتمې ته رسېدلی او تر خاورو لاندې شوی یې، او د عمل پاڼه یې درپرانستې ده، په هغه ځای کښې چې ظالم په ارمان سره چغې وهي او د عمر فرصتونو بائلونکي به د ستنېدو ارمان کوي خو د ستنېدو لاره بنده ده. والسلام

[ ٤٢ ]

إِلَى عُمَرَ بْنِ أَبِي سَلَمَةَ الْمَخْزُومِيِّ وَكَانَ عَامِلَهُ عَلَى الْبَحْرَيْنِ فَعَزَلَهُ وَاسْتَعْمَلَ النُّعْمَانَ بْنَ عَجْلاَنَ الزُّرَقِيَّ مَكَانَهُ:

أَمَّا بَعْدُ، فَإِنِّي قَدْ وَلَّيْتُ النُّعْمَانَ بْنَ عَجْلاَنَ الزُّرَقِيَّ عَلَى

## ﴿دوه څلوېښتم لیک﴾

«دهجرت په شپږ دېرشم کال د نعمان بن عجلان زرقي له ټاکلو وروسته د بحرین ګورنر عمر بن ابي سلمه مخزومي ته لیک»[۱۵۳]

## د ګمارلو او لرې کولو په وخت ډاډ ورکول

د خدای پاک له یاد او درود وروسته! ما نعمان بن عجلان د بحرین

الْبَحْرَيْنِ، ونَزَعْتُ يَدكَ، بلاَ ذَمٍّ لَكَ، ولاَ تَثْرِيبٍ عَلَيْكَ، فَلَقَدْ أَحْسَنْتَ الْوِلاَيَةَ، و أَدَّيْتَ الامَانَةَ، فَأَقْبِلْ غَيْرَ ظَنِينٍ، ولاَ مَلُومٍ، ولاَ مُتَّهَمٍ، ولاَ مَأْثُومٍ، فَقَدْ أَرَدْتُ الْمَسِيرَ إِلَى ظَلَمَةِ أَهْلِ الشَّامِ، وأَحْبَبْتُ أَنْ تَشْهَدَ مَعِي، فإِنَّكَ مِمَّنْ أَسْتَظْهِرُ بِهِ عَلَى جِهَادِ الْعَدُوِّ، وإِقَامَةِ عَمُودِ الدِّينِ، إِنْ شَاءَ اللهُ.

[ ۴۳ ]

إِلَى مَصْقَلَةَ بْنِ هُبَيْرَةَ الشَّيْبَانِيِّ وَهُوَ عَامِلُهُ عَلَى أَرْدَشِيرَ خُرَّةَ:

بَلَغَنِي عَنْكَ أَمْرٌ إِنْ كُنْتَ فَعَلْتَهُ فَقَدْ أَسْخَطْتَ إِلهَكَ، وأَغْضَبْتَ إِمَامَكَ: أَنَّكَ تَقْسِمُ فَيْءَ الْمُسْلِمِينَ الَّذِي حَازَتْهُ رِمَاحُهُمْ وَخُيُولُهُمْ، وأُرِيقَتْ عَلَيْهِ دِمَاؤُهُمْ، فِيمَنِ اعْتَامَكَ مِنْ أَعْرَابِ قَوْمِكَ، فوَالَّذِي فَلَقَ الْحَبَّةَ، وبَرَأَ النَّسَمَةَ، لَئِنْ كَانَ ذلِكَ حَقّاً لَتَجِدَنَّ بِكَ عَلَيَّ هَوَاناً، ولَتَخِفَّنَّ عِنْدِي مِيزَاناً، فَلاَ تَسْتَهِنْ بِحَقِّ رَبِّكَ، ولاَ تُصْلِحْ دُنْيَاكَ بِمَحْقِ دِينِكَ، فَتَكُونَ مِنَ الاخْسَرِينَ أَعْمَالاً. أَلاَ وإِنَّ حَقَّ مَنْ قِبَلَكَ وقِبَلَنَا مِنَ الْمُسْلِمِينَ فِي قِسْمَةِ هذَا الْفَيْءِ سَوَاءٌ، يَرِدُونَ عِنْدِي عَلَيْهِ،يَصْدُرُونَ عَنْهُ، والسَّلاَمُ.

[ ۴۴ ]

إِلَى زِيَادِ بْنِ أَبِيه

وَقَدْ بَلَغَهُ أَنَّ مُعَاوِيَةَ كَتَبَ إِلَيْهِ يُرِيدُ خَدِيعَتَهُ بِاسْتِلْحَاقِه

وَقَدْ عَرَفْتُ أَنَّ مُعَاوِيَةَ كَتَبَ إِلَيْكَ يَسْتَزِلُّ لُبَّكَ، ويَسْتَفِلُّ غَرْبَكَ، فَاحْذَرْهُ، فَإِنَّمَا هُوَ الشَّيْطَانُ يَأْتِي الْمَرْءَ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ ومِنْ خَلْفِهِ، وعَنْ يَمِينِهِ وعَنْ شِمَالِهِ، لِيَقْتَحِمَ غَفْلَتَهُ، ويَسْتَلِبَ غِرَّتَهُ. وقَدْ كَانَ مِنْ أَبِي سُفْيَانَ فِي زَمَنِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ فَلْتَةٌ مِنْ حَدِيثِ النَّفْسِ، ونَزْغَةٌ مِنْ نَزَغَاتِ الشَّيْطَانِ، لاَ يَثْبُتُ بِهَا نَسَبٌ، ولاَ يُسْتَحَقُّ بِهَا إِرْثٌ، والْمُتَعَلِّقُ بِهَا كَالْوَاغِلِ الْمُدَفَّعِ، والنَّوْطِ الْمُذَبْذَبِ.

والي وټاکۀ او تۀ مې لرې کړې بې له دې چې ستا لپاره کومه غندنه او ملامتيا وي. په رښتيا چې تر اوسه دې دغه چاره ډېره ښه چلولې ده او امانت دې ادا کړے دے. نو زمونږ په لور راوخوځيږه بې له دې چې مظنون او غمجن يا تورن وې او يا گناهکار وې. زۀ غواړم د شام د ستمگرو په لور روان شم او زړۀ مې غواړې چې تۀ هم راسره ملگرے يې. ځکه چې تۀ له هغو باتورانو يې چې له دښمن سره په جنگ او د دين د ستنو په اودرولو کښې ترې مرسته غواړم ان شاء الله.

## ﴿ درې څلوېښتم ليک ﴾

«دهجرت په اتۀ دېرشم کال يې د ايران د فارس د يو ښار خُرّه«فيروز آباد» گورنر مصقله بن هبيره شيباني ته اوليکۀ»

### د بيت المال په استعمال کښې سختي

ستا په حقله رپوټ رارسېدلے دے چې که داسې دې کړې وي خپل خدا ے دې غصه کړے او د امام نافرماني دې کړې ده. خبر راغلے دے چې تۀ د مسلمانانو اولجې چې په تورو او اسونو يې راغونډې کړې او ورلره يې وينه بهيولې ده هغو اعرابو ته ورکوې چې يا دې خپلوان دي يا پلويان، نو په هغه ذات مې قسم چې دانه يې څيرې کړې او مخلوق يې پنځولے دے که دا رپوټ سم وي نو زما په نزد خوار او سپک شوے يې نو د خپل پالونکي حق سپک مۀ گڼه او د دين په نابودولو دنيا مه آبادوه گني ډېر تاواني به شې. پوه شه چې د بيت المال په وېش کښې ستا او زما په نزد د موجودو مسلمانانو حق برابر دے. ټول بايد ماته راشي او خپله ونډه له ما واخلي. والسلام

## ﴿ څلور څلوېښتم ليک ﴾

«د هجرت په نهۀ دېرشم کال دا ليک زياد به ابيه ته اوليکل شو هغه وخت چې امام خبر شو چې معاويه هغۀ ته ليک ليکلے دے او په دې بهانه چې زياد د معاويه ورور دے غواړې هغه اوغولوي»[۱۵۴]

### د زياد د غولولو لپاره د معاويه د سازش په ډاگه کول

خبر شوم چې معاويه ليک درليکلے دے چې عقل دې اوښويوي او اراده دې اولړزوي، له هغۀ ځان اوساته ځکه چې هغه داسې شيطان دے چې له مخې او شا، ښي او گس طرفه په انسان يرغل کوي چې غافله کس ځانته تسليم کړي او شعور او پوهه يې اوتروړي. هو! ابوسفيان د عمر ابن خطاب په زمانه کښې د نفس په لمسه او د شيطان په وسوسه يوه چټي ادعا وکړه چې نۀ نسب ثابتوي او نۀ پرې چاته ميراث رسيږي. د دې ادعا کوونکے د هغه پردي اوښ په شان دے چې د اوښانو يوې رمې ته ننوځي چې د اوبو له ځايه يې اوبۀ اوشړي او نور اوښان يې له ځانه شړي يا د هغه لوښي په شان دے چې د سورلۍ په کجاوې پورې ترلے وي او اخوا ديخوا ځانگي راځانگي.

(کله چې زیاد لیک ولوستهٔ وې ویل: د کعبې په رب قسم علي‌علیه‌السلام د هغه څه چې په زړهٔ کښې مې تېرېدل ګواهي ورکړه، تر دې چې معاویه هغه ملګرتیا ته اوبلهٔ. واغل هغه څاروے دے چې د یوې رمې برخه نهٔ وي خو د اوبو د څښلو لپاره په هغې کښې ځان ورومونډي او نور اوښان یې بیا بیا شاته کوي. «نوط مذبذب» هغه لوښي ته وائي چې په یوې سورلۍ پورې ځوړند وي او کله چې حېوان روان وي اخوا دیخوا اوړي راوړي)

## [ ٤٥ ]

إِلَى عُثْمَانَ بْن حُنَيْف الأَنْصَارِيِّ وَهُوَ عَامِلُهُ عَلَى الْبَصْرَة

وَقَدْ بَلَغَهُ أَنَّهُ دُعِيَ إِلَى وَلِيمَة قَوْم مِنْ أَهْلِهَا فَمَضَى إِلَيْهِمْ

أَمَّا بَعْدُ، يَابْنَ حُنَيْف، فَقَدْ بَلَغَنِي أَنَّ رَجُلاً مِنْ فِتْيَةِ أَهْلِ الْبَصْرَةِ دَعَاكَ إِلَى مَأْدُبَة، فَأَسْرَعْتَ إِلَيْهَا، تُسْتَطَابُ لَكَ الأَلْوَانُ، وَتُنْقَلُ إِلَيْكَ الْجِفَانُ، وَمَا ظَنَنْتُ أَنَّكَ تُجِيبُ إِلَى طَعَامِ قَوْم، عَائِلُهُمْ مَجْفُوٌّ، وَغَنِيُّهُمْ مَدْعُوٌّ. فَانْظُرْ إِلَى مَا تَقْضَمُهُ مِنْ هذَا الْمَقْضَمِ، فَمَا اشْتَبَهَ عَلَيْكَ عِلْمُهُ فَالْفِظْهُ، وَمَا أَيْقَنْتَ بِطِيبِ وُجُوهِهِ فَنَلْ مِنْهُ.

أَلاَ وَإِنَّ لِكُلِّ مَأْمُوم إِمَاماً، يَقْتَدِي بِهِ، وَيَسْتَضِيءُ بِنُورِ عِلْمِهِ. أَلاَ وَإِنَّ إِمَامَكُمْ قَدِ اكْتَفَى مِنْ دُنْيَاهُ بِطِمْرَيْهِ، وَمِنْ طُعْمِهِ بِقُرْصَيْهِ. أَلاَ وَإِنَّكُمْ لاَ تَقْدِرُونَ عَلَى ذلِكَ، وَلكِنْ أَعِينُونِي بِوَرَع وَاجْتِهَاد، وَعِفَّة وَسَدَاد. فَوَاللهِ مَا كَنَزْتُ مِنْ دُنْيَاكُمْ تِبْراً، وَلاَ ادَّخَرْتُ مِنْ غَنَائِمِهَا وَفْراً، وَلاَ أَعْدَدْتُ لِبَالِي ثَوْبِي طِمْراً. وَ لاَ حُزْتُ مِنْ أَرْضِهَا شِبْراً وَ لاَ أَخَذْتُ مِنْهُ إِلاَّ كَقُوتِ أَتَان دَبِرَة وَ لَهِيَ فِي عَيْنِي أَوْهَى وَ أَوْهَنُ مِنْ عَفْصَة مَقِرَة بَلَى! كَانَتْ فِي أَيْدِينَا فَدَكٌ مِنْ كُلِّ مَا أَظَلَّتْهُ السَّماءُ، فَشَحَّتْ عَلَيْهَا نُفُوسُ قَوْم، وَسَخَتْ عَنْهَا نُفُوسُ آخَرِينَ، وَنِعْمَ الْحَكَمُ اللهُ. وَمَا أَصْنَعُ بِفَدَك وَغَيْرِ فَدَك، وَالنَّفْسُ مَظَانُّهَا فِي غَد جَدَثٌ، تَنْقَطِعُ فِي ظُلْمَتِهِ آثَارُهَا، وَتَغِيبُ أَخْبَارُهَا، وَحُفْرَةٌ لَوْ زِيدَ فِي فُسْحَتِهَا، وَأَوْسَعَتْ يَدَا حَافِرِهَا، لاَضْغَطَهَا الْحَجَرُ وَالْمَدَرُ، وَسَدَّ فُرَجَهَا التُّرَابُ الْمُتَرَاكِمُ، وَإِنَّمَا هِيَ نَفْسِي أَرُوضُهَا بِالتَّقْوَى لِتَأْتِيَ آمِنَةً يَوْمَ الْخَوْفِ الاَكْبَرِ، وَتَثْبُتَ عَلَى جَوَانِبِ الْمَزْلَقِ. وَلَوْ شِئْتُ لاَهْتَدَيْتُ الطَّرِيقَ، إِلَى مُصَفَّى هذَا الْعَسَلِ، وَلُبَابِ هذَا الْقَمْحِ، وَنَسَائِجِ هذَا الْقَزِّ، وَلكِنْ هَيْهَاتَ أَنْ يَغْلِبَنِي هَوَايَ، وَيَقُودَنِي جَشَعِي إِلَى تَخَيُّرِ

## ﴿ پینځهٔ څلوېښتم لیک ﴾

«دهجرت په شپږ دېرشم کال د بصرې کوماندان عثمان بن حُنَېف انصاري ته لیک چې د بصرې د یو شتمن (سرمایه دار) کس د مېلمستیا بلنه یې قبوله کړه»

### د چاروالي ساده ژوند

د خداے له یاد او درووده وروسته! اے د حُنېف زویه! خبر شوے یم چې د بصرې یو سرمایه دار تا ته ډوډۍ وکړه او تهٔ هم په منډه ورغلې، رنګارنګ خواړهٔ او ډکې کاسې یې دروړاندې کړې. ګمان مې نهٔ کوهٔ چې د داسې خلقو مېلمستیا قبوله کړې چې حاجتمن کسان یې په ظلم سره شړل شوي او شتمن یې په دسترخوان بلل شوي وي. فکر وکړه چې په کوم ځاے کښې یې او له کوم دسترخوانه یې خورې؟ د کومې ډوډۍ چې حلال او حرام درته نهٔ وي معلوم پرې یې ږده او که له پاکوالي او حلالوالي یې خبر یې وې خوره.

### امام د ساده ژواک نمونه

خبر اوسه چې هر امام لاروي لري چې په لاره یې ځي او له رڼا یې استفاده کوي. خبر اوسه! ستاسو امام له خپلې دنیا یواځې په دوو شلیدلو جامو او دوو اوچو ډوډیو بسنه کړې ده پوه شه چې تاسو د د غه کار توان نهٔ لرئ خو په پرهېزګارۍ ، پاکلمنۍ او رښتینولۍ کښې په زیار او کوشش سره زما مرسته وکړئ. نو په خداے قسم ما ستاسو له دنیا څخه سرهٔ او سپین نهٔ دي جمع کړي، اولجې مې نهٔ دي زېرمه کړي، په دوو ورستو جامو مې څه نهٔ دي ورزیات کړي او د دنیا له ځمکې مې یوه لویشته زمکه هم نهٔ ده اخېستې، ستاسو دنیا زما په نظر د بلوط د ونې له ترخې دانې هم سپکه ده.! هو ،له هغه څه چې آسمان پرې سیورے غوړولے دے یواځې فدک[155] زمونږ په لاس کښې ؤ چې ځینو پرې شومي وکړه او ځینو ترې په سخاوت سره سترګې پټې کړې. او تر ټولو غوره فېصله کوونکے خداے پاک دے. زما له فدک او غېر فدک سره څه کار دے. حال دا چې د انسان سبانے ځاے ګور دے چې په تیرې کښې یې د انسان نښې نښانې نابودې او خبرونه یې پټ شي. هغه کنده چې هر څومره یې پراخه کړې او ګورکن یې هر څومره ارته کړي بیا یې هم کاڼي او لوټي ډکوي او د خاورو انبار یې لارې بندوي. زهٔ خپل نفس په پاکۍ سره پالم چې د قیامت په بوږنوونکې ورځ په امان او په ښوېدانو کښې یې ټینګ پاتے شم. ما که غوښتلې خواړهٔ به مې له پاکو شاتو او د غنمو له مغزو او جامه به مې د وربښمو وه خو هیهات چې نفس په ما لاسبرے شی او

الأَطْعِمَةِ ـ وَلَعَلَّ بِالْحِجَازِ أَوْ بِالْيَمَامَةِ مَنْ لاَ طَمَعَ لَهُ فِي الْقُرْصِ، وَلاَ عَهْدَ لَهُ بِالشِّبَعِ ـ أَوْ أَبِيتَ مِبْطَاناً وَحَوْلِي بُطُونٌ غَرْثَى وَأَكْبَادٌ حَرَّى، أَوْ أَكُونَ كَمَا قَالَ الْقَائِلُ:

وَحَسْبُكَ دَاءً أَنْ تَبِيتَ بِبِطْنَةٍ

وَحَوْلَكَ أَكْبَادٌ تَحِنُّ إِلَى الْقِدِّ

أَأَقْنَعُ مِنْ نَفْسِي بِأَنْ يُقَالَ: أَمِيرُ الْمُؤْمِنِينَ، وَلاَ أُشَارِكُهُمْ فِي مَكَارِهِ الدَّهْرِ، أَوْ أَكُونَ أُسْوَةً لَهُمْ فِي جُشُوبَةِ الْعَيْشِ! فَمَا خُلِقْتُ لِيَشْغَلَنِي أَكْلُ الطَّيِّبَاتِ، كَالْبَهِيمَةِ الْمَرْبُوطَةِ هَمُّهَا عَلَفُهَا، أَوِ الْمُرْسَلَةِ شُغُلُهَا تَقَمُّمُهَا، تَكْتَرِشُ مِنْ أَعْلاَفِهَا، وَتَلْهُو عَمَّا يُرَادُ بِهَا، أَوْ أُتْرَكَ سُدىً، أَوْ أُهْمَلَ عَابِثاً، أَوْ أَجُرَّ حَبْلَ الضَّلاَلَةِ، أَوْ أَعْتَسِفَ طَرِيقَ الْمَتَاهَةِ! وَكَأَنِّي بِقَائِلِكُمْ يَقُولُ: إِذَا كَانَ هَذَا قُوتُ ابْنِ أَبِي طَالِب، فَقَدْ قَعَدَ بِهِ الضَّعْفُ عَنْ قِتَالِ الأَقْرَانِ وَمُنَازَلَةِ الشُّجْعَانِ. أَلاَ وَإِنَّ الشَّجَرَةَ الْبَرِّيَّةَ أَصْلَبُ عُوداً، وَالرَّوَائِعَ الْخَضِرَةَ أَرَقُّ جُلُوداً، وَالنَّابِتَاتِ الْعِذْيَةَ أَقْوَى وَقُوداً، وَأَبْطَأُ خُمُوداً، وَأَنَا مِنْ رَسُولِ اللهِ (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِه) كَالصِّنْوِ مِنَ الصِّنْوِ، وَالذِّرَاعِ مِنَ الْعَضُدِ. وَاللهِ لَوْ تَظَاهَرَتِ الْعَرَبُ عَلَى قِتَالِي لَمَا وَلَّيْتُ عَنْهَا، وَلَوْ أَمْكَنَتِ الْفُرَصُ مِنْ رِقَابِهَا لَسَارَعْتُ إِلَيْهَا، سَأَجْهَدُ فِي أَنْ أُطَهِّرَ الأَرْضَ مِنْ هَذَا الشَّخْصِ الْمَعْكُوسِ، وَالْجِسْمِ الْمَرْكُوسِ، حَتَّى تَخْرُجَ الْمَدَرَةُ مِنْ بَيْنِ حَبِّ الْحَصِيدِ.

إِلَيْكِ عَنِّي يَا دُنْيَا، فَحَبْلُكِ عَلَى غَارِبِكِ، قَدِ انْسَلَلْتُ مِنْ مَخَالِبِكِ، وَأَفْلَتُّ مِنْ حَبَائِلِكِ، وَاجْتَنَبْتُ الذَّهَابَ فِي مَدَاحِضِكِ. أَيْنَ الْقُرُونُ الَّذِينَ غَرَرْتِهِمْ بِمَدَاعِبِكِ؟! أَيْنَ الأُمَمُ الَّذِينَ فَتَنْتِهِمْ بِزَخَارِفِكِ؟! هَا هُمْ رَهَائِنُ الْقُبُورِ، وَمَضَامِينُ اللُّحُودِ. وَاللهِ لَوْ كُنْتِ شَخْصاً مَرْئِيّاً، وَقَالَباً حِسِّيّاً، لأَقَمْتُ عَلَيْكِ حُدُودَ اللهِ فِي عِبَادٍ غَرَرْتِهِمْ بِالأَمَانِي، وَأُمَمٍ أَلْقَيْتِهِمْ فِي الْمَهَاوِي، وَمُلُوكٍ أَسْلَمْتِهِمْ إِلَى التَّلَفِ، وَأَوْرَدْتِهِمْ مَوَارِدَ الْبَلاَءِ، إِذْ لاَ وِرْدَ وَلاَ صَدَرَ!

حرص او طمعه مې خوندورو خوړو ته اړباسي. حال دا چې په «يمامه» او «حجاز» كښې داسې څوک وي چې يوه ډوډۍ وروته رسي يا په نيمه خېټه پاتې شي، يا زۀ په ډکه خېټه اودۀ شم او خواوشا مې داسې اوږې خېټې كسان وي چې خېټې يې له ملا سره جنګېدلي او ځيګرونه يې سوي وي. يا داسې وم چې د شاعر په وېنا: «دا درد تا ته بس دے چې تۀ په ډکه خېټه اودۀ شې اوخواوشا دې داسې اوږې وي چې خېټې يې په ملا پورې جنګېدلې وي»

آيا زۀ ځان په دې خوشحاله او قانع کړم چې خلق ماته اميرالمومنين وائي. او د ژوند په سختيو كښې ورشريک نۀ شم او د ژوند په ربړو كښې د هغوي لپاره نمونه اونۀ ګرځم. زۀ د دې لپاره نۀ يم پېدا شوے چې چې په مزيدارو او خوندورو خوراكونو باندې مشغول يم د هغو ځناورو په شان چې ټول فكر و غم يې وابنۀ وي يا د هغه خوشې ځاروي په شان چې كار يې څربدل او خېټه ډکول وي او له مستقبل نه ناخبره وي. آيا زۀ بې چټي او فضول پېدا كړے يم؟ آيا زۀ بې د لوبو لپاره پېدا كړے يم؟ آيا د ګمراهۍ رسۍ اونيسم او يا د لالهاندۍ په لاره روان شم؟ ته به وائې اورم چې په تاسو كښې يو كس وائي: «كه د ابوطالب د زوے ډوډۍ همدا وي نو سستي پرې خوره شوې او نور نو له باتورانو او تورزنانو سره له مقابلې پاتې راغلے دے» خبر اوسئ! د دښتو د ونو لرګي سخت او د وېالو د غاړو د ونو پوستكے نرم وي. هغه صحرائي ونې چې په باران خړوبېږي د لرګي اور يې غرغنډه او دوامداره وي. زۀ او رسول الله مبارکﷺ د يو څراغ د رڼا په شان يوو يا د څنګلې په شان له يوۀ مټ سره وصل يوو. په خداے قسم! كه ټول عرب له ما سره د جنګ لپاره اوږه په اوږه اودرېږي مخ به ترې وانۀ ړوم او كه فرصت وي له ټولو سره به اوجنګېږم. او هڅه به وكړم چې ځمكه له دغه مسخ شوي كس او كږ فكره جسمه «معاويه» پاكه كړم چې كاڼي او لوټي له دانو جدا شي.

«د دغه ليک يوه برخه دا ده»

## امام او د دنياپرستو نړۍ

اے دنيا درې درې، (له ما لرې شه) جېلب مې په ملا درواچوۀ، او ستا له منګولو مې ځان اوژغورۀ، او له لومو دې خلاص شوم. او له ښوئېداېو دې لرې شوم. چرته دي هغه غټان چې په خپلو لوبو دې اوغولول، كوم دي هغه امتونه چې په زر او زېور دې مئين كړل او اوس د خاورو خوراک دي او په قبرونو كښې پټ دي. اے دنيا! په خداے قسم! كه تۀ يو ليدل كېدونكے كس وې او يا محسوسېدونكې وې، د خداے حد به مې درباندې جاري كړے ؤ د هغو بندګانو په بدل كښې چې په خپلو ارمانونو او ارزوګانو دې اوغولول، او د هغو ولسونو په خاطر چې ګړنګونو ته دې اوغورزول، او د هغو باچاهانو په بدل چې هلاكت ته دې

هَيْهَاتَ! مَنْ وَطِىءَ دَحْضَكِ زَلِقَ، وَمَنْ رَكِبَ لُجَجَكِ غَرِقَ، وَمَنِ ازْوَرَّ عَنْ حَبَائِلِكِ وُفِّقَ، وَالسَّالِمُ مِنْكِ لاَيُبَالِي إِنْ ضَاقَ بِهِ مُنَاخُهُ، وَالدُّنْيَا عِنْدَهُ كَيَوْمٍ حَانَ انْسِلاَخُهُ. اعْزُبِي عَنِّي! فَوَاللهِ لاَ أَذِلُّ لَكِ فَتَسْتَذِلِّينِي، وَلاَ أَسْلَسُ لَكِ فَتَقُودِينِي. وَايْمُ اللهِ يَمِيناً أَسْتَثْنِي فِيهَا بِمَشِيئَةِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ، لَأَرُوضَنَّ نَفْسِي رِيَاضَةً تَهِشُّ مَعَهَا إِلَى الْقُرْصِ إِذَا قَدَرْتُ عَلَيْهِ مَطْعُوماً، وَتَقْنَعُ بِالْمِلْحِ مَأْدُوماً؛ وَلَأَدَعَنَّ مُقْلَتِي كَعَيْنِ مَاءٍ نَضَبَ مَعِينُهَا مُسْتَفْرِغَةً دُمُوعَهَا. أَتَمْتَلِىءُ السَّائِمَةُ مِنْ رِعْيِهَا فَتَبْرُكَ؟ وَتَشْبَعُ الرَّبِيضَةُ مِنْ عُشْبِهَا فَتَرْبِضَ؟ وَيَأْكُلُ عَلِيٌّ مِنْ زَادِهِ فَيَهْجَعَ؟ قَرَّتْ إِذاً عَيْنُهُ إِذَا اقْتَدَى بَعْدَ السِّنِينَ الْمُتَطَاوِلَةِ بِالْبَهِيمَةِ الْهَامِلَةِ، وَالسَّائِمَةِ الْمَرْعِيَّةِ! طُوبَى لِنَفْسٍ أَدَّتْ إِلَى رَبِّهَا فَرْضَهَا، وَعَرَكَتْ بِجَنْبِهَا بُؤْسَهَا، وَهَجَرَتْ فِي اللَّيْلِ غُمْضَهَا، حَتَّى إِذَا غَلَبَ الْكَرَى عَلَيْهَا افْتَرَشَتْ أَرْضَهَا، وَتَوَسَّدَتْ كَفَّهَا، فِي مَعْشَرٍ أَسْهَرَ عُيُونَهُمْ خَوْفُ مَعَادِهِمْ، تَجَافَتْ عَنْ مَضَاجِعِهِمْ جُنُوبُهُمْ، وَهَمْهَمَتْ بِذِكْرِ رَبِّهِمْ شِفَاهُهُمْ، وَتَقَشَّعَتْ بِطُولِ اسْتِغْفَارِهِمْ ذُنُوبُهُمْ؛ [﴿أُولئِكَ حِزْبُ اللهِ، أَلاَ إِنَّ حِزْبَ اللهِ هُمُ الْمُفْلِحُونَ﴾. فَاتَّقِ اللهَ يَابْنَ حُنَيْفٍ، وَلْتَكْفُفْ أَقْرَاصُكَ، لِيَكُونَ مِنَ النَّارِ خَلاَصُكَ].

[ ٤٦ ]

إِلَى بَعْضِ عُمَّالِهِ

أَمَّا بَعْدُ، فَإِنَّكَ مِمَّنْ أَسْتَظْهِرُ بِهِ عَلَى إِقَامَةِ الدِّينِ، وَأَقْمَعُ بِهِ نَخْوَةَ الأَثِيمِ، وَأَسُدُّ بِهِ لَهَاةَ الثَّغْرِ الْمَخُوفِ. فَاسْتَعِنْ بِاللهِ عَلَى مَا أَهَمَّكَ، وَاخْلِطِ الشِّدَّةَ بِضِغْثٍ مِنَ اللِّينِ، وَارْفُقْ مَا كَانَ الرِّفْقُ أَرْفَقَ، وَاعْتَزِمْ بِالشِّدَّةِ حِينَ لاَ تُغْنِي عَنْكَ إِلاَّ الشِّدَّةُ، وَاخْفِضْ لِلرَّعِيَّةِ جَنَاحَكَ، وَابْسُطْ لَهُمْ وَجْهَكَ وَأَلِنْ لَهُمْ جَانِبَكَ، وَآسِ بَيْنَهُمْ فِي اللَّحْظَةِ

په ګونډو کړل، او مصيبتونو ته دې اونيول، چې نۀ مخکې لاره لري او نۀ شاته، خو هيهات! څوک چې دې په ښوېدانې پښه کېږدي ښويږي،او څوک چې دې په چپو سپور شي غرقېږي، څوک چې ستا له لوموخلاص شو اوژغورلے شو، څوک چې له تاسلامته تېرشو انديښنه نۀ لري چې ځاے يې تنګ دے ځکه چې دنيا هغۀ ته داسې ده لکه تېره ورځ.
له سترګو مې لرې شه، په خداے قسم! رام به درته نۀ شم چې خوار مې کړې، او خپل جلب به درنۀ کړم چې هر چرته مې غواړې رامې کاږې. په خداے قسم! هغه قسم چې د خداے اراده پکښې ده خپل نفس به دومره وروزم (رياضت به وکړم) چې که يوه ډوډۍ ومومم راضي به شم، او د ښوروا په ځاے به په مالګه قناعت وکړم. او دومره اوښکې به اوبهيوم چې سترګې مې د اوچې چينې په شان شي. او اوښکې يې اوچې شي. آيا دا له ما سره ښائي چې مارغان زياتې دانې اوخوري، او راحته اودۀ شي او د ګډو رمه له څره وروسته شپول ته ستنه شي او علي هم د هغوي په شان توښه اوخوري او آرام وکړي؟ سترګې يې روښانه! چې له اوږدو کلونو وروسته چارپايان او د ګډو رمې د خپل ځان لپاره نمونه وګرځوي.!! نيکمرغه دے هغه کس چې د خداے فرائض ادا کړي او د خداے په لاره کښې هر ډول سختي په ځان واخلي، او شپې روڼې کړي او که خوب پرې واکمن شي ځکمه بستره کړي او لاس بالښت، او له هغو کسانو وي چې د قيامت ويرې يې خوبونه تښتولې او له بسترو يې ډډه کړې وي، شونډې يې د پالونکي په ياد چلېږي او په اوږدو استغفارونو سره يې ګناهانې توږلې وي «دوي د خداے پاک ګوند او حزب دے. بې له شکه چې د خداے ګوند کامياب دے»
نو اے د حُنيف زويه! له خدايه اوېرېږه او په خپله ډوډۍ بسنه وکړه چې تا د دوزخ له اوره اوژغوري.

## ﴿ شپږڅلوېښتم ليک ﴾

«يو ګورنر ته ليک چې د هجرت په اتۀ دېرشم کال اوليکل شو ويل کېږي چې دا ليک يې مالک اشتر ته ليکلے دے»

### واليان او ټولنيز (اجتماعي) اخلاق

د خداے له ياد اودروده وروسته! بې له شکه تۀ له هغو کسانو څخه يې چې د دين په مرسته کښې ترې مدد اخلم، او د ګناهکارو سرغړونه او کبرځپم، او د دښمن له خوا ګواښېدونکې اسلامي پولې ساتم، نو په ستونځو کښې له خدايه مرسته وغواړه او په زيږ والے او سختي دې له نرموالي سره واغږه، چرته چې نرمي ښه وي نرمي کوه او چرته چې بې له سختۍ کار نۀ کېږي سختي کوه. وزرې دې په خلقو خپرې کړه له خلقو سره خوش اخلاقه او خاکساره اوسه، او په کتلو، سترګو څمبلو، سترې

وَالنَّظْرَةِ، وَالاشَارَةِ وَالتَّحِيَّةِ، حَتَّى لاَ يَطْمَعَ الْعُظَمَاءُ فِي حَيْفِكَ، وَلاَ يَيْأَسَ الضُّعَفَاءُ مِنْ عَدْلِكَ، وَالسَّلاَمُ.

[ ٤٧ ]

وَمِنْ وَصِيَّةٍ لَهُ لِلْحَسَنِ وَالْحُسَيْنِ عَلَيْهِمَا السَّلاَمُ
لَمَّا ضَرَبَهُ ابْنُ مُلْجَمٍ لَعَنَهُ اللهُ

أُوصِيكُمَا بِتَقْوَى اللهِ، وَأَنْ لاَ تَبْغِيَا الدُّنْيَا وَإِنْ بَغَتْكُمَا، وَلاَ تَأْسَفَا عَلَى شَيْءٍ مِنْهَا زُوِيَ عَنْكُمَا، وَقُولاَ بِالْحَقِّ، وَاعْمَلاَ لِلأَجْرِ، وَكُونَا لِلظَّالِمِ خَصْماً، وَلِلْمَظْلُومِ عَوْناً. أُوصِيكُمَا، وَجَمِيعَ وَلَدِي وَأَهْلِي وَمَنْ بَلَغَهُ كِتَابِي، بِتَقْوَى اللهِ، وَنَظْمِ أَمْرِكُمْ، وَصَلاَحِ ذَاتِ بَيْنِكُمْ، فَإِنِّي سَمِعْتُ جَدَّكُمَا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "صَلاَحُ ذَاتِ الْبَيْنِ أَفْضَلُ مِنْ عَامَّةِ الصَّلاَةِ الصِّيَامِ". اللهَ اللهَ فِي الأَيْتَامِ، فَلاَ تُغِبُّوا أَفْوَاهَهُمْ، وَلاَ يَضِيعُوا بِحَضْرَتِكُمْ. وَاللهَ اللهَ فِي جِيرَانِكُمْ، فَإِنَّهُمْ وَصِيَّةُ نَبِيِّكُمْ، مَا زَالَ يُوصِي بِهِمْ حَتَّى ظَنَنَّا أَنَّهُ سَيُوَرِّثُهُمْ. وَاللهَ اللهَ فِي الْقُرْآنِ، لاَ يَسْبِقُكُمْ بِالْعَمَلِ بِهِ غَيْرُكُمْ. وَاللهَ اللهَ فِي الصَّلاَةِ، فَإِنَّهَا عَمُودُ دِينِكُمْ. وَاللهَ اللهَ فِي بَيْتِ رَبِّكُمْ، لاَ تُخْلُوهُ مَا بَقِيتُمْ، فَإِنَّهُ إِنْ تُرِكَ لَمْ تُنَاظَرُوا. وَاللهَ اللهَ فِي الْجِهَادِ بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ وَأَلْسِنَتِكُمْ فِي سَبِيلِ اللهِ. وَعَلَيْكُمْ بِالتَّوَاصُلِ وَالتَّبَاذُلِ، وَإِيَّاكُمْ وَالتَّدَابُرَ وَالتَّقَاطُعَ. لاَ تَتْرُكُوا الاَمْرَ بِالْمَعْرُوفِ وَالنَّهْيَ عَنِ الْمُنْكَرِ فَيُوَلَّى عَلَيْكُمْ أَشْرَارُكُمْ، ثُمَّ تَدْعُونَ فَلاَ يُسْتَجَابُ لَكُمْ.

ثُمَّ قَالَ:

يَا بَنِي عَبْدِ الْمُطَّلِبِ، لاَ أُلْفِيَنَّكُمْ تَخُوضُونَ دِمَاءَ الْمُسْلِمِينَ خَوْضاً، تَقُولُونَ: قُتِلَ أَمِيرُالْمُؤْمِنِينَ. أَلاَ لاَ تَقْتُلُنَّ بِي إِلاَّ

مشې، اشاره کولو او احترام کولو کښې له ټولو سره برابر اوسه چې زورور درته طمعه اونهٔ کړي او ناتوانان دې له انصافه ناامیده نهٔ شي. والسلام

## ﴿اوهٔ څلوېښتم ليک﴾

«دابن ملجم له خوا له ګوزار خوړلو وروسته چې د هجرت د څلوېښتم کال د روژې په مياشت کښې په کوفې کې وشو، امام حسن او امام حسين عليهما السلام ته د امام وصيت ليک»

### تل پاتې ملغلرې

تاسو ته له خدايه د ويرې سپارښتنه کوم. دنيا پرستی نه مخ مه اوړئ که څه هم هغه مخ درواړوي او د دې دنيا چې مو څه له لاسه اوځي خوابښيني پرې مه کوئ، حق وائئ او د اجر لپاره عمل کوئ، د ظالم دښمن او د مظلوم مرستندويه اوسئ. تاسو، او خپل ټول بچيان او کورنی او هغه کسان چې دا وصيت ترلاسه کوي له خدايه ويرې، د ژوند په چارو کښې نظم او په خپل مينځ کښې صلحی او پخلاينې ته رابلم،ځکه چې ما ستاسو له نيکهٔ رسول الله مبارک ﷺ څخه واورېدل چې وې فرمايل:«د خلقو پخلا کول د يوکال تر نمونځونو او روژو غوره دي» د خداے لپاره، د خداے لپاره! يتيمان دريادوم، داسې نهٔ شي چې کله اوږي او کله ماړهٔ اودهٔ شي، او حق يې تر پښو لاندې شي! د خداے لپاره د خداے لپاره! ګاونديان دريادوم، د حقونو يې خيال ساتئ چې دا ستاسو د پېغمبر ﷺ وصيت دے چې تل يې له ګاونديانو سره د خوش اخلاقی سپارښتنه کوله تر دې چې ګمان مې وکړ له يو بله ورته ميراث اونهٔ ټاکي، د خداے لپاره د خداے لپاره! قرآن دريادوم، نور کسان درځينې پهٔ هغهٔ باندې په عمل کښې مخکې نهٔ شي. د خداے لپاره د خداے لپاره! نمونځ دريادوم، ځکه چې ستاسو د دين ستنه ده. د خداے لپاره د خداے لپاره! د خداے کور دريادوم، تر څو چې ژوندي يئ خالي يې مه پرېږدئ ځکه چې که کعبه خالي شي د پاتې کېدو مهلت به درنهٔ کړې شي. د خداے لپاره د خداے لپاره! د خداے پاک په لاره کښې په ځان، مال او ژبې سره جهاد مو هېر نهٔ شي. يو موټي اوسئ او ښندنه او بخښش کوئ، له يو بله مخ مه اړوئ او دوستی مه ختموئ، کړ مکړ (ښو ته بلل او له بدو منعې کول) پرې نهٔ ږدئ. که نهٔ وي په تاسو کښې بد عمله کسان به درباندې واکمن شي بيا نو چې څومره خداے اوبلئ ځواب به نهٔ درکوي.

«بيا يې وفرمايل»

اے د عبدالمطلب بچيانو! پام چې له ما وروسته د مسلمانانو په وينو لاسونه سرهٔ نه کړئ چې ګوندې وواېئ اميرالمومنين ووژل شو. پوه شئ چې بې زما له وژونکی بل څوک بايد اونهٔ وژل شی، ښهٔ پام وکړئ! که زهٔ

قَاتِلي. انْظُرُوا إِذَا أَنَا مِتُّ مِنْ ضَرْبَتِهِ هذِهِ، فَاضْرِبُوهُ ضَرْبَةً بِضَرْبَةٍ، وَلاَ يُمَثَّلُ بِالرَّجُلِ، فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ يَقُولُ: "إِيَّاكُمْ وَالْمُثْلَةَ وَلَوْ بِالْكَلْبِ الْعَقُورِ".

د هغهٔ له ګوزاره مړ شوم نو يواځې يو ګوزار يې ووهئ، او لاس او پښې او نور اندامونه يې مه پرې کوئ، ما له رسول الله مبارکﷺ څخه اوريدلي دي چې وې فرمايل:«د مړي د اندامونو له غوڅولو ځان اوساتئ که څه هم يو ليونے سپے ولې نهٔ وي»

## [ ۴۸ ]

إِلَى مُعَاوِيَةَ

وَإِنَّ الْبَغْيَ وَالزُّورَ يُوتِغَانِ الْمَرْءَ فِي دِينِهِ وَدُنْيَاهُ، وَيُبْدِيَانِ خَلَلَهُ عِنْدَ مَنْ يَعِيبُهُ، وَقَدْ عَلِمْتُ أَنَّكَ غَيْرُ مُدْرِكٍ مَا قُضِيَ فَوَاتُهُ، وَقَدْ رَامَ أَقْوَامٌ أَمْراً بِغَيْرِ الْحَقِّ، فَتَأَوَّلُوا عَلَى اللهِ فَأَكْذَبَهُمْ، فَاحْذَرْ يَوْماً يُغْتَبَطُ فِيهِ مَنْ أَحْمَدَ عَاقِبَةَ عَمَلِهِ، وَيَنْدَمُ مَنْ أَمْكَنَ الشَّيْطَانَ مِنْ قِيَادِهِ فَلَمْ يُجَاذِبْهُ. وَقَدْ دَعَوْتَنَا إِلَى حُكْمِ الْقُرْآنِ وَلَسْتَ مِنْ أَهْلِهِ، وَلَسْنَا إِيَّاكَ أَجَبْنَا، وَلكِنَّا أَجَبْنَا الْقُرْآنَ إِلَى حُكْمِهِ، وَالسَّلاَمُ.

## ﴿ اتهٔ څلوېښتم ليک ﴾

«د اتهٔ دېرشم هجري کال په صفرې مياشت کښې د صفين په جنګ کښې معاويه ته ليک»

### دښمن ته نصيحت

په رښتيا چې ظلم او چل ول انسان په دين او دنيا کښې شرموي. او عيب يې عيب لټونکو ته ښکاره کوي او تا ته پته ده چې له لاسه تللې مرغۍ بېرته نهٔ راځي، ځينو د باطلو هڅه وکړه او په دروغو تفسيرونو سره يې د خدا ے د حکم بدلول وغوښتل او خدا ے پاک هغوي دروغجن اوبلل. نو اے معاويه! له هغې ورځې اويرېږه چې د ښو کارونو خاوندان خوشحاله وي او هغه کسان چې خپل واګې يې شېطان ته ورکړې وي سخت پښېمانه وي، تا زهٔ د قرآن ۱۵۲ حکم ته غوښتې يم حال دا چې په خپله د قرآن اهل نهٔ يې، او مونږ هم تا ته «هو» اونهٔ کړه (ستا بلنه مو اونهٔ منله) بلکه د قرآن حکم ته مو غاړه کېښوده. والسلام.

## [ ۴۹ ]

وَمِنْ كِتَابٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ إِلَيْهِ

أَمَّا بَعْدُ، فَإِنَّ الدُّنْيَا مَشْغَلَةٌ عَنْ غَيْرِهَا، وَلَمْ يُصِبْ صَاحِبُهَا مِنْهَا شَيْئاً إِلاَّ فَتَحَتْ لَهُ حِرْصاً عَلَيْهَا، وَلَهَجاً بِهَا، وَلَنْ يَسْتَغْنِيَ صَاحِبُهَا بِمَا نَالَ فِيهَا عَمَّا لَمْ يَبْلُغْهُ مِنْهَا، وَمِنْ وَرَاءِ ذلِكَ فِرَاقُ مَا جَمَعَ، وَنَقْضُ مَا أَبْرَمَ! وَلَوِ اعْتَبَرْتَ بِمَا مَضَى حَفِظْتَ مَا بَقِيَ، وَالسَّلاَمُ.

## ﴿ نهٔ څلوېښتم ليک ﴾

### معاويه ته د دنيا له مينې خبردارے ورکول

د خدا ے له ياد او درووده ورووسته! په رښتيا چې دنيا بنيادم په ځان بوختوي او له نورو چارو يې غروي دنيا پرسته له نړۍ څخه هيڅهٔ نهٔ وړي مګر دا چې د حرص ورونه ورخلاص شي او د دنيا د مينې اور يې غرغرنده شي. څوک چې د دنيا مال ته اورسي له خپلو لاسته راوړنو خوښ او بې نيازه کېږي نه، او د هغه څه په فکر کښې وي چې لاسته يې نهٔ دي راوړي. خو آخر له خپل راغونډ کړي شوي ماله جدائي ده، (او د شړيو وړۍ کول دي.) که له تېرو عبرت واخلې راتلونکے ساتلے شې. والسلام

## [ ۵۰ ]

إِلَى أُمَرَائِهِ عَلَى الْجُيُوشِ

مِنْ عَبْدِاللهِ عَلِيٍّ أَمِيرِالْمُؤْمِنِينَ إِلَى أَصْحَابِ الْمَسَالِحِ:

أَمَّا بَعْدُ. فَإِنَّ حَقّاً عَلَى الْوَالِي أَلاَّ يُغَيِّرَهُ عَلَى رَعِيَّتِهِ فَضْلٌ نَالَهُ، وَلاَ طَوْلٌ خُصَّ بِهِ وَأَنْ يَزِيدَهُ مَا قَسَمَ اللهُ لَهُ مِنْ نِعَمِهِ دُنُوّاً مِنْ عِبَادِهِ، وَعَطْفاً عَلَى إِخْوَانِهِ.

أَلاَ وَإِنَّ لَكُمْ عِنْدِي أَلاَّ أَحْتَجِزَ دُونَكُمْ سِرّاً إِلاَّ فِي حَرْبٍ، وَلاَ أَطْوِيَ دُونَكُمْ أَمْراً إِلاَّ فِي حُكْمٍ، وَلاَ أُؤَخِّرَ لَكُمْ حَقّاً

## ﴿ پنځوسم ليک ﴾

«د لښکر کوماندان ته ليک»

### په نعمتونو مه غاوره کېږه

د خدا ے پاک د بنده او د مومنانو د امير علي بن ابيطالب لخوا وسله والو ځواکونو او پوله ساتونکو ته؛

اما بعد! بې له شکه په واکوال فرض ده چې که کوم مال لاسته راوړي يا پرې پېرزو اوشي بدلون پکښې رانهٔ شي او په دغو مالونو او لورينو سره د خدا ے بندګانو ته نور هم نزدې شي او په خپلو وروڼو نور هم مهربانه شي.

### د کوماندان او ځواکونو دنده

عَـنْ مَحَلِّـه، وَلاَ أَقِـفَ بِـه دُونَ مَقْطَعِـه، وَأَنْ تَكُونُـوا عِنـدي فِي الْحَقِّ سَوَاءً،فَإِذَا فَعَلْـتُ ذَلِـكَ وَجَبَـتْ لله عَلَـيْكُمُ النِّعْمَـةُ، وَلِي عَلَـيْكُمُ الطَّاعَـةُ، وَأَلاَّ تَنْكُصُـوا عَـنْ دَعْـوَة، وَلاَ تُفَرِّطُـوا فِي صَلاَح، وَأَنْ تَخُوضُـوا الْغَمَـرَاتِ إِلَـى الْحَـقِّ. فَـإِنْ أَنْـتُمْ لَمْ تَسْتَقِيمُوا لِي عَلَى ذلِكَ لَمْ يَكُـنْ أَحَـدٌ أَهْـوَنَ عَلَـيَّ مِمَّـنْ اعْوَجَّ مِنْكُمْ. ثُـمَّ أُعْظِـمُ لَـهُ الْعُقُوبَـةَ، وَلاَ يَجِـدُ عِنْـدِي فِيهـا رُخْصَةً، فَخُذُوا هـذَا مِـنْ أُمَـرَائِكُمْ، وَأَعْطُـوهُمْ مِـنْ أَنْفُسِـكُمْ مَا يُصْلِحُ اللهُ بِه أَمْرَكُمْ. وَ السَّلاَمُ

پوه شئ په ما باندې ستاسو حق دا دے چې بې له جنګي رازونو هيڅ راز له تاسو پټ نۀ کړم او بې له شرعي حکمه بل هيڅ کار ستاسو له صلاح نه بغير اونۀ کړم او ستاسو د حق په درکولو کې لنډون او کوتاهي اونۀ کړم، او په ټاکلي وخت يې درکړم او له ټولو سره برابر سلوک وکړم. نو کله چې زۀ خپلې دندې ترسره کړم په خداے ده چې خپل نعمتونه په تاسو باندې ولوروي او زما اطاعت په تاسو باندې فرض دے. او بايد له امره مې سر اونۀ غړوئ او د هغه څه په کولو کښې چې صلاح ده سستي اونۀ کړئ. او حق ته د رسېدلو لپاره هڅه وکړئ نو که تاسو ټينګ پاتې نۀ شئ زما په نزد تر ټولو خوارکس کږ چارے کس دے چې سخته سزا به ورکړم او د تېښتې لاره به اونۀ مومي. نو ضروري اوامر له خپلو کوماندانانو واخلئ او په هغه څه کښې چې خداے پاک ستاسو چارې سموي د کوماندانانو اطاعت وکړئ. والسلام.

## [ ٥١ ]

إِلَى عُمَّالِه عَلَى الْخَرَاجِ

مِنْ عَبْدِ اللهِ عَلِيٍّ أَمِيرِالْمُؤْمِنِينَ إِلَى أَصْحَابِ الْخَرَاجِ:

أَمَّا بَعْدُ. فَإِنَّ مَـنْ لَـمْ يَحْـذَرْ مَـا هُـوَ صَـائِرٌ إِلَيْـهِ لَـمْ يُقَـدِّمْ لِنَفْسِه مَا يُحْرِزُهَـا. وَاعْلَمُـوا أَنَّ مَـا كُلِّفْـتُمْ يَسِـيرٌ، وَأَنَّ ثَوَابَـهُ كَثِيرٌ، وَلَوْ لَمْ يَكُنْ فِيمَـا نَهَـى اللهُ عَنْـهُ مِـنَ الْبَغْـيِ وَالْعُـدْوَانِ عِقَابٌ يُخَافُ لَكَانَ فِي ثَوَابِ اجْتِنَابِـه مَـا لاَ عُـذْرَ فِـي تَـرْكِ طَلَبِه. فَأَنْصِـفُوا النَّـاسَ مِـنْ أَنْفُسِـكُمْ، وَ اصْـبِرُوا لِحَـوَائِجِهِمْ، فَـإِنَّكُمْ خُـزَّانُ الرَّعِيَّـةِ وَوُكَـلاَءُ الأُمَّـةِ وَسُـفَرَاءُ الأَئِمَّـةِ. وَلاَ تَحْسِـمُوا أَحَـداً عَـنْ حَاجَتِـه وَلاَتَحْبِسُـوهُ عَـنْ طَلِبَتِـه وَلاَ تَبِيعُنَّ لِلنَّاسِ فِي الْخَـرَاجِ كِسْـوَةَ شِـتَاء وَلاَ صَـيْف وَلاَ دَابَّـةً يَعْتَمِلُونَ عَلَيْهَا وَلا عَبْـداً. وَلاَ تَضْـرِبُنَّ أَحَـداً سَـوْطاً لِمَكَـانِ دِرْهَم، وَلاَ تَمَسُّنَّ مَالَ أَحَـد مِـنَ النَّـاسِ، مُصَـلٍّ وَلاَ مُعَاهَـد، إِلاَّ أَنْ تَجِـدُوا فَرَسـاً أَوْ سِـلاَحاً يُعْـدَى بِـه عَلَـى أَهْـلِ الاسْلاَمِ، فَإِنَّـهُ لاَ يَنْبَغِـي لِلْمُسْـلِمِ أَنْ يَـدَعَ ذلِـكَ فِـي أَيْـدِي أَعْدَاءِ الاْسْـلاَمِ، فَيَكُـونَ شَـوْكَةً عَلَيْـه. وَلاَ تَـدَّخِرُوا أَنْفُسَـكُمْ نَصِـيحَةً، وَلاَ الْجُنْـدَ حُسْـنَ سِـيرَة، وَلاَ الرَّعِيَّـةَ مَعُونَـةً، وَلاَ دِينَ اللهِ قُـوَّةً، وَأَبْلُـوا فِـي سَـبِيلِ اللهِ مَـا اسْـتَوْجَبَ عَلَـيْكُمْ، فَـإِنَّ اللهَ سُـبْحَانَهُ قَـدِ اصْـطَنَعَ عِنْـدَنَا وَعِنْـدَكُمْ أَنْ نَشْـكُرَهُ بِجُهْدِنَا، وَأَنْ نَنْصُرَهُ بِمَا بَلَغَتْ قُوَّتُنَا، وَلاَ قُوَّةَ إِلاَّ بِاللهِ.

## ﴿ يو پنځوسم ليک ﴾

«د بيت المال چارواکو ته ليک»

### د اقتصادي چارواکو ټولنيز (اجتماعي) اخلاق

د خداے پاک د بنده او د مومنانو د امير لخوا د مالياتو (ټېکسونو) د راغونډولو چارواکو ته:

د خداے پاک له ياد او درودہ وروسته! بېشکه څوک چې د قيامت له ورځې څخه نۀ ويرېږي توښه به له ځانه مخکې اونۀ لېږي، پوه شئ! کومه دنده مو چې په غاړه اخيستې ده وړه ده خو بدله يې لويه ده.که د هغه څه لپاره چې خداے پاک منعې کړې دي «لکه ظلم او دښمني» سزا نۀ وې نو د هغو په پرېښودلو کښې ثواب ته د رسېدلو لپاره هم کوم عذر نۀ پاتې کېدۀ. له خپلو سره په تعلقاتو کښې له انصافه کار اخلئ او د حاجتونو په پوره کولو کښې بې له زغمه کار اخلئ،ځکه چې تاسو د ولس خزانچيان، د امت وکيلان، او د امامانو استازي يئ، هيڅکله څوک له خپل حاجت غوښتو مه منعې کوئ او له رواو او جائزو غوښتنو يې مه بې برخې کوئ. او له خلقو څخه د مالياتو(ټېکس) د اخيستلو لپاره د هغوي د اوړي يا ژمي جامې او سورلي يا مريي مه خرڅوئ، او د درهم د اخيستلو لپاره څوک په متروکو او کوړو مه وهئ. او «د نمونځګزارو يا غير مسلمه چې د اسلام په پناه کښې دي»[157] په مال تېرے مه کوئ بې له هغه اس او وسلې باندې چې په مسلمانانو باندې د بريد او حملې لپاره کارول کېږي، ځکه چې مسلمان ته روا نۀ ده چې هغه د اسلام د دښمنانو په لاس کښې پرېږدي چې د اسلام له سپاهيانو زيات پياوړي شي. خپل نفس ته په نصيحت کښې سستي او لټي مه کوئ له سپاهيانو سره له نېک سلوکۍ، له رعايا سره له مرستې او د خداے د دين له مضبوطيه څخه غفلت مه کوئ. او هغه څه چې د خداے پاک په لاره کښې په تاسو باندې فرض دي تر سره يې کړئ. په رښتيا چې پاک خداے له مونږ او تاسو غوښتې چې په شکر کښې يې هڅه وکړوو او په ټول توان سره يې مرسته وکاندوو او بې له خدايه هيڅ طاقت نشته.

## [ ۵۲ ]

إلَى أُمَرَاءِ الْبِلاَدِ فِي مَعْنَى الصَّلاَةِ

**أَمَّا بَعْدُ، فَصَلُّوا بِالنَّاسِ الظُّهْرَ حَتَّى تَفِيءَ الشَّمْسُ مِنْ مَرْبِضِ الْعَنْزِ. وَصَلُّوا بِهِمُ الْعَصْرَ وَالشَّمْسُ بَيْضَاءُ حَيَّةٌ فِي عُضْوٍ مِنَ النَّهَارِ حِينَ يُسَارُ فِيهَا فَرْسَخَانِ. وَصَلُّوا بِهِمُ الْمَغْرِبَ حِينَ يُفْطِرُ الصَّائِمُ، وَيَدْفَعُ الْحَاجُّ. وَصَلُّوا بِهِمُ الْعِشَاءَ حِينَ يَتَوَارَى الشَّفَقُ إِلَى ثُلُثِ اللَّيْلِ. وَصَلُّوا بِهِمُ الْغَدَاةَ وَالرَّجُلُ يَعْرِفُ وَجْهَ صَاحِبِهِ. وَصَلُّوا بِهِمْ صَلاَةَ أَضْعَفِهِمْ، وَلاَ تَكُونُوا فَتَّانِينَ.**

## [ ۵۳ ]

وَمِنْ عَهْدٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ كَتَبَهُ لِلأَشْتَرِ النَّخَعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ لَمَّا وَلاَّهُ عَلَى مِصْرَ وَأَعْمَالِهَا حِينَ اضْطَرَبَ أَمْرُ مُحَمَّدِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ رَحِمَهُ اللهُ. وَهُوَ أَطْوَلُ عَهْدٍ كَتَبَهُ وَأَجْمَعُهُ لِلْمَحَاسِنِ:

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ

هذَا مَا أَمَرَ بِهِ عَبْدُ اللهِ عَلِيٌّ أَمِيرُ الْمُؤْمِنِينَ، مَالِكَ بْنَ الْحَارِثِ الأَشْتَرَ فِي عَهْدِهِ إِلَيْهِ، حِينَ وَلاَّهُ مِصْرَ: جِبْوَةَ خَرَاجِهَا، وَجِهَادَ عَدُوِّهَا، وَاسْتِصْلاَحَ أَهْلِهَا، وَعِمَارَةَ بِلاَدِهَا.

أَمَرَهُ بِتَقْوَى اللهِ، وَإِيْثَارِ طَاعَتِهِ، وَاتِّبَاعِ مَا أَمَرَ بِهِ فِي كِتَابِهِ: مِنْ فَرَائِضِهِ وَسُنَنِهِ، الَّتِي لاَ يَسْعَدُ أَحَدٌ إِلاَّ بِاتِّبَاعِهَا، وَلاَ يَشْقَى إِلاَّ مَعَ جُحُودِهَا وَإِضَاعَتِهَا. وَأَنْ يَنْصُرَ اللهَ سُبْحَانَهُ بِيَدِهِ وَقَلْبِهِ وَلِسَانِهِ، فَإِنَّهُ، جَلَّ اسْمُهُ، قَدْ تَكَفَّلَ بِنَصْرِ مَنْ نَصَرَهُ، وَإِعْزَازِ مَنْ أَعَزَّهُ. وَأَمَرَهُ أَنْ يَكْسِرَ نَفْسَهُ عِنْدَ الشَّهَوَاتِ، وَيَزَعَهَا عِنْدَ الْجَمَحَاتِ، فَإِنَّ النَّفْسَ أَمَّارَةٌ بِالسُّوءِ، إِلاَّ مَا رَحِمَ اللهُ. ثُمَّ اعْلَمْ يَا مَالِكُ، أَنِّي قَدْ وَجَّهْتُكَ إِلَى بِلاَدٍ قَدْ جَرَتْ عَلَيْهَا دُوَلٌ قَبْلَكَ، مِنْ عَدْلٍ وَجَوْرٍ، وَأَنَّ النَّاسَ يَنْظُرُونَ مِنْ أُمُورِكَ فِي مِثْلِ مَا كُنْتَ تَنْظُرُ فِيهِ مِنْ أُمُورِ الْوُلاَةِ قَبْلَكَ، وَيَقُولُونَ فِيكَ مَا كُنْتَ تَقُولُ فِيهِمْ، إِنَّمَا يُسْتَدَلُّ عَلَى الصَّالِحِينَ بِمَا يُجْرِي اللهُ لَهُمْ

## ﴿دوه پنځوسم لیک﴾

«د نمانځه د وخت په حقله د ښارونو والیانو ته لیک»

### د ورځنیو نمونځونو وختونه

د خداے له یاد او په رسول اکرم او آل باندې له درود او سلامه وروسته؛ د ماسپښین نمونځ له خلقو سره هغه وخت وکړئ چې نمر د لوېديځ په لور لاړ شي او سیورے یې د بزې د اغل (د ملاستې د ځاے) د دېوال په اندازه پراخ شي. او د مازیګر نمونځ له خلقو سره هغه وخت وکړئ چې نمر سپین وي او ځلا لري او د ورځې دومره برخه پاتې وي چې د لوېديځ په لور دوه فرسخه مزل کولې شوو. د ماښام نمونځ له خلقو سره هغه وخت وکړئ چې روژتي روژه ماتې کوي او حاجي له عرفاته د منی په لورکوچ کوي. او د ماسخوتن نمونځ ورسره هغه وخت وکړئ چې شفق پټ شي او د شپې په دريو کښې يوه برخه تېره شي، او د سحر نمونځ له خلقو سره هغه وخت وکړئ چې سړے د خپل ملګري مخ اوپېژني. او د جَمعې نمونځ ورسره د هغوي د ناتوان او ضعيف په اندازه وکړئ (يعنې چې ضعيفان يې هم کولې شي او ډېر اوږد نۀ وي) او فتنه پال مه جوړيږئ.

## ﴿درې پنځوسم لیک﴾

«مالک اشتر ته لیک، [۱۵۸] د هجرت په اتۀ دېرشم کال چې مالک يې د مصر ګورنر کړ. هغه وخت چې د محمد بن ابي بکر حالات لړزانه شول او ډېر اوږد لیک دے چې د ټولو لیکونو ښکلا پکښې نغښتې ده»

### د مهربان بخښونکي خداے په نامه

د خداے د بنده او د مومنانو د امير علي لخوا فرمان دے د حارث زوے مالک اشتر ته، په هغه عهد سره چې له هغۀ سره يې لري او هغه وخت چې د مصر په ګورنرۍ يې ګماري چې د هغه ټاټوبي خراج راغونډ کړي او له دښمنانو سره يې اوجنګېږي.د خلقو چارې سمې کړې او د مصر ښار ودان کړي.

### د خود سازۍ (د ځان اصلاح) ضرورت

هغۀ ته له خدايه د ويرې امر کوي او د دې چې د خداے چارې تر نورو مخکې کړي او د خداے په کتاب کښې راغلي فرضونه او سنتونه په ځاے کړي هغه اوامر چې بې د هغو له پيروۍ ژغوربدلي نۀ شي. او بې د هغو له نۀ پېژندلو او ضائع کولو نۀ مجرم کېږي، ورته امر کوي چې په زړۀ، لاس او ژبه د خداے مرسته وکړي ځکه چې خداے پاک د هغه چا د مرستې ضمانت اخیستے دے چې له خداے پاک سره مرسته وکړي. او عزت ورکوي هغه چاته چې خداے پاک عزتمن وګڼي. او هغۀ ته امر کوي چې خپل نفس د شهوتونو او خواهشاتو له پيروۍ اوګرځوي او د سرکښۍ په وخت يې پيزوانی کړي «بې له شکه اماره نفس انسان بدۍ

عَلَى أَلْسُنِ عِبَادِهِ. فَلْيَكُنْ أَحَبَّ الذَّخَائِرِ إِلَيْكَ ذَخِيرَةُ الْعَمَلِ الصَّالِحِ، فَامْلِكْ هَوَاكَ، وَشُحَّ بِنَفْسِكَ عَمَّا لاَ يَحِلُّ لَكَ، فَإِنَّ الشُّحَّ بِالنَّفْسِ الاْنْصَافُ مِنْهَا فِيمَا أَحْبَبْتَ وَكَرِهْتَ.

وَأَشْعِرْ قَلْبَكَ الرَّحْمَةَ لِلرَّعِيَّةِ، وَالْمَحَبَّةَ لَهُمْ، وَاللُّطْفَ بِهِمْ، وَلاَ تَكُونَنَّ عَلَيْهِمْ سَبُعاً ضَارِياً تَغْتَنِمُ أَكْلَهُمْ، فَإِنَّهُمْ صِنْفَانِ: إِمَّا أَخٌ لَكَ فِي الدِّينِ، وَإِمّا نَظِيرٌ لَكَ فِي الْخَلْقِ، يَفْرُطُ مِنْهُمُ الزَّلَلُ، وَتَعْرِضُ لَهُمُ الْعِلَلُ، يُؤْتَى عَلَى أَيْدِيهِمْ فِي الْعَمْدِ وَالْخَطَاَ، فَأَعْطِهِمْ مِنْ عَفْوِكَ وَصَفْحِكَ مِثْلَ الَّذِي تُحِبُّ أَنْ يُعْطِيَكَ اللهُ مِنْ عَفْوِهِ وَصَفْحِهِ، فَإِنَّكَ فَوْقَهُمْ، وَوَالِي الاْمْرِ عَلَيْكَ فَوْقَكَ، وَاللهُ فَوْقَ مَنْ وَلاَّكَ! وَقَدِ اسْتَكْفَاكَ أَمْرَهُمْ، وَابْتَلاَكَ بِهِمْ. وَلاَ تَنْصِبَنَّ نَفْسَكَ لِحَرْبِ اللهِ، فَإِنَّهُ لاَيَدَيْ لَكَ بِنِقْمَتِهِ، وَلاَ غِنَى بِكَ عَنْ عَفْوِهِ وَرَحْمَتِهِ. وَلاَ تَنْدَمَنَّ عَلَى عَفْو، وَلاَ تَبْجَحَنَّ بِعُقُوبَة، وَلاَ تُسْرِعَنَّ إِلَى بَادِرَة وَجَدْتَ مِنْهَا مَنْدُوحَةً، وَلاَ تَقُولَنَّ: إِنِّي مُؤَمَّرٌ آمُرُ فَأُطَاعُ، فَإِنَّ ذلِكَ إِدْغَالٌ فِي الْقَلْبِ، وَمَنْهَكَةٌ لِلدِّينِ، وَتَقَرُّبٌ مِنَ الْغِيَرِ. وَإِذَا أَحْدَثَ لَكَ مَا أَنْتَ فِيهِ مِنْ سُلْطَانِكَ أُبَّهَةً أَوْ مَخِيلَةً، فَانْظُرْ إِلَى عِظَمِ مُلْكِ اللهِ فَوْقَكَ، وَقُدْرَتِهِ مِنْكَ عَلَى مَا لاَ تَقْدِرُ عَلَيْهِ مِنْ نَفْسِكَ، فَإِنَّ ذلِكَ يُطَامِنُ إِلَيْكَ مِنْ طِمَاحِكَ، وَيَكُفُّ عَنْكَ مِنْ غَرْبِكَ، وَيَفِيءُ إِلَيْكَ بِمَا عَزَبَ عَنْكَ مِنْ عَقْلِكَ!

إِيَّاكَ وَمُسَامَاةَ اللهِ فِي عَظَمَتِهِ، وَالتَّشَبُّهَ بِهِ فِي جَبَرُوتِهِ، فَإِنَّ اللهَ يُذِلُّ كُلَّ جَبَّار، وَيُهِينُ كُلَّ مُخْتَال. أَنْصِفِ اللهَ وَأَنْصِفِ النَّاسَ مِنْ نَفْسِكَ، وَمِنْ خَاصَّةِ أَهْلِكَ، وَمَنْ لَكَ فِيهِ هَوىً مِنْ رَعِيَّتِكَ، فَإِنَّكَ إِلاَّ تَفْعَلْ تَظْلِمْ، وَمَنْ ظَلَمَ عِبَادَ اللهِ كَانَ اللهُ خَصْمَهُ دُونَ عِبَادِهِ، وَمَنْ خَاصَمَهُ اللهُ أَدْحَضَ حُجَّتَهُ، وَكَانَ للهِ حَرْباً حَتَّى يَنْزِعَ وَيَتُوبَ. وَلَيْسَ شَيْءٌ أَدْعَى إِلَى تَغْيِيرِ نِعْمَةِ اللهِ وَتَعْجِيلِ نِقْمَتِهِ مِنْ إِقَامَة عَلَى ظُلْم، فَإِنَّ اللهَ سَمِيعٌ دَعْوَةَ الْمَظْلُومِينَ، وَهُوَ لِلظَّالِمِينَ بِالْمِرْصَادِ.

وَلْيَكُنْ أَحَبَّ الاْمُورِ إِلَيْكَ أَوْسَطُهَا فِي الْحَقِّ، وَأَعَمُّهَا فِي الْعَدْلِ، وَأَجْمَعُهَا لِرِضَى الرَّعِيَّةِ، فَإِنَّ سُخْطَ الْعَامَّةِ يُجْحِفُ بِرِضَى الْخَاصَّةِ، وَإِنَّ سُخْطَ الْخَاصَّةِ يُغْتَفَرُ مَعَ رِضَى الْعَامَّةِ. وَلَيْسَ أَحَدٌ مِنَ الرَّعِيَّةِ، أَثْقَلَ عَلَى الْوَالِي مَؤُونَةً فِي الرَّخَاءِ، وَأَقَلَّ مَعُونَةً لَهُ فِي الْبَلاَءِ، وَأَكْرَهَ لِلاْنْصَافِ، وَأَسْأَلَ بِالاْلْحَافِ، وَأَقَلَّ شُكْراً عِنْدَ الاْعْطَاءِ، وَأَبْطَأَ عُذْراً عِنْدَ الْمَنْعِ، وَأَضْعَفَ صَبْراً عِنْدَ مُلِمَّاتِ الدَّهْرِ مِنْ أَهْلِ الْخَاصَّةِ، وَإِنَّمَا

ته هڅوي مگر هغه کس چې خدا ے پرې اورحمېږي» نو اے مالکه! پوه شه چې ما تهٔ داسې ښارونو ته اولېږلې چې له تا مخکې پرې هم عادلو او هم ظالمو واکمنانو واکمني کړې ده او خلق ستا چارو ته داسې ځير دي لکه څنگه چې تهٔ د تېرو چاروالو کارونو ته ځير يې، او ستا په حقله هغه څه وائي چې تهٔ يې د تېرو چارواکو په حقله وائې، نو ستا نېکه توښه بايد صالح عملونه وي نو د نفس واگې اونيسه او څه چې ستا لپاره حلال نهٔ دي ځان ترې اوساته. ځکه چې له خپل نفس سره شومتوب دا دے چې په هغه څه کښې چې د هغهٔ خوښ يا ناخوښ دي له انصافه کار واخلې.

## د لاربنود اخلاق

له خلقو سره مهرباني د خپل زړهٔ جامه وگرځوه او له ټولو سره دوست او مهربان اوسه. او هيڅکله د ښکاري ځناور په شان مه کېږه چې د هغوي خوړل ځانته غنيمت اوگڼې. ځکه چې خلق دوه ډلې دي. يوه ډله ستا ديني ورونړه (مسلمانان) دي او بله ډله ستا په شان مخلوق (غېر مسلمان انسانان) دي[۱۵۹] که هغوي څه غلطي کوي يا ترې تېروتنه کېږي يا غواړې يا ناغوارې غلطي. کوي هغوي اوبخښه او سختي ورسره مه کوه لکه څرنگه چې تهٔ غواړې چې خدا ے پاک دې اوبخښي او سختي درباندې اونهٔ کړي، بې شکه تهٔ له هغوي لوړ او ستا امام له تا لوړ دے او خدا ے پاک له هغه کسه چې تا ته يې د مصر ولايت درکړ لوړ دے، چې د مصر د خلقو چارې يې تا ته سپارلې دي، هغه يې ستا د ازمائښ وسيله گرځولې ده، هيڅکله له خدا ے پاک سره ډغره مهٔ وهه ځکه چې له سزا يې نهٔ شې خلاصېدې او د هغهٔ له مغفرت او رحمته نهٔ شې بې نيازه کېدې، د نورو له بخښلو پښېمانه کېږه مه او په سزا کولو يې خوشحالېږه مه، د غضب او غصې په کولو کښې بيړه مه کوه، خلقو ته مه وايه چې ماته امر شوے دے او زهٔ هم تاسو ته امر کوم، نو بايد وې منئ، [۱۶۰] ځکه چې دغه ډول کبر زړهٔ فاسدوي او دين مړاوے کوي، او نعمتونه زائلوي، او که په خپل مقام او طاقت غاوره شوې د خپل پالونکي د حکومت لوے والي ته وگوره چې له تا لوړ دے، دا به دې له سرکښۍ خلاص کړي، غصه به دې سړه کړي او مازغه به دې په ځاے کړي.

## له کبر او ځان خوښوني ډډه کول

ډډه وکړه له دې چې ځان په سترتوب کښې د خدا ے پاک په شان اوگڼې، او د خدا ے په برم او جلال کښې ځان د هغهٔ په شان اوگڼې، ځکه چې خدا ے تعالی هر سرغړوونکے خواروي او هر ځان خوښوونکے سپکوي، له خدا ے سره، له خلقو سره، له نزدې خپلوانو او د رعيت له هغو کسانو سره چې مينه ورسره لرې د انصاف خيال ساته، ځکه چې که

عَمُودُ الدِّينِ، وَجِمَاعُ الْمُسْلِمِينَ، وَالْعُدَّةُ لِلأَعْدَاءِ، الْعَامَّةُ مِنَ الأُمَّةِ، فَلْيَكُنْ صِغْوُكَ لَهُمْ، وَمَيْلُكَ مَعَهُمْ.

وَلْيَكُنْ أَبْعَدَ رَعِيَّتِكَ مِنْكَ وَأَشْنَأَهُمْ عِنْدَكَ، أَطْلَبُهُمْ لِمَعَائِبِ النَّاسِ، فَإِنَّ فِي النَّاسِ عُيُوباً، الْوَالِي أَحَقُّ مَنْ سَتَرَهَا، فَلاَ تَكْشِفَنَّ عَمَّا غَابَ عَنْكَ مِنْهَا، فَإِنَّمَا عَلَيْكَ تَطْهِيرُ مَا ظَهَرَ لَكَ، وَاللهُ يَحْكُمُ عَلَى مَا غَابَ عَنْكَ، فَاسْتُرِ الْعَوْرَةَ مَا اسْتَطَعْتَ يَسْتُرِ اللهُ مِنْكَ مَا تُحِبُّ سَتْرَهُ مِنْ رَعِيَّتِكَ. أَطْلِقْ عَنِ النَّاسِ عُقْدَةَ كُلِّ حِقْدٍ، وَاقْطَعْ عَنْكَ سَبَبَ كُلِّ وِتْرٍ، وَتَغَابَ عَنْ كُلِّ مَا لاَ يَضِحُ لَكَ، وَلاَ تَعْجَلَنَّ إِلَى تَصْدِيقِ سَاعٍ، فَإِنَّ السَّاعِيَ غَاشٌّ، وَإِنْ تَشَبَّهَ بِالنَّاصِحِينَ.

وَلاَ تُدْخِلَنَّ فِي مَشُورَتِكَ بَخِيلاً يَعْدِلُ بِكَ عَنِ الْفَضْلِ، وَيَعِدُكَ الْفَقْرَ، وَلاَ جَبَاناً يُضْعِفُكَ عَنِ الأُمُورِ، وَلاَ حَرِيصاً يُزَيِّنُ لَكَ الشَّرَهَ بِالْجَوْرِ، فَإِنَّ الْبُخْلَ وَالْجُبْنَ وَالْحِرْصَ غَرَائِزُ شَتَّى يَجْمَعُهَا سُوءُ الظَّنِّ بِاللهِ. شَرُّ وُزَرَائِكَ مَنْ كَانَ لِلأَشْرَارِ قَبْلَكَ وَزِيراً، وَمَنْ شَرِكَهُمْ فِي الآثَامِ، فَلاَ يَكُونَنَّ لَكَ بِطَانَةً، فَإِنَّهُمْ أَعْوَانُ الأَثَمَةِ، وَإِخْوَانُ الظَّلَمَةِ، وَأَنْتَ وَاجِدٌ مِنْهُمْ خَيْرَ الْخَلَفِ مِمَّنْ لَهُ مِثْلُ آرَائِهِمْ وَنَفَاذِهِمْ، وَلَيْسَ عَلَيْهِ مِثْلُ آصَارِهِمْ وَأَوْزَارِهِمْ وَآثَامِهِمْ، مِمَّنْ لَمْ يُعَاوِنْ ظَالِماً عَلَى ظُلْمِهِ، وَلاَ آثِماً عَلَى إِثْمِهِ، أُولئِكَ أَخَفُّ عَلَيْكَ مَؤُونَةً، وَأَحْسَنُ لَكَ مَعُونَةً، وَأَحْنَى عَلَيْكَ عَطْفاً، وَأَقَلُّ لِغَيْرِكَ إِلْفاً، فَاتَّخِذْ أُولئِكَ خَاصَّةً لِخَلَوَاتِكَ وَحَفَلاَتِكَ، ثُمَّ لْيَكُنْ آثَرُهُمْ عِنْدَكَ أَقْوَلَهُمْ بِمُرِّ الْحَقِّ لَكَ، وَأَقَلَّهُمْ مُسَاعَدَةً فِيمَا يَكُونُ مِنْكَ مِمَّا كَرِهَ اللهُ لأَوْلِيَائِهِ، وَاقِعاً ذلِكَ مِنْ هَوَاكَ حَيْثُ وَقَعَ. وَالْصَقْ بِأَهْلِ الْوَرَعِ وَالصِّدْقِ، ثُمَّ رُضْهُمْ عَلَى أَلاَّ يُطْرُوكَ وَلاَ يَبْجَحُوكَ بِبَاطِلٍ لَمْ تَفْعَلْهُ، فَإِنَّ كَثْرَةَ الأَطْرَاءِ تُحْدِثُ الزَّهْوَ، وَتُدْنِي مِنَ الْعِزَّةِ.

وَلاَ يَكُونَنَّ الْمُحْسِنُ وَالْمُسِيءُ عِنْدَكَ بِمَنْزِلَةٍ سَوَاءٍ، فَإِنَّ فِي ذلِكَ تَزْهِيداً لأَهْلِ الإِحْسَانِ فِي الإِحْسَانِ، تَدْرِيباً لأَهْلِ الإِسَاءَةِ عَلَى الإِسَاءَةِ، وَأَلْزِمْ كُلاًّ مِنْهُمْ مَا أَلْزَمَ نَفْسَهُ. وَاعْلَمْ أَنَّهُ لَيْسَ شَيْءٌ بِأَدْعَى إِلَى حُسْنِ ظَنِّ وَالٍ بِرَعِيَّتِهِ مِنْ إِحْسَانِهِ إِلَيْهِمْ، وَتَخْفِيفِهِ الْمَؤُونَاتِ عَلَيْهِمْ، وَتَرْكِ اسْتِكْرَاهِهِ إِيَّاهُمْ عَلَى مَا لَيْسَ لَهُ قِبَلَهُمْ، فَلْيَكُنْ مِنْكَ فِي ذلِكَ أَمْرٌ يَجْتَمِعُ لَكَ بِهِ حُسْنُ الظَّنِّ بِرَعِيَّتِكَ، فَإِنَّ حُسْنَ الظَّنِّ يَقْطَعُ عَنْكَ نَصَباً طَوِيلاً،

داسې دي اونهٔ کړل ظلم به دې کړے وي، او څوک چې د خدائے پاک په بندګانو ظلم وکړي خدائے د بندګانو په ځائے د هغهٔ دښمن کېږي، او د چا چې خدائے دښمن شي دليل يې نهٔ مني او جنګ يې له خدائے سره دے تر دې چې يا ستون شي يا توبه وکړي، او د ظلم په شان بل هيڅ څيز د خدائے نعمتونه نهٔ غړوي، او د هغهٔ سزا نهٔ نزدې کوي، ځکه چې خدائے د مظلومانو غږ اوري او د ظالمانو په کمين او قابو کښې دے.

## ولسواکي، حق واکي

ستا خوښ کار بايد هغه وي چې د حق له اړخه غوره، د انصاف له اړخه هر اړخيزه، او د خلقو د اکثريت خوښ وي، د عوامو د اکثريت غصه، د خواصو (نزدې کسانو) خوښې له مېنځه وړي خو د خواصو غصه د عوامو په خوښۍ سره بې اثره کېږي، د ټولنې (معاشرې) خاص وګړي همېشه په حکومت دروند پېټي باروي ځکه چې هغوي په سختيو کښې مرسته کمه کوي، د عدل او انصاف په اجرا کښې تر ټولو زيات ناراضه وي، په خپلو غوښتنو ټينګار او اصرار کوي، او د ورکړې او بخشش په موقع کمه منته کوي، او چې غوښتنې يې اونهٔ منل شي ناوخته عذر مني، او د ستونځو په وړاندې يې استقامت کم وي، دا په داسې حال کښې دي چې د دين پياوړې ستنې، د مسلمانانو ولوله ناکې غونډې، او د دفاع زېرمه خواک عوام دي، نو عوامو ته ګروهنه لره او هغوي ته لېواله اوسه.

## راز داره اوسه

په عوامو کښې هغه کس له ځانه لرې شړه چې تر هر چا زيات د نورو عيبونه لټوي، او دښمن يې ګڼه،[۱۲۱] ځکه چې په هرا نسان کښې عيب وي چې د پټولو دنده يې تر هر چا زياته د والي په غاړه ده. نو ګوره چې څه په تا پټ دي ښکاره يې نهٔ کړې او څه چې ښکاره دي پټ يې نهٔ کړې، ځکه چې څه له تا پټ دي د هغې فېصله خو د خدائے په لاس کښې ده نوڅومره چې کولې شې د عوامو بدۍ او عيبونه پټ ساته، چې خدائے پاک هم ستا هغه عيبونه چې له عوامو يې پټ ساتل غواړې پټ او ساتي. په خلقو کښې د هرې کينې غوټه خلاصه کړه او هر ډول دښمني ختمه کړه او څه چې ستړګو ته ښکاره نهٔ دي ځان ترې اوساته، او د چغل خور په تصديقولو کښې بېړه مه کوه که څه هم د ناصح په جامه کښې رانښکاره شوے وي خو په اصل کښې خائن دے.

## د مشورې صحيح ځائے

او بخيل په خپلې مشورې کښې مه داخلوه ځکه چې له نيکۍ به دې منع کوي، او له بېوزلۍ به دې وېروي، له وېرېدونکي سره مشوره مه کوه ګني په ښو کارونو کښې به دې هوډ او اراده سستوي، او حريص (لالچي) په مشوره کښې مه داخلوه ځکه چې شر به درته په ظلم سره ښائسته برېښنوي، په رښتيا چې، شومتوب، وېره او حرص مختلفې غريزې (احساسات) دي چې جرړه يې په خدائے پاک باندې بدګماني ده. ستا تر ټولو بد وزيران هغه دي چې تر تا مخکې د بدکارو وزيران وو، او د هغوي په ګناهونو کښې شريک وو، نو خيال کوه چې له دغه شان کسانو سره راز مه شريکوه، ځکه چې دوي د ګناهکارو ملګري او د

وَإنَّ أَحَقَّ مَنْ حَسُنَ ظَنُّكَ بِهِ لَمَنْ حَسُنَ بَلاَؤُكَ عِنْدَهُ، وَإنَّ أَحَقَّ مَنْ سَاءَ ظَنُّكَ بِهِ لَمَنْ سَاءَ بَلاَؤُكَ عِنْدَهُ. وَلاَ تَنْقُضْ سُنَّةً صَالِحَةً عَمِلَ بِهَا صُدُورُ هٰذِهِ الأُمَّةِ، وَاجْتَمَعَتْ بِهَا الأُلْفَةُ، وَصَلَحَتْ عَلَيْهَا الرَّعِيَّةُ،لاَ تُحْدِثَنَّ سُنَّةً تَضُرُّ بِشَيْءٍ مِنْ مَاضِي تِلْكَ السُّنَنِ، فَيَكُونَ الأَجْرُ بِمَنْ سَنَّهَا، وَالْوِزْرُ عَلَيْكَ بِمَا نَقَضْتَ مِنْهَا. وَأَكْثِرْ مُدَارَسَةَ الْعُلَمَاءِ، وَمُنَافَثَةَ الْحُكَمَاءِ، فِي تَثْبِيتِ مَا صَلَحَ عَلَيْهِ أَمْرُ بِلاَدِكَ، وَإقَامَةِ مَا اسْتَقَامَ بِهِ النَّاسُ قَبْلَكَ.

وَاعْلَمْ أَنَّ الرَّعِيَّةَ طَبَقَاتٌ لاَ يَصْلُحُ بَعْضُهَا إلاَّ بِبَعْضٍ، وَلاَ غِنَى بِبَعْضِهَا عَنْ بَعْضٍ: فَمِنْهَا جُنُودُ اللهِ،مِنْهَا كُتَّابُ الْعَامَّةِ وَالْخَاصَّةِ، وَمِنْهَا قُضَاةُ الْعَدْلِ، وَمِنهَا عُمَّالُ الإنْصَافِ وَالرِّفْقِ، وَمِنْهَا أَهْلُ الْجِزْيَةِ وَالْخَرَاجِ مِنْ أَهْلِ الذِّمَّةِ وَمُسْلِمَةِ النَّاسِ، وَمِنْهَا التُّجَّارُ وَأَهْلُ الصِّنَاعَاتِ، وَمِنهَا الطَّبَقَةُ السُّفْلَى مِنْ ذَوِي الْحَاجَةِ وَالْمَسْكَنَةِ، وَكُلٌّ قَدْ سَمَّى اللهُ سَهْمَهُ، وَوَضَعَ عَلَى حَدِّهِ وَفَرِيضَتِهِ فِي كِتَابِهِ أَوْ سُنَّةِ نَبِيِّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ عَهْداً مِنْهُ عِنْدَنَا مَحْفُوظاً. فَالْجُنُودُ، بِإذْنِ اللهِ، حُصُونُ الرَّعِيَّةِ، وَزَيْنُ الْوُلاَةِ، وَعِزُّ الدِّينِ، وَسُبُلُ الأَمْنِ، وَلَيْسَ تَقُومُ الرَّعِيَّةُ إلاَّ بِهِمْ. ثُمَّ لاَ قِوَامَ لِلْجُنُودِ إلاَّ بِمَا يُخْرِجُ اللهُ لَهُمْ مِنَ الْخَرَاجِ الَّذِي يَقْوَوْنَ بِهِ فِي جِهَادِ عَدُوِّهِمْ، وَيَعْتَمِدُونَ عَلَيْهِ فِيمَا أَصْلَحَهُمْ، وَيَكُونُ مِنْ وَرَاءِ حَاجَتِهِمْ. ثُمَّ لاَ قِوَامَ لِهٰذَيْنِ الصِّنْفَيْنِ إلاَّ بِالصِّنْفِ الثَّالِثِ مِنَ الْقُضَاةِ وَالْعُمَّالِ وَالْكُتَّابِ، لِمَا يُحْكِمُونَ مِنَ الْمَعَاقِدِ، وَيَجْمَعُونَ مِنَ الْمَنَافِعِ، وَيُؤْتَمَنُونَ عَلَيْهِ مِنْ خَوَاصِّ الأُمُورِ وَعَوَامِّهَا. وَلاَ قِوَامَ لَهُمْ جَمِيعاً إلاَّ بِالتُّجَّارِ وَذَوِي الصِّنَاعَاتِ، فِيمَا يَجْتَمِعُونَ عَلَيْهِ مِنْ مَرَافِقِهِمْ، وَيُقِيمُونَهُ مِنْ أَسْوَاقِهِمْ، وَيَكْفُونَهُمْ مِنَ التَّرَفُّقِ بِأَيْدِيهِمْ مِمَّا لاَ يَبْلُغُهُ رِفْقُ غَيْرِهِمْ. ثُمَّ الطَّبَقَةُ السُّفْلَى مِنْ أَهْلِ الْحَاجَةِ وَالْمَسْكَنَةِ الَّذِينَ يَحِقُّ رِفْدُهُمْ وَمَعُونَتُهُمْ. وَفِي اللهِ لِكُلٍّ سَعَةٌ، وَلِكُلٍّ عَلَى الْوَالِي حَقٌّ بِقَدْرِ مَا يُصْلِحُهُ. وَلَيْسَ يَخْرُجُ الْوَالِي مِنْ حَقِيقَةِ مَا أَلْزَمَهُ اللهُ مِنْ ذٰلِكَ إلاَّ بِالاهْتِمَامِ وَالاسْتِعَانَةِ بِاللهِ، وَتَوْطِينِ نَفْسِهِ عَلَى لُزُومِ الْحَقِّ، وَالصَّبْرِ عَلَيْهِ فِيمَا خَفَّ عَلَيْهِ أَوْ ثَقُلَ.

فَوَلِّ مِنْ جُنُودِكَ أَنْصَحَهُمْ فِي نَفْسِكَ للهِ وَلِرَسُولِهِ وَلإمَامِكَ [وَأَنْقَاهُمْ ]جَيْباً، وَأَفْضَلَهُمْ حِلْماً مِمَّنْ يُبْطِىءُ عَنِ الْغَضَبِ، وَيَسْتَرِيحُ إلَى الْعُذْرِ، وَيَرْأَفُ بِالضُّعَفَاءِ، وَيَنْبُو عَلَى الأَقْوِيَاءِ، وَمِمَّنْ لاَ يُثِيرُهُ الْعُنْفُ، وَلاَ يَقْعُدُ بِهِ الضَّعْفُ. ثُمَّ الْصَقْ بِذَوِي

ظالمانو مرستیالان دي، ته باید تر دي غوره ځاے ناستي اولرې چې د هغوي په شان پیاوړي فکر اولري خو د هغوي ګناهانې او بدۍ اونۀ لري، هغه کسان چې له کوم ظالم سره یې په ظلم کښې مرسته نۀ وي کړې او له ګناهګار سره یې په ګناه کښې کمک نۀ وي کړے.

د دغه ډول کسانو خرچه په تا باندې سپکه، مرسته یې ښه او مهرباني یې زیاته ده او ستا په پرتله یې له نورو سره دوستي کمه ده، دوي خپل خواص، نزدې دوستان او رازداران اوټاکه او بیا په دوي کښې هغه کسان چې د حق په ویلو کښې له نورو جوت او څرګند وي او په هغو چارو کښې چې خداے پاک یې د خپلو دوستانو لپاره نۀ خوښوي ستا مرستندویې نۀ وي، غوره کړه که ستا خوښه وي او که نه .

## د لارښوُنکو (رهبرانو) د ټولنېزو(اجتماعي) تعلقاتو اصول

بیا چې څومره دې له وسه کېږي له نېکانو او رښتینو کسانو سره یو ځاے اوسه او هغوي داسې اوروزه چې تا ډېر نۀ ستائي، او تا هغو بدو کارونو ته چې نۀ دې دي کړي اونۀ هڅوي، ځکه چې بې اندازې ستائنه ځان خوښي له ځان سره لري او انسان سرغړونې او سرکشۍ ته هڅوي. هیڅکله نېک او بد کس ته په یوه سترګه مه ګوره،ګنې نېکان به د نېکۍ په کولو کښې بې زړۀ او بدان به د بدۍ په کولو کښې اوهڅول شي، نو هر یو ته یې د هغۀ د عمل مطابق بدله ورکوه. پوه شه اے مالکه! په والي باندې د خلقو د اعتماد د جلبولو لپاره له دې زیاته بله ښه وسیله نشته چې ښېګړه ورسره وکړې،مالیات (ټیکس) یې سپک کړې او داسې کار ته یې اړ نۀ کړې چې نۀ یې وي خوښ، نو په دې لاره کښې دومره کوشش وکړه چې د رعایا په وفادارۍ خوشبینه (ښۀ ګمان کوونکے) شې، ځکه چې دا خوشبیني د مشکلاتو اوږدۀ کړاوونه له تا ختموي، نو له چا سره چې دې زیاته ښېګړه کړې وي ورباندې زیات ښۀ ګمان لرونکے اوسه، او له چا سره چې دې بد سلوکي کړې ده په هغوي باندې زیات بدګمانه اوسه. او هغه نېک او غوره دودونه او رواجونه چې د دې امت مشرانو پرې عمل کړي او اسلامي امت ورسره تړلے شوے دے او ولس ورسره اصلاح شوے دے مه ختموه، او داسې دودونه او رواجونه مه جوړوه چې تېرو ښو دودونو او رواجونو ته تاوان اورسوي، ځکه چې انعام به یې د دغه دود د جوړوونکي او سزا به یې ستا لپاره وي، ځکه چې هغه دې له مېنځه یوړل، له عالمانو او پوهانو سره ډېرې خبرې کوه او له حکیمانو (حکمت لرونکو) سره پرېمانه بحث کوه ځکه چې د ښارونو د آبادۍ، سمونې، او د نظم او قانون د ټینګېدو سبب کېږي چې پخوا هم ؤ.

## د بېلا بېلو ټولنېزو پرګنو او طبقو پېژندل

اے مالکه ! پوه شه خلق بېلا بېلې طبقې او پرګنې لري چې ځینې یې یواځې په ځینو سره اصلاح کېدې شي او هیڅ یوه یې له بلې بې نیازه نۀ ده. په دوي کښې د خداے پاک لښکریان، ، عام او خاص لیکوالان،د محکمې (عدالت) قاضیان، د انصاف او ټولنېز نظم چاروال، جزیه ورکوونکی،د مالیاتو ورکوونکی، تاجران او سوداګران،د صنعت او

الْمُرُوءَاتِ وَ الأَحْسَابِ وَأَهْلِ الْبُيُوتَاتِ الصَّالِحَةِ وَالسَّوَابِقِ الْحَسَنَةِ ثُمَّ أَهْلِ النَّجْدَةِ وَ الشَّجَاعَةِ وَالسَّخَاءِ وَالسَّمَاحَةِ فَإِنَّهُمْ جِمَاعٌ مِنَ الْكَرَمِ وَشُعَبٌ مِنَ الْعُرْفِ. ثُمَّ تَفَقَّدْ مِنْ أُمُورِهِمْ مَا يَتَفَقَّدُهُ الْوَالِدَانِ مِنْ وَلَدِهِمَا، وَلاَ يَتَفَاقَمَنَّ فِي نَفْسِكَ شَيْءٌ قَوَّيْتَهُمْ بِهِ، وَلاَ تَحْقِرَنَّ لُطْفاً تَعَاهَدْتَهُمْ بِهِ وَإِنْ قَلَّ، فَإِنَّهُ دَاعِيَةٌ لَهُمْ إِلَى بَذْلِ النَّصِيحَةِ لَكَ، وَحُسْنِ الظَّنِّ بِكَ. وَلاَ تَدَعْ تَفَقُّدَ لَطِيفِ أُمُورِهِمُ اتِّكَالاً عَلَى جَسِيمِهَا، فَإِنَّ لِلْيَسِيرِ مِنْ لُطْفِكَ مَوْضِعاً يَنْتَفِعُونَ بِهِ، وَلِلْجَسِيمِ مَوْقِعاً لاَ يَسْتَغْنُونَ عَنْهُ. وَلْيَكُنْ آثَرُ رُؤُوسِ جُنْدِكَ عِنْدَكَ مَنْ وَاسَاهُمْ فِي مَعُونَتِهِ، وَأَفْضَلَ عَلَيْهِمْ مِنْ جِدَتِهِ بِمَا يَسَعُهُمْ يَسَعُ مَنْ وَرَاءَهُمْ مِنْ خُلُوفِ أَهْلِيهِمْ، حَتَّى يَكُونَ هَمُّهُمْ هَمّاً وَاحِداً فِي جِهَادِ الْعَدُوِّ، فَإِنَّ عَطْفَكَ عَلَيْهِمْ يَعْطِفُ قُلُوبَهُمْ عَلَيْكَ. [وَإِنَّ أَفْضَلَ قُرَّةِ عَيْنِ الْوُلاَةِ اسْتِقَامَةُ الْعَدْلِ فِي الْبِلاَدِ، وَظُهُورُ مَوَدَّةِ الرَّعِيَّةِ، وَإِنَّهُ لاَ تَظْهَرُ مَوَدَّتُهُمْ إِلاَّ بِسَلاَمَةِ صُدُورِهِمْ] وَلاَ تَصِحُّ نَصِيحَتُهُمْ إِلاَّ بِحِيطَتِهِمْ عَلَى وُلاَةِ أُمُورِهِمْ، وَقِلَّةِ اسْتِثْقَالِ دُوَلِهِمْ، وَتَرْكِ اسْتِبْطَاءِ انْقِطَاعِ مُدَّتِهِمْ. فَافْسَحْ فِي آمَالِهِمْ، وَوَاصِلْ فِي حُسْنِ الثَّنَاءِ عَلَيْهِمْ، وَتَعْدِيدِ مَا أَبْلَى ذَوُو الْبَلاَءِ مِنْهُمْ، فَإِنَّ كَثْرَةَ الذِّكْرِ لِحُسْنِ أَفْعَالِهِمْ تَهُزُّ الشُّجَاعَ، وَتُحَرِّضُ النَّاكِلَ، إِنْ شَاءَ اللهُ. ثُمَّ اعْرِفْ لِكُلِّ امْرِىءٍ مِنْهُمْ مَا أَبْلَى، وَلاَ تَضُمَّنَّ بَلاَءَ امْرِىءٍ إِلَى غَيْرِهِ، وَلاَ تُقَصِّرَنَّ بِهِ دُونَ غَايَةِ بَلاَئِهِ، وَلاَ يَدْعُوَنَّكَ شَرَفُ امْرِىءٍ إِلَى أَنْ تُعْظِمَ مِنْ بَلاَئِهِ مَا كَانَ صَغِيراً، وَلاَ ضَعَةُ امْرِىءٍ إِلَى أَنْ تَسْتَصْغِرَ مِنْ بَلاَئِهِ مَا كَانَ عَظِيماً. وَارْدُدْ إِلَى اللهِ وَرَسُولِهِ مَا يُضْلِعُكَ مِنَ الْخُطُوبِ، وَيَشْتَبِهُ عَلَيْكَ مِنَ الأُمُورِ، فَقَدْ قَالَ اللهُ سبحانه لِقَوْمٍ أَحَبَّ إِرْشَادَهُمْ: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الأَمْرِ مِنْكُمْ فَإِنْ تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللهِ وَالرَّسُولِ﴾، فَالرَّدُّ إِلَى اللهِ: الأَخْذُ بِمُحْكَمِ كِتَابِهِ، وَالرَّدُّ إِلَى الرَّسُولِ: الأَخْذُ بِسُنَّتِهِ الْجَامِعَةِ غَيْرِ الْمُفَرِّقَةِ.

ثُمَّ اخْتَرْ لِلْحُكْمِ بَيْنَ النَّاسِ أَفْضَلَ رَعِيَّتِكَ فِي نَفْسِكَ، مِمَّنْ لاَ تَضِيقُ بِهِ الأُمُورُ، وَلاَ تُمَحِّكُهُ الْخُصُومُ، وَلاَ يَتَمَادَى فِي الزَّلَّةِ، وَلاَ يَحْصَرُ مِنَ الْفَيْءِ إِلَى الْحَقِّ إِذَا عَرَفَهُ، وَلاَ تُشْرِفُ نَفْسُهُ عَلَى طَمَعٍ، وَلاَ يَكْتَفِي

حرفت خاوندان، د ټولنې لاندې پرګنه لکه غريبانان او مسکينان دي، چې خداے تعالی د هرې طبقې لپاره ونډه ټاکلې او واجبه اندازه يې په قرآن او د پيغمبراکرمﷺ په سنتو کښې په ګوته کړې ده، چې د خداے پاک لخوا تړون دے او په موږ يې ساتنه لازمه ده. نو سپاهيان د خداے په امر د خلقو مضبوطې کلاګانې، د چارواکو ښکلا، د دين برم او په هيواد کښې د امينت د راوستلو وسيلې دي. د خلقو چارې بې له سپاهيانو نۀ ټينګېږي، او د سپاهيانو ټينګښت هم يواځې د ولس په ماليات او ټيکسونو سره ممکن دے چې په هغو سره د دښمن په مقابل کښې د جهاد لپاره مضبوط شي، او د خپلو چارو د سماوي لپاره پرې تکيه وکړي، او خپلې اړتياوې او ضرورتونه پوره کړي. بيا همدا ځواکونه او ولس په بوې دريمې ډلې سره پايښت مومي، او هغه قاضيان او د حکومت چارواکي او حکومتي ليکوالان (ملازمين او کلرکان) دي، چې لوظنامې، تړونونه او معاملې ليکي، او هغه څه چې د مسلمانانو په ګټه دي برابروي، او په خصوصي او عمومي چارو کښې د باور وړ دي. او دا ټولې طبقې او پرګنې بيا بې له سوداګرانو او د صنعت له خاوندانو ټينګې نۀ شي پاتې کېدې، ځکه چې هغوي د ژوند وسائل برابروي او بازار ته يې وړاندې کوي، او د ژوند ډېرې وسيلې په لاس جوړوي، چې د نورو د وس کار نۀ دے. بله طبقه د ټولنې لاندې طبقه فقيران او غريبانان دي چې بايد ښبګړه، ښندنه او مرسته ورسره اوشي، د دغو ټولوطبقو او پرګنو لپاره د خداے په نزد پراختيا او نعمتونه دي، او دغه ټول په هغه اندازه چې چارې يې سمې شي په چارواکي باندې ټاکلے حق لري، او چارواکے د هغه څه په کولو کښې چې خداے پاک پرې واجب کړي دي نۀ شي کاميابيدې مګر دا چې ډېر زيار اوباسي، او له خدايه مرسته وغواړي، او ځان د حق د کار لپاره تيار کړي، او په ټولو چارو کښې که آسانې وي او که ګرانې صبر وکړي.

بنۀ عسکر (فوځ)

د عسکرو د کوماندې (جرنيلي) لپاره داسې کس غوره کړه چې د خداے پاک، پيغمبراکرمﷺ او ستا د امام لپاره يې خبرخواهي ډېره وي، لمن يې تر نورو پاکه او صبر يې تر نورو زيات وي داسې کس وي چې زر نۀ غصه کېږي او عذر معذرت مني، له کمزورو سره نرم او له زورورو سره سخت وي، زيږ والے او سختوالے يې تيرې ته اونۀ کاږي او ناتواني يې له حرکته او نۀ غږوي. بيا په فوځيانو کښې له داسې کورنيو سره چې جړه لرونکې، ښه شخصيت لرونکې، پاکې لرونکې، نيکې، ځلانده مخينه لرونکې، زړۀ وړې، باتورې، سخي او بلند نظره کورنۍ وي نږدې تعلقات ټينګ کړه. هغوي ټول سترتوب په ځان کښې راغونډ کړے او نيکۍ يې په ځان کښې راټولې کړې دي. نو د هغوي په چارو کښې داسې فکر وکړه چې لکه مهربانه مور او پلار چې د خپلو بچيانو په چارو کښې فکر کوي، او ګوره چې هغه څه چې هغوي پرې پياوړې کوي ستا په نظر کښې لوې اونۀ ښکاري او له هغوي سره خپله نيکي که څه لږه ولې نه وي خواره مه ګڼه، ځکه چې نيکي هغوي ستا خبرخواهۍ ته کاږي، او په تا

بِأَدْنَى فَهْمٍ دُونَ أَقْصَاهُ، أَوْقَفَهُمْ فِي الشُّبُهَاتِ، وَآخَذَهُمْ بِالْحُجَجِ، وَأَقَلَّهُمْ تَبَرُّماً بِمُرَاجَعَةِ الْخَصْمِ، وَأَصْبَرَهُمْ عَلَى تَكَشُّفِ الْأُمُورِ، وَأَصْرَمَهُمْ عِنْدَ اتِّضَاحِ الْحُكْمِ، مِمَّنْ لَا يَزْدَهِيهِ إِطْرَاءٌ، وَلَا يَسْتَمِيلُهُ إِغْرَاءٌ، أُولَئِكَ قَلِيلٌ. ثُمَّ أَكْثِرْ تَعَاهُدَ قَضَائِهِ، وَافْسَحْ لَهُ فِي الْبَذْلِ مَا يُزِيلُ عِلَّتَهُ، وَتَقِلُّ مَعَهُ حَاجَتُهُ إِلَى النَّاسِ، وَأَعْطِهِ مِنَ الْمَنْزِلَةِ لَدَيْكَ مَا لَا يَطْمَعُ فِيهِ غَيْرُهُ مِنْ خَاصَّتِكَ، لِيَأْمَنَ بِذَلِكَ اغْتِيَالَ الرِّجَالِ لَهُ عِنْدَكَ. فَانْظُرْ فِي ذَلِكَ نَظَراً بَلِيغاً، فَإِنَّ هَذَا الدِّينَ قَدْ كَانَ أَسِيراً فِي أَيْدِي الْأَشْرَارِ، يُعْمَلُ فِيهِ بِالْهَوَى، وَتُطْلَبُ بِهِ الدُّنْيَا.

ثُمَّ انْظُرْ فِي أُمُورِ عُمَّالِكَ، فَاسْتَعْمِلْهُمُ اخْتِبَاراً، وَلَا تُوَلِّهِمْ مُحَابَاةً وَأَثَرَةً، فَإِنَّهُمَا جِمَاعٌ مِنْ شُعَبِ الْجَوْرِ وَالْخِيَانَةِ. وَتَوَخَّ مِنْهُمْ أَهْلَ التَّجْرِبَةِ وَالْحَيَاءِ، مِنْ أَهْلِ الْبُيُوتَاتِ الصَّالِحَةِ، وَالْقَدَمِ فِي الْإِسْلَامِ الْمُتَقَدِّمَةِ، فَإِنَّهُمْ أَكْرَمُ أَخْلَاقاً، وَأَصَحُّ أَعْرَاضاً، وَأَقَلُّ فِي الْمَطَامِعِ إِشْرَافاً، وَأَبْلَغُ فِي عَوَاقِبِ الْأُمُورِ نَظَراً.

ثُمَّ أَسْبِغْ عَلَيْهِمُ الْأَرْزَاقَ، فَإِنَّ ذَلِكَ قُوَّةٌ لَهُمْ عَلَى اسْتِصْلَاحِ أَنْفُسِهِمْ، وَغِنىً لَهُمْ عَنْ تَنَاوُلِ مَا تَحْتَ أَيْدِيهِمْ، وَحُجَّةٌ عَلَيْهِمْ إِنْ خَالَفُوا أَمْرَكَ أَوْ ثَلَمُوا أَمَانَتَكَ. ثُمَّ تَفَقَّدْ أَعْمَالَهُمْ، وَابْعَثِ الْعُيُونَ مِنْ أَهْلِ الصِّدْقِ وَالْوَفَاءِ عَلَيْهِمْ، فَإِنَّ تَعَاهُدَكَ فِي السِّرِّ لِأُمُورِهِمْ حَدْوَةٌ لَهُمْ عَلَى اسْتِعْمَالِ الْأَمَانَةِ، وَالرِّفْقِ بِالرَّعِيَّةِ. وَتَحَفَّظْ مِنَ الْأَعْوَانِ، فَإِنْ أَحَدٌ مِنْهُمْ بَسَطَ يَدَهُ إِلَى خِيَانَةٍ اجْتَمَعَتْ بِهَا عَلَيْهِ عِنْدَكَ أَخْبَارُ عُيُونِكَ، اكْتَفَيْتَ بِذَلِكَ شَاهِداً، فَبَسَطْتَ عَلَيْهِ الْعُقُوبَةَ فِي بَدَنِهِ، وَأَخَذْتَهُ بِمَا أَصَابَ مِنْ عَمَلِهِ، ثُمَّ نَصَبْتَهُ بِمَقَامِ الْمَذَلَّةِ، وَوَسَمْتَهُ بِالْخِيَانَةِ، وَقَلَّدْتَهُ عَارَ التُّهَمَةِ.

وَتَفَقَّدْ أَمْرَ الْخَرَاجِ بِمَا يُصْلِحُ أَهْلَهُ، فَإِنَّ فِي صَلَاحِهِ وَصَلَاحِهِمْ صَلَاحاً لِمَنْ سِوَاهُمْ، وَلَا صَلَاحَ لِمَنْ سِوَاهُمْ إِلَّا بِهِمْ، لِأَنَّ النَّاسَ كُلَّهُمْ عِيَالٌ عَلَى الْخَرَاجِ وَأَهْلِهِ. وَلْيَكُنْ نَظَرُكَ فِي عِمَارَةِ الْأَرْضِ أَبْلَغَ مِنْ نَظَرِكَ فِي اسْتِجْلَابِ الْخَرَاجِ، لِأَنَّ ذَلِكَ لَا يُدْرَكُ إِلَّا بِالْعِمَارَةِ، وَمَنْ طَلَبَ الْخَرَاجَ بِغَيْرِ عِمَارَةٍ أَخْرَبَ الْبِلَادَ، وَأَهْلَكَ الْعِبَادَ، وَلَمْ

به يې ګمان ښه کړي، او د هغوي په وړو چارو غور په لويو چارو د غور په وجه مه پرېږده، ځکه چې ستا له وړې نېکۍ ګټه اخلي او ستا له لويو ښېګړو بې نيازه نه دي. ستا د کوماندانانو تر ټولو غوره کسان بايد هغه وي چې تر نورو زيات له عسکرو سره مرسته کوي، او خپل مالي امکانات او وسائل زيات هغوي ته ورکوي، تر دې حده چې د محاذ شاته يې کورنۍ او په خپله په پوره هوساينه او سوکالتيا کښې وي. چې له دښمن سره په جنګ کښې د اسلام عسکر يواځې د يو شي (جهاد) فکر وکړي . بې له شکه له عسکرو سره ستا مهرباني په تا باندې د هغوي د مهربانۍ سبب کېږي. او د چارواکو تر ټولو لويه خوشحالي په ښارونو کښې د عدل او انصاف ټينګول او له لاربنود او رهبر سره د خلقو د مينې څرګندېدل دي. او د عوامو د زړونو مينه يواځې د زړونو په پاکۍ سره پيدا کېږي. او د هغوي خير خواهي هله ده چې په رغبت او شوق سره په خپل لاربنود او رهبر باندې راغونډ وي او حکومت د عوامو په اوږو باندې لوے پېټے نۀ وي ابښے او د حکومت اوږدېدل په اولس بار نۀ وي. نو د سپاهيانو ارمانونه پوره کړه او تل يې ستايه، او د هغوي مهم او لوې کارونه بيا بيا يادوه، ځکه چې د هغوي د ارزښتمنو کارونو يادونه ميړني هڅوي او ويرېدونکي کوشش ته اړباسي. که خداے کول. او په يوې دقيقې جاجونې کښې له هغوي څخه د هر يو کړاونه او زيارونه معلوم کړه او هيڅکله د يو کس کوشش د بل په حساب کښې مه ليکه، او د هغۀ د خدمت ارزښت کم مه ګڼه، چې د يو کس شرافت او سترتوب د دې سبب نۀ شي چې د هغه وړوکے کار لوے اوګڼې او د چا ګمنامي سبب نۀ شي چې لوے کار يې وړوکي اوګڼې. هغه ستونځې او مشکلات چې د فوځيانو په چارو کښې درپيدا کېږي او هغه چارې چې په تا باندې مشتبهې کېږې، هغه خداے پاک او د هغۀ رسول ته جارباسه، ځکه چې خداے تعالی هغه قام چې مينه ورسره لري هدايتوي او ځکه خو يې فرمايلې دي« اے هغو کسانو چې ايمان مو راوړے دے د خداے، د هغۀ د رسول او اولی الامر (امامانو) چې له تاسو دي اطاعت وکړئ، او که په څه کښې اختلاف لرئ خداے او رسول ته يې ستانۀ کړئ» نو خداے پاک او رسول الله ﷺ ته د يو څيز جارباسل يعنې په قرآن عمل کول او پېغمبراکرم ﷺ ته د يوې خبرې جارايستل يعنې په سنتو عمل کول، هغه چې د يووالي راوستونکي دي نۀ د بيل والي.

## ښۀ قاضيان

نو بيا په خپلو عوامو کښې د قضاوت لپاره تر ټولو ښۀ کسان غوره کړه، داسې کسان چې د خلقو بيا بيا ورتګ يې پوزې ته رانۀ ولي، او له يو بل سره د مدعيانو شخړه يې غصه نۀ کړي، په خپلو غلطيو ټينګار اونۀ کړي او له پوهېدو وروسته ورته حق ته جاروتل سخت نۀ وي، طمعه له ځانه پاکه کړي، په حقائقو د پوهېدلو لپاره په لږ شان تحقيق بسنه ونۀ کړي. په شبهاتو کښې تر هر چا زيات په احتياط عمل کوي، د دليل په موندلو کښې يې اصرار تر نورو زيات وي،د شکايت کوونکو په پرله

يَسْتَقِمْ أَمْرُهُ إِلاَّ قَلِيلاً. فَإِنْ شَكَوْا ثِقَلاً أَوْ عِلَّةً، أَوِ انْقِطَاعَ شِرْبٍ أَوْ بَالَّةٍ، أَوْ إِحَالَةَ أَرْضٍ اغْتَمَرَهَا غَرَقٌ، أَوْ أَجْحَفَ بِهَا عَطَشٌ، خَفَّفْتَ عَنْهُمْ بِمَا تَرْجُو أَنْ يَصْلُحَ بِهِ أَمْرُهُمْ، وَلاَ يَثْقُلَنَّ عَلَيْكَ شَيْءٌ خَفَّفْتَ بِهِ الْمَؤُونَةَ عَنْهُمْ، فَإِنَّهُ ذُخْرٌ يَعُودُونَ بِهِ عَلَيْكَ فِي عِمَارَةِ بِلاَدِكَ، وَتَزْيِينِ وِلاَيَتِكَ، مَعَ اسْتِجْلاَبِكَ حُسْنَ ثَنَائِهِمْ، وَتَبَجُّحِكَ بِاسْتِفَاضَةِ الْعَدْلِ فِيهِمْ، مُعْتَمِداً فَضْلَ قُوَّتِهِمْ، بِمَا ذَخَرْتَ عِنْدَهُمْ مِنْ إِجْمَامِكَ لَهُمْ، وَالثِّقَةَ مِنْهُمْ بِمَا عَوَّدْتَهُمْ مِنْ عَدْلِكَ عَلَيْهِمْ فِي رِفْقِكَ بِهِمْ، فَرُبَّمَا حَدَثَ مِنَ الأُمُورِ مَا إِذَا عَوَّلْتَ فِيهِ عَلَيْهِمْ مِنْ بَعْدُ احْتَمَلُوهُ طَيِّبَةً أَنْفُسُهُمْ بِهِ، فَإِنَّ الْعُمْرَانَ مُحْتَمِلٌ مَا حَمَّلْتَهُ، وَإِنَّمَا يُؤْتَى خَرَابُ الأَرْضِ مِنْ إِعْوَازِ أَهْلِهَا، إِنَّمَا يُعْوِزُ أَهْلُهَا لإِشْرَافِ أَنْفُسِ الْوُلاَةِ عَلَى الْجَمْعِ، وَسُوءِ ظَنِّهِمْ بِالْبَقَاءِ، وَقِلَّةِ انْتِفَاعِهِمْ بِالْعِبَرِ.

ثُمَّ انْظُرْ فِي حَالِ كُتَّابِكَ، فَوَلِّ عَلَى أُمُورِكَ خَيْرَهُمْ، وَاخْصُصْ رَسَائِلَكَ الَّتِي تُدْخِلُ فِيهَا مَكَائِدَكَ وَأَسْرَارَكَ بِأَجْمَعِهِمْ لِوُجُودِ صَالِحِ الأَخْلاَقِ مِمَّنْ لاَ تُبْطِرُهُ الْكَرَامَةُ، فَيَجْتَرِئَ بِهَا عَلَيْكَ فِي خِلاَفٍ لَكَ بِحَضْرَةِ مَلاٍ، وَلاَ تُقَصِّرُ بِهِ الْغَفْلَةُ عَنْ إِيرَادِ مُكَاتَبَاتِ عُمَّالِكَ عَلَيْكَ، وَإِصْدَارِ جَوَابَاتِهَا عَلَى الصَّوَابِ عَنْكَ، وَفِيمَا يَأْخُذُ لَكَ وَيُعْطِي مِنْكَ، وَلاَ يُضْعِفُ عَقْداً اعْتَقَدَهُ لَكَ، وَلاَ يَعْجِزُ عَنْ إِطْلاَقِ مَا عُقِدَ عَلَيْكَ، وَلاَ يَجْهَلُ مَبْلَغَ قَدْرِ نَفْسِهِ فِي الأُمُورِ، فَإِنَّ الْجَاهِلَ بِقَدْرِ نَفْسِهِ يَكُونُ بِقَدْرِ غَيْرِهِ أَجْهَلَ. ثُمَّ لاَ يَكُنِ اخْتِيَارُكَ إِيَّاهُمْ عَلَى فِرَاسَتِكَ وَاسْتِنَامَتِكَ وَحُسْنِ الظَّنِّ مِنْكَ، فَإِنَّ الرِّجَالَ يَتَعَرَّفُونَ لِفِرَاسَاتِ الْوُلاَةِ بِتَصَنُّعِهِمْ وَحُسْنِ خِدْمَتِهِمْ، لَيْسَ وَرَاءَ ذَلِكَ مِنَ النَّصِيحَةِ وَالأَمَانَةِ شَيْءٌ، وَلَكِنِ اخْتَبِرْهُمْ بِمَا وُلُّوا لِلصَّالِحِينَ قَبْلَكَ، فَاعْمِدْ لأَحْسَنِهِمْ كَانَ فِي الْعَامَّةِ أَثَراً، وَأَعْرَفِهِمْ بِالأَمَانَةِ وَجْهاً، فَإِنَّ ذَلِكَ دَلِيلٌ عَلَى نَصِيحَتِكَ لِلَّهِ وَلِمَنْ وُلِّيتَ أَمْرَهُ. وَاجْعَلْ لِرَأْسِ كُلِّ أَمْرٍ مِنْ أُمُورِكَ رَأْساً مِنْهُمْ، لاَ يَقْهَرُهُ كَبِيرُهَا، وَلاَ

پسې ورتګ سره سترې نۀ شي، د چارو په کشفولو (تفتيش) کښې تر نورو صابر وي، او د حقيقت له ښکاره کېدو وروسته د دښمنۍ په ختمولو کښې تر ټولو غوڅ وي. داسې کس وي چې زياته ستائنه يې اونۀ غولوي، او غوړه مالي (چاپلوسي) يې له لارې اونۀ غړوي، او داسې کسان ډېر کم دي! د قاضي له ټاکلو وروسته د هغۀ په قضاوتونو کښې ډېر ځير شه، او دومره څه ورکړه چې ضرورتونه يې پوره شي او خلقو ته يې حاجت پاتې نۀ شي، او مقام او منزلت له اړخه هغه دومره اونازوه چې ستا نزدې کسان په هغۀ کښې د نفوذ طمعه اونۀ لري، چې ستا په نزد د هغوي له سازشونو په امان پاتې شي. هغه اوامر چې مې وکړل ښه پکښې غور وکړه ځکه چې دا دين د بد کارو په لاس کښې بندي ؤ چې د دين په نامه په خپلو خواهشاتو پسې روان وو او خپله دنيا يې ګټله.

## ښۀ چارواکي

بيا دې د خپلو چاروالو په کار کښې ځېر شه او له ازمېښته وروسته يې په کار اوګماره،او په خپله خوښه او بې د نورو له مشورې هغوي مختلفوکارونو ته مه مجبوروه. ځکه چې يو ډول ظلم او خيانت دے. حکومتي چارواکي له تجربه کارو،حياناکو کسانو چې پاکې او پرهېزګارې کورنۍ ولري او په مسلمانۍ کښې يې ځلانده مخنيه وي، غوره کړه، ځکه چې هغوي خوش اخلاقه، او عزتمن وي. او د کمې طمعې خاوندان او په راتلونکي وخت زيات نظر لرونکې وي.

بيا د هغوي د ټولو لګښتونو او خرچو خيال اوساته چې د پوره حقوقو او تنخواه په ورکولو سره هغوي د ځان ښۀ اصلاح کولې شي اوکه بې نيازه وي نو بيت المال ته به لاس نۀ وروړي. او که بيا هم هغوي ستا امر اونۀ مني يا خيانت وکړي نو غاړې خو به دې پرې خلاصې کړې وي. بيا د دې چاروالو د چارو ښه څارنه کوه او رښتيني او وفادار جاسوسان پرې اوګماره، ځکه چې د هغوي په چارو ستا څارنه او پټه جاجونه د امانتدارۍ او له عوامو سره د مهربانۍ سبب کېږي. د خپلو نزدې ملګرو دې هم سخته څارنه کوه او که په هغوي کښې يو کس خيانت وکړ او ستا جاسوسانو هم دغه خيانت تائيد کړ نو په همدغه اندازه ګواهۍ باندې بسنه وکړه او هغه ته بدني سزا ورکړه او څه چې دې ورکړي وي ورځينې وائې خله بيا يې خوار او ذليل کړه او خيانتکار يې اوګڼه او د بدنامۍ غړوندي يې غاړې ته واچوه.

## ماليات (ټېکس) ورکوونکي

د ماليات او خراج په مسّله کښې داسې روده غوره کړه چې د ماليات ورکوونکو په ګټه او صلاح وي. ځکه چې د مالياتو (ټېکسونو) او ټېکس او ماليات ورکوونکو ښۀ کېدل د ټولنې د نورو پرګنو او طبقو د هوساينې او سوکالۍ سبب کېږي. او تر څو چې د ماليات او ټېکس ورکوونکو چارې سمې نۀ شي د نورو هم نۀ سمېږي. ځکه چې ټول خلق د همدغه مالياتو او ټېکسونو په مټ ژوند کوي. د ځمکې په آبادولو کښې د مالياتو او ټېکسونو تر ټولولو زياته هڅه وکړه ځکه چې ماليات او ټېکسونه د آبادۍ په برکت ممکن دي. او څوک چې غواړي بې د کروندو له آبادولو ماليات راغونډ کړي په حقيقت کښې ښارونه

يَتَشَتَّتُ عَلَيْهِ كَثِيرُهَا، وَمَهْمَا كَانَ فِي كُتَّابِكَ مِنْ عَيْبٍ فَتَغَابَيْتَ عَنْهُ أُلْزِمْتَهُ.

ثُمَّ اسْتَوْصِ بِالتُّجَّارِ وَذَوِي الصِّنَاعَاتِ وَأَوْصِ بِهِمْ خَيْراً: الْمُقِيمِ مِنْهُمْ، وَالْمُضْطَرِبِ بِمَالِهِ، وَالْمُتَرَفِّقِ بِبَدَنِهِ، فَإِنَّهُمْ مَوَادُّ الْمَنَافِعِ، وَأَسْبَابُ الْمَرَافِقِ، وَجُلاَّبُهَا مِنَ الْمَبَاعِدِ وَالْمَطَارِحِ فِي بَرِّكَ وَبَحْرِكَ، وَسَهْلِكَ وَجَبَلِكَ، وَحَيْثُ لاَ يَلْتَئِمُ النَّاسُ لِمَوَاضِعِهَا، وَلاَ يَجْتَرِئُونَ عَلَيْهَا، فَإِنَّهُمْ سِلْمٌ لاَ تُخَافُ بَائِقَتُهُ، وَصُلْحٌ لاَ تُخْشَى غَائِلَتُهُ، وَتَفَقَّدْ أُمُورَهُمْ بِحَضْرَتِكَ وَفِي حَوَاشِي بِلاَدِكَ. وَاعْلَمْ مَعَ ذلِكَ أَنَّ فِي كَثِيرٍ مِنْهُمْ ضِيقاً فَاحِشاً وَشُحّاً قَبِيحاً وَاحْتِكَاراً لِلْمَنَافِعِ وَتَحَكُّماً فِي الْبِيَاعَاتِ وَذلِكَ بَابُ مَضَرَّةٍ لِلْعَامَّةِ وَ عَيْبٌ عَلَى الْوُلاَةِ فَامْنَعْ مِنَ الْاحْتِكَارِ فَإِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ مَنَعَ مِنْهُ. وَلْيَكُنِ الْبَيْعُ بَيْعاً سَمْحاً: بِمَوَازِينِ عَدْلٍ، وَأَسْعَارٍ لاَ تُجْحِفُ بِالْفَرِيقَيْنِ مِنَ الْبَائِعِ وَالْمُبْتَاعِ، فَمَنْ قَارَفَ حُكْرَةً بَعْدَ نَهْيِكَ إِيَّاهُ فَنَكِّلْ وَعَاقِبْ فِي غَيْرِ إِسْرَافٍ.

ثُمَّ اللهَ اللهَ فِي الطَّبَقَةِ السُّفْلَى مِنَ الَّذِينَ لاَ حِيلَةَ لَهُمْ وَالْمَسَاكِينِ وَالْمُحْتَاجِينَ وَأَهْلِ الْبُؤْسَى وَالزَّمْنَى، فَإِنَّ فِي هذِهِ الطَّبَقَةِ قَانِعاً وَمُعْتَرّاً، وَاحْفَظْ لله مَا اسْتَحْفَظَكَ مِنْ حَقِّهِ فِيهِمْ، وَاجْعَلْ لَهُمْ قِسْماً مِنْ بَيْتِ مَالِكَ، وَقِسْماً مِنْ غَلاَّتِ صَوَافِي الْاسْلاَمِ فِي كُلِّ بَلَدٍ، فَإِنَّ لِلْأَقْصَى مِنْهُمْ مِثْلَ الَّذِي لِلْأَدْنَى، وَكُلٌّ قَدِ اسْتُرْعِيتَ حَقَّهُ، فَلاَ يَشْغَلَنَّكَ عَنْهُمْ بَطَرٌ، فَإِنَّكَ لاَ تُعْذَرُ بِتَضْيِيعِ التَّافِهِ لِإِحْكَامِكَ الْكَثِيرَ الْمُهِمَّ. فَلاَ تُشْخِصْ هَمَّكَ عَنْهُمْ، وَلاَ تُصَعِّرْ خَدَّكَ لَهُمْ، وَتَفَقَّدْ أُمُورَ مَنْ لاَ يَصِلُ إِلَيْكَ مِنْهُمْ مِمَّنْ تَقْتَحِمُهُ الْعُيُونُ، وَتَحْقِرُهُ الرِّجَالُ، فَفَرِّغْ لِأُولئِكَ ثِقَتَكَ مِنْ أَهْلِ الْخَشْيَةِ وَالتَّوَاضُعِ، فَلْيَرْفَعْ إِلَيْكَ أُمُورَهُمْ، ثُمَّ اعْمَلْ فِيهِمْ بِالْإِعْذَارِ إِلَى اللهِ تَعَالَى يَوْمَ تَلْقَاهُ، فَإِنَّ هؤُلاَءِ مِنْ بَيْنِ الرَّعِيَّةِ أَحْوَجُ إِلَى الْانْصَافِ مِنْ غَيْرِهِمْ، وَكُلٌّ فَأَعْذِرْ إِلَى اللهِ تَعَالَى

ورانوي، د خدا ے بندګان تباه کوي او د داسې کس حکومت ډېر نۀ شي پائېدې. نو که خلقو د مالياتو او ټېکسونو له زياتوالي،يا ناڅاپي آفت،يا د اوبو د چينو د اوچوالي، د باران د کمښت،يا په سېلاب کښې د ځمکې د خرابېدو، يا اوچکالۍ، شکايت وکړ نو ماليات يې سپک کړه چې چارې يې سمې شي او په مالياتو کښې د سپکوالي او رعايت کولو انديښنه مه کوه ځکه چې دا چاره په اصل کښې يوه زېرمه ده چې ستا د ښارونو په آبادولو او ولايتونو په سرځښه کولو کښې رول لري. او له امله به يې خلق تا ستائي، او تۀ به په خلقو کښې د انصاف په پراختيا خوشحاله شې، او د هغوي د طاقت په زياتېدو به تکيه وکړې.په هغه څه چې د هغوي په نزد دې زېرمه کړې دي او په هغوي کښې د عدل او انصاف په پراختيا او له خلقو سره مهربانۍ په وجه به دې په زړۀ کښې يو ډول ډاډ او اطمينان پېدا شي چې که په راتلونکو وختونو کښې کوم کار پېدا شو او هغوي ته دې اوسپارۀ نو په خوشحالۍ او ورين تندي به يې مني، ځکه چې آبادي او سوکالي د خلقو د زغم طاقت زياتوي، بې له شکه چې د ځمکې وراني او شاړوالے د کروندګرو د نيستۍ له امله او د هغوچارواکو له لورې د هغوي د مالونو د چورېدو په وجه پېدا کېږي. چې د حکومت په مستقبل باندې باور نۀ لري او د تېرو له تاريخه عبرت نۀ اخلي.

## ښۀ ليکوالان او منشيان (سېکتران)

بيا د منشيانو (سېکترانو) او ليکوالانو ته ښۀ ځېر شه او خپلې چارې په ښه توګه هغوي ته اوسپاره او پټ ليکونه چې ستا سياستونه او رازونه پکښې وي په ليکوالانو کښې هغوکسانو ته اوسپاره چې تر نورو زيات صالح او د نېکو اخلاقو خاوندان وي. داسې کس چې عزت ورکول يې سرکښه نۀ کړي چې د نورو په مخکې ستا مخالفت اونۀ کړي او تا ته د چاروالو د ليکونو په رسولو او هغوي ته ستا د ځوابونو په رسولو کښې لټي اونۀ کړي او څه چې ستا لپاره اخلي يا يې ستا له لورې هغوي ته ورکوي هېرجن پکښې نۀ وي. او د تړونونو او لوظنامو په برابرولو کښې سستي اونۀ کړي او د هغو لوظنامو په ختمولو کښې چې ستا په تاوان دي ځنډ اونۀ کړي او خپل ځان او قدر اوپېژني بې له شکه هغه کس چې د خپل قدر له پېژندلو عاجزه وي د نورو د قدر له پېژندلو زيات عاجز دے.

پام چې د ليکوالانو او منشيانو په ټاکلو کښې يواځې په خپل عقل او ځيرکتيا او خوش ګمانۍ تکيه مه کوه ځکه چې چالاک کسان په ظاهري بناوټ او چاپلوسۍ سره د چارواکو نظر ځانته اړوي. خو په دغه ظاهر سازۍ کښې نۀ خېر او اخلاص شته او نۀ پکښې د امانت دارۍ څه نښه ليدل کېږي! بلکه هغوي په هغو خدمتونو سره چې له تا مخکې يې ښو چارواکو ته کړې دي اوزمايه، په ليکوالانو او منشيانو باور لره ځکه چې په خلقو کښې يې نېک نوم او اغېزې وي او په امانتدارۍ تر نورو نامتو دي. داسې ښۀ انتخاب او غوراوي د خدا ے او د خپلو عوامو لپاره ستا د خېر خواهۍ نښه ده د خپل هر کار لپاره يو سرپرست وټاکه

فِي تَأْدِيَةِ حَقِّهِ إِلَيْهِ. وَتَعَهَّدْ أَهْلَ الْيُتْمِ وَذَوِي الرِّقَّةِ فِي السِّنِّ مِمَّنْ لاَ حِيلَةَ لَهُ، وَلاَ يَنْصِبُ لِلْمَسْأَلَةِ نَفْسَهُ، وَذلِكَ عَلَى الْوُلاَةِ ثَقِيلٌ، وَالْحَقُّ كُلُّهُ ثَقِيلٌ، وَقَدْ يُخَفِّفُهُ اللهُ عَلَى أَقْوَامٍ طَلَبُوا الْعَاقِبَةَ فَصَبَرُوا أَنْفُسَهُمْ، وَوَثِقُوا بِصِدْقِ مَوْعُودِ اللهِ لَهُمْ. وَاجْعَلْ لِذَوِي الْحَاجَاتِ مِنْكَ قِسْماً تُفَرِّغُ لَهُمْ فِيهِ شَخْصَكَ، وَتَجْلِسُ لَهُمْ مَجْلِساً عَامّاً، فَتَتَوَاضَعُ فِيهِ للهِ الَّذِي خَلَقَكَ، وَتُقْعِدُ عَنْهُمْ جُنْدَكَ وَأَعْوَانَكَ مِنْ أَحْرَاسِكَ وَشُرَطِكَ، حَتَّى يُكَلِّمَكَ مُتَكَلِّمُهُمْ غَيْرَ مُتَتَعْتِعٍ، فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ يَقُولُ فِي غَيْرِ مَوْطِنٍ: "لَنْ تُقَدَّسَ أُمَّةٌ لاَ يُؤْخَذُ لِلضَّعِيفِ فِيهَا حَقُّهُ مِنَ الْقَوِيِّ غَيْرَ مُتَتَعْتِعٍ". ثُمَّ احْتَمِلِ الْخُرْقَ مِنْهُمْ وَالْعِيَّ، وَنَحِّ عَنْكَ الضِّيقَ وَالْأَنَفَ، يَبْسُطِ اللهُ عَلَيْكَ بِذلِكَ أَكْنَافَ رَحْمَتِهِ، وَيُوجِبْ لَكَ ثَوَابَ طَاعَتِهِ، وَأَعْطِ مَا أَعْطَيْتَ هَنِيئاً، وَامْنَعْ فِي إِجْمَالٍ وَإِعْذَارٍ!

ثُمَّ أُمُورٌ مِنْ أُمُورِكَ لاَ بُدَّ لَكَ مِنْ مُبَاشَرَتِهَا: مِنْهَا إِجَابَةُ عُمَّالِكَ بِمَا يَعْيَا عَنْهُ كُتَّابُكَ، وَمِنْهَا إِصْدَارُ حَاجَاتِ النَّاسِ عِنْدَ وُرُودِهَا عَلَيْكَ مِمَّا تَحْرَجُ بِهِ صُدُورُ أَعْوَانِكَ. وَأَمْضِ لِكُلِّ يَوْمٍ عَمَلَهُ فَإِنَّ لِكُلِّ يَوْمٍ مَا فِيهِ، وَاجْعَلْ لِنَفْسِكَ فِيمَا بَيْنَكَ وَبَيْنَ اللهِ تَعالى أَفْضَلَ تِلْكَ الْمَوَاقِيتِ وَأَجْزَلَ تِلْكَ الْأَقْسَامِ وَإِنْ كَانَتْ كُلُّهَا للهِ إِذَا صَلَحَتْ فِيهَا النِّيَّةُ وَسَلِمَتْ مِنْهَا الرَّعِيَّةُ. وَلْيَكُنْ فِي خَاصَّةِ مَا تُخْلِصُ للهِ بِهِ دِينَكَ: إِقَامَةُ فَرَائِضِهِ الَّتِي هِيَ لَهُ خَاصَّةً، فَأَعْطِ اللهَ مِنْ بَدَنِكَ فِي لَيْلِكَ وَنَهَارِكَ، وَوَفِّ مَا تَقَرَّبْتَ بِهِ إِلَى اللهِ مِنْ ذلِكَ كَامِلاً غَيْرَ مَثْلُومٍ وَلاَ مَنْقُوصٍ، بَالِغاً مِنْ بَدَنِكَ مَا بَلَغَ. وَإِذَا قُمْتَ فِي صَلاَتِكَ لِلنَّاسِ، فَلاَ تَكُونَنَّ مُنَفِّراً وَلاَ مُضَيِّعاً، فَإِنَّ فِي النَّاسِ مَنْ بِهِ الْعِلَّةُ وَلَهُ الْحَاجَةُ. وَقَدْ سَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ حِينَ وَجَّهَنِي إِلَى الْيَمَنِ كَيْفَ أُصَلِّي بِهِمْ؟ فَقَالَ: "صَلِّ بِهِمْ كَصَلاَةِ أَضْعَفِهِمْ، وَكُنْ بِالْمُؤْمِنِينَ رَحِيماً".

وَأَمَّا بَعْدَ هذَا، فَلاَ تُطَوِّلَنَّ احْتِجَابَكَ عَنْ رَعِيَّتِكَ، فَإِنَّ احْتِجَابَ الْوُلاَةِ عَنِ الرَّعِيَّةِ شُعْبَةٌ مِنَ الضِّيقِ، وَقِلَّةُ عِلْمٍ بِالْأُمُورِ، وَالْاحْتِجَابُ مِنْهُمْ يَقْطَعُ عَنْهُمْ عِلْمَ مَا احْتَجَبُوا دُونَهُ فَيَصْغُرُ

چې د کار سترتوب پرې لاسبرے نۀ شي او د کار کثرت يې پاتې رانۀ ولي. او پوه شه چې که د ليکوالانو او منشيانو په کار کښې دې کوم کمے وي چې تۀ ترې نۀ وې خبر نو خطرې به يې هم ستا سر ته راځي.

## ښۀ تاجران او د صنعت خاوندان

نو اوس د سوداګرانو او ښو صنعت خاوندانو په حقله زما نصيحت اومنه او هغوي نېکو چارو ته اوبله، هغه سوداګران چې په ښارونو کښې استوګن دي يا هغه چې همېشه په سفر او کوچ کښې وي. او هغه سوداګران چې بدني زيار باسي، ځکه چې هغوي د ګټې اصلي سرچينې او د ژوند او هوساينې او سوکالۍ د وسائلو برابروونکي او له لريو او سختو سيمو د ژوند د وسائلو راوړوونکي دي لکه له دښتو او دريابونو، صحراګانو او غرونو او له داسې ځايونو چې خلق پکښې نۀ اوسېږي، يا ورته د ورتللو زړۀ نۀ لري،سوداګران قرار او پرامن خلق دي او له هغوي څخه د جنګ خطره نشته صلح غوښتونکي خلق دي او فتنې نۀ جوړوي. د هغوي په چارو غور وکړه! که په هغه ښار کښې وي چې تۀ پکښې اوسېږې او که په نورو ښارونو کښې وي نو هغه څه ته په پام سره چې يادونه مې يې وکړه دا هم ياد ساته چې په سوداګرانو کښې داسې کسان هم شته چې تنګ نظره، بدمعامله، شومان او زېرمه ګر (ذخيره اندوز) دي چې يواځې د زور له لارې د خپلې ګټې په فکر کښې دي او په هره لوړه بيه چې يې زړۀ غواړي سامان خرڅوي. دا ګران فروشي او ګټه غوښتنه د ټولنې د وګړو لپاره تاواني او د چارواکي لپاره لوے عېب دے. نو د سامان د زېرمه کولو (ذخيره اندوزۍ) مخه اونيسه، ځکه چې رسول الله مبارکﷺ به يې هم مخه نيوله پکار دي په اسلامي معاشره کښې پېر پلور (اخېستل او خرڅول) په آسانه طريقه او د عدل او انصاف له اصولو سره سم ترسره شي. په داسې نرخونو چې پلورونکي او پيرودونکي (خرڅوونکي او اخېستونکي) ته تاوان اونۀ رسوي. څوک چې ستا له منعې کولو سره سره احتکار او ذخيره اندوزي وکړي هغۀ ته سزا ورکړه چې د نورو لپاره د عبرت سبب شي خو په سزا کولو کښې يې زياتے مه کوه.

## بېوزلان او غريبانان

نو بيا د خدا ے لپاره، د خدا ے لپاره! د ټولنې او معاشرې د لاندې او بې برخې طبقو خيال ساته چې دا ډول دي: مسکينان،حاجتمن، په مصيبتونو کښې ښکيل او دردمندان، پوه شه چې په دغه محرومه پرګنه کښې ځينې کسان داسې دي چې قناعت او خودداري کوي او ځينې نور يې سوال او خېرات ته لاس اوږدوي، نو د خدا ے لپاره د هغه حق خيال وساته چې خدا ے پاک د دغې طبقې لپاره ټاکلے دے. په هر ښار کښې د بيت المال او د داسلام د غنيمتي ځمکو د غلو ځينې برخه لاندې پرګنو ته ببله کړه، ځکه چې د ډېرو لريو مسلمانانو برخه هماغه شان ده چې د ډېرو نزدې مسلمانانو ده او تۀ د هغې د خيال ساتلو ذمه وار يې. ګوره چې د حکومت مستي او نشه دې د هغوي له چارو غافله نۀ کړي ځکه چې د زياتو او لويو کارونو کول هيڅکله د وړو کارونو د پرېښودلو

عِنْدَهُمُ الْكَبِيرُ، وَيَعْظُمُ الصَّغِيرُ، وَيَقْبُحُ الْحَسَنُ، وَيَحْسُنُ الْقَبِيحُ، وَيُشَابُ الْحَقُّ بِالْبَاطِلِ، وَإِنَّمَا الْوَالِي بَشَرٌ لاَ يَعْرِفُ مَا تَوَارَى عَنْهُ النَّاسُ بِهِ مِنَ الْأُمُورِ، وَلَيْسَتْ عَلَى الْحَقِّ سِمَاتٌ تُعْرَفُ بِهَا ضُرُوبُ الصِّدْقِ مِنَ الْكَذِبِ، وَإِنَّمَا أَنْتَ أَحَدُ رَجُلَيْنِ: إِمَّا امْرُؤٌ سَخَتْ نَفْسُكَ بِالْبَذْلِ فِي الْحَقِّ، فَفِيمَ احْتِجَابُكَ مِنْ وَاجِبِ حَقٍّ تُعْطِيهِ، أَوْ فِعْلٍ كَرِيمٍ تُسْدِيهِ، أَوْ مُبْتَلًى بِالْمَنْعِ، فَمَا أَسْرَعَ كَفَّ النَّاسِ عَنْ مَسْأَلَتِكَ إِذَا أَيِسُوا مِنْ بَذْلِكَ! مَعَ أَنَّ أَكْثَرَ حَاجَاتِ النَّاسِ إِلَيْكَ [مِمَّا] مَا لاَ مَؤُونَةَ فِيهِ عَلَيْكَ، مِنْ شَكَاةِ مَظْلِمَةٍ، أَوْ طَلَبِ إِنْصَافٍ فِي مُعَامَلَةٍ.

ثُمَّ إِنَّ لِلْوَالِي خَاصَّةً وَبِطَانَةً، فِيهِمُ اسْتِئْثَارٌ وَتَطَاوُلٌ، وَقِلَّةُ إِنْصَافٍ [فِي مُعَامَلَةٍ،] فَاحْسِمْ مَادَّةَ أُولَئِكَ بِقَطْعِ أَسْبَابِ تِلْكَ الْأَحْوَالِ، وَلاَ تُقْطِعَنَّ لِأَحَدٍ مِنْ حَاشِيَتِكَ وَحَامَّتِكَ قَطِيعَةً، وَلاَ يَطْمَعَنَّ مِنْكَ فِي اعْتِقَادِ عُقْدَةٍ، تَضُرُّ بِمَنْ يَلِيهَا مِنَ النَّاسِ، فِي شِرْبٍ أَوْ عَمَلٍ مُشْتَرَكٍ، يَحْمِلُونَ مَؤُونَتَهُ عَلَى غَيْرِهِمْ، فَيَكُونَ مَهْنَأُ ذَلِكَ لَهُمْ دُونَكَ، وَعَيْبُهُ عَلَيْكَ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ. وَأَلْزِمِ الْحَقَّ مَنْ لَزِمَهُ مِنَ الْقَرِيبِ وَالْبَعِيدِ، وَكُنْ فِي ذَلِكَ صَابِراً مُحْتَسِباً، وَاقِعاً ذَلِكَ مِنْ قَرَابَتِكَ وَخَاصَّتِكَ حَيْثُ وَقَعَ، وَابْتَغِ عَاقِبَتَهُ بِمَا يَثْقُلُ عَلَيْكَ مِنْهُ، فَإِنَّ مَغَبَّةَ ذَلِكَ مَحْمُودَةٌ. وَإِنْ ظَنَّتِ الرَّعِيَّةُ بِكَ حَيْفاً، فَأَصْحِرْ لَهُمْ بِعُذْرِكَ، وَاعْدِلْ عَنْكَ ظُنُونَهُمْ بِإِصْحَارِكَ، فَإِنَّ فِي ذَلِكَ [رِيَاضَةً مِنْكَ لِنَفْسِكَ، وَرِفْقاً بِرَعِيَّتِكَ، وَ]إِعْذَاراً تَبْلُغُ فِيهِ حَاجَتَكَ مِنْ تَقْوِيمِهِمْ عَلَى الْحَقِّ.

وَلاَ تَدْفَعَنَّ صُلْحاً دَعَاكَ إِلَيْهِ عَدُوُّكَ لِلّٰهِ فِيهِ رِضًى، فَإِنَّ فِي الصُّلْحِ دَعَةً لِجُنُودِكَ، وَرَاحَةً مِنْ هُمُومِكَ، وَأَمْناً لِبِلاَدِكَ، وَلَكِنِ الْحَذَرَ كُلَّ الْحَذَرِ مِنْ عَدُوِّكَ بَعْدَ صُلْحِهِ، فَإِنَّ الْعَدُوَّ رُبَّمَا قَارَبَ لِيَتَغَفَّلَ، فَخُذْ بِالْحَزْمِ، وَاتَّهِمْ فِي ذَلِكَ حُسْنَ الظَّنِّ. وَإِنْ عَقَدْتَ بَيْنَكَ وَبَيْنَ عَدُوِّكَ عُقْدَةً، أَوْ أَلْبَسْتَهُ مِنْكَ ذِمَّةً، فَحُطْ عَهْدَكَ بِالْوَفَاءِ، وَارْعَ ذِمَّتَكَ بِالْأَمَانَةِ، وَاجْعَلْ نَفْسَكَ جُنَّةً دُونَ مَا أَعْطَيْتَ، فَإِنَّهُ لَيْسَ مِنْ فَرَائِضِ اللهِ عزوجلّ شَيْءٌ النَّاسُ أَشَدُّ عَلَيْهِ اجْتِمَاعاً، مَعَ تَفْرِيقِ أَهْوَائِهِمْ، وَتَشْتِيتِ آرَائِهِمْ، مِنْ تَعْظِيمِ الْوَفَاءِ بِالْعُهُودِ، وَقَدْ لَزِمَ ذَلِكَ الْمُشْرِكُونَ فِيمَا بَيْنَهُمْ دُونَ الْمُسْلِمِينَ لِمَا اسْتَوْبَلُوا مِنْ عَوَاقِبِ الْغَدْرِ، فَلاَ تَغْدِرَنَّ

لپاره عذر نهٔ شي کېدې. تل د هغوي د ستونځو او مشکلاتو په فکر کښې اوسه، او له هغوي مخ مه اړوه، په تېره بيا په هغوي کښې د هغو کسانو د چارو ډېر خيال ساته چې د ډېر حقارت په وجه نهٔ ښکاري او خلق يې وارهٔ ګڼي او تا ته د لاسرسۍ چانس هم ډېر کم لري. د دغو کسانو لپاره له خپلو باوري کسانو څخه يو داسې کس چې خدا ے ترسه او خاضع وي اوټاکه چې د هغوي په حقله څېړنه وکړي او د چارو رپوټ يې تا ته درکاندي. نو بيا يې د ستونځو په هواري کښې داسې عمل وکړه چې د خدا ے پاک په نزد عذر اولرلي شې، ځکه چې په عوامو کښې دغه کسان تر نورو زيات عدل او ا نصاف ته ضرورت لري. او د هغوي حق داسې ورکړه چې د خدا ے په نزد معذور شې، د وړو يتيمانو او بوډاګانو چې بله چاره نهٔ لري او چا ته لاس هم نهٔ اوږدوي همېشه خيال ساته ځکه چې د چارواکو په اوږه ډېره لويه دنده پرته ده. که څه هم د ټولو د حق ادا کول درانهٔ دي خو خدا ے تعالی هغه په هغو کسانو باندې چې د قيامت په فکر کښې وي او نفسونه صبر او زغم ته بلي او د خدا ے پاک په وعدو ډاډ او اطمينان لري آسانوي. خپل ځينې وختونه دې هغو کسانو ته بيل کړه چې تا ته اړتيا او حاجت لري چې پخپله يې په چارو غور وکړې او په عامو غونډو کښې ورسره کښېنه،او د هغه خدا ے په وړاندې چې ته يې پنځولے يې خاضع او عاجز اوسه، او خپل عسکر او سپاهيان د هغوي له لارې لرې کړه چې د هغوي ويندو ے او نمائنده بې له څه پرېشانۍ او د ژبې له نښتلو نه بغېر له تا سره خبرې وکړې شي ځکه چې ما د خدا ے له ګران رسوله ﷺ په ځلونو اورېدلي دي چې وې فرمايل«هغه ولس چې بې له څه ويرې او بهانې له زورورو نه د کمزورو حق وانهٔ خلي کامياب به نهٔ شي» نو د هغوي سختې او زيږې خبرې په ځان اوزغمه او بد اخلاقي او کبر له ځانه اوباسه چې خدا ے درته د رحمت دروازې پرانېزي او تا ته د اطاعت بدله درکړي. هغه څه چې خلقو ته ورکوې په ورين تندي يې ورکوه او که له چا څه سپموې (نهٔ ورکوې) په مهربانۍ او بخښنه غوښتلو سره يې سپموه.

## د والي ځانګړي (خاص) اخلاق

ځنيې کارونه داسې دي چې بايد په خپله يې وکړې لکه حکومتي چاروالو ته د ځواب ورکول په هغه ځا ے کښې چې منشيان او سېکتران دې د ځواب له ورکولو پاتې راغلي وي او بله د خلقو د اړتياو او ضرورتونو پوره کول په هماغه ورځ چې تاته يې وړاندې کړي، او يا دې ملګري د هغو په ترسره کولو کښې ناتوانه وي. د هرې ورځې کار په هماغه ورځ کوه ځکه چې هره ورځ ځانته ځانګړې کارونه لري.

تر ټولو ښه وختونه او د شپې ورځې تر ټولو ښې ګړۍ دې د خپل ځان او خدا ے پاک لپاره وګرځوه، که څه هم هر وخت د خدا ے لپاره د ے هله چې نيت صحيح وي او عوام په هوساينه کښې وي. له هغو کارونو چې له خدا ے سره مخصوص دي او بايد په اخلاص سره اوشي د هغو واجباتو ترسره کول دي چې له پروردګار سره ځانګړي دي نو د شپې او ورځې په ځينو برخو کښې خپل ځان د خدا ے پاک عبادت ته ځانګړے کړه او څه

بِذِمَّتِكَ، وَلاَ تَخِيسَنَّ بِعَهْدِكَ، وَلاَ تَخْتِلَنَّ عَدُوَّكَ، فَإِنَّهُ لاَ يَجْتَرِىءُ عَلَى اللهِ إِلاَّ جَاهِلٌ شَقِيٌّ. وَقَدْ جَعَلَ اللهُ عَهْدَهُ وَذِمَّتَهُ أَمْناً أَفْضَاهُ بَيْنَ الْعِبَادِ بِرَحْمَتِهِ، وَحَرِيماً يَسْكُنُونَ إِلَى مَنَعَتِهِ، يَسْتَفِيضُونَ إِلَى جِوَارِهِ، فَلاَ إِدْغَالَ، وَلاَ مُدَالَسَةَ، وَلاَ خِدَاعَ فِيهِ، وَلاَ تَعْقِدْ عَقْداً تَجُوزُ فِيهِ الْعِلَلُ، وَلاَ تُعَوِّلَنَّ عَلَى لَحْنِ الْقَوْلِ بَعْدَ التَّأْكِيدِ وَالتَّوْثِقَةِ، وَلاَ يَدْعُوَنَّكَ ضِيقُ أَمْرٍ لَزِمَكَ فِيهِ عَهْدُ اللهِ، إِلَى طَلَبِ انْفِسَاخِهِ بِغَيْرِ الْحَقِّ، فَإِنَّ صَبْرَكَ عَلَى ضِيقٍ تَرْجُو انْفِرَاجَهُ وَفَضْلَ عَاقِبَتِهِ، خَيْرٌ مِنْ غَدْرٍ تَخَافُ تَبِعَتَهُ، وَأَنْ تُحِيطَ بِكَ مِنَ اللهِ فِيهِ طَلِبَةٌ، لاَتَسْتَقِيلُ فِيهَا دُنْيَاكَ وَلاَ آخِرَتَكَ.

إِيَّاكَ وَالدِّمَاءَ وَسَفْكَهَا بِغَيْرِ حِلِّهَا، فَإِنَّهُ لَيْسَ شَيْءٌ أَدْعَى لِنِقْمَةٍ، وَلاَ أَعْظَمَ لِتَبِعَةٍ، وَلاَ أَحْرَى بِزَوَالِ نِعْمَةٍ، وَانْقِطَاعِ مُدَّةٍ، مِنْ سَفْكِ الدِّمَاءِ بِغَيْرِ حَقِّهَا. وَاللهُ سُبْحَانَهُ مُبْتَدِىءٌ بِالْحُكْمِ بَيْنَ الْعِبَادِ، فِيمَا تَسَافَكُوا مِنَ الدِّمَاءِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، فَلاَ تُقَوِّيَنَّ سُلْطَانَكَ بِسَفْكِ دَمٍ حَرَامٍ، فَإِنَّ ذلِكَ مِمَّا يُضْعِفُهُ وَيُوهِنُهُ، بَلْ يُزِيلُهُ وَيَنْقُلُهُ، وَلاَ عُذْرَ لَكَ عِنْدَ اللهِ وَلاَ عِنْدِي فِي قَتْلِ الْعَمْدِ، لاَنَّ فِيهِ قَوَدَ الْبَدَنِ، وَإِنِ ابْتُلِيتَ بِخَطَإٍ وَأَفْرَطَ عَلَيْكَ سَوْطُكَ [أَوْ سَيْفُكَ] أَوْ يَدُكَ بِعُقُوبَةٍ، فَإِنَّ فِي الْوَكْزَةِ فَمَا فَوْقَهَا مَقْتَلَةً، فَلاَ تَطْمَحَنَّ بِكَ نَخْوَةُ سُلْطَانِكَ عَنْ أَنْ تُؤَدِّيَ إِلَى أَوْلِيَاءِ الْمَقْتُولِ حَقَّهُمْ.
وَإِيَّاكَ وَالإِعْجَابَ بِنَفْسِكَ، وَالثِّقَةَ بِمَا يُعْجِبُكَ مِنْهَا، وَحُبَّ الاْطْرَاءِ، فَإِنَّ ذلِكَ مِنْ أَوْثَقِ فُرَصِ الشَّيْطَانِ فِي نَفْسِهِ، لِيَمْحَقَ مَا يَكُونُ مِنْ إِحْسَانِ الْمُحْسِنِينَ.

وَإِيَّاكَ وَالْمَنَّ عَلَى رَعِيَّتِكَ بِإِحْسَانِكَ، أَوِ التَّزَيُّدَ فِيمَا كَانَ مِنْ فِعْلِكَ، أَوْ أَنْ تَعِدَهُمْ فَتُتْبِعَ مَوْعِدَكَ بِخُلْفِكَ، فَإِنَّ الْمَنَّ يُبْطِلُ الاْحْسَانَ، وَالتَّزَيُّدَ يَذْهَبُ بِنُورِ الْحَقِّ، وَالْخُلْفَ يُوجِبُ الْمَقْتَ عِنْدَاللهِ وَالنَّاسِ، قَالَ اللهُ سُبحانه: ﴿كَبُرَ مَقْتاً عِنْدَ اللهِ أَنْ تَقُولُوا مَا لاَ تَفْعَلُونَ﴾.
[وَ]إِيَّاكَ وَالْعَجَلَةَ بِالاْمُورِ قَبْلَ أَوَانِهَا، أَوِ التَّسَاقُطَ فِيهَا عِنْدَ إِمْكَانِهَا، أَوِ اللَّجَاجَةَ فِيهَا إِذَا تَنَكَّرَتْ، أَوِ الْوَهْنَ عَنْهَا إِذَا اسْتَوْضَحَتْ، فَضَعْ كُلَّ أَمْرٍ مَوْضِعَهُ، وَأَوْقِعْ كُلَّ عَمَلٍ مَوْقِعَهُ.

چې تا خداے پاک ته نزدې کوي بې عېبه او بې نیمګړتیا یې ترسره کړه. که څه هم بدن دې ستړے شي. او کله چې د جَمعې نمونځ ورکوې مه یې دومره اوږدوه چې خلق بېزاره شي او مه یې داسې (زر زر) کوه چې نمونځ برباد کړې ځکه چې په خلقو کښې ځینې کسان داسې وي چې یا ناجوړه وي یا کومه اړتیا او ضرورت لري. او زهٔ چې کله رسول الله مبارک ﷺ یمن ته لېږلم نو پوښتنه مې ترې وکړه چې خلقو ته نمونځ څنګه ورکړم وې وفرمایل«تر ټولو د کمزوري کس په حد کښې نمونځ ورکوه او په مومنانو مهربانه اوسه»

هیڅکله ځان له خلقو ډېر مه پټوه ځکه چې د لارښوونکو او رهبرانو پټېدل د هغوي د بد اخلاقۍ او د ټولنې له چارو د هغوي د کم خبرۍ نښه ده. له عوامو پټېدل چارواکي په هغه څه باندې له پوهېدلو غړوي چې له هغوي پټ دي. نو لوے کار ورته وړوکے او وړوکے ورته لوے ښکاري. ښکلې ورته بدرنګ او بدرنګ ورته ښکلې بریښي،او باطل ورته د حق په جامه کښې ځرګندیږي. بې له شکه چې چارواکي له هغه څه چې خلق یې ترې پټوي نهٔ دي خبر او د حق لپاره هم داسې کومه نښه نشته چې انسان پرې دروغ رښتیا اوپېژني، او تهٔ په هر حال له دغو دوو کسانو یو ډول کس یې، یا دې ځان د خداے پاک په لاره کښې سر ښندنې او قربانۍ ته تیار کړے دے چې په دغه صورت کښې د واجب حق له ورکولو او د نېک کار له کولو څخه نهٔ ویرېږې نو ولې ځان له خلقو پټوې. او یا هم بخیل، شوم او تنګ نظره کس یې. او په دې صورت کښې هم کله چې خلق تا وګوري نو نا امیده به شي او له تا به غوښتنه نهٔ کوي. سره له دې چې د خلقو ډېر ضرورتونه ستا لپاره کړاو او رنځ نهٔ لري چې مثلا یا له ظلمه سر ټکوي یا د انصاف غوښتونکي دي یا په پېر پلور (خرڅولو او اخېستلو) کښې د عدل او انصاف غوښتونکي دي.

## له خپلوانو سره د والي اخلاق

د هر یو والي بیا خپلوان او خاصان وي چې ځان خوښوونکي او تالانګر وي، او په معاملاتو کښې انصاف نهٔ لري، نو د هغوي د اسبابو په غوڅولو سره د هغوي د ظلم جرړه اوچه کړه او خپل هیڅ یو خپل او رشته دار ته ځمکه مه ورکوه، او له هغوي سره داسې سلوک کوه چې کوم تړون او ژمنه د هغوي په ګټه او د اولس په تاوان نهٔ شي، لکه د پټو د پڼه کولو، یا د ګډې کروندې چې لګښت یې په خلقو اوتپي، که دا کار دې وکړ نو ګټه یې د هغوي لپاره او شرم او عیب یې په دنیا او آخرت کښې ستا لپاره دے . حق د حق خاوند ته که نزدې وي او که لرې ورکړه، او په دې کار کښې له صبره کار اخله او دا زغم د خداے په حساب کښې واچوه،که څه هم د حق اجرا ستا خپلوانو ته ستونځې پېدا کړي. نو د هغو د سختیو زغمل د قیامت په یادولو سره په ځان آسان کړه،ځکه چې په دې صورت کښې به یې زغمل درته راحته وي. اوکله چې عوام په تا باندې بدګمانه شي نو خپل عذر ورته ښکاره کړه او په دې طریقه یې

وَإِيَّاكَ وَالْاسْتِئْثَارَ بِمَا النَّاسُ فِيهِ أُسْوَةٌ، وَالتَّغَابِيَ عَمَّا تُعْنَى بِهِ مِمَّا قَدْ وَضَحَ لِلْعُيُونِ، فَإِنَّهُ مَأْخُوذٌ مِنْكَ لِغَيْرِكَ، وَعَمَّا قَلِيلٍ تَنْكَشِفُ عَنْكَ أَغْطِيَةُ الْأُمُورِ، وَيُنْتَصَفُ مِنْكَ لِلْمَظْلُومِ، امْلِكْ حَمِيَّةَ أَنْفِكَ، وَسَوْرَةَ حَدِّكَ، وَسَطْوَةَ يَدِكَ، وَغَرْبَ لِسَانِكَ، وَاحْتَرِسْ مِنْ كُلِّ ذلِكَ بِكَفِّ الْبَادِرَةِ، وَتَأْخِيرِ السَّطْوَةِ، حَتَّى يَسْكُنَ غَضَبُكَ فَتَمْلِكَ الْاخْتِيَارَ، وَلَنْ تَحْكُمَ ذلِكَ مِنْ نَفْسِكَ حَتَّى تُكْثِرَ هُمُومَكَ بِذِكْرِ الْمَعَادِ إِلَى رَبِّكَ. وَالْوَاجِبُ عَلَيْكَ أَنْ تَتَذَكَّرَ مَا مَضَى لِمَنْ تَقَدَّمَكَ: مِنْ حُكُومَةٍ عَادِلَةٍ، أَوْ سُنَّةٍ فَاضِلَةٍ، أَوْ أَثَرٍ عَنْ نَبِيِّنَا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ أَوْفَرِيضَةٍ فِي كِتَابِ اللهِ، فَتَقْتَدِيَ بِمَا شَاهَدْتَ مِمَّا عَمِلْنَا بِهِ فِيهَا، وَتَجْتَهِدَ لِنَفْسِكَ فِي اتِّبَاعِ مَا عَهِدْتُ إِلَيْكَ فِي عَهْدِي هذَا، وَاسْتَوْثَقْتُ بِهِ مِنَ الْحُجَّةِ لِنَفْسِي عَلَيْكَ، لِكَيْلاَ تَكُونَ لَكَ عِلَّةٌ عِنْدَ تَسَرُّعِ نَفْسِكَ إِلَى هَوَاهَا. وَأَنَا أَسْأَلُ اللهَ بِسَعَةِ رَحْمَتِهِ، وَعَظِيمِ قُدْرَتِهِ عَلَى إِعْطَاءِ كُلِّ رَغْبَةٍ، أَنْ يُوَفِّقَنِي وَإِيَّاكَ لِمَا فِيهِ رِضَاهُ مِنَ الْاقَامَةِ عَلَى الْعُذْرِ الْوَاضِحِ إِلَيْهِ وَإِلَى خَلْقِهِ، مَعَ حُسْنِ الثَّنَاءِ فِي الْعِبَادِ، وَجَمِيلِ الْأَثَرِ فِي الْبِلاَدِ، وَتَمَامِ النِّعْمَةِ، وَتَضْعِيفِ الْكَرَامَةِ، وَأَنْ يَخْتِمَ لِي وَلَكَ بِالسَّعَادَةِ وَالشَّهَادَةِ، إِنَّا إِلَيْهِ رَاغِبُونَ، وَالسَّلاَمُ عَلَى رَسُولِ اللهِ كَثِيراً. والسلام

بدگماني لرې کړه ځکه چې دا کار ستا د خودسازۍ لپاره يو مشق او له رعيت سره مهرباني ده او ستا دا بخښنه غوښتل به هغوي حق ته اورسوي.

### له دښمن سره سلوک

هيڅکله د د ښمن له لورې د صلحې وړانديز چې د خدای رضا پکښې وي مه ردوه، ځکه چې په صلح کښې ستا جنګيالي سوکاله کېږي، هيواد پرامنه کېږي او ستا فکر قراريږي. خو پام کوه پام او له صلحې او روغې جوړې وروسته له خپل دښمنه خبردار اوسه، ځکه چې کله کله دښمن نژدې کېږي چې تا غافله کړي (او په ناخبرۍ کښې دې اوهي)، نو لر فکرے او دوراندېش اوسه او خپل حسن ظن او ښهٔ ګمان دې يوې خوا ته کېږده «په دښمن هميشه بدګمانه اوسه» اوس نو که ستا او د دښمن په مينځ کښې تړون (معاهده) اوشو يا دې په خپله لمنه کښې هغهٔ ته پناه ورکړه نو په خپلې ژمنې وفادار اوسه او په هغه څه چې عهد دې کړے دے امانت داره، او خپل ځان د خپل تړون ډال وګرځوه، ځکه چې د خدای يوه فريضه هم په وعدې د وفا تر حده نهٔ ده. او د نړۍ ټول خلق له ټولو فکري اختلافاتو سره سره په دې خبره يوه خوله دي. تر دې چې د جاهليت د وخت مشرکان به هم په هغه عهد او تړون چې له مسلمانانو سره به يې کوهٔ وفاداره پاتې کېدل ځکه چې د تړون (معاهدې) ماتولو بدې پايلې يې اوزمائلې. نو هيڅکله تړون مه ماتوه، او په خپله ژمنه کښې خيانت مه کوه او دښمن مه غولوه. ځکه چې بې له بدکاره ناپوهه بل څوک په خدای داسې تېرے او ګستاخي نهٔ کوي. خدای تعالی هغه تړون چې د هغه په نامه ترسره کېږي په خپل رحمت سره د بندګانو د هوساينې او سوکالۍ سبب او د پناه غوښتونکو لپاره امن پناه ځاے ګرځولے دے. چې ټول د هغه امن حريم ته داخل شي.

نو په عهد او تړون کښې نهٔ فساد شته نهٔ خيانت او نهٔ دهوکه، پام چې داسې تړون او لوظنامه لاس ليک نهٔ کړې چې د دهوکې او درغلۍ لپاره پکې لاره موجوده وي او په تړون ليک کښې له ټېنګتيا او پوخوالي وروسته له پلمې او بهانې جوړولو لاس واخله داسې نهٔ وي چې د هغه تړون او لوظنامې ستونځې او مشکلات چې خدای ستا په غاړه اچولې او تهٔ يې پرې ژمن کړے يې لوظ او تړون ماتولو ته اړ کړي ځکه چې په تړونونو کښې په مشکلاتو صبر چې په راتلونکي وخت کښې د کاميابۍ زيرے لري تر پيمان شکنۍ او لوظ ماتونې غوره دے چې له سزا يې هم ويرېږې او په دنيا او آخرت کښې د تړون ماتولو ځواب نهٔ شې ورکولې.

### خبرداري

### د ناحقه وينې په تويولو خبردارے

د وينې له تويولو ډډه کوه او د ناحقې وينې خيال ساته ځکه چې بل هيڅ يو څيز د ناحقه وينې هومره د خدای کېفر نهٔ نژدې کوي، د هغهٔ سزا نهٔ زياتوي، نعمتونو ختمولو ته چټکتيا نهٔ ورکوي او د حکومت زوال نهٔ

نژدې کوي. د قيامت په ورځ به خدای پاک د بندګانو د عملونو له حساب کتابه مخکې د ناحقه وينو د توئېدو قضاوت کوي، نو د ناحقې وينې په تويولو سره د خپل حکومت د مضبوطولو کوشش مه کوه ځکه چې ناحقه وينه د حکومت ستنې سستوي او کمزورې کوي يې،او بنسټ او بنياد يې کني او بل چاته يې ورکوي. او ته به نه زما په نزد او نه به د خدای په در کښې د ناحقه وينو لپاره کوم عذر ونه لرې ځکه چې سزا يې قصاص ده او تېښته ترې نشته. نو که په ناحقه دې د چا وينه توې کړه يا دې په کوړې، متروکې، توره يا لاس سره په چا باندې زياتے وکړ ( او د هغو له کبله په خطا سره څوک ووژلے شو چې کله کله يو سوک هم يو کس وژني ) نو داسې نۀ شي چې د قدرت غرور تا د مقتول پاتې کسانو ته د ديې او خون بها له ورکولو اوغړوي!

## له کبر او غروره خبردارے

پام چې په کبر او ځان خوښونې اخته نۀ شې! او په خپلو ښېګړو باندې ډاډه نۀ شې او په چاپلوسۍ خوښ نۀ شې، ځکه چې دا په تا باندې د شېطان د يرغل لپاره ډېر ښه فرصتونه دي او د نېکانو نېک کارونه تباه کوي.

## په چا احسان مه اړوه

پام چې کوم خدمتونه خلقو ته کوې په هغو پرې احسان وانۀ روې، يا چې دې څه کړې دي هغه لوې نۀ کړې يا دا چې له خلقو سره وعده وکړې او بيا يې پوره نۀ کړې، احسان اړول د نيکۍ بدله له مېنځه اوړي او د يو کار لوے ګڼل د حق رڼا مړه کوي او د وعدې خلاف ورزي د خدای او خلقو غصه راپاروي ځکه چې لوی خدای فرمايلې دي:«د خدای په نزد لويه دښمني دا چې يو څه ووائې او بيا پرې عمل ونۀ کړې»

## بيړه مه کوه

پام چې په هغه کار کښې چې وخت يې نۀ وي رسېدلے بيړه او تلوار ونۀ کړې! يا په هغه کار کښې چې وخت يې رسېدلے وي لټي ونۀ کړې، يا په هغه څيز کښې چې «حقيقت يې» څرګند نۀ وي جنګ او اختلاف ونۀ کړې،او په روښانه او څرګندو کارونو کښې کوتاهي ونۀ کړې! هڅه کوه چې هر کار په خپل ځاے او په خپل مخصوص وخت کښې وکړې.

## امتيازونه او عنوانونه مه غواړه

پام چې هيڅکله په هغه څه کښې چې له خلقو سره برابر يې امتياز (کريډټ) وانۀ خلې، او له هغو چې ټولو ته روښانه دي غفلت اونۀ کړې ځکه چې په هر حال په هغه کښې د خلقو په وړاندې ذمه وار يې، ډېر زر به له کارونو پرده هسکه شي او د مظلوم بدله به له تا واخېستل شي. د کبر هوا دې، د غصې او قهر خوټکېدل دې،د لاس تېرے دې او د ژبې تندوالے دې پيزواني او کنټرول کړه او له تلوار او وارخطائۍ په ډډه کولو او د غصې په ځنډلو سره ځان قرارکړه چې غصه دې سړه شي او د نفس اختيار دې په خپل لاس کښې راشي. او په خپل نفس به واکمن نۀ شې مګر دا چې قيامت او خدای پاک ته جاروتل ډېر ياد کړې، په تا

باندې واجبه ده چې د تېرو خلقو عادلانه حکومتونه، د پخوانیو ارزښتناک دودونه، د تللیو خوښې رودې او رواجونه، د پېغمبراکرمﷺ نښې نښانې او هغه واجبات چې د خدای په کتاب کښې راغلي دي تل یاد وساتې، او د هغه څه چې مونږ پرې عمل کړے دے پېروي وکړې، او د دغه ژمن لیک (عهدنامې) چې درلیکلې مې ده او غاړه مې په تا خلاصه کړې ده د اوامرو په پیروۍ کښې هڅه وکړه، ځکه چې که نفس سرکښي وکړه او په تا لاسبرے شو نو زما په نزد به عذر اونۀ لرې. له لوے خدایه د ټولو غوښتنو په ترسره کولو کښې د هغۀ د پراخ رحمت او لوړ قدرت غوښتنه کوو چې ما او تا ته د هغه څه توفیق راکړي چې په هغه څه چې د هغۀ رضا پکښې ده عمل وکړوو او مونږ ته توفیق راکړي چې د هغۀ په نزد او د مخلوق په نزد روښانه عذر ولروو او په هغې یادګیرنې او ستائنې سره چې خلق یې زمونږ له نیکیو څخه کوي او په هغو غوره او صالحو اثراتو سره چې له مونږه په ښارونو کښې پاتې کیږي خپل نعمتونه دې په مونږ تمام کړي او دوه چنده عزت او کرامت دې زمونږ په برخه کړي او دا چې زما او ستا خاتمه په شهادت او کامیابۍ سره اوشي بېشکه چې مونږ به د هغۀ په لور جاراوځوو. او درود او سلام دې وي د خدای په ګران رسولﷺ او د هغۀ په پاک او پاکیزه آلؑ باندې. والسلام.

## [ ٥٤ ]

إِلَى طَلْحَةَ وَالزُّبَيْرِ، مَعَ عِمْرَانَ بْنِ الْحُصَيْنِ الْخُزَاعِيِّ

وَقَدْ ذَكَرَهُ أَبُو جَعْفَرٍ الإِسْكَافِيُّ فِي كِتَابِ الْمَقَامَاتِ:

أَمَّا بَعْدُ، فَقَدْ عَلِمْتُمَا، وَإِنْ كَتَمْتُمَا، أَنِّي لَمْ أُرِدِ النَّاسَ حَتَّى أَرَادُونِي، وَلَمْ أُبَايِعْهُمْ حَتَّى بَايَعُونِي، وَإِنَّكُمَا مِمَّنْ أَرَادَنِي وَبَايَعَنِي، وَإِنَّ الْعَامَّةَ لَمْ تُبَايِعْنِي لِسُلْطَانٍ غَاصِبٍ، وَلاَ لِعَرَضٍ حَاضِرٍ، فَإِنْ كُنْتُمَا بَايَعْتُمَانِي طَائِعَيْنِ، فَارْجِعَا وَتُوبَا إِلَى اللهِ مِنْ قَرِيبٍ، وَإِنْ كُنْتُمَا بَايَعْتُمَانِي كَارِهَيْنِ، فَقَدْ جَعَلْتُمَا لِي عَلَيْكُمَا السَّبِيلَ بِإِظْهَارِكُمَا الطَّاعَةَ، وَإِسْرَارِكُمَا الْمَعْصِيَةَ، وَلَعَمْرِي مَا كُنْتُمَا بِأَحَقِّ الْمُهَاجِرِينَ بِالتَّقِيَّةِ وَالْكِتْمَانِ، وَإِنَّ دَفْعَكُمَا هذَا الأَمْرَ مِنْ قَبْلِ أَنْ

## ﴿ څلور پنځوسم لیک ﴾

«طلحه او زبیر ته لیک چې ابو جعفر اسکافي[۱۲۲] هغه د امیرالمومنین د فضائلو په برخه کښې په مقامات نومې کتاب کې راوړے دے چې د هجرت په شپږ دېرشم کال لیکل شوے او د عمران بن حصین په وسیله استول شوے دے»

### د جمل د خاوندانو دعوو ته ځواب

د خدایے له یاد او دروده وروسته! تاسو پوهېږئ- که څه هم پټوئ یې- چې زۀ د حکومت لپاره په خلقو پسې نۀ یم تللے بلکه هغوي په ما پسې راغلي دي او ما له هغوي څخه بیعت اونۀ غوښت بلکه هغوي خپله له ماسره بیعت وکړ او تاسو دواړه هغه کسان وئ چې ما ته راغلئ او بیعت مو وکړ. بې له شکه عامه خلقو له ماسره د یو زورور باچا په وجه بیعت اونۀ کړ او نۀ د دنیا د مال د لاسته راوړلو لپاره. که تاسو په خپله خوښه بیعت کړے وي نو لا ناوخته شوے نۀ دے (چې د بیعت ماتونې له لارې ستانه شئ) او د خدایے پاک په درګاه کښې توبه وکړئ اوکه په ناخوښه زړۀ سره مو بیعت کړے وي نو تاسو خپله پوه شئ ځکه چې هم تاسو وئ چې پۀ خپل ځان مو ما ته د حکومت کولو لاره راکړه، اطاعت مو ښکاره کړ او نافرمانی مو پټه اوساتله. په ځان مې قسم! تاسو د خپلې عقیدې د

تَدْخُلاَ فيه، كَانَ أَوْسَعَ عَلَيْكُمَا مِنْ خُرُوجِكُمَا منْهُ، بَعْدَ إِقْرَارِكُمَا بِهِ. وَقَدْ زَعَمْتُمَا أَنِّي قَتَلْتُ عُثْمَانَ، فَبَيْنِي وَبَيْنَكُمَا مَنْ تَخَلَّفَ عَنِّي وَعَنْكُمَا مِنْ أَهْلِ الْمَدينَة، ثُمَّ يُلْزَمُ كُلُّ امْرِىء بِقَدْرِ مَا احْتَمَلَ. فَارْجِعَا أَيُّهَا الشَّيْخَانِ عَنْ رَأْيِكُمَا، فَإِنَّ الْآنَ أَعْظَمَ أَمْرِكُمَا الْعَارُ، مِنْ قَبْلِ أَنْ يَجْتَمِعَ الْعَارُ وَالنَّارُ، وَالسَّلاَمُ.

[ ۵۵ ]

ومنْ كتَاب لَهُ عَلَيْه السَّلاَمُ إِلَى مُعَاوِيَةَ

أَمَّا بَعْدُ، فَإِنَّ اللهَ سُبْحَانَهُ [قَدْ] جَعَلَ الدُّنْيَا لِمَا بَعْدَهَا، وَابْتَلَى فِيهَا أَهْلَهَا، لِيَعْلَمَ أَيُّهُمْ أَحْسَنُ عَمَلاً. وَلَسْنَا لِلدُّنْيَا خُلِقْنَا، وَلاَ بِالسَّعْيِ فِيهَا أُمِرْنَا، وَإِنَّمَا وُضِعْنَا فِيهَا لِنُبْتَلَى بِهَا، وَقَدِ ابْتَلاَنِي [اللهُ] بِكَ وَابْتَلاَكَ بِي: فَجَعَلَ أَحَدَنَا حُجَّةً عَلَى الْأُخَرِ، فَعَدَوْتَ عَلَى طَلَبِ الدُّنْيَا بِتَأْوِيلِ الْقُرْآنِ، فَطَلَبْتَنِي بِمَا لَمْ تَجْنِ يَدِي وَلاَ لِسَانِي، وَعَصَيْتَهُ أَنْتَ وَأَهْلُ الشَّامِ بِي، وَأَلَّبَ عَالِمُكُمْ جَاهِلَكُمْ، وَقَائِمُكُمْ قَاعِدَكُمْ. فَاتَّقِ اللهَ فِي نَفْسِكَ، وَنَازِعِ الشَّيْطَانَ قِيَادَكَ، وَاصْرِفْ إِلَى الْآخِرَةِ وَجْهَكَ، فَهِيَ طَرِيقُنَا وَطَرِيقُكَ. وَاحْذَرْ أَنْ يُصِيبَكَ اللهُ مِنْهُ بِعَاجِلِ قَارِعَة تَمَسُّ الْأَصْلَ، وَتَقْطَعُ الدَّابِرَ، فَإِنِّي أُولِي لَكَ بِاللهِ أَلِيَّةً غَيْرَ فَاجِرَة، لَئِنْ جَمَعَتْنِي وَإِيَّاكَ جَوَامِعُ الْأَقْدَارِ لاَ أَزَالُ بِبَاحَتِكَ حَتَّى يَحْكُمَ اللهُ بَيْنَنَا وَهُوَ خَيْرُ الْحَاكِمِينَ.

[ ۵۶ ]

وَصَّى به شُرَيْحَ بْنَ هَانِىء لَمَّا جَعَلَهُ عَلَى مُقَدِّمَته إِلَى الشَّام

اتَّقِ اللهَ فِي كُلِّ صَبَاحٍ وَمَسَاءٍ، وَخَفْ عَلَى نَفْسِكَ الدُّنْيَا الْغَرُورَ، وَلاَ تَأْمَنْهَا عَلَى حَالٍ، وَاعْلَمْ أَنَّكَ إِنْ لَمْ تَرْدَعْ نَفْسَكَ عَنْ كَثِيرٍ مِمَّا تُحِبُّ، مَخَافَةَ مَكْرُوهٍ، سَمَتْ بِكَ الْأَهْوَاءُ إِلَى كَثِيرٍ مِنَ الضَّرَرِ. فَكُنْ لِنَفْسِكَ مَانِعاً رَادِعاً،

پټولو لپاره له نورو مهاجرو زيات وړ نۀ وئ او که د بيعت په شروع کښې موخبره نۀ وه پته کړې (بيعت مو نۀ وي کړې) دا آسانه وه تر دې چې اول بيعت وکړئ او بيا په يو بهانې سره انکاري شئ. تاسو دا خيال کړے دے چې ما عثمان وژلے دے نو دا تاسو او دا زۀ د مدينې خلق رامېنځته کړئ چې په مونږ کښې فېصله وکړي هغه کسان چې نۀ ستاسو پلويان دي او نۀ زما، بيا دې هر يو د هغه جرم په اندازه چې په دغه پېښه کښې يې لرۀ پړه په غاړه واخلي. اے دوو بوډاګانو! څه چې په خيال کښې لرئ راوګرځئ ترې، اوس ستاسو لويه مسئله شرم دے مخکې له دې چې اور او شرم درپورې شی. والسلام

## ﴿ پينځۀ پنځوسم ليک ﴾

«معاويه ته ليک چې د هجرت په اوۀ دېرشم کال د صفين له جنګه مخکې اوليکل شو»

### دښمن ته نصيحت

د خداے له ياد او دروده وروسته! بې شکه خداے دنيا د آخرت لپاره وټاکله او خلق يې په دنيا کښې اوزمائل چې معلومه شي چې څوک زيات نېک عمله دي؟ مونږ يې د دنيا لپاره نۀ يوو پنځولي او نۀ يې امرکړے دے چې په دنيا کښې هڅه وکړوو راغلي يوو چې اوزمويلې شوو او په رښتيا چې خداے پاک زۀ په تا او تۀ په ما باندې اوزمائلو. او په يو بل باندې يې حجت وټاکلو. نو تا د دنيا په غلط تاويل سره دنيا ته مخه کړه او هغه څه له ما غواړې چې زما لاس او ژبه پرې هيڅکله ککړه شوې نۀ ده (د حضرت عثمان وژله) تا او د شام خلقو دغه دروغ جوړ کړل او په ما مو تور اولګوۀ چې ستاسو پوه کسان، ناپوه خلق او ولاړ کسان مو ناست خلق زما په خلاف راپاڅوي. اے معاويه! له خدايه اويرېږه او له شېطان سره چې ستا جلب يې نيولے اوجنګېږه او مخ دې آخرت ته واړوه چې هم ستا لاره ده او هم زما او له هغه خدايه اويرېږه چې ډېر زر به په ځپونکې بلا ستا جرړه غوڅه کړي او نسل به دې اوچ کړي. ستا لپاره په خداے قسم خورم داسې قسم چې وفادار يم پرې، که زماني زۀ او تۀ سره يو ځاے کړوو نو هماغه شان به ستا په لاره کښې ولاړ يم (مخه به دې نيسم) تردې چې خداے زمونږ په مېنځ کښې فېصله وکړي او خداے ډېر ښۀ فېصله کوونکے دے)

## ﴿ شپږ پنځوسم ليک ﴾

«د سپاهيانو کوماندان شريح بن هاني ته ليک چې د هجرت په شپږ دېرشم کال د شام په لور اوخوځېده»

### د کوماندان اخلاق

هر سحر او ماښام له خدايه ويرېږه، او په ځان باندې د دنيا له دهوکې ويره لره، او هيڅکله له دنيا ځان په امن مه ګڼه پوه شه چې که ځان له هغه څه چې ستا خوښ دي يا دې خوښ نه دي اونۀ غړوې نو هوس به دې

وَلَنَزْوَتِكَ عِنْدَ الْحَفِيظَةِ وَاقِماً قَامِعاً.

[ ٥٧ ]

إِلَى أَهْلِ الْكُوفَةِ عِنْدَ مَسِيرِهِ مِنَ الْمَدِينَةِ إِلَى الْبَصْرَةِ

أَمَّا بَعْدُ، فَإِنِّي خَرَجْتُ مِنْ حَيِّي هذَا: إِمَّا ظَالِماً، وَإِمَّا مَظْلُوماً، وَإِمَّا بَاغِياً، وَإِمَّا مَبْغِيّاً عَلَيْهِ. وَأَنَا أُذَكِّرُ اللهَ مَنْ بَلَغَهُ كِتَابِي هذَا لَمَّا نَفَرَ إِلَيَّ، فَإِنْ كُنْتُ مُحْسِناً أَعَانَنِي، وَإِنْ كُنْتُ مُسِيئاً اسْتَعْتَبَنِي.

[ ٥٨ ]

إِلَى أَهْلِ الْأَمْصَارِ يَقْتَصُّ فِيهِ مَا جَرَى بَيْنَهُ وَبَيْنَ أَهْلِ صِفِّينَ

وَكَانَ بَدْءُ أَمْرِنَا أَنَّا الْتَقَيْنَا وَالْقَوْمُ مِنْ أَهْلِ الشَّامِ، وَالظَّاهِرُ أَنَّ رَبَّنَا وَاحِدٌ، وَنَبِيَّنَا وَاحِدٌ، وَدَعْوَتَنَا فِي الْإِسْلَامِ وَاحِدَةٌ، لَا نَسْتَزِيدُهُمْ فِي الْإِيمَانِ بِاللهِ وَالتَّصْدِيقِ بِرَسُولِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَلَا يَسْتَزِيدُونَنَا، الْأَمْرُ وَاحِدٌ، إِلَّا مَا اخْتَلَفْنَا فِيهِ مِنْ دَمِ عُثْمَانَ، وَنَحْنُ مِنْهُ بَرَاءٌ! فَقُلْنَا: تَعَالَوْا نُدَاوِ مَا لَا يُدْرَكُ الْيَوْمَ بِإِطْفَاءِ النَّائِرَةِ، وَتَسْكِينِ الْعَامَّةِ، حَتَّى يَشْتَدَّ الْأَمْرُ وَيَسْتَجْمِعَ، فَنَقْوَى عَلَى وَضْعِ الْحَقِّ مَوَاضِعَهُ. فَقَالُوا: بَلْ نُدَاوِيهِ بِالْمُكَابَرَةِ! فَأَبَوْا حَتَّى جَنَحَتِ الْحَرْبُ وَرَكَدَتْ، وَوَقَدَتْ نِيرَانُهَا وَحَمِشَتْ. فَلَمَّا ضَرَّسَتْنَا وَإِيَّاهُمْ، وَوَضَعَتْ مَخَالِبَهَا فِينَا وَفِيهِمْ، أَجَابُوا عِنْدَ ذلِكَ إِلَى الَّذِي دَعَوْنَاهُمْ إِلَيْهِ، فَأَجَبْنَاهُمْ إِلَى مَا دَعَوْا، وَسَارَعْنَاهُمْ إِلَى مَا طَلَبُوا، حَتَّى اسْتَبَانَتْ عَلَيْهِمُ الْحُجَّةُ، وَانْقَطَعَتْ مِنْهُمُ الْمَعْذِرَةُ. فَمَنْ تَمَّ عَلَى ذلِكَ مِنْهُمْ فَهُوَ الَّذِي أَنْقَذَهُ اللهُ مِنَ الْهَلَكَةِ، وَمَنْ لَجَّ وَتَمَادَى فَهُوَ الرَّاكِسُ الَّذِي رَانَ اللهُ عَلَى قَلْبِهِ، وَصَارَتْ دَائِرَةُ السَّوْءِ عَلَى رَأْسِهِ.

[ ٥٩ ]

إِلَى الْأَسْوَدِ بْنِ قُطْبَةَ صَاحِبِ جُنْدِ حُلْوَانَ

ډېر تاوان ته راکاږي نو بس خپل نفس تم کانده او وي ساته او د قهر او غصې په وخت په خپل نفس پرېکنده او واکمن اوسه.

## ﴿ اوهٔ پنځوسم ليک ﴾

«د هجرت په شپږ دېرشم کال د کوفې خلقو ته ليک کله چې له مدينې څخه د بصرې په لور اوخوځېدهٔ»

### جهاد ته د خلقو د هڅولو روده

د خداے له نوم او له درود او سلام نه وروسته! زهٔ د خپل ژوند کولو له ځاے مدينې څخه راووتم، يا ظالم يم يا مظلوم، يا سرغړوونکے يم يا مې له امره سرغړونه شوې ده. زهٔ هغه کس ته چې دا ليک وړورسېږي خداے وريادوم چې زما په لور اوکوچيږي، که زهٔ يې نېک چارې اوموندم مرسته مې دې وکړي او که ګناهکار وم حق ته مې دې ستون کړي.

## ﴿ اتهٔ پنځوسم ليک ﴾

«د صفين د پېښو د روښانولو لپاره لريو ښارونو ته ليک»

### د صفين جنګ د پېښو وضاحت

خبره له سره داسې وه چې مونږ د شام له خلقو سره مخامخ شوو چې ظاهراً زمونږ رب يو، پېغمبر مو يو او اسلام ته بلنه مو يوه وه. نهٔ مونږ له هغوي اوغوښتل چې په خداے پاک باندې په ايمان او د پېغمبراکرمﷺ په تصديق کښې مو اضافه وکړئ او نهٔ هغوي له مونږه وغوښتل.خبره مو يوه وه مګر د عثمان په وژله کښې چې مونږ ترې بري يوو. نو هغوي ته مو وويل: راځئ چې د جنګ د اور په مړولو او د خلقو په غلې کولو سره يوه چاره اولټوو. چې د مسلمانانو کار مضبوط شي او يووالے راشي. او مونږ د عدل او انصاف د اجرا لپاره پياوړي شوو. خو شاميانو وويل:«بې له جنګه بله چاره نهٔ لرو» نو «زمونږ له حق وړانديزه څخه بې» سر اوغړاوهٔ او جنګ اونښتهٔ او روان ؤ او اور يې لمبې وکړې. نو کله چې د اور غاښونو مونږ او هغوي واړلو او منګولې او پنجې يې راکې سختې ښخې شوې نو زمونږ بلنې«صلحی او خبرو ته يې» غاړه کېښوده او هغه څه ته مو چې بللې وو ځواب يې راکړ، نو مونږ يې هم بلنه اومنله او څه چې يې غوښتل زر مو اومنل چې غاړه پرې خلاصه کړوواو د عذر او بهانې لاره وربنده کړوو.دغه وخت چې څوک په خپل تړون ژمن پاتې شول له تباهۍ اوژغورل شول او چا چې په خپل ضد ټينګار وکړ خداے پاک يې په زړهٔ باندې د جهالت پرده خوره کړه.او په سر يې ورته توره بلا او مصيبت وراوچوهٔ.

## ﴿ نههٔ پنځوسم ليک ﴾

«د حلوان (د عراق په جنوب کښې د ايران يو وړوکے ښار) د لښکر کوماندان اسود بن قطبه ته ليک»

أَمَّا بَعْدُ، فَإِنَّ الْوَالِيَ إِذَا اخْتَلَفَ هَوَاهُ مَنَعَهُ ذلِكَ كَثِيراً مِنَ الْعَدْلِ، فَلْيَكُنْ أَمْرُ النَّاسِ عِنْدَكَ فِي الْحَقِّ سَوَاءً، فَإِنَّهُ لَيْسَ فِي الْجَوْرِ عِوَضٌ مِنَ الْعَدْلِ، فَاجْتَنِبْ مَا تُنْكِرُ أَمْثَالَهُ، وَابْتَذِلْ نَفْسَكَ فِيمَا افْتَرَضَ اللهُ عَلَيْكَ، رَاجِياً ثَوَابَهُ، وَمُتَخَوِّفاً عِقَابَهُ. وَاعْلَمْ أَنَّ الدُّنْيَا دَارُ بَلِيَّةٍ لَمْ يَفْرُغْ صَاحِبُهَا قَطُّ فِيهَا سَاعَةً إِلاَّ كَانَتْ فَرْغَتُهُ عَلَيْهِ حَسْرَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ،أَنَّهُ لَنْ يُغْنِيَكَ عَنِ الْحَقِّ شَيْءٌ أَبَداً، وَمِنَ الْحَقِّ عَلَيْكَ حِفْظُ نَفْسِكَ، وَالاْحْتِسَابُ عَلَى الرَّعِيَّةِ بِجُهْدِكَ، فَإِنَّ الَّذِي يَصِلُ إِلَيْكَ مِنْ ذلِكَ أَفْضَلُ مِنَ الَّذِي يَصِلُ بِكَ، وَالسَّلاَمُ.

### د کوماندانۍ ذمه واري

د خداے له یاد او له درودو وروسته! که د چارواکي فکر ګډوډ شي نو په ډېرو ځیزونو کښې به له عدل او انصافه غړوي نو باید په هغه څه کښې چې حق دے د خلقو چارې باید تا ته یو شان وي. ځکه چې په ظلم کښې د عدل لپاره هیڅ قیمت نشته. له هغه څه چې هغه شان د نورو لپاره نهٔ خوښوې ډډه وکړه او خپل نفس په داسې حال کښې چې د خداے انعام ته هیله من او امیدوار یې او له سزا یې ویره لرې د هغه څه کولو ته چې خداے په تا فرض کړي دي اړباسه. پوه شه چې دنیا د ازمېښت کور دے او دنیا پرست یوه شیبه هم سوکاله نهٔ وي، بې له دې چې د قیامت په ورځ په هغه افسوس کوي او هیڅځ تا له حقه نهٔ شي بې نیازه کولی. او په تا باندې یو حق دا دے چې د خپل نفس ساتندویه شې او د خپل وس مطابق د رعایا په چارو کښې هڅه وکړې، ځکه هغه څه چې له دې لارې تا ته نصیب کېږي تر هغه بدني ځواکه چې په دې لاره کښې یې ورکړې غوره دي.

[ ٦٠ ]

إِلَى الْعُمَّالِ الَّذِينَ يَطَأُ عَمَلَهُمُ الْجَيْشُ

مِنْ عَبْدِ اللهِ عَلِيٍّ أَمِيرِ الْمُؤْمِنِينَ إِلَى مَنْ مَرَّ بِهِ الْجَيْشُ مِنْ جُبَاةِ الْخَرَاجِ وَعُمَّالِ الْبِلاَدِ.

أَمَّا بَعْدُ، فَإِنِّي قَدْ سَيَّرْتُ جُنُوداً هِيَ مَارَّةٌ بِكُمْ إِنْ شَاءَ اللهُ، وَقَدْ أَوْصَيْتُهُمْ بِمَا يَجِبُ لله عَلَيْهِمْ مِنْ كَفِّ الأَذَى، وَصَرْفِ الشَّذَى، وَأَنَا أَبْرَأُ إِلَيْكُمْ وَإِلَى ذِمَّتِكُمْ مِنْ مَعَرَّةِ الْجَيْشِ، إِلاَّ مِنْ جَوْعَةِ الْمُضْطَرِّ، لاَ يَجِدُ عَنْهَا مَذْهَباً إِلَى شِبَعِهِ. فَنَكِّلُوا مَنْ تَنَاوَلَ مِنْهُمْ [شَيْئاً] ظُلْماً عَنْ ظُلْمِهِمْ، وَكُفُّوا أَيْدِيَ سُفَهَائِكُمْ عَنْ مُضَادَّتِهِمْ، وَالتَّعَرُّضِ لَهُمْ فِيمَا اسْتَثْنَيْنَاهُ مِنْهُمْ، وَأَنَا بَيْنَ أَظْهُرِ الْجَيْشِ، فَارْفَعُوا إِلَيَّ مَظَالِمَكُمْ، وَمَارَاكُمْ مِمَّا يَغْلِبُكُمْ مِنْ أَمْرِهِمْ، وَلاَ تُطِيقُونَ دَفْعَهُ إِلاَّ بِاللهِ وَبِي، أُغَيِّرْهُ بِمَعُونَةِ اللهِ، إِنْ شَاءَ اللهُ.

## ﴿ شپېتم لیک ﴾

«هغو والیانو ته چې لښکر یې له ښارونو تېرېږي لیک»

### په فوځي مشقونو کښې د اوړېدونکو تاوانونو تلافي

د خداے د بنده امیرالمومنین لخوا د هغو ښارونو چې لښکریان ترې تېرېږي د مالیاتو راغونډوونکو او ګورنرانو ته. د خداے پاک له یاد او درودو وروسته! ما یو لږ سپاهیان درلېږلي دي چې په تاسو به تېر شي او هغه څه چې خداے په هغوي باندې واجب کړي هغوي ته مې یې سپارښتنه کړې ده او د نورو خلقو په نهٔ ځورولو او له هر ډول ورانکارۍ څخه په ډډه کولو مې ورته پخلے کړے دے. او زهٔ ستاسو په نزد او په هغه تړون سره چې له تاسو سره یې لرم خلقو ته د سپاهیانو لخوا له ازار رسولو بېزاره یم. مګر دا چې که لوږه یو عسکر مجبور کړي او د لوږې د ختمولو لپاره بله چاره اونهٔ لري. نو که څوک ظلم وکړي سزا یې کړئ. او لښکریانو ته خپلو سفیهانو او کم عقلو کسانو د ازار رسولو مخه اونیسئ مګر په هغه موردونو کښې چې استثنا مې کړل. زهٔ له سپاهیانو وروسته درروان یم خپل شکایتونه ما ته راورسوئ.او په هغوځیزونو کښې چې لښکریانو په تاسو تېرے کړے دے او بې زما او خداے له طاقته د هغوي د تمبولو وس نه لرئ ما ته رجوع وکړئ چې د خداے پاک په مرسته به یې درځیني لرې کړم. ان شاء الله.

[ ٦١ ]

إِلَى كُمَيْلِ بْنِ زِيَادٍ النَّخَعِيِّ عَامِلِهِ عَلَى هِيتَ

يُنْكِرُ عَلَيْهِ تَرْكَهُ دَفْعَ مَنْ يَجْتَازُ بِهِ مِنْ جَيْشِ الْعَدُوِّ طَالِباً الْغَارَةَ

أَمَّا بَعْدُ، فَإِنَّ تَضْيِيعَ الْمَرْءِ مَا وُلِّيَ، وَتَكَلُّفَهُ مَا كُفِيَ، لَعَجْزٌ حَاضِرٌ، وَرَأْيٌ مُتَبَّرٌ، وَإِنَّ تَعَاطِيَكَ الْغَارَةَ عَلَى أَهْلِ قِرْقِيسِيَا،

## ﴿ یو شپېتم لیک ﴾

«د هیت[123] ګورنر کمېل بن زیاد نخعي[124] ته لیک او د شام د یرغلګرو له لښکر سره له مقابلې څخه په ډډه کولو د هغهٔ غندنه»

د خداے له یاد او درودو وروسته! په هغو کارونو کښې سستي چې انسان ته سپارل شوي دي او په هغه کار ټینګار او اصرار چې د هغهٔ له ذمه وارۍ بهر دي د ښکاره بې وسۍ او د ورانکارۍ فکر نښنه ده. ستا

وَتَعْطِيلَكَ مَسَالِحَكَ الَّتِي وَلَّيْنَاكَ ـ لَيْسَ بِهَا مَنْ يَمْنَعُهَا، وَلاَ يَرُدُّ الْجَيْشَ عَنْهَا ـ لَرَأْيٌ شَعَاعٌ. فَقَدْ صِرْتَ جِسْراً لِمَنْ أَرَادَ الْغَارَةَ مِنْ أَعْدَائِكَ عَلَى أَوْلِيَائِكَ غَيْرَ شَدِيدِ الْمَنْكِبِ، وَلاَ مَهِيبِ الْجَانِبِ، وَلاَ سَادٍّ ثُغْرَةً، وَلاَ كَاسِرٍ لِعَدُوٍّ شَوْكَةً، وَلاَ مُغْنٍ عَنْ أَهْلِ مِصْرِهِ، وَلاَ مُجْزٍ عَنْ أَمِيرِهِ.

[ ٦٢ ]

إِلَى أَهْلِ مِصْرَ مَعَ مَالِكٍ الأَشْتَرِ لَمَّا وَلاَّهُ إِمَارَتَهَا

أَمَّا بَعْدُ، فَإِنَّ اللهَ سُبْحَانَهُ بَعَثَ مُحَمَّداً صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ نَذِيراً لِلْعَالَمِينَ، وَمُهَيْمِناً عَلَى الْمُرْسَلِينَ. فَلَمَّا مَضَى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ تَنَازَعَ الْمُسْلِمُونَ الأَمْرَ مِنْ بَعْدِهِ، فَوَاللهِ مَا كَانَ يُلْقَى فِي رُوعِي، وَلاَ يَخْطُرُ بِبَالِي، أَنَّ الْعَرَبَ تُزْعِجُ هذَا الأَمْرَ مِنْ بَعْدِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ عَنْ أَهْلِ بَيْتِهِ، وَلاَ أَنَّهُمْ مُنَحُّوهُ عَنِّي مِنْ بَعْدِهِ! فَمَا رَاعَنِي إِلاَّ انْثِيَالُ النَّاسِ عَلَى فُلاَنٍ يُبَايِعُونَهُ، فَأَمْسَكْتُ يَدِي حَتَّى رَأَيْتُ رَاجِعَةَ النَّاسِ قَدْ رَجَعَتْ عَنِ الإِسْلاَمِ، يَدْعُونَ إِلَى مَحْقِ دِينِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ فَخَشِيتُ إِنْ لَمْ أَنْصُرِ الإِسْلاَمَ وَأَهْلَهُ أَنْ أَرَى فِيهِ ثَلْماً أَوْ هَدْماً، تَكُونُ الْمُصِيبَةُ بِهِ عَلَيَّ أَعْظَمَ مِنْ فَوْتِ وِلاَيَتِكُمُ الَّتِي إِنَّمَا هِيَ مَتَاعُ أَيَّامٍ قَلاَئِلَ، يَزُولُ مِنْهَا مَا كَانَ، كَمَا يَزُولُ السَّرَابُ، أَوْ كَمَا يَتَقَشَّعُ السَّحَابُ، فَنَهَضْتُ فِي تِلْكَ الأَحْدَاثِ حَتَّى زَاحَ الْبَاطِلُ وَزَهَقَ، وَاطْمَأَنَّ الدِّينُ وَتَنَهْنَهَ.

ومن هذا الكتاب: إِنِّي وَاللهِ لَوْ لَقِيتُهُمْ وَاحِداً وَهُمْ طِلاَعُ الأَرْضِ كُلِّهَا مَا بَالَيْتُ وَلاَ اسْتَوْحَشْتُ، وَإِنِّي مِنْ ضَلاَلِهِمُ الَّذِي هُمْ فِيهِ وَالْهُدَى الَّذِي أَنَا عَلَيْهِ لَعَلَى بَصِيرَةٍ مِنْ نَفْسِي وَيَقِينٍ مِنْ رَبِّي. وَإِنِّي إِلَى لِقَاءِ اللهِ لَمُشْتَاقٌ، وَلِحُسْنِ ثَوَابِهِ لَمُنْتَظِرٌ رَاجٍ، وَلكِنَّنِي آسَى أَنْ يَلِيَ [أَمْرَ ]هذِهِ الأُمَّةِ سُفَهَاؤُهَا وَفُجَّارُهَا، فَيَتَّخِذُوا مَالَ اللهِ دُوَلاً، وَعِبَادَهُ خَوَلاً، وَالصَّالِحِينَ حَرْباً، وَالْفَاسِقِينَ حِزْباً، فَإِنَّ مِنْهُمُ الَّذِي قَدْ شَرِبَ فِيكُمُ الْحَرَامَ، وَجُلِدَ حَدّاً فِي الإِسْلاَمِ،

لخوا د هغو پولو د ساتنې د پرېښودو په مقابل کښې چې تا ته مې یې ساتنه سپارلې وه او هلته څوک نشته چې ساتنه یې وکړي او دښمن له پولو لرې کړي- د «قرقیسا» د خلقو چورول یو غلط فکر دے ته یو پل شوې چې دښمنان پرې تېر او ستا په دوستانو تېرے وکړي. نۀ طاقت لرې چې درسره اوجنګېږي او نۀ هیبت لرې چې درځنې اویرېږي او اوتښتیږي. نۀ پولې ساتلې شې او نۀ د دښمن برم ماتولے شې. نۀ د خپلو خلقو ضرورتونه پوره کولې شې او نۀ خپل امام راضي ساتلے شې.

## ﴿دوه شپېتم لیک﴾

«د مصر خلقو ته لیک سره د مالک اشتره چې د هجرت په اتۀ دېرشم کال اولېږل شو»

### په خلافت کښې د امام مظلومیت

د خداے پاک له یاد او درووده وروسته! خداے تعالی حضرت محمد (ص) مبعوث کړ چې نړیوالو ته خبردارے ورکوونکے او له ځانه د مخکې پېغمبرانو ګواه وي. نو کله چې پېغمبر اکرمﷺ له دنیا لاړ منونکي یې د خلافت په کار کښې سره وران شول. په خداے قسم! نۀ مې په فکر کښې وه او نۀ مې په خیال کې راتلۀ چې عرب به له رسول الله مبارکﷺ وروسته خلافت د هغۀ له اهلبیتو علیهم السلام اوسپموي یا به ما له هغه حضرته وروسته د حکومت له اخېستلو اوغړوي. یوائېنے څیز چې اندیښمن یې کړم د پلانکي سړي په لور د خلقو ورځغلېدل وو چې له هغۀ سره یې بیعت وکړ. ما لاس راکښو.تر دې چې اومې لیدل ځینې له دینه ستون شویو کسانو د حضرت محمدﷺ د دین تباهۍ ته ملا تړلې ده نو اویرېدم چې که د اسلام او مسلمانانو مرسته اونۀ کړم ښائي دین کښې رخنه پېدا شي یا ختم شي چې د دې مصیبت ما ته په تاسو باندې د حکومت له پرېښودلو لوے دے هغه حکومت چې د دنیا د څو ورځو سامان دے او ورځې یې ډېرې زر تېرېږي. داسې لکه سراب چې ورکېږي یا د وریځو ټوټې خپرېږي. نو په دغه غوغا کښې پاڅېدم تر دې چې باطل له مینځه لاړ او دین کلک او قرار شو.

### د امام مېړانه

په خداے قسم که له دښمنانو سره په یوائې ځان مخامخ شم او هغوي درسته دنیا ډکه کړې وي نۀ یې باک لرم او نۀ ویره. زۀ د هغوي په ګمراهۍ او په خپل هدایت خبر یم او د خپل پالونکي له لوري یقین ته رسېدلے یم. زۀ د خپل رب ملاقات ته لېواله او انعام ته یې امیدوار یم خو له دې اندېښمن یم چې د دغه امت ناپوهان او ورانکاران واک په لاس کښې واخلي هغه وخت به د خداے مال لاس په لاس راتاؤ کړي او د خداے بندګان به مریان کړي له نېک چارو سره به په جنګ او له فاسقانو سره ملګري شي ځکه چې په هغوي کښې ځینې داسې کسان ستاسو په مېنځ کښې دي چې شراب یې اوڅښل او حد پرې جاري شو[١٢٥]. او داسې

وَإِنَّ مِنْهُمْ مَنْ لَمْ يُسْلِمْ حَتَّى رُضِخَتْ لَهُ عَلَى الاسْلاَمِ الرَّضَائِخُ، فَلَوْلاَ ذلكَ مَا أَكْثَرْتُ تَأْلِيبَكُمْ وَتَأْنِيبَكُمْ، وَجَمْعَكُمْ وَتَحْرِيضَكُمْ، وَلَتَرَكْتُكُمْ إِذْ أَبَيْتُمْ وَوَنَيْتُمْ. أَلاَ تَرَوْنَ إِلَى أَطْرَافِكُمْ قَدِ انْتَقَصَتْ وَإِلَى أَمْصَارِكُمْ قَدِ افْتُتِحَتْ، وَإِلَى مَمَالِكِكُمْ تُزْوَى، وَإِلَى بِلاَدِكُمْ تُغْزَى! انْفِرُوا ـ رَحِمَكُمُ اللهُ ـ إِلَى قِتَالِ عَدُوِّكُمْ، وَلاَ تَثَّاقَلُوا إِلَى الاَرْضِ فَتُقِرُّوا بِالْخَسْفِ، وَتَبُوءُوا بِالذُّلِّ، وَيَكُونَ نَصِيبُكُمُ الاَخَسَّ، وَإِنَّ أَخَا الْحَرْبِ الاَرِقُ، وَمَنْ نَامَ لَمْ يُنَمْ عَنْهُ، وَالسَّلاَمُ.

[ ٦٣ ]

إِلَى أَبِي مُوسَى الأَشْعَرِيّ وَهُوَ عَامِلُهُ عَلَى الْكُوفَة وَقَدْ بَلَغَهُ عَنْهُ تَثْبِيطُهُ النَّاسَ عَنِ الْخُرُوجِ إِلَيْهِ لَمَّا نَدَبَهُمْ لِحَرْبِ أَصْحَابِ الْجَمَلِ

مِنْ عَبْدِ اللهِ عَلِيٍّ أَمِيرِ الْمُؤْمِنِينَ إِلَى عَبْدِ اللهِ بْنِ قَيْسٍ.

أَمَّا بَعْدُ، فَقَدْ بَلَغَنِي عَنْكَ قَوْلٌ هُوَ لَكَ وَعَلَيْكَ، فَإِذَا قَدِمَ عَلَيْكَ رَسُولِي فَارْفَعْ ذَيْلَكَ، وَاشْدُدْ مِئْزَرَكَ، وَاخْرُجْ مِنْ جُحْرِكَ، وَانْدُبْ مَنْ مَعَكَ، فَإِنْ حَقَّقْتَ فَانْفُذْ، وَإِنْ تَفَشَّلْتَ فَابْعُدْ! وَايْمُ اللهِ لَتُؤْتَيَنَّ حَيْثُ أَنْتَ، وَلاَ تُتْرَكُ حَتَّى يُخْلَطَ زُبْدُكَ بِخَاثِرِكَ، وَذَائِبُكَ بِجَامِدِكَ، وَحَتَّى تُعْجَلَ عَنْ قِعْدَتِكَ، وَتَحْذَرَ مِنْ أَمَامِكَ كَحَذَرِكَ مِنْ خَلْفِكَ، وَمَا هِيَ بِالْهُوَيْنَى الَّتِي تَرْجُو، وَلكِنَّهَا الدَّاهِيَةُ الْكُبْرَى، يُرْكَبُ جَمَلُهَا، وَيُذَلُّ صَعْبُهَا، وَيُسَهَّلُ جَبَلُهَا. فَاعْقِلْ عَقْلَكَ، وَامْلِكْ أَمْرَكَ، وَخُذْ نَصِيبَكَ وَحَظَّكَ، فَإِنْ كَرِهْتَ فَتَنَحَّ إِلَى غَيْرِ رَحْبٍ وَلاَ فِي نَجَاةٍ، فَبِالْحَرِيِّ لَتُكْفَيَنَّ وَأَنْتَ نَائِمٌ، حَتَّى لاَ يُقَالَ: أَيْنَ فُلاَنٌ؟ وَاللهِ إِنَّهُ لَحَقٌّ مَعَ مُحِقٍّ، وَمَا أُبَالِي مَا صَنَعَ الْمُلْحِدُونَ، وَالسَّلاَمُ.

[ ٦٤ ]

كَتَبَهُ إِلَى مُعَاوِيَةَ جَوَاباً عَنْ كِتَابٍ مِنْهُ

أَمَّا بَعْدُ، فَإِنَّا كُنَّا نَحْنُ وَأَنْتُمْ عَلَى مَا ذَكَرْتَ مِنَ الاُلْفَةِ

کس چې اسلام یې اونهٔ منهٔ.خو په ناحقه ورته بخششونه ورکړل شول.[۱۲۶] که دغه ډول پېښې نهٔ وې تاسو به مې نهٔ وئ پاڅولي او نهٔ به مې ملامتولئ، او راغونډېدو ته به مې نهٔ هڅولئ او کله مو چې سرغړونه کوله پرېښې به مې وئ آیا خپلې خواوشا ته نهٔ ګورئ چې ستاسو پولې یې اونیولې، ستاسو ښارونه یې فتح کړل او ستاسو لاسته راوړنې او ګټې یې چور تالان کړې، او ستاسو په ښارونو کښې یې د جنګ اوررونه بل کړل. له دښمنانو سره جنګ ته وکوچېږئ (خدائے پاک درباندې رحمت نازل کړه) په کورونو کښې مه پاتې کېږئ که نهٔ وي په ظلم کښې به ښکیل او په ذلت به اخته شئ او له ژونده به مو برخه تر هر چا خواره وي بې له شکه د خوب ورور بیداري او هوښیاري ده او څوک چې اوده شو د هغه دښمن نهٔ اودهٔ کېږي!

## ﴿ درې شپېتم لیک ﴾

«د جمل د جنګ په درشل کښې د هجرت په شپږ دېرشم کال، امام ته یې خبر راوړهٔ چې د کوفې ګورنر ابو موسی اشعري خلق له امام سره له یو ځائے کېدو منعې کوي امام ورته دا لیک اولیکهٔ»

### له فتنو څخه د ابوموسی اشعري منع کول

د خدائے د بنده او د مومنانو د امیر علي له خوا عبدالله بن قیس (ابوموس اشعري) ته: د خدائے له ثنا او په رسول الله مبارک او د هغهٔ په آل باندې له دروده وروسته! ستا متعلق ما ته داسې خبره رارسېدلې ده چې هم ستا په ګټه ده او هم دې په تاوان،کله چې زما استازے درورسېږي د همت لمنه راټینګه کړه او جنګ ته ملا کلکه اوتړه،له خپل سوري نه راوځه او خلق جنګ ته تیار کړه. که حق دې په ما کښې اولیدهٔ وې منه او که دوه زړے شوې څنډې ته شه. په خدائے قسم هر ځائے چې وې رابه دې ولي او په خپل حال به دې پرې نږدي تردې چې غوښه او هډوکي او اوچ او لوندهٔ دې سره ګډ شي او له حکومته په لرې کولو کښې به دې بیړه وکړي داسې چې له خپلې مخې به داسې ویرېږې لکه څنګه چې له خپلې شا اویرېږې.[۱۲۷] د هیواد رواني پېښې دومره آسانه نهٔ دي لکه څومره یې چې ته فکر کوې بلکه ډېره لویه پېښه شوې ده چې باید په ملا یې سپور او سختۍ یې هوارې کړې شي. او د هغه د سختو او غرنیو لارو وهل آسان کړې شي نو عقل دې استعمال کړه او د خپلو چارو مالک شه او خپله برخه او ونډه دې واخله، که زما ملګرتیا دې نهٔ وي خوښه ځان څنډې ته کړه بې له دې چې اوستائلے شې یا اوژغورلے شې، بهتره ده چې تهٔ په خوب پاتې شې او نور ستا دندې ترسره کړي او له تا اونهٔ پوښتي چې چرته یې او چرته لاړ یې! په خدائے قسم چې دا لاره حقه ده او د «مرد حق» په لاس ترسره کېږي او له دې نهٔ ویرېږم چې ملحدان څه کوي. والسلام

## ﴿ څلور شپېتم لیک ﴾

«د معاویه د یو لیک ځواب»

### د معاویه د فوځي ګواښونو ځواب

وَالْجَمَاعَةِ، فَفَرَّقَ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَمْسِ أَنَّا آمَنَّا وَكَفَرْتُمْ، وَالْيَوْمَ أَنَّا اسْتَقَمْنَا وَفُتِنْتُمْ، وَمَا أَسْلَمَ مُسْلِمُكُمْ إِلاَّ كَرْهاً، وَبَعْدَ أَنْ كَانَ أَنْفُ الاسْلاَمِ كُلُّهُ لِرَسُولِ اللهِ (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ) حَرْباً. وَذَكَرْتَ أَنِّي قَتَلْتُ طَلْحَةَ وَالزُّبَيْرَ، وَشَرَّدْتُ بِعَائِشَةَ، وَنَزَلْتُ بَيْنَ الْمِصْرَيْنِ! وَذلِكَ أَمْرٌ غِبْتَ عَنْهُ، فَلاَ عَلَيْكَ، وَلاَ الْعُذْرُ فِيهِ إِلَيْكَ. وَذَكَرْتَ أَنَّكَ زَائِرِي فِي الْمُهَاجِرِينَ وَالأَنْصَارِ، وَقَدِ انْقَطَعَتِ الْهِجْرَةُ يَوْمَ أُسِرَ أَخُوكَ، فَإِنْ كَانَ فِيكَ عَجَلٌ فَاسْتَرْفِهْ، فَإِنِّي إِنْ أَزُرْكَ فَذلِكَ جَدِيرٌ أَنْ يَكُونَ اللهُ إِنَّمَا بَعَثَنِي لِلنِّقْمَةِ مِنْكَ! وَإِنْ تَزُرْنِي فَكَمَا قَالَ أَخُو بَنِي أَسَدٍ:

مُسْتَقْبِلِينَ رِيَاحَ الصَّيْفِ تَضْرِبُهُمْ
بِحَاصِبٍ بَيْنَ أَغْوَارٍ وَجُلْمُودِ

وَعِنْدِي السَّيْفُ الَّذِي أَعْضَضْتُهُ بِجَدِّكَ وَخَالِكَ وَأَخِيكَ فِي مَقَامٍ وَاحِدٍ، وَإِنَّكَ وَاللهِ مَا عَلِمْتُ الاَغْلَفُ الْقَلْبِ، الْمُقَارِبُ الْعَقْلِ، وَالاَوْلَى أَنْ يُقَالَ لَكَ: إِنَّكَ رَقِيتَ سُلَّماً أَطْلَعَكَ مَطْلَعَ سُوءٍ عَلَيْكَ لاَ لَكَ، لاَنَّكَ نَشَدْتَ غَيْرَ ضَالَّتِكَ، وَرَعَيْتَ غَيْرَ سَائِمَتِكَ، وَطَلَبْتَ أَمْراً لَسْتَ مِنْ أَهْلِهِ وَلاَ فِي مَعْدِنِهِ، فَمَا أَبْعَدَ قَوْلَكَ مِنْ فِعْلِكَ!! وَقَرِيبٌ مَا أَشْبَهْتَ مِنْ أَعْمَامٍ وَأَخْوَالٍ! حَمَلَتْهُمُ الشَّقَاوَةُ، وَتَمَنِّي الْبَاطِلِ، عَلَى الْجُحُودِ بِمُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ فَصُرِعُوا مَصَارِعَهُمْ حَيْثُ عَلِمْتَ، لَمْ يَدْفَعُوا عَظِيماً، وَلَمْ يَمْنَعُوا حَرِيماً، بِوَقْعِ سُيُوفٍ مَا خَلاَ مِنْهَا الْوَغَى، وَلَمْ تُمَاشِهَا الْهُوَيْنَى. وَقَدْ أَكْثَرْتَ فِي قَتَلَةِ عُثْمانَ، فَادْخُلْ فِيمَا دَخَلَ فِيهِ النَّاسُ، ثُمَّ حَاكِمِ الْقَوْمَ إِلَيَّ، أَحْمِلْكَ وَإِيَّاهُمْ عَلَى كِتَابِ اللهِ. وَأَمَّا تِلْكَ الَّتِي تُرِيدُ فَإِنَّهَا خُدْعَةُ الصَّبِيِّ عَنِ اللَّبَنِ فِي أَوَّلِ الْفِصَالِ. وَالسَّلاَمُ لاَهْلِهِ.

[ ٦٥ ]

إِلَيْهِ أَيْضاً

د خدا ے پاک له یاده او درود لېږلو نه پس: تا یادونه کړې ده چې مونږ او تاسو هم دوستان وو او هم خپلوان، خو پوه شه چې پرون زمونږ او ستاسو په مېنځ کښې له دې امله جدائي راغله چې مونږ ایمان راوړۀ او تاسو کافر شوئ او نن مونږ په اسلام ټېنګ پاتې شوو او تاسو اوزمائلې شوئ ستاسو پلار نیکونو په نۀ زړۀ او مجبوراً اسلام راوړۀ هغه هم هغه وخت چې د عرب بزرګان د خدا ے رسول ﷺ ته تسلیم شول او د هغوي په ډله کښې شامل شول.[١٦٨] او لیکلي دې دي چې ما طلحه او زبېر وژلي[١٦٩] او بي بي عائشه مې جلاوطنه کړې ده او او بصره او کوفه مې منزل ګرځولے دے، دا خبرې له تاسره هیڅ تعلق نۀ لري او نۀ تا ته څه زیان رسېدلے دے چې پکښې له تا نه عذر اوغوښتل شي. او لیکلي دې دي چې د انصارو او مهاجرینو له یو ټولي سره به زما جنګ ته راځې، هجرت له هغه ورځې چې ورور دې «یزید» د مکې په فتحه کښې اسیر شو ختم شو[١٧٠]، نو که زما د کتنې لپاره په تلوار یې نو صبر وکړه ځکه چې که زۀ ستا کتنې ته درشم زیاته غوره ده ځکه چې خدا ے زۀ ستا په لور درلېږلے یم چې له تا انتقام او غچ واخلم، او که تۀ له ماسره کتنه وکړې نو داسې ده لکه اسدي شاعر چې وائي: د اوړي سخته هوا چلېږي او هغوي له ریګو او کاڼو سره په دوړو او ډېرو کښې ځپي.

## د امام علي علیه السلام مېرانه

او له ماسره هماغه توره ده چې په بدر کښې مې ستا پۀ نیکۀ، ماما او ورور وروپړقوله. په خدا ے قسم! پوهېږم چې تۀ بې عقله او د تور زړۀ خاوند یې. ستا په حقله به دا ویل مناسب وي چې په داسې اندرپایه ختلے یې چې یو خطرناک ګړنګ ته یې کش کړے یې او ګټه یې خو خود نۀ ده درکړې بلکه تاوان یې دررسولے دے. ځکه چې تۀ هغه ورکه لټوې چې ستا نۀ ده او هغه رمه څروې چې د بل چا ده او په هغه مقام پسې یې چې تۀ یې قابل نۀ یې او له تاسره نۀ ښائي، ستا ګفتار ستا له کرداره څومره لرے دے او څومره زیات د خپلو کافرو ترونو او ماماګانو په شان یې! شقاوت او باطلو هیلو هغوي د حضرت محمد ﷺ انکار ته اوهڅول، او لکه چې درته پته ده چې د هلاکت په کندو کښې ولوغړېدل، نۀ یې له مرګه ځان بچ کړې شو او نۀ یې لکه چې څنګه پکار وو د حریم ملاتړ وکړے شو، او نۀ یې د تورو له زخمونو ځانونه بچ کړې شول. تورې د جنګ په مېدان کښې پرېمانه دي او په وړاندې یې سستي ښه نۀ ده. تا د عثمان د وژونکو په حقله ډېرې خبرې وکړې، اول د نورو مسلمانانو په شان زما بیعت وکړه بیا د هغوي په اړه له ما قضاوت غواړه چې تاسو او مسلمانان د قرآن د اوامرو منلو ته اړ کړم. خو هغه څه چې تۀ یې غواړې داسې ده لکه چې په وړوکوالي له تې د ماشوم د منعې کولو لپاره هغه اوغولولے شي، سلام دې وي د سلام په وړو کسانو.

## ﴿ پېنځۀ شپېتم لیک ﴾

«د نهروان له جنګه وروسته معاویه ته بل لیک چې د هجرت په اتۀ دېرشم کال اولیکلے شو»

أَمَّا بَعْدُ، فَقَدْ آنَ لَكَ أَنْ تَنْتَفِعَ بِاللَّمْحِ الْبَاصِرِ مِنْ عِيَانِ الْأُمُورِ، فَقَدْ سَلَكْتَ مَدَارِجَ أَسْلَافِكَ بِادِّعَائِكَ الْأَبَاطِيلَ، وَإِقْحَامِكَ غُرُورَ الْمَيْنِ وَالْأَكَاذِيبِ، وَبِانْتِحَالِكَ مَا قَدْ عَلَا عَنْكَ، وَابْتِزَازِكَ لِمَا قَدِ اخْتُزِنَ دُونَكَ، فِرَاراً مِنَ الْحَقِّ، وَجُحُوداً لِمَا هُوَ أَلْزَمُ لَكَ مِنْ لَحْمِكَ وَدَمِكَ، مِمَّا قَدْ وَعَاهُ سَمْعُكَ، وَمُلِئَ بِهِ صَدْرُكَ، فَمَاذَا بَعْدَ الْحَقِّ إِلَّا الضَّلَالُ، وَبَعْدَ الْبَيَانِ إِلَّا اللَّبْسُ؟ فَاحْذَرِ الشُّبْهَةَ وَاشْتِمَالَهَا عَلَى لُبْسَتِهَا، فَإِنَّ الْفِتْنَةَ طَالَمَا أَغْدَفَتْ جَلَابِيبَهَا، وَأَغْشَتِ الْأَبْصَارَ ظُلْمَتُهَا.

وَقَدْ أَتَانِي كِتَابٌ مِنْكَ ذُو أَفَانِينَ مِنَ الْقَوْلِ ضَعُفَتْ قُوَاهَا عَنِ السِّلْمِ، وَأَسَاطِيرَ لَمْ يَحُكْهَا مِنْكَ عِلْمٌ وَلَا حِلْمٌ، أَصْبَحْتَ مِنْهَا كَالْخَائِضِ فِي الدَّهَاسِ، وَالْخَابِطِ فِي الدِّيمَاسِ، وَتَرَقَّيْتَ إِلَى مَرْقَبَةٍ بَعِيدَةِ الْمَرَامِ، نَازِحَةِ الْأَعْلَامِ، تَقْصُرُ دُونَهَا الْأَنُوقُ، وَيُحَاذَى بِهَا الْعَيُّوقُ. وَحَاشَ لِلَّهِ أَنْ تَلِيَ لِلْمُسْلِمِينَ بَعْدِي صَدْراً أَوْ وِرْداً، أَوْ أُجْرِيَ لَكَ عَلَى أَحَدٍ مِنْهُمْ عَقْداً أَوْ عَهْداً!! فَمِنَ الْآنَ فَتَدَارَكْ نَفْسَكَ، وَانْظُرْ لَهَا، فَإِنَّكَ إِنْ فَرَّطْتَ حَتَّى يَنْهَدَ إِلَيْكَ عِبَادُ اللَّهِ أُرْتِجَتْ عَلَيْكَ الْأُمُورُ،وَمُنِعْتَ أَمْراً هُوَ مِنْكَ الْيَوْمَ مَقْبُولٌ. وَالسَّلَامُ

[ ٦٦ ]

إِلَى عَبْدِاللَّهِ بْنِ الْعَبَّاسِ رَحِمَهُ اللَّهُ

وَقَدْ مَضَى هَذَا الْكِتَابُ فِيمَا تَقَدَّمَ بِخِلَافِ هَذِهِ الرِّوَايَةِ

أَمَّا بَعْدُ، فَإِنَّ الْعَبْدَ لَيَفْرَحُ بِالشَّيْءِ الَّذِي لَمْ يَكُنْ لِيَفُوتَهُ، وَيَحْزَنُ عَلَى الشَّيْءِ الَّذِي لَمْ يَكُنْ لِيُصِيبَهُ، فَلَا يَكُنْ أَفْضَلَ مَا نِلْتَ فِي نَفْسِكَ مِنْ دُنْيَاكَ بُلُوغُ لَذَّةٍ أَوْ شِفَاءُ غَيْظٍ، وَلَكِنْ إِطْفَاءُ بَاطِلٍ أَوْ إِحْيَاءُ حَقٍّ. وَلْيَكُنْ سُرُورُكَ بِمَا قَدَّمْتَ، وَأَسَفُكَ عَلَى مَا خَلَّفْتَ، وَهَمُّكَ فِيمَا بَعْدَ الْمَوْتِ.

[ ٦٧ ]

### د معاويه د ګمراهۍ عوامل

د خدا ے پاک له یاده او په رسول الله ﷺ او د هغهٔ په آل علیهم السلام باندې له درود لېږلو نه پس! اے معاویه! اوس وخت رارسېدلے دے چې له ښکاره حقائقو پند او سبق واخلې، ته په باطلو دعوو سره هماغه د پلار نیکونو په لاره روان یې، ځان دې په دروغو او دهوکو کښې غورځولے، او ځان هغه څه ګڼې چې ستا تر شان نه لوړ دي. او هغه څه ته لاس اوږدوې چې له تا یې منعې کړې شوې دي او تا ته به اونهٔ رسېږي.دا هر څه له حقه[١٧١] د تېښتې او له هغه څه (بیعت) څخه د انکار لپاره کوې چې ستا له غوښې او وینې څخه درته قبلول ډېر ضروري دي، هغه حقائق چې ستا غوږونو اورېدلي او زړهٔ دې درک کړې دي، آیا د حق له روښانه کېدو وروسته بې له ښکاره ګمراهۍ بل څه موندل کېدې شي؟ او د حق له بیانه وروسته بې له مشتبه کېدو او د حق له پټولو بل څه وجود لرلې شي؟ له شبهې او حق پوشۍ ډډه وکړه، موده اوشوه چې فتنو توري پردې غوړولې او تیرو یې سترګې ړندې کړې دي.

### د معاويه د دروغو دعوو ځواب

ما ته ستا هغه لیک راورسېدهٔ چې د تشو خبرو فنونه دې پکې ښکاره کړې دي خو د صلحې او دوستۍ پکښې هیڅ نښه نشته. او له داسې افسانو ډک دے چې ستا د عمل او حلم پکښې هیڅ درک نهٔ لګي. د دغه لیک په لیکلو کښې د هغه چا په شان یې چې پښه یې په خټو کښې نښتې وي او لالهانده او سرګردانه وي. او داسې مقام پکښې غواړې چې ستا تر قدر او حیثیته لوړ دے او هیڅ باز یې په سر باندې د الوت توان نهٔ لري او (هغه مقام) د «عیوق» د لرې ستوري په شان تر تا ډېر لرې دے. خدا ے ته پناه چې له ما وروسته د مسلمانانو ولایت په غاړه واخلې یا یې سود او زیان اومنې یا ستا لپاره له کوم مسلمان سره ژمنه یا تړون لاسلیک کړم، له همدا اوسه د ځان فکر وکړه او چاره دې ولټوه ځکه چې که لټې دې وکړه او د خدا ے بندګان دې ځپنې ته درپاڅېدل نو د ژغورنې او نجات ورونه به دربند شي، او څه چې نن له تا منې سبا به یې نهٔ منې. والسلام.

## ﴿ شپږ شپېتم لیک ﴾

«عبدالله بن عباس ته لیک، دا لیک په یو بل ډول هم راغلے دے»

### چارو ته حقیقت پسندانه نظر

د خدا ے پاک له یاده او په رسول الله ﷺ او د هغهٔ په آل علیهم السلام باندې له درود لېږلو نه پس! بې شکه انسان د داسې څیز په لاسته راوړلو خوشحالېږي چې هیڅکله یې له لاسه نهٔ ورکوي او د داسې څیز لپاره خفه وي چې هیڅ کله به یې لاسته رانهٔ وړي؛ نو پام چې په دنیا کښې ستا په نزد تر ټولو غوره څیز خوندونو ته رسېدل او یا انتقام اخېستل نهٔ وي، بلکه هدف دې د باطل غلي کول او د حق ژوندي کول وي. یواځې په هغه توښې خوښ اوسه چې له ځانه مخکې دې لېږلي ده او څه چې پرېږدې په هغه افسوس کوه او له مرګه د وروسته دنیا لپاره کوشش کوه.

## ﴿ اوهٔ شپېتم لیک ﴾

وَمِنْ كِتَابٍ كَتَبَهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ
إِلَى قُثَمِ بْنِ الْعَبَّاسِ وَهُوَ عَامِلُهُ عَلَى مَكَّةَ

أَمَّا بَعْدُ، فَأَقِمْ لِلنَّاسِ الْحَجَّ، وَذَكِّرْهُمْ بِأَيَّامِ اللهِ، وَاجْلِسْ لَهُمُ الْعَصْرَيْنِ، فَأَفْتِ الْمُسْتَفْتِيَ، وَعَلِّمِ الْجَاهِلَ، وَذَاكِرِ الْعَالِمَ، وَلَا يَكُنْ لَكَ إِلَى النَّاسِ سَفِيرٌ إِلَّا لِسَانُكَ، وَلَا حَاجِبٌ إِلَّا وَجْهُكَ، وَلَا تَحْجُبَنَّ ذَا حَاجَةٍ عَنْ لِقَائِكَ بِهَا، فَإِنَّهَا إِنْ ذِيدَتْ عَنْ أَبْوَابِكَ فِي أَوَّلِ وِرْدِهَا لَمْ تُحْمَدْ فِيمَا بَعْدُ عَلَى قَضَائِهَا. وَانْظُرْ إِلَى مَا اجْتَمَعَ عِنْدَكَ مِنْ مَالِ اللهِ فَاصْرِفْهُ إِلَى مَنْ قِبَلَكَ مِنْ ذَوِي الْعِيَالِ وَالْمَجَاعَةِ، مُصِيباً بِهِ مَوَاضِعَ الْمَفَاقِرِ وَالْخَلَّاتِ، وَمَا فَضَلَ عَنْ ذلِكَ فَاحْمِلْهُ إِلَيْنَا لِنَقْسِمَهُ فِيمَنْ قِبَلَنَا.

وَمُرْ أَهْلَ مَكَّةَ أَلَّا يَأْخُذُوا مِنْ سَاكِنٍ أَجْراً، فَإِنَّ اللهَ سُبْحَانَهُ يَقُولُ: ﴿سَوَاءً الْعَاكِفُ فِيهِ وَالْبَادِ﴾ فَالْعَاكِفُ: الْمُقِيمُ بِهِ، وَالْبَادِي: الَّذِي يَحُجُّ إِلَيْهِ مِنْ غَيْرِ أَهْلِهِ. وَفَّقَنَا اللهُ وَإِيَّاكُمْ لِمَحَابِّهِ. وَالسَّلَامُ.

«د مکې د ښار ګورنر قثم بن عباس ته لیک»

## د حج په ورځو کښې د حاجیانو خدمت

د خداے پاک له یاده او په رسول اللهﷺ او د هغهٔ په آلﷺ باندې له درود لېږلو نه پس؛ د خلقو لپاره حج قائم کړه او د خداے ورځې وریادې کړه. سحر او مابنام په عامه غونډه کښې له خلقو سره کښېنه که څوک دیني پوښتنې لري ځوابونه یې ورکړه ناپوهه پوه کړه او له پوهو سره خبرې اترې وکړه او خلقو ته ستا پېغام رسوونکے باید یواځې خپله ستا ژبه وي او څوکیدار دې یواځې خپله ستا مخ وي[۱۷۲] او هیڅ ضرورتمن له خپلې کتنې مه بې برخې کوه. ځکه چې که په اوله کښې ستا له دره اوشړلے شي نو که په آخر کښې یې ضرورت پوره هم شي نور به نو تا نهٔ ستائي. د خداے په مال کښې چې له تاسره څه جمع دي فکر وکړه او خواوشا کښې د اهل و عیال خاوندانو او اوږو ته یې ورکړه او هغو ښوزلو او حاجتمنو ته چې ستا مالي مرستې ته سخت ضرورت لري اورسوه او پاتې مونږ ته راولېږه چې په هغو ضروتمنو کښې چې دلته دي اوېشل شي.

## د حاجیانو د ضروریاتو د پوره کولو سپارښتنه

د مکې خلقو ته امر وکړه چې د حج په ورځو کښې له هیڅ حاجي د هستوګنې کرایه وانهٔ خلي ځکه چې خداے تعالی فرمایلي دي «عاکف او بادي (یعنې د مکې هستوګن او له بهره راغلي) په مکه کښې برابر دي.

[ ٦٨ ]

ومِنْ كِتَابٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ إِلَى سَلْمَانَ الْفَارِسِيِّ قَبْلَ أَيَّامِ خِلَافَتِهِ

أَمَّا بَعْدُ، فَإِنَّمَا مَثَلُ الدُّنْيَا مَثَلُ الْحَيَّةِ: لَيِّنٌ مَسُّهَا، قَاتِلٌ سَمُّهَا، فَأَعْرِضْ عَمَّا يُعْجِبُكَ فِيهَا، لِقِلَّةِ مَا يَصْحَبُكَ مِنْهَا، وَضَعْ عَنْكَ هُمُومَهَا، لِمَا أَيْقَنْتَ بِهِ مِنْ فِرَاقِهَا، وَكُنْ آنَسَ مَا تَكُونُ بِهَا، أَحْذَرَ مَا تَكُونُ مِنْهَا، فَإِنَّ صَاحِبَهَا كُلَّمَا اطْمَأَنَّ فِيهَا إِلَى سُرُورٍ أَشْخَصَتْهُ عَنْهُ إِلَى مَحْذُورٍ، [أَ]وْ إِلَى إِينَاسٍ أَزَالَتْهُ عَنْهُ إِيحَاشٌ!

## ﴿ اتهٔ شپېتم لیک ﴾

«د خلافت له ورځو مخکې سلمان فارسي ته لیک»[۱۷۳]

د خداے پاک له یاده او په رسول اللهﷺ او د هغهٔ په آلﷺ باندې له درود لېږلو نه پس؛ د دنیا مثال د هغه مار په شان دے چې ځرمنه یې مهینه خو زهر یې وژونکي دي؛ نو د هغې له زرهٔ راکښنو ډېره وکړه ځکه چې ډېر کم وخت به درسره ملګري وي او غم یې له سره اوباسه ځکه چې د هغې د جدائۍ او د حالاتو د بدلېدو یقین لرې او کله چې پهٔ دنیا مئین شې نو لا ډېر ویرېږه ځکه چې دنیا پرسته چې کله د هغې په مزو ډاډه شي ډېر زر یې کومے ورتریخوي او کله چې په دنیا مئین او هوسا او سوکاله شو ناڅاپه یې په وحشت او ترهه کښې واچوي.

[ ٦٩ ]

إِلَى الْحَارِثِ الْهَمْدَانِيِّ

وَتَمَسَّكْ بِحَبْلِ الْقُرْآنِ، وَانْتَصِحْهُ، وَأَحِلَّ حَلَالَهُ، وَحَرِّمْ

## ﴿ نهٔ شپېتم لیک ﴾

«حارث همداني ته لیک»[۱۷۴]

## د حکومتي چارواکو اخلاق

د خداے قرآن راټینګ کړه او پند ترې واخله، حلال یې حلال او حرام یې حرام وګڼه[۱۷۵] او هغه حق چې د تېرو خلقو په ژوند کښې دي تصدیق

حَرَامَهُ، وَصَدِّقْ بِمَا سَلَفَ مِنَ الْحَقِّ، وَاعْتَبِرْ بِمَا مَضَى مِنَ الدُّنْيَا [لِـ] ـمَا بَقِيَ مِنْهَا، فَإِنَّ بَعْضَهَا يُشْبِهُ بَعْضاً، وَآخِرَهَا لَاحِقٌ بِأَوَّلِهَا! وَكُلُّهَا حَائِلٌ مُفَارِقٌ. وَعَظِّمِ اسْمَ اللهِ أَنْ تَذْكُرَهُ إِلاَّ عَلَى حَقٍّ. وَأَكْثِرْ ذِكْرَ الْمَوْتِ وَمَا بَعْدَ الْمَوْتِ، وَلاَ تَتَمَنَّ الْمَوْتَ إِلاَّ بِشَرْطٍ وَثِيقٍ. وَاحْذَرْ كُلَّ عَمَلٍ يَرْضَاهُ صَاحِبُهُ لِنَفْسِهِ، وَيُكْرَهُ لِعَامَّةِ الْمُسْلِمِينَ، وَاحْذَرْ كُلَّ عَمَلٍ يُعْمَلُ بِهِ فِي السِّرِّ، وَيُسْتَحَى مِنْهُ فِي الْعَلاَنِيَةِ، وَاحْذَرْ كُلَّ عَمَلٍ إِذَا سُئِلَ عَنْهُ صَاحِبُهُ أَنْكَرَهُ أَوِ اعْتَذَرَ مِنْهُ. وَلاَ تَجْعَلْ عِرْضَكَ غَرَضاً لِنِبَالِ الْقَوْلِ، وَلاَ تُحَدِّثِ النَّاسَ بِكُلِّ مَا سَمِعْتَ بِهِ، فَكَفَى بِذلِكَ كَذِباً، وَلاَ تَرُدَّ عَلَى النَّاسِ كُلَّ مَا حَدَّثُوكَ بِهِ، فَكَفَى بِذلِكَ جَهْلاً. وَاكْظِمِ الْغَيْظَ، وَاحْلُمْ عِنْدَ الْغَضَبِ، وَتَجَاوَزْ عِنْدَ الْمَقْدِرَةِ، وَاصْفَحْ مَعَ الدَّوْلَةِ، تَكُنْ لَكَ الْعَاقِبَةُ. وَاسْتَصْلِحْ كُلَّ نِعْمَةٍ أَنْعَمَهَا اللهُ عَلَيْكَ، وَلاَ تُضَيِّعَنَّ نِعْمَةً مِنْ نِعَمِ اللهِ عِنْدَكَ، وَلْيُرَ عَلَيْكَ أَثَرُ مَا أَنْعَمَ اللهُ بِهِ عَلَيْكَ.

وَاعْلَمْ أَنَّ أَفْضَلَ الْمُؤْمِنِينَ أَفْضَلُهُمْ تَقْدِمَةً مِنْ نَفْسِهِ وَأَهْلِهِ وَمَالِهِ، فَإِنَّكَ مَا تُقَدِّمْ مِنْ خَيْرٍ يَبْقَ لَكَ ذُخْرُهُ، وَمَا تُؤَخِّرْهُ يَكُنْ لِغَيْرِكَ خَيْرُهُ. وَاحْذَرْ صَحَابَةَ مَنْ يَفِيلُ رَأْيُهُ، وَيُنْكَرُ عَمَلُهُ، فَإِنَّ الصَّاحِبَ مُعْتَبَرٌ بِصَاحِبِهِ. وَاسْكُنِ الأَمْصَارَ الْعِظَامَ فَإِنَّهَا جِمَاعُ الْمُسْلِمِينَ، وَاحْذَرْ مَنَازِلَ الْغَفْلَةِ وَالْجَفَاءِ وَقِلَّةَ الأَعْوَانِ عَلَى طَاعَةِ اللهِ، وَاقْصُرْ رَأْيَكَ عَلَى مَا يَعْنِيكَ، وَإِيَّاكَ وَمَقَاعِدَ الأَسْوَاقِ، فَإِنَّهَا مَحَاضِرُ الشَّيْطَانِ وَمَعَارِيضُ الْفِتَنِ. وَأَكْثِرْ أَنْ تَنْظُرَ إِلَى مَنْ فُضِّلْتَ عَلَيْهِ، فَإِنَّ ذلِكَ مِنْ أَبْوَابِ الشُّكْرِ. وَلاَ تُسَافِرْ فِي يَوْمِ جُمُعَةٍ حَتَّى تَشْهَدَ الصَّلاَةَ إِلاَّ فَاصِلاً فِي سَبِيلِ اللهِ، أَوْ فِي أَمْرٍ تُعْذَرُ بِهِ. وَأَطِعِ اللهَ فِي جَمِيعِ أُمُورِكَ، فَإِنَّ طَاعَةَ اللهِ فَاضِلَةٌ عَلَى مَا سِوَاهَا.

کړۀ، او د تاریخ له تېرو پېښو څخه د راتلونکو وختونو لپاره عبرت واخله ځکه چې د تاریخ ځینې پېښې د یو بل په شان وي او د دنیا انتها د هغې له ابتداء سره یوځاے کېږي او هر څه بې تلونکي دي. د خداے نامه لویه اوساته او بې له حقه بله خبره په خوله مه کوه مرګ او له مرګه وروسته نړۍ ډېره یادوه هیڅکله د مرګ هیله او آرزو مه کوه مګر داچې پوهېږې چې له ژغورېدونکو یې، له هغه کاره چې تا خوشحاله او نور مسلمانان خفه کړي ډډه وکړه. له هغه پټ کاره چې په ښکاره کېدو یې شرم کوې ځان اوساته له هر هغه کاره چې کله یې له کوونکي پوښتنه اوشي هغه یې انکار وکړي، او یا عذر راوړي ډډه وکړه خپل عزت د نورو د خبرو نښه مه ګرځوه او هر څه چې دې واورېدل نورو ته یې مه وایه ځکه چې دا د دروغ ویلو نښه ده، او هر خبر دروغ مه ګڼه ځکه چې دا د ناپوهۍ نښه ده. غصه دې اوخښه او د طاقت لرلو په وخت بخښنه او معافي وکړه او د غصې او قهر په وخت انکسار او حلیم اوسه او د واک لرلو په وخت مهرباني کوه چې عاقبت دې ښه شي. او د هغو نعمتونو چې خداے پاک دربخښلي دي شکر اوباسه، او کوم نعمتونه چې په واک کښې لرې مه یې ضائع کوه او داسې اوسه چې خداے د خپلو نعمتونو اثر په تا کښې ښکاره اوويني.

## د مومنانو صفتونه

پوه شه چې ښه مومنان هغه دي چې له هر چا زیات خپل ځان، مال او کورنۍ د خداے پاک په لاره کښې ورکړي. څه چې مخکې اولېږې ستا لپاره زېرمه شي او څه چې شاته پرېږدې نورو ته یې ګټه اورسېږي. له بې عقلانو او خلافکارانو سره له دوستۍ ډډه وکړه ځکه چې هر سړے په دوستانو سره پېژندل کېږي.او په لویو ښارونو کښې اوسه ځکه چې د مسلمانانو د غونډېدو ځایونه دي. او له هغو ځایونو چې خلق یې د خداے له یاد غافله، په یو بل ظلم کوونکي او د خداے په اطاعت کښې د یو بل مرسته نۀ کوونکي وي ډډه وکړه. په هغه څه فکر کوه چې مرسته درسره کوي، د خلقو د تېرېدو په ځایونو او بازارونو کښې مه کښېنه ځکه چې د شېطان د حاضرېدو او د فتنو د ولاړېدو ځایونه دي؛ او هغو خلقو ته چې تا ته پرې فضیلت حاصل دے ډېر پام کوه ځکه چې دا د شکر دروازې پرانیزي .د جُمعې په ورځ له نمانځۀ مخکې په سفر مه ځه، بې د خداے په لاره کښې د جهاد لپاره یا د لاچارۍ له مخې. په ټولو کارونو کښې دې د خداے پاک اطاعت کوه ځکه چې د خداے اطاعت تر هر څه لوړ او مخکې دے.

## د خبر په کارونو کښې د نفس د کارولو طریقه

خپل نفس د عبادت لپاره اوغولوه او ورسره نرمي کوه او په زوره یې کوم څیز ته مه مجبوروه. او د اوزګارتیا او خوښۍ په وخت ترې کار اخله

وَخَادِعْ نَفْسَكَ فِي الْعِبَادَةِ، وَارْفُقْ بِهَا وَلاَ تَقْهَرْهَا، وَخُذْ عَفْوَهَا وَنَشَاطَهَا، إلاَّ مَا كَانَ مَكْتُوباً عَلَيْكَ مِنَ الْفَرِيضَةِ، فَإِنَّهُ لاَ بُدَّ مِنْ قَضَائِهَا وَتَعَاهُدِهَا عِنْدَ مَحَلِّهَا. وَإِيَّاكَ أَنْ يَنْزِلَ بِكَ الْمَوْتُ وَأَنْتَ آبِقٌ مِنْ رَبِّكَ فِي طَلَبِ الدُّنْيَا، وَإِيَّاكَ وَمُصَاحَبَةَ الْفُسَّاقِ، فَإِنَّ الشَّرَّ بِالشَّرِّ مُلْحَقٌ. وَوَقِّرِ اللهَ، وَأَحْبِبْ أَحِبَّاءَهُ، وَاحْذَرِ الْغَضَبَ، فَإِنَّهُ جُنْدٌ عَظِيمٌ مِنْ جُنُودِ إِبْلِيسَ، وَالسَّلاَمُ.

مگر په هغو ځيزونو کښې چې په تا باندې واجب دي او په خپل خاص وخت کښې بې ترسره کول ضروري دي. ځان او ساته له دې چې مرګ دې په داسې حال کښې راورسېږي چې له خپل ربه په تېښته او د دنيا په طلب غرق يې، له فاسقانو سره له ناستې پاستې ډډه وکړه ځکه چې شر له شر سره يو ځاے کېږي. د خداے پاک درنښت کوه (لوے يې ګڼه) او له دوستانو سره يې مينه کوه. او له غضب او غصې څخه ډډه کوه ځکه چې دا د شيطان لوے لښکر دے. والسلام

## [ ۷۰ ]

إِلَى سَهْلِ بْنِ حُنَيفٍ الأَنْصَارِيِّ وَهُوَ عَامِلُهُ عَلَى الْمَدِينَةِ
فِي مَعْنَى قَوْمٍ مِنْ أَهْلِهَا لَحِقُوا بِمُعَاوِيَةَ

أَمَّا بَعْدُ، فَقَدْ بَلَغَنِي أَنَّ رِجَالاً مِمَّنْ قِبَلَكَ يَتَسَلَّلُونَ إِلَى مُعَاوِيَةَ، فَلاَ تَأْسَفْ عَلَى مَا يَفُوتُكَ مِنْ عَدَدِهِمْ، وَيَذْهَبُ عَنْكَ مِنْ مَدَدِهِمْ، فَكَفَى لَهُمْ غَيّاً، وَلَكَ مِنْهُمْ شَافِياً، فِرَارُهُمْ مِنَ الْهُدَى وَالْحَقِّ، وَإِيضَاعُهُمْ إِلَى الْعَمَى وَالْجَهْلِ، وَإِنَّمَا هُمْ أَهْلُ دُنْيَا مُقْبِلُونَ عَلَيْهَا، وَمُهْطِعُونَ إِلَيْهَا، قَدْ عَرَفُوا الْعَدْلَ وَرَأَوْهُ، وَسَمِعُوهُ وَوَعَوْهُ، وَعَلِمُوا أَنَّ النَّاسَ عِنْدَنَا فِي الْحَقِّ أُسْوَةٌ، فَهَرَبُوا إِلَى الأَثَرَةِ، فَبُعْداً لَهُمْ وَسُحْقاً!! إِنَّهُمْ ـ وَاللهِ ـ لَمْ يَنْفِرُوا مِنْ جَوْرٍ، وَلَمْ يَلْحَقُوا بِعَدْلٍ، وَإِنَّا لَنَطْمَعُ فِي هذَا الأَمْرِ أَنْ يُذَلِّلَ اللهُ لَنَا صَعْبَهُ،يُسَهِّلَ لَنَا حَزْنَهُ، إِنْ شَاءَ اللهُ، وَالسَّلاَمُ عَلَيْكَ.

## ﴿ اويايم ليک ﴾

«د مديني ګورنر سهل بن حنيف انصاري ته ليک د هجرت په اوۀ دېرشم کال هغه وخت اوليکل شو چې ځينې کسان له مدينې اوتښتېدل او له معاويه سره يو ځاے شول»[۱۷۶]

### له تښتېدونکو سره د مقابلې رووه

د خداے پاک له ياده او په رسول اللهﷺ او د هغۀ په آلؑ باندې له درود لېږلو نه پس! ماته خبر راورسېد چې د مدينې ځينې خلق د معاويه په لور تښتېدلي دي ګوره چې د هغوي د شمېر کمښت او د هغوي د مرستې له لاسه ورکول دې خفه نۀ کړي دا تېښته د هغوي د ګمراهۍ او د هغوي له کړاونو څخه ستاسو د ژغورنې لپاره کافي ده .هغوي له حق او هدايته اوتښتېدل او د ړوندوالي او ناپوهۍ په لور اوځغلېدل. دا هغه دنيا پرسته کسان دي چې دنيا ته يې مخه کړې ده او په بيړه ورپسې روان دي. عدل او انصاف يې اوپېژندۀ وي ليدۀ، وائې وريدۀ، ذهن ته يې اوسپارۀ او پوه شول چې ټول خلق زمونږ (حق) په وړاندې يو شان دي نو د انحصار او امتياز غوښتنې او ګټې اخېستنې په لور اوتښتېدل. د خداے له رحمته دې لرې وي او د خداے لعنت دې ويورباندې. په خداے قسم هغوي له ظلمه اونۀ تښتېدل او له عدل او انصاف سره يو ځاے نۀ شول. هيله من يوو چې په دغه بهير کښې به خداے پاک په مونږ باندې سختۍ آسانې او ستونځې هوارې کړي. ان شاء الله. سلام دې وي درباندې.

## [ ۷۱ ]

إِلَى الْمُنْذِرِ بْنِ الْجَارُودِ الْعَبْدِيِّ
وَقَدْ خَانَ فِي بَعْضِ مَا وَلاَّهُ مِنْ أَعْمَالِهِ

أَمَّا بَعْدُ، فَإِنَّ صَلاحَ أَبِيكَ غَرَّنِي مِنْكَ، وَظَنَنْتُ أَنَّكَ تَتَّبِعُ هَدْيَهُ، وَتَسْلُكُ سَبِيلَهُ، فَإِذَا أَنْتَ فِيمَا رُقِّيَ إِلَيَّ عَنْكَ لاَتَدَعُ لِهَوَاكَ انْقِيَاداً، وَلاَ تُبْقِي لآخِرَتِكَ عَتَاداً، تَعْمُرُ دُنْيَاكَ بِخَرَابِ آخِرَتِكَ،

## ﴿ يو اويايم ليک ﴾

«منذر بن جارود عبدي ته ليک چې په خپلې ګورنرۍ کښې يې خيانت وکړ»

### په اقتصادي خيانت غندنه

د خداے پاک له ياده او په رسول اللهﷺ او د هغۀ په آلؑ باندې له درود لېږلو او سلام نه ورسته؛ زۀ خو ستا د پلار ښۀ سړيتوب په تا خوشفهمه کړم او ګمان مې وکړ چې ته به هم د خپل پلار په شان وې[۱۷۷]، او د هغۀ په لاره به ځې، ناڅاپه يې خبر راوړۀ چې په هوا پرستۍ کښې

وَتَصِلُ عَشِيرَتَكَ بِقَطِيعَةِ دِينِكَ. وَلَئِنْ كَانَ مَا بَلَغَنِي عَنْكَ حَقّاً، لَجَمَلُ أَهْلِكَ وَشِسْعُ نَعْلِكَ خَيْرٌ مِنْكَ، وَمَنْ كَانَ بِصِفَتِكَ فَلَيْسَ بِأَهْلٍ أَنْ يُسَدَّ بِهِ ثَغْرٌ، أَوْ يُنْفَذَ بِهِ أَمْرٌ، أَوْ يُعْلَى لَهُ قَدْرٌ، أَوْ يُشْرَكَ فِي أَمَانَةٍ، أَوْ يُؤْمَنَ عَلَى خِيَانَةٍ. فَأَقْبِلْ إِلَيَّ حِينَ يَصِلُ إِلَيْكَ كِتَابِي هذَا إِنْ شَاءَ اللهُ.

وَالْمُنْذِرُ هذَا هُوَ الَّذِي قَالَ فِيهِ أَمِيرُ الْمُؤْمِنِينَ عَلَيْهِ السَّلَامُ: إِنَّهُ لَنَظَّارٌ فِي عِطْفَيْهِ، مُخْتَالٌ فِي بُرْدَيْهِ، تَفَّالٌ فِي شِرَاكَيْهِ.

[ ٧٢ ]

إِلَى عَبْدِاللهِ بْنِ الْعَبَّاسِ

أَمَّا بَعْدُ، فَإِنَّكَ لَسْتَ بِسَابِقٍ أَجَلَكَ، وَلَا مَرْزُوقٍ مَا لَيْسَ لَكَ. وَاعْلَمْ بِأَنَّ الدَّهْرَ يَوْمَانِ: يَوْمٌ لَكَ وَيَوْمٌ عَلَيْكَ، وَأَنَّ الدُّنْيَا دَارُ دُوَلٍ، فَمَا كَانَ مِنْهَا لَكَ أَتَاكَ عَلَى ضَعْفِكَ، وَمَا كَانَ مِنْهَا عَلَيْكَ لَمْ تَدْفَعْهُ بِقُوَّتِكَ.

[ ٧٣ ]

إِلَى مُعَاوِيَةَ

أَمَّا بَعْدُ، فَإِنِّي عَلَى التَّرَدُّدِ فِي جَوَابِكَ، وَالِاسْتِمَاعِ إِلَى كِتَابِكَ، لَمُوَهِّنٌ رَأْيِي، وَمُخَطِّئٌ فِرَاسَتِي. وَإِنَّكَ إِذْ تُحَاوِلُنِي الْأُمُورَ وَتُرَاجِعُنِي السُّطُورَ، كَالْمُسْتَثْقِلِ النَّائِمِ تَكْذِبُهُ أَحْلَامُهُ، وَالْمُتَحَيِّرِ الْقَائِمِ يَبْهَظُهُ مَقَامُهُ، لَا يَدْرِي أَلَهُ مَا يَأْتِي أَمْ عَلَيْهِ، وَلَسْتَ بِهِ، غَيْرَ أَنَّهُ بِكَ شَبِيهٌ. وَأُقْسِمُ بِاللهِ لَوْ لَا بَعْضُ الِاسْتِبْقَاءِ لَوَصَلَتْ إِلَيْكَ مِنِّي قَوَارِعُ، تَقْرَعُ الْعَظْمَ، وَتَهْلِسُ اللَّحْمَ! وَاعْلَمْ أَنَّ الشَّيْطَانَ قَدْ ثَبَّطَكَ عَنْ أَنْ تُرَاجِعَ أَحْسَنَ أُمُورِكَ، وَتَأْذَنَ لِمَقَالِ نَصِيحَتِكَ، وَالسَّلَامُ [لِأَهْلِهِ].

[ ٧٤ ]

دې څه کسر نۀ دے پرېښے او د آخرت لپاره دې کومه توښه نۀ ده اخېستې. خپله دنیا د آخرت په بربادئ سره آبادوې او له خپلوانو سره د یوځاے کېدو لپاره د خداے له دینه جدا شوے یې. که ما ته رارسېدلے رپوټ سم وي نو د کور اوښ او د پېزار تسمه دې تر تا غوره ده او ستا په شان کسان د دې وړ نۀ دي چې د پولو ساتنه وکړي یا کوم کار انجام ته اورسوي یا یې ارزښت لوړ شي یا په امانت کښې شریک شي یا له خیانته ځان اوساتلے شي نو دا لیک چې دوررسېږي ماته راشه. ان شاء الله.

(منذر هغه کس دے چې امیرالمومنینؑ د هغۀ په حقله وفرمایل: کبرجن سړے دے دواړو لورو ته ګوري او په دوو جامو کښې چې اغوستې یې دي ګرځي او همېشه د پېزار بند (تسمه) پوکي چې دوړه پرې کښې نۀ ني)

## ﴿دوه اویایم لیک﴾

«عبدالله بن عباس ته لیک»

### انسان او الهي قوانين

د خداے پاک له یاده او په رسول اللهﷺ او د هغۀ په آلؑ باندې له درود او سلامه وروسته! تۀ له خپل اجله نۀ شې مخکې کېدې او څه چې ستا روزي نۀ دي هغه نۀ دررسېږي او پوه شه چې روزګار (زمانه) دوه ورځې دے یوه ورځ یې ستا په ګټه او بله ستا په تاوان ده. بې له شکه چې دنیا د بدلېدو کور دے هغه څه چې ستا په ګټه دي که هر څومره کمزوري وې ځان دررسوي او څه چې ستا په تاوان وي که هر څومره پیاوړي وې له ځانه یې نۀ شې تمبولې.

## ﴿درې اویایم لیک﴾

«معاویه ته لیک»

د خداے پاک له یاده او په رسول اللهﷺ او د هغۀ په آلؑ باندې له درود او سلامه وروسته! زۀ ستا د لیکونو په پرله پسې ځوابونو او د ستا د لیکونو په اورېدو سره خپلې رائې ته د سستۍ او خپلې هوښیارۍ ته د خطا نسبت ورکوم. او بې له شکه تۀ چې همېشه له ما غوښتنې لرې او زیات شمېر لیکونه رالېږې د هغه چا په شان یې چې په درانۀ خوب اودۀ وي او او د دروغجنو خوبونو لېدل یې تکذیبوي، یا د هغه لالهانده کس په شان یې چې ډېر اودربدل ورته سخت وي او نۀ پوهېږي چې راتلونکے به یې په ګټه وي او که په تاوان. که څه هم تۀ هغه شان کس نۀ یې خو هغه ستا په شان دے. په خداے قسم! که په ټاکل شوې موده کښې له ویني بهیولو ډډه کول نۀ وې دا سې ځپونکے ګذار به دې خوړلے ؤ چې هډونه به یې درمات کړي وو او غوښه به یې درتوږلې وه. معاویه! پوه شه چې شېطان دې نۀ پرېږدي چې خپل تر ټولو غوره کار[178] وکړې او هغه نصیحت ته غوږ شې چې په ګټه دې دے. (سلام په هغوي چې د سلام وړ دي)

## ﴿څلور اویایم لیک﴾

وَمِنْ حِلْفٍ كَتَبَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ بَيْنَ الْيَمَنِ وَرَبِيعَةَ
نُقِلَ مِنْ خَطِّ هِشَامِ بْنِ الْكَلْبِيِّ

هذَا مَا اجْتَمَعَ عَلَيْهِ أَهْلُ الْيَمَنِ حَاضِرُهَا وَبَادِيهَا، وَرَبِيعَةُ حَاضِرُهَا وَبَادِيهَا: أَنَّهُمْ عَلَى كِتَابِ اللهِ يَدْعُونَ إِلَيْهِ، وَيَأْمُرُونَ بِهِ، وَيُجِيبُونَ مَنْ دَعَا إِلَيْهِ وَأَمَرَ بِهِ، لاَ يَشْتَرُونَ بِهِ ثَمَناً، وَلاَ يَرْضَوْنَ بِهِ بَدَلاً، وَأَنَّهُمْ يَدٌ وَاحِدَةٌ عَلَى مَنْ خَالَفَ ذلِكَ وَتَرَكَهُ، أَنْصَارٌ بَعْضُهُمْ لِبَعْض، دَعْوَتُهُمْ وَاحِدَةٌ، لاَيَنْقُضُونَ عَهْدَهُمْ لِمَعْتَبَةِ عَاتِب، وَلاَ لِغَضَبِ غَاضِب، وَلاَ لاِسْتِذْلاَلِ قَوْمٍ قَوْماً، وَلاَ لِمَسَبَّةِ قَوْمٍ قَوْماً! عَلَى ذلِكَ شَاهِدُهُمْ وَغَائِبُهُمْ، وَسَفِيهُهُمْ وَعَالِمُهُمْ، وَحَلِيمُهُمْ وَجَاهِلُهُمْ. ثُمَّ إِنَّ عَلَيْهِمْ بِذلِكَ عَهْدَ اللهِ وَمِيثَاقَهُ، إِنَّ عَهْدَ اللهِ كَانَ مَسْؤُولاً. وكتب: علي بن أبي طالب.

[ ۷۵ ]

إِلَى مُعَاوِيَةَ فِي أَوَّلِ مَا بُويِعَ لَهُ بِالْخِلاَفَةِ

مِنْ عَبْدِ اللهِ عَلِيٍّ أَمِيرِالْمُؤْمِنِينَ إِلَى مُعَاوِيَةَ بْنِ أَبِي سُفْيَانَ: أَمَّا بَعْدُ، فَقَدْ عَلِمْتَ إِعْذَارِي فِيكُمْ، وَإِعْرَاضِي عَنْكُمْ، حَتَّى كَانَ مَا لاَ بُدَّ مِنْهُ وَلاَ دَفْعَ لَهُ، وَالْحَدِيثُ طَوِيلٌ، وَالْكَلاَمُ كَثِيرٌ، وَقَدْ أَدْبَرَ مَا أَدْبَرَ، وَأَقْبَلَ مَا أَقْبَلَ، فَبَايِعْ مَنْ قِبَلَكَ، وَأَقْبِلْ إِلَيَّ فِي وَفْدٍ مِنْ أَصْحَابِكَ، وَالسَّلاَمُ.

[ ۷۶ ]

إِلَى عَبْدِ اللهِ بْنِ الْعَبَّاسِ
عِنْدَ اسْتِخْلاَفِهِ إِيَّاهُ عَلَى الْبَصْرَةِ

سَعِ النَّاسَ بِوَجْهِكَ وَمَجْلِسِكَ وَحُكْمِكَ، وَإِيَّاكَ وَالْغَضَبَ فَإِنَّهُ طَيْرَةٌ مِنَ الشَّيْطَانِ. وَاعْلَمْ أَنَّ مَا قَرَّبَكَ مِنَ اللهِ يُبَاعِدُكَ مِنَ النَّارِ، وَمَا بَاعَدَكَ مِنَ اللهِ يُقَرِّبُكَ مِنَ النَّارِ.

[ ۷۷ ]

وَمِنْ وَصِيَّتِهِ عَلَيْهِ السَّلاَمُ لَهُ (أَيْ عَبْدِاللهِ بْنِ عَبَّاسٍ)
لَمَّا بَعَثَهُ لِلاِحْتِجَاجِ عَلَى الْخَوَارِجِ

«هغه تړون ليک چې د هشام بن کلبي په ليک سره يې د ربيعه او يمن د قبيلو په مينځ کښې د صلحې لپاره برابر کړ»

### د صلحې بنسټونه او بنيادونه

دا هغه تړون ليک (لوظنامه) دے چې د «يمن» او«ربيعه» خلقو هم يې ښاريانو او هم کليوالو منلے دے هغوي د قرآن منونکي او د خداے کتاب ته بلونکي او د هغهٔ د اوامرو امر کوونکي دي او څوک چې هغوي د خداے کتاب ته اوبلي ځواب يې ورکوي، نۀ يې په بدل کښې پېسې غواړي او نۀ يې په ځاے بل څه مني. او د هغه چا په مقابل کښې چې د دغې لوظنامې خلاف ورزي غواړي يا يې پرېږدي؛ اودرېږي.ځينې يې له ځينو سره مرسته کوي بلنه يې يوه ده او د ملامتونکي د ملامتيا يا د غصه کېدونکي د غصې يا د ځينو لخوا د ځينو د خوارولو يا د يوې ډلې لخوا بلې ډلې ته د کنځلو په وجه دا لوظنامه نۀ ماتوي په دغه تړون ليک حاضران، غائبان، پوهان او ناپوهه خاکساران او جاهلان ټول ولاړ دي او په هغوي باندې د خداے عهد او ژمنه هم واجبه شوې ده «بې شکه چې د خداے د ژمنې او لوظ به پوښتنه کېږي» او علي ابن ابيطالب دا اوليکۀ.

## ﴿ پينځۀ اويايم ليک ﴾

«د هجرت په شپږ دېرشم کال د بيعت په وړومبيو ورځتونو کښې معاويه ته ليک چې واقدي په الجمل کښې هغه راوړے دے»

### د اطاعت امر

د خداے د بنده او د مومنانو د امير علي بن ابي طالب لخوا، معاويه بن ابي سفيان ته، د خداے له ياد او درود وروسته! پوهېږې چې زۀ ستا په حقله معذور وم چې له هغه څه څخه چې په مدينه کښې وشول[۱۷۹] مخ اړوونکے شوم، وشول هغه څه چې کېدونکي وو او مخه نيونه يې ممکنه نۀ وه. قصه اوږده او خبرې ډېرې دي تېر، تېر شول او راتلونکي راروان دي تۀ او ملګري دې بيعت وکړۀ او د خپلو ملګرو له يو ټولي سره ماته راشه.

## ﴿ شپږ اويايم ليک ﴾

«عبدالله بن عباس ته ليک چې د هجرت په شپږ دېرشم کال يې د بصرې والي کړ»

له خلقو سره د کتنې په وخت په رسمي (سرکاري) غونډو او د امر ورکولو وخت ورين تندے لره او له قهر او غصې څخه ډډه کوه ځکه چې دا د شيطان لمسون دے او پوه شه چې هغه څه چې تا خداے ته نزدې کوي د جهنم له اوره دې لرې کوي او هغه څه چې له خدايه دې لرې کوي د جهنم اور ته دې نزدې کوي.

## ﴿ اوۀ اويايم ليک ﴾

«عبدالله بن عباس ته ليک د هجرت په اتۀ دېرشم کال کله يې چې هغه د خبرو اترو لپاره خوارجو ته اوليږۀ»

لاَ تُخَاصِمْهُمْ بِالْقُرْآنِ، فَإِنَّ الْقُرْآنَ حَمَّالٌ ذُو وُجُوه، تَقُولُ وَيَقُولُونَ، وَلكِنْ حَاجِّهُمْ بِالسُّنَّةِ، فَإِنَّهُمْ لَنْ يَجِدُوا عَنْهَا مَحِيصاً.

[ ۷۸ ]

إِلَى أَبِي مُوسَى الأَشْعَرِيِّ جَوَاباً فِي أَمْرِ الْحَكَمَيْنِ
ذَكَرَهُ سَعِيدُ بْنُ يَحْيَى الأُمَوِيُّ فِي كِتَابِ الْمَغَازِي

فَإِنَّ النَّاسَ قَدْ تَغَيَّرَ كَثِيرٌ مِنْهُمْ عَنْ كَثِيرٍ مِنْ حَظِّهِمْ، فَمَالُوا مَعَ الدُّنْيَا، وَنَطَقُوا بِالْهَوَى، وَإِنِّي نَزَلْتُ مِنْ هذَا الأَمْرِ مَنْزِلاً مُعْجِباً، اجْتَمَعَ بِهِ أَقْوَامٌ أَعْجَبَتْهُمْ أَنْفُسُهُمْ، فَإِنِّي أُدَاوِي مِنْهُمْ قَرْحاً أَخَافُ أَنْ يَكُونَ عَلَقاً.

وَلَيْسَ رَجُلٌ ـ فَاعْلَمْ ـ أَحْرَصَ عَلَى جَمَاعَةِ أُمَّةِ مُحَمَّدٍ ـ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ [وآله ]وَسَلَّمَ ـ وَأُلْفَتِهَا مِنِّي، أَبْتَغِي بِذلِكَ حُسْنَ الثَّوَابِ، وَكَرَمَ الْمَآبِ، وَسَأَفِي بِالَّذِي وَأَيْتُ عَلَى نَفْسِي، وَإِنْ تَغَيَّرْتَ عَنْ صَالِحِ مَا فَارَقْتَنِي عَلَيْهِ، فَإِنَّ الشَّقِيَّ مَنْ حُرِمَ نَفْعَ مَا أُوتِيَ مِنَ الْعَقْلِ وَالتَّجْرِبَةِ، وَإِنِّي لأَعْبَدُ أَنْ يَقُولَ قَائِلٌ بِبَاطِلٍ،أَنْ أُفْسِدَ أَمْراً قَدْ أَصْلَحَهُ اللهُ، فَدَعْ مَا لاَ تَعْرِفُ، فَإِنَّ شِرَارَ النَّاسِ طَائِرُونَ إِلَيْكَ بِأَقَاوِيلِ السُّوءِ، وَالسَّلاَمُ.

[ ۷۹ ]

وَمِنْ كِتَابٍ كَتَبَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ لَمَّا اسْتُخْلِفَ إِلَى أُمَرَاءِ الأَجْنَادِ

أَمَّا بَعْدُ، فَإِنَّمَا أَهْلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ أَنَّهُمْ مَنَعُوا النَّاسَ الْحَقَّ فَاشْتَرَوْهُ، وَأَخَذُوهُمْ بِالْبَاطِلِ فَاقْتَدَوْهُ.

### له خوارجو سره د مناظرې طريقه

په قرآن سره له خوارجو سره مجادله او بحث مهٔ کوه ځکه چې (قرآن کلي او) بيلابيل تفسيرونه لري تهٔ به يو څه وائې او هغوي به بل څه، بلکه د پېغمبراکرمﷺ په سنتو له هغوي سره بحث وکړه ځکه چې د هغوي په وړاندې له منلو نه بغېر به بله لاره نهٔ لري.

## ﴿ اتهٔ اويايم ليک ﴾

«د حَکَميت په حقله د ابو موسى اشعري ليک ته ځواب چې سعيد بن يحيى اموي هم په المغازي کتاب کښې هغه راوړے دے»

### د ټولنې د زوال لاملونه او اسباب

په رښتيا چې ډېرخلق بدل شول او له نېکمرغۍ او ژغورنې بې برخې شول دنيا ته يې مخه کړه او د نفساني خواهشاتو له مخې يې خبره وکړه.د عراقيانو کردار حېران کړم چې دا ځان خوښوونکي خلق په يو ځيز راغونډ شول غوښتل مې چې د پټ زخم علاج يې وکړم مخکې له دې چې ناسور شي.

### د يووالي د راوستلو لپاره د امام هڅه

پوه شه چې په اسلامي امت کښې زما په شان بل کس نشته چې د حضرت محمدﷺ د امت د يووالي او له يو بل سره د مينې پېداکولو لپاره يې تر ما زيات زړهٔ اوسوزي زهٔ په دې کار کښې نېکه بدله او غوره انجام له خدايه غواړم او په هغه څه چې لوظ مې کړے دے وفادار يم که څه هم تهٔ بدل شې او د هغه ورځې په شان نهٔ وې چې له ما جدا شوې. بې له شکه بد مرغه هغه کس دے چې له لاسته راوړې تجربې او عقله بې برخې پاتې شي، او زهٔ له هغه چا چې باطله خبره وکړي يا هغه چاره چې خداے سمه کړې خرابه کړي بېزاره يم. په څه چې نه پوهېږې پرې يې ږده، ځکه چې بدعمله کسان به په غلطو خبرو سره په تا درمات شي.

## ﴿ نهٔ اويايم ليک ﴾

«له خلافته وروسته د لښکر کوماندان ته ليک»

### د ولسونو د تباهۍ لاملونه او اسباب

اما بعد! په رښتيا چې تر تاسو مخکې امتونه تباه شول ځکه چې د خلقو حقونه به يې نهٔ ورکول نو دنيا يې په بډو ورکولوسره خپله کړه او خلق يې باطل ته بوتلل او خلق هم ورپسې لاړل.

# ۳

بَابُ الْمُخْتَار مِنْ حِكَمِ أَمِيرالْمُؤْمِنِينَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ وَمَوَاعِظِه وَيَدْخُلُ فِي ذلِكَ الْمُخْتَارُ مِنْ أَجْوِبَةِ مَسَائِلِه وَالْكَلاَمِ الْقَصِيرِ الْخَارِجِ فِي سَائِرِ اَغْرَاضِه

# ۳

دريمه برخه

حکمتونه (ملغلري)

له اوله تر ۴۸۰ حکمت

١. قَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

كُنْ فِي الْفِتْنَةِ كَابْنِ اللَّبُونِ، لاَ ظَهْرٌ فَيُرْكَبَ، وَلاَ ضَرْعٌ فَيُحْلَبَ.

**(۱) له فتنو سره د چلند طريقه**

د خدای سلام دې وي پهٔ هغهٔ، وې فرمايل:

په فتنو کښې د اوښ د دوه کلن بچي په شان اوسه چې نهٔ ملا لري چې سپرلي ورکړي او نهٔ تي چې اولشل شي.

٢. وقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

أَزْرَى بِنَفْسِه مَنِ اسْتَشْعَرَ الطَّمَعَ، وَرَضِيَ بِالذُّلِّ مَنْ كَشَفَ ضُرَّهُ، وَهَانَتْ عَلَيْهِ نَفْسُهُ مَنْ أَمَّرَ عَلَيْهَا لِسَانَه.

**(۲) د رذائلو پېژندل**

هغه کس چې طمعه (حرص) يې خپله پېشه وګرځوله ځان يې سپک کړے دے، او څوک چې د خپلو سختيو راز ښکاره کړي ځان يې خوار کړے دے او څوک چې ژبه په ځان واکمنه کړي ځان يې بې ارزښته کړے دے.

٣. الْبُخْلُ عَارٌ، وَالْجُبْنُ مَنْقَصَةٌ، وَالفَقْرُ يُخْرِسُ الْفَطِنَ عَنْ حُجَّتِه، وَالْمُقِلُّ غَرِيبٌ فِي بَلْدَتِه.

**(۳) د رذائلو پېژندل**

شومي (بخيلتوب) شرم، ويره نقصان دے او بېوزلي (فقر) هوښيار سړے په برهان کښې پخوي او بې وزله (نادار) کس په خپل ښار کښې هم پردے دے.

٤. الْعَجْزُ آفَةٌ، وَالصَّبْرُ شَجَاعَةٌ، وَالزُّهْدُ ثَرْوَةٌ، وَالْوَرَعُ جُنَّةٌ، وَنِعْمَ الْقَرِينُ الرِّضَى.

**(۴) اخلاقي ارزښتونه او د ارزښت خلاف څيزونه**

بې وسي آفت، صبر مېړانه، زهد شتمني او پرهېزګاري ساتونکے ډال دے او راضي والے او خوښي ځومره ښهٔ ملګري دي.

٥. الْعِلْمُ وِرَاثَةٌ كَرِيمَةٌ، وَالآدَابُ حُلَلٌ مُجَدَّدَةٌ، وَالْفِكْرُ مِرْآةٌ صَافِيَةٌ.

**(۵) د اخلاقي ارزښتونو پېژندل**

علم قيمتي ميراث، او ادب تل تاند او تازه زيور او فکر رڼه هنداره (آئينه) ده.

٦. صَدْرُ الْعَاقِلِ صُنْدُوقُ سِرِّه، وَالْبَشَاشَةُ حِبَالَةُ الْمَوَدَّةِ، وَالاحْتِمَالُ قَبْرُ الْعُيُوبِ.

وَرُوِيَ عَنْهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ أَنَّهُ قَالَ فِي الْعِبَارَةِ عَنْ هَذَا الْمَعْنَى أَيْضاً: الْمَسْأَلَةُ خَبْءُ الْعُيُوبِ، وَمَنْ رَضِيَ عَنْ نَفْسِه كَثُرَ السَّاخِطُ عَلَيْه.

**(۶) د رازدارۍ او خوشرويۍ ارزښت**

د پوهه کس سينه د هغهٔ د راز صندوق دے، روڼ تندے د دوستانو د پېدا کولو وسيله او صبر د عېبونو د پټولو هديره ده. او يا يې وفرمايل: پوښتنه کول د عېبونو د پټولو وسيله ده او د ځان خوښوونکي انسان ناخوښؤنکي زيات وي.

٧. الصَّدَقَةُ دَوَاءٌ مُنْجِحٌ، وَأَعْمَالُ الْعِبَادِ فِي عَاجِلِهِمْ، نُصْبُ أَعْيُنِهِمْ فِي آجِلِهِمْ.

**(۷) اقتصادي ښندنه (سخاوت) او د آخرت يادونه**

صدقه ورکول ګټه او درمل دي، او په دنيا کښې د بندګانو کړۀ او عمل به سبا د هغوي د سترګو په وړاندې وي.

٨. وقال عَلَيْهِ السَّلَامُ:

اعْجَبُوا لِهَذَا الإِنْسَانِ يَنْظُرُ بِشَحْمٍ، وَيَتَكَلَّمُ بِلَحْمٍ، وَيَسْمَعُ بِعَظْمٍ، وَيَتَنَفَّسُ مِنْ خَرْمٍ!!

**(۸) د انسان د بدن حېرانتياوې**

د انسان په ځانګړتياؤ او خصوصيتونو حېرانه شئ چې په يوې ټوټې ((وازګې)) سره ګوري په يوې ټوټې ((غوښې)) سره خبرې کوي او په يو (هډوکي) سره اوري او له يو سوري څخه ساه اخلي.

٩. وقال عَلَيْهِ السَّلَامُ:

إِذَا أَقْبَلَتِ الدُّنْيَا عَلَى أَحَدٍ أَعَارَتْهُ مَحَاسِنَ غَيْرِه، وَإِذَا أَدْبَرَتْ عَنْهُ سَلَبَتْهُ مَحَاسِنَ نَفْسِه.

**(۹) انسان ته د دنيا د مخه کولو يا شاکولو نتائج**

کله چې دنيا چا ته مخه کړي د نورو نېکۍ ور په پور کړي او کله چې ترې مخ واړوي خپلې نېکۍ يې هم ورځينې اوتروړي.

١٠. وقال عَلَيْهِ السَّلَامُ:

خَالِطُوا النَّاسَ مُخَالَطَةً إِنْ مِتُّمْ مَعَهَا بَكَوْا عَلَيْكُمْ، وَإِنْ

**(۱۰) له خلقو سره د ژوند روده**

له خلقو سره داسې ناسته پاسته اولرئ چې که مړه شوئ درپسې اوژاړي، او که ژوندي پاتې شوئ ستاسو لېوالـه شي.

عِشْتُمْ حَنُّوا إِلَيْكُمْ.

۱۱. وقال عَلَيْه السَّلَامُ:

**إِذَا قَدَرْتَ عَلَى عَدُوِّكَ فَاجْعَلِ الْعَفْوَ عَنْهُ شُكْراً لِلْقُدْرَةِ عَلَيْهِ.**

۱۲. وقال عَلَيْه السَّلَامُ:

**أَعْجَزُ النَّاسِ مَنْ عَجَزَ عَنِ اكْتِسَابِ الاخْوَانِ، وَأَعْجَزُ مِنْهُ مَنْ ضَيَّعَ مَنْ ظَفِرَ بِهِ مِنْهُمْ.**

۱۳. وقال عَلَيْه السَّلَامُ:

**إِذَا وَصَلَتْ إِلَيْكُمْ أَطْرَافُ النِّعَمِ فَلاَ تُنْفِرُوا أَقْصَاهَا بِقِلَّةِ الشُّكْرِ.**

١٤. وقال عَلَيْه السَّلَامُ:

**مَنْ ضَيَّعَهُ الاَقْرَبُ أُتِيحَ لَهُ الأَبْعَدُ.**

۱۵. وقال عَلَيْه السَّلَامُ:

**مَا كُلُّ مَفْتُونٍ يُعَاتَبُ.**

١٦. وقال عَلَيْه السَّلَامُ:

**تَذِلُّ الاُمُورُ لِلْمَقَادِيرِ، حَتَّى يَكُونَ الْحَتْفُ فِي التَّدْبِيرِ.**

۱۷. وَسُئِلَ عَنْ قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ [وَآلِهِ] وَسَلَّمَ: «غَيِّرُوا الشَّيْبَ، وَلاَ تَشَبَّهُوا بِالْيَهُودِ». فَقَالَ:

**إِنَّمَا قَالَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ ذلِكَ وَالدِّينُ قُلٌّ، فَأَمَّا الآنَ وَقَدِ اتَّسَعَ نِطَاقُهُ وَضَرَبَ بِجِرَانِهِ، فَامْرُؤٌ وَمَا اخْتَارَ.**

۱۸. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ فِي الَّذِينَ اعْتَزَلُوا الْقِتَالَ مَعَهُ:

**خَذَلُوا الْحَقَّ، وَلَمْ يَنْصُرُوا الْبَاطِلَ.**

۱۹. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

**مَنْ جَرَى فِي عِنَانِ أَمَلِهِ عَثَرَ بِأَجَلِهِ.**

۲۰. وَقَالَ:

**أَقِيلُوا ذَوِي الْمُرُوءَاتِ عَثَرَاتِهِمْ، فَمَا يَعْثُرُ مِنْهُمْ عَاثِرٌ إِلاَّ وَيَدُهُ بِيَدِ اللهِ يَرْفَعُهُ.**

۲۱. وَقَالَ:

**(۱۱) له دښمن سره د سلوک طريقه**

که په دښمن لاسبرے شوې د هغهٔ بخښل د خپل برې شکرانه وګرځوه.

**(۱۲) د دوست موندلو طريقه**

تر ټولو بې وسه کس هغه دے چې د دوست په پېدا کولو کښې بې وسه وي او تر هغهٔ ناتوانه هغه دے چې شتهٔ دوستان له لاسه ورکړي.

**(۱۳) له نعمتونو د استفادې طريقه**

کله چې د خداے د نعمتونو نښې ښکاره شوې، په ناشکرۍ سره نعمتونه له ځانه مه لرې کوئ.

**(۱۴) له خپلوانو سره د سلوک روده**

هغه کس چې خپلوان يې پرېږدي پردي يې خپل کړي.

**(۱۵) له غولېدلو کسانو سره د سلوک روده**

هر غولېدلے کس نهٔ شي رټلے.

**(۱۶) د جبر او اختيار د مقام پېژندل**

چارې داسې د تقدير په ولکه کښې دي چې چاره کول د مرګ سبب کېږي.

**(۱۷) د وېښتو د رنګولو ضرورت**

له حضرت علي عليه السلام يې وپوښتل چې د خداے رسول صلی الله عليه وآله فرمايلي دي: وېښتهٔ رنګ کړئ او ځانونه د يهوديانو په شان مه جوړوئ د دې مطلب څه دے؟، وې فرمايل: پېغمبراکرم صلی الله عليه وآله دا خبره په هغه زمانه کښې وکړه چې د اسلام منونکي کم وو خو نن چې اسلام پراختيا موندلې ده او اسلامي نظام په پښو اودرېدلے دے هر څوک چې (په دې حقله) څنګه يې زړهٔ غواړي اودې کړي.

**(۱۸) له جنګه د تېښتې سپيرې نتيجې**

د هغو کسانو په حقله يې چې له جنګه څنډې ته شول وفرمايل:» حق يې خوار کړ د باطل مرسته يې هم اونهٔ کړه.

**(۱۹) د نفس د لاروۍ نتيجه**

څوک چې په خپلو ارمانونو او آرزوګانو پسې لاړ شي مرګ يې له مېنځه يوسي.

**(۲۰) له ځوانمردانو سره سلوک**

د ځوانمردانو له تېروتنو تېر شئ ځکه چې ځوانمرد نهٔ ښوېږي مګر دا چې د خداے مرستندويه لاس يې راوچت کړي.

**(۲۱) اخلاقي فضائل او رذائل**

وېره له نااميدۍ او شرم له محرومۍ سره تړلي دي او فرصتونه د وريځو

قُرِنَت الْهَيْبَةُ بِالْخَيْبَةِ، وَالْحَيَاءُ بِالْحِرْمَانِ، وَالْفُرْصَةُ تَمُرُّ مَرَّ السَّحَابِ، فَانْتَهِزُوا فُرَصَ الْخَيْرِ.

په شان تېرېږي نو فرصتونه غنيمت اوګڼئ.

۲۲. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

لَنَا حَقٌّ، فَإِنْ أُعْطِينَاهُ، وَإِلاَّ رَكِبْنَا أَعْجَازَ الابِلِ، وَإِنْ طَالَ السُّرَى.

(۲۲) د حق اخېستو روده

زمونږ يو حق دے چې مونږ ته راکړے شي. که نۀ وي په اوښانو سپارۀ شوو او د هغۀ د لاسته راوړلو لپاره به لاړ شوو که څه هم په شپه کښې زمونږ لاره وهل اوږدۀ شي.

((دا د امام له فصيحو او لطيفو خبرو څخه ده يعني که زمونږ حق يې رانۀ کړ خوار به شوو او بايد په اوښ باندې د يو غلام او اسير په شان کښېنوو.

۲۳. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

مَنْ أَبْطَأَ بِهِ عَمَلُهُ لَمْ يُسْرِعْ بِهِ حَسَبُهُ.

(۲۳) د عمل فضيلت

د چا کردار چې هغه کوم مقام ته اونۀ رسوي د کورنۍ او خاندان وياړونه يې هيڅ ځاے ته نۀ شي رسولے.

۲۴. وَقَالَ:

مِنْ كَفَّارَاتِ الذُّنُوبِ الْعِظَامِ إِغَاثَةُ الْمَلْهُوفِ، وَالتَّنْفِيسُ عَنِ الْمَكْرُوبِ.

(۲۴) له خلقو سره د مرستې طريقه

د لويو ګناهانو يو کفاره دا ده چې د خلقو فرياد واورې او مصيبت ځپلي په قرار کړې.

۲۵. وَقَالَ:

يَابْنَ آدَمَ، إِذَا رَأَيْتَ رَبَّكَ سُبْحَانَهُ يُتَابِعُ عَلَيْكَ نِعَمَهُ وَأَنْتَ تَعْصِيهِ فَاحْذَرْهُ.

(۲۵) د نعمتونو په زياتولو کښې د خداے ويره

اے د آدم بچيه! کله چې خداے وينې چې ډول ډول نعمتونه درکوي په داسې حال کښې چې تۀ ګناهکار يې نو اوېرېږه.

۲۶. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

مَا أَضْمَرَ أَحَدٌ شَيْئاً إِلاَّ ظَهَرَ فِي فَلَتَاتِ لِسَانِهِ، وَصَفَحَاتِ وَجْهِهِ.

(۲۲) د روح او بدن تعلق

هيچا په زړۀ کښې څه پټ نۀ کړل مګر دا چې د ژبې په ښوېدو او د مخ په رنګ کښې ښکاره شول.

۲۷. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

امْشِ بِدَائِكَ مَا مَشَى بِكَ.

(۲۷) د دردونو درمان

له خپل درد سره غړمله شه لکه څرنګه چې هغه له تا سره غړمله شوے دے.

۲۸. وَقَالَ:

أَفْضَلُ الزُّهْدِ إِخْفَاءُ الزُّهْدِ.

(۲۸) تر ټولو لويه تقوا

تر ټولو لوے زهد د زهد پټ ساتل دي.

۲۹. وَقَالَ:

إِذَا كُنْتَ فِي إِدْبَارٍ، وَالْمَوْتُ فِي إِقْبَالٍ، فَمَا أَسْرَعَ الْمُلْتَقَى!

(۲۹) مرګ ياد ساتئ

کله چې تۀ ژوند تېروې او مرګ ستا لورې ته راځي نو له مرګ سره به ژومره زر ملاقات وکړې.

۳۰. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ فِي كَلَامٍ لَهُ:

الْحَذَرَ الْحَذَرَ! فَوَاللهِ لَقَدْ سَتَرَ، حَتَّى كَأَنَّهُ قَدْ غَفَرَ.

(۳۰) له غفلته ډډه کوئ

خبردار! خبردار! په خداے قسم! خداے داسې پرده داري کوي تۀ به وائې چې بخښلے يې!

۳۱. وَسُئِلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ عَنِ الإِيمَانِ، فَقَالَ:

الايمَانُ عَلَى أَرْبَعِ دَعَائِمَ: عَلَى الصَّبْرِ، وَالْيَقِينِ، وَالْعَدْلِ،

(۳۱) د ايمان ډولونه

«د ايمان په حقله يې له امامه اوپوښتل وې فرمايل: »

وَالْجِهَادِ: فَالصَّبْرُ مِنْهَا عَلَى أَرْبَعِ شُعَبٍ: عَلَى الشَّوْقِ، وَالشَّفَقِ، وَالزُّهْدِ، وَالتَّرَقُّبِ: فَمَنِ اشْتَاقَ إِلَى الْجَنَّةِ سَلاَ عَنِ الشَّهَوَاتِ، وَمَنْ أَشْفَقَ مِنَ النَّارِ اجْتَنَبَ الْمُحَرَّمَاتِ، وَمَنْ زَهِدَ فِي الدُّنْيَا اسْتَهَانَ بِالْمُصِيبَاتِ، وَمَنِ ارْتَقَبَ الْمَوْتَ سَارَعَ فِي الْخَيْرَاتِ. وَالْيَقِينُ مِنْهَا عَلَى أَرْبَعِ شُعَبٍ: عَلَى تَبْصِرَةِ الْفِطْنَةِ، وَتَأَوُّلِ الْحِكْمَةِ، وَمَوْعِظَةِ الْعِبْرَةِ، وَسُنَّةِ الاوَّلِينَ: فَمَنْ تَبَصَّرَ فِي الْفِطْنَةِ تَبَيَّنَتْ لَهُ الْحِكْمَةُ، وَمَنْ تَبَيَّنَتْ لَهُ الْحِكْمَةُ عَرَفَ الْعِبْرَةَ، وَمَنْ عَرَفَ الْعِبْرَةَ فَكَأَنَّمَا كَانَ فِي الاوَّلِينَ. وَالْعَدْلُ مِنْهَا عَلَى أَرْبَعِ شُعَبٍ: عَلَى غَائِصِ الْفَهْمِ، وَغَوْرِ الْعِلْمِ، وَزُهْرَةِ الْحُكْمِ، وَرَسَاخَةِ الْحِلْمِ: فَمَنْ فَهِمَ عَلِمَ غَوْرَ الْعِلْمِ، وَمَنْ عَلِمَ غَوْرَ الْعِلْمِ صَدَرَ عَنْ شَرَائِعِ الْحُكْمِ، وَمَنْ حَلُمَ لَمْ يُفَرِّطْ فِي أَمْرِهِ وَعَاشَ فِي النَّاسِ حَمِيداً. وَالْجِهَادُ مِنْهَا عَلَى أَرْبَعِ شُعَبٍ: عَلَى الامْرِ بِالْمَعْرُوفِ، وَالنَّهْيِ عَنِ الْمُنْكَرِ، وَالصِّدْقِ فِي الْمَوَاطِنِ، وَشَنَآنِ الْفَاسِقِينَ: فَمَنْ أَمَرَ بِالْمَعْرُوفِ شَدَّ ظُهُورَ الْمُؤْمِنِينَ، وَمَنْ نَهَى عَنِ الْمُنْكَرِ أَرْغَمَ أُنُوفَ الْمُنَافِقِينَ،مَنْ صَدَقَ فِي الْمَوَاطِنِ قَضَى مَا عَلَيْهِ، وَمَنْ شَنِىءَ الْفَاسِقِينَ وَغَضِبَ للهِ غَضِبَ اللهُ لَهُ وَأَرْضَاهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. وَالْكُفْرُ عَلَى أَرْبَعِ دَعَائِمَ: عَلَى التَّعَمُّقِ وَالتَّنَازُعِ، وَالزَّيْغِ، وَالشِّقَاقِ: فَمَنْ تَعَمَّقَ لَمْ يُنِبْ إِلَى الْحَقِّ، وَمَنْ كَثُرَ نِزَاعُهُ بِالْجَهْلِ دَامَ عَمَاهُ عَنِ الْحَقِّ، وَمَنْ زَاغَ سَاءَتْ عِنْدَهُ الْحَسَنَةُ وَحَسُنَتْ عِنْدَهُ السَّيِّئَةُ وَسَكِرَ سُكْرَ الضَّلاَلَةِ، وَمَنْ شَاقَّ وَعُرَتْ عَلَيْهِ طُرُقُهُ وَأَعْضَلَ عَلَيْهِ أَمْرُهُ وَضَاقَ مَخْرَجُهُ. وَالشَّكُّ عَلَى أَرْبَعِ شُعَبٍ: عَلَى التَّمَارِي وَالْهَوْلِ، وَالتَّرَدُّدِ والأِسْتِسْلاَمِ: فَمَنْ جَعَلَ الْمِرَاءَ دَيْدَناً لَمْ يُصْبِحْ لَيْلُهُ، وَمَنْ هَالَهُ مَا بَيْنَ يَدَيْهِ نَكَصَ عَلَى عَقِبَيْهِ، وَمَنْ تَرَدَّدَ فِي الرَّيْبِ وَطِئَتْهُ سَنَابِكُ الشَّيَاطِينِ، وَمَنِ اسْتَسْلَمَ لِهَلَكَةِ الدُّنْيَا وَالأْخِرَةِ هَلَكَ فِيهِمَا.

۱- د ایمان د ستنو پېژندل:ایمان په څلوور ستنو ولاړ دے: صبر، یقین، عدل او جهاد ،صبر هم په څلورو ستنو ولاړ دے: شوق، ویره، زهد او انتظار. هغه کس چې د جنت شوق لري شهوتونه یې کمېږي او څوک چې د دوزخ له اوره ویرېږي له حرامو ډډه کوي او هغه کس چې په دنیا کښې زهد او تقوا لري مصیبتونه ورته آسانه ښکاري.او څوک چې د مرګ په انتظار وي په نېکیو کښې بیړه کوي. یقین هم په څلورو ستنو ولاړ دے: ځیر او هوښیار نظر،د واقعیتونو حکیمانه اخېستل،د زماني له پېښنو عبرت اخېستل او د تېرو خلقو د سمې لارې پېروي کول. نو چا چې په هوښیارۍ او ځېرتیا سره حقیقتونو ته اوکتل، حکمت به ښکاره اوویني او چا چې حکمت څرګند اولیدۀ عبرت به وپېژني او چا چې عبرت واخېستۀ تۀ به وائې له تېرو خلقو سره یې ژوندکړے دے. او عدل هم په څلورو ستنو ولاړ دے: ژور فکر، حقیقت ته رسېدلے علم، ښۀ قضاوت او په صبر کښې استقامت او ټینګتیا. نو چا چې سم فکر وکړ د علم تل ته اورسېدۀ او هغه چې حقیقت ته اورسېدۀ، د شریعت له رڼې چینې خړوب شو، او څوک چې صابر شو په کار کښې افراط او زیاتے نۀ کوي او په خلقو کښې به په نیکنامۍ سره ژوند کوي. او جهاد هم په څلورو ستنو ولاړ دے: امر بالمعروف او نهي عن المنکر (کړ مکړ) په هر حال کښې رښتیا ویل او له فاسقانو سره دښمني. نو چا چې په معروف امر وکړ، د مومنانو پیاوړے ملاتړے دے، او چا چې له بدو کارونو نهي وکړه،د منافقانو پوزه یې په ځمکه راکاږله، او هغه کس چې د جنګ په مېدان کښې یې صادقانه پائېداري او اودرېدنه وکړه نو هغه حق یې ادا کړے دے چې په غاړه یې ؤ او څوک چې له فاسقانو سره د ښمني وکړي او د خداے لپاره غصه وکړي خداے هم د هغۀ لپاره غصه کوي او د قیامت په ورځ به هغه خوشحاله کړي.

د کفر او شک د ډولونو پېژندل: او کفر هم په څلورو ستنو ولاړ دے: دروغه تلوسه او لټون، جنګ او جدل،له حقه کږېدل، او دښمني کول. نو څوک چې په دروغه تلوسه او لټون پسې لاړ حق ته اونۀ رسېدۀ، او چا چې جنګ او جدل ته مخه کړه د حق له لیدلو ړوند شو او څوک چې د حق له لارې اوګرځېدۀ نېکي یې بدي او بدي یې نېکي ګمان کړه، او په ګمراهیو کښې ډوب شو، او چا چې دښمني وکړه د حق په لاره تګ ورته سخت او کار یې ستونځمن او له مشکلاتو وتل ورته سخت شول. او شک هم څلور برخې لري: په خبرو کښې جدال، ویره، دوه زړۀ توب، او د زماني پېښنو ته تسلیمېدل.نو چا چې جنګ او جدل خپل عادت اوګرځوه د شبهاتو له تیرو به راونۀ ځي، او هغه کس چې له هر څه ویرېږي همېشه د شاتګ په حال کښې وي، او هغه کس چې مردد او دوه زړے وي، د شېطان تر پښو لاندې به چخښي شي او هغه کس چې د زماني پېښنو ته تسلیم شو او د دنیا او آخرت تباهي ته یې غاړه کېښوده دواړه جهانه به بایلي (د امام وېناوې اوږدې دي او له دې امله چې دلته مونږ لنډې

۳۲. وَقَالَ:
فَاعِلُ الْخَيْرِ خَيْرٌ مِنْهُ، وَفَاعِلُ الشَّرِّ شَرٌّ مِنْهُ.

وېناوي رااخلوو نو د هغوي له نورو خبرو تېرېږوو.

(۳۲) د ښو کارونو ارزښت
نېک عمله کس له نېکۍ ښهٔ او بدعمله کس له بدۍ بد دے.

۳۳. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ: كُنْ سَمحاً وَلاَ تَكُنْ مُبَذِّراً، وَكُنْ مُقَدِّراً وَلاَ تَكُنْ مُقَتِّراً.

(۳۳) په ښندنه او حساب کتاب کښې انډول او اعتدال
سخي اوسه خو پکښې زياتے مهٔ کوه په ژوند کښې حساب کتاب کوه خو سختي مهٔ کوه.

۳٤. أَشْرَفُ الْغِنَى تَرْكُ الْمُنَى.

(۳۴) د بې نيازۍ لاره
تر ټولو ښه بې نيازي د ارمانونو او آرزوګانو پرېښودل دي.

۳٥. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:
مَنْ أَسْرَعَ إِلَى النَّاسِ بِمَا يَكْرَهُونَ، قَالُوا فِيهِ [بِ]مَا لاَ يَعْلَمُونَ.

(۳۵) موقع پېژندل
څوک چې د يوکار په کولو کښې چې د خلقو خوښ نهٔ وي بېړه وکړي د هغهٔ په باره کښې به خلق داسې خبرې وکړي چې خبر ترې نهٔ دي.

۳٦. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:
مَنْ أَطَالَ الأَمَلَ أَسَاءَ الْعَمَلَ.

(۳۶) اوږدهٔ ارمانونه او بدعملونه
د چا چې آرزوګانې او ارمانونه اوږدهٔ وي عملونه يې ناخوښ وي.

۳۷. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ وَقَدْ لَقِيَهُ عِنْدَ مَسِيرِهِ إِلَى الشَّامِ دَهَاقِينُ الأَنْبَارِ، فَتَرَجَّلُوا لَهُ وَاشْتَدُّوا بَيْنَ يَدَيْهِ: مَا هذَا الَّذِي صَنَعْتُمُوهُ؟ فَقَالُوا: خُلُقٌ مِنَّا نُعَظِّمُ بِهِ أُمَرَاءَنَا.
فَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:
وَاللهِ مَا يَنْتَفِعُ بِهذَا أُمَرَاؤُكُمْ! وَإِنَّكُمْ لَتَشُقُّونَ بِهِ عَلَى أَنْفُسِكُمْ فِي دُنْيَاكُمْ، وَتَشْقَوْنَ بِهِ فِي آخِرَتِكُمْ، وَمَا أَخْسَرَ الْمَشَقَّةَ وَرَاءَهَا الْعِقَابُ، وَأَرْبَحَ الدَّعَةَ مَعَهَا الأَمَانُ مِنَ النَّارِ!

(۳۷) د جاهليت دودونه او رواجونه پرېږدئ
«د صفين په لاره کښې د انبار ښار کروندګرو چې امام اوليدهٔ نو له سورليو څخه کوز شول او پلي له امامه مخکې په منډو شول. امام چې اوليدل نو وې پوښتل ولې دا کار کوئ، هغوي وويل: دا زمونږ عادت دے او مونږ د خپلو باچايانو درناوے په دې ډول کوو امام وفرمايل»: په خداے قسم! ستاسو باچايانو له دغه کاره ګټه يونږه. او تاسو په دنيا کښې په دې کار سره ځانونه کړوئ او په آخرت کښې به هم په کړاؤ او مصيبت اخته کېږئ. او هغه کړاؤ څومره تاوانجن دے چې د عذاب سبب شي، او څومره ګټه وره ده هغه هوساينه او سوکالي چې د دوزخ له اوره امان وي.

۳۸. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ لإِبْنِهِ الْحَسَنِ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:
يَا بُنَيَّ، احْفَظْ عَنِّي أَرْبَعاً وَأَرْبَعاً، لاَ يَضُرُّكَ مَا عَمِلْتَ مَعَهُنَّ:
إِنَّ أَغْنَى الْغِنَى الْعَقْلُ، وَأَكْبَرَ الْفَقْرِ الْحُمْقُ، وَأَوْحَشَ الْوَحْشَةِ الْعُجْبُ، وَأَكْرَمَ الْحَسَبِ حُسْنُ الْخُلُقِ.
يَا بُنَيَّ، إِيَّاكَ وَمُصَادَقَةَ الأَحْمَقِ، فَإِنَّهُ يُرِيدُ أَنْ يَنْفَعَكَ فَيَضُرَّكَ.
وَإِيَّاكَ وَمُصَادَقَةَ الْبَخِيلِ، فَإِنَّهُ يَقْعُدُ عَنْكَ أَحْوَجَ مَا تَكُونُ إِلَيْهِ.

(۳۸) له خلقو سره د ناستې پاستې آداب
«خپل زوے امام حسن‌؈ ته يې وفرمايل: اے زويه له ما څلورځيزونه (ښېګړې) زده کړه او څلور ځيزونه (خبرداري) ياد ساته تر څو چې په هغو عمل کوې تاوان به نهٔ وينې: »
الف- ښېګړې
۱: بې شکه تر ټولو قيمتي بې نيازي عقل دے.
۲: تر ټولو لوے فقر بې عقلي ده.
۳: تر ټولو وېروونکې تنهائي خود پسندي ده.
۴: او تر ټولو درونډ کورنے ارزښت نېک اخلاق دي.
ب- خبرداري
۱: اے زويه! له بې عقلو سره له دوستۍ ډډه وکړه ځکه چې هغوي غواړي ګټه درورسوي خو تاوان به دررسوي.

وَإِيَّاكَ وَمُصَادَقَةَ الْفَاجِرِ، فَإِنَّهُ يَبِيعُكَ بِالتَّافِهِ.
وَإِيَّاكَ وَمُصَادَقَةَ الْكَذَّابِ، فَإِنَّهُ كَالسَّرَابِ: يُقَرِّبُ عَلَيْكَ الْبَعِيدَ، وَيُبَعِّدُ عَلَيْكَ الْقَرِيبَ.

۲: له شوم سره له دوستۍ ځان ساته ځکه چې هغه څه چې ته ورته سخته اړتيا لرې درنه به يې سپموي.
۳: له بدکاره سره دوستي مه کوه ګني په ډېره لږه بيه به دې خرڅ کړي.
۴: ا وله دروغجن سره له دوستۍ ډډه کوه ځکه چې د هغه سراب په شان دے چې لرې درته نژدې او نژدې درته لرې ښيي.

۳۹. وَقَالَ:
لاَ قُرْبَةَ بِالنَّوَافِلِ إِذَا أَضَرَّتْ بِالْفَرَائِضِ.

(۳۹) د واجباتو او مستحباتو اصلي مقام
هغه مستحب عمل انسان خدا ے پاک ته نۀ نژدې کوي کوم چې واجباتو ته تاوان اورسوي.

۴۰. وَقَالَ:
لِسَانُ الْعَاقِلِ وَرَاءَ قَلْبِهِ، وَقَلْبُ الاَحْمَقِ وَرَاءَ لِسَانِهِ.

(۴۰) عاقل او بې عقله اوپېژنه
د عاقل ژبه د هغۀ د زړۀ شاته ده، او د بې عقل زړۀ د هغۀ د ژبې شا ته دے.

۴۱. وَقَدْ رُوِيَ عَنْهُ هذَا الْمَعْنَى بِلَفْظ آخَرَ، وَهُوَ قَوْلُهُ:
قَلْبُ الاَحْمَقِ فِي فِيهِ، وَلِسَانُ الْعَاقِلِ فِي قَلْبِهِ.

(۴۱) د عاقل او کم عقل پېژندګلي
د احمق زړۀ د هغۀ په ژبه کښې دے او د عاقل ژبه د هغۀ په زړۀ کښې ده.

«سيد رضي وائي: دا ډېره ارزښتمنه او حېرانونکې وېنا ده چې عاقل سړے بې له فکر او عقله ژبه نۀ پرانېزي خو د احمق په خوله چې هر څه راځي هغه وائي نو د عاقل ژبه له زړۀ او د احمق زړۀ له ژبې حکم اخلي.»

۴۲. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ لِبَعْضِ أَصْحَابِهِ فِي عِلَّة اعْتَلَّهَا:
جَعَلَ اللهُ مَا كَانَ مِنْ شَكْوَاكَ حَطّاً لِسَيِّئَاتِكَ، فَإِنَّ الْمَرَضَ لاَ أَجْرَ فِيهِ، وَلكِنَّهُ يَحُطُّ السَّيِّئَاتِ، وَيَحُتُّهَا حَتَّ الاَوْرَاقِ، وَإِنَّمَا الاَجْرُ فِي الْقَوْلِ بِاللِّسَانِ، وَالْعَمَلِ بِالاَيْدِي وَالاَقْدَامِ، وَإِنَّ اللهَ سُبْحَانَهُ يُدْخِلُ بِصِدْقِ النِّيَّةِ وَالسَّرِيرَةِ الصَّالِحَةِ مَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ الْجَنَّةَ.

(۴۲) بيماري او د ګناهانو پاکېدل
«خپل يو ملګري ته يې چې ناجوړه ؤ وفرمايل:» خدا ے پاک هغه څه چې تۀ ترې شکايت لرې (بيماري) ستا د ګناهانو د کمولو سبب ګرځولې ده په بيمارۍ کښې څه ثواب نشته خوګناهان له منځه اوړي. او د منې د پاڼو په شان يې ګناهونه رژوي، بې له شکه په وېنا او خبرو کښې اجر په ژبه کښې او په عمل کښې اجر په لاسونو او قدمونو سره دے، او خدا ے تعالی د روغ نيت او پاک باطن په وجه په خپلو بندګانو کښې چې هر څوک وغواړي جنت ته داخلوي.

«سيد رضي وائي: رښتيا ووېل امام علي عليه السلام چې بيماري اجر نۀ لري، بيماري له هغو څيزونو څخه ده چې د بدل استحقاق لري او په بيماريو، ناخوالو او مصيبتونو کښې د بنده په پرتله د خدا ے بدله لويه ده، خو اجر او ثواب د هغوکارونو په بدل کښې وي چې بنده يې کوي. نو دا دواړه ډېر ظريف فرق لري چې امام عليه السلام په خپل نافذ علم او ځېرو سترګو سره هغه بيان کړے دے.»

۴۳. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ فِي ذِكْرِ خَبَّابِ بْنِ الأَرَتِّ:
يَرْحَمُ اللهُ خَبَّابَ بْنَ الارَتِّ، فَلَقَدْ أَسْلَمَ رَاغِباً، وَهَاجَرَ طَائِعاً، [وَقَنِعَ بِالْكَفَافِ، وَرَضِيَ عَنِ اللهِ،] وَعَاشَ مُجَاهِداً.

(۴۳) انساني نمونې
«د خپل يو ملګري خباب بن أرَتَ په ياد کښې يې وفرمايل:» خدا ے تعالی دې په خباب بن ارت رحمت وکړي، په مينه مسلمان شو او په فرمانبردارۍ سره يې هجرت وکړ، او په قناعت سره يې ژوند وکړ او له خدايه راضي ؤ او د مجاهد ژوند يې لاره وه.

۴۴.: طُوبَى لِمَنْ ذَكَرَ الْمَعَادَ، وَعَمِلَ لِلْحِسَابِ، وَقَنِعَ بِالْكَفَافِ، وَرَضِيَ عَنِ اللهِ.

(۴۴) د قيامت د ياد فضيلت
څومره بختور دے هغه کس چې د قيامت په ياد کښې وي د قيامت د حساب لپاره کار وکړي، په قناعت ژوند وکړي او له خدايه راضي وي.

۴۵. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:
لَوْ ضَرَبْتُ خَيْشُومَ الْمُؤْمِنِ بِسَيْفِي هذَا عَلَى أَنْ يُبْغِضَنِي مَاأَبْغَضَنِي، وَلَوْ صَبَبْتُ الدُّنْيَا بِجَمَّاتِهَا عَلَى الْمُنَافِقِ عَلَى

(۴۵) د مومن او منافق د پېژندلو لار
که زۀ يو مومن په پوزه باندې په توره سره اوهم چې زما دښمن شي نو زما دښمن به نۀ شي، او که ټوله دنيا منافق ته ورکړم چې له ما سره مينه وکړي زما دوست به نۀ شي، او دا له دې امله ده چې د خدا ے قضا جاري

أَنْ يُحِبَّنِي مَا أَحَبَّنِي: وَذلكَ أَنَّهُ قُضِيَ فَانْقَضَى عَلَى لِسَانِ النَّبِيِّ الأُمِّيِّ عليه السلام أَنَّهُ قَالَ: يَا عَلِيُّ، لاَ يُبْغِضُكَ مُؤْمِنٌ، وَلاَ يُحِبُّكَ مُنَافِقٌ».

شوه او د امي پيغمبرﷺ په ژبه تېره شوه چې وې فرمايل: «اے علي مومن به ستا دښمن نهٔ شي او منافق به ستا دوست نهٔ شي.

٤٦. وَقَالَ:

سَيِّئَةٌ تَسُوءُكَ خَيْرٌ عِنْدَاللهِ مِنْ حَسَنَةٍ تُعْجِبُكَ.

(۴۶) د پښېمانۍ فضيلت

هغه گناه چې تا پښېمانه کړي تر هغه نېک کاره غوره ده چې تا عُجب (په نېک کار وياړ کول) ته اوهڅوي

٤٧. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

قَدْرُ الرَّجُلِ عَلَى قَدْرِ هِمَّتِهِ، وَصِدْقُهُ عَلَى قَدْرِ مُرُوءَتِهِ، وَشَجَاعَتُهُ عَلَى قَدْرِ أَنَفَتِهِ، وَعِفَّتُهُ عَلَى قَدْرِ غَيْرَتِهِ.

(۴۷) د ارزښتونو پېژندل

د سړي ارزښت د هغهٔ د همت په اندازه دے، او رښتيا ويل يې د ځوانمردۍ په اندازه او مېړانه د هغهٔ د حيا په اندازه ده چې احساسوي يې او د هغهٔ پاکلمني د هغهٔ د غېرت په اندازه ده.

٤٨. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

الظَّفَرُ بِالْحَزْمِ، وَالْحَزْمُ بِإِجَالَةِ الرَّأْيِ، وَالرَّأْيُ بِتَحْصِينِ الأَسْرَارِ.

(۴۸) راز داري او برے

کاميابي په دورانديشۍ، او دورانديشي د فکر په صحيح کارولو او سم تفکر په رازدارۍ کښې دے.

٤٩. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

احْذَرُوا صَوْلَةَ الْكَرِيمِ إِذَا جَاعَ، وَاللَّئِيمِ إِذَا شَبِعَ.

(۴۹) له ښهٔ او بد فطرته سره د سلوک روده

د لوږې په وخت د ښهٔ او کريم سړي له حملې او د مړښت په وخت د پست انسان له يرغله ځان اوساته.

٥٠. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

قُلُوبُ الرِّجَالِ وَحْشِيَّةٌ، فَمَنْ تَأَلَّفَهَا أَقْبَلَتْ عَلَيْهِ.

(۵۰) د زړونو د جذبولو لار

د خلقو زړونه د هغه چا په لور گروهيږي چې خوش اخلاقه وي.

٥١. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

عَيْبُكَ مَسْتُورٌ مَا أَسْعَدَكَ جَدُّكَ.

(۵۱) طاقت او عيب پوشي

ستا عيبونه تر هغې چې زمانه له تا سره غږمله وي پټ دي.

٥٢. وَقَالَ:

أَوْلَى النَّاسِ بِالْعَفْوِ أَقْدَرُهُمْ عَلَى الْعُقُوبَةِ.

(۵۲) له ماتې خوړلو سره سلوک

په تاسو کښې د عفوې او بخښلو لپاره تر ټولو وړ کس هغه دے چې د سزا ورکولو ډېر قدرت ولري.

٥٣. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

السَّخَاءُ مَا كَانَ ابْتِدَاءً، فَأَمَّا مَا كَانَ عَنْ مَسْأَلَةٍ فَحَيَاءٌ وَتَذَمُّمٌ.

(۵۳) سخاوت او ښندنه

سخاوت دا دے چې تهٔ يې شروع کړې ځکه هغه څه چې له غوښتنې وروسته ورکړل شي يا د شرم له مخې دي يا د ناخوښې خبرې د اورېدلو له ويرې.

٥٤. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

لاَ غِنَى كَالْعَقْلِ، وَلاَ فَقْرَ كَالْجَهْلِ، وَلاَ مِيرَاثَ كَالأَدَبِ، وَلاَ ظَهِيرَ كَالْمُشَاوَرَةِ.

(۵۴) اخلاقي ارزښتونه

د عقل په شان هيڅ دولت او د ناپوهۍ په شان هيڅ فقر نشته، د ادب په شان هيڅ ميراث او د مشورې په شان هيڅ ملاتړے نشته.

٥٥. وَقَالَ:

الصَّبْرُ صَبْرَانِ: صَبْرٌ عَلَى مَا تَكْرَهُ، وَصَبْرٌ عَمَّا تُحِبُّ.

(۵۵) د صبر ډولونه

صبر په دوه ډوله دے: په هغه څه صبر چې خوښ دې نهٔ دے او له هغه څه صبر چې خوښ دې دے.

٥٦. وَقَالَ:

(۵۶) تش لاسي او يوائېتوب

الْغِنَى فِي الْغُرْبَةِ وَطَنٌ، وَالْفَقْرُ فِي الْوَطَنِ غُرْبَةٌ.

په پرديسۍ کښې شتمني داسې ده لکه چې په وطن کښې وې او په وطن کښې تش لاسي (غريبي) داسې ده لکه چې په پرديسۍ کښې وې.

٥٧. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

الْقَنَاعَةُ مَالٌ لاَ يَنْفَدُ.

(۵۷) د قناعت ارزښت

قناعت نۀ ختمېدونکې شتمني ده.

٥٨. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

الْمَالُ مَادَّةُ الشَّهَوَاتِ.

(۵۸) مال او شهوت

مال او دولت د شهوت جرړه ده.

٥٩. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

مَنْ حَذَّرَكَ كَمَنْ بَشَّرَكَ.

(۵۹) په غلطيو خبردارے ورکول

هغه کس چې تا ته خبردارے درکړي داسې دے لکه چې تا ته يې زيرے درکړے وي.

٦٠. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

اللِّسَانُ سَبُعٌ، إِنْ خُلِّيَ عَنْهُ عَقَرَ.

(۶۰) د ژبې تربيت

بې تربيته ژبه داسې ځناور دے چې که يې پرېږدې داړل کوي.

٦١. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

الْمَرْأَةُ عَقْرَبٌ حُلْوَةُ اللَّسْبَةِ.

(۶۱) د ښځو د ځورولو خوږوالے

ښځه داسې لړم دے چې لشه يې خوږه ده

٦٢. وَقَالَ:

إِذَا حُيِّيتَ بِتَحِيَّةٍ فَحَيِّ بِأَحْسَنَ مِنْهَا، وإِذَا أُسْدِيَتْ إِلَيْكَ يَدٌ فَكَافِئْهَا بِمَا يُرْبِي عَلَيْهَا، وَالْفَضْلُ مَعَ ذلِكَ لِلْبَادِىءِ.

(۶۲) نېکيو او ستائنو ته ځواب

څوک چې دې اوستائي له هغۀ نه په ښۀ ډول يې اوستايه او که چا درسره نېکي وکړه تۀ ورسره لا ډېره وکړه. په هرحال زيات اجر د هغه چا دے چې شروع يې کړې وي.

٦٣. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

الشَّفِيعُ جَنَاحُ الطَّالِبِ.

(۶۳) د شفاعت ارزښت

سفارش کوونکے د غوښتونکي د متو او وزرو په شان دے.

٦٤. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

أَهْلُ الدُّنْيَا كَرَكْبٍ يُسَارُ بِهِمْ وَهُمْ نِيَامٌ.

(۶۴) د دنيا پالو غفلت

د دنيا خاوندان په خوب کښې د پاتې (اودو) سورليو په شان دي چې بوځي يې.

٦٥. وَقَالَ:

فَقْدُ الاحِبَّةِ غُرْبَةٌ.

(۶۵) د دوستانو د پرېښودلو نتيجه

د دوستانو له لاسه ورکول پرديسي او تنهائي ده.

٦٦. وَقَالَ:

فَوْتُ الْحَاجَةِ أَهْوَنُ مِنْ طَلَبِهَا إِلَى غَيْرِ أَهْلِهَا.

(۶۶) د غوښتلو طريقه

د حاجت له لاسه ورکول له نااهله کس نه تر غوښتلو ښۀ دي.

٦٧. وَقَالَ:

لاَ تَسْتَحِ مِنْ إِعْطَاءِ الْقَلِيلِ، فَإِنَّ الْحِرْمَانَ أَقَلُّ مِنْهُ.

(۶۷) د انفاق فضيلت

په کمې ورکړې مه شرمېږه ځکه چې نۀ ورکول له دې هم کم دي.

٦٨. وَقَالَ:

الْعَفَافُ زِينَةُ الْفَقْرِ، [وَالشُّكْرُ زِينَةُ الغِنَى].

(۶۸) د عفت او شکر نتيجې

عفت او حيا کول د فقر ښکلا، او شکر ايستل د بې نيازۍ ښکلا ده.

٦٩. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

إِذَا لَمْ يَكُنْ مَا تُرِيدُ فَلاَ تُبَلْ كَيفَ كُنْتَ.

(۶۹) هيله مند (اميدوار) اوسه

که هغه څه ته چې غواړې يې اونۀ رسېدلې په هغه څه چې يې، انديښمن مه اوسه.

۷۰. وَقَالَ:

**لاَ تَرَى الْجَاهِلَ إِلاَّ مُفْرِطاً أَوْ مُفَرِّطاً.**

۷۱. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

**إِذَا تَمَّ الْعَقْلُ نَقَصَ الْكَلاَمُ.**

۷۲. وَقَالَ:

**الدَّهْرُ يُخْلِقُ الأَبْدَانَ، وَيُجَدِّدُ الآمَالَ، وَيُقَرِّبُ الْمَنِيَّةَ، وَيُبَاعِدُ الأُمْنِيَّةَ، مَنْ ظَفِرَ بِهِ نَصِبَ، وَمَنْ فَاتَهُ تَعِبَ.**

۷۳. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

**مَنْ نَصَبَ نَفْسَهُ لِلنَّاسِ إِمَاماً فَعَلَيْهِ أَنْ يَبْدَأَ بِتَعْلِيمِ نَفْسِهِ قَبْلَ تَعْلِيمِ غَيْرِهِ، وَلْيَكُنْ تَأْدِيبُهُ بِسِيرَتِهِ قَبْلَ تَأْدِيبِهِ بِلِسَانِهِ، وَمُعَلِّمُ نَفْسِهِ وَمُؤَدِّبُهَا أَحَقُّ بِالاِجْلاَلِ مِنْ مُعَلِّمِ النَّاسِ وَمُؤَدِّبِهِمْ.**

۷٤. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

**نَفَسُ الْمَرْءِ خُطَاهُ إِلَى أَجَلِهِ.**

۷۵. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

**كُلُّ مَعْدُودٍ مُنْقَضٍ، وَكُلُّ مُتَوَقَّعٍ آتٍ.**

۷٦. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

**إِنَّ الأُمُورَ إِذَا اشْتَبَهَتْ اعْتُبِرَ آخِرُهَا بِأَوَّلِهَا.**

۷۷. وَمِنْ خَبَرِ ضِرَارِ بْنِ ضَمُرَةَ الضُّبَابِيِّ عِنْدَ دُخُولِهِ عَلَى مُعَاوِيَةَ وَمَسْأَلَتِهِ لَهُ عَنْ أَمِيرِالْمُؤْمِنِينَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ .قَالَ: فَأَشْهَدُ لَقَدْ رَأَيْتُهُ فِي بَعْضِ مَوَاقِفِهِ وَقَدْ أَرْخَى اللَّيْلُ سُدُولَهُ، وَهُوَ قَائِمٌ فِي مِحْرَابِهِ قَابِضٌ عَلَى لِحْيَتِهِ يَتَمَلْمَلُ تَمَلْمُلَ السَّلِيمِ وَيَبْكِي بُكَاءَ الْحَزِينِ، وَيَقُولُ:

**يَا دُنْيَا يَا دُنْيَا، إِلَيْكِ عَنِّي، أَبِي تَعَرَّضْتِ؟ أَمْ إِلَيَّ تَشَوَّقْتِ؟ لاَ حَانَ حِينُكِ! هَيْهَاتَ! غُرِّي غَيْرِي، لاَ حَاجَةَ لِي فِيكِ، قَدْ طَلَّقْتُكِ ثَلاَثاً لاَ رَجْعَةَ فِيهَا! فَعَيْشُكِ قَصِيرٌ، وَخَطَرُكِ يَسِيرٌ، وَأَمَلُكِ حَقِيرٌ. آهِ مِنْ قِلَّةِ الزَّادِ، وَطُولِ الطَّرِيقِ، وَبُعْدِ السَّفَرِ، وَعَظِيمِ الْمَوْرِدِ!**

۷۸ . قَالَهُ لِلسَّائِلِ لَمَّا سَأَلَهُ: أَكَانَ مَسِيرُنَا إِلَى الشَّامِ بِقَضَاءٍ مِنَ

**(۷۰) د جاهل نښه**

ناپوهه کس به یا ګړند وي یا غړند. (یا به افراط کوي او یا به تفریط)

**(۷۱) د عقل د کمال نښه**

عقل چې کامليږي، خبرې کميږي

**(۷۲) د انسان او دنیا تعلق**

دنیا بدنونه ورستوي او آرزوګانې تازه کوي، مرګ نږدې او غوښتنې لرې کوي، څوک چې ورورسېدل ستړي کېږي او څوک چې اونهٔ رسېدل کړېږي.

**(۷۳) د نفس روزنه**

چا چې ځان د خلقو مشر کړ مخکې له دې چې نورو ته ښوونه وکړي اول بايدځان اصلاح کړي. او مخکې له دې چې په وينا او خبرو سره نور اوروزي په کردار سره دې تعلیم ورکړي،ځکه چا چې ځان ته تعلیم ورکړ او ځان یې ادب کړ ترهغه کس د تعظیم او درناوي زیات وړ دے چې نورو ته تعلیم ورکړي او ادب وروښيي.

**(۷۴) مرګ یاد ساتئ**

انسان چې هره سا اخلي د مرګ په لور ګام اخلي.

**(۷۵) د دنیا فنا کېدو ته پام**

هر څيز چې شمېرېدونکے دے ختمېدونکے دے، او د هر څه چې انتظار کوې راوبه رسېږي.

**(۷۶) د دنیا د پېښو تحلیل او شننه**

که پېښې د يو بل په شان وې وروستې یې له وړومبې سره پرتله کوي او څېړي یې.

**(۷۷) د دنیا پېژندل**

«د امامؑ یو ملګري ضرار بن ضمره ضبائي شام ته لاړ، معاویه ته ورغے، معاویه له هغهٔ وغوښتل چې د امام عليؑ حال احوال ورته ووائي، وې ویل: عليؑ مې په داسې حال کښې اوليدهٔ چې شپې خپلې پردې خورولې وې، هغه په محراب کښې (نمانځهٔ ته) ولاړ وُ، ږيره يې په لاس کښې نيولې وه او د مار چيچلي په شان ترپېدهٔ، او په ژړا او خفګان سره يې ویل:» اے دنیا! اے دنیا! له ما لرې شه، آیا ما ته ځان ښيې یا په ما مئینه شوې یې چې یوه ورځ زما په زړهٔ کښې ځاے وکړې. هیڅکله نهٔ شي کېدې! بل څوک اوغولوه ځکه چې زهٔ تا ته هيڅ ضرورت نهٔ لرم، تا ته مې درې طلاقه درکړې دي، چې رجوع (ستنبدل) پکښې نهٔ وي، ستا د ژوند ورځې لنډې، ستا بيه کمه، او ستا هیلې سپکې دي. آه چې توښه لږه ده او لاره اوږده، منزل لرې دے او د قیامت ورځه لویه!

**(۷۸) د جبر او ا ختیار د مقام پېژندل**

«شامي سرې پوښتنه وکړه: آیا شام ته زمونږ تګ د خداے په قضا او

اللهِ وَقَدَرٍ؟ بَعْدَ كَلاَمٍ طَوِيلٍ هَذَا مُخْتَارُهُ:

**وَيْحَكَ! لَعَلَّكَ ظَنَنْتَ قَضَاءً لاَزِماً، وَقَدَراً حَاتِماً! وَلَوْ كَانَ ذلِكَ كَذلِكَ لَبَطَلَ الثَّوَابُ وَالْعِقَابُ، وَسَقَطَ الْوَعْدُ وَالْوَعِيدُ. إنَّ اللهَ سُبْحَانَهُ أَمَرَ عِبَادَهُ تَخْيِيراً، وَنَهَاهُمْ تَحْذِيراً، وَكَلَّفَ يَسِيراً، وَلَمْ يُكَلِّفْ عَسِيراً، وَأَعْطَى عَلَى الْقَلِيلِ كَثِيراً، وَلَمْ يُعْصَ مَغْلُوباً، وَلَمْ يُطَعْ مُكْرِهاً، وَلَمْ يُرْسِلِ الْأَنْبِيَاءَ لَعِباً، وَلَمْ يُنْزِلِ الْكُتُبَ لِلْعِبَادِ عَبَثاً، وَلاَ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا بَاطِلاً، ﴿ذلِكَ ظَنُّ الَّذِينَ كَفَرُوا فَوَيْلٌ لِلَّذِينَ كَفَرُوا مِنَ النَّارِ﴾**

٧٩. وَقَالَ: **خُذِ الْحِكْمَةَ أَنَّى كَانَتْ، فَإِنَّ الْحِكْمَةَ تَكُونُ فِي صَدْرِ الْمُنَافِقِ فَتَلَجْلَجُ فِي صَدْرِهِ حَتَّى تَخْرُجَ فَتَسْكُنَ إِلَى صَوَاحِبِهَا فِي صَدْرِ الْمُؤْمِنِ.**

٨٠ وَقَالَ:

**في مثل ذلك: الْحِكْمَةُ ضَالَّةُ الْمُؤْمِنِ، فَخُذِ الْحِكْمَةَ وَلَوْ مِنْ أَهْلِ النِّفَاقِ.**

٨١ وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

**قِيمَةُ كُلِّ امْرِىءٍ مَا يُحْسِنُهُ.**

٨٢ وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

**أُوصِيكُمْ بِخَمْسٍ لَوْ ضَرَبْتُمْ إِلَيْهَا آبَاطَ الْإِبِلِ لَكَانَتْ لِذلِكَ أَهْلاً: لاَ يَرْجُوَنَّ أَحَدٌ مِنْكُمْ إِلاَّ رَبَّهُ، وَلاَ يَخَافَنَّ إِلاَّ ذَنْبَهُ، وَلاَ يَسْتَحْيِيَنَّ أَحَدٌ إِذَا سُئِلَ عَمَّا لاَ يَعْلَمُ أَنْ يَقُولَ: لاَ أَعْلَمُ، وَلاَ يَسْتَحْيِيَنَّ أَحَدٌ إِذَا لَمْ يَعْلَمِ الشَّيْءَ أَنْ يَتَعَلَّمَهُ. وَبِالصَّبْرِ، فَإِنَّ الصَّبْرَ مِنَ الْإِيمَانِ كَالرَّأْسِ مِنَ الْجَسَدِ، وَلاَ خَيْرَ فِي جَسَدٍ لاَ رَأْسَ مَعَهُ، وَلاَ فِي إِيمَانٍ لاَ صَبْرَ مَعَهُ.**

٨٣. وَقَالَ لِرَجُلٍ أَفْرَطَ فِي الثَّنَاءِ عَلَيْهِ، وَكَانَ لَهُ مُتَّهِماً:

**أَنَا دُونَ مَا تَقُولُ، وَفَوْقَ مَا فِي نَفْسِكَ.**

٨٤ وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

**بَقِيَّةُ السَّيْفِ أَبْقَى عَدَداً، وَأَكْثَرُ وَلَداً.**

٨٥ وَقَالَ:

تقدير سره دے؟ امام په اوږدو کلماتو سره ځواب ورکړ چې ځينې يې رااخلو: «افسوس دې وي په تا باندې، ښائي چې د لازمي قضا او حتمي تقدير ګمان دې کړے وي. که داسې وي الهي سزا او جزا او زيري او خبرداري به چتې وو؛ پاک خداے خپلو بندګانو ته امر وکړ په داسې حال کښې چې اختيار لري او نهي يې وکړه چې اوبريږي، آسان احکام يې واجب کړل، او کومه سخته دنده يې اونۀ سپارله، او د لږ عمل يې لويه بدله ورکوله. د بندګانو په نافرمانۍ سره به مغلوب نۀ شي او په زوره او مجبورۍ اطاعت نۀ کيږي، او پيغمبران يې په ټوکو نۀ دي رالېږلي، او د بندګانو لپاره د آسماني کتابونو لېږل چتې نۀ وو، او آسمان او ځمکه او هغه څه چې يې په مينځ کښې دي بې مقصده يې نۀ دي پنځولي.

## (۷۹) د حکمت ارزښت

حکمت چې په هر ځاے کښې وي زده يې کړه کله کله حکمت د منافق په سينه کښې وي او بې تابي کوي چې راوځي او له خپلو ملګرو سره د مومن په سينه کښې قرار ومومي.

## (۸۰) مومن او د حکمت ارزښت

حکمت د مومن ورکه شوې پانګه ده. حکمت زده کړه که له منافقانو هم وي.

## (۸۱) د انسان تول

د هر چا ارزښت او قيمت د هغۀ د نېک او ښۀ کار په اندازه دے.

## (۸۲) لوړ انساني اخلاقونه

تاسو ته د پينځو څيزونو نصيحت کوم چې که د هغو لپاره چټک اوښان اوځغلوئ او د سفر کړاوونه اوزغمئ ورسره ښائي: په تاسو کښې دې څوک بې له خدايه هيچا ته هيله او اميد ونۀ لري، او يواځې له خپلې ګناه دې اوبريږي، او که په تاسو کښې له چا پوښتنه وشوه چې ځواب يې نۀ درتلۀ نو شرم دې نۀ کوي او اودې وائي چې نۀ يم خبر، او څوک دې د هغه څه په زده کولو کښې چې نۀ يې دي زده شرم نۀ کوي. او صبر کوئ ځکه چې صبر د ايمان لپاره داسې دے لکه د بدن لپاره سر، او ايمان بې له صبره د بې سره بدن په شان دے چې ارزښت نۀ لري.

## (۸۳) له غوړه مالو (چاپلوسانو) سره سلوک

«يو کس ته بې چې د امام په ستائنه کښې يې افراط وکړ او هغه څه يې چې په زړۀ کښې لرل اونۀ ويل، وفرمايل:» زۀ تر هغه کم يم چې په خولې دې وويل او تر هغه څه زيات يم چې په زړۀ کښې يې لرې.

## (۸۴) له جنګه وروسته خلق

له جنګ او تورې نه د پاتې کسانو شمېر دوامداره او بچيان زيات دي.

## (۸۵) علمي دعوې مه کوئ

مَنْ تركَ قَوْلَ: لاَ أَدْرِي، أُصِيبَتْ مَقَاتِلُهُ.

څوک چې د «نهٔ پوهېږم» له ویلو ډډه کوي هلاکت او تباهی ته رسېږي.

۸۶ وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

رَأْيُ الشَّيْخِ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ جَلَدِ الْغُلاَمِ.

وروي: مِنْ مَشْهَدِ الْغُلاَمِ.

(۸۶) د بوډا ګانو تجربه

د بوډا تدبیر او تفکر د ځوان له توانمنی او هڅې زیات خوښوم. «او همدا رنګ نقل شوي دي چې د بوډاګانو تجربه د ځوانانو تر جنګي تابیاؤ لوړه ده»

۸۷ وَقَالَ: عَجِبْتُ لِمَنْ يَقْنَطُ وَمَعَهُ الاسْتِغْفَارُ.

(۸۷) استغفار

په هغه کس حېران یم چې استغفار کولي شي خو بیا هم مایوسه او نا امیده دے.

۸۸ وَحَكَى عَنْهُ أَبُو جَعْفَرٍ مُحَمَّدُ بْنُ عَلِيٍّ الْبَاقِرُ عَلَيْهِمَا السَّلاَمُ أَنَّهُ قَالَ: كَانَ فِي الأَرْضِ أَمَانَانِ مِنْ عَذَابِ اللهِ سُبْحَانَهُ، وَقَدْ رُفِعَ أَحَدُهُمَا، فَدُونَكُمُ الآخَرَ فَتَمَسَّكُوا بِهِ: أَمَّا الأَمَانُ الَّذِي رُفِعَ فَهُوَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ. وَأَمَّا الأَمَانُ الْبَاقِي فَالاْسْتِغْفَارُ، قَالَ اللهُ عزّوجلّ: ﴿وَمَا كَانَ اللهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَأَنْتَ فِيهِمْ وَمَا كَانَ اللهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُونَ﴾.

(۸۸) په ځمکه دوه امانه

«امام محمد باقرؑ له امیرالمومنین علیؑ څخه نقلوي چې» په ځمکه کښې دوه شیزونه د خداے له عذابه د امان سبب دي چې یو یې لاړ نو بل راټینګ کړئ، هغه امان چې واخېستل شو د رسول الله مبارکﷺ ذات ؤ او پاتې امان استغفار کول دي چې خداے تعالی خپل ګران رسولﷺ ته وفرمایل«خداے تعالی هغوي نهٔ په عذابوي په داسې حال کښې چې تهٔ په هغوي کښې یې، او عذاب پرې نهٔ نازلوي ترهغه وخته چې استغفار کوي»

«دا طریقه د قرآن له آیتونو د معنې او د وېنا د ظرافت د راویستلو تر ټولو ښه روده ده»

۸۹ وَقَالَ:

مَنْ أَصْلَحَ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ اللهِ أَصْلَحَ اللهُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ النَّاسِ، وَمَنْ أَصْلَحَ أَمْرَ آخِرَتِهِ أَصْلَحَ اللهُ لَهُ أَمْرَ دُنْيَاهُ، وَمَنْ كَانَ لَهُ مِنْ نَفْسِهِ وَاعِظٌ كَانَ عَلَيْهِ مِنَ اللهِ حَافِظٌ.

(۸۹) د دنیا او آخرت خبر

څوک چې د خپل ځان او خداے پاک تر مینځ معاملات سم کړي خداے به د هغهٔ او د خلقو تر مینځ چارې سمې کړي او څوک چې د آخرت چارې اصلاح کړي خداے پاک به د هغهٔ دنیاوي چارې سمې کړي، او څوک چې له دننه (باطنه) نصیحت کوونکے لري خداے تعالی د هغهٔ ساتونکے دے.

۹۰. الْفَقِيهُ كُلُّ الْفَقِيهِ مَنْ لَمْ يُقَنِّطِ النَّاسَ مِنْ رَحْمَةِ اللهِ، وَلَمْ يُؤْيِسْهُمْ مِنْ رَوْحِ اللهِ، وَلَمْ يُؤْمِنْهُمْ مِنْ مَكْرِاللهِ.

(۹۰) فقیه څوک دے؟

کامل فقیه هغه څوک دے چې خلق د خداے پاک له بخښنې مایوسه او د هغهٔ له مهربانۍ ناامیده نهٔ کړي او د خداے له ناڅاپي عذابه د امن احساس ورنهٔ کړي.

۹۱. وَقَالَ:

إِنَّ هذِهِ الْقُلُوبَ تَمَلُّ كَمَا تَمَلُّ الأَبْدَانُ، فَابْتَغُوا لَهَا طَرَائِفَ الْحِكْمَةِ.

(۹۱) د زړونو علاج

دا زړونه هم د بدنونو په شان مړاوي او خفه کېږي. نو د زړونو د خوشحالۍ او تازه والي لپاره د حکمت ښکلې خبرې اولټوئ.

۹۲. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

أَوْضَعُ الْعِلْمِ مَا وُقِفَ عَلَى اللِّسَانِ، وَأَرْفَعُهُ مَا ظَهَرَ فِي الْجَوَارِحِ وَالأَرْكَانِ.

(۹۲) تر ټولو لوے علم

تر ټولو بې ارزښته علم هغه دے چې یواځې په ژبه وي او تر ټولو لوے علم هغه دے چې د بدن په اندامونو او غړیو کښې ښکاره وي.

۹۳. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

لاَ يَقُولَنَّ أَحَدُكُمْ: اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْفِتْنَةِ، لأَنَّهُ لَيْسَ أَحَدٌ

(۹۳) د ازمېښتونو فلسفه

په تاسو کښې دې څوک دا نهٔ وائي چې «خدایه له فتنو (ازمېښتنو) څخه تا ته پناه دروړم» ځکه چې هیڅوک نشته چې په فتنې (ازمېښت) کښې

إلاَّ وَهُوَ مُشْتَمِلٌ عَلَى فِتْنَة، وَلكِنْ مَنِ اسْتَعَاذَ فَلْيَسْتَعِذْ مِنْ مُضِلاَّتِ الْفِتَنِ، فَإِنَّ اللهَ سُبْحَانَهُ يَقُولُ: ﴿وَاعْلَمُوا أَنَّمَا أَمْوَالُكُمْ وَأَوْلاَدُكُمْ فِتْنَةٌ﴾، وَمَعْنَى ذلِكَ أَنَّهُ سُبْحَانَهُ يَخْتَبِرُهُمْ بِالاَْمْوَالِ وَالاَْوْلاَدِ لِيَتَبَيَّنَ السَّاخِطَ لِرِزْقِهِ وَالرَّاضِيَ بِقِسْمِهِ، وَإِنْ كَانَ سُبْحَانَهُ أَعْلَمَ بِهِمْ مِنْ أَنْفُسِهِمْ، وَلكِنْ لِتَظْهَرَ الاَْفْعَالُ الَّتي بِهَا يُسْتَحَقُّ الثَّوَابُ وَالْعِقَابُ، لاَِنَّ بَعْضَهُمْ يُحِبُّ الذُّكُورَ وَيَكْرَهُ الاِْنَاثَ، وَبَعْضَهُمْ يُحِبُّ تَثْمِيرَ الْمَالِ وَيَكْرَهُ انْثِلاَمَ الْحَالِ.

نهٔ وي خوکه څوک غواړي چې خداے ته پناه یوسي نو له ګمراه کوونکو فتنو او ازمېښتونو دې یوسي بې له شکه چې لوے خداے فرمائي: <پوه شئ چې ستاسو مالونه او اولادونه فتنه دي> د دغه آیت معنا دا ده چې خداے تعالی انسانان په مالونو او اولادونو سره ازمائي، چې هغه کس چې له خپلې روزۍ خفه او هغه کس چې ورځینې خوشحاله دے اوپېژندل شي، که څه هم خداے تعالی د هغوي په حالونو له هغوي زیات خبر دے خو د دې لپاره چې هغه کردار چې د سزا یا جزا وړتیا لري ښکاره کړي، ډېر داسې خلق شته چې زوے یې خوښېږي خو لور یې نهٔ خوښېږي او ځینې بیا د مال په زیاتوالي خوشحالېږي خو د پانګې په کمې اندېښمن دي.

«سید رضي وائي چې دا ډېر ژور او پېچلے تفسیر دے چې له امامه اورېدل شوے دے»

٩٤. وَسُئِلَ عَنِ الْخَيْرِ مَا هُوَ؟ فَقَالَ:

لَيْسَ الْخَيْرُ أَنْ يَكْثُرَ مَالُكَ وَوَلَدُكَ، وَلكِنَّ الْخَيْرَ أَنْ يَكْثُرَ عِلْمُكَ، وَأَنْ يَعْظُمَ حِلْمُكَ، وَأَنْ تُبَاهِيَ النَّاسَ بِعِبَادَةِ رَبِّكَ، فَإِنْ أَحْسَنْتَ حَمِدْتَ اللهَ، وَإِنْ أَسَأْتَ اسْتَغْفَرْتَ اللهَ. وَلاَ خَيْرَ فِي الدُّنْيَا إِلاَّ لِرَجُلَيْنِ: رَجُلٍ أَذْنَبَ ذُنُوباً فَهُوَ يَتَدَارَكُهَا بِالتَّوْبَةِ، وَرَجُلٍ يُسَارِعُ فِي الْخَيْرَاتِ.

**(۹۴) د نېکیو او ښېګړو پېژندل**

« له امامه وپوښتل شول: خبر څه دے.وې فرمایل:» خبر دا نهٔ دے چې مال او اولاد دې زیات شي، بلکه خبر دا دے چې علم دې زیات او تواضع او عاجزي دې لویه او ډېره وي، او د خداے په عبادت کښې په خلقو کښې سرلوړے یې، نوکه نېک کار وکړې د خداے شکر اوباسې او که بد کار وکاندې له خدایه بخښنه وغواړې. په دنیا کښې یواځې دوه تنه خبر لري یو هغه ګناهکار چې په توبې سره تلافي وکړي او بل هغه نېک عمله کس چې په نېکو کارونو کښې بېړه وکړي.

٩٥. وَقَالَ:

لاَ يَقِلُّ عَمَلٌ مَعَ التَّقْوَى، وَكَيْفَ يَقِلُّ مَا يُتَقَبَّلُ؟

**(۹۵) تقوا او د اعمالو ارزښت**

هیڅ کار په تقوا سره کم نهٔ دے او څرنګه به کم وي هغه چې اومنلے شي.

٩٦. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ: إِنَّ أَوْلَى النَّاسِ بِالاَْنْبِيَاءِ أَعْلَمُهُمْ بِمَا جَاؤُوا بِهِ، ثُمَّ تَلاَ: ﴿إِنَّ أَوْلَى النَّاسِ بِإِبْرَاهِيمَ لَلَّذِينَ اتَّبَعُوهُ وَهذَا النَّبِيُّ وَالَّذِينَ آمَنُوا ...﴾

ثُمَّ قَالَ: إِنَّ وَلِيَّ مُحَمَّد مَنْ أَطَاعَ اللهَ وَإِنْ بَعُدَتْ لُحْمَتُهُ، وَإِنَّ عَدُوَّ مُحَمَّد مَنْ عَصَى اللهَ وَإِنْ قَرُبَتْ قَرَابَتُهُ!

**(۹۶) د علم او بندګۍ ارزښت**

پېغمبرانو ته تر ټولو نزدې کسان هغه دي چې په هغه څه چې پېغمبرانو راوړي دي تر ټولو زیات پوه وي. «بیا یې دغه آیت تلاوت کړ:بې له شکه ابراهیم ته تر ټولو نزدې کسان هغه دي چې د هغهٔ لارویان شول، او هغه مومنان چې له دې خاتم پېغمبرسره یو ځاے شول» بیا یې وفرمایل:د حضرت محمد ﷺ دوست هغه کس دے چې د خداے اطاعت وکړي که څه هم د خپلوۍ په پیوند کښې ترې لرې وي، او د حضرت محمد ﷺ دښمن هغه دے چې د خداے پاک نافرماني وکړي که څه هم د رسول الله مبارک ﷺ نزدې خپل وي.

٩٧. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ وَقَدْ سَمِعَ رَجُلاً مِنَ الْحَرُورِيَّةِ يَتَهَجَّدُ وَيَقْرَأُ، فَقَالَ:

نَوْمٌ عَلَى يَقِين خَيْرٌ مِنْ صَلاَة فِي شَكّ.

**(۹۷) د یقین ارزښت**

د حروراء د یو کس آواز یې واورېدهٔ چې د تهجد نمونځ او د قرآن تلاوت یې کوهٔ. وې فرمایل:» له یقین سره خوب کول په شک او دوه زړهٔ توب سره له نمونځ کولو غوره دي.

٩٨. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

اعْقِلُوا الْخَبَرَ إِذَا سَمِعْتُمُوهُ عَقْلَ رِعَايَة لاَ عَقْلَ رِوَايَة، فَإِنَّ رُوَاةَ الْعِلْمِ كَثِيرٌ، وَرُعَاتَهُ قَلِيلٌ.

**(۹۸) په روایتونو د عمل کولو ضرورت**

کله مو چې یو روایت واورېدهٔ په هغه ځان پوه کړئ او عمل پرې وکړئ نه دا چې واې ورئ او نورو ته یې نقل کړئ ځکه چې د علم راویان زیات دي او عمل کوونکي لږ.

۹۹. وَقَدْ سَمِعَ رَجُلاً يَقُولُ: إِنَّا للهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ، فَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:
إِنَّ قَوْلَنَا: (إِنَّا للهِ) إِقْرَارٌ عَلَى أَنْفُسِنَا بِالْمُلْكِ، وقولَنا: (وإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ) إِقْرَارٌ عَلَى أَنْفُسِنا بِالْهُلْكِ.

(۹۹) د انا لله و انا اليه راجعون تفسير
«وائي وربدل چي يو كس وويل: إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعونَ. وي فرمايل:» دا خبره چي مونږ وايو«مونږ تول د خداے يو»په بندگۍ اقرار دے او دا چي مونږ وايو«زمونږ جاروت د خداے په لور دے»د خپل ځان په ختمېدو اعتراف دے.

۱۰۰. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ وَقَدْ مَدَحَهُ قَوْمٌ فِي وَجْهِه:
اللَّهُمَّ إِنَّكَ أَعْلَمُ بِي مِنْ نَفْسِي، وَأَنَا أَعْلَمُ بِنَفْسِي مِنْهُمْ، اللَّهُمَّ اجْعَلْنَا خَيْراً مِمَّا يَظُنُّونَ، وَاغْفِرْ لَنَا مَا لاَ يَعْلَمُونَ.

(۱۰۰) د مناجاتو طريقه
«يوې ډلې د امام ستائنه وكړه امام وفرمايل:» اے خدايه! ته ما زما له ځانه ښه پېژني او زۀ خپل ځان له دوي ښۀ پېژنم؛ اے خدايه ما! تر هغه څه چي دوي يې خيال كوي غوره وګرځوې او په هغه څه راته چي دوي ترې نۀ دي خبر اوبخښې.

۱۰۱. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:
لاَ يَسْتَقِيمُ قَضَاءُ الْحَوَائِجِ إِلاَّ بِثَلاَث: بِاسْتِصْغَارِهَا لِتَعْظُمَ، وَ بِاسْتِكْتَامِهَا لِتَظْهَرَ، و بِتَعْجِيلِهَا لِتَهْنَأَ.

(۱۰۱) د خلقود حاجتونو د پوره كولو لار
د خلقو د حاجتونو پوره كول بشپړ نۀ دي مګر په دريو شيزونو: د هغوحاجتونو واړۀ ګڼل چي (د خداے په نزد) په خپله لوې شي، د هغو پټ ساتل چي (د اجر په وخت) په خپله ښكاره شي او د هغو په پوره كولو كښې بيړه كول چي ښۀ او غوره اوبريښي.

۱۰۲. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:
يَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ لاَ يُقَرَّبُ فِيهِ إِلاَّ الْمَاحِلُ، وَلاَ يُظَرَّفُ فِيهِ إِلاَّ الْفَاجِرُ، وَلاَ يُضَعَّفُ فِيهِ إِلاَّ الْمُنْصِفُ، يَعُدُّونَ الصَّدَقَةَ فِيهِ غُرْماً، وَصِلَةَ الرَّحِمِ مَنّاً، وَالْعِبَادَةَ اسْتِطَالَةً عَلَى النَّاسِ! فَعِنْدَ ذلِكَ يَكُونُ السُّلْطَانُ بِمَشُورَةِ الاماءِ، وَإِمَارَةِ الصِّبْيَانِ، وَتَدْبِيرِ الْخِصْيَانِ!

(۱۰۲) مستقبل او د ارزښتونو مسخ والے
په خلقو به داسې زمانه راشي چي يواځې د سخن چينو او چغل خورو درناوے به كېږي. او يواځې فاجر او بدعمله كسان به ښۀ ګڼل كېږي او يواځې منصف كسان به كمزوري ګڼل كېږي. په هغه زمانه كښې به له حاجتمنو سره مرسته كول تاوان او له خپلوانو سره پيوند او صله رحم احسان اړول او عبادت به يو ډول په خلقو د اوچتوالي وسيله اوګڼلې شي. په هغه زمانه كښې به حكومت د ښځو په مشورو د ماشومانو په واكمنۍ او د هجړاګانو (نر ښځيو) په تدبير سره چلېږي.

۱۰۳. ورُؤِيَ عَلَيْهِ إِزَارٌ خَلَقٌ مَرْقُوعٌ، فَقِيلَ لَهُ فِي ذلِكَ. فَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:
يَخْشَعُ لَهُ الْقَلْبُ، وَتَذِلُّ بِهِ النَّفْسُ، وَيَقْتَدِي بِهِ الْمُؤْمِنُونَ. إِنَّ الدُّنْيَا وَالاْخِرَةَ عَدُوَّانِ مُتَفَاوِتَانِ، وَسَبِيلاَنِ مُخْتَلِفَانِ، فَمَنْ أَحَبَّ الدُّنْيَا وَتَوَلاَّهَا أَبْغَضَ الاْخِرَةَ وَعَادَاهَا، وَهُمَا بِمَنْزِلَةِ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ، وَمَاشٍ بَيْنَهُمَا، كُلَّمَا قَرُبَ مِنْ وَاحِد بَعُدَ مِنَ الاْخَرِ، وَهُمَا بَعْدُ ضَرَّتَانِ!

(۱۰۳) له دنيا سره سلوك
امام يو پيوندي قميص اغوستے ؤ يوكس پوښتنه وكړه ولې پيوندي قميص اغوندې؟ وي فرمايل:»په دې سره زړۀ متواضع او نفس پېزواني كېږي، او مومنان ترې بېلګه او نمونه اخلي ياد لره دنيا او آخرت دوه نۀ پخلا كېدونكي دښمنان او دوه جدا جدا لارې دي، نو څوك چي دنيا پرسته وي او له دنيا سره مينه كوي له آخرت سره به يې دښمني وي او دا دوه د ختيځ او لوېديځ په شان له يو بله لرې دي او د دغو دوو په لور تلونكے كس هركله چي يو ته نژدې شي له بله لرې كېږي او دا دواړه د بنو په شان دي (همېشه يو بل ته تاوان رسوي)

۱۰۴. وَعَنْ نَوْف الْبَكَالِيِّ، قَالَ: رَأَيْتُ أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ ذَاتَ لَيْلَة، وَقَدْ خَرَجَ مِنْ فِرَاشِهِ، فَنَظَرَ فِي النُّجُومِ فَقَالَ: يَا نَوْفُ، أَرَاقِدٌ أَنْتَ أَمْ رَامِق؟ فَقُلْتُ: بَلْ رَامِقٌ يَا أَمِيرَ

(۱۰۴) ۱- د زاهدانو صفت
«له نوف بكالي نقل شوي دي چي يوه شپه مې امام علي﷼ اوليدۀ چي د عباد ت لپاره له بسترې پاڅېد، ستورو ته يې اوكتل او ماته يې وويل: اودۀ يې كه ويښ. اومې ويل ويښ يم اے اميرالمومنينه! وي فرمايل:»

الْمُؤْمنينَ. قَالَ: يَا نَوْفُ، طُوبَى للزَّاهِدينَ فِي الدُّنْيَا، الرَّاغِبين فِي الْأخرَةِ، أُولئك قَوْمٌ اتَّخَذُوا الأَرْضَ بِسَاطاً، وتُرابَهَا فِرَاشاً، ومَاءَهَا طِيباً، والْقُرْآنَ شِعَاراً، والدُّعَاءَ دِثَاراً، ثُمَّ قَرَضُوا الدُّنْيَا قَرْضاً عَلَى مِنْهَاجِ الْمَسِيحِ.

يَا نَوْفُ، إنَّ دَاوُدَ عَلَيْهِ السَّلامُ قَامَ فِى مِثْلِ هذه السَّاعَةِ مِنَ اللَّيْلِ فَقَالَ: إِنَّهَا سَاعَةٌ لا يَدْعُو فيهَا عَبْدٌ إلاَّ اسْتُجيبَ لَهُ، إلاَّ أَنْ يَكُونَ عَشَّاراً أَوْ عَرِيفاً أَوْ شُرْطِيّاً أَوْ صَاحِبَ عَرْطَبَةٍ (وَهِيَ الطُّنْبُورُ) أَوْ صَاحِبَ كَوْبَةٍ.

اے نوفه! بختور دي هغه کسان چې له دنیا یې ډډه کړې او آخرت ته هیله من شول؛ هغوي داسې کسان دي چې ځمکه یې خپل تخت، خاوره یې خپله بستره، اوبهٔ یې عطر(شربت)، قرآن یې د خپل باطن او دعا یې د خپل ظاهر پوښونکي وګرځول او د عیسی مسیح علیه السلام په شان یې له دنیا سره سلوک وکړ.

## ۲- د سحر خیزۍ فضیلت

اے نوفه! په تحقیق سره چې حضرت داؤد علیه السلام د شپې په داسې شېبو کښې پاڅېدهٔ او ویل به یې: «دا هغه شېبې دي چې د هر بنده دعا پکښې قبلیږي بې له قلنګ اخېستونکو، جاسوسانو، د ظالم حکومت د عسکرو او د ډول باجو وهونکو»

«ویل شوې دي چې عرطبه ډول ته وائي او کوبه سارنګۍ ته او ځینو د دې په اپوټه ویلې دي»

۱۰۵. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلامُ:

إنَّ اللهَ افْتَرَضَ عَلَيْكُمْ فَرَائِضَ فَلا تُضَيِّعُوهَا، وَحَدَّ لَكُمْ حُدُوداً فَلا تَعْتَدُوهَا، ونَهَاكُمْ عَنْ أَشْيَاءَ فَلا تَنْتَهِكُوهَا، وَسَكَتَ لَكُمْ عَنْ أَشْيَاءَ وَلَمْ يَدَعْهَا نِسْيَاناً فَلا تَتَكَلَّفُوهَا.

## (۱۰۵) د الهي احکامو او حدودو خیال ساتل

بې له شکه خدا ے تعالی په تاسو ځینې فرائض لازم کړي دي هغه مه تباه کوئ، او ستاسو لپاره یې ځینې پولې اوحدود ټاکلې دي له هغو مه تېرېږئ، او له ځینو ښیزونو یې منعې کړي یئ هغه مه کوئ او د ځینو په حقله یې درلره چپتیا غوره کړې ده خو د هېرې له امله نه، نو ځانته په هغو د پوهېدلو کړاؤ مه ورکوئ.

۱۰۶. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلامُ:

لاَ يَتْرُكُ النَّاسُ شَيْئاً مِنْ أَمْرِ دِينِهِمْ لاِسْتِصْلاَحِ دُنْيَاهُمْ إلاَّ فَتَحَ اللهُ عَلَيْهِمْ مَا هُوَ أَضَرُّ مِنْهُ.

## (۱۰۶) له دین څخه د تېښتې خطر

کله چې خلق د خپلې دنیا د ښهٔ کولو لپاره د دین یوه چاره پرېږدي نو خدا ے پاک یې په بدې بلا اړوي.

۱۰۷. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلامُ:

رُبَّ عَالِمٍ قَدْ قَتَلَهُ جَهْلُهُ، وَعِلْمُهُ مَعَهُ لاَ يَنْفَعُهُ.

## (۱۰۷) بې عمله عالم

ډېر داسې عالمان شته دي چې خپل جهالت او ناپوهۍ تباه کړل حال دا چې خپل علم ورسره ؤ خو ګټه یې ورنهٔ کړه.

۱۰۸. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلامُ:

لَقَدْ عُلِّقَ بِنِيَاطِ هذَا الإِنْسَانِ بَضْعَةٌ هِيَ أَعْجَبُ مَا فِيهِ: وَذلِكَ الْقَلْبُ، وَلَهُ مَوَادُّ مِنَ الْحِكْمَةِ وَأَضْدَادٌ مِنْ خِلافِهَا، فَإنْ سَنَحَ لَهُ الرَّجَاءُ أَذَلَّهُ الطَّمَعُ، وَإِنْ هَاجَ بِهِ الطَّمَعُ أَهْلَكَهُ الْحِرْصُ، إِنْ مَلَكَهُ الْيَأْسُ قَتَلَهُ الأَسَفُ، وَإِنْ عَرَضَ لَهُ الْغَضَبُ اشْتَدَّ بِهِ الْغَيْظُ، وَإِنْ أَسْعَدَهُ الرِّضَى نَسِيَ التَّحَفُّظَ، إِنْ غَالَهُ الْخَوْفُ شَغَلَهُ الْحَذَرُ، وَإِن اتَّسَعَ لَهُ الأَمْنُ اسْتَلَبَتْهُ الْغِرَّةُ، وَإِن أَصَابَتْهُ مُصِيبَةٌ فَضَحَهُ الْجَزَعُ، وَإِنْ أَفَادَ مَالاً أَطْغَاهُ الْغِنَى، وَإِنْ عَضَّتْهُ الْفَاقَةُ شَغَلَهُ الْبَلاَءُ، وَإِنْ جَهَدَهُ الْجُوعُ قَعَدَ بِهِ الضَّعْفُ، وَإِنْ أَفْرَطَ بِهِ الشِّبَعُ كَظَّتْهُ الْبِطْنَةُ، فَكُلُّ تَقْصِيرٍ بِهِ مُضِرٌّ، وَكُلُّ إِفْرَاطٍ لَهُ مُفْسِدٌ.

## (۱۰۸) د زړهٔ او روح حېرانتیاوې

د انسان په داخلي رګونو پورې د غوښې یوه ټوټه ځوړنده ده چې د هغهٔ د وجود تر ټولو حیرانوونکے غړے دے، او هغه زړهٔ دے، چې هم پکښې د حکمت سرچینې شته او هم د هغهٔ اپوټه ښیزونه. نو که په زړهٔ کښې کومه هیله او امید پېدا شي نو طمعه یې خوار کړي، او که طمعه پرې یرغل وکړي نو حرص یې تباه کړي، او که نهیلي او نااميدي وربانديې غالبه شي نو ارمانونه او ارزوګانې یې اوژني، او کله چې غصه شي نو کینه او غضب یې نور هم زیات شي، او قرار نهٔ مومي. او که خوشحالي یې نصیب شي نو حفظ ما تقدم یې هېر شي، او که ویره پرې راشي نو احتیاط یې له نورو ښیزونو غافله کړي او که راحته پرې راشي نو غافله شي او که څه مال لاسته راوړي نو بې نیازي یې سرغړوونکے کړي او که سخت مصیبت ورورسېږي نو بې صبري یې رسوا کړي اوکه تنګلاسي پرې راشي نو په بلا ګانو اخته شي او که لوږه یې بې تابه کړي نو ناتواني یې په ګونډو کړي او که زیات موړ شي نو د شکم پرۍ په مصیبت اخته شي نو هر ډول غړندوالے (تفریط) د هغه لپاره تاواني او هر ګړندوالے

(افراط) تباه کوونکے دے.

۱۰۹. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

**نَحْنُ الُنمْرُقَةُ الْوُسْطَى، بِهَا يَلْحَقُ التَّالِي، وَإِلَيْهَا يَرْجِعُ الْغَالِي.**

**(۱۰۹) د اهلبېتو علیهم السلام فضیلت**

مونږ اهلبیت د اعتدال او مینځ لارې ټکي یوو چې شاته پاتې کېدونکي په مونږ پسې ځان رارسوي او مخکې تلونکي مونږ ته راستنېږي.

۱۱۰. وَقَالَ:

**لاَ يُقِيمُ أَمْرَ اللهِ سُبْحَانَهُ إِلاَّ مَنْ لاَ يُصَانِعُ، وَلاَ يُضَارِعُ، وَلاَ يَتَّبِعُ الْمَطَامِعَ.**

**(۱۱۰) د الهي اوامرو د پوره کېدو شرطونه**

د خداے حکم یوائې هغه کس په ځاے کولې شي چې د حق په معامله کښې له چا سره نرمي کؤنکے نهٔ وي، ساز باز کؤنکے نهٔ وي او د آرزوګانو او ارمانونو تابع نهٔ ګرځي.

۱۱۱. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ وقد توفي سهل بن حُنَيْف الانصاري بالكوفة بعد مرجعه معه من صفين، وكان من أحبّ الناس إليه: **لَوْ أَحَبَّنِي جَبَلٌ لَتَهَافَتَ.**

**(۱۱۱) له امام علي علیه السلام سره نهٔ زغمېدونکے عشق**

له صفینه د ستنېدو په وخت د امام یو خوږ ملګرے سهل بن حنیف له دنیا لاړ هغه حضرت وفرمایل: «که غر هم له ماسره مینه وکړي اوبه نړیږي»

یعني له ما سره مینه کول د مومن لپاره ازمېښت دے او مصیبتونه به پرې راشي او د خداے د غوره بندګانو او پرهېزګارانو برخلیک همدا دے.لکه څرنګه یې چې همدا خبره په یو بل ځاے کښې هم کړې ده»

۱۱۲. وَقَالَ:

**مَنْ أَحَبَّنَا أَهْلَ الْبَيْتِ فَلْيَسْتَعِدَّ لِلْفَقْرِ جِلْبَاباً.**

**(۱۱۲) له اهلبېتو علیهم السلام سره د مینه والو او پیروکارو مصائب**

هر څوک چې له مونږ اهلبېتو علیهم السلام سره مینه وکړي باید د فقر د جامې د اغوستلو لپاره تیار شي.

«یعني د بېوزلې او نورو مصیبتونو زغملو ته دې تیار شي یا دا چې پکار دي د فقر طبیعت غوره کړي»

۱۱۳. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

**لاَ مَالَ أَعْوَدُ مِنَ الْعَقْلِ، وَلاَ وَحْدَةَ أَوْحَشُ مِنَ الْعُجْبِ، وَلاَ عَقْلَ كَالتَّدْبِيرِ، وَلاَ كَرَمَ كَالتَّقْوَى، وَلاَ قَرِينَ كَحُسْنِ الْخُلُقِ، وَ لاَ مِيرَاثَ كَالأَدَبِ، وَلاَ قَائِدَ كَالتَّوْفِيقِ، وَلاَ تِجَارَةَ كَالْعَمَلِ الصَّالِحِ، وَلاَ رِبْحَ كَالثَّوَابِ، وَلاَ وَرَعَ كَالْوُقُوفِ عِنْدَ الشُّبْهَةِ، وَلاَ زُهْدَ كَالزُّهْدِ فِي الْحَرَامِ، وَلاَ عِلْمَ كَالتَّفَكُّرِ، وَلاَ عِبَادَةَ كَأَدَاءِ الْفَرَائِضِ، وَلاَ إِيمَانَ كَالْحَيَاءِ وَالصَّبْرِ، وَلاَ حَسَبَ كَالتَّوَاضُعِ وَلاَ شَرَفَ كَالْعِلْمِ، وَلاَ مُظَاهَرَةَ أَوْثَقُ مِنْ مُشَاوَرَةٍ.**

**(۱۱۳) شکرې ملغلرې**

له عقله زیاته قیمتي پانګه نشته، او تر خودبینۍ (ځان خوښونې) زیاته تنهائي نشته او د تدبیر په شان عقل، د تقوا په شان سترتوب، د ښو اخلاقو په شان ملګرے، د ادب په شان میراث،د الهي توفیق په شان لارښود، د نېک عمل په شان تجارت،او د الهي اجر په شان بدله نشته.له شبهاتو د ډډه کولو په شان تقوا او پاکي،د دنیا حرام مال ته د بې پامۍ په شان زهد، د تفکر په شان علم، او د فرائضو د ادا کولو په شان عبادت، د حیا او صبر په شان ایمان، د تواضع او انکسارۍ په شان خپل، د علم په شان شرافت، او د بردبارۍ او حلم په شان عزت نشته او له مشورې زیات ډاډمن ملاتړے نشته.

۱۱٤. وَقَالَ:

**إِذَا اسْتَوْلَى الصَّلاَحُ عَلَى الزَّمَانِ وَأَهْلِهِ ثُمَّ أَسَاءَ رَجُلٌ الظَّنَّ بِرَجُلٍ لَمْ تَظْهَرْ مِنْهُ خِزْيَةٌ فَقَدْ ظَلَمَ! وَإِذَا اسْتَوْلَى الْفَسَادُ عَلَى الزَّمَانِ وَأَهْلِهِ فَأَحْسَنَ رَجُلٌ الظَّنَّ بِرَجُلٍ فَقَدْ غَرَّرَ!**

**(۱۱٤) په ټولنه کښې د خوش ګمانۍ او بدګمانۍ مقام**

کله چې په زمانه او د زمانې په خاوندانو د نیکۍ غلبه اوشي که یو کس په بل کس بدګماني وکړي په داسې حال کښې چې په ښکاره یې ترې سپک او بد عمل نهٔ وي لیدلے، ظالم دے، او که په زمانه او خلقو بدي واکمنه شي او څوک په چا خوش ګمانه شي نو ځان یې غولولے دے.

۱۱۵. وَقِيلَ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ: كَيْفَ نَجِدُكَ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ؟ فقال: **كَيْفَ يَكُونُ مَنْ يَفْنَى بِبَقَائِهِ، وَيَسْقَمُ بِصِحَّتِهِ، وَيُؤْتَى مِنْ مَأْمَنِهِ!**

**(۱۱۵) دنیا فاني ده**

«یو کس له امامه د حال احوال پوښتنه وکړه هغه حضرت وفرمایل:» د هغه کس حال به څنګه وي چې بقا یې د فنا په لور بیائي او په سلامتیا

۱۱۶. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

كَمْ مِنْ مُسْتَدْرَجٍ بِالإِحْسَانِ إِلَيْهِ، وَمَغْرُورٍ بِالسَّتْرِ عَلَيْهِ، وَمَفْتُونٍ بِحُسْنِ الْقَوْلِ فِيهِ! وَمَا ابْتَلَى اللهُ أَحَداً بِمِثْلِ الإِمْلَاءِ لَهُ.

۱۱۷. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

هَلَكَ فِيَّ رَجُلَانِ: مُحِبٌّ غَالٍ وَمُبْغِضٌ قَالٍ.

۱۱۸. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

إِضَاعَةُ الْفُرْصَةِ غُصَّةٌ.

۱۱۹. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

مَثَلُ الدُّنْيَا كَمَثَلِ الْحَيَّةِ: لَيِّنٌ مَسُّهَا، وَالسَّمُّ النَّاقِعُ فِي جَوْفِهَا، يَهْوِي إِلَيْهَا الْغِرُّ الْجَاهِلُ، وَيَحْذَرُهَا ذُو اللُّبِّ الْعَاقِلُ!

۱۲۰. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ وَقَدْ سُئِلَ عَنْ قُرَيْشٍ:

أَمَّا بَنُو مَخْزُومٍ فَرَيْحَانَةُ قُرَيْشٍ، نُحِبُّ حَدِيثَ رِجَالِهِمْ، وَالنِّكَاحَ فِي نِسَائِهِمْ. وَأَمَّا بَنُو عَبْدِ شَمْسٍ فَأَبْعَدُهَا رَأْياً، وَأَمْنَعُهَا لِمَا وَرَاءَ ظُهُورِهَا. وَأَمَّا نَحْنُ فَأَبْذَلُ لِمَا فِي أَيْدِينَا، وَأَسْمَحُ عِنْدَ الْمَوْتِ بِنُفُوسِنَا. وَهُمْ أَكْثَرُ وَأَمْكَرُ وَأَنْكَرُ، وَنَحْنُ أَفْصَحُ وَأَنْصَحُ وَأَصْبَحُ.

۱۲۱. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

شَتَّانَ بَيْنَ عَمَلَيْنِ: عَمَلٍ تَذْهَبُ لَذَّتُهُ وَتَبْقَى تَبِعَتُهُ، وَعَمَلٍ تَذْهَبُ مَؤُونَتُهُ وَيَبْقَى أَجْرُهُ.

۱۲۲. وَتَبِعَ جِنَازَةً فَسَمِعَ رَجُلاً يَضْحَكُ، فَقَالَ:

كَأَنَّ الْمَوْتَ فِيهَا عَلَى غَيْرِنَا كُتِبَ، وَكَأَنَّ الْحَقَّ فِيهَا عَلَى غَيْرِنَا وَجَبَ، وَكَأَنَّ الَّذِي نَرَى مِنَ الأَمْوَاتِ سَفْرٌ عَمَّا قَلِيلٍ إِلَيْنَا رَاجِعُونَ! نُبَوِّئُهُمْ أَجْدَاثَهُمْ، نَأْكُلُ تُرَاثَهُمْ، كَأَنَّا مُخَلَّدُونَ، قَدْ نَسِينَا كُلَّ وَاعِظٍ وَوَاعِظَةٍ، وَرُمِينَا بِكُلِّ جَائِحَةٍ!!

کښې ناروغ دے، او په خپل مامن او آرام ځاے کښې پرې مرګ راځي.

### (۱۱۶) انسان او ازميښتونه

داسې ډېر کسان شته دي چې په هغو نعمتونو سره چې ورکول کېږي په لومه کښې ګير شي او په ګناه باندې په پرده پوښې سره اوغولېږي. او په ستائل کېدو سره اوزمائل شي. خداے تعالى د ازمائلو لپاره تر مهلته ښه وسيله بله نۀ ده ګرځولې.

### (۱۱۷) له امام سره په مينه کښې له افراط اوتفريطه ډډه کول

دوه تنه زما په وجه تباه شول: افراط کوونکے دوست (د ولايت او امامت له مقامه اوچتؤنکے) او زياتے کوونکے بغضي (له ولايت او امامت نه انکاري).

### (۱۱۸) له فرصتونو استفاده

له لاسه د فرصتونو ورکول د غمجنېدو سبب کېږي.

### (۱۱۹) د دنيا د پېژندلو ضرورت

دنيا د مار په شان ده پوستکے يې نرم دے خو دننه له زهرو ډک وي غولېدلے نادان هغه ته ګروهي او هوښيار عاقل له هغه ډډه کوي.

### (۱۲۰) د قريشو د قبيلو نفسيات پېژندنه

«له هغه حضرته د قريشو د قبيلو په باره کښې پوښتنه وشوه وې فرمايل:» بني محزوم د قريشو خوشبويه ګل دے، چې له سړو سره يې خبرې او له ښځو سره يې د وادۀ کول مو خوښ دي.بني عبد شمس د ډېر لرې فکر کوي (دور انديش دي) او د مال او اولاد په ملاتړ کښې توانمند دي او له همدې امله بد فکره او شومان دي. خو مونږ (بني هاشم) د هغه څه چې لرو يې زيات بخښونکي او ښندنه کوونکي يوو، او د خداے په لاره کښې د سرښندنې لپاره زيات سخيان يوو، د هغوي شمېر زيات دے خو غولوونکي او بد مخې (بدرنګ) دي او مونږ زيات فصيح، بليغ،خيرخواه او خوش صورته (ښائسته) يوو.

### (۱۲۱) د عمل ډولونه

د دوو عملونو په مېنځ کښې فاصله څومره زياته ده: هغه عمل چې خوند يې ختمېږي او سزا يې پاتې کېږي او هغه عمل چې کړاو يې تېرېږي او اجر يې پاتېدونکے دے.

### (۱۲۲) د دوستانو له مرګه عبرت

«امام د يو کس له جنازې سره روان ؤ، وې ليدل چې يو سړے خاندي وې فرمايل:» تۀ به وائې مرګ زمونږ نه د بل چا لپاره ليکل شوے دے او حق په بل چا واجب شوے دے، او تۀ به وائې دا مړي داسې مسافران دي چې ډېر زر به راستانۀ شي حال دا چې مړي يې خاورو ته سپاروو او ميراث يې خورو. تۀ به وائې مونږ د هغوي له مرګه وروسته تل پاتې يوو! آيا داسې ده چې د هر نصحيت کوونکي سړي او ښځې نصحيت هېروو او ځانونه د بلا ګانو او آفتونو د غشو ښښه ګرځوو؟

۱۲۳. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

طُوبَى لِمَنْ ذَلَّ فِي نَفْسِهِ، وَطَابَ كَسْبُهُ، وَصَلَحَتْ سَرِيرَتُهُ، وَحَسُنَتْ خَلِيقَتُهُ، أَنْفَقَ الْفَضْلَ مِنْ مَالِهِ، وَأَمْسَكَ الْفَضْلَ مِنْ لِسَانِهِ، وَعَزَلَ عَنِ النَّاسِ شَرَّهُ، وَوَسِعَتْهُ السُّنَّةُ، وَلَمْ يُنْسَبْ إِلَى الْبِدْعَةِ.

(۱۲۳) د انسانیت بشپړې نمونې

ښومره بختور دے هغه کس چې ځان وړوکے او ذلیل ګڼي، او کار او کسب یې پاک او ځان یې پاکیزه دے او اخلاق یې نېک دي، د خپل ژوند له خرچې نه زیات ښیز د خداے په لاره کښې ورکوي، خپله ژبه په قابو کښې ساتي او خلقو ته یې ازار نۀ رسېږي، د خداے د ګران رسول ﷺ سنت ورته کافي دے او په دین کښې بدعت نۀ پېدا کوي.

«سید رضي وائي چې ځینو کسانو دا او له دې مخکې حکمتونه له رسول الله مبارکه ﷺ څخه نقل کړي دي.»

۱۲۴. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

غَيْرَةُ الْمَرْأَةِ كُفْرٌ، وَغَيْرَةُ الرَّجُلِ إِيمَانٌ.

(۱۲۴) د ښځې او نر نفسیات

د ښځې غېرت د کفر او د سړي غېرت د ایمان نښه ده.

۱۲۵. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

لَأَنْسُبَنَّ الْإِسْلَامَ نِسْبَةً لَمْ يَنْسُبْهَا أَحَدٌ قَبْلِي: الْإِسْلَامُ هُوَ التَّسْلِيمُ، وَالتَّسْلِيمُ هُوَ الْيَقِينُ، وَالْيَقِينُ هُوَ التَّصْدِيقُ، وَالتَّصْدِيقُ هُوَ الْإِقْرَارُ، وَالْإِقْرَارُ هُوَ الْأَدَاءُ، وَالْأَدَاءُ هُوَ الْعَمَلُ.

(۱۲۵) امام او د اسلام پېژندګلي

زۀ درته اسلام داسې معرفي کوم چې تر ما مخکې به چا درته داسې نۀ وي معرفي کړے. اسلام هماغه د خداے په وړاندې تسلیمېدل او تسلیم هماغه یقین لرل او یقین لرل هماغه رښتیني عقیده او رښتیني عقیده هماغه سم اقرار دے او سم اقرار په فرائضو عمل کول او په فرائضو عمل کول هماغه د دین په احکامو عمل دے.

۱۲۶. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

عَجِبْتُ لِلْبَخِيلِ يَسْتَعْجِلُ الْفَقْرَ الَّذِي مِنْهُ هَرَبَ، وَيَفُوتُهُ الْغِنَى الَّذِي إِيَّاهُ طَلَبَ، فَيَعِيشُ فِي الدُّنْيَا عَيْشَ الْفُقَرَاءِ، وَيُحَاسَبُ فِي الْآخِرَةِ حِسَابَ الْأَغْنِيَاءِ. وَعَجِبْتُ لِلْمُتَكَبِّرِ الَّذِي كَانَ بِالْأَمْسِ نُطْفَةً، وَيَكُونُ غَداً جِيفَةً. وَعَجِبْتُ لِمَنْ شَكَّ فِي اللهِ، وَهُوَ يَرَى خَلْقَ اللهِ. وَعَجِبْتُ لِمَنْ نَسِيَ الْمَوْتَ، وَهُوَ يَرَى الْمَوْتَى. وَعَجِبْتُ لِمَنْ أَنْكَرَ النَّشْأَةَ الْأُخْرَى، وَهُوَ يَرَى النَّشْأَةَ الْأُولَى. وَعَجِبْتُ لِعَامِرِ دَارِ الْفَنَاءِ، وَتَارِكِ دَارِ الْبَقَاءِ.

(۱۲۶) په بې ارزښته کردارونو باندې حېرانتیا

ښوم ته حېران یم چې د هغه فقر په لور ځي چې ورځینې تښتي، او داسې پانګه له لاسه ورکوي چې د هغې لپاره هڅه کوي. په دنیا کښې د بېوزلو په شان ژوند کوي خو په آخرت کښې ورسره د شتمنو او پانګه والو حساب کېږي. او په هغه غاوره کس هم حېران یم چې پرون یوه بې ارزښته نطفه وه او سبا به سخا مرداره وي. او حېران یم په هغه کس چې د خلقت عجائبویني او د خدا ے پاک په وجود کښې شک کوي! او حېران یم په هغه کس چې مړي ویني او مرګ یې هېر کړے دے. او حېران یم په هغه کس چې د دوباره پېدا ښت انکار کوي حال دا چې وړومبے پېدا ښت ویني. او حېران یم په هغه کس چې فنا کېدونکې دنیا آبادوي خو تل پاتې دنیا یې هېره کړې ده.

۱۲۷. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

مَنْ قَصَّرَ فِي الْعَمَلِ ابْتُلِيَ بِالْهَمِّ، وَلَا حَاجَةَ لِلهِ فِيمَنْ لَيْسَ لِلهِ فِي نَفْسِهِ وَمَالِهِ نَصِيبٌ.

(۱۲۷) په عمل کښې لټې مه کوئ

خوک چې په عمل کښې غفلت وکړي په خفګان به اخته شي او د چا په مال او ځان کښې چې د خداے برخه نۀ وي خداے هغه ته ضرورت نۀ لري.

۱۲۸. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

تَوَقَّوُا الْبَرْدَ فِي أَوَّلِهِ، وَتَلَقَّوْهُ فِي آخِرِهِ، فَإِنَّهُ يَفْعَلُ فِي الْأَبْدَانِ كَفِعْلِهِ فِي الْأَشْجَارِ، أَوَّلُهُ يُحْرِقُ وَآخِرُهُ يُورِقُ.

(۱۲۸) په بدن د ژواک چاپېریال (ماحول) اثرات

د ژمي په اوله کښې ځانونه له سارۀ پټ او اوپوښئ، او په آخر کښې یې د سارۀ هرکلے کوئ ځکه چې (ژمے) له بدنونو سره هماغه کوي چې له ونو سره یې کوي په اوله کښې یې سوځوي او په آخره کښې یې تازه کوي.

۱۲۹. وَقَالَ:

عِظَمُ الْخَالِقِ عِنْدَكَ يُصَغِّرُ الْمَخْلُوقَ فِي عَيْنِكَ.

(۱۲۹) د پالونکي د عظمت پېژندل

د خداے لوے والے نور ښیزونه ستا په نظر کښې واړۀ کوي.

۱۳۰. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ وَقَدْ رَجَعَ مِنْ صِفِّينَ، فَأَشْرَفَ عَلَى الْقُبُورِ بِظَاهِرِ الْكُوفَةِ: يَا أَهْلَ الدِّيَارِ الْمُوحِشَةِ، وَالْمَحَالِّ الْمُقْفِرَةِ، وَالْقُبُورِ الْمُظْلِمَةِ. يَا أَهْلَ التُّرْبَةِ، يَا أَهْلَ الْغُرْبَةِ، يَا أَهْلَ الْوَحْدَةِ، يَا أَهْلَ الْوَحْشَةِ، أَنْتُمْ لَنَا فَرَطٌ سَابِقٌ، وَنَحْنُ لَكُمْ تَبَعٌ لاَحِقٌ. أَمَّا الدُّورُ فَقَدْ سُكِنَتْ، وَأَمَّا الاَزْوَاجُ فَقَدْ نُكِحَتْ، وَأَمَّا الاَمْوَالُ فَقَدْ قُسِمَتْ. هذَا خَبَرُ مَا عِنْدَنَا، فَمَا خَبَرُ مَا عِنْدَكُمْ؟ ثُمَّ الْتَفَتَ إِلَى أَصْحَابِه فَقَالَ: أَمَا لَوْ أُذِنَ لَهُمْ فِي الْكَلاَمِ لاَخْبَرُوكُمْ أَنَّ خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوَى.

۱۳۱. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ وَقَدْ سَمِعَ رَجُلاً يَذُمُّ الدُّنْيَا:

أَيُّهَا الذَّامُّ لِلدُّنْيَا، الْمُغْتَرُّ بِغُرُورِهَا، [الْمَخْدُوعُ بِأَبَاطِيلِهَا! أَتَغْتَرُّ بِالدُّنْيَا ]ثُمَّ تَذُمُّهَا؟ أَأَنْتَ الْمُتَجَرِّمُ عَلَيْهَا، أَمْ هِيَ الْمُتَجَرِّمَةُ عَلَيْكَ؟ مَتَى اسْتَهْوَتْكَ، أَمْ مَتَى غَرَّتْكَ؟ أَبِمَصَارِعِ آبَائِكَ مِنَ الْبِلَى، أَمْ بِمَضَاجِعِ أُمَّهَاتِكَ تَحْتَ الثَّرَى؟ كَمْ عَلَّلْتَ بِكَفَّيْكَ، وَكَمْ مَرَّضْتَ بِيَدَيْكَ! تَبْغِي لَهُمُ الشِّفَاءَ، وَتَسْتَوْصِفُ لَهُمُ الاَطِبَّاءَ، لَمْ يَنْفَعْ أَحَدَهُمْ إِشْفَاقُكَ، وَلَمْ تُسْعَفْ فِيهِ بِطِلْبَتِكَ، وَلَمْ تَدْفَعْ عَنْهُ بِقُوَّتِكَ! قَدْ مَثَّلَتْ لَكَ بِهِ الدُّنْيَا نَفْسَكَ، وَبِمَصْرَعِهِ مَصْرَعَكَ. إِنَّ الدُّنْيَا دَارُ صِدْقٍ لِمَنْ صَدَقَهَا، وَدَارُ عَافِيَةٍ لِمَنْ فَهِمَ عَنْهَا، وَدَارُ غِنىً لِمَنْ تَزَوَّدَ مِنْهَا، وَدَارُ مَوْعِظَةٍ لِمَنِ اتَّعَظَ بِهَا، مَسْجِدُ أَحِبَّاءِ اللهِ، وَمُصَلَّى مَلاَئِكَةِ اللهِ، وَمَهْبِطُ وَحْيِ اللهِ، وَمَتْجَرُ أَوْلِيَاءِ اللهِ. اكْتَسَبُوا فِيهَا الرَّحْمَةَ، وَرَبِحُوا فِيهَا الْجَنَّةَ. فَمَنْ ذَا يَذُمُّهَا وَقَدْ آذَنَتْ بِبَيْنِهَا، وَنَادَتْ بِفِرَاقِهَا، وَنَعَتْ نَفْسَهَا وَأَهْلَهَا. فَمَثَّلَتْ لَهُمْ بِبَلاَئِهَا الْبَلاَءَ، وَشَوَّقَتْهُمْ

## (۱۳۰) پام چې دنيا فاني ده

«کله چې امام د صفين له جنگه ستنېدو او د کوفې د دروازې شاته هديرې ته اورسېد نو مړو ته يې مخ کړ او وې فرمايل:» اے د ويروونکو کورونو، خالي محلو او تيرو قبرونو هستوګنو! اے په خاوره کنبې اودو! اے پردېسيانو! اے يواځې پاتې شويو! اے وحشت ځپلو! تاسو تر مونږ مخکې لاړئ او مونږ درپسې يوو او دروبه رسېږوو، خو ستاسو په کورونو کنبې نور هستوګن شول؛ او ستاسو ښځې نورو وکړې؛ او ستاسو مالونه په نورو کنبې اويشل شول! مونږ درته دا خبر راوړے دے. تاسو څه خبر يئ «بيا يې خپلو اصحابو ته مخ کړ او وې فرمايل:» که د خبرو اجازه يې لرله تاسو ته به يې ويلي وو چې «تر ټولو ښه توښه تقوا ده»

(۱۳۱) «وائي وربدل چې يو سړے دنيا ملامتوي نو وې فرمايل:»

## د دنيا د ملامتوونکو غندنه

اے د دنيا غندونکي او ملامتوونکيه! چې په خپله د د نيا په غرور مغروره يې او په باطل يې غولبدلے يې! په خپله په دنيا مئين يې او هغه غندې. آيا تا په دنيا کنبې څه جرم کړے دے يا دنيا ستا په حق کنبې جرم کړے دے؟ دنيا تهٔ کله سرګردانه کړې او کوم وخت يې تهٔ وغولولې؟ آيا ستا د پلار نيکونو په قبرونو سره يې چې وراستهٔ شوي دي او که ستا د مور او نياګانو تر خاورو لاندې په آرام ځايونو سره يې «تهٔ وغولولې؟» او که آيا په دې سره چې په خپلو دوو لاسونو دې د بيمارانو علاج کړے، د هغوي پوښتنه او تيمارداري دې کړې او په بسترو کنبې دې څملولې، د هغوي د شفا غوښتنه دې کړې او له طبيبه دې د هغوي دارو غوښتې دي؟ او په هغه سحر چې ستا درملو هغوي ته څه فائده او ستا ژړا څه ګټه ورنهٔ کړه، او ستا ويرې هغوي ته څه ګټه ونهٔ رسوله. او څه چې دې غوښتل په لاس دې رانهٔ وړل، او په خپل طاقت سره دې مرګ له هغوي لرې نهٔ کړې شو. دنيا تا ته د هغوي مثال راوړهٔ او د هغوي په قبرونو سره يې تا ته ګور درياد کړ (خو تهٔ بيا هم په خود کنبې رانغلې) (نو ايا په دې سره دنيا تهٔ وغولولې؟)

## د دنيا ښېګړې او ښکلاوې

بې له شکه دنيا د رښتينو لپاره د صداقت سراې او د دنيا پېژندونکو لپاره د سلامتيا کور دے او د توښه اخبستونکو لپاره د بې نيازۍ خونه او د پند اخبستونکو لپاره د نصيحت کور دے. دنيا د دوستانو سجده ګاه، د الهي فرښتو جانماز، د الهي وحي د راکوزېدو ځاے، او د خداے د وليانو د تجارت ځاے دے چې هلته د خداے رحمت لاسته راوړې او د جنت ګټه وکړې. څوک د دنيا د غندلو حق لري؟ حال دا چې دنيا د خپلې جدائۍ اعلان کړے دے او نعرې وهي چې زهٔ فاني يم، او د خپل ځان او خلقو د تباهۍ خبر يې ورکړے دے. په خپلو بلاګانو او مصيبتونو سره يې د بلاګانو او مصيبتونو ببلګې او نمونې وړاندې

بِسُرُورِهَا إِلَى السُّرُورِ؟! رَاحَتْ بِعَافِيَةٍ، وَابْتَكَرَتْ بِفَجِيعَةٍ، ترغيباً وَتَرْهِيباً، وتَخْوِيفاً وَتَحْذِيراً. فَذَمَّهَا رِجَالٌ غَدَاةَ النَّدَامَةِ، وحَمِدَهَا آخَرُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، ذَكَّرَتْهُمُ الدُّنْيَا فَذَكَرُوا، وحَدَّثَتْهُمْ فَصَدَّقُوا، ووعَظَتْهُمْ فَاتَّعَظُوا.

کړې دي، او په خپلې خوشحالۍ سره يې هغوي خوشحاله کړې دي، د شپې اول سر يې سلامت تېر شي خو سهار مهال په ځورونکې مصيبت سره راستنه شي. چې هم په انسان کې ګروهنه پېدا شي او هم ډار، هم يې اويروي او هم خبردارے ورکړي. نو ځينې کسان يې نن سبا په پښېمانۍ سره غندنه کوي او ځينې به بيا د قيامت په ورځ هغه ستائي، ځکه چې دنيا هغوانسانانو ته حقيقتونه وريادکړل او هغوي ياد وساتل، پېښې يې وربيان کړې او هغوي يې تصديق وکړ او نصيحت يې ورته وکړ نو هغوي اومنۀ.

لکه رحمان بابا وائي

ښــه ده ښــه ده دا دنيا چې توښه ده د عقبا
مذمت د دنيــا مۀ کړه واوره پند کړه دا وښا
د دنيـــا په بازار کيږي د هغه جهـــان سودا
دنيـا کښت د آخـرت دے دا خبره ده ربښتيا
په دنيا کښې بدي نيشته که بدي نۀ وي له تا

۱۳۲. وقَالَ:

إِنَّ لله مَلَكاً يُنَادِي فِي كُلِّ يَوْمٍ: لِدُوا لِلْمَوْتِ، وَاجْمَعُوا لِلْفَنَاءِ، وَابْنُوا لِلْخَرَابِ.

(۱۳۲) مرګ ياد ساتۀ

د خدا ے يوه فرښته ده چې هره ورځ غږ کوي اے خلقو! اوزېږوۀ د مرګ لپاره، جمع کړۀ د فنا کېدو لپاره او اباد کړۀ د ورانېدو لپاره.(يعنې د کار انجام ياد ساتۀ)

۱۳۳. وقَالَ:

الدُّنْيَا دَارُ مَمَرٍّ إِلَى دَارِ مَقَرٍّ، وَالنَّاسُ فِيهَا رَجُلاَنِ: رَجُلٌ بَاعَ نَفْسَهُ فَأَوْبَقَهَا، ورَجُلٌ ابْتَاعَ نَفْسَهُ فَأَعْتَقَهَا.

(۱۳۳) د دنيا او خلقو ډولونه

دنيا يوه ګذرګاه (د تېرېدو ځاے) ده نۀ د پاتې کېدو ځاے: او خلق پکښې دوه ډلې دي يو هغه چې ځان يې اوپلورۀ (خرڅ کړ) او تباه يې کړ او بل هغه چې ځان يې اوپيرودۀ (واخېستۀ) او آزاد يې کړ.

۱۳۴. وقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

لاَ يَكُونُ الصَّدِيقُ صَدِيقاً حَتَّى يَحْفَظَ أَخَاهُ فِي ثَلاَثٍ: فِي نَكْبَتِهِ، وغَيْبَتِهِ، ووَفَاتِهِ.

(۱۳۴) د دوستانو حقوق

يو دوست تر هغې دوست نۀ شي کېدي تر څو چې په دريو ځايونو کښې د خپل ورور د حقوقو ساتنه ونکړي: په سختۍ او کړاو کښې ، د هغۀ غېر موجودګۍ کښې او د هغۀ له مرګه وروسته.

۱۳۵. وقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

مَنْ أُعْطِيَ أَرْبَعاً لَمْ يُحْرَمْ أَرْبَعاً: مَنْ أُعْطِيَ الدُّعَاءَ لَمْ يُحْرَمِ الاجابَةَ، وَمَنْ أُعْطِيَ التَّوْبَةَ لَمْ يُحْرَمِ الْقَبُولَ، وَمَنْ أُعْطِيَ الاسْتِغْفَارَ لَمْ يُحْرَمِ الْمَغْفِرَةَ، وَمَنْ أُعْطِيَ الشُّكْرَ لَمْ يُحْرَمِ الزِّيَادَةَ.

(۱۳۵) څلور لوې فضيلتونه

چاته چې څلور څيزونه ورکړل شول له څلورو څيزونو محرومه نۀ شي پاتې کېدي: چا ته چې د دعا توفيق ورکړے شو له قبلېدو يې نۀ محرومه کېږي، چا ته چې د توبې توفيق په برخه شو له منل کېدو يې نۀ محرومه کېږي، چا ته چې د استغفار توفيق ورکړے شو د ګناه له بخښل کېدو نۀ بې برخې کېږي او چا چې شکر اوبستۀ د نعمتونو له زياتوالي نۀ محرومه کېږي.

«سيد رضي وائي:دا د خداے د کتاب تصديق دے چې د دعا په حقله يې وفرمايل:«ما راوبولئ چې غوښتنې مو قبولې کړم» (د قرآن مجيد د سورۀ غافر شپيتم آيت)،د استغفار په حقله فرمائي: څوک چې بد وکړي يا په ځان زياتے وکړي او بيا د خداے په در کښې استغفار وکړي خداے به بخښونکے او مهربان بياومومي، (د سورۀ نساء ۱۱۰ آيت)، د شکر ابستلو په حقله فرمائي: بې له شکه که شکر وکړۀ نعمتونه به درزيات کړم، (د سورۀ ابراهيم ۷ آيت)،او د توبې په حقله يې فرمايلي دي: خداے تعالی يواځې د هغو کسانو توبه قبلوي چې د ناپوهۍ له مخې کوم بد کار وکړي او چې لا ناوخته شوے نۀ وي خداے ته ستون شي. يواځې همدا ډول کسان دي چې خداے د هغوي په حقله بيا کتنه (تجديد نظر)کوي، خداے پوه او حکيم دے.(د سورۀ نساء ۱۷م آيت) »

١٣٦. وَقالَ:

الصَّلاةُ قُرْبانُ كُلِّ تَقيٍّ، وَالْحَجُّ جِهادُ كُلِّ ضَعيفٍ، وَلِكُلِّ شَيْءٍ زَكاةٌ، وَزَكاةُ الْبَدَنِ الصِّيامُ، وَجِهادُ الْمَرْأَةِ حُسْنُ التَّبَعُّلِ.

**(۱۳۶) د الهي احکامو فلسفه**

نمونځ خدای تعالی ته د هر يو متقي د نژدې کېدو وسيله ده، او حج د هر ناتوانه کس جهاد دی، د هر يو څيز زکات وي او د بدن زکات روژه ده او د ښځې جهاد د مېړه ښه پالنه ده.

١٣٧. وَقالَ:

اسْتَنْزِلُوا الرِّزْقَ بِالصَّدَقَةِ.

**(۱۳۷) صدقه د روزۍ د نازلېدلو وسيله**

د صدقې په ورکولو سره روزي راکوزه کړئ

١٣٨. وَقالَ عَلَيْهِ السَّلامُ:

مَنْ أَيْقَنَ بِالْخَلَفِ جادَ بِالْعَطِيَّةِ.

**(۱۳۸) د انفاق بدله**

څوک چې د خدای له خوا د بدلې يقين لري په ښندنه او بخشش کښې سخي وي.

١٣٩. وَقالَ عَلَيْهِ السَّلامُ:

تَنْزِلُ الْمَعُونَةُ عَلى قَدْرِ الْمَؤُونَةِ.

**(۱۳۹) په خدائي مرسته کښې انډول او تعادل**

د خدای پاک مرسته د انسان د ضرورت په اندازه نازلېږي.

١٤٠. وَقالَ عَلَيْهِ السَّلامُ:

ما عالَ امْرُؤٌ اقْتَصَدَ.

**(۱۴۰) قناعت او بې نيازي**

څوک چې له مينځ لارې او اعتداله کار واخلي تش لاسي کېږي به نه.

١٤١. وَقالَ عَلَيْهِ السَّلامُ:

قِلَّةُ الْعِيالِ أَحَدُ الْيَسارَيْنِ.

**(۱۴۱) د هوساينې او سوکالۍ لار**

د عيال (ښځو او بچيانو) د شمېر کم والی يوه هوساينه (راحتي) ده.

١٤٢. وَقالَ:

التَّوَدُّدُ نِصْفُ الْعَقْلِ.

**(۱۴۲) دوستي او هوښياري**

دوستي کول نيم عقل دی.

١٤٣. وَقالَ:

الْهَمُّ نِصْفُ الْهَرَمِ.

**(۱۴۳) تشويش او بې وخته زړبودي**

اندېښنه او تشويش نيم بوډا توب دی.

١٤٤. وَقالَ:

يَنْزِلُ الصَّبْرُ عَلى قَدْرِ الْمُصيبَةِ، وَمَنْ ضَرَبَ يَدَهُ عَلى فَخِذِهِ عِنْدَ مُصيبَتِهِ حَبِطَ عَمَلُهُ.

**(۱۴۴) له مصيبت سره د صبر تناسب**

صبر د مصيبت په اندازه نازلېږي او چا چې د مصيبت په وخت پتون په لاس ووهئ (بې تابي يې وکړه) اجر يې له لاسه ورکړ.

١٤٥. وَقالَ عَلَيْهِ السَّلامُ:

كَمْ مِنْ صائِمٍ لَيْسَ لَهُ مِنْ صِيامِهِ إِلاَّ الظَّمَأُ، وَكَمْ مِنْ قائِمٍ لَيْسَ لَهُ مِنْ قِيامِهِ إِلاَّ الْعَناءُ، حَبَّذا نَوْمُ الاَكْياسِ وَإِفْطارُهُمْ!

**(۱۴۵) بې فائدې عبادتونه**

ډېر داسې روژتيان شته چې له خپلې روژې يې بې له لوږې او تندې بل څه نصيب نۀ شول او ډېر داسې شپه روڼوونکي شته چې د شپې له روڼولو، له کړاؤ او بې خوبۍ نه بغېر بل څه په لاس ورنۀ رغلل! څومره ښۀ دي د هوښيار سړي خوب او روژه ماتی (خوراک)

١٤٦. وَقالَ:

سُوسُوا إيمانَكُمْ بِالصَّدَقَةِ، وَحَصِّنُوا أَمْوالَكُمْ بِالزَّكاةِ، وَادْفَعُوا أَمْواجَ الْبَلاءِ بِالدُّعاءِ.

**(۱۴۶) د دعا، صدقې او زکات فضيلت**

خپل ايمان په صدقه ورکولو او خپل مالونه په زکات ورکولو سره اوساتئ او د بلاګانو او مصيبتونو څپې په دعا سره له ځانه اوګرځوئ.

١٤٧. وَمِنْ كَلامٍ لَهُ عَلَيْهِ السَّلامُ لِكُمَيْلِ بْنِ زِيادٍ النَّخَعِيِّ: قالَ

(۱۴۷) «کمېل بن زياد وائي: يوه ورځ امام زما لاس اونيوهٔ او د کوفې

كُمَيْلُ بْنُ زِيَادٍ: أَخَذَ بِيَدِي أَمِيرُ الْمُؤْمِنِينَ عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِب عَلَيْهِ السَّلاَمُ، فَأَخْرَجَنِي إِلَى الْجَبَّانِ، فَلَمَّا أَصْحَرَ تَنَفَّسَ الصُّعَدَاءَ، ثُمَّ قَالَ: يَا كُمَيْلُ بْنَ زِيَادٍ، إِنَّ هذِهِ الْقُلُوبَ أَوْعِيَةٌ، فَخَيْرُهَا أَوْعَاهَا، فَاحْفَظْ عَنِّي مَا أَقُولُ لَكَ:

النَّاسُ ثَلاَثَةٌ: فَعَالِمٌ رَبَّانِيٌّ، وَمُتَعَلِّمٌ عَلَى سَبِيلِ نَجَاةٍ، وَهَمَجٌ رَعَاعٌ، أَتْبَاعُ كُلِّ نَاعِقٍ، يَمِيلُونَ مَعَ كُلِّ رِيحٍ، لَمْ يَسْتَضِيئُوا بِنُورِ الْعِلْمِ، وَلَمْ يَلْجَؤُوا إِلَى رُكْنٍ وَثِيقٍ.

يَا كُمَيْلُ، الْعِلْمُ خَيْرٌ مِنَ الْمَالِ: الْعِلْمُ يَحْرُسُكَ وَأَنْتَ تَحْرُسُ الْمَالَ، وَالْمَالُ تَنْقُصُهُ النَّفَقَةُ، وَالْعِلْمُ يَزْكُو عَلَى الْإِنْفَاقِ، وَصَنِيعُ الْمَالِ يَزُولُ بِزَوَالِهِ. يَا كُمَيْلُ بْنَ زِيَادٍ، مَعْرِفَةُ الْعِلْمِ دِينٌ يُدَانُ بِهِ، بِهِ يَكْسِبُ الْإِنْسَانُ الطَّاعَةَ فِي حَيَاتِهِ، وَجَمِيلَ الْأُحْدُوثَةِ بَعْدَ وَفَاتِهِ، وَالْعِلْمُ حَاكِمٌ، وَالْمَالُ مَحْكُومٌ عَلَيْهِ.

يَا كُمَيْلُ بْنَ زِيَادٍ، هَلَكَ خُزَّانُ الْأَمْوَالِ وَهُمْ أَحْيَاءٌ، وَالْعُلَمَاءُ بَاقُونَ مَا بَقِيَ الدَّهْرُ: أَعْيَانُهُمْ مَفْقُودَةٌ، أَمْثَالُهُمْ فِي الْقُلُوبِ مَوْجُودَةٌ.

هَا إِنَّ هَا هُنَا لَعِلْماً جَمّاً (وَأَشَارَ إِلَى صَدْرِهِ) لَوْ أَصَبْتُ لَهُ حَمَلَةً! بَلَى أَصَبْتُ لَقِناً غَيْرَ مَأْمُونٍ عَلَيْهِ، مُسْتَعْمِلاً آلَةَ الدِّينِ لِلدُّنْيَا، وَمُسْتَظْهِراً بِنِعَمِ اللهِ عَلَى عِبَادِهِ، وَبِحُجَجِهِ عَلَى أَوْلِيَائِهِ، أَوْ مُنْقَاداً لِحَمَلَةِ الْحَقِّ، لاَ بَصِيرَةَ لَهُ فِي أَحْنَائِهِ، يَنْقَدِحُ الشَّكُّ فِي قَلْبِهِ لِأَوَّلِ عَارِضٍ مِنْ شُبْهَةٍ.

أَلاَ لاَ ذَا وَلاَ ذَاكَ! أَوْ مَنْهُوماً بِاللَّذَّةِ، سَلِسَ الْقِيَادِ لِلشَّهْوَةِ، أَوْ مُغْرَماً بِالْجَمْعِ وَالْإِدِّخَارِ، لَيْسَا مِنْ رُعَاةِ الدِّينِ فِي شَيْءٍ، أَقْرَبُ شَيْءٍ شَبَهاً بِهِمَا الْأَنْعَامُ السَّائِمَةُ! كَذلِكَ يَمُوتُ الْعِلْمُ بِمَوْتِ حَامِلِيهِ.

اللَّهُمَّ بَلَى! لاَ تَخْلُو الْأَرْضُ مِنْ قَائِمٍ لِلهِ بِحُجَّةٍ، إِمَّا ظَاهِراً مَشْهُوراً، أَوْ خَائِفاً مَغْمُوراً، لِئَلاَّ تَبْطُلَ حُجَجُ اللهِ وَبَيِّنَاتُهُ.

وَكَمْ ذَا وَأَيْنَ أُولئِكَ؟

أُولئِكَ ـ وَاللهِ ـ الْأَقَلُّونَ عَدَداً، وَالْأَعْظَمُونَ قَدْراً، يَحْفَظُ اللهُ

هديرې ته يې بوتلم بيا يې يوه دردناکه چغه اوېسته او وې فرمايل:»
اې کمېل بن زياده!دا زړونه د لوښو په شان دي چې تر ټولو غوره يې تر ټولو لوې دې نو هغه څه چې درته وايم له ځان سره يې ياد اوساته:

## ۱-د خلکو قسمونه:

خلق درې ډوله دي الهي او رسېدلې عالم، د ژغورنې د لارې زده کوونکې، او ځينې نور د هغو ماشو په شان دي چې په باد او طوفان کښې همېشه سرګردانه وي په هر آواز پسې ځي او د هر باد په الوتلو سره حرکت کوي. دغو کسانو نۀ د علم رڼا اخېستې ده او نۀ يې په ټينګ ځاې کښې پناه اخېستې ده.

**۲- د علم فضيلت:** اې کمېله ! علم له دولته غوره دې ځکه چې علم ستا ساتونکې دې خو دولت به تۀ ساتې. مال په ورکولو سره کمېږي خو علم په ورکولو سره زياتېږي. او کوم مقام او شخصيت چې په مال سره لاسته راځي د مال په تللو سره له لاسه ځي. اې کمېل بن زياده! د رښتيني علم پېژندل يو دين دې چې د هغۀ پېروي کېږي او بدله ورکول کېږي او انسان په ژوند کښې په هغۀ سره د خداې اطاعت کوي، او له مرګه وروسته نېک نوم پرېږدي. علم حاکم او مال محکوم دې.

## ۳- د عالمانو فضيلت

اې کمېله ! بې تقوا شتمنان مړۀ دي که څه هم په ظاهره ژوندي ښکاري، خو عالمان تر هغې چې نړۍ موجوده ده ژوندي دي که څه هم په ظاهره خاورو کښې پټ دي خو يادونه يې په زړونو کښې تل پاتې دي.

## ۴- د زدکوونکو قسمونه

پوه شه چې دلته «خپلې مبارکې سينې ته يې اشاره وکړه»د علم خزانې پرتې دي، اې کاش داسې کسان مې موندلې وې چې هغه يې زده کړې وې. هو، هوښيار او تيز کسان شته خو باور پرې نۀ شي کېدې،دوي دين د دنيا لپاره دام ګرځولې او د خداې په نعمتونوسره په بندګانو او په الهي برهان سره په دوستانو کبرخرڅوي، يا ځينې کسان شته دي چې حق لرونکو ته تسليم دي خو د حقيقت د پېژندلو لپاره لازم بصيرت او ژور فکر نۀ لري. او په اولې شبهې سره يې په زړونو کښې د شک تخم زرغونېږي. نو هم هغه او هم دغه د ډېرو علمونو د زده کولو وړ نۀ دي.
يا ځينې نور چې په خوندونو پسې مړۀ دي، او خپل واګې يې د شهوتونو په لاس ورکړې دي. يا هغه چې د مال په جمع کولو کښې حريص دي، په دوي کښې يو کس هم د دين ساتنه نۀ شي کولې او زياتره د څرېدونکو څاروو په شان دي. او همدا وجه ده چې علم د عالمانو په مړينې سره مړ شي.

## ۵- د الهي رهبرانو ځانګړتيا

هو، د خداې ځمکه هيڅکله له الهي حجته خالي نۀ ده، چې د خداې لپاره په روښانه دليل سره پاڅون کوي که هغه ښکاره پېژندل شوې وي او که ويرېدلې پټ وي، چې د خداې حجت باطل نۀ شي. او نښې يې له مېنځه لاړې نۀ شي. شمېر يې څومره دې او چرته دې؟
په خداې قسم چې شمېر يې کم دې خو د خداې په نزد يې مقام لوړ

بِهِمْ حُجَجَهُ وَبَيِّنَاتِهِ، حَتَّى يُودِعُوهَا نُظَرَاءَهُمْ، وَيَزْرَعُوهَا فِي قُلُوبِ أَشْبَاهِهِمْ، هَجَمَ بِهِمُ الْعِلْمُ عَلَى حَقِيقَةِ الْبَصِيرَةِ، وَبَاشَرُوا رُوحَ الْيَقِينِ، وَاسْتَلاَنُوا مَا اسْتَوْعَرَهُ الْمُتْرَفُونَ، وَأَنِسُوا بِمَا اسْتَوْحَشَ مِنْهُ الْجَاهِلُونَ، وَصَحِبُوا الدُّنْيَا بِأَبْدَانٍ أَرْوَاحُهَا مُعَلَّقَةٌ بِالْمَحَلِّ الاَْعْلَى. أُولَئِكَ خُلَفَاءُ اللهِ فِي أَرْضِهِ، وَالدُّعَاةُ إِلَى دِينِهِ. آهِ آهِ شَوْقاً إِلَى رُؤْيَتِهِمْ! انْصَرِفْ إِذَا شِئْتَ.

۱٤۸. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

الْمَرْءُ مَخْبُوءٌ تَحْتَ لِسَانِهِ.

۱٤۹. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

هَلَكَ امْرُؤٌ لَمْ يَعْرِفْ قَدْرَهُ.

۱٥۰. وَقَالَ لِرَجُلٍ سَأَلَهُ أَنْ يَعِظَهُ:

لاَ تَكُنْ مِمَّنْ يَرْجُو الاْخِرَةَ بِغَيْرِ الْعَمَلِ، وَيُرَجِّي التَّوْبَةَ بِطُولِ الاَْمَلِ، يَقُولُ فِي الدُّنْيَا بِقَوْلِ الزَّاهِدِينَ، وَيَعْمَلُ فِيهَا بِعَمَلِ الرَّاغِبِينَ، إِنْ أُعْطِيَ مِنْهَا لَمْ يَشْبَعْ، وَإِنْ مُنِعَ مِنْهَا لَمْ يَقْنَعْ، يَعْجِزُ عَنْ شُكْرِ مَا أُوتِيَ، وَيَبْتَغِي الزِّيَادَةَ فِيمَا بَقِيَ، يَنْهَى وَلاَ يَنْتَهِي، وَيَأْمُرُ بِمَا لاَ يَأْتِي، يُحِبُّ الصَّالِحِينَ وَلاَ يَعْمَلُ عَمَلَهُمْ، وَيُبْغِضُ الْمُذْنِبِينَ وَهُوَ أَحَدُهُمْ، يَكْرَهُ الْمَوْتَ لِكَثْرَةِ ذُنُوبِهِ، وَيُقِيمُ عَلَى مَا يَكْرَهُ الْمَوْتَ لَهُ. إِنْ سَقِمَ ظَلَّ نَادِماً، وَإِنْ صَحَّ أَمِنَ لاَهِياً، يُعْجَبُ بِنَفْسِهِ إِذَا عُوفِيَ، وَيَقْنَطُ إِذَا ابْتُلِيَ، إِنْ أَصَابَهُ بَلاَءٌ دَعَا مُضْطَرّاً، وَإِنْ نَالَهُ رَخَاءٌ أَعْرَضَ مُغْتَرّاً، تَغْلِبُهُ نَفْسُهُ عَلَى مَا يَظُنُّ، وَلاَ يَغْلِبُهَا عَلَى مَا يَسْتَيْقِنُ، يَخَافُ عَلَى غَيْرِهِ بِأَدْنَى مِنْ ذَنْبِهِ، وَيَرْجُو لِنَفْسِهِ بِأَكْثَرَ مِنْ عَمَلِهِ. إِنِ اسْتَغْنَى بَطِرَ وَفُتِنَ، وَإِنِ افْتَقَرَ قَنِطَ وَوَهَنَ، يُقَصِّرُ إِذَا عَمِلَ، وَيُبَالِغُ إِذَا سَأَلَ، إِنْ عَرَضَتْ لَهُ شَهْوَةٌ أَسْلَفَ الْمَعْصِيَةَ وَسَوَّفَ التَّوْبَةَ، وَإِنْ عَرَتْهُ مِحْنَةٌ انْفَرَجَ عَنْ شَرَائِطِ الْمِلَّةِ، يَصِفُ الْعِبْرَةَ وَلاَ يَعْتَبِرُ، وَيُبَالِغُ فِي الْمَوْعِظَةِ وَلاَ يَتَّعِظُ، فَهُوَ بِالْقَوْلِ مُدِلٌّ، وَمِنَ الْعَمَلِ مُقِلٌّ. يُنَافِسُ فِيمَا يَفْنَى، وَيُسَامِحُ فِيمَا يَبْقَى، يَرَى الْغُنْمَ مَغْرَماً، وَالْغُرْمَ مَغْنَماً، يَخْشَى الْمَوْتَ وَلاَ يُبَادِرُ الْفَوْتَ، يَسْتَعْظِمُ مِنْ مَعْصِيَةِ غَيْرِهِ مَا

دے.خداے تعالی د هغوي په وسيله خپل حجتونه او نښې ساتي، چې هغوكسانو ته يې چې د هغوي په شان دي اوسپاري، او د هغوي په زړونو كښې يې وكري. هغه كسان چې علم د هغوي په زړونو كښې د حقيقت پسندی رڼا څلولې ده او د يقين روح ته رسېدلي دي، دوي هغه څيزونه آسانه ګرځولي دي چې راحت پسندان يې ګران ګڼي. او له هغو څيزونو سره يې مينه پېدا كړې ده چې ناپوهو ترې ويره لرله دوي په دنيا كښې په داسې بدنونو سره ژوند كوي چې روحونه يې له اعلى مقام سره تړلې دي. ، دوي په ځمكه د خداے ځاے ناستي او جانشينان او د خداے دين ته د خلقو بلونكي دي. آه آه! زۀ يې د ليدلو څومره لېواله يم! كمېله! زما خبره ختمه شوه اوس ته تلر شې.

(۱۴۸) انسان په خبرو پېژندل كېږي

انسان تر خپلې ژبې لاندې پټ دے.

(۱۴۹) د ځان پېژندنې ضرورت

تباه شو هغه كس چې د ځان په قدر پوه نۀ شو.

(۱۵۰) بد خويونه

«يو كس له امامه نصيحت وغوښتۀ هغه حضرتؑ ورته وفرمايل:» له هغو كسانو مه كېږه چې بې له نېک عمله آخرت ته هيله من دي، او په خپلو اوږدو ارمانونو او ارزوګانو سره توبه ځنډوي، په دنيا كښې د زاهدانو په شان خبرې كوي خو په عمل كښې د دنيا پرستانو په شان دے، كه نعمتونه وركړل شي نو نۀ مړېږي، او په بې وزلۍ او محروميت كښې قناعت نۀ لري، څه چې وروركسبږي شكر ګزارۀ دے، او د نورو نورو غوښتونكے دے،نور منعې كوي خو په خپله نۀ منعې كېږي نورو ته امر كوي خو په خپله په امر عمل نۀ كوي، له نېک عملو سره يې مينه وي خو د هغوي عمل نۀ خپلوي،له ګناهكارو سره دښمني لري خو په خپله يو ګناهكار دے، د ګناهانو له پېټې سره يې مرګ نۀ خوښېږي، خو په هغه څه چې مرګ يې ناخوښه ګرځولے دے ټينګار او اصرار كوي،كله چې ناجوړه شي پښېمانه شي او كله چې جوړ وي په عېش او عشرت اخته وي، په سلامتيا كښې غاوره او په مصيبت كښې نااميده وي.كله چې په مصيبت اخته شي په زارۍ سره خداے ته غږونه كوي او كله چې يې مشكل هوار شي په كبر سره له خدايه مخ اړوي، د هغۀ نفس د ناروا ګمانونو په طاقت سره په هغۀ برلاسے وي او هغه د يقين په طاقت سره په خپل نفس نۀ شي برلاسه كېدې.

د نورو لپاره چې تر هغۀ يې كمې ګناهانې كړې دي انديښمن وي او په خپله تر خپل عمله زيات هيله من، كله چې بې نيازه شي مست او مغروره كېږي او كه بې وزله شي نهيلے او نااميده او سستېږي، كه كوم كار كوي نو كوتاهي كوي او كه كوم څيز غواړي نو افراط كوي، كله چې د شهوت په وړاندې راشي ګناه غوره كوي او توبه ځنډوي، او كه په كوم كړاؤ اخته شي نو د اسلامي امت له لارې لرې كېږي،د عبرتونو قيصې كوي خو په خپله عبرت نۀ اخلي، په نصحيت كولو كښې مبالغه كوي خو په خپله نصيحت نۀ اخلي، خبرې زياتې او غتې كوي خو ښۀ عمل يې كم

يَسْتَقِلُّ أَكْثَرَ مِنْهُ مِنْ نَفْسِهِ، وَيَسْتَكْثِرُ مِنْ طَاعَتِهِ مَا يَحْقِرُهُ مِنْ طَاعَةِ غَيْرِهِ، فَهُوَ عَلَى النَّاسِ طَاعِنٌ، وَلِنَفْسِهِ مُدَاهِنٌ. اللَّهْوُ مَعَ الاَغْنِيَاءِ أَحَبُّ إِلَيْهِ مِنَ الذِّكْرِ مَعَ الْفُقَرَاءِ، يَحْكُمُ عَلَى غَيْرِهِ لِنَفْسِهِ وَلاَ يَحْكُمُ عَلَيْهَا لِغَيْرِهِ، يُرْشِدُ غَيْرَهُ يُغْوِي نَفْسَهُ. فَهُوَ يُطَاعُ وَيَعْصِي، وَ يَسْتَوْفِي وَلاَ يُوفِي، وَيَخْشَى الْخَلْقَ فِي غَيْرِ رَبِّهِ، وَلاَ يَخْشَى رَبَّهُ فِي خَلْقِهِ.

وي؛ د زر تېرېدونکي دنيا لپاره هڅې او سيالي کوي خو د تل پاتې آخرت لپاره لټي او سستي کوي،ګټه، تاوان او تاوان، ګټه انګيري، له مرګه ويره لري خو فرصت له لاسه ورکوي، د نورو ګناه لويه ګڼي خو خپله ګناه وړه، د نورو لوے اطاعت وړوکے خو خپل وړوکے اطاعت لوے ګڼي، خلق غندي خوځان نه ملامتوي، او له ځان سره په ريا سره سلوک کوي، له پانګه والو سره عېش او عشرت له بې وزلانو او غريبانانو سره د خداے تر ياده زيات خوښوي، د نورو په تاوان او په خپله ګټه حکم کوي خو هيڅکله د نورو په ګټه د ځان په تاوان حکم نۀ کوي، نور لاري ته سموي خو په خپله بې لاري کېږي، نور د هغۀ اطاعت کوي او هغه په خپله ګناهانې کوي، خپل حق پوره اخلي خو د نورو حق پوره نۀ ورکوي، بې له خدايه له نورو ويرېږي خو له خپل خدايه نۀ ويرېږي!

«سيد رضي وائي: که په نهج البلاغې کښې نور حکمتونه نۀ وي يواځې همدا حکمت د نصيحت لپاره کافي ؤ، دا خبره يو رسا حکمت او د پوه انسان د بصيرت عامل او د تفکر د خاوندانو لپاره عبرت اموزه ده»

۱۵۱. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

لِكُلِّ امْرِىءٍ عَاقِبَةٌ حُلْوَةٌ أَوْ مُرَّةٌ.

(۱۵۱) د مستقبل فکر

د هر انسان يوه خاتمه او انجام شته دے چې يا به خوږ وي يا به تريخ.

۱۵۲. وَقَالَ:

لِكُلِّ مُقْبِلٍ إِدْبَارٌ، وَمَا أَدْبَرَ كَأَنْ لَمْ يَكُنْ.

(۱۵۲) د دنيا فاني والي ته پام

هر راتلونکے ستنېدونکے دے او څه چې ستون شي نۀ به وائې هډو راغلي نۀ وو.

۱۵۳. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

لاَ يَعْدَمُ الصَّبُورُ الظَّفَرَ وَإِنْ طَالَ بِهِ الزَّمَانُ.

(۱۵۳) صبر او کاميابي

صابر انسان کاميابي له لاسه نۀ ورکوي که څه هم موده يې اوږده شي.

۱۵٤. وَقَالَ:

الرَّاضِي بِفِعْلِ قَوْمٍ كَالدَّاخِلِ فِيهِ مَعَهُمْ، وَعَلَى كُلِّ دَاخِلٍ فِي بَاطِلٍ إِثْمَانِ: إِثْمُ الْعَمَلِ بِهِ، وَإِثْمُ الرِّضَى بِهِ.

(۱۵۴) نيت او مراد

د يو قوم په کار خوشحالېدونکے کس د هغوي په کار کښې شريک ګڼل کېږي.او څوک چې باطل ته مخه کړي دوه ګناهانې لري: د باطل کار د کولو ګناه او په هغه د راضي کېدلو ګناه.

۱۵۵. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

اعْتَصِمُوا بِالذِّمَمِ فِي أَوْتَادِهَا.

(۱۵۵) وعده پوره کوئ

وعده او لوظ پوره کوئ په تېره بيا له وفادارانو سره.

۱۵٦. وَقَالَ:

عَلَيْكُمْ بِطَاعَةِ مَنْ لاَ تُعْذَرُونَ بِجَهَالَتِهِ.

(۱۵۶) خداے پېژندنه او اطاعت

د خداے اطاعت وکړئ ځکه چې د خداے د نۀ پېژندلو لپاره عذر نۀ لرئ.

۱۵۷. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

قَدْ بُصِّرْتُمْ إِنْ أَبْصَرْتُمْ، وَقَدْ هُدِيتُمْ إِنِ اهْتَدَيْتُمْ، وَأُسْمِعْتُمْ إِنِ اسْتَمَعْتُمْ.

(۱۵۷) د هدايت لاره هواره ده

که لېدونکې سترګې ولرئ حق درته ښودل شوے دے که هدايت غواړئ تاسو ته هدايت شوے دے او که اورېدونکے غوږ لرئ، حق يې درته په غوږ کښې ويلے دے.

۱۵۸. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

عَاتِبْ أَخَاكَ بِالاِحْسَانِ إِلَيْهِ، وَارْدُدْ شَرَّهُ بِالاِنْعَامِ عَلَيْهِ.

(۱۵۸) له بدو دوستانو سره سلوک

ورور دې له هغۀ سره له احسانه وروسته ملامت کړه او د هغۀ شر د خپل لطف او کرم په وسيله له ځانه اوغړوه.

۱۵۹. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

مَنْ وَضَعَ نَفْسَهُ مَوَاضِعَ التُّهَمَةِ فَلاَ يَلُومَنَّ مَنْ أَسَاءَ بِهِ الظَّنَّ.

(۱۵۹) د تهمت له ځايونو ځان ساتئ

چا چې ځان د تهمت او تور په ځاے کښې راوستۀ يواځې ځان دې ملامته کړي.

۱٦۰. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

مَنْ مَلَكَ اسْتَأْثَرَ.

(۱۲۰) طاقت او زوروينه

کوم کس چې طاقت لاسته راوړي زور وينه کوي.

۱٦۱.وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

مَنِ اسْتَبَدَّ بِرَأْيِهِ هَلَكَ، وَمَنْ شَاوَرَ الرِّجَالَ شَارَكَهَا فِي عُقُولِهَا.

(۱۲۱) د مشورې فضيلت

څوک چې خود رايه شو «په خپله خوښه هر کار کوي» هلاک شو او څوک چې له بل چا سره مشوره کوي د هغۀ په عقل کښې شريکيږي.

۱٦۲. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

مَنْ كَتَمَ سِرَّهُ كَانَتِ الْخِيَرَةُ بِيَدِهِ.

(۱۲۲) د رازدارۍ ضرورت

څوک چې خپل راز پټ ساتي د راز اختيار به يې په خپل لاس کښې وي.

۱٦۳. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

الْفَقْرُ الْمَوْتُ الاَكْبَرُ.

(۱۲۳) فقر او تباهي

فقر(غريبي او بې وزلي) لوے مرګ دے.

۱٦٤. وَقَالَ:

مَنْ قَضَى حَقَّ مَنْ لاَ يَقْضِي حَقَّهُ فَقَدْ عَبَدَهُ.

(۱۲۴) له تېرې ګرو سره د چلند طريقه

د هغه چا د حق خيال ساتل چې ستا د حق خيال نۀ ساتي يو ډول مريتوب او غلامي ده.

۱٦۵. وَقَالَ:

لاَ طَاعَةَ لِمَخْلُوقٍ فِي مَعْصِيَةِ الْخَالِقِ.

(۱۲۵) د خداے پاک له نافرمانۍ ډډه کول

د خداے تعالی په نافرمانۍ کښې د هيڅ يو بنده اطاعت روا نۀ دے.

۱٦٦. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

لاَ يُعَابُ الْمَرْءُ بِتَأْخِيرِ حَقِّهِ، إِنَّمَا يُعَابُ مَنْ أَخَذَ مَا لَيْسَ لَهُ.

(۱۲۲) د نورو په حقوقو تېرے مه کوئ

په دې څوک نۀ دي ملامته کول پکار چې ولې په حق اخېستلو کښې ځنډ کوي بلکه ملامتيا په دې کښې ده چې يو شے يې حق نۀ وي او اخلي يې.

۱٦۷. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

الاعْجَابُ يَمْنَعُ مِنَ الأزْدِيَادِ.

(۱۲۷) خود پسندي او بې برخې توب

خود پسندي د ترقۍ او پرمختګ مخه نيسي.

۱٦۸. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

الاَمْرُ قَرِيبٌ وَالأَصْطِحَابُ قَلِيلٌ.

(۱۲۸) دنيا فاني ده

آخرت نزدے دے او په دنيا کښې د پاتې کېدو وخت کم دے.

۱٦۹. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

قَدْ أَضَاءَ الصُّبْحُ لِذِي عَيْنَيْنِ.

(۱۲۹) بصيرت

د بينا سترګورو لپاره سحر روښانه شوے دے.

۱۷۰. وَقَالَ:

تَرْكُ الذَّنْبِ أَهْوَنُ مِنْ طَلَبِ المَعونَةِ.

(۱۷۰) ګناه پرېښودل

د ګناه پرېښودل د توبې له کولو آسان دي.

۱۷۱. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

(۱۷۱) د حرام خورۍ عاقبت

كَمْ مِنْ أَكْلَة مَنَعَتْ أَكَلاَت!

۱۷۲. وَقَالَ عَلَيْه السَّلاَمُ:

النَّاسُ أَعْدَاءُ مَا جَهِلُوا.

۱۷۳. وَقَالَ:

مَنِ اسْتَقْبَلَ وُجُوهَ الْآرَاء عَرَفَ مَوَاقِعَ الْخَطَاَ.

۱۷٤. وَقَالَ عَلَيْه السَّلاَمُ:

مَنْ أَحَدَّ سِنَانَ الْغَضَبِ لله قَوِيَ عَلَى قَتْلِ أَشِدَّاءِ الْبَاطِلِ.

۱۷۵. وَقَالَ عَلَيْه السَّلاَمُ:

إِذَا هِبْتَ أَمْراً فَقَعْ فِيهِ، فَإِنَّ شِدَّةَ تَوَقِّيهِ أَعْظَمُ مِمَّا تَخَافُ مِنْهُ.

۱۷٦. وَقَالَ:

آلَةُ الرِّيَاسَة سَعَةُ الصَّدْرِ.

۱۷۷. وَقَالَ عَلَيْه السَّلاَمُ:

ازْجُرِ الْمُسِيءَ بِثَوَابِ الْـمُحْسِنِ.

۱۷۸. وَقَالَ:

احْصُدِ الشَّرَّ مِنْ صَدْرِ غَيْرِكَ بِقَلْعِه مِنْ صَدْرِكَ.

۱۷۹. وَقَالَ عَلَيْه السَّلاَمُ:

اللَّجَاجَةُ تَسُلُّ الرَّأْيَ.

۱۸۰. وَقَالَ عَلَيْه السَّلاَمُ:

الطَّمَعُ رِقٌّ مُؤَبَّدٌ.

۱۸۱. وَقَالَ عَلَيْه السَّلاَمُ:

ثَمَرَةُ التَّفْرِيطِ النَّدَامَةُ، وَثَمَرَةُ الْحَزْمِ السَّلاَمَةُ.

۱۸۲. وَقَالَ عَلَيْه السَّلاَمُ:

لاَ خَيْرَ فِي الصَّمْتِ عَنِ الْحُكْمِ، كَمَا أَنَّهُ لاَ خَيْرَ فِي الْقَوْلِ بِالْجَهْلِ.

۱۸۳. وَقَالَ عَلَيْه السَّلاَمُ:

مَا اخْتَلَفَتْ دَعْوَتَانِ إِلاَّ كَانَتْ إِحْدَاهُمَا ضَلاَلَةً.

کله کله یو خواړهٔ انسان له ډېرو خواړو محرومه کړي.

(۱۷۲) ناداني او دښمني

خلق د هغو څيزونو دښمنان دي چې نهٔ پرې پوهېږي.

(۱۷۳) د مشورې فائده

هغه کس چې د مختلفو رايو او نظرونو هرکلے وکړي د غلطيو مواقع به ښې اوپېژني

(۱۷۴) د خدا ے په لاره کښې غصه

څوک چې د خدا ے لپاره د غضب نېزه تېروي د ډېرو سختو باطلو په وژلو به توانمند وي.

(۱۷۵) د ويرې علاج

کله چې له يوهٔ څيزه ويرېږې ځان پکښې ورواچوه ځکه چې کله کله ويره تر هغه څيزه زياته سخته وي.

(۱۷۶) زغم ولرئ

لويه سينه (د سختيو زغمل) د واکمنۍ وسيله ده.

(۱۷۷) له بدانو سره د چلند طريقه

نېک عمله ته د انعام په ورکولو سره بدعمله تنبيه کړه

(۱۷۸) د بديو ختمول

که د نورو له زړونو شر ختمول غواړې نو اول يې په خپل زړهٔ کښې ختم کړه.

(۱۷۹) ضد او د ارادې او تدبير سستي

ضدکول د صحيح تدبير مخه نيسي.

(۱۸۰) طمعه او مريتوب

طمعه لرل د تل لپاره غلامي ده.

(۱۸۱) کوتاه فکره مه اوسئ

د لنډ فکرۍ نتيجه پښېماني او د دوراندېشۍ نتيجه سلامتيا ده.

(۱۸۲) د خبرې او چپتيا ځا ے

چرته چې بايد سمه خبره وکړې شي په چپتيا کښې خېر نشته، لکه څرنګه چې په ناپوهه خبره کښې خېر نشته.

(۱۸۳) باطل ګروهنه او اختلاف

دوه بلنې په خپلو کښې اختلاف نهٔ پيدا کوي مګر دا چې يو يې ګمراهي وي.

۱۸۴. وَقَالَ عَلَيْه السَّلاَمُ:

مَا شَكَكْتُ فِي الْحَقِّ مُذْ أُرِيتُهُ.

۱۸۵. وَقَالَ عَلَيْه السَّلاَمُ:

مَا كَذَبْتُ وَلاَ كُذِّبْتُ، وَلاَ ضَلَلْتُ وَلاَ ضُلَّ بِي.

۱۸۶. وَقَالَ عَلَيْه السَّلاَمُ:

لِلظَّالِمِ الْبَادِي غَداً بِكَفِّهِ عَضَّةٌ.

۱۸۷. وَقَالَ:

الرَّحِيلُ وَشِيكٌ.

۱۸۸. وَقَالَ عَلَيْه السَّلاَمُ:

مَنْ أَبْدَى صَفْحَتَهُ لِلْحَقِّ هَلَكَ.

۱۸۹. وَقَالَ عَلَيْه السَّلاَمُ:

مَنْ لَمْ يُنْجِهِ الصَّبْرُ أَهْلَكَهُ الْجَزَعُ.

۱۹۰. وَقَالَ:

وَاعَجَبَاهُ! أَتَكُونُ الْخِلاَفَةُ بِالصَّحَابَةِ وَلاَتَكُونُ بِالصَّحَابَةِ وَالْقَرَابَةِ؟

وَرُوِيَ لَهُ شِعْرٌ فِي هَذَا الْمَعْنَى وَهُوَ:

فَإِنْ كُنْتَ بِالشُّورَى مَلَكْتَ أُمُورَهُمْ

فَكَيْفَ بِهذَا وَالْمُشِيرُونَ غُيَّبُ؟

وَإِنْ كُنْتَ بِالْقُرْبَى حَجَجْتَ خَصِيمَهُمْ

فَغَيْرُكَ أَوْلَى بِالنَّبِيِّ وَأَقْرَبُ

۱۹۱. وَقَالَ عَلَيْه السَّلاَمُ:

إِنَّمَا الْمَرْءُ فِي الدُّنْيَا غَرَضٌ تَنْتَضِلُ فِيهِ الْمَنَايَا، وَنَهْبٌ تُبَادِرُهُ الْمَصَائِبُ، وَمَعَ كُلِّ جُرْعَةٍ شَرَقٌ، وَفِي كُلِّ أَكْلَةٍ غَصَصٌ، وَلاَ يَنَالُ الْعَبْدُ نِعْمَةً إِلاَّ بِفِرَاقِ أُخْرَى، وَلاَ يَسْتَقْبِلُ يَوْماً مِنْ عُمُرِهِ إِلاَّ بِفِرَاقِ آخَرَ مِنْ أَجَلِهِ. فَنَحْنُ أَعْوَانُ الْمَنُونِ، وَأَنْفُسُنَا نَصْبُ الْحُتُوفِ، فَمِنْ أَيْنَ نَرْجُوا الْبَقَاءَ وَهذَا اللَّيْلُ وَالنَّهَارُ لَمْ يَرْفَعَا مِنْ شَيْءٍ شَرَفاً إِلاَّ أَسْرَعَا الْكَرَّةَ فِي هَدْمِ مَا بَنَيَا، وَتَفْرِيقِ مَا جَمَعَا؟!

۱۹۲. وَقَالَ:

**(۱۸۴) د امام اعتقادي ځانګړتياوې او خصوصيتونه**

له هغه ورځې چې حق ماته ښکاره شو هيڅکله په شک اخته نۀ شوم.

**(۱۸۵) د امام عقيدتي ځانګړتياوې**

ما هيڅکله دروغ اونۀ ويل او نۀ راته دورغ وويل شول، هيڅکله ګمراه نۀ شوم او نۀ زما په وسيله څوک بې لارې شول.

**(۱۸۶) د ظالمانو سخت عاقبت**

د ظلم شروع کؤنکے به د قيامت په ورځ لاسونه مروړي.

**(۱۸۷) قيامت يادساتئ**

د کوچ وخت نزدے دے.

**(۱۸۸) حق ګروهنه**

څوک چې له حق سره ډغره وهي تباه کيږي.

**(۱۸۹) د صبر فضيلت او د بې صبرۍ خطر**

څوک چې په صبر سره اونۀ ژغورلے شي بې صبري به يې تباه کړي.

**(۱۹۰) د امامت او خلافت معيار**

عجيبه ده! د خلافت معيار د پېغمبرصحابي والے دے، خو که صحابي والے او خپلوي دواړه وي نو معيار نۀ دے؟

«په دې اړه له امامه يو شعر هم نقل شوے دے چې حضرت ابوبکر ته يې وفرمايل:» که تۀ ادعا کوې چې د مسلمانانو په رايو (ووټونو) سره خلافت ته رسېدلے يې نو دا څنګه رايه ورکونه او ووټونه وو چې راې ورکوونکي او ووټران پکښې نۀ وو. او که خپلوي معيار ګڼې نو نور له تا پېغمبرته زيات نزدې وو.

**(۱۹۱) د دنيا ستونځې او مشکلات**

انسان په دې دنيا کښې يو داسې هدف او نښه ده چې هميشه د مرګ له غشو سره مخامخه ده او د مصيبتونو د يرغلونو مرکز دے، هر ګوټ بې اتروشے راولي او هره مړۍ يې په مرۍ کښې نښلي. او انسان کوم نعمت لاسته نۀ راوړي مګر دا چې يو بل نعمت له لاسه ورکړي .او په عمر يې يوه ورځ نۀ ورزياتېږي مګر دا چې له عمره يې بله ورځ کمه شي، نو مونږ د مرګ ياران يوو او نفسونه مو د مرګ هدف، نو څرنګه د بقا هيله کولې شوو.حال دا چې د ورځو او شپو تيپال کومه ودانۍ نۀ ده آباده کړې مګر دا چې ورانه کړې يې وي او څه يې چې راغونډ کړې تيت پرک کړې يې دي.

**(۱۹۲) د دنيا مال**

يَابْنَ آدَمَ مَا كَسَبْتَ فَوْقَ قُوتِكَ، فَأَنْتَ فِيهِ خَازِنٌ لِغَيْرِكَ.

اے د آدم اولاده! هر څه چې دې له خپل ضرورته زیات برابر کړي دي د نورو لپاره دې راغونډ کړي دي.

۱۹۳. وَقَالَ:

إِنَّ لِلْقُلُوبِ شَهْوَةً وَإِقْبَالاً وَإِدْبَاراً، فَأْتُوهَا مِنْ قِبَلِ شَهْوَتِهَا و اقبالها فان القلب اذا اُکره عمی.

**(۱۹۳) د زړهٔ د استعمال طریقه**

زړونه هم شوق، مخه کول او ډډه کول لري، نو زړونه هغه وخت کار ته اړباسئ چې شوق او مخه کونه ولري، ځکه چې که زړهٔ په زوره یو کار ته اړ ایستلې شي نو ړندېږي.

۱۹٤. وَكَانَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ يَقُولُ:

مَتَى أَشْفِي غَيْظِي إِذَا غَضِبْتُ؟ أَحِينَ أَعْجِزُ عَنِ الاِنْتِقَامِ فَيُقَالُ لِي: لَوْ صَبَرْتَ؟ أَمْ حِينَ أَقْدِرُ عَلَيْهِ فَيُقَالُ لِي: لَوْ عَفَوْتَ.

**(۱۹۴) له غصې او انتقامه ډډه کول**

کله چې غصه شم نو غصه څرنګه سړه کړم، هغه وخت چې د انتقام طاقت نهٔ لرم چې راته وویل شي: «که صبر وکړې ښه به وي» یا هغه وخت چې د انتقام اخېستلو طاقت لرم او راته وویل شي: «که وې بخښې غوره به وي»

۱۹۵. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ وَقَدْ مَرَّ بِقَذَرٍ عَلَى مَزْبَلَةٍ:

هذَا مَا بَخِلَ بِهِ الْبَاخِلُونَ.

وَرُوِيَ فِي خَبَرٍ آخَرَ أَنَّهُ قَالَ:

هذَا مَا كُنْتُمْ تَتَنَافَسُونَ فِيهِ بِالْأَمْسِ!

**(۱۹۵) شومتوب مه کوئ**

«په لاره کښې د انساني ګندګۍ له یو ډېران سره تېرېدهٔ نو هغې ته یې اشاره وکړه او وې فرمایل: «دا هماغه څه دي چې شومان پرې شومتوب کوي» په یو بل روایت کښې راغلي دي چې وې فرمایل: «دا هغه څه دي چې پرون یې د دې په سر له یو بل سره سیالي کوله.» (مطلب دا چې د دنیا او د دنیا د خوندونو انجام دا دے)

۱۹٦. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

لَمْ يَذْهَبْ مِنْ مَالِكَ مَا وَعَظَكَ.

**(۱۹۶) د مال له ضائع کېدو عبرت**

هغه مال چې تباه کېدل یې تا ته نصیحت او عبرت درکړي له لاسه نه دے تللے.

۱۹۷. وَقَالَ:

إِنَّ هذِهِ الْقُلُوبَ تَمَلُّ كَمَا تَمَلُّ الْأَبْدَانُ، فَابْتَغُوا لَهَا طَرَائِفَ الْحِكْمَةِ.

**(۱۹۷) د ارواګانو (روحونو) درمان**

دا زړونه هم د بدنونو په شان ستړي کېږي د هغو د تاندولو او تازه کولو لپاره حکیمانه خبرو ته مخه وکړئ.

۱۹۸. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ لما سمع قول الخوارج ـ لا حكم إلاّ لله:

كَلِمَةُ حَقٍّ يُرَادُ بِهَا بَاطِلٌ.

**(۱۹۸) د حکومت ضرورت**

کله یې چې واورېدل چې خوارج وائي حکومت یواځې د خدائے دے. وې فرمایل: «دا خبره حق ده خو مطلب ترې باطل اخېستل کېږي.»

۱۹۹. وَقَالَ فِي صِفَةِ الْغَوْغَاءِ: هُمُ الَّذِينَ إِذَا اجْتَمَعُوا غَلَبُوا، وَإِذَا تَفَرَّقُوا لَمْ يُعْرَفُوا. وَقِيلَ: بَلْ قَالَ: هُمُ الَّذِينَ إِذَا اجْتَمَعُوا ضَرُّوا، وَإِذَا تَفَرَّقُوا نَفَعُوا. فَقِيلَ: قَدْ عَلِمْنَا مَضَرَّةَ اجْتِمَاعِهِمْ، فَمَا مَنْفَعَةُ افْتِرَاقِهِمْ؟ فَقَالَ: يَرْجِعُ أَصْحَابُ الْمِهَنِ إِلَى مِهَنِهِمْ، فَيَنْتَفِعُ النَّاسُ بِهِمْ، كَرُجُوعِ الْبَنَّاءِ إِلَى بِنَائِهِ، وَالنَّسَّاجِ إِلَى مَنْسَجِهِ، وَالْخَبَّازِ إِلَى مَخْبَزِهِ.

**(۱۹۹) د لوفرانو او بدمعاشانو غندنه**

دوي (لوفران او بدمعاشان) چې کله سره راغونډ شي بریالي شي او کله چې خوارهٔ وارهٔ شي څوک یې پېژني هم نه. «ویل شوي دي چې وې فرمایل:» دوي چې کله سره راغونډ شي تاوان رسوي او کله چې خوارهٔ وارهٔ شي ګټه رسوي. «له امامه یې وپوښتل لوفران او بدمعاشان چې سره راغونډ شي تاوان رسوي په دې خو پوه شوو خو کله چې خوارهٔ وارهٔ شي نو ګټه رسوي د هغوي په تیت پرک کېدو کښې څه ګټه ده؟ وې فرمایل» (له هغوي څخه) د کار او کسب خاوندان او پېشه وران خپلو کارونو ته ستنېږي او خلق د هغوي له کسبه فائده اوچتوي ګلکار د

ودانۍ جوړولو ته ، اوبدونکي اوبدلو ته او نانبائي ډوډۍ پخولو ته مخه کوي.

٢٠٠. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ وَقَدْ أُتِيَ بِجَانٍ وَمَعَهُ غَوْغَاءُ:
لاَ مَرْحَباً بِوُجُوهٍ لاَ تُرى إِلاَّ عِنْدَ كُلِّ سَوْأَةٍ.

### (۲۰۰) د مفسدو انسانانو رټنه

يوجنايت کار(مجرم) يې امام ته راوستۀ چې يو شمېر بدماشان هم ورسره وو امام وفرمايل«هغه مخونه دې ورک شي چې يواځې د بدۍ او رسوائۍ په وخت ليدل کېږي. :»

٢٠١. وَقَالَ:
إِنَّ مَعَ كُلِّ إِنْسَانٍ مَلَكَيْنِ يَحْفَظَانِهِ، فَإِذَا جَاءَ الْقَدَرُ خَلَّيَا بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ، وَإِنَّ الاَجَلَ جُنَّةٌ حَصِينَةٌ.

### (۲۰۱) الهي مرستې او د انسان ساتنه

هر انسان دوه فرښتې لري چې د هغۀ حفاظت کوي او کله چې الهي تقدير راورسېږي يواځې يې پرېږدي بې شکه چې اجل د انسان ساتونکې ډال دے.

د امام دا خبره حمزه بابا د شعر په ژبه داسې ويلې ده:

وائـي مرتضى ؓ چې محافظ دې خپل اجل دے
ما تـه راز د ژوند ښۀ معلـوم شوے مکمل دے
واخلــه دا ثبــوت ابن ملجم چې پرې حمله کړه
څــه په جوش او مينـــه مرتضى ؓ داسې نعره کړه
وې چې د کعبې په رب قسم چې زۀ کامياب شوم
سيند کښې د انوارو سر تر پايه زۀ غرقاب شوم
زار شـم له يقينه چې د ژوند راز ورته حـل کا
دا د مـرګ په خونه کښې چراغ د سکون بل کا

٢٠٢. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ وَقَدْ قَالَ لَهُ طَلْحَةُ وَالزُّبَيْرُ: نُبَايِعُكَ عَلَى أَنَّا شُرَكَاؤُكَ فِي هَذَا الأَمْرِ. فَقَالَ:
لاَ، وَلكِنَّكُمَا شَرِيكَانِ فِي الْقُوَّةِ وَالاسْتِعَانَةِ، وَعَوْنَانِ عَلَى الْعَجْزِ وَالاَوَدِ.

### (۲۰۲) په سياسي مسائلو کښې حقيقت پسندي

طلحه او زبير امام ته ورغلل او وې ويل: له تاسره بيعت کووو په دې شرط چې په حکومت کښې درشريک شوو. وې فرمايل: نه هيڅکله! بلکه تاسو يواځې په طاقت او مرسته غوښتلو کښې شريکان او په سختيو کښې د ناتوانۍ او پاتې راتللو په وخت دوه ملګري جوړېدلې شئ.

٢٠٣. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:
أَيُّهَا النَّاسُ، اتَّقُوا اللهَ الَّذِي إِنْ قُلْتُمْ سَمِعَ، وَإِنْ أَضْمَرْتُمْ عَلِمَ، وَبَادِرُوا الْمَوْتَ الَّذِي إِنْ هَرَبْتُمْ أَدْرَكَكُمْ، وَإِنْ أَقَمْتُمْ أَخَذَكُمْ، وَإِنْ نَسِيتُمُوهُ ذَكَرَكُمْ.

### (۲۰۳) د مرګ ياد او تقوا

اے خلقو له هغه خدايه اوېرېږئ چې کله تاسو خبره وکړئ هغه يې اوري او که څه پټ کړئ هغه ته ښکاره دي او هغه مرګ ته تيار اوسئ چې که تېښته ترې وکړئ دررسېږي، او که په خپل ځاے پاتې شئ بيا مو هم راتپينګوي او که تاسو هغه هېر کړئ خو هغه تاسو نۀ هېروي.

٢٠٤. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:
لاَ يُزَهِّدَنَّكَ فِي الْمَعْرُوفِ مَنْ لاَ يَشْكُرُهُ لَكَ، فَقَدْ يَشْكُرُكَ عَلَيْهِ مَنْ لاَ يَسْتَمْتِعُ بِشَيْءٍ مِنْهُ، وَقَدْ تُدْرِكُ مِنْ شُكْرِ الشَّاكِرِ أَكْثَرَ مِمَّا أَضَاعَ الْكَافِرُ، وَاللهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ.

### (۲۰۴) د خلقو ناشکري

(ګوره چې) د خلقو ناشکري تا له نېک کاره منعې نۀ کړي، ځکه چې داسې کسان هم شته دي چې بې له دې چې تۀ ورته ګټه ورسوې ستا ستائنه کوي ښايي د هغوي لږه شان ستائنه ستا لپاره د ناشکرانو له ناشکرۍ غوره وي.

٢٠٥. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

### (۲۰۵) علم بې پايانه دے

هر لوښے د يو څيز په اچولو سره ډکېږي بې د علم له ظرفه چې هر څومره

كُلُّ وِعَاءٍ يَضِيقُ بِمَا جُعِلَ فِيهِ إِلاَّ وِعَاءَ الْعِلْمِ، فَإِنَّهُ يَتَّسِعُ.

٢٠٦. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

أَوَّلُ عِوَضِ الْحَلِيمِ مِنْ حِلْمِهِ أَنَّ النَّاسَ أَنْصَارُهُ عَلَى الْجَاهِلِ.

٢٠٧. وَقَالَ:

إِنْ لَمْ تَكُنْ حَلِيماً فَتَحَلَّمْ، فَإِنَّهُ قَلَّ مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ إِلاَّ أَوْشَكَ أَنْ يَكُونَ مِنْهُمْ.

٢٠٨. مَنْ حَاسَبَ نَفْسَهُ رَبِحَ، وَمَنْ غَفَلَ عَنْهَا خَسِرَ، وَمَنْ خَافَ أَمِنَ، وَمَنِ اعْتَبَرَ أَبْصَرَ،مَنْ أَبْصَرَ فَهِمَ، وَمَنْ فَهِمَ عَلِمَ.

٢٠٩. وَقَالَ:

لَتَعْطِفَنَّ الدُّنْيَا عَلَيْنَا بَعْدَ شِمَاسِهَا عَطْفَ الضَّرُوسِ عَلَى وَلَدِهَا. وَتَلاَ عُقَيْبَ ذَلِكَ: ﴿وَنُرِيدُ أَنْ نَمُنَّ عَلَى الَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا فِي الأَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ أَئِمَّةً وَنَجْعَلَهُمُ الْوَارِثِينَ﴾.

٢١٠. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

اتَّقُوا اللهَ تَقِيَّةَ مَنْ شَمَّرَ تَجْرِيداً، وَجَدَّ تَشْمِيراً، وَكَمَّشَ فِي مَهَلٍ، وَبَادَرَ عَنْ وَجَلٍ،نَظَرَ فِي كَرَّةِ الْمَوْئِلِ، وَعَاقِبَةِ الْمَصْدَرِ، وَمَغَبَّةِ الْمَرْجِعِ.

٢١١. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

الْجُودُ حَارِسُ الأَعْرَاضِ، وَالْحِلْمُ فِدَامُ السَّفِيهِ، وَالْعَفْوُ زَكَاةُ الظَّفَرِ، وَالسُّلُوُّ عِوَضُكَ مِمَّنْ غَدَرَ، وَالاْسْتِشَارَةُ عَيْنُ الْهِدَايَةِ وَقَدْ خَاطَرَ مَنِ اسْتَغْنَى بِرَأْيِهِ، وَالصَّبْرُ يُنَاضِلُ الْحِدْثَانَ، وَالْجَزَعُ مِنْ أَعْوَانِ الزَّمَانِ، وَأَشْرَفُ الْغِنَى تَرْكُ الْمُنَى، وَكَمْ مِنْ عَقْلٍ أَسِيرٍ تَحْتَ هَوَى أَمِيرٍ! وَمِنَ التَّوْفِيقِ حِفْظُ التَّجْرِبَةِ، وَالْمَوَدَّةُ قَرَابَةٌ مُسْتَفَادَةٌ، وَلاَ تَأْمَنَنَّ مَلُولاً.

٢١٢. وَقَالَ:

وراچوي نور پراخېږي.

## (۲۰۶) حلم او زغم

د متواضع او زغم لرونکي د زغم وړومبے انعام دا دے چې خلق به د ناپوهو په وړاندې د هغهٔ ملاتړي وي.

## (۲۰۷) له خوبانو سره ناسته پاسته

که متواضع او حليم نهٔ يې ځان حليم ښيه ځکه چې ډېر کم داسې کسان دي چې ځانونه د ځينې خلقو په شان کړي او له هغوي اونهٔ ګڼل شي.

## (۲۰۸) د خودسازۍ او تذکيه نفس پړاوونه (مرحلې)

څوک چې د ځان محاسبه وکړي فائده کوي، او څوک چې له ځانه غافله وي تاوان کوي،څوک چې له خدايه اوريږيږي په امن کښې به وي او څوک چې عبرت واخلي خبر به شي او څوک چې خبر شي پوه به شي او څوک چې پوه شي علم يې زده کړے دے.

## (۲۰۹) د امام مهدي عليه السلام د ښکاره کېدو خبر

دنيا به له سرکښۍ وروسته مونږ (اهلبيتو عليهم السلام) ته مخ رااړوي د هغې بدخويه اوښې په شان چې په خپل جونګي مهربانه شي.«بيا يې دا آيت اولوستهٔ:او مونږ اراده کړې ده چې په مستضعفانو احسان وکړوو او هغوي امامان او د حکومتونو وارثان وګرځوو.

## (۲۱۰) د پرهېزګارۍ نمونې

له خدايه اويريږئ د هغو غوره کسانو په شان چې لمن يې راغونډه کړې او ځان يې تيار کړے دے او په فرصتونو کښې يې د نېکو کارونو هڅه کړې ده او د خداے پاک په لاره کښې يې له هغه ذاته په ويرې سره ځغل کړے دے او په زر تېرېدونکې دنيا ،د کار په عاقبت او د ژوند په خاتمه کښې يې ښهٔ فکر کړے دے.

## (۲۱۱) اخلاقي ارزښتونه

سخاوت او ښندنه د عزت ساتونکې ده،او صبر د بې عقلانو د خولو بندوونکې، بخښل د برې زکات دے، او ځان لرې ساتل د خائن سزا، مشوره د هدايت سترګې دي، او هغه کس چې په خپلې راې سره له نورو څخه د بې نيازۍ احساس وکړي په خطرو کښې به اولوېږي، صبر د شپې او ورځې له مصيبتونو سره مقابله کوي او بيقراري د انسان په تباهۍ کښې له زمانې سره مرسته کوي، تر ټولو لويه بې نيازي د ارمانونو او ارزوګانو پرېښودل دي او ډېر داسې عقلونه شته دي چې د هوا او هوس مريان دي،د تجربې ساتل او کارول د کاميابۍ راز دے،او دوستي يوه لاسته راغلې خپلوي ده، او په هغه کس چې ستومانه شوے دے او د زغم توان نهٔ لري اعتماد مه کوه.

## (۲۱۲) خودپسندي د عقل آفت

عُجْبُ الْمَرْءِ بِنَفْسِهِ أَحَدُ حُسَّادِ عَقْلِهِ.

خود پسندي له عقل سره يو حسد كوونكے دے.

٢١٣. وَقَالَ:

أَغْضِ عَلَى الْقَذَى وَالاَلَمِ تَرْضَ أَبَداً.

**(۲۱۳) صبر او خوښي**

په مصيبتونو او د سترګو په ازغو(خس وخشاک)سترګې پټې کړه همېشه به خوشحاله اوسې.

٢١٤. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

مَنْ لَانَ عُودُهُ كَثُفَتْ أَغْصَانُهُ.

**(۲۱۴) خوش اخلاقي او نعمتونه**

د چا د شخصيت ونه چې نرمه او بې عيبه وي څانګې او پاڼې به يې ګورې وي.

٢١٥. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

الْخِلَافُ يَهْدِمُ الرَّأْيَ.

**(۲۱۵) اختلاف، د تفكر آفت**

اختلاف، صحيح راے او فكر تباه كوي.

٢١٦. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

مَنْ نَالَ اسْتَطَالَ.

**(۲۱۶) طاقت او تېرے**

د چا لاس چې خولې ته اورسېدۀ (مقام يې ترلاسه كړ) تېريګر شو.

٢١٧. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

فِي تَقَلُّبِ الاَحْوَالِ عِلْمُ جَوَاهِرِ الرِّجَالِ.

**(۲۱۷) خلک په پېښو كښې وپېژنه**

د زمانې په لوړو ژورو كښې د مېړنيو د شخصيت ګوهر پېژندل كېږي

٢١٨. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

حَسَدُ الصَّدِيقِ مِنْ سُقْمِ الْمَوَدَّةِ.

**(۲۱۸) حسد د دوستئ آفت**

له دوست سره حسد د دوستئ آفت دے.

٢١٩. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

أَكْثَرُ مَصَارِعِ الْعُقُولِ تَحْتَ بُرُوقِ الْمَطَامِعِ.

**(۲۱۹) ارمانونه او ارزوګانې د عقل آفت**

د عقلونو د لولپه كېدو ځايونه د ارمانونو او ارزوګانو له بريښناګانو لاندې دي.

٢٢٠. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

لَيْسَ مِنَ الْعَدْلِ الْقَضَاءُ عَلَى الثِّقَةِ بِالظَّنِّ.

**(۲۲۰) په قضاوت كښې عدالت**

د باوري كسانو په حقله په ګمان سره قضاوت كول له عدله لرې كار دے.

٢٢١. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

بِئْسَ الزَّادُ إِلَى الْمَعَادِ الْعُدْوَانُ عَلَى الْعِبَادِ.

**(۲۲۱) د ظالمانو عاقبت**

د قيامت لپاره تر ټولو بده توښه په بندګانو ظلم دے.

٢٢٢. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

مِنْ أَشْرَفِ أَفْعَالِ الْكَرِيمِ غَفْلَتُهُ عَمَّا يَعْلَمُ.

**(۲۲۲) د بدانو بدئ ته بې پامي**

ځان نانګاره كول او سترګې پټول د كريمو او لويو كسانو تر ټولو غوره كار دے.

٢٢٣. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

مَنْ كَسَاهُ الْحَيَاءُ ثَوْبَهُ لَمْ يَرَ النَّاسُ عَيْبَهُ.

**(۲۲۳) حيا او عيب پوښي**

چا چې د حيا جامه په تن كړه نور به يې څوک عيبونه ونۀ ويني.

٢٢٤. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

بِكَثْرَةِ الصَّمْتِ تَكُونُ الْهَيْبَةُ، وَبِالنَّصَفَةِ يَكْثُرُ الْمُوَاصِلُونَ، وَبِالاِفْضَالِ تَعْظُمُ الاَقْدَارُ، وَبِالتَّوَاضُعِ تَتِمُّ النِّعْمَةُ، وَبِاحْتِمَالِ الْمُؤَنِ يَجِبُ السُّؤْدُدُ، وَبِالسِّيرَةِ الْعَادِلَةِ يُقْهَرُ الْمُنَاوِىءُ، بِالْحِلْمِ عَنِ السَّفِيهِ تَكْثُرُ الاَنْصَارُ عَلَيْهِ.

**(۲۲۴) اخلاقي فضائل**

په ډېرې چپتيا سره د انسان وقار زياتېږي، او په انصاف كولو سره دوستان پرېمانه كيږي او په ښندنې او بخشش سره د انسان قدر او عزت زياتېږي او په تواضع سره نعمت بشپړېږي او د خرچونو په وركولو سره سترتوب او سروري ثابتېږي او په عادلانه چلند سره مخالفان ماتېږي او د بې عقلانو په وړاندې په صبر سره د انسان ملګري ډېرېږي .

٢٢٥. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

**الْعَجَبُ لِغَفْلَةِ الْحُسَّادِ عَنْ سَلَامَةِ الاَجْسَادِ!**

**(۲۲۵) حسد او بيماري**

حېرانه يم چې حاسدان له خپلې سلامتۍ غافله دي.

٢٢٦. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

**الطَّامِعُ فِي وِثَاقِ الذُّلِّ.**

**(۲۲۶) طمعه (لالچ) او ذلت**

طمعه لرونکے به همېشه خوار او ذليل وي.

٢٢٧. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ وقد سئل عن الايمان:

**الايمَانُ مَعْرِفَةٌ بِالْقَلْبِ، وَإِقْرَارٌ بِاللِّسَانِ، وَعَمَلٌ بِالاَرْكَانِ.**

**(۲۲۷) د ايمان رکنونه**

ايمان د زړهٔ په پېژندلو، د ژبې په اقرار او د اندامونو په عمل ولاړ دے.

٢٢٨. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

**مَنْ أَصْبَحَ عَلَى الدُّنْيَا حَزِيناً فَقَدْ أَصْبَحَ لِقَضَاءِ اللهِ سَاخِطاً، وَمَنْ أَصْبَحَ يَشْكُو مُصِيبَةً نَزَلَتْ بِهِ فَقَدْ أَصْبَحَ يَشْكُو رَبَّهُ، وَمَنْ أَتَى غَنِيّاً فَتَوَاضَعَ لِغِنَاهُ ذَهَبَ ثُلُثَا دِينِهِ، وَمَنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ فَمَاتَ فَدَخَلَ النَّارَ فَهُوَ مِمَّنْ كَانَ يَتَّخِذُ آيَاتِ اللهِ هُزُواً، وَمَنْ لَهِجَ قَلْبُهُ بِحُبِّ الدُّنْيَا الْتَاطَ قَلْبُهُ مِنْهَا بِثَلَاثٍ: هَمٍّ لَا يُغِبُّهُ، وَحِرْصٍ لَا يَتْرُكُهُ، وَأَمَلٍ لَا يُدْرِكُهُ.**

**(۲۲۸) شکرې ملغلرې**

څوک چې له دنيا قهرجن وي د خداے په قضا غصه وي، او څوک چې په راغلې مصيبت شکايت وکړي له خدايه يې شکايت کړے دے، او څوک چې يو غني ته ورشي او د هغهٔ د مال په وجه د هغهٔ په مخکې تواضع او عاجزي وکړي په دريو کښې دوه برخې دين يې له لاسه ورکړے دے، او څوک چې قرآن ولولي او دوزخ ته لاړ شي ضرور له هغو کسانو دے چې د خداے آيتونه يې لوبې ټوقې ګڼلي دي، او د چا زړهٔ چې له دنيا سره تړلے وي تل به په دريو مصيبتونو اخته وي، نهٔ پرېښودونکے غم او پرېشاني، نهٔ جدا کېدونکے حرص او نهٔ لاسته راتلونکې آرزو.

٢٢٩. وَقَالَ:

**كَفَى بِالْقَنَاعَةِ مُلْكاً، وَبِحُسْنِ الْخُلُقِ نَعِيماً.**

وَسُئِلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ عَنْ قَوْلِهِ تَعَالَى: ﴿**فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً**﴾، فَقَالَ: **هِيَ الْقَنَاعَةُ.**

**(۲۲۹) د قناعت او خوش اخلاقۍ فضيلت**

د انسان د شتمنۍ لپاره قناعت او د نعمت د زياتېدو لپاره خوش اخلاقي کافي ده.

«له امامه پوښتنه وشوه چې د فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً آيت تفسير څه دے؟ وې فرمايل:» هغه په قناعت سره ژوند کول دي.

٢٣٠. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

**شَارِكُوا الَّذِي قَدْ أَقْبَلَ عَلَيْهِ الرِّزْقُ، فَإِنَّهُ أَخْلَقُ لِلْغِنَى، وَأَجْدَرُ بِإِقْبَالِ الْحَظِّ عَلَيْهِ.**

**(۲۳۰) د روزۍ د لاسته راوړلو لاره**

له هغه چا سره چې روزۍ ورته مخه کړې ده شريک شئ ځکه چې د شتمنۍ ور او د ښې روزۍ او وخت لپاره غوره دے.

٢٣١. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ فِي قَوْلِ اللهِ تَعَالَى ﴿**إِنَّ اللهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالاحْسَانِ**﴾:

**الْعَدْلُ الانْصَافُ، وَالاحْسَانُ التَّفَضُّلُ.**

**(۲۳۱) د عدل او احسان تعريف**

«د سورهٔ نحل د نويم آيت په تفسير کښې يې چې فرمائي: خداے د عدل او احسان امرکوي، وفرمايل:» عدل هماغه انصاف او احسان هماغه ښندنه او بخشش دے.

٢٣٢. وَقَالَ:

**مَنْ يُعْطِ بِالْيَدِ الْقَصِيرَةِ يُعْطَ بِالْيَدِ الطَّوِيلَةِ.**

**(۲۳۲) د انفاق فضيلت**

څوک چې په لنډ لاس سره څه اوبخښي، په اوږد لاس سره به يې بدله واخلي.

سيد رضي وائي: د دې خبرې مطلب دا دے چې که څوک د خداے په لاره کښې لږ څه ورکړي خداے تعالی به يې ډېره بدله ورکاندي او دلته له دوو لاسونو مطلب دوه نعمتونه دي چې امام د رب د نعمت او د هغه نعمت په مينځ کښې چې د انسان له لوري چاته ورکول کېږي په لنډ او اوږد نعمت سره فرق ابښے دے او د بنده له خوا ښندنه او نعمت يې لنډ او د خداے لخوا نعمت ښندنه يې اوږده او لوړه ګڼلې ده . په دې وجه چې د خداے نعمت همېشه د بنده د نعمت څو برابره وي ځکه چې د خداے نعمت د ټولو نعمتونو اصل او بنياد دے نو ټول نعمتونه د خداے نعمت ته ورګرځي او له هغهٔ سرچينه اخلي.

٢٣٣. وَقَالَ لاِبْنِه الْحَسَن عَلَيْهِمَا السَّلَامُ:
لاَ تَدْعُوَنَّ إِلَى مُبَارَزَة، وَإِنْ دُعِيتَ إِلَيْهَا فَأَجِبْ، فَإِنَّ الدَّاعِيَ بَاغ، وَالْبَاغِيَ مَصْرُوعٌ.

(۲۳۳) په جنګ کښې له شروع کولو ډډه کول
اميرالمومنين ﷺ خپل زوے امام حسن مجتبیٰ ﷺ ته وفرمايل: څوک جنګ ته مه رابله خو که تۀ يې مقابلې ته اوبللې وې منه ځکه چې د جنګ شروع کوئنکے تېريګر دے، او تېريګر ماتې خوړونکے دے.

٢٣٤. وَقَالَ:
خِيَارُ خِصَالِ النِّسَاءِ شِرَارُ خِصَالِ الرِّجَالِ: الزَّهْوُ وَالْجُبْنُ وَالْبُخْلُ، فَإِذَا كَانَتِ الْمَرْأَةُ مَزْهُوَّةً لَمْ تُمَكِّنْ مِنْ نَفْسِهَا، وَإِذَا كَانَتْ بَخِيلَةً حَفِظَتْ مَا لَهَا وَمَالَ بَعْلِهَا، وَإِذَا كَانَتْ جَبَانَةً فَرِقَتْ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ يَعْرِضُ لَهَا.

(۲۳۴) د ښځو او سړيو اخلاقي فرق
د ښځو ځينې ډېر ښۀ صفات او اخلاق د سړيو لپاره ډېر بد خويونه ګڼل کېږي، لکه کبر، ويره، او شومتوب. که يوه ښځه کبرجنه وي پردي سړي خپلو حدودو ته نۀ پرېږدي او که بخيله او شومه وي د خپل او خاوند د مال حفاظت به کوي او که ويرېدونکې وي له هر هغه څيزه به چې د هغې عزت ته تاوان رسوي لرې ګرځي.

٢٣٥. قِيلَ لَهُ: صِفْ لَنَا الْعَاقِلَ. فَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:
هُوَ الَّذِي يَضَعُ الشَّيْءَ مَوَاضِعَهُ.
قِيلَ: فَصِفْ لَنَا الْجَاهِلَ. قَالَ: قَدْ فَعَلْتُ.

(۲۳۵) د هوښيارۍ نښه
«امام ته ووېل شول عاقل کس مونږ ته راوپېژنه ځواب يې ورکړ:» هوښيار او عاقل هغه دے چې هر يو څيز په خپل ځاے کښې اېږدي، «وې ويل نو جاهل څوک دے وې فرمايل:» د عاقل په معرفي کولو سره مې جاهل هم دراوپېژندۀ.

(مطلب دا چې جاهل هغه دے چې هيڅ يو څيز په خپل ځاے نه ږدي. امام ځکه د هغۀ له بيا معرفۍ ډډه وکړه)

٢٣٦. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:
وَاللهِ لَدُنْيَاكُمْ هذِهِ أَهْوَنُ فِي عَيْنِي مِنْ عِرَاقِ خِنْزِير فِي يَدِ مَجْذُوم.

(۲۳۶) د دنيا پېژندل
په خداے قسم! ستاسو دا دنيا زما په نزد د خنزير تر هډوکي چې د يو جذامي مريض په لاس کښې وي بده او سپکه ده

٢٣٧. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:
إِنَّ قَوْماً عَبَدُوا اللهَ رَغْبَةً فَتِلْكَ عِبَادَةُ التُّجَّارِ، وَإِنَّ قَوْماً عَبَدُوا اللهَ رَهْبَةً فَتِلْكَ عِبَادَةُ الْعَبِيدِ، وَإِنَّ قَوْماً عَبَدُوا اللهَ شُكْراً فَتِلْكَ عِبَادَةُ الاَحْرَارِ.

(۲۳۷) د عبادت قسمونه
ځينې کسان د جنت په شوق د خداے عبادت کوي چې دا د سوداګرانو عبادت دے. ځينې د عذاب له ويرې د خداے عبادت کوي چې دا د مريانو عبادت دے .او ځينې د شکرګذارۍ لپاره د خداے عبادت کوي چې دا د آزادو (پتياليو او ننګياليو) عبادت دے.

٢٣٨. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:
الْمَرْأَةُ شَرٌّ كُلُّهَا، وَشَرُّ مَا فِيهَا أَنَّهُ لاَ بُدَّ مِنْهَا!

(۲۳۸) د کورنۍ ذمه وارۍ
ښځه ټول کړاؤ او سرخوږے دے. او تر دې د کړاؤ خبره دا ده چې له هغې نه بله چاره نشته.

٢٣٩. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:
مَنْ أَطَاعَ التَّوَانِيَ ضَيَّعَ الْحُقُوقَ، وَمَنْ أَطَاعَ الْوَاشِيَ ضَيَّعَ الصَّدِيقَ.

(۲۳۹) د چغل خورۍ رذالت
څوک چې په سستۍ او لټۍ عادت شي حقوق تر پښو لاندې کوي او څوک چې د چغل خور خبره اومني دوستي به يې برباده شي.

٢٤٠. وَقَالَ:
الْحَجَرُ الْغَصِيبُ فِي الدَّارِ رَهْنٌ عَلَى خَرَابِهَا.

(۲۴۰) غصب او ورانۍ
په يو کور کښې د غصب يو کاڼے د هغه کور د تباهۍ سبب کېږي.

(دا حديث له پېغمبراکرم ﷺ څخه هم نقل شوے دے. دا چې هم له رسول الله مبارک ﷺ او هم له حضرت علي ﷺ نقل شوے دے د حېرانۍ خبره نۀ ده ځکه چې د دواړو د علمونو سرچينه يوه ده.

٢٤١. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

يَـوْمُ الْمَظْلُـومِ عَلَـى الظَّـالِمِ أَشَـدُّ مِـنْ يَـوْمِ الظَّـالِمِ عَلَـى الْمَظْلُومِ.

**(۲۴۱) د ظالمانو بد عاقبت**

هغه ورځ چې مظلوم به له ظالمه بدل اخلي تر هغې ورځې سخته ده چې ظالم په مظلوم ظلم کوي.

٢٤٢. وَقَالَ:

اتَّقِ اللهَ بَعْضَ التُّقَى وَإِنْ قَـلَّ، وَاجْعَـلْ بَيْنَـكَ وَبَـيْنَ اللهِ سِـتْراً وَإِنْ رَقَّ.

**(۲۴۲) له خدايه د ويرې فضيلت**

له خدايه او ېرېږه که لږ شان هم ولې نۀ وي او د ځان او خداے په مېنځ کښې يوه (د شرم) پرده وساته که نرۍ ولې نۀ وي.

٢٤٣. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

إِذَا ازْدَحَمَ الْجَوَابُ خَفِيَ الصَّوَابُ.

**(۲۴۳) د ځواب صحيح طريقه**

کله چې ځوابونه يو شان او زيات شي صحيح ځواب پټ پاتې کېږي.

٢٤٤. وَقَالَ:

إِنَّ للهِ فِي كُلِّ نِعْمَـةٍ حَقّـاً، فَمَـنْ أَدَّاهُ زَادَهُ مِنْهَـا، وَمَـنْ قَصَّـرَ مِنْهُ خَاطَرَ بِزَوَالِ نِعْمَتِهِ.

**(۲۴۴) د الهي نعمتونو شکر اېستل**

خداے لره په هر نعمت کښې يو حق دے، څوک چې هغه ادا کړي نعمت يې زياتېږي او څوک چې يې ادا نۀ کړي نعمت يې د ختمېدو له خطر سره مخامخېږي.

٢٤٥. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

إِذَا كَثُرَتِ الْمَقْدُرَةُ قَلَّتِ الشَّهْوَةُ.

**(۲۴۵) د طاقت زياتېنت د شهوت کمېنت**

کله چې طاقت زيات شي شهوت کمېږي.

٢٤٦. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

احْذَرُوا نِفَارَ النِّعَمِ، فَمَا كُلُّ شَارِدٍ بِمَرْدُودٍ.

**(۲۴۶) نعمتونو ته مه شا کوئ**

د نعمتونو له تښتېدو ځان او ساتئ ځکه چې هر تښتېدلے بيا نۀ راګرځي.

٢٤٧. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

الْكَرَمُ أَعْطَفُ مِنَ الرَّحِمِ.

**(۲۴۷) د سخاوت فضيلت**

سخاوت تر خپلوۍ زياته مينه پيدا کوي.

٢٤٨. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

مَنْ ظَنَّ بِكَ خَيْراً فَصَدِّقْ ظَنَّهُ.

**(۲۴۸) د ښۀ ګمان ساتنه**

کله چې څوک په تا نېک ګمان وکړي نو د هغۀ د ښۀ ګمان تصديق وکړه (يعنې نېک کار وکړه چې د هغۀ ګمان صحيح ثابت شي)

٢٤٩. وَقَالَ:

أَفْضَلُ الأَعْمَالِ مَا أَكْرَهْتَ نَفْسَكَ عَلَيْهِ.

**(۲۴۹) غوره عمل**

تر ټولو غوره کار هغه دے چې د نفس دې نۀ وي خوښ.

٢٥٠. وَقَالَ:

عَرَفْـتُ اللهَ سُـبْحَانَهُ بِفَسْـخِ الْعَـزَائِمِ، وَحَـلِّ الْعُقُـودِ وَ نَقْـضِ الْهِمَمِ.

**(۲۵۰) په پېښو کې د خداے پېژندل**

ما د سختو ارادو له ماتېدو، د ګرانو مشکلاتو له هوارېدو او د فېصلو له ختمېدو څخه خداے پاک او پېژندۀ.

٢٥١. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

مَرَارَةُ الدُّنْيَا حَلَاوَةُ الْآخِرَةِ، وَحَلَاوَةُ الدُّنْيَا مَرَارَةُ الْآخِرَةِ.

**(۲۵۱) د دنيا او آخرت خوارۀ تراخۀ**

د دنيا تراخۀ د آخرت خوارۀ دي او د دنيا خوارۀ د آخرت تراخۀ دي.

٢٥٢. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

فَرَضَ اللهُ الإِيمَانَ تَطْهِيراً مِنَ الشِّرْكِ، وَالصَّلَاةَ تَنْزِيهاً عَنِ الْكِبْرِ،

**(۲۵۲) د الهي احکامو فلسفه**

خداے تعالی ايمان له شرکه د زړۀ د پاکېدو، نمونځ له کبر او خود

وَالزَّكَاةَ تَسْبِيباً لِلرِّزْقِ، وَالصِّيَامَ ابْتِلاَءً لاِخْلاَصِ الْخَلْقِ، وَالْحَجَّ تَقْرِبَةً لِلدِّينِ، وَالْجِهَادَ عِزّاً لِلاْسْلاَمِ، وَالاَمْرَ بِالْمَعْرُوفِ مَصْلَحَةً لِلْعَوَامِّ وَالنَّهْيَ عَنِ الْمُنْكَرِ رَدْعاً لِلسُّفَهَاءِ وَصِلَةَ الاَرْحَامِ مَنْمَاةً لِلْعَدَدِ، وَالْقِصَاصَ حَقْناً لِلدِّمَاءِ، وَإِقَامَةَ الْحُدُودِ إِعْظَاماً لِلْمَحَارِمِ، وَتَرْكَ شُرْبِ الْخَمْرِ تَحْصِيناً لِلْعَقْلِ وَمُجَانَبَةَ السَّرِقَةِ إِيجَاباً لِلْعِفَّةِ، وَتَرْكَ الزِّنَى تَحْصِيناً لِلنَّسَبِ،وَتَرْكَ اللِّوَاطِ تَكْثِيراً لِلنَّسْلِ،وَالشَّهَادَاتِ اسْتِظْهَاراً عَلَى الْمُجَاحَدَاتِ وَتَرْكَ الْكَذِبِ تَشْرِيفاً لِلصِّدْقِ، وَالسَّلاَمَ أَمَاناً مِنَ الْمَخَاوِفِ، وَالاْمَامَةَ نِظَاماً لِلاُمَّةِ، وَالطَّاعَةَ تَعْظِيماً لِلاِمَامَةِ.

۲۵۳. وَكَانَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ يَقُولُ:

أَحْلِفُوا الظَّالِمَ. إِذَا أَرَدْتُمْ يَمِينَهُ. بِأَنَّهُ بَرِيءٌ مِنْ حَوْلِ اللهِ وَقُوَّتِهِ، فَإِنَّهُ إِذَا حَلَفَ بِهَا كَاذِباً عُوجِلَ الْعُقُوبَةَ، وَإِذَا حَلَفَ بِاللهِ الَّذِي لاَ إِلهَ إِلاَّ هُوَ لَمْ يُعَاجَلْ، لاَنَّهُ قَدْ وَحَّدَهُ سُبْحَانَهُ.

۲۵۴. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

يَابْنَ آدَمَ، كُنْ وَصِيَّ نَفْسِكَ، وَاعْمَلْ فِي مَالِكَ مَا تُؤْثِرُ أَنْ يُعْمَلَ فِيهِ مِنْ بَعْدِكَ.

۲۵۵. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

الْحِدَّةُ ضَرْبٌ مِنَ الْجُنُونِ، لاَنَّ صَاحِبَهَا يَنْدَمُ، فَإِنْ لَمْ يَنْدَمْ فَجُنُونُهُ مُسْتَحْكِمٌ.

۲۵۶. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

صِحَّةُ الْجَسَدِ مِنْ قِلَّةِ الْحَسَدِ.

۲۵۷. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ لِكُمَيْلِ بن زياد النخعي:

يَا كُمَيْلُ، مُرْ أَهْلَكَ أَنْ يَرُوحُوا فِي كَسْبِ الْمَكَارِمِ، وَيُدْلِجُوا فِي حَاجَةِ مَنْ هُوَ نَائِمٌ، فَوَالَّذِي وَسِعَ سَمْعُهُ الاَصْوَاتَ مَا مِنْ أَحَدٍ أَوْدَعَ قَلْباً سُرُوراً إِلاَّ وَخَلَقَ اللهُ لَهُ مِنْ ذلِكَ السُّرُورِ لُطْفاً، فَإِذَا نَزَلَتْ بِهِ نَائِبَةٌ جَرَى إِلَيْهَا كَالْمَاءِ فِي انْحِدَارِهِ حَتَّى يَطْرُدَهَا

پسندۍ د پاکېدو، زکات د روزۍ د زیاتېدو، روژه د بندګانو د اخلاص د ازمائلو، حج د مسلمانانو د پیوستون او نږدېکت د زیاتېدو، جهاد د اسلام د عزت، امربالمعروف د ناپوهو خلقو د پوهولو، نهي عن المنکر له بدیو د ناپوهو د ګرولو، صله رحم د خپلوانو د زیاتېدو، قصاص د وینو د خوندي پاتې کېدو، د حدودو اجرا د الهي محرماتو د لوې ګڼلو، د شرابو بندول د عقل د سلامتیا، له غلا ډډه کول د عفت د تحقق، ګواهي ورکول د انکار شویو حقوقو د لاسته راوړلو، د دروغو پرېښودل د رښتیاؤ د عزت د پاتې کېدو، سلام کول له ویرې څخه د امنیت د ساتل کېدو، امامت د امت د چارو د سنبالښت، او له امامه فرمانبرداري د امامت د مقام د سترتوب لپاره فرض کړل.

(۲۵۳) ظالم ته د قسم ورکولو طریقه

کله مو چې غوښتل چې یو ظالم ته قسم ورکړئ له هغه وغواړئ چې ووائي«د خدای له طاقت او قدرته بېزاره دی» ځکه چې که په دروغه یې قسم وخوړ نو له بېزارۍ وروسته به یې په سزا کښې بېړه وشي خو که په خپل قسم کښې ووائي چې « په هغه خدای قسم چې بې له هغه بل خدای نشته نو په سزا کښې به یې بېړه نهٔ کېږي ځکه چې هغه د خدای د یووالي ګواهي ورکړې ده.

(۲۵۴) انفاق وکړئ

ای د آدم اولاده! په خپله د خپل مال وصي اوسه، نن داسې عمل وکړه چې غواړې ستا له مرګه وروسته هغه شان عمل اوشي.

(۲۵۵) تند خوئي او جنون

بې ځایه تُندخوئي یو ډول لیونتوب دی، ځکه چې تند خویه او بد اخلاقه سړی پښېمانه کېږي او که پښېمانه نهٔ شي نو لیونتوب یې حتمي دی.

(۲۵۶) حسد او بیماري

د بدن سلامتیا له حسده په ډډه کولو کښې ده.

(۲۵۷) د نورو د خوشحالولو لارې چارې

ای کمېله! کورنۍ ته دې امر وکړه چې ورځې دې د ښو صفاتو په لاسته راوړلو او شپې دې د اودو کسانو د ضرورتونو په پوره کولو کښې تېرې کړي.قسم په هغه خدای چې ټول غږونه اوري! څوک چې یو زړهٔ خوشحاله کړي خدای تعالی د دغه خوشحالۍ له مخې په هغهٔ یوه داسې مهرباني کوي چې د مصیبت په مهال به د رڼو اوبو په شان په هغهٔ راماتې شي او د مصیبت تریخوالی به یې له منځه یوسي داسې لکه

عَنْهُ كَمَا تُطْرَدُ غَرِيبَةُ الأَبِلِ.

څرنګه چې څوک پردے اوښ له خپل پټي شړي.

۲۵۸. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:
إِذَا أَمْلَقْتُمْ فَتَاجِرُوا اللهَ بِالصَّدَقَةِ.

(۲۵۸) صدقه او شتمني
کله چې مفلس او غريب شئ د صدقې په ورکولو سره له خداے سره سودا وکړئ.

۲۵۹. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:
الْوَفَاءُ لأَهْلِ الْغَدْرِ غَدْرٌ عِنْدَ اللهِ، وَالْغَدْرُ بِأَهْلِ الْغَدْرِ وَفَاءٌ عِنْدَ اللهِ.

(۲۵۹) د وفادارۍ د ارزښت پیژندل
له خائنانو سره وفاداري د خداے په نزد يو ډول خيانت او له خائنانو سره خيانت د خداے په نزد يو ډول وفاداري ده.

۲۶۰. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:
كَمْ مِنْ مُسْتَدْرَجٍ بِالاحْسَانِ إِلَيْهِ، وَمَغْرُورٍ بِالسَّتْرِ عَلَيْهِ، وَمَفْتُونٍ بِحُسْنِ الْقَوْلِ فِيهِ. مَا ابْتَلَى اللهُ سُبْحَانَهُ أَحَداً بِمِثْلِ الاِمْلاَءِ لَهُ.

(۲۶۰) دخداے له مهلت ورکولو ډډه وکړئ
د خداے پاک داسې ډېر احسانونه دي چې ګناهکار سرے ښکيلوي او داسې ډېرې پردې دي چې خداے پاک يې په انسان اچوي خو انسان مغروره کوي، او د خلقو په ستائنې او خوشامديو غولېږي، او د خداے له خوا د انسان د ازمائلو تر ټولو لويه روده د مهلت ورکول دي

«سيد رضي وائي:دا وينا د امام په خبرو کښې مخکې هم راغلې وه خو دلته پکې څه نور ښکلې ټکې زيات وو نو ذکر مې کړه»

۲۶۱. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ لَمَّا بَلَغَهُ إِغَارَةُ أَصْحَابِ مُعَاوِيَةَ عَلَى الأَنْبَارِ، فَخَرَجَ بِنَفْسِهِ مَاشِياً حَتَّى أَتَى النُّخَيْلَةَ، فَأَدْرَكَهُ النَّاسُ وَقَالُوا: يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ، نَحْنُ نَكْفِيكَهُمْ. فَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ: وَاللهِ مَا تَكْفُونَنِي أَنْفُسَكُمْ، فَكَيْفَ تَكْفُونَنِي غَيْرَكُمْ؟ إِنْ كَانَتِ الرَّعَايَا قَبْلِي لَتَشْكُو حَيْفَ رُعَاتِهَا، وَإِنَّنِي الْيَوْمَ لأَشْكُو حَيْفَ رَعِيَّتِي، كَأَنَّنِي الْمَقُودُ وَهُمُ الْقَادَةُ، أَوِ الْمَوْزُوعُ وَهُمُ الْوَزَعَةُ! فَلَمَّا قَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ هذَا الْقَوْلَ، فِي كَلاَمٍ طَوِيلٍ قَدْ ذَكَرْنَا مُخْتَارَهُ فِي جُمْلَةِ الخُطَبِ، تَقَدَّمَ إِلَيْهِ رَجُلاَنِ مِنْ أَصْحَابِهِ فَقَالَ أَحَدُهُمَا: إِنِّي لاَ أَمْلِكُ إِلاَّ نَفْسِي وَأَخِي، فَمُرْنَا بِأَمْرِكَ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ نُنْفِذْ لَهُ. فَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ: وَأَيْنَ تَقَعَانِ مِمَّا أُرِيدُ؟

(۲۶۱) د امام علي عليه السلام مظلوميت
«کله چې امام علی عليه السلام په انبار ښار باندې د معاويه د ملګرو د يرغل او د هغه ښار د لوټ تالان خبر واورېد ،نو يواځې او پلې د کوفې د فوځي چاونۍ«نخيله» په لور روان شو او ځان يې خلقو ته اورسوۀ خلقو وويل: اے اميرالمومنينه! مونږ د هغوي لپاره بس يوو، وې فرمايل: تاسو زۀ خپله ستاسو له شره اونۀ ژغورلے شوم! نو څه به مې د نورو له شره وژغورئ؟ که له ما مخکې رعايا د واکوالو له ظلمه ګيله من وو، نن زۀ د خپل رعيت له لاسه ژاړم، تۀ به وائې زۀ پيروکار او فرمانبردار يم او هغوي مشران او واکمنان دي يا زۀ محکوم او هغوي حاکمان دي، کله چې د امام عليه السلام خبرې چې ډېره اوږده وينا وه او مخکې مو د هغو خاص ټکې په ځينو خطبو کښې هم ذکر کړي دي ځاے ته اورسېدلې په هغوي کښې دوه کسان رامخکې شول او يو يې وويل: زۀ يواځې د ځان او ورور اختيار لرم اے اميرالمومنينه! امر وکړه چې هر څه وائې وې کړم.امام عليه السلام وفرمايل:تاسو چرته او هغه څه چې زۀ يې غواړم چرته؟

۲۶۲. وَقِيلَ: إِنَّ الْحَارِثَ بْنَ حَوْطٍ أَتَاهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ فَقَالَ: أَتُرَانِي أَظُنُّ أَصْحَابَ الجَمَلِ كَانُوا عَلَى ضَلاَلَةٍ؟ فَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ: يَا حَارِثُ، إِنَّكَ نَظَرْتَ تَحْتَكَ وَلَمْ تَنْظُرْ فَوْقَكَ فَحِرْتَ! إِنَّكَ لَمْ تَعْرِفِ الْحَقَّ فَتَعْرِفَ مَنْ أَتَاهُ، وَلَمْ تَعْرِفِ الْبَاطِلَ فَتَعْرِفَ مَنْ أَتَاهُ. فَقَالَ الْحَارِثُ: فَإِنِّي أَعْتَزِلُ مَعَ سَعِيدِ بْنِ مَالِكٍ وَعَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ. فَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ: إِنَّ سَعِيداً وَعَبْدَاللهِ بْنَ عُمَرَ لَمْ يَنْصُرَا الْحَقَّ، وَلَمْ يَخْذُلاَ الْبَاطِلَ.

(۲۶۲) حق ناشناسي
«حارث بن حوط امام عليه السلام ته ورغے او ورته وې ويل:ستا دا خيال دے چې زۀ اصحاب جمل بې لارې ګڼم؟ داسې نۀ ده» امام وفرمايل:اے حارثه! تا يواځې خپلو پښو ته اوکتل خو خواوشاته دې اونۀ کتل، نو لالهانده شوې، تا حق اونۀ پېژندۀ چې پوه شې چې د حق خاوندان څوک دي؟ او باطل دې هم اونۀ پېژندۀ چې باطل ګروهي اوپېژنې. «حارث وويل: زۀ او سعد بن مالک او عبدالله بن عمر له جنګه څنډې ته کېږوو» امام وفرمايل: بې له شکه سعد او عبدالله بن عمر نۀ د حق مرسته وکړه او نۀ يې باطل خوار کړ.

۲۶۳. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

(۲۶۳) له قدرتمندانو سره د ناستې پاستې نتيجه

صَاحِبُ السُّلْطَانِ كَرَاكِبِ الأَسَدِ: يُغْبَطُ بِمَوْقِعِهِ، وَهُوَ أَعْلَمُ بِمَوْضِعِهِ.

٢٦٤. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

أَحْسِنُوا فِي عَقِبِ غَيْرِكُمْ تُحْفَظُوا فِي عَقِبِكُمْ.

٢٦٥. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

إِنَّ كَلاَمَ الْحُكَمَاءِ إِذَا كَانَ صَوَاباً كَانَ دَوَاءً، وَإِذَا كَانَ خَطَأً كَانَ دَاءً.

٢٦٦. وَسَأَلَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ رَجُلٌ أَنْ يُعَرِّفَهُ مَا الإِيمَانُ. فَقَالَ:

إِذَا كَانَ غَدٌ فَأْتِنِي حَتَّى أُخْبِرَكَ عَلَى أَسْمَاعِ النَّاسِ، فَإِنْ نَسِيتَ مَقَالَتِي حَفِظَهَا عَلَيْكَ غَيْرُكَ، فَإِنَّ الْكَلاَمَ كَالشَّارِدَةِ، يَنْقُفُهَا هذَا وَيُخْطِئُهَا هذَا.

٢٦٧. وَقَالَ:

يَابْنَ آدَمَ، لاَ تَحْمِلْ هَمَّ يَوْمِكَ الَّذِي لَمْ يَأْتِكَ عَلَى يَوْمِكَ الَّذِي قَدْ أَتَاكَ، فَإِنَّهُ إِنْ يَكُ مِنْ عُمُرِكَ يَأْتِ اللهُ فِيهِ بِرِزْقِكَ.

٢٦٨. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

أَحْبِبْ حَبِيبَكَ هَوْناً مَا عَسَى أَنْ يَكُونَ بَغِيضَكَ يَوْماً مَا، وَأَبْغِضْ بَغِيضَكَ هَوْناً مَا عَسَى أَنْ يَكُونَ حَبِيبَكَ يَوْماً مَا.

٢٦٩. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

النَّاسُ فِي الدُّنْيَا عَامِلاَنِ: عَامِلٌ عَمِلَ فِي الدُّنْيَا لِلدُّنْيَا، قَدْ شَغَلَتْهُ دُنْيَاهُ عَنْ آخِرَتِهِ، يَخْشَى عَلَى مَنْ يَخْلُفُهُ الْفَقْرَ، وَيَأْمَنُهُ عَلَى نَفْسِهِ، فَيُفْنِي عُمُرَهُ فِي مَنْفَعَةِ غَيْرِهِ.وَعَامِلٌ عَمِلَ فِي الدُّنْيَا لِمَا بَعْدَهَا، فَجَاءَهُ الَّذِي لَهُ مِنَ الدُّنْيَا بِغَيْرِ عَمَلٍ، فَأَحْرَزَ الْحَظَّيْنِ مَعاً، وَمَلَكَ الدَّارَيْنِ جَمِيعاً، فَأَصْبَحَ وَجِيهاً عِنْدَاللهِ، لاَ يَسْأَلُ اللهَ حَاجَةً فَيَمْنَعَهُ.

٢٧٠. وَرُوِيَ أَنَّهُ ذُكِرَ عِنْدَ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ فِي أَيَّامِهِ حَلْيُ الْكَعْبَةِ وَكَثْرَتُهُ، فَقَالَ قَوْمٌ: لَوْ أَخَذْتَهُ فَجَهَّزْتَ بِهِ جُيُوشَ الْمُسْلِمِينَ كَانَ أَعْظَمَ لِلأَجْرِ. وَمَا تَصْنَعُ الْكَعْبَةُ بِالْحَلْيِ؟ فَهَمَّ عُمَرُ بِذلِكَ، وَسَأَلَ عَنْهُ أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ. فَقَالَ:

د باچا ملګري د هغه چا په شان دي چې په زمري سپور وي او نور د هغهٔ د ځاے ارمان کوي خو په خپله پوهېږي چې په کوم (خطرناک) ځاے کښې ناست دے.

**(۲۲۴) د نورو له پاتې کسانو سره نيکي**

د نورو له پاتې کسانو (پسماندګانو) سره نيکي کوئ چې خلق ستاسو له پاتې کسانو سره نيکي وکړي.

**(۲۲۵) د حکيمانو وېنا**

د حکمت د خاوندانو وېنا که سمه وي درمان دے خو که غلطه وي درد دے.

**(۲۲۶) د ځواب ورکولو سمه طريقه**

«يوکس له امامه وغوښتل چې د ايمان تعريف ورته وکړي» وې فرمايل: سبا راشه چې د خلقو په مخکې ځواب درکړم که زما خبره له تا هېره شيٍ بل چا ته به ياده پاتې شي ځکه چې خبره د تښتېدونکي ښکار په شان ده، يو يې ښکار کوي او له بله تښتي.

**(۲۲۷) په روزۍ ګټلو کښې له حرصه ډډه کول**

اے د آدم اولاده! د هغې ورځې چې لا نهٔ ده راغلې غم د نن ورځې په غم مه ورزياتوه،ځکه چې که دغه ورځ ستا په نصيب وي نو خداے به يې روزي هم دررسوي.

**(۲۲۸) په مينه او کينه کښې انډول ساتل**

له دوست سره په دوستۍ کښې اعتدال ساته. ښائي يوه ورځ دې دښمن شي، او له دښمن سره په دښمنۍ کښې هم انډول ساته. ښائي يوه ورځ دې دوست شي.

**(۲۲۹) له دنيا سره چلند**

په دنيا کښې خلق دوه ډلې دي: يو هغه کس چې په دنيا کښې يې د دنيا لپاره کار وکړ، او دنيا هغه له آخرته اوغړوٴ،دغه کس له ځانه د شاته پاتې کسانو د بېوزلۍ او مفلسۍ په فکر کښې دے خوله خپلې بېوزلۍ او مفلسۍ څخه بې غوره دے، نو خپل ژوند د نورو د هوساينې او سوکالۍ لپاره له لاسه ورکوي.او بل هغه چې په دنيا کښې د آخرت لپاره کارکوي او د دنيا نعمتونه هم بې زياره هغهٔ ته مخه کوي نو د دواړو جهانو خوند ځکي او د دواړو جهانو څښتن کېږي او په عزت سره خداے ته حاضرېږي، او له خدايه کوم حاجت نهٔ غواړي مګر دا چې پوره شي.

**(۲۷۰) قرآن او د کعبې اموال**

«د عمر بن خطاب د حکومت په زمانه کښې د کعبې د سينګارونو او ګاڼو د زياتوالي خبره اوشوه، ځينو وويل چې دا د اسلام د لښکر لپاره اولګوه، کعبې ته د ګاڼو اوکاليو څه ضرورت دے؟ کله يې چې له امام عليؑ پوښتنه وکړه دوي وفرمايل:» بې شکه قرآن په پېغمبرﷺ هغه وخت نازل شو چې مالونه څلور ډوله وو: د مسلمانانو مالونه، چې هغه

إنَّ القُرْآنَ أُنْزِلَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِه وَالأَمْوَالُ أَرْبَعَةٌ: أَمْوالُ الْمُسْلمين فَقَسَّمَها بَيْنَ الْوَرَثَةِ فِي الْفَرائض، وَالْفَيْءُ فَقَسَّمَهُ عَلَى مُسْتَحِقِّيه، وَالْخُمسُ فَوَضَعَهُ اللهُ حَيْثُ وَضَعَه، وَالصَّدَقَاتُ فَجَعَلَهَا اللهُ حَيْثُ جَعَلَها. وَكَانَ حَلْيُ الْكَعْبَةِ فِيهَا يَوْمَئذ، فَتَرَكَهُ اللهُ عَلى حاله، وَلَمْ يَتْرُكْهُ نِسْيَاناً، وَلَمْ يَخْفَ عَلَيْهِ مَكَاناً، فَأَقِرَّهُ حَيْثُ أَقَرَّهُ اللهُ وَرَسُولُه.

فَقَالَ لَهُ عُمَرُ: لَوْلاَكَ لافْتَضَحْنَا. وَتَرَكَ الحَلْيَ بِحَالِه.

۲۷۱. وَرُوِيَ أَنَّهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ رُفِعَ إلَيْهِ رَجُلاَنِ سَرَقَا مِنْ مَالِ الله، أَحَدُهُمَا عَبْدٌ مِنْ مَالِ الله، وَالآخَرُ مِنْ عُرُوضِ النَّاسِ. فَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

أَمَّا هذَا فَهُوَ مِنْ مَالِ اللهِ وَلاَ حَدَّ عَلَيْهِ، مَالُ اللهِ أَكَلَ بَعْضُهُ بَعْضاً، وَأَمَّا الآخَرُ فَعَلَيْهِ الْحَدُّ، فقطع يده.

۲۷۲. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

لَوْ قَدِ اسْتَوَتْ قَدَمَايَ مِنْ هذِهِ الْمَدَاحِضِ لَغَيَّرْتُ أَشْيَاءَ.

۲۷۳. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

اعْلَمُوا عِلْماً يَقِيناً أَنَّ اللهَ لَمْ يَجْعَلْ لِلْعَبْدِ ـ وَإِنْ عَظُمَتْ حِيلَتُهُ، وَاشْتَدَّتْ طِلْبَتُهُ، وَقَوِيَتْ مَكِيدَتُهُ ـ أَكْثَرَ مِمَّا سُمِّيَ لَهُ فِي الذِّكْرِ الْحَكِيمِ، وَلَمْ يَحُلْ بَيْنَ الْعَبْدِ فِي ضَعْفِهِ وَقِلَّةِ حِيلَتِهِ وَبَيْنَ أَنْ يَبْلُغَ مَا سُمِّيَ لَهُ فِي الذِّكْرِ الْحَكِيمِ، وَالْعَارِفُ لِهذَا الْعَامِلُ بِهِ أَعْظَمُ النَّاسِ رَاحَةً فِي مَنْفَعَة، وَالتَّارِكُ لَهُ الشَّاكُّ فِيهِ أَعْظَمُ النَّاسِ شُغُلاً فِي مَضَرَّة. وَرُبَّ مُنْعَمٍ عَلَيْهِ مُسْتَدْرَجٌ بِالنُّعْمَى، وَرُبَّ مُبْتَلًى مَصْنُوعٌ لَهُ بِالْبَلْوَى! فَزِدْ أَيُّهَا الْمُسْتَمِعُ فِي شُكْرِكَ، وَقَصِّرْ مِنْ عَجَلَتِكَ، وَقِفْ عِنْدَ مُنْتَهَى رِزْقِكَ.

۲۷۴. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

لاَ تَجْعَلُوا عِلْمَكُمْ جَهْلاً، وَيَقِينَكُمْ شَكّاً، إِذَا عَلِمْتُمْ فَاعْمَلُوا، وَإِذَا تَيَقَّنْتُمْ فَأَقْدِمُوا.

۲۷۵. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

إِنَّ الطَّمَعَ مُورِدٌ غَيْرُ مُصْدِرٍ، وَضَامِنٌ غَيْرُ وَفِيٍّ. وَرُبَّمَا

بې د هر وارث د ونډې په بنياد اوېشل.او جنګي اولجې، چې حاجتمنو ته يې اورسولې، او خمس چې خداے پاک يې د لګولو ځاے وټاکۀ او صدقې چې خداے پاک يې د ورکړې ځايونه په ګوته کړل.

او د کعبې ګاڼې او مالونه هغه څه وو چې خداے په خپل حال پرېښودل. نه يې د هېرې په وجه هغه پرېښودل او نۀ د خداے له سترګو پټ وو. تۀ يې هم په خپل حال پرېږده لکه څرنګه چې خداے پاک او د هغۀ ګران رسول په خپل حال پرېښودل.

عمر وويل: که تۀ نه وې شرمېدلي به وو او د کعبې ګاڼو او سينګاونو ته به مو لاس وروړے ؤ نو هغه يې په خپل حال پرېښودل.

## (۲۷۱) د قضاوت طريقه

«دوه غلۀ يې امام ته راوستل چې له بيت الماله يې غلا کړې وه، يو د چا مرييے ؤ او بل د بيت المال مرييے ؤ. امام وفرمايل:» د بيت المال په مريي حد نشته ځکه چې د خداے مال د خداے ځينې مال خوړلے دے، خو په دغه بل باندې بايد د غلا سخت حد جاري شي.(بيا يې د هغۀ لاس پرې کړ)

## (۲۷۲) د فسادونو د ختمولو په لاره کښې ټينګتيا

که له دغو فتنو او ښوېدانو په ټينګتيا سره تېر شم ډېر څه به بدل کړم.

## (۲۷۳) په خداے پاک باندې توکل

په يقين سره پوه شئ چې:خداے تعالى د خپل بنده لپاره«که هر څومره زيات سياستوال، زيارکښ او په تدبير کښې پياوړے وي» تر هغه زيات چې د خداے په علم کښې يې وعده کړې ده اونۀ ټاکي.او يو بنده که هر څومره ناتوانه او کم سياسته او کم تدبيره وي نو د هغۀ او د هغه څه په مېنځ کښې چې خداے د هغۀ لپاره په قرآن کښې مقرر کړي دي کوم خنډ ونۀ ګرځوي. هر څوک چې دا حقيقت اوپېژني او وې کاروي تر ټولو خلقو به سوکاله او راحت وي او زياته ګټه به کوي.او څوک يې چې پرېږدي او شک پکښې وکړي تر ټولو خلقو به زيات زيانمن او ښکېل وي داسې ډېر نعمتونه دي چې د عذابېدو سبب کېږي او ډېرې داسې بوختياوې دي چې په بوختياؤ او مصيبتونو کښې پېدا شوي او انسان پرې ازمائل کېږي نو اے هغه کسه چې دا وينا اورې،شکر ايستل دې زيات کړه او له بې ځايه بيړې لاس واخله او په رسېدلي رزق قانع شه.

## (۲۷۴) د عمل ضرورت

خپل علم ناپوهي او خپل يقين شک مه ګڼئ. هر کله چې پوه او خبر شوئ عمل وکړئ او کله چې يقين ته اورسېدلئ اقدام وکړئ (قدم مخکې واخلئ)

## (۲۷۵)اخلاقي رذالتونه

طمعه انسان تباه کوي او نۀ يې ژغوري،او د څه ضمانت چې وکړي وفاداره پرې نۀ پاتې کېږي او ډېر داسې د اوبو ښنونکي دي چې له

شَرِقَ شَارِبُ الْمَاءِ قَبْلَ رِيِّهِ. كُلَّمَا عَظُمَ قَدْرُ الشَّيْءِ الْمُتَنَافَسِ فِيهِ عَظُمَتِ الرَّزِيَّةُ لِفَقْدِهِ. وَالأَمَانِيُّ تُعْمِي أَعْيُنَ الْبَصَائِرِ، وَالْحَظُّ يَأْتِي مَنْ لاَ يَأْتِيهِ.

خوږېږدو مخکې بې اوبهٔ په مرۍ کښې اونښلي او د څه په سر چې سیالي کوي ارزښت یې چې څومره زیات وي له لاسه د ورکولو غم یې هومره ډېر، او ارمانونه او ارزوګانې د بصیرت سترګې ړندوي او د چا چې څه رزق لیکل شوے وي یې لټونه وررسېږي.

٢٧٦. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ أَنْ تُحَسِّنَ فِي لاَمِعَةِ الْعُيُونِ عَلاَنِيَتِي، وَتُقَبِّحَ فِيمَا أُبْطِنُ لَكَ سَرِيرَتِي، مُحَافِظاً عَلَى رِيَاءِ النَّاسِ مِنْ نَفْسِي بِجَمِيعِ مَا أَنْتَ مُطَّلِعٌ عَلَيْهِ مِنِّي، فَأُبْدِيَ لِلنَّاسِ حُسْنَ ظَاهِرِي، وَأُفْضِيَ إِلَيْكَ بِسُوءِ عَمَلِي، تَقَرُّباً إِلَى عِبَادِكَ، وَتَبَاعُداً مِنْ مَرْضَاتِكَ.

**(۲۷۶) له منافقته ډډه کول**

خدایه تاته پناه وړم له دې چې ظاهر مې د سترګو په وړاندې ښکلې او باطن مې په هغه څه کښې چې له تا یې پټوم بدرنګه وي، او وغواړم په داسې کارونو سره چې تهٔ ترې خبر یې د خلقو پام ځانته واړوم او ظاهري څېره مې ښکلې وښیم.او په غلطو عملونوسره چې باطن یې رابدرنګ کړے دے تا ته درشم چې بندګانو ته دې نژدې او له تا لرې شم.

٢٧٧. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

لاَ وَالَّذِي أَمْسَيْنَا مِنْهُ فِي غُبْرِ لَيْلَةٍ دَهْمَاءَ، تَكْشِرُ عَنْ يَوْمٍ أَغَرَّ، مَا كَانَ كَذَا كَذَا.

**(۲۷۷) د امام قسم**

نه،قسم په هغه خداے چې د هغه په قدرت مو توره شپه تېره کړه چې رڼا ورځ ورپسې ده، داسې او هغسې نهٔ وو!

٢٧٨. وَقَالَ:

قَلِيلٌ تَدُومُ عَلَيْهِ أَرْجَى مِنْ كَثِيرٍ مَمْلُولٍ.

**(۲۷۸) د عمل د دوام ارزښت**

لږ شان کار چې جاري پاتې شي تر هغه ډېر کاره چې ورځینې ستومانه شي هیله او امید ورکوونکے دے.

٢٧٩. وَقَالَ:

إِذَا أَضَرَّتِ النَّوَافِلُ بِالْفَرَائِضِ فَارْفُضُوهَا.

**(۲۷۹) د فرائضو او مستحباتو د مقام پېژندل**

کله چې مستحبات فرائضو ته تاوان رسوي نو پرې یې ږدئ.

٢٨٠. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

مَنْ تَذَكَّرَ بُعْدَ السَّفَرِ اسْتَعَدَّ.

**(۲۸۰) د قیامت یاد ساتل**

څوک چې د آخرت د اوږد سفر په فکر کښې وي ځان تیاروي.

٢٨١. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

لَيْسَتِ الرَّوِيَّةُ كَالْمُعَايَنَةِ مَعَ الإِبْصَارِ، فَقَدْ تَكْذِبُ الْعُيُونُ أَهْلَهَا، وَلاَ يَغُشُّ الْعَقْلُ مَنِ اسْتَنْصَحَهُ.

**(۲۸۱) عقل د سترګو تر کتلو فضیلت لري**

فکر کول د لیدو په شان نهٔ دي ځکه چې کله کله سترګې دروغ ښیي، خو څوک چې له عقله نصیحت وغواړي خیانت ورسره نهٔ کوي.

٢٨٢. وَقَالَ:

بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ الْمَوْعِظَةِ حِجَابٌ مِنَ الْغِرَّةِ.

**(۲۸۲) د نصحیت منلو آفت**

ستاسو او د نصیحت منلو تر مینځ د کبر او ځان خوښونې یوه پرده موجوده ده.

٢٨٣. وَقَالَ:

جَاهِلُكُمْ مُزْدَادٌ، وَعَالِمُكُمْ مُسَوِّفٌ.

**(۲۸۳)د ټولنې د زوال عوامل**

کله چې ستاسو ناپوهان خواریکښ او پوهان مو لټ شي.

٢٨٤. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

قَطَعَ الْعِلْمُ عُذْرَ الْمُتَعَلِّلِينَ.

**(۲۸۴) پوهه، د عذرونو ختموونکې**

علم او پوهې د بهانه جوړوونکو لپاره د عذر راوړلو لاره بنده کړې ده.

٢٨٥. وَقَالَ:

**(۲۸۵) له فرصتونو کار واخلئ**

كُلُّ مُعَاجَلٍ يَسْأَلُ الانْظَارَ، وَكُلُّ مُؤَجَّلٍ يتعلَّلُ بالتَّسْوِيفِ.

۲۸۶. وَقَالَ:

مَا قَالَ النَّاسُ لِشَيْءٍ: طُوبَى لَهُ، إلاَّ وَقَدْ خَبَأَ لَهُ الدَّهْرُ يَوْمَ سَوْءٍ.

۲۸۷. وسئل عن القدر، فقال:

طَرِيقٌ مُظْلِمٌ فَلاَ تَسْلُكُوهُ، وبَحْرٌ عَمِيقٌ فَلاَ تَلِجُوهُ، وَسِرُّ اللهِ فلا تتكلّفوهُ.

۲۸۸. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

إِذَا أَرْذَلَ اللهُ عَبْداً حَظَرَ عَلَيْهِ الْعِلْمَ.

۲۸۹. وَقَالَ عليه السلام:

كَانَ لي فِيمَا مَضَى أَخٌ فِي اللهِ، وَكَانَ يُعْظِمُهُ فِي عَيْنِي صِغَرُ الدُّنْيَا فِي عَيْنِه، وَكَانَ خَارِجاً مِنْ سُلْطَانِ بَطْنِه فَلاَ يَشْتَهِي مَا لاَ يَجِدُ وَلاَ يُكْثِرُ إِذَا وَجَدَ، وَكَانَ أَكْثَرَ دَهْرِه صَامِتاً فَإِنْ قَالَ بَذَّ الْقَائِلِينَ وَنَقَعَ غَلِيلَ السَّائِلِينَ، وَكَانَ ضَعِيفاً مُسْتَضْعَفاً! فَإِنْ جَاءَ الْجِدُّ فَهُوَ لَيْثُ غَابٍ وَصِلُّ وَادٍ. لاَ يُدْلِي بِحُجَّةٍ حَتَّى يَأْتِيَ قَاضِياً، وَكَانَ لاَ يَلُومُ أَحَداً عَلَى مَا يَجِدُ الْعُذْرَ فِي مِثْلِه حَتَّى يَسْمَعَ اعْتِذَارَهُ. وَكَانَ لاَ يَشْكُو وَجَعاً إِلاَّ عِنْدَ بُرْئِه، وَكَانَ يَقُولُ مَا يَفْعَلُ وَلاَ يَقُولُ مَا لاَ يَفْعَلُ، وَكَانَ إِذَا غُلِبَ عَلَى الْكَلاَمِ لَمْ يُغْلَبْ عَلَى السُّكُوتِ، وَكَانَ عَلَى مَا يَسْمَعُ أَحْرَصَ مِنْهُ عَلَى أَنْ يَتَكَلَّمَ. وَكَانَ إِذَا بَدَهَهُ أَمْرَانِ نَظَرَ أَيُّهُمَا أَقْرَبُ إِلَى الْهَوَى فَخَالَفَهُ. فَعَلَيْكُمْ بِهَذِهِ الْخَلاَئِقِ فَالْزَمُوهَا وَتَنَافَسُوا فِيهَا، فَإِنْ لَمْ تَسْتَطِيعُوهَا فَاعْلَمُوا أَنَّ أَخْذَ الْقَلِيلِ خَيْرٌ مِنْ تَرْكِ الْكَثِيرِ.

۲۹۰. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

لَوْ لَمْ يَتَوَعَّدِ اللهُ عَلَى مَعْصِيَةٍ لَكَانَ يَجِبُ أَنْ لاَ يُعْصَى شُكْراً لِنِعَمِه.

۲۹۱. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ وَقَدْ عَزَّى الأَشْعَثَ بْنَ قَيْسٍ عَنِ ابْنٍ لَهُ:

يَا أَشْعَثُ، إِنْ تَحْزَنْ عَلَى ابْنِكَ فَقَدِ اسْتَحَقَّتْ ذَلِكَ مِنْكَ

د چا چې وخت ختم شوے دے مهلت غواړي او څوک چې مهلت لري کوتاهي کوي.

## (۲۸۲) د دنيا د خوندونو انجام

خلقو هيڅ‌ځ شي ته اونۀ ويل چې «څومره بختور دے» مګر دا چې زمانې ورته توره ورځ برابره کړه.

## (۲۸۷) د تقدير د پېژندلو مشکل

«له امامه يې د تقدير په حقله وپوښتل وې فرمايل»
تياره لاره ده مه يې وهئ، او ژور درياب دے مه ورګډ‌ېږئ، او خدائي راز دے ځانونه پرې مه کړوئ.

## (۲۸۸) د عمل آفت

کله چې خدا ے پاک وغواړي چې يو بنده خوار کړي نو علم له هغه لرې کړي.

## (۲۸۹) د کامل انسان نمونه

پخوا مې يو ديني ورور لرۀ چې زما په نظر کښې لوے ؤ ځکه چې د هغۀ په نظر کښې دنيا بې ارزښته ښکارېده او له خېټورتيا لرے ؤ،نو څه به يې چې نه موندل خواهش به يې نۀ کوۀ او څه به چې په لاس ورتلل زياتے به يې نۀ کوۀ، په زياتره عمر کښې غلے ؤ خو کله به يې چې خوله پرانېستله پۀ نورو خوله ورو به بر ؤ، او د تپوس کوونکو تنده به يې ماتوله، ظاهراً ناتوانه او کمزورے ښکارېدۀ،خو په سنجيده خبره کښې به د درګې د زمري په شان غړمبيدۀ يا به د صحرا د مار په شان خوځېدۀ،تر څو چې به قاضي ته نه ؤ ورغلے دليل به يې نۀ وايۀ، او که چا به عذر لرۀ نۀ به يې غندۀ تردې چې عذر به يې واورېدۀ، او له درده به يې شکايت نۀ کوۀ مګر له روغتيا او هوساينې وروسته،څه چې به يې ويل په هغه به يې عمل کوۀ او په څه به يې چې عمل نۀ کوه نۀ به يې ويل که څوک به ترې په خبره کښې مخکې شو په چپتيا کښې به نۀ پړيدۀ. د خبرو اورېدو ته له ويلو زيات لېواله ؤ او که په يو کار کښې به زړۀ نازړۀ او په دوه لارې کښې ګېر شو فکر به يې کوۀ چې کوم يو کار د نفس له غوښتنې سره زيات نزدې دے نو له هغۀ سره به يې مخالفت کوۀ. نو اے خلقو! دغه اخلاقي ارزښتونو ته مخه کړئ او په هغو کښې له يو بل سره سيالي وکړئ او که ټول مو لاسته رانۀ وړې شول نو پوه شئ چې د ځينو دغو اخلاقي ارزښتونو لاسته راوړل يې د ټولو له پرېښودلو غوره دي.

## (۲۹۰) د نعمتونو ذمه واری

که خدا ے پاک په ګناهونو باندې د عذاب وعده هم نۀ وه ورکړې، بيا هم لازمه وه چې د نعمتونو د شکر ايستنې په خاطر يې نافرماني اونۀ شي.

## (۲۹۱) د غمرازۍ کولو روده

«د اشعث بن قيس د زوے په مړينه هغه ته د تسليت ويلو په وخت»
اے اشعثه! که د زوے لپاره دې غمجن يې د خپلوۍ په وجه درسره

الـرَّحِمُ، وَإِنْ تَصْـبِرْ فَفِـي اللهِ مِـنْ كُـلِّ مُصِـيبَةٍ خَلَـفٌ. يَـا أَشْعَثُ، إِنْ صَبَرْتَ جَـرَى عَلَيْـكَ الْقَـدَرُ وَأَنْـتَ مَـأْجُورٌ، وَإِنْ جَزِعْتَ جَرَى عَلَيْكَ الْقَدَرُ وَأَنْـتَ مَـأْزُورٌ. يَـا أَشْـعَثُ، ابْنُـكَ سَرَّكَ وَهُوَ بَلاَءٌ وَفِتْنَةٌ، وَحَزَنَكَ وَهُوَ ثَوَابٌ وَرَحْمَةٌ.

۲۹۲. وَقَـالَ عَلَيْـهِ السَّـلاَمُ عَلَـى قَبْـرِ رَسُـولِ اللهِ صَـلَّى اللهُ عَلَيْـهِ وَآلـه سَاعَةَ دُفِنَ:

إِنَّ الصَّـبْرَ لَجَمِيـلٌ إِلاَّ عَنْـكَ، وَإِنَّ الْجَـزَعَ لَقَبِـيحٌ إِلاَّ عَلَيْـكَ، وَإِنَّ الْمُصَابَ بِكَ لَجَلِيلٌ، وَإِنَّهُ قَبْلَكَ وَبَعْدَكَ لَجَلَلٌ.

۲۹۳. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

لاَ تَصْحَبِ الْمَـائِقَ فَإِنَّـهُ يُـزَيِّنُ لَـكَ فِعْلَـهُ، وَيَـوَدُّ أَنْ تَكُـونَ مِثْلَهُ.

۲۹۴. وَقَـالَ عَلَيْـهِ السَّـلاَمُ وَقَـدْ سُـئِلَ عَـنْ مَسَـافَةِ مَـا بَـيْنَ الْمَشْـرِقِ وَالْمَغْرِبِ:

مَسِيرَةُ يَوْمٍ لِلشَّمْسِ.

۲۹۵. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

أَصْدِقَاؤُكَ ثَلاَثَـةٌ، وَأَعْـدَاؤُكَ ثَلاَثَـةٌ: فَأَصْـدِقَاؤُكَ: صَـدِيقُكَ، وَصَـدِيقُ صَـدِيقِكَ، وَعَـدُوُّ عَـدُوِّكَ. وَأَعْـدَاؤُكَ: عَـدُوُّكَ، وَعَدُوُّ صَدِيقِكَ، وَصَدِيقُ عَدُوِّكَ.

۲۹۶. وَقَـالَ عَلَيْـهِ السَّـلاَمُ لِرَجُـلٍ رَآهُ يَسْعَى عَلَى عَـدُوٍّ لَـهُ بِمَـا فِيـهِ إِضْرَارٌ بِنَفْسِه:

إِنَّمَا أَنْتَ كَالطَّاعِنِ نَفْسَهُ لِيَقْتُلَ رِدْفَهُ.

۲۹۷. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

مَا أَكْثَرَ الْعِبَرَ وَأَقَلَّ الاعْتِبَارَ!

۲۹۸. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

مَـنْ بَـالَغَ فِـي الْخُصُـومَةِ أَثِـمَ، وَمَـنْ قَصَّـرَ فِيهَـا ظُلِـمَ، وَلاَ يَسْتَطِيعُ أَنْ يَتَّقِيَ اللهَ مَنْ خَاصَمَ.

۲۹۹. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

مَا أَهَمَّنِي ذَنْبٌ أُمْهِلْتُ بَعْـدَهُ حَتَّـى أُصَـلِّيَ رَكْعَتَـيْنِ [وَأَسْـأَلَ اللهَ الْعَافِيَةَ].

ښائي،خو که صبر وکړې خدای د هر مصیبت بدله ورکوي. ای اشعثه! که زغم وکړې د خدای تقدير په تا جاري کېږي تا ته به جزا درکړې شي او که بې صبري وکړې بيا هم الهي تقدير په تا جاري کېږي او ته ګناهکار يې. ای اشعثه! زوی به تهٔ خوشحالولي نو ستا لپاره فتنه او ازمېښت ؤ او د هغهٔ مرګ ته غمجن کړې په داسې حال کښې چې ستا لپاره رحمت او جزا ده.

**(۲۹۲) د رسول الله مبارکﷺ ویر او بې صبري**

«د رسول الله مبارکﷺ د ښخولو په وخت»

بې شکه صبر ښهٔ دی مګر ستا د تللو په غم کښې ،او بې صبري بده ده مګر ستا په رحلت، ستا مصیبت لوی دی او تر تا مخکې او وروسته مصیبتونه ورته هیڅهٔ دي.

**(۲۹۳) له احمقانو سره دوستي مه کوئ**

د بې عقلو ملګری مه جوړېږه ځکه چې خپل بد کار به ښهٔ ښيي او غواړي به چې ته هم د هغهٔ په شان شې.

**(۲۹۴) د ختيځ او لوېديځ تر مينځ فاصله**

«له امامه يې د ختيځ او لوېديځ تر مينځ د واټن او فاصلې پوښتنه وکړه. وې فرمايل» د نمر د يوې ورځې د تګ په اندازه.

**(۲۹۵) د دوست د ښمن پېژندنه**

ستا دوستان درې ډوله دي او دښمنان دې هم درې ډوله دي. اول دوستان:ستا دوست، ستا د دوست دوست، او ستا د دښمن دښمن، او د ښمنان دې دا دي:ستا دښمن، ستا د دوست دښمن، او ستا د دښمن دوست.

**(۲۹۶) له دښمنيو څخه ډډه کول**

«يوکس يې اوليدهٔ چې د چا په دښمنۍ کښې دومره مخکې لاړ چې ځانته يې تاوان رسوهٔ امام وفرمايل:» تهٔ د هغه چا په شان يې چې ځان په نېزه ووهي د دې لپاره چې کوم کس ورپسې په اس ناست دی ووژني!

**(۲۹۷) د عبرت اخېستل**

عبرتونه څومره زيات دي او عبرت اخېستونکي څومره کم!!

**(۲۹۸) په دښمنۍ کې اعتدال**

څوک چې په دښمنۍ کښې زياتی وکړي ګناهکار او څوک چې کوتاهي وکړي ظالم دی،او څوک چې بې دليله دښمنۍ جوړوي متقي نهٔ شي کېدلی!

**(۲۹۹) په نمانځهٔ سره مرسته وغواړئ**

هغه څه چې زما او د خدای تر مينځ ناروا (ګناه) دي که وې کړم او د دوه رکعته نمونځ مهلت ولرم چې له خدايه بخښنه وغواړم، ما نهٔ غمجنوي.

۳۰۰. وَسُئِلَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ: كَيْفَ يُحَاسِبُ اللهُ الْخَلْقَ عَلَى كَثْرَتِهِمْ؟ فَقَالَ: كَمَا يَرْزُقُهُمْ عَلَى كَثْرَتِهِمْ. فَقِيلَ: كَيْفَ يُحاسِبُهُم ولا يَرَوْنَهُ؟ قَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ: كَمَا يَرْزُقُهمْ وَلاَ يَرَوْنَهُ.

(۳۰۰) د خلقو رزق او حساب کتاب

«له امامه یې وپوښتل خداے به څرنګه له دومره ډېرو بندګانو سره حساب کتاب کوي» وې فرمايل: لکه څرنګه چې دومره ډېرو ته روزي ورکوي.«بیا یې وپوښتل څرنګه به د انسانانوحساب کتاب کوي چې هغوي یې نۀ ویني» وې فرمایل: لکه څرنګه چې هغوي ته روزي رسوي او هغوي یې نۀ ویني.

۳۰۱. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

رَسُولُكَ تَرْجُمانُ عَقْلِكَ، وَكِتَابُكَ أَبْلَغُ مَا يَنْطِقُ عَنْكَ!

(۳۰۱) د لیکونو او استازو په استولو کښې احتیاط

ستا استازے ستا د عقل بیانوونکے او ستا لیک ستا تر ټولو ګویا ویندوے دے.

۳۰۲. وَقَالَ:

مَا الْمُبْتَلَى الَّذِي قَدِ اشْتَدَّ بِهِ الْبَلاَءُ، بِأَحْوَجَ إِلَى الدُّعَاءِ مِنَ الْمُعَافَى الَّذِي لاَ يَأْمَنُ الْبَلاَءَ!

(۳۰۲) دعا ته د انسان ضرورت

څوک چې په سختې بلا او درد اخته دے دعا ته یې ضرورت تر هغه چا زیات نۀ دے چې له درده په امان کښې دے.

۳۰۳. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

النَّاسُ أَبْنَاءُ الدُّنْيَا، وَلاَ يُلاَمُ الرَّجُلُ عَلَى حُبِّ أُمِّهِ.

(۳۰۳) د دنیا د مینې ارزښت

خلق د دنیا بچیان دي او هیڅوک له خپلې مور سره په مینه نۀ شوو ملامتولې او رټلې.

۳۰٤. وَقَالَ: إِنَّ الْمِسْكِينَ رَسُولُ اللهِ، فَمَنْ مَنَعَهُ فَقَدْ مَنَعَ اللهَ، وَمَنْ أَعْطَاهُ فَقَدْ أَعْطَى اللهَ.

(۳۰۴) غوښتنو ته ځواب ورکول

هغه فقیر چې ستا په در راغلے دے د خداے پاک مېلمه دے،چا چې یې له مرستې سر وغړوۀ له خدایه غړېدلے دے، او چا چې هغۀ ته څه ورکړل خداے ته یې ورکړي دي.

۳۰۵. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

مَا زَنَى غَيُورٌ قَطُّ.

(۳۰۵) غېرت

غېرتي هیڅکله زنا نۀ کوي.

۳۰٦. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

كَفَى بِالأَجَلِ حَارِساً!

(۳۰۶) اجل د انسان نګهبان

اجل ښۀ ساتندوے دے.

۳۰۷. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

يَنَامُ الرَّجُلُ عَلَى الثُّكْلِ، وَلاَ يَنَامُ عَلَى الْحَرَبِ.

(۳۰۷) د چور شوي مال غم

د فرزند د مرګ غم لیدلے انسان اوده کېږي خو د چا چې مال لوټ شوے وي نۀ اوده کېږي.

(د امام د خبرې مطلب دا دے چې که د چا زوے مړ شي د هغۀ په غم صبر کولے شي خو که مال یې لوټ شي صبر پرې نۀ کوي)

۳۰۸. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

مَوَدَّةُ الآبَاءِ قَرَابَةٌ بَيْنَ الأَبْنَاءِ، وَالْقَرَابَةُ إِلَى الْمَوَدَّةِ أَحْوَجُ مِنَ الْمَوَدَّةِ إِلَى الْقَرَابَةِ.

(۳۰۸) د پلارانو د دوستۍ برياوې

د پلارانو په مینځ کښې دوستي د هغوي د بچیانو ترمېنځ د خپلوۍ سبب کېږي،او خپلوي دوستۍ ته زیاته اړمنه ده له دې چې دوستي خپلوۍ ته اړمنه وي.

۳۰۹. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

اتَّقُوا ظُنُونَ الْمُؤْمِنِينَ، فَإِنَّ اللهَ تَعَالَى جَعَلَ الْحَقَّ عَلَى أَلْسِنَتِهِمْ.

(۳۰۹) د مومنانو ګمانونه

په مومنانو له (بد) ګمان کولو ډډه وکړئ ځکه چې خداے حق د هغوي په ژبو ګرځولے دے.

۳۱۰. وَقَالَ:

(۳۱۰) په خداے پاک باندې باور

لاَ يَصْدُقُ إِيمَانُ عَبْد، حَتّى يَكُونَ بِمَا فِي يَدِ اللهِ سُبْحَانَهُ أَوْثَقَ مِنْهُ بِمَا فِي يَدِه.

د يو بنده ايمان سم نۀ دے مګر دا چې يۀ هغه څه چې د خداے په لاس کښې دي تر هغه څه چې د دۀ په خپل لاس کښې دي زيات باور ولري.

۳۱۱. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ لأَنس بْنِ مَالِك، وَقَدْ كَانَ بَعَثَهُ إِلَى طَلْحَةَ وَالزُّبَيْرِ لَمَّا جَاءَا إِلَى الْبَصْرَةِ يُذَكِّرُهُمَا شَيْئاً سَمِعَهُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِه فِي مَعْنَاهُمَا، فَلَوَّى عَنْ ذلِكَ، فَرَجَعَ إِلَيْهِ، فَقَالَ: إِنِّي أُنْسِيتُ ذلِكَ الأَمْرَ. فَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ: **إِنْ كُنْتَ كَاذِباً فَضَرَبَكَ اللهُ بِهَا بَيْضَاءَ لاَمِعَةً لاَ تُوَارِيهَا الْعِمَامَةُ.**

**(۳۱۱) د امامؑ ښيرې**

«کله چې بصرې ته اورسېدۀ وې غوښتل چې انس بن مالک، طلحه او زبير ته اولېږي چې هغه څه چې له رسول الله مبارکه ﷺ يې د هغوي په حقله اورېدلي دي وريادکړي، انس ډډه وکړه او وې ويل ما د پېغمبر اکرم ﷺ هغه خبره هېره کړې ده» امام وفرمايل: که دروغ وائې خداے دې په برص (برګي مرض) اخته کړه چې برګيتوب دې په عمامه کښې پټ نۀ شي.

«د امام له ښيرو وروسته د انس په سر او مخ د برګي مرض اولګېدۀ او همېشه به يې تربوزک وهۀ»

۳۱۲. وَقَالَ:

**إِنَّ لِلْقُلُوبِ إِقْبَالاً وَإِدْبَاراً، فَإِذَا أَقْبَلَتْ فَاحْمِلُوهَا عَلَى النَّوَافِلِ، وَإِذَا أَدْبَرَتْ فَاقْتَصِرُوا بِهَا عَلَى الْفَرَائِضِ.**

**(۳۱۲) دعبادتونو نفسيات**

زړونه کله خوشحاله او تازه وي او کله هم مړاوی او تښتېدونکي، نو کله چې تاند او تازه وي مستحباتو کولو ته يې اړ کړئ او کله چې يې شا کړې وي او بې چرته وي يواځې د واجباتو(فرائضو) په کولو بسنه وکړئ.

۳۱۳. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

**وَفِي الْقُرْآنِ نَبَأُ مَا قَبْلَكُمْ، وَخَبَرُ مَا بَعْدَكُمْ، وَحُكْمُ مَا بَيْنَكُمْ.**

**(۳۱۳) د قرآن بشپړتيا**

په قرآن کښې د تېرو او راتلونکو وختونو خبرونه او ستاسو د وژند د اړتيا وړ احکام موجود دي.

۳۱۴. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

**رُدُّوا الْحَجَرَ مِنْ حَيْثُ جَاءَ، فَإِنَّ الشَّرَّ لاَ يَدْفَعُهُ إِلاَّ الشَّرُّ.**

**(۳۱۴) له تېرېګر سره د سلوک طريقه**

کاڼې هماغه ځاے ته چې دښمن راويشتے دے اولئ ځکه چې د شر ځواب بې له شره بل څه نۀ دے.

۳۱۵. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ لِكَاتِبِهِ عُبَيْدِاللهِ بْنِ أَبِي رَافِع:

**أَلِقْ دَوَاتَكَ، وَأَطِلْ جِلْفَةَ قَلَمِكَ، وَفَرِّجْ بَيْنَ السُّطُورِ، وَقَرْمِطْ بَيْنَ الْحُرُوفِ، فَإِنَّ ذلِكَ أَجْدَرُ بِصَبَاحَةِ الْخَطِّ.**

(۳۱۵) د خطاطۍ (خوشنويسۍ) طريقه

«خپل ليکونکي عبيدالله بن ابي رافع ته يې امر وکړ چې» په دوات کښې ټوکر (کپړه)واچوه، د قلم څوکه پراخه اوتراشه، په کرښو (سطرونو) کښې فاصله پرېږده، او حرفونه يو بل ته نژدې ليکه، ځکه چې دا روده د خط د ښکلا لپاره غوره ده.

۳۱۶. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

**أَنَا يَعْسُوبُ الْمُؤْمِنِينَ، وَالْمَالُ يَعْسُوبُ الْفُجَّارِ.**

**(۳۱۶) د مومنانو او ورانکارو مشر**

زۀ د مومنانو يعسوب (امام) او مال د فاجرانو بدعملو امام دے.
(يعسوب د تورو مچيو ملکې ته ويل کيږي چې ټولې مچۍ يې پېروي کوي دا لقب امام عليؑ ته پېغمبر اکرم ﷺ ورکړے دے)

۳۱۷. وَقَالَ لَهُ بَعْضُ الْيَهُودِ: مَا دَفَنْتُمْ نَبِيَّكُمْ حَتَّى اخْتَلَفْتُمْ فِيهِ! فَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ لَهُ:

**إِنَّمَا اخْتَلَفْنَا عَنْهُ لاَ فِيهِ، وَلكِنَّكُمْ مَا جَفَّتْ أَرْجُلُكُمْ مِنَ الْبَحْرِ حَتَّى قُلْتُمْ لِنَبِيِّكُمْ: ﴿اجْعَلْ لَنَا إِلهاً كَمَا لَهُمْ آلِهَةٌ قَالَ إِنَّكُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُونَ﴾.**

**(۳۱۷) د مسلمانانو اختلاف او د يهوديانو انحراف**

«يو يهودي امام ته وويل لا مو خپل پېغمبر ښخ کړے نۀ دے چې اختلاف مو پکښې وکړ امام ورته وفرمايل: مونږ په هغه څه کښې چې له هغۀ (د جانشينۍ په اړه) رارسېدلي دي اختلاف وکړ، نۀ په خپله په هغۀ کښې ،خو تاسو يهوديان لا مو د نيل له درياب له ژغورېدو پښې نۀ وې وچې شوې چې خپل پېغمبر ته مو وويل«زمونږ لپاره يوخداے جوړکړه لکه څرنګه چې بت پرستان خداے لري!...» او ستاسو پېغمبر وويل: تاسو ناپوهه خلق يئ.

۳۱۸. وَقيل لَهُ: بأَيِّ شَيْءٍ غَلَبْتَ الأَقْرانَ؟ فَقَال:
**مَا لَقِيتُ رَجُلاً إِلاَّ أَعَانَنِي عَلى نَفْسِه.**

**(۳۱۸) د امام مېړانه**

«له امامه يې وپوښتل په کوم ځواک او طاقت سره په خپلو سيالانو لاسبرے شوې؟ وې فرمايل:» څوک مې هم اونۀ ليدل مګر دا چې له ما سره يې په خپلې ماتې کښې مرسته کوله.!

(سيد رضي وائي: امام دې ټکي ته اشاره وکړه چې زما ويره او هيبت د د دښمنانو په زړۀ کښې ناست ؤ)

۳۱۹. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ لاِبْنِه مُحَمَّد بْنِ الْحَنَفِيَّة:
**يَا بُنَيَّ، إِنِّي أَخَافُ عَلَيْكَ الْفَقْرَ، فَاسْتَعِذْ بِاللهِ مِنْهُ، فَإِنَّ الْفَقْرَ مَنْقَصَةٌ لِلدِّينِ، مَدْهَشَةٌ لِلْعَقْلِ، دَاعِيَةٌ لِلْمَقْتِ!**

**(۳۱۹) د بېوزلۍ او فقر سپېرې نتيجې**

«خپل زوے محمد حنفيه ته يې په نصيحت کښې وفرمايل: » اے زويه! زۀ ستا په بېوزلۍ او فقر باندې ويرېږم. له فقره (غريبۍ) خدائے ته پناه يوسه ځکه چې فقر د انسان دين نيمګړے او عقل لالهانده کوي او د دښمنۍ سبب کيږي.

۳۲۰. وَقَالَ لِسَائِلٍ سَأَلَهُ عَنْ مُعْضِلٍ:
**سَلْ تَفَقُّهاً وَلاَ تَسْأَلْ تَعَنُّتاً، فَإِنَّ الْجَاهِلَ الْمُتَعَلِّمَ شَبِيهٌ بِالْعَالِمِ، وَإِنَّ الْعَالِمَ الْمُتَعَسِّفَ شَبِيهٌ بِالْجَاهِلِ الْمُتَعَنِّت.**

**(۳۲۰) د پوښتنې سمه طريقه**

يوکس يوه پيچلې مسئله وپوښتله» وې فرمايل: د پوهېدو لپاره وپوښته نۀ د خورولو لپاره، ځکه چې ناپوهه زده کوونکې د پوه په شان دے او بې انصافه پوه د پلمه او بهانه کوونکي ناپوه په شان!

۳۲۱. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ لِعَبْدِاللهِ بْنِ الْعَبَّاسِ، وَقَدْ أَشَارَ عَلَيْهِ فِي شَيْءٍ لَمْ يُوَافِقْ رَأْيَهُ:
**لَكَ أَنْ تُشِيرَ عَلَيَّ وَأَرَى، فَإِنْ عَصَيْتُكَ فَأَطِعْنِي.**

**(۳۲۱) په مشوره کولو کښې د مشر پرېکنده والے**

عبدالله بن عباس په يوې مسئلې کښې خپله رايه او نظر ورکړ چې امام ونۀ منۀ او وې فرمايل:» په تا لازمه ده چې ما ته خپل نظر ووائې او زۀ پرې فکر وکړم. نو که ستا د نظر په خلاف امر مې وکړ نو پکار دي وې منې!

۳۲۲. وَرُوِيَ أَنَّهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ لَمَّا وَرَدَ الْكُوفَةَ قَادِماً مِنْ صِفِّينَ مَرَّ بِالشِّبَامِيِّينَ، فَسَمِعَ بُكَاءَ النِّسَاءِ عَلَى قَتْلَى صِفِّينَ، وَخَرَجَ إِلَيْهِ حَرْبُ بْنُ شُرَحْبِيلَ الشِّبَامِيُّ، وَكَانَ مِنْ وُجُوهِ قَوْمِهِ. فَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ: **أَتَغْلِبُكُمْ نِسَاؤُكُمْ عَلَى مَا أَسْمَعُ؟ أَلاَ تَنْهَوْنَهُنَّ عَنْ هذَا الرَّنِينِ؟** وَأَقْبَلَ يَمْشِي مَعَهُ، وَهُوَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ رَاكِبٌ. فَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ لَهُ: **ارْجِعْ، فَإِنَّ مَشْيَ مِثْلِكَ مَعَ مِثْلِي فِتْنَةٌ لِلْوَالِي، وَمَذَلَّةٌ لِلْمُؤْمِنِ.**

**(۳۲۲) له جنګه وروسته د خلقو د روحيې مضبوطول**

«کله چې امام د صفين له جنګه ستنېدۀ د شبامينو محلې ته اورسېدۀ نو په جنګ کښې په وژل شويو کسانو يې د ښځو ژړا تر غوږو شوه په دغه وخت کښې د شبامينو د قبيلې مشر حرب بن شرحبيل امام ته ورغے، امام وفرمايل:» آيا لکه څرنګه چې اورم ستاسو د قبيلې ښځې په تاسو بر شوې دي. ولې هغوي له ژړا انګولا نۀ منعې کوئ؟(حرب پلې او امام په اس سپور روان وو وې فرمايل): ستون شه ځکه چې په ما پسې ستا د قبيلې په شان د يوې قبيلې د مشر پياده تګ د حاکم د بې لاريتوب او د مومن د خوارۍ سبب دے.

۳۲۳. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ وَقَدْ مَرَّ بِقَتْلَى الْخَوَارِجِ يَوْمَ النَّهْرَوَانِ:
**بُؤْساً لَكُمْ، لَقَدْ ضَرَّكُمْ مَنْ غَرَّكُمْ.** فَقِيلَ لَهُ: مَنْ غَرَّهُمْ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ؟ فَقَالَ: **الشَّيْطَانُ الْمُضِلُّ، وَالأَنْفُسُ الأَمَّارَةُ بِالسُّوءِ، غَرَّتْهُمْ بِالأَمَانِيِّ، وَفَسَحَتْ لَهُمْ فِي الْمَعَاصِي، وَوَعَدَتْهُمُ الإِظْهَارَ، فَاقْتَحَمَتْ بِهِمُ النَّارَ.**

**(۳۲۳) د خوارجو د بې لاريتوب علتونه**

«د نهروان په جنګ کښې هغه وخت چې د خوارجو په مړيو تېرېدۀ داسې يې وفرمايل»: افسوس دې وې په تاسو هغه چا چې تاسو يې اوغولولئ تاسو يې تاواني کړئ.(وې پوښتل اے اميرالمومنينه چا هغوي اوغولول؟) وې فرمايل:ګمراه کوونکي شېطان او بدۍ ته بلونکي نفس هغوي په خپلو ارمانونو او ارزوګانو سره اوغولول او د ګناه لاره يې ورته چمتو کړه او د برې وعده يې ورکړه او آخر يې د دوزخ په اور کښې ښکيل کړل.

۳۲٤. وَقَالَ:
**اتَّقُوا مَعَاصِيَ اللهِ فِي الْخَلَوَاتِ، فَإِنَّ الشَّاهِدَ هُوَ الْحَاكِمُ.**

**(۳۲۴) په خلوت کښې د خدائے ويره**

په خلوتونو کښې د خدائے له نافرمانۍ اوېرېږئ ځکه هماغه چې ګواه دے قاضي هم دے.

٣٢٥. وَقَالَ عَلَيْه السَّلاَمُ لَمَّا بَلَغَهُ قَتْلُ مُحَمَّد بْنِ أَبِي بَكْرٍ:

**إِنَّ حُزْنَنَا عَلَيْهِ عَلَى قَدْرِ سُرُورِهِمْ بِهِ، إِلاَّ أَنَّهُمْ نَقَصُوا بَغِيضاً، وَنَقَصْنَا حَبِيباً.**

٣٢٦. وَقَالَ:

**الْعُمْرُ الَّذِي أَعْذَرَ اللهُ فِيهِ إِلَى ابْنِ آدَمَ سِتُّونَ سَنَةً.**

٣٢٧. وَقَالَ:

**مَا ظَفِرَ مَنْ ظَفِرَ الاثْمُ بِهِ، وَالْغَالِبُ بِالشَّرِّ مَغْلُوبٌ.**

٣٢٨. وَقَالَ عَلَيْه السَّلاَمُ:

**إِنَّ اللهَ سُبْحَانَهُ فَرَضَ فِي أَمْوَالِ الاغْنِيَاءِ أَقْوَاتَ الْفُقَرَاءِ، فَمَا جَاعَ فَقِيرٌ إِلاَّ بِمَا مَنَعَ بِهِ غَنِيٌ، وَاللهُ تَعَالَى سَائِلُهُمْ عَنْ ذلِكَ.**

٣٢٩. وَقَالَ:

**الأَسْتِغْنَاءُ عَنِ الْعُذْرِ أَعَزُّ مِنَ الصِّدْقِ بِهِ.**

٣٣٠. وَقَالَ عَلَيْه السَّلاَمُ:

**أَقَلُّ مَا يَلْزَمُكُمْ للهِ أَلاَّ تَسْتَعِينُوا بِنِعَمِهِ عَلَى مَعَاصِيهِ.**

٣٣١. وَقَالَ عَلَيْه السَّلاَمُ: **إِنَّ اللهَ سُبْحَانَهُ جَعَلَ الطَّاعَةَ غَنِيمَةَ الاكْيَاسِ عِنْدَ تَفْرِيطِ الْعَجَزَةِ!**

٣٣٢. وَقَالَ:

**السُّلْطَانُ وَزَعَةُ اللهِ فِي أَرْضِهِ.**

٣٣٣. وَقَالَ فِي صِفَةِ الْمُؤْمِنِ:

**الْمُؤْمِنُ بِشْرُهُ فِي وَجْهِهِ، وَحُزْنُهُ فِي قَلْبِهِ، أَوْسَعُ شَيْءٍ صَدْراً، وَأَذَلُّ شَيْءٍ نَفْساً، يَكْرَهُ الرِّفْعَةَ، وَيَشْنَأُ السُّمْعَةَ، طَوِيلٌ غَمُّهُ، بَعِيدٌ هَمُّهُ، كَثِيرٌ صَمْتُهُ، مَشْغُولٌ وَقْتُهُ، شَكُورٌ صَبُورٌ، مَغْمُورٌ بِفِكْرَتِهِ، ضَنِينٌ بِخَلَّتِهِ، سَهْلُ الْخَلِيقَةِ، لَيِّنُ الْعَرِيكَةِ! نَفْسُهُ أَصْلَبُ مِنَ الصَّلْدِ، وَهُوَ أَذَلُّ مِنَ الْعَبْدِ.**

٣٣٤. وَقَالَ عَلَيْه السَّلاَمُ:

**لَوْ رَأَى الْعَبْدُ الاجَلَ وَمَسِيرَهُ لأَبْغَضَ الامَلَ وَغُرُورَهُ.**

**(۳۲۵) د محمد بن ابي بکر د وژل کېدو غم**

«کله یې چې امام ته د محمد بن ابي بکر د وژل کېدو خبر راورۀ نو وې فرمایل»: بې شکه د هغۀ په شهادت زمونږ غم د شامیانو د خوشحالۍ په اندازه دے مګر دا چې له هغوي یو دښمن او له مونږ یو دوست کم شو.

**(۳۲۶) د توبې د قبلېدو مهلت**

هغه عمر چې خداے له خپل بنده عذر او توبه قبلوي شپېتۀ کاله دے.

**(۳۲۷) دروغجنې کامیابی**

بریالے نۀ شو هغه کس چې ګناه پرې لاسبرې شوه او څوک چې په بدۍ سره بریالے شو ماتې یې خوړلې ده.

**(۳۲۸) د سرمایه دارو دنده**

بې له شکه خداے تعالی د بېوزلو او غریبانانو روزي د سرمایه دارو په مالونو کښې ایښې ده، نوکوم فقیر اوږے نۀ پاتې کېږي مګر دا چې شتمن مالدار شوے وي او خداے به له هغوي د اوږو د لوږې پوښتنه کوي.

**(۳۲۹) له بخښنه غوښتلو بې نیازي**

له بخښنه غوښتلو بې نیازي تر رښتیني عذره غوره ده.

**(۳۳۰) د نعمتونو ذمه واري**

ستاسو په غاړه د خداے پاک تر ټولو کم حق دا دے چې په ګناهانو کښې د خداے له نعمتونو مرسته وانۀ خلئ.

**(۳۳۱) د بندګۍ ارزښت**

خداے تعالی اطاعت د هوښیارو غنیمت وټاکۀ هغه وخت چې کمزوري خلق کوتاهي وکړي.

**(۳۳۲) د امام دنده او ذمه واری**

(اسلامي) واکمن د ځمکې په مخ د خداے (د دین) ساتندوے دے.

**(۳۳۳) د مومن نښې**

«د مومن په ستائنه کښې یې وفرمایل:» د مومن خوشحالي د هغۀ په مخ او غم یې په زړۀ کښې پټ دے، سینه یې تر هر څه پراخه، او نفس یې تر هر څه خوار دے. کبر سپک کار او ځان ښودنه دښمن ګڼي. خفګان یې اوږد او همت یې لوړ دے، چپتیا یې پرېمانه او وخت یې په کار ډک دے، شکر ګذار، صابر او ژور فکره دے، د څه غوښتنه نۀ کوي او نرم خویه او متواضع دے، نفس یې تر کاڼي سخت خو په دینداری کښې تر مریي هم خوار دے.

**(۳۳۴) مرګ او ارمانونه**

که د خداے بنده خپل اجل او انجام لیدلے نو له ارمانونو، ارزوګانو او د هغو له فریبونو سره به یې دښمني کوله.

۳۳۵. وَقَالَ:

لكل امْرِىءٍ في مَاله شَرِيكَان: الْوَارِثُ، وَالْحَوَادِثُ.

۳۳۶. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

الْمَسْؤُولُ حُرٌّ حَتَّى يعدَ.

۳۳۷. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

الدَّاعي بلاَ عَمَل كَالرَّامي بلاَ وَتَر.

۳۳۸. وَقَالَ:

الْعلْمُ علْمَان: مَطْبُوعٌ وَمَسْمُوعٌ، وَلاَ يَنْفَعُ الْمَسْمُوعُ إِذَا لَمْ يَكُنِ الْمَطْبُوعُ.

۳۳۹. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

صَوَابُ الرَّأْيِ بالدُّوَل: يُقْبِلُ بإِقْبَالها، وَيَذْهَبُ بذَهَابهَا.

۳۴۰. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

الْعَفَافُ زِينَةُ الْفَقْرِ، وَالشُّكْرُ زِينَةُ الْغِنَى.

۳۴۱. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

يَوْمُ الْعَدْلِ عَلَى الظَّالِمِ أَشَدُّ مِنْ يَومِ الْجَوْرِ عَلَى الْمَظْلُومِ!

۳۴۲. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

الْغِنَى الاكْبَرُ الْيَأْسُ عَمَّا فِي أَيْدِي النَّاسِ.

۳۴۳. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

الاَقَاوِيلُ مَحْفُوظَةٌ، وَالسَّرَائِرُ مَبْلُوَّةٌ، وَكُلُّ نَفْس بمَا كَسَبَتْ رَهينَةٌ، وَالنَّاسُ مَنْقُوصُونَ مَدْخُولُونَ إِلاَّ مَنْ عَصَمَ اللهُ، سَائلُهُمْ مُتَعَنِّتٌ، وَمُجِيبُهُمْ مُتَكَلِّفٌ، يَكَادُ أَفْضَلُهُمْ رَأْياً يَرُدُّهُ عَنْ فَضْلِ رَأْيِه الرِّضَى وَالسُّخْطُ، وَيَكَادُ أَصْلَبُهُمْ عُوداً تَنْكَؤُهُ اللَّحْظَةُ، وَتَسْتَحِيلُهُ الْكَلِمَةُ الْوَاحِدَةُ.

۳۴۴. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

مَعَاشِرَ النَّاسِ، اتَّقُوا اللهَ، فَكَمْ مِنْ مُؤَمِّل مَا لاَ يَبْلُغُهُ، وَبَانٍ مَا لاَ يَسْكُنُهُ، وَجَامِعٍ مَا سَوْفَ يَتْرُكُهُ، وَلَعَلَّهُ مِنْ بَاطِلٍ جَمَعَهُ، وَمِنْ حَقٍّ مَنَعَهُ، أَصَابَهُ حَرَاماً، وَاحْتَمَلَ بِهِ آثَاماً، فَبَاءَ بِوِزْرِهِ، وَقَدِمَ عَلَى رَبِّهِ، آسِفاً لاَهِفاً، قَدْ خَسِرَ الدُّنْيَا

**(۳۳۵) د مالونو آفت**

د هر چا په مال کښې دوه شريکان دي يو وارث او بل پېښې او حادثات.

**(۳۳۶) وعده پوره کړئ**

له چا چې څه غوښتل شوي وي تر څو يې چې وعده نۀ وي کړې آزاد دے.

**(۳۳۷) عمل پکار دے**

بې عمله بلونکے، د بې ليندې غشي ويشتونکي په شان دے.

**(۳۳۸) د علم ډولونه**

علم دوه ډوله دے فطري علم او اکتسابي علم؛ اکتسابي علم که له فطري علم سره غبرګه نۀ وي ګټور نۀ دے.

**(۳۳۹) طاقت او د فکر واکمني**

د راې او نظر استقامت په قوت او شتو سره دے د قوت په راتللو سره راځي او د قوت او شتمنۍ په تللو سره ځي.

**(۳۴۰) د پاکلمنۍ او شکر ايستنې ارزښت**

پاکلمني د بېوزلۍ زينت او شکر اېستل د بې نيازۍ زينت دے.

**(۳۴۱) د ظالم لپاره سخته ورځ**

ظالم لپاره د عدل ورځ ډېره سخته ده له هغې ورځې چې کله يې په مظلوم ظلم کړۀ.

**(۳۴۲) د بې نيازۍ لاره**

تر ټولو لوړه بې نيازي او شتمني له هغه څه نااميدي ده چې د خلقو په لاس کښې دي.

**(۳۴۳) د خلقو پېژندل**

خبرې ساتل کېږي او پټ ښکاره کېږي، او هر کس له خپل عمل سره ګانه شوے دے، خلق په کمښتونو او آفتونو اخته دي بې له هغو چې خدا ے پاک يې اوساتي، غوښتونکے يې د خلقو ځوروونکے او ځواب ورکوونکے يې په کړاو او غم اخته دے، او هغه کس چې په فکر کښې تر ټولو لوړ دے په لږ شان خوښۍ يا خواشينۍ له خپلې راې اوړي. او هغه کس چې تر ټولو ټينګ او کلک دے په يوه شيبه کښې خفه کېږي يا په وړه خبره بدلېږي.

**(۳۴۴) اے خلقو دنيا فاني ده**

اے خلقو! له خدايه اوېرېږئ، ځومره ارمانجن وو چې ارمانونه يې اونۀ رژېدل او ځومره ودانوونکي وو چې په ودانۍ کښې يې نصيب نۀ ؤ او ځومره غونډوونکي دي چې ډېر زر به خپل راټول کړې مالونه پرېږدي، ښائي له باطلې لارې يې راټول کړې وي يا يې د نورو حق خوړلے وي يا يې له حرامو سره ګډ کړے وي، چې ګناه يې د دۀ په غاړه ده، او د ګناه په درانۀ پېټي سره له دنيا تېرېږي، او په ارمان او پښېمانۍ سره به خدا ے

وَالآخِرَةَ ذلِكَ هُوَ الْخُسْرَانُ الْمُبِينُ.

٣٤٥. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

مِنَ الْعِصْمَةِ تَعَذُّرُ الْمَعَاصِي.

٣٤٦. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

مَاءُ وَجْهِكَ جَامِدٌ يُقْطِرُهُ السُّؤَالُ، فَانْظُرْ عِنْدَ مَنْ تُقْطِرُهُ.

٣٤٧. وَقَالَ:

الثَّنَاءُ بِأَكْثَرَ مِنَ الاسْتِحْقَاقِ مَلَقٌ، وَالتَّقْصِيرُ عَنِ الاسْتِحْقَاقِ عِيٌّ أَوْ حَسَدٌ.

٣٤٨. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

أَشَدُّ الذُّنُوبِ مَا اسْتَهَانَ بِهِ صَاحِبُهُ.

٣٤٩. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

مَنْ نَظَرَ فِي عَيْبِ نَفْسِهِ اشْتَغَلَ عَنْ عَيْبِ غَيْرِهِ، وَمَنْ رَضِيَ بِرِزْقِ اللهِ لَمْ يَحْزَنْ عَلَى مَا فَاتَهُ، وَمَنْ سَلَّ سَيْفَ الْبَغْيِ قُتِلَ بِهِ، وَمَنْ كَابَدَ الأُمُورَ عَطِبَ، وَمَنِ اقْتَحَمَ اللُّجَجَ غَرِقَ، وَمَنْ دَخَلَ مَدَاخِلَ السُّوءِ اتُّهِمَ، وَمَنْ كَثُرَ كَلَامُهُ كَثُرَ خَطَؤُهُ، وَمَنْ كَثُرَ خَطَؤُهُ قَلَّ حَيَاؤُهُ، وَمَنْ قَلَّ حَيَاؤُهُ قَلَّ وَرَعُهُ، وَمَنْ قَلَّ وَرَعُهُ مَاتَ قَلْبُهُ، وَمَنْ مَاتَ قَلْبُهُ دَخَلَ النَّارَ، وَمَنْ نَظَرَ فِي عُيُوبِ النَّاسِ فَأَنْكَرَهَا ثُمَّ رَضِيَهَا لِنَفْسِهِ فَذَاكَ الأَحْمَقُ بِعَيْنِهِ. وَالْقَنَاعَةُ مَالٌ لَا يَنْفَدُ، وَمَنْ أَكْثَرَ مِنْ ذِكْرِ الْمَوْتِ رَضِيَ مِنَ الدُّنْيَا بِالْيَسِيرِ، مَنْ عَلِمَ أَنَّ كَلَامَهُ مِنْ عَمَلِهِ قَلَّ كَلَامُهُ إِلَّا فِيمَا يَعْنِيهِ.

٣٥٠. وَقَالَ:

لِلظَّالِمِ مِنَ الرِّجَالِ ثَلَاثُ عَلَامَاتٍ: يَظْلِمُ مَنْ فَوْقَهُ بِالْمَعْصِيَةِ، وَمَنْ دُونَهُ بِالْغَلَبَةِ، وَيُظَاهِرُ الْقَوْمَ الظَّلَمَةَ.

٣٥١. وَقَالَ:

عِنْدَ تَنَاهِي الشِّدَّةِ تَكُونُ الْفَرْجَةُ، وَعِنْدَ تَضَايُقِ حَلَقِ الْبَلَاءِ يَكُونُ الرَّخَاءُ.

٣٥٢. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ لِبَعْضِ أَصْحَابِهِ:

پاک ته ته ورځي. «په دنیا او آخرت کښې يې تاوان کړے دے او همدغه دے ښکاره تاوان»

### (۳۴۵) د پاکۍ يوه لاره

ګناه ته نۀ رسېدل په يو ډول عصمت (پاکي)ده.

### (۳۴۶) د سوال کولو ذلت

ستا عزت د واورې په شان دے چې په سوال کولو سره څاڅکي څاڅکي ويلې کېږي نودې ته پام کوه چې خپل عزت د چا په مخکې ويلې کوې؟.

### (۳۴۷) په تعريف کولو کښې انډول او اعتدال ساتل

د وړتيا له حده زياته ستائنه يو ډول چاپلوسي او غوړه مالي ده او تر استحقاقه کمه ستائنه ناتواني او يا حسد دے.

### (۳۴۸) تر ټولو سخته ګناه

تر ټولو سخته ګناه دا ده چې انسان يوه ګناه وړه اوګڼي.

### (۳۴۹) کامل انسان

څوک چې په خپلو عيبونو نظر کوي د نورو د عيبونو له لټولو پاتې کېږي او څوک چې د خدا ے په روزۍ راضي وي، په هغه څه چې له لاسه يې ورکوي نۀ غمجنيږي، او څوک چې د ظلم توره اوباسي هم په هغې وژل کېږي او څوک چې په خپلو کارونو کښې ځان په کړاؤ کښې واچوي ځان به هلاک کړي، او څوک چې ځان د بلا او مصيبت په ګړنګ کښې اوغورځوي غرق به شي. او څوک چې بدنامو ځايونو ته لاړ شي تورن به شي، او څوک چې زياتې خبرې کوي زياتې غلطۍ کوي. او څوک چې زياتې غلطۍ وکړي شرم او حيا يې کمه ده. او د چا چې شرم او حيا کمه ده پرهېزګاري به يې هم کمه وي. او د چا چې پرهېزګاري کمه وي زړۀ يې مړ دے. او د چا چې زړۀ مړ دے د دوزخ اور ته به اوغورځيږي. او څوک چې د خلقو عيبونو ته ګوري او هغه بد ګڼي بيا هماغه کارونه کوي نو هغه حقيقي احمق دے. قناعت نۀ ختمېدونکے مال دے، او څوک چې مرګ ډېر يادوي په دنيا کښې په لږ خوشحال وي. او څوک چې پوه شي چې د هغۀ د خبرو به هم د هغۀ د عملونو په شان پوښتنه کېږي نو بې له ضرورته به خبره نۀ کوي.

### (۳۵۰) د ظالم نفسيات

د ظالمو خلقو درې نښې دي: په خپل بره کس باندې په سرکښۍ او سرغړونې سره ظلم کوي، تر لاس لاندې کسانو باندې په زور او غلبې سره ظلم کوي او د ظالمانو مرسته کوي.

### (۳۵۱) په سختيو کښې هيله مندتيا

کله چې سختۍ اوج ته اورسېږي، راحته راځي او کله چې د مصيبت کړۍ تنګې شي هوساينه او سوکالي راځي.

### (۳۵۲) د کورنۍ په چارو کښې انډول او اعتدال

لاَ تجْعلَنَّ أَكْثَر شُغْلك بأَهْلكَ وولَدكَ: فَإِنْ يَكُنْ أَهْلُكَ وولَدُكَ أَوْلِيَاءَ الله، فَإِنَّ الله لاَ يُضيعُ أَوْلِيَاءَه، وإِنْ يكُونُوا أَعْدَاءَ الله، فَما همُّكَ وشُغْلُكَ بأَعْدَاء الله؟!

۳۵۳. وقَالَ عَلَيْه السَّلَامُ:

أَكْبَر الْعَيْب أَنْ تَعيبَ مَا فيكَ مثْلُه.

۳۵٤. وهَنَّأَ بحضْرته عَلَيْه السَّلَامُ رَجُلٌ رَجُلاً بغُلَام وُلِدَ لَهُ فَقَالَ لَهُ: لِيَهْنِئْكَ الْفَارسُ. فَقَالَ عَلَيْه السَّلَامُ:

لاَ تَقُلْ ذلكَ، ولكنْ قُلْ: شَكَرْتَ الْوَاهبَ وبُورِكَ لَكَ فِي الْمَوْهُوب وبَلَغَ أَشُدَّهُ ورُزقْتَ برَّهُ.

۳۵۵. وبَنَى رَجُلٌ منْ عُمَّاله بنَاءً فَخْماً، فَقَالَ عَلَيْه السَّلَامُ:

أَطْلَعَت الْوَرِقُ رُؤُوسَهَا! إِنَّ الْبنَاءَ لَيَصفُ عَنْكَ الْغنَى.

۳۵٦. قيلَ لَهُ: لَوْ سُدَّ عَلَى رَجُلٍ بَابُ بَيْته، وتُركَ فيه، منْ أَيْنَ كَانَ يأْتيه رزْقُهُ؟ فَقَالَ:

منْ حَيْثُ كَانَ يَأْتيه أَجَلُهُ.

۳۵۷. وعَزَّى قَوْماً عَنْ مَيِّت فَقَالَ: إِنَّ هذَا الأَمْرَ لَيْسَ بكُمْ بَدَأَ، ولاَ إِلَيْكُمُ انْتَهَى، وقَدْ كَانَ صَاحبُكُمْ هذَا يُسَافرُ، فَعُدُّوهُ فِي بَعْض أَسْفَاره، فَإِنْ قَدمَ عَلَيْكُمْ وإِلاَّ قَدمْتُمْ عَلَيْه.

۳۵۸. وقَالَ عَلَيْه السَّلَامُ:

أَيُّهَا النَّاسُ، ليَرَكُمُ اللهُ منَ النِّعْمَة وَجلينَ، كَمَا يَرَاكُمْ منَ النِّقْمَة فَرقينَ! إِنَّهُ مَنْ وُسِّعَ عَلَيْه فِي ذَات يَده فَلَمْ يَرَ ذلكَ اسْتدْرَاجاً فَقَدْ أَمنَ مَخُوفاً، ومَنْ ضُيِّقَ عَلَيْه فِي ذَات يَده فَلَمْ يَرَ ذلكَ اخْتبَاراً فَقَدْ ضَيَّعَ مَأْمُولاً.

۳۵۹. وقَالَ عَلَيْه السَّلَامُ:

يَا أَسْرَى الرَّغْبَة أَقْصرُوا فَإِنَّ الْمُعَرِّجَ عَلَى الدُّنْيَا لاَ يَرُوعُهُ منْهَا إِلاَّ صَريفُ أَنْيَاب الْحدْثَان. أَيُّهَا النَّاسُ، تَوَلَّوا منْ أَنْفُسكُمْ تَأْديبَهَا، واعْدلُوا بهَا عَنْ ضَرَاوَة عَادَاتهَا.

۳٦۰. وقَالَ:

د خپل ژوند تر ټولو ډېر وخت ښځې او بچي ته مه ورکوه ځکه چې که ښځه او بچي دې د خداے له دوستانو وي خداے يې نۀ تباه کوي او که د خداے دښمنان وي نو ولې د خداے د دښمنانو په فکر کښې يې.

**(۳۵۳) تر ټولو لوے عېب**

تر ټولو لوے عېب دا دے چې هغه څه چې په خپله در کښې دي په نورو کښې يې عيب اوګڼې.

**(۳۵۴) د بچي په زوکړه (پېدائش) مبارکي ويل**

«د امامؑ په مخکې يو کس بل ته د بچي مبارکي داسې ووېله: د مېړني شهسوار زوکړه (پېدائش) دې مبارکه وي،امام وفرمايل:» داسې مه وايه! بلکه ووايه: د بخښونکي خداے شکر،او تا ته درکړے بچي دې مبارک شه، هيله ده چې لوے شي او له نېکيو يې برخمن شې.

**(۳۵۵) د ښايتوب او سرمايه دارۍ نښه**

«کله چې د امامؑ يو چاروال پرتمين او شانداره کور جوړ کړ نو امام هغۀ ته وفرمايل:» د سرو او سپينو سيکو سرونه ښکاره کړل، بې شکه ستا مجلله ودانۍ ستا د بې نيازي او سرمايه دارۍ ښودنه کوي .

**(۳۵۶) په رزق او اجل کښې د خداے قدرت**

«له امامه يې وپوښتل که د يو کس د کور دروازې په هغه بندې کړې شي روزي به يې له کومه راځي. وې فرمايل:» له هغه ځايه چې مرګ يې راځي.

**(۳۵۷) د تسليت او تعزيت ويلو روده**

«يو سړي ته يې د هغۀ د يو خپل په مرګ داسې تسليت او تعزيت ووايۀ:» مرګ له تا نۀ دے شروع شوے او په تا به هم ختم نۀ شي .دا ستا دوست به په سفر تلۀ اوس داسې اوګڼه چې په يو سفر تلے دے؛ که هغه راستون نۀ شي تۀ به هغۀ ته ورشې.

**(۳۵۸) د نعمتونو ذمه واري**

اے خلقو! بايد خداے تعالی تاسو د نعمت په وخت د سزا د وخت په شان وېرېدونکي اويني،ځکه چې څوک هوساينه او راحته د خپلې ښکېلېدو زمينه (سريزه) اونۀ ګڼي نو ځان له وېرونکو پېښو په امان کښې ګڼي او هغه کس چې تنګدستي د خداے ازمېښت اونۀ ګڼي هغه بدله چې هيله او اميد يې کېدۀ له لاسه ورکوي.

**(۳۵۹) د نفس روزنه**

اے د ارمانونو او ارزوګانو بنديانو! بس کړئ! ځکه چې د دنيا د مقاماتو خاوندان يواځې د زمانې د پېښې داړې وېرولې شي، اے خلقو! د خپل تربيت کار په خپله غاړه واخلئ او نفس له هغو عادتونو چې پرې روږدے دے اوګرځوئ.

**(۳۶۰) له بد ګمانۍ ډډه وکړئ**

لاَ تَظُنَّنَّ بِكَلِمَةٍ خَرَجَتْ مِنْ أَحَدٍ سُوءاً، وَأَنْتَ تَجِدُ لَهَا فِي الْخَيْرِ مُحْتَمَلاً.

٣٦١. وَقَالَ:

إِذَا كَانَتْ لَكَ إِلَى اللهِ سُبْحَانَهُ حَاجَةٌ فَابْدَأْ بِمَسْأَلَةِ الصَّلاَةِ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِه، ثُمَّ سَلْ حَاجَتَكَ، فَإِنَّ اللهَ أَكْرَمُ مِنْ أَنْ يُسْأَلَ حَاجَتَيْنِ، فَيَقْضِيَ إِحْدَاهُمَا وَيَمْنَعَ الأُخْرَى.

٣٦٢. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

مَنْ ضَنَّ بِعِرْضِهِ فَلْيَدَعِ الْمِرَاءَ.

٣٦٣. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

مِنَ الْخُرْقِ الْمُعَاجَلَةُ قَبْلَ الإِمْكَانِ، وَالأَنَاةُ بَعْدَ الْفُرْصَةِ.

٣٦٤. وَقَالَ:

لاَتَسْأَلْ عَمَّا لاَ يَكُونُ، فَفِي الَّذِي قَدْ كَانَ لَكَ شُغُلٌ.

٣٦٥. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

الْفِكْرُ مِرْآةٌ صَافِيَةٌ، وَالاعْتِبَارُ مُنْذِرٌ نَاصِحٌ، وَكَفَى أَدَباً لِنَفْسِكَ تَجَنُّبُكَ مَا كَرِهْتَهُ لِغَيْرِكَ.

٣٦٦. وَقَالَ:

الْعِلْمُ مَقْرُونٌ بِالْعَمَلِ فَمَنْ عَلِمَ عَمِلَ، وَالْعِلْمُ يَهْتِفُ بِالْعَمَلِ فَإِنْ أَجَابَهُ وَإِلاَّ ارْتَحَلَ.

٣٦٧. وَقَالَ:

يَا أَيُّهَا النَّاسُ، مَتَاعُ الدُّنْيَا حُطَامٌ مُوبِىءٌ فَتَجَنَّبُوا مَرْعَاهُ! قُلْعَتُهَا أَحْظَى مِنْ طُمَأْنِينَتِهَا، وَبُلْغَتُهَا أَزْكَى مِنْ ثَرْوَتِهَا، حُكِمَ عَلَى مُكْثِرٍ مِنْهَا بِالْفَاقَةِ، وَأُعِينَ مَنْ غَنِيَ عَنْهَا بِالرَّاحَةِ. مَنْ رَاقَهُ زِبْرِجُهَا أَعْقَبَتْ نَاظِرَيْهِ كَمَهاً، وَمَنِ اسْتَشْعَرَ الشَّغَفَ بِهَا مَلأَتْ ضَمِيرَهُ أَشْجَاناً، لَهُنَّ رَقْصٌ عَلَى سُوَيْدَاءِ قَلْبِهِ: هَمٌّ يَشْغَلُهُ، وَغَمٌّ يَحْزُنُهُ، كَذلِكَ حَتَّى يُؤْخَذَ بِكَظَمِهِ فَيُلْقَى بِالْفَضَاءِ، مُنْقَطِعاً أَبْهَرَاهُ، هَيِّناً عَلَى اللهِ فَنَاؤُهُ، وَعَلَى الإِخْوَانِ إِلْقَاؤُهُ. وَإِنَّمَا يَنْظُرُ الْمُؤْمِنُ إِلَى الدُّنْيَا بِعَيْنِ الاعْتِبَارِ، وَيَقْتَاتُ مِنْهَا بِبَطْنِ الاضْطِرَارِ، وَيَسْمَعُ فِيهَا بِأُذُنِ الْمَقْتِ وَالإِبْغَاضِ، إِنْ قِيلَ أَثْرَى قِيلَ أَكْدَى!

ښه نۀ ده چې په يوې خبرې چې د يو کس له خولې وتلې وي بدګماني وکړې، ځکه چې په هغې ښۀ ګمان هم کېدې شي.

**(۳۶۱) له خدايه د غوښتلو طريقه**

کله چې له سبحان خدايه سوال کوې اول بې په رسولﷺ درود ووايه، بيا خپل حاجت بيان کړه، ځکه چې خدا ے تعالی تر دې لوړ او بالاتر د ے چې دوه غوښتنې ترې وکړې شي او يوه پوره کړي او بله پوره نۀ کړي.

**(۳۶۲) له مجادلې او جنجاله ځان غړوئ**

څوک چې په خپل عزت ويرېږي له جنجاله دې ډډه کوي.

**(۳۶۳) د بې عقلۍ نښه**

د يو کار د وس له پېدا کېدو مخکې بيړه کول او د فرصت له لاسته راوړلو وروسته سستي کول بې عقلي ده.

**(۳۶۴) د پوښتنې ځا ے**

د هغه څه چې نۀ دي شوي پوښتنه مه کوه ځکه چې هغه څه چې شوي دي ستا د مشغولتيا لپاره کافي دي.

**(۳۶۵) اخلاقي ارزښت**

فکر کول رڼه هنداره ده او له پېښو عبرت اخېستل پندناک ويرؤنکے،او د نفس په ادبولو کښې تا ته همدومره بس ده چې له هغه څه چې د نورو لپاره بې نۀ خوښوې ډډه وکړې.

**(۳۶۶) د علم او عمل غړملتيا**

علم او عمل نزدې تعلق لري او څوک چې په يوه خبره پوه شو بايد عمل پرې وکړي ځکه چې علم عمل غواړي که عمل ځواب ورکړي پاتې کېږي که نه وي ځي.

**(۳۶۷) له دنيا سره د سلوک روده**

ا ے خلقو! د دنيا مال د وبا وهلو اوچو پاڼو په شان د ے، نو، له څړ ځايه يې لرې اوسئ،ځکه چې له هغه زړۀ صبرول په هغه تر ډاډه کېدو خوندور دي، او له دنيا په اندازه اخېستل د پرېمانه پانګې تر غونډولو غوره دي. هغه کس چې له دنيا بې ډېره واخېسته فقيرېږي، او چا چې ځان له هغه بې نيازه کړ سوکاله د ے،او د چا سترګې چې د دنيا سينګار اوبرېښوي زړۀ بې ړنديږي، او چا چې له حرامې دنيا سره مينه وکړه، زړۀ بې له غمه ډک شو او غم او خفګان بې په زړۀ کښې اوځغلېدۀ، چې له يوې خوا بې مشغول کړي او له بلې خوا بې پرېږدي، تر دې چې مرۍ بې خپه کړي او په يو ګوټ کښې مړ شي.د ژوند رګونه بې غوڅ شي او تباه کول بې خدا ے ته آسانه دي، او ښخول بې دوستانو ته راحت دي. خو مومن د عبرت په سترګه دنيا ته ګوري، او له دنيا د ضرورت په اندازه اخلي. او د دنيا خبره د دښمن په غوږو اوري،ځکه چې څنګه ووائي چې شتمن شو، سملاسي وائي چې بېوزله شو، او څنګه چې په ژوند کښې

وَإِنْ فَرِحَ لَهُ بِالْبَقَاءِ حَزِنَ لَهُ بِالْفَنَاءِ! هذَا وَلَمْ يَأْتِهِمْ يَوْمٌ فِيهِ يُبْلِسُونَ.

بناد شي د مرګ په رارسېدلو سره غمجن شي. او دا غم هيڅ نۀ دے، ځکه چې د پرېشانۍ او نااميدۍ ورځه لا نۀ ده راغلې.

٣٦٨. وَقَالَ:

إِنَّ اللهَ سُبْحَانَهُ وَضَعَ الثَّوَابَ عَلَى طَاعَتِهِ وَالْعِقَابَ عَلَى مَعْصِيَتِهِ ذِيَادَةً لِعِبَادِهِ عَنْ نِقْمَتِهِ وَحِيَاشَةً لَهُمْ إِلَى جَنَّتِهِ.

## (٣٦٨) د سزا او جزا فلسفه

بې شکه خداے پاک جزا (اجر) په اطاعت او سزا په سرغړونې وټاکله، چې بندګان يې له عذابه اوژغوري او جنت ته يې بوځي.

٣٦٩. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

يَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ لَا يَبْقَى فِيهِمْ مِنَ الْقُرْآنِ إِلَّا رَسْمُهُ، وَمِنَ الْإِسْلَامِ إِلَّا اسْمُهُ، مَسَاجِدُهُمْ يَوْمَئِذٍ عَامِرَةٌ مِنَ الْبُنَى، خَرَابٌ مِنَ الْهُدَى، سُكَّانُهَا وَعُمَّارُهَا شَرُّ أَهْلِ الْأَرْضِ، مِنْهُمْ تَخْرُجُ الْفِتْنَةُ، وَإِلَيْهِمْ تَأْوِي الْخَطِيئَةُ، يَرُدُّونَ مَنْ شَذَّ عَنْهَا فِيهَا، وَيَسُوقُونَ مَنْ تَأَخَّرَ عَنْهَا إِلَيْهَا، يَقُولُ اللهُ تَعَالَى: فَبِي حَلَفْتُ لَأَبْعَثَنَّ عَلَى أُولَئِكَ فِتْنَةً أَتْرُكُ الْحَلِيمَ فِيهَا حَيْرَانَ، وَقَدْ فَعَلَ، وَنَحْنُ نَسْتَقِيلُ اللهَ عَثْرَةَ الْغَفْلَةِ.

## (٣٦٩) د راتلونکي خبر

په خلقو به داسې زمانه راشي چې له قرآنه به يواځې نښه او له اسلامه به يواځې نامه پاتې وي، په هغه مهال به د هغوي جوماتونه آباد خو هدايت به يې برباد وي. جومات مېشته او د جوماتونو د پرتمينو او شاندارو ودانيو جوړوونکي به يې د ځمکې تر ټولو بد خلق وي چې د هرې فتنې جرړه او د هرې خطا مرکز به وي، هر څوک چې له فتنې ډډې ته وي فتنې ته به يې ستانۀ کړي او څوک چې له فتنې شاته پاتې وي فتنو ته به يې اوکشوي، چې خداے فرمائي: «په ځان مې قسم په هغوي به داسې فتنه وګمارم چې صابر انسان پکښې لالهانده پاتې شي!» او داسې يې کړي دي او مونږ له خدايه غواړو چې زمونږ د غفلتونو له لغزشونو تېر شي.

٣٧٠. وَرُوِيَ أَنَّهُ قَلَّمَا اعْتَدَلَ بِهِ الْمِنْبَرُ إِلَّا قَالَ أَمَامَ خُطْبَتِهِ:

أَيُّهَا النَّاسُ، اتَّقُوا اللهَ، فَمَا خُلِقَ امْرُؤٌ عَبَثاً فَيَلْهُو، وَلَا تُرِكَ سُدًى فَيَلْغُوَ! وَمَا دُنْيَاهُ الَّتِي تَحَسَّنَتْ لَهُ بِخَلَفٍ مِنَ الْآخِرَةِ الَّتِي قَبَّحَهَا سُوءُ النَّظَرِ عِنْدَهُ، وَمَا الْمَغْرُورُ الَّذِي ظَفِرَ مِنَ الدُّنْيَا بِأَعْلَى هِمَّتِهِ كَالْآخَرِ الَّذِي ظَفِرَ مِنَ الْآخِرَةِ بِأَدْنَى سُهْمَتِهِ.

## (٣٧٠) د تقوا ضرورت

«نقل شوي ده چې اميرالمومنين به ډېرکم په منبر کښيناستۀ تر څو چې دا وينا به يې نۀ وه ويلې:» اے خلقو! له خدايه ووېرېږئ هيڅوک چتې نۀ دے پېدا شوے چې لوبې وکړي، او هغه يې په خپل حال نۀ دے پرېښے چې ځان په چتې او فضول کارونو مشغول کړي،او دنيا چې په سترګو ښکلې لګېږي، د هغه آخرت ځاے نۀ شي نيولې چې دوي يې بدرنګ ګڼي، او هغه مغرور (غولېدلے) چې په دنيا کښې تر ټولو لوړ مقام ته رسېدلے دے د هغه چا په شان نۀ دے چې په قيامت کښې ډېره کمه ونډه لري.

٣٧١. وَقَالَ:

لَا شَرَفَ أَعْلَى مِنَ الْإِسْلَامِ، وَلَا عِزَّ أَعَزُّ مِنَ التَّقْوَى، وَلَا مَعْقِلَ أَحْصَنُ مِنَ الْوَرَعِ، لَا شَفِيعَ أَنْجَحُ مِنَ التَّوْبَةِ، وَلَا كَنْزَ أَغْنَى مِنَ الْقَنَاعَةِ، وَلَا مَالَ أَذْهَبُ لِلْفَاقَةِ مِنَ الرِّضَى بِالْقُوتِ، وَمَنِ اقْتَصَرَ عَلَى بُلْغَةِ الْكَفَافِ فَقَدِ انْتَظَمَ الرَّاحَةَ، وَتَبَوَّأَ خَفْضَ الدَّعَةِ. وَالرَّغْبَةُ مِفْتَاحُ النَّصَبِ، وَمَطِيَّةُ التَّعَبِ. وَالْحِرْصُ وَالْكِبْرُ وَالْحَسَدُ دَوَاعٍ إِلَى التَّقَحُّمِ فِي الذُّنُوبِ. وَالشَّرُّ جَامِعُ مَسَاوِئِ الْعُيُوبِ.

## (٣٧١) اخلاقي ملغلرې

هيڅ شرافت له اسلامه لوړ، هيڅ عزت له تقوا عزتمن، هيڅ مورچه له پرهېزګارۍ ښکلې، هيڅ شفاعت کوونکے له توبې کارنده، هيڅ خزانه له قناعته بې نيازه کوونکې او هيڅ مال د فقر په ختمولو کښې په خپلې روزۍ له رضايته زيات کارسازه نۀ دے.

او څوک چې له دنيا د خپل ژوند د کفايت په اندازه واخلي هوسا او سوکاله به شي او زړۀ به يې قرار اومومي،حال دا چې دنيا پرستي د سختۍ کنجي، او د کړاؤ او مصيبت سپرلۍ او مرکب دے، او حرص، کبر او حسد په ګناهانو کښې د بې پروائۍ سبب دي او شر د ټولو عيبونو برابر او بشپړوونکے دے.

٣٧٢. قَالَ لِجَابِرِ بْنِ عَبْدِاللهِ الأَنْصَارِيِّ:

**يَا جَابِرُ، قِوَامُ الدِّينِ وَ الدُّنْيَا بِأَرْبَعَةٍ: عَالِمٍ مُسْتَعْمِلٍ عِلْمَهُ، وَجَاهِلٍ لاَ يَسْتَنْكِفُ أَنْ يَتَعَلَّمَ، وَجَوَادٍ لاَ يَبْخَلُ بِمَعْرُوفِهِ، وَفَقِيرٍ لاَ يَبِيعُ آخِرَتَهُ بِدُنْيَاهُ؛ فَإِذَا ضَيَّعَ الْعَالِمُ عِلْمَهُ اسْتَنْكَفَ الْجَاهِلُ أَنْ يَتَعَلَّمَ، وَإِذَا بَخِلَ الْغَنِيُّ بِمَعْرُوفِهِ بَاعَ الْفَقِيرُ آخِرَتَهُ بِدُنْيَاهُ. يَا جَابِرُ، مَنْ كَثُرَتْ نِعَمُ اللهِ عَلَيْهِ كَثُرَتْ حَوَائِجُ النَّاسِ إِلَيْهِ، فَمَنْ قَامَ للهِ فِيهَا بِمَا يَجِبُ عَرَّضَهَا لِلدَّوَامِ وَالْبَقَاءِ، وَمَنْ لَمْ يَقُمْ للهِ فِيهَا بِمَا يَجِبُ عَرَّضَهَا لِلزَّوَالِ وَالْفَنَاءِ.**

٣٧٣. وَرَوَى ابْنُ جَرِيرٍ الطَّبَرِيُّ فِي تَارِيخِهِ عَنْ عَبْدِالرَّحْمنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى الْفَقِيهِ، وَكَانَ مِمَّنْ خَرَجَ لِقِتَالِ الْحَجَّاجِ مَعَ ابْنِ الأَشْعَثِ، أَنَّهُ قَالَ فِيمَا كَانَ يَحُضُّ بِهِ النَّاسَ عَلَى الْجِهَادِ: إِنِّي سَمِعْتُ عَلِيّاً عَلَيْهِ السَّلاَمُ -رَفَعَ اللَّهُ دَرَجَتَهُ فِي الصَّالِحِينَ وَ أَثَابَهُ ثَوَابَ الشُّهَدَاءِ وَ الصِّدِّيقِينَ- يَقُولُ يَوْمَ لَقِينَا أَهْلَ الشَّامِ:

**أَيُّهَا الْمُؤْمِنُونَ، إِنَّهُ مَنْ رَأَى عُدْوَاناً يُعْمَلُ بِهِ وَمُنْكَراً يُدْعَى إِلَيْهِ، فَأَنْكَرَهُ بِقَلْبِهِ فَقَدْ سَلِمَ وَبَرِئَ، وَمَنْ أَنْكَرَهُ بِلِسَانِهِ فَقَدْ أُجِرَ وَهُوَ أَفْضَلُ مِنْ صَاحِبِهِ، وَمَنْ أَنْكَرَهُ بِالسَّيْفِ لِتَكُونَ كَلِمَةُ اللهِ هِيَ الْعُلْيَا وَكَلِمَةُ الظَّالِمِينَ السُّفْلَى، فَذلِكَ الَّذِي أَصَابَ سَبِيلَ الْهُدَى، وَقَامَ عَلَى الطَّرِيقِ، وَنَوَّرَ فِي قَلْبِهِ الْيَقِينُ.**

٣٧٤. وَقَدْ قَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ فِي كَلاَمٍ غَيْرِ هذَا يَجْرِي هذَا الْمَجْرَى:

**فَمِنْهُمُ الْمُنْكِرُ لِلْمُنْكَرِ بِيَدِهِ وَلِسَانِهِ وَقَلْبِهِ فَذلِكَ الْمُسْتَكْمِلُ لِخِصَالِ الْخَيْرِ، وَمِنْهُمُ الْمُنْكِرُ بِلِسَانِهِ وَقَلْبِهِ وَالتَّارِكُ بِيَدِهِ فَذلِكَ مُتَمَسِّكٌ بِخَصْلَتَيْنِ مِنْ خِصَالِ الْخَيْرِ وَمُضَيِّعٌ خَصْلَةً، وَمِنْهُمُ الْمُنْكِرُ بِقَلْبِهِ وَالتَّارِكُ بِيَدِهِ وَلِسَانِهِ فَذلِكَ الَّذِي ضَيَّعَ أَشْرَفَ الْخَصْلَتَيْنِ مِنَ الثَّلاَثِ وَتَمَسَّكَ بِوَاحِدَةٍ، وَمِنْهُمْ تَارِكٌ لإِنْكَارِ الْمُنْكَرِ بِلِسَانِهِ وَقَلْبِهِ وَيَدِهِ فَذلِكَ مَيِّتُ الأَحْيَاءِ. وَمَا أَعْمَالُ الْبِرِّ كُلُّهَا وَالْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللهِ، عِنْدَ الأَمْرِ بِالْمَعْرُوفِ وَالنَّهْيِ عَنِ الْمُنْكَرِ، إِلاَّ كَنَفْثَةٍ فِي بَحْرٍ لُجِّيٍّ، وَإِنَّ الأَمْرَ بِالْمَعْرُوفِ وَالنَّهْيَ**

### (۳۷۲) د دين او دنيا مضبوطيه

«حضرت جابر بن عبدالله انصاري ته يې وفرمايل:»اې جابره! د دين او دنيا ټينګتيا په څلورو شيزونو ده: هغه عالم چې په خپل علم عمل وکړي، هغه جاهل چې له زده کړې ډډه اونۀ کړي،هغه بخښونکې چې په ښندنې او ورکړه کښې شومتوب اونۀ کړي، او هغه فقير چې آخرت په دنيا خرڅ نۀ کړي. نو هر کله چې عالم خپل علم تباه کړي نو ناپوهان علم ته نۀ مخه کوي او هرکله چې بې نياز او سرمايه دار په ورکړه کښې شومتوب وکړي نو بېوزله او غريب خپل آخرت په دنيا خرڅ کړي. اې جابره! چاته چې د خداے پرېمانه نعمتونه مخه کړي د خلقو پرېمانه اړتياوې او ضرورتونه هم ورته مخه کړي، نو که د نعمت خاوند واجب الهي حقوق ادا کړي، خداے تعالى پرې نعمتونه تل پاتې کړي، او هغه کس چې په نعمتونو کښې د خداے پاک واجب حقوق ادا نۀ کړي، خداے تعالى يې زوال او تباهي ته کش کړي.

### (۳۷۳) د امر بالمعروف او نهي عن المنکر پړاوونه

«ابن جرير طبري په خپل تاريخ کښې له عبدالرحمان بن ابي ليلى فقيه څخه نقل کړي دي چې هغه (عبدالرحمان) له حجاج سره د مقابلې لپاره د اشعث مرستې ته پاڅېدۀ،د خلقو د هڅولو لپاره يې وويل: ما له علي‌عليه‌السلام چې خداے يې درجې په صالحانو کښې لوړې کړه، او د شهيدانو او صديقانو ثواب ورکانده په داسې حال کښې چې مونږ له شاميانو سره مخامخ شوو واوربدل چې وې فرمايل:» اې مومنانو چا چې تېرے او زياتے اوليدۀ او منکر ته د بلنې کتونکے وي، او په زړۀ کښې د هغۀ انکار وکړي ځان يې له ککړتيا ساتلے دے، او څوک چې په ژبه د منکر انکار وکړي بدله به يې بيا مومي،او تر وړومبي کس غوره دے، او څوک چې په توري سره له منکره منع وکړي چې د خداے کلام لوړ او د ظالمانو خبره ټيټه شي، هغه د ژغورنې لاره موندلې او د يقين رڼا يې په زړۀ کښې ځليدلې ده.

### (۳۷۴) د کړ مکر پړاوونه

«همدا شان له هغه حضرته نقل شوي دي چې وې فرمايل:» ځينې کسان په لاس خولې او زړۀ سره د منکر انکار کوي، هغوي ټول نېک خويونه په ځان کښې جمع کړي دي، ځينې نور په ژبې او زړۀ سره د منکر انکار کوي خو له لاسه کار نۀ اخلي،نو دغه کس له نېکو خصلتونو دوه خصلتونه خپل کړي دي او دريم خصلت يې تباه کړے دے. او ځينې يوائې په زړۀ د منکر انکار کوي او په ژبه او لاسونو اقدام نۀ کوي، نو دوه خصلتونه يې تباه کړي او يوائې يو يې لاسته راوړے دے او چا چې په لاسونو ژبې او زړۀ سره له منکره نهي کول پرېښي دي دغه کس په ژونديو کښې د مړي په شان دے. او ټول نېک کارونه او د خداے په لاره کښې جهاد د امر بالمعروف او نهي عن المنکر په پرتله داسې دي لکه د څپانده سمندر د پاسه چې يوڅاڅکى وي او بې له شکه کړ مکر

عَنِ الْمُنكَرِ لاَ يُقَرِّبَانِ مِنْ أَجَلٍ، وَلاَ يَنْقُصَانِ مِنْ رِزْقٍ، وَأَفْضَلُ مِنْ ذلِكَ كُلِّهِ كَلِمَةُ عَدْلٍ عِنْدَ إِمَامٍ جَائِرٍ.

۳۷۵. وَعَنْ أَبِي جُحَيْفَةَ قَالَ: سَمِعْتُ أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ يَقُولُ:

أَوَّلُ مَا تُغْلَبُونَ عَلَيْهِ مِنَ الْجِهَادِ الْجِهَادُ بِأَيْدِيكُمْ، ثُمَّ بِأَلْسِنَتِكُمْ، ثُمَّ بِقُلُوبِكُمْ؛ فَمَنْ لَمْ يَعْرِفْ بِقَلْبِهِ مَعْرُوفاً، وَلَمْ يُنْكِرْ مُنْكَراً، قُلِبَ فَجُعِلَ أَعْلاَهُ أَسْفَلَهُ، وَأَسْفَلُهُ أَعْلاَهُ.

۳۷۶. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

إِنَّ الْحَقَّ ثَقِيلٌ مَرِيءٌ، وَإِنَّ الْبَاطِلَ خَفِيفٌ وَبِيءٌ.

۳۷۷. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

لاَ تَأْمَنَنَّ عَلَى خَيْرِ هذِهِ الْأُمَّةِ عَذَابَ اللهِ، لِقَوْلِهِ تَعَالَى: فَلاَ يَأْمَنُ مَكْرَ اللهِ إِلاَّ الْقَوْمُ الْخَاسِرُونَ. وَلاَ تَيْأَسَنَّ لِشَرِّ هذِهِ الْأُمَّةِ مِنْ رَوْحِ اللهِ، لِقَوْلِهِ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى: إِنَّهُ لاَ يَيْأَسُ مِنْ رَوْحِ اللهِ إِلاَّ الْقَوْمُ الْكَافِرُونَ.

۳۷۸. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

الْبُخْلُ جَامِعٌ لِمَسَاوِئِ الْعُيُوبِ، وَهُوَ زِمَامٌ يُقَادُ بِهِ إِلَى كُلِّ سُوءٍ.

۳۷۹. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

الرِّزْقُ رِزْقَانِ: رِزْقٌ تَطْلُبُهُ، وَرِزْقٌ يَطْلُبُكَ، فَإِنْ لَمْ تَأْتِهِ أَتَاكَ، فَلاَ تَحْمِلْ هَمَّ سَنَتِكَ عَلَى هَمِّ يَوْمِكَ! كَفَاكَ كُلُّ يَوْمٍ مَا فِيهِ، فَإِنْ تَكُنِ السَّنَةُ مِنْ عُمُرِكَ فَإِنَّ اللهَ تَعَالَى سَيُؤْتِيكَ فِي كُلِّ غَدٍ جَدِيدٍ مَا قَسَمَ لَكَ، وَإِنْ لَمْ تَكُنِ السَّنَةُ مِنْ عُمُرِكَ فَمَا تَصْنَعُ بِالْهَمِّ لِمَا لَيْسَ لَكَ، وَلَنْ يَسْبِقَكَ إِلَى رِزْقِكَ طَالِبٌ، وَلَنْ يَغْلِبَكَ عَلَيْهِ غَالِبٌ، وَلَنْ يُبْطِئَ عَنْكَ مَا قَدْ قُدِّرَ لَكَ.

۳۸۰. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

رُبَّ مُسْتَقْبِلٍ يَوْماً لَيْسَ بِمُسْتَدْبِرِهِ، وَمَغْبُوطٍ فِي أَوَّلِ لَيْلِهِ قَامَتْ بَوَاكِيهِ فِي آخِرِهِ.

(امر بالمعروف او نهي عن المنكر) نۀ اجل نزدې کوي او نۀ روزي کموي او تر دغو ټولو لوړ د ظالم واکمن په وړاندې د حق خبره کول دي.

### (۳۷۵) په جنګ کښې د ماتې پړاوونه

«له ابو جحيفه نقل شوي دي وې ويل: له اميرالمومنينه مې واورېدل چې وې فرمايل: » د جهاد وړومبۍ مرحله چې پاتې پکې راځئ، په لاسونو جهاد، وروسته په ژبه جهاد او بيا ستاسو په زړونو جهاد دے؛نو که څوک په زړۀ سره معروف اونۀ ستائي او د منکر انکار اونۀ کړي زړۀ يې پړمخې شوے دے لاندې به يې باندې او باندې به يې لاندې شي

### (۳۷۶) د حق او باطل انجام

حق دروند خو خوږ دے او باطل سپک خو وژونکے دے.

### (۳۷۷) د خدا ے له عذابه د ويرېدو ضرورت

د دې امت تر ټولو غوره کسان هم د خدا ے له عذابه په امان مۀ ګڼئ، ځکه چې لوے خدا ے وفرمايل:«د خدا ے له عذابه په امان کښې نۀ دي مګر تاواني کسان» او د دې امت په ډېرو بدو کسانو هم د خدا ے له رحمته مه نااميده کېږئ ځکه چې لوے خدا ے وفرمايل: «بې له شکه د خدا ے له رحمته نۀ نااميده کېږي مګر کافران»

### (۳۷۸) د شومتوب بدې نتيجې

شومتوب او بخل د ټولو عيبونو مرکز دے او داسې جلب دے چې انسان هرې بدۍ ته راکاږي.

### (۳۷۹) د روزۍ قسمونه او له حرصه ډډه کول

اے د آدم بچيه! رزق او روزي په دوه ډوله ده يوه هغه روزي چې ته يې لټوې او بله هغه چې تا لټوي،چې ورپسې ورنۀ شې په تا پسې راځي نو د خپل کال غم په نن ورځې مه ورزياتوه ځکه چې د هرې ورځې د غم لړې کول ستا لپاره بس دي. که راتلونکے کال ستا په عمر کښې شمېر وي بې شکه چې لوے خدا ے به هره ورځ ستا ونډه درکړي، او که په عمر کښې دې شمېر نۀ وي نو ولې يې غم خورې. ځکه چې هيڅ لټونکے ستا د برخې په اخيستلو کښې له تا نۀ شي مخکې کېدې او برکېدونکے په تا باندې نۀ شي بر کېدې،او څه چې ستا لپاره ټاکل شوي دي بې له کمي او زياتي دررسېږي.

### (۳۸۰) مرګ مه هېروه

څومره ډېر داسې کسان وو چې د ورځې په شروع کښې وو خو ماښام ته اونۀ رسېدل او څومره ډېر داسې کسان وو چې د شپې په شروع کښې پرې خلقو رشک کوۀ او د شپې په آخر کښې يې ويرجن په غم کښيناستل.

۳۸۱. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

الْكَلاَمُ فِي وَثَاقِكَ مَا لَمْ تَتَكَلَّمْ بِهِ، فَإِذَا تَكَلَّمْتَ بِهِ صِرْتَ فِي وَثَاقِهِ، فَاخْزُنْ لِسَانَكَ كَمَا تَخْزُنُ ذَهَبَكَ وَوَرِقَكَ، فَرُبَّ كَلِمَةٍ سَلَبَتْ نِعْمَةً [وَجَلَبَتْ نِقْمَةً].

(۳۸۱) خپله ژبه هم کلا ده هم بلا ده

خبره ستا په بند کښې ده تر څو چې یې اونۀ کړې، او کله چې دې وکړه بیا یې ته په بند کښې یې. نو ژبه دې او ساته لکه څرنګه چې دې سرۀ زر او سپین زر خوندي ساتې. څومره ډېر داسې شوي دي چې یوې خبرې یو نعمت جلب کړے دے او یا یې لرې کړے دے.

۳۸۲. وَقَالَ:

لاَ تَقُلْ مَا لاَ تَعْلَمُ، [بَلْ لاَ تَقُلْ كُلَّ مَا تَعْلَمُ، ]فَإِنَّ اللهَ سبحانه قد فَرَضَ عَلَى جَوَارِحِكَ كُلِّهَا فَرَائِضَ يَحْتَجُّ بِهَا عَلَيْكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ.

(۳۸۲) د چپتیا ارزښت

په څه چې نۀ یې خبر مه یې وایه بلکه ټول هغه څه هم مه وایه چې خبر یې پرې، ځکه چې لوے خداے ستا د بدن په غړیو او اندامونو باندې ځینې ځیزونه فرض کړي دي چې له هغو به د قیامت په ورځ ستا په خلاف حجت راوړي.

۳۸۳. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

احْذَرْ أَنْ يَرَاكَ اللهُ عِنْدَ مَعْصِيَتِهِ، وَيَفْقِدَكَ عِنْدَ طَاعَتِهِ، فَتَكُونَ مِنَ الْخَاسِرِينَ، وَإِذَا قَوِيتَ فَاقْوَ عَلَى طَاعَةِ اللهِ، وَإِذَا ضَعُفْتَ فَاضْعُفْ عَنْ مَعْصِيَةِ اللهِ.

(۳۸۳) د بندګۍ او اطاعت هڅه

اویرېږه له دې چې خداے تعالیٰ تا د ګناهانو په وخت ووینې او په خپل اطاعت کښې دې اونۀ مومي نو له تاوانیانو به یې. کله چې توانمند شوې نو د خداے په اطاعت کښې دې طاقت استعمال کړه او کله چې بې وسه او بې توانه شوې نو د خداے په نافرمانۍ کښې دې بې وسي وکاروه.

۳۸۴. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ: الرُّكُونُ إِلَى الدُّنْيَا مَعَ مَا تُعَايِنُ مِنْهَا جَهْلٌ، وَالتَّقْصِيرُ فِي حُسْنِ الْعَمَلِ إِذَا وَثِقْتَ بِالثَّوَابِ عَلَيْهِ غَبْنٌ، وَالطُّمَأْنِينَةُ إِلَى كُلِّ أَحَدٍ قَبْلَ الاخْتِبَارِ عَجْزٌ.

(۳۸۴) د ژوند روده

په دنیا قرار موندل او ورته ګروهنه پیدا کول په داسې حال کښې چې ناپائیداري یې لیدل کېږي، ناپوهي ده، او د نیکۍ په ثواب له یقین سره سره په هغو کښې لټي، نقصان دے. او د کسانو له ازمائلو مخکې ډاډ پیدا کول عجز او ناتواني ده.

۳۸۵. وَقَالَ:

مِنْ هَوَانِ الدُّنْيَا عَلَى اللهِ أَنَّهُ لاَ يُعْصَى إِلاَّ فِيهَا، وَلاَ يُنَالُ مَا عِنْدَهُ إِلاَّ بِتَرْكِهَا.

(۳۸۵) دنیا پېژندنه

د خداے په نزد د دنیا د خوارۍ او ذلت لپاره همدومره بس ده چې یواځې په دنیا کښې د خداے پاک نافرماني کېږي او یواځې د دنیا په پرېښودلو سره الهي بدلې او ثواب ته رسېدل کېدې شي.

۳۸۶. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

مَنْ طَلَبَ شَيْئاً نَالَهُ أَوْ بَعْضَهُ.

(۳۸۶) چې غوښې پسې وهې په لاس به درشي

د یو ځیز لټوونکے هغه ځیز ته یا یې څه برخې ته رسېږي.

۳۸۷. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

مَا خَيْرٌ بِخَيْرٍ بَعْدَهُ النَّارُ، وَمَا شَرٌّ بِشَرٍّ بَعْدَهُ الْجَنَّةُ، وَكُلُّ نَعِيمٍ دُونَ الْجَنَّةِ مَحْقُورٌ، كُلُّ بَلاَءٍ دُونَ النَّارِ عَافِيَةٌ.

(۳۸۷) نیکي او بدي او پېژنۀ

هغه خیر چې ورپسې اور وي خیر نۀ دے او هغه شر چې ورپسې جنت وي شر نۀ دے. او هر نعمت بې جنته هیڅ دے، هره بلا بې دوزخه عافیت دے.

۳۸۸. وَقَالَ:

أَلاَ وَإِنَّ مِنَ الْبَلاَءِ الْفَاقَةَ، وَأَشَدُّ مِنَ الْفَاقَةِ مَرَضُ الْبَدَنِ، وَأَشَدُّ مِنْ مَرَضِ الْبَدَنِ مَرَضُ الْقَلْبِ. أَلاَ وَإِنَّ مِنْ صِحَّةِ الْبَدَنِ تَقْوَى الْقَلْبِ.

(۳۸۸) فقر (مفلسي) او سلامتیا

پوه شئ چې هر فقر او تنګلاسي یو ډول بلا ده. او له تنګلاسۍ سخته د بدن بیماري ده او د بدن له بیمارۍ سخته د زړۀ بیماري ده. پوه شئ چې د سلامتیا عامل هماغه د زړۀ تقوا ده.

۳۸۹. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

مَنْ أَبْطَأَ بِهِ عَمَلُهُ لَمْ يُسْرِعْ بِهِ نَسَبُهُ.

وفي رواية أُخرى: مَنْ فَاتَهُ حَسَبُ نَفْسِهِ لَمْ يَنْفَعْهُ حَسَبُ آبَائِهِ.

۳۹۰. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

لِلْمُؤْمِنِ ثَلَاثُ سَاعَاتٍ: فَسَاعَةٌ يُنَاجِي فِيهَا رَبَّهُ، وَسَاعَةٌ يَرُمُّ مَعَاشَهُ، وَسَاعَةٌ يُخَلِّي بَيْنَ نَفْسِهِ وَبَيْنَ لَذَّتِهَا فِيمَا يَحِلُّ وَيَجْمُلُ. وَلَيْسَ لِلْعَاقِلِ أَنْ يَكُونَ شَاخِصاً إِلاَّ فِي ثَلَاثٍ: مَرَمَّةٍ لِمَعَاشٍ، أَوْ خُطْوَةٍ فِي مَعَادٍ، أَوْ لَذَّةٍ فِي غَيْرِ مُحَرَّمٍ.

۳۹۱. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

ازْهَدْ فِي الدُّنْيَا يُبَصِّرْكَ اللهُ عَوْرَاتِهَا، وَلَا تَغْفُلْ فَلَسْتَ بِمَغْفُولٍ عَنْكَ!

۳۹۲. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

تَكَلَّمُوا تُعْرَفُوا، فَإِنَّ الْمَرْءَ مَخْبُوءٌ تَحْتَ لِسَانِهِ.

۳۹۳. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

خُذْ مِنَ الدُّنْيَا مَا أَتَاكَ، وَتَوَلَّ عَمَّا تَوَلَّى عَنْكَ، فَإِنْ أَنْتَ لَمْ تَفْعَلْ فَأَجْمِلْ فِي الطَّلَبِ.

۳۹۴. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

رُبَّ قَوْلٍ أَنْفَذُ مِنْ صَوْلٍ.

۳۹۵. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

كُلُّ مُقْتَصَرٍ عَلَيْهِ كَافٍ.

۳۹۶. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

الْمَنِيَّةُ وَلَا الدَّنِيَّةُ! وَالتَّقَلُّلُ وَلَا التَّوَسُّلُ، وَمَنْ لَمْ يُعْطَ قَاعِداً لَمْ يُعْطَ قَائِماً، وَالدَّهْرُ يَوْمَانِ: يَوْمٌ لَكَ، وَيَوْمٌ عَلَيْكَ؛ فَإِذَا كَانَ لَكَ فَلَا تَبْطَرْ، وَإِذَا كَانَ عَلَيْكَ فَاصْبِرْ!.

۳۹۷. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

نِعْمَ الطِّيبُ الْمِسْكُ، خَفِيفٌ مَحْمِلُهُ، عَطِرٌ رِيحُهُ.

۳۹۸. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

**(۳۸۹) خپل عمل د لارې مل**

څوک چې په خپل عمل سره کوم ځای ته اونهٔ رسېږي د کورنۍ سترتوب يې مقام ته نهٔ شي رسولې. «په يو بل ځای کښې يې وفرمايل» څوک چې خپل ارزښت له لاسه ورکړي د کورنۍ لوړے والے يې په کار نهٔ شي راتلې.

**(۳۹۰) هر کار په پلان سره پکار دے**

مومن بايد شواروز په درېو برخو اوېشي:يوه برخه د خدای د عبادت او مناجاتو لپاره، بله برخه د ژوند د خرچونو د پوره کولو لپاره او دريمه برخه هغو خوندونو ته د نفس د هڅولو لپاره چې حلال او د ښکلا سبب دي. له هوښيار سره نهٔ ښائي مګر دا چې په دريو څيزونو پسې تګ وکړي: د ژوند د چارو د پوره کولو لپاره حلاله روزي،يا د آخرت په لاره کښې ګام کېښودل، يا د حلالو خوندونو حاصلول.

**(۳۹۱) د حرامو او د غفلت د پرېښودلو ضرورت**

د دنيا له حرامو سترګې پټې کړه چې خدای به يې درته بدۍ او بدرنګۍ وښيي او غافله کېږه مه چې يوه شيبه له تا هم غفلت اونهٔ شي.

**(۳۹۲) د انسان د پېژندلو روده**

خبره وکړئ چې اوپېژندل شئ، ځکه چې انسان تر خپلې ژبې لاندې پټ دے.

**(۳۹۳) له دنيا سره چلند**

له دنيا هومره چې دررسېږي واخله او څه چې درته شا کړي مخ ترې واړوه او که دا کار اونهٔ کړې شې د دنيا په لټون کښې ښهٔ څيزونه ولټوه.

**(۳۹۴) د خبرې ارزښت**

ډېرې داسې خبرې شته چې تر وسله والې حملې زياتې کارنده دي.

**(۳۹۵) د قناعت ارزښت**

هر څومره چې بسنه او قناعت وکړې کافي دے.

**(۳۹۶) د ښهٔ ژوند لاره**

مرګ، ذلت ته له غاړې کېښودلو غوره دے، او په لږه بسنه کول خلقو ته د لاس له اوږدولو غوره دي.که په خپل ځای ناست انسان ته (په کوشش سره) څه ورنه کړې شي په ولاړېدو سره (په حرکت او زيار سره) هم نهٔ ورکړې کېږي. ژوند دوه ورځې دے يوه ورځ ستا په ګټه او بله ستا په تاوان ده نوکله چې دې په ګټه ده په عيش او سرغړونه کښې يې مه تېروه، او کله چې دې په تاوان ده صابر اوسه.

**(۳۹۷) ښهٔ عطر**

څومره ښه دې د مشکو عطر، زغمل يې سپک او آسان او بوي يې خوږ دے.

**(۳۹۸) کبر پرېږده مرګ ياد ساته**

ضَعْ فَخْرَكَ، وَاحْطُطْ كِبْرَكَ، وَاذْكُرْ قَبْرَكَ.

غرور او ځان غټې ګڼل پرېږده، کبر او ځان خوښونه څنګ ته کړه او مرګ یاد ساته.

۳۹۹. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

إِنَّ لِلْوَلَدِ عَلَى الْوَالِدِ حَقّاً، وَإِنَّ لِلْوَالِدِ عَلَى الْوَلَدِ حَقّاً: فَحَقُّ الْوَالِدِ عَلَى الْوَلَدِ أَنْ يُطِيعَهُ فِي كُلِّ شَيْءٍ إِلاَّ فِي مَعْصِيَةِ اللهِ سُبْحَانَهُ، وَحَقُّ الْوَلَدِ عَلَى الْوَالِدِ أَنْ يُحَسِّنَ اسْمَهُ وَيُحَسِّنَ أَدَبَهُ وَيُعَلِّمَهُ الْقُرْآنَ.

**(۳۹۹) د پلار او اولاد په یو بل باندې حق**

بې شکه اولاد په پلار او پلار په اولاد باندې حق لري: په اولاد باندې د پلار حق دا دے چې اولاد په هر څه کښې بې د خداے له نافرمانۍ د پلار اطاعت وکړي، او په پلار باندې د اولاد حق دا دے چې په اولاد باندې ښۀ نوم کېږدي ښۀ بې وروزي او قرآن ورزده کړي.

٤٠٠. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

الْعَيْنُ حَقٌّ، وَالرُّقَى حَقٌّ، وَالسِّحْرُ حَقٌّ، وَالْفَأْلُ حَقٌّ، وَالطِّيَرَةُ لَيْسَتْ بِحَقٍّ، وَالْعَدْوَى لَيْسَتْ بِحَقٍّ، وَالطِّيبُ نُشْرَةٌ، وَالْعَسَلُ نُشْرَةٌ، وَالرُّكُوبُ نُشْرَةٌ، وَالنَّظَرُ إِلَى الْخُضْرَةِ نُشْرَةٌ.

**(۴۰۰) د حقائقو او خرافاتو پېژندل**

د نظر لګېدل حقیقت لري. د فطرت (نیچر) له پټو ځواکونو استفاده حقیقت لري. سحر او جادو شته دي. او نېک فال رښتیا دے؛ او بدې پېښې بدشګوني ګڼل صحیح نۀ دي. بل ته د بیمارۍ سرایت کول صحیح نۀ دي، خوشبوي شفا او ارام بخښونکي ده،شات (ګبین) علاج شفا او ارام بخښونکي دي. سورلي کول، او شینکیو او ونو ته کتل درمان او اطمینان بخښونکي دي.

٤٠١. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

مُقَارَبَةُ النَّاسِ فِي أَخْلَاقِهِمْ أَمْنٌ مِنْ غَوَائِلِهِمْ.

**(۴۰۱) له خلقو سره د غړملتیا ضرورت**

د خلقو له دودونو او اخلاقو سره غړملتیا د هغوي له تربګنیو او کینو په امان کښې پاتې کېدل دي.

٤٠٢. وَقَالَ لِبَعْضِ مُخَاطِبِيهِ، وَقَدْ تَكَلَّمَ بِكَلِمَةٍ يُسْتَصْغَرُ مِثْلُهُ عَنْ قَوْلِ مِثْلِهَا:

لَقَدْ طِرْتَ شَكِيراً، وَ هَدَرْتَ سَقْباً.

**(۴۰۲) د موقعې پېژندل**

«یوکس د امامؑ په مخکښې له خپل شانه لویه خبره وکړه امام وفرمایل:» وزرې دې لا شوې نۀ دي او الوځې او لا جونګړے یې او برړېږې (یعنې لا ماشوم یې او د لویو پېښې کوې.)

(شکیر د مارغانو ورومبنیو وزرو ته وائي چې لا ډېرې نرمې وي. او سقب جونګي ته وائي. څکه چې اوښ تر څو بالغ نۀ شي نه برړېږي.

٤٠٣. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

مَنْ أَوْمَأَ إِلَى مُتَفَاوِتٍ خَذَلَتْهُ الْحِيَلُ.

**(۴۰۳) له ګډو وډ کارونو ډډه کول**

څوک چې په بېلا بېلو کارونو اخته کېږي خوارېږي او نۀ کامیابېږي

٤٠٤. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ وَقَدْ سُئِلَ عَنْ مَعْنَى قَوْلِهِمْ: لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلاَّ بِاللهِ:

إِنَّا لَا نَمْلِكُ مَعَ اللهِ شَيْئاً، وَلَا نَمْلِكُ إِلاَّ مَا مَلَّكَنَا، فَمَتَى مَلَّكَنَا مَا هُوَ أَمْلَكُ بِهِ مِنَّا كَلَّفَنَا، وَمَتَى أَخَذَهُ مِنَّا وَضَعَ تَكْلِيفَهُ عَنَّا.

**(۴۰۴) د لا حول و لا قوة تفسیر**

«له امامه یې د لا حول ولا قوة مطلب وپوښتۀ. وې فرمایل:» مونږ د خداے پاک په وړاندې د څه مالکان نۀ یوو او د څه څښتن نۀ شوو کېدې مګر دا چې هغۀ مونږ ته راکړې دي نوکله چې هغه مونږ ته د یو داسې څیز اختیار راکړي چې په خپله یې د څښتنۍ زیاته وړتیا لري نو ورسره ورسره مونږ ته دندې او ذمه وارۍ هم وسپاري او کله چې هغه اختیار له مونږه واخلي نو ذمه وارۍ یې هم له مونږ لرې کړي.

٤٠٥. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ لِعَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ رَحِمَهُ اللهُ وَقَدْ سَمِعَهُ يُرَاجِعُ الْمُغِيرَةَ بْنَ شُعْبَةَ كَلَاماً:

دَعْهُ يَا عَمَّارُ، فَإِنَّهُ لَمْ يَأْخُذْ مِنَ الدِّينِ إِلاَّ مَا قَارَبَتْهُ الدُّنْيَا،

**(۴۰۵) په دین تظاهر کوونکي جاهلان**

«کله چې عمار یاسر له مغیره بن شعبه سره بحث کوۀ او د هغه ځواب یې ورکوۀ امام هغه ته وفرمایل:» اے عماره! مغیره پرېږده څکه چې هغۀ له دینه دومره اندازه اخیستې ده چې هغه دنیا ته نژدې کړي، او قصداً یې

وَعَلَى عَمدٍ لَبَّسَ عَلَى نَفْسِه، لِيَجْعَلَ الشُّبُهَاتِ عَاذِراً لِسَقَطَاتِه.

حقائق په ځان پټ او مشتبه کړي دي، چې شبهات د خپلو تېروتنو پلمه او بهانه وګرځوي.

٤٠٦. وَقَالَ:

مَا أَحْسَنَ تَوَاضُعَ الأَغْنِيَاءِ لِلْفُقَرَاءِ طَلَباً لِمَا عِنْدَ اللهِ! وَأَحْسَنُ مِنْهُ تِيهُ الْفُقَرَاءِ عَلَى الأَغْنِيَاءِ اتِّكَالاً عَلَى اللهِ.

**(۴۰۶) د سرمايه دارو او غريبانانو اخلاق**

څومره ښه ده چې سرمايه دار او شتمن خلق د خداے پاک د اجر او بدلې د لاسته راوړلو لپاره له غريبانانو او بېوزلو سره په تواضع سره سلوک وکړي او تر دې غوره دا ده چې غريبانان او بېوزلان په خداے پاک توکل وکړي او له سرمايه دارو او شتمنو سره په تمکن او خود دارۍ سره چلند وکړي.

٤٠٧. وَقَالَ:

مَا اسْتَوْدَعَ اللهُ امْرَأً عَقْلاً إِلاَّ اسْتَنْقَذَهُ بِهِ يَوْماً مَا!

**(۴۰۷) د عقل ارزښت**

خداے تعالی يو انسان ته عقل نهٔ ورکوي مګر دا چې يوه ورځ ورسره هغه له تباهۍ اوژغوري.

٤٠٨. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

مَنْ صَارَعَ الْحَقَّ صَرَعَهُ.

**(۴۰۸) له حق سره د مقابلې نتيجه**

څوک چې له حق سره ډغره ووهي حق به يې مات کړي.

٤٠٩. وَقَالَ:

الْقَلْبُ مُصْحَفُ الْبَصَرِ.

**(۴۰۹) د سترګو او زړهٔ غبرګمليتا**

زړهٔ د سترګو کتاب دے (هر څه چې سترګې ويني په زړهٔ کښې کښيني)

٤١٠. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

التُّقَى رَئِيسُ الأَخْلاَقِ.

**(۴۱۰) د تقوا ارزښت**

تقوا د ټولو اخلاقي ارزښتونو سرخېله ده.

٤١١. وَقَالَ:

لاَ تَجْعَلَنَّ ذَرَبَ لِسَانِكَ عَلَى مَنْ أَنْطَقَكَ، وَبَلاَغَةَ قَوْلِكَ عَلَى مَنْ سَدَّدَكَ.

**(۴۱۱) د استاد درناوے**

چا چې تا ته خبرې ښودلې دي د هغهٔ په خلاف سخته او اوچته خبره مه کوه. او چا چې تا ته د خبرو بلاغت او ښې خبرې ښودلې دي د هغهٔ په وړاندې د بلاغت غورې مهٔ وهه.

٤١٢. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

كَفَاكَ أَدَباً لِنَفْسِكَ اجْتِنَابُ مَا تَكْرَهُهُ مِنْ غَيْرِكَ.

**(۴۱۲) د ځان تربيت**

د خپل نفس د روزنې لپاره همدومره بس ده چې له هغو څيزونو ډډه وکړه چې د نورو له خوا يې نهٔ خوښوې.

٤١٣. وَقَالَ:

مَنْ صَبَرَ صَبْرَ الأَحْرَارِ، وَإِلاَّ سَلاَ سُلُوَّ الأَغْمَارِ.

**(۴۱۳) په مصيبت صبر**

په مصيبتونوکښې يا د ځوانمردانو په شان صبر په کار دے يا د سادګانو په شان هېرول پکار دي.

٤١٤. وَفِي خَبَرٍ آخَرَ أَنَّهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ قَالَ لِلأَشْعَثِ بْنِ قَيْسٍ مُعَزِّياً: إِنْ صَبَرْتَ صَبْرَ الأَكَارِمِ، وَإِلاَّ سَلَوْتَ سُلُوَّ الْبَهَائِمِ.

**(۴۱۴) په مصيبت صبر**

«په يو روايت کښې راغلې دي چې امام اشعث بن قيس ته د هغهٔ د زوے په مړينه داسې ووېل:» يا د ځوانمردانو په شان زغم ولره او يا د ساده ګانو او چارپايا نو په شان بې پروا اوسه.

٤١٥. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ فِي صِفَةِ الدُّنْيَا:

تَغُرُّ وَتَضُرُّ وَتَمُرُّ، إِنَّ اللهَ تَعَالَى لَمْ يَرْضَهَا ثَوَاباً لأَوْلِيَائِهِ، وَلاَ عِقَاباً لأَعْدَائِهِ. وَإِنَّ أَهْلَ الدُّنْيَا كَرَكْبٍ بَيْنَا هُمْ حَلُّوا

**(۴۱۵) د دنيا حقيقت**

«د دنيا په حقله يې وفرمايل:» دهوکه ورکوي، تاوان رسوي او په ځغل تېرېږي. له دې امله خداے تعالی دنيا د خپلو دوستانو لپاره د بدلې په توګه خوښه نهٔ کړه او هغه يې د خپلو دښمنانو د سزا ځاے اونهٔ ټاکه، او بې له شکه د دنيا خلق د هغې قافلې په شان دي چې لا يې بار نهٔ وي

إذْ صاحَ بِهِمْ سائِقُهُمْ فَارْتَحلوا.

٤١٦. وَقَالَ لابْنه الْحَسَن عَلَيْهِمَا السَّلامُ:

يـا بُنَـيَّ لا تُخَلِّفَـنَّ وراءكَ شَـيْئاً مِـنَ الـدُّنْيَا، فَإنَّـكَ تُخَلِّفُـهُ لأحَد رَجُلَيْن: إمَّـا رَجُـل عَمِـلَ فيـه بطاعَـة الله فَسَـعدَ بمـا شَقيتَ به، وإمَّـا رجُـل عَمِـلَ فيـه بمَعْصيَة الله [فشَـقي بمـا جَمَعْتَ لَـهُ] فَكُنْـتَ عوْنـاً لَـهُ علَـى مَعْصـيَته، ولَـيْسَ أحَـدُ هذَيْن حَقيقاً أنْ تُؤثرَهُ عَلَى نَفْسك.

ويُرْوَى هَذَا الْكَلامُ عَلَى وَجْه آخَرَ، وَهُوَ:

أمَّا بَعْدُ، فَإنَّ الَّذي في يَـدكَ مِـنَ الـدُّنْيَا قَـدْ كَـانَ لَـهُ أهْـلٌ قَبْلَكَ، وهُوَ صَائرٌ إلَى أهْلِ بَعْـدكَ، وإنَّمَـا أنْـتَ جَـامعٌ لأحَـد رَجُلَـيْن: رَجُـل عَمِـلَ فيمـا جَمَعْتَـهُ بطاعَـة الله فَسَـعدَ بمـا شَـقيتَ بِـه، أوْ رَجُـل عَمِـلَ فيـه بمَعْصـيَة الله فشَـقي بمـا جَمَعْتَ لَهُ. ولَيْس أحَدُ هـذَيْن أهْـلاً أنْ تُـؤثرَهُ علَـى نَفْسـكَ تَحْملَ لَهُ عَلَى ظَهْرِكَ، فـارْجُ لِمَـنْ مَضَـى رَحْمَـةَ الله و لِمَـنْ بَقِيَ رِزْقَ الله.

٤١٧. وَقَالَ عَلَيْه السَّلامُ لقَائل قَالَ بحَضْرَته: أسْتَغْفرُ اللهَ:

ثَكِلَتْكَ أُمُّكَ، أتَدْري مَا الاسْتغْفَارُ؟ إنَّ الأسْتغْفَار درَجَةُ الْعلِّيِّينَ، وهُوَ اسْمٌ وَاقعٌ عَلَى ستَّة مَعَانٍ: أوَّلُهَا: النَّـدَمُ عَلَـى مَـا مَضَـى. وَالثَّاني: الْعَزْمُ عَلَى تَرْك الْعَوْد إلَيْه أبَداً. وَالثَّالثُ: أنْ تُؤَدِّيَ إلَى الْـمَخْلُوقينَ حُقُوقَهُمْ حَتَّى تَلْقَى اللهَ عزّوجلّ أمْلَسَ لَيْسَ عَلَيْكَ تَبِعَةٌ. وَالرَّابعُ: أنْ تَعْمدَ إلَى كُلِّ فَريضَة عَلَيْكَ ضَيَّعْتَهَا فَتُـؤَدِّيَ حَقَّهَا. وَالْخَامسُ: أنْ تَعْمدَ إلَى اللَّحْم الَّذي نَبَتَ عَلَى السُّـحْت فَتُذيبَهُ بالأحْزَان، حَتَّى يَلْصقَ الْجلْدُ بالْعَظْم، ويَنْشَأَ بَيْنَهُمَا لَحْـمٌ جَديدٌ. وَالسَّادسُ: أنْ تُذيقَ الْجسْمَ ألَمَ الطَّاعَة كَمَا أذَقْتَهُ حَلاوَةَ الْمَعْصيَة. فَعنْدَ ذلكَ تَقُولُ: أسْتَغْفرُالله.

٤١٨. وَقَالَ عَلَيْه السَّلامُ:

الْحلْمُ عَشيرَةٌ.

٤١٩. وقَالَ:

مِسْكينٌ ابْـنُ آدَمَ: مَكْتُـومُ الأجَـلِ، مَكْنُـونُ الْعلَـلِ، مَحْفُـوظُ

اړولي چې څاروان غږ کړي چې کډې اوتړئ د تګ وخت دے او کوچ وکړي!

### (۴۱۶) له دنیا سره چلند

«امیرالمومنینؑ خپل زوے امام حسنؑ ته وفرمایل:» له ځانه وروسته مال دولت مه پرېږده،ځکه چې څه چې له تا پاتې کېږي دوه ډوله کسانو ته به رسېږي یا داسې کس ته چې هغه بې د خداے په اطاعت کنبې لګوي، نو نیکمرغه کېږي په هغه څه چې تۀ بې تباه کړے یې، یا هغه کس ته چې د خداے پاک په نافرمانۍ کنبې بې لګوي، نو هلاک به شي په هغه څه چې تا راټول کړي دي. نو تا په ګناه کنبې له هغه سره مرسته کړې ده، او په دغه دوو کسانو کنبې یو هم د دې وړ نۀ دے چې په ځان بې مخکې اوګنې (په ځان ورته ترجیح ورکړې). دا حکمت په بل ډول هم نقل شوے دے د خداے پاک له ستائېنې وروسته،هغه څه چې اوس له دې دنیا ستا په لاس کنبې دي تر تا مخکې د بل چا په لاس کنبې وو، او تر تا وروسته به هم بل چا ته رسېږي.او بېشکه تۀ به د دوو کسانو لپاره مال جمع کړې یا د هغه کس لپاره چې ستا جمع کړے مال د خداے پاک په اطاعت کنبې لګوي، نو په هغه څه چې تۀ بې هلاک کړې نیکمرغه کېږي، یا هغه کس دے چې په ګناه کنبې بې لګوي. نو ستا په جمع کړي شوي مال هلاکېږي.او په دغو دوو کنبې هیڅ یو کس د دې وړ نۀ دے چې په ځان ورته ترجیح ورکړې، او د هغوي پېټے په ځان یوسې، نو د تېرو لپاره د خداے د رحمت او د پاتې کسانو لپاره د خداے د روزۍ هیله کوه.

### (۴۱۷) د توبې او استغفار شرطونه

«یو کس د امام په مخکې په بې توجهۍ سره وویل استغفر الله،امام وفرمایل:» مور دربانديې ویر وکړه، تا ته پته ده چې د استغفار مطلب څه دے؟ استغفار د لوړ مقامه کسانو درجه ده او شپږ معنا ګانې لري: وړومبۍ: له هغه څه پښېماني چې اودې کړل،دویمه: د بیا نۀ کولو کلکه اراده، دریمه: د خلقو د حقوقو ورکول،چې په داسې پاکۍ سره له خداے پاک سره ملاقات وکړې چې د چا حق درباندې نۀ وي پاتې،څلورمه: ټول ضائع شوي واجبات په ځاے راوړې، پینځمه: هغه غوښه چې له حرام ماله دې په بدن کنبې شوې ده په ډېر غم سره ویلې کړې تر دې چې څرمن دې له هډوکو سره یو ځاے شي او بیا نوې غوښه اوشي، شپږمه: د اطاعت خوند او کړاؤ په بدن اوڅکې لکه څرنګه چې دې پرې د ګناه مزه څکلې وه او بیا ووائې چې استغفر الله.

### (۴۱۸) د حلم فضیلت

حلم او تواضع په خپله یوه قبیله (خپلوي) ده.

### (۴۱۹) د انسان پېژندل

بنیادم څومره کمزورے او خوار دے، اجل بې نامعلوم دے،ناروغي بې

الْعَمَلِ، تؤْلمُهُ الْبَقَّةُ، وَتَقْتُلُهُ الشَّرْقَةُ، وَتُنْتِنُهُ الْعِرْقَةُ.

پټه او عملونه يې تول ليکل شوي دي يو ماشے يې ځورولے شي، يو ګوټ يې په مرې کښې نښتلے او وژلي يې شي او خوله يې بدبوداره کولي شي.

٤٢٠. وَرُوِيَ أَنَّهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ كَانَ جَالِساً فِي أَصْحَابِهِ، فَمَرَّتْ بِهِمُ امْرَأَةٌ جَمِيلَةٌ، فَرَمَقَهَا الْقَوْمُ بِأَبْصَارِهِمْ. فَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:
إِنَّ أَبْصَارَ هذِهِ الْفُحُولِ طَوَامِحُ، وَإِنَّ ذلِكَ سَبَبُ هَبَابِهَا، فَإِذَا نَظَرَ أَحَدُكُمْ إِلَى امْرَأَةٍ تُعْجِبُهُ فَلْيُلَامِسْ أَهْلَهُ، فَإِنَّمَا هِيَ امْرَأَةٌ كَامْرَأَةٍ. فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْخَوَارِجِ: قَاتَلَهُ اللهُ كَافِراً مَا أَفْقَهَهُ. فَوَثَبَ الْقَوْمُ لِيَقْتُلُوهُ. فَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ: رُوَيْداً، إِنَّمَا هُوَ سَبٌّ بِسَبٍّ، أَوْ عَفْوٌ عَنْ ذَنْبٍ!

(۴۲۰) د شهوت علاج او د سپکاوي بدل

«وائي چې يوه ورځ امام ﷺ له خپلو ملګرو سره ناست ؤ چې له هغه ځايه يوه ښکلې ښځه تېره شوه او ناستو کسانو ورپسې کتل پېل کړل امام وفرمايل:» کله چې په تاسو کښې د يو کس په يوې ښځې سترګې خوږې شي نو له خپلي ښځې سره دې ملاستے وکړي ځکه چې دا هم د هغې په شان ښځه ده،«په دې وخت کښې يو خارجي ناست ؤ هغه وويل خدا ے دا کافر اوژنه، څومره پوهې او فقهي خبرې يې زده دي! خلق ورپاڅېدل چې خارجي اونيسي او مړ يې کړي امام وفرمايل:» آرامه اوسئ، د کنځلو ځواب په کنځلو ورکول پکار دي يا هم له خطا څخه يې تېرېدل پکار دي.

٤٢١. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:
كَفَاكَ مِنْ عَقْلِكَ مَا أَوْضَحَ لَكَ سُبُلَ غَيِّكَ مِنْ رُشْدِكَ.

(۴۲۱) د عقل کار

ستا لپاره همدومره عقل بس دے چې سمه لاره له غلطې لارې دروښيي.

٤٢٢. وَقَالَ:
افْعَلُوا الْخَيْرَ وَلَا تَحْقِرُوا مِنْهُ شَيْئاً، فَإِنَّ صَغِيرَهُ كَبِيرٌ وَقَلِيلَهُ كَثِيرٌ، وَلَا يَقُولَنَّ أَحَدُكُمْ: إِنَّ أَحَداً أَوْلَى بِفِعْلِ الْخَيْرِ مِنِّي فَيَكُونَ وَاللهِ كَذلِكَ، إِنَّ لِلْخَيْرِ وَالشَّرِّ أَهْلاً، فَمَهْمَا تَرَكْتُمُوهُ مِنْهُمَا كَفَاكُمُوهُ أَهْلُهُ.

(۴۲۲) د احسان فضيلت

نيکي وکړئ او هر څومره چې کمه وي وړه يې مه ګڼئ، ځکه چې وړه يې لويه او لږه يې ډېره ده، او په تاسو کښې دې څوک دا نۀ وائي چې هغه بل کس د نېک کار په کولو کښې له ما وړ دے،که نۀ وي په خدا ے قسم هم داسې به اوشي، خېر او شر پلويان او اهل لري او که تۀ يې پرېږدې هغوي به يې وکړي.

٤٢٣. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:
مَنْ أَصْلَحَ سَرِيرَتَهُ أَصْلَحَ اللهُ عَلَانِيَتَهُ، وَمَنْ عَمِلَ لِدِينِهِ كَفَاهُ اللهُ أَمْرَ دُنْيَاهُ، وَمَنْ أَحْسَنَ فِيمَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ اللهِ كَفَاهُ اللهُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ النَّاسِ.

(۴۲۳) د نفس د روزنې فائدې

څوک چې خپل باطن اصلاح کړي خدا ے يې ظاهر ښکلے کوي او څوک چې د خپل دين لپاره کار وکړي خدا ے يې دنيا هم پوره کوي او څوک چې د خپل ځان او خدا ے معامله سمه کړي خدا ے د هغۀ او خلقو ترمينځ معاملات سموي.

٤٢٤. وَقَالَ:
الْحِلْمُ غِطَاءٌ سَاتِرٌ، وَالْعَقْلُ حُسَامٌ قَاطِعٌ، فَاسْتُرْ خَلَلَ خُلُقِكَ بِحِلْمِكَ، وَقَاتِلْ هَوَاكَ بِعَقْلِكَ.

(۴۲۴) شکرې ملغلرې

حلم او بردبارې پوښونکې پرده ده، او عقل تېره توره ده، نو خپلې اخلاقي نيمګړتياوې په بردبارۍ او خاکسارۍ سره پټې کړه او د خپل نفس له خواهشاتو سره د عقل په توره وجنګېږه.

٤٢٥. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ: إِنَّ لِلّهِ عِبَاداً يَخْتَصُّهُمْ بِالنِّعَمِ لِمَنَافِعِ الْعِبَادِ، فَيُقِرُّهَا فِي أَيْدِيهِمْ مَا بَذَلُوهَا، فَإِذَا مَنَعُوهَا نَزَعَهَا مِنْهُمْ، ثُمَّ حَوَّلَهَا إِلَى غَيْرِهِمْ.

(۴۲۵) د سرمايه دارو دنده:

د خدا ے پاک ځينې بندګان داسې دي چې نورو ته د ګټې رسولو لپاره خدا ے هغوي ته خاص نعمتونه ورکړې دي،څوک چې بخښونکے لاس لري نعمتونه يې په لاسونو کښې باقي پرېږدي او هر کله چې له بخشش «ورکړې» ډډه وکړي نعمتونه يې له لاسه اخلي او نورو ته يې ورکوي.

٤٢٦. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

(۴۲۶) دوه ناپائېداره خيزونه

د خدا ے پاک له بنده سره نۀ ښائي چې په دوو خيزونو باور وکړي:په

لاَ يَنْبَغِي لِلْعَبْدِ أَنْ يَثِقَ بِخَصْلَتَيْنِ: الْعَافِيَةِ، وَالْغِنَى: بَيْنَا تَرَاهُ مُعَافىً إِذْ سَقِمَ، وَغَنِيّاً إِذِ افْتَقَرَ.

سلامتی او شتمنی باندې، ځکه چې په سلامتی کښې به يې ناڅاپه بيمار اوينې او په شتمنی کښې به يې ناڅاپه بېوزله او فقير اوينې.

٤٢٧. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

مَنْ شَكَا الْحَاجَةَ إِلَى مُؤْمِن فَكَأَنَّمَا شَكَاهَا إِلَى اللهِ، وَمَنْ شَكَاهَا إِلَى كَافِر فَكَأَنَّمَا شَكَااللهَ.

**(۴۲۷) شکايت چاته پکار دے**

څوک چې د خپل حاجت او ضرورت شکايت يو مومن ته وکړي تۀ به وائي د خدا ے په در کښې يې شکايت کړے دے او څوک چې د خپلو ضروړياتو او نيازمنديو شکايت کافر ته وکړي داسې دي لکه چې د خدا ے شکايت يې کړے وي.

٤٢٨. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ في بعض الأعياد:

إِنَّمَا هُوَ عِيدٌ لِمَنْ قَبِلَ اللهُ صِيَامَهُ وَشَكَرَ قِيَامَهُ، وَكُلُّ يَوْم لاَ يُعْصَى اللهُ فِيهِ فَهُوَ يَوْمُ عِيد.

**(۴۲۸) رښتينے اختر**

«په يو اختر کښې اميرالمومنين وفرمايل:» دا د هغه چا اختر دے چې خدا ے يې روژه قبوله کړې وي او نمونځ يې ورستائلے وي او هره هغه ورځ چې له خدا ے څخه سرغړونه او ګناه پکښې اونۀ شي د اختر ورځ ده.

٤٢٩. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

إِنَّ أَعْظَمَ الْحَسَرَاتِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حَسْرَةُ رَجُل كَسَبَ مَالاً فِي غَيْرِ طَاعَةِ اللهِ، فَوَرَّثَهُ رَجُلاً فَأَنْفَقَهُ فِي طَاعَةِ اللهِ سُبْحَانَهُ، فَدَخَلَ بِهِ الْجَنَّةَ، وَدَخَلَ الأَوَّلُ بِهِ النَّارَ.

**(۴۲۹) د پانګه والو ارمان**

د قيامت په ورځ تر ټولو لوے ارمان د هغه کس ارمان دے چې په حرامه يې مال غونډ کړ او هغه بل چاته په ميراث کښې پاتے شو چې د خدا ے په اطاعت کښې يې خرچ کړ او په هغه سره جنت ته داخل شو او د مال راغونډوونکےدوزخ ته لاړ.

٤٣٠. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

إِنَّ أَخْسَرَ النَّاسِ صَفْقَةً، وَأَخْيَبَهُمْ سَعْياً، رَجُلٌ أَخْلَقَ بَدَنَهُ فِي طَلَبِ آمَالِهِ، وَلَمْ تُسَاعِدْهُ الْمَقَادِيرُ عَلَى إِرَادَتِهِ، فَخَرَجَ مِنَ الدُّنْيَا بِحَسْرَتِهِ، وَقَدِمَ عَلَى الآخِرَةِ بِتَبِعَتِهِ.

**(۴۳۰) تاواني کس**

بې شکه په معاملاتو کښې تر ټولو تاواني کس او په هڅه او کوشش کښې تر ټولو نهيلے او نااميد کس هغه دے چې خپل ځان د مال په غونډولو کښې ستړے کړي او تقدير يې ملګرے نۀ شي نو له دنيا څخه ارمانجن لاړ شي او په آخرت کښې د ګناه په پېټي سره حاضر شي.

٤٣١. وَقَالَ:

الرِّزْقُ رِزْقَانِ: طَالِبٌ، وَمَطْلُوبٌ، فَمَنْ طَلَبَ الدُّنْيَا طَلَبَهُ الْمَوْتُ حَتَّى يُخْرِجَهُ عَنْهَا،مَنْ طَلَبَ الآخِرَةَ طَلَبَتْهُ الدُّنْيَا حَتَّى يَسْتَوْفِيَ رِزْقَهُ مِنْهَا.

**(۴۳۱) د روزۍ ډولونه**

روزي په دوه ډوله ده: يوه هغه چې تا بلي او بله هغه چې ته ورپسې ګرځې، څوک چې دنيا غواړي مرګ هم هغه غواړي چې له دنيا يې اوباسي او څوک چې آخرت غواړي دنيا هغه غواړي چې روزي يې بشپړه ورکړي.

٤٣٢. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

إِنَّ أَوْلِيَاءَ اللهِ هُمُ الَّذِينَ نَظَرُوا إِلَى بَاطِنِ الدُّنْيَا إِذَا نَظَرَ النَّاسُ إِلَى ظَاهِرِهَا، وَاشْتَغَلُوا بِآجِلِهَا إِذَا اشْتَغَلَ النَّاسُ بِعَاجِلِهَا، فَأَمَاتُوا مِنْهَا مَا خَشُوا أَنْ يُمِيتَهُمْ، وَتَرَكُوا مِنْهَا مَا عَلِمُوا أَنَّهُ سَيَتْرُكُهُمْ، وَرَأَوُا اسْتِكْثَارَ غَيْرِهِمْ مِنْهَا اسْتِقْلاَلاً، وَدَرَكَهُمْ لَهَا فَوْتاً، أَعْدَاءُ مَا سَالَمَ النَّاسُ، وَسَلْمُ مَا عَادَى النَّاسُ! بِهِمْ عُلِمَ الْكِتَابُ وَبِهِ عَلِمُوا، وَبِهِمْ قَامَ الْكِتَابُ

**(۴۳۲) د خدا ے د دوستانو صفتونه**

د خدا ے دوستان هغه کسان دي چې د دنيا حقيقت ته ځير شول هغه وخت چې نورو خلقو د دنيا ظاهر ته کتل، نو هغوي د دنيا د عاقبت په فکر کښې شول، هغه وخت چې خلق د دنيا په زر تېرېدونکو چارو بوخت شول نو هغوي نفساني خواهشات چې يې تباه کوي ووژل، او هغه څه يې چې دوي به ډېر زر پرېږدي (د دنيا مال)، پرېښودل، دوي د دنيا برخه چې خلق يې ډېره ګڼي کمه او خواره اوګڼله او هغه څه چې خلق يې له دنيا حاصلول ګڼي دوي يې له لاسه تلل ګڼي، له هغه څه سره چې د دنيا خلقو ورسره دوستي وکړه دوي دښمني وکړه او له هغه څه سره يې چې دنيا پالو دښمن وګڼل دوستي وکړه، قرآن د هغوي په وسيله پېژندل کېږي او

وبه قـامُوا، لاَ يـرَوْنَ مَرْجُـوّاً فَـوْقَ مَـا يرْجُـون، ولاَ مَخُوفـاً فَوْقَ مَا يخَافُون.

هغوي د قرآن په وسیله پېژندل کېږي قرآن د هغوي د کردار په برکت قائم دے او هغوي د خدائے د کتاب په برکت ژوندي دي د څه چې هیله من دي تر هغه لوړه هیله نشته او له څه چې ویرېږي هیڅ څیز تر هغه زیات ویروونکي نهٔ ګڼي.

٤٣٣. وَقَالَ عَلَيْه السَّلاَمُ:

اذْكُرُوا انْقطَاعَ اللَّذَّات، وبَقَاءَ التَّبِعَات.

(۴۳۳) خوندونه ختمېدونکي دي

یادساتئ،خوندونه ختمېدونکي دي او حساب کتاب یې پاتېدونکے دے.

٤٣٤. وقَالَ:

اخْبُرْ تَقْلِه.

(۴۳۴) مینځ یې ګوره چې چغزے دے که متاک

خلق اوزمایه چې دښمن یې شي«په باطن یې خبرشي»

ځینوکسانو دا وېنا له رسول الله مبارکه ﷺ نقل کړې ده حال دا چې دا د امیرالمومنین وېنا ده او له ابن اعرابي څخه د ثعلب نقل دا خبره تائیدوي چې دا کلام د علي علیه السلام دے، اعرابي له مامونه نقل کړے دے چې که علي علیه السلام نه وې ویلې چې: اوزمایه چې دښمن شې،ما به ویلې وې چې دښمن شه چې اوزمائې.

٤٣٥. وقَالَ:

مَا كَانَ اللهُ ليَفْتَحَ عَلَى عَبْد بَابَ الشُّكْر ويُغْلقَ عَنْهُ بَابَ الزِّيَادَة، ولاَ ليَفْتَحَ عَلَى عَبْد بَابَ الدُّعَاء وَ يُغْلقَ عَنْهُ بَابَ الاجَابَـة، ولاَ ليَفْتَحَ عَلَى عَبْد بَابَ التَّوْبَة ويُغْلقَ عَنْهُ بَابَ الْمَغْفرَة.

(۴۳۵) لوړ اخلاقي ارزښتونه

دا دخدائے شان نهٔ دے چې د یو بنده لپاره د شکر ور پرانېزي او بیا د نعمت په زیاتېدو دروازه بنده کړي یا د دعا دروازه خلاصه کړي او د قبلولو ور بند کړي یا د توبې ور خلاص کړي او د مغفرت دروازه بنده کړي.

٤٣٦. وقَالَ عَلَيْه السَّلاَمُ:

أَوْلَى النَّاسِ بِالْكَرَمِ مَنْ عُرِفَتْ بِه الْكِرَامُ.

(۴۳۶) لوے خلق اوپېژنئ

تر ټولو بزرګواره او مکرم خلق هغه دي چې خلق، نور عزتمن خلق له هغه سره پرتله کوي.

٤٣٧. وَسُئلَ عَلَيْه السَّلاَمُ أَيُّمَا أَفْضَلُ: الْعَدْلُ، أَوِ الْجُودُ؟ فَقَالَ:

الْعَـدْلُ يَضَـعُ الاُمُـورَ مَوَاضـعَهَا، والْجُـودُ يُخْرِجُهَـا عَـنْ جِهَتهَـا، والْعَـدْلُ سَـائسٌ عَـامٌّ، والْجُـودُ عَـارِضٌ خَـاصٌّ، فَالْعَدْلُ أَشْرَفُهمَا وأَفْضَلُهمَا.

(۴۳۷) د عدل او بخشش پېژندل

«له امامه یې وپوښتل په عدل او ښندنه کښې کوم یو غوره دے وې فرمایل:» عدل او انصاف هر څیز د هغه په مناسب ځاي کښې ږدي حال دا چې بخشش او ښندنه هغه له خپله ځایه لرې کوي. عدل او انصاف عام او د ټولو خلقو تدبیر دے حال دا چې سخاوت د خاصوکسانو کار دے نو عدل او انصاف زیات عزتمن او لوړ دے.

٤٣٨. وَقَالَ عَلَيْه السَّلاَمُ:

النَّاسُ أَعْدَاءُ مَا جَهلُوا.

(۴۳۸) ناپوهي او دښمني

خلق د هغو څیزونو دښمنان دي چې نهٔ پرې پوهېږي.

٤٣٩. وقَالَ عَلَيْه السَّلاَمُ:

الزُّهْدُ كُلُّهُ بَيْنَ كَلمَتَين منَ الْقُرْآن: قَـالَ اللهُ عزّوجـلّ: ﴿لكَـيْلاَ تَأْسَوْا عَلَى مَا فَاتَكُمْ وَلاَ تَفْرَحُوا بمَا آتَاكُمْ﴾، فَمَـنْ لَـمْ يَـأْسَ عَلَى الْمَاضي، ولَمْ يَفْرَحْ بالآتي، فَقَدْ أَخَذَ الزُّهْدَ بطَرَفَيْه.

(۴۳۹) د زهد او تقوا تعریف

زهد د قرآن په دوو کلمو کښې دے چې خدائے پاک وفرمایل:« په هغه څه چې له لاسه مو تللي ارمان اونهٔ کړئ او په هغه څه چې لاسته مو راځي خوشحاله نهٔ شئ» نو څوک چې په تېرو افسوس اونهٔ کړي او په راتلونکي خوشحاله نهٔ شي هغهٔ په ټول زهد عمل کړے دے.

٤٤٠. وقَالَ عَلَيْه السَّلاَمُ:

ما أَنْقَضَ النَّوْمَ لعَزَائمِ الْيَوْم.

(۴۴۰) په ژوند کښې د خوب رول

د شپې خوبونه د ورځې هوډونه او ارادې څومره بربادوي.

٤٤١. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

**الْوِلاَيَاتُ مَضَامِيرُ الرِّجَالِ.**

**(۴۴۱) انسانان به څنګه پېژني**

حکومتونه د نرانو د امتحان او سیالۍ ځایونه دي

٤٤٢. وَقَالَ:

**لَيْسَ بَلَدٌ بِأَحَقَّ بِكَ مِنْ بَلَدٍ، خَيْرُ الْبِلاَدِ مَا حَمَلَكَ.**

**(۴۴۲)ښهٔ ښار**

هیڅ یو ښار ستا لپاره له بل ښاره غوره نهٔ دے، ښهٔ ښار هغه دے چې ستا هرکلے وکړي (تهٔ پکښې راحته او سیېږې)

٤٤٣. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ وَقَدْ جَاءَهُ نَعْيُ الأَشْتَرِ رَحِمَهُ اللهُ:

**مَالِكٌ وَمَا مَالِكٌ! وَاللهِ لَوْ كَانَ جَبَلاً لَكَانَ فِنْداً، [وَلَوْ كَانَ حَجَراً لَكَانَ صَلْداً،] لاَ يَرْتَقِيهِ الْحَافِرُ، وَلاَ يُوفِي عَلَيْهِ الطَّائِرُ.**

(فند هغه غر ته وائي چې تر نورو غرونو لوړ او ممتاز وي.)

**(۴۴۳) د مالک اشتر ځانګړتیاوې او خصوصیتونه**

«کله چې امامؑ ته د مالک اشتر د شهادت خبر اورسېدهٔ نو وې فرمايل:» مالک،او تاسو مالک څه پېژنئ؟ په خدا ے قسم که غر وې تر ټولو به سرلوړے غر ؤ او که کاڼے ؤ تر ټولو به کلک کاڼے ؤ د هغهٔ لوړو څوکو ته نهٔ څوک رسېدلې شول او نهٔ کوم مارغهٔ الوت کولې شو.

٤٤٤. وَقَالَ:

**قَلِيلٌ مَدُومٌ عَلَيْهِ خَيْرٌ مِنْ كَثِيرٍ مَمْلُولٍ مِنْهُ.**

**(۴۴۴) د مستقل مزاجۍ برکت**

لږ څيز که په شوق سره دوام و مومي تر هغه پرېمانتيا غوره دے چې کړاؤ ورسره وي.

٤٤٥. وَقَالَ:

**إِذَا كَانَ فِي رَجُلٍ خَلَّةٌ رَائِعَةٌ فَانْتَظِرْ أَخَوَاتِهَا.**

**(۴۴۵) انسان پېژندنه**

که په يو انسان کښې مو ښهٔ صفت اوليدهٔ له هغه د نورو ښو صفتونو طمعه هم کېدې شي.

٤٤٦. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ لِغَالِبِ بْنِ صَعْصَعَةَ أَبِي الْفَرَزْدَقِ، فِي كَلاَمٍ دَارَ بَيْنَهُمَا: **مَا فَعَلَتْ إِبِلُكَ الْكَثِيرَةُ؟** قَالَ: ذَعْذَعَتْهَا الْحُقُوقُ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ. فَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ: **ذَاكَ أَحْمَدُ سُبُلِهَا.**

**(۴۴۶) د خلقو پور ورکړئ**

«امام د فرزدق پلار غالب بن صعصعه ته وفرمايل:» هغه ډېر اوښان دې څه شول؟ «ځواب يې ورکړ اے اميرالمومنين د خلقو حقوقو ورکولو هغه خوارهٔ وارهٔ کړل امام وفرمايل:» دا د هغوي د استعمال تر ټولو ښهٔ لاره وه.

٤٤٧. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

**مَنِ اتَّجَرَ بِغَيْرِ فِقْهٍ ارْتَطَمَ فِي الرِّبَا.**

**(۴۴۷) په تجارت کښې د فقهې ضرورت**

څوک چې د اسلامي فقهې له زده کولو نه بغېر تجارت وکړي په ربا (سودخورۍ) به اخته شي.

٤٤٨. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

**مَنْ عَظَّمَ صِغَارَ الْمَصَائِبِ ابْتَلاَهُ اللهُ بِكِبَارِهَا.**

**(۴۴۸) له مصيبتونو سره سلوک**

څوک چې وړوکے مصيبت لوے اوګڼي خدا ے پاک به يې به لويو مصيبتونو اخته کړي.

٤٤٩. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

**مَنْ كَرُمَتْ عَلَيْهِ نَفْسُهُ هَانَتْ عَلَيْهِ شَهْوَتُهُ.**

**(۴۴۹) له هوا او هوس سره مقابله**

په چا چې خپل ځان ګران وي هوا او هوس ته سپک ګوري.

٤٥٠. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

**مَا مَزَحَ امْرُؤٌ مَزْحَةً إِلاَّ مَجَّ مِنْ عَقْلِهِ مَجَّةً.**

**(۴۵۰) بې ځايه ټوقې مه کوئ**

هيڅوک ټوقې مسخرې نهٔ کوي مګر دا چې د خپل عقل يوه برخه له لاسه ورکوي.

٤٥١. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

**زُهْدُكَ فِي رَاغِبٍ فِيكَ نُقْصَانُ حَظٍّ، وَرَغْبَتُكَ فِي زَاهِدٍ فِيكَ ذُلُّ نَفْسٍ.**

٤٥٢. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

**الْغِنَى وَالْفَقْرُ بَعْدَ الْعَرْضِ عَلَى اللهِ.**

٤٥٣. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

**مَا زَالَ الزُّبَيْرُ رَجُلاً مِنَّا أَهْلَ الْبَيْتِ حَتَّى نَشَأَ ابْنُهُ الْمَشْؤُومُ عَبْدُ اللهِ.**

٤٥٤. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

**مَا لِابْنِ آدَمَ وَالْفَخْرِ: أَوَّلُهُ نُطْفَةٌ، وَآخِرُهُ جِيفَةٌ، وَ لَا يَرْزُقُ نَفْسَهُ، وَلَا يَدْفَعُ حَتْفَهُ.**

٤٥٥. وَسُئِلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ: مَنْ أَشْعَرُ الشُّعَرَاءِ؟ فَقَالَ:

**إِنَّ الْقَوْمَ لَمْ يَجْرُوا فِي حَلْبَةٍ تُعْرَفُ الْغَايَةُ عِنْدَ قَصَبَتِهَا، فَإِنْ كَانَ وَلَا بُدَّ فَالْمَلِكُ الضِّلِّيلُ.**

يُرِيدُ امْرَأَ الْقَيْسِ.

٤٥٦. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

**أَلَا حُرٌّ يَدَعُ هٰذِهِ اللُّمَاظَةَ لِأَهْلِهَا؟ إِنَّهُ لَيْسَ لِأَنْفُسِكُمْ ثَمَنٌ إِلَّا الْجَنَّةَ، فَلَا تَبِيعُوهَا إِلَّا بِهَا.**

٤٥٧. وَقَالَ:

**مَنْهُومَانِ لَا يَشْبَعَانِ: طَالِبُ عِلْمٍ، وَطَالِبُ دُنْيَا.**

٤٥٨. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

**عَلَامَةُ الْإِيمَانِ أَنْ تُؤْثِرَ الصِّدْقَ حَيْثُ يَضُرُّكَ عَلَى الْكَذِبِ حَيْثُ يَنْفَعُكَ، وَأَنْ يَكُونَ فِي حَدِيثِكَ فَضْلٌ عَنْ عِلْمِكَ، وَأَنْ تَتَّقِيَ اللهَ فِي حَدِيثِ غَيْرِكَ.**

٤٥٩. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

**يَغْلِبُ الْمِقْدَارُ عَلَى التَّقْدِيرِ، حَتَّى تَكُونَ الْآفَةُ فِي التَّدْبِيرِ.**

٤٦٠. وَقَالَ:

**الْحِلْمُ وَالْأَنَاةُ تَوْأَمَانِ يُنْتِجُهُمَا عُلُوُّ الْهِمَّةِ.**

**(۴۵۱) له خلقو سره سلوک**

له هغه کس څخه ستا لرې والے چې تا غواړي، ؛ په دوستۍ کښې ستا د نیمګړتیا نښه ده او هغه کس ته ستا ګروهنه چې ستا دوستي او تا نۀ غواړي ستا د خوارېدو سبب ده.

**(۴۵۲) د فقر او غنا د پېژندلو معیار**

زمونږ فقر او شتمني، خدا ے پاک ته د کردار او عمل له وړاندې کېدو وروسته ښکاره کېږي.

**(۴۵۳) د زبېر د بې لاریتوب علتونه**

زبېر همېشه له مونږ (اهلبېتو) سره مل ؤ تر دې چې سپيرۀ زوے عبدالله يې ځوان شو.

**(۴۵۴)کبر مه کوه**

د آدم اولاد په څه باندې کبر او غرور کوي؟ هغه انسان چې شروع يې له نطفې او خاتمه يې مرداره ده، نۀ د ځان روزي برابرولې شي او نۀ مرګ له ځانه لرې کولې شي.

**(۴۵۵) د لوے شاعر د پېژندلو لار**

«له امامه يې اوپوښتل د عربو تر ټولو لوے شاعر څوک دے هغه حضرتؑ وفرمايل:» شاعرانو په يوې وادۍ کښې نيلي نۀ دي ځغلولي چې د کمال فېصله يې وکړې شي، او که بيا هم مجبوره شوو چې قضاوت وکړوو نو ګمراه باچا(امرء القيس) تر ټولو لوے شاعر دے.

**(۴۵۶) د انسان د سر قيمت**

آيا داسې څوک ننګيالے او پتيالے شته چې د حرامو دا ژولې نوړې يې اهلو ته پرېږدي. بې شکه ستاسو د ځان قيمت بې له جنته بل څه نۀ دے نو له هغۀ په کم څيز يې مه خرڅوئ!

**(۴۵۷) د مال او علم اوږي**

دوه اوږي هيڅکله نۀ مړېږي يو د علم اوږي او بل د مال اوږي.

**(۴۵۸) د ايمان نښې**

د ايمان نښه دا ده چې رښتيا ووائې هغه وخت چې تا ته تاوان رسوي او دروغ اونۀ وائې هغه وخت چې ويل يې تاته ګټه رسوي او دا چې د عمل تر اندازې زياته خبره اونۀ کړې اوکله چې د بل چا په حقله خبره کوې له خدايه اوبېرېږې.

**(۴۵۹) د جبر او اختيار د مقام پېژندل**

(کله کله) الهي تقدير داسې زمونږ په تدبيرونو لاسبرے شي چې د انسان تدبير د تباهۍ او افت سبب شي.

**(۴۶۰) د صبر او زغم ارزښت**

بردباري او ځنډ (صبر) غبرمله دي او د هغو پايله او نتيجه لوړ همتي ده.

٤٦١. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

الْغِيبَةُ جُهْدُ الْعَاجِزِ.

(۴۲۱) غیبت د بې وسه خلقو کار دے

غیبت کول د ناتوانه خلقو هڅه ده.

٤٦٢. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

رُبَّ مَفْتُونٍ بِحُسْنِ الْقَوْلِ فِيهِ.

(۴۲۲) غوړه مالي (چاپلوسي)

په دنیا کښې ډېر خلق د ځان د تعریف په وجه اوغولېدل.

٤٦٣. وَقَالَ:

الدُّنْيَا خُلِقَتْ لِغَيْرِهَا، وَلَمْ تُخْلَقْ لِنَفْسِهَا.

(۴۲۳) دنیا د آخرت پټي دے

دنیا آخرت ته د رسېدلو لپاره پنځول شوې ده نه ځان ته د رسېدلو لپاره.

٤٦٤. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

إِنَّ لِبَنِي أُمَيَّةَ مِرْوَداً يَجْرُونَ فِيهِ، وَلَوْ قَدِ اخْتَلَفُوا فِيمَا بَيْنَهُمْ ثُمَّ كَادَتْهُمُ الضِّبَاعُ لَغَلَبَتْهُمْ.

(۴۲۴) د بني امیهؤ انجام

د بني امیو لپاره یو مهلت او مېدان دے چې په هغه کښې ځغل کوي او په کومه ورځ چې په هغوي کښې اختلاف پرېوتۀ شرمخان به په هغوي اوغرمبېږي او اوبه یې پرځوي.

سید رضي وائي: مرود په وزن د منبر د ارواد له مادې ده چې د مهلت په معنا ده او دا یو ډېر فصیح او ښکلے کلام دے.تۀ به وائې امام﷤ د بني امیو د حکومت لنډ مهال د سیالۍ د ډګر په شان بللے دے چې سیالان پکښې په نمبر سره په یو بل مخکې کېږي او په یوه خاصه لاره د خپل هدف په لور ځغلي او کله چې مقصد ته اورسېږي د هغوي نظم ختم شي.

٤٦٥. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ فِي مَدْحِ الأَنْصَارِ:

هُمْ وَاللهِ رَبَّوُا الْإِسْلَامَ كَمَا يُرَبَّى الْفِلْوُ مَعَ غَنَائِهِمْ بِأَيْدِيهِمُ السِّبَاطِ وَأَلْسِنَتِهِمُ السِّلَاطِ.

(۴۲۵) د انصارو مقام

«امام﷤ د انصارو په ستائنه کښې وفرمایل:» په خدا ے قسم! هغوي اسلام وپالۀ، د هغې مور په شان چې خپل بچې پالي، په توانمنۍ، په کریمو لاسونو او تېرو ژبو سره.

٤٦٦. وَقَالَ:

الْعَيْنُ وِكَاءُ السَّهِ.

(۴۲۶) په مشاهداتو کښې ځېرتیا

سترګې د ژۍ (مشک) تسمه ده.

سید رضي وائي:دا له ډېروعجیبو ویناؤ څخه ده چې پکښې یې د انسان عقل مشک او سترګې یې د مشک د تسمې په شان بللي دي او کله چې تسمه خلاصه شي هر څه له مشکه توئیږي. مشهوره ده چې دا وېنا د پېغمبراکرمﷺ ده خو ځینو کسانو هغه له امیرالمومنین﷤ څخه نقل کړې ده دا حکمت «مبرد» په خپل کتاب مقتضب کښې راوړے دے او مونږ په خپل کتاب مجازات النبویه کښې هغه ذکر کړے دے.

٤٦٧. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ فِي كَلَامٍ لَهُ:

وَوَلِيَهُمْ وَالٍ فَأَقَامَ وَاسْتَقَامَ، حَتَّى ضَرَبَ الدِّينُ بِجِرَانِهِ.

(۴۲۷) د مشرۍ صفت

په هغوي یو داسې چارواکے واکمن شو چې کارونه یې قائم کړل او استقامت یې وکړ تر دې چې دین ټینګ شو.

٤٦٨. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

يَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ عَضُوضٌ، يَعَضُّ الْمُوسِرُ فِيهِ عَلَى مَا فِي يَدَيْهِ وَلَمْ يُؤْمَرْ بِذَلِكَ، قَالَ اللهُ سُبْحَانَهُ: ﴿وَلَا تَنْسَوُا الْفَضْلَ بَيْنَكُمْ﴾، تَنْهَدُ فِيهِ الأَشْرَارُ، وَتُسْتَذَلُّ الأَخْيَارُ، وَيُبَايِعُ الْمُضْطَرُّونَ، وَقَدْ نَهَى رَسُولُ اللهِ (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وسلم) عَنْ بَيْعِ الْمُضْطَرِّينَ.

(۴۲۸) د پانګونې ذمه واري

په خلقو داسې سخته زمانه راتلونکې ده چې شتمن به په خپل مال کښې سخته شومي کوي حال دا چې د شومۍ امر نۀ دے شوے. پاک خدا ے وفرمایل: «په خپل مینځ کښې بخشش او ښندنه (ورکړه) مه هېروئ» بدان به پکښې لوړ مقامه او نېکان به پکښې خوار شي، او له بې وزله او مجبوره خلقو سره به سوداګانې او معاملې کېږي حال دا چې د خدا ے ګران رسولﷺ د اضطرار په حال کښې له مجبورو خلقو سره معامله او سودا کول منع کړې دي.

٤٦٩. وَقَالَ: يَهْلِكُ فِيَّ رَجُلَانِ: مُحِبٌّ مُفْرِطٌ، وَبَاهِتٌ مُفْتَرٍ.

وَهَذَا مِثْلُ قَوْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

(۴۲۹) د امام په حقله له افراط او تفریطه ډډه کول

دوه ډوله کسان به زما په حقله برباد شي هغه مئین چې زیاتي او افراط وکړي او هغه دروغجن چې رښتیا اونۀ وائي.«دا کلام د امام د یو بل

هَلَكَ فِي رَجُلاَنِ: مُحِبٌّ غَالٍ، وَمُبْغِضٌ قَالٍ.

کلام په شان دے چې وې فرمايل دوه کسان به زما په حقله هلاک شي هغه دوست چې له حده تېر شي او هغه دښمن چې چټي خبره وکړي»

٤٧٠. وَسُئِلَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ عَنِ التَّوْحِيدِ وَالْعَدْلِ فَقَالَ:

التَّوْحِيدُ أَنْ لاَ تَتَوَهَّمَهُ، وَالْعَدْلُ أَلاَّ تَتَّهِمَهُ.

(۴۷۰) د عدل او توحيد بيان

«له امامه يې د عدل او توحيد په حقله وپوښتل وې فرمايل:» توحيد دا دے چې د خداے وهمي انځور جوړ نۀ کړې او عدل دا دے چې هغه تورن نۀ کړې (يعنې افعال يې غېرحکيمانه اونۀ گڼې).

٤٧١. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ: لاَ خَيْرَ فِي الصَّمْتِ عَنِ الْحُكْمِ، كَمَا أَنَّهُ لاَ خَيْرَ فِي الْقَوْلِ بِالْجَهْلِ.

(۴۷۱) د خبرو او خاموشۍ موقع

د حکمت خبرې له کولو خاموشي اختيارول فائده نۀ لري هم هغه شان چې د ناپوهۍ او جهالت خبره کول څه فائده نۀ لري.

٤٧٢. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ فِي دُعَاءٍ اسْتَسْقَى بِهِ:

اللَّهُمَّ اسْقِنَا ذُلُلَ السَّحَابِ دُونَ صِعَابِهَا.

(۴۷۲) د باران دعا

د باران د دعا په وخت يې وفرمايل:» اے خدايه مونږ په رامو وريځو خړوب کړې نه په سرکښو وريځو.

«سيد رضي وائي: دا ډېر فصيح او بليغ کلام دے چې پکښې يې سرکښې وريځې چې تالنده، گړزهار او برېښنا هم لري د اړي کوونکو اوښانو په شان بللې چې په ملا بار نۀ پرېږدي او غورځوي يې او رامې وريځې يې رامو اوښانو ته چې په قراره شودې اوسپرلې ورکوي.»

٤٧٣. وَقِيلَ لَهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ: لَوْ غَيَّرْتَ شَيْبَكَ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ.

فَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

الْخِضَابُ زِينَةٌ، وَنَحْنُ قَوْمٌ فِي مُصِيبَةٍ!

يُرِيدُ بِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ.

(۴۷۳) د وېښتو د رنگولو او سينگار ارزښت

امام عليه السلام ته يې وويل: څه به شوي وو که وېښته دې رنگ کړي وې،وې فرمايل: د وېښتو رنگول سينگار او زينت دے او مونږ د پېغمبر اکرم صلی الله علیه وآله په وير او مصيبت کښې يوو.

٤٧٤. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

مَا الْمُجَاهِدُ الشَّهِيدُ فِي سَبِيلِ اللهِ بِأَعْظَمَ أَجْراً مِمَّنْ قَدَرَ فَعَفَّ، لَكَادَ الْعَفِيفُ أَنْ يَكُونَ مَلَكاً مِنَ الْمَلاَئِكَةِ.

(۴۷۴) د پاکلمنۍ ارزښت

د خداے پاک په لاره کښې د شهيد بدله د هغه پاک لمنه کس تر بدلې زياته نۀ ده چې د گناه وس يې وي خو په گناه ککړ نۀ شي بې له شکه پاکلمنه کس له فرښتو يوه فرښته ده.

٤٧٥. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

الْقَنَاعَةُ مَالٌ لاَ يَنْفَدُ.

(۴۷۵) د قناعت ارزښت

قناعت داسې مال دے چې ختمېږي نه.

٤٧٦. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ لِزِيَادِ بْنِ أَبِيهِ. وَقَدِ اسْتَخْلَفَهُ لِعَبْدِ اللهِ بْنِ الْعَبَّاسِ عَلَى فَارِسَ وَأَعْمَالِهَا، فِي كَلاَمٍ طَوِيلٍ كَانَ بَيْنَهُمَا، نَهَاهُ فِيهِ عَنْ تَقَدُّمِ الْخَرَاجِ:

اسْتَعْمِلِ الْعَدْلَ، وَاحْذَرِ الْعَسْفَ وَالْحَيْفَ،فَإِنَّ الْعَسْفَ يَعُودُ بِالْجَلاَءِ، وَالْحَيْفَ يَدْعُو إِلَى السَّيْفِ.

(۴۷۶) د هېواد چلولو طريقه

«کله چې امام عليه السلام زياد بن ابيه د عبدالله بن عباس په ځاے د فارس او خواوشا ښارونو گورنر کړ نو په يوې اوږدې تگلارې او منشور کښې يې هغه له بې وخته مالياتو اخېستلو منعې کړ او وې فرمايل:» عدل او انصاف خپورکړه او له ظلم او زياتې ډډه وکړه، ځکه چې ظلم خلق (عوام) کډوالۍ او زياتے تورې ايستلو ته مجبوروي.

٤٧٧. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ:

أَشَدُّ الذُّنُوبِ مَا اسْتَخَفَّ بِهِ صَاحِبُهُ.

(۴۷۷) تر ټولو لويه گناه

تر ټولو سخته گناه هغه ده چې گناهکار يې وړه اوگڼي.

٤٧٨. وَقَالَ:

مَا أَخَذَ اللهُ عَلَى أَهْلِ الْجَهْلِ أَنْ يَتَعَلَّمُوا حَتَّى أَخَذَ عَلَى أَهْلِ الْعِلْمِ أَنْ يُعَلِّمُوا.

(۴۷۸) د پوهانو فرض

خداے پاک له ناپوهانو ژمنه وانۀ خېسته چې زدکړه وکړي تر دې چې له پوهانو يې ژمنه واخېسته چې زده کړه ورکړي.

٤٧٩. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

**(۴۷۹) بد ترین دوست**

**شَرُّ الْأَخْوَانِ مَنْ تُكُلِّفَ لَهُ.**

تر ټولو بد دوست هغه دے چې د هغهٔ په خاطر وكړېږي.

«سيد رضي وائي:تكلف او تكليف يعنې كړېدل او په زحمت اخته كېدل. نو هغه دوست چې انسان په كړاو كښې واچوي د شر سبب دے او تر ټولو بد دوست ګڼل كېږي»

٤٨٠. وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

**(۴۸۰) د دوستی آفت**

**إِذَا احْتَشَمَ الْمُؤْمِنُ أَخَاهُ فَقَدْ فَارَقَهُ.**

كله چې يو مومن خپل ورور خفه كړي يقيناً چې له هغه جدا شوے دے.

«سيد رضي وائي: حشمه او احشمه يعنې هغه يې خفه كړ ځينو ويلې دي چې معنا يې دا ده چې هغه يې شرمنده كړ، او د احتشم مطلب د داسې حالت پېدا كول دي چې د جدائی زمينه برابروي.

«سيد رضي وائي: دا د اميرالمومنين امام علي﵇ د غوره كړې شويو وېناؤ وروستی برخه ده د خداے پاک شكر كوم چې ما ته يې د دغه خورو ورو وېناو په راغونډولو او په يوې ټولګې كښې د ځاے كولو توفيق راكړ. مونږ له اولې ورځې دا هوډ وكړ چې د هر څپركي په آخر كښې يو څو پاڼې سپينې پرېږدو چې كه كومه نوې وېنا او مطلب مو پېدا كړ هغه ورزيات كړو چې خبره څرګنده شي او هغه څه چې تر لاسه وتلې ښكارېدل په لاس راشي.

زمونږ توفيق له خدايه دے او هم په هغه توكل كوو، ځكه چې هغه زمونږ لپاره بس او ډېر ښهٔ كارساز دے او د امام﵇ د وېناؤ راغونډول د هجرت د ۴۰۰ كال په بزرګې مياشت (رجب) كښې ترسره شول.

خداے پاک دې زمونږ په سردار او مولا حضرت محمد مصطفی ﷺ چې د انبياؤ خاتم او انسانانو ته تر ټولو د ښې لارې لارښود دے او د هغهٔ په پاكو اهلبېتو﵈ او وفادارو صحابه ؓ باندې چې د يقين د آسمان ستوري دي درود او سلام اولېږي .

د خداے په لوے كرم نهج البلاغه كتاب له پښتو ژباړې وروسته يې بيا كتنه او اوډنه د ۱۳۹۰ هجري نمريز كال د قوس د مياشتې په نهويشتمه نېټه پاې ته اورسېده.

عبدالرحيم درانی

# فهرست


د اکېډيمۍ څو خبرې—٧
د مترجم سريزه—٨
د سيد رضيّ سريزه-١٢
وړومبۍ برخه: خطبې
﴿ وړومبۍ خطبه ﴾—١٧
﴿دويمه خطبه ﴾—٢٢
﴿ دريمه خطبه ﴾—٢٣
﴿ څلورمه خطبه ﴾—٢٥
﴿ پينځمه خطبه ﴾—٢٦
﴿ شپږمه خطبه ﴾—٢٧
﴿ اومه خطبه ﴾—٢٧
﴿ اتمه خطبه ﴾—٢٧
﴿ نهمه خطبه ﴾—٢٧
﴿ لسمه خطبه ﴾—٢٨
﴿ يولسمه خطبه ﴾—٢٨
﴿ دولسمه خطبه ﴾—٢٨
﴿ ديارلسمه خطبه ﴾—٢٩
﴿ څوارلسمه خطبه ﴾—٢٩
﴿ پنځلسمه خطبه ﴾—٢٩
﴿ شپاړسمه خطبه ﴾—٣٠
﴿ اولسمه خطبه ﴾—٣٢
﴿ اتلسمه خطبه ﴾—٣٣
﴿ نولسمه خطبه ﴾—٣٤
﴿ شلمه خطبه ﴾—٣٥
﴿ يويشتمه خطبه ﴾—٣٥
﴿ دويشتمه خطبه ﴾—٣٦
﴿ درويشتمه خطبه ﴾—٣٦
﴿ څلوريشتمه خطبه ﴾—٣٨
﴿ پنځويشتمه خطبه ﴾—٣٩
﴿ شپږويشتمه خطبه ﴾—٤٠
﴿ اويشتمه خطبه ﴾—٤٢
﴿ اتويشتمه خطبه ﴾—٤٣
﴿ نهويشتمه خطبه ﴾—٤٤
﴿ دېرشمه خطبه ﴾—٤٥
﴿ يودېرشمه خطبه ﴾—٤٦
﴿ دوه دېرشمه خطبه ﴾—٤٦
﴿ درې دېرشمه خطبه ﴾—٤٨
﴿ څلوردېرشمه خطبه ﴾—٤٩
﴿ پينځهٔ دېرشمه خطبه ﴾—٥٠
﴿ شپږ دېرشمه خطبه ﴾—٥٢
﴿ اوهٔ دېرشمه خطبه ﴾—٥٢
﴿ اتهٔ دېرشمه خطبه ﴾—٥٣
﴿ نههٔ دېرشمه خطبه ﴾—٥٣
﴿ څلوېښتمه خطبه ﴾—٥٣
﴿ يوڅلوېښتمه خطبه ﴾—٥٤
﴿ دوه څلوېښتمه خطبه ﴾—٥٥
﴿ درې څلوېښتمه خطبه ﴾—٥٦
﴿څلور څلوېښتمه خطبه ﴾—٥٧
﴿ پينځهٔ څلوېښتمه خطبه ﴾—٥٨
﴿ شپږ څلوېښتمه خطبه ﴾—٥٧
﴿ اوهٔ څلوېښتمه خطبه ﴾—٥٨
﴿ اتهٔ څلوېښتمه خطبه ﴾—٥٨
﴿ نههٔ څلوېښتمه خطبه ﴾—٥٨
﴿ پنځوسمه خطبه ﴾—٥٩
﴿ يوپنځوسمه خطبه ﴾—٥٩
﴿ دوه پنځوسمه خطبه ﴾—٦٠
﴿ درې پنځوسمه خطبه ﴾—٦٠
﴿ څلور پنځوسمه خطبه ﴾—٦٢
﴿ پينځهٔ پنځوسمه خطبه ﴾—٦٢
﴿ شپږ پنځوسمه خطبه ﴾—٦٢
﴿ اوهٔ پنځوسمه خطبه ﴾—٦٣
﴿ اتهٔ پنځوسمه خطبه ﴾—٦٥
﴿ نههٔ پنځوسمه خطبه ﴾—٦٥
﴿ شپېتمه خطبه ﴾—٦٥
﴿ يوشپېتمه خطبه ﴾—٦٥
﴿ دوه شپېتمه خطبه ﴾—٦٦
﴿ درې شپېتمه خطبه ﴾—٦٦
﴿ څلورشپېتمه خطبه ﴾—٦٦
﴿ پنځهٔ شپېتمه خطبه ﴾—٦٧
﴿ شپږشپېتمه خطبه ﴾—٦٧
﴿ اوهٔ شپېتمه خطبه ﴾—٦٨
﴿ اتهٔ شپېتمه خطبه ﴾—٦٩

﴿ نهۀ شپېتمه خطبه ﴾—۶۹
﴿ اویایمه خطبه ﴾—۷۰
﴿ یو اویایمه خطبه ﴾—۷۰
﴿ دوه اویایمه خطبه ﴾—۷۲
﴿ درې اویایمه خطبه ﴾—۷۲
﴿ څلور اویایمه خطبه ﴾—۷۳
﴿ پینځۀ اویایمه خطبه ﴾—۷۳
﴿ شپږ اویایمه خطبه ﴾—۷۳
﴿ اوۀ اویایمه خطبه ﴾—۷۴
﴿ اتۀ اویایمه خطبه ﴾—۷۴
﴿ نهۀ اویایمه خطبه ﴾—۷۴
﴿ اتیایمه خطبه ﴾—۷۵
﴿ یو اتیایمه خطبه ﴾—۷۵
﴿ دوه اتیایمه خطبه ﴾—۷۶
﴿ درې اتیایمه خطبه ﴾—۷۶
﴿ څلور اتیایمه خطبه ﴾—۸۱
﴿ پنځۀ اتیایمه خطبه ﴾—۸۲
﴿ شپږ اتیایمه خطبه ﴾—۸۲
﴿ اوۀ اتیایمه خطبه ﴾—۸۳
﴿اتۀ اتیایمه خطبه ﴾—۸۵
﴿ نهۀ اتیایمه خطبه ﴾—۸۶
﴿ نوي یمه خطبه ﴾—۸۷
﴿ یو نوي یمه خطبه ﴾—۸۷
﴿ دوه نوي یمه خطبه ﴾—۹۵
﴿ درې نوي یمه خطبه ﴾—۹۶
﴿ څلور نوي یمه خطبه ﴾—۹۷
﴿ پینځۀ نوي یمه خطبه ﴾—۹۸
﴿ شپږ نوي یمه خطبه ﴾—۹۸
﴿ اوۀ نوي یمه خطبه ﴾—۹۹
﴿ اتۀ نوي یمه خطبه ﴾—۱۰۰
﴿ نهۀ نوي یمه خطبه ﴾—۱۰۱
﴿ سلمه خطبه ﴾—۱۰۱
﴿یوسل ورومبۍ خطبه ﴾—۱۰۲
﴿یوسل دویمه خطبه ﴾—۱۰۳
﴿یوسل دریمه خطبه ﴾—۱۰۴
﴿ یو سل څلورمه خطبه ﴾—۱۰۵
﴿یوسل پینځمه خطبه ﴾—۱۰۵
﴿ یو سل شپږمه خطبه ﴾—۱۰۶
﴿ یوسل اومه خطبه ﴾—۱۰۸
﴿ یوسل اتمه خطبه ﴾—۱۰۸
﴿ یوسل نهمه خطبه ﴾—۱۱۰
﴿ یوسل لسمه خطبه ﴾—۱۱۳
﴿ یوسل یولسمه خطبه ﴾—۱۱۴
﴿ یوسل دولسمه خطبه ﴾—۱۱۵
﴿ یو سل دیارلسمه خطبه ﴾—۱۱۶
﴿ یوسل څوارلسمه خطبه ﴾—۱۱۷
﴿ یوسل پینځلسمه خطبه ﴾—۱۱۸
﴿ یوسل شپاړسمه خطبه ﴾—۱۱۹
﴿ یوسل اولسمه خطبه ﴾—۱۲۰
﴿ یوسل اتلسمه خطبه ﴾—۱۲۰
﴿ یوسل نولسمه خطبه ﴾—۱۲۱
﴿ یوسل شلمه خطبه ﴾—۱۲۱
﴿ یوسل یویشتمه خطبه ﴾—۱۲۲
﴿ یوسل دویشتمه خطبه ﴾—۱۲۳
﴿ یوسل درویشتمه خطبه ﴾—۱۲۴
﴿ یوسل څلوریشتمه خطبه ﴾—۱۲۴
﴿ یوسل پینځویشتمه خطبه ﴾—۱۲۵
﴿ یوسل شپږویشتمه خطبه ﴾—۱۲۶
﴿ یوسل اویشتمه خطبه ﴾—۱۲۷
﴿ یوسل اتویشتمه خطبه ﴾—۱۲۸
﴿ یوسل نهویشتمه خطبه ﴾—۱۲۹
﴿ یوسل دېرشمه خطبه ﴾—۱۳۰
﴿ یوسل یودېرشمه خطبه ﴾—۱۳۰
﴿ یوسل دوه دېرشمه خطبه ﴾—۱۳۱
﴿ یوسل درې دېرشمه خطبه ﴾—۱۳۲
﴿ یوسل څلوردېرشمه خطبه ﴾—۱۳۳
﴿ یوسل پینځۀ دېرشمه مه خطبه ﴾—۱۳۳
﴿ یوسل شپږدېرشمه خطبه ﴾—۱۳۳
﴿ یوسل اوۀ دېرشمه خطبه ﴾—۱۳۴
﴿ یو سل اتۀ دېرشمه خطبه ﴾—۱۳۵
﴿ یوسل نهۀ دېرشمه خطبه ﴾—۱۳۵
﴿ یوسل څلوېښتمه خطبه ﴾—۱۳۶
﴿ یوسل یوڅلوېښتمه خطبه ﴾—۱۳۶
﴿ یوسل دوه څلوېښتمه خطبه ﴾—۱۳۷

﴿ يوسل دريِ څلو ېښتمه خطبه ﴾—۱۳۷
﴿ يوسل څلورڅلو ېښتمه خطبه ﴾—۱۳۸
﴿ يوسل پينځۀ څلو ېښتمه خطبه ﴾—۱۳۹
﴿ يوسل شپږڅلو ېښتمه خطبه ﴾—۱٤۰
﴿ يوسل اوۀ څلو ېښتمه خطبه ﴾—۱٤۰
﴿ يوسل اتۀ څلو ېښتمه خطبه ﴾—۱٤۲
﴿ يوسل نهۀ څلو ېښتمه خطبه ﴾—۱٤۲
﴿ يوسل پنځو سمه خطبه ﴾—۱٤۳
﴿ يوسل يو پنځو سمه خطبه ﴾—۱٤٤
﴿ يوسل دوه پنځو سمه خطبه ﴾—۱٤٦
﴿ يوسل دريِ پنځو سمه خطبه ﴾—۱٤۷
﴿ يو سل څلور پنځو سمه خطبه ﴾—۱٤۸
﴿ يوسل پينځۀ پنځو سمه خطبه ﴾—۱٤۹
﴿ يوسل شپږپنځو سمه خطبه ﴾—۱۵۰
﴿ يوسل اوۀ پنځو سمه خطبه ﴾—۱۵۲
﴿ يوسل اتۀ پنځو سمه خطبه ﴾—۱۵۳
﴿ يوسل نهۀ پنځو سمه خطبه ﴾—۱۵٤
﴿ يوسل شپېتمه خطبه ﴾—۱۵٤
﴿ يوسل يو شپېتمه خطبه ﴾—۱۵۷
﴿ يوسل دوه شپېتمه خطبه ﴾—۱۵۸
﴿ يوسل دريِ شپېتمه خطبه ﴾—۱۵۹
﴿ يوسل څلورشپېتمه خطبه ﴾—۱٦۰
﴿ يوسل پينځه شپېتمه خطبه ﴾—۱٦۱
﴿ يوسل شپږشپېتمه خطبه ﴾—۱٦٤
﴿ يوسل اوۀ شپېتمه خطبه ﴾—۱٦۵
﴿ يوسل اتۀ شپېتمه خطبه ﴾—۱٦٦
﴿ يوسل نهۀ شپېتمه خطبه ﴾—۱٦۷
﴿ يوسل اويايمه خطبه ﴾—۱٦۷
﴿ يوسل يو اويايمه خطبه ﴾—۱٦۸
﴿ يوسل دوه اويايمه خطبه ﴾—۱٦۸
﴿ يوسل دريِ اويايمه خطبه ﴾—۱٦۹
﴿ يوسل څلوراويايمه خطبه ﴾—۱۷۰
﴿ يو سل پينځۀ اويايمه خطبه ﴾—۱۷۱
﴿ يوسل شپږاويايمه خطبه ﴾—۱۷۲
﴿ يوسل اوۀ اويايمه خطبه ﴾—۱۷۵
﴿ يوسل اتۀ اويايمه خطبه ﴾—۱۷۵
﴿ يوسل نهۀ اويايمه خطبه ﴾—۱۷٦
﴿ يوسل اتيايمه خطبه ﴾—۱۷۷
﴿ يوسل يو اتيايمه خطبه ﴾—۱۷۷
﴿ يوسل دوه اتيايمه خطبه ﴾—۱۷۸
﴿ يوسل دريِ اتيايمه خطبه ﴾—۱۸۱
﴿ يوسل څلور اتيايمه خطبه ﴾—۱۸٤
﴿ يوسل پينځۀ اتيايمه خطبه ﴾—۱۸٤
﴿ يوسل شپږاتيايمه خطبه ﴾—۱۸٦
﴿ يوسل اوۀ اتيايمه خطبه ﴾—۱۹۰
﴿ يوسل اتۀ اتيايمه خطبه ﴾—۱۹۰
﴿ يوسل نهۀ اتيايمه خطبه ﴾—۱۹۱
﴿ يوسل نوي يمه خطبه ﴾—۱۹۱
﴿ يوسل يو نويمه خطبه ﴾—۱۹۳
﴿ يوسل دوه نوي يمه خطبه ﴾—۱۹۵
﴿ يوسل دريِ نوي يمه خطبه ﴾—۲۰٦
﴿ يوسل څلور نوي يمه خطبه ﴾—۲۰۹
﴿ يو سل پينځۀ نوي يمه خطبه ﴾—۲۱۰
﴿ يو سل شپږ نوي يمه خطبه ﴾—۲۱۱
﴿ يو سل اوۀ نوي يمه خطبه ﴾—۲۱۲
﴿ يو سل اتۀ نوي يمه خطبه ﴾—۲۱۲
﴿ يو سل نهۀ نويمه خطبه ﴾—۲۱۵
﴿ دوه سوه يمه خطبه ﴾—۲۱٦
﴿ دوه سوه وړومبۍ خطبه ﴾—۲۱٦
﴿ دوه سوه دويمه خطبه ﴾—۲۱۷
﴿ دوه سوه دريمه خطبه ﴾—۲۱۸
﴿ دوه سوه څلورمه خطبه ﴾—۲۱۸
﴿ دوه سوه پينځمه خطبه ﴾—۲۱۸
﴿ دوه سوه شپږمه خطبه ﴾—۲۱۹
﴿ دوه سوه اومه خطبه ﴾—۲۱۹
﴿ دوه سوه اتمه خطبه ﴾—۲۲۰
﴿ دوه سوه نهمه خطبه ﴾—۲۲۰
﴿ دوه سوه لسمه خطبه ﴾—۲۲۰
﴿ دوه سوه يولسمه خطبه ﴾—۲۲۲
﴿ دوه سوه دولسمه خطبه ﴾—۲۲۳
﴿ دوه سوه ديارلسمه خطبه ﴾—۲۲٤
﴿ دوه سوه څوارلسمه خطبه ﴾—۲۲٤
﴿ دوه سوه پينځلسمه خطبه ﴾—۲۲۵
﴿ دوه سوه شپاړسمه خطبه ﴾—۲۲۵

﴿دوه سوه اولسمه خطبه﴾—۲۲۷
﴿دوه سوه اتلسمه خطبه﴾—۲۲۸
﴿دوه سوه نولسمه خطبه﴾—۲۲۸
﴿دوه سوه شلمه خطبه﴾—۲۲۸
﴿دوه سوه یویشتمه خطبه﴾—۲۲۸
﴿دوه سوه دویشتمه خطبه﴾—۲۲۳۱
﴿دوه سوه درویشتمه خطبه﴾—۲۳۲
﴿دوه سوه څلوریشتمه خطبه﴾—۲۳۳
﴿دوه سوه پینځویشتمه خطبه﴾—۲۳۵
﴿دوه سوه شپږویشتمه خطبه﴾—۲۳۵
﴿دوه سوه اویشتمه خطبه﴾—۲۳۵
﴿دوه سوه اتویشتمه خطبه﴾—۲۳۶
﴿دوه سوه نهویشتمه خطبه﴾—۲۳۶
﴿دوه سوه دېرشمه خطبه﴾—۲۳۶
﴿دوه سوه یو دېرشمه خطبه﴾—۲۳۸
﴿دوه سوه دوه دېرشمه خطبه﴾—۲۳۸
﴿دوه سوه دري دېرشمه خطبه﴾—۲۳۹
﴿دوه سوه څلور دېرشمه خطبه﴾—۲۳۹
﴿دوه سوه پینځه دېرشمه خطبه﴾—۲۳۹
﴿دوه سوه شپږ دېرشمه خطبه﴾—۲٤۰
﴿دوه سوه اوۀ دېرشمه خطبه﴾—۲٤۰
﴿دوه سوه اتۀ دېرشمه خطبه﴾—۲٤۰
﴿دوه سوه نهۀ دېرشمه خطبه﴾—۲٤۰
﴿دوه سوه څلوېښتمه خطبه﴾—۲٤۱
﴿دوه سوه یوڅلوېښتمه خطبه﴾—۲٤۱
دویمه برخه: لیکونه (خطونه)
﴿وړومبی لیک﴾—۲٤۳
﴿دویم لیک﴾—۲٤۳
﴿دریم لیک﴾—۲٤۳
﴿څلورم لیک﴾—۲٤٤
﴿پینځم لیک﴾—۲٤٥
﴿شپږم لیک﴾—۲٤٥
﴿اوم لیک﴾—۲٤٥
﴿اتم لیک﴾—۲٤٦
﴿نهم لیک﴾—۲٤٦
﴿لسم لیک﴾—۲٤۷
﴿یولسم لیک﴾—۲٤۸
﴿دولسم لیک﴾—۲٤۸
﴿دیارلسم لیک﴾—۲٤۹
﴿څوارلسم لیک﴾—۲٤۹
﴿پینځلسم لیک﴾—۲٥۰
﴿شپاړسم لیک﴾—۲٥۰
﴿اولسم لیک﴾—۲٥۰
﴿اتلسم لیک﴾—۲٥۱
﴿نولسم لیک﴾—۲٥۱
﴿شلم لیک﴾—۲٥۲
﴿یوېشتم لیک﴾—۲٥۲
﴿دویشتم لیک﴾—۲٥۲
﴿درویشتم لیک﴾—۲٥۳
﴿څلوریشتم لیک﴾—۲٥۳
﴿پینځویشتم لیک﴾—۲٥٤
﴿شپږ ویشتم لیک﴾—۲٥٥
﴿اویشتم لیک﴾—۲٥٦
﴿اتویشتم لیک﴾—۲٥۷
﴿نهویشتم لیک﴾—۲٦۰
﴿دېرشم لیک﴾—۲٦۰
﴿یودېرشم لیک﴾—۲٦۱
﴿دوه دېرشم لیک﴾—۲۷۰
﴿دري دېرشم لیک﴾—۲۷۱
﴿څلور دېرشم لیک﴾—۲۷۱
﴿پینځۀ دېرشم لیک﴾—۲۷۱
﴿شپږ دېرشم لیک﴾—۲۷۲
﴿اوۀ دېرشم لیک﴾—۲۷۳
﴿اتۀ دېرشم لیک﴾—۲۷۳
﴿نهۀ دېرشم لیک﴾—۲۷۳
﴿څلوېښتم لیک﴾—۲۷٤
﴿یوڅلوېښتم لیک﴾—۲۷٤
﴿دوه څلوېښتم لیک﴾—۲۷٥
﴿دري څلوېښتم لیک﴾—۲۷٦
﴿څلور څلوېښتم لیک﴾—۲۷٦
﴿پینځۀ څلوېښتم لیک﴾—۲۷۷
﴿شپږڅلوېښتم لیک﴾—۲۷۹
﴿اوۀ څلوېښتم لیک﴾—۲۸۰
﴿اتۀ څلوېښتم لیک﴾—۲۸۱

﴿نهۀ څلوېښتم لیک ﴾—۲۸۱
﴿پنځوسم لیک ﴾—۲۸۱
﴿یو پنځوسم لیک ﴾—۲۸۲
﴿دوه پنځوسم لیک ﴾—۲۸۳
﴿درې پنځوسم لیک ﴾—۲۸۳
﴿څلور پنځوسم لیک ﴾—۲۹٦
﴿پینځۀ پنځوسم لیک ﴾—۲۹۷
﴿شپږ پنځوسم لیک ﴾—۲۹۷
﴿اوۀ پنځوسم لیک ﴾—۲۹۸
﴿اتۀ پنځوسم لیک ﴾—۲۹۸
﴿نهۀ پنځوسم لیک ﴾—۲۹۸
﴿شپېتم لیک ﴾—۲۹۹
﴿یو شپېتم لیک ﴾—۲۹۹
﴿دوه شپېتم لیک ﴾—۳۰۰
﴿درې شپېتم لیک ﴾—۳۰۱
﴿څلور شپېتم لیک ﴾—۳۰۱
﴿پینځۀ شپېتم لیک ﴾—۳۰۲
﴿شپږ شپېتم لیک ﴾—۳۰۳
﴿اوۀ شپېتم لیک ﴾—۳۰۳
﴿اتۀ شپېتم لیک ﴾—۳۰٤
﴿نهۀ شپېتم لیک ﴾—۳۰٤
﴿اویایم لیک ﴾—۳۰٦
﴿یو اویایم لیک ﴾—۳۰٦
﴿دوه اویایم لیک ﴾—۳۰۷
﴿درې اویایم لیک ﴾—۳۰۷
﴿څلور اویایم لیک ﴾—۳۰۷
﴿پینځۀ اویایم لیک ﴾—۳۰۸
﴿شپږ اویایم لیک ﴾—۳۰۸
﴿اوۀ اویایم لیک ﴾—۳۰۸
﴿اتۀ اویایم لیک ﴾—۳۰۹
﴿نهۀ اویایم لیک ﴾—۳۰۹
دریمه برخه: حکمتونه (ملغلرې)
(۱) له فتنو سره د چلند طریقه—۳۱۳
(۲) د رذائلو پېژندل—۳۱۳
(۳) د رذایلو پېژندل—۳۱۳
(۴) اخلاقي ارزښتونه او ارزښت ضد څیزونه—۳۱۳
(۵) د اخلاقي ارزښتونو پېژندل—۳۱۳
(٦) د رازدارۍ او خوشرویۍ ارزښت—۳۱۳
(۷) اقتصادي سرښندنه او د آخرت یادونه—۳۱۳
(۸) د انسان د بدن حېرانتیاوې—۳۱۳
(۹) انسان ته د دنیا د مخه کولو یا شاکولو پایلې—۳۱۳
(۱۰) له خلکو سره د ژوند روده—۳۱۳
(۱۱) له دښمن سره د سلوک طریقه—۳۱٤
(۱۲) د دوست موندلو طریقه—۳۱٤
(۱۳) له نعمتونو د استفادې طریقه—۳۱٤
(۱۴) له خپلوانو سره د سلوک روده—۳۱٤
(۱۵) له غولېدلو کسانو سره د سلوک روده—۳۱٤
(۱٦) د جبر او اختیار د مقام پېژندل—۳۱٤
(۱۸) له جنګه د تېښتې سپیرې پایلې—۳۱٤
(۱۹) د نفس د لاروۍ پایله—۳۱٤
(۲۰) له ځوانمردانو سره سلوک—۳۱٤
(۲۱) اخلاقي فضایل او رذایل—۳۱٤
(۲۲) د حق اخېستو روده—۳۱۵
(۲۳) د عمل فضیلت—۳۱۵
(۲۴) له خلکو سره د مرستې طریقه—۳۱۵
(۲۵) د نعمتونو په زیاتولو کې د خدای ویره—۳۱۵
(۲٦) د روح او بدن تعلق—۳۱۵
(۲۷) د دردونو درمان—۳۱۵
(۲۸) تر ټولو لویه تقوا—۳۱۵
(۲۹) مرګ یاد ساتۀ—۳۱۵
(۳۰) له غفلته ډډه کوۀ—۳۱۵
(۳۱) د ایمان ډولونه—۳۱۵
(۳۲) د ښو کارونو ارزښت—۳۱۷
(۳۳) په ښندنه او حساب کتاب کې انډول او اعتدال—۳۱۷
(۳۴) د بې نیازۍ لاره—۳۱۷
(۳۵) موقع پېژندل—۳۱۷
(۳٦) اوږدۀ ارمانونه او بدعملونه—۳۱۷
(۳۷) د جاهلیت دودونه، رواجونه پرېږدۀ—۳۱۷
(۳۸) له خلکو سره د ناستې پاستې آداب—۳۱۷
(۳۹) د واجباتو او مستحباتو اصلي مقام—۳۱۸
(۴۰) عاقل او بې عقله وپېژنه—۳۱۸
(۴۱) د عاقل او کم عقل پېژندګلې—۳۱۸
(۴۲) ناروغي او د ګناهانو پاکېدل—۳۱۸
(۴۳) انساني نمونې—۳۱۸

(۴۴) د قیامت د یاد فضیلت—۳۱۸
(۴۵) د مومن او منافق د پېژندلو لاره—۳۱۸
(۴۶) د پښېمانۍ فضیلت—۳۱۹
(۴۷) د ارزښتونو پېژندل—۳۱۹
(۴۸) راز داري او برے—۳۱۹
(۴۹) له ښۀ او بد فطرته سره د سلوک روده—۳۱۹
(۵۰) د زړونود جذبولو لاره—۳۱۹
(۵۱) طاقت او عېب پوشي—۳۱۹
(۵۲) له ماته خوړلو سره سلوک—۳۱۹
(۵۳) سخاوت او ښندنه—۳۱۹
(۵۴) اخلاقي ارزښتونه—۳۱۹
(۵۵) د صبر ډولونه—۳۱۹
(۵۶) تش لاسي او بې ځایتوب—۳۱۹
(۵۷) د قناعت ارزښت—۳۲۰
(۵۸) مال او شهوت—۳۲۰
(۵۹) په غلطیو خبردارے ورکول—۳۲۰
(۶۰) د ژبې تربیت—۳۲۰
(۶۱) د ښځو د ځورولو خوړوالے—۳۲۰
(۶۲) نیکیو او ستائېنو ته ځواب—۳۲۰
(۶۳) د شفاعت ارزښت—۳۲۰
(۶۴) د دنیا پالو غفلت—۳۲۰
(۶۵) ددوستانو د پرېښودلو نتیجه—۳۲۰
(۶۶) د غوښتلو طریقه—۳۲۰
(۶۷) د انفاق فضیلت—۳۲۰
(۶۸) د عفت او شکر پایلې—۳۲۰
(۶۹) هیله مند (امیدوار) اوسه—۳۲۰
(۷۰) د جاهل نخښه—۳۲۱
(۷۱) د عقل د کمال نښه—۳۲۱
(۷۲) د انسان او دنیا تعلق—۳۲۱
(۷۳) د نفس روزنه—۳۲۱
(۷۴) مرګ یاد ساتئ—۳۲۱
(۷۵) د دنیا فنا کېدو ته پام—۳۲۱
(۷۶) د دنیا د پېښو تحلیل او شننه—۳۲۱
(۷۷) ددنیا پېژندل—۳۲۱
(۷۸) د جبر او اختیار د مقام پېژندل—۳۲۱
(۷۹) د حکمت ارزښت—۳۲۲
(۸۰) مومن او د حکمت ارزښت—۳۲۲
(۸۱) د انسان تول—۳۲۲
(۸۲) لوړ انساني اخلاقونه—۳۲۲
(۸۳) له غوړه مالو (چاپلوسانو) سره سلوک—۳۲۲
(۸۴) له جنګه وروسته خلک—۳۲۲
(۸۵) علمي دعوې مه کوئ—۳۲۲
(۸۶) د بوډا ګانو تجربه—۳۲۳
(۸۷) استغفار—۳۲۳
(۸۸) په ځمکه دوه امانه—۳۲۳
(۸۹) ددنیا او آخرت خیر—۳۲۳
(۹۰) فقیه څوک دے؟—۳۲۳
(۹۱) د زړونو علاج—۳۲۳
(۹۲) تر ټولو لوے علم—۳۲۳
(۹۳) د ازمېښتونو فلسفه—۳۲۳
(۹۴) د نېکیو او ښېګړو پېژندل—۳۲٤
(۹۵) تقوا او د اعمالو ارزښت—۳۲٤
(۹۶) د علم او بندګۍ ارزښت—۳۲٤
(۹۷) د یقین ارزښت—۳۲٤
(۹۸) په روایتونو د عمل کولو ضرورت—۳۲٤
(۹۹) د انا لله و انا الیه راجعون تفسیر—۳۲۵
(۱۰۰) د مناجاتو طریقه—۳۲۵
(۱۰۱) د خلکو حاجتونو د پوره کولو لاره—۳۲۵
(۱۰۲) مستقبل او د ارزښتونو مسخ والے—۳۲۵
(۱۰۳) له دنیا سره سلوک—۳۲۵
(۱۰۴) ۱- د زاهدانو صفت—۳۲۵
۲- د سحر خیزۍ فضیلت—۳۲٦
(۱۰۵) د الهي احکامو او حدودو خیال ساتل—۳۲٦
(۱۰۶) له دین څخه د تېښتې خطر—۳۲٦
(۱۰۷) بې عمله عالم—۳۲٦
(۱۰۸) د زړۀ او روح حېرانتیاوې—۳۲٦
(۱۰۹) د اهل بیتو(ع) فضیلت—۳۲۷
(۱۱۰) د الهي اوامرو د پوره کېدو شرطونه—۳۲۷
(۱۱۱) له امام علي (ع) سره نۀ زغمېدونکے عشق—۳۲۷
(۱۱۲) د تشیع مظلومیت—۳۲۷
(۱۱۳) شکري ملغلرې—۳۲۷
(۱۱۴) په ټولنه کې د خوش ګمانۍ او بدګمانۍ مقام—۳۲۷
(۱۱۵) دنیا فاني ده—۳۲۷
(۱۱۶) انسان او ازمېښتونه—۳۲۸

(۱۱۷) له امام سره په دوستۍ کې له افراط او تفریطه ډډه کول— ۳۲۸
(۱۱۸) له فرصتونو استفاده—۳۲۸
(۱۱۹) د دنیا د پېژندلو ضرورت—۳۲۸
(۱۲۰) د قرېشو د قبیلو نفسیات پېژندنه—۳۲۸
(۱۲۱) د عمل ډولونه—۳۲۸
(۱۲۲) د دوستانو له مرګه عبرت—۳۲۹
(۱۲۳) د انسانیت بشپړې نمونې—۳۲۹
(۱۲۴) د ښځې او نر نفسیات—۳۲۹
(۱۲۵) امام او د اسلام پېژندګلي—۳۲۹
(۱۲۶) په بې ارزښته کردارونو باندې حېرانتیا—۳۲۹
(۱۲۷) په عمل کې لټي مه کوئ—۳۲۹
(۱۲۸) په بدن د ژواک چاپېریال (ماحول) اثرات—۳۲۹
(۱۲۹) د پالونکي د عظمت پېژندل—۳۲۹
(۱۳۰) پام چې دنیا فاني ده—۳۳۰
(۱۳۱) وائې ورېدل چې یو سړے دنیا ملامتوي نو وې فرمایل:—۳۳۰
(۱۳۲) مرګ یاد ساتئ—۳۳۱
(۱۳۳) د دنیا او خلکو ډولونه—۳۳۱
(۱۳۴) د دوستانو حقوق—۳۳۱
(۱۳۵) څلور لوې فضیلتونه—۳۳۱
(۱۳۶) د الهي احکامو فلسفه—۳۳۲
(۱۳۷) صدقه د روزۍ دنازلېدلو وسیله—۳۳۲
(۱۳۸) د انفاق بدله—۳۳۲
(۱۳۹) په خدائې مرسته کې انډول او تعادل—۳۳۲
(۱۴۰) قناعت او بې نیازي—۳۳۲
(۱۴۱) د هوساینې او سوکالۍ لار—۳۳۲
(۱۴۲) دوستي او هوښیاري—۳۳۲
(۱۴۳) تشویش او بې وخته زړبوډې—۳۳۲
(۱۴۴) له مصیبت سره دصبر تناسب—۳۳۲
(۱۴۵) بې فائدې عبادتونه—۳۳۲
(۱۴۶) د دعا، صدقې او زکات فضیلت—۳۳۲
(۱۴۷) کمېل بن زیاد وائي: یوه ورځ امام زما لاس ونیوۀ او د کوفې هدیرې ته یې بوتلم بیا یې یوه دردناکه چغه ووېسته او وې فرمایل:—۳۳۲
(۱۴۸) انسان په خبرو پېژندل کېږي—۳۳٤
(۱۴۹) د ځان پېژندنې ضرورت—۳۳٤
(۱۵۰) بد خویونه—۳۳٤
(۱۵۱) د مستقبل فکر—۳۳۵
(۱۵۲) د دنیا فاني والي ته پام—۳۳۵
(۱۵۳) صبر او کامیابي—۳۳۵
(۱۵۴) نیت او مراد—۳۳۵
(۱۵۵) وعده پوره کوئ—۳۳۵
(۱۵۶) خدا ے پېژندنه او اطاعت—۳۳۵
(۱۵۷) د هدایت لاره هواره ده—۳۳۵
(۱۵۸) له بدو دوستانو سره سلوک—۳۳۵
(۱۵۹) د تهمت له ځایونو ځان ساتئ—۳۳٦
(۱۶۰) طاقت او زوروینه—۳۳٦
(۱۶۱) د مشورې فضیلت—۳۳٦
(۱۶۲) د رازدارۍ ضرورت—۳۳٦
(۱۶۳) فقر او تباهي—۳۳٦
(۱۶۴) له تبرې ګرو سره د چلند طریقه—۳۳٦
(۱۶۵) دخدا ے پاک له نافرمانۍ ډډه کول—۳۳٦
(۱۶۷) خود پسندي او بې برخې توب—۳۳٦
(۱۶۸) دنیا فاني ده—۳۳٦
(۱۶۹) بصیرت—۳۳٦
(۱۷۰) ګناه پرېښودل—۳۳٦
(۱۷۱) د حرام خورۍ عاقبت—۳۳٦
(۱۷۲) ناداني او دښمني—۳۳۷
(۱۷۳) دمشورې فائده—۳۳۷
(۱۷۴) دخدا ے په لاره کې غصه—۳۳۷
(۱۷۵) د وېرې علاج—۳۳۷
(۱۷۶) زغم ولرئ—۳۳۷
(۱۷۷) له بدانو سره د چلند طریقه—۳۳۷
(۱۷۸) دبدیو ختمول—۳۳۷
(۱۷۹) ضد او د ارادې او تدبیر سستي—۳۳۷
(۱۸۰) طمعه او مریتوب—۳۳۷
(۱۸۱) کوتاه فکره مه اوسئ—۳۳۷
(۱۸۲) د خبرې او چپتیا ځا ے—۳۳۷
(۱۸۳) باطل ګروهنه او اختلاف—۳۳۷
(۱۸۴) د امام اعتقادي ځانګړتیاوې—۳۳۸
(۱۸۵) د امام عقیدتي ځانګړتیاوې—۳۳۸
(۱۸۶) د ظالمانو سخت عاقبت—۳۳۸
(۱۸۷) قیامت یاد ساتئ—۳۳۸

(۱۸۸) حق ګروهنه—۳۳۸
(۱۸۹) د صبر فضیلت او د بې صبرۍ خطر—۳۳۸
(۱۹۰) د امامت او خلافت معیار—۳۳۸
(۱۹۱) د دنیا ستونځې او مشکلات—۳۳۸
(۱۹۲) د دنیا مال—۳۳۸
(۱۹۳) د زړهٔ د استعمال طریقه—۳۳۹
(۱۹۴) له غصې او انتقامه ډډه کول—۳۳۹
(۱۹۵) شومتوب مه کوئ—۳۳۹
(۱۹۶) د مال له ضائع کېدو عبرت—۳۳۹
(۱۹۷) د ارواګانو درمان—۳۳۹
(۱۹۸) د حکومت ضرورت—۳۳۹
(۱۹۹) د لوفرانو او بدمعاشانو غندنه—۳۳۹
(۲۰۰) د مفسدو انسانانو رټنه—۳٤۰
(۲۰۱) الهي مرستې او د انسان ساتنه—۳٤۰
(۲۰۲) په سیاسي مسائلو کې حقیقت پسندي—۳٤۰
(۲۰۳) د مرګ یاد او تقوا—۳٤۰
(۲۰۴) د خلکو ناشکري—۳٤۰
(۲۰۵) علم بې پایانه دے—۳٤۰
(۲۰۶) حلم او زغم—۳٤۱
(۲۰۷) له خوبانو سره ناسته پاسته—۳٤۱
(۲۰۸) د خودسازۍ او تذکیه نفس پراوونه—۳٤۱
(۲۰۹) د امام مهدي (ع) د څرګندېدو خبر—۳٤۱
(۲۱۰) د پرهېزګارۍ نمونې—۳٤۱
(۲۱۱) اخلاقي ارزښتونه—۳٤۱
(۲۱۲) خودپسندي د عقل آفت—۳٤۱
(۲۱۳) صبر او خوښي—۳٤۲
(۲۱۴) خوش اخلاقي او نعمتونه—۳٤۲
(۲۱۵) اختلاف، د تفکر آفت—۳٤۲
(۲۱۶) طاقت او تېرے—۳٤۲
(۲۱۷) خلک په پېښو کې وپېژنه—۳٤۲
(۲۱۸) حسد د دوستۍ آفت—۳٤۲
(۲۱۹) ارمانونه او ارزوګانې د عقل آفت—۳٤۲
(۲۲۰) په قضاوت کې عدالت—۳٤۲
(۲۲۱) د ظالمانو عاقبت—۳٤۲
(۲۲۲) د بدانو بدۍ ته بې پامي—۳٤۲
(۲۲۳) حیا او عیب پوښي—۳٤۲
(۲۲۴) اخلاقي فضائل—۳٤۲
(۲۲۵) حسد او بیماري—۳٤۳
(۲۲۶) طمعه (لالچ) او ذلت—۳٤۳
(۲۲۷) د ایمان رکنونه—۳٤۳
(۲۲۸) شکرې ملغلرې—۳٤۳
(۲۲۹) د قناعت او خوش اخلاقۍ فضیلت—۳٤۳
(۲۳۰) د روزۍ د لاسته راوړلو لاره—۳٤۳
(۲۳۱) د عدل او احسان تعریف—۳٤۳
(۲۳۲) د انفاق فضیلت—۳٤۳
(۲۳۳) په جنګ کې له پېل کولو ډډه کول—۳٤٤
(۲۳۴) د ښځو او سړو اخلاقي توپیر—۳٤٤
(۲۳۵) د هوښیارۍ نخښه—۳٤٤
(۲۳۶) د دنیا پېژندل—۳٤٤
(۲۳۷) د عبادت قسمونه—۳٤٤
(۲۳۸) د کورنۍ ذمه وارۍ—۳٤٤
(۲۳۹) د چغل خورۍ رذالت—۳٤٤
(۲۴۰) غصب او ورانۍ—۳٤٤
(۲۴۱) د ظالمانو بد عاقبت—۳٤٥
(۲۴۲) له خدایه د وېرې فضیلت—۳٤٥
(۲۴۳) د څوب صحیح طریقه—۳٤٥
(۲۴۴) د الهي نعمتونو شکر ایستل—۳٤٥
(۲۴۵) د طاقت زیاتښت د شهوت کمښت—۳٤٥
(۲۴۶) نعمتونو ته مه شا کوئ—۳٤٥
(۲۴۷)د سخاوت فضیلت—۳٤٥
(۲۴۸) د ښهٔ ګمان ساتنه—۳٤٥
(۲۴۹) غوره عمل—۳٤٥
(۲۵۰) په پېښو کې د خدا ے پېژندل—۳٤٥
(۲۵۱) د دنیا او آخرت خوارهٔ تراخهٔ—۳٤٥
(۲۵۲) د الهي احکامو فلسفه — ۳٤٥
(۲۵۳) ظالم ته د قسم ورکولو طریقه—۳٤٦
(۲۵۴) انفاق وکړئ—۳٤٦
(۲۵۵) تند خوئي او جنون—۳٤٦
(۲۵۶) حسد او بیماري—۳٤٦
(۲۵۷) د نورو د خوشحالولو لارې چارې—۳٤٦
(۲۵۸) صدقه او شتمني—۳٤۷
(۲۵۹) د وفادارۍ د ارزښت پېژندل—۳٤۷
(۲۶۰) د خدا ے له مهلت ورکولو ډډه وکړئ—۳٤۷
(۲۶۱) د امام علي مظلومیت—۳٤۷

(۲۶۲) حق ناشناسي—۳۴۷
(۲۶۳) له قدرتمندانو د ناستې پاستې نتيجه—۳۴۷
(۲۶۴) د نورو له پاتې کسانو سره نيکي—۳۴۸
(۲۶۵) د حکيمانو وينا—۳۴۸
(۲۶۶) د ځواب ورکولو سمه طريقه—۳۴۸
(۲۶۷) په روزي ګټلو کې له حرصه ډډه کول—۳۴۸
(۲۶۸) په مينه او کينه کې انډول ساتل—۳۴۸
(۲۶۹) له دنيا سره چلند—۳۴۸
(۲۷۰) قرآن او د کعبې اموال—۳۴۸
(۲۷۱) د قضاوت طريقه—۳۴۹
(۲۷۲) د فسادونو د ختمولو په لاره کې ټينګتيا—۳۴۹
(۲۷۳) په خدای پاک باندې توکل—۳۴۹
(۲۷۴) د عمل ضرورت—۳۴۹
(۲۷۵) اخلاقي رذالتونه—۳۴۹
(۲۷۶) له منافقته ډډه کول—۳۵۰
(۲۷۷) د امام قسم—۳۵۰
(۲۷۸) د عمل د دوام ارزښت—۳۵۰
(۲۷۹) د واجباتو او مستحباتو د مقام پېژندل—۳۵۰
(۲۸۰) د قيامت ياد ساتل—۳۵۰
(۲۸۱) عقل د سترګو تر کتلو فضيلت لري—۳۵۰
(۲۸۲) د نصحيت منلو آفت—۳۵۰
(۲۸۳) د ټولنې د زوال عوامل—۳۵۰
(۲۸۴) پوهه، د عذرونو ختمونکې—۳۵۰
(۲۸۵) له فرصتونو کار واخلئ—۳۵۰
(۲۸۶) د دنيا د خوندونو انجام—۳۵۱
(۲۸۷) د تقدير د پېژندلو مشکل—۳۵۱
(۲۸۸) د عمل آفت—۳۵۱
(۲۸۹) د کامل انسان نمونه—۳۵۱
(۲۹۰) د نعمتونو ذمه واري—۳۵۱
(۲۹۱) د غمرازۍ کولو روده—۳۵۱
(۲۹۲) د رسول الله مبارک وير او بې صبري—۳۵۲
(۲۹۳) له احمقانو سره دوستي مه کوئ—۳۵۲
(۲۹۴) د ختيځ او لوېديځ تر منځ فاصله—۳۵۲
(۲۹۵) د دوست د ښمن پېژندنه—۳۵۲
(۲۹۶) له دښمنيو څخه ډډه کول—۳۵۲
(۲۹۷) د عبرت اخېستل—۳۵۲
(۲۹۸) په دښمنۍ کې اعتدال—۳۵۲
(۲۹۹) په لمانځه سره مرسته وغواړئ—۳۵۲
(۳۰۰) د خلکو د رزق او حساب کتاب—۳۵۳
(۳۰۱) د ليکونو او استازو په استولو کې احتياط—۳۵۳
(۳۰۲) دعا ته د انسان ضرورت—۳۵۳
(۳۰۳) د دنيا د مينې ارزښت—۳۵۳
(۳۰۴) غوښتنو ته ځواب ورکول—۳۵۳
(۳۰۵) غيرت—۳۵۳
(۳۰۶) اجل د انسان نګهبان—۳۵۳
(۳۰۷) د چور شوي مال غم—۳۵۳
(۳۰۸) د پلارانو د دوستۍ برياوې—۳۵۳
(۳۰۹) د مومنانو ګمانونه—۳۵۳
(۳۱۰) په خدای پاک باندې باور—۳۵۳
(۳۱۱) د امام ښيرې—۳۵٤
(۳۱۲) د عبادتونو نفسيات—۳۵٤
(۳۱۳) د قرآن بشپړتيا—۳۵٤
(۳۱۴) له تېري ګر سره د سلوک طريقه—۳۵٤
(۳۱۵) د خطاطۍ طريق—۳۵٤
(۳۱۶) د مومنانو او ورانکارو مشر—۳۵٤
(۳۱۷) د مسلمانانو اختلاف او د يهوديانو انحراف—۳۵٤
(۳۱۸) د امام مېړانه—۳۵۵
(۳۱۹) د بېوزلۍ او فقر سپيرې پايلې—۳۵۵
(۳۲۰) د پوښتنې سمه طريقه—۳۵۵
(۳۲۱) په مشوره کولو کې د مشر پرېکنده والی—۳۵۵
(۳۲۲) له جنګه وروسته د خلکو د روحيې مضبوطول—۳۵۵
(۳۲۳) د خوارجو د بې لاريتوب علتونه—۳۵۵
(۳۲۴) په خلوت کې د خدای وېره—۳۵۵
(۳۲۵) د محمد بن ابي بکر د وژل کېدو غم—۳۵٦
(۳۲۶) د توبې د قبلېدو کېدو مهلت—۳۵٦
(۳۲۷) دروغجنې کاميابي—۳۵٦
(۳۲۸) د سرمايه دارو دنده—۳۵٦
(۳۲۹) له بخښنه غوښتلو بې نيازي—۳۵٦
(۳۳۰) د نعمتونو ذمه واري—۳۵٦
(۳۳۱) د بندګۍ ارزښت—۳۵٦
(۳۳۲) د امام دنده—۳۵٦
(۳۳۳) د مومن نخښې—۳۵٦
(۳۳۴) مرګ او ارمانونه—۳۵٦
(۳۳۵) د مالونو آفت—۳۵۷

(۳۳۶) وعده پوره کړئ—۳۵۷
(۳۳۷) عمل پکار دے—۳۵۷
(۳۳۸) د علم ډولونه—۳۵۷
(۳۳۹)طاقت او د فکر واکمني—۳۵۷
(۳۴۰) د پاکلمنۍ او شکر ایستنې ارزښت—۳۵۷
(۳۴۱) د ظالم لپاره سخته ورځ—۳۵۷
(۳۴۲) د بې نیازۍ لاره—۳۵۷
(۳۴۳) د خلکو پېژندل—۳۵۷
(۳۴۴) اے خلکو دنیا فاني ده—۳۵۷
(۳۴۵) د پاکۍ یوه لاره—۳۵۸
(۳۴۶) د سوال کولو ذلت—۳۵۸
(۳۴۷) په تعریف کولو کې انډول او اعتدال ساتل—۳۵۸
(۳۴۸) تر ټولو سخته ګناه—۳۵۸
(۳۴۹) کامل انسان—۳۵۸
(۳۵۰) د ظالم نفسیات—۳۵۸
(۳۵۱) په سختیو کې هیله مند تیا—۳۵۸
(۳۵۲) د کورنۍ په چارو کې انډول او اعتدال—۳۵۸
(۳۵۳) تر ټولو لوے عیب—۳۵۹
(۳۵۴) د بچي په زوکړه مبارکي ویل—۳۵۹
(۳۵۵) د بډایتوب او سرمایه دارۍ نخښه—۳۵۹
(۳۵۶) په رزق او اجل کې د خداے قدرت—۳۵۹
(۳۵۷) د تسلیت او تعزیت ویلو روده :—۳۵۹
(۳۵۸) د نعمتونو ذمه واري—۳۵۹
(۳۵۹) د نفس روزنه—۳۵۹
(۳۶۰) له بد ګمانۍ ډډه وکړئ—۳۵۹
(۳۶۱) له خدایه د غوښتلو طریقه—۳٦۰
(۳۶۲) له مجادلې او جنجاله ځان غړوئ—۳٦۰
(۳۶۳) د بې عقلۍ نخښه—۳٦۰
(۳۶۴) د پوښتنې ځاے—۳٦۰
(۳۶۵) اخلاقي ارزښت—۳٦۰
(۳۶۶) د علم او عمل غږملتیا—۳٦۰
(۳۶۷) له دنیا سره د سلوک روده—۳٦۰
(۳۶۸) د سزا او جزا فلسفه—۳٦۱
(۳۶۹) د راتلونکي خبر—۳٦۱
(۳۷۰) د تقوا ضرورت—۳٦۱
(۳۷۱) اخلاقي مرغلرې—۳٦۱
(۳۷۲) د دین او دنیا مضبوطیه—۳٦۲
(۳۷۳) د امر بالمعروف او نهي عن المنکر پرِاوونه—۳٦۲
(۳۷۴)د کړ مکر پړاوونه—۳٦۲
(۳۷۵) په جنګ کې د ماتې پړاوونه—۳٦۳
(۳۷۶) د حق او باطل انجام—۳٦۳
(۳۷۷) دخداے له عذابه د وېرېدو ضرورت—۳٦۳
(۳۷۸) د شومۍ بدې پایلې—۳٦۳
(۳۷۹) د روزۍ قسمونه او له حرصه ډډه کول—۳٦۳
(۳۸۰) مرګ مه هېروه—۳٦۳
(۳۸۱)خپله ژبه هم کلا ده هم بلا ده—۳٦٤
(۳۸۲) د چپتیا ارزښت—۳٦٤
(۳۸۳) د بندګۍ او اطاعت هڅه—۳٦٤
(۳۸۴) د ژوند روده—۳٦٤
(۳۸۵) دنیا پېژندنه—۳٦٤
(۳۸۶) چې غوښې پسې وهې په لاس به درشي—۳٦٤
(۳۸۷) نیکۍ او بدۍ وپېژنئ—۳٦٤
(۳۸۸) فقر او سلامتیا—۳٦٤
(۳۸۹) خپل عمل د لارې مل—۳٦۵
(۳۹۱) د حرامو او د غفلت د پرېښودلو ضرورت—۳٦۵
(۳۹۲) د انسان د پېژندلو روده—۳٦۵
(۳۹۳) له دنیا سره چلند—۳٦۵
(۳۹۴) د خبرې ارزښت—۳٦۵
(۳۹۵) د قناعت ارزښت—۳٦۵
(۳۹۶) د ښهٔ ژوند لاره—۳٦۵
(۳۹۷) ښهٔ عطر—۳٦۵
(۳۹۸) کبر پرېږده مرګ یاد ساته—۳٦۵
(۳۹۹) د پلار او اولاد په یو بل باندې حق—۳٦٦
(۴۰۰) د حقائقو او خرافاتو پېژندل—۳٦٦
(۴۰۱) له خلکو سره د غږملتیا ضرورت—۳٦٦
(۴۰۲) د موقعې پېژندل—۳٦٦
(۴۰۳) له ګډو وډ کارونو ډډه کول—۳٦٦
(۴۰۴) د لا حول و لا قوة تفسیر—۳٦٦
(۴۰۵) په دین تظاهر کوونکي جاهلان—۳٦٦
(۴۰۶) سرمایه دارو او غریبانانو اخلاق—۳٦۷
(۴۰۷) د عقل ارزښت—۳٦۷
(۴۰۸) له حق سره د مقابلې نتیجه—۳٦۷
(۴۰۹) د سترګو او زړهٔ غږملیتا—۳٦۷
(۴۱۰) د تقوا ارزښت—۳٦۷

(۴۱۱) د استاد درناوے—۳٦۷
(۴۱۲) د ځان تربیت—۳٦۷
(۴۱۳) په مصیبت صبر—۳٦۷
(۴۱۴) په مصیبت صبر:—۳٦۷
(۴۱۵)د دنیا حقیقت—۳٦۷
(۴۱۲) له دنیا سره چلند—۳٦۸
(۴۱۷) د توبې او استغفار شرطونه—۳٦۸
(۴۱۸) د حلم فضیلت—۳٦۸
(۴۱۹) د انسان پېژندل—۳٦۸
(۴۲۰) د شهوت علاج او د سپکاوي بدل—۳٦۹
(۴۲۱) د عقل کار—۳٦۹
(۴۲۲) د احسان فضیلت—۳٦۹
(۴۲۳) د نفس د روزنې فائدې—۳٦۹
(۴۲۴) شکرې ملغلرې۳٦۹
(۴۲۵) د سرمایه دارو دنده:—۳٦۹
(۴۲۲) دوه ناپائېداره څیزونه—۳٦۹
(۴۲۷) شکایت چاته پکار دي—۳۷۰
(۴۲۸) ربنتینے اختر—۳۷۰
(۴۲۹) د پانګه والو ارمان—۳۷۰
(۴۳۰) تاواني کس—۳۷۰
(۴۳۱) د روزۍ ډولونه—۳۷۰
(۴۳۲) د خداے د دوستانو صفتونه—۳۷۰
(۴۳۳) خوندونه ختمېدونکي دي—۳۷۱
(۴۳۴) مینځ بې ګوره چې چغزې دے که متاک—۳۷۱
(۴۳۵) لوړ اخلاقي ارزښتونه—۳۷۱
(۴۳۲) لوې خلک وپېژنئ—۳۷۱
(۴۳۷) د عدل او بخشش پېژندل—۳۷۱
(۴۳۸) ناپوهي او دښمني—۳۷۱
(۴۳۹) د زهد او تقوا تعریف—۳۷۱
(۴۴۰) په ژوند کې د خوب لیدلو رول— Error! Bookmark not defined.
(۴۴۱)انسانان به څنګه پېژنې— Error! Bookmark not defined. ۳۷۲
(۴۴۲)ښۀ ښار—۳۷۲
(۴۴۳) د مالک اشتر ځانګړتیاوې—۳۷۲
(۴۴۴) د مستقل مزاجۍ برکت—۳۷۲
(۴۴۵) انسان پېژندنه—۳۷۲
(۴۴۲) د خلکو پور ورکړئ—۳۷۲
(۴۴۷) په تجارت کې د فقې ضرورت—۳۷۲
(۴۴۸) له مصیبتونو سره سلوک—۳۷۲
(۴۴۹) له هوا او هوس سره مقابله—۳۷۲
(۴۵۰) بې ځایه ټوکې مه کوئ—۳۷۲
(۴۵۱) له خلکو سره سلوک—۳۷۳
(۴۵۲) د فقر او غنا د پېژندلو معیار—۳۷۳
(۴۵۳) د زبیر د بې لاریتوب علتونه—۳۷۳
(۴۵۴)کبر مه کوه—۳۷۳
(۴۵۵) د لوے شاعر د پېژندلو لاره—۳۷۳
(۴۵۲) د انسان د سر قیمت—۳۷۳
(۴۵۷) د مال او علم تږي—۳۷۳
(۴۵۸) د ایمان نخښې—۳۷۳
(۴۵۹) د جبر او اختیار د مقام پېژندل—۳۷۳
(۴۲۰) د صبر او زغم ارزښت—۳۷۳
(۴۲۱) غیبت د بې وسه خلکو کار دے—۳۷٤
(۴۲۲) غوره مالي—۳۷٤
(۴۲۳) دنیا د آخرت پټي دے—۳۷٤
(۴۲۴) د بني امیه ؤ انجام—۳۷٤
(۴۲۵) د انصارو مقام—۳۷٤
(۴۲۲) په مشاهداتو کې څېرتیا—۳۷٤
(۴۲۷) د مشرۍ صفت—۳۷٤
(۴۲۸) د پانګه ونې ذمه واري—۳۷٤
(۴۲۹) د امام په هکله له افراط او تفریطه ډډه کول—۳۷٤
(۴۷۰) د عدل او توحید بیان—۳۷۵
(۴۷۱) د خبرو او خاموشۍ موقع—۳۷۵
(۴۷۲) د باران دعا—۳۷۵
(۴۷۳) د وېښتو د رنګولو او سینګار ارزښت—۳۷۵
(۴۷۴) د پاکلمنۍ ارزښت—۳۷۵
(۴۷۵) د قناعت ارزښت—۳۷۵
(۴۷۲) د هېواد چلولو طریقه—۳۷۵
(۴۷۷) تر ټولو لویه ګناه—۳۷۵
(۴۷۸) د پوهانو فرض—۳۷۵
(۴۷۹) بد ترین دوست—۳۷٦
(۴۸۰) د دوستۍ آفت—۳۷٦

# لمن لیک

۱- اپېستمولوژيepistemology ( شناخت شناسي او د پېژندلو علم ته اشاره ده)
۲- پايتيتيزم يعنې د خدای پېژندنې عمل ته اشاره ده.Pietytheism
۳- (theocracy) مذهبي حکومت ته اشاره
٤- لکه د سورۀ نساء پينځلسم آيت «فَأَمْسِكُوهُنَّ فِي الْبُيُوتِ حَتَّى يَتَوَفَّاهُنَّ الْمَوْتُ» (بدکارې ښځې په کورونو کښې بندي کړئ تر دې چې مړې شي) دا حکم لرې شو او په ځای يې طلاق او رجم راغی.
۵- لکه د بيت المقدس په لور د نمونځ کول چې يو مهاليز او عارضي امر ؤ او د سورۀ بقرې به څلور څلوېښتم آيت کښې دا حکم ختم شو او د کعبې په لور نمونځ واجب شو (فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ)
٦- صفين د فرات سيند په غاړه رقه او بالس ته نزدې يو ځای دی چرته چې د هجرت د اوۀ دېرشم کال د صفرې په مياشت کښې د امام علي عليه‌السلام او د شاميانو په مېنځ کښې جنګ وشو (معجم البلدان)
۷- د شقشقيه خطبې به باره کښې ځينو متعصبو او بې انصافه ليکوالانو د دې خبرې او فتنې هڅه کړې ده چې دا خطبه د اميرالمومنين نۀ ده او دا سيد رضي په امام علي عليه‌السلام پورې تړلې ده . حال دا چې د هغوي دا خبره د روايت او درايت دواړو په خلاف ده.
د روايت له نظره د دې په نقل کوونکو کښې هغه کسان هم شامل دي چې د سيد رضي له زوکړې مخکې له دنيا تللي ووا و د درايت او پوهې له نظره د نيوکې او تظلم دا انداز يوازې د هغه کس کېدې شي چې ظلم پرې شوی وي او مصيبت يې ليدلی وي. او هر سړی حق لري چې په ځان باندې د شوي ظلم په خلاف غږ پورته کړي او بيا چې ټولې پېښې د تاريخ له مسلماتو څخه دي نو د انکار څه سوال نۀ پېدا کيږي.
د وړومبي خليفه له خوا په زوره د خلافت د جامې اغوستل او بيا په خپله وړومنې. وېنا کښې د هغۀ دا اعتراف چې زۀ له تاسو غوره نۀ يم او له ما سره هر وخت يو شېطان لګېدلی وي او د خلافت له چارې ما معاف کړئ، او له بلې خوا د حضرت علي عليه‌السلام د علم دا مقام چې د علمي سېلاب سرچينه او د انسان تر فکره لوړ دی، او له خلافته په لرې کېدو سره په صبر او زغم سره وخت تېرول. او بيا له ځانه وروسته د وړومبي خليفه لخوا د دويم خليفه ټاکل او د دواړو له لورې له خلافته پوره پوره استفاده او د دويم خليفه د مزاج او طبيعت زيږوالی هغه تاريخي حقائق دي چې څوک ترې انکار نۀ شي کولی نو بيا په کوم اساس دغه خطبه جعلي کېدلې شي. او ولې ځينې کسان د حقائقو د پټولو هڅه کوي.
۸- ابن خشاب وائي په خدای قسم دا خطبه مې په داسې کتابونو کښې ليدلې ده چې د سيد رضي له پېدائش نه دوه سوه کاله مخکې ليکل شوي دي ( شرح ابن ابي الحديد وړومبی ټوک ۲۰۶ مخ او الغدير اوم ټوک ۸۲ مخ)
۹- وړومبي خليفه په ځلونو ويلي وو «اقيلوني فلست بخيرکم» ما پرېږدئ زه له تاسو ښه نۀ يم ما له خلافته معاف کړئ.
۱۰-وړومبي خليفه د هجرت په يولسم کال خليفه شو او د هجرت د ديارلسم کال په څلورمه خور کښې وفات شو او دويم خليفه د هجرت په ديارلسم کال خليفه شو او د هجرت په درويشتم کال له دنيا لاړ.
۱۱- سعد بن ابي وقاص چې د دغه شورا يو غړی ؤ.
۱۲- عبدالرحمن بن عوف چې د دريم خليفه د خور خاوند ؤ او په دغه شورا کښې يې د ويټو حق لرۀ، ځکه چې دويم خليفه حکم کړی ؤ چې که په شورا کښې اختلاف پېدا شي نو معيار به د حضرت عثمان د اوخښي عبدالرحمان بن عوف راې وي سره له دې چې د سني د عالمانو په اعتراف حضرت عمر په خپل ژوند کښې په ځلونو اعتراف کړی ؤ چې «لولا علي لهلک عمر» که علي نه وې عمر به هلاک شوی وې، الغدير ۳ ټوک ۹۷ مخ (د سني کتابونو په نقل سره)
۱۳- طلحه او زبېر چې د خپلې کينې له مخې يې د جمل جنګ جوړ کړ او په خپل امام يې تېری وکړ.
١٤- ناکثين د جمل اصحابو ته وائي چې له حضرت علي سره يې بيعت کړی ؤ او بيا يې مات کړ لکه طلحه او زبېر
۱۵- مارقين، خوارجو ته وائي دا کسان د زهير د زوی حرقوص په مشرۍ د امام علي په خلاف راپاڅېدل او د نهروان جنګ وشو.
١٦- قاسطين ، معاويه او د هغۀ ملګري دي چې په امام يې د صفين جنګ وتپۀ.
۱۷- شقشقه د اوښ په خوله کښې هغه د غوښې يوې ټوټې ته وائي چې د غصې او هېجان په وخت راوځي او په عامو حالاتو کښې نۀ وي.
۱۸- د رسول الله مبارک مشهور حديث ته اشاره ده چې «زما اهلبيت د نوح د کشتۍ په شان دي چې څوک پکښې سپارۀ شول نو نجات يې بيا موند او چې څوک ترې پاتې شول نو غرق شول».
۱۹- د ابوسفيان له خوا تجويز شوې واکمني

۲۰- ضبغ بجو یا کفتار ته وائي دایو داسې ځناور دے چې په اسانه د راګېرېدو په وجه متل ګرځېدلے دے ښکاریان شور او زوږ جوړ کړي او دغه ځناور سر په غار کښې دننه کړي او له خپلې خواوشا خطې غافله شي او اودهٔ شي او په اسانه ښکار شي .ضبغ په عربۍ کښې د بې خبره او غافل کس لپاره متل ګرځېدلے دے.

۲۱- د بیعت په ورځ طلحه او زبیر دخلقو په مخکې د بیعت بیعت چغې وهلې کله چې زبېر د امام لاس ونیوهٔ چې بیعت وکړي امام هغه ته وفرمایل:ویرېږم چې بیعت دې مات کړې او بې وفائي وکړې، د امام خبره صحیح وه څه موده پس طلحه او زبیر له بلواګرو سره یو ځائے شول او په جمل کښې له امام سره وجنګېدل حال دا چې د زبیر بن عوام مور، صفیه د امام علي ترور وه.

۲۲- له شېطانه د امام مقصد د جمل بلوه ګر مشران دي خو سني عالم ابن ابي الحدید وائي ښائي چې مقصد یې حقیقي شېطان وي چې بې لارې کسان یې راغونډ کړل.

۲۳- محمد حنفیه د جعفر بن قېس د لورخوله زوے دے خوله بنت جعفر په یرموک جنګ کښې اسیره شوے او د حضرت امام علي﷣ وینځه وه او د بي بي فاطمې﷥ له وفات وروسته ورسره حضرت امام علي﷣ وادهٔ وکړ. د جمل جنګ د شپږ دیرشم هجري قمري کال د څلورمې خور په میاشته کښې وشو.

۲٤- په دغه جنګ کښې بي بي عائشهٔ د عسکر په نامه په یوې اوښه سپره وه او له دې امله یې دغه جنګ ته جمل یعنې د اوښې جنګ نوم ورکړے دے.

۲۵- د جمل جنګ یوازې دوه ورځې واخېستې«شرح ابن ابي الحدید ۱ ټوک ۲۶۲ مخ»

۲٦- په تاریخ کښې راغلې دي چې د بصرې ښار دوه ځله اوبو ډوب کړے دے یو ځل د عباسي خلیفه القادر باالله د خلافت او بل ځل د القام بامرالله د خلافت په وخت کښې او لکه څرنګه چې امام خبر ورکړے ؤ بې د بصرې د جومات له کنګرو بل هر څه په اوبو کښې پټ وو او هغه د چرګې د سینې په شان د اوبو د پاسه ښکارېدې.

۲۷- منجمانو په څېړنو سره معلومه کړې ده چې له معدل النهاره د ځمکې تر ټولو لرې سیمه ابله سیمه «د بصرې ښار مرکز دے» شرح ابن ابي الحدید ۱ ټوک ۲۶۸ مخ

۲۸- د حق او باطل ، سمه او ناسمه لاره شته ده دا په یوه ډول په پلورلیزم**ploralism** نیوکه ده چې وائي هره لاره صحیح او حقه ده

۲۹- هغه کسان چې له پېغمبراکرمﷺ وروسته د هغه حضرت له عترت او اهلبېتو﷣ لرې شول حلال به یې حرام او حرام به یې حلالول او په خپل قیاس او راې سره به یې د دین احکام په خپله خوښه بدلول، یوازې دویم خلیفه په خپل لس کلن حکومت کښې څلور نوي حلال حرام کړل او د حج تمتع او متعه په حقله یې وویل:تر پرونه حلال وو زهٔ یې له ننه حراموم،«انا احرمها» » تفسیر مفاتیح الغیب فخر رازي ۱۰ ټوک ۵۴ مخ.

۳۰- د دین د بیا سمونې او اصلاح د تفکر نفي کوي، یا د شریعت د قبض او بسط د تیورۍ او همدارنګ له دینه د نوې قرات « هرمونیک» نفي ده یا دا چې وائي چې دین د بشر د تفکر نتیجه ده په دې جمله کښې دا ټولې خبرې رد شوې دي.

۳۱- حایک یعنې ډینډف یا ډېنډت کوونکے هغه کس چې مالوچ ډینډف کوي . دلته یې مطلب په خدائے پاک او رسول اکرمﷺ د دروغو جوړول او ډینډف کول دي.د عربو په زمانه کښې به دغه خلق له ابادۍ لرې اوسیدل نو ډېر به مغروره وو او دا ضرب المثل امام د همدې لپاره استعمال کړې دے البته دا چې ولې امام دومره پر اشعث غصه شو علت یې دا ؤ چې هغه د ټولو فتنو پلارؤ او د امام په حکومت کښې به هر سازش او توطئه هغه جوړوله هغه یو کافر کس ؤ چې له اسیر کیدو او په ظاهره د اسلام له منلو وروسته یې د حضرت ابو بکر له خور ام فروه سره وادهٔ وکړ.

۳۲- بلونکې طلحه او زبیر او بي بي عایشه دي.

۳۳- بسر بن ارطاة د معاویه یو خونړے او ظالم واکمن ؤ چې په هیچا یې رحم نهٔ کوهٔ د خدائے پاک د کور په حاجیانو یې برید وکړ او هر چرته به یې چې د حضرت علي منونکي لیدل وژل به یې. په یمن ښار یې برید وکړ او د ابن عباس د ماشومانو سرونه یې پرې کړل او آخر هم له ډېر وحشي توبه لیونے شو او مړ شو.

۳٤- بني فراس قبیله په زړهٔ ورتیا مشهوره وه.

۳۵- انبار د عراق او شام په مینځ او د بغداد په دوه اویا کلومیټرۍ کښې پروت ښار دے چې د فرات په ختیځه غاړه او د هیت ښاره مخې ته یې موقعیت دے.

۳٦- سفیان بن عوف غامدي د معاویه یو سردار او د یمن اوسېدونکے ؤ غامد د یمن یوه قبیله ده.

۳۷- اشاره یې مروان ته ده چې د خدائے ګران رسولﷺ هغه له مدینې شړلے ؤ خو دریم خلیفه دوباره مدینې ته ستون کړ او خپل زوم او خپل خصوصي سلاکار یې کړ چې د مولانا مودودي په شان سني عالمانو هم د دریم خلیفه په دې کار باندې نیوکه کړې ده چې د هغې له کبله وهابي او

ديوبندي عالمانو په مولانا مودودي باندې د کفر فتوې ولګولې حال دا چې همدې مروان د حضرت عثمان په بې لارې کولواو وژل کيدو کښې لاس لرۀ.

۳۸- د هجرت په پينځه ديرشم کال د دريم خليفه مخالفانو صحابه ؤ له يو بل سره مکاتبه وکړه او د هغۀ په لرې کولو يوه خوله شول. له مصره د د ابو حرب غافقي په کوماندانۍ دوه زره تنه او له کوفې نه د مالک اشتر او زيد بن صوحان په مشرۍ دوه زره تنه او له بصرې نه د حرقوص بن زهير په کوماندانۍ ډير کسان د مدينې په لور وخوځيدل اول د مدينې په خواوشا کښې ځاے پر ځاے شول او بيا يې د مدينې جومات او ورپسې د عثمان کور کلابند کړ او له دروغو او عهد شکنۍ وروسته يې هغه وواژه.

۳۹- عبدالله ابن عباس ابن عبدالمطلب

٤٠- زبير بن عوام د امام علي د ترور زوے ؤ ځکه چې مور يې صفيه د امام علي ترور(عمه) وه او د امام نسبي خپل کيده.

٤١- ذي قار د کوفې او واسط په مينځ کښې بصرې ښار ته نزدې يو ځاے دے چرته چې له ايران سره د مسلمانانو جنګ هم شوے ؤ ابن عباس وائي: پينځلس ورځې په دغه سيمه کښې پاتې شوو او امام مونږ ته خبر راکړ چې له کوفې ۶۵۶۰ کسان زمونږ مرستې ته راروان دي کله چې د کوفې لښکر راورسيد هغوي مو وشمېرل، همدومره وو ، بې اختياره مې له خولې ووتل:الله اکبر،صدق الله و رسوله،« شرح ابن ابي الحديد ۲ ټوک ۱۸۷ مخ»

٤٢- تاريخ طبري ليکي چې دا يو متل دے په خوا زمانه کښې د جذيمه يو مخصوص صلاحکار ؤ چې د سعيد زوے قصير نوميدۀ او جذيمه يې د جزيرې له ملکې سره له وادۀ منع کړ خو هغه ونۀ منله او وادۀ يې وکړ او هغه ښځې چې زباء نوميدله وواژۀ، له دې وروسته قصير وويل چې کاشکې زما خبره يې اوريدلې او منلې وې.

٤٣- دا شعر د « دريد بن صمه » دے چې له خپل يو ورور سره يو ځاے يې له بني جسم او بني نضر قبايلو سره جنګ وکړ او ډيرې ولجې او د غنيمت مالونه يې لاسته راوړل، له دې وروسته دريد ورور غوښتل چې دغلته يوه شپه تېره کړي خو دريد ورته وويل چې دا ځاے چې سختې درې او غرونه لري خطرناک ځاے دے او دلته شپه تېرول نۀ دي پکار ځکه چې غطفان قبيله په مونږ پسې ده او غواړي چې ومو وژني خو ورور يې ونۀ منله او هلته پاتې شول تر دې چې د غطفان لښکريانو بريد وکړ او د دريد ورور ووژل شو، دريد چې سخت ژوبل ؤ دا شعر يې له ځان سره ووايۀ نو اوس چې په هر ځاے کښې انسان يو فرصت او موقع له لاسه ورکړي نو دا شعر ويل کيږي.

٤٤- نهروان د کوفې په خوا کښې د سيند غاړې ته پروت يو کلے دے چې د کوفې او بغداد په مينځ کښې د « حروراء» دښتې په څنګ کښې پروت دے له همدې امله خوارجو ته «حروريه» هم وائي، د هغوي مشر حرقوص بن زهير ؤ چې په «ذوالثديه» مشهور شو.

٤٥- مطلب دا چې رسول الله مبارکﷺ وفرمايل چې که د حکومت په معامله کښې خبره جنګ او جدل او وينه بهيدلو ته ورسيدله نو چټيا غوره کړه او نرمۍ ته مخه کړه او هم ځکه ما د حضرت ابوبکر او حضرت عمر په وړاندې چټيا غوره کړله.

٤٦- هغو کسانو ته اشاره ده چې له حالاتو بې پروا شول او په ارام او هوسا ژوند پسې لاړل لکه سعد وقاص چې د فتنو له پيل کيدو وروسته په کور کښې کښيناست.

٤٧- په دغه سيمه کښې مالک بن کعب د امام علي کوماندان ؤ او سل عسکر يې لرل د معاويه د لښکر مشر نعمان ؤ چې دوه زره عسکر يې لرل، اميرالمومنين له همدې امله د کوفې خلق د هغه ملګرتيا ته وبلل خو هغوي لټې او سستي وکړه او امام خبر دارے ورکړ او وې غندل

٤٨- امام علي دا ويل غواړي چې که د خداے ويره نۀ وې نو زۀ له دهوکې او چل وله په کار اخېستلوکښې تر هر چا ميړني وم او ما ته به ترهر چا زيات چلولونه راتلل.

٤٩- جرير د همدان ګورنر ؤ، له اميرالمومنينؑ سره له بيعته وروسته امام د زهير بن قيس په وسيله هغۀ ته يو خط اوليکۀ او د مدينې سياسي حالات يې ورته بيان کړل، هغۀ د همدان له خلقو نه د امام لپاره بيعت واخېست او د آذربائيجان ګورنر اشعث ته يې خط وليکۀ چې له خلقو نه د امام لپاره بيعت واخله، بيا هغه له امام سره د ملاقات لپاره کوفې ته لاړ او له دې امله چې د هغه خپل خپلوان په شام کښې وو نو له امامه يې وغوښتل چې شام ته يې له معاويه سره د مذاکراتو لپاره وليږي، هغۀ له معاويه سره له پريمانه بحثونو وروسته نهيلے او نااميده راستون شو خو د شام خلق په هغۀ باندې بدګمانه شوي وو او له ناچارۍ يې پاتے عمر په « قرقيسا» جزيرې کښې تېرکړ او د هجرت په پينځمه څلوېښتم کال وفات شو. (شرح ابن ابي الحديد ۳ ټوک ۷۰ مخ)

۵۰- حضرت عثمان د هجرت په څلورويشتم کال خليفه شو او د هجرت په پنيځه ديرشم کال ووژل شو. هغۀ ډېر بدعتونه او اسرافونه وکړل چې يوازې يو څو ته يې اشاره کوو: خپل زوم حارث بن حکم ته يې د هغه کال د زکات ډير اوښان او زر درهمه او يوه لويه ځمکه چې پيغمبرﷺ مسلمانانو ته وقف کړې وه، ورکړل، د خپلې قبيلې سعيد بن عاص بن اميه ته يې يو لک درهم ورکړل، بل زوم مروان بن حکم ته يې يو لک درهم او

ابو سفيان ته يې دوه لکه درهمه ورکړل، طلحه ته يې دوه ديرش ميليون او دوه لکه درهمه، زبير ته يې نه پنځوس ميليون او اته لکه درهمه ورکړل. د ځان لپاره يې ديرش ميليون او پينځه لکه درهم او درې نيم لکه ديناره کېښودل، يعلي بن اميه ته يې پينځه لکه ديناره او د خور خاوند عبدالرحمن ته يې دوه نيم ميليون او پينځه لکه شپيته زره ديناره ورکړل. دا ټولې پيسې يې د مسلمانانو له بيت الماله ورکړې. «الغدير ۸ ټوک ۲۸۶ مخ» د حضرت عثمان ځينو بدعتونو ته د مولانا مودودي په شان ځينو سني علماؤ هم اشارې کړې او اعتراضونه پرې کړي دي.

۵۱- عکاظ د جاهليت په زمانه کښې د عربو يو بازار ؤ چې د نخله او طائف په مينځ کښې پروت ؤ او عرب به د ذي القعدې مياشتې په وړومبيو ورځو کښې هلته راغونډېدل د دغه بازار يو مشهور څيز دهغې څرمنه وه چې په مضبوطوالي او ښۀ والي مشهوره وه، په همدې بازار کښې به عرب شاعران او ليکوالان هم راغونډيدل او خپل شعرونه به يې لوستل چې تر ټولو ښه به يې بيا د کعبې په ديوال ځوړندول چې په معلقات سبع مشهور وو.

۵۲- عبدالله بن عوف وائي : مخکې له دې چې د امام علي ﷺ سپاهيان د صفين صحرا ته ورسيږي د معاويه عسکر د ابوالاعور په مشرۍ هلته ورسيدل او د فرات په اوبو يې قبضه وکړه. امام علي ﷺ «صعصعه بن صوحان» معاويه ته وليږۀ چې ولې مو په مونږ باندې د فرات اوبۀ بندې کړې دي؟ معاويه له خپلو ملګرو سره مشوره وکړه.وليد بن عقبه او عبدالله بن سعيد وويل چې اوبۀ همداسې بندې وساتۍ چې کوفيان له تندې مړۀ شي. خو عمروعاص وويل چې علي داسې سړے نۀ دے چې تږے پاتے شي دا هماغه کس دے چې ويل يې که څلويښت ملګري مې لرل خپل حق به مې اخېستے ؤ، اوس چې د عراق او حجاز عسکر له ځان سره لري نو څرنګه يې له اوبو منعې کولې شې. معاويه ونۀ منله او اوبۀ يې هماغه شان بندې وساتلې د امام علي ﷺ په امر د امام حسن ﷺ په مشرۍ د لښکر مخ کښانو حمله وکړه او د اوبو ځاے يې د معاويه له لښکره ونيوۀ. او ځينو کسانو وويل چې اوس پکار دے مونږ پرې هم اوبۀ بند کړوو خو امام علي ﷺ امر وکړ چې اوبۀ دواړو لښکرو ته ازادې دي. د امام دغه ځوانمردانه کار سبب شو چې د ډيرو شاميانو سترګې پرانېستل شي او يو شمير يې د امام له لښکر سره يو ځاے شي.

۵۳- دا کس معاويه دے چې هر څومره خوري مړيږي نه، د هغه د نۀ مړيدۀ سبب دا ؤ چې رسول الله مبارک ﷺ ورته ښيرې کړې وې ځکه چې د خداے ګران رسول ﷺ يو وخت هغه څو ځله وغوښتۀ خو رسول الله مبارک ﷺ ته به ځواب ورکړے شو چې په ډوډۍ لګيا دے، هغه حضرت وفرمايل: «اللهم لا تشبع بطنه» يعنې اے خدايه تۀ خو يې خېټه هيڅکله مړه مۀ کړې. له هغې وروسته به معاويه چې هر څومره خوراک کوۀ نۀ به مړيدۀ او ويل به يې«مللت و ما اشبعت» يعنې په خوړلو ستړې شوم خو موړ نۀ شوم.

۵۴- کله چې معاويه په عراق واکمن شو ټولو اسلامي ښارونو ته يې يو دستورالعمل وليږۀ چې په خطبو او نمونځونو کښې په حضرت علي ﷺ پسې بدرد او لعنت وائۍ او ورو ورو دا کار په بني اميو کښې عادت شو تر دې چې عمر بن عبدالعزيز د خپل خلافت په دوران کښې دا بدعت ختم کړ.

۵۵ - (په دې وروستيو وختونو کښې مشهور سني عالم ډاکټر علامه طاهر القادري د دهشتګردۍ په نامه يو غټ کتاب ليکلے دے او هغۀ پکښې دا خبره د قران، حديث او تاريخي واقعاتو په دلائلو سره ثابته کړې ده چې په موجوده دور کښې د طالبانو يا القاعدې وغېره په نامه کومه ډله ده دا هم هغه خوارج او د خوارجو د فکر کسان دي.— مترجم)

۵۶- حمزه بابا د امام علي ﷺ په دغه خطبه کښې د ډال اصطلاح په ((اجل)) سره تعبير کړې ده او په دې حقله يې داسې شعرونه ويلي دي:

وائــي مرتضــی ؑ چې محافظ دې خپل اجل دے
ما تــه راز د ژوند ښۀ معلـوم شوے مکمل دے
واخلــه دا ثبــوت ابن ملجم چې پرې حمله کړه
څــه په جوش او مينــه مرتضی ؑ داسې نعره کړه
وې چې د کعبې په رب قسم چې زۀ کامياب شوم
سيند کښې د انوارو سر تر پايه زۀ غرقاب شوم
زار شــم له يقينه چې د ژوند راز ورته حــل کا
دا د مــرګ په خونه کښې چراغ د سکون بل کا

۵۷- د انسانانو سترګې ټول رنګونه نۀ ويني، لکه د نمر په رڼا کښې موجود رنګونه، او ډول ډول ورانګې، چې يوازې ډير پرمختللي سائنسي اوزار يې ليدلې شي. همدا رنګ پخوا يوازې يو څو رنګونه معلوم وو خو اوس کمپيوټر تر څلورو زرو زيات رنګونه تشخيصوي او لا څومره زيات د انسان له ادراکه پټ پاتې دي. غوږونه هم محدود دي او يوازې ځينې خاص ارتعاشات اوري د انسان غوږ تر دوو زرو او د سپي غوږ تر اوو زرو

پورې ارتعاشات یا ازانګې درک کوي، دا هغه دقیق او لطیف ټکي دي چې زمونږ په زمانه کښې سائنس معلوم کړې دي خو امام عليعليهم السلام څوارلس سوه کاله وړاندې بې له مادي اوزارو دغو حقائقو ته اشاره کړې ده.

۵۸- یعنې له خداے نه بغیر هر څه چې ظاهر وي نو باطن او پټ نۀ شي کیدې او هر څه چې پټ وي هغه ظاهر نۀ شي کیدې یوازې د خداے پاک ذات داسې دے چې ظاهر او باطن یې دواړه یو شان دي.

۵۹- سقیفه په مدینه کښې له ابادۍ نه بهر یو کور (څپر یا حجره) ؤ چې قریش به هلته د خپلو اختلافاتو د هوارولو لپاره راغونډیدل او په (سقیفه بني ساعده) مشهور ؤ هم دلته د پیغمبراکرمﷺ له رحلته وروسته انصار راغونډ شوي وو سعد بن عباده یې د خداے د ګران رسولﷺ د خلیفه په توګه ټاکلے ؤ خو حضرت ابوبکر ،حضرت عمر او ابوعبیده بن جراح ورغلل او د خلافت لپاره یې د هغوي د استدلالونو په ردولو سره په دې دلیل چې پیغبراکرمﷺ فرمایلي وو چې خلیفه به له قریشو څخه وي ابوبکر خلیفه وټاکه دا په داسې حال کې وو چې د پیغمبراکرمﷺ جنازه په ځاے پرته وه او حضرت علي سره د نورو او اهلبیتو او څو کسانو د پیغمبراکرمﷺ د کفن او دفن انتظام وکړ. او یوازې شپږو (یا نهو یا کمو زیاتو خو ډېرو لږو) کسانو د رحمة للعالمینﷺ جنازه وکړه.

۶۰- دلته د امیرالمومنین مطلب اهلبیت او د رسول الله مبارکﷺ اولاد دي.

۶۱- دا دعربۍ یو متل دے څکه چې کوفیان د صفین په جنګ کښې د ډیرو سختیو له زغملو وروسته په آخري شیبو کښې چې بری ته نژدې وو په نیزو د قرآنونو په اوچتیدو دهوکه شول.

۶۲- علامه امیني د الغدیر د دریم ټوک له ۲۱۹ تر ۲۴۷ مخونو پورې د سنیانو له کتابونو څخه د سلو حدیثونو په راوړلو سره دا حقیقت ثابتوي.د سنیانو لویو عالمانو او د رسول الله مبارکﷺ اصحابو د « بریده اسلمي» دا روایت نقل کړے دے او دا خبره مني چې »اوحي الي رسول الله یوم الاثنین و صلي علي یوم الثلاثا» یعنې د ګل (دوشنبې) په ورځ وحي نازله شوه او د نهي (سه شنبې) په ورځ عليعليه السلام نمونځ وکړ، صحیح ترمذي ۲ ټوک ۲۱۴ او مستدرک حاکم ۳ ټوک ۱۱۲ مخ.

۶۳- د یهودي لاس کنایه ده له دې چې مروان عهد شکن دے. مروان هم یهودي زاده ؤ او هم په هغه زمانه کښې یهودیان په پیمان شکنۍ مشهور وو.

۶۴- د مروان څلور بچیان چې خلیفه ګان شول دا دي ۱:عبدالملک بن مروان چې د اسلامي امت مطلق العنان باچا ؤ.۲: عبدالعزیز بن مروان چې د مصر حاکم شو.۳ : بشر بن مروان چې د عراق واکمن شو.۴: محمد بن مروان چې د الجزیرې واکمن شو. بني امیو د دې لپاره چې د یزید زامن «عبدالله او خالد» لوې شي او حکومت د ابوسفیان په کورنۍ کښې باقي پاتې شي له مروان سره بیعت وکړ. خو آخر د یزید له ښځې « ام خالد» سره له وادۀ کولو وروسته په هغوي کښې داخلي اختلافات پیدا شول او خپلې ښځې خپې کړ. لنډه دا چې د مروان زامنو په مسلمانانو کښې ډیرې وینې توې کړې او ډیر لوے لوے کسان یې ووژل. او په دې توګه ګوروو چې د امام عليعليه السلام وړاند وینه (پېش ګوئي) ټکي په ټکي پوره شوه.

۶۵- امام عليعليه السلام معصوم امام دے او څه چې یې په دغه دعا کښې بیان کړي دي یو خو د دې لپاره دي چې انسان څرنګه باید له خپل خداے سره خبرې وکړي یا هم کومې ګناهانې چې یې یادې کړې دي د عامو خلقو له ګناهونو سره فرق کوي د معصومینو لپاره علماو او عارفینو د ترک اولی اصطلاح استعمال کړې ده او هغوي وائي چې د معصوم لپاره د ګناه تصور هم نۀ شي کېدې لکه د آدمعليه السلام د واقعه یې تفصیل بیان کړے دے او وائي چې دوو ښو څیزونو چې یو ډېر ښۀ دے او یو کم ښۀ دے او معصوم که هغه کم ښۀ والا څیز غوره کړي نو دا د عامه کس لپاره څه ګناه خطا نه حسابیږي خو د معصوم لپاره ترک اولی حسابیږي یا دا چې د خالق او مخلوق ترمېنځ فرق دا دے چې مخلوق هر څومره اوچت شي خو بیا هم د خداے په شان مطلق کمال ته نه شي رسېدې او په هر څه کښې د خپل خالق محتاجه وي نو د معصومینوعليهم السلام دعاګانې د درجاتو د کمال په لور د تګ لپاره وي. نو په دعا کښې د دغو مواردو په مطالعې سره په دې حقیقت ښه پوهیږو. دا بالکل داسې ده لکه یو کوربه چې د میلمه ښه میلمستیا وکړي او هر څه ورته راوړي خو بیا هم بیا له میلمه بخښنه غواړي چې په میلمستیا کښې یې څه کمے نۀ وي پاتے شوے نو معصومین چې په مخلوقاتو کښې د خداے پاک د بندګۍ او معرفت په اعلی حد کښې وو خو بیا به یې هم په خپلو مناجاتو کښې عرض کوۀ چې خدایه مونږ هغه شان چې ستا د بندګۍ حق او ستا د معرفت او ذات د پېژندګلۍ حق دے ادا نه کړې شو او د هغوي استغفار او راز و نیاز به په همدې وجه ؤ.

۶۶- منجم د ترویت له لارې وړاند وینه او پېشګوئي کوي او کاهن یعنې غیب ګو، له شبطانه په استفادې سره د ځینو څیزونو خبر ورکوي. چې دا کار صحیح نۀ دے . په تاریخ کښې راغلې دي چې دغه کس چې امام ته یې دا خبره وکړه ستور پیژاندے عفیف بن قیس ؤ چې د اشعث بن قیس ورور ؤ. امام د هغۀ په خبره غوږ ونۀ ګروۀ او د خوارجو جنګ ته لاړ او بریالے راستون شو.

٦٧- دلته ظاهراً امام عليؑ د نقصان لفظ استعمال کړے دے چې معنا يې کيږي ښځې د سړو په نسبت نيمګړتيا او نقصان يا نقص لري خو که ښهٔ سوچ وکړو نو پوه به شو چې که دلته نواقص د نيمګړتيا په معنا واخلو دا به د قرآن مجيد له آيتونو او اسلامي فلسفې سره په ټکر کښې وي يعنې که وواېو چې خداے تعالي خپل نيم مخلوق «ښځې» ناقصې پيدا کړې دي دا به سمه نهٔ وي او نعوذ بالله د خداے په عدل او حکمت کښې شک پيدا کيږي چې څرنګه يې خپل نيم مخلوق ناقص پيدا کړے دے.نو يوازنيې حل لاره دا ده چې د «نواقص» په معنا کښې تصرف وکړو او وواېو چې دلته د نواقص معنا اختلاف او تفاوت او توپير دهٔ.دا ځکه چې په لغت او قرآن مجيد کښې هم تفاوت او نقص د يو بل په معنا استعمال شوي دي که داسې مو وکړل نو له قرآن مجيد او ديني عقايدو او آرونو سره د دغه خطبې ټکر له مينځه ځي نو دلته د نواقص معنا ده تفاوت، لکه څنګه چې په قرآن مجيد کښې تفاوت د نقصان او نيمګړتيا په معنا راغلے دے هلته چې د ملک سورت په دريم ايت کښې فرمائي:« ما تري من تفاوت» يعني تاسو به په کائناتو کې هيڅ نيمګړتيا ونهٔ وينئ. دلته امام عليؑ دا ويل غواړي چې ښځه او سړے هر يو خداے په خپلو خاصو ځانګړتياؤ سره پيدا کړي دي او هر يو خپل خصوصيات او روحيات لري او د هر يو ځاے او مقام بايد وساتل شي او د هغه د مقام او حيثيت مطابق ورسره چلند وشي نو بي بي عايشهؓ چې يوه ښځه ده خپله مشره مه ګرځوئ چې په بصرې کښې بلوا وکړي او د مسلمانانو وينه توي کړي.

٦٨- نابغه، يوه مشهوره فاحشه وه چې د عمرو عاص مور او يوه فاسده ښځه وه ، دا ښځه په يو جنګ کښې اسيره شوه او عبدالله بن جدعان وپېرله خو فاسده او بې پروا وه نو پرې يې ښودله، کله چې عمرو عاص پيدا شو نو ابولهب، اميه بن خلف، هشام بن مغيره ، ابوسفيان او عاص بن وائل هر يو دعوا کوله چې عمرو عاص زما زوے دے.او آخر عاص چې د پيغمبرﷺ سخت دښمن ؤ هغهٔ واخېست. عاص هغه کس ، چې پيغمبراکرمﷺ ته يې ابتر (ميرات) ويلي وو چې خداے تعالي يې په کوثر سورت کښې ځواب ورکړ چې «ان شانئک هو الابتر» يعني بې شکه جې ستا دښمن ميرات او بې اولاده دے. د «ان کفيناک المستهزئين » ايت هم د عاص او د هغهٔ د ملګرو په حقله نازل شوے دے، عاص به په مکې کښې د پېغمبر اکرمﷺ په لاره کښې ازغي اچول او هم هغه ؤ چې د پيغمبرﷺ د لور زينبؑ په کجاوې يې حمله وکړه او هغه يې دومره ووهله چې بچې يې وغورځېده، او پېغمبراکرمﷺ عاص ته ښېرې وکړې همدا عاص ؤ چې د پېغمبراکرمﷺ په خلاف يې ډېر شعارونه او نعرې جوړې کړې وې او د مکې ماشومان به يې لمسول چې په لوړ اواز دغه نعرې ووهي او پيغمبراکرمﷺ وځوروي او بيا همدغه عاص ؤ چې د مکې قريشو د حبشې باچا ته وليږهٔ چې حبشې ته تښتېدونکي مسلمانان راستانهٔ کړي ( ربيع الابرار زمخشري)

٦٩- عمرو عاص يوه ورځ د صفين په جنګ کښې وغوښتل چې ځان وښيي ، په دې وخت کښې د امام عليؑ د لښکر له لورې يو کس چې په مخ يې نقاب ؤ او ترېوزک يې وهلے ؤ ميدان ته راغے عمرو عاص د هغهٔ مخې ته اوديريد او کله چې حمله پيل شوه نو خبر شو چې دغه کس خو خپله اميرالمومنين عليؑ دے نو حېرانه پاتے شو چې څه وکړي او ځان يې له ګوزاره وژغوري. که جنګ کوي وژل کيږي او که تښتي د شرم خبره ده په دغه وخت کښې د امام عليؑ سختې حملې هغهٔ ته د سوچ مهلت ورنه کړ او له اسه راګوزار شو. کله يې چې مرګ په سترګو وليد نو يو داسې سپک حرکت يې وکړ چې په تاريخ کښې د هميشه لپاره پاتے شو ، کميس يې پورته کړ او د شا له خوا يې خپل ستر ښکاره کړ امام علي (ع) له حيا نه مخ وګرځوهٔ او عمرو عاص له موقعې نه فائده اوچته کړه او اوتښتېدهٔ او ځان يې خپل لښکر ته ورسوهٔ، او په دغه ورځ يې د اسلام په تاريخ کښې ځانته شرم پرېښود.او له دې ورځې وروسته دا په عربو کښې متل جوړ شو.

٧٠- د معاويه د بيعت په بدل کښې عمرو عاص ته د مصر حکومت ورکړے شو.

٧١- په دغه وخت کښې د رسول الله مبارکﷺ له رحلته لا پينځه ويشت کلونه نهٔ وو تېر.

٧٢- نن سبا سائنپسدانانو ثابته کړې ده چې د ستورو حرکات او کومې چاودنې چې په فضا او کُرو کښې کيږي د انسانانو په غم او خوشالۍ يا د هغوي په مختلفو حالاتو اثر لري او د نفسياتي اضطرابونو ، جنګونو او نورو ټولنيزو ټکرونو کښې اغيزمنې دي.

٧٣- په جنت کښې د حضرت آدم عليه السلام عمر لنډ ؤ ، په جنت کښې امر او نهي د دنيا په شان نه ده چې ګوندې ګناه وګڼل شي. ځکه چې پيغمبرانؑ له هر ډول ګناه خوندي او معصوم دي.

٧٤- په دې کښې شک نشته چې امام عليؑ د خداے پاک له لورې په امامت ټاکل شوے دے او د اسلامي نړۍ له مختلفو سيمو يو لک شل زره حاجيانو په غدير خم کښې د خداے پاک په امر او د رسول الله مبارکﷺ له خوا د دغه پيغام له اوريدلو وروسته له امام عليؑ سره بيعت وکړ، خو په خلافت کښې د خلقو د پينځويشتو کلونو له انحرافه او د ارزښتونو له بدلونه وروسته امام په دغه خطبه کښې اتمام حجت کوي او فرمائي: ما پرېږدئ يعني تاسو د عدل او انصاف د حکومت د منلو زغم نهٔ لرئ امام طلحه او زبير د خلقو په سر کښې ليدل چې د بيعت چغې يې وهلې او په دې هم پوهېدهٔ چې دا وړومبني کسان دي چې بيعت به ماتوي او بلوا به جوړوي او له څو مياشتې وروسته يې په امام عليؑ جنګ جمل وتاپه.

۷۵- ټول تاريخ ليکونکي او د نظر خاوندان اعتراف کوي چې د اسلام په تاريخ کښې بې له حضرت علي﵇ هيچا د هرې پوښتنې ځواب نۀ دے ورکړي او هر چا چې ادعا کړې ده چې له ما وپوښتئ او پوښتنه ترې شوې ده نو خداے رسوا کړے دے او د هرې پوښتنې ځواب يې نۀ دے ويلے.
۷٦- دا متل دے. د سبا پلار د يمن عرب ؤ چې لس زامن يې لرل له جنګه مخکې يې هغوي له ځانه بنې او کيڼ اړخ ته ودرول چې په خاص ترتيب سره وجنګيږي خوکله چې جنګ پېل شو ټول وتښتېدل او پلار يې يوازې پرېښود. له هغې وروسته دا په عربو کښې متل شو چې «تفرقوا ايادي سبا»
۷۷- د نهج البلاغې ځينو سپړونکو ليکلي چې دا کس عبدالملک بن مروان دے.
۷۸- بني اميو تر۱۳۲ کال حکومت وکړ او وروستے باچا يې مروان حمار ؤ چې د ابو مسلم خراساني او احمد سفاح په لاس ووژل شو او کورنۍ يې تباه شوه، کله چې بني عباسو اقتدار په لاس کښې واخيست نو سفاح يوازې په يو پړاو کښې د بني اميو اويا زره مشران او ملګري ووژل.
۷۹- بطحاء د ابوقيس او احمر غرونو په مينځ کښې يو ځاے دے چې قريش پکښې اوسېدل.
۸۰- حجاج بن يوسف ثقفي د هجرت په ۴۱م کال پيدا او ۹۵ کال مړ شو.
۸۱- ورک هغه چې نۀ يې نوم نۀ يې نشان وي – تل تر تله په ښۀ نوم پائي ښاغلي.
۸۲- دا کس اشعث بن قيس ؤ چې د اعتراض کولو خوي يې لرۀ او په خپله د حکميت منونکے ؤ.
۸۳- د رسول الله مبارکﷺ په وخت کښې به بيت المال په مسلمانانو کښې عادلانه او مساويانه وېشيدۀ خو د هغه حضرت له رحلته وروسته ورومبي، دويم او په تېره بيا دريم خليفه د بيت المال په وېش کښې عدالت ونۀ ساتۀ او په مختلفو تبعيضونو او توپيرونو او ډاليو سره يې خلق په بل بل څه روږدي کړل، اوس نو چې حضرت علي﵇ خليفه شوے ؤ او غوښتل يې چې د پيغمبر اکرمﷺ په شان بيت المال ووېشي نو ډېرو اعتراض وکړ او له امام علي﵇ سره يې مخالفت ته ملا وتړله.
۸٤- لکه سبائيه (يا نصيريه) فرقه چې د حضرت علي﵇ د غېر معمولي شخصيت او کراماتو په وجه يې هغه د خداے پاک د يو بنده او انسان په ځاے خداے وګڼۀ او امام علي﵇ هغوي ته سزا ورکړه. يا هغه کسان چې هغه د خداے د ګران رسولﷺ د وصي، ځاے ناستي، او امام په ځاے د خاتم الانبياء مقام او درجې ته ورسوي.
۸۵- مراد ترې خوارج، نواصب او هغه کسان دي چې د حضرت علي﵇ د امامت، ولايت او خلافت د منلو په ځاے له هغۀ سره کينه او بغض په زړۀ کښې لري.او د امامت، ولايت او خلافت هغه مقام ورته نۀ ورکوي چې کوم ورته خداے پاک او د هغۀ ګرن رسولﷺ ورکړے دے.
۸٦- علما وائي چې له شعار مطلب دلته د خوارجو هغه شعار او نعره ده چې «لا حکم الا لله» چې د حکمت نفي ده . او نيتجه يې په امت کښې افتراق او اختلاف دے.
۸۷- احنف بن قيس د رسول الله مبارکﷺ له اصحابو څخه ؤ. پيغمبر اکرمﷺ د هغۀ په حق کښې دعا وکړه، يو عاقل او هوښيار کس ؤ. د جمل په جنګ کښې يې امام علي (ع) ته وويل چې که خوښه دې وي له دوو سوو سپرو سره به دريوځاے شم ؟ يا به د «بني اسد» له قبيلې سره له جنګه ډډه وکړم؟ که دا کار مې وکړ نو شپږ زره توري به مې له تا غړولي وي. امام وفرمايل چې له جنګه ډډه وکړه. د بصرې له فتح کېدو وروسته يې ځان امام ته ورسوۀ او د هغۀ حضرت له ملګرو سره يو ځاے شو(سفينة البحار ماده حنف،او اسد الغابه ۱ ټوک ۵۵ مخ)
۸۸- د لته د امام مطلب دريم خليفه، معاويه او امويان دي.
۸۹- د مغيره پلار اخنس يو مشرک کس ؤ چې د مکې د فتحې په ورځ په ظاهره مسلمان شو، د هغۀ ورور ابوالحکم، د احد په جنګ کښې د امام علي﵇ په توره ووژل شو نو دغه کس د امام علي﵇ کينه په زړۀ کښې ساتله، د دريم خليفه په حکومت کښې يې نفوذ لرۀ او مال او مقام يې پېدا کړ او دومره سپين سترګے شو چې د امام﵇ په وړاندې ودريد ،او ګستاخي يې وکړه « شرح ابن ابي الحديد ۸ ټوک ۲۰۱ مخ .
۹۰- طلحه او زبېر د دريم خليفه د وژلو په ورځ تربوزکونه وهلي وو چې څوک يې ونۀ پيژني او د دريم خليفه د کور ورونه يې وتړل چې څوک ونۀ کړي شي کور ته ننوځي، طلحه د انصارو له يوۀ کوره چې د حضرت عثمان کور ته نزدې ؤ برغلکوونکو ته لاره وښودله چې د حضرت عثمان کور ته ننوځي، او په خپله يې هم د حضرت عثمان د کور په لور غشي ويشتل، او هم هغه وو چې درې ورځې يې پرې نه ښودۀ چې د حضرت عثمان مړے ښخ کړې شي. او د مسلمانانو په هديره کښې يې د حضرت عثمان د ښخيدو مخه ونيوله، اوس چې کله خلقو له امام علي سره بيعت کړے ؤ نو دا ډېره د حيرانتيا خبره ده چې هغوي د حضرت عثمان د خونخواهانو او بدله اخېستونکو په ليکه کښې ودريدل. (تاريخ طبري)
۹۱- له دغه کسه د امام علي مطلب اموي خليفه عبدالملک مروان دے چې په کوفې يې يرغل وکړ او مصعب بن زبير يې وواژۀ او د کوفې خلک يې په وينو ولامبول.
۹۲- دلته د امام علي﵇ اشاره د بني اميو د ختمولو لپاره د خلقو اتحاد ته ده او د بني عباسو څرګندېدو ته ده چې بني اميه يې ختم کړل.

۹۳- قادسيه جنګ د هجرت په شپاړسم کال د سعدبن ابي وقاص په مشرۍ د مسلمانانو او د يزد ګرد باچا په مشرۍ او د رستم په کوماندانۍ د ايرانيانو په مينځ کښې د مدائن په خواوشا کښې وشو. ايرانيو کوماندانانو د فارس د سيمې ديرش زره عسکر په زنځيرونو په يو بل پورې تړلي وو چې ونه تښتي. د جنګ په اوله ورځ يې په درې دېرشو هاتيانو سره بريد وکړ خو مسلمانانو د هاتيانوخړتمونه غوڅ کړل او هاتيان وتښتيدل. او له دې امله پينځه سوه کسان ووژل شول. په دريمه ورځ سخت طوفان راغے او جنګ روان ؤ چې مسلمانانو د رستم په خيمې باندې حمله وکړه او هلال بن علقمه، رستم وواژۀ . او د ايران فوځ په لړزا شو. د دوي دېرش زره کسان ووژل شول او يا وتښتيدل. او مسلمانانو ته ډيرې جنګي ولجې پاتې شوې . او د ساسانيانو حکومت نسکور شو. قادسيه وړوکے شان ښار دے چې د عراق د جنوب د کوفې په يو ديرش کلوميټرۍ کښې پروت ؤ. «شرح ابن ابي الحديد ۹ ټوک ۹۶-۱۰۲ مخ».

۹۴- د قادسيې په جنګ کښې د يزدګرد د لښکر شمير يو لک شل زره او د مسلمانانو شمير څه دپاسه ديرش زره ؤ خو بيا هم مسلمانان کامياب شول.

۹۵- طلحه او زبېر د جمل جنګ له پېلېدو مخکې د جمعې د نمانځۀ په امامت سره وران شول. او بي بي عائشېؓ فېصله وکړه چې يوه ورځ به د طلحه زوے او بله ورځ به د زبېر زوے نمونځ کوي. طلحه له خلقو وغوښتل چې هغه ته دې «امير» ووائي او د امير په نامه دې ورته سلام کوي، زبېر هم له خلقو داسې وغوښتل.

۹۶- د افسوس خبره دا ده چې د جمل او صفين په جنګونو کښې خو کومه شبهه هم نۀ وه پاتې، بي بي عايشه، طلحه زبير معاويه او عمرو عاص يو هم داسې نه ؤ چې د حضرت علي له شخصيته نه وې خبر او د هغۀ په باب يې د رسول الله مبارکﷺ ارشادات نه وي اوريدلي. نو بيا هم که څوک دې ته شبهه يا اجتهادي خطا وائي نو په دې خبرې سره عوام خو غولولي شي خو خداے پاک ته دهوکه نۀ شي ورکولي.

۹۷- د صحيح بخاري په کتاب الفتن کښې راغلي دي چې کله د خداے ګران رسولﷺ په حوض کوثر د ځينوکسانو حشر ويني چې فرښتې يې دوزخ ته کاږي نو وبه وائي چې اے خدايه! دا خو زما اصحاب دي. د خداے پاک له لورې به ارشاد وشي چې ولې تاسو ته نۀ ده معلومه چې دوي له تاسو وروسته څه څه بدعتونه وکړل او د خداے له دينه بې لارې شول.

۹۸- د اهلبېتو عليهم السلام حکومت او امامت

۹۹- د خلقو له بيعته وروسته خپل حکومت ته اشاره

۱۰۰- د رسول الله مبارکﷺ مشهور حديث ته اشاره ده چې فرمائي : انا مدينة العلم و علي بابها فمن اراد المدينة فليات الباب، يعنې زۀ دعلم ښار يم او علي عليه السلام يې دروازه ده او څوک چې ښار ته ننوتل غواړي بايد له دروازې څخه داخل شي. (ينابيع المودة ۱ ټوک ۶۲ مخ او ارشاد مفيد، ۳۲ مخ، او تذکرة الخواص ۴۸ مخ او صواعق ابن حجر ۱۲۲ مخ او نور ډېر سني کتابونه.

۱۰۱- ښاپيرک د الوت او ښکار په وخت له سترګو کار نۀ اخلي بلکه د چپو په ليږلو او بيا د هغو په لاسته راوړلو سره د لارې خنډونه او نور څيزونه معلوموي او کټ مټ د يو ريډار په شان عمل کوي چې الټرا ساونډ موجونه د يو قوي بوسټر او استوونکي په وسيله فضا ته ليږي او دا موجونه په هر ځاے کښې ګرځي او کله چې له يوۀ څيز سره وجنګيږي نو ستنيږي او په دې ډول د دښمن د الوتکو پته لګيږي، ښاپېرک د الوت په وخت په هر سېکنډ کښې له ديرشو تر شپيتو ځلو پورې الټرا ساؤنډ چپې له ځانه خپروي او دا چپې چې کله راستنږي نو هغه ته د ښکار، خوراک يا نورو څيزونو درک ورکوي.

۱۰۲- د رسول الله مبارکﷺ بي بي د جحش لور زينب له بني اسدو قبيلې وه.

۱۰۳- د حيرانۍ ځاے دے چې امام علي عليه السلام څوارلس پيړۍ مخکې اوبۀ د وبا د پېدا کېدو مرکز ګڼلے دے ستر سائېنسدان لوئي پاستورد صحيفه سجاديې له کتابه د وبی له لفظه په استفادې سره د خپلو تحقيقاتو په دوام کې ميکروب کشف کړ. او دا تاريخي حقيقت يې له تجربي نظره ثابت کړ.

۱۰۴- يهودي زاده مروان د دريم خليفه زوم او منشي ؤ او خليفه ترې ډېر متاثره ؤ. د خداے ګران رسولﷺ مروان او پلار حکم يې جلاوطن کړي وو او مدينې ته يې د هغوي په راتګ بنديز لګولے ؤ دريم خليفه هغه مدينې ته راوست او خپل زوم او خاص منشي (پرسنل سېکټري) يې جوړ کړ او د هر کار مالک يې کړ او په تاريخ کښې هغه د دريم خليفه د وژل کېدو اصلي عامل ګڼل شوے دے.

۱۰۵- دريم خليفه اتيا کاله عمر وکړ.

۱۰۶- شتر مرغ يا يو بل داسې مارغۀ به په شګو کښې هګۍ اچولې چې د ماراو ښامار د هګيو په شان وې خلقو به نۀ شوې پيژندلې او وړلې به يې خو کله کله به ترې د مارغۀ د بچي په ځاے مار راووتۀ.

۱۰۷- خدا ے تعالی په یمن کښې لوے سېلاب راوستۀ چې د مارب لوے بند یې مات کړ او دې ته یې د عرم سیلاب ویل چې د سبا ظالم حکومت یې نسکور کړ او د هغوي ښئۀ باغونه یې له بیخه ولوړول ، اشاره ده د سورۀ سبا شپاړسم آیت ته .

۱۰۸- دلته وینو چې امام علي عليه السلام ښوارلس سوه کاله مخکې د حېواناتو خبره کړې ده او په اسلام کښې یې د حېواناتو د حقوقو یادونه کړې ده . نن سبا د لویدیځ هیوادونه هسې تش په نامه د حېواناتو د حقوقو خبره کوي خو د ملیونونو انسانانو وژل ورته هڅو څه عېب نۀ ښکاري.

۱۰۹- که د دریم خلیفه د وژلو غوښتونکي یوازې د مدینې خلق وو بیا هم ورسره مقابله سخته وه حال دا چې د طبري په وینا په دغه ډله کښې د مدینې له خلقو نه علاوه شپږ سوه مصریان هم شامل وو او د کوفې هم زر سپایان راغلي وو. او د نورو سیمو مظلومانو او مستضعفو هم پکښې برخه اخېستې وه. په دغه ډول حالاتو کښې د یو کس لپاره هم د صفین او جمل د جنګونو اداره کول او هم د ټولو انقلابیانو محاسبه کول ناممکن کار دے. او بیا په محاسبې کښې باید بي بي عائشهؓ او معاویه هم شامل کړې شوي وې ځکه چې هغوي هم د حضرت عثمانؓ د وژلو لپاره د خلقو په لمسولو کښې پوره پوره شریک وو. بلکه ام المومنینؓ خو خلق د حضرت عثمانؓ وژلو ته تیار کړي وو او د واجب القتل فتوا یې پرې ورکړې وه او ویلي یې وو «اقتلوا نعثلا فقد کفر» دا نعثل (عثمان) قتل کړئ چې کافر شوے دے یعنې د دریم خلیفه په قتل کښې شامل کسان معمولي کسان نۀ وو بلکې غټ صحابه وو او پوره پوره مسلماني قبیلې پکښې شاملې وې نو په دغه ډول حالاتو کښې له دوي سره مقابله دومره اسانه نه وه څومره چې ساده خلقو تصور کوۀ . یا هم ځینو فتنه پالو دغه چارې ته لمن وهله.

۱۱۰- ځینې مورخان وائي چې دا خبره د شورا په ورځ سعد بن ابي وقاص کړې وه او ځینې وائي چې ابوعبیده بن الجراح کړې وه او د دواړو امکان شته دے ځکه چې دواړه د یو شان طبیعت خاوندان وو او د امام علي عليه السلام په مخالفت باندې یوه خوله وو.

۱۱۱- طلحه تر دریو ورځو پرې نه ښود چې د دریم خلیفه مړے ښخ کړې شي، او ځینې کسان یې مامور کړل چې د کاڼو په ویشتلو سره د هغۀ کورنۍ د مړي له ښخولو منع کړي ، آخر د امام علي عليه السلام په مداخلت سره جنازه ښخه کړې شوه، طلحه د عثمان په وژلو هم تر نورو زیات حریص ؤ او ټولو ته دا پته ده چې مروان بن حکم په جنګ جمل کښې هغه په غشي وویشتۀ او وې واژۀ او بیا بیا به یې ویل : ما د عثمان د وژلې بدله واخېسته.( تاریخ طبري)

۱۱۲- د ثابتواو نۀ بدلیدونکو ارزښتونواو د ثابتو معیارونو د شتون اثبات او د ډیالکټیک نظریې رد چې هر یو شے متغیر او بدلېدونکے ګڼي او وائي چې هیڅ یو څیز ثابت او نۀ بدلېدونکے نۀ دے.

۱۱۳- ذعلب د یمن اوسیدونکے او یو زړۀ ور کس ؤ کله چې امام وفرمایل چې: سلوني قبل ان تفقدوني، یعنې له ما وپوښتئ مخکې له دې چې ستا سو له مینځه لاړ شم نو ودریدۀ او وې پوښتل چې اے امیرالمومنین آیا خپل رب دې لیدلے دے؟ هغه حضرت په ځواب کښې دا خطبه ورکړه.( شرح خوئي ۱۰ ټوک ۲۵۹ مخ)

۱۱٤- کله چې عمرو عاص په مصر باندې حمله وکړه محمد بن ابي بکرؓ امام علي عليه السلام ته دوه استازي ولیږل او له امامه یې مرسته وغوښتله، هغه حضرت عام اعلان وکړ چې خلق دې په «جرعه» کې راټول شي چې د مصریانو مرستې ته ورشو ، امام سبا تر ماسپښینه په دغه ځاے کښې په تمه پاتے شو خو ان چې سل کسان هم راغونډ نۀ شول، نو امام په ډېر خفګان کوفې ته ستون شو او د اشرافو او مشرانو په مینځ کښې یې دا وینا وکړه.

۱۱۵- عمالقه د سام بن نوح بچیان دي چې په یمن حجاز او خواوشا یې حکومت کوۀ،د دغه کورنۍ یو باچا عملاق نومیدۀ.

۱۱٦-حضرت عمار یاسرؓ له ورمبنیو مسلمانانو څخه ؤ چې په ټولو غزاګانو کښې موجود ؤ او پېغمبراکرم صلی الله علیه وآله ورته وفرمایل: تا به یو ډېر ظالم او باغي قوم وژني.عمار یاسرؓ په صفین کښې د امام علي عليه السلام په لښکر کښې ؤ او د شامیانو په لاس شهید شو.

۱۱۷- مالک بن تیهان یو لوے صحابي ؤ په بدر کښې موجود ؤ او په صفین کښې د امام علي عليه السلام ملګرے ؤ او د شامیانو په لاس شهید شو.

۱۱۸- خزیمه بن ثابت انصاريؓ چې رسول الله مبارک (ص) ورته د ذو شهادتین لقب ورکړے ؤ یعنې د هغۀ شهادت او ګواهي به د دوو کسانو شهادت ګواهي حسابېده.

۱۱۹- د امام رضا عليه السلام یو حدیث دے چې د ابلیس نوم حارث ؤ او د خداے له رحمته له شړل کېدو وروسته ورته ابلیس یعنې لرې وویل شول.

۱۲۰- اتباع الفصیل اثر امه، (جونګے همېشه له مور اوښې سره وي) په عربۍ کښې چې وائي چې هغه دوه کسان همېشه له یو بل سره وي نو دغه متل راوړي.

۱۲۱- د رسول الله مبارک صلی الله علیه وآله دا وړاندوینه (پېشګوئي) د بدر د جنګه په حقله د مدینې او مکې په مینځ کښې د یو ژور ځاے په حقله ده چرته چې عتبه، شیبه، د ربیعه او امیه د بچیانو ا و د عبد شمس د بچیانو او ابوجهل او ځینو نورو کسانو مړي وغورځول شول او په ډله ایز قبر کښې ښخ کړې شول.

۱۲۲- دا کس ابوسفیان دے چې جنګ احزاب (خندق) یې برابر کړ او آخر یې ماته وخوړله دا پېښه له هجرته وروسته وشوه.
۱۲۳- همام بن شریح چې د امیرالمومنین‌ع له ملګرو څخه ؤ، (قاموس الرجال)
۱۲٤- دغه کس په خپلو شېطاني تفکراتو سره غوښتل ووائي چې همام ته چې دې کومې خبرې وکړې ربښتیا نهٔ دي او که ربښتیا وې نو په تا یې ولې داسې اثر نهٔ دے کړے. امام وفرمایل: دا خبره شېطان خولې ته درکړې ده ګني هر کس خپل خاص زغم او توان لري.
۱۲٥- یعني نافرماني او ګناه مه کوئ.
۱۲٦- ناسخ هغه آیت دے چې د بل آیت حکم یې باطل کړے او باطل شوے آیت ته بیا منسوخ وائي. عام یو پراخه معنا ده او په خاصه توګه بیا یو خاص کس یا څیز ته ا ستعمالیږي. محکم هغه آیت ته وائي چې حکم یې مضبوط او په ټولو روښانه دےاو متشابه هغه آیت دے چې ممکنه ده څو معنې ولري او واقعي معنا یې روښانه نهٔ وي.نو بس دلته چې امام علي‌ع د مبارکو ایتونو په حقله دغه خصوصیات بیان کړي دي نو په حدیثونو کښې هم دغه ډولونه موجود دي.
دلته د دې خبرې یادونه ضروري ده چې په اسلامي علومو کښې د رجالو د علم او د علم درایت شتون د دې خبرې دلیل دے چې ټول مسلمانان په دې خبره قائل دي چې په روآیتونو کښې ځینې د منلو وړ دي او ځینې یې نه، او راویان هم ثقه او معتبر دي او هم غیر ثقه، په دې حقیقت له پوهېدو وروسته د عدالت صحابه او د ټولو علماو د اعتبار او باوري کېدو مسئله یوازې یو ټوکه ښکاري.
۱۲۷- دلته دا اعتراض کیدې شي چې امام چې معصوم دے نو ولې وائي چې زهٔ ځان تر دې لوړ نهٔ ګڼم چې غلطي وکړم. د دې دوه ځوابه دي: وړومبے دا چې امام وفرمایل: بې د خداے پاک د مرستې له غلطۍ خوندي نهٔ یم دا په خپله د عصمت ثابتول دي او دویم دا چې امام به په ټولو حکومتي چارو کښې له خپل سلاحکارانو سره سلاح کوله او د هغوي په رایه او نظر به یې عمل کوۀ مثلا یو والي به یې ټاکهٔ او بیا به معلومیده چې دغه کس غوره او وړ نهٔ ؤ. یعنې داسې نهٔ ؤ چې امام به له چا سره مشوره نهٔ کوله. یا به یې په هر ځاے کې د غیبو له علمه کار اخېستهٔ. بلکه چې چرته به یې د یوې چارې په حقله وغوښتل چې غیب علم یې ولري نو د خداے پاک په مرستې به ورته غیب علم کېدهٔ.
۱۲۸- طلحه د عبیدالله زوے، چې پلار یې د بني تمیمو له قبیلې او مور یې د عبدالله بن عماد لور وه، په جمل جنګ کښې مروان بن حکم په یوهٔ غشي هغه وویشتهٔ او وې واژهٔ.
۱۲۹- عتاب د امیه بن عبدالشمس نمسے ؤ.
۱۳۰- سني عالم ابن ابي الحدید وائي له هغه ورځې چې دا خطبه مې لیدلې ده تر اوسه چې پنځوس کاله تیریږي تقریباً سل ځله مې لوستې ده او هر ځل مې په زړهٔ کښې نوي لړزا، ویره پیدا شوې او نوي پند مې اخېستے دے(شرح ابن ابي الحدید معتزلي ۱۱ ټوک ۱٥۳ مخ)
۱۳۱- د حضرت ابوطالب‌ع څلور بچي وو چې په ټولو کښې لس لس کاله فاصله وه، او نومونه یې جعفر، عقیل، طالب او علي‌ع وو. قریشو په بدر غزا کښې عقیل په زوره له ځان سره راوستهٔ چې اسیر شو او د فدیې په ورکولو سره ازاد شو، مکې ته ستون شو او د حدیبیې له صلحې مخکې مسلمان شو او مدینې ته یې هجرت وکړ په موته غزا کښې یې ورور جعفر هم موجود ؤ.
۱۳۲- اروابناد شهرستاني وائي چې د سید رضي په خطي نسخې کښې چې لور یې هغه له خپل ترهٔ سید مرتضي زده کوله، د دې خطبې په سر کښې د سلمان فارسي‌رض نوم لیکل شوے دے او همدا صحیح ده ځکه چې د نهج البلاغې د نورو خطبو په لیدلو، د امام د تفکراتو په پیژندلو او د امام د ملګرو د ژوند په صحیح جاج سره دا حقیقت روښانه کیږي چې نوموړي کس باید سلمان فارسي‌رض یا مالک اشتر‌رض وي او د ځینو کسانو احتمالات چې ورکړل شوي دي مثلا ابن ابي الحدید په اومې هجري قمري پیړۍ کښې ویلې دي چې دلته له پلانکي نه مطلب حضرت عمر‌رض دے. دا خبره صحیح نهٔ ده ځکه چې د اسلامي ټاټوبي د واکمن لپاره د فلان لفظ کارول ډیر مناسب نهٔ ښکاري په شقشقیه خطبه کښې خو د فلان لفظ د راوړلو امکان شته خو دلته چې یې تعریف کوي نو د فلان لفظ راوړل ډېر عجیبه ښکاري. او بله دا چې د خداے ګران رسول‌ص د سلمان فارسي‌رض په اړه فرمایلي وو چې سلمان زمونږ له اهلبېتو څخه دے. نو ځکه د سید رضي د خطي نسخې خبره صحیح ده
۱۳۳- شامیانو عمرو عاص او کوفیانو ابوموسی اشعري د حکمیت او مینځګړتوب لپاره خوښ کړل، د ابو موسي نوم عبدالله بن قیس دے چې د حضرت عثمان په زمانه کښې د کوفې والي شو، او کله چې امام هغه له ولایته لرې کړ نو له امام سره یې د اوښ کینه پیدا شوه، له هغو منافقانو څخه ؤ چې د غدیر خم د بیعت له پېښې وروسته یې غوښتل چې پیغمبر‌ص شهید کړي.
۱۳٤- شریح بن حارث ته دویم خلیفه د قضاوت منصب ورکړے ؤ او تقریباً شپېتهٔ کاله په خپل مقام کښې باقي باتې شوخو د عبدالله بن زبیر په پړاو کښې درې کاله له قضاوته ډډې ته شو او د حجاج په زمانه کښې یې استعفا ورکړه. د امام علي‌ع په زمانه کښې یې یو خلاف کار کړے ؤ چې له

امله يې د مدينې په خوا کښې يوکلي ته جلاوطن کړ او دوباره بيا کوفې ته ستون کړے شو. کله چې يزيد بن معاويه اقتدار په لاس کښې واخېست نو د کوفې له علماؤ نه يې چې قاضي شريح يې سر کښې ؤ د امام حسين د قتلولو فتوا واخېسته.

۱۳۵- د صفين د جنگ په دوام کښې چې شاميان ستړي او لړزانه شول او د ماتې نښې پکښې ښکاره شوې، معاويه له عمرو عاص سره سلاح وکړه او وې ويل:اوس چې هر څه له لاسه روان دي نو علي ته به ليک وليکو چې د شام حکومت مونږ ته وسپاري او په خپله د اسلامي ټولنې مشر شي، عمرو عاص وويل:علي يې نۀ مني، البته د ليک ليکل او غوښتنه کول باک نۀ لري نو کله چې دا غوښتنه امام ته ورسيدله هغه حضرت دا اولسم ليک معاويه ته وليکۀ (د صفين پېښه ۴۶۸ مخ)

۱۳۶- د هجرت به اتم کال چې مکه فتح شوه د خدا ے گران رسول ټول هغه کسان چې له هغه حضرت سره جنگيدلي وو آزاد کړل او ورته يې وفرمايل: لاړ شئ تاسو ټول مې آزاد کړئ له دې وروسته د ابوسفيان کورنۍ (ابناء الطلقاء يعنې د آزاد کړې شويو بچي ونومول شول)

۱۳۷- امام علي د بيت المال او مالياتو د غونډولو لپاره د بصرې والي زياد بن ابيه ته د سعد په نامه يو کس وليږه ، زياد د امانتونو د سپارلو په ځاے د امام له استازي سره لانجې کونجې جوړې کړې، د امام استازے کوفې ته لاړ او د هغۀ په خلاف يې شکايت وليکۀ او امام ته يې ورکړ چې امام يې په ځواب کې دغه ليک وليکۀ.

۱۳۸- هجر د بحرين يو پخوانے ښار دے چې د خرماؤ (کجهورو) مرکز دے.

۱۳۹- يعنې حضرت ابوبکر او حضرت عمر

۱۴۰- د امام ورور جعفر بن ابو طالب چې په موته غزا کښې شهيد شو او د جعفر طيار په نامه مشهور شو.

۱۴۱- ابوجهل

۱۴۲- ابوسفيان چې کله مختلفو قبيلو ته قسمونه ورکړل چې له رسول الله مبارک سره به جنگيږي نو خلقو به هغۀ ته په ټوکو کښې د قسمونو زمرے ويل.

۱۴۳- صبية النار، کله چې عقبه چې د قريشو يو کينه کښ مشر ؤ په بدر کښې ونيول شو د وژل کيدو په وخت يې رسول الله مبارک ته وويل: من للصبية يا محمد؟ يعنې زما د بچيانو پالنه به څوک کوي. د خداے گران رسول وفرمايل: النار يعنې اور. له دې وروسته په صبية النار مشهور شو.

۱۴۴- دنړۍ تر ټولو غوره ميرمن بي بي فاطمة الزهرا لکه څرنگه چې د خداے گران رسول په يو مشهور حديث کښې فرمائي: انک سيدة النساء العالمين. او د خشاک ورونکي ښځه د ابو سفيان خور ام جميل ده چې د ابولهب ميرمن او د معاويه ترور ده چې خپل ټول کالي يې خرڅ کړل چې د رسول الله مبارک د ځورولو په لاره کښې يې ولگوي.

۱۴۵- دا د يو گمنام شاعر شعر دے چې ځينو دا د اکثم بن صيفي شعر گڼلے دے.

۱۴۶- په مصر د عمرو عاص له يرغل او د محمد بن ابي بکر له شهادته وورسته په بصرې کښې هم د امام مخالفان د بلوا په فکر کښې شول، صحار بن عباس معاويه ته ليک وليکه او ترې يې وغوښتل چې يو کس بصرې ته وليږي چې مخالفان منظم کړي معاويه خوشاله شو او ابن حضرمي يې وليږه له دې امله په بصره کښې لانجه پيدا شوه او د قبيلو مشران ښکر په ښکر شول چې په کوفې کې امام تـه خبر ورکړل شو هغـه حضرت دا ليک وليکه. او آخر د امام ملگرو د ابن حضرمي کسان مات کړل او هغه يې وواژۀ.«الغارات، ۲ ټوک ۳۷۳ - ۴۱۲ مخ.»

۱۴۷ - لکه رحمان بابا وائي:

له خپل کوره چرته ځم او نۀ سفر کړم
بې سفره مـــې غـــوځيږي لار د عمر
عاقبت به د اجل په مقراض غوځ شي
پيـــوسته به مدام نـــۀ وي تار د عمر

۱۴۸- مالک اشتر د مصر په لاره کښې په قلزم کلي کښې د معاويه د پټو مامورانو په وسيله په يو سازش سره شهيد کړے شو.

۱۴۹- د محمد د مور اسماء بنت عميس و چې امير المومنين د بي بي فاطمې له وفاته وروسته ورسره وادۀ وکړ محمد بن ابي بکر په يو نابرابره جنگ کښې د شام يو کوماندان معاويه بن خديج په ډير بد او دردوونکي ډول شهيد کړ.

۱۵۰-د امام ورور عقيل په مکې کښې ؤ او د معاويه او ضحاک بن قبس د لښکريانو د يرغل په حقله يې امام ته ليک وليکۀ چې له واقعيتونو خبر شي

۱۵۱- له دې امله چې رسول الله مبارک ﷺ د حضرت ابوطالب علیه السلام په کور کښې لوے شوے ؤ او د امیرالمومنین مور بي بي فاطمه بنت اسد علیها السلام روزلے ؤ د خدائے ګران رسول ﷺ فرمايلي دي چې له خپلې مور وروسته فاطمه بنت اسد زما مور ده.
۱۵۲- ځینې کسان وائي چې دا لیک عبدالله بن عباس ته لیکلے شوے دے او ځینې د هغهٔ شان تر دې لوړ ګڼي او وائي چې عبدالله بن عباس تل د امام علي علیه السلام تابعدار پاتے دے او دا لیک د هغهٔ ورور عبیدالله بن عباس ته چې دنیا پاله کس ؤ لیکل شوے دے.
۱۵۳- عمر بن ابي سلمه د رسول الله مبارک ﷺ د بي بي ام سلمهؓ زوے ؤ چې له خپل مخکیني خاوند ابي سلمه مخزومي څخه یې لرۀ په جمل جنګ کښې مور له یو لیک سره د امام مرستې ته ولیږۀ او وې لیکل که په ښځو جهاد واجب وې ما به هم په دغه جنګ کښې شرکت کړے ؤ او د امام په مرسته به د جمل لښکریانو سره جنګیدلې وم.نعمان بن عجلان هغه کس دے چې د مالک اشتر له شهادته وروسته یې د هغهٔ له میرمنې خوله بن قیس سره وادهٔ وکړ او ډیر لوے شاعر ؤ.
۱۵۴- زیاد د حارث بن کلده د وینځې سمیه زوے دے او پلار یې د عبید په نامه یو رومي مرئے ؤ او څو کسانو منجمله ابوسفیان ادعا کوله چې د هغوي زوے دے معاویه د همدغه شرموونکې ادعا له مخې زیاد خپل ورور وبلۀ او هغه یې وغولوۀ. او له دې امله چې څو کسانو ځانونه د هغهٔ پلاران ګڼل هغهٔ ته یې د زیاد بن ابیه (زیاد د خپل پلار زوے) نوم ورکړے دے.
۱۵۵- د خیبر له فتحې وروسته یهودیانو له رسول الله مبارک ﷺ سره صلحه وکړه او فدک یې هغه حضرت ته ډالۍ کړ. چې ډالۍ کړې شوے څیز د رسول الله ﷺ ذاتي ملکیت جوړیږي نو د خدائے ګران رسول ﷺ هغه بي بي فاطمې علیها السلام ته ډالۍ کړ او یو سند (قباله) یې هم برابره کړه او د رسول الله مبارک ﷺ په ژوند کښې پینځه کاله له بي بي فاطمې علیها السلام سره ؤ خو د حضرت ابوبکر په زمانه کښې غصب شو (فرهنګ سخنان فاطمه حرف ف ،ته مراجعه وکړئ)
۱۵۶- په صفین کښې د امام او معاویه د ځواکونو د جنګ له پراختیا وروسته کله چې په لیلة الهریر کښې د امام لښکر د معاویه لښکر ته ځپونکے ګوزار ورکړ او معاویه او لښکر یې د تیښتې اراده لرله د عمرو عاص په امر یې قرآنونه په نېزو وخیژول چې کوفیان له پرمختګه تم کړي او په دغه چل سره یې ځان بچ کړ.
۱۵۷- هغه ذمیان یعنې یهودیان او مسیحیان چې د اسلامي حکومت په پناه کښې دي
۱۵۸- مالک په یمن کښې په بیشه کلي کې پیدا شوے او د مذحج قبیلې دے. چې وروسته بیا په مالک اشتر مشهور شو پلار یې یغوث بن نخع دے چې په مالک نخعي«نیکه» هم مشهور دے مالک د رسول الله مبارک ﷺ له رحلته وروسته له رومیانو سره په جنګ کې برخه واخیسته او د ایران په فتح کولو کښې له شامه د سعد وقاص مرستې ته لاړ. د حضرت عثمان په حکومت کښې په کوفي کښې د هغهٔ له فاسد ګورنر سره ونښتۀ. او ورومبے کس ؤ چې له حضرت علي علیه السلام سره یې بیعت وکړ. هغه د کوفې خلق د جمل د جنګ لپاره تیار کړل او مېړانه یې مشهوره شوه. په صفین کښې یې ټاکونکے رول لرۀ.نۀ یوازې په مېړانه بلکه په عبادت، ایمان او تقوا کښې هم مشهور ؤ. د هجرت په اتۀ دېرشم کال په «قلزم» نومې کلي کښې د مصر په لاره کښې د معاویه له جاسوسانو څخه یو جاسوس ورسره ځان ملګرے کړ او د امام علي علیه السلام صفتونه او د معاویه بد یې ورته شروع کړل او کور ته یې د مېلمستیا په بهانه دعوت کړ چې په خوراک کښې ورته زهر ورکړے شول او شهید کړے شو.
۱۵۹- د توکم پالنې (نسل پرستی)، اپارتاید او ځان لوړ ګڼلې نفي
۱۶۰- د زورواکه حکومتونو نفي
۱۶۱- د فرصت غوښتنې opportunism نفي کول.
۱۶۲- اسکافي معتزلي پوه او متکلم دے چې په دوه سوه څلویښتم کال کښې په بغداد کښې وفات شو.
۱۶۳- هیت د عراق او شام په مینځ کښې یو ښار دے چې د فرات په غاړه پروت دے او نن سبا د زمادي ولایت یوه برخه ده چې له هغه ځایه به کاروانونه حلب ته تلل.
۱۶۴- کمیل بن زیاد د امام علي علیه السلام یو نږدې صحابي او له تابعینو څخه ؤ او د امام د خلوت ملګرے ؤ چې د هجرت په دوه اتیایم کال د حجاج بن یوسف ثقفي په امر ووژل شو.
۱۶۵- دلته د امام مطلب ولید بن عقبه دے چې په کوفه کښې د عثمان ګورنر ؤ هغه شراب وڅښل او د سحر فرض نمونځ یې د دوو په ځاے څلور رکعته وکړ او له سلام نه پس یې خلقو ته په نشه کښې مخ راواړوۀ او وې ویل چې که ضرورت وي نور به هم وکړم.
۱۶۶-اشاره عمرو عاص ته ده چې د اسلام د راوړلو لپاره یې پیسې او ډالۍ غوښتلې.

۱۶۷- ابو موسي اشعري چې نامه يې عبدالله بن قيس ده د مکې به فتحه کښې مسلمان شو او د دويم خليفه له خوا د بصرې گورنر او د دريم خليفه په وخت کښې د کوفې گورنر شو. د جمل د جنگ په درشل کښې بي بي عايشې هغه ته ليک وليکه او ځانته يې جذب کړ. کله چې د امام ليک کوفې ته ورسيدۀ هغۀ خلق د امام په خلاف لمسول او په کوفيانو کښې يې اختلاف پيدا کوۀ امام هغۀ ته دا ليک وليکۀ او بيا مالک اشتر او امام حسن﷣ کوفې ته لاړل او خلقو ته يې وينا وکړه، ابوموسی له امام حسن﷣ سره مجادله او شخړه کوله چې مالک پرې غصه شو او وې ويل چې له دارالاماره ووځه هغه يوه شپه مهلت وغوښتۀ او ووتۀ، له دې وروسته کوفيان متحد شول او د دولسو زرو لښکر د امام علي﷣ د مرستې لپاره جوړ شو.

۱۶۸- مطلب ترې ابو سفيان دې چې د مکې د فتحې په ورځ په ظاهره مسلمان شو.

۱۶۹- طلحه په جنگ جمل کښې مروان بن حکم په يو غشي سره مړ کړ او زبير هغه وخت چې له جنگه يې ډډه وکړه او د ستنيدو په حال کښې ؤ عمرو بن جرموز وواژۀ.

۱۷۰- د معاويه ورور يزيد بن ابوسفيان د مکې د فتحې په ورځ له يو شمير قريشو سره يو ځاے په باب الخندمه کښې مورچه ونيوله چې مکې ته د مسلمانانو د ورتگ مخه ونيسي خو خالد بن وليد هغه اسير کړ بيا ابوسفيان رسول الله مبارک ﷺ ته ورغي او د هغۀ د خوشې کولو غوښتنه يې وکړه هغه وخت د خداے گران رسول ﷺ وفرمايل «لاهجرة بعد الفتح» د مکې له فتحې وروسته هيڅ هجرت نيشته.

۱۷۱- له امير المومنين سره له بيعته

۱۷۲- د بيوروکړيسۍ نفي. يعني حکومتي چارواکي او ليډران پکار دي د بل چا په خوله له عوامو سره خبرې ونۀ کړي بلکه نېغ په نېغه د خلقو غم او درد واوري او نۀ په دروازو باندې منعې کوونکي ځوکېداران ولري چې که بالاخره يې ضرورت پوره هم شي خو د هغه مشر د غرور او تکبر په وجه به يې ستائېنه ونۀ کړي.

۱۷۳- د سلمان فارسي اصلي نوم روزبه دے هغه په فارس (ايران) کښې چې هغه وخت بت پرست وو زيږيدلے ؤ او له دې امله چې په حق مئين ؤ نو له کوراوره لرې شو او عيسائي شو بيا عربستان او مدينې ته لاړ او د مدينې په يو باغ کښې يې رسول الله مبارک ﷺ وليدۀ او هغوي سره له خبرو اترو او مطمئن کېدو وروسته مسلمان شو او د خداے د گران رسول ﷺ نزدے صحابي شو. هغه له مدينې چاپېره د خندق طرحه وړاندې کړه او مدينه يې له دښمنانو وژغورله مهاجرو او انصارو دواړو هڅه کوله چې سلمان له ځانه وگڼي د خداے گران رسول ﷺ وفرمايل: (سلمان منا اهلبيت) سلمان له مونږ اهلبيتو څخه دے د خداے د گران رسول ﷺ له وفاته وروسته د هغه حضرت له پاکو اهلبيتو ﷺ سره وفاداره پاتے شو او د وړومبي خليفه له سختو مخالفينو څخه گڼل کيدۀ او آخر د هجرت په پينځه دېرشم کال په مدائن کښې وفات شو.

۱۷۴- حارث همداني د امام له مخلصو ملگرو څخه او يو لوے فقيه ؤ او دا مشهور شعر چې «يا حارث هَمْدانَ مَنْ يمُتْ يرَنی مِنْ مُؤمِنٍ اَوْ مُنافِقٍ قُبُلا» هغه ته په خطاب کښې ويل شوي دي او هغه ته يې زيرے ورکړ چې زما منونکے او مينه وال به له مرگه وروسته ما ويني.

۱۷۵- د انسان د اصالت (humanism) نفي

۱۷۶- سهل بن حنيف په ټولو جنگونو کښې د خداے د گران رسول ﷺ ملگرے ؤ او هيڅکله يې تېښته نۀ وه کړې. د امام﷣ له لورې هم د مدينې گورنر ؤ او د صفين په جنگ کښې يې هم برخه واخيسته بيا د فارس ولايت گورنر شو او د هجرت په اتۀ دېرشم کال په کوفه کښې وفات شو.

۱۷۷- د منذر پلار جارود د هجرت په نهم کال د پيغمبر اکرم ﷺ خدمت ته حاضر شو او مسلمان شو او يو صالح او نيک کس ؤ امام علي﷣ هغه د فارس ولايت والي کړ او د هجرت په يوېشتم کال د فارس په جنگونو کښې شهيد شو.

۱۷۸- د پاکو اهلبيتو﷩ او د وخت د امام﷣ اطاعت

۱۷۹- د حضرت عثمانؓ په خلاف د مختلفو مسلمانو سيمو د صحابه کرامو؇ او تابعينو؇ بلوا او د هغۀ وژله

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

# د اهلبیت (ع) اکېډیمۍ ځینې چاپ پښتو کتابونه

| د کتاب نوم | لیکوال/ مترجم |
| --- | --- |
| نهج البلاغه له پښتو ترجمې سره | ډاکټر عبدالرحیم درانے |
| د امام دیوان | انور شاهین خانخېل |
| حمزه بابا او اهلبیت (ع) | انور شاهین خانخېل |
| د انقلاب آواز (شعري مجموعه) | انور شاهین خانخېل |
| د سپېځلو لار | انور شاهین خانخېل |
| ایلیا | انور شاهین خانخېل |
| اهلبیت (ع) په قرآن کښې (مختصر) | انور شاهین خانخېل |
| امامت او خلافت د آسماني دینونو له نظره | انور شاهین خانخېل |
| د امام علي (ع) عهد نامه مالک اشتر ته | انور شاهین خانخېل |
| د امت امامت | انور شاهین خانخېل |
| خوندور بحثونه | انور شاهین خانخېل |
| د امامت لازموالے | انور شاهین خانخېل |
| غدیر خم | انور شاهین خانخېل |
| د اهلبېتو (ع) نمونځ | انور شاهین خانخېل |
| د کمېل دعا | انور شاهین خانخېل |
| د بي بي زېنب (س) خطبه د یزید په دربار کښې | انور شاهین خانخېل |

په پښتو ژبه د خداے د ګران رسول (ص) د پاکو اهلبېتو په باره کښې د کتابونو او نورو ادبي او کلتوري موادو په خپرولو کښې ستاسو تعاون ته په درنه سترګه ګورو د رابطې لپاره:

پته: اهلبیت اکېډیمي، فېصل کالوني، جي ټي روډ پېښور خېبرپښتونخوا
واټسپ رابطه: ۰۳۰۵۱۹۹۷۶۷۹ ایمېل: askhankhel@gmail.com